سره د حوالو او تخریجه

مُکمّله او مُدلله

# فتاوی یوسفیه

مشهوره په

# ستاسو جدید مسائل او د هغې حل

دویم جلد

تالیف
حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي رحمه الله
مفتي اعظم پاکستان

تقریظونه
شیخ الحدیث حضرت مولانا
سید شیر علی شاه مدني رحمه الله
سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله
شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی


جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سر چوک مارکیټ مرحوم حاجي حسین ګل کابل
0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم
فتاوی یوسفیه
مشهوره په
ستاسو جدید مسائل
او د هغې حل
۲
مکمل او مدلل
سره د حوالو او تخریجه
د دویم جلد اجمالي فهرست
د کفر، شرک او د ارتداد
تعریف او احکام، قادیاني فتنه
کافرانو سره تعلقات، د ختم نبوت
عقیده او د عیسی ﷺ نزول، د قیامت
نښې، د ګناهونو نه توبه، د برزخ حالات،
د جنت بحث، تعویذ کوډې او جادو،
پیریان، رسومات او رواجونه، په اسلام کې
د فال مسائل، متفرق مسائل، د اودس مسائل
د غسل مسائل، د اوبو احکام، د تیمم مسائل
، د موزو مسائل، د حیض او نفاس مسائل،
د نوکانو د رنګ مسائل، بغیر د اودا سه نه
دعا او اذکار، د نجاست مسائل، د مانځه
مسائل، د جماعت مسائل.
تالیف
حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله
مفتي اعظم پاکستان
تقریضونه
شیخ الحدیث حضرت مولانا
سید شیر علی شاه مدني رحمه الله
سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه ختک
شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله
شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی
جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین ګل کابل
0782690850 | 0775681606

د کتاب نوم : ستاسو جدید مسائل او د هغې حل

مؤلف : حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

ترجمه کونکي : دار الترجمه عبدالغني مارکیټ پشاور

جلد : دویم

صفحات : ٥٨٤

تاریخ : ۲۰۱۷ء

د چاپ زیار : مولانا سید محمد پرواني

# فهرست

| مضمون | صفحه |
|---|---|

| صفحه | مضمون |
|---|---|



## ❖ قادیاني فتنه ❖

| مضمون | صفحه |
|---|---|



## ❖ کافرانوسره تعلقات ❖

| مضمون | صفحه |
|---|---|

| صفحه | مضمون |
|---|---|



## ❖ له ګناهو نه توبه ❖

| مضمون | صفحه |
| --- | --- |



## ❖ له مرګ وروسته څه کيږي؟ ❖

| صفحه | مضمون |
|---|---|



## ❖ د اخرت جزا او سزا ❖



## ❖ جنت ❖

| مضمون | صفحه |
|---|---|



## ❖ تعويذ، کوډې او جادو ❖



## ❖ پيريان ❖

| مضمون | صفحه |
|---|---|

❖ رسومات (رواجونه) ❖



❖ وهم پرستي ❖

| مضمون | صفحه |
|---|---|

| مضمون | صفحه |
|---|---|



## ❖ متفرقې مسئلې ❖

❖ د اوادسه مسائل ❖

| مضمون | صفحه |
|---|---|

**❖ په کوموشيانو سره چې اودس ماتيږي ❖**

| مضمون | صفحه |
|---|---|


**❖ په کوموشیانوسره چې اودس نه ماتیږي ❖**

## ❖ د اوبو احکام ❖

| مضمون | صفحه |
| --- | --- |



## ❖ د غسل مسائل ❖

| مضمون | صفحه |
| --- | --- |

| مضمون | صفحه |
|---|---|



### ❖ د نوکانو د رنګ مسئلې ❖



### ❖ په پاکوالي او ناپاکوالي کې تلاوت، دعا او اذکار ❖

## ❖ د نجاست او پاکوالي مسائل ❖

| مضمون | صفحه |
|---|---|

| مضمون | صفحه |
| --- | --- |



## ❖ د لمونځ فرضیت او اهمیت ❖

| مضمون | صفحه |
|---|---|



**❖ د لمانځه وختونه ❖**

| مضمون | صفحه |
|---|---|

| مضمون | صفحه |
|---|---|



## ❖ د جومات مسائل ❖

| مضمون | صفحه |
|---|---|



......

# پیش لفظ

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ

الحمد لله وسلام على عباده الذين اصطفى امابعد!

الحمد لله د ,,ستاسو مسائل اودهغوحل،، ددویم جلد کولوسعادت حاصلیږي، اول جلد د رمضان المبارك میاشت ۱۴۰۹ھ کال کې چې کله عام منظر ته راغی، نوعلماء کرامو، مشائخو اواخلاص مندو مسلمانانوکې ښه مقبول شو او اول ایډیشن لاس په لاس ختم اوله هر طرفه غوښتنه وشوه چې ددې کتاب دویم ایډیشن اوپاتې برخې هم زرتر زره دعلمي تندې ماتولو له پاره مکمل شي، امید همدا و چې د اول جلدنه وروسته دویم جلد چې دهغه څه برخه تیاره شوې هم وه، زرتر زره چاپ شي او لوستونکوته ورسیږي،خود ,,**عرفت ربي بفسخ العزائم**،، مصداق تقدیر په تدبیر باندې غالب شو اودبیرې دټولوکوششونو دعلماء کرامو، مشائخو ، مخلصینو او محبینو دټینګار سره سره ددویم جلد په تکمیل باندې دوه کاله ولګیدل، داهم خالص دالله تعالی فضل ،کرم اواحسان دی چې دهغه توفیق اومددشامل حال شو اودعلم دومره عظیمه ذخیره دعلم دتږو لاسونوته ورسیده، **فالحمد لله على منه واحسانه**،

په ۱۹۷۸م کې (جنګ)ورځپاڼې په انقلابي میدان کې قدم کیښود، کله چې میرشکیل الرحمن صاحبزاده او میرخلیل الرحمن دصحافت په میدان کې عملي برخه واخیستله اود روزنامه جنګ کراچۍ ذمه داري یې پر غاړه شوه ،دې ځوان دصحافت په میدان کې نوې نوې تجربې شروع کړې، په دې تجربوکې یوه تجربه داسلامي صحفې اغاز و، دختم نبوت مسئلې سره د دلچسپې له وجې قدوة الاتقیاء شیخ المشائخ رئیس المحدثین شیخنا حضرت مولاناسید محمد یوسف بنوري نورالله مرقده سره تعلق اومحبت و، له دې وجې ددې صحفې د ترتیب اوتدوین له پاره یې دحضرت شیخ محترم متعلقینو طرف ته نظر پورته شو اودهمدې عظیم خدمت له پاره یې زمونږ شیخ اومربي اومشرمولانامحمدیوسف لدهیانوي رحمه الله ته درخواست وکړ، تصنیف اوتالیف،درس وتدریس، مجلس تحفظ ختم نبوت، ماهنامه بینات او نورعلمي مشاغل اواخباري کارسره دطبعي میلان نه کیدوله وجې حضرت شیخ ددې ذمه داري نه معذرت وکړ، خودحضرت شیخ بنوري رحمه الله دجانشین بقیة السلف حضرت اقدس مولانا مفتي احمدالرحمن په ټینګار باندې دوی دا ذمه داري قبوله کړه اود (۱۹۷۸م) دمۍ دمیاشتې نه دوی په اسلامي صفحه (اقراء) کې دتحریري کاراغاز وکړ ,,نوربصیرت،،ـ ,,ستاسو مسائل اودهغوحل،،ـ ,,افتتاحیه،، عنواناتوسره یې مستقلې سلسلې شروع کړلې ,,افتتاحیه،، ادارتي کالم باندې مشتمل یو قلمي جهاد و، چې په دې کې به دوی هره هفته دځکمرانانو د افعالو اواعمالو ګرفت اودمختلفو لادیني

نظرياتو خلاف خپله نظريه مسلمانانو ته وړاندې کوله، دحالاتو تجزيه اود امت مسلمه د ذمه داريو احساس به يې ورکولو،داکالم ډېرزيات مقبول اوخوښ کړل شو، خاص طورسره ددوی اداريه ,,ايا اسلام نافذشوی دی؟،، ډېرخوښ کړل شو، خوحق کليمه حکمرانانوکله خوښه کړې ده چې داسلسله به يې خوښه کړې وي،دجنګ اخبارپه دې اداريه باندې سخت نوټس واخستل شو ډېرځل اشتهاربندشو،داخباربندولودړکې ورکړل شوې،اخرداچې مير خليل الرحمن صاحب ددې دړکو برداشت ونه کړای شواودا سلسله مجبورا بنده کړل شوه.

,,نوربصيرت،، دخاتم النبين ﷺ داحاديثو اومبارکو الفاظو تشريح اوتوضيح سره متعلق وه، دحديث شريف دالفاظو طباعت په اخبارکې مشکل اودبې حرمتي سبب جوړيده اويوازې په ترجمه باندې اکتفاء کول خوښ نه و، له دې وجې دا سلسله بنده شوه.

,,ستاسومسائل اودهغو حل،، دجنګ اخباردټولونه زيات خوښ اومقبول کالم دی، چې دا هره جمعه دټولونه مخکې لوستل کيږي اوالله تعالى دې سلسلې ته داسې مقبوليت ورکړ چې په لکونو خلک هره جمعه نه يوازې ددې منتظروو، بلکې دخپل ژوند له پاره يې لازمي برخه ګڼله اودبې شميره خلکوپه ژوندکې يې انقلاب پيداکړی و، په زرګونوخلکو ددې کالم له وجې خپل شکلونه دنبي کريم ﷺ د صورت مطابق جوړکړي وو، په سوال اوجواب باندې مشتمله دا فقهي سلسله دموجوده دورهغه انقلابي سلسله ده چې دې په لکونوخلک په ,,**طلب العلم فريضة على كل مسلم**،، باندې عملي طور راوستي وو، الله تعالى دې داسلسله دغه شان قبوليت عامه سره تراخره پورې جاري ساتي.

لکه څنګه چې پورته ذکرکړل شوچې ددې سلسلې دشروع نه د علماءکرامو،مشائخو او لوستونکو ټينګار و، چې په کتابي شکل کې دامحفوظ کړل شي چې ترقيامته پورې راروان نسلونه ددې نه فائده واخلي، دلوستونکو په اصرارباندې اول جلد تقريبا لس کاله وروسته د نظرثاني نه وروسته منظرعام ته راغی اوددې نه پوره دوه کاله وروسته دا دويم جلد دفقهي د ترتيب په لحاظ سره دکتاب الطهارت اوکتاب الصلوة په احکامو باندې مشتمل دی، اګرچې د نورو کتابونوپه شان کې ترتيب وارمسئلې نشته، خود کومو جزئياتو متعلق چې سوالات شوي دي دهغه د ترتيب خاص خيال او اهتمام شوی دی.

ددې کتاب د تدوين اوچاپ په مرحلوکې جناب ډاکټر شهيرالدين علوي صاحب، مولانا محمدجميل خان (انچارج اسلامي صفحه اقراء)، مولانا محمدنعيم امجد سليمي، عبداللطيف طاهر، مولانا سعيداحمد جلال پوري او محمد وسيم غزالي ډېر مدد وکړ، الله تعالى دې ټولو حضراتوته له خپله لوري جزاء خيرورکړي او زما له پاره او زما د ادارې له پاره دې داکتاب صدقه جاريه جوړه کړي. **وماتوفيقي الا بالله** (ناشر)

بسم الله الرحمن الرحيم

## په خپله نه بدلیږي او قران بدلوي

**سوال:** تاسو ته زحمت درکوم ،روزنامه ،،نوائے وقت،، اتوار ۱۰ جون ۱۹۹۰ کې (دنور بصيرت) دمستقل عنوان دلاندې ميا عبدالرشيدصاحب ،،بازاراوبرهيا،،په عنوان سره يو تحريرليکلی و.(هغه څه درليږم) په کوم چې زمادعلم مطابق مصنف دحديث نبوي دنفي، جهادبالسيف اودجهادباللسان په باره کې خپله رايه اودمسواک (سنت رسول ﷺ) په باره کې هرزه سرايي نه کاراخيستی دی،تاسو ته خواست دی چې دميا عبدالرشيددکم علمي او هرزه سرائي مدلل ځواب ورکړئ چې داحقريې په دې روزنامه که خپره کړي او د ډيرو مسلمانانو شکونه کوم چې دمصنف په تحريرسره پيداشوي دي ليرې شي،الله تعالی به تاسو ته اجرعظيم درکړي.

دنوربصيرت په عنوان سره ليکل شوی دميا عبدالرشيدپورته ذکر شوی مضمون دادی:

### بازاو بوډۍ

رومي رحمة الله عليه يوحکايت ليکلی دی چې ډيوې بوډۍ دکورپه چت باندې يوبازکيناست اواتفاق سره دبوډۍ لاس ته ورغی، بوډۍ دهغه سره مينه کوله اودهغه منښوکې ته يې وکتل، نوويې ويل ،،های افسوس!منښوکه دې دومره اوږده شوې ده اودمخې ظرف ته کږه شوې ده،بيادهغه پنجې ته يې وکتل، نوډيرافسوس يې وکړ،چې نوکونه يې دومره لوی شوي دي،بوډۍ قينچۍ راواخستله اول يې دباز منښوکه کټ کړه، بيايې دهغه پنجې برې کړلې، بيايې دهغه وزرې کټ کړلې اوله دې نه وروسته په خوشالۍ سره يې وويل :اوس ښومره ښه ښکاري!

رومي رحمة الله عليه له دې نه دانتيجه اخلي، چې ځينې خلک ښه ښه شيان بيکاره اوفضول کړي اوداګڼي چې هغوی ددی اصلاح کړې ده، همدغه څه زموږ داسلام سره روان دي،چې يوطرف ته ددې ددننه نه دجهادشوق ويستل کيږي، نودويم طرف ته رسمونوباندې زوراچول کيږي اوداعمال بې روحه جوړولو کوششونه روان دي،دکومې له وجې نه چې په مسلمانانو کې تنګ نظري، تعصب اوفرقه پرستي خبريږي،دريم طرف ته مسلمانان په قيصو راګيروي، چې دهغه په نتيجه کې دحقيقت نه ليرې کيږي.

يو فوځي افسر ماته وويل چې دهغه د دفترسره کوم جومات دی په هغه کې د ماسپښين دلمانځه نه وروسته يوکتاب لوستل کيږي،يوه ورځ دابن ماجه په حوالې سره دا حديث بيان شو،چې دوه کسان و په هغوی کې يوکس دشهادت مرګ ومونډلواودويم کس په

طبعي مرګ مړشو. چاپه خوب کې ولیدل چې طبعي مرګ باندې مړکیدونکی څوکاله وړاندې دشهیدنه جنت ته داخل شو. په پوښتنه باندې معلومه شوه چې طبعي مرګ باندې مړکیدونکي لمونځونه اوروژې زیاتې نیولې وې له دې وجې نه هغه ته په شهیدباندې فوقیت حاصل شو. دادمنلوخبره ده؟ ایاداخبره داسلام دتعلیم بالکل خلاف نه ده؟ متفقه مسئله ده چې دشهادت مرګ افضل ترین مرګ دی. شهیدپرته دځه حساب کتاب نه جنت ته داخلیږي. ایا د فوځیانوددننه دشهادت دشوق ختمولویوکوشش نه دی؟

دسورة الصف په څلورم ایت کې دي چې یقینا الله تعالی هغه کسان خوښوي چې دالله تعالی په لارکې جنګیږي، لکه چې هغوی د اوسپنې دیوالونه وي

داپه واضح ډول دجنګ په باره کې دی. خو دې افسرماته وویل چې هلته داایت پرېښودل شوی دی دایت ۱۱ تفسیرهمدارنګه بیان شوی دی، کوم خلک چې دالله تعالی په لاره کې (جهادنه بلکې) کوشش کوي په خپلو مالونو اوجانونوسره.

ظاهره ده چې ددې کوشش نه مرادپه تبلیغي دوره باندې تلل دي

یوبل فوجي افسرراته واقعه واوروله چې دبهاولپورطرف دهغوی درې ټینکونه په نهرکې غورځیدلي وو. ځوانانوهغه ولټول. دوه پیداشول خودریم پیدا نه شو. ماښام کې کرنل صاحب چاچې ماشاءالله ددې پرهیزګاره جماعت سره تعلق لاره. ځوانان راغونډکړل او ویې ویل چې معلومیږي چې نن تاسومسواک په صحیح طریقې سره نه و استعمال کړی. له دې وجې نه ټینک (ټانګ) پیدانه شو. سباپه ښه طریقې سره مسواک وکړئ او راشئ. په دویمه ورځ چې ځوانانوپه ښه طریقې سره مسواک وکړ اونهرته کوزشول نودریم ټینک هم پیداشو.

**جواب:** میا صاحب چې دروميؒ په حوالې سره کوم حکایت ،،بازاوبوډی،،نقل کړی دی هغه هم په ځای ده اوددې په نقل کولوسره دمیا صاحب داوپناهم په سر سترګوچې:

هم دغه ځه زموږ داسلام سره کیږي

دمیا صاحب زیرنظرمضمون هم ددې یوښه مثال دی، په کوم کې دکنو ارخونونه د ،،روایتي بوډی،، کردار ادا شوی دی:

اول: د یوامتي چې دحضورﷺ سره کوم تعلق دی دهغه غوښتنه داده چې د حضورﷺ ارشادګرامي اوریدلوسره دهغه سرښکته شي اودهغه له پاره دهیڅ اګر، خو ګنجائش پاتې نه شي، ځکه چې دادیوامتي له پاره، که هغه واقعتاً ځپل ځان دحضورﷺ امتي ګڼي، دټولوته اخري فیصله دحضورﷺ فیصله کیدای شي اودحضورﷺ دارشادنه وروسته بایدهیڅ داګر اوخو ګنجائش باقي پاتې نه شي اونه دحضورﷺ دفیصلې خلاف اپیل کیدای شي، په قران کریم کې ارشاددی:

"فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا". (النساء :۶۵)

**ترجمه**: ستا په رب مې دې قسم وي! چې دا خلق به ترهغه ايمان نه رواړي، ترڅو چې په خپلو جګړوکې ستاحکم ونه مني اوبيا چې ته فيصله وکړې،نودوی په خپلو زړونوکې په هغه فيصله کې هيڅ بوج ورته نه وي او هغه فيصله پوره ومني. (ترجمه حضرت تهانوی)

خو دارشادرباني مطابق،دحضورﷺ فيصله اوريدلوسره دميا صاحب سرنه ښکته کيږي بلکې هغه دې لره ، ،دجهادجوش اودشهادت شوق ويستل اويواځې په رسمونوباندې زور ورکول اواعمال پرته دروح نه جوړولوغلطي سره تعبيرکوي، هغه داحديث نبويﷺ، داسلام اوږده شوې منبوکه ګڼي اودروايتي بوډۍ په شان فوراً داقينچي سره کټ کوي اوداسلام دادکټ کوټ عمل ددوی په نظرکې ورته ،نوربصيرت ، ،وايي،حالانکه دروايتي بوډۍ په شان نه دوی ته دامعلومه ده چې ددې حديث شريف مقصدڅه دی؟اونه په دې خبردي چې دجذبه جهاداوشوق شهادت صحيح مفهوم څه دی،هغه داحديث شريف دجذبه جهاداوشوق شهادت مخالف ګڼي اوهغوی ته داحديث شريف هم هغه شان فالتوپه نظرراځي څنګه چې بوډۍ ته دبازمنبوکه او نوکونه اوږده په نظرراغلي وو.

دويم:ميا صاحب ديوفوځي افسرپه حوالې سره مونږ ته وايي چې: ددوی په جومات کې دماسپښين له لمانځه وروسته يوکتاب لوستل کيږي ،يوه ورځ هلته دابن ماجه په حوالې سره داحديث بيان کړل شو.

داکتاب چې دماسپښين نه وروسته بيانيده دحضرت شيخ الحديث مولانا محمد زکريا مهاجرمدني نورالله مرقده کتاب،،فضائل نماز،،دی اوپه دې کې داحديث يواځې دابن ماجه په حوالې سره نه دی ذکرشوی بلکې ددې دحوالوله پاره لاندې ذکرشوي کتابونه دي:۱:موطاامام مالک.۲:مسنداحمد.۳:ابوداود.٤:نسائي.٥:ابن ماجه.٦:صحيح ابن خزيمه.۷:صحيح ابن حبان.۸:مستدرک حاکم.۹:بيهقي.۱۰:ترغيب وترهيب منذري.۱۱:درمنثور.

خو دې فوځي افسر وويل چې دابن ماجه حوالې سره داحديث بيان کړل شو اوميا صاحب پرته دتحقيق نه په خپله کالم کې دننه کړ،شائدميا صاحب دروايتي بوډۍ په شان دقران کريم ذکر ايت هم (نعوذبالله)فالتوګڼي:

"يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ". (الحجرات:۶)

**ترجمه**: اې ايمان والاووا که يوشرارتي کس تاسوته خبراوړي، نوښه تحقيق يې

کوئ، چې چرته په ناداني کې یوقوم ته نقصان ونه رسوئ اوبیاپه هغه باندې پښیمانه ئي. (ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله عليه)

میا صاحب پرته دتحقیق نه په دې خبرباندې باور وکړ اوداحدیث شریف یې دخپل ناروا تنقید نښه کړ.

دریم: داحدیث کوم چې دمیا صاحب دقول مطابق دابن ماجه په حوالې سره لوستل کیده، دلاندېنو صحابه کرامو نه مروي دي:

۱: حضرت سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه موطاامام مالک ص: ۱۲۱، مسنداحمدج: ۱ ص: ۱۷۰، صحیح ابن خزیمه ج: ۱ ص: ۱۲۰، مستدرک حاکم ج: ۱ ص: ۲۰۰.

امام حاکم رحمة الله عليه دادخپل سندسره نقل کولوکې فرمايي: صحیح الإسناد، امام ذهبي رحمة الله عليه په تلخیص مستدرک کې فرمايي: داحدیث صحیح دی، امام نورالدین هیثمي رحمة الله عليه دادامسنداامام احمد اوطبراني په حوالې سره نقل کړی اوفرمايي: دمسنداحمدټولو راویان صحیح راویان دي.

۲: حضرت عبیدبن خالد رضي الله عنه: مسنداحمد، ج: ۳ ص: ۵۰۰، ج: ۴ ص: ۲۱۹، ابوداود ج: ۱ ص: ۳۴۲، نسائي ج: ۱ ص: ۲۸۱، سنن کبری بیهقي ج: ۳ ص: ۳۷۱، مصباح السنة ج: ۳ ص: ۴۴۲، مشکوة ص: ۴۵۱، داحدیث صحیح دی اوددې ټولو راویان ثقه دي.

۳: حضرت طلحه بن عبیدالله رضي الله عنه: مسنداحمد ج: ۱ ص: ۱۲۳، ابن ماجه ص: ۲۸۱ سنن کبری بیهقي ج: ۳ ص: ۳۷۲، مسندابویعلی ج: ۲ ص: ۹ صحیح ابن حبان ج: ۵ ص: ۲۷۷ مسندبزار(کشف الاستارعن زوائدالبزار ج: ۴ ص: ۲۲۷).

امام نورالدین هیثمي رحمة الله عليه داحدیث دمسنداحمد، مسندابویعلی اومسندبزار په حوالې سره نقل کړی اوفرمايي چې ددې ټولو روایان صحیح دي(مجمع الزوائد ج:۱۰ ص:۲۰٤)

۴: حضرت ابوهریره رضي الله عنه: مسنداحمدج: ۲ ص: ۳۳۳.

امام هیثمي رحمة الله عليه فرمايي: بإسنادحسن، (مجمع الزوائدج: ۱۰ ص: ۲۰۴)اوهمدغه خبره شیخ دامام منذري نه هم نقل ده.

۵: مسنداحمدج: ۱ ص: ۱۲۳ مشکوة ص: ۴۵۱، مجمع الزوائد ج: ۱۰ ص: ۲۰۴ (حضرت شیخ هم ددې ټولو حدیثونوظرف ته اشاره کړې ده.)

تاسوګورئ چې داحدیث دڅلورو صحابه کرامو نه مروي دی، ائمه حدیث ددې تخریج کړی دی اود دې دراویانوېې توثیق اوتعدیل هم کړی دی، خو زمونږ دمیا صاحب په نزدباندې شائد دحضراتو محدیثینو جرح اوتعدیل اوتصحیح اوتحسین هم یوفالتوشی وي اودوی یې دادروایتي بوډی په شان کټ کول غواړي.

څلورم: دصحابه کرامو ددور نه ترنن دور پورې اهل علم داحدیث اوري او اوروي یې لولي یې اودرس کې یې، خو دچاپه زړه کې هم داخیال رانغی چې دې سره جذبه جهاد او د

شوق شهادت نفي کيږي. البته په حديث کې دلمونځ فضيلت اوطاعت اوعبادت سره اوږد عمر ورکول سعادت باندې ضرورا ستدلال وکړل شو. صاحب مصابيح السنة اوصاحب مشکوة داحديث،، **باب استحباب المال والعمر للطاعة**،، دلاندې ذکرکړی دی. امام نورالدين هيثمي رحمه الله دا يوځل د . . دلمونځ دفضيلت،، په بيان کې اوپه دويم ځل ،، **باب طال عمره من المسلمين**،، دلاندې ذکرکړی دی اوپه صحيح ابن حبان کې داحديث دلاندينې عنوان ترلاندې ذکر شوی دی.

**ذکر البيان بأن من طال عمره وحسن عمله قديفوق الشهيد في سبيل الله تبارک وتعالى.**

**ترجمه**: ددې امر بيان چې دکوم کس عمراوږد وي اوعمل يې ښه وي هغه کله دشهيدي سبيل الله نه هم مخکې شي.

غرض داچې دجهادفی سبيل الله اوشهادت فی سبيل الله بې شميره فضائل دي، خو په دې ځوک پوه نه دي چې جهادفرض کفايه دی اولمونځ فرض عين دلمونځ په پرېښودونکي باندې دکفراطلاق شوی دی اوهم دلمونځ په باره کې فرمايل شوي دي چې لمونځ ددين ستن ده، چاچې داقائم کړ دين يې قائم کړ اوچاچې دا وغورځولوهغه دين وغورځولو. په اسلام کې دداخليدونه وروسته ددين دټولونه لوی اواهم رکن لمونځ دی، دلمونځ ددې فضائلو ذکرکولوسره داچېرته لازم راغلل چې جذبه جهاداوشوق شهادت ورسره ختميږي اوکوم کس چې لمونځ نه کوي (ځنګه چې زموږ دمعاشري داکثريت حال دی اوپه کوموکې چې فوځي افسران اوځوانان هم شامل دي) هغوی به دالله تعالی په لاره کې جهادځنګه وکړي؟ اودهغه په زړه کې به ځنګه دشهادت شوق وي؟ خو دميا صاحب په خيال کې شائدجذبه جهاداوشوق شهادت په مقابله کې لمونځ، روژه اوددين نوراعمال اوشعائر فالتو شيان وي، ځکه که حضور ﷺ ديوشي فضيلت لره شهادت فی سبيل الله نه زيات بيان کړي، نوميا صاحب به دهغه دمنلوله پاره هم تيارنه وي اوس انصاف وکړئ چې داسلام سره دروايتي بوډی کردارځوک اداکوي؟

ميا صاحب دسورة الصف دځلورم ايت ذکرکولوکې دفوځي افسرپه حوالې سره موږ ته وايي چې: هلته داايت پرېښودل شوی اودايت نمبر ۱۱ تفسيرداسې بيان شوی دی، ځوک چې دالله تعالی په لاره کې (جهادنه بلکې) کوشش کوي په خپلومالونو سره اوپه خپلوجانونوسره،

ظاهره ده چې دکوشش نه مرادپه تبليغي دوروه باندې تلل دي.

ما اول دقران ايت حواله درکړې ده چې پرته دتحقيق نه يواځې په اوريدل شوې خبره باندې کاروايي کول پکارنه دي اوميا صاحب دفوځي افسردروايت حال هم پورته معلوم شوی دی، چې حضرت شيخ رحمه الله ديوحديث له پاره ديودرجن کتابونوحواله ورکوي اوددې

فوځي افسر، ،حافظه يو اځي ، ،يو اځې ابن ماجه مشکل نوم او چت کړی شو، هم ددې اندازه لګيدلی شي چې خبره به چېرته روانه وي او دميا صاحب راوي به دادځه نه څه ګڼلې وي؟

کومه خبره چې روانه وي او کيږي هغه به داوي چې ددين په دعوت او تبليغ اود مسلمانانو په اسلامي شعائرو قائمولو کې چې کوم محنت هم وي په دې باندې دفی سبيل الله ، اطلاق کيږي، په خپله جهاد هم دفي سبيل الله ددې محنت يو شکل دی، ټولو ته معلومه ده چې د جهاد نه مخکې د مسلمانانو امير لشکر د طرف نه کافرانو ته دادعوت ورکول کيږي:

❁ تاسو اسلام قبول کړئ. ستاسو حقوق به هماغه وي کوم چې زموږ دي او ستاسو ذمه واري به هم هغه وي کومه چې زموږ ذمه واري ده.

❁ که تاسو اسلام رانه وړئ ، نو موږ چې کوم د اسلام دقانون نظام نافذ کړی دی د هغه دلاندې او سيدل قبول کړئ او ددې له پاره جزيه ورکړئ.

❁ او که جزيه ورکول او د اسلام دلاندې او سيدل درته قبول نه وي، نو دمقابلې له پاره ميدان ته راشئ، توره به زموږه او ستاسو ترمينځه فيصله وکړي.[1]

د اسلامي جهاد دا دفعات هر يو طالب علم ته معلوم دي، دکوم نه چې واضح ده چې جهاد هم دعوت الى الله د اعلاء كلمة الله له پاره وي، له دې نه وروسته ددعوت او تبليغ په ، ،في سبيل الله، ، کيدو کې څه شک پاتې کيږي، حضراتو مفسرينو ،دفي سبيل الله په تفسير کې چې کوم څه ليکلي دي چې هغه وکتل شي دکوم نه به چې معلومه شي چې ددين دعلم حاصلولو له پاره په سفر باندې تلل هم په ، ،في سبيل الله، ، کې داخل دي او حج او عمره هم په في سبيل الله کې شامل دی او س يو کس داوايي چې ددين دسربلندي له پاره او د اسلام د ترقي له پاره چې کوم کوششونه وکړل شي، هغه هم په في سبيل الله کې داخل دي او په دې باندې به هم هغه ثواب او اجرو رکول کيږي، کوم چې دفي سبيل الله له پاره موعود دی، نو ايا د هغه دا خبره بې ځايه ده؟[2]

زه دميا صاحب نه دا پوښتنه کوم چې په تبليغي سفرونه باندې تلل خو ستاسو په خيال کې په ، ،في سبيل الله، ، کې داخل نه دي ،خو دجهاد في سبيل الله هغه درې دفعات کوم چې ماذکر کړي دي ايا هغه تاسو پوره کړي دي؟

---

[1] وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُونَ دَارَ الْحَرْبِ فَحَاصَرُوا مَدِينَةً أَوْ حِصْنًا دَعَوْهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ ) لِمَا رَوَى ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا " { أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَا قَاتَلَ قَوْمًا حَتَّى دَعَاهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ } قَالَ ( فَإِنْ أَجَابُوا كَفُّوا عَنْ قِتَالِهِمْ ) لِحُصُولِ الْمَقْصَدِ ، وَقَدْ قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ { أُمِرْت أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ } الْحَدِيثَ. ( وَإِنْ امْتَنَعُوا دَعَوْهُمْ إِلَى أَدَاءِ الْجِزْيَةِ ) ( فَإِنْ بَذَلُوهَا فَلَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِينَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُسْلِمِينَ ) (هداية ج:۲،ص:۵۵۹،كتاب السير)

[2] فى الدرالمختار: فى سبيل الله وهو منقطع الغزاة وقيل الحاج وقيل طلبة العلم وفسره فى البدائع بجميع القرب (الدرالمختار مع الردالمحتار ج:۲،ص:۳۴۳باب المصرف)

ايا زموږ فوځي افسران کافرانو ته دادعوت ورکوي چې تاسوهم زموږ په دين کې داخل شئ اوزموږ ورونه جوړشئ؟

ايادا دعوت ورکول کيږي چې که اسلام نه قبلوئ، نو دا اسلام نظام کوم چې موږ قائم کړي دی، جزيه ورکړئ اوددې ماتحتي قبوله کړئ؟اوايازموږ په ملک کې په يقين سره اسلامي نظام هم نافذدی؟دکوم په ماتحتي کې چې يوکافرقوم ته دعوت ورکړل شي؟ ترڅو پورې چې تاسو اسلامي نظام قائم نه کړئ ددې دعوت به څنګه ورکړئ؟ او ترڅو پورې چې ددې دعوت ورنه کړل شي، اسلامي جهادبه څنګه وي؟اوپه دې باندې به د اسلامي جهاد فضائل څنګه مرتب کيږي؟ايا ميا صاحب به دامعما حل کړای شي؟

او دمسواک په باره کې چې ميا صاحب کومې خبرې کړې دي ددی ځواب په خپله دهغوی په تحرير کې په اخره کې موجوددی چې:

په دويمه ورځ چې کله ځوانانو په ښې طريقې سره مسواک وکړاونهرته کوزشول ،نو دريم ټينک (ټانګ) هم پيدا شو.

که په سنت نبوي (علی صاحبها الف الف صلوٰة وسلام) باندې عمل کولو سره دالله تعالی مددشامل شي ،نو په دې کې هيڅ حيرانتيا نشته اوترڅو پورې چې مجاهدين اسلام د سنت نبوي پابندنه وي دهغوی سره دالله تعالی نصرت اومدد نه شي کيدای ، دصحابه کرامورضوان الله اجمعين حالات په دې باندې ګواه دي اوپه خپله ميا صاحب چې کومه واقعه نقل کړې ده هغه هم ددې روښانه دليل دی،خو کيدای شي چې دميا صاحب په زړه کې درسول الله ﷺ دسنتو څه خاص اهميت نه وي، له دې وجې نه هغوی ددې صحيح واقعې پورې ټوکې کول غواړي اوددې روايتي بودۍ په شان وزرونه کټ کول غواړي،حق تعالی شانه دې ورته فهم سليم ورکړي.

## قران کريم او حديث قدسي

**سوال:** ماد خطبات بهاولپور مصنفه ډاکټر محمد حميد الله صاحب لوستل شروع کړي دي، صفحه ۲۲ باندې يې ديوسوال ځواب ورکړی دی، هغه سوال اوځواب دلته نقل کوم:

**سوال:** نمبر ۱۰ : حديث قدسي دالله تعالی الفاظ دي، نوحديث قدسي په قران پاک کې ولې نه دی شامل شوی؟ وضاحت وکړئ!

**جواب:** رسول الله ﷺ مناسب نه دي ګڼلي، هم دا اصل ځواب دی، ځکه چې دقران مجيد د اوږدولو ضرورت نه و، بهتردا و چې قران کريم مختصروي اودضرورت ټول شيان دې کې موجوددي اووخت په وخت سره دې باندې زوراچولو له پاره حضور ﷺ نورشيان هم بيانول، کوم حديث چې راغلي دي اوکه حديث قدسي دي، له هغه نه موږ فائده اخستی شو، خودهغه په قران کې دشاملولو ضرورت حضور ﷺ نه دی محسوس کړی، دحديث قدسي چې کوم

کتابونه دي، په هغو کې داسې څه شی نشته کوم چې قران کې اضافه ګڼل کیږي، بلکې هم دقران ځینو خبروباندې په نوروالفاظو کې زور ورکولو سره بیان شوي دي.

زه دلته کې ونښتلم، ځکه چې دډاکټرصاحب خیال زما د بنیادي عقیدې خلاف معلومیږي، زما ایمان دی چې قران کریم مکمل طورباندې په لوح محفوظ باندې لیکل شوی دی او جبریل علیه السلام دالله تعالی دفرمان مطابق هغه په حضور ﷺ باندې نازل کړ، حضور ﷺ به یاداوه اوحضور ﷺ به هغه لیکه اوصحابه کرامو رضی الله عنهم باندې به یې یادولو، داخبره چې څنګه په قران مجید کې شامل کړل شي اوڅنګه دحضور ﷺ په اختیار کې نه وه، که چیرې موږ دا ومنوچې قران کریم په هغه ایتونوباندې مشتمل دی، کوم چې حضور ﷺ مناسب ګڼلي دي، نوزموږ کتاب به هم دبائبل په شان شي، تاسوته خواست دی چې دې باره کې زماراهنمائي وکړئ.

**جواب:** ستاسو داخیال صحیح دی، دقران کریم الفاظ اومعنا دالله تعالی دطرف نه دي[1] او حدیث قدسي مضمون خودالله تعالی له طرفه دی، خوهغه مضمون حضور ﷺ په خپلو الفاظو کې بیان کړی دی[2]، قران مجید کې څه کمی زیاتی نه شي کیدای، په دې وجه باندې داسې ویل چې قدسي حدیثونه حضور ﷺ په قران شریف کې نه دي شامل کړي، غلطه خبره ده، ډاکټرحمیدالله صاحب ته چې څه په خوله ورځي هغه وایي، هغه داستاذ علم نه دی حاصل کړی اوپه خطبات بهاول پور کې هم ډیرې غلطیانې دي[3].

## د فکري تنظیم په خلاف اوازپورته کول

**سوال:** موږ دیوې دیني مدرسې دشورا ممبران یو، دشورا مجلس رجسټرډ دی، مهتمم صاحب، دحضرت مولاناخیرمحمدصاحب رحمه الله خلیفه دی، قانون او اصول لیکل شوي دي چې دامدرسه به دحضرت مولانا نانوتوي رحمه الله اومولاناتهانوي رحمه الله دمسلک اومشرب مطابق وي، دمهتمم صاحب دوه زامن دفکري تنظیم سره تعلق ساتي اودشورا دمجلس دناګوارۍ باوجودمهتمم صاحب هغوی په مدرسه کې نوکران کړي دي، دپلاردسادګۍ نه فائده اخستوسره دهغه زامنودلیرې لیرې نه نوراستاذان رااوغوښتل اودځان په شان خیالات لرونکي خلک یې برتی کړل اوخپل پلار (مهتمم صاحب) یې دصدرپه شان بې اختیاره

---

[1] فالقرآن منزل على الرسول صلى الله عليه وسلم .........وهو النظم والمعنى جميعاً فى قول عامة العلماء وهو الصحيح.........الخ (حسامى ص:٦)

[2] ......لان القرآن وحى كله بالفاظه ومعانيه نزل به الروح الامين على قلبه،واما السنة فالفاظها من عندالرسول صلى الله عليه وسلم وان كانت السنة كلها ارائة من الله تعالى .....الخ (ما تمس اليه الحاجة على ابن ماجة ص:٥،للشيخ نعمانى)

[3] ''خطبات بهاول پور كا علمى جائزه،، مكتبه لدهيانوى شائع كړى دى.

کولوسره مدرسې باندې خپل اثرقائم کړی دی، څنګه به چې ستاسوعلم کې وي چې داحضرات دحضرت شاه ولي الله رحمة الله عليه اومولاناعبيدالله سندهي رحمة الله عليه نوم اخستلوخلک خپل ځان طرف ته متوجه کوي، دهغوی دیواستاذ دریورټ مطابق دغه خلک دخپل ملکیت قایل نه دي، دخمیني مداح، دافغانستان دجهاد خلاف اودروسي نظام خوښونکي، دښځې دمشرۍ قایل، تبلیغي جماعت ته ګمراه وایي، په دې وجه باندې دهغوی دذهنیت خلاف استاذان پریشانه کولوسره په وتلوباندې مجبوروي اوکوم طالبان چې دهغوی دخیالاتومنونکي جوړنه شول، هغوی بې هم له مدرسې نه وایستل، دپیښوردااخبارنجات مارچ ۱۹۹۸ء مطابق ددې تنظیم ذهن لرونکوطالبانوداخله بې دصوبه سرحدپه مدرسوکې بندکړې ده، مولاناسرفرازصاحب صفدرنصرت العلوم والاوو هم دیوسوال په ځواب کې دوی ته داسلافوخلاف ویلي دي اودشیطان دشراودهغه ددوستانونه بې پناه غوښتې ده،له دې نه پرته په حساب کتاب کې هم څه ګړ بړ شروع شوی دی، دمجلس شورا کې مهتمم صاحب اوشیخ الحدیث صاحب جامعه خیرالمدارس ملتان، مدرسه خیرالعلوم خیرپورټامیوالي مهتمم اودمدرسې ناظم جامعه عباسیه صادقیه منچن آباد نه پرته څه مقامي خلک دي. مهتمم صاحب خودامني چې زمادزامنونظریې صحیح نه دي،خووایي چې داولاد کیدوپه وجه باندې مجبوریم، دهغوی خلاف څه نه شم کولی، دبچوپه وجه باندې مهتمم صاحب دشورا اجلاس راغوښتل بند کړي دي، د قانون اواصولوخلاف، جمع شوې پیسې په خپل ذاتي اکاؤنټ کې جمع کوي اودخپلې خوښې مطابق بې استعمالوي، که چېرې دشورا ممبران دهغوی نه پوښتنه کول پرېږدي ،نوخپل نظر به نور هم خپرول شروع کړي، دپوښتنې په وجه باندې بیالږشان احتیاط کوي، ددې مثالي اوښې مدرسې په صحیح لارباندې راوستلو له پاره دهغوی له مدرسې نه ویستل ضروري دي، پوښتنه داکول غواړم چې ددې مسئلې په نزدباندې موږدمجلس شورا ممبران دهغوی دویستلوکوشش وکړواوکه چپ پاتې شو؟ مهتمم صاحب داهم وایي چې مانن پورې دهغوی پیرصاحب سره دهغه دغلطوعقیدوپه وجه باندې لاس نه دی ورکړی.

**جواب:** زمامسلک خودخپل اکابرینوپه شان دی، دمدرسې داحضرات که چېرې مدرسه کې دخپلواکابرینودمسلک مطابق عمل کوي، نو دنیا اواخرت کې به هغوی ته برکتونه نصیب شي،که نه بیابیا واځې ویره ده.

پاتې شوه داچې ستاسوحضراتودهغوی خلاف اواز پورته پکاردي اوکه چپ پاتې کیدل پکاردي؟ دې باره کې خواست دی که چېرې ستاسواوازپورته کول فائده کولی شي نواواز ضرورر پورته کول پکاردي اوکه چېرې دفتنې اوفساد ویره وي، نوالله تعالی نه دعاغواړئ چې ا لله تعالی خپل بندګان دهغوی دشرنه محفوظ وساتي.

# حقا که بنائی لا اله است حسین

**سوال:** خواست دی چې دحضرت خواجه معین الدین اجمیري رحمه الله طرف ته منسوب شوې یوه رباعي کومه چې دشیعه ګانونه پرته داهل سنت والجماعة دمقررینواوعالمانوپه ژبه وي، زمامراددی:

شاه است حسین بادشاه است حسین　　دین است حسین دین پناه است حسین
سر داد ونداد در دست یزید　　حقا که بنائے لااله است حسین

همدارنګه دعلامه اقبال مرحوم یوشعردی:

بهر حق درخاک وخون غلطیده است　　تا بنائے لااله گردیده است

اوظفرعلي خان مرحوم دشعراخري برخه:

اسلام زنده هوتا هے هر کربلا کے بعد

داشعرونه اودا پورته بیان شوي شعرونه کوموته چې کربنه ورکړل شوې ده، دې باندې ډیرحیران یم، زمادناقص علم مطابق دقرآن اوسنت علم سره مطابقت نه لري، یادساتل پکاردي چې د حضرت حسین رضی الله عنه مقام زماپه زړه کې ډیرزیات اوچت دی. تاسومهرباني وکړئ داسلام دتعلیماتوپه رڼاکې دلیل سره ځواب راکړئ چې داصحیح دي اوکه غلط؟

که چېرې بنائے لااله حسین رضی الله عنه نه دی، نودشریعت په نزدباندې لا اله څه دی؟ ددین یوعالم فرمایي چې داړباعي دملامعین کاشفي رافضي ده، دحضرت خواجه اجمیري رحمه الله علیه نه ده. چونکه دادهغوی په رسالونواودیوان کې نشته، ځواب دلیل اوتفصیل سره بیان کړئ.

**جواب:** دظفرعلي خان مرحوم په شعرکې خوهیڅ مشکل نشته،دهر کربلانه مراد ،هرشهادت ګاه ده اودشعرمطلب دادی چې قرباني او شهادت داسلام دژوندذریعه ده.

دکوم حدپورې چې دلوړې ذکرشوې رباعي اوداقبال دشعر تعلق دی،داخالص داشیعه ګانوترجماني کوي.دخواجه اجمیري رحمه الله علیه طرف ته ددې رباعي منسوب کول غلط دي اوداقبال **شعرفي کل وادیهیمون**،په شان دی، مزه داده چې رباعي کې سردادونه داددست دردست یزید ، ته. اوداقبال په شعرکې "بهرحق درخاک وخون غلطیدن، ته بنائے لا اله، کیدو علت ګرځول شوی دی، حالانکه دتوحیدچې څه مفهوم دی، لا اله دالله تعالی صفت دی، دانسان یوصفت دالله تعالی دتوحیداویواځې والی علت څنګه کیدای شي؟ اوکوم خلک چې په معصومانواوامامانوکې دالله تعالی دصفاتوقایل وي، دهغوی نه داسې مبالغه مستعبدنه ده. غرض داچې داړباعي چرته دشیعه ده اوداقبال شعردهغه غلا ده. والله اعلم!

# د ځمکې او اسمان په تخليق کې د تدريج حکمت

**سوال:** د سونو احتراماتو لائق جناب يوسف لدهيانوي صاحب!

السلام عليکم:

" الله تعالى په دوو ورځوکې ځمکه جوړه کړه،په دوو ورځوکې يې په دې کې دننه قوتونه اوبرکت کيښوده او په دوو ورځوکې يې اسمان جوړکړ( حم سجده ايت۹تا۱۲) حواله:تفسير عثماني رحمة الله عليه).

" الله تعالى چې څه شی پيدا کول غواړي، نوهغه ته وايي چې :وشه ! هغه شی وشي.
( ال عمران،ايت نمبر٤٧)،( حواله :تفسير مولانااشرف على تهانوى رحمة الله عليه )

ددې اياتونو په باره کې يوشيطاني خيال مادځه موده نه پريشانه کوي،چې دځمکې او آسمان د وجود په راتلوکې شپږ ورځې ولې لګيدلې چې کله زموږ ايمان دی چې دځمکې او اسمان پيداکولو له پاره دالله پاك يوه اشاره هم کافي ده اوهغه به فوراً په وجودکې راشي،مهرباني وکړئ او په دی اشکال ليرې کولو کې زما سره مرسته وکړئ چې زه ددې شيطاني خيال نه خلاص شم.

**جواب:** د يوشي تدريجاً( په مزه مزه) وجودکې راوستل ددې دوه وجې کيدای شي،يوه دا چې فاعل دهغه په يوځل وجودته راوستلو باندې قادر نه وي ځکه هغه مجبور دی چې دا شی په مزه مزه وجودته راولي او دويم صورت دا دی چې فاعل ددې شي سمدستي وجود ته په راوستلو باندې خوقادر وي ،خو دځه حکمت په بناء باندې يې هغه وجودته سمدستي نه راولي،بلکې په مزه مزه يو خاص مقرره موده کې يې وجود ته راولي،الله پاك چې ځمکه او اسمان په دوو دوو ورځوکې پيدا کړل ددې وجه لومړی نه وه بلکې دويمه وه په دی وجه ستاسوسوال خوختميږي البته داسوال کيدلی شي چې هغه کوم حکمت و چې دهغه په بناء باندې دځمکې او اسمان تخليق تدريجاً وشو،نو ددې ځواب دادی چې دالله دافعالو دحکمت احاطه څوک کولی شي په دې کې چې هرڅنګه حکمتونه هم ملحوظ وي هغه به ټول خير وي،مثلاً يوحکمت بندګانو ته دتدريج اوپه مزه مزه دکولوتعليم ورکول کيدای شي چې هرکله موږ دقادر مطلق کيدلو باوجود خپل تخليق کې دتدريج خيال ساتلی دی، نوستاسو له پاره خوپه څه کارکولوکې په اولی درجه کې دتدريج نه کار اخستل پکاردي،يامثلاً داحکمت کيدای شي چې ددې دنيا نظام به داسبابو اومسبباتودتدريجي سلسلې دلاندې چليږي ،څنګه چې الله تعالى قادر دی چې انسان يې په يوه لمحه کې پيداکړی وای او نيغ يې ژوندي درولي وای خو نه! دهغه حکمت ديوخاص نظام دلاندې تدريجاً دهغه پالنه کوي،هم دا حال دنباتاتو وغيره هم دی او که چيرې غور وکړل شي ، نوددې دنياټول ترقيات دتدريج دلاندې چليږي څه تعجب دی چې داسمان اوځمکې ترديجي تخلېق کې دا حکمت هم ملحوظ وي.

## دا نسان سپوږمۍ ته رسيدل

**سوال:** زموږ د دوستانو په مينځ کې نن سبا يو بحث کيږي او هغه دا چې انسان سپوږمۍ ته ختلى دى او که نه؟ او ځمکه ګردش کوي يا نه؟ زما خيال خو دا دى چې انسان سپوږمۍ ته ختلى دى او ځمکه ګردش کوي، موجوده نوي دور ته د ټيکنالوجي دور وايي او په دې دور کې يوه خبره هم ناممکنه نه ده پاتې شوې چې کله په خلاء کې مصنوعي سيارې پريښودل کيږي، نو بيا سپوږمۍ ته ختل ولې ممکن نه دي په دې سلسله کې چې کله موږ د خپل جومات د موذن صاحب نه پوښتنه وکړه ، نو هغه وويل چې دقران او حديث په رڼا کې دا خبره بالکل ناممکن ده، چې انسان سپوږمۍ ته وخيږي او ځمکه ګردش کوي.
تاسو مهرباني وکړئ د قران او حديث په رڼا کې زموږ معلوماتو کې اضافه وکړئ چې دا خبره څومره پورې ومنل شي چې انسان سپوږمۍ ته رسيدلى دى او دا چې ځمکه ګردش کوي؟

**جواب:** انسان سپوږمۍ ته خو رسيدلى دى او دنوي تحقيق مطابق ځمکه هم ګردش کوي ،خو دا خبره په پوهه کې نه راځي چې ستاسو دوست په دې نکته باندې مجلس مذاکره ولې منعقد کوي او ددې بحث حاصل څه دى، ستاسو د موذن صاحب دا ويل چې دقران او حديث په رڼا کې دانسان سپوږمۍ ته رسيدل ناممکن دي بالکل غلطه ده! نبي کريم ﷺ خو سپوږمۍ ته نه بلکې عرش پورې رسيدلى او راغلى و ،سپوږمۍ ته رسيدل ولې ناممکن شول؟

## ځمکه او اسمان په څو ورځو کې پيدا شوي دي

**سوال:** دجمعې په ورځ باندې "الله تعالى کې نښانيان، ، په عنوان باندې دمختلف سورتونو ديو څو ايتونو ترجمه وړاندې کيږي، دسوره حم السجده د٩تر١٢ ايتونو په بيان کې ليکل شوي دي چې ځمکه دوه ورځو کې پيدا شوه او دوه ورځو کې اووه اسمانونه جوړ کړل شول، دسورت ق په بيان کې ليکل شوي دي چې ځمکه اسمان او ټول مخلوقات په شپږ ورځو کې پيدا شول، او سه پورې خو موږ داسې اوريدلى و چې ځمکه او اسمان په اووه ورځو کې پيدا شوي دي او دا هم صحيح دي چې الله تعالى لفظ کن وويل او هرڅه وشول، کله چې دکن په ويلو باندې هرڅه شوي دي، نو ددې دوه ورځو ،شپږو ورځو او اووه ورځو ضرورت ولې پيښ شو؟ ددې وضاحت وکړئ.

**جواب:** دلته ديو څو خبرو ذکر کول ضروري دي:
١. ځمکه او اسمان وغيره په اووه ورځو کې نه دي پيدا شوي بلکې په شپږو ورځو کې شوي دي، څنګه چې تاسو دسورت ق په حواله باندې ليکلي دي دپيدا کولو شروع دهفتې په ورځ باندې شوې وه او دزيارت (پانشنبې) په مابنام باندې ختمه شوه.

۲: الله تعالی یو ځمکه او یو اسمان څنګه، په زرګونو جهانونه په یومنټ کې پیداکولی شي. خوشېږو ورځوکې پیداکولوکې یې حکمت و، څنګه چې ماشوم په یوه لمحه کې پیدا کولو باندې قدرت لري، خو د مور په خېټه کې هغه په نهه میاشتو کې جوړوي.

۳: د کن ویلو په وجه هر یو شی پیداکیږي، خو کوم یو شی چې سمدستي پیداکول غواړي هغه پیداشي او کوم چې څه وخت وروسته پیداکول غواړي هغه څه وخت وروسته پیداشي.

۴: دوه ورځوکې اسمان، دوه ورځوکې ځمکه او دوه ورځوکې ځمکه کې موجودټول شیان یې پیداکړي دي.

۵: دې جوړولوکې ترتیب څنګه و؟ دې باره کې دعامو مفسرینو خیال دی چې مخکې دځمکې ماده جوړه کړل شوه، بیا اسمان جوړ کړل شو، بیا ځمکه خوره کړل شوه او بیا ځمکه کې موجودشیان جوړکړل شول. والله اعلم!

# ❖ دکفر، شرک او ارتداد تعریف او احکام ❖

## شرک څه ته وایي

**سوال:** شرک څه ته وایي؟

**جواب:** دالله پاك په ذات او صفاتوکې څوك شریکولو ته شرك وایي، دشرك ډېرقسمونه دي، لنډه دا چې کومه معامله د الله پاك سره کېدل پکار ده، هغه یو مخلوق سره کول شرك دی.[۱]

## د شرک حقیقت څه دی

**سوال:** شرك یوه داسې ګناه ده چې هغه الله پاك هیڅ کله هم نه معاف کوي، خوکه داسړی ددمرګ نه مخکې توبه وکړي، نو بیایې دا ګناه معاف کېدای شي، اوس سوال دادی که یوسړی په ناپوهي سره په شرك کې مبتلاوي او په دې حالت کې مړشي، نودده ګناه به الله تعالی معاف کړي او که نه هیڅ کله به هم ده ته بښنه نه کیږي؟

**جواب:** دشرك معنا دالله تعالی په الوهیت کې یا دهغه په خاصو صفتونوکې بل څوك شریکول ده[۲] او دا یوه داسې ګناه ده چې پرته د توبې نه دمعافي قابله نه ده[۳] او په ناپوهي سره شرك کې مبتلا کېدل زما په پوهه کې نه راځي ددې تشریح وکړئ!

---

۱] الاشراك هو اثبات الشريك فى الالوهية ووجوب الوجود كما للمجوس او بمعنى استحقاق العبادة كما لعبدة الاوثان. (شرح العقائد ص۱۴۶ طبع ايچ ايم سعيد) ايضاً شرك الانسان فى الدين......... وهو اثبات شريك لله تعالى وهو على اربعة انحاء: الشرك فى الالوهية، والشرك فى وجوب الوجود، والشرك فى التدبير، والشرك فى العبادة، (قواعد الفقه ص:۳۳۷، طبع صدف پبلشرز كراچى)۔

۲] الشرك على ثلاث مراتب وكله محرم، واصله اعتقاد شريك لله فى الوهيته وهو الشرك الاعظم......الخ (تفسير قرطبى ج۵ ص۱۱۸، طبع بيروت)۔

۳] ان الله لا يغفر ان يشرك به ويغفر ما دون ذلك لمن يشآء،، الآية (النسآء: ۱۱۶)۔

## غیرعادي کارونه او شرک

**سوال:** ایا الله پاك انبیاء، اولیاء او فرښتوته اختیارات او قدرتونه ورکړي دي؟ لکه څنګه چې انبیاء کرامو به مړي ژوندي کول، له دې نه پرته څه فرښتې هواګانې چلوي. څه باران اوروي اوداسې نور......،خو په "درس توحید" کتاب کې دي چې دنیکي اوبدي دنفع اونقصان اختیار د الله نه پرته بل چاسره نشته، که هغه نبي وي یاولي وي، دالله د ذات نه پرته دبل چاله لوري نفع اونقصان منل شرك دي.

**جواب:** کوم کارونه چې له عادتي سببونوسره تعلق لري، مثلاً یو ورې سړی له چانه ډوډۍ وغواړي، نو داشرك نه دی، باقي د انبیاء علیهم السلام اویا د اولیاءکرامو په لاس چې خلاف عادت څه واقعات ښکاره کیږي، نو هغه معجزې اوکرامات دي[۱]، په هغو کې چې څه کیږي، هغه دالله په قدرت سره کیږي، مثلاً عیسی علیه السلام به مړي ژوندي کول،دادهغه په قدرت سره نه، بلکې دالله تعالی په قدرت سره کېدل، داهم شرك نه دی، هم داحال دهغه فرښتودی کومې چې په مختلفوکارونوباندې مقررې دي، په خلاف عادت کارونوکې یونبي او ولي تصرف کونکی منل شرك دی.[۲]

## د کافر او مشرك په مینځ کې فرق

**سوال:** دکافر اودمشرك په مینځ کې څه فرق دی؟ اوبل داچې دکافر او دمشرك سره دوستي کول، ډوډۍ خوړل اودسلام جواب ورکول جائزدي او که نه؟ اوکه دسلام جواب ورکول جائزوي، نوڅنګه جواب ورکول پکار دي؟

**جواب:** دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دراوړل شوي دین دیوې خبرې نه که څوك انکاروکړي، نوهغه ته کافر ویل کیږي[۳]اوچې کوم څوك دالله په ذات،دهغه په صفاتوکې،دهغه په کارونوکې بل څوك

---

۱]کرامات الاولیاء حق......... وکرامته ظهور امر خارق للعادة من قبله غیر مقارن لدعوی النبوة........ ومایکون مقرونا بدعوی النبوة یکون معجزة. (شرح عقائد ص: ۱۴۵، طبع ایچ ایم سعید)۔

۲] حقیقة الشرك ان یعتقد انسان فی بعض المعظمین من الناس ان الآثار العجیبة الصادرة منه انما صدرت بکونه متصفاً بصفة من صفات الکمال مما لم یعهد فی جنس الانسان بل یختص بالواجب جل مجده لایوجد فی غیره الاّ ان یخلع هو خلعة الالوهیة علی غیره او یفنی غیره فی ذاته ویبقی بذاته او نحو ذالک مما یظنه هذا المعتقد من انواع الخرافات کما ورد فی الحدیث ان المشرکین کانوا یلبون بهذه الصیغة لبیک لبیک لا شریک لک الا شریکاً هو لک تملکه وما ملک فیتذلل عنده اقصی التذلل ویعامل معه معاملة العباد مع الله تعالی (حجة الله البالغة ج:۱، ص:٦١، باب اقسام الشرک)۔

۳]والکفر لغة الستر، وشرعاً تکذیبه صلی الله علیه وسلم فی شئ مما جاء به من الدین ضرورة. (درمختار ج : ٤ ص :۳۲۳)۔

شريك وګڼي، نو هغه ته مشرك ويل كيږي[1] د كافرانو سره دوستي كول منع دي، خو د ضرورت په وخت كې د هغه سره ډوډۍ خوړلو كې څه باك نشته، د نبي عليه السلام په دسترخوان باندې كافرانو ډوډۍ خوړلې ده[2] او كافر ته پخپله، خو سلام مه كوئ كه چېرې هغه سلام وكړ، نو په جواب كې يوازې "وعليكم" ووايئ.[3]

## د كافرانو او مشركانو پليتوالى معنوي دى

**سوال:** "ستاسو مسئايل او د هغه حل" په كالم كې ستاسو يو جواب و، چې د غيرمسلمو مثلاً: د عيسايانو سره په يوه كاسه (پليټ) كې خوراك كول جائز دي، خو د اسې نه چې د كفر نه دې نفرت هم نه وي" د قران مجيد په لسمه سپاره كې د توبه سورت د اته ويشتم ايت ترجمه ده: "اې د ايمان والاوو! دا مشركان پليت دي، د وی مسجد حرام ته نژدې مه پرېږدئ"

د دې ايت نه زما په شان كم علمه دا نتيجه واخيستله چې مشركان پليت دي، لكه څنګه چې سپي او خنزير پليت دی، نه د سپي او خنزير سره په يوه كاسه كې خوراك كول جائز دي او نه د مشركانو سره په يوه كاسه كې خوراك كول جائز دي، ځكه چې په ګډ خوراك سره مسلمان هغه پليت خوراك (چې هغه د كافر او د مشرك په لاس لګېدو سره پليت شوی دی) خوري او كوم سړی چې پليت شی خوري د هغه د لمانځه به څه حكم وي، د مسلمان خو كه د بدن له پاسه هم پليتي لګېدلې وي، نو لمونځ ونه يې نه كيږي. د اسې خلك چې د غيرمسلمو سره تګ راتګ ساتي، د هغوی ژوند كه په غور سره وګورئ، نو معلومه به شي چې د وی يوازې د نوم مسلمانان پاتې شوي دي، عمل ته د وی نژدې هم نه دي تېرشوي، ځېني خلك خپل دې عمل ته وسعت فكري وايي، خو دا د هغوی وسيع فكر نه، بلكې دا يې د غرقېدو عمل دی.

قبله وكعبه مولاناصاحب! عرض دا دی چې د دې دومره دلائلو باوجود كه زه په غلطه يم، نو اميد دی چې زما ګستاخي به معاف كړئ او مدلل او تفصيل سره به زما تصحيح وكړئ.

**جواب:** د كافرانو او مشركانو په پليت كېدو كې، خو هيڅ شك نشته دا خو د قران كريم فيصله ده، خو د د وی دا پليتي ظاهري نه ده معنوي ده، نو له دې وجې نه كه د كافر او مشرك لاس

---

۱] الاشراك هو اثبات الشريك فى الالوهية ووجوب الوجود كما للمجوس او بمعنى استحقاق العبادة كما لعبدة الاوثان. (شرح العقائد ص۱۴۶، طبع ايچ ايم سعيد) ايضاً شرك الانسان فى الدين...... وهو اثبات شريك لله تعالى وهو على اربعة انحاء: الشرك فى الالوهية، والشرك فى وجوب الوجود، والشرك فى التدبير، والشرك فى العبادة، (قواعد الفقه ص:۳۳۷، طبع صدف پبلشرز كراچى)۔

۲]وانزل وفد عبد القيس فى دار رملة بنت الحارث واجرى عليهم ضيافةً وقاموا عشرةً ايام: (طبقات ابن سعد ج:۱ ص :۳۱۵)۔

۳] عن انس بن مالک قال :قال النبى صلى الله عليه وسلم : اذا سلم عليكم اهل الكتاب فقولوا : وعليكم :(صحيح بخارى ج :۲ ص :۹۲۵، باب كيف الرد على اهل الذمة بالسلام، نور محمد اصح المطابع)۔

او خله پاك وي، نو هغه سره خوراك كول جائز دي.[۱]

دنبي كريم ﷺ په دسترخوان باندې كافرانو هم ډوډۍ خوړلې ده[۲]، البته ددوی سره دوستانه تعلقات جائزنه دي[۳] دسپي اود خنزير جوټه خوراك پليت دی[۴] او دكافرانو جوټه پاكه ده.[۵]

## شرك او بدعت څه ته وايي؟

**سوال:** دشرك اودبدعت تعريف څه دی؟ په مثالونو سره يې وضاحت وكړئ!

**جواب:** دالله تعالى په ذات اوصفاتو تصرف او اختيار كې بل څوك شريك ګڼلو ته شرك وايي[۶]. او كوم كارچې حضور ﷺ، صحابه وو او تابعينونه وي كړی، بلكې ددين په نوم باندې وروسته ايجاد شوی وي، هغه عبادت ګڼل او كول بدعت دی[۷]. ددې اصولو په رڼا كې مثالونه تاسو پخپله هم مقررولی شئ.

## آيا خاوند ته بنده ويل شرك دی؟

**سوال:** په ځينې ځايونو كې خاوند ته بنده ويل كيږي مثلاً: شاهد دراخلې بنده دی. دغه راز

---

۱] اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ .......ودلت هذه الآية الكريمة على نجاسة المشرك كما ورد فى الصحيح : المؤمن لا ينجس، واما نجاسة بدنه فالجمهور على انه ليس ينجس البدن والذات لان الله تعالى احل طعام اهل الكتاب. (تفسير ابن كثير ج :۳ ص : ۳۸۲، طبع رشيديه، كوئټه، سوره توبه آيت : ۲۹)۔

۲]وانزل وفد عبد القيس فى دار رملة بنت الحارث واجرى عليهم ضيافة وقاموا عشرة ايام. (طبقات ابن سعد ج :۱ ص :۳۱۵)۔

۳]يٰاَيها الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِياءَ تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ(الممتحنة : ۱)۔

۴]وسؤر خنزير وكلب. ......نجس مغلظ. ..الخ. (درمختار ج:۱ ص:۲۲۳، كتاب الطهارة، فصل فى البئر)۔

۵] (فسؤر آدمى مطلقا) ولو جنبا او كافراً ....طاهر طهور بلا كراهة. وفى الشرح : قوله طاهر اى فى ذاته طهور: اى مطهر لغيره من الاحداث والاخباث. ..الخ. (الدر المختار مع الرد ج:۱ ص :۲۲۲، باب المياه، فصل فى البئر)

۶]الاشراك هو اثبات الشريك فى الالوهية ووجوب الوجود كما للمجوس او بمعنى استحقاق العبادة كما لعبدة الاوثان. (شرح العقائد ص :۱۴۶، طبع ايچ ايم سعيد)۔

۷]بدعة وهى اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة. .....الخ وفى الشرح : وحينئذ فيساوى تعريف الشمنى لها بانها ما احدث على خلاف الحق المتلقى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم من علم او عمل او حال بنوع شبهة واستحسان، وجعل ديناً قويماً وصراطاً مستقيماً (الدرر المختار مع الردالمختار ج:۱ ص : ۵۶۰، مطلب البدعة خمسة اقسام) ايضاً البدعة : هى الامر المحدث الذى لم يكن عليه الصحابة والتابعون ولم يكن مما اقتضاه الدليل الشرعى قاله السيد (التعريفات الفقهية فى قواعد الفقه لمفتى عميم الاحسان ص :۲۰۴،طبع الصدف كراچى)

که یوې ښځې نه دهغې دخاوند متعلق پوښتنه وشي چې داخوك دی هغه وايي چې دازمابنده دیی، محترمه داواضحه کړئ چې یوانسان ته دښځې بنده ویل صحیح دي؟ ځکه چې ټول انسانان دالله بندګان دي اویوازې دهغه بنده کې کوي اوکه چیرې دبنده نسبت دښځې طرف ته وشي؛نوپه دې کې دشرك خو څه احتمال نه راځي؟ لکه څنګه چې علماء ددې نومونودایښودلونه منع فرمایي، عبدالرسول، عبدالنبي، عبدالحسن،پیر، داتا اودیته ورته نور... چې دادشرك نومونه دي.

**جواب:** په دې محاوره کې د"بنده" نه مرادخاوندوي په دې وجه داشرك نه دی،دا داسې ده لکه (میا) لفظ چې څنګه دآقا، سردار او خدای له پاره استعمالیږي، دغه شان د خاوند له پاره هم استعمالیږي، لکه څنګه چې خاوند له پاره (د میا) لفظ استعمالول شرك نه دی، دغسې د خاوند له پاره د ''بنده،، لفظ استعمالول هم شرك نه دی، ځکه چې په محاوره کې دا الفاظ په دې معنا کې هم استعمالیږي.

## د کافر، زندیق اومرتد ترمنځ فرق

**سوال:** (۱) په کافراومرتدکې څه فرق دی؟
(۲): کوم څوك چې ددروغودنبوت د دعوه کونکي منونکی وی، هغه ته به کافرویل کیږي که مرتد؟ (۳): په اسلام کې دمرتدڅه سزاده؟ اود کافرڅه سزاده؟

**جواب:** کوم څوك چې له سره اسلام نه مني هغه ته خواصلي کافرویل کیږي،کوم څوك چې اسلام قبول کړي اوبیاترې واپس شي ده ته مرتدوایي اوکوم څوک چې دعوه داسلام کوي،خو عقائد د کفر ساتي اودقرآن اوحدیث په ظاهري احکاموکې تحریف وکړي اوهغه په خپلو کفریه عقائدو باندې د برابرولوکوشش کوي، ده ته"زندیق" ویل کیږي ،څنګه چې وړاندې به معلومه شي.دده حکم هم د مرتدپشان دی، بلکې له هغه نه هم سخت دی.[۱]
۲:ختم نبوت داسلام یوقطعي او مضبوطه عقیده ده،په دې وجه کوم خلك چې داسلام ددعوې باوجود د دروغو پیغمبرمني اودقران اوحدیث هغه ظاهري دلائل په دغه دروغژن پیغمبر منطبق کوي، نوهغه مرتد او زندیق دی.[۲]

---

۱] قد ظهر ان الکافر اسم لمن لا ایمان له. .......وان طرء کفره بعد الاسلام خص باسم المرتد لرجوعه عن الاسلام. .......وان کان مع اعترافه بنبوة النبی صلی الله علیه وسلم واظهاره شعائر الاسلام ببطن عقائد هی کفر بالاتفاق خص باسم الزندیق.....الخ (شرح المقاصد ج :۲ ص :۲٦۸، طبع دار المعارف النعمانیة)_

۲] قوله : اذا لم یعرف ان محمداً صلی الله علیه وسلم آخر الانبیاء فلیس بمسلم لانه من الضروریات یعنی والجهل بالضروریات فی باب المکفرات لایکون عذرا......الخ (الاشباه والنظائر مع شرحه للحموی ص۲۹٦ طبع کراچی) وان کان مع اعترافه بنبوة النبی صلی الله علیه وسلم واظهاره شعائر الاسلام ببطن عقائد هی کفر بالاتفاق خص باسم الزندیق. (شرح مقاصد ج۲ ص۲٦۸، طبع دارالمعارف النعمانیة)_

۳: دمرتد حکم دادی چې هغه ته به درې ورځې مهلت ورکړل شي او دهغه دشبهاتو ليرې کولو کوشش به وشي، که چېرې په دې درې ورځوکې دننه هغه دخپل ارتداد نه توبه وکړه او صحيح رينښتينی مسلمان شواو وعده يې وکړه، نودده توبه به قبوله کړل شي اوازاد به کړل شي اوکه چېرې هغه توبه ونکړه نودا اسلام نه دبغاوت کولو په جرم دې هغه قتل کړل شي[۱]، دجمهورو امامانو په نزد باندې سړی وي اوکه ښځه د دواړو يوحکم دی[۲]،يوازې دامام ابوحنيفه رحمة الله په نزدباندې که چېرې مرتد ښځه وه اوتوبه ونه باسی نودقتل په ځای دې ورته هميشه دقيد سزا ورکړل شي[۳]

زنديق هم دمرتد پشان واجب القتل دی، خوکه چېرې هغه توبه اوباسي، نو دهغه قتل به معاف کيږي اوکه نه؟ امام شافعي رحمة الله فرمايي چې که چېرې هغه توبه وکړي، نونه به قتل کيږي[۴] امام مالک رحمة الله فرمايي چې دده دتوبې هيڅ اعتبار نشته،هغه په هرحال کې واجب القتل دی[۵] امام احمد رحمة الله نه دوه روايتونه نقل شوي دي،يودا چې که هغه توبه اوباسي، نو نه به قتليږي او دويم روايت دا دی چې دزنديق سزا په هرحال کې قتل دی.اګر که هغه توبه ښکاره هم کړي[۶]او د احنافو غوره مذهب دادی چې که چېرې زنديق دګرفتاري نه مخکې په خپله اراده توبه اوباسي،نودده توبه به قبليږي اود قتل سزابه ورته معاف کيږي،خود ګرفتاري نه پس دهغه دتوبې اعتبارنشته،ددې تفصيل نه معلومه شوه چې زنديق د مرتدنه هم زيات ناکاره دی، ځکه چې دمرتد توبه بالاتفاق قبليږي ،خو د زنديق

---

۱] واذا ارتد المسلم عن الاسلام والعياذ بالله عرض عليه الاسلام، فان كانت له شبهة كشفت عنه ويحبس ثلاثة ايام فان اسلم والا قتل...... الخ، (هدايه ج۲ ص۵۸۰)۔

۲]والمراد اذا ظفر به قبل ان يحارب، فاتفقوا على انه يقتل الرجل لقوله عليه الصلاة والسلام: من بدّل دينه فاقتلوه، واختلفوا فى قتل المراة......فقال الجمهور : تقتل المراة وقال ابوحنيفة : لا تقتل، وشبهها بالكافرة الاصلية، والجمهور اعتمدوا العموم الوارد فى ذلک (بداية المجتهد ج:۲،ص : ۳۴۳، شرح المهذب ج:۱۹،ص : ۲۲۸، المغنى ج:۱۰،ص : ۷۴)۔

۳] واما المرأة فلا يباح دمها اذا ارتدت ولا تقتل عندنا ولكنها تجبر على الاسلام واجبارها على الاسلام ان تحبس وتخرج فى كل يوم فتستاب ويعرض عليها الاسلام فان اسلمت والا حبست ثانياً هكذا الى ان تسلم او تموت ....الخ (البدائع الصنائع ج:۷،ص :۱۳۵،طبع ايچ ايم سعيد)

۴]والزنديق. .....فانه يستتاب وان تاب والا قتل فان استتيب فتاب قبلت توبته (المجموع شرح المهذب ج:۱۹، ص : ۲۳۳ طبع بيروت)۔

۵]الزنديق. .....لم يستتب ويقتل ولو اظهر توبته لان اظهار التوبة لا يخرجه عما يديه من عادته ومذهبه........الخ (مواهب الجليل شرح مختصر الخليل ج:۶،ص : ۲۸۲)۔

۶]اذا تاب قبلت توبته ولم يقتل اى كفر كان وسواء كان زنديقاً. .......والرواية الاخرى لا تقبل توبة الزنديق. ......الخ (المغنى لابن قدامه ج:۱۰،ص :۷۸، الشرح الكبير ج:۱۰،ص :۸۹)۔

دتوبې په قبلیدوکې اختلاف دی.[۱]

## د پیغمبر ﷺ له وفات نه وروسته چې کوم خلک مرتد شول

**سوال:** دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول پاك ﷺ فرمايلي دي،چې زه به په حوض کوثر باندې ستاسو استقبال کوم او ستاسونه به څه خلک زمامخې ته راوستل شي تردې پورې چې ز ه به هغوی ته د کوثرپياله ورکول اوغواړم،نوهغه خلک به زماله خوانه ليرې کړل شي زه به عرض وکړم چې اې الله! داخلک خوزماصحابه دي،نوالله تعالى به وفرمايي چې ته يې نه پيژنې چې دوی ستانه وروسته څه څه بدعتونه کړي دي.(صحيح بخاري)
دابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دی چې رسول پاك ﷺ وفرمائيل چې دټولونه مخکې به حضرت ابراهيم علیه السلام ته جامې واغوستل شي او هوښياراوسئ ځوکسان به زمادامت نه راوستل شي دغه وخت به زه ووايم چې اې ربه! داخوزما صحابه دي، دالله پاك له طرف نه به اواز راشي چې تاته پته نشته چې دوی ستانه وروسته څه وکړل، داخلک ستانه وروسته مرتدشوي وو.(صحيح بخاري)
پورته ذکرشوي دوه حديثونه ماستاسوپه خدمت کې پيش کړل.په دې احاديثوکې چې کومو اصحابوته په صفاالفاظوکې مرتد او بدعتي ويل شوي دي هغه اصحاب څوك وو؟
**جواب:** دهغه دله ټولو نه اول مصداق هغه خلک دي چې هغوی دنبي کريم ﷺ نه پس مرتد شوي وو او دهغوی خلاف حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه جهادکړی و،دله دې نه پرته هغه ټول خلک هم په دې کې داخل دي چې هغوی په دين کې ګډ وډې وکړه،نوې نظرې او بدعتونه يې ايجادکړل.[۲]

## د مرتد توبه قبوله ده

**سوال:** زماتره له نن نه ديرش کاله مخکې يوې عيسايي ښځې سره نکاح کړې وه اودهغوی د پادري شرطونه يې منلي وو.دين اسلام يې پرېښوداودعيسايانو مذهب يې اختيارکړی و.اوخپل لوړی اسلامی نوم عبدالجباريې ختم کړی و اودعيسايانو نوم پی ايل مارټن يې په ځان ايښی و، دهغه درې زامن هم دي چې ځانونه مسلمانان بولي، خودهغوی نومونه هم دعيسايانوپشان دي، اوس زموږ دا تره وايي چې زه دوباره مسلمان شوی يم اوهغه خپل لوړی نوم عبدالجبار بيااختيار کړی دی اوهغه اوس په پابندي سره دسحر لمونځ اودجمعې

---

۱] لا تقبل توبة الزنديق فى ظاهر المذهب......وفى الخانية قالوا ان جاء الزنديق قبل ان يوخذ فاقر انه زنديق فتاب عن ذلک تقبل توبته وان اخذتم ثم تاب لم تقبل توبته ويقتل.....الخ (البحر الرائق ج:۵، ص :۱۳۶)۔
۲] قال الکرمانى : وهم اما المرتدون واما العصاة.......الخ (عمدة القارى شرح بخارى ج:۱۲، ص : ۱۳۷طبع دار الفکر بيروت)۔

لمونځ هم ادا کوي او دهغه پېژند ګلوي خلک وايي چې دی جومات ته د راتلو حقدار نه دی ځکه چې دی اوس په ټول عمر کې مسلمان کيدای نشي او دهغه ښځې هم اسلام قبول کړی دی او خپل اسلامي نوم يې راحيله ايښې دی،تاسو ته درخواست دی چې د شريعت او حديثو په رڼا کې وفرمايئ چې ايا دا ښځه او خاوند به اوس مسلمان ګڼل کيږي او که نه؟

**جواب:** کوم سړی چې (نعوذبالله) د دين اسلام نه واوړي او بل مذهب اختيار کړي نو هغه ته مرتد ويل کيږي[1] او مرتد که چېرې په ريښتيني زړه سره توبه وکړي او دوباره اسلام قبول کړي نو دده توبه صحيح ده[2] او هغه به مسلمان ګڼل کيږي .نو له دې وجې نه که چېرې ستا تره د ښځې او بچو سره اسلام قبول کړی وي نو دد وی سره به د مسلمانانو معامله کيږي، دهغوی له جومات نه بندول غلط دي، دزامنو نومونه دې بدل کړي او د مسلمانانو نومونه دې ورباندې کېږدي او ټول خاندان ته پکار دي چې د پنځه وخته لمونځونه او نور فرائض او واجبات دې پوره پابندي سره کوي او د دين مسائل دې هم ضرور زده کړي[3]

# ❖ موجبات کفر (کفريه اقوال او افعال) ❖

.......................

## اسلامي حکومت کې چې کوم کافر د الله رسول ته کنځل وکړي نو هغه واجب القتل دی

**سوال:** که چېرې په اسلامی حکومت کې اوسيدونکی کافر د الله رسول ته کنځل وکړي، نو ايا دهغه ذمه نه ختميږي؟ په حديث شريف کې دي چې کوم ذمي د الله رسول ته کنځل وکړي، دهغه ذمه ختميږي هغه واجب القتل دی.

**جواب:** په فقه حنفي کې په دې باندې فتوا ده چې کوم سړی په ښکاره د پيغمبر ﷺ په شان کې ګستاخي وکړي هغه واجب القتل دی،درمختار او شامي کې يې دده واجب القتل کيدل ډېر په تفصيل سره ذکر کړي دي[4] او په خپله شيخ الاسلام حافظ ابن تيميه رحمه الله (چې هغه غير مقلدين خپل امام کڼي) په کتاب "الصارم المسلول" کې هم د احنافو نه دده واجب القتل

---

۱]وان طرا كفره بعد الاسلام خص باسم المرتد لرجوعه عن الاسلام...الخ (شرح المقاصد ج:۲،ص :۲٦۸)

۲]وكل مسلم ارتد فتوبته مقبولة......الخ(تنوير الابصار مع حاشية ردالمحتار ج:٤،ص :۲۳۱، باب المرتد)۔

۳] ما يكون كفراً اتفاقاً يبطل العمل والنكاح.......وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح (الدر المختار ج:٤،ص :۲٤۷)۔

٤]قوله وسب النبى صلى الله عليه وسلم اى اذا لم يعلن فلو اعلن بشتمه او اعتاده قتل ولو امراة وبه يفتى.......الخ (فتاوى شامي ج:٤، ص :۲۱۳، مطلب فى حكم سب الذمى النبى صلى الله عليه وسلم)۔

کیدل نقل کړي دي[1]، علامه ابن عابدین شامي رحمه الله په دې موضوع باندې مستقله رساله لیکلې ده چې د هغې نوم دی "تنبیه الولاة والحکام علی احکام شاتم خیرالانام او احد اصحابه الکرام علیه وعلیهم الصلوة والسلام"

دا رساله په مجموع رسائل د ابن عابدین کې شائع شوې ده، غرض دا چې د داسې ګستاخ واجب القتل کیدل د ټولو امامانو په نزد متفق علیه دی. او دا بحث چې کیږي چې هغه سره د ذمي وعده ماتیږي او که نه؟ دا یوازې یو نظریاتي بحث دی.

احناف وايي چې د نبي کریم ﷺ په شان کې ګستاخي کفر دی او کافر خو هغه د مخکې نه دی نو له دې وجې نه د ده وعده خونه ماتیږي، خو د ده دا حرکت د قتل موجب دی او نور حضرات وايي چې دی ذمي پاتې نه شو، حربي شو، لهذا دا واجب القتل دی، په دواړو صورتونو کې د بحث هماغه یوه نتیجه راووتله. نظریاتي بحث یوازې د توجیه او د علت په بیانولو کې د اختلاف پاتې شو. په حدیث کې هم د ده واجب القتل کیدو ذکر فرمایل شوي دي، د هغه د وعدې ماتیدو ذکر په کې نشته، ځکه دا حدیث د احنافو خلاف نه دی.[2]

## د دین له ضروریاتو نه منکر کافر دی

**سوال:** زموږ علاقې ته اوس څو ورځې مخکې یوه ډله راغلې وه، چې هغوی به د سبا او د ماز دیګر او د ماسخوتن لمونځ کولو. په تپوس کولو سره پته ولګیده چې د اخلک یوازې هغه لمونځونه کوي د کومو نوم چې په قران کې راغلی دی، پوښتنه دا ده چې دا کومه فرقه ده چې یوازې د قران پاك خبره مني؟

**جواب:** د حدیث د نه منونکو لقب خو منکرین حدیث دی، پاتې پنځه وخته لمونځ هم داسې متواتر دی څنګه چې قران متواتر دی[3] کوم سړی چې د پنځه وخته لمونځونو نه منکر دی هغه

---

١] ولهذا افتی اکثرهم بقتل من اکثر من سب النبی صلی الله علیه وسلم من اهل الذمة وان اعلم بعد اخذه، وقالوا : یقتل سیاسة وهذا متوجه علی اصولهم (الصارم المسلول ص :١٢، طبع بیروت)۔

٢] (ویؤدب الذمی ویعاقب علی سبه دین الاسلام او القرآن او النبی صلی الله علیه وسلم) حاوی وغیره. قال العینی واختیاری فی السب ان یقتل اهـ وتبعه ابن الهمام. .......اذا طعن الذمی فی دین الاسلام طعناً ظاهراً جاز قتله لان العهد معه علی ان لا یطعن فاذا طعن فقد نکث عهده وخرج من الذمة. (فتاوی شامی ج:٤،ص:٢١٢تا ٢١٥،باب المرتد)۔

٣]والصلوة المفروضات خمس وعدد رکعاتها لمن لا یجوز له القصر سبع عشرة ولمن جاز له القصر فی السفر احد عشرة، وهذا الخمس من اسقط وجوب بعضها او اسقط وجوبها کلها کفر (اصول الدین ص :١٨٩، ١٩٠ طبع مکتبه عثمانیه لاهور) وفی البدائع الصنائع : واما عددها فالخمس ثبت ذلک بالکتاب والسنة واجماع الامة. ......(وبعد اسطر) واما عدد رکعات هذه الصلوات فالمصلی لا یخلو اما ان یکون مقیماً واما ان یکون مسافراً فان کان مقیماً فعدد رکعاتها سبعة عشر رکعتان واربع واربع وثلاث واربع........الخ (بدائع الصنائع ج:١،ص :٩١)۔

دقران کريم نه هم منکر دی، درسول اللهﷺ نه اوله دين اسلام نه هم منکردی[1]. داسې ټول ديني کارونه چې دهغو ثبوت دنبي عليه السلام نه په قطعي تواترسره ثابت وي اودکوموچې په دين محمدیﷺ کې داخليدل هرعام اوخاص ته معلوم وي.دې ته"ددين ضروريات" ويل کيږي[2]. داټول له څه تاويل پرته منل داسلام له پاره شرط دي،په دې کې ديوانکارکول کفردی په دې وجه کومه فرقه چې ددريو مونځونو قائله وي اوپنځه لمونځونه نه مني- . هغه له اسلام نه خارجه ده.[3]

## دمفادوله پاره ځان ته غيرمسلم ويونکی کافرکيږي

**سوال:** په رمضان المبارك کې څه هوټلونه په ورځ کې هم خلاص وي ،له دې نه پرته د هندوانو په درمسالونوکې اودعيسايانوپه ګرجو کې هوټلونه او کينټينونه هم دورځې خلاص وي، په دغو هوټلونوکې دغيرمسلمونه پرته مسلمانان روژه خواره هم په ډېر شمېر سره په پټه خوراك کوي، که چېرې په دې دوران کې په يو هوټل باندې پوليس چاپه واچوي، نو روژه خواره مسلمانان پکې ونيول شي، نوهغوی دسزا له ويرې نه دپوليسو په مخکې دا اقرار وکړي چې زه مسلمان نه يم، بلکې زه هندو ياعيسائی يم،دروژه خورو دازباني اقرارچې پوليس واوري، نو دوی پريږدي. له دې نه پرته ديو سړي په بينك کې کافی رقم(روپی) جمع دي کله چې دحکومت له طرف نه بينك ددې رقم نه زکات وصولول غواړي، نوداسړی دمسلمان کيدوباوجوددزکات ورکولو نه دبچ کيدو له پاره بينك ته ليکل شوې اقرار نامه ورکوي،چې زه غيرمسلم يم، مهرباني وکړئ داوښايئ چې دغسې که چېرې يومسلمان تحريري يازباني طورباندې دځان د غيرمسلم کيدواقراروکړي، نودهغه دايمان څه حيثيت پاتې کيږي؟

**جواب:** دې ويناسره چې"زه مسلمان نه يم" سړی ددين نه خارجيږي، مسلمان نه پاتې کيږي[4]. داسې خلکوله پاره دخپل ايمان اونکاح تجديد کول پکاردي[5]اواينده له پاره ددې ناکاره

---

۱]ومن رد حجة القرآن والسنة فهو كافر (اصول الدين ص :۱۶۳طبع مكتبه عثمانيه لاهور)۔

۲]والمراد بالضروريات على ما اشتهر في الكتب : ما علم كونه من دين محمد صلى الله عليه وسلم بالضرورة بان تواتر عنه واستفاض، علمته العامة. .......كالبعث والجزاء ووجوب الصلوة......الخ (اكفار الملحدين ص:۲، ۳ طبع پشاور)۔

۳] لا نزاع في تكفير من انكر من ضروريات الدين (اكفار الملحدين ص :۱۲۱)۔

٤]ولو قيل له : الست بمسلم؟ فقال : لا، يكفر .اذ معناه عند الناس ان الفعالة ليست افعال المسلمين (جامع الفصولين ج:۲، ص :۳۱۰، طبع سلامی کتب خانه، بنوری ټاؤن کراچی)۔

٥]ما يكون كفراً اتفاقاً يبطل العمل والنكاح. .......وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح (درمختار ج:٤، ص :۲٤٦، باب المرتد، كتاب الجهاد، طبع ايچ ايم سعيد)۔

حركت نه توبه كول پكاردي،د روژې دپرښودو نورعذرونه خوهم كيداى شي كه يوسړى خامخا دروغ وايي نوهغه دې بله بانه وكړي، ځان ته كافر ويل دده بيوقوفي ده.

## لمانځه نه انكاركونكى انسان كافردى

**سوال:** يوسړى چې هغه خپل ځان ته دالله خاص بنده وايي دهغه دوينامطابق زموږ كلمه نعوذبالله لااله الاالله محمدرسول الله نه ده كلمه داسې ده: الله اكبرالله اكبرلااله الاالله وحده لاشريك له.

٢ په ټوله ورځ كې يوځل الله ته سجده كول ډېره ده،يعنې پنځه وخته لمونځ فرض نه دى اودلمونځ كولو رُخ دبيت الله مخالف طرف دى.٣:درمضان روژې فرض نه دي، بلكې ټولې ورځې دالله دي كله چې دې خوښه شي روژه نيسئ.۴:زكات اوسرسايه واجب نه دي.۵:دې وخت كې چې كوم حجونه كيږي هغه -نعوذبالله- يوه رياده اولغوه كاردى.٦: په بينك كې چې كومې پيسې فكسډ ډيپازټ جمع كولوسره چې كوم سوديامنافع ملاويږي داجائز دي.٧: نبي كريم ﷺ دالله نبي دى، خوپه دې خبره الله پاك ښه پوهيږي چې اينده به بل پيغمبرراځي اوكه نه.٨: په قران شريف كې تحريف(ردوبدل) شوى دى.٩: ولي الله دنبي دامت نه نه دى،دا مې يوازې يوڅو غټې غټې خبرې ليكلي دي،تفصيل يې ډېرزيات دى.

**جواب:** داسړى دچاچې تاسوعقائدليكلي دي،دنبي عليه السلام له دين نه منكر اوخالص كافردى[1]. دخاص بنده نه كه چېرې دامراد وي چې ده ته د الله پاك له طرف نه احكام راځي، نوداسړى د نبوت مدعي اود مسيلمه كذاب اومرزاقادياني كشر رور دى اود نبوت دعوه كول كفردى.[2]

## دپنځه لمونځونواو معراج منكر بزرګ نه دى، دا انسان په شكل كې شيطان دى

**سوال:** وړاندې ورځو كې زماملاقات له يوبزرګ سره وشوچې په لېدوكې ډېر پرهيزګاره معلوميده، هغه په ما باندې داثابتول غوښتل چې په ورځ كې درې لمونځونه فرض دي اودا دقران نه ثابته دي اوپه دې سلسله كې هغه ماته دسورت هود (۱۱۴)ايت حواله راكړه او دهغه ترجمه يې راته وښودله چې له هغه نه دا ثابتيدل په نظرراتلل چې په ورځ كې درې لمونځونه فرض دي.

ماورته وويل چې دنبي كريم ﷺ هرعمل دقران مطابق واوهغه به پخپله پنځه وخته لمونځ كاو اوهغه ته داتحفه دمعراج په مباركه موقعه وركړل شوې وه، نوهغه وويل چې

---

١] لا نزاع فى تكفير من انكر من ضروريات الدين (اكفار الملحدين ص:١٢١ طبع پشاور)۔

٢] ودعوى النبوة بعد نبينا صلى الله عليه وسلم كفر بالاجماع (شرح فقه اكبر ص : ٢٠٢، طبع بمبى)۔

تاسره څه ثبوت دی چې پيغمبر ﷺ پنځه وخته لمونځ کړی دی اوهرکله چې قران پاك وايي چې درې لمونځونه فرض دي. نوموړ خوددې نه انکارنه شوکولی اوهغه دمعراج له واقعې منلونه انکاروکړ او ويې ويل چې داسې هيڅ واقعه نه ده شوې، ماورته دسورت اسراء حواله ورکړه. نوهغه وويل: چې په دې کې خوبې داليکلي دي چې "پاك دی هغه ذات چې خپل بنده يې له مسجدحرام نه مسجداقصی ته بوته ،که داټول ريښتيا وای. نوالله تعالی به ضرور ددې ذکرکړی و، ځکه چې دا دومره اهمه خبره وه او دسورت اسراء دايت نه دانه معلوميږي چې نبي کريم ﷺ په يوه شپه کې اسمان ته تللی دی او بيا راغلی دی".

**جواب:** په څوخبرو باندې ځان ښه پوه کړه:

**اول:** دپنځه وخته لمونځونوپه قران کې ذکرشته[۱] اوپه حديث شريف کې هم[۲] اودټول اُمت په دې باندې اجماع اواتفاق هم دی[۳] داخبره يوازې مسلمانان نه غيرمسلم يې هم پيژني،چې په مسلمانانوباندې پنځه وخته لمونځ فرض دی،له دې وجې نه پنځه وخته لمونځ اداکول فرض دي او ددې دفرضيت عقيده ساتل هم فرض دي اوددې نه انکارکول کفردی.[۴]

**دويم:** يوبزرګ تاته دقران مجيدترجمه وښودله اوته پريشانه شوې،دمسلمان داسې کچې عقيده نه ده پکارچې ديونامعلوم سړي په معمولي وسوسې اچولوسره ګډه وډه شي،ستاله پاره که نور څه نه و، نوداسوچ کول پکار و چې دقران حکيم ديوايت داُردو ترجمې په

---

۱] اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ اِلٰي غَسَقِ الَّيْلِ وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ....الاية (الاسراء :۷۸) مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ مِّنَ الظَّهِيْرَةِ وَمِنْ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَاءِ (النور:۵۸) حٰفِظُوْا عَلَي الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰي وَقُوْمُوْا لله قٰنِتِيْنَ (البقرة : ۲۳۸)۔

۲]عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : من لقى الله لا يشرک به شيئاً، ويصلي الخمس ويصوم رمضان غفر له. قلت افلا ابشرهم يا رسول الله صلى الله؟ قال دعهم يعملوا. (رواه احمد، مشكوة ص۱۶) عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الصلوات الخمس والجمعة الى الجمعة ورمضان الى رمضان مكفرات لما بينهن اذا اجتنبت الكبائر. (رواه مسلم، مشكوة ص۵۷، بخارى، باب الصلوات الخمس كفارة للخطايا اذا صلاهن لوقتهن فى الجماعة وغيرها ج۱ ص۷۶، ايضاً ابن كثير ج۴ ص۸۲، طبع رشيديه كوئته)۔

۳]فعلى هذا تكون هذه الآية دخل فيها اوقات الصلوات الخمسة فمن قوله لدلوك الشمس الى غسق اليل وهو ظلامه وقيل غروب الشمس اخذ منه الظهر والعصر والمغرب والعشاء وقوله وقرآن الفجر يعنى صلاة الفجر وقد ثبتت السنة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم تواتراً من افعاله و اقواله بتفاصيل هذه الاوقات علي ما عليه عمل اهل الاسلام اليوم مما تلقوه خلفاً عن سلف وقرناً بعد قرن كما هو مقدر فى مواضعه ولله الحمد (تفسير ابن كثير ج:۴، ص :۱۶۷ طبع رشيديه)۔

۴] واذا علمت هذا فنقول : الصلوة فريضة، واعتقاد فرضيتها فرض، وتحصيل علمها فرض، وجحدها كفر (اكفار الملحدين ص:۶۰، طبع پشاور)۔

مددسره تا دپوهيدو کوشش وکړ اوپريشانه شوې،داقران په لومړي ځل په تاباندې ياپه دغه بزرګ باندې نه دی نازل شوی، دا ستاسونه مخکې هم په دنياکښې موجود و اود ځوارلسو پېړيونه لوی ددين بزرګان چې دهغوی شپه اوورځ مشغله دقران کريم لوستل و اوهغوی دقران دپوهيدو له پاره دأردو يادانګريزي ترجمې محتاج نه و،هغوی ټول دپنځه وخته لمانځه دفرضيت قائل وو.داحضرات په قرآن کريم له تانه اوستاددغه بزرګ نه په هرحال ښه پوهيدل. بيادپونيم سړي غلطي هم کيدای شي ،خوداځنګه خبره ده چې په هردورکې اوپه هره زمانه کې مسلمانان که په مشرق کې وي ياپه مغرب کې، دوی ټولوپنځه وخته لمونځ فرض ګڼه. دا ټول په دې غلطي کې متفق ګڼلونه زياته اسانه داده چې ستا دغه بزرګ تيندك خوړلی دی اوهغه ددې ايت په مطلب نه دی پوه شوی.کوم سړی چې ټولې دنياته پاګل وايي،ايا هم داخبره دده ددماغي نقصان او ليونتوب دليل نه ده؟

**دريم**: ددې صاحب داويل چې ددې څه ثبوت دی چې نبي کريم ﷺ پنځه وخته لمونځ کړی و.ددې په جواب کې له ده نه پوښتنه وکړه چې ددې څه ثبوت دی چې دی دخپل پلارپه کورکې دفلانۍ بي بي له خيټې نه پيداشوی دی،دځوکسانوپه وينا سره تاخپل پلار، پلار اومور دې مورمنلې ده، حالانکه داهم ممکنه ده چې هغوی غلط وايي،خو دمشرق نه مغربه پورې ټول مسلمانان او غيرمسلم په هره زمانه کې داشهادت ورکوي چې نبي ﷺ پنځه وخته لمونځ کولو،داستاپه نزد ثبوت نه دی اوته ددې منلوته تيارنه يې،نوتاسره دخپل موراوپلار دزوی کېدو څه ثبوت دی؟ يابه ته دخپل نسب په باره کې هم دداسې شك او شبهې اظهاروکړې؟ اياددين يقيني خبرې په داسې عبثياتوسره ردکول د دماغوخرابي نه ده؟

**څلورم**: قرآن کريم کې داسراء ذکردی، خو ستاسوبزرګ صاحب فرمايي چې دا حقيقت نه ده، نو ايا دده په خيال کې الله تعالی بې حقيقته خبره بيان کړه؟

د"اسراء" ذکرپه قرآن کريم کې موجوددی[1] اودهغې تفصيل په احاديثوکې راغلی دی[2]. ددې نه منکر په حقيقت کې دالله او رسول اودقرآن اوحديث نه انکاردی.

**پنځم**: مولانارومی رحمه الله فرمايي:

اے بسا ابليس آدم روئے هست　　　پس بهر دستی نبا يد دد دست

يعنې ډېرشيطانان دانسانانوپه شکل کې وي،ځکه دهرچاپه لاس کې لاس ورکول نه دي

---

۱] سُبۡحٰنَ الَّذِيۡ اَسۡرٰي بِعَبۡدِهٖ لَيۡلًا مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ اِلَي الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا الَّذِيۡ بٰرَكۡنَا حَوۡلَهٗ لِنُرِيَهٗ مِنۡ اٰيٰتِنَا انه هو السميع البصير ٥ (بنی اسرائيل: ١)۔

٢] عن عبدالله قال : لما اسری برسول الله صلی الله عليه وسلم انتهی به الی سدرة المنتهی وهی فی السماء السادسة اليها ينتهی ما يعرج به من الارض. ........الخ (مشکوة ص : ٥٢٩، باب فی المعراج)۔

پکار، ستاد ابزرگ هم دانسان په جامه کې شیطان دی چې ددین په یقیني خبروکې وسوسې اچوي او خلک گمراه کوي.

## کوم ملنګ او فقیر چې لمونځ او روژه نه مني هغه مسلمان نه دی پوخ کافر دی

**سوال:** فقیران او ملنګان په پاکستان کې په زیارتونوکې ډېروي، هغوی خپل ځان دروژې اولمانځه نه یوطرفته کړي وي، دالله اود رسول خبرې کوي، چرس څښي، ایادوی له پاره روژه اولمونځ معاف دي؟

**جواب:** کوم سړی چې دلمونځ روژې قائل نه وي، هغه مسلمان نه دی، بلکې پوخ کافردی[۱].
د کومو فقیرانو او ملنګانو چې تاسوذکرکړی دی، هغوی اکثرهم داقسمه خلک وي.

## له تحقیق پرته دحدیث نه انکارکول

**سوال:** مایوحدیث مبارك لوستلی و، چې هرکله یوسړی زنا کوي، نو دده نه ایمان وځي اوپه سر باندې یې ځوړند وي اوبیاچې کله دی فارغ شي او پښیمانه شي، نوایمان بېرته ورته راشي.

داحدیث مایودوست ته په هغه وخت کې واوراوچې دزنا په موضوع باندې بحث واو ورسره مې داهم وویل چې داحدیث دی، نو هغه جواب راکړ چې پرېږده! دادملایانودځان نه جوړې شوې خبرې دي.

لومړی پوښتنه داده چې داحدیث مستند اومعتبردی یا ضعیف؟ دویمه پوښتنه داده چې زمادې دوست داوېناچې دا د ملایانو له ځانه جوړې شوې خبرې دي، دا ترکومې پورې صحیح ده؟ددې جواب لږ په وضاحت او تفصیل سره راکړئ!

**جواب:** داحدیث په مشکوة شریف کې په اوولسمه (۱۷) صفحه باندې دبخاري شریف په حواله سره نقل شوی دی[۲]. ستا دوست دې ته دملایانوله ځانه جوړې شوې خبرې ویل دجهالت خبره ده، هغه ته ددې نه توبه کول پکاردي، اوله تحقیق پرته دداسې خبرونه پرهیزپکاردی. که نه ځینې وخت پرې ایمان ضائع شي.[۳]

---

۱]لا نزاع في تكفير من انكر من ضروريات الدين (اكفار الملحدين ص: ۱۲۱) ايضاً واذا علمت هذا فنقول :
الصلوة فريضة، واعتقادفرضيتها فرض، وتحصيل علمها فرض، وجحدها كفر (اكفار الملحدين ص:٦، طبع پشاور)

۲]وعنه (اى: ابى هريرة رضى الله عنه) قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايزنى الزانى حين يزنى وهو مؤمن......الخ. (مشكوة ج۱ ص۱۷، باب الكبائر وعلامات النفاق، كتاب الايمان)۔

۳] الفتاوى التاتارخانية ج۵ ص۳۴۴، والاستخفاف بالعلماء لكونهم علماء استخفاف بالعلم والعلم صفة الله ... خلقه على شريعته ليا بةً عن رُسله.... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

## د احادیثو نه انکار له دین نه انکار دی

**سوال:** یو صاحب وايي چې چونکه د احادیثو په وجه باندې مسلمانان په مختلفو فرقو کې تقسیم شوي دي، له دې وجې زه احادیث نه منم او هغه صاحب دا هم وايي چې الله تعالی د قران کریم د حفاظت ذمه اخیستې ده. خو د احادیثو د حفاظت ذمه یې نه ده اخیستې. په دې وجه باندې احادیث غلط هم کیدای شي، نو زه احادیث نه منم.

**جواب:** احادیث د حضور ﷺ ارشادات ته ویل کیږي، دا خوښکاره خبره ده چې کوم کس په حضور ﷺ باندې ایمان لري هغه به د حضور ﷺ په مقدسو ارشاداتو باندې هم ایمان لري[١]، او څوک چې د حضور ﷺ له ارشاداتو نه انکار کوي، هغه له ایمان نه خارج دی.[٢]

د دغه صاحب داسې ویل چې مسلمانانو کې فرقه بندي د احادیثو په وجه باندې ده، بالکل غلط دي، صحیح داده چې قران کریم باندې د حضور ﷺ او د صحابه کرامو رضي الله عنهم او د تابعینو رحمهم الله د ارشاداتو په رڼاکې د عمل نه کولو او خپلو خواهشاتو او بدعاتو مطابق عمل کولو په وجه باندې فرقې جوړې شوي دي، د خوارجو، معتزله وو، جهمیه وو، روافضو او دنن سبا د حدیث منکرانو جدا جدا خیالات د دې خبرې ګواهي ورکوي او د هغه صاحب دا ویل چې الله تعالی یوازې د قران کریم د حفاظت ذمه اخستې ده، د احادیثو د حفاظت ذمه یې نه ده اخستې، دا هم غلطه ده، د حضور ﷺ د ارشاداتو ضرورت چې څنګه د هغې زمانې خلکو ته و، دغه شان یې د وروستي امت د خلکو له پاره هم ضرورت دی اوکله چې امت د خپل نبي ﷺ د ارشاداتو مطابق په خپل دین باندې نه شي پوهیدای، نو ضروري ده چې الله تعالی د وروستي امت له پاره د هغو د حفاظت انتظام هم کړی وي، او که چیرې د وروستي امت له پاره یوازې قران کافي دی او د حضور ﷺ د ارشاداتو ضرورت ورته نشته، نو د حضور ﷺ د زمانې خلکو ته به هم (نعوذبالله) د حضور ﷺ د ارشاداتو ضرورت نه و، ګویا چې حضور ﷺ الله تعالی له ضرورت پرته مبعوث کړی و؟

---

...بقیه د تیر مخ]... واستخفافه هذا یعلم انه الی من یعود؟(بزازیة علی هامش الهندیة ج:٦ص :٣٣٦طبع رشیدیه)، ایضاً قال الشامي :فلو بطریق الحقارة کفر لان اهانة اهل العلم کفر علی المختار.(شامي ج:٤ص:٧٢، مطلب فی الجرح المجرد، طبع ایچ ایم سعید)۔

١] الایمان وهو تصدیق محمد صلی الله علیه وسلم فی جمیع ما جاء به عن الله تعالی مما علم مجیئه ضرورة.(الدارالمختار ج۴، ص٢٢١)۔

٢] من رد حدیثاً قال بعض مشائخنا یکفر، وقال المتاخرون ان کان متواتراً کفر، اقول:هذا هو الصحیح. (شرح فقه الاکبر ص٢٠٤،طبع مجتبائی دهلی)۔

# آیا د حدیث د صحت د پاره د زړه د ګواهي اعتبار دی

**سوال:** دحضرت ابي أُسيد رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: کله چې تاسو مانه روایت شوی حدیث واورئ، او هغه ستاسو زړونه ومني، او ستاسو شعور نرم شي او تاسو دا خبره محسوس کړئ چې دا خبره ستاسو ذهنیت نه نژدې ده، نو یقیناً ستاسو په مقابله کې به زما ذهنیت ته نوره هم نژدې وي (یعني هغه زما حدیث کیدای شي) او که چېرې ستاسو زړونه پخپله باندې دهغه حدیث نه انکار کوي او هغه خبره ستاسو د ذهنیت او شعور نه لرې وي، نو پوه شئ چې ستاسو په نسبت به هغه زما د ذهنیت نه ډېره لرې وي او هغه به زما حدیث نه وي. دا حدیث د کومې درجې دی؟ او دې کې حضور ﷺ چا ته حکم کړی دی؟ ځکه چې هر یو کس خود دې مخاطب نه شي کیدای، او د ټولو خلکو ذهنیت او علم هم یو شان نه شي کیدای.

دحضرت علي رضي الله عنه نه روایت دی چې: کله تاسو یو حدیث واورئ، نو د هغه باره کې هماغه خیال کوئ، کوم خیال چې ډېر صحیح وي، ډېر مبارک او ډېر پاک وي، د دې حدیث سند څنګه دی؟

**جواب:** دا حدیث شریف مسند احمد[۱] کې دوه ځایونو کې (په یوه سند سره) روایت شوی دی (ج۵ ص۴۲۵، ج ۳ ص۹۷) مسند بزار (حدیث۱۸۷) صحیح ابن حبان کې دی، هیثمي په مجمع الزوائد کې، امام ابن کثیر په تفسیر کې، زبیدي شارح احیا په اتحاف کې او ابن عراقي په "**تنزيه الشريعة المرفوعة**"، کې د قرطبي په حواله باندې دې ته صحیح ویلي دي[۲]، علامه ابن جوزي رحمه الله دا په موضوعاتو کې شمار کړی دی، او عقیلي دې باندې جرح کړې ده، شوکاني په **الفوائد المجموعة** کې وايي چې زما زړه په دې مطمئن نه دی.[۳]

ستاسو دا خبره صحیح ده چې هر یو کس د دې مخاطب نه شي کیدای، د دې مخاطب یا خو صحابه کرام رضي الله عنهم وو، د کومو چې د حضور ﷺ د ارشاداتو سره خاص مناسبت و، یا د هغوی نه وروسته محدثین حضرات دي، چې د هغوی په مزاج کې د حضور ﷺ د الفاظو د

---

۱]عن ابي حُميد وابي أُسيد ان النبي صلى الله عليه وسلم قال:اذا سمعتم الحديث عنى تعرفه قلوبكم وتلين له اشعاركم وابشاركم وترون انه منكم قريب فانا اولى به، واذا سمعتم الحديث عنى تنكره قلوبكم وتنفر منه اشعاركم وابشاركم وترون انه منكم بعيد فانا ابعدكم منه.(مسند احمد ج:٥ص:٤٢٥، ايضًا: ج:٣ص:٩٧،طبع بيروت)۔

۲]واذا سمعتم الحديث...الخ رواه الامام احمد والبزار فى مسنديهما وسنده صحيح كما قال القرطبى وغيره. (تنزيه الشريعة المرفوعة ج:١ص:٦مقدمة الكتاب، وايضًا ج:١ص:٢٦٤طبع دار لكتب العلمية بيروت)

۳] وهذا ان كان يشهد لذالک الحديث لكنى اقول:انكره قلبى، وشعرى، وبشرى وظننت انه بعيد من رسول الله صلى عليه وسلم(الفوائد المجموعة للشوكانى ص:٢٨١،٢٨٠كتاب الفضائل طبع دارالباز مكةالمكرمة)

پیژندګلوي يوخاص طاقت پیداشوی و، په هرحال عام خلک ددې مخاطب نه دي اوداهم داسې دی څنګه چې په بل حديث کې فرمايل شوي دي(استفت قلبک ولوافتاک المفتون) يعني دخپل زړه نه فتوا وغواړئ، (که څېرې مفتي هم تاسوته فتوې درکړي) او دا ارشاد د صفا زړه مالکانو له پاره دی، دهغوی له پاره نه دکوموخلکو زړونه چې ړانده وي.

## د نبي ﷺ معمولي ګستاخي هم کفردی

**سوال:** دنبي کريم ﷺ په شان کې د ګستاخي باوجودهم اياڅوک مسلمان پاتې کيدای شي؟

**جواب:** دنبي کريم ﷺ دويښتومبارکوتوهين کول هم کفردی،د فقهې په کتابونوکې يې دا مسئله ليکلې چې که چادنبي ﷺ دويښتو مبارکو له پاره دتصغيرصيغه استعمال کړه ،نو هغه هم کافر کيږي.[۱]

## د نبي ﷺ دمنکر څه حکم دی؟

**جواب:** يوڅوک چې په الله تعالی باندې مکمل يقين ساتي اودالله سره هيڅوک هم شريک نه ګڼي اولمونځ هم کوي، خو هغه نبي کريم ﷺ نه مني، نوایادغه سړی دجنت حقداردی؟

**جواب:** کوم سړی چې نبي عليه السلام نه مني هغه په خدای باندې يقين څنګه ساتي؟[۲]

## ايا درسول ﷺ ګستاخ ته حرامي ويل کېدای شي؟

**سوال:** ځينې خلک دقلم سورت د ديارلسم ايت(زنيم) نه دليل نيسي چې درسول صلی الله عليه وسلم ګستاخ ته حرامي ويل جائزدي،ايادا صحيح دی؟

**جواب:** دنبي عليه السلام يادبل کوم رسول ګستاخي کول بدترين کفردی[۳](نعوذبالله) خودقران کريم په دې ايت کې چې چاته"زنيم" ويل شوي دي دا ورته درسول دګستاخي په وجه نه دي ويل شوي،بلکې دادیوې واقعي بيان دی چې هغه سړی يقيني داسې بدنام اود مشکوک نسب

---

۱] وفی المحیط:لوقال لشعر النبی صلی الله علیه وسلم:شُعَیْر یکفر عند بعض امشائخ،وعند البعض لایکفر الااذا قال ذالک بطریق الاهانة.(رسائل ابن عابدین ج:۱ص۳۲٦)۔

۲] اذا لم یعرف الرجل ان محمد صلی الله علیه وسلم آخر الانبیاء فلیس بمسلم.(الفتاوی التاتار خانیة ج:۵ ص:۳۲۵قدیمی) وایضًا انکار رسالته صلی الله علیه وسلم طعن فی الرب تبارک وتعالی ونسبة له الی الظلم والسفه تعالی الله عن ذالک علواکبیرا، بل جحد للرب بالکلیة والنکار....الخ.(شرح العقیدة الطحاویة ص:۱٦۵)۔

۳]قال ابویوسف رحمه الله:وایما رجل مسلم سب رسول الله صلی الله علیه وسلم او کذبه او عابه او تنقصه فقد کفر بالله تعالی.(کتاب تنبیه الولاة والحکام علی احکام شاتم خیر الانام،ملحقه رسائل ابن عابدین ج:۱ص:۳۲٤)۔

والا و[١]، په دې وجه ددې ايت نه دا اصول نشي راويستلى چې كوم سړى داسې دكفرجرم وكړي هغه ته حرامي ويل كيږي.

## د قرآن پاك د توهين كونكي سزا

**سوال:** دامیرخان دخپل کشر رور سره په څه وړه شان خبره باندې جګړه شوه، امیرخان او دهغه زامنو خپل کشر رور او دهغه کور والا ووهل او زخمي یې کړل، آخردا چې پولیسو ته خبره ورسیده، څه موده وروسته دامیرخان کشر رور دجرګې سره قران راوړ اود مشر رور نه یې معافي وغوښتله چې ته زمامشررور یې کومې غلطیانې چې تاکړې دي، هغه هم زه په سراخلم، تاسودخدای له پاره اودقرآن پاك په خاطرمامعاف کړئ، خو امیرخان دټولې جرګې په وړاندې دقرآن مجید په شان کې دا دسپکاوي نه ډك الفاظ استعمال کړل «چې قران مجیدڅه شی دی؟ دا خو یوازې دیوې چاپ خانې کتاب دی، له دې پرته هیڅ هم نه دی، یابه ماته اویازره روپۍ راکوې، یابه زماسره مقدمه کوې».

(**الف**): ایاداسړی چې مړشي ،نو دده جنازه کول جائزدي اوکه نه؟

(**ب**) :داسې سړي سره ناسته پاسته اونیکي کول څنګه دي؟

**جواب:** دقرآن پاك سپکاوی کول کفردی[٢]داسړی ددې الفاظو په ویلو سره مرتدشو او نکاح یې ماته شوه[٣].په ده باندې توبه کول واجب دي، دمُرتد جنازه جائزنه ده[۴]. اونه له ده سره ناسته پاسته جائزده.[٥]

## د دین د خبرې پورې ټوکې کول کفردی داسې کونکی دې دخپل ایمان او نکاح تجدید وکړي

**سوال:** یوسړی دکفرالفاظ وایي مثلاً: داسې وايي چې: روژه به هغه سړی نیسي چې وږی وي یاروژه به هغه څوك نیسي چې په کور کې یې غنم نه وي، په لمانځه کې کیناستل پورته کېدل به څوك کوي؟ یاداسې نورې دکفرخبرې وکړي،نوایادهغه ایمان ختم شو؟اودهغه لمونځ، روژه،حج اوزکات ختمیږي اودهغه نکاح ماتیږي.ده له پاره اوس څه پکاردي،ایانکاح به

---

١]‌(عن)سعید بن المسیب وعکرمة هو ولد الزنا الملحق فی النسب بالقوم.(تفسیر قرطبی ج:١٨ص:٣٢٤)ــ

٢]من استخف بالقرآن....کفر.(شرح فقه الاکبر ص:٢٠٥،طبع دهلی)ــ

٣]مایکون کفرًا اتفاقاً یبطل العمل والنکاح واولاده اولاد الزنا.(درمختار مع حاشیه رد المحتار ج:٤ص:٢٤٦)ــ

٤]وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِه.(التوبة:٨٤)ــ

٥] يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ(الممتحنة:١)ــ

دوباره تازه کوي او توبه به څنګه کوي، که چېرې هغه توبه نه کوي او ښځې سره کوروالی کوي حالانکه ښځې سره يې نکاح ماته شوې ده، آيا هغه دزنا مجرم دی؟اوس به هغه بيا څنګه مسلمانيږي؟ مهرباني وکړئ په تفصيل سره جواب راکړئ اپته نشته چې څومره خلک په دې کې مبتلا دي؟

**جواب:** ددين يوې خبرې پورې ټوکې کول کفردی[١]. دې سره ايمان ختميږي. داسې سړی به دخپلو کفريه خبرونه توبه کوي او کلمه شهادت به ووايي اوخپل ايمان به تازه کوي، نکاح به هم دوباره وتړي که له توبې اودنکاح له تازه کولو نه پرته دښځې سره کور والی کوي ،نو دزنا ګناه به ددواړو په ذمه وي.[٢]

## په سُنتو پورې ټوکې کول کفر دی

**سوال:** کوم سنت پورې ټوکې کول څنګه دي؟

**جواب:** سنت دپيغمبر ﷺ دطريقې نوم دی[٣]. دنبي ﷺ يوې طريقې پورې ټوکو کولو والا ښکاره کافر دی، که چېرې هغه دمخکې نه مسلمان و ،نو دې ټوکو کولو سره مرتد شو.[٤]

## صحابه وو رضي الله عنهم پورې ټوکې کونکی ګمراه دی او د هغه په ايمان کې شک دی

**سوال:** کوم سړی چې دصحابه کرامو رضي الله عنهم پورې خندا کوي اودحضرت ابوهريره رضي الله عنه دنوم مبارک معنی پيشو سره کوي اوداهم وايي چې زه دهغه رضي الله عنه حديث نه منم، آيا هغه مسلمان دی؟

**جواب:** کوم سړی چې ديو خاص صحابي پورې خندا کوي هغه بدترين فاسق دی، په دې باندې هغه ته توبه وبستل پکاردي، که نه دهغه په حق کې د خرابې خاتمې ويره ده او کوم سړی چې ټول صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين --- له يوڅونه پرته--- ګمراه ګڼي اوهغوی پورې خندا وکړي، هغه کافر او زنديق دی[٥]، اودا اووايي چې زه دفلاني صحابي

---

١]الاستهزاء بحكم من احكام الشرع كفر.(شرح فقه الاكبر ص:٢١٧،طبع دهلی)

٢] مايكون كفرًا اتفاقًا يبطل العمل والنكاح واولاده اولاد الزنا........وما فيه خلاف يومر بالاستغفاروالتوبة وتجديد النكاح...الخ.(درمختار ردالمحتار ج:٤ص:٢٤٦،باب المرتد)

٣]وفى الشريعة:هى الطريقة المسلوكة فى الدين من غير افتراض ولا وجوب وايضاً ما صدر عن النبى صلى الله عليه وسلم من قول او فعل او تقرير على وجه التاسى...الخ.(التعريفات الفقهية فى قواعد الفقه ص:٣٢٨)

٤]وقص الشارب من سنن الانبياء فتقبيحه كفربلا اختلاف بين العلماء(شرح فقه الاكبرلملاعلى القارى ص:٢١٣)

٥]اذارأيت الرجل ينتقص احدًامن اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فاعلم انه زنديق(الاصابة ج:١ص:١٠)

حديث نه منم (نعوذبالله) په هغه صحابي باندې دفسق تهمت لګول دي، حضرت ابوهريره رضي الله عنه جليل القدر صحابي دی، د دين يوه لويه برخه د هغه رضي الله عنه د روايت نه نقل ده، هغه رضي الله عنه پورې خنداکول او د هغه د روايت قبلولو نه انکارکول د نفاق شعبه او د دين نه د انحراف علامه ده.

## صحابه وو رضي الله عنهم ته کافر ويلو والا کافر دی

**سوال:** زيد وايي چې صحابه ووته کافرويلو والا ملعون دی، د اهل سُنت والجماعت نه خارج نه دی. عمر وايي چې صحابه ووته کافر ويونکی کافر دی، د چا خبره صحيح ده؟

**جواب:** صحابه وو رضي الله عنهم ته کافر ويلو والا کافر او د اهل سنت والجماعت نه بهر دی.[١]

## ټولو عالمانو ته بدوئيل

**سوال:** يوه ورځ په خبروکې مې ديو صاحب سره جګړه شوه، هغه داسې چې: هغه صاحب ويل چې يو اسلام ملک هم له پاکستان نه مال نه غواړي او هغه په دې وجه باندې چې د پاکستان په مال کې د ړرزيات ملاوټ اودوکه وي، په دې وجه باندې هغوی د پاکستان نه مال نه غواړي، اودې باندې عالمان حضرات هيڅ نه وايي، بيايې وويل چې داڅنګه عالمان دي؟ چې يوه ورځ په اخبارکې يوشان خبرراشي، "د عالمانو متفقه فيصله"، په دويمه ورځ باندې د عالمانو د متفقې فيصلې ترديد راشي، چې دافيصله غلطه ده، نو ويل يې چې داڅنګه عالمان دي کله څه وايي اوکله څه، بيايې وويل چې د ټولې دخيټې مسئلې دي، خوراک څښاک کوي، عيش کوي، او دخلکونه پيسې راټولوي، ماورته وويل چې تاسو د ټولو عالمانو لفظ مه استعمالوئ، که ستاسو د چانه شکايت وي، نو د هغه نوم اخستلوسره شکايت کوئ، د نوم اخستلونه پرته عالمانوته بد رد ويل د ايمان د ناقص کيدونښه ده، مهرباني وکړئ، دې مسئلې باندې رڼاواچوئ، چې د هغه داسې ټولوعالمانوته بدردويل صحيح دي؟

**جواب:** د عالمانو په ډله کې هم کمزوري کيداې شي، او ځينو عالمانو نه غلط کارهم کيداې شي، خو ټولوعالمانوته بدردويل غلط دي او دې سره د ايمان د ضائع کيدو ويره وي، د دې نه توبه کول پکاردي.[٢]

---

١] ويجب اكفارهم باكفار عثمان وعلى وطلحة وزبير وعائشةرضي الله تعالى عنهم...الخ.(عالمگيرية ج:٢ص:٢٦٤وايضاً فى الشامية ج:٤ص:٢٣٦،وايضاً فى شرح العقائد ص:١٦٢،وايضاً فى شرح العقيدة الطحاوية ص:٥٢٨طبع لاهور)۔

٢] قال صاحب البزازية تحت كلمان الكفر:والاستخفاف بالعلماء لكونهم علماء،استخفاف بالعلم والعلم صفةالله منحه فضلاً على خيار عباده ليدلوا خلقه على شريعته نيابةً عن رسله،واستخفافه هذا يعلم انه الى من يعود؟(فتاوى عالمگيرية مع بزازية ج:٦ص:٣٣٦).ايضاً قال الشامي: ..[بقيه حاشيه په زاروانه صفحه...

## خاوند ته د بریتو په اخستلو بدرد و یلو سره
## د سنتو د سپکوالي جرم وشو اودا کفردی

**سوال:** یو سړي د سنتو موافق خپل بریت واخیستل. دهغه ښځې چې ولید. نوویې ویل چې دادې څه سپیره شکل جوړکړی دی اوبیایې وویل چې ایادادسړیو شکل دی؟ دې سړي ته چاوویل چې داد کفرخبره ده. دې سره نکاح ماتیږي. لهذا هغه ته شك پیداشو چې زمانکاح باقي ده اوکه نه ده. دشریعت په رڼاکې ددې حکم بیان کړئ چې دې سړي ته څه کول پکاردي؟

**جواب:** په دې سوال کې څوخبرې دغورقابل دي.

**اول**--- بریت پرېکول دانبیاء کرامو علیهم السلام سنت دي، نبي علیه السلام امت ته ددې په تاکیدي الفاظو کې حکم کړی دی اودبریتو اوږدوالی یې دمجوسیانو اومشرکانو طریقه ګرځولې ده اوکوم سړی چې بریت اوږده وي اودشونډو له پاسه ویښته نه پرېکوي هغه یې دخپل امت نه خارج ګڼلی دی.

څنګه چې دلاندې ذکر شویو روایتونو نه واضحه ده:

**"عن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم عشر من الفطرة قص الشارب واعفاء اللحية**، ،الحديث(صحيح مسلم جلد۱ص۱۲۹، ابوداؤد، ترمذی،نسائی،ج۲ ص ۲۷٤)

**،، رواية عشرة من السنة.....الخ،،** **(نسائي ج۲ ص۲۷٤)**

**ترجمه**:دحضرت عائشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې لس شیان په فطرت کې داخل دي: بریت اخیستل او ږیره اوږدول اوپه یوروایت کې دي چې لس شیان دسنتو نه دي، مسواك کول، بریت اخستل او ږیره اوږدول الخ.

**،، وقال الخطابي فسر اكثرالعلماء الفطرة فى الحديث با السنة (قلت كمافى رواية النسائي المذكورة) وتاويله.ان هذه الخصال من سنن الانبياء الذين اُمرنا ان نقتدى بهم.**(معالم السنن مع مختصرسنن ابی داؤدجلد۱ص۴۲).

**ترجمه**: امام خطابي وایي چې اکثروعالمانوپه دې حدیث کې دفطرت تفسیر په سنتو سره کړی دی (اوداد نسائي په روایت کې ظاهردي) چې د هغه مطلب دادی چې داخبرې دانبیاء علیهم السلام دسنتونه دي، چې دهغو داقتداء موږ ته حکم شوی دی.

---

...بقیه د تیر مخ]..فلو بطريق الحقارة كفر لان اهانة اهل العلم كفر على المختار.(شامي ج:٤ص:٧٢طبع ايچ.ايم سعيد).ايضاً وفى الخلاصة:من ابغض عالماً من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر،قلت:الظاهر انه يكفر لانه اذا ابغض العالم من غير سبب دنيوى او اخروى فيكون بغضه لعلم الشريعة.(شرح فقه الاكبر ص:٢١٣)

**وفى المرقاة قوله عشر من الفطرة اى عشر خصال من سنة الانبياء الذين امرنا ان نقتدى بهم فكانا فطرنا عليها.** (حاشيه مشكواة صحه ٤٤).

**ترجمه**: او دمشكات په حاشيه كې دمرقات نه نقل كړي دي چې لس كارونه په فطرت كې داخل دي "ددې نه مراد دادي چې داكارونه دانبياء عليهم السلام سنت دي چې دهغو داقتداء موږ ته حكم شوى دى. نو داكارونه ګويا زموږ په فطرت كې داخل دي.

**وفى مجمع البحار نقلا عن الكرمانى اى من السنة القديمة التى اختارها الانبياء عليهم السلام واتفقت عليها الشرائع فكانها امر جبلى فطروا عليه منها قص الشارب فسبحانه ما استخف عقول قوم طولوا الشارب واحفوا اللحى عكس ما عليه فطرة جميع الامم قد بدلوا فطرتهم نعوذ بالله.** (مجمع البحار صفحه ١٥٥ جلد ٤ طبع جديد).

**ترجمه**: او په مجمع البحار كې دكرماني نه نقل دي چې ددې كارونو په فطرت كې داداخلېدو مطلب دادى چې داكارونه دهغه پخوانويو سنتونه دي چې هغه انبياء عليهم السلام اختيار كړي وو او ټول شريعتونه په دې باندې متفق دي، نو ګويادا فطري كارونه دي چې دانسانانو په فطرت كې داخل دي، سبحان الله: هغه خلك څومره كم عقل دي چې دټولو امتونو دفطرت برعكس بريت اوږدوي او ږيره خريي، دې خلكو خپل فطرت وران كړ، موږ ددې دالله تعالى نه پناه غواړو.

**عن ابن عباس رضى الله عنهما قال كان النبي ﷺ يقص اويأخذ من شاربه وكان ابراهيم خليل الرحمن صلوات الرحمن عليه يفعله.** (رواه الترمذى مشكواة صفحه ٣٨١)

**ترجمه**: حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې نبي كريم ﷺ به بريت اخستل او حضرت ابراهيم خليل الرحمن على نبينا و عليه السلام به هم دغسې كول.

**عن ابن عمر رضى الله عنهما قال رسول الله ﷺ خالفوا المشركين اوفروا اللحى واحفوا الشوارب.** (متفق عليه مشكواة صفحه ٣٨٠)

**ترجمه**: حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې دمشركانو مخالفت وكړئ ږيرې اوږدوئ او بريت كموئ.

**عن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ جزوا الشوارب وارخوا اللحى خالفوا المجوس.** (صحيح مسلم جلد ١ صفحه ١٢٩).

**ترجمه**: حضرت ابوهرة رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې بريت كموئ او ږيرې اوږدوئ، دمجوسو مخالفت وكړئ.

**عن زيد بن ارقم رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال من لم يأخذ من شاربه فليس منا.**
(رواه احمدوالترمذی والنسائی،مشکواة صفحه ٣٨١ واسناده جيدوقال الترمذی هذاحديث حسن صحيح کمافی حاشية جامع الاصول جلد ٤ صحه ٧٦٥).

**ترجمه**: دحضرت زیدبن ارقم رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې چاچې بریت وانه خستل هغه زموږ نه نه دي.

**دویم** : دنبي کریم ﷺ په سنتوپورې ټوکې کول یايې سپك ګڼل کفردی.

**ففی الشامية نقلاعن المسايرة کفر الحنفية بألفاظ کثيرة (الی) اواستقباحها کمن استقبح من اخر جعل بعض العمامة تحت حلقه اواحفاء شاربه.** (جلد ٤ صفحه ٢٢٢)

**ترجمه**: څنګه چې دمسایره نه شامي نقل کړي دي چې"احنافو ډېرالفاظ دکفرمقررکړي دي مثلاً: یوسنت ته بدویل: لکه یوسړی دپټکي څه برخه دحلق نه لاندې کړي وي، یوسړی دابدوګڼي یا بریت کمول بدوګڼي، نوداکفردی."

**وفی البحر الرائق وبأستخفافه بسنة من السنن.** (جلد ٥ صفحه ١٣٠).

**ترجمه**: اوپه البحرالرائق کې دي چې "دیوسنت په سپکاوي کولوباندې سړی کافرکیږي".

**وفی شرح الفقه الاکبرومن الظهيرية من قال لفقيه اخذشاربه مااعجب قبحااواشد قبحاقص الشارب ولف طرف العمامة تحت الذقن يکفر لانه استخفاف بالعلماء يعني وهومستلزم لاستخفاف الانبياء لان العلماء ورثة الانبياء وقص الشارب من سنن الانبياء فتقبيحه کفر بلا اختلاف بين العلماء.** صفحه ٢١٣).

**ترجمه**: اوپه شرح فقه اکبرکې دفتاوی ظهیریه نه نقل شوي دي چې"یوفقیه عالم بریت اخستي و، چاورته وکتل او ویې ویل چې دا بریت اخستل اودزنې لاندې پټکی وروستل څومره بد ښکاري، نو ویلو والا کافرکیږي،ځکه چې دا دعلماء سپکوالی دی اودا د انبیاء علیهم السلام سپکاوي ته رسیږي، ځکه چې علماء دانبیاوو وارثان دي، ددوی سپکاوي دانبیاوو سپکاوی دی اود انبیاوو سپکاوی کفردی، دغسې بریت کمول دانبیاوو دسنتونه دي،نو دې ته بدویل پرته له څه اختلاف نه کفردی.

**دریم** : کوم مسلمان چې دکفر خبره وکړي هغه مرتدشي، په ښځې اوخاوندکې چې هر یوه د کفرخبره وکړه، نونکاح یې ماتیږي، په هغه دایمان تجدید لازمي دی اودتوبې نه وروسته نکاح کول ضروري دي، څنګه چې په درمختارکې دي:

**وفي شرح الوهبانية للشرنبلالي مايكون كفرا اتفاقا يبطل العمل والنكاح واولاده اولاد زنا ومافيه خلاف يومر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح.** (شامي جلد ٤ صفحه ٢٤٦).

**ترجمه:** اوپه شرح دوهبانيه دشرنبلالي کې دي چې هرهغه شی چې په اتفاق سره کفروي په هغه سره ټول اعمال ختميږي اونکاح ماتيږي (که چېرې په دې حالت کې يې دښځې سره صحبت کولو، نو) اولادبه يې حراميان وي اودکوم شي چې په کفرکېدوکې اختلاف وي دهغه نه توبه اواستغفار او په دويم ځل نکاح کول پکاردي.

په فتاوی عالمګيري کې دي: **ولواجرت كلمة الكفر على لسانها مغايظة لزوجها (الى قوله) تحرم على زوجها فتجبر على الاسلام ولكل قاض ان يجدد النكاح بادنى شئ ولو بدينار سخطت اورضيت وليس لها ان تتزوج الا بزوجها.** (جلد ١ صفحه ٢٣٩).

**ترجمه:** اوکه چېرې ښځې دخپل خاوندنه دنفرت اظهاروکړ اوپه ژبه باندې يې دکفر خبره وکړه، نو داپه خپل خاوندباندې حرامه شوه، دابه دايمان(اونکاح) په تازه کولو باندې مجبوريږي او هر قاضي ته داحق دی چې(په دې باندې دتوبې ايستلونه ورسته) په معمولي مهرباندې په دويم ځل نکاح وکړي، اګرکه مهريو دينار وي که ښځه راضي وي اوکه نه اودښځې دخپل خاوندنه پرته بل چاسره دنکاح کولوحق نشته.

دپورته تفصيل نه معلومه شوه چې په ذکرشوې پوښتنه کې داښځه په سنت نبوي ﷺ اوپه سنت انبياء پورې ټوکو کولو او دسپکاوي په سبب سره مرتده شوه، دې ته دې دتوبې تلقين وکړل شي اودتوبې نه وروسته دې دنکاح تجديدوکړل شي، ترڅو پورې چې ښځې سره دخپلې غلطۍ احساس پيداشوی نه وي ، په رښتيني زړه يې توبه نه وي ايستلې اوپه دويم ځل نکاح ونه شي ترهغه وخته پورې دې خاوندله هغې سره کوروالی نه کوي.

## لمونځ پورې ټوکې کونکی کافردی

**سوال:** يوې ښځې خپل خاوندته دلمانځه کولو وويل اودنورو خلکوپه ذريعه يې ورته هم وويل، نو خاوند جواب ورکړ چې ايا الله پاک د ډکواوتشومتيازو دځای په اوچتولو باندې راضي کيږي، ښځې يې دلمانځه او روژې ډيره پابنده ده، هغې ته چاداويلي دي چې ستا دخاوندتاسره نکاح نه ده پاتې شوې، ځکه چې هغه عبادت پورې ټوکې کړي دي، که چېرې داصحيح وي، نوداشان به په دويم ځل نکاح سره دی هم اينده له پاره داسې حرکت نه کوي اونورخلک به هم دداسې خبرونه منع شي.

**جواب:** ددې سړي داويناچې ايا الله پاک دډکواوتشومتيازو دځای په اوچتولو باندې راضي کيږي، دا د لمانځه سپکاوی اولمانځه پورې ټوکې کول دي اوددين ديوې خبرې

سپکاوی کول او هغه پورې ټوکې کول کفردی[۱]. له دې وجې دا سړی د کفرکلمې ویلو سره مرتد شو او دده ښځه دده دنکاح نه بهرشوه، که چیرې دی د کفر د کلمې نه توبه وکړي او مسلمان شي. نودنکاح تجدید کولی شي؟ [۲] اوکه چیرې دې په خپل کلمه کفرباندې پښیمانه نه وي او ددې نه توبه ونکړي، نو دده ښځه دعدت تیرولو نه پس بل ځای کې نکاح کولی شي؟

## د یوې نام نهاده ادیبې له لوري د اسلامي شعائرو توهین

**سوال:** په اسلام اباد کې په تېرو ورځو کې یو بین الاقوامي سیرت کانفرس دښځو له پاره منعقد شوی و، په هغه کې دعالم اسلام جیدو ددین عالمانو ښځو شرکت کړی و، په دې کانفرس کې چیرته چې د اسلام دمقاصدو دوړاندې کېدو له پاره کاروشو، هلته ځینې خبرې داسې هم وشوې چې د توجه قابلې دي، په تېلي ویژن یوې ادیبې وویل چې په سړیو کې څه نا څه کوړوالی کېښودل شوی دی، دادقدرت مصلحت دی ، چې دنبي کریم ﷺ زوی نه و او دحضرت عیسی علیه السلام پلار نه و ،(په حواله دروزنامه جسارت رپورت صفحه نمبر۳مورخه ۲۵دسمبر۸۶ء)

تاسو مهرباني وکړئ دقران اوسنت په رڼاکې وښیئ چې داسې ولې و؟ اوپه یوه اسلامي حکومت کې دداسې ښځوله پاره څه سزاده؟

**جواب:** حدیث شریف کې راغلي دي چې ښځه دکږې پښتی نه پیدا شوې ده، چې ددې نیغول ممکن نه دي، که چیرې ددې دنیغولو کوشش وکړل شي، نوماتیږي.(مشکواة شریف ص ۲۸۰).[۳]

ادیبه صاحبه شاید چې داجتماع په شرکت کونکوکې دیو لوس عالم دین په حیثیت سره راغلې وه، هغه پخپله دې فقره کې دنبي ﷺ دارشاددمقابلې کولو کوشش کړی دی،د ادیبې صاحبې دعقل اوهوښیارتیا حال دادی چې دنبي کریم ﷺ دزامنو عمرنه موندل اود حضرت عیسیٰ علیه السلام پرته له پلار نه پیداکېدل دنقص او کوړوالي سره تعبیرکوي(**اناالله وانا الیه راجعون**) حالانکې دپوهې والا خلک پوهیږي چې دا دواړه شیان نقص نه کمال دی چې دهغه دتشریح دا موقعه نه ده، پاتې شوه داخبره چې په اسلامي حکومت کې دداسې بدزبانه

---

۱]وصح بالنص ان کل من استهزابالله تعالی....اوبایةمن القرآن،اوبفریضة من فرائض الدین....فهو کافر....الخ. (کتاب الفصل ابن حزم ص:۲۵۵، ۲۵۷، اکفار الملحدین ص۶۴، طبع بشاور)۔

۲]ما یکون کفرا اتفاقا یبطل العمل والنکاح......... ومافیه خلاف یؤمر بالاستغفاروالتوبة وتجدید النکاح. (درمختار باب المرتد، ج۴ ص۲۴۶، طبع ایچ ایم سعید)۔

۳] دحدیث الفاظ دادی: وعنه (ای ابوهریرة رضی الله عنه)قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان المراة خلقت من ضلع لن تستقیم لك علی طریقة...وان ذهبت تقیمها کسرها.(مشکوة ج۱ ص۲۸۰،باب عشرة النساء)

ښځو څه سزاده؟ ددې جواب دادی چې شرعًا دداسې خلکوسزا دمرتدده اوواجب القتل دي.[۱]

## په يواسلامي ملک کې دداسې زړه ورتوب شرعي حکم څه دی؟

**سوال:** دجناب توجه يوې داسې اهمې معاملې طرف ته راګرځول غواړم، چې دهغې تعلق ددين اسلام سره دی چې دهغې خلاف ګستاخانه اعتراض اوحملوسره ديومسلمان دين اوايمان نه يوازې لوټ کيږي، بلکې دقران دقانون اوزموږ دملك دقانون مطابق دداسې سړي خلاف دغدارۍ په جرم کې مقدمه چليدای شي حقيقت دادی چې د"ډان" د۷جولائی۱۹۷۸ء په رساله کې يوه مقاله شائع شوې وه، په هغې کې مضمون ليکونکي دقران په قوانينوپورې ډېر په بې باکۍ سره ټوکې کړې دي دهغه دخيالاتوخلاصه داده:

۱: په قران کې يوازې درې څلور قوانين دي: مثلاً نکاح، طلاق، وراثت،داقانون خو د پيغمبر اسلام دراتلونه وړاندې په جاهلو عربوکې هم رايج و، پيغمبر پکې څه زياتوالی او اصلاح وکړه.

۲: قراني قانون اخري خبره ګڼل چې په دې کې څه بدلون او اصلاح نه شي کېدای، داسې نظريه ديوې خاصې ډلې ده چې صحيح نه ده، بلکې دداسې عقيدې بوج په خپلو اوږو باندې دګرځولوپه ځای چيرته غورځول پکاردي، ددې له پاره چې موږ دموجوده زمانې دترقۍ موندونکو قومونو له رفتار سره ملګرتيا وکړل شو.

۳: موږ دخپل زوږ مذهبي ذهنيت له وجې په خپل ځان دترقۍ لارې بندې کړې دي.

۴: زموږ دخلورو امامانوفيصلې هم اخري خبرې نه دي، هغوی به دحديث نه پرته دقياس په ذريعه فيصلې کولې.

۵: "مسلمان قوم په دنياکې بهترين قوم دی"دداسې غلطې عقيدې له وجې مسلمانان په غرور کې راغلي دا دقران مطابق صحيح نه دي.

۶: اوس وخت راغلی دی چې دقران دقوانينوپه دويم ځل نوې تشريح وکړل شي اوپه دې کې دې دننۍ مترقي زمانې دضرورتونو مطابق تبديلي او اصلاح و شي.

۷: قراني قوانين دبدرالدين طيب جي(ديمبۍ دهايي کورټ جج) په وينا نامکمل دي مثلاً: دوراثت قانون نامکمل دی،په دې کې اصلاح ضروري ده.

---

۱] قال ابو يوسف:وايما رجل مسلم سب رسول الله عليه وسلم اوكذبه اوعابه اوتنقصه فقد كفر بالله تعالى....فان تاب والاقتل وكذلك المراة.(رسائل ابن عابدين ج:۱ص۳۲٤،طبع سهيل اكيدمى)۔

۸: قراني قوانين نامكمل دي اوددې برعكس دنن سبا داينګلو سيكشن يادفرنچ قانون مكمل دی. او دهغو قانون دانانو دسوونو كلونو دكوششونواودخېړنوپه وجه دا قوانين نن په ټوله دنيا كې رايج دي،دهغو نه ډېرمواد داسلامي قانون له پاره راخيستل ضروري دي.

۹: مسلمانان په نن زمانه كې ددپارلس سوه كالوپخواني ژوندتيرولوباندې مجبوره كول زياتی دی او داسې نور....

زما دا درخواست دی چې دداسې خيالاتووالا اوپه اخبار كې ددې خيالاتو خپرولو والا څنګه مسلمان كيدای شي؟ ايا دده خلاف اسلامي قانون اوزموږ دملك قانون په حركت كې نه شي راتلی. زموږ دقانون وزارت او دمذهبی اُمورو وزارت دداسې سړي خلاف قانوني كاروايي نه ولې خاموش دي؟

ايا داسړی په داسې غيراسلامی پرچارسره په زرګونو ساده مسلمانان نه ګمراه كوي؟ نن چې په ټول ملك كې داسلامی نظام درائج كولو مطالبه كيږي،اياداسړی دهغو دلوټلو كوشش نه كوي؟ ايا دهغه داكوشش دنظريه پاكستان چې له بركته يې داملك په وجود كې راغلی دی،غيرقانوني اوغيراسلامي نه دی؟ زماپه خيال خو دې سړي ته دومره ازادي وركول نه دي پكار،دداسې زهرجنې پروپيګنډې(افواه) په شروع كې ختمول پكاردي،څكه چې د اخو داسلام ددښمنانو داسلام خلاف يومنظم سازش دی اوزموږ په خاموشي سره دې ته ترقي ملاويږي.

**جواب:** تاسوچې دډان ورځپاڼې دمضمون ليكونكي كوم خيالات نقل كړي دي،داخالص كفر او الحاد دی[۱]،اوداسړی دزنديق اومرتد دسزا مستحق دی اوددې سره ډان اخبارهم دقران كريم دتوهين مجرم دی،په دې وجه دا اخبار بندول پكاردي اوددې مالكانو او ايډيټر (مدير) ته د زنديقيت خپرولو سزاپكارده.

....

۱]لانزاع فى تكفير من انكرمن ضروريات الدين.(اكفار الملحدين ص:۱۲۱،طبع پشاور)_

# ❖ قادياني فتنه ❖

## د دروغژن پيغمبر انجام

**سوال:** د رسول الله ﷺ نه وروسته د نبوت په امکان باندې رڼا واچوئ او دا روښانه کړئ چې د دروغو د نبيانو به څه انجام وي او د مرزا قادياني انجام به څه وي؟

**جواب:** د نبي پاک ﷺ نه وروسته نبوت ممکن نه دی[۱] د دروغو د پيغمبر انجام به د مرزا غلام قادياني پشان وي چې الله تعالى به په دنيا او اخرت کې هغه ذليله کړي. څنګه چې ټول د نبوت د دروغو مدعيان الله تعالى ذليله کړل، پخپله مرزا قادياني د هغه پخپله غوښتې د هيضې په مرګ مړشو او د زنکدن په وخت کې يې د دواړو لارو نه پليتي وتله.[۲]

## د مسلمانانو او قاديانانو په کلمه او ايمان کې بنيادي فرق

**سوال:** انګريزي خوان طبقه او هغه حضرات چې د دين زيات علم نه لري، خود مسلمانانو په خپل مينځ کې د بې اتفاقي نه بيزاره دي، د قاديانانو په سلسله کې ډېر په تردد او شک کې دي، يو طرف ته هغوی پوهيږي، چې يو کلمه ويونکي ته کافر نه دي ويل پکار، سره له دې چې قاديانانو ته د کلمې بيج لګولو هم اجازه نشته، بل طرف ته هغوی په دې هم پوهيږي چې مرزا غلام احمد قادياني د دروغو د نبوت دعوه کړې وه، مهرباني وکړئ تاسو دا روښانه کړئ چې قاديانان چې د مسلمانانو کلمه وايي بياولې کافر دي؟

**جواب:** له قاديانانو نه دا پوښتنه شوې وه چې که چېرې مرزا غلام احمد قادياني نبي وي څنګه چې د هغه دعوه ده، نو بيا تاسو د مرزا صاحب کلمه ولې نه وايئ؟ د مرزا صاحب زوی مرزا بشير احمد صاحب ايم اې په خپله رساله "کلمة الفصل" کې د دې سوال دوه جوابونه ورکړي دي، د هغو دواړو جوابونو نه به تاسو ته معلومه شي چې د مسلمانانو او قاديانانو په کلمه کې څه فرق دی؟ او دا چې قاديانان د "محمد رسول الله" نه څه مطلب اخلي؟

د مرزا بشير احمد صاحب لومړی جواب دا دی چې:

"د محمد رسول الله نوم په کلمه کې ځکه اېښودل شوی و چې نبي عليه السلام د نبيانو سرتاج او خاتم النبيين دی او د هغه د نوم اخستلو سره باقي ټول نبيان پکې پخپله راغلل، د هريو جلا نوم

---

۱] مَاكَانَ مُحَمَّدًاَبَآ اَحَد من رِجَالِكُم وَلكِن رَسُولَ اللهِ وَتَمَ النبين.(الاحزاب:۲۰).وكونه صلى الله عليه وسلم خاتم النبيين بما نطق به اَلكتاب،وصدعت به السنة واجمعت عليه الامة فيكفر مدعى خلافة...الخ.(رُوح المعانى ج:۲۲ص:۳۹).عن ابى اُمامة الباهلي قال:سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول فى خطبته عام حجة الوداع:ايهاالناس!انه لانبى بعدى ولا اُمة بعدكم.(مجمع الزوائد ج:۸ص:۳۳۶باب لانبى بعده)۔

۲] سيرة المهدى حصه اول ص:۱۱ مصنفه:مرزابشيراحمد،ايم ا [illegible])۔

اخستلو ته ضرورت نشته،خو د حضرت مسح موعود (مرزا صاحب) دراتلو سره يو فرق ضرور پيدا شو. اوهغه دا چې دمسيح موعود(مرزا صاحب) دبعثت نه مخکې خو د محمد رسول الله ﷺ په مفهوم کې يوازې دهغوی نه مخکې تيرشوی انبياء شامل وو،خو د مسيح موعود (مرزا صاحب) د بعثت نه وروسته دمحمدرسول الله ﷺ په مفهوم کې ديوبل رسول زياتوالی وشو.

غرض دا چې اوس هم په اسلام کې دداخليدو له پاره هم دا کلمه ده، فرق يوازې دومره دی چې دمسيح موعود(مرزاصاحب) د راتلو سره دمحمدرسول الله په مفهوم کې ديو رسول زياتوالی وشو او بس".

داخودمسلمانانو اوغيرمسلمه اقليت (قاديانانو) په کلمه کې لومړی فرق شو.چې دهغه حاصل دا دئ چې دقاديانانو دکلمې په مطلب کې مرزا قادياني هم شامل دی، او دمسلمانانو کليمه ددې نوي نبي دزياتوالي نه پاکه ده، اوس فرق واورئ! مرزا بشير احمد صاحب ايم اې ليکي:

"له دې پرته که چېرې موږ بالفرض دا خبره ومنو هم چې په کلمه کې دنبي کريم ﷺ نوم مبارك ځکه اېښودل شوی دی چې هغه اخري نبي دی، نوبيا هم حرج نه واقع کيږي او موږ ته دنوې کلمې ضرورت نه راپېښيږي،ځکه چې مسيح موعود(مرزا صاحب) دنبي کريم ﷺ نه څه جدا څيز نه دی څنگه چې هغه(مرزا صاحب) پخپله وايي:

"**صار وجودی وجوده**" (يعني زما وجود دمحمدرسول الله وجود جوړ شوی دی.ازناقل) اوبل دا چې "**من فرق بينی وبين المصطفی فما عرفنی ومارای**".(يعني چاچې زه او مصطفی جدا جدا وګڼلو نوهغه زه و نه پېژندلم او نه يې وليدم.ناقل) او دا ځکه چې دالله تعالی وعده وه چې هغه به يوځل بل خاتم النبيين دنيا ته رالېږي.(نعوذبالله ناقل) څنگه چې **وَاٰخَرِينَ مِنهُم** ايت نه ظاهره ده.

نومسيح موعود(مرزاصاحب) پخپله محمدرسول الله دی چې د دين دخپرولو له پاره يې دوباره دنيا ته تشريف راوړ،ځکه موږ ته دبلې نوې کلمې ضرورت نشته،خو که چېرې دمحمد رسول الله په ځای بل څوك راغلی وای، نوبيابه ضرورت وای.فتدبروا"

(کلمة الفصل ص١٥٨مندرجه رساله ريوليو آف ريليجنزجلد ١٤،نمبر٣،٤بابت ماه مارچ و اپريل ١٩١٥ء).

دادمسلمانانو او قاديانانو په کليمه کې دويم فرق شو چې دمسلمانانو په کليمه کې دمحمدرسول الله نه نبي کريم ﷺ مراد دی او قاديانان چې کله محمدرسول الله وايي، نو له دې نه مرزا غلام احمد قادياني مراد وي.

مرزا بشير احمدصاحب ايم اې چې څه ليکلي دي چې مرزا صاحب پخپله محمدرسول الله دی چې ددين د خپرولو له پاره يې دوباره دنياته تشريف راوړی دی، دا دقاديانانو بروزي

فلسفه ده چې ددې مختصرشان وضاحت دادی چې د دوی په نزدباندې دنبي كريم ﷺ دوباره دنياته راتلل و ،چنانچې مخكې نبي ﷺ مكې مكرمې ته تشريف راوړ او دوباره نبي ﷺ د مرزا غلام احمد په بروزي شكل كې(معاذالله)دمرزا غلام مرتضى په كوركې پيداشو ،مرزا صاحب په تحفه ګولړويه ، خطبه الهاميه او په نورو ډيرو كتابونوكې دا مضمون بيابيا راوړی دی.(وګورئ خطبه الهاميه ص ۱۷۱ .ص ۱۸۰).

ددې نظريې مطابق قادياني امت مرزا صاحب بعينه محمد ﷺ ګنې .د دوی دا عقيده ده چې دنوم .كار .مقام او مرتبې په لحاظ سره د مرزا صاحب او دمحمدرسول الله په مينځ كې هيڅ بيلوالى نشته .نه هغه دواړه جدا وجودونه دي، بلكې دواړه يوشان والا .يوې مرتبې والا .يومنصب والا او يو نوم والا دي.

قاديانان (غيرمسلمه اقليت) مرزا غلام احمد ته هغه ټول صفتونه .لقبونه. مرتبه او مقام وركوي كوم چې دمسلمانانو په نزد يوازې او يوازې دمحمدرسول الله ﷺ سره خاص دي، د قاديانانو په نزدباندې مرزا صاحب بعينه محمدرسول الله دی، محمدمصطفى دی[۱]، احمد مجتبى دی،خاتم الانبياء دی،امام الرسل دی،رحمة للعلمين دی[۲]،صاحب كوثر دی[۳]،صاحب معراج دی،صاحب مقام محمود دی، صاحب دفتح مبين دی،څمكه ،زمانه،كائنات اومكان يوازې د مرزا صاحب د خاطره پيدا شو او داسې نور...[۴]

په دې باندې بسنه نه كوي بلكې ددوی په وينا د مرزاصاحب بروزي بعثت دنبي كريم ﷺ د اصل بعثت نه په روحانيت كې اعلى اواكمل دی[۵]،دنبي ﷺ زمانه د روحاني ترقياتو دشروع زمانه وه،او دمرزا صاحب زمانه د دغه ترقياتو د انتها زمانه ده[۶]، هغه يوازې د تاييداتو او مصيبتونو د دفع كيدو زمانه وه او د مرزا صاحب زمانه د بركتونو زمانه وه. هغه وخت اسلام دلومړۍ شپې د سپوږمۍ پشان و (چې دهغې رڼا نه وي) او د مرزا صاحب زمانه د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ سره مشابه ده[۷].نبي كريم ﷺ ته درې زره (۳۰۰۰) معجزې وركړل شوې وې[۸] او مرزاصاحب ته لس لكه،بلكې لس كروړه، بلكې بيشماره[۹]

---

۱] كلمة الفصل ص:۱۵۸ مندرجه ريويو آف ريليجنز بابت مارچ\اپريل ۱۹۱۵ء)۔
۲] تذكره ص:۸۳ قادياني مذهب ص:۲۶٤)۔
۳] تذكره، ص:۳۷٤)۔
٤] حقيقته الوحى ص:۹۹)۔
۵] خطبة الهاميه،روحاني خزائن ج:۱٦ ص:۲۷۱)۔
٦] خطبة الهاميه،روحاني خزائن ج:۱٦ ص:۲٦٦)۔
۷] خطبة الهاميه،روحاني خزائن ج:۱٦ ص:۲۷۵)۔
۸] تحفه گولرويه ص:٦۷،روحاني خزائن ج:۱۷ ص:۱۵۳)۔
۹] نصرةالحق ص:۷۲،روحاني خزائن ج:۲۱ ص:۷۲)۔

د نبي علیه السلام ذهني ارتقاء هغه ځای ته نه ده رسیدلې کوم ځای ته چې د مرزا صاحب ذهن ترقي کړې ده، په نبي علیه السلام باندې ډېر هغه رازونه نه دي ښکاره شوي کوم چې په مرزا صاحب باندې ښکاره شو.[۱]

دمرزا صاحب په نبي کریم ﷺ باندې فضیلت او لوړ والي ته یې چې وکتل (دقادیانانو مطابق) الله تعالی دحضرت ادم علیه السلام نه واخله د رسول الله ﷺ پورې دټولو نبیانو نه وعده واخستله چې هغوی به مرزا صاحب باندې ایمان راوړي او دهغه به بیعت اونصرت کوي[۲]

خلاصه دا چې د قادیانانو په نزدباندې نه یوازې د مرزا صاحب په شکل کې محمد رسول الله پخپله دوباره تشریف راوړی دی بلکې دمرزاغلام مرتضی په کورکې پیدا کیدونکی قادیاني محمدرسول الله داصلي محمدرسول الله ﷺ نه په مرتبه کې ډېرلوړدی (نعوذبالله استغفرالله)

چنانچې د مرزا صاحب یو مرید (په قادیاني اصطلاح کې د مرزا صاحب صحابي قاضي ظهورالدین اکمل د مرزا صاحب په شان کې یونعت چې هغه یې په ښه خط ولیکه او په ښائسته فریم کې یې بندکړ او دقادیان په دربارِ رسالت کې یې پیش کړ.مرزا صاحب دخپل نعت خوان نه ډېرخوشاله شو او هغه ته یې ډېرې دُعاګانې وکړې، بیا وروسته دغه دنعتونو قصیده د مرزاصاحب ترجمان اخبار بدر جلد ۲نمبر۴۳ کې شائع شوه.هغه پرچه د راقم الحروف سره محفوظه ده.دهغې قصیدې څلور شعرونه ملاحظه کړئ!

امام اپنا عزیزو! اس جهاد میں | غلام احمد هوا دار الاماں میں
غلام احمد هے عرشِ رب اکبر | مکاں اس کا هے گویا لامکاں میں
محمد ﷺ پهر اتر آئے هیں هم میں! | اور آگے سے هیں بڑھ کر اپنی شاں میں
محمد دیکهنے هوں جس نے اکمل | غلام احمد کو دیکهے قادیاں میں

(اخباربدرقادیان ۲۵ اکتوبر ۱۹۰۲ء)

د مرزاصاحب یوبل نعت خوان د قادیانانو ,,بروزي محمد رسول الله،، ته داسې عقیدت پیرزوینې وړاندې کوي:

صدی چودهویں کا هوا سرمبارک | که جس پر وه بدرالدجی بن کے آیا
محمد پئے چاره سازئ اُمت | هےاب "احمد مجتبی" بن کے آیا
حقیقت کهلی بعث ثانی کی هم پر | که جب مصطفی میرزا بن کے آیا

(الفضل قادیان ۲۸مئ ۱۹۲۸ء)

---

۱] ریویو مئی ۱۹۲۹ء بحواله قادیانی مذهب ص:۲۶۶)_

۲] اخبار الفضل ص:۱۹، ۲۰ ستمبر ۱۹۱۵ء، الفضل ۲۶فروری ۱۹۲۴ء، قادیانی مذهب ص:۳۴۲)_

دا دی دقادیانانو محمدرسول الله چې دهغه دوی کلمه وايي.
چونکه مسلمانان په نبي کریم ﷺ باندې ایمان لري او هغه خاتم النبیین او اخري نبي مني، ځکه دیو مسلمان غیرت دیوې لمحې له پاره هم دا نه شي زغملی چې دنبي کریم ﷺ نه وروسته پیدا کیدونکی یو لوی نه لوی شخصیت ته هم دنبوت په منصب باندې دقدم ایښودلو اجازه ورکړي.
چېرته چې یو غلام اسود (نعوذبالله) محمد رسول الله بلکې دهغه نه هم اعلی او افضل ګڼل کیږي، په دې وجه د قادیانانو شریعت په مسلمانانو باندې د کفر فتوا لګوي، مرزا بشیر احمد ایم اې لیکي:

"اوس معامله صفا ده چې که چېرې دنبي کریم انکار کفر دی نو د مسیح موعود (غلام احمد قادیاني) انکار هم کفر کېدل پکار دي، ځکه چې مسیح موعود دنبي کریم نه جدا بل څه شی نه دی، بلکې هماغه دی".
"او که چېرې د مسیح موعود منکر کافر نه دی، نو (نعوذبالله) دنبي کریم منکرهم کافر نه دی، ځکه چې دا څنګه ممکنه ده چې په لومړي بعثت کې دهغه انکار دې کفروي او په دویم بعثت (دقادیان بروزي بعثت، ناقل) کې چې په هغه کې په قول دمسیح موعود چې دهغه روحانیت ډیرمضبوط، ډیرکامل او سخت دی، دهغه انکار دې کفرنه وي، (کلمة الفصل: ص ۱۴۷).
دویم ځای کې لیکي:
"هریو داسې سړی چې موسی علیه السلام مني، خو عیسی علیه السلام نه مني یا عیسی علیه السلام مني، خو محمد ﷺ نه مني، یا محمد ﷺ مني، خو مسیح موعود (مرزاغلام احمد) نه مني، هغه نه یوازې کافر بلکې پوخ کافر او د اسلام له دائرې نه بهر دی. (ص: ۱۱۰).
دهغه مشر رور مرزا محمود احمد صاحب لیکي:
"ټول هغه مسلمانان چې دحضرت مسیح موعود (مرزاغلام احمد) په بیعت کې شامل نه شول، که څه هم هغوی دحضرت مسیح موعود نوم نه وي اورېدلی هغوی کافر او د اسلام له دائرې نه خارج دي". (آئینه صداقت ص: ۳۵).
ظاهره ده چې که چېرې قادیانان هم دهغه محمدرسول الله کلمه وایي چې دچا کلمه مسلمانان وايي، نوپه قادیاني شریعت کې به دا د "کفرفتوا" نه نازلیدله، په دې وجه دمسلمانانو او قادیانانو دکلمې الفاظ اګر چې یو دي، خوددې په مفهوم کې د ځمکې او اسمان او د کفر او ایمان فرق دی.

## کلمه شهادت او قاديانان

**سوال:** په جنګ اخبار کې "ستاسو مسائل او دهغو حل" ترعنوان لاندې تاسو ديوې پوښتنې په ځواب کې چې"د غيرمسلم دمسلمانولو طريقه څه ده؟" فرمايلي دي چې: "غيرمسلم ته کلمه شهادت ووايئ مسلمان به شي".

که چېرې د مسلمانيدو له پاره يوازې کلمه شهادت ويل کافي وي، نو بيا قاديانان له کلمه شهادت ويلو سره سره غيرمسلمه څنګه ګرځول کېداى شي؟مهرباني وکړئ پخپل ځواب باندې نظرثاني وکړئ،تاسو خو په دې جواب سره هرڅه ضائع کړل،قاديانان به دا جواب د خپلې مسلمانۍ له پاره د سند په طور پيش کوي او ساده مسلمانان به پرې ګمراه کوي او تاسو به هم د الله په مخکې جواب ورکوئ.

**جواب:** دمسلمانيدلو له پاره کلمه شهادت ويلو سره داسلام نه خلاف د ټولو مذهبونو نه بيزاره کيدل او دهغو د پريښودو عزم کول هم شرط دي،دا شرط مې ځکه نه و ليکلى چې کوم سړى د اسلام راوړلو له پاره راځي نو ښکاره ده چې هغه دخپلو مخکينو عقائدو د پريښودو عزم سره راغلى. باقي قاديانان له دې نه فائده نه شي پورته کولى.ځکه چې دهغوى په نزدباندې په کلمه شهادت ويلو سره سړى نه مسلمانيږي،بلکې دمرزا صاحب په تابعداري او دهغه نه په بيعت کولو سره مسلمانيږي. دغه وجه ده چې هغوى دټولې دنيا مسلمانانو ته کافران وايي،مرزا غلام احمد قادياني وايي چې الله تعالى ماته دا الهام کړى دى چې: "کوم سړى ستا تابعدارى نه کوي او ستا په بيعت کې داخل نه شي او ستا مخالف وي هغه د خداى او د رسول نافرماني کونکى او جهنمي دى".(تذکره طبع حديد ص: ۳۳۶).

همدارنګه مرزا قادياني خپل دا الهام هم اوروي چې:

"الله پاك ماته داهم ښکاره کړې ده چې هرسړي ته چې زما دعوت ورسيده او هغه زه قبول نه کړم هغه مسلمان نه دى".(دمرزا صاحب خط دډاکټر عبدالحکيم په نوم).

دمرزا صاحب مشر زوى مرزا محمود احمد صاحب ليکي:

"ټول هغه مسلمانان چې دحضرت مسيح موعود په بيعت کې شامل نه شي،که څه هم هغوى د حضرت مسيح موعود نوم هم نه وي او ريدلى، هغه کافر او داسلام له دائرې نه خارج دي".(ائينه صداقت ص: ۳۵).

"هر داسې څوک چې موسى مني،خو عيسى نه مني ياعيسى مني،خو محمد نه مني،يا محمد مني، مسيح موعود(غلام احمد قادياني) نه مني، هغه نه يوازې کافربلکې پوخ کافر او داسلام له دائرې نه خارج دى.(کملة الفصل:ص.۱۱۰).

قاديانانو ته ووايئ چې لږ په دې ائينه کې خپل شکل وګورئ. نو بيا خبره کوئ".

## دمرزا قادیاني کلمه ویلو باندې د سزا ګمراه کونکي پروپیګنډه

**سوال:** زما سره یو عیسایي انجیلی سبق وایي. هغه اسلام سره دلچسپي لري، زه هغې ته اسلام متعلق ښوونه کوم. خوچې ماکله هغې ته د اسلام قبلولو وویل، نو هغې وویل چې ستاسو په نزد باندې، خو په کلمه ویلو سخته سزا ورکول کیږي، په اخبار کې هم راغلي و، مهرباني وکړئ او ماته وښایئ چې زه هغې ته څه جواب ورکړم؟

**جواب:** هغې ته دا جواب ورکړئ چې اسلام قبلول دکلمې ویلو نه منع نه کوي او نه په هغې سزا ورکول کیږي، خو هغه غیرمسلم چې منافقانه طورباندې د اسلام کلمه ووایي او خلکو ته دوکه ورکوي او دحضرت عیسی علیه السلام په شان کې ګستاخي کوي هغوی ته سزا ورکول کیږي.

## دقادیاني عقیدې مطابق مرزا غلام احمد قادیاني پخپله ( نعوذبالله ) محمد رسول الله دی

**سوال:** په جنګ اخبار کې "ستاسو مسائل او دهغې حل" ترعنوان لاندې تاسو دمسلمان او قادیاني په کلمه کې څه فرق دی، د مرزا بشیراحمد صاحب د لیکلو حواله ورکړې وه او لیکلي مو و چې

" دا دمسلمانانو او قادیانانو په کلمه کې دویم فرق دی چې دمسلمانانو په کلمه کې د محمد رسول الله نه نبي کریم ﷺ مراد دی او قادیانان چې محمد رسول الله وایي، نو ددې نه مرزا غلام احمد قادیاني مراد وي".

عزتمنده جناب مولانا صاحب ! زه د خدای په فضل سره احمدي یم او الله پاك حاضر اوناظر ګنم او په قسم سره وایم چې زه کله کلمه وایم، نو زما دمحمد رسول الله نه نبي کریم ﷺ مراد وي. مرزا غلام احمدقادیاني ترې مراد نه وي، که چیرته زه په دې معامله کې دروغ وایم، نو دالله تعالی اودهغه د فرښتو او دټولو مخلوقاتو د طرف نه دې په ما باندې زرځله لعنت وي اوپه دې یقین سره دا هم وایم، چې یو احمدي هم په کلمه کې دمحمدرسول الله نه په ځای دنبي کریم ﷺ مرزا غلام احمدقادیاني مراد نه اخلي، که چېرته پخپله دعوه کې ریښتونی یې، نو دغسې حلفیه بیا دجنګ په اخبار کې شائع کړئ چې په حقیقت کې احمدي خلک (یاستاسو دقول مطابق قادیانان) په کلمه کې دمحمدرسول الله نه نبي کریم ﷺ نه، بلکې مرزا غلام احمد قادیاني مراد اخلي، که چېرې تاسو داسې حلف شائع کړ، نو دا به ورګنډل شي چې ته په خپل بیان کې مخلص یې اوبیابه الله تعالی فیصله کوي چې څوك په خپله دعوه اوبیان کې ریښتوني او څوك دروغژن دي. که چیرته تاسو داسې ونکړل، نو ښکاره به شي چې ستاسو د بیان بنیاد په خلوص، دیانت او تقوی باندې نه دی، بلکې دا یوازې په یو کلمه ویونکې ډلې باندې دروغ تړل او تهمت ګول دي، چې دا دیو عالم سره ښه نه ښکاري.

**نوټ:** که چیرې تاسو خپل حلف نشئ شائع کولی، نو زما دا خط شائع کړئ چې لوستونکو ته حقیقت معلوم شي.

**جواب:** ستاسو خط راوسېده او د سرفرازۍ سبب شو، تاسو چې څه لیکلي دي زما د توقع سره مو بعینه مطابق لیکلي دي، زما هم دا توقع وه چې ستاسو د ډلې نوی نسل دجناب مرزا صاحب د اصل عقائدو نه خبر نه دي او څنګه چې عیسایان د درې یو، یو درې دمطلب پوهیدو نه پرته په دې ایمان لري او ورسره د توحید په ډېر زور شور سره اعلان کوي، څه دغسې حال ستاسو دجماعت د کسانو هم دی.

تاسو لیکلي دي چې زه دمحمدرسول الله نه مرزا صاحب نه بلکې نبي کریم ﷺ ترې مراد اخلم او دا دې هم لیکلي دي چې که زه داسې عقیده لرم، نو په ما دې دفلاني فلاني په زرګونو لعنتونه وي،خو زه ستاپه مراد اخیستلو او نه اخیستلو څه وکړم، ماته خو دا وښایه چې ما دا خبره بې دلیله کړې ده یا له دلیل سره؟ او دا مې دخپل طرفه جوړه کړې ده او ویلي مې دي، یا د مرزا صاحب اودهغه د جماعت په حوالو سره مې کړې ده؟ چې کله زه یوه خبره په دلیل سره کوم، نو زما قسمونو خوړلو ته څه ضرورت دی؟ او که چېرته خامخا د قسمونو ضرورت وي، نو زما له طرف نه دالله تعالی د"**انك رسول الله**" قسمونه خوړلو والا په مقابله کې د **انهم لكاذبون**" قسم خوړلی دی.[۱]

زما وروره! بحث دقسمونو نه دی؟دعقیدې دی هرکله چې ستاسو د ډلې لټریچر اوازونه کوي چې مرزا صاحب محمد رسول الله دی[۲]هماغه رحمة للعٰلمین دی[۳] او ساقي کوثردی[۴]، دهغه له پاره دا کائنات پیدا کړای شو[۵]،په هغه باندې دټولو نبیانو نه (سره دمحمد رسول الله ﷺ) د ایمان راوړلو وعده اخیستل شوې ده[۶]او په مصطفی او مرزا کې هیڅ فرق نشته، بلکې دواړه بعینه یو دي اوداسې نور...[۷]او په دې باندې بس نه ده، بلکې دا هم ویل کیږي چې مرزا صاحب بعینه محمدرسول الله دی، له دې وجې مونږ ته دبلې کلمې ضرورت نشته،خو که بل دویم راتلی، نوبیابه ضرورت وای[۸]اوبیاهم په دې بنیاد باندې

---

۱] سورة المنافقون : ۱، ۲، ۳)۔
۲]کلمة الفصل ص : ۱۵۸ مندرجه ریو یوآف ریلیجز بابت مارچ / اپریل ۱۹۱۵ء)۔
۳]تذکره ص : ۸۳، قادیانی مذهب ص : ۲٦٤)۔
٤]تذکره ص : ۳۷٤)۔
٥]حقیقة الوحی ص : ۹۹)۔
٦]اخبارالفضل ص :۱۹،۲۱ ستمبر ۱۹۱۵ء، الفضل ۲٦/ فروری ۱۹۲٤ء،قادیانی مذهب ص : ۳٤۲)
۷]خطبه الهامیه ص : ۱۷۱، روحانی خزائن ج : ۱٦ ص : ۲۵۸)۔
۸]کلمة الفصل ص : ۱۵۸، مندرجه ریو یوآف ریلیجز بابت مارچ / اپریل ۱۹۱۵ء)۔

داصل محمدرسول اللهﷺ منونکو ته په ډکه خله کافر هم ویل کیږي ځکه چې هغوی دنوي محمدرسول الله منکردي، نو ووایه چې ستاسو ددې ټولو عقائدو پیژندلو باوجود زه یې په کوم دلیل تسلیم کړم چې تاسو دنوي محمد رسول الله نه، بلکې د زوړ محمدرسول الله کلمه وایئ که چیرې تاسو ته زما ذکرشویو حوالو کې شك وي، نو تاسو تشریف راوړئ په دې باره کې موږ تاسو مطمئن کولی شو.

## د مرزا قادیاني د نبوت دعوه

**سوال:** داثابته کړئ چې مرزا غلام احمد قادیاني دنبوت دعوه کړې ده، دهغه دکتابونو حوالې ورکړئ،زموږ د کلي ځو قادیانان داخبره نه مني چې مرزا د نبوت دعوه کړې ده.

**جواب:** د مرزا قادیاني دمنونکو دوه ډلې دي یوه لاهوري بله قادیاني (چې دهغوی مرکز اول قادیان و اوس ربوه دی) ددې دواړو په دې باندې اتفاق دی چې دمرزا قادیاني په الهاماتو او لیکلو کې بار بار دنبوت دعوه شوې ده[1]،خو لاهوري ډله په دې دعوه دنبوت کې تاویل کوي[2]،خو قادیاني ډله دڅه تاویل نه پرته د مرزا قادیاني دنبوت په دعوه باندې ایمان راوړل ضروري ګڼي.

تاسو سره چې دکوم صاحب خبرې اترې شوې دي هغه به غالبًا د لاهوري ډلې ممبر وي، دهغه په خدمت کې عرض وکړئ چې دا جګړه خو تاسو خپل مینځ کې ختمه کړئ چې د مرزا قادیاني د نبوت ددعوې څه تاویل او توجیه ده؟ زموږ له پاره دومره خبره بس ده چې مرزا قادیاني د نبوت دعوه کړې ده.

او دعوه یې هم په هغولفظونو کې، په کومو الفاظو کې چې نبي کریمﷺ کړې وه،مثلاً:

﴿ قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ﴾ (الاعراف:۱۵۸).[3]

﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ ﴾ (الکهف:۱۱۰).[4] اوداسې نور...

که چیرې په دې الفاظو سره هم دنبوت دعوی نه ثابتیږي نو دا ورته ووایئ چې د نبوت مدعی ته دنبوت د دعوې کولو له پاره څه الفاظ استعمالول پکار دي؟

پاتې شو دنبوت د دعوې تاویلات ! نو په دنیاکې د کوم شي خلک ------ تاویلونه نه کوي،د بتانو خدای جوړولو له پاره هم خلکو تاویلونه کړي وو او عیسیٰؑ د خدای زوی

---

۱] حقیقة الوحی ص : ۱۰۱، اربعین نمبر ۳ ص : ۳۳، انجام آتهم ص : ۶۲، ۷۱)۔

۲] ازاله اوهام ص:۸،روحانی خزائن ج:۱۸ص:۲۱۲)۔

۳] تذکره ص:۳۵۲طبع چهارم)۔

۴] حقیقته الوحی ص:۸۱)۔

منونکو هم تاویلونه کړی وو، څنګه چې د یوې ښکاره غلطې خبرې یاغلطې عقیدې تاویل د اعتبار وړ نه وي، دغه شان دحضرت خاتم النبیین ﷺ نه وروسته د نبوت دعوه هم قطعي غلطه ده او ددې څه ویل (که څه هم پخپله دمدعي له طرفه شوي وي یایې د منونکو له طرف نه) د اعتبار وړ نه دي،

دلسمې پېړۍ (صدۍ) مجدد ملاعلي قاري رحمه الله د فقه اکبر په شرح کې فرمایي:

**دعوی النبوة بعد نبینا صلی الله علیه وسلم کفر بالاجماع**

"زموږ دنبي ﷺ نه وروسته د نبوت دعوه بالاجماع کفردی".

وړاندې هغه لیي" چې که چېرې د نبوت دعوی کونکی د عقل اوپوهې نه محرومه وي، نو هغه به معذور ګڼل کیږي که نه دهغوی څټ به اَلوزول کیږي.[۱]

## د ختم نبوت منکرینو له پاره اصل شرعي فیصله څه ده؟

**سوال:** د خلیفه اول بلافصل سیدنا ابوبکرصدیق رضی الله عنه په دورخلافت کې مسیلمة الکذاب دنبوت د دروغو دعوه کړې وه نو حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه د ختم نبوت دمنکرینو خلاف د جنګ اعلان وکړ، او دختم نبوت ټولو منکرینو ته یې د خپلوکړو سزا ورکړه. له دې نه ثابته شوه چې دختم نبوت منکرین واجب القتل دي، خو موږ پاکستان کې قادیانانو ته یوازې "غیرمسلم اقلیت" ورکولو باندې بسنه وکړه، له دې نه پرته هره ورځ په اخبارونو کې دا ډول بیانونه خپریږي چې "اسلام اقلیتونو ته کوم حقونه ورکړي دي هغه حقونه به دوی ته پوره پوره ورکول کیږي" موږ قادیانانو ته نه یوازې حقونه او تحفظ ورکړی دی، بلکې څو اهم سرکاري منصبونه هم قادیانانو ته ورکړل شوي دي، سوال دا پیدا کیږي چې دختم نبوت منکرین د اسلام په ائینه کې واجب القتل دي یا د اسلام له لوري اقلیتونو ته د ورکړل شویو حقونو او تحفظ حقدار دي؟

**جواب:** د ختم نبوت دمنکرینو له پاره د اسلام اصل قانون خو هماغه دی په کوم باندې چې صدیق اکبر رضی الله عنه عمل وکړ، په پاکستان کې قادیانان غیرمسلم اقلیت ګرځول او دهغوی دځان او مال حفاظت کول دهغوی سره د رعایت سلوك دی، خو که چېرې قادیانان خپل ځان غیرمسلمه اقلیت تسلیمولو ته تیار نه وي، بلکې په مسلمان ویلو باندې کلك وي، نومسلمانان د حکومت نه دا مطالبه کولی شي چې ددوی سره دمسیلمه کذاب دډلې پشان سلوك وکړل شي په یو اسلامی ملك کې مرتدینو او زندیقانو ته د سرکاري منصبونو

---

۱] ثم اعلم انه تکلم بکلمة الکفر عالماً بمعناها......ولا یعذر بالجهل، ثم اعلم ان المرتد......فان تاب فیها والاقُتِل. (شرح فقه اکبر ص:۲۰۲، طبع مجتبائی دهلی)۔

ورکولو هیڅ گنجائش نشته[۱] دې مسئلې ته نه یوازې د پاکستان بلکې د نورو اسلامی ملکونو د حاکمانو د توجه ضرورت دی.

## قادیا نان خپل ځان ته "احمدیان" ویلو سره خلکو ته دوکه ورکوي

**سوال:** ستاسو عزتمندې رسالې د۲۹ دسمبر په اشاعت کې مې چې دا اولوستل حیران شوم چې چېرته د قادیاني حضراتو دمذهب شناختی کارډ فارم کې ادراج کیږي هلته په شناختي کارډ کې ددې هیڅ اندراج نه وي، دا یوه داسې غلطي ده چې په دې سره په فارم کې داندراج مقصد فوت کیږي دلته به زه دا گزارش وکړم چې قادیانانو له پاره د"احمدي" لفظ اندراج په یو طریقه هم جائز نه دی. دا غلطي اکثرپه سرکاري اعلاناتوکې هم کیوي، ددې وجه غالبًا دا ده چې ډیر حضرات ددې خبرې نه خبر نه دي چې قادیانانو د"احمدي" لفظ ځان له پاره ولې اختیار کړی دی، هغوی وایي چې په قرآن مجیدکې چې کوم الفاظ د"اسمه احمد" راغلی دی، هغه په اصل کې دمرزاصاحب دمراجعت پیش گویي ده، حالانکه څوارلس سوو کالو نه دټولو مسلمانانو هم دا عقیده پاتې شوې ده چې لفظ "احمد" د رسولِ مقبولﷺ له پاره راغلی دی او د هغهﷺ نوم احمد مجتبیٰ هم و، او شاید چې د مرزا صاحب د پلارهم دغه عقیده وه، چې هغه دده نوم"غلام احمد" ایښی و، دغه شان په انجیل کې د"فارقلیط" لفظ دعلماء اسلام په نزد دنبيعليه‌السلام راتلو طرف ته اشاره ده، ځکه چې فارقلیط معرب دی دیونانی لفظ "پیری کلي تاس" چې پخپله په عبراني ژبه کې د"احمد" ترجمه ده په کومه ژبه کې چې اول انجیل لیکل شوی و، دا هم دنبيعليه‌السلام د راتلو پیش گویي شمارل کیږي، خو قادیانان داهم دمرزاصاحب د راتلوپیش گویي شماري. چنانچې دقادیاني لفظ په ځای داحمدي استعمال دقادیاني حضراتو د موقف او دهغوی پروپیگنډې ته د قوت ورکولو برابر دی په دې وجه زما ادنی مشوره دا ده چې ددې ډلې له پاره دقادیاني لفظ استعمالول مناسب دي.

**جواب:** ستاسو رایه صحیح ده دقادیانانو د "اسمه احمد" ایت د مرزا قادیاني له پاره استعمالول یو مستقل کفردی، مرزاغلام احمد قادیاني په تحفه گولړوپه ص۹۲ کې لیکي: "همدا هغه خبره ده چې ما ددې نه مخکې خپل کتاب ازاله اوهام کې لیکلي و یعنې دا چې زه په اسمه احمد کې دنبي کریمﷺ سره شریك یم". (روحانی خزائن جلد۱۷ص ۲۵۴).

---

۱] یاَیُّهَا الَّذِینَ اٰمَنُوا لاَ تَتَخِذُوا بِطَانَةً مِن دُونِکُم...الخ .وفی هذه الآیة دلالة علی انه تجوز الاستعانة باهل الذمة فی امور المسلمین من العمالات والکتبة.(احکام القرآن للجصاص ج:۲ص:۳۷)مزید تفصیل دپاره اوگورئ:جواهر الفقه ج:۲ص:۱۹۵طبع دارالعلوم کراچی)۔

# د یو ځوان قادیاني په جواب کې

**جواب:** ستاسو جوابي لفافه راورسیده ستاسو په غوښتنه باندې جواب لیکم او د دې نقل "جنګ" اخبارته هم لیږم.

مسلمانان د قران کریم، "حدیث نبوی ﷺ او اجماع امت په بناء باندې دسیدنا عیسی علیه السلام د ژوند اوددوباره راتلو عقیده لري.

پخپله دجناب مرزا صاحب اعتراف دی چې: "دمسیح ابن مریم د راتلو پیش ګویي یوه د اولې درجې پیش ګوېي ده چې هغه ټولو په اتفاق سره قبوله کړې ده.اوپه صحاح کې چې څومره پیش ګویانې لیکل شوي دي یوه پیش ګویي ددې برابر اوهم وزن نه ثابتیږي.د تواتر اوله درجه دې ته حاصله ده."(ازاله اوهام ص۵۵۷،روحانی خزائن ص۴۰۰ج۳.

خو زما په خیال دجناب مرزا صاحب دمنونکو له پاره دمسلمانانو نه زیات دحضرت عیسی علیه السلام د ژوند اوددوباره راتلو عقیده ساتل پکار دي،ځکه چې جناب مرزا صاحب دسورت الصف دنهم نمبر ایت په حوالې سره دهغه د دوباره راتلو اعلان کړی دی. هغه لیکي:

"دا ایت جسماني اودملکي سیاست په طورباندې دحضرت مسیح په حق کې پیش ګویي ده. او ددین اسلام دکومې کاملې غلبې چې(په دې ایت کې) وعده ورکړل شوې ده هغه غلبه به دمسیح په ذریعه ظاهریږي اوچې کله حضرت مسیح علیه السلام دوباره دې دنیاته تشریف راوړي، نودهغه په لاس به دین اسلام په ټوله دنیاکې خپورشي.(براهین احمدیه حصه چهارم ص۴۹۸,۴۹۹).

جناب مرزا صاحب د قران کریم نه دحضرت عیسی علیه السلام د دوباره راتلو ثبوت یوازې دخپل قرآن فهمۍ په بناء باندې نه ورکوي، بلکې هغه دخپل الهام نه حضرت عیسی علیه السلام ددې ایت مصداق ثابتوي. "په دې عاجزباندې ښکاره شوې ده چې داخاکسار دخپل غربت او عاجزۍ او توکل او قرباني او ایتونو او د انوارو په روح سره د مسیح دلومړي ژوند نمونه ده،او ددې عاجزه فطرت اودمسیح فطرت پخپل مینځ کې ډیر زیات مشابه واقع شوی دی، په دې وجه الله تعالی دمسیح په پیش ګویي کې د شروع نه دا عاجز شریك کړی دی،یعنې حضرت مسیح د پورته ذکر شوې پیش ګویي په ظاهري او جسماني طورباندې مصداق دی اودا عاجز روحاني او معقولي طور باندې.(ایضاً۴۹۹).

او په دې باندې بس نه دی، بلکې مرزا صاحب پخپل الهام سره حضرت عیسی علیه السلام ددویم ځل تشریف راوړلو الهامي پیش ګویي هم کوي، څنګه چې ددې کتاب په ص**۵۰۵** باندې خپل یو الهام "عسی ربکم ان یرحم علیکم" ذکرکړی دی او دهغه مطلب داسې بیانوي:

دا ایت په دې ځای کې دحضرت مسیح په جلالي طور باندې د ظاهریدو اشاره ده، یعنې که چیرې طریقه او حق او نرمي او لطف او احسان قبول نه کړي او حق محض چې کوم

واضحه دلائل او ایات بینه ښکاره شوي دي دهغو نه سرکشه اوسیږي، نوهغه زما نه هم راتلونکې ده چې کله الله تعالی دمجرمانو له پاره شدت او غضب اوقهراوسختي په استعمال کې راولي اوحضرت مسیح علیه السلام به ډیرپه جلال سره دنیا ته راکوزیږي او دازمانه هغې زمانې له پاره په طور د ارهاص واقع شوې ده، یعنې په هغه وخت کې به په جلالی طورباندې الله تعالی حجت پوره کوي"

اوس په ځای دهغې جمالي طورباندې یعنې په نرمي او احسان سره دحجت پوره والی کوي ښکاره خبره ده چې که چېرې دمسیح علیه السلام په ژوند او په دویم ځل راتلو باندې ایمان ونه ساتل شي، نو دانه یوازې د قران کریم دقطعي پیش ګویي تکذیب دی، بلکې دجناب مرزا صاحب د قران فهمي دهغه دالهامي پیشګویي به هم تکذیب وګڼل شي،نو ضروري ده چې داهل اسلام پشان دمرزاصاحب منونکي هم دحضرت عیسی علیه السلام تفسیر اودهغه دالهامي منونکي هم دحضرت عیسی علیه السلام په دویم ځل راتلوباندې ایمان وساتي که نه، نوددې عقیدې په پریښودوسره به د قرآن او حدیث نه پرته دمرزاصاحب قران داني به هم غلط ثابت شي او دهغه الهامي تفسیرونه اوالهامي انکشافات به ټول غلط شي ځکه"چې کله په یوه خبره کې ځوك دروغژون ثابت شي، نوبیاپه نورو خبروکې هم په هغه باندې اعتبار نه پاتې کیږي. (چشمهٔ معرفت ص۲۲۲).

اوس تاسو ته اختیار دی چې په دې دوو خبرو کې کومه اختیاروئ حیات عیسی علیه السلام باندې ایمان راوړل؟ یا دمرزاصاحب تکذیب؟

دجناب مرزا صاحب د ازاله اوهام صفحه۹۲۱والا چیلنج ذکر کولو سره تاسو شکایت کړی دی چې د ۹۰ کلنو نه چا دده جواب ورنکړ.

تاسو ته کېدای شي پته نه وي چې حضرات علماء کرامو یوځل نه څو ځله ددې جواب ورکړی دی، بیاهم که چېرې ستاسو دا خیال وي چې اوسه پورې ددې جواب نه دی پیداشوی ،نو دا فقیرسره له دې چې دعلماوو (احسن الله جزاء سعیهم) دپښو خاورې هم نه دی، ددې چیلینج جواب ورکولو له پاره حاضر دی، ددې سره دمرزا صاحب دکتاب البریة ص۲۰۷ والا اعلان هم پیدا کړئ، چې په هغه کې موصوف د شل زره روپو دجرمانې ورکولو نه پرته د خپلو عقائدونه توبه او د خپلو کتابونو د سوځولو وعده هم کړې وه.

د تصفیې صورت دا دی چې د جناب مرزا صاحب موجوده خلیفه باندې ولیکل شي چې دا چلینج اوس هم قائم دی او دا چې هغه به دمرزا صاحب د شرط پوره کولو ذمه واري اخلي او ددې سره به یوثالثي عدالت، چې دهغه په فیصله باندې فریقین اعتماد وکړي ، پخپله یې تجویز کړئ زه به ددغه مسلمه عدالت په وړاندې خپل معروضات پیش کړم عدالت چې په هغه باندې څه جرح وکړي، زه به دهغې جواب ورکړم، زما دلائلو اوریدو نه پس که چېرې عدالت زماپه حق کې فیصله وکړي چې مادمرزا صاحب کلیة ماته کړه اودهغه

د چیلنج ماصحیح صحیح جواب ورکړ، نوشل زره روپۍ ستاسو داعلی تعلیم له پاره تاسو ته پریږدم، دنورو دواړو خبرو دپوره کولو معاهده به پوره کوئ.

او که چېرې عدالت زما خلاف فیصله وکړي، نوتاسوپه شوق سره په اخباراتو کې اعلان وکړئ چې دمرزا صاحب چیلنج هماغسې قائم دی او ترننه پورې چادهغه جواب ورنکړل شو،که چېرې تاسوددې تصفیې له پاره راوړاندې شوئ، نوپخپلې ډلې به ډېراحسان وکړئ.

## دیو قادیانی د خپل ځان د مسلمان ثابتولو له پاره گمراه کونکی دلیل

د جناب مولانا محمد یوسف لدهیانوي مدظله په خدمت کې

السلام علی من اتبع الهدیٰ!

**جناب عالي!** گذارش دادی چې عزتمند جناب بلال انور صاحب دختم نبوت په موضوع ستاسو خدمت ته یو لیک لیږلی و، تاسو د هغه لیک په حاشیه باندې دخپلې رایې داظهار سره واپس کړی دی، دالیک او ستاسو رایه خاکسار مطالعه کړه، یوڅو معروضات درلیږم، چې ستاسو په خدمت کې په ادب او عاجزۍ سره درخواست دی چې ذهن خالي کړئ دالله ویره په زړه کې پیدا کړئ، یو خدا ترس او محقق انسان جوړشئ او ضد او تعصب،بغض او کینه دزړه نه اوباسئ او په دې معروضاتوباندې غور وکړئ اوبیا دخپلو خیالاتو نه موږ خبر کړئ، داعاجز به ډېر احسان مند اوشکر گزار وي.

**سوال نمبر۱:** جناب بلال صاحب ستاسو په خدمت کې عرض کړی و چې موږ دالله تعالی په فضل او احسان سره مسلمانان یو،ځکه چې په قرآن کریم باندې چې دالله تعالی اخري کلام دی ایمان لرو، نبي کریم ﷺ خاتم النبیین منو،په لااله الله محمد رسول الله ﷺ باندې مکمل ایمان لرو،په ټولو اسماني کتابونو چې دهغو ریښتینوالی د قران مجید نه ثابت دی په دې ټولو باندې ایمان لرو،روژه،لمونځ،زکات او حج داسلام په ټولو ارکانو باندې ایمان لرواوپه اسلام باندې چلیږو،

تاسو پخپله رایه کې لیکلي دي چې"داسلام منافقانو هم دخپل مسلمان کېدو اقرار کولو خوالله تعالی هغوی منافقان گرځولي دي، همدغه حال دقادیانانو دی".

عزتمنده جناب مولاناصاحب! دا ستاسو لوی زیاتی دی، جسارت اوبې انصافي ده اوضد، تعصب اودبغض او کینې واضحه مثال دی، سوال دادی چې کومو خلکو ته په قران شریف کې دمنافق کېدو سرټیفیکېټ(سند) ورکړل شوی دی هغه دیومفتي یامولوي قول نه دی اونه نبي کریم ﷺ دهغوی دمنافق کېدو فتوا ښکاره کړې وه، داحکم دالله پاك دطرف نه نازل شوی و او هغوی ته منافق ویلو والا دالله تعالی علیم اوخبیر ذات و، چې دانسانانو

دزړونو نه واقف دی، دهغه له علم نه هيڅ خبره پټه نه ده، دالله پاك نه پرته ايا تاسو ثابتولی شئ چې نبي علیه السلام پخپله يادهغوی خلفاوو په خپله زمانه کې دچامتعلق دکفر يادمنافق فتوا ورکړې وي،که چېرې ستاسو په ذهن کې څه مثال وي، نو ويې ليکئ دا عاجز به بېحده ستاسو احسان مند او شکرګزار وي.

**سوال نمبر ۲**:عزتمند مولانا صاحب! که چېرې ستاسو دا اصول تسليم کړل شي چې که د يو انسان دخپلې عقيدې اقرارتسليم نه کړي، نودمذهبي دنيا نه به ايمان اوچت شي په دې حالت کې به هره فرقه په بله فرقه باندې دکافر اومنافق کيدوفتوا ورکوي او هيچاته به هم په دنياکې دخپلې عقيدې او دخپل ايمان نسبت ونکړل شي او دهرسړي بيان د نه تسليمولو په صورت کې به هغه سړی پخپل بيان کې دروغژن او منافق ګرځول کيږي او دا سلوك به ستاسو مخالفين تاسو سره هم جائز وګنې اوتاسوبه هم پخپله عقيده او ايمان کې مخلص ونه ګرځيږئ، ايا تاسو به دا اصول تسليم کړئ.

ايا الله تعالى اودهغه مقدس رسول صلی الله علیه وسلم تاسوته د داسې ويلو اجازه درکړې ده؟ د دنيا تسليم شوي اخلاقي اصول کوم چې ترننه پورې رواج اومنل شوي دي هغه دادي چې څوك خپله کومه عقيده او مذهب بيانوي هغه تسليميږي، تاسو يومسلمان ته ځکه مسلمان وايئ چې هغه ځان ته مسلمان وايي، يو هندوته ځکه هندو وايي چې هغه ځان ته هندو وايي دا شان دهر سك ويونکي،عيسايي ويونکي او نورو مذهبونو طرف ته نسبت کيدونکي سره معامله کيږي او دا اخلاقي اصول په دنيا تسليم شوي او ټوله دنياپه دې باندې عمل کوي، ترڅو پورې چې احمديان ددې اقرار کوي چې:

(۱): ۱. هغوی په الله پاك باندې ايمان لري.

۲. دهغه ټول پيغمبران مني.

۳. دالله تعالى په ټولو کتابونوباندې ايمان لري.

۴.دالله تعالى ټولې فرښتې مني.

۵. اوله مرګ نه وروسته ژوند باندې ايمان لري.

اودا رنګه ددين پنځه ارکانوباندې عمل کوي او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خاتم النبيين دزړه نه مني اواسلام اخري دين مني او قران مجيد دالله اخري الهامي کتاب مني ترهغه وخته پورې د دنياهيڅ يوعدالت،هيڅ يو قانون ددنيا هيڅ يوه اسمبلی او ددنيا هيڅ يوحاکم او يو مولوي،ملا او مفتي دا دله داسلام له دايرې نه نشي ويستلی او نه هغوی ته کافر يامنافق ويلی شي، له دې وجې نه زموږ خوږ نبي دځان او زړه نه خوږ سردار حضرت خاتم النبيين صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

چې یو ځل حضرت جبرایل علیه السلام د حضور ﷺ نه پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! ایمان څه شی دی، نبي علیه السلام وفرمایل:

(۲): په الله باندې ایمان راوړل، دهغه په فرښتو باندې او دهغه په کتابونو باندې، دهغه په پیغمبرانو باندې او له مرګ نه وروسته ژوند باندې، حضرت جبرایل علیه السلام وفرمایل صحیح ده.

بیا حضرت جبرایل علیه السلام پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! اسلام څه شی دی؟

نبي علیه السلام وفرمایل. "ګواهي ورکول چې الله تعالی نه پرته څوك معبود نشته او زه د الله رسول یم، دلمونځ قائمول، دزکات ورکول، درمضان روژه نیول او که چېرې طاقت وي، نو یو ځل حج کول، حضرت جبرایل علیه السلام وویل: صحیح ده، نبي علیه السلام صحابه وو ته مخاطب شو وېې فرمایل چې دا جبرایل علیه السلام و چې دانسان په شکل کې تاسو ته ستاسو ددین ښودلو له پاره راغلی و. (صحیح بخاری کتاب الایمان وګو رئ).

(۳): نبي کریم ﷺ وفرمایل: د اسلام بنیاد په پنځو شیانو باندې دی.

۱_ دا منل چې د الله تعالی نه سوا څوك معبود نشته او زه د الله رسول یم.
۲_ لمونځ قائمول. ۳_ د رمضان روژه نیول.
۴_ زکات ورکول.
۵_ په ژوندکې یو ځل حج کول. (صحیح بخاری کتاب الایمان).

(٤): نبي کریم ﷺ وفرمایل: چې کوم سړی زمونږ په شان لمونځ کوي زمونږ قبلې طرف ته مخ کوي او زمونږ ذبیحه خوري، هغه مسلمان دی او د الله او دهغه د رسول ﷺ حفاظت هغه ته حاصل دی، نو اې مسلمانانو! هغه ته څه قسمه تکلیف رسولو سره الله تعالی دهغه په وعده کې دروغژن مه ګرځوئ. (بخاری جلداول باب فصل استقبال القبله).

(۵) حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمایي چې نبي علیه السلام په یوه موقعه باندې وفرمایل: "د ایمان درې جرړې دي، له هغو نه یوه دا ده چې کوم سړی لااله الاالله ووایي، نو هغه سره هیڅ قسم جګړه مه کوئ او هغه د څه ګناه له وجې کافر مه ګرځوئ او د اسلام نه یې مه خارجوئ".

نو دمسلمان دا هغه تعریف دی کوم چې نبي کریم ﷺ بیان کړی دی او دکوم تصدیق چې جبرایل علیه السلام وکړ.

ددې مطابق دالله تعالی په فضل سره احمدیه ډله د اسلام په دایره کې داخله ده، مسلمان او مومنان دي او انصاف تاسو وکړئ چې ستاسو بیان ترکومې پورې صحیح او په حق باندې مبني دی په دویم ځل د احمدیه ډلې په عقائدو باندې غور وکړئ.

په کومو پنځو شيانو باندې چې د اسلام بنياد کيښودل شوی دی هغه زموږ عقيده ده، موږ په دې خبره باندې ايمان راوړو چې د الله تعالی نه پرته څوك معبودنشته او سيدناحضرت محمد مصطفی ﷺ د هغه رسول او خاتم النبيين دی.

موږ ايمان راوړو چې ملائکې حق، حشرحق اودحساب ورځ حق، جنت حق او جهنم حق دی او څه چې الله تعالی په قران کريم کې بيان کړي دي او څه چې زموږنبي حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي، هغه حق دي او موږ ايمان راوړو چې کوم سړی اسلامي شريعت کې يوه ذره کمی يا زياتی وکړي هغه بې ايمانه او د اسلام نه ګرځېدلی دی او موږ صحيح صحيح په اسلام باندې عمل کونکي يو، عرض دا چې هغه ټول کارونه په کومو چې دسلف صالحين اعتقادي او عملي طور سره اجماع وه اوهغه کارونه کومو ته چې داهل سنتو اجماعي رايې سره اسلام ويلی دی، د هغو ټولو منل فرض ګڼو.

او موږ اسمان او ځمکه ګواه کوو چې همدا زموږ مذهب دی اوڅوك چې ددې مذهب خلاف بل څه الزام په موږ باندې لګوي، هغه تقوا او ديانت پرېښوده او په موږباندې دروغ تړي او دقيامت په ورځ په هغه باندې زموږ دعوه ده چې کله هغه زموږ سينې شلولي دي او لېدلي يې دي چې موږ ددې قول له زړه نه مخالف يو.

په دې حالاتو کې اوس څرنګه موږ د اسلام منکر کېدای شو، که چېرې په تحکم سره داسې کوئ، نوتاسو ته متعصب او ضدي، خو ويل کېدای شي، خوديو خدا ترس او دمتقي انسان ويلو حقدار نشئ کېدای، اميد دی چې تاسو به د انصاف په نظر سره ددې ليک مطالعه وکړئ او ددې جواب به راکړئ.

**محمد شريف...**

## جــواب

**عزتمنه او محترمه! هدانا الله واياکم الی صراط مستقيم**

ستاسو اوږد ليک د اوږد سفر نه په واپسي باندې د خطونو په انبارکې پيداشو، د فرصت د نيشتوالي له وجې د خطونو جوابونه دهغو په حاشيه کې ليکم، ستاسو د خط خلاصه دا ده چې کله تاسو ددين ټولې خبرې منئ، نوتاسو ته د اسلام نه خارج ولې ويل کيږي؟

زما محترمه! داخو تاسو ته هم معلومه ده چې ستاسو او دمسلمانانو په مينځ کې په ډيرو خبروکې اختلاف دی له هغو نه يوه دا ده چې تاسو مرزا غلام احمد قادياني صاحب نبي منئ او مسلمانان دهغه نه منکر دي اوس ظاهره ده که چېرې مرزاصاحب واقعي نبي وي، نودهغه نه منکر کافران شول او که چېرې نبي نه وي، نودهغه منونکي کافران شول، له دې وجې ستاسو دا اصرار خو صحيح نه دی چې ستاسو عقائد هماغه دي کوم چې د مسلمانانو دي، هرکله چې د دواړو په منيځ کې د کفر او د اسلام فرق موجود دی، تاسو زموږ عقائد

غلط ګڼئ ځکه موږ ته کافران وایئ، څنګه چې د مرزا غلام احمد صاحب، حکیم نوردین صاحب، مرزا محمود صاحب او مرزا بشیراحمدصاحب، دا رنګ د نورو قادیاني اکابرو دلیکلو نه واضحه ده او په دې باندې ډیرکتابونه او مقالې لیکل شوي دي.

ددې په مقابله کې موږ ستاسو دډلې عقائدو ته غلط او د کفر سبب یې ګڼو، له دې وجې ستاسو دابحث خو بالکل بې ځایه دی چې مسلمانان ستاسو ډله د اسلام له دائرې نه خارجه ولې ګرځوي؟ خودا نکته ضرور دلحاظ قابله ده چې سړی په کومو خبرو باندې کافر کیږي؟ ددې جواب دادی چې هغه ټولې خبرې کومې چې نبي کریم ﷺ نه په تواتر سره نقل شوي دي او کومې چې دتیرو شوو څو پېړیو نه ددین مجددینو او اکابرو پرته داختلاف نه همیشه منلي دي (هغو ته د دین ضروریات ویل کیږي) له هغو نه دیوانکار هم کفردی او منکریې کافردی، ځکه چې ددین ضروریات نه دیوانکار هم دنبي کریم ﷺ تکذیب او د پوره دین نه انکار لازمیږي، څنګه چې د قران مجید دیو ایت انکار دټول قرآن مجید نه انکاردی او دا اصول دنن دیو ملا او مولوي نه دي، بلکې د الله او درسول فرمایل شوي دي او تیرو شویو بزرګانو همیشه دا لیکلي دي، دمرزا صاحب په عقائدوکې ددین له ډېروضروریاتو نه انکار موندل کیږي، له دې وجې دخدای او درسول دحکم لاندې مسلمانان دهغه کافرګڼلو باندې مجبور دي، نوکه چېرې ستاسو دا خواهش وي چې ستاسو حشر دې په مسلمانانو کې وشي، نودمرزا صاحب اودهغه ډلې چې کوم نوي عقائد ایجادکړي دي، له هغو ټولو نه توبه وکړئ، که نه "لکم دینکم ولی دین،، "والسلام علی من اتبع الهدی"

## ایا د پیغمبر ﷺ دبنګړو اچولو پیش ګویي غلطه ثابته شوه؟

**سوال:** دلته قادیانان دا اعتراض کوي چې نبي علیه السلام په خوب کې ولیدل چې زما په لاس کې د سرو زروبنګړي دي، خوهغه بنګړي نبي علیه السلام په لاس نکړای شول، ددې مطلب دادی چې دنبي علیه السلام پیش ګوئي دروغ شوه (نعوذبالله)

داحدیث څنګه دی؟ کوم کتاب کې دی؟ په وضاحت سره یې ولیکئ!

**جواب:** د دوو بنګړیوحدیث د نورو کتابونو نه پرته صحیح بخاري (کتاب المغازي) باب قصة الاسود العنسي صفحه ۲۲۸ اوپه کتاب التعبیر باب النفخ في المنام صفحه ۱۰۴۲ کې هم دی. دحدیث متن دادی:

"زه ویده وم، نو ما خوب کې ولیدل چې ماته دځمکې خزانې راوړل شوې او زما په لاسونو باندې د سرو زرو بنګړي کېښودل شول، زه په هغو سره وویریدم او دا مې ناخوښه وګڼل، ماته حکم وشو چې دې ته پوکی ورکړه ماپوکی ورکړ، نو دواړه والوتل مادهغه تعبیر هغه

دوه دروغژن وکړل چې د نبوت دعوه به کوي، یو اسود عنسي او دویم مسیلمة کذاب.[۱]

ددې خوب تعبیر چې کوم نبي کریم ﷺ وکړ، هغه سل په سله رښتیا شو، دې ته د دروغو پیش ګویي ویل یوازې د قادیاني کافرانو کار دی.

## دقادیانانو دمسلمان ګڼونکي شرعي حکم

**سوال:** یو سړی په قادیاني کورنۍ کې په دې خیال خپلوي کوي چې دا زموږ نه غوره مسلمانان دي. په اسلام کې دداسې سړي څه حکم دی؟

**جواب:** کوم سړی چې د قادیانانو دعقائدو نه خبروي ددې باوجودهغوی مسلمانان ګڼي، نوداسې سړی پخپله مرتددی چې کفر اسلام ګڼي.[۲]

## له چا سره د ډوډۍ خوړلو نه وروسته پته ولګیږي

## چې دا خو قادیاني و نو څه کول پکاردي

**سوال:** یو سړي سره ډوډۍ خوړلو نه وروسته پته ولګېده چې هغه قادیاني و، بیا به د ده څه حکم وي؟

**جواب:** اینده دې دهغه سره تعلق ونه ساتل شي.[۳]

## د علماء حق د کتابونو نه تحریف کولو سره

## د قادیانانو خلکوته دوکه ورکول

عزتمن او محترم مولاناصاحب السلام علیکم ورحمه الله!

**سوال:** دملتان نه مې ستاسو پته راوغوښتله، له دې نه مخکې مې هم تاسوته لیک لیکلی و، شاید چې تاسو ته یاد وي، خو اوس ستاسو دپتې هیریدو له وجې دملتان نه راغوښتل ضروري شول، عرض دادی چې زه د ایف ایس سي (میډیکل) کولو نه پس نن سبا فارغ یم،

---

۱] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : بينا انا نائم اذا اوتيت خزائن الارض فوضع فى يدى سواران من ذهب فكبرا على واهمانى فاوحى الى ان انفخهما، فنفختهما، فاولتهما الكذابين اللذين انا بينهما صاحب صنعاء وصاحب اليمامة. (بخارى ج : ۲ ص : ۱۰۴۲، طبع نور محمد كراچى)۔

۲] والرضا بالكفر كفر. (قاضي خان على الهنديه ج : ۳ ص : ۵۷۳) ايضًا قال موفق فى المغنى : ومن ادعى النبوة او صدق من ادعاها فقد ارتد لان مسيلمة لما ادعى النبوة فصدقه قومه صاروا بذلک مرتدين. (اعلاء السنن ج : ۱۲ ص : ۶۳۶) وايضًا : فمتنبئ البنجاب القاديانى كافر مرتد عن الاسلام، وكذا من لم يقل بكفره وارتداده، وظنه وليا،او مجددا او مصلحًا، فانه كذاب دجال قدافترى على الله ورسوله كذبًا. (اعلاء السنن ج :۱۲ ص : ۶۳۷ طبع ادارة القرآن)۔

۳] فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰي مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ، (الانعام: ۶۸)۔

میډیکل کالج کې داخلې ته اوس هم کافي وخت دی له دې وجې ښه پوره مطالعه کوم، زما دشروع نه مذهب سره مینه ده، یو دوست (چې احمدي دی) ماته دخپل لټریچر نه څورسالې راکړې، ما ولوستلې، دمولانا مودودي مرحوم رسالې "ختم نبوت" او قادیاني مسئله "مې هم ولوستله او د احمدیانو له طرفه د هغې جوابات هم، دمولانا دلائل او شواهد مې کمزوري ولیدل ډیر پریشانه شوم، ستاسو پمفلټ "شناخت" مې هم ولوست، خودهغې جواب پیدانه شو، البته نن سبا دقاضي محمدنذیر صاحب کتاب "تفسیر خاتم النبیین لولم کوم چې ستاسو دشائع شوي ایت خاتم النبیین دتفسیر جواب دی، چې په هغه کې تاسو دمولانامحمدانورشاه صاحب دفارسي مضمون ترجمه او تشریح کړې ده اصل کتاب مې ونه لوستلای شو، ځکه دجواب دمضبوط والي محسوسول قدرتي کار دی، په هرحال دلټریچرپه لوستلوسره په دې پوه شوی یم چې زموږ عالمان داسې خبره نه پیش کوي چې په هغې سره احمدیان بې جوابه شي، هغوی دهرې خبرې مدلل جواب ورکوي، هغوی دمشائخو عبارت ورکوي او ثابتوي یې، چې د دوی نظریه هماغه ده کومه چې ددې مشائخو وه، په دې خبرو سره ډیرتکلیف رارسیږي چې ایا موږ دا شواهد دروغ ګرځولی شو، اخرداسې خبر دلیکلو څه فائده ده چې دهغو مدلل جواب ورکېدلی شي، اخر داسې خبرې ولې نه لیکل کیږي چې په هغو سره شبدې شیدې او اوبه اوبه شي چې چاته په شیدو کې داوبو اچولو جرات نه وي، که چیرې موږ په حقه یو، نوزموږ ریښتینوالی مشکوک ولې شي؟

دجواب په انتظار: احقرعبدالقدوس هاشمي

**جواب:** دې ناکاره دقادیانانو کتابونه هم لوستلي دي او دقادیانانو سره دزباني او تحریري خبرو موقعه هم ډیرهٔ راځي، قادیانان په غلط بیان او دبحثونو په ګډوډولو سره ناخبره خلکو ته دوکه ورکوي، زموږ او د دوی دوه بنیادي مسئلې دي، یوه دختم نبوت دویمه د عیسی علیه السلام نزول، دا دواړه مسئلې داسې قطعي دي چې د تیرو شویو بزرګانو په دې کې هیڅ کله هم اختلاف نه دی شوی، بلکې ددې نه منکریې قطعي کافر او داسلام نه خارج ګرځولی دی، قادیاني صاحبان دخپل کار چلولو له پاره دا اکابرو دکلام نه یوه جمله نیمه چې په بل کوم سیاق کې وي، نقل کوي، کله څوك په غلطي سره د یو بزرګ قول غلط رانقل کړي دهغه ناخبرلوستونکی داوګڼي چې دکوم بزرګ حواله ورکړل شوې ده، دهغه به هم همدغه عقیده وي (دقادیانانو په شان عقیده به یې وي)، په دوکه کې مبتلا شي، دلته ددې یوازې په یو مثال باندې اکتفا کوم، تاسوبه هم لوستلې وي چې قادیانان دحضرت مولاناقاسم نانوتوي رحمه الله دکتاب "تحذیرالناس" حواله ورکوي چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه وروسته هم نبي راتلی شي او دا چې داامر د خاتم النبیین منافي نه دی، حالانکې دحضرت تحریرهمدې کتاب کې موجود دی چې کوم سړی دخاتمیت زمانې قائل نه وي هغه کافر دی، بلکې هغه لیکي:

که چېرې اطلاق او عموم دی بیا خو خاتمیت زماني ظاهر دی که نه، نو تسلیم د لزوم خاتمیت زماني په دلالت التزامي سره ضرور ثابت دی، بل طرف ته تصریحات نبویه لکه: "**انت مني بمنزلة هارون من موسى الا إنه لا نبي بعدي**" او **کما قال**...،
چې په ظاهرکې په مذکوره طریقه ددې لفظ خاتم النبیین نه ماخوذ دی په دې باب کې کافي دی ځکه چې دا مضمون د تواتر درجې ته رسیدلی دی بیا په دې باندې اجماع هم منعقد شوه، اګرچې مذکوره الفاظ د تواتر په سند سره منقول نه دي،نو دا عدم تواتر د الفاظو باوجود دمعنوي تواتر دلته به داسې وي، لکه تواتر دفرضو او وترو د رکعتونو دتعداد وغیره، باوجود ددې نه چې الفاظ د حدیث مشعر په تعداد د رکعتونو متواتر نه دي، څنګه چې ددې منکر کافر دی همدا رنګه د هغه منکر به هم کافر وي.(تحذیرالناس طبع جدید ص۱۸طبع قدیم ص:۱۰).
په دې عبارت کې صراحت لیکل شوي دي چې:
**الف**: خاتمیت زماني،یعنې د نبي کریم ﷺ اخري نبي کېدل د خاتم النبیین د ایت نه ثابت دي.
**ب**:په دې باندې متواتر تصریحات نبوي ﷺ موجود دي،دا تواتر دلمانځه د رکعتونو دتواتر پشان دی.
**ج**: په دې باندې دامت اجماع ده.
**د**:ددې منکر داسې کافر دی لکه دماسپښین د څلور رکعته د فرضو نه منکر.
اوبیا هم په دې تحذیرالناس کې دي:
"خو که چېرې په طور د اطلاق یا عموم مجاز دا خاتمیت زماني او مرتبي نه عام واخلئ، نو بیا به دواړه قسمه ختم مراد وي، که یو مراد وي، نو دمحمد ﷺ خاتمیت دمرتبې لحاظ سره دی نه زماني او که زما نه پوښتنه وکړئ، نو زما ناقص خیال کې خو هغه خبره ده چې سامع منصف به ان شاء الله انکار ونکړي، نو هغه دا ده چې".(طبع قدیم ص.۹طبع جدیدص:۱۵).
ددې نه وروسته یې دا تحقیق کړی دی چې لفظ خاتم النبیین نه خاتمیت مرتبه هم ثابت دي او خاتمیت زمانه هم او په "مناظره عجیبه" کې چې ددې تحذیرالناس تتمه ده،یو ځای فرمایي:
"مولانا! دحضرت خاتم المرسلین ﷺ خاتمیت زمانه، خود ټولو په نزد مسلم ده او دا خبره هم دټولو په نزدباندې مسلمه ده چې هغه ﷺ اول المخلوقات دی یو بل ځای لیکي: "خو وجوه معروضه دمکتوب تحذیرالناس هغه دتولد جسماني دتاخیرزماني غوښتونکي دي، ځکه چې دظهور تاخر زماني نه پرته دتاخرتولد جسماني بل څه صورت نشته".(ص.۱۰).
یو بل ځای لیکي: "او که چېرې مخالفت دجمهورو ددې نوم وي چې مسلمات دجمهورو باطل اوغلط اوغیر صحیح اوخلاف وګڼل شي، نو تاسو ووایئ چې تاخرزمانه او

خاتمیت دعصر نبوت مې کله باطل کړ؟ او چرته مې باطل کړ؟
مولانا! ما دخاتم هماغه معنی کړې ده کومه چې داهل لغت نه منقوله ده او په اهل لغت کې مشهوره ده، ځکه چې تقدم اوتاخر لکه دحیوان په مختلفو قسمونو باندې په طور دحقیقت ویل کیږي، البته که تقدم او تاخرفقط، یایوازې په تقدم اوتاخرزمانې کې منحصر دی، نوبیابه په صورت د ارادې دخاتمیت ذاتي او مرتبې کې ضرور تحریف معنوي ګرځیدلی، بیاکه تاسو دې ته تفسیر بالراي وایئ، نوداپه ځای وه.(صفحه ۵۲).
مولانا! دخاتمیت زمانې خوماتوجیه کړې ده تغلیط مې نه دی کړی، البته که چېرې تاسو په توجه اوعنایت سره نه ګورئ، نو زه څه وکړم؟ اخبار بالعلة مکذب اخبار بالمعلول نه وي، بلکې ددې مصدق او موید وي، نورو که چېرې فقط خاتمیت زمانې بیان کړې وي، نو مادهغه علت یعنې خاتمیت مرتبې ذکرکړی او د تحذیر په شروع کې مې د ابتدایي مرتبې په نسبت دخاتمیت زمانې ذکر کړی". (صفحه ۵۳).
یوځای کې لیکي: "مولانا! معنی مقبول خدام والا مقام--------
مختار احقرسره نه باطلیږي، ثابتیږي په دې صورت کې په مقابله د قضایا قیاساتها معها، که چېرې ددې تولو نه "قیاسات قضایاها معها" معنی مختار احقر ته ووایئ، نوپه ځای ده، بلکې دې نه زیات یې وکړئ، دنهمې صفحې دلسمې کرښې نه واخله تریولسمې صفحې د اوومې کرښې پورې یې هغه تقریر لیکلی دی چې په هغه سره خاتمیت زمانې او خاتمیت مکانې او خاتمیت مرتبې درې واړه په دلالت مطابقي سره ثابتیږي او دا تقریرېې خپل مختار ګرځولی دی، ځنګه چې د تقریر د شروع نه واضحه ده.
په اول صورت کې، خوتاخر زمانې په دلالت التزامي سره ثابتیږي او دلالت التزامي که چېرې دتوجه الي المطلوب په باره کې دمطابقي نه کم وي، خوپه دلالت ثبوت او دل نشینۍ کې مدلول التزامي دمدلول مطابقي نه زیات وي، ځکه چې دڅه شي دتحقیق دهغه برابر نشي کیدای چې دهغه وجه او علت هم بیان کړل شي".
"حاصل مطلب دا چې دخاتمیت زمانې نه زه منکر نه یم، بلکې داسې ووایئ چې دمنکرینو له پاره مې دانکار ګنجائش نه دی پریښی، بلکې داقرار کونکو پښې مې مضبوطې کړې " (صفحه ۷۱).
یوبل ځای کې لیکي: زماخپل دین او ایمان دی چې درسول الله ﷺ نه وروسته دبل کوم نبي کیدو احتمال نشته، خوك چې په دې کې تامل کوي هغه کافر ګڼم". (صفحه : ۱۴۴).
د حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله دا ټول تصریحات هم په دې ,,تحذیر الناس،، او ددې په تتمه کې موجود دي، خودقادیانانو عقل او انصاف او دیانت اوامانت ته داد ورکړئ چې هغوی حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله طرف ته دا منسوبوي چې نبي کریم ﷺ اخري نبي نه دی، بلکې دنبي علیه السلام نه وروسته هم نبي راتلی شي، حالانکې حضرت

مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمة الله عليه دا احتمال هم کفر ګرځوي او کوم سړی چې په ختم نبوت کې يو ذره تامل هم وکړي، هغه کافر ګڼي.

دې ناکاره چې کله دمرزا صاحب دکتابونو مطالعه شروع کړه، نو په شروع کې مې خيال و چې دده عقائد چې هرڅنګه وي، خودچاحواله چې ورکوي هغه خو به صحيح ورکوي،خو داحسن ظن مې ډير وخته پورې قائم پاتې نه شو، په حوالوکې غلط بياني اوپه الفاظو کې دکمي زياتي نه کار اخيستل دمرزا صاحب خاص عادت و او همدا ميراث دهغه امت ته رسيدلی دی، په دې عريضه کې مايوازې دحضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمة الله عليه په باره کې دهغه غلط بياني ذکرکړې ده که نه هغه چې دڅومره اکابرو حوالې ذکرکړي دي په هغو ټولو کې دده دا حال دی او همداسې کول پکاردي. د دروغو نبوت د دروغو په مدد چليدای شي ،الله پاك دې څوك دعقل او ايمان نه نه محرومول.

## ديو قادياني د دوکې نه ډک سوالونه او دهغو ځوابونه

زموږ يو دوست سره يو قادياني دحضرت مفتي محمدشفيع رحمة الله عليه رساله"مسيح موعود کی پهچان" باندې څه اعتراضات وکړل د راقم الحروف نه يې دهغو دجوابونو مطالبه وکړه،لاندې دا سوالونه او جوابونه د لوستونکو په خدمت کې وړاندې کيږي:

**تمهيد**: د"مسيح موعود کی پهچان" رساله کې د قران کريم او نبوي حديثونه د حضرت مسيح عليه السلام علامې جمع شوي دي چې دايمان والاوو له پاره خو دايمان په زياتولو کې مدد کوي،خو افسوس دی چې پوښتنه کوونکي له پاره دهغو اثربالعکس شوی دی،قران کريم کې صحيح فرمايلي دي چې"د دوی په زړونو کې بيماري ده، نوالله پاك ددوی بيماري کې زياتوالی وکړ[۱]

په قول دسعدي رحمة الله عليه :

باران که درلطافت طبعش خلاف نيست :: درباغ لاله رويد ودرشوره بوم خس

سائل په نبوي احاديثو باندې په داسې انداز کې اعتراضات کړي دي چې دهغه مشر او پنډت ديانندسرسوتي په ,,ستيارته پرکاش" کې اختيارکړي وو.ځکه چې نبوي حديثونه خود مسيح عليه السلام دصفاتو او علاماتو اودهغه دکارنامو داسې ائينه پيش کړې ده چې په هغو کې دقادياني مسيحيت مخ ويريدلی اوويران په نظر راځي،ددې وجې نه هغه دروايتي حبشي پشان آئينه قصور واره وګڼله او هغه يې ځمکې ته راويشتل ضروري وګڼل چې په دې کې خپل تور مخ ونه ويني، خو ارمان! چې دوی پوهيدلی چې:

---

۱] فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ فَزَادَهُمُ اللهُ مَرَضًا (البقرة: ۱۰)

نورِ خدا هے کُفر کی حرکت پر خنده زن : پھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائے گا

د "مسیح موعود کی پهچان" رساله باندې چې سائل څومره اعتراضونه کړي دي، د هغو مختصر شان اصولی جواب دادی چې مصنف "په هره خبره کې د صحیح احادیثو حواله ورکړې ده د خپل طرف نه یې هیڅ نه دي لیکلي، په دې وجه د سائل اعتراضونه په مصنف باندې نه دي، بلکې "په خله کې دې یې خاورې وي" په نبي کریم ﷺ باندې دي، که چېرې هغه د نبي علیه السلام د نبوت نه منکر دی یا د مسټر پرویز هم مذهب دی، نو په سل شوقونو دې هغه د پنډت دیانند پشان اعتراضونه وکړي. او که چېرې هغه د ایمان دعوه کوي، نو موږ به هغه ته خواست وکړو چې د قیامت په ورځ د نبي کریم ﷺ نه پوښتنه وکړي، خو کوم خلک چې دا ارشادات نبوي ﷺ د بصیرت د سترګو رانجه ګڼي. د هغوی ایمان دې نه بربادوي، له دې وروسته اوس په تفصیل سره دیویو سوال ځواب تاسو ته اوروم لږ توجه سره یې واورئ.

**سوال:** "دامت محمدي اخري دور کې ------- د دجال اکبر خروج مقدر او مقرر و".

(ص: ۵ اوله اودویمه کرخه). که چېرې دا دجال اکبر و نوخامخا به بل یا ډیر واړه دجالان هم وي، په دې باره کې دې لږ شان وضاحت وکړل شي چې کله او چېرته به ظاهرېږي، نښې به یې څه وي او د هغه په ذمه به څه کارونه وي او دهغه د پیژندګوي نه پرته به بل څوك هغه په یو وار دجال اکبر" څنګه تسلیم کړي.

**جواب:** هو! د دجال اکبر نه مخکې به څو واړه واړه دجالانْ وو او وي به، د مسیلمه کذاب نه واخله د غلام احمد قادیاني پورې چې کومو خلکو په دجل او فریب سره د نبوت یا د خدایي د دورغو دعوې کړې دي، د دې ټولو ته نبي علیه السلام (دجالون کذابون) ویلي دي[۱]. د هغوی نښه همدا دجل، دوکه، غلط تاویلات کول، د څوارلس سوو کلونو قطعي عقائدو نه انکار کول، د نبي علیه السلام ارشاداتو پورې ټوکې کول، د سلفو صالحینو سپکاوی کول، او د غلام احمد قادیاني پشان صفا او سپین دروغ ویل مثلاً:

---------- انا انزلنه قریبًا من القادیان...[۲]

---------- په قران کې د قادیان ذکر دی.

---------- مسیح موعود به د څوارلسمې پېړۍ په سرباندې راځي اوپه پنجاب کې به راځي[۳] او د اسې نور....

---

۱] عن ابی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لا تقوم الساعة حتیٰ یبعث دجالون کذابون قریباً من ثلاثین کلهم یزعم انه رسول الله. (مسلم ج:۲ص:۳۹۷، طبع قدیمی کراچی)۔

۲] تذکره ص:۷۶، رُوحانی خزائن ج :۳ ص ۱٤۰)۔

۳] ضمیمه براهین احمدیه ص:۱۸۸، خزائن ج:۲۱ص:۳۵۹)۔

**سوال:** ددې رسالې مطالعې سره په شروع کې دا سوال پيدا کيږي چې له پلاره پرته پيدائش نه واخله دصليب دانجام واقعې پورې چې څومره علامات يانورې متعلقه ښکاره نښې او خبرې چې بيان شوي دي،هغه دهغو وجود متعلق دي کوم چې دمسيح عليه السلام،عيسى بن مريم او دمسيح ناصري په نوم سره پيژندل کيږي،او اوس هم هرکله چې دمذکوره رسالې دمصنف د خيال مطابق دمسيح موعود ياد مهدي موعود وغيره نزول نه دی شوی (بلکې انتظار يې کيږي) بياهم ټوله دنيا ددې مسيح دنوم، کار اوواقعاتو نه ښه خبره ده دا نښې، خو هغه قوم دنن خلکو نه زياتې ليدلې وې (يوازې اوريدلې او لوستلې يې نه وې)کومو خلکو طرف ته چې هغه نازل شوی و، بياهم هغه قوم چې کوم سلوك هغه سره وکړاياهغه ددنيا نه پټ دي، هغه وخت همدغه قوم دالله تعالى ددې نبي منلونه انکار کړی و، اوس که څېرې هغه (يابل څوك) راشي او ووايي چې زه هم هغه يم،کوم چې پرته له پلاره پيدا شوی و، زما مور مريم وه اومابه په زانګوکې خبرې کولې او مړي به مې ژوندي کول، مرغۍ به مې جوړې کړې او په هغو کې به مې روح پوکړ، ړندو ته به مې بينايي ورکوله او دجذام مريض به مې جوړاو او داسې نور... ، نو اوس به هم موجوده ټول قومونه څنګه يقين وکړي چې واقعي ده به مخکې همداسې کړي وي او دا يقينا هم هغه سړی دی او چې کله اول ځل نازل شو، نويوازې دبني اسرائيلو دهدايت له پاره راغلی و اوچې کله مقامي خلکو په زړه سره قبول نه کړ، نو دورکو شويو ګډوپه تلاش کې يې دومره اوږده سفرونه اختيارکړل چې د "مسيح" په لقب سره وبلل شو.اوس چې هرکله هغه په دويم ځل نازل شي، نو يو پوره قيامت به جوړ شي ،څنګه چې ددې رسالې نه ظاهره ده.مثلاً ملاحظه کړئ:

"کوم کافر باندې چې دهغوی د ساه هوا ولګيږي، هغه به مړشي" (ص۱۸علامت ٦٤).

"دساه هوابه يې دومره لرې رسيږي څومره پورې چې دهغه نظر رسيږي".(ص۱۸علامت٦٥).

**جواب:** ددې سوال جواب په څو ډوله ورکول کيږي:

(۱): په مرزا قادياني باندې دمسيح موعود يوه علامه هم رېښتيانه شوه،خو دقاديانانو دعوه ده چې دوی مسيح موعود وپيژانده، نو حضرت عيسى عليه السلام چې په هغه باندې دقران او حديث دوه سوه نښې صادقيږي،دهغه پيژندل به اهل حق ولې نه شي کولی؟

(۲):يهودانو دپيژندلو باوجود نه و منلی اويهودان اودهغوی ورونړه (مرزايان) به يې په اينده کې هم نه مني اونه يې منلو له پاره تياردي،اهل حق هغه وخت هم پيژندلی اومنلی و او اينده به هم هغوی ته په پيژندلو او منلو کې څه مشکل نه پيښيږي.

(۳):دسيدناعيسى عليه السلام دنزول چې کومه نقشه په نبوي حديثونوکې بيان شوې ده،که څېرې هغه د اعتراض کونکی مخې ته وای، نوهغه به ددې سوال کولو جرات نه وکړی، فرمايل شوي دي چې مسلمانان به ددجال دفوج په محاصره کې وي،دسبا دلمانځه په وخت کې به

ناخاپه د عيسی عليه السلام نزول وي، هغه وخت کې د نوموړي پوره حليه اونقشه هم نبي کريم ﷺ بيان کړې ده، په داسې وخت کې چې کله ټيک د نبي عليه السلام د بيان شوې نقشې مطابق هغه نازل شي، نو هغه به سمدستي داسې وپېژندل شي، څنګه چې خپل پيژندوی سړی د سفرنه بېرته راشي، نو د هغه په پېژندلو کې به هيڅ مشکل نه وي[1]، همدا وجه ده چې په حديث کې دا نه دي راغلي چې هغه به د نازليدلو نه وروسته د خپل مسيحيت اشتهار چاپوي، يابه د خلکو سره په دې موضوع باندې مباحثې او مباهلې کوي.

**سوال:** لاس ته راغلې دې رساله کې که چېرې مولوي صاحب داهم شودلي وای، نو په مسلمانانو باندې به يې احسان وای چې د هغه (مسيح موعود) ساه به په مومن او کافر کې څنګه فرق کوي، ځکه چې د مولوي صاحب په وينا د هغه ساه به يوازې د کافرانو ډېرې جوړوي، د هر انسان نظريه دې شرط چې د څه خاص بيمارې ښکارشوی نه وي، خو لامحدود او ناقابل پيمائش فاصلې پورې تلی شي، نو ايا مسيح موعود به خپل نظر سره دومره تباهي کوي؟

**جواب:** څنګه چې مقناطيس اوسپنه او سرو زرو کې فرق کيږي همدارنګه که د حضرت عيسی نظر مومن او کافر کې فرق وکړي، نو په دې کې څه تعجب دی؟ او د حضرت مسيح عليه السلام د نظر (کافر وژونکي) ذکر مرزا قادياني هم کړی دی.

**سوال:** که چېرې دا ټول ممکن وي، نو بيا د دجال سره د جنګ له پاره اته سوه (۸۰۰) سړي او څلور سوه (۴۰۰) ښځې ولې جمع کيږي؟ (ص۱۹ علامت نمبر ۷۱ اوګورئ).

**جواب:** د دجال لښکر به له مخکې نه جمع وي او د عيسی عليه السلام دم سره به هلاك شي، کوم کافر چې د څه شي پناه واخلي، هغه به د مسلمانانو په لاس قتل شي.

**سوال:** د ياجوجو او ماجوجو د هلاکت له پاره د بد دعا (ښېرو) ضرورت ولې پيښيږي؟

(ص۳۱ علامت نمبر ۱۶۲ اوګورئ).

ايا د مسيح موعود هلاکونکی نظر به ياجوج و ماجوج کافر ونه ګڼي او پرې به يې ردي؟ ځکه چې څنګه مخکې ذکرشو چې کافران خو به نشي بچ کيدلی، شايد د دې له پاره چې د اخرې حربې په طور باندې به ښېرې کيږي.

**جواب:** دا چېرته نه دي فرمايل شوي چې د دم عيسوي دا تاثير به هميشه وي، په وخت د نزول کې به دا اثر وی او د ياجوج ماجوج قصه روستنۍ ده، له دې وجې په دم عيسوي سره د دوی هلاکيدل ضروري نه دي.

---

[1] تفصيل دپاره اوګورئ په راتلونکو صفحو کی عنوان: نزول عيسٰی عليه السلام...بعض تنقيحات او توضيحات)

**سوال:** که چېرې مسیح بن مریم او مسیح موعود دیو وجود نوم وي (او یوازې د دوباره نزول نه وروسته مسیح بن مریم ته مسیح موعود ویل وي) او چې هغه نازل شي نوپخپله به هم په قران او حدیث باندې عمل کوي او نوربه هم په دې لاره راون وي.(ص۲۲علامت نمبر۹۹ اوګورئ).
نو دمولوي صاحب په وینا دعیسی علیه السلام اسمان ته ژوندي پورته کول هغه له دې ایت نه ثابتوي: ﴿اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ اِلَيَّ﴾ (آل عمران:۵۵)(ص:۱۶ علامت نمبر ۴۹).
نوایامولوي صاحب به وښیي چې دا ایت به په قران مجید کې ترقیامته پورې پاتې نه وي او ددې مطلب اومفهوم دعربي ژبې اودالله دمنشاء مطابق به همدغه پاتې نه وي.کوم چې داوسه پورې مولوی صاحب په پوهه کې راغلی دی اوکه چېرې داسې ده نودنزول په وخت کې خوبه همدا ایت هم دا اعلان کوي چې عیسی بن مریم علیه السلام اسمان ته وخیژول شو او چې وخیژول شو نو بیا راتګ له پاره به ایا دا ایت منسوح شي،یابه عیسی علیه السلام دا پخپله منسوخ کړي اوخپل ځان له پاره به لاره صفا کړي ،ځکه چې په قرآن مجید کې خوچېرته هم ذکرنشته چې کوم یو ایت به کله منسوح کېږي هم،لهذا دا ایت به دعیسی علیه السلام دبیا راتګ لاره قیامت پورې بنده ساتي او دا وعده خوالله تعالی پخپله کړې ده اومولوی صاحب پخپله هم پوهېږي چې الله تعالی فرمایلي دي چې دا ذکرمورنازل کړی دی اوموربه ددې حفاظت کوو،لهذا چاته حق حاصل دی چې په دې کې یعنې متن کې رد وبدل راوستلی شي.
**جواب:** دا ایت خودیوې واقعې حکایت دی اوددې حکایت حیثیت سره اوس هم غیرمنسوح دی،اودحضرت عیسی علیه السلام دتشریف راوړلونه وروسته به هم غیرمنسوخ پاتې وي څنګه چې:
﴿اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْاَرْضِ خَلِيْفَةً ط - وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا﴾
اوداسې نور... بې شمېره ایتونه دي.سائل عاجزېه دې هم نه پوهېږي چې نسخ په امر اونهی کې کېږي اودا ایت دامراونهی دباب نه نه دی، بلکې خبردی اوخبرنه منسوخېږي.
**سوال:** مولوي صاحب چېرته هم داخبره په وضاحت سره نه ده بیان کړې چې په قران مجید کې چېرې دعیسی علیه السلام اسمان ته دتلو ذکر چې څنګه موجود دی نوچېرته ددې وجود د بېرته راتلو ذکرهم واضح او غیرمبهم طور سره موجود دی.
**جواب:** وضاحت یې کړی دی،خو په هغه باندې پوهېدو له پاره علم، عقل،بصیرت اوایمان پکاردی.وګورئ علامت نمبر ۵۷ چې په هغې کې دحدیث نمبر۱ حواله ورکړل شوې ده اوپه هغه کې دقران مجید ایت موجوددی،زیات تفصیل له پاره وګورئ اصل کتاب کې حدیث نمبر ۷۲ نه تر۸۵ پورې.
**سوال:** سوال دا پیدا کېږي چې که چېرې په څه طریقه دا هم ومنل شي چې دمسیح موعود نوم به عیسی بن مریم هم وي،نوبیابه هم داڅنګه ومنل شي چې دغه وخت به دا نوم صفتي نه وي، بلکې دعیسی بن مریم کېدو په وجه به یقیني طورباندې دا وجود هم هغه وي چې کله

دمریم په کورکې له پلار نه پرته پیداشوی و او داسې نور...بلکې مولوي صاحب پخپله رساله کې پخپله مني چې کله کله معروف نوم خو استعمالیږي،خو مراد هغه ذات نه وي دکوم په وجه سره چې هغه نوم مشهور شوی وي،مثلاً وګورئ ص:۱۱ علامت نمبر:۱۰، چېرته چې مولوي صاحب دمسیح موعود دخاندان تفصیل بیانولو سره فرمايي چې دهغه ماماهارون دی"(یا اخت هارون)،خو مولوي صاحب ناڅاپي بیدار شي اوپه هارون باندې حاشیه کوي(ملاحظه کړئ حاشیه د ص:۱۱لاندې) "هارون نه دلته هارون نبي علیه السلام مراد نه دی، ځکه چې هغه خو دمریم نه ډېرمخکې تیرشوی دی، بلکې دهغه په نوم باندې دحضرت مریم دورور نوم هارون کېښودل شوی و.

نوځنګه چې دلته مولوي صاحب دهارون فورا تاویل وکړ چې مشکل لرې شي،نوچې کله مسیح موعود ته عیسی بن مریم هم وویل شي، نوهغه دې هم صفتي نوم وګڼي او تاویل دې وکړل شي اوجسماني طورباندې لومړی دې عیسی بن مریم مرادنه کړای شي. ځکه چې اوس اوس ذکر شو چې دمولوي صاحب دخپلې حوالې مطابق هم دمسیح بن مریم داوچتولو نه وروسته دهغه واپس راتلل ممکن نه دي ځکه چې یو ایت هم نه منسوخیږي.او"ورافعك الی" والا ایت سره به پورته ساتل کیږي، دبېرته راتللواجازه به نه ورکوي.

**جواب:** عیسی بن مریم ذاتي نوم دی، دې ته ددنیا یوعقلمند کله هم صفتي نوم نه وايي، دا خبره هغه پاګل سړی کوي چې سره درېږي او دبریتو ددې خبرې مدعي وي چې هغه ښځه جوړه شوه، الله پاك په هغه باندې دقوت رجولیت (سړیتوب) مظاهره وکړه.

هغه په مریمي صفت کې غټیده بیا ناڅاپه حامله شوه، هغې باندې درد زر راغی دبچي پیداکېدو علامات ښکاره شول.

هغې عیسی وزیږاو،دارنګه هغه عیسی بن مریم جوړ شو،دانبیا علیهم السلام په علومو کې ددې مراق او د ذیابیطس داثر هیڅ ګنجائش نشته.

هارون دحضرت مریم د ورور ذاتي نوم و، دا کوم بې وقوف ویلي دي چې هغه صفتي نوم و؟ اود خاندان دمشرپه نوم چې دیو ماشوم نوم کېښودل شي، نوولې ددنیا عقلمندبه هغه ته صفتي نوم وايي؟ غالبا سائل ته دا علم نشته چې ذاتي نوم څه شی وي او صفتي نوم څه ته وايي، که نه، نوهغه به دحضرت مریم د ورور نوم ته صفتي نوم ویلو سره دخپل فهم او ذکاوت نمونه نه پیش کوله، هارون که چېرې صفتي نوم وي، نوایا معترض به داوښايي چې دهغه ذاتي نوم څه و؟

**سوال:** په دې رساله کې ځای په ځای تناقض دی، مثلا ملاحظه کړئ ص.۱۸ او ص.۱۹ علامت نمبر ۷۰ نه تر ۷۵ پورې.

" عيسى عليه السلام به دنزول پرمهال دخلکو صفونه صحيح کړي وي، ددې ډلې امام به په دغه وخت کې حضرت مهدي وي، حضرت مهدي به د امامت له پاره حضرت عيسى عليه السلام راوبلي اوهغه به انکاروکړي چې کله حضرت امام مهدي وروسته کيږي، نوعيسى عليه السلام به ذهغه په شاباندې لاس کيږدي اوهغه به امام جوړکړي، بيابه حضرت مهدي لمونځ ورکړي"دې ټولو خبرونه ښکاره کيږي چې مولوي صاحب دا تسليمول غواړي چې امام به مهدي وي،خه دا خبره دمولوي صاحب ومنل شوه، نوبيامولوي صاحب پخپله وروسته ص ۲۲علامت نمبر۹۴ کې وايي چې "حضرت عيسى عليه السلام به دخلکو امامت کوي" يعني اوس حضرت عيسى عليه السلام امام وګرځول شو،اوس دې مولوي صاحب وښيي چې دده په رساله کې دصحيح اوغلط پيژندل څنګه کېداى شي؟ يا ريښتيا له دروغو نه څنګه بيل کړل شي؟

**جواب:** په اول لمونځ کې به امام مهدي امامت کوي اوپه وروسته لمونځونوکې به حضرت عيسى عليه السلام -------- نوتناقض څنګه راغى؟

**سوال:** بيا يو ضمني سوال دا پيدا کيږي چې څنګه عيسى عليه السلام او مسيح موعود دمولوي صاحب د تحقيق مطابق ديو جسماني وجود نوم دى، نوايا چيرته مولوي صاحب مسيح موعوداومهدي هم يو، خونه ګڼي او اوس به خبره داسې جوړيږي چې هماغه عيسى عليه السلام دى، هماغه مسيح موعود دى او هماغه مهدي دى، ياکم نه کم دمولوي صاحب تحقيق اومنطق خودا اواز کوي.

**جواب:** نه! عيسى عليه السلام او مهدي رضي الله عنه يوشخصيت منل د داسې سړي کار دى دچاچې په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې ايمان نه وي، متواتر احاديثوکې نبي عليه السلام ددې دواړو بيل بيل علامات او بيلې بيلې کارنامې ذکر کړې دي.

**سوال:** اويوبل ضمني، خوخندونکى سوال دمولوي صاحب دخپل تحرير نه داسې راوځي چې هغه وايي، بيابه حضرت مهدي رضي الله عنه لمونځ ورکړي"(وګورئ صفحه ۱۹علامت نمبر ۷۲) دلته مولوي صاحب مهدي رضي الله عنه ليکلى دى او همدغسې په څو ځايونو کې يې مهدي رضي الله عنه ليکلى دى، ټول اهل علم پوهيږي چې"رض" اختصاردى د رضي الله تعالى عنه، مطلب اسان دى اوعموما ددغو خلکودعزت اواحترام له پاره استعماليږي کوم چې فوت شوي دي، ددنيا نه تللي دي اود نبي کريم صلى الله عليه وسلم په صحابه ووکې شامل وي اودارنګه روحاني درجه لري.

اوس، خومسيح موعود راغلى هم نه دى اوپه قول دمولوي صاحب مهدي رضي الله عنه هم وګرځيده، نوايا دلمونځ ورکولو له پاره به دامهدي صاحب هم په دويم ځل ژوندى کيږي او دنياته به بيرته راځي؟

**جواب:** دا سوال څنګه چې سايل بې اختياره اعتراض کړى دى، واقعي خندونکى دى په قران کريم کې: ﴿ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ ﴾ (التوبه: ۱۰۰).

اوددوی ټولو متبعینوته یې"رضي الله عنهم"ویلي دي، چې ترقیامته پورې به راځي، شاید چې سائل به د پښتو دیانند په شان په الله پاك باندې هم دا خندونکی سوال اچوي، امام رباني مجددالف ثاني رحمه الله هم په مکتوباتوکې حضرت مهدي ته (رضي الله عنه) ویلي دي، معترض دامسئله کوم کتاب کې لوستلې ده چې یوازې فوت شویو حضراتوله پاره (رضی الله عنه) ویل کیږي، حضرت مهدي رضي الله عنه به دحضرت عیسی علیه السلام صحابي وي له دې وجې ورته (رضي الله عنه) وویل شول.

**سوال:** یاهغه هم په قول دمولوي صاحب دحضرت عیسی علیه السلام په شان چیرته ژوندی موجود دی (اسمان کې یاچیرته بل ځای کې) او دمسیح موعود راتلو سره به موجود شي او امامت به سنبال کړي.

**جواب:** دنبوي حدیثومطابق به حضرت مهدي رضي الله عنه پیدا کیږي.[۱]

**سوال:** ایا ددې هم څه سند قران مجید کې موجوددی او څه دی؟

**جواب:** هو! نبوي حدیث همدا دی او قراني سند دی: ,, **مَآ اٰتٰکُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ**،، (الحشر:۷).

کوم چې غلام احمد قادیاني دقراني سند په طورباندې پیش کړی دی.

**سوال:** بل سوال دا پیدا کیږي چې مهدي به لمونځ ورکولو سره چیرته لاړشي، ځکه چې وروسته خوڅه کول دي هغه دمسیح موعود ذمه واري ده، مولوي صاحب پخپله ټوله رساله کې بیان کړي دي اوثابت کړي یې دي چې یوازې دیوه لمانځه امامت به کوي اوهغه هم دیوې جمعې چې په اته سوه سړیو او څلور سوه ښځوبه شامله وي.(وګورئ ص:۱۹علامت نمبر۷۲).

**جواب:** دحضرت عیسی علیه السلام دراتلو نه وروسته (چې کله حضرت مهدي رضي الله عنه داول لمونځ امامت کړی وي) د حضرت مهدي رضي الله عنه دامام په حیثیت سره مشن پوره شوی وي او امامت او مشري به دحضرت عیسی علیه السلام په لاسوکې راشي، بیابه دحضرت مهدي حیثیت دهغه علیه السلام دمددګار وي او څه زمانه وروسته به هغه وفات هم شي.(مشکوة ص:۴۷۱).

وروسته څنګه چې دحضرت عیسی علیه السلام مدد ګارو اودخاصو ملګرو د ذکر ضرورت نه و ، دغه شان دحضرت مهدي رضي الله عنه د ذکرهم ضرورت پاتې نه شو، ایا دومره لویه خبره هم دیو عاقل له پاره د پوهې قابل نه ده؟

---

۱] عن ابی سعید الخدری ان النبی صلی الله علیه وسلم قال:یکون فی اُمتی المهدی...الخ (سنن ابن ماجة ص:۳۰۰،طبع نور محمد کراچی)وفی حاشیته:قال النووی:المهدی من هداه الله الی الحق،وغلبت علیه الاسمیة،ومنه مهدی آخر الزمان......ویولد بالمدینة ویکون بیعته بین الرکن والمقام کرهاً علیه...الخ.(تفسیر مدارک ج:۱ص:۲۵۹،سورةآل عمران:۵۵طبع بیروت)۔

**سوال:** داځه لویه کارنامه نه ده، ځکه چې ددې نه دزیاتو مسلمانانو امامت، خو به مولوي صاحب پخپله هم څو ځله کړی وي.

**جواب:** حضرت مهدي به ددې نه وړاندې لویې لویې کارنامې سر ته رسولې وي، چې هغه په احادیثو مبارکو کې ذکر دي، خوهغه ددې رسالې موضوع نه ده او په لمانځه کې دحضرت مهدي امام جوړیدل او دحضرت عیسی علیه السلام هغه پسې اقتداء کول پخپل ځای یوه عظیم الشانه واقعه ده، له دې وجې په حدیث پاك كې دا په خاص طور سره ذکر شوه.

**س** : مولوي صاحب پخپله رساله کې پخپله دتاویل لاره پرانستې ده او له هغه نه یې ګټه هم اخیستې ده.(وګورئ ص.۲۰ علامت نمبر۸۰).

۱_"هغه به صلیب مات کړي، یعنې صلیب پرستي به ختمه کړي" دا الفاظ چې مولوي صاحب پخپله لیکلي دي، دامحض تاویل دی دهغه حدیث شریف په کوم کې چې یوازې د صلیب دماتولو ذکردی،

د صلیب پرستي دختمولو هیڅ خبره حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه ده فرمایلې.مولوي صاحب د داسې کوم حدیث حواله ورکولی شي؟بیا وګورئ ص ۲۰ علامت نمبر۸۱).

۲_ "خنزیران به قتلوي، یعنې نصرانیت به ختموي "دا الفاظ هم د مولوي صاحب خپل تاویل دی ځکه چې په حدیث کې یوازې دخنزیر دقتلولو ارشادشوی دی، باقي دمولوي صاحب الفاظ هلته موجود نه دي، ایامولوي صاحب په حدیث شریف کې دا ښودلی شي؟ هېڅ کله نه، ځکه چې دا دنبي کریم صلی الله علیه وسلم الفاظ نه دي، بلکې دمولوي صاحب یا د نورو علماوو بیان شوی تاویل دی، اوس دا حق دمولوي صاحب ولې دی چې کله دا وغواړي او چیرته وغواړي تاویل دې وکړي؟

۳_ د وَرَافِعُكَ إِلَيَّ هم تاویل کېدای شي.

**جواب:** دتاویل لاره، تاویل که چېرې دعلم اوپوهې مطابق او دقواعد شرعیه خلاف نه وي، نو په دې کې څه باك نشته[۱]، هغه دقبلیدو قابل دی، خود اهل حق صحیح تاویل لیدو سره چې اهل باطل اخوا دیخوا تاویلونه شروع کړي، نو هماغه خبره به وي چې "هر چې مردم می کند بوزینه هم" چې بیزو انسان ولیده پخپله مرۍ یې چاړه راښکلې وه، مثلا د عیسی بن مریم جوړیدو له پاره اول ښځه جوړیدل بیاحامله کېدل بیا بچې زېږول، بیادبچي نوم عیسی بن مریم کېښودل اوپخپله بچې جوړیدل، ایا دا تاویل دی که مراقي سودا ده؟

---

۱]ثم التاویل تاویلان لایخالف قاطعاً من الکتاب والسنة.....وتاویل یصادم ماثبت بقاطع فذالک الزندقة.(المسوی شرح المؤطا ج:۲ص:۱۳،طبع دهلی)۔

۱_ صلیب به مات کړي[۱]، یعنې صلیب پرستي به ختمه کړي" بالکل صحیح تاویل دی، مطلب دا دې چې په یو صلیب ماتولو باندې به اکتفاء نه کوي، بلکې له دنیا نه به دصلیب عبادت کول بالکل پاک کړي.

۲_ خنزیران به قتلوي[۲]، یعنې نصرانیت به ختموي" دا تاویل هم بالکل صحیح دی اود عقل اودشرع دواړو سره عین مطابق دی، ځکه چې دخنزیرانو خوړل نن سبا دنصاراوو خصوصي شعاردی، حضرت عیسی علیه السلام به دنصرانیت دا خصوصي شعار ختموي او خنزیران به قتلوي ځنګه چې نبي کریم ﷺ دجاهلیت والاوو دسپیوسره اختلاط ختمولو له پاره د سپیو دوژلو حکم ورکړی و.[۳]

۳_ د وَرَافِعُكَ اِلَیَّ: داتاویل کوم چې قادیانان کوي دقران کریم اوارشادات نبوي ﷺ او دسلفو صالحینو دعقیدې خلاف دی له دې وجې مردود دی اوپه دې باندې دبیزو دخپلې مرۍ پریکولو قصه صادقیږي.

**سوال:** وَرَافِعُكَ اِلَیَّ، کې اسمان ته خیژول ولې مراد کړل شول؟

**جواب:** وَرَافِعُكَ اِلَیَّ، کې ژوندی اسمان ته پورته کول مراد دي ځکه چې "وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا بَلْ رَفَعَهُ اللهُ" کې رفع الی الله دقتل په مقابله کې واقع شوی دی، چېرته چې رفع،دقتل په مقابله کې وي هلته اسمان ته خیژول مراد دي، له دې نه پرته که چېرې کومه معنا په قران کریم،حدیث نبوي ﷺ او دبزرګان دین په ارشاداتو کې چیرته راغلې وي، نودهغې حواله ورکړئ، که ترقیامته پورې ټول مرزایان یوځای شي، نوهم یوایت به پیش نه کړي.

**سوال:** الله تعالی، خو حضرت نبي کریم ﷺ ته هم په قران مجید کې دغه حکم کړی و، چې بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ،،(المائده:۶۷).

"کوم چې تاته نازل شوي دي دهغو رسول وکړه" او ورسره یې دا توجه هم ورکړې وه چې"لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ.(الغاشیه :۲۲).

"ما ته دوی باندې نګران(څارونکی) نه یې ټاکلی، بلکې ښکاره ننبو سره مې بیانونکی لیږلی یې" اودا ټول په قران مجید کې په تفصیل سره موجود دي، مولوي صاحب پخپله فرمایلي دي چې مسیح موعود به پخپله هم په قران باندې عمل کوي او په نورو باندې به یې هم

۱]مسنداحمد ج:۲ص:٤۳۷،طبع بیروت،التصریح بما تواترفی نزول المسیح ص:۱۶۱طبع دارالعلوم کراچی)
۲]ایضاً مسند احمد ج:۲ص:٤۳۷)_
۳] عن جابر قال:امرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم بقتل الکلاب حتی ان المراة تقدم من البادیة بکلبها فنقتله ثم نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن قتلها...الخ.رواه مسلم.(مشکوة ص:۳۵۹،طبع قدیمی)_

کوي.(وګورئ ص ۲۲علامت نمبر ۹۹) ، نو حضرت نبي کريم ﷺ خوپخپله داسې عمل کولو سره ونه ښودل چې پخپل نظر سره يې خلک خوړلي وي، که څه هم هغه کافر وي،يهوديان يې يويو تلاش کولو سره قتل کړي وي (وګورئ ص۲۱علامت نمبر۸۷او۸۸) نودابه په کوم قران مجيد باندې دمسيح موعود عمل وي؟ اودکوم انداز عمل به وي؟ ايا دې سره دمسيح موعودشان لوړ شو که دده په دويم ځل نازلونکي رحيم اوکريم الله تعالی؟ (نعوذبالله من ذالك).

**جواب:** نبي کريم ﷺ دقيصر اوکسری تختونه التہ(رانسکور) نه کړل، خلفاء راشدينو ولې راونه پرځول ؟

نبي عليه السلام يهوديان دجزيرة العرب نه نه وو وېستلي، حضرت عمر رضي الله عنه ولې وويستل؟ نبي عليه السلام دبني تغلب نه دوچنده زکات نه و وصول کړی، حضرت عمر رضي الله عنه ولې وصول کړ؟ که چېرې داټول شيان دقران کريم اودنبي عليه السلام دمنشاء مطابق وي، نودحضرت عيسی عليه السلام سره دې ولې يهودانه ضددی؟ هغه چې څه هم کوي دنبي عليه السلام دفرمان مطابق به يې کوي اونبي عليه السلام هم ددې امورو تفصيلات بيان کړي دي.

**سوال:** اوبل داچې دنزول په وخت به حضرت مسيح موعود دواړه لاسونه د فرښتو په اوږو باندې اېښي وي او نازل به شي(وګورئ ص ۱۷علامت نمبر۲۲) ددې به هم تاويل کيږي، که نه، نو فرښتې به څوك ويني اوکه چېرې هغه دانسان شکل اختيار کړي او راکوزيږي، نوبيابه دا جګړه ترقيامته پورې ختمه نه شي چې واقعي دا فرښتې وې يا محض انسانان و اوددې اختلاف نه به مولوي صاحب ښه واقف وي.

**جواب:** تاويل به ولې کيږي؟ ځکه چې غلام احمدله دې نه محرومه پاتې شو؟ باقي هغه جګړه کومه چې ستاسو دماغو جوړه کړې ده، دا وښيئ چې جبرايل عليه السلام کله اول ځل نبي عليه السلام ته وحي راوړې وه او راغلی و، نبي عليه السلام هغه څنګه پيژندلی و؟ حضرت ابراهيم او حضرت لوط عليه السلام ته څنګه يقين راغلی و چې دا ريښتيافرښتې دي؟

ستاسودا اعتراض داسې مهمل دی چې په دې سره دوحې سلسله مشکوکه کرځي، يودهري به ستاسو دا دليل واخلي او وبه وايي چې"انبياوو ته کومې فرښتې چې راتللې هغه به په انساني شکل کې راغلې وې او داجګړه به ترقيامت پورې نه ختميږي چې هغه ريښتيافرښتې وې يا انسانان وو؟ او ترڅوچې دا جګړه نه وي فيصله شوي، نو د وحې سلسله باندې څنګه يقين کيږي، "تعجب دې چې قادياني تعليم دين خو سلب کړی و، عقل او فهم يې هم سلب کړی دی.

**سوال:** ترننه پورې چې څومره خبرې دمسلمانانو مختلفو فرقو تراوسه پورې فيصله نکړې او که چېرې تاويلونه ونکړي، نو مولوي صاحب دې پخپله خپل بيان کړل شويو علاماتو طرفته توجه وکړي اودسنجيده طبقې په مخکې به څنګه سراوچت کړي.

**جواب:** ډيرې جګړې، خو رېښتيافيصله نه شوې، خود قاديانانو بد قسمتي وګورئ چې په کومو مسئلوباندې دمسلمانانو دټولو فرقو دڅوارلس سوو کلونو نه اتفاق دی، دوی دهغو نه هم منکر شول اودارنګه داسلام له دايرې نه خارج شول، مثلا د ختم نبوت نه انکارکول[1]، دحضرت عيسیٰ عليه السلام دمعجزاتونه انکارکول، دهغه عليه السلام د دويم ځل راتلو نه انکار کول،اوداسې نور....

**سوال:** مال او زر به په خلکوکې دومره عام کړي چې هيڅوک به يې نه قبلوي"(ص۲۲ علامت نمبر۳۳) "هرقسمه ديني او دنيوي برکتونه به نازل شي.(ص۲۲ علامت نمبر۱۰۰)

ټوله ځمکه به دمسلمانانونه داسې ډکه شي څنګه چې لوښې داوبونه ډکيږي".(ص ۲٤ علامت نمبر۱۰۹). "د صدقاتو وصولول به پرېښودل شي".(ص ۲۲ علامت نمبر۱۱۰).

ځکه چې مسيح موعود به مال او زر دومره عام کړي چې څوك به يې نه قبلوي (پورته ذکرشوې ص ۲۲ علامت نمبر۹۳).

"دغه وخت به مسلمانان په سخته غريبي او لوږه کې اخته وي، تردې چې ځينې به دخپلې ليندې مزي وسوځوي او وبه يې خوري"(ص۲۶علامت نمبر۱۲٤) وموکتل چې اوس اوس خو مسلمانانو صدقه ورکول غوښتل اود اخيستلو والا هيڅوك نه و، مال او زر دومره زيات وو چې څوك قبلولو والا نه وو او اوس دمسلمانانو دا حالت بيانيږي چې هغوی به د ليندې مزي وسوځوي او وبه يې خوري چې دخيتې اور په څه طريقه يخ شي.

ايا دا هغه تحقيق دی چې مولوي صاحب پرې فخر کوي؟

**جواب:** په دې احاديثو کې تعارض نشته،دايمان دسلب په وجه سائل ته دصحيح غور او فکر توفيق ونه شو، په مسلمانانوباندې تنګي اودهغوی دليندو مزي سوځولو اوخوړلو واقعه دحضرت عيسیٰ عليه السلام دنزول نه لږ مخکې واقعه ده چې کله مسلمانان ددجال دفوج په محاصره کې وي[2] او د خوشالي او پراخي زمانه له دې نه وروسته ده.[3]

---

[1] كلمة الفصل ص:۱۵۸،مندرجه رساله ريويوآف ريلجنز جلد:۱٤نمبر:۳،٤بابت ماه مارچ واپريل ۱۹۱۵ء)۔

[2] (عن عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه.........وينحاز المسلمون الی عقبة افيق فيبعثون سرحا لهم فيصاب سرحهم فيشتد ذلک عليهم ويصيبهم مجاعة شديدة وجهد شديد حتی ان احدهم ليحرق وتر قوسه فيا كله فبينماهم كذلک اذنادی مناد من السحر:ياايها الناس!اتاكم الغوث........وينزل عيسی بن مريم عليه السلام عندصلاة الفجر...الخ.(التصريح بما تواتر فی انزول المسيح ص:۱٦٤،طبع دارالعلوم كراچی)۔

[3] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:والذی نفسی بيده!ليوشكن ان ينزل فيكم ابن مريم حكما عدلاً فيكسر الصليب ويقتل الخنزير ويضع الجزية ويفيض المال حتی لايقبله احد حتی تكون السجدة الواحدة خيرًا من الدنيا وما فيها...الخ.(التصريح بما تواتر فی نزول المسيح ص:۹۲)۔

## ايا قاديانان قومي اسمبلۍ جبرا غير مسلم کړځولي ؟

**سوال:** لااکراه فی الدین، يعنې په دين کې هيڅ جبرنشته، نه خو تاسو څوك جبرا مسلمانولی شئ اونه جبرا تاسو يومسلمان غيرمسلم ګرځولی شئ،که چېرې دا مطلب صحيح وي، نوبيا موږ تاسو(جماعت احمديه) ولې جبرا دقومي اسمبلۍ اوحکومت په ذريعه غيرمسلمه وګرځوله؟
**جواب:** د ايت مطلب دادی چې څوك جبرا مسلمان نه شي جوړولی[۱]، دا مطلب نه دی چې کوم سړی دغلطو عقائدو په وجه سره مسلمان نه وي هغه ته به غيرمسلم هم نه شي ويل کېدای، دواړو خبرو کې د ځمکې او اسمان فرق دی، ستاسو جماعت قومي اسمبلۍ غيرمسلم نه دی ګرځولی، غير مسلم تاسودخپلو عقائدوپه وجه سره ګرځېدلي يئ،خو مسلمانانو غيرمسلموته دغيرمسلمه ويلو جرم ضرور کړی دی.

## په قرآن کريم کې د احمد لفظ مصداق څوك دی؟

**سوال:** قران پاك کې په اته ويشتمه سپارې په سورت صف کې دي چې عيسی عليه السلام وفرمايل چې زما نه وروسته به يو رسول راځي اودهغه نوم به احمد وي، له دې نه مراد څوك دی؟ حال دا چې قاديانان مرزا قادياني ترې مراد اخلي.
**جواب:** له دې نه نبي کريم صلی الله عليه وسلم مراد دی،ځکه چې دصحيح بخاري او صحيح مسلم په حديث کې دي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زماڅو نومونه دي"زه محمد يم اوزه احمد يم[۲] (مشکوة ص۵۱۵)
قاديانان چونکه په نبي عليه السلام باندې ايمان نه لري له دې وجې به هغوی دا هم نه مني.

## د قاديانانو سره شريک تجارت او تعلق ساتل حرام دي

**سوال:** علماء کرام په لاندنيو مسئلو کې څه فرمايي:
قاديانان دخپلې امدني لسمه برخه دخپل جماعت مرکزي فنډ کې جمع کوي چې د مسلمانانو خلاف تبليغ او ارتدادي مهم(عمل) کې خرچ کيږي، قاديانان متفقه طورباندې مرتد، کافر اود داسلام له دائرې نه خارج دي، نوپه داسې حالت کې دهغوی په شراکت سره د مسلمانانو تجارت کول يادهغوی ددوکانونو نه اخيستل خرڅول کول ياورسره څه قسمه تعلقات يا څه رسم او دود ساتل په اسلام کې جائز دي؟

---

۱] ای لا تکرهوا احدا علی الدخول فی دین الاسلام فانه بین واضح جلی دلائله وبر اهینه لا یحتاج الی ان یکره احد علی الدخول فیه...فانه لا یفیده الدخول فی الدین مکرها مقسورًا.(تفسیرابن کثیرج:۱ص:۶۱۶،طبع رشیدیه کوئته)
۲] عن جبیر بن مطعم قال:سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول:ان لی اسماء:انا محمد وانا احمد (مشکوة ص:۵۱۵)۔

**جواب:** پوښتل شوي صورت کې داوخت قاديان کافر او زنديقان دي[1] او خپل ځان غيرمسلم اقليت نه ګڼي، بلکې دټولې دنيامسلمانانوته کافران وايي، له دې وجې ددوی سره تجارت کول، اخيستل خرڅول کول ناجائزاو حرام دي[2] ځکه چې قاديانان دخپلې امدني لسمه برخه دخلکو قاديانان جوړولو کې خرچ کوي، ګوياپه دې صورت کې مسلمانان هم دساده مسلمانانو په مرتد کولو کې د دوی مدد کوي، لهذا په هيڅ يوحيثيت باندې ددوی سره معاملات هېڅ کله جائز نه دي، دا شان په خوشالي، غم اوخوراك څښکاك کې دوی شريکول، دعامو مسلمانانو اختلاط، ددوی خبرې اوريدل،په جلسوکې دوی شريکول، نوکر ساتل، دوی سره نوکري کول دا ټول هرڅه حرام، بلکې ددينې غيرت نه خلاف دي. فقط والله اعلم.

## د قاديانانو سره تعلق ساتل

**سوال:** زمايوسکه وررور چې زمايوبل سکه وررور سره زمانه جدا پخپل پلرني کورکې اوسيږي، دمحلې يوقادياني کور سره په غم او خوشالي کې شريکيږي، زمادمنع کولو باوجود هغه ددې قادياني خاندان سره تعلق پرينښودو ته تيار نه دی، زه په خپلو ټولو ورونړکې مشريم اوجدا دکرايې په کورکې اوسيږم، پلارمې وفات شوی دی، مور او خويندې مې زماله دې وررورسره اوسيږي، اوس زما دټولو نه دکشر وررور واده کېدونکی دی، زما اصرار دی چې ته به په واده کې دا قادياني خاندان نه راغواړې، خو داسې معلوميږي چې هغه به داسې ونه کړي.

اوس سوال دادی چې زه دشريعت اواسلامي احکاماتوله مخې وروڼه او مور پرېږدم اوکه زه په واده کې شرکت وکړم، نوبهتره به وي په دې صورت حال کې چې کومه خبره حق وي مهرباني وکړئ دشريعت منشاء ښکاره کړئ.

**جواب:** قاديانان مرتد او زنديقان دي[3]او دوی په خپلو خوشاليو کې شريکول د ديني غيرت نه خلاف دي که چېرې ستا وروڼه صاحبان دغه قاديانان راوغواړي، نوتاسوپه دې

---

۱]وان اعترف به(اى الحق)ظاهرًا لكن يفسر بعض ماثبت من الدين ضرورة بخلاف ما فسره الصحابة والتابعون واجتمعت عليه الامة فهو الزنديق.(المسوى شرح المؤطا ج:۲ص:۱۳)۔

۲]يٰايها الذين امنوا لا تتخذوا اليهود والنصارى او ليآء ......(المائدة:۵۱)وفى هذه الآية دلالة على ان الكافر لا يكون وليا للمسلمين لافى التصرف ولافى النصرة،وتدل على وجوب البرءة عن الكافر والعداوة بهم،لان الولاية ضد العداوة فاذا امرنا بمعادات اليهود والنصارى لكفرهم فغيرهم من الكفار بمنزلتهم والكفر ملة واحدة.(احكام القرآن للجصاص ج:۲ص:۴۴۴طبع سهيل اكيدمى لاهور)۔

۳]الزندقة كفر،والزنديق كافر لانه مع وجود الاعتراف بنبوة سيدنا محمد صلى الله عليه وسلم يكون فى عقائده كفر وهذا بالاتفاق.(موسوعة نضرة النعيم ج:۱ص:۴۵۸۵،طبع بيروت)۔

تقریب کې هېڅکله شرکت مه کوئ[1]، که نه تاسو به هم دقیامت په ورځ دمحمدرسول الله ﷺ مجرم یئ. والله اعلم!

## د مرزایانو سره د تعلقاتو ساتلو والا مسلمان

**سوال:** یو سړی مرزایانوته (چې په اجماع سره کافر دي) ځي راځي او دهغوی د لټریچر مطالعه هم کوي اودځینو مرزایانو نه دا هم اوریدل شوي دي چې دا خوزموږ سړی یعنې مرزایي دی، خوچې کله پخپله دهغه نه پوښتنه وشي، نوهغه وايي چې بالکل نه، بلکې زه مسلمان یم اودختم نبوت او حیات حضرت عیسی ابن مریم علیه السلام او دنزول عیسی علیه السلام اودحضرت مهدي علیه الرحمه اودجهاد د فرضیت وغیره دټولو عقائدو داسلام منونکی یم او دواړو ډلې مرزایان کافران،دروغژن اودجالان، اوداسلام نه خارج گڼم، نوایا د پورته وجوهاتو په بناء باندې دکفرفتوا په دې سړي باندې لګول کیږي، که چېرې په شریعت کې هغه کافر نه وي، نوپه هغه باندې دکفر فتوا لګولو په باره کې څه حکم دی؟ هرکله چې دهغه دذکر شویو عقائدو معلومیدو باندې هم تکفیر کوي اود کفارو په شان سلوك ورسره هم کوي اودهغو نشرواشاعت کوي.

**جواب:** داسې سړي سره دې مسلمان دخپلوي بایکاټ وکړي، سلام اوخبرې دې ورسره پریږدي ، هغه دې جدا کړي[2]اوښځه دې له هغه نه جدا شي، دې له پاره چې داسړی دخپلو جرکتونونه منع شي که چېرې منع شي، نوصحیح ده که نه هغه به کافرګڼل کیږي اودا کافرانو په شان معامله به ورسره کیږي.[3]

## د قادیانانو دعوت او اسلامي غیرت

**سوال:** یوه اداره چې په هغه کې تقریبا پنځه ویشت(۲۵) کسان ملازمان دي اوپه هغوی کې یو قادیاني هم شامل دی او دا قادیاني دخپل احمدي (قادیاني) کیدو په ښکاره اظهار هم کوي، اوس دغه قادیاني ملازم دخپل زوی دپیدائش په خوشالي کې ټولو نوکرانوته دعوت

---

۱]لاتجابواهل القدر لاتوادوهم ولاتحابو هم فان المجالسة ونحو ها من الممشاة من علامات المحبة وامارات المودة فالمعنى لاتجالسوهم مجالسة تاينس وتعظيم لهم.(المرقاة شرح المشكوة ج:۱ص:۳۰۹).وفى هذه الآية دلالة على ان الكافر لايكون وليا للمسلم لا فى التصرف ولافى النصرة، ويدل على وجوب البراءة عن الكفار والعداوة لهم.......ويدل على ان الكفر كله ملة واحدة لقوله تعالى:بعضهم اولياء بعض.(احكام القرآن للجصاص ج:۲ص:٤٤٤،طبع سهيل اكيدمى)۔

۲]قال الخطابى:رخص للمسلم ان يغضب على اخيه ثلاث ليال لقلة ولايجوز فوقها الا اذاكان الهجران فى حق من حقوق الله فجوز فوق ذالک.(مرقاة شرح مشكوة ج:۹ص:۲٦۲،طبع امداية،ملتان)۔

۳] يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ الخ. (الممتحنه:۱).الخ (المائده:۱۵) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ...... وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ.....الخ.، (المائدة:۵۱)۔

کول غواړي او په دوی کې څه کسان دهغه دعوت کې شريکيدلو ته تيار دي او ځينې ملازمان دهغه دعوت قبلولو ته تيارنه دي،ځکه چې د دوی په خيال کې دمرزايانو ټول قسمونه مرتد ،داسلام له دائرې نه خارج اوواجب القتل دي اود اسلام غداران دي، نوددې مذهب سره دتعلق لرونکو دعوت قبلول صحيح نه دي، تاسو مهرباني وکړئ اود قران اودسنتو په رڼا کې ددې وضاحت وکړئ چې دهرقسمه قادياني دعوت قبلول ديومسلمان له پاره څه حيثيت لري چې اينده له پاره دهغه مطابق عمل وکړي.

**جواب:** مرزايان دکافر کيدو باوجود خپل ځان ته مسلمانان اودټولې دنيا مسلمانانو ته کافران او حراميان وايي، دمرزا قادياني وينا ده چې زما دښمنان دځنګلونو خنزيران دي اودهغوی ښځې دهغوی نه ډيرې ناکاره سپی دي[۱] کوم سړی چې تاسو ته خنزير،حرامي او کافر يهودي وايي دهغوی په خوشاليو کې شريکيدل پکار دي اوکه نه؟ دا فتوا تاسو زما نه نه! ،بلکې پخپله دخپل اسلامي غيرت نه پوښتنه وکړئ.

## د قاديانانو په تقريب(محفل) کې شريکيدل

**سوال:** که چېرې په ګاونډکې زيات اهل سنت والجماعت والا اوسيږي څو کورونه دقاديانانو وي، دې خلکو سره دګاونډې توب له وجې په غم ښادي کې خوړل څښل اوداسې نور رسم او رواج ساتل جائز دي اوکه نه؟

**جواب:** دقاديانانو حکم دمرتد دی، دوی په څه قسمه تقريب کې شريکول يا ددوی په تقريب کې شريکيدل جائز نه دي، دقيامت په ورځ به دخدای او د رسول الله ﷺ په مخکې جواب ورکول وي.[۲]

## د قاديانانو سره خپلوي کول يا دهغوی د دعوت خوراک خوړل جائز نه دي

**سوال:** د قاديانانو دعوت خوړلو سره نکاح ماتيږي اوکه نه؟ بل داچې د داسې انسان له پاره دنبي کريم ﷺ شفاعت نصيب کېدای شي اوکه نه؟

**جواب:** که چېرې څوك قادياني کافرګڼي اودهغه دعوت خوري، نو ګناه هم ده او بې غيرتي هم، خو کفر نه دی، کوم سړی چې د حضور ﷺ ددښمنانو سره دوستي کوي هغه ته سوچ کول پکار دي چې نبي عليه السلام ته به څنګه مخ ښکاره کوي.

---

۱] انوار اسلام ص: ۳۰.روحاني خزائن ج:۹ص: ۳۱)_

۲] يٰاَيها الَّذينَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَاءَ تُلْقُوْنَ اِلَيهِمْ بِالْمَوَدَّةِ الخ.(الممتحنه:۱).الخ (المائده:۱۵) يٰاَيها الَّذينَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيهوْدَ وَالنَّصٰرٰي اَوْلِيَاءَ ......وَمَنْ يَتَوَلَّهمْ مِّنْكُمْ فَاِنَّه مِنهمْ....الخ،، (المائدة: ۵۱)_

## د قاديانې طرفدارو وكيلانو حشر

**سوال:** څه فرمايي علماء او ددين او مفتيان ددين په دې سلسله کې چې وړاندې ورځوکې مردان کې قاديانانو د ربوه په هدايت باندې دکلمېې طيبې بيجونه جوړ کړل، پوسټر يې جوړ کړل او بيجونه يې دخپلو بچيوپه سينو ولګول او پوسټر يې په دوکانونو باندې ولګول. اودکلمېې طيبې سپکاوی يې وکړو.په دې حرکت باندې علماء کرام او غيرت مندو مسلمانانوپه عدالت کې په دوی باندې مقدمه دائرکړه او فاضل جج يې ضمانت مستردکړو او هغوی يې جيل ته ولېږل.اوس عرض دادی چې دهغه ځای مسلمانان وکيلان صاحبان ددغه قاديانانو پيروي کوی اود څو پيسو په خاطر دهغوی ناجائز عقائد جائز ګرځولو له پاره کوشش کوي، په دې وکيلانو صاحبانو کې يوسيد دی،مهرباني وکړئ د قرآن اوحديث په رڼاکې په تفصيل سره جواب وليکئ چې دشريعت محمدي ﷺ له مخې ددې وکيلانو صاحبانو څه حکم دی؟

**جواب:** دقيامت په ورځ به يوطرف ته دمحمدرسول الله ﷺ کيمپ وي.اوبل طرف ته دمرزاغلام احمدقادياني،داوکيلان چاچې ددين محمدي ﷺ خلاف دقاديانانو وکالت کړی دی،دقيامت په ورځ به دغلام احمد په کيمپ کې وي. اوقاديانان به يې له ځان سره دوزخ ته بوځي،واضحه دې وي چې په يوعامه مقدمه کې دکوم قادياني وکالت يوه بيله خبره ده،خو داسلامي شعائروپه مسئله باندې د قاديانانو وکالت دنبي کريم ﷺ خلاف مقدمه چلول دي، يوطرف ته محمد ﷺ دی اوبل طرف ته دقادياني جماعت دی، کوم سړی چې د محمد ﷺ ددين په مقابله کې دقاديانانو حمايت اووکالت کوي هغه به دقيامت په ورځ د نبي عليه السلام په امت کې نه شامليږي، که څه هم هغه وکيل وي ياڅوک سياسي ليډر ياحاکم وقت.

## که چېرې څوک پوهې سره قاديانی ښځې سره واده وکړي نوشرعي حکم څه دی؟

**سوال:** که چېرې څوک ديوې قادياني ښځې پيژندلوباوجود چې دابنځه قادياني ده، له هغې سره نکاح وکړي، نودهغه نکاح وشوه اوکه نه؟اوددې سړي ايمان باقي پاتې شواو که نه؟

**جواب:** قادياني ښځې سره نکاح بالکل باطله ده[1]،باقي داچې قادياني ښځې سره نکاح کونکی مسلمان پاتې دی اوکه نه؟ په دې کې تفصيل دی چې:

**الف:** که چېرې هغه ته دقاديانيانو کفريه عقائد معلوم نه وی. يا...

---

۱] وحرم نکاح الوثنية بالاجماع.(وفی الشامی)ويدخل فی عبدةالاوثان.....والمعطلة والزنادقة والباطنية والاباحية،وفی شرح الوجيز:وکل مذهب يکفر به معتقده.(رد المحتار ج:۳ص:۴۵، کتاب النکاح)

ب: هغه ته دامسئله معلومه نه وي چې دقادیانانو مرتدینو سره نکاح نه کیږي،نوپه دې دواړو صورتونوکې دې سړي ته د اسلام نه خارج نشي ویل کیدای،خو دې سړي باندې لازم دي چې د مسئلې معلومولو باندې دا قادیانۍ مرتده ښځه فوراً جدا کړي او اینده له پاره له هغې سره د کوروالي تعلق ونه ساتي او په دې کارتوبه اوباسي اوکه چېرې داسړی دقادیانانو دعقایدو معلومیدو باوجود هغوی مسلمانان ګڼي.نوداسړی کافر او داسلام نه خارج دی، ځکه چې دکفر عقائد اسلام ګڼل پخپله کفر دی[۱].په دې سړي باندې لازم دي چې دخپل ایمان تجدید وکړي.[۲]

## قادیانان له جوماتونو جوړولو نه په زوره بندول څنګه دي؟

**سوال:** احمدیان دجوماتونو جوړولو نه جبراً منع کول روا دي؟آیا دا جبر په اسلام کې ستاسو په نزد جائز دی؟

**جواب:** نبي کریم ﷺ دمسجدِ ضرار سره څه کړي و؟ او قرآن کریم دې باره کې څه ارشاد فرمایلی دی؟ شاید چې ستاسو په علم کې به وي چې ددې په باره کې څه ارشاد دی؟
تاسو حضرات په اصل کې په معقوله خبره باندې هم اعتراض کوئ،اوګورئ! په دې خبره باندې خوغورکیدای شي(اوکیږي هم) چې ستاسو دډلې عقائد دمسلمانانودي یانه دي؟ اوداچې په اسلام کې ددې عقائدو ګنجائش شته او که نشته؟خو چې کله دا فیصله وشوه چې ستاسو په نزد مسلمانان،مسلمانان نه دي او دمسلمانانو په نزدستاسوجماعت مسلمانان نه دي،نوپخپله انصاف وکړئ چې تاسو مسلمانانوته اومسلمانان تاسوته اسلامی حقونه څنګه درکولی شي؟ او دعقل او دانصاف له مخې یوغیرمسلم ته اسلامي حقونه ورکول ظلم دی؟یاددې برعکس نه ورکول ظلم دی؟
زما محترمه! د جبر او دزبردستي بحث نه دی،بلکې بحث دا دی چې کوم عقائد تاسوپه خپل اختیار او اراده سره خپل کړي دي په هغو باندې د اسلام اطلاق کیږي یانه؟ که چېرې په هغو باندې داسلام اطلاق کیږي، نوستاسو شکایت په ځای دی که نه کیږي نویقیناً بې ځایه دی،په دې اصولو باندې خو به تاسو هم اتفاق کوئ اوتاسو ته پکار هم دی، اوس پخپله ووایئ چې ستاسو په خیال کې اسلام دڅه شي نوم دی؟ اود کومو شیانو انکار کولو سره اسلام ختمیږي،دې وضاحت نه وروسته به تاسوپه اصل حقیقت باندې پوه شوي یئ، چې د غوسې له وجې نه پرې اوس نه پوهیږئ.

۱]والاصل ان من اعتقد الحرام حلالاً،فان کان حراماً لغیره کمال الغیر لایکفر،وان کان لعینه فان کان دلیله قطعیًا کفر،والافلا.(فتاوی شامیه ج:٤ص:٢٢٣،باب المرتد،مطلب فی منکر الاجماع)_

۲] مایکون کفرًا اتفاقاً یبطل العمل والنکاح....وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح.(فتاوی شامیه ج:٤ص:٢٤٦،باب المرتد)_

## "دينداراانجمن "او "ميزان انجمن" والا د قاديانانو خرابې ډلې دي

**سوال:** دالله په فضل سره زموږ په کورنۍ کې لوی-واړه ټول دلمانځه پابند دي اوزموږ خاندان مذهبي خاندان دی" ميزان انجمن"په کراچۍ کې دی، ددې انجمن باني اواراکين"صديق دين دار چن بسويشور" منونکي او پيروکار دي، داخلک اوږدې ږيرې اود سر ويښته لکه دښځو اوږده ساتي، د دوی عقيده ده چې قادياني مرزا غلام احمد او موجوده مرزا طاهراحمد "مامورمن الله" دي ، ددوی يوسړی شيخ محمددی، شيخ محمد دخدای مظهرګڼي، هغه ته دلمونځ په شان سجده کوي او وايي چې په شيخ محمدته الهام کيږي اوکوم الهامونه چې شوي دي تر اوسه هغه په درې سوه صفحوباندې مشتمل دي، دهغه تبليغ دکراچۍ په (کورنګي) کې په زرو- شور سره جاري دی، دهغه عقيده ده چې دهغه دډلې اراکينو کې دهريومقام لوړ دی، يوصاحب چې دهغه عمر اتياکاله دی ځان ته "ترسيو اوتار" او روح مختار محمدي وايي، يو بديع الزمان قريشي دی چې نايب صدر دی، ځان ته خليفة الارض وايي، دکراچۍ اهل سنت سرمايه دار ځينې داسې دي چې د دوی دصورت او شکل نه متاثره شوي دي اوماهانه د اشاعت اسلام په نامه باندې کافي چنده هم ورکوي، دا پوره ډله خپل ځان ته داسلام مبلغين وايي.

زموږ خپلوان دې خلکو دخپلې عقيدې والا جوړکړي دي، هره جمعه زموږ خپلوان ماما، مامي اودهغوی بچي زموږ کورته راځي اوموږ ته وايي چې دميزان انجمن اراکين جوړشئ، دنيا او اخرت به موښايسته شي، دهندوانواوتارچن بسويشور مړشو دهغه روح صديق دين دار صاحب کې راغی، صديق ديندار مړنه دی اوهغه دخدای په اصلي صورت کې نه، بلکې بل يوصورت کې راغلی و، اوس په لطيف اباد سندھ کې دنوې دنيا ادم او خدای شيخ محمددی، دهغه دمذهبي انجمن ميزان رکن جوړشئ، شنکر کرشن، نرسيو، هنومان، کالی ديوی،رام ټول پيغمبران وو اوډ شنکر زبردست قوت و، رسول مقبول محمدرسول الله ته خپل ټول طاقت شنکرورکړی و،محمدرسول الله ته دشنکر روح منتقل شو، سورة اخلاص صديق دين دار چن بسويشور، پخپله نازل کړی و اودهغه تفسيرهم ليکلی دی.

تاسوته دالله اودرسول واسطه درکوم چې زرجواب راکړئ، زموږ مامي وايي چې ميزان انجمن مسلمانانوته دحق لارې ښودو له پاره په وجودکې راغلی دی، په پاکستان کې حق جماعت يوازې ميزان انجمن دی اوصديق دين دار چن بسو يشور ددنيا نظام چلوي"

تاسو ونښيئ چې دقران کريم اواحاديثو سره دا ټولې خبرې صحيح دي؟ دهندو اوتارو، يا د مسلمانانو پيغمبرانو روحونه يوبل ته ياچې چاته وغواړي منتقل کيدل صحيح دي؟

دصديق دين دارچن بسويشور اصل او حقيقت څه دی او څه و؟- ضروري خبره دا ده چې دا ډله لمونځ هم کوي او نومونه يې دمسلمانانو او هندوانو سره ګډوډ اينښي دي، لکه

بسید سراج الدین نرسیو او تار یاصدیق دیندار چن بسویشور ددوی نومونه دي، امیددی چې زموږ له پاره به زحمت وکړئ، زموږ کور والا ماما، مامي دهغوی دبچو دهرې جمعې دتبلیغ کولو سره حیران دي.

ایاموږ ددوی خبرې ومنو یایې ونه منو، کورته راتلو نه یې منع کړو؟دخپلو زامنو له پاره رشتې غواړي، ایا موږ خپلې خویندې چې پیغلې دي دخپل ماما چې دصدیق دین دار پیرو کار دی دهغه زامنوته ورکولی شو؟ شرعي حیثیت سره جوابونه راکړئ اوزموږ په ایمان بچ کولو کې زموږ معاون جوړشئ، زموږ پلار وفات شوی دی او مور مو سنۍ ده موږ ټول سنیان یو او لوی واړه ټول مذهبي دي او مذهبي کورنۍ یو.

**جواب:** "میزان انجمن" د قادیانو بیله شوې ډله ده، چې داخلک مرزاقادیاني"مسیح موعود" ګڼي حیدراباد دکن کې دمرزا قادیان یو مرید بابو صدیق و، هغه ماموړمن الله، نبي، رسول، یوسف موعود اودهندوانو چن بسویشور اوتارمني دبابوصدیق نه وروسته شیخ محمدته دخدای مظهر اود ټولو رسولانو اوتارمني، له دې وجې "دین دار انجمن" او"میزان انجمن" ټول کسان دمرزایانو د نورو ډلو پشان کافر اومرتددي، دا خلک دقادیاني عقیدې سره سره دهندوانو د تناسخ عقیده هم لري، ددې انجمن دافرادو دعقائد پیژندو باوجود هغوی مسلمانان ګڼل هم کفردی[1] دهیڅ یوې مسلمانې انجیلۍ د"میزان انجمن "دیومرتد سره نکاح نه شي کیدای، که چېرې انجیلۍ داسې یومرتد ته حواله کړل شوه، نوټول عمربه دبدکاري اودزنا وبال وي، دې انجمن ته چنده ورکول او دوی سره سماجي اومعاشرتي تعلقات ساتل حرام دي[2]، غرض دا چې دا دمرتدینو یوه ډله ده چې مسلمانانو ته ددرکې ورکولو له پاره خپل ځانونه مسلمان ښکاره کوي، حالانکې ددوی عقائد خالص کفریه دي.

## د دیندار انجمن امام کافر او مرتد دی هغه پسې لمونځ نه کیږي

**سوال:** په نوې کراچۍ کې دقادیانانو عبادت ګاه مسجد فلاح دارین کې د دیندار جماعت قادیاني یاسین امام دی، چې ډیرچالاك، دروغژن، مکار او غاصب دی، په دې مکاري یې څو کواټرې لاس ته راوړي دي اودڅو غریبو او کمزورو خلکو په کواټرو یې پخپله قبضه

---

۱]ومن اعتقد ان الایمان والکفر واحد فهو کافر،ومن لایرضی بالایمان فهو کافر کذاق الذخیرة.عالمگیری ج:۲ص:۲۵۷،الباب التاسع فی احکام المرتدین)۔

۲]وَلَا تَرْكَنُوْا اِلَي الَّذِينَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ (هود: ۱۱۳) يٰاَيها الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيهوْدَ وَالنَّصٰرٰي اَوْلِياء،، (المائدة: ۵۱) يٰاَيها الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِينَ اتَّخَذُوْا دِينَكُمْ هزُوًا،، (المائدة: ۵۷) يٰاَيها الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللهُ عَلَيهِمْ،، (الممتحنة: ۱۳)، لَا يَتَّخِذ الْمُومِنُوْنَ الْكٰفِرِينَ اَوْلِياءَ مِنْ دُوْنِ الْمُومِنِينَ،، (آل عمران: ۲۸)، لَا تَجِدُ قَوْمًا يومِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيوْمِ الْاٰخِرِ يوَادُّوْنَ مَنْ حَادَّ اللهَ وَرَسُوْلَه وَلَوْ كَانُوْا اٰبَاءَهمْ اَوْ اَبْنَاءَهم اَوْ اِخْوَانَهمْ اَوْ عَشِيرَتَهمْ،، (المجادلة: ۲۲)۔

کړې ده او دځیني غریبانو او کمزورو خلکو د کواټرو تالې (قلفونه) یې ماتې کړې او دخپلو پالتو بدمعاشو خلکو په قبضه کې یې ورکړې دي او ډیرو مسلمانانو ته دوکه ورکولو سره یې دمسجد په نوم باندې روپۍ وصول کړې دي اوپه جمات کې د لګولو په ځایې یې پخپل کورکې خرچ کړي دي اودخپلو پالل شویو بدمعاشو خلکو په سرپرستي اوعیاشي باندې یې خرچ کړي دي، مهرباني وکړئ تاسو دا وښیئ چې کومو خلکو په ناپوهي کې دجومات په نوم دا روپۍ ورکړي دي، ددې ثواب به هغوی ته ورکول کیږي اوکه هغه مال یې بربادشو اوزموږ دمحلې ځینو خلکوبه په ناپوهي کې دوی پسې لمونځونه هم کول چې کله هغو ته د دوی د قادیانیت پته ولګیده، نو لمونځ یې پریښوده، اوس خلک نزدې بلال جومات کې لمونځ کوي، تاسو دا وښیئ چې کوم لمونځځونه موږ قادیاني یاسین پسې جمعې سره په ناپوهي کې کړي دي، هغه لمونځونه وشول اوکه به دهغو قضا راوړل ضروري وي، اوکه بله کومه طریقه ده؟

**جواب:** "دین دار انجمن" د قادیانانو ډله ده او دا خلک کافر او مرتد دي، یو غیرمسلم پسې ادا شوي لمونځونه نه کیږي، کومو خلکو چې په غلطي سره یاسین مرتد پسې لمونځونه کړي دي هغوی دې خپل لمونځونه راوګرځوي اوپه مسلمانانو باندې لازم دي چې د" دین دار انجمن" کسان چې چیرته چیرته مسلمانانو ته په دوکه باندې امامت کوي هغوی دې دجماتونو نه اوباسي ،ددوی تنظیم ته چنده ورکول او دوی سره معاشرتي تعلقات ساتل حرام دي.[۱]

## د دیندار انجمن تابعدار مرتد دي دهغوی مړي د مسلمانانو په مقبره(هدیره ) کې دفن کول نه دي پکار

**سوال:** زموږ په محله کې د دین دار انجمن په نوم سره یوتنظیم کارکوي چې دهغوی اعلی نګران سعید بن وحید صاحب دی چې زموږ په علاقه کې اوسیږي، اوس اوس دهغه زوی په حادثه کې وفات شو، دعلاقې دمسلمانانو د ردعمل له وجې دهغه دجنازې لمونځ دمسلمانانو په مقبره کې وشو،هماغه مقبره کې دفن کړل شو، په دې باره کې څه حکم دی؟

**جواب:** " ددین دار انجمن" حالات او عقائد پروفیسر الیاس برني مرحوم په خپل مشهور کتاب "قادیاني مذهب" کې ذکر کړي دي اوجناب مولانا مفتي رشید احمد لدهیانوي ددې فرقې په عقائدو باندې مستقله رساله د"بھیڑ کی صورت میں بھیڑیا" په نوم لیکلې ده. داډله، دقادیانانو یو څانګه ده او ددې ډلې باني بابو صدیق دین دار انجمن بسویشور پخپله هم دنبوت، بلکې دخدایي دعوی کړې وه.

---

۱] حواله بالا)_

په هرحال دا ډله مرتد او د اسلام نه خارج دي، دوی سره د مسلمانانو په شان معامله جائزنه ده، د دوی جنازه دې نه کیږي او نه دې د مسلمانانو په مقبره کې خښیږي، د دوی مرتدین کوم چې د مسلمانانو په مقبره کې دفن شوي دي، دهغو ویستل ضروري دي[۱] د دې خلاف دې احتجاج وکړل شي او دوی ته دې ووېل شي چې د مسلمانانو مقبره د دې مرداري نه پاکه کړي.

# ❖ کافرانو سره تعلقات ❖

..........................................

## کافر ته قرآن ورکول

**سوال:** قران پاك د انګریزي ترجمې سره که چېرې یو کافر د لوستلو له پاره وغواړي، نو ایا هغه ته قران پاك ورکول جائز دي او که نه؟

**جواب:** که چېرې تاسو مطمئن یئ چې هغه به د قران مجید بې حرمتي ونکړي، نو په ورکولو کې څه باك نشته هغه ته به ووېل شي چې غسل وکړه او د دې تلاوت کوه.[۲]

## کافر مور و پلار او خپلوانو سره تعلقات

**سوال:** زما د ټول خاندان تعلق د کافر طبقې سره دی او زه الحمد لله د حضور پاك ﷺ د رحمت په لمن کې د نمك خورونه یم، د حنفي مسلك په رڼاکې په مستند حوالو سره وفرمایئ چې زما د دغه خلکو سره ملاقات، خپلوي، اړیکې ساتل پکار دي او که نه؟ د پنځو کالو راهیسې زما د خپل زړه د اواز له وجې د دغو خلکو سره تعلق قطعا بند دی، د شریعت په رڼاکې د اهم

---

۱] اذامات (المرتد)او قتل على ردته لم يدفن فى مقابر المسلمين،ولا اهل ملة وانما يلقى فى حفرة كالكلب.(الاشباه والنظائر ج:۱ص:۲۹۱،الفن الثانى،طبع ادارة القرآن كراچى).ايضاً عن انس بن مالك قال.....فامر النبى صلى الله عليه وسلم بقبور المشركين فنبشت...الخ.(صحيح بخارى ج:۱ص:۶۱،طبع نور محمد كراچى)،وفى عمدة القارى:فان قلت كيف يجوز اخراجهم من قبورهم والقبر مختص بمن دفن فيه فقد حازه فلا يجوز بيعه ولا نقله عنه،قلت:تلك القبور التى امر النبى صلى الله عليه وسلم بنبشها لم تكن املاكاً لمن دفن فيها بل لعلها غصبت فلذلك باعها ملاكها وعلى تقدير التسليم انها حبست فليس بلازم انما اللازم تحبيس المسلمين لاالكفار ولهذاقالت الفقهاءاذا دفن المسلم فى ارض مغصوبة يجوز اخراجه فضلاً عن المشرك.(عمدة القارى ج:۲جزء:۴ص:۱۷۹،طبع دار الفكر،بيروت)۔

۲] ويمنع النصرانى من مسه،وجوزه محمد اذا اغتسل ولاباس بتعليمه القرآن والفقه عسى ان يهتدى.(درمختار ج:۱ص:۱۷۷).قال ابو حنيفة رحمه الله:اعلم النصرانى الفقه والقرآن لعله يهتدى،ولايمس المصحف وان اغتسل ثم مس لاباس كذافى الملتقط.(الفتاوى العالمگيرية،كتاب الكراهية،الباب الخامس ج:۵ص۳۲۳)۔

وښيئ چې زمادخپل پلار سره څنګه عمل پکاردی، چې دهغه تعلق هم دکافرطبقې سره دی هغه زمادتبليغ نه بالکل اثرنه اخلي،بلکې پسې شا په ماپسې ښيرې اوکنځل کوي، ايا د مذهبي فرق له وجې چې کومې ښيرې اوکنځلې کيږي اياددې هم څه حيثيت شته اوکه نه؟

**جواب:** مور و پلار چې کافران وي اودخدمت محتاج وي، نودهغوی ضرور خدمت کول پکاردي، خودهغوی سره دمحبت تعلق ساتل نه دي پکار[۱]، دغسې داسې خپلوانوسره هم دوستانه اود ورور ولي تعلق جائزنه دی[۲] ستادموراوپلاردکنځلواوښيرونه به په تاباندې هيڅ اثر نه پرېوزي، بلکې هغوی په دې طريقه اوعمل سره پخپله ګناه کې زياتوالی کوي.[۳]

## غېرمسلموخپلوانوسره تعلقات

**سوال:** زماديوخپلوان واده په هندوکورنۍ کې وشو، انجيلۍ مسلمانه شوه، اوس دهغه هندوانو سره تعلقات شروع شوي دي، دهغوی کورته تګ راتګ کيږي، اوس ددوی په کورکې به دخوراک څښکاك څه صورت وي اياددوی په کورونوکې هرقسمه خوراك کول سهي دي؟

**جواب:** دکافرو په خوراك کې څه باك نشته په دې شرط چې دا اطمينان وي چې دا خوراك حلال اوپاك دی[۴]، خو دغېرمسلموسره دمحبت اودوستي تعلق جائزنه دی.[۵]

## کافروسره دوستي

**سوال:** کافرانو سره دعاسلام(راشه درشه) اوهغوی ته پخپلولوښوکې خوراك څښاك ورکول جائزدي اوکه نه؟

---

۱] وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ ......وَاِنْ جَاهَدٰکَ عَلٰي اَنْ تُشْرِکَ بِي مَا لَيْسَ لَکَ بِه عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوْفًا،، (لقمان: ۱۵) فامر بمصاحبة الوالدين المشركين بالمعروف مع النهى عن طاعتهما فى الشرک لانه لاطاعة لمخلوق فى معصية الخالق.(احکام القرآن للجصاص ج:۳ص:۱۹۶ وايضاً تفسير ابن کثير ج:۵ص:۱۰۶).وفى الهندية:اذاکان لرجل اولامراة والدان کافران عليه نفقتهما وبرهما وخدمتهما وزيارتهما...الخ.عالمگيرى ج:۵ص:۳۴۸،الباب الرابع عشر فى اهل الذمة والاحکام التى تعود اليهم)۔

۲] لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَادُّوْنَ مَنْ حَادَّ اللهَ وَرَسُوْلَه وَلَوْ کَانُوْا اٰبَاءَهُمْ اَوْ اَبْنَاءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ....الخ،، (المجادلة: ۲۲)۔

۳] عن ابى الدرداء رضى الله عنه قال:سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:ان العبد اذالعن شيئاً صعدت... الى السماء..اى وان لم يکن اهلاً لها بان کان مظلوماً رجعت الى قائلها فانه المستحق لها واهلها.(مرقاة شرح مشکوة ج:۴ص:۶۳۷)۔

۴] ولاباس بالذهاب الى ضيافة اهل الذمة.(فتاوى عالمگيرى ج:۵ص:۳۴۷).ايضاً ولاباس بطعام المجوس کله الاالذبيحة فان ذبيحتهم حرام....الخ.(عالمگيرى ج:۵ص:۳۴۷،طبع بلوچستان)۔

۵] لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْکٰفِرِيْنَ اَوْلِيَاءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ،، (آل عمران: ۲۸)۔

**جواب:** دکافرانو سره خوراك او څښاك كول جائزدي[۱]، خوهغوی سره دوستي اومحبت جائزنه دی[۲] په مونږ او هغوی کې د عقائدو او اعمالو فرق دی.

## د کافرو خوراک جائزدی، خوهغوی سره دوستي جائز نه ده

**سوال:** زمایودوست عیسایي دی، زه روزانه دهغه کورته ځم راځم، اکثرهغه په ماباندې خوراك كوي، ايا له يوه كافر سره خوراك كول جائزدي اوكه نه؟ ځكه چې په كوم پليټ كې مونږ خوراك كوو په هغه کې اکثردغه خلک دخنزیرغوښه هم خوري.

**جواب:** لوښی چې پاك وي اوخوراك هم حلال وي، نودكافرو خوراك جائزدی[۳]. خودكافرو سره دوستي جائزنه ده.[۴]

## د کافروسره خوراک، څښاک او ملاقات

**سوال:** مونږ دمسافرو داوبوڅښلوله پاره دیخومانو(چاټيو) سبیل جوړکړی دی، یوه ورځ یو عیسایي زمونږدهغوچاټيو اوبه را وویستلې اوپه خپل ګلاس کې یې وڅښلې، مونږ هغه ته وویل چې اینده ددې ځای نه اوبه ونه څښې، هغه وویل چې زه ددې شي معافي غواړم، هلته یوعالم موجود و، مادهغه نه پوښتنه وکړه چې دا واقعه چې اوس ستاپه مخکې وشوه، ايا دا اوبه توي كړواوكه نه؟ هغه وویل چې اوبه تويې كړه اودايې هم وويل چې دا اهل كتابوسره تاسو خوراك څښاك كولی شئ، اوس دعیسایانوسره خوراك څښاك اودهغوی زمونږ دلوښوسره لاس لګول څنګه دي، خدای له پاره ددې جواب ضرور راکړئ، ددې له پاره چې زمونږ اصلاح وشي.

---

۱]ولاباس بالذهب الى ضيافة اهل الذمة.(فتاوى عالمگيرى ج:۵ص:۳۴۷).نيزابن كثير(ج:۲ص:۳۴۶)كي دى:واما نجاسة بدنه فالجمهور على انه ليس بنجس البدن والذات،لان الله تعالى احل طعام اهل الكتاب)_

۲]لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِينَ اَوْلِيَاءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤمِنِينَ وَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللهِ فِي شَيْءٍ اِلَّا اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ وَاِلَى اللهِ الْمَصِيرُ_ نهى تبارک وتعالى عباده ان يوالوا الكافرين،وان يتخذوهم اولياء يسرون اليهم بالمودة من دون المؤمنين.(تفسير ابن كثير ج:۲ص:۲۷طبع مكتبه رشيديه كوئته).ايضاً الكفر من المرتد اغلظ من كفر مشركى العرب.(الاشباه والنظائر مع شرحه للحموى ج:۲ص:۲۴۹)،والمرتد اقبح من الكافر الاصلى.(ايضاً ج:۱ص:۲۹۱،طبع ادارة القرآن)_

۳]قال محمد رحمه الله:ويكره الاكل والشرب فى اوانى المشركين قبل الغسل ومع هذا لو اكل اوشرب منها قبل الغسل جاز،ولايكون اكلاً ولاشارباً حراماً،وهذا اذالم يعلم بنجاسة الاوانى.(عالمگيرى ج:۵ص:۳۴۷)_

٤] قال تعالى:"ياايها الذين امنوا لاتتخذوا عدوى وعدوكم اولياء تلقون اليهم بالمودة......الخ" (الممتحنة:۱) وقال تعالى: لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِينَ اَوْلِيَاءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤمِنِينَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللهِ فِي شَيْءٍ اِلَّا اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ وَاِلَى اللهِ الْمَصِيرُ(آل عمران:۲۸)_

**جواب:** ديو كافر په اوبو راخيستلو سره لوښي او اوبه نه پليتيږي[۱]، يو كافر ته تاسو په خپل دسترخوان باندې خوراك هم وركولى شئ[۲].
دنبي كريم ﷺ په دسترخوان باندې به كافرو هم خوراك كولو[۳]، كافرو سره دوستانه محبت كول جائزنه دى.[۴]

## دكافرو مذهبي پروگرامونه (اخترونه)

**سوال:** كه چېرې يو مسلمان دهندوانو مذهبي اخترونو كې دهغوى سره ددوستي يا كاروباري تعلق له وجې شركت وكړي، نو داسې كول په شرعي لحاظ سره څنګه دي؟
**جواب:** دكافرانو مذهبي پروگرامونو او رسوماتو كې شركت كول جائزنه دي، په حديث شريف كې راغلي دي چې كوم سړي ديو قوم ډله زياته كړه هغه به هم په هغوى كې شمار وي.[۵]

## كافر سره ډوډۍ خوړل جائزدي، مرتد سره جائز نه دي

**سوال:** ديو مسلمان له پاره ديو كافر سره خوراك او څښاك كول جائزدي او كه نه؟
**جواب:** دغيرمسلم سره خوراك- څښاك كول جائزدي[۶]، خو دمرتد سره جائزنه دي.[۷]

## ايا كافرانو سره په خوراك كولو خو ايمان نه كمزوري كيږي

**سوال:** زما مسئله داسې ده چې زه په يو لوى پروجيكټ باندې كار كوم چې په هغه كې ډېرى مسلمانان كاركوي، خو په دې پروجيكټ كې دكاركونكو دويم لوى تعداد د مختلف قسمه عيسايانو دى، هغوى تقريبا په هرهوټل كې پرته له پوښتنې خوراك كوي او هرقسمه لوښي

---

۱]ولوادخل الكفار او الصبيان ايديهم لايتنجس اذالم يكن على ايديهم نجاسة حقيقية.(حلبى كبيرص:۱۰۳)
۲]ولاباس بان يضيف كافرًا.(عالمگيرى ج:۵ص:۴۳۷،طبع بلوچستان)۔
۳]وانزل وفد عبدالقيس فى دار رملة بنت الحارث واجرى عليهم ضيافة واقاموا عشرة ايام.(طبقات ابن سعد ج:۱ص:۳۱۵،طبع دار صادر،بيروت)۔
۴] "ياايها الذين امنوا لاتتخذوا عدوى وعدوكم اولياء تلقون اليهم بالمودة......الخ"(الممتحنة:۱) لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَاءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ، (آل عمران: ۲۸)۔
۵] عن عبدالله بن مسعود قال:سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:من كثر سواد قوم فهو منهم ومن رضى عمل قوم كان شريكاً لمن عمله.(المطالب العاليه ج:۲ص:۴۲).ايضاً والاولى للمسلمين ان لايوافقوهم على مثل هذه الاحوال لاظهار الفرح والسرور.(شامى ج:۶ص:۷۵۵،طبع ايچ ايم سعيد)۔
۶]ولاباس بالذهاب الى ضيافة اهل الذمة.(فتاوى عالمگيرى ج:۵ص:۳۴۷)نيزابن كثير ج:۲ص:۳۴۶ كى دى:واما نجاسة بدنه فالجمهور على انه ليس بنجس البدن والذات لان الله تعالى احل طعام اهل الكتاب)۔
۷] لاتجالسوا اهل القدر اى لاتوادوهم ولاتحابوهم......ان المجالسة تشتمل على المؤاكلة والمؤانسة...الخ.(المرقاة شرح مشكوة ج:۱ص:۱۴۹ طبع دهلى)۔

استعمالوي، مهرباني وکړئ شرعي مسئله وښيئ، چې دوی سره په خوراك-څښاك کې خوبه زمونږ ایمان نه کمزوری کیږي؟

**جواب:** اسلام دمتعدي ناروغيو قائل نه دی، دکافرانو سره دوستي ساتل اودهغوی شکل او صورت اختیارول اودهغوی عادتونه او طريقې خپلول حرام دي[۱]،خوکه ددوی لاسونه پلیت نه وي، نوددوی سره خوراك کول هم جائزدي[۲]، دنبي عليه السلام په دسترخوان باندې کافرانوهم خوراك کړې دی[۳]،خوطبعي کرکه بيله خبره ده.

## دکافر په لاس دپخ شوي شي خوړل

**سوال:** زمونږ دکمپنۍ نان بای کافردی،هندو دی، ایامونږدهغه دلاس پخ شوي شیان خوړلی شو، مونږمسلمانان ډیر یو، خو پاکستاني ډیرلږ دي.

**جواب:** دکافروپه لاس دپخ شوي شي خوړل جائزدي، خوپه دې شرط چې دهغه لاسونه پاك اوصفا وي.[۴]

## دچینایانواو نوروکافرانوپه هوټلونوکې له حلالې پرته شی خوړل

**سوال:** له څه مودې وراندې زما په ذهن کې دیوې خبرې غم و، هغه دا چې زمونږ دځای اکثر خلك شوقاینه دچینایانوپه هوټلونوکې خوراك کوي، خو ددې خبرې تحقیق نه کوي چې کوم خوراك دوی کوي دا حلال دی اوکه حرام؟ زمایودوست ماته وویل چې کله ما معلومات وکړل او پته ولګېده چې داهوټل والا نه یوازې داچې څناور په خپل لاس حلالوي، بلکې ځینې وخت مړه شوي چرګان هم ذبحه کوي،زماعرض دادی چې دکافروپه لاس ذبحه شوي څناور حلال دي اوکه نه؟

**جواب:** په داسې هوټلونوکې خوراك کول نه دي پکار، چیرته چې دپاك-ناپاك، دحرام اوحلال تمیزنه کیږي[۵]داهل کتابودلاس ذبیحه حلاله ده ،خوپه دې شرط چې هغه اهل

---

۱]وعنه قال:رسول الله صلى الله عليه وسلم:من تشبه بقوم فهومنهم.(مشكوة ص:۳۷۵)وفى المرقاة:من تشبه بقوم اى:من شبه نفسه بالكفار مثلاً فى اللباس وغيره او بالفساق او الفجار او باهل التصوف والصلحاء الابرار(فهو منهم).اى فى الاثم والخير.(مرقاة شرح مشكوة ج:٤ص:٤٣١طبع اصح المطابع،بمبئى)۔

۲]ولوادخل الكفار او الصبيان ايديهم لايتنجس اذالم يكن على ايديهم نجاسة حقيقية.(حلبى كبيرص:۱۰۳)

۳]وانزل وفد عبدالقيس فى دار رملة بنت الحارث واجرى عليهم ضيافة واقاموا عشرة ايام.(طبقات ابن سعد ج:۱ص:۳۱۵)۔

٤]ولاباس بالذهب الى ضيافة اهل الذمة.(فتاوى عالمگيرى ج:٥ص:۳٤۷)نيزابن كثير ج:۲ص:۳٤٦ کی دی:واما نجاسة بدنه فالجمهور على انه ليس بنجس البدن والذات لان الله تعالى احل طعام اهل الكتاب)۔

٥]ان ما اشتبه امره فى التحليل والتحريم ولا يعرف له اصل متقدم فالورع ان يتركه ويجتنبه.(مرقاةشرح مشكوة ج:٦ص:۳۷،طبع مكتبه امدادية ملتان)۔

کتاب هم وي، د اهل کتابونه پرته د نورو کافرانو د لاس ذبيحه حرامه ده.[1]

## د مختلفو مذهبونو خلکو په يوځای خوراک کول

**سوال:** که چېرې سل کسان يوځای خوراک کوي اوچيني يا دستيل لوښي وي اوهغه يوازې په ګرمو اوبو وينځل کيږي، سل کسانو کې عيسايان، هندوان، سکان اومرزايان وي، دا لوښي يوبل سره بدليږي رابدليږي، که چېرې دعيسايي، سکه، هندو،مرزايي لوښي يو مسلمان ته راشي، نوايادا جائزدي که جائزنه دي؟ په فوجيانوکې داسې کيږي،که حکومت داسې ونه کړي ،نودفوجيانوپه زړو کې ديوبل خلاف پيدا کېدای شي.

**جواب:** دکافر لاس که پاك وي، نودده سره خوراك هم جائزدی[2]اودده استعمال شوی لوښي که ووينځل شي، نوپه استعمال کې يې څه باك نشته[3]،زموږ دين په دې معامله کې تنګي نه کوي، خو دکافر سره زياته دوستي کول اودهغوی له عاداتو اوطريقو خپلولو نه منع شوې ده.[4]

## دداسې لوښواستعمال چې کافران يې هم استعمالوي

**سوال:** زموږ په علاقه کې ښادي اوداسې نورو محفلونوکې ډيکوريشن والاوو ته خلك ورځي، دديګونو،پليټونو،جګ او ګلاس له پاره، دالوښي موږ هم استعمالوو اونورقومونه يې هم استعمالوي، لکه هندوان او چوړيان، عيسايان، اوبهيل اوداسې نور...هم، ددې لوښواستعمال زموږ له پاره ترکومه حده پورې صحيح اوجائزدی؟

**جواب:** دوينځلونه وروسته استعمالولوکې يې څه شرعي قباحت نشته.[5]

---

۱] لاتحل ذبيحة غير كتابي من وثني ومجوسي ومرتد....الخ.(درمختار ج:٦ص:٢٩٨،طبع ايچ ايم سعيد)۔

۲]واما نجاسة بدنه فالجمهور على انه ليس بنجس البدن والذات،لان الله تعالى احل طعام اهل الكتاب.(تفسير ابن كثير ج:٢ص:٣٤٦،سهيل اكيدمى) ولوادخل الكفار او الصبيان ايديهم لايتنجس اذالم يكن على ايديهم نجاسة حقيقية.(حلبى كبير ص:١٠٣)۔

۳]قال محمد رحمه الله تعالى ويكره الاكل والشرب فى اوانى المشركين قبل الغسل ومع هذالو اكل اوشرب فيها قبل الغسل جاز ولايكون اكلاً ولاَ شارباًحراماً وهذا اذالم يعلم بنجاسة الاوانى...الخ.(فتاوى عالمگيرى ج:٥ص:٣٤٧)۔

٤] سورة (٥) مائده : ٥١، وفى الجصاص:ويدل على وجوب البراءة من الكفار والعدواة لهم،لان الو لاية ضد العداوة فاذا امرنا بمعاداة اليهود والنصارى لكفرهم وغيره هم من الكفار بمنزلتهم...الخ.(احكام القرآن للجصاص ج:٢ص:٤٤٤،سهيل اكيدمى،لاهور)۔

٥] وقال محمد رحمه الله تعالى:ويكره الاكل والشرب فى اوانى الشركين قبل الغسل ومع هذا لو اكل اوشرب فيها قبل الغسل جاز ولايكون آكلاً ولاشارباً حراماً وهذا اذالم يعلم بنجاسة الاوانى...الخ.(عالمگيرى ج:٥ص:٣٤٧)۔

## د هندوانو خوراک د هغوی په لوښو کې خوړل

**سوال:** دلته «ام القوين» کې د هرمذهب خلک دي، زیاتره په کې هندوان دي او په هوټلونو کې هندوان کارکوي، اوس موږ پاکستانیانو ته دا وښیئ چې د غلته خوراک جائزدی او که نه؟ امید دی چې جواب به ضرور راکړئ.

**جواب:** که چېرې د هندوانو لوښي پاك او اطمینان يې وي چې حرام او پلیت شی په خوراك کې نه اچوي، نو د هغوی د دوکان نه په خوراك کولو کې څه باك نشته.[۱]

## د هندو ګټه چې حلاله وي د هغه دعوت خوړل جائزدي

**سوال:** که چېرې هندو او مسلمان په خپل مینځ کې دوستان وي ، هندو جائز کسب کوي او هندو دوست په مسلمان دوست باندې خوراك ښباك کوي، نو ایا د مسلمان دوست له پاره د هندو دوست د شیانو خوړول او څښل جائزدي؟ که چېرې جائزنه وي، نو بیا به دا مسلمان د حرام خوراك په وعید کې شامل وي؟

**جواب:** د هندو ګټه که په حلالې طریقې وي، نو د هغه د دعوت خوراك جائزدی.[۲]

## بهنګي (چوړې) چې پاکولاسونو سره خوراک کوي نو لوښي نه پلیتیږي

**سوال:** یو چوړی چې د ځان نه مسلمان جوړکړي او په یو هوټل کې خوراك وکړي او د هوټل مالك ته دا پته نه وي چې دا چوړی دی ایا د هوټل دا لوښي پلیت شو او که نه؟

**جواب:** که د چوړي لاسونه پاك وي، نو د هغه په خوراك سره لوښي نه پلیتیږي.[۳]

## د شیعه ګانو او قادیانانو د کور خوراک

**سوال:** د شیعه ګانو د کور خوراك جائزدی او که نه؟ د قران او سنت په رڼاکې ښکاره کړئ بل دا چې د قادیاني د کورخوراك صحیح دی که غلط؟

**جواب:** د شیعه ګانو د کورنه حتی الوسع خوراك نه دی پکار او د قادیاني حکم، خو د مرتد دی د هغوی کور ته تلل او هېڅ قسمه تعلق صحیح نه دی.[۴]

---

۱] اوګورئ تیره شوی حاشیه (عن ابی ثعلبة الخشنی انه قال:یارسول الله!انا بارض اهل کتاب...الخ) او وروستی حاشیه (وقال محمد رحمه الله تعالی:ویکره الاکل والشرب فی اوانی المشرکین...الخ)۔

۲] اهدی الی رجل شیئاً اواضافه ان کان غالب ماله من الحلال فلا باس به.(فتاوی عالمګیری ج۵ ص۳۴۲)

۳] ولوادخل الکفار اوالصبیان ایدیهم لاینتجس اذا لم یکن علی ایدیهم نجاسة حقیقیة. (حلبی کبیر ص۱۰۳)

٤] قال تعالی: ولا ترکنوا الی الذین ظلموا فتمسکم النار،، (هود: ۱۱۳)، یاایهاالذین امنوا لاتتخذوا عدوی وعدوکم اولیآء.....الخ،، (الممتحنة: ۱)۔

## شيعه ګانو سره دوستي کول څنګه دي

**سوال:** سني مسلمانانو او شيعه ګانوکې مذهبي طورباندې مکمل اختلاف دی، يعنې د پيدائش نه دمړکېدو وروسته پورې په ټولو مسئلوکې واضحه فرق دی، د دواړو ايمانيات، اخلاقيات او ددين اسلام ارکان مختلف دي، نودشيعه مسلك والاووسره دوستي ساتل څنګه دي؟ او څوك چې ورسره دوستي کوي دهغه متعلق اسلام څه وايي؟ ددوی سره دمسلمان نکاح کېدای شي؟ ددوی په غم- ښادي کې دمسلمان شرکت جائزدی اوکه نه؟ دوی سره ناسته-پاسته اوخوراك-څښاك کول جائزدي؟ ددوی خيرات، وريژې ،ډوډۍ وغيره خوړل جائزدي اوکه نه؟ مسلمانان په خپل واده کې دوی ته دعوت ورکړي اوکه نه؟ که چېرې يوشيعه ګاونډی وي، نودهغه سره څنګه سلوك وکړل شي، ايا دهغوی پوخ شوی شی استعمال کړل شي اوکه نه؟

**جواب:** دشيعه ګانوسره دوستي اومعاشرتي تعلقات جائزنه دي[۱] دهغوی دشيانوپه خوراك څښاك کې څه باك نشته،خوپه دې شرط چې دا اطمينان وي چې هغه حرام ياناپاك نه دي.[۲]

## د عيسايي د لاس وينځل شوې جامې او جوړه شوی لوښی

**سوال:** زمايه کورکې يوه عيسايي ښځه جامې وينځي داخلک ګنده کارنه کوي، خاوندېې په مل کې نوکردی اوښځه يې دخلکوجامې وينځي، ايادهغې وينځل شوې جامې به موږ په دويم ځل پاکوو ياهمدغه داستعمال قابلې دي اوزه دخدای په فضل پنځه وخته لمونځ کوم اوددې له پاره بېل لوښی پکاردی اوکه هغه ووينځواوبيايې استعمالوو؟

**جواب:** که چېرې جامې درې ځله ووينځي اوپاکې يې کړي، نودهغوی وينځل شوې جامې پاکې دي[۳]،په دويم ځل دپاکولوضرورت نشته او دغيرمسلموجوړه لوښي وينځلونه وروسته استعمالول صحيح دي.[۴]

---

۱]قال تعالي: ''ولاترکنوا الی الين ظلموا فتمسکم النار''(هود:۱۱۳)، ''ياايها الذين امنوا لاتتخذوا عدوی وعدوکم اولياء تلقون اليهم بالمودة وقد کفروا بماجاء کم من الحق......الخ''(الممتحنة:۱)۔

۲] ولاباس بطعام المجوس کله الا الذبيحة فان ذبيحتهم حرام ولم يذکر محمد رحمه الله تعالیٰ الأکل مع المجوسی ومع غيره من اهل الشرک انه هل يحل ام لا؟ وحکی عن الحاکم الامام عبدالرحمن الکاتب انه ان ابتلی به المسلم مرة او مرتين فلا بأس به واما الدوام عليه فيکره، کذا فی المحيط (عالمګيري/ج۵/ص۳۴۷) ايضاً فلاتوکل ذبيحة اهل الشرک والمرتد (عالمګيري/ج۵/ص۲۸۵)۔

۳](الفصل الأول فی تطهير الانجاس) مايطهر به النجس عشرة (منها) الغسل يجوز تطهير النجاسة بالماء وبکل مائع طاهر.....وازالنها ان کانت مرئية بازالة عينها واثرها ان کانت شيئاً يزول اثره (عالمګيري/ج۱/ص۴۱)

٤] اوګورئ تېره شوی حاشيه (عن ابی ثعلبة الخشنی انه قال:يارسول الله!انا بارض اهل کتاب...الخ) او وروستی حاشيه(وقال محمد رحمه الله تعالی:ويکره الاکل والشرب فی اوانی الشرکين....الخ)۔

## د کافر هديه قبلول

**سوال:** دلته اکثره غيرمسلمه هنداون، عيسايان، سکان وغيره اوسيږي، کله چې په دوی کې دچاځه دخوشالي ورځ يابله څه ورځ راشي، نودوی په خپل سټاف کې خلکوته په خوشالي کې دخوراك څښاك شيان ورکوي په داسې موقعه باندې دمسلمانانو له پاره دخوراك څښاك داشيان جائزدي اوکه نه؟

**جواب:** دکافر هديه قبلول جائزدي خو په دې شرط چې ناپاکه نه وي.[1]

## دکافر سره مرسته (امداد) کول

**سوال:** ديوکافر سره مددکول په اسلام کې جائزدي؟زماسره يوځو دعيسايي مذهب والاخلک کار کوي چې هغوی کې اکثرزمانه دمالي مدد مطالبه کوي، دا مدد کله په طوردقرض وي اوکله هغه روپۍ چې واخلي، نوبيايې بېرته نه راکوي په داسې صورت کې، اياواقعي زما دهغوی سره مددکول پکاردي؟

**جواب:** کافرکه محتاج وي اوته دمددکولو طاقت لرې، نوضرور ورکول پکاردي حسن سلوك، خو هر چا سره پکاردی، خوکوم کافرچې مسلمانانوته تکليف رسوي دهغه سره دمرستې اجازه نشته.[2]

## د کافرو په درمسال يا ګرجه جوړولو کې مرسته کول

**سوال:** په اسلام کې ددې شي ګنجائش چې مسلمانان دې دکافرو په ګرجه يامندر وغيره جوړولو کې مدد وکړي اوپه دې قسمه تقريباتوکې برخه واخلي؟دې ته غيرمتعصبانه رويه او د اقليتونو سره دښه تعلقاتو جوړولو نوم ورکول کيږي، اګرچې په اسلام کې کافرانوته مذهبي ازادي حاصله ده، خو ددوی حوصله افزايي کول ترکومه حده پورې صحيح دي؟

**جواب:** په اسلامي ملك کې کافرانو ته مذهبي ازادي شته، خودهغه هم حدود دي چې دهغو تفصيلات د فقهي په کتابونوکې ذکردي.[3]

خلاصه داچې دکافرانومذهبي ازادي دمسلمانانو د مذهبي بې عزتي تر حده پورې

---

۱] واهل الذمة فى حکم الهبة بمنزلة المسلمين، لانهم التزموا احکام الاسلام فيما يرجع الى المعاملات (فتاوي عالمگيري/ج۴/ص۴۰۵/طبع بلوچستان)_

۲] ولاباس بان يصل الرجل المسلم والمشرک قريباً کان اوبعيداً، محارباً کان اوذمياً واراد بالمحارب المستأمن، واما اذاکان غيرالمستأمن فلاينبغى للمسلم ان يصله بشيء کذا فى المحيط(عالمگيري/ج۵/ص۳۴۷/طبع بلوچستان)

۳] تفصيل دپاره اوګورئ:عالمگيري/ج۵/ص۳۴۶، شامي/ج۴/ص۲۰۲، هدايه/ج۲/ص۵۹۷، البحرالرائق /ج۵/ص۱۲۱،البدائع الصنائع /ج۷/ص۱۱۳/الاشباه والنظائر مع شرحه للحموی /ج۲/ص۱۷۷)

رسیدل نه دي پکار[۱]. الله تعالی دې مسلمانانو ته ایمان او عقل نصیب کړي.

## د یو مسلمان د ځان بچ کولو له پاره هغه ته د کافر وینه ورکول

**سوال:** یو مسلمان ته د ځان بچ کولو له پاره دیو کافر وینه ورکول جائز دي او که ناجائز دي؟

**جواب:** جائز دي.[۲]

## د مرتدو خلکو له جوماتونو نه د ویستلو حکم

**سوال:** که چیرې یو قادیاني زموږ جومات ته راشي او په یوه کونج کې ځان ته لمونځ وکړي، نو موږ ده ته دا اجازه ورکولی شو، چې هغه دې زموږ په جومات کې د خپلې غوښې لمونځ کوي.

**جواب:** دیو کافر زموږ په اجازې سره زموږ په جومات کې لمونځ کول صحیح دي، د نجران د نصارا وو کوم وفد چې د نبي علیه السلام په دربار کې حاضر شوی و، هغوی په مسجد نبوي ﷺ کې خپل عبادت کړی و، دا حکم خو د کافر دی[۳]، خو کوم سړی چې د اسلام نه مرتد شوی وي هغه ته په هیڅ حال کې جمات ته د داخلیدو اجازه نه شي ورکول کیدای، د غه شان چې کوم مرتد او زندیق چې خپل کفر ته اسلام وايي، لکه قادیاني او مرزایي، دوی ته هم جومات ته د راتلو اجازه نه شي ورکول کیدای.[۴]

---

۱] ولایجوز احداث بیعة ولاکنیسة فی دار الاسلام لقوله علیه السلام لاخصاء فی الاسلام ولاکنیسة والمراد احداثها وان انهدمت البیع والکنائس القدیمة اعادوها......ولهٰذا فی الامصار دون القریٰ لأن الأمصار هی التی تقام فیها الشعائر فلا تعارض باظهار مایخالفها......الخ (هدایة/ج۲/ص۵۹۷/طبع شرکت علمیه ملتان)۔

۲] وکذا کل تداولایجوز الا بطاهر وجوزه فی النهایة بمحرم اذا اخبره طبیب مسلم، ان فیه شفاء ولم یجد مباحاً یقوم مقامه (ردالمحتار علی الدرالمختار/ج۶/ص۳۸۹/طبع ایچ ایم سعید)۔

۳] قال ابن اسحاق: وغد علیٰ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفد نصاریٰ نجران بالمدینة......قال: لماقدم وفد نجران علی رسول الله صلی الله علیه وسلم دخلوا علیه مسجده بعد صلاة العصر، فحانت صلاتهم فقاموا یصلون فی مسجده، فاراد الناس منعهم، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ''دعوهم'' فاستقبلوا المشرق فصلوا صلاتهم (زادالمعاد فی هدی خیر العباد/ج۳/ص۶۲۹، طبع مؤسسة الرسالة بیروت) فصل فی فقه هٰذه القصة ففیها جواز دخول اهل الکتاب مساجد المسلمین وفیها: تمکین اهل الکتاب من صلاتهم بحضرة المسلمین وفی مساجدهم ایضاً اذا کان عارضاً ولا یمکنون من اعتبار ذلک (زاد المعاد/ج۳/ص۶۳۸، طبع بیروت)۔

۴] ''انما المشرکون نجس......'' فمنع الله المشرکین من دخول المسجد الحرام نصاً، ومنع دخوله سائر المساجد تعلیلاً بالنجاسة بوجوب صیانة المسجد من کل نجس وهٰذا کله ظاهر لاخفاء فیه (احکام القران لمفتی محمد شفیع/ج۲/ص۲۰۹)، ایضاً الکفر من المرتد اغلظ من کفر مشرکی العرب (الاشباه والنظائر مع شرحه للحموی/ ۲/۲۴۹) والمرتد اقبح کفراً من الکافر الاصلي (ایضاً ج:۱/ص۲۹۱/طبع ادارة القران کراچی)۔

## د بتانو د نذر خوراک حرام دی

**سوال:** د هندوانو په خوشالیو کې د "پرشاد" په نوم خوراك تقسيميږي چې په هغو کې ميوې اوپخ شوی خوراك هم وي داخوراك دمختلفو بتانو په نوم نذرکړي اوبيايې تقسيموي، داځيني مسلمانان هم خوري، مهرباني وکړئ دا وښيئ چې دا دمسلمانانو له پاره مطلق حرام دي او که جائزدي؟

**جواب:** دبتانو په نوم نذرشوي شيان شرعا حرام دي، ديومسلمان له پاره ددې خوراك کول جائزنه دي.[1]

## کافر او خاصې عهدې

**سوال:** يوه ډله وايي چې" کافرته کافر ويل نه دي صحيح" ايا دده دا خبره صحيح ده؟

**جواب:** قرآن، خوکافرانو ته کافر ويلي دي.[2]

**سوال:** ايا په اسلامي ملك کې کافرانو او مرتدينو ته اهمې عهدې ورکول کېدای شي؟ که چېرې جواب په نفې کې وي، نودا وښيئ چې ددې خلکو په اسلامي ملك کې په اهمو عهدو باندې فائز کېدو په صورت کې دې اسلامي ملك باندې څه فرائض راتللی شي؟

**جواب:** کافرانو ته په اسلامي ملك کې اهمې عهدې ورکول دقرآن په دليل سره منع دي.[3]

## دچاچې مسلماني معلومه نه وي هغه ته سلام اچول نه دي پکار

**سوال:** دلته داپته نه لګيږي چې کوم سړی دکوم مذهب سره تعلق ساتي پرته له سکانو نه، څنګه چې دهندوانو او عيسايانو او زموږ د مسلمانانو يوشان جامې او يوانداز دی، ديوڅوکسانو نه پرته چې دهغوی شکل او صورت نه پته لګيږي چې دامسلمان دی يا د ټوپی وغيره پسرکولونه،نوايا په مشترکه اومشکوك حالت کې موږ سلام کوو او که نه؟

---

[1] ''انما حرم عليکم الميتة......وماهل به لغير الله''(البقرة/۱۷۳) وکذالک حرم عليهم ماهل به لغيرالله وهو ما ذبح على غيراسمه تعالیٰ من الانصاب والانداد والازلام ونحوذلک مماکانت الجاهلية ينحرون له (تفسير ابن کثير/ج۱/ص۴۲۱) پس نذر کردن برای اولياء جائز نيست که نذرعبادت است (ارشاد الطالبين از قاضی ثناء الله پانی پتي/ص۱۸)

[2] ''قل ياايها الکفرون''(الکافرون:۱)۔

[3] ''ياايها الذين امنوا لاتتخذوا اليهود والنصاريٰ اولياء''(المائدة/۵۱) ''ياايهاالذين امنوا لاتتخذوا بطانة من دونکم..........الخ وفی هٰذه الاية دلالة عليٰ انه لاتجوز الاستعانة باهل الذمة فی امور المسلمين من العمالات والکتبة (احکام القران للجصاص/۲/ص۳۷) نيز تفصيل دپاره اوګورئ: جواهر الفقه/ ج۲/ص۱۹۵/طبع مکتبة دارالعلوم کراچی)

**جواب:** دکوم سړي په باره کې چې دا اطمينان نه وي چې مسلمان دی،هغه ته سلام اچول نه دي پکار.[۱]

## کافر استاد ته سلام کول

**سوال:** که چېرې استاد غيرمسلم وي نو اياهغه ته السلام عليکم ويل پکار دي اوکه نه؟

**جواب:** غيرمسلموته سلام کول نه دي پکار.[۲]

**سوال:** په مباحو علوموکې دغيرمسلم استاذانوشاگر دی ،اُستاد له ده نه په علم اوعمر کې لوی وي څنگه چې ددنيا رواج دی چې شاگرد داستاد نه په سلام کې مخکې کيږي نو هغه په کوم قسم سلام سره مخاطب کول پکاردي،.مثلاً هندوانوته نمستې يا عيسايانوته گډ مارننگ" ووايي ياهيڅ ونه وايي اودکارخبره شروع کړي په لاره تلو کې ملاقات کيدوباندې له سلام اودعانه پرته تيرشي؟

**جواب:** غيرمسلمه باندې په سلام کې مخکې کيدل خونه دي پکار،خو که چېرې هغه په سلام کې مخکې شي، نويوازې وعليکم ويل پکاردي[۳] ملوکه چېرې داسې موقع راشي، نودسلام په ځای دې دهغه دخيريت پوښتنه وکړل شي، داسې ويل پکار دي چې تاسو څنگه يئ؟"مزاج مو ښه دی؟" خيريت خودی،"اوداسې نورو الفاظو سره دې دهغه زړه وساتل شي.

## د کافرانوله پاره د ايمان اوهدايت دعا غوښتل جائزدي

**سوال:** زموږ دمحلې په جومات کې دجمعې دلمانځه نه وروسته په لوړ اواز سره رب العالمين مخاطب کړي اويوازې دمسلمانانو له پاره دخير دعاگانې غوښتل کيږي اوس زموږ يودوست وايي چې دعاگانې يوازې دمسلمانانوله پاره غوښتل نه دي پکار،بلکې دټولو له پاره غوښتل پکادي،ستاسو څه خيال دی؟

**جواب:** د کافرانو له پاره دهدايت اودايمان دعاغوښتل پکاردي.[۴]

---

۱] ولوسلم على من لم يعرفه، فبان ذمياً استحب ان يسترد سلامه، بان يقول: استرجعت سلامي، تحقيراً له (مرقاة شرح مشكوٰة/ج۴/ ص۵۵۶/طبع بمبئ)۔

۲] وفى شرح البخارى للعينى فى حديث: ''اى الاسلام خير؟..قال:تقرأ السلامعلى من عرفت ومن لم تعرف قال: وهٰذا التعميم مخصوص بالمسلمين، فلايسلم ابتداءً على كافر (درمختار/ج۶/ص۴۱۲/طبع ايچ ايم سعيد)

۳]فلايسلم ابتداءً على كافر لحديث: ''لاتبدؤا اليهود ولاالنصاريٰ بالسلام......'' ولو سلم يهودي ......على مسلم فلا بأس بالرد ولكن لايزيد على قوله:''وعليک'' (الدرالمختار/ج۶/۴۱۲)۔

٤] ولود عٰى له(اى للدمي) بالهديٰ، جاز لانه عليه السلام قال: ''اللهم اهد قومى فانهم لايعلمون'' كذا فى التبيين (فتاويٰ عالمگيري/ج۵/ص۱۱۸/طبع بلوچستان)۔

## د نرګس ادا کارې مرتد کیدو سره د هغې جنازه جائز نه وه

**سوال:** سوال دادی چې یو مسلمان چې وروسته کافرشي او په همدې حال کې مړشي، نو دهغه جنازه کیږي اوکه نه؟ددې تازه مثال اوس په هند کې مخې ته راغی،چې په اخبارونو کې دهغه ډیرشهرت وشو، دبهارت مشهوره فلمي ایکټره نرګس چې مخکې مسلمانه وه ، واده یې له یوهندو سره وکړ اوله دواده سره یې مذهب هم بدل کړ، اودهندو مذهب نوم"نرملا" یې په ځان کېښوداو باقاعده به یې دهغوی مذهب عبادت کاو،اوپه همدې حالت کې مړه شوه،اودهغې یې باقاعده جنازه وکړه اوښخه یې کړه،اوهندوانوپرې دلرګوډهیری جوړکړ اوخپل پوره پوره رسمونه یې پرې سرته ورسول،تاسوپخپله سوچ وکړئ چې ددې جنازه څنګه اوپه څه طریقه کیدای شوه؟ایا دا اسلام پورې ټوکې نه دي؟ چې دادوی ادا کاري کني،تاسودخدای له پاره ددې جواب راکړئ،ځکه چې موږ پاکستانیانوباندې ددې خبرډیراثرشوی دی او موږ به ستاسودجواب انتظارکوو.

**جواب:** دغیرمسلم جنازه جائزنه ده[۱]،اومرتدخوشرعاً واجب القتل دی[۲]دهغه جنازه به څنګه جائزشي؟ تاسوصحیح لیکلي دي چې کومو خلکو دنرګس مرتدې جنازه وکړه،هغوی په اسلام پورې ټوکې کړي دي(استغفرالله).

## د شرعي احکامو نه د منکروحاکمانو جنازه کول

**سوال:** کوم حاکمان چې دشریعت مطهره توهین کونکي دي، نودسورت مائدې پاره: ۲ ایت: ۴۴، ۴۵، ۴۷، په رڼا کې دداسې حاکمانو جنازه کیدای شي یادهغوی له جنازې پرته خښول پکاردي؟

**جواب:** کوم سړی چې دیوشرعي حکم توهین وکړي، نوهغه مرتددی[۳]، په هغه دجنازې لمونځ نه کیږي، ځکه چې دجنازې لمونځ خویوازې په مسلمان کیږي.[۴]

---

۱] ''ولاتصل علیٰ احدمنهم مات ابدا ولاتقم علی قبره الخ'' (التوبه/۸۴) ایضاً امرالله تعالیٰ رسوله صلی الله علیه وسلم ان یبرا من المنافقین، والایصلی علی احدمنهم اذا مات، والا یقوم علی قبره لیستغفر له اویدعوله، لانهم کفروا بالله ورسوله، وماتواعلیه، وهٰذا حکم عام فی کل من عرف نفاقه (تفسیر ابن کثیر/ج۳/۴۲۵/طبع کوئته) ایضاً: وشرطها ستة: اسلام المیت وطهارته (قوله وشرطها) ای شرط صحتها(قوله اسلام المیت) ای ولو بطریق التبعیة لاحد ابویه..الخ (ردالمحتارمع درالمختار/ج۲/۲۰۷/مطلب فی صلاة الجنازة)

۲]واذا ارتد المسلم عن الاسلام والعیاذ بالله عرض علیه الاسلام، فان کانت له شبهة کشفت عنه......ویحبس ثلاثة ایام، فان اسلم، والاقتل وفی الجامع الصغیر: المرتد یعرض علیه الاسلام حراً کان اوعبداً فان ابی قتل......الخ (هدایة/ج۲/ص۶۰۰)۔

۳]الاستهزاء بحکم من احکام الشرع کفر (شرح فقه اکبر/ص۲۱۷)۔

٤] ایضا اوګورئ تیره شوی حواله (''ولاتصل علیٰ احدمنهم مات ابدا ولاتقم علی قبره الخ'' (التوبه/۸۴) ایضاً امرالله تعالیٰ رسوله صلی الله علیه وسلم ان یبرا من المنافقین....الخ)

## د کافر له نوم نه وروسته مرحوم لیکل ناجائزدي

**سوال:** چې کله یو هندو یا بل کافر مړ شي، نو د مرګ نه وروسته چې د هغهٔ نوم اخیستل کیږي، نو هغه ته (انجهاني) وائی، خو ما په بعضی کتابونو کې د هندوانو وړاندې د مرحوم لفظ لیدلی دی، ایا دا جائز دي او د مرحوم د لفظ وضاحت وکړئ! الله تعالی به تاسو ته د خیر بدله درکړي.

**جواب:** کافر سره له مرګ نه وروسته "مرحوم" لیکل نه دي پکار، د مرحوم معنی دا ده چې په ده باندې دې د الله رحمت وي، او د کافر له پاره د رحمت دعا جائز نه ده.[۱]

## کافر ته شهید ویل

**سوال:** ستاسو په خدمت کې عرض دی چې په ټول ملك کې دمې په لومړي تاریخ باندې یوم مزدور لمانځل کیږي چې دا هرکال د (شکاګو د شهیدانو) په یاد کې لمانځل کیږي، په دې موقعه باندې په ټول ملك کې سرکاري رخصتي وي، د شکاګو د شهیدانو په یاد کې جلسې وشوې، په رسالو او اخبارونو کې هغوی ته عقیدت پیرزوینې وړاندې شوې او هرکال دغسې کیږي، د دې ناچیز په رایه دا ورځ په اسلامي جمهوریه پاکستان کې لمانځل سراسر غلط دي، ظلم خو دادی چې په دې ورځ د امریکې په شګاګو ښار کې چې سل کاله وړاندې وژل شوي مزدوران (چې غیرمسلم وو) په لفظ د شهید سره مخاطب کولو باندې موږ خپل تاریخ او اسلامي عظمت پورې ټوکې کوو، یو غیرمسلم د شهید ویلو حقدار څنګه کیدای شي؟ د دې جواب خو هغه حضرات ورکولی شي چې دې غیرمسلمو ته شهیدان وایي، خو افسوس خو هتله کیږي چې دا حضرات د خپل قوم غازیان بالکل نظرانداز کړي، سلطان ټیپو حیدرعلي "سیداحمد شهید رحمه الله او احمدشاه ابدالي رحمه الله وغیره هم په دې میاشت کې شهیدان شوي دي، خو زموږ په نزد باندې د هغوی هیڅ اهمیت نشته، او وه (۷) سمندره پورې غیرمسلمه او غیراهم مړي هرکال په سرکاری سطح باندې یادیږي، خو د دې لویو هستیو د یادولو تکلیف هم نه برداشت کوي، په اسلامي جمهوریه پاکستان کې خوداسې نه و، خو داسې کیږي داولې؟ زه ستاسو په معرفت اهل دانش وعقل نه د دې پوښتنې کستاخي کوم، اُمید دی چې تاسو به د خپل کالم په ذریعه د اختیار خاوندانو توجه دې طرف ته را اوګرځوئ! مننه.

**جواب:** غیرمسلم ته شهید ویل جائز نه دي[۲]. پاتې دا چې د اهل عقل ودانش به ستا د سوال څه جواب درکړي، زموږ په اسلامي جمهوریه کې څه نه کیږي؟ او اوس خو بد وته بد ویلو والاهم کمیږي.

---

۱] "ماكان للنبى والذين امنوا ان يستغفروا للمشركين ولوكانوا اولى قربى...... الاية (التوبة:۱۱۳)۔

۲] الشهيد......هوكل مكلف مسلم طاهر......الخ (درمختار) وفى شرحه: (قوله مسلم) اما الكافر فليس بشهيد وان قتل ظلماً (ردالمحتار مع الدرالمختار/ج۲/ص۲۴۷/باب الشهيد)۔

## په کافر مړي تلاوت ، دعا او استغفار کول ګناه ده

**سوال:** نن ددبۍ په ټي وي استیشن باندې سپیشل پروګرام د اندرا ګاندي اخري رسومات ښودل کېدل،نویوه خبره زیرغور راغله،او هغه داچې دسورت فاتحې تلاوت واورول شو ،موږ بیدار شوچې هلته دهندوانوکتاب (ګیتا) لوستل کیږي اودې طرفته دقرآن کریم تلاوت کیده او مخامخ د لرګوډهیرۍ سوزیده،لهذا موږ دا معلومولو غواړو چې داسلامي تعلیماتوپه رڼاکې موږ خبرکړئ چې دغیرمذهبه مړي باندې دقران کریم ایتونه لوستل جائزدي او که نه؟

**جواب:** دکافروله پاره نه دعااو استغفار شته او نه دثواب رسولو ګنجائش [۱]،بلکې قصدا لوستلو والا به ګناه ګاروي.

## ایا مسلمان دکافر په جنازه کې شرکت کولی شي؟

**سوال:** دغیرمسلمه هندو یاچوړي دمړي کټ ته دمسلمان اوږه ورکول یاورسره تلل څنګه دي؟

**جواب:** که چېرې دهغوی دمذهب خلک موجود وي، نومسلمانانو ته دهغوی په جنازه کې شرکت نه دی پکار.[۲]

## د غیرمسلم دمسلمان په جنازه کې شرکت کول اومقبرې ته تلل

**سوال:** ایادمسلمان په جنازه کې دیوغیرمسلم شرکت جائزدی او د مسلمانانومقبرې ته ددوی تلل صحیح دي او که نه؟ که چېرې یوغیرمسلم دچاجنازې ته یامقبرې ته ځي، نوزماپه نزد دا صحیح نه دی، ځکه چې کافرخوپاك نه وي او که چېرې هغه پاك ځای ته لاړشي، نوهغه هم ناپاکه کیږي او مسلمان ته خوداپکاردي چې هغه پاك اوصفا وي اوکوم سړی چې کلمه ویونکی نه وي (مسلمان نه وي) نوهغه پاك نه دی.

**جواب:** یوکافر دمسلمان په جنازه کې شرکت ولې کوي؟ باقي د یوغیرمسلم مقبرې ته په تلو سره مقبره نه پلیتیږي[۳] اوپه غیرمسلم باندې زموږ دمذهب جائزاحکام نه لازمیږي.

---

۱] "ماکان للنبي والذین امنوا ان یستغفروا للمشرکین ولوکانوا اولی قربي...... الایة (التوبة/۱۱۳) "وماکان استغفار ابراهیم لابیه الا عن موعدة وعدها ایاه فلما تبین له انه عدولله تبرأ منه.....الخ (التوبة/۱۱۴) والحق حرمة الدعاء بالمغفرة للکافر......الخ (درمختار/ج۱/ص۵۲۳،۵۲۲)_

۲] ان الکافر لایکون ولیاً للمسلم لا فی التصرف ولا فی النصرة....الخ (احکام القران للجصاص/ ج۲/ص۴۴۴)

۳]واما نجاسة بدنه فالجمهور عليٰ انه لیس بنجس البدن والذات، لان الله تعاليٰ احل طعام اهل الکتاب (تفسیر ابن کثیر/ج۲/ ص۳۴۶/ طبع رشیدیه،کوئته)_

## کافر د مسلمانانو په مقبره کې دفن کول

**سوال:** ایا یو کافر د مسلمانانو په مقبره کې ښخول روا دي؟

**جواب:** کافر د مسلمانانو په مقبره کې خښول جائز نه دي.[۱]

## د مسلمانانو د مقبرې په خوا کې د کافرو مقبره جوړول

**سوال:** څه فرمائي علماء کرام په دې مسئله کې چې دیو کافر خو د مسلمانانو په مقبره کې خښول جائز نه دي، خو د مسلمانانو د مقبرې سره پیوست د هغوی مقبره جوړول جائز دي؟ یا یې لرې جوړول پکار دي؟

**جواب:** دا خوښکاره خبره ده چې د کافرانو او مرتدانو د مسلمانانو په مقبره کې خښول حرام او ناجائز دي، همدارنګه د کافرانو د مسلمانانو له مقبرې سره نژدې خښول هم منع دي، د دې له پاره چې څه وخت ک دواړه مقبرې یو ځای نه شي، د کافرانو قبرونه د مسلمانانو د قبرونو نه لرې پکار دي، د دې له پاره چې د کافرو د عذاب قبرونه د مسلمانانو د قبرونو نه لرې وي، ځکه چې له دې نه هم د مسلمانانو ته تکلیف رسیږي.[۲]

## د اهل کتاب ذمي حکم

**سوال:** ...(سوال حذف شوی دی).

**جواب:** کوم کافران چې یو اسلامي ملك کې اوسیږي هغه که اهل کتاب وی یا غیر اهل کتاب هغه ته "ذمي" ویل کیږي، ذمه وعدې ته وایي، چونکه د اسلامی حکومت دده سره وعده ده چې دده د مال، ځان او عزت حفاظت به کیږي، ځکه ده ته "ذمی" یا "معاهد" ویل کیږي.[۳]

د ټولو ذمیانو حقوق یو شان دي، خو اهل کتابو ته یکې دوه خصوصیتونه حاصل دي: یو دا چې د هغه د لاس حلاله د مسلمان له پاره جائز ده، دویم دا چې د اهل کتابو ښځو سره د مسلمان نکاح جائز ده[۴]، د غیر اهل کتابو نه ذبیحه حلاله ده[۵] او نه د هغوی ښځو سره نکاح جائز ده.[۶]

---

[۱] واذا مات (المرتد)......لم یدفن فی مقابر المسلمین (الاشباه والنظائر/ج۱/ص۲۹۱،الفن الثاني)۔

[۲] ویکره ان یدخل الکافر قبر احد من قرابته من المؤمنین، لان الموضع الذی فیه الکافر تنزل فیه السخطة واللعنة، فینزه قبرالمسلم عن ذلک (البدائع الصنائع/ج۱/ص۳۱۹/طبع ایچ ایم سعید)۔

[۳] الذمی هوالمعاهد من الکفار، لانه اومن علی ماله ودمه ودینه بالجزیة (قواعد الفقه/ص۳۰۰)۔

[۴] "وطعام الذین اوتوا الکتٰب حل لکم......(یعنی ذبائحهم) والمحصنٰت من المؤمنٰت والمحصنٰت من الذین اوتوا الکتٰب......الخ" (المائدة/۵/تفسیر ابن کثیر/ج۲/۴۷۸/۲/طبع رشیدیه)۔

[۵] وایضاً ولاتحل ذبیحة غیر کتابي......الخ (فتاوي شامي/ج۶/ص۲۹۸/طبع ایچ ایم سعید) ومنها: ان یکون مسلماً اوکتابیاً فلاتوکل ذبیحة اهل الشرک والمرتد (عالمگیري/ج۵/ص۲۸۵/طبع بلوچستان)۔

[۶] وحرم نکاح الوثنیة بالاجماع (وفی الشامیة) ویدخل فی عبدة الاوثان ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

# ❖ د ختم نبوت عقیده او د عیسی علیه السلام نزول ❖

**سوال:** حضرت عیسی علیه السلام به کله له اسمانه راکوزیږي؟

**جواب:** قرآن کریم او احادیثو کې دحضرت عیسی علیه السلام تشریف راوړل دقیامت په لویو نښو کې شمار شوي دي او دقیامت نه لږ مخکې یې دهغه دتشریف راوړلو خبر ورکړی دی، خو څنګه چې د قیامت مقرر وخت نه دی بیان شوی چې په فلانکۍ پېړۍ کې به راځي، همدا شان د حضرت عیسی علیه السلام د نزول وخت هم مقرر نه دی ښودل شوی چې هغه به په فلانکۍ پېړۍ کې تشریف راوړي.

په قران کریم د حضرت عیسی علیه السلام ذکر کولو سره دا فرمایل شوي دي "او بیشکه هغه دقیامت نښه ده، تاسو په دې کې لږ شك هم مه کوئ". (سورهٔ زخرف).[1]

ډېرو اکابرو صحابه وو او تابعینو ددې ایت په تفسیرکې فرمایلي دي چې دحضرت عیسی علیه السلام نازلیدل دقیامت دنژدېوالي نښه ده، حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکي:

"دا تفسیرحضرت ابوهریره رضی الله عنه ابن عباس رضی الله عنه، ابوالعالیه رضی الله عنه، او مالك رحمه الله، عکرمه رحمه الله، حسن بصري رحمه الله، قتاده رحمه الله، ضحاك رحمه الله، او نورو حضراتو نه نقل دی او دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه ددې مضمون په متواترو حدیثونوکې راغلی دی چې نبي علیه السلام دعیسی علیه السلام دقیامت نه مخکې دتشریف راوړلو خبر ورکړی دی. (تفسیرابن کثیرص۱۳۲ ج۴)[2]

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوي چې دمعراج په شپه زما ملاقات دحضرت ابراهیم، حضرت موسی، او دحضرت عیسی علیهم الصلواة والتسلیمات سره وشو، نو پخپل مینځ کې یې دقیامت تذکره شروع کړه چې کله به راځي؟ اول حضرت ابراهیم علیه السلام نه پوښتنه وشوه، هغه وفرمایل: ماته ددې علم نشته، بیا د موسی علیه السلام نه پوښتنه

---

...بقیه د تیر مخ].. عبدة الشمس والنجوم والصور التی استحسنوها والمعطلة والزنادقة والباطنية والاباحية، وفی شرح الوجيز وكل مذهب يكفر به معتقده (ردالمحتار/ج۳/ص۴۵)_

۱] "وانه لعلم للساعة فلاتمترن بها واتبعون......الخ" (الزخرف/۶۱)_

۲] د ابن کثیر عبارت دا دی: "وانه لعلم للساعة" ای آية للساعة خروج عيسى بن مريم قبل يوم القيامة، وهكذا روى عن ابى هريرة وابن عباس وابى العالية وابى مالك وعكرمة والحسن وقتادة والضحاك وغيرهم، وقد تواترت الأحاديث عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه اخبر بنزول عيسٰى عليه السلام قبل يوم القيامة اماماً عادلاً وحكماً مقسطاً" (ابن کثیر/ج۴/ص۱۳۲/طبع قدیم/ج۵/ص۵۳۰/طبع مکتبه رشیدیه)_

وشوه، هغه هم د لاعلمۍ اظهار وکړ، بیا د حضرت عیسی علیه السلام وار راغی، نو هغه وفرمایل چې دقیامت قایمیدو دقیق وخت خو له الله نه پرته هیچاته هم معلوم نه دی، خو زما سره زما درب یوه وعده ده چې دقیامت نه مخکې چې کله دجال ښکاره شي، نو زه به دهغه دقتل له پاره نازلیږم، هغه چې ماووینې، نو داسې به ویلي کیږي څنګه چې سیسه(تانبه) ویلي کیږي، بیابه الله تعالی هغه زما په لاس هلاك کړي، تردې چې کاڼي بوټي به هم اوازونه کوي چې ای مسلمانه! زما نه شاته کافرپټ شوی دی هغه قتل کړه.

" د دجال له قتل نه وروسته به خلک خپلې خپلې علاقې او ملك ته بېرته لاړشي، ددې نه څه موده وروسته به یاجوج ماجوج راووځي، هغوی به چې په کوم شي باندې تیریږي هغه به تباه کوي، بیابه خلک ماته له هغوی نه شکایت وکړي، نو زه به دالله نه د هغوی په حق کې بد دعا (ښېرې) وکړم، نو الله پاك به په یوځل په هغوی مرګ راولي، تردې چې ځمکه به دهغوی په بدبویي خوسا(سخا) شي، الله تعالی به باران نازل کړي چې د دوی بدنونه به یوسي او په سمندر کې به یې اوغورځوي. نوزما د رب زما سره دا وعده ده چې هرکله داسې شي نو د قیامت مثال به دحاملې د پوره شو یو ورځو پشان وي، چې دهغې په باره کې دهغې مالك ته پته نه وي چې ناڅاپه په ورځ یا شپه کې څه وخت دهغې حمل غورځیږي". (مسند احمد، ابن ماجه، مستدرك حاکم، ابن جریر).

دحضرت عیسی علیه السلام ددې ارشادنه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم نقل کړی دی، معلومه شوه چې دهغه تشریف راوړل به بالکل قیامت ته نژدې وي.

**سوال:** بل دا چې دهغه کومې نښې په دنیاباندې ظاهریږي؟

**جواب:** دهغه دزمانې چې کوم واقعات په حدیثونوکې ذکر شوي دي دهغو فهرست ډیر اوږد دی مختصر دا چې:

۱: دهغه علیه السلام نه مخکې دحضرت مهدي راتلل.

۲: دهغه علیه السلام عین د سحر دلمانځه په وخت راکوزېدل.

۳: دحضرت مهدي هغه د لمانځه له پاره مخکې کول او دهغه انکار کول.[۱]

---

۱] عن ابی امامة الباهلی قال: خطبنا رسول الله صلی الله علیه وسلم......وجلهم ببیت المقدس وامامهم رجل صالح فبینما امامهم قد تقدم یصلی هم الصبح اذ نزل علیهم عیسٰی بن مریم الصبح فرجع ذلک الامام ینکص یمشی القهقری لیقدم عیسٰی یصلی فیضع عیسٰی یده بین کتفیه ثم یقول له: تقدم فصل لنا فانها لک اقیمت فیصلی هم امامهم فاذا انصرف قال عیسٰی علیه السلام: افتحوا الباب! فیفتح ورائه الدجال......فاذا نظر الیه الدجال ذاب کما یذوب الملح فی الماء وینطلق هارباً ویقول عیسٰی علیه السلام: ان لی فیک ضربة لن تسبقنی بها، فیدرکه عند باب اللدالشرقی فیقتله......الخ (سنن ابن ماجة/ص۲۹۸/طبع نور محمد کراچي)۔

۴: په لمانځه کې د هغه د قنوت نازله په طور دا دعا لوستل ----- "قتل الله الدجال".[۱]
۵: د لمانځه نه فارغیدو سره دجال د قتل له پاره د هغه وتل.[۲]
۶: د دجال د هغه په لیدو سره د تانبې په شان ویلي کیدل.[۳]
۷: "باب لد" نو مي ځای باندې (چې د شام فلسطین کې دی) د هغه له لوري دجال قتلول[۴] او خپله نیزه باندې د دجال لګېدلي وینه مسلمانانو ته ښودل.[۵]
۸: د دجال د قتل نه وروسته د ټولې دنیا مسلمانیدل، د صلیب د ماتولو او د خنزیرانو د قتلولو عام حکم ورکول.[۶]
۹: د هغه علیه السلام په زمانه کې امن او امان دومره عام کیدل چې شرمخ (لیوه) بهوزو سره او پړانګ به د غواګانو، غویانو سره څرېږي او ماشومان به د مارانو سره لوبې کوي.[۷]
۱۰: څه زمانه وروسته د یاجوجو ماجوجو راوتل او هر طرف ته فساد خورول.[۸]
۱۱: په دغو ورځو کې د حضرت عیسی علیه السلام د خپلو ملګرو سره کوه طور ته تشریف وړل او

---

۱] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم....ویترل عیسٰی ابن مریم فیؤمهم فاذا رفع من الرکوع قال: سمع الله لمن حمده قتل الله الدجال...الخ(التصریح بماتواتر فی نزول المسیح/ص۱۷۷)
۲] عن عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه......ویترل عیسٰی ابن مریم علیه السلام عند صلاة الفجر فیقول لهم امیرهم: یاروح الله! تقدم صلي، فیقول: هذه الامة امراء بعضهم علی بعض، فیتقدم امیرهم فیصلی فاذا قضی صلاته اخذ حربته فیذهب نحوا الدجال فاذا راه الدجال ذاب کما یذوب الرصاص......الخ (التصریح بماتواتر فی نزول المسیح/ص۱۶۴)_
۳] ایضاً اوګورئ تیره شوی حواله (عن ابی امامة الباهلی قال: خطبنا رسول الله صلی الله علیه وسلم....الخ)
٤] ایضاً پورتنئ حواله)_
٥] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم......فلوترکه لانذاب حتی یهلک ولکن یقتله الله بیده فیریهم دمه فی حربته (التصریح بماتواتر فی نزول المسیح/ص۱۳۲)_
٦]......ویدعوالناس الی الاسلام فیهلک الله فی زمانه الملل کلها الا الاسلام......الخ (التصریح بماتواتر فی نزول المسیح/ص۹۶) وفیه ایضاً: ویظهر المسلمون، فیکسرون الصلیب ویقتلون الخنزیر (التصریح/ص۲۰۳)
۷]عن ابی امامة الباهلی قالْ: خطبنا رسول الله صلی الله علیه وسلم...... یدق الصلیب ویذبح الخنزیر ویضع الجزیة ویترک الصدقة فلایسعٰی علی شاة ولابعیر وترفع الشحناء والتباغض وتنزع حمة کل ذات حمة حتی یدخل الولید یده فی الحیة فلاتضره وتفرالولیدة الاسد فلایضرها ویکون الذئب فی الغنم کانه کلبها وتملأالأرض من السلم فما یملأ الاناء من الماء وتکون الکلمة واحدة فلایعبد الا الله......الخ (سنن ابن ماجة/ص۲۹۸)_
۸] ثم یرجع الناس الی بلادهم واوطانهم قال فعند ذلک یخرج یأجوج ومأجوج وهم من کل حدب ینسلون فیطأون بلادهم لایاتون علی شيء الا اهلکوه ولایمرون علی ماء الا شربوه ثم یرجع الناس الی فیکشونهم فأدعوالله علیهم فیهلکهم الله تعالیٰ ویمیتهم حتی تجری الارض من نتن ریحهم، قال فیترل الله عزوجل المطر فیجرف اجسادهم حتی یقذفهم فی البحر (التصریح بماتواتر فی نزول المسیح/ص۱۵۹)_

هلته دخوراك تنگي پېښيدل.[۱]

۱۲: په پای کې دهغه علیه السلام په ښيرو دياجوجو ماجوجو په يوځای هلاکيدل او دلويو لويو مرغانو په واسطه دهغوی لاشونه اوچتول او په سمندرکې غورځول.[۲]

۱۳: او بيا تيز باران کيدل اودياجوج ماجوجو باقي بدنونه او بدبويي بيول او په سمندر کې غورځول.[۳]

۱۴: دحضرت عيسى علیه السلام دعربو په يوه قبيله بنوكلب كې نكاح كول او دهغې نه دده اولاد كيدل.[۴]

۱۵: فج الروحا نومي ځای ته رسيدل او دحج او عمرې احرام تړل.[۵]

۱۶: دنبي كريم صلی الله علیه وسلم روضې مباركې ته حاضري وركول، اودنبي علیه السلام د روضه اطهر ددننه نه ځواب وركول.[۶]

۱۷: له وفات نه وروسته دهغوی په روضه اطهركې دفن كيدل اوداسې نور...[۷]

۱۸: دهغه نه وروسته مقعد نومی سړی دهغه په حكم باندې خليفه جوړيدل اودمقعد دوفات نه وروسته د قرآن كريم له سينو اوصحيفونه اوچتيدل.[۸]

---

۱] عن النواس بن سمعان..... فبينما هوكذٰلك اذا اوحي الله الى عيسىٰ ان قد خرجت عبادا لي لايدان لاحد بقتالهم فحرز عبادى الى الطور....ويحصر نبى الله واصحابه حتى يكون رأس الثور لأحدهم خيراً من مائة دينار لأحدكم اليوم فيرغب نبي الله عيسىٰ واصحابه..الخ(مشكوٰة/ص۴۷۴،۴۷۳، باب العلامات بين يدى الساعة)

۲]...... فيرسل الله طيراً كأعناق البخت فتحملهم فتطرحهم حيث شاء الله......الخ (مشكوٰة/ص۴۷۴)۔

۳] اوگورئ تيره شوى حاشيه (ثم يرجع الناس الى بلادهم واوطانهم قال فعند ذلك يخرج يأجوج وماجوج..الخ)

۴] روى ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لوفد جذام: مرحباً بقوم شعيب واصهار موسىٰ، ولاتقوم الساعة حتى يتزوج فيكم المسيح ويولدله ذكره المقريزى فى الخطط (التصريح بماتواتر فى نزول المسيح/ص۲۹۳)

۵] عن ابى هريرة رضى الله عنه انّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: والذى نفسى بيده! ليهلن ابن مريم بفج الروحاء حاجاً او معتمراً او لثنيهما ص:۱۰۰، واخرجه الحاكم وصححه كما فى الدر المنثور ولفظه...... وليسلكن فجا حاجاً او معتمرا ولياتين قبرى حتى يسلم على ولاردن عليه......الخ ص:۱۰۲ (التصريح بماتواتر فى نزول المسيح)۔

۶] ايضا پورتنئ حاشيه)۔

۷] عن عبدالله بن عمروقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم......ثم يموت فيدفن معى فى قبري، فاقوم انا وعيسىٰ بن مريم فى قبر واحد بين ابى بكر وعمر (مشكوٰة/ص۴۸۰/طبع قديمي)۔

۸] عن ابى هريرة قال......فيستخلفون بامر عيسىٰ رجلاً من بنى تميم يقال له: المقعد، فاذا مات المقعد لم يأت على الناس ثلاث سنين حتى يرفع القران من صدور الرجال ومصاحفهم (التصريح بماتواتر فى نزول المسيح...ص۲۳۲)۔

۱۹: له دې وروسته دلمر دمغرب نه راختل. دارنګه د دابة الارض راوتل او دمومن او کافر په مینځ کې امتیازي نښه لګول او داسې نور...[۱]

**سوال:** دا به څنګه ښکاریږي چې هغه حضرت عیسی علیه السلام دی؟

**جواب:** ستاسو دا سوال عجیبه دلچسپ سوال دی، ددې دپوهیدو له پاره تاسو یوازې دوه خبرې په نظر کې وساتئ.

**اول......** په مخکینو کتابونو کې دنبي کریم ﷺ په باره کې پیشګویي شوې وه او دهغه ﷺ صفات او علامات ذکر شوي وو، کوم خلک چې دهغو علاماتو نه واقف وو، دهغوی په باره کې د قرآن کریم بیان دی چې هغوی نبي علیه السلام داسې پیژني څنګه چې خپل زامن پیژني[۲]، که چېرې څوک ستاسو نه پوښتنه وکړي چې هغوی نبي علیه السلام څنګه پیژندلی و، چې یوازې نبي علیه السلام نبي اخر الزمان دی؟ نو دده صفات چې په تیرشویو کتابونو کې ذکر وو. هغه دنبي علیه السلام د ذات اقدس سره موافق کولو نه وروسته به هرسړي ته فوراً یقین راته چې همدا نبي اخرالزمان دی ﷺ دارنګه دحضرت عیسی علیه السلام چې کوم صفات نبي علیه السلام ذکر کړي دي، دهغو مخې ته کیښودو سره دحضرت عیسی علیه السلام د شخصیت په تعیین کې چاته معمولی شان شبه هم نه کیږي، خو کوم سړی چې له دې نبوي حدیثونو نه ناخبره وي یا یې فطرت کې کوږوالی وي، هغه به ددې موافقت کولو د صلاحیت نه محروم وي یا یوازې دضد او عناد په وجه له دې نه ځان ساتي نو دهغه مرض لاعلاجه دی.

**دویم......** ځینې قرائن داسې وي چې دهغو په موجودګي کې انسان په یقین کولو باندې مجبور شي او هغه ته دزیات دلیل حاجت نه وي. مثلاً تاسو ګورئ چې دیومکان مخې ته دټولې محلې خلک جمع دي اوټول خلک خفه دي"په کورکې دننه چیغې سورې دي" درزي (خیاط) کفن ګنډي، څه خلک اوبه ګرموي، څه خلک قبر کنستلو له پاره ځي، دې منظر لیدو سره به تاسو ته ددې پوښتنې ضرورت نه راځي، چې ایا دلته څوک وفات شوي دي؟ او که چېرې تاسو ته دا هم معلومه وي چې فلانی صاحب دده ډېر وخت نه ناروغ و او دهغه حالت ډېر نازك، نو ددې منظر لیدو سره به تاسو ته فوراً یقین راشي چې هغه صاحب وفات شوی دی.

دسیدنا عیسی علیه السلام دتشریف راوړلو خاص کیفیت، خاص وخت، خاص ماحول او خاص حالاتو کې نبي کریم ﷺ بیان فرمایلی دی چې کله هغه پوره نقشه او ټول منظر مخې ته

---

۱] عن عبدالله بن عمرو.....ان اول الایات خروجاً طلوع الشمس من مغربها وخروج الدابة علی الناس....الخ (مشکوٰة/ص۴۷۲) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: تخرج دابة الارض ومعها عصٰی موسٰی وخاتم سلیمان علیهما السلام فتخطم انف الکافر بالعصا وتجلی وجه المؤمن بالخاتم حتی یجتمع الناس علی الخوان یعرف المؤمن من الکافر (تفسیر ابن کثیر/ج۴/ص۶۸۴/طبع رشیدیه کوئته)

۲] "الذین اتینهم الکتٰب یعرفونه کمایعرفون ابنائهم" (البقرة/۱۴۶)۔

راشي، نو چاته به ددې بحث کولو ضرورت نه وي چې دا رښتيا عيسى عليه السلام دى او كه نه؟

فکر وکړئ! چې حضرت مهدي رضي الله عنه دعيسايانو خلاف په جهادکې مصروف دی، په دې کې خبر راځي چې دجال ښکاره شوی دی، هغه دخپل لښکر سره په بيړه سره دبيت المقدس طرف ته واپس کيږي او د دجال په مقابله کې صفونه جوړوي د دجال فوجونه داسلامي لشكر محاصره کوي، مسلمانان ډير دتنګي او حيرانتيا په حالت کې ګيردي، په دې کې به دسحر په وخت يو اواز وشي "قد اتاكم الغوث" (تاسو ته مدد ګار راورسيده) دخپلې بد حالت کتلو سره به ديو سړي دخولې نه بې اختياره اواز ووځي چې دا" دکوم مړې خيټې والا اواز معلوميږي) بيابه ناڅاپه حضرت عيسى عليه السلام د دوو فرښتو په اوږو لاس ايښى او د سپينې منارې سره به راکوزيږي اوعين هغه وخت لښکرته به رارسيږي چې دسبا اقامت شوی دی او امام په مصلى باندې ولاړ دی اوداسې نور...[1]

دا ټول کوائف کوم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان کړي دي چې کله هغه يو يو دخلکو دسترګو مخې ته راځي، نو څوك به داسې وي چې دحضرت عيسى عليه السلام دشناخت نه به محروم پاتې شي؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم دسيدنا عيسى عليه السلام صفتونه او نښې، دهغه حليه اود پوزې نقشه د هغه د نزول دزمانې سياسي حالات اودهغه د کارنامو جزئيات دومره په تفصيل سره بيان کړي دي چې عقل حيران پاتې کيږي هرکله چې دا پوره نقشه دخلکو مخې ته راشي، نو د يوې لمحې له پاره به چاته دنوموړي په پيژندګلوي کې شك شبه نه وي، ځکه چې داسې يو کمزوری روايت کې هم دا نه دي راغلي چې دهغه په تشريف راوړلو کې به خلکو ته په پيژندګلوي کې مشکل راځي، يادا چې دهغه به باره کې به په خلکو کې اختلاف وي، چې څوك به يې مني او څوك به يې نه مني، ددې برعکس دا راځي چې مسلمانان خومسلمان د دجال دلښکر ختمولو نه وروسته به دغير مذهب خلك هم ټول مسلمانان شي او په دنيا باندې به يوازې د اسلام حکمراني وي.[2]

دا عرض کول به هم مناسب وي چې د تيرشويوپيړيو نه واخله تردې رواني پيړۍ پورې ډيرو خلکو د مسيحيت دعوې کړې دي او ډيروخلکو داصل اونقل په مينځ کې فرق ونه شو کړای او د ناپوهي په وجه دهغوی منونکي شول خو هغوی هريو په حقيقت کې "مسيح" نه و په دې وجه هغو ددنيا خلك په اسلام باندې دجمع کولو په ځای مسلمانان کافران وګرځول اودهغوی په مينځ کې يې اختلاف او تفرقه واچوله، دهغه دراتلو په وجه نه

[1] عن عثمان بن ابي العاص...... فبينماهم كذلك اذ نادىٰ مناد من السحر يا ايها الناس! اتاكم الغوث، ثلاثاً، فيقول بعضهم لبعض: ان هٰذا الصوت رجل شبعان، وينزل عيسىٰ ابن مريم عليه السلام عند صلاة الفجر......الخ (التصريح بماتواتر فى نزول المسيح/ص۱۶۴/طبع دارالعلوم كراچى)۔

[2] ويهلك الله فى زمانه الملل كلها الا الاسلام...... الخ (ابوداؤد، كتاب الملاحم/ج۲/ص۲۳۸/مسند احمد/ج۲/ص۴۰۶/طبع بيروت)۔

فتنه او فساد کې څه کمی راغی اونه دکفر او فسق ترقي بنده شوه،دنن زماني حالات په اوچت اواز سره اعلان کوي چې هغوی په دې تیاره ماحول کې دومره رڼا هم ونه کړل شوه،څومره چې په تیاره شپه کې اُور وُرکی رڼا کوي ، هغه دا خیال وکړ چې په د دده دخواهش دتاویلاتو په ذریعه به دده خبره وچلیږي.خو افسوس ! چې په ده باندې دحضرت عیسی علیه السلام په باره کې فرمایل شوي ارشادات دومره هم موافق نه شول څومره چې دمهوپه دانه باندې سپین والی وي،که دچا دې کې شك وي، نودنبي کریم ﷺ بیان شوې نقشه دې مخې ته کیږدي اودنبي علیه السلام ارشاد شوې یوه یوه نښه دې دغه مدعیانو باندې موافق کړي او ودې ګوري.اوښ دستنې له سوري نه تیریدلی شي ،خو په دغو مدعیانو باندې دحضرت عیسی علیه السلام صفتونه او نښې موافق کیدای نه شي،ارمان! چې دغو خلکوته دبزرګانو دا نصیحت یاد وای:

بصاحب نظرے بنمای گوهر خود را
عیسیٰ نتوان گشت به تصدیق خرے چند

.........

## د خاتم النبیین صحیح مفهوم هغه دی کوم چې له قرآن او حدیث نه ثابت دی

**سوال:** یو بزرګ دخاتم النبیین یا دلفظ خاتمیت تشریح کولو کې لیکلي دي:

"اسلام ته دخاتم الادیان او پیغمبر اسلام ته دخاتم الانبیاء خطاب ورکړل شوی دی. دخاتمیت دوه معنا کیدای شي:یوه دا چې یو شی ناقص او نامکمل وي او هغه په مزه مزه مکمل شي، دویم دا چې هغه شی نه دافراط په مد باندې وي او نه دتفریط په مد باندې، بلکې ددې دواړو په مینځ کې وي چې دهغه نوم اعتدال دی،اسلام په دواړو اړخونو سره خاتم الادیان دی، په دې کې کمال او اعتدال دواړه موندل کیږي،رسول خدا ﷺ فرمایلي دي: چې زه دهغه عالیشان مکان اخری خښته یم کوم چې تیرو شویو انبیاوو(علیهم السلام) تعمیر کړی دی،داد اسلام کمال طرف ته اشاره ده،دغه شان په قرآن مجید کې دي چې داسلام مذهب دیو معتدلې او متوسطې طریقې نوم دی او دمسلمانانو قوم یو معتدل قوم پیدا کړل شوی دی،په دې سره داسلام د اعتدال ثبوت جوتیږي".

ایا دخاتم النبیین دا مفهوم صحیح دی او دټولو فرقو په دې باندې اتفاق دی؟ رهنمائی مو وکړئ او احسان مند مو وګرځوئ.

**جواب:** دخاتم الانبیاء همدغه مفهوم دی کوم چې دقران اوحدیثو دقطعي نصوصونه ثابت او دامت متواتره اواجماعي عقیده ده چې نبي کریم ﷺ اخري نبي دی دهغوی نه وروسته به

هیڅاته هم نبوت نه ورکول کیږي[1]' ددې مفهوم باقي ساتلو سره چې دې لفظ کې کوم نکات بیان شوي دي هغه په سرسترګو باندې هر دپوهې خاوند دخپل عقل او پوهې مطابق نکات بیانولی شي،خو که چېرې دې نکاتو سره دمتواتر مفهوم او متواترې عقیدې نفي و شي،نو دا به ضلالت او ګمراهي وي او داسې نکات به مردود وي.

## خاتم النبیین او حضرت عیسی علیه السلام

**سوال:** د خاتم النبیین څه معنا ده؟اخري نبي یعنې دمحمد ﷺ نه وروسته به چاته نبوت نه شي ورکول کېدای مولاناصاحب !که چېرې دخاتم النبیین دامعنا وي چې دنبي علیه السلام نه وروسته به بل نبي نه وي، نود حضرت عائشي رضی الله عنها د قول وضاحت وکړئ.

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي :"اي خلکو دا خو وايئ چې نبي علیه السلام خاتم النبیین و خو دامه وایئ چې دنبي علیه السلام نه وروسته به بل نبي نه وي.(حضرت عائشه رضی الله عنها تکمله مجمع البحار).

**جواب:** هم په دې تکمله مجمع البحارکې يې ليکلي دي چې حضرت عائشې رضی الله عنها دا ارشاد دحضرت عیسی علیه السلام دتشریف راوړلو په خیال فرمایلی و[2]،چونکه حضرت عیسی علیه السلام ته نبوت دنبي علیه السلام نه مخکې ورکړل شوی و،په دې وجه دحضرت عائشې رضی الله عنها منشا دا وه چې څوك بې دینه دخاتم النبیین دلفظ نه دحضرت عیسی علیه السلام په نه راتلو باندې استدلال ونه کړي څنګه چې مرزا قادیاني ویلي دي. چې دخاتم النبیین ایت دحضرت عیسی علیه السلام راتلل منع کوي[3]،نود حضرت عائشې رضی الله عنها دا ارشاد دمرزا قادیاني دتردید اوتکذیب له پاره دی.

**سوال:** مهدي به دې دنیا ته کله تشریف راوړي؟ اوایا مهدی او عیسی علیه السلام یو وجود دی؟

**جواب:** حضرت مهدي (رضوان الله علیه) به په اخري زمانه کې قیامت ته نژدې ظاهریږي،دده دظهور نه تقریباً اووه کاله وروسته به دجال راوځي او دده دقتل له پاره به حضرت عیسی علیه السلام داسمان نه راکوزیږي[4]له دې نه دا هم معلومه شوه چې حضرت مهدي رضی الله عنه او حضرت عیسی علیه السلام دوه بېل بېل سړي دي، مرزاقادیاني دخپل غرض له پاره عیسی علیه السلام او مهدي یو وجود فرض کړ.[5]

---

۱]"ولکن رسول الله وخاتم النبیین"(الاحزاب/۴۰) وکونه صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین ممانطق به الکتاب وصدعت به السنة واجمعت علیه الامة فیکفر مدعی خلافه..الخ(روح المعاني/ج۲۲/ص۳۹/طبع بیروت)

۲]عن عائشة رضی الله عنها: قولوا انه خاتم الانبیاء ولاتقولوا: لانبی بعده، وهذا ناظر الی نزول عیسٰي (مجمع بحار الانوار مع التکملة/ج۵/ص۴۶۴/طبع دائرة المعارف العثمانیه دکن، هند)۔

۳]ازاله اوهام حصه دوم/ص۴۳۱/مطبع ریاض هند امرتسر)۔

٤]ابوداؤد، کتاب المهدي/ج۲/ص۲۳۲/طبع ایچ ایم سعید)۔

۵] ازاله اوهام حصه دوم/ص۴۱۴/ایضاً خطبه الهامیه/ص۱۶/روحانی خزائن/ج۱۶/ص۶۱)۔

حالانکه ټول اهل حق په دې باندې متفق دي چې حضرت عیسی علیه السلام او حضرت مهدي (علیه الرضوان) دواړه جُدا جُدا شخصیتونه دي.[۱]

## په نبوت تشریعی او غیر تشریعی کې فرق

**سوال:** ام المومنین حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي:

،، **قولوا انه خاتم النبیین ولاتقولوا لانبي بعده.....**،،

**جواب:** تکمله مجمع البحار کې علامه محمد طاهرپټني دا قول نقل کړی دی او لیکلي یې دي: "**وهذا ناظر الی نزول عیسی**" یعني دا ارشاد یې د حضرت عیسی علیه السلام د نزول په اړه وفرمایه.

**سوال:** امام عبدالوهاب شعراني رحمه الله فرمایي: "مطلق نبوت اوچت نه کړل شو یوازې تشریعي نبوت ختم شوی دی، د کوم تائید چې حدیث حفظ القرآن الخ" نه هم کیږي (چې د هغه معنا دا ده چې چا قرآن یادکړ، د هغه په دواړو اړخونو کې له شک پرته نبوت داخل شو) او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د قول مبارک " **لانبي بعدی ولارسول**" نه مراد دادی چې زمانه وروسته به بل داسې نبي نه وي چې شریعت ځان سره راوړي، محی الدین ابن عربي رحمه الله فرمایي: "کوم نبوت چې د نبي علیه السلام په راتلو سره منقطع یعني ختم شو هغه یوازې غیرتشریعي نبوت دی نه مقام نبوت" الله تعالی په خپلو بنده ګانو باندې مهربان دی په دې وجه د دوی په خاطر یې تشریعي نبوت پریښوده، پورته ذکرشوي دوه قولونه واضحه کړئ، تشریعي او غیرتشریعي هم واضحه کړئ. ایا دا د ځان له پاره دلیل جوړېدای شي؟

**جواب:** شیخ ابن عربي رحمه الله د اولیاوو کشف او الهام ته نبوت وایي او حضرات انبیاء کرام علیهم السلام ته چې کوم منصب ورکول کیږي، هغه ته نبوت تشریعي وایي دا د هغه خپله اصطلاح ده. چونکې د انبیاء کرام (علیهم السلام) نبوت د دوی په نزد د تشریع نه بغیر نه وي په دې وجه د ولایت والا نبوت واقعي نبوت نه دی.

علامه شعرانی رحمه الله او شیخ ابن عربي رحمه الله هم د انبیاء کرامو والا نبوت (چې د دوی په اصطلاح کې ورته نبوت تشریعي وایي) هغه ختم مني. او ولایت جاري او همدا عقیده د اهل سنت والجماعت هم ده فرق یوازې د اصطلاح دی.[۲] **والله اعلم.**

---

۱] اعلم ان المشهور بين كافة من اهل الاسلام على مر الاعصار انه لابد فى اخر الزمان من ظهور رجل من اهل البيت يؤيد الدين ويظهر العدل ويتبعه المسلمون ويستولى على الممالک الاسلامية من اشراط الساعة الثابتة فى الصحيح على الره، وان عيسىٰ عليه السلام ينزل بعده......الخ (تحفة الاحوذي/ج۶/ص۴۸۴/باب ماجاء فى المهدي، فتح الباري/ج۱/ص۳۵۸/طبع لاهور)_

۲] تنقسم النبوة البشرية على قسمين، القسم الأول من الله تعالى الى غيره من غير روح ملكى بين الله تعالىٰ وبين عبده بل اخبارات الهية يجدها فى نفسه من الغيب او فى تجليات....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

# یا د پاکستاني قانون له مخې څوک مُصلح یا مجدد منل کُفر دی؟

**سوال:** ستاسو اوزما دعلم مطابق به حضرت عیسی علیه السلام او حضرت مهدي رضي الله عنه دنیاته تشریف راوړي، خو دپاکستاني قانون مطابق(چې دبهټو په دورکې جوړشوی و)دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه وروسته څوك مصلح ،مجدد یا نبي نه شي راتلی. که چېرې یوسړی په دې خبره باندې یقین ساتي، نوهغه غیرمسلم دی.دې لحاظ سره زه اوتاسوغیرمسلم شو،ځکه چې تاسو دځینو سوالونو په جواب کې ویلي دي چې حضرت عیسی علیه السلام اوحضرت مهدي به تشریف راوړي،مهرباني وکړئ په دې مسئله باندې رڼا واچوئ.

**جواب:** تاسو چې دپاکستاني قانون دکومې دفعې(مادې) حواله ورکړې ده،دهغې په پوهیدو کې تاسو ته غلط فهمي شوې ده او تاسو دهغې نقلولو کې هم غلطي کړې ده.

دقانون د ۲۶۰(۳) مادې پوره متن دا دی چې:

"کوم سړی چې د محمد صلی الله علیه وسلم (چې اخري نبي دی) خاتم النبیین کیدو باندې قطعي اوغیرمشروط طور باندې ایمان نه لري یاچې کوم سړی دمحمد صلی الله علیه وسلم نه وروسته مفهوم کې یا دڅه قسمه نبي کیدو دعوی کوي،یا کوم سړی یوداسې مدعي نبي یادنبي مصلح تسلیموي، هغه دد قانون داغراضو له پاره مسلمان نه دی".

د قانون په دې دفعه کې یو داسې سړي ته غیرمسلم ویل شوي دي چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه وروسته دنبوت جاري کیدو قائل وي یادنبي علیه السلام دنبوت نه وروسته دنبوت دحصول مدعي وي یاداسې دنبوت مدعي خپل دیني رهبر تسلیموي.

حضرت مهدي رضي الله عنه به نبي نه.وي نه به هغه دنبوت دعوه کوي اونه هغه څوك نبي مني او حضرت عیسی علیه السلام له شک پرته نبي دی، خو هغه ته نبوت دنبي علیه السلام نه وروسته نه دی ورکړل شوی بلکې دنبي علیه السلام نه شپږ سوه کاله وړاندې ورکړل شوی و،مسلمانان به دهغه دتشریف راوړلو نه وروسته د هغه په نبوت باندې ایمان نه راوړي، بلکې دمسلمانانو ایمان

---

...بقیه د تیر مخ]...ولایتعلق بذلک الأخبار حکم تحلیل ولاتحریم بل تعریف بمعاني الکتاب والسنة اویصدق حکم مشروع ثابت انه من عندالله تعالیٰ او تعریف بفساد حکم قد ثبت بالنقل صحته ونحوذلک وکل ذلک تنبیه من الله تعالی وشاهد عدل من نفسه قال: ولاسبیل لصاحب هٰذا المقام......ان یکون علی شرع یخصه یخالف شرع رسوله الذی ارسل الیه وامرنا باتباعه ابداً القسم الثاني من النبوة البشریة وهو خاص بمن کان قبل بعثة نبینا محمد صلی الله علیه وسلم وهم الذین یکونون کالتلامذة بین یدی الملک فیتزل علیهم الروح الأمین بشریعة من الله تعالی فی حق نفوسهم بتعبدهم بها فیحل لهم ماشاء ویحرم علیهم ماشاء ولا یلزمهم اتباع الرسل (الیواقیت والجواهر/ج۲/ص۲۵/طبع عباس بن عبدالسلام بن شقرون، مصر) ایضاً الیواقیت والجواهر/ج۲/ص۸۳/المبحث السادس والاربعون فی بیان وحی الاولیاء الالهامی والفرق بینه وبین وحیِ الانبیاء علیهم الصلاة والسلام وغیرذلک تفصیل دپاره اوګورئ: احتساب قادیانیت/ج۲/ص۱۴۴/ایضا بوادرالنوادر/ص۵۲۵تا۵۳۵)۔

دهغه په نبوت باندې د مخکې نه دی، څنګه چې دحضرت نوح، حضرت ابراهیم، حضرت موسی او دنورو انبیاء کرامو په نبوت باندې ایمان دې (علی نبینا وعلیهم الصلوات والتسلیمات)، په دې وجه دپاکستان د قانون ددې مادې اطلاق نه خوپه حضرت مهدي رضي الله عنه باندې کیږي ځکه چې هغه به دنبوت مدعي نه وي، نه په حضرت عیسی علیه السلام باندې کیږي، ځکه چې دهغه نبوت دنبي کریم ﷺ نه مخکې دی، نه چې وروسته، اونه په هغو مسلمانانو باندې اطلاق کیږي چې ددې حضراتو د راتلو قائل دي.

ددې واقعي اطلاق په هغو خلکو باندې کیږي چاچې دنبي کریم ﷺ نه وروسته د حاصلیدونکي نبوت دعوه وکړه.

د ،، یَاأَیُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّٰهِ إِلَیْکُمْ جَمِیعًا،،(الاعراف ۱۵۸).

نعره یې ولګوله اوخلکوته یې دې نوي نبوت باندې دایمان راوړلو دعوت ورکړ، دا رنګه ددې اطلاق په هغو خلکوباندې کیږي چې هغوی داسې خلک خپل ځان له پاره مصلح او رهبران ومنل او دهغوی په ډله کې داخل شول.

امید دی چې دا مختصر وضاحت به ستاسو دغلط فهمي دلرې کولو له پاره کافي وي.

## د ختم نبوت تحریک پیل کله وشو؟

**سوال:** دختم نبوت دتحریك پیل کله وشو؟آیادرسول الله ﷺ نه وروسته چې کله دروغژنو دنبوت مدعیانو دعوه کړې وه یا په بل کوم دورکې؟

**جواب:** دختم نبوت تحریك پیل درسول الله ﷺ دارشاد"**انا خاتم النبیین لانبي بعدی**"[۱] نه وشو، حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه، دنبوت دمدعیانو خلاف جهاد وکړ اودې تحریك ته یې ترقي ورکړه.[۲]

## حضرت عیسی علیه السلام به په کوم عمرکې راکوزیږي؟

**سوال:** زمونږ دټولو مسلمانانو عقیده ده چې حضرت عیسی علیه السلام به په دویم ځل دنیا ته تشریف راوړي دحدیث په رڼاکې یې بیان کړئ چې هغه به بیادې دنیاکې پیداکیږي یابه

---

۱] عن ثوبان قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم...... وانه سیکون فی امتی کذابون ثلاثون کلهم یزعم انه نبی الله وانا خاتم النبیین لانبی بعدی ولاتزال طائفة من امتی علی الحق ظاهرین لایضرهم من خالفهم حتی یأتی امرالله رواه ابوداؤد والترمذي (مشکوٰة/ص۴۶۵،۴۶۴، کتاب الفتن، الفصل الثانی)۔

۲] مرقاة المفاتیح/ج۵/ص۲۴/البدایة والنهایة/ج۶/ص۳۱۱تا۳۱۶، فصل فی تصدی الصدیق لقتال اهل الردة ومانعی الزکوٰة، طبع دارالفکر بیروت ثم سارخالد الی الیمامة لقتال مسیلمة الکذاب فی اواخر العام والتقی الجمعان ودام الحصار ایاماً ثم قتل الکذاب لعنه الله قتله وحشی قاتل حمزة، واتشهد فیها خلق من الصحابة (تاریخ الخلفاء/ص۵۸/طبع قدیمی)۔

بیاهغه عمرکې تشریف راوړي په کوم عمرکې چې هغه الله پاك اسمان ته خیژولی دی؟زه به یوځل بیاتاسو ته خواست وکړم چې جواب ضرور راکړئ ،دا رنګه کیدای شي چې ستاسو په دې کوشش سره څه قادیانان خپله عقیده صحیح کړي،دایوقسم جهاد دی،ستاسوتحریر زموږ له پاره دسند درجه لري.

**جواب:** حضرت عیسی علیه السلام چې په کوم عمرکې آسمان ته خیژول شوی دی په هماغه عمرکې به نازلیږي،دهغه علیه السلام په اسمان کې ژوند دهغه علیه السلام په صحت او عمرباندې اثر کونکی نه دی، څنګه چې جنتیان به په جنت کې همیشه ځوانان وي اودهغه ځای اب وهوا به دهغوی صحت اوعمر نه متاثره کوي.[۱]

حضرت عیسی علیه السلام چې دا وخت چېرته ژوند کوي هلته دځمکې نه بلکې داسمان قوانین پلي دي،قرآن کریم کې فرمایل شوي دي چې: " ستاسود رب یوه ورځ ستاسو دشمار په حساب سره دیوزر کلونو برابر ده".[۲]

ددې اسماني قانون مطابق اوس هم دحضرت عیسی علیه السلام له دې ځایه دتلو دوه ورځې هم نه دي تیرې شوې.تاسو غورکولی شئ چې یوازې دوه ورځوسره دانسان په عمر او صحت کې څه ښکاره تبدیلي راځي؟

مشکل دا دی چې موږ دالله تعالی معاملات هم دخپل عقل ، پوهې،مشاهدې اوتجربې په تله تلل غواړو ،که نه د یو مومن له پاره خو د خدای او درسول له وینا نه زیات دایمان او دیقین کومه خبره کیدای شي؟

حضرت عیسی علیه السلام ددیم ځل پیداکیدو سوال خوبه هلته پیدا کېده چې هغه مړشوی وای.ژوندی خودیم ځل نه پیدا کیږي اوبیادیومړشوي انسان په یوبل قالب کې دوباره پیداکیدل خو "آواګون"(تناسخ) دی،چې دهغې هندوان قائل دي،دیواسلام دمدعي دا دعوی غلطه ده چې دحضرت عیسی علیه السلام روحانیت دهغه په قالب کې دوباره پیدا شوی دی.

## حضرت عیسی علیه السلام به د نبي تشریف راوړي او که د اُمتي په حیثیت؟

**سوال:** دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به حضرت عیسی علیه السلام تشریف راوړي اياهغه به په حیثیت دنبي تشریف راوړي یادنبي علیه السلام دامتي په حیثیت باندې؟که هغه صلی الله علیه وسلم دنبي په حیثیت تشریف راوړي نونبي علیه السلام خاتم النبیین څنګه شو؟

---

۱] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من یدخل الجنة ینعم ولایبأس ولایبلی ثیابه ولایفنی شبابه رواه مسلم وعن ابی سعید وابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ینادی مناد ان لکم ان تصحوا فلاتسقموا ابداً وان لکم ان تحیوا فلاتموتوا ابداً وان لکم ان تشبوا فلاتهرموا ابداً وان لکم ان تنعموا فلاتبأسوا ابداً رواه مسلم (مشکوٰة/۴۹۶/باب صفة الجنة واهلها، الفصل الاول)۔

۲] ''وان یوما عند ربک کالف سنة مماتعدون'' (سورة۲۲،الحج/۴۷)۔

**جواب:** حضرت عیسی علیه السلام چې کله تشریف راوړي، نوهماغه شان به نبي وي، خو دنبي کریم ﷺ دتشریف راوړلو سره دهغه شریعت منسوخ شو.اودهغه دنبوت دور ختم شو په دې وجه چې کله هغه تشریف راوړي نودنبي علیه السلام دشریعت تابعداري به کوي. اودنبي علیه السلام دامتی په حیثیت سره به راځي[۱]. دهغه راتلل دختم نبوت خلاف نه دي،ځکه چې نبي اخرالزمان نبي کریم ﷺ دی،حضرت عیسی علیه السلام ته نبوت دنبي کریم ﷺ نه مخکې ورکړل شوی و.

## آیا د حضرت عیسی علیه السلام له جسم سره پورته خیژولو په اړه قرن چپ دی؟

**سوال:** که زید دا عقیده اوساتي اوبیان یې کړي چې دحضرت عیسی علیه السلام اسمان ته ژوندي ختلو یا د وفات کیدو په باره کې قران پاك خاموش دی ځنګه چې دزید داعبارت دی:"قران نه ددې تصریح کوي چې الله تعالی هغه دجسم او روح سره دځمکې نه پورته کړ او آسمان ته یې وخیژولو اونه صفا دا وایي چې هغه په ځمکه باندې پخپل مرګ مؤشو. او یوازې دهغه روح پورته کړل شو،په دې وجه دقران په بنیاد باندې خو ددې نه د کوم یو اړخ قطعي نفې هم نه شي کیدای او اثبات هم نه".

نوزید چې دا بیان کوي ،ایاددې بیان په وجه باندې به ورته مسلمان ویل کیږي اوکه کافر؟ وضاحت یې وکړئ.

**جواب:** کوم عبارت چې په سوال کې نقل شوی دی هغه د مودودي صاحب دتفهیم القرآن دی[۲]،په وروسته ایډیشنوکې یې اصلاح شوې ده،په دې وجه په ده باندې دکفر فتوا نه شي ورکول کېدای، خو ګمراه کونکې غلطي ګڼل کېدای شي.

په قرآن کریم کې دحضرت عیسی علیه السلام د رفع جسماني(له جسم سره خیژولو) تصریح په "**بل رفعه الله الیه**" او "**اني متوفیك ورافعك الی**" کې موجوده ده چنانچې ټول امامان دتفسیرپه دې باندې متفق دي چې په دې آیاتونوکې دحضرت عیسی علیه السلام رفع جسماني ذکر شوې ده اوپه رفع جسماني باندې احادیث متواتره موجوددی[۳]دقرآن کریم دآیاتونواحادیث متواتره وو اودامت اجماعي عقیده په رڼاکې چې وکتل شي، نودایاتونونه په رفع جسماني باندې قطعي دلالت کوي دحضرت عیسی علیه السلام رفع جسماني ذکرشوې ده او په رفع جسماني قطعي دلالت کوي او دا ویل غلط دي چې قرآن کریم دحضرت عیسی علیه السلام د رفع جسماني تصریح نه کوي.

---

۱]عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "الا ان عيسى ابن مريم ليس بيني وبينه نبي ولا رسول، الا انه خليفتي في امتي من بعدي" (مجمع الزوائد/ج۸/ص۲۶۸/باب ذكر المسيح عيسى بن مريم......الخ)۔

۲]اوګورئ: تفهيم القران/ج۱/ص۴۲۰/اتلسم ايديشن مارچ۱۹۸۱ء)۔

۳]والاحاديث الواردة في نزول عيسى بن مريم متواتره (الاذاعة لشوكاني/ص۷۷)۔

# حضرت عیسی علیه السلام به څنګه پیژندل کیږي؟

**سوال:** که چېرې حضرت عیسی علیه السلام په اسمان کې له جسم سره موجود وي نو چې کله هغه راکوزیږي، نو لازمه ده چې هرسړی به هغه راکوزېدونکی ویني، دا شان خو به بیا دانکار څه ګنجائش نه وي او ټول خلک به په هغه ایمان راوړي.

**جواب:** هو! همداسې به وي او په قران او حدیث نبوي ﷺ کې دا خبر ورکړل شوی دی، په قرآن کریم کې د حضرت عیسی علیه السلام په تذکره کې دي:[۱]

" او نه دی هیڅوك د اهل کتابو نه، خو ضرور به هغه ایمان راوړي د هغه له مرګ نه مخکې او د قیامت په ورځ به هغه په دوی باندې ګواه وي". (النساء: ۱۵۹).

او په حدیث شریف کې راغلي دي: " او زه د ټولو خلقو نه زیات نژدې یم عیسی بن مریم ته، ځکه چې زما او د هغه په مینځ کې څوك نبي نه دی راغلی، چې کله تاسو هغه ووینئ نو هغه وپیژنئ درمیانه قد، سوراو سپین رنګ، سپین ویښته، د نازلیدو په وخت به د هغوی سر نه ګویا څاڅکي راپریوځي، که څه هم هغه ته لوند والی هم نه وي رسیدلی، د پیکه رنګ دوه ژیړ څادرونه به یې په بدن باندې وي، صلیب به مات کړي، خنزیران به قتل کړي، جزیه به بنده کړي او ټول مذهبونه به معطل کړي، تردې چې الله پاك به له مسلمانانو نه پرته نور ټول قومونه هلاك کړي، په ځمکه کې به د امن او امان دوره شي، تردې چې اوښان به له زمریو سره، پړانګان د غواګانو سره او شرمخان(لېوان) به له ګډو بیړو سره څریږي او ماشومان به مارانو سره لوبې کوي يو بل ته به نقصان نه رسوي. نو چې څومره زمانه الله پاك ته منظوره وي په ځمکه باندې به اوسیږي بیا به هغه علیه السلام وفات شي، نو مسلمانان به د هغه د جنازې لمونځ ادا کړي او هغه به دفن کړي. (مسند احمد ص۴۳۷، ج۲. فتح الباری ص۴۹۳، جلد۶ مطبوعه لاهور. التصریح بماتواتر فی نزول المسیح ص۱۶۱).[۲]

---

۱] ''وان من اهل الکتٰب الا لیؤمنن به قبل موته، ویوم القیٰمة یکون علیهم شهیداً''. (النساء/۱۵۹،۱۵۸)۔

۲] عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: الانبیاء اخوة لعلات دینهم واحد وامهاتهم شتي، وانا اولی الناس بعیسی ابن مریم لانه لم یکن بیني وبینه نبي، وانه نازل فاذا رأیتموه فاعرفوه فانه رجل مربوع الی الحمرة والبیاض سبط کان رأسه یقطر وان لم یصبه بلل بین ممصرتین فیکسر الصلیب ویقتل الخنزیر ویضع الجزیة ویعطل الملل حتی یهلک الله فی زمانه الملل کلها غیر الاسلام ویهلک الله فی زمانه المسیح الدجال الکذاب وتقع الامنة فی الارض حتی ترتع الابل مع الاسد جمیعاً والنمور مع البقر والذئاب مع الغنم ویلعب الصبیان والغلمان بالحیات لایضر بعضهم بعضا فیمکث ماشاء الله ان یمکث ثم یتوفی فیصلی علیه المسلمون ویدفنونه (التصریح بما تواتر فی نزول المسیح/ص۱۶۱/طبع دارالعلوم کراچی)۔

# د حضرت عیسی علیه السلام مشن (هدف) به څه وي؟

**سوال:** دحضرت عیسی علیه السلام دتشریف راوړلو مقصد څه دی او دهغه مشن به څه وي؟ هرکله چې دین اسلام دالله تعالی مکمل اوخوښ دین دی، نو ظاهره ده چې دهغه راتلل به د عیسایانو داصلاح له پاره کیږي. که چېرې داسلام له پاره ومنل شي، نو زموږ داخرالزمان نبي ﷺ په درجه کې به کمی راشي، مهرباني وکړئ داخبار په ذریعه زما دسوال جواب راکړئ.

چې دحضرت عیسی علیه السلام مشن (هدف) به څه وي؟

**جواب:** دحضرت عیسی علیه السلام دتشریف راوړلو هدف نبي کریم ﷺ پخپله پوره تفصیل او وضاحت سره فرمایلی دی، په دې اړه ګڼ احادیث مامخکې نقل کړي دي، خو دلته یوازې دیوحدیث پاك حواله ورکول به کافي وي:

"حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې نبیان علاتي وروڼه دي، ددوی میندې ځانته ځانته دي، خو ددوی دین یو دی او زه دحضرت عیسی علیه السلام سره دټولو نه زیات تعلق لرونکی یم، ځکه چې دهغه او زما په مینځ کې څوك نبي نه دی راغلی اوهغه نازلیدونکی دی، چې کله هغه ووینئ نوویې پیژنئ!

قد یې درمیانه، رنګ یې سورسپین والی ورګډشوی، دزیړ رنګ دوه څادرونه به یې په بدن وي اونازل به شي، دسرمبارك نه به یې ګویا څاڅکې تویږي اګرچې لوند والی به ورته نه وي رسیدلی، هغه چې نازل شي، نوصلیب به مات کړي، خنزیران به قتل کړي، جزیه به بنده کړي او ټولو خلکو ته به داسلام دعوت ورکړي.

الله تعالی به دهغه په زمانه کې داسلام نه پرته نور ټول قومونه هلاك کړي اوالله تعالی به دهغه په زمانه کې مسیح دجال هلاك کړي، دځمکې په مخ باندې به د امن او امان دور شي، زمري به د اوښانو سره، پړانګ به د غواګانو سره، شرمخ (لېوه) به دچیلو سره څریږي، ماشومان به مارانو سره لوبې کوي اوهغه به دوی ته نقصان نه رسوي حضرت عیسی ابن مریم علیه السلام به څلویښت کاله په ځمکه باندې اوسیږي، بیابه هغه وفات شي مسلمانان به دهغه جنازه وکړي اوهغه به دفن کړي (مسند احمد ص ۴۰۶ ج ۲. فتح الباری ص. ۲۵۷ ج ۶)[۱]

---

۱] عن ابی هریرة رضی الله عنه ان النبي صلی الله علیه وسلم قال: الانبیاء اخوة لعلات امهاتهم شتی ودینهم واحد، وانا اولی الناس بعیسی ابن مریم لانه لم یکن بیني وبینه نبي، وانه نازل فاذا رأیتموه فاعرفوه فانه رجل مربوعاً الی الحمرة والبیاض علیه ثوبان ممصر ان کان رأسه یقطر ولم یصبه بلل فیدق الصلیب ویقتل الخنزیر ویضع الجزیة ویدعوالناس الی الاسلام فیهلک الله فی زمانه الملل کلها الا الاسلام ویهلک الله فی زمانه المسیح الدجال وتقع الامنة فی الارض حتی ترتع الاسد مع الابل والنمار مع البقر والذئاب مع الغنم ویلعب الصبیان والغلمان بالحیات لاتضرهم فیمکث اربعین سنة ثم یتوفی فیصلی علیه المسلمون (مسند احمد/ج۲/ص۴۰۶، واللفظ له، فتح الباري/ ج۲/ص۲۵۷/ التصریح/ص۱۶۰)_

له دې پاك ارشاد نه ښكاره شوه چې دحضرت عيسى عليه السلام اصلي هدف د يهودو اونصاراوو اصلاح او ديهوديت اونصرانيت د اثراتو نه ټوله ځمكه پاكول دي، خودا زمانه د خاتم الانبياء صلى الله عليه وسلم دنبوت او بعثت ده، له دې وجې به هغه د امت محمدي يو فرد جوړشي اودنبي عليه السلام د خادم اوخليفه په حيثيت سره به تشريف راوړي.

څنګه چې په يوبل حديث كې ارشاد دى:

"واورئ! چې دحضرت عيسى بن مريم عليه السلام او زما په مينځ كې بل څوك نبي نه دى راغلى، واورئ! چې هغه زمانه وروسته زما په امت كې خليفه دى، واورئ ! هغه به دجال قتل كړي، صليب به مات كړي، جزيه به بنده كړي، جنګ به خپله وسله اوغورځوي، واورئ! كوم سړى چې تاسونه هغه بياموي، هغه ته دې زما سلام ووايي.(مجمع الزوائد ص۲۰۵،ج.۸.درمنثور ص۲۴۲.ج.۲).[۱]

له دې وجې نه داسلام چې كوم خدمت هم هغه سرته رسوي اود هغه راتلل په حيثيت دنبي كريم صلى الله عليه وسلم ديو خادم اوپه امت محمدي كې شامليدل به زموږ دنبي صلى الله عليه وسلم په شان كې دكمي سبب نه وي، بلكې دهغه د سرداري او مشري اوعزت او مرتبې يوه لويه كارنامه ده، هغه وخت به خلك ويني چې واقعى ټول تيرشوي انبياء(على نبينا وعليهم الصلوات والتسليمات) دنبي كريم صلى الله عليه وسلم تابعدار دي، څنګه چې نبي عليه السلام وفرمايل:

په الله قسم! كه موسى ژوندى واى، نودهغه له پاره به هم زماد اطاعت نه پرته بله لاره نه وى".(مشكوة شريف:ص.۳۰).[۲]

## حضرت عيسى عليه السلام په اسمان كې ژوندى دى

**سوال:** څنګه چې دقران اوحديثو په رڼا كې واضحه ده چې حضرت عيسى عليه السلام په اسمان كې ژوندى دى، اوس موږ له تاسو نه پوښتنه كوو چې حضرت عيسى عليه السلام په كوم اسمان كې دى او دهغه د انساني ضرورياتو غوښتنې به څنګه پوره كيږي، مثلا خوراك څښاك،ويده كېدل بيداريدل او الفت اومحبت او نور د انسان د ضرورتونو شيان به ورته څنګه وركول كيږي، وضاحت يې وكړئ او موږ مطمئن كړئ.

---

[۱] عن ابي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا ان عيسى بن مريم ليس بيني وبينه نبي ولا رسول الا انه خليفتي في امتي من بعدي، الا انه يقتل الدجال ويكسر الصليب ويضع الجزية وتضع الحرب اوزارها، الا من ادركه منكم فليقرأ عليه السلام (درمنثور/ج۲/ص۲۴۲/واللفظ له، مجمع الزوائد/ج۲/ص۲۰۵)۔

[۲] عن جابر عن النبي صلى الله عليه وسلم حين اتاه عمر فقال......ولو كان موسىٰ حياً لماوسعه الا اتباعي (مشكوٰة/ص۳۰)۔

**جواب:** دحضرت عيسیٰ علیہ السلام اسمان ته ژوندي خېژول اوقيامت ته نژدې په دويم ځل ځمکې ته نازليدل، خوداسلام قطعي عقيده ده، چې په هغه باندې دقران او حديث قطعي دلايل قائم دي او په دې دامت اجماع ده[۱] دمعراج په حديث کې دي چې دنبي کريم ﷺ حضرت عيسیٰ علیہ السلام سره په دويم اسمان باندې ملاقات شوی و[۲] په اسمان باندې د مادي غذا او د وړوکي او لوی اودس ماتي ضرورت نه راځي، څنګه چې جنتيانوته به ضرورت نه پيښيږي.[۳]

## د حضرت عيسى عليه السلام ژوند او راکوزيدل د قران او حديثو په رڼا کې

زماپه زړه کې دوه درې سوالونه راغلي دي، چې دهغو جواب غواړم او دا جوابونه دې دقران مجيد په ذريعه ورکړل شي اوزه تاسوته دا ښودل غواړم چې زه احمدي يم،که چېرې تاسو زما دسوالونو صحيح جواب راکړ، نو کېدای شي چې زه تاسو ته ډير نژدې شم.

**سوال نمبر ۱:** ايا تاسودقران مجيد نه دا ښودلی شئ چې حضرت عيسیٰ علیہ السلام ژوندی دی، په اسمان کې موجود دی او په دې دنياکې وفات شوی نه دی؟

**سوال نمبر ۲:** ايا په قران مجيد کې چېرته ذکرشوي دي چې حضرت عيسیٰ علیہ السلام به په دويم ځل دنياته تشريف راوړي؟ اوهغه به دراتلو سره دامام مهدي دعوه کوي؟

**سوال نمبر ۳:** د "**کل ذائقة الموت** لفظ معنا څه ده؟ او ايا دې سره دهغه په په دويم ځل راتلو څه اثرنه پريوځي؟

---

۱]وبه صرح الحافظ عمادالدين ابن كثير حيث قال فى تفسيره......انه لعلم للساعة، وقد تواترت الاحاديث عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه اخبر بنزول عيسىٰ عليه السلام قبل يوم القيامة اماماً عادلاً وحكماً مقسطاً، وصرح به فى تفسير سورة النساء ايضاً، وذكر الحافظ ابن حجر فى كتابه (فتح البارى) تواتر نزول عيسىٰ عليه السلام عن ابى الحسين الابرى، وقال فى التلخيص الحبير من كتاب الطلاق، واما رفع عيسىٰ عليه السلام فاتفق اصحاب الأخبار والتفسير على انه رفع ببدنه حياً......الخ (التصريح بماتواتر فى نزول المسيح/ص۵۸تا۶۲، تفسير ابن كثير/ج۵/ ص۵۳۰/طبع رشيديه)۔

۲]عن قتادة عن انس بن مالك......ثم صعد بى حتى اتى السماء الثانية فاستفتح......ففتح فلما خلصت اذا يحيىٰ وعيسىٰ وهما ابنا خالة......الخ (مشكوٰة،باب المعراج/ص۵۲۷)۔

۳] ان الطعام انما جعل قوتاً لمن يعيش فى الارض...... واما من رفعه الله الى السماء فانه يلطفه بقدرته ويغنيه عن الطعام والشراب كما اغنى الملائكة عنهما فيكون حينئذ طعامه التسبيح وشرابه التهليل كما قال صلى الله عليه وسلم: انى ابيت عند ربى يطعمنى ويسقينى (اليواقيت والجواهر، علامه شعرانى/ج۲/ص۱۴۶) ايضاً عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان اهل الجنة يأكلون فيها ويشربون ولا يتفلون ولايبولون ولايتغوطون ولايتمخطون، قالوا: فمابال الطعام؟ قال: جشاء ورشح كرشح المسك يلهمون التسبيح والتحميد كما تلهمون النفس رواه مسلم (مشكوٰة/ص۴۹۶)۔

**جواب:** ترڅو پورې چې ستاسو د دې خبرې تعلق دی چې "که چېرې تاسو زما د سوالونو جواب صحیح راکړ، نو کېدای شي چې زه تاسو ته نژدې راشم".

داخو یوازې د الله په توفیق او هدایت باندې منحصر ده، بیا هم تاسو چې کوم سوالونه کړي دي، زه د هغو جوابونه پیش کوم او دا فیصله ستاسو او د نورو لوستونکو کار دی چې زه جواب صحیح ورکوم او که نه، که چېرې زما په جواب کې چېرته څه خطا وي، نو تاسو په هغه نیوکې کولی شئ. **وبالله التوفیق.**

په اصل سوالونو باندې د بحث کولو نه وړاندې زه اجازه غواړم چې یوه اصولي خبره وړاندې کړم هغه دا چې د حضرت عیسی علیه السلام د ژوند او د هغه د دویم ځل تشریف مسئله نن اول ځل زما او ستاسو په مخکې نه ده راغلې، بلکه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مبارک دور نه واخله ترننه پورې دا د امت اسلامیه متواتر او قطعي عقیده راروانه ده، د امت هیڅ دور داسې نه دی تېر شوی چې په هغه کې د مسلمانانو دا عقیده نه وي پاتې شوي او د امت اکابر صحابه کرامو، تابعینو او د مجتهدین امامانو نه یو کس هم داسې نشته چې د دې عقیدې قائل نه وي، څنګه چې د لمونځ د رکعتونو تعداد قطعي دی، دا رنګه په اسلام کې د حضرت عیسی علیه السلام د حیات او د راتلو عقیده هم قطعي ده.

پخپله جناب مرزا صاحب هم د دې اقرار کوي څنګه چې هغه لیکي: د مسیح ابن مریم د راتلو پیش ګویي د اول درجې پیش ګویي ده چې هغه ټولو په اتفاق قبوله کړې ده او څومره چې په صحاح کې پیشګویانې لیکل شوي دي، هیڅ یوه پیشګویي له دې سره برابره نه ثابتیږي، د تواتر اوله درجه دې ته حاصله ده. (ازاله اوهام روحانی خزائن ص، ۴۰۰، ج۳).

بل ځای کې لیکي: د دې امر نه په دنیا کې د هیچا هم انکار نشته چې په احادیثو کې د مسیح موعود ښکاره پیشګویي موجوده ده، بلکې تقریبا د ټولو مسلمانانو په دې باندې اتفاق دی، چې د احادیثو له مخه ضرور یو سړی راتلونکی دی چې د هغه نوم به عیسی ابن مریم وي او دا پیش ګویي د بخاري، مسلم او ترمذي او داسې نورو د احادیثو په کتابونو کې دومره په کثرت سره موندل کیږي چې د یو منصف مزاجه د تسلي له پاره کافي دي".

"دا خبره د مسیح موعود د راتلو په دومره زور سره په هره زمانه کې خوره شوې معلومیږي چې له دې نه به زیات هیڅ جهالت نه وي چې د دې د تواتر نه انکار وکړل شي، زه ریښتیا وایم چې که چېرې د اسلام هغه کتابونه چې د هغو له مخه دا سلسله وار خبر شائع شوی راروان دی دا صدی وار مرتب کړي را جمع کړل شي، نو داسې کتابونه به د زرګونو نه څه کم نه وي، خو دا پیژندل هغه سړي ته مشکل دي چې له اسلامي کتابونو نه بالکل ناخبره وي" (شهادة القران ص۲ روحانی خزائن ج۶ ص۲۹۸).

مرزا صاحب دحضرت عیسیٰ علیہ السلام د راتلو احادیث متواتر او دامت د اعتقادي عقائدو مظهر ګرځوي او لیکي:

"بیا داسې احادیث چې تعامل اعتقادي یاعملي کې راغلل،داسلام دمختلفو ډلو یوشعار ګرځیدلی و،دهغو د قطعیت او دتواتر په نسبت کلام کول، خوپه حقیقت کې لیونتوب اوددیوانګي یوه شعبه ده"(شهادة القران ص۵،روحانی خزائن ص۳۰۱،ج۶).

دجناب مرزا صاحب دا ارشادات دزیات تشریح او وضاحت محتاج نه دي، خو بیابه هم په دې باندې دومره اضافه ضرور وکړم.

۱۔دنبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم په احادیثوکې (کوم چې مرزا صاحب قطعي متواتر تسلیموي) دیو ګمنام "مسیح موعود" د راتلو پیش ګویي نه ده شوې، بلکې پوره وضاحت او صراحت سره دحضرت عیسیٰ علیہ السلام قیامت ته نژدې د دویم ځل نازلیدو خبر ورکړل شوی دی، دټول امت اسلامیه یو یو کس د قران کریم او داحادیثو په رڼا کې یوازې یو شخصیت د"عیسیٰ علیہ السلام" په نوم سره پیژني ، شخصیت نه پرته دبل چا له پاره "دعیسی بن مریم علیہ السلام" لفظ په اسلامي ډکشنري کې کله هم نه دی استعمال شوی.

۲: دنبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم نه واخله تر ننه پورې په امت اسلامیه کې چې ځنګه دحضرت عیسیٰ علیہ السلام د راتلو عقیده په تواتر سره را راوانه ده، دا رنګه دهغه ژوند اود رفع اسماني عقیده هم په تواترسره راروانه ده اودا دواړه عقیدې همیشه لازم اوملزوم پاتې شوي دي.

۳: په کومو زرګونو کتابونوکې یې چې صدی وار او دحضرت عیسیٰ علیہ السلام راتلل لیکلي دي، همدغه کتابونوکې یې دا هم لیکلي دي چې هغه علیہ السلام په اسمان کې ژوندی دی او قیامت ته نژدې به تشریف راوړي، نوکه چېرې دعیسیٰ علیہ السلام د راتلو نه انکار دمرزا صاحب په قول"د دیوانګي او لیونتوب یوه شعبه ده" نو دهغه دحیات دانکار به هم یقینا دا حکم وي ددې تمهیدي ګزارشاتو نه اوس ستاسو دسوالونو جوابونه وړاندې کوم.

## (۱) د عیسیٰ علیه السلام ژوند

تاسو پوښتنه کړې وه چې ایا دقران کریم نه دا ثابتیدلی شي چې حضرت عیسیٰ علیہ السلام وفات نه دی، بلکې هغه ژوندی دی، په جواب کې دا عرض دی چې دقران کریم دګڼو ایتونو نه دا عقیده ثابته ده چې الله تعالی حضرت عیسیٰ علیہ السلام دیهودو دنیولونه بچ کړ او ژوندی یې اسمان ته پورته کړ.

**رومبی ایت**:په سورة النساء ایت نمبر۱۵۸،۱۵۷ کې دیهودو دا دعوا نقل شوي ده چې "موږ مسیح بن مریم رسول الله قتل کړ" الله تعالی د دوی ددې ملعونې دعوې تردید کوي اوفرمایي چې هغوی خونه عیسیٰ علیہ السلام قتل کړ اونه یې پانسي کړ، بلکې دوی ته اشتباه وشوه

اوهغوی یقیناً هغه علیه السلام نه دی قتل کړی، بلکې هغه الله تعالی خپل طرف ته پورته کړ او الله ډیرلوی طاقت والا دی او ډیر حکمت والا دی". [۱]

دلته ستاسو څو شیانوطرف ته توجه راګرځوم:

۱: د یهودو د دعوې تردید کولو سره الله تعالی دقتل او پانسي کولو تردید وکړ،له دې نه وروسته یې دقتل او د رفع په مینځ کې مقابله وکړه او دقتل نفې یې وکړه او دهغه په ځای یې رفع ثابت کړه.

۲: چېرته چې د رفع اودقتل په مینځ کې دا شان مقابله وي څنګه چې په دې ایت کې ده، هلته د رفع نه مراد د روح او جسم د دواړو رفع مراد کېدای شي،یعنې ژوندي پورته کول یوازې د روح رفع مراد کېدای شي اونه رفع درجات مراد کېدای شي، په قران کریم،حدیث نبي صلی الله علیه وسلم او د عربو په محاوراتو کې به داسې یومثال هم پیدا نه شي چې یوځای کې دقتل نفي یې کړې وي اودهغه په ځای رفع ثابته شوې وي اوهلته یوازې روح یا درجات مراد شوي وي او نه دا دعربیت په لحاظ سره صحیح دی. [۲]

۳: الله تعالی دجهت او دمکان نه پاك دی، خو اسمان د وچتوالي طرف ته دی او وچتوالی دالله تعالی دشان سره لائق دی، له دې وجې د قران په ژبه کې د"رفع الی الله" معنا ده داسمان طرف ته اوچتول.

۴: دحضرت عیسی علیه السلام د یهودو دهلاکت نه بچ کول او صحیح سالم اسمان ته خیژول دهغه د قدر او منزلت دلیل دی، دغه رفع جسماني هم ده او روحاني اومرتبي هم، دې ته یوازې رفع جسماني ویلو سره دا درفع روحاني مقابل ګڼل غلط دي، ښکاره ده چې که چېرې یوازې"دروح رفع" عزت او کرامت وي، نو د روح او جسم د دواړو رفع" ددې نه زیات د عزت اوکرامت سبب دی.

۵: دهغه اسمان ته د اوچتولو واقعه دعامو خلکو دعقل نه پورته ده او ددې خبرې احتمال و چې خلک به ددې په باره کې مختلف قسمه اعتراضونه کوي چې هغه اسمان ته څنګه وخیژول شو؟ ددې څه ضرورت و؟ ولې الله تعالی په ځمکه باندې دهغه حفاظت نه شو کولی؟ دحضرت عیسی علیه السلام نه پرته بل کوم نبي ولې ونه خیژول شو، اوداسې نور...

ددې ټولو شبهاتو جواب په"وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا" کې ورکړل شو،یعنې الله تعالی غالب

---

۱] ''وقولهم انا قتلنا المسيح عيس ابن مريم رسول الله، وماقتلوه وماصلبوه ولكن شبه لهم......وماقتلوه يقينا بل رفعه الله اليه وكان الله عزيزا حكيماً''(النساء/۱۵۸،۱۵۷)۔

۲] قوله (انى متوفيک) يدل على حصول التوفى وهو جنس تحته الواع بعضها بالموت وبعضها بالاصعاد الى السماء فلما قال بعده (ورافعک الي) كان هٰذا تعييناً للنوع ولم يكن تكراراً (تفسير كبير/ج۸/۶۸) فالرفع فى الاجسام حقيقة فى الحركة والانتقال، وفى المعاني: محمول على مايقتضيه المقام (المصباح المنير/ص۱۳۹)۔

دی، ټول کائنات د هغه په قبضه او قدرت کې دي، له دې وجې د حضرت عیسیٰ علیه السلام صحیح سالم اوچتول هیڅ مشکل نه دي او هلته د هغه د ژوندي ساتلو استعداد پیدا کول د هغه په قدرت کې دي.

د کائناتو هیڅ یو شی د هغه د ارادې په مینځ کې خنډ نه شي راتلی او بیا هغه حکیم مطلق هم دی، که څېرې تا ته د حضرت عیسیٰ علیه السلام د خېژولو حکمت په پوهه کې نه راځي، نو تاسو ته په اجمالي طوربانديې دا ایمان ساتل پکار دي چې ددې حکیم مطلق د حضرت عیسیٰ علیه السلام خیژول به هم د حکمت نه خالي نه وي، له دې وجې تاسو ته د اعتراضونو په ځای دالله تعالی په حکمت بالغه باندې ایمان ساتل پکار دي.

۲: ددې ایت په تفسیرکې داولې پېړۍ نه تر دیارلسمې پېړۍ پورې ټولو مفسرینو لیکلي دي چې حضرت عیسیٰ علیه السلام ژوندی اسمان ته اوچت کړل شو او هغه به قیامت ته نژدې د اسمان نه راکوزیږي د ټولو بزرګانو حوالې ورکول ممکن نه دي له دې وجې زه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په تفسیر باندې اکتفاء کوم:

"څوك چې د قران کریم په پوهیدلو کې اول نمبر دی او په دې باره کې د دوی په حق کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه دعا هم ده"[۱] (ازالۂ اوهام ص۲۴۷،روحانی خزائن ص۲۲۵ج۳).

په تفسیر درمنثور (۳۶,۲)تفسیرابن کثیر(۳۶۶,۱) تفسیرابن جریر(۲۰۲,۳) کې یې دا ارشاد نقل کړی دی چې هغه صلی الله علیه وسلم یهودو ته وفرمایل: " بیشکه عیسیٰ علیه السلام مړنه دی او بیشکه هغه به تاسو ته په دویم ځل راځي".[۲]

په تفسیر درمنثور(۳,۲) کې دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د عیسایانو سره په بحث کولو کې وفرمایل:" ایا تاسو نه پوهیږی چې زمونږ رب ژوندی دی، هیڅ کله به نه مري او عیسیٰ علیه السلام ته به مرګ راځي؟".[۳]

په تفسیرابن کثیر(۵۷۴,۱) تفسیر درمنثور(۲۳۸,۲) کې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په صحیح سند سره منقول دي" چې کله یهودیان د حضرت عیسیٰ علیه السلام د نیولو له پاره راغلل، نو الله تعالی د هغه شباهت په یو سړي باندې واچو، یهودو دا د مسیح مشابه وګانه او په صلیب یې

---

۱] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: ضمنی النبي صلی الله علیه وسلم الی صدره فقال: اللهم علمه الحکمة، وفی روایة: علمه الکتاب ورواه البخاري وعنه قال: ان النبي صلی الله علیه وسلم دخل الخلاء فوضعت له وضوء فلما خرج قال: من وضع هٰذا؟ فاخبر فقال: اللهم فقهه فی الدین متفق علیه (مشکوٰة/ص۵۶۹/باب مناقب اهل البیت،الفصل الاول)۔

۲] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم للیهود: ان عیسٰی لم یمت وانه راجع الیکم قبل یوم القیامة (درمنثور/ج۲/ص۳۶)۔

۳] عن الربیع قال: ان النصاریٰ اتوا رسول الله صلی الله علیه وسلم فخاصموه فی عیسی بن مریم...... قال: الستم تعلمون ان ربنا حی لایموت وان عیسٰی یاتی علیه الفناء؟ قالوا:بلٰی!(تفسیردرمنثور/ج۲/ص۳/طبع ایران)

ځورند کړاو حضرت عیسی علیه السلام دهغه ځای له چت نه ژوندی اسمان ته وخیژول شو؟[۱]

ځنګه چې ماپورته عرض کړی دی چې ټول اکابرمفسرین او مجددین متفق دي چې ددې ایت مطابق حضرت عیسی علیه السلام صحیح سالم ژوندی اسمان ته خیژول شوی دی، له فلاسفه وو اوزنادقه وو نه پرته دسلفو نه هیڅ یوقابل ذکرسړی ددې نه منکرنه دی[۲] اونه ثوك ددې خبرې قائل دي چې حضرت عیسی علیه السلام په سولۍ(دار) ختلو اوبیادصلیبي زخمونو جوړیدو نه پس کشمیرته لاړ اوهلته درې اویاکاله پس دهغه وفات شو.

اوس تاسو پخپله انصاف وکړئ چې د امت ددې اعتقادي تعامل نه پس دحضرت عیسی علیه السلام په رفع اسماني کې شك کول اودهغه په قطعیت او تواتر کې کلام کول دجناب مرزا صاحب په قول" په حقیقت کې د دیوانګي اوجنون یوه شعبه" ده اوکه نه ده"؟

## (۲) د حضرت عیسی علیه السلام په دویم ځل راتلل

د سیدنا عیسی علیه السلام ددویم ځل راتللو مضمون دقران کریم په څو ایتونو کې بیان شوی دی او--دا ویل بالکل صحیح دي چې دنبي کریم ﷺ هغه متواتر احادیث کومو کې چې د حضرت عیسی علیه السلام دنزول خبرورکړل شوی دی اوپه کوموباندې چې په قول دمرزا صاحب "د امت اعتقادي تعامل راروان دی"[۳] هغه ټول هم ددې ایتونو تفسیر دی.

**اول آیت**: په سورت الصف ایت نمبر۹ کې ارشاد دی: "هماغه دی چاچې خپل رسول ولیږه دهدایت او حق دین یې ورکړ چې هغه غالب کړي په ټولو دینونوباندې، که څه هم مشرکان دا نه خوښوي".[۴]

"داایت دجسماني او ملکي سیاست په طورباندې دحضرت مسیح په حق کې پیش ګویي ده اوچې ددین اسلام دکومې دکاملې غلبې وعده شوېده هغه غلبه به دمسیح په ذریعه ظاهریږي اوچې کله حضرت مسیح علیه السلام په دویم ځل دې دنیاته تشریف راوړي،نو دهغه په لاس باندې به دین اسلام د دنیا ټولو اطرافو کې خوریږي، خو دې عاجزباندې ښکاره شوې

---

۱] (وقولهم انا قتلنا المسيح) عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: لما اراد الله ان يرفع عيسٰى الى السماء خرج الى اصحابه.....فالقى عليه (اى على احد من حواريه) شبه عيسٰى ورفع عيسٰى من روزنة فى البيت الى السماء، قال: وجاء الطالب من اليهود فاخذوا الشبه فقتلوه ثم صلبوه......الخ (تفسير درمنثور/ج۲/ص۲۳۸/طبع ایران)۔

۲] فان قيل: فما الدليل على نزول عيسىٰ عليه السلام من القران؟ فالجواب: الدليل على نزوله قوله تعالىٰ: وان من اهل الكتٰب الا ليؤمنن به قبل موته اى حين ينزل ويجمعون عليه، وانكرت المعتزلة والفلاسقة واليهود والنصارىٰ عروجه بجسده الى السماء (اليواقيت والجواهر/ ج۲/ص۱۴۶/حصه دوم، طبع مصر)۔

۳] شهادة القران/ص۵/روحانى خزائن/ج۶/ص۳۰۱)۔

۴] ''هوالذى ارسل رسوله بالهدى ودين الحق ليظهره على الدين كله ولوكره المشركون'' (الصف/۹)۔

ده چې چا دا خاکسار دخپل غربت اوانکسار او توکل او ايثار اوداياتونو او انوارو دمخه دمسيح موعود د اولني ژوند نمونه ده، ددې عاجز حضرت مسيح سره مکمل مشابهت دی، ځکه خداوندکريم د مسيح پورته ذکرشوې پيش ګويي کې دابتداء نه دا عاجز هم شريك کړی دی، يعنې دحضرت مسيح پورته ذکرشوې پيش ګويي ظاهري او جسماني طورباندې مصداق دی او دا عاجز روحاني اومعقولي طورباندې.(براهين احمديه مصنفه مرزا غلام احمد صاحب ص۴۹۸،۴۹۹) روحاني خزائن ص ۵۹۳،۵۹۴،جلد۱).

"يعنې خدای هغه خدای دې چاچې خپل رسول ته يوکامل هدايت او ريښتينی دين ورکړ او ويې ليږه چې هغه په هرقسمه دين باندې غالب کړي، يعنې په ټوله دنيايوه غلبه هغه ته ورکړي او دټولې دنيادغه غلبه دنبي عليه السلام په زمانه کې ظاهرنه شوه اوممکنه نه ده چې دخدای په پيش ګويي کې څه خلاف راشي ځکه ددې ايت په نسبت دهغه ټولو متقدمينو اتفاق دی کوم چې زموږ نه مخکې تيرشوي دي چې داغلبه به دمسيح موعود په وخت کې ظهور ته راځي".(چشمه معرفت مصنفه مرزا غلام احمدصاحب ص،۸۳،۹۱،روحانی خزائن جلد ۲۳ص۹۱).

د جناب مرزا صاحب دې تفسير نه ځوخبرې معلومې شوې:

(۱) په دې ايت کې دحضرت عيسی عليه السلام جسماني طور باندې ددويم ځل راتللو پيش ګويي شوې ده.

(۲) مرزا صاحب باندې دالهام په ذريعه دالله تعالی له طرف نه ظاهره شوې ده چې حضرت عيسی عليه السلام ددې ايت دپيش ګويي جسماني اوظاهري طورباندې مصداق دی.

(۳) دامت ټول مفسرين په دې باندې متفق دي چې د اسلام کامله غلبه به دحضرت مسيح عليه السلام په وخت کې وي.

دجناب مرزا صاحب ددې الهامي تفسير نه په کوم چې د ټولو مفسرينو د اتفاق مهر هم لګيدلی دی، دا ثابته شوه چې دالله پاك ددې قراني وعدې مطابق به سيدنا عيسی عليه السلام ضرورپه دويم ځل تشريف راوړي اودهغه په لاس به اسلام په ټولو مذهبونو باندې غالب کيږي،ځنګه چې دنبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد هم دی چې" الله تعالی به دعيسی عليه السلام په زمانه کې ټول مذاهب ختم کړي."(ابو داؤد،مسنداحمد،مستدرک حاکم).[۱]

وروسته جناب مرزا صاحب پخپله دمسيحيت منصب سنبال کړ، خو دا فيصله خوتاسو کولی شئ چې ايا دده په زمانه کې اسلام ته کامله غلبه نصيب شوه؟ نه! بلکې ددې برعکس دا وشو چې دټولې دنيامسلمانان د مرزا صاحب اودهغه دډلې نه منلو په وجه کافر وګرځيدل، بل خوا مسلمانانو مرزا صاحب اود هغه ډله داسلام نه يو جدا فرقه وګڼله.

---

۱].....ويهلک الله فی زمانه الملل کلها الا الاسلام...الخ (سنن ابی داؤد/ج۲/ص۲۳۸/باب خروج الدجال)

نتیجه دا شوه چې د اسلام هغه کامله غلبه ښکاره نه شوه، کومه چې د حضرت عیسی علیه السلام په لاس مقدره وه، له دې وجې د جناب مرزا صاحب د مسیحیت دعوې باوجود زمانه د قران د وعدې په انتظارکې ده او یقین ساتل پکار دي چې حضرت عیسی علیه السلام به د دې وعدې د پوره کولو له پاره بنفس نفیس پخپله تشریف راوړي ځکه چې په قول د مرزا صاحب ------- "ممکنه نه ده چې د خدای پاك پیش ګویي کې تخلف راشي".

**دویم آیت**: په سورت النساء ایت نمبر ۱۵۹ کې هم الله تعالی د حضرت عیسی علیه السلام د دویم ځل تشریف راوړلو او د ټولو اهل کتابو په هغه باندې د ایمان راوړلو خبر ورکړی دی ځنګه چې ارشاد دی:[1]

"هیڅ یو کس د اهل کتابونه نه دی مګر خامخا به د هغه له مرګه مخکې په هغه ایمان راوړي او د قیامت په ورځ به په دوی باندې ګواه وي" (فصل الخطاب ص ۸۰ جلد ۲ مؤلفه حکیم نوردین قادیانی)

د حکیم صاحب ترجمه د دولسمې پېړۍ د مجدد حضرت شاه ولي الله صاحب رحمه الله د فارسي ترجمې ګویا اردو ترجمه ده، شاه صاحب رحمه الله د دې په حاشیه کې لیکي:

"یعنې یهود کی حاضر شوند نزولِ عیسی را البته ایمان آرند".

"یعنې د ایت مطلب دا دی چې کوم یهودیان د عیسی علیه السلام د نزول په وخت کې موجود وي هغوی به ایمان راوړي".

د دې ایت د ترجمې نه معلومه شوه چې:

۱: د عیسی علیه السلام په اخري زمانه کې په دویم ځل تشریف راوړل مقدر دي.

۲: د غه وخت به ټول اهل کتاب په هغه باندې ایمان راوړي.

۳: او له دې نه وروسته به د هغه وفات شي.

په ټول قران مجید کې یوازې په دې موقع باندې د حضرت عیسی علیه السلام د مرګ ذکر دی چې له دې نه مخکې د ټولو اهل کتابو په ده باندې ایمان راوړل شرط دي، اوس د دې ایت هغه تفسیر ملاحظه کړئ کوم چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د اکابرو صحابه وو او تابعینو نه نقل دی:

په صحیح بخاري ص ۴۹۰، ج ۱ کې د حضرت عیسی علیه السلام په حالاتو کې امام بخاري یو باب تړلی دی. "باب نزول عیسی بن مریم علیه السلام" او د دې لاندې یې دا حدیث ذکرکړی دی:

"حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما روح د هغه په قبضه کې دی، نژدې ده چې نازل به شي په تاسو کې ابن مریم د عادل حاکم په حیثیت سره " صلیب به مات کړي او خنزیران به قتل کړي، جنګ به بند کړي او مال به ډیر شي تردې چې هیڅ کس به یې نه قبلوي، تردې چې یوه سجده به بهتره وي له ټولې دنیا د دولت نه، بیا یې وفرمایل ابوهریره رضي الله عنه چې لولئ که چېرې غواړئ د قران کریم ایت "اوله

---

[1] ''وان من اهل الكتٰب الا ليؤمنن به قبل موته ويوم القيٰمة يكون عليهم شهيداً'' (النساء/۱۵۹)۔

اهل کتابونه هیڅ څوک نه ی مګرضرور به ایمان راوړي په حضرت عیسی علیه السلام باندې دهغه دمرګ نه مخکې او عیسی علیه السلام به دقیامت په ورځ باندې په دوی باندې ګواه وي". [۱]

دنبي کریم ﷺ دا وینا مبارکه د قران ددې ایت تفسیر دی له دې وجې حضرت ابوهریره رضی الله عنه ددې له پاره دایت حواله ورکړه، دامام محمدبن سیرین رحمه الله وینا ده چې د ابوهریره رضی الله عنه هریو حدیث دنبي کریم ﷺ نه وي، طحاوی شریف (ص ۲۱، ج ۱). [۲]

دبخاري شریف په همدې صفحه باندې د حضرت عیسی بن مریم علیه السلام دنازلیدو خبر ورکولو کې نبي کریم ﷺ د ,, **وامامکم منکم** ،، وفرمایل [۳]

داحدیث هم ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې ددې نه ښکاریږي چې له واړو حدیثونونه دنبي کریم ﷺ یومقصد دی اوهغه داچې حضرت عیسی علیه السلام به په اخري زمانه کې دعادل حاکم په حیثیت سره دې امت ته تشریف راوړي.

۲: " په کنزالعمال ص ۲۶۷ ج ۷. (حدیث نمبر ۳۹۷۲۶ ص ۲۵۷) کې دابن عباس رضی الله عنه په روایت دنبي کریم ﷺ ارشاد دی چې" زما ورور عیسی بن مریم به داسمان نه نازلیږي. الخ". [۴]

۳: دامام بیهقي په کتاب الاسماء والصفات ص ۴۲۴ کې دنبي کریم ﷺ وینا ده چې "تاسو به څنګه یئ هرکله چې عیسی بن مریم علیه السلام په تاسوکې د اسمان نه نازل شي او په تاسوکې به شامل شئ اوستاسو امام به وي". [۵]

۴: په تفسیر درمنثور ص ۲۴۲ ج ۲ کې دنبي کریم ﷺ وینا ده چې" زما اوعیسی بن مریم په مینځ کې څوک نبي او رسول نه دی رالیږل شوی، ګورئ هغه به زمانه وروسته زما په امت کې زما خلیفه وي". [۶]

---

۱] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: والذی نفسی بیده! لیوشکن ان ینزل فیکم ابن مریم حکما عدلاً فیکسر الصلیب ویقتل الخنزیر ویضع الحرب ویفیض المال حتی لا یقبله احد حتی تکون السجدة الواحدة خیر من الدنیا ومافیها، ثم یقول ابوهریرة: واقرؤا ان شئتم: وان من اهل الکتٰب الا لیؤمنن به قبل موته ویوم القیٰمة یکون علیهم شهیداً. (بخاري، باب نزول عیسٰی علیه السلام/ج۱/ص۴۹۰)۔

۲] عن محمد بن سیرین انه کان اذا حدث عن ابی هریرة فقیل له عن النبي صلی الله علیه وسلم فقال: کل حدیث ابی هریرة عن النبي صلی الله علیه وسلم......الخ (طحاوی شریف/ج۱/ص۱۹/طبع مکتبه حقانیه)۔

۳] ان اباهریرة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: کیف انتم اذا نزل ابنَ مریم فیکم وامامکم منکم (بخاري/ج۱/ص۴۹۰/باب نزول عیسٰی علیه السلام)۔

٤] قال ابن عباس: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم فعند ذالک ینزل اخی عیسی ابن مریم من السماء......الخ)۔

٥] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: کیف انتم اذا نزل فیکم ابن مریم من السماء وامامکم منکم (کتاب الاسماء والصفات للبیهقي/ص۴۲۴)۔

٦] عن ابی هریرة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا ان عیسی بن مریم لیس بینی وبینه نبی ولارسول الا انه خلیفتی فی امتی من بعدي (تفسیر درمنثور/ج۲/ص۲۴۲/طبع ایران)۔

۵: په ابوداوٗد ص ۵۹۴ او په مسنداحمد ج۲ ص ۴۰۲ کې دنبي کریمﷺ وینادہ چې انبیاءکرام پلار شریك(علاتي) وروڼه دي، ددوی میندې (شریعتونه) جدا جدا دي اودین دټولو یو دی او زما سره دټولو نه زیات تعلق دعیسی بن مریم علیه السلام دی ، ځکه چې زما او دهغه په مینځ کې هیڅوك نبي نه دی راغلی اوبیشکه هغه به په تاسوکې نازلیږي، چې کله هغه ووینئ، نووې پیژنئ دهغه حلیه (شکل) دا دی: درمیانه قد، سور سپین رنګ،دزیړرنګ جامې به یې په بدن وي د سرنه یې ګویا څاڅکي تویږي،اګرچې هغه ته لوندوالی نه وي رسیدلی، دخلکو سره به په اسلام باندې قتال کوي، صلیب به مات کړي،خنزیران به قتل کړي،جزیه به بنده کړي او الله پاک به دهغه په زمانه کې ټول مذهبونه ختم کړي اومسیح دجال به هلاک کړي په ځمکه کې به څلویښت کاله اوسیږي، بیابه هغه وفات شي اومسلمانان به دهغه جنازه وکړي".[۱]

دا خو دنبي کریمﷺ وینا وې دي، چې دې سره دزیربحث ایت تشریح کیږي اوس دځو صحابه وو اوتابعینو تفسیر هم وګورئ!

(۱) په مستدرك حاکم ص ۳۰۹ ج۲ درمنثور ص ۲۴۱ج۲ او په تفسیر ابن جریر ص۱۴ ج۲ کې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ددې ایت تفسیرکړی دی چې په دې ایت کې دحضرت عیسی علیه السلام په دویم ځل تشریف راوړلو خبر ورکړل شوی دی اودا چې کله هغه تشریف راوړي، نودهغه د مرګ نه مخکې به ټول اهل کتاب ایمان راوړي.[۲]

(۲) ام المؤمنین حضرت ام سلمه رضی الله عنها ددې ایت تفسیر دا کوي چې هراهل کتاب به دخپل مرګ نه مخکې په حضرت عیسی علیه السلام باندې ایمان راوړي اوچې کله هغه دقیامت نه مخکې د اسمان نه نازلیږي، نوپه دغه وخت کې چې څومره اهل کتاب وي دهغه دمرګ نه مخکې به

---

۱] عن ابی هریرة ان النبي صلی الله علیه وسلم قال: الانبیاء اخوة لعلات امهاتهم شتی ودینهم واحد، وانا اولی الناس بعیسی ابن مریم لانه لم یکن بینی وبینه نبي، وانه نازل، فاذا رأیتموه فاعرفوه فانه رجل مربوع الی الحمرة والبیاض، علیه ثوبان ممصران کان رأسه یقطر وان لم یصبه بلل، فیدق الصلیب ویقتل الخنزیر، ویضع الجزیة، ویدعوالناس الی الاسلام فیهلک الله فی زمانه الملل کلها غیر الاسلام ویهلک الله فی زمانه المسیح الدجال الکذاب......فیمکث اربعین سنة ثم یتوفی ویصلی علی المسلمون (مسند احمد/ج۲/ص۴۰۶) عن ابی هریرة عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: لیس بینی وبینه یعنی عیسیٰ علیه السلام نبی وانه نازل فاذا رأیتموه فاعرفوه رجل مربوع الی الحمرة والبیاض بین ممصرتین کان رأسه یقطر وان لم یصبه بلل، فیقاتل الناس علی الاسلام فیدق الصلیب ویقتل الخزیر ویضع الجزیة ویهلک الله فی زمانه الملل کلها الا الاسلام ویهلک المسیح الدجال فیمکث فی الارض اربعین سنة ثم یتوفی فیصلی علیه المسلمون (سنن ابی داؤد/ج۲/ص۲۳۸)۔

۲] عن ابن عباس فی قوله: ''وان من اهل الکتٰب الا لیؤمنن به قبل موته'' قال: قبل موت عیسیٰ واخرج ابن جریر عن ابن عباس فی الایة قال: یعنی انه سیدرک اناس من اهل الکتاب حین یبعث عیسیٰ سیؤمنون به)

په هغه باندې ایمان راوړي. (تفسیر درمنثور ص۲۴۱ ج۲). [1]

۳: د درمنثور په ذکرشوې صفحه باندې دا تفسیر دحضرت علي کرم الله وجهه له زوی حضرت محمدبن الحنفیه نه هم منقول دی. [2]

۴: او په تفسیرابن جریر ص۱۴، ج۶ کې همدا تفسیر د اکابرو تابعینو حضرت قتاده رحمة الله علیه، حضرت محمدبن زیدمدني رحمة الله علیه، (د امام مالك رحمة الله علیه استاد) حضرت ابومالك غفاري رحمة الله علیه او دحضرت حسن بصري رحمة الله علیه نه منقول دی دحضرت حسن بصری رحمة الله علیه الفاظ دا دي:

"په ایت کې چې دکوم ایمان راوړلو ذکرشوی دی دا به دحضرت عیسی علیه السلام دمرګ نه مخکې وي، په الله قسم! هغه اوس هم په اسمان کې ژوندی دی، خو چې اخري زمانه کې کله هغه نازل شي، نو په هغه باندې به ټول خلك ایمان راوړي". [3]

ددې ایت تفسیر چې کوم مادنبي کریم صلی الله علیه وسلم اودصحابه وو او تابعینو نه نقل کړی دی، وروسته ټولو مفسرینو دا نقل کړی دي او ددې صحت یې منلی دی، نو هیڅ شك نشته چې الله تعالی په دې ایت کې دحضرت عیسی علیه السلام ددویم ځل تشریف راوړلو خبر ورکړی دی او د نبي صلی الله علیه وسلم له زمانې ترننه پورې همدا عقیده په مسلمانانو کې راروانه ده.

**دریم آیت**: په سورت زخرف ایت نمبر ۶۱ کې دحضرت عیسی علیه السلام په تذکره کولو سره وېناده" او هغه دقیامت نښه ده، نوتاسو په دې کې شك مه کوئ". [4]

ددې ایت په تفسیرکې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم او دډېرو صحابه وو او تابعینو وېناده چې دحضرت عیسی علیه السلام په اخري زمانه کې نازلېدل به دقیامت د نژدې کېدو نښه وي.

۱: په صحیح ابن حبان کې دابن عباس رضی الله عنهما نه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دا وینا نقل شوې ده چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددې ایت په تفسیرکې وفرمایل:" د قیامت نه مخکې دعیسی بن مریم علیه السلام نازلېدل دقیامت نښه ده". (موارد الظمان ص۴۳۵ حدیث نمبر ۱۷۵۸). [5]

---

۱] قال الله: وان من اهل الكتٰب الا ليؤمنن به قبل موته...... فاذاكان عند نزول عيسٰی امنت به احياؤهم كما امنت به موتاهم......قال شهر وايم الله ماحدثنيه الا ام سلمة (تفسير درمنثور/ج۲/ص۲۴۱/طبع ايران)

۲] واخرج عبد بن حميد......عن محمد بن علی بن ابی طالب هو ابن الحنفية قال: ليس من اهل الكتاب احد الا اتته الملائكة يضربون وجهه دبره ثم يقال: ياعدوالله! ان عيسٰی روح الله وكلمته كذبت علی الله وزعمت انه الله، ان عيسٰی لم يمت وانه رفع الی السماء وهو نازل قبل ان تقوم الساعة فلايبقٰی يهودی ولانصرانی الا امن به (درمنثور/ج۲/ص۲۴۱)۔

۳] عن الحسن البصری فی قوله تعالي: "وان من اهل الكتٰب الا ليؤمنن به قبل موته" قال: قبل موت عيسٰي، والله ان الان لحی عندالله ولكن اذا نزل امنوا به اجمعون (تفسير ابن جرير/ج۶/ص۱۴/طبع بيروت)۔

۴] وانه لعلم للساعة فلاتمترن بها (الزخرف/۶۱)۔

۵] عن ابن عباس،عن النبي صلی الله عليه وسلم فی قوله:وانه لعلم للساعة، قال:نزول عيسی بن مريم قبل يوم القيامة)

۲: حضرت حذیفه بن اسید الغفاري رضي الله عنه فرمايي چې موږ پخپل مینځ کې مذاکره کوله چې په دې کې نبي کریم ﷺ راغی، نو ویې فرمایل چې څه مذاکره کېده؟ موږ عرض وکړ چې دقیامت ذکر مو کاوو ویې فرمایل: چې قیامت به نه راځي ترڅوچې د هغه نه مخکې لس نښې نه وینه وینئ! دخان، دجال، دابة الارض، دمغرب له طرفه لمر راختل، دعیسی ابن مریم نازلیدل، دیاجوج ماجوج راتلل الخ. (صحیح مسلم مشکوة شریف ص۴۷۲). [۱]

۳: اود معراج حدیث چې هغه مامخکې هم څوځله نقل کړی دی، نبي کریم ﷺ فرمايي چې د معراج په شپه زما ملاقات دحضرت ابراهیم علیه السلام، حضرت موسی اوحضرت عیسی (علیهم السلام) سره وشو، دقیامت ذکرکېده چې کله به راځي، دحضرت ابراهیم علیه السلام نه پوښتنه وشوه، نوهغه لاعلمي ښکاره کړه، دموسی علیه السلام نه پوښتنه وشوه، نوهغه هم لاعلمي ښکاره کړه، بیا دحضرت عیسی علیه السلام وار راغی، نوهغه وفرمایل:

"دقیامت صحیح وخت، خودالله تعالی نه پرته هیچاته هم معلوم نه دی، خو زماسره زمادرب یوه وعده ده چې قیامت ته نژدې به دجال راوځي، نوزه به دهغه قتلولو له پاره نازلیږم. (وړاندې ددجال دقتل اویاجوج ماجوج دراوتلو تفصیل دی، له دې نه وروسته یې وفرمایل) زماسره زمادرب وعده ده چې کله داتول هرڅه وشي، نودقیامت مثال به د پوره ورځودحاملې په شان وي".

(مسنداحمد ص۳۷۵،ج۱.ابن ماجه ص۳۰۹،تفسیرابن جریرص۷۲ج۱۷.مستدرك حاکم،ج۴ ص ۴۸۸.وص۵۴۵. فتح الباري ص۷۹ج۱۳.درمنثور ص۳۳۶ج۴). [۲]

دنبي کریم ﷺ له دې ویناوو،د ایت له تفسیر او دحضرت عیسی علیه السلام له وینا(چې هغه دانبیاءکرامو علیهم السلام په ګڼه کې وفرمایل اونبي کریم ﷺ دصحابه وو په مخکې نقل کړه) نه ښکاریږي چې دحضرت عیسی علیه السلام دقیامت دنښې په طورباندې په دویم ځل تشریف راوړل او راتلو سره ددجال لعین قتلول په دې باندې دالله تعالی وعده دنبیانو اتفاق او دصحابه وو اجماع ده او د تیرشویو پېړیو ټولو مجددینو دا تسلیم کړې ده.

---

۱] عن حذيفة بن اسيد الغفارى رضى الله عنه قال: اطلع النبي صلى الله عليه وسلم علينا، ونحن نتذاكر فقال: ما تذاكرون؟ قالوا: نذكر الساعة، قال: انها لن تقوم حتى تروا قبلها عشر ايات، فذكر الدخان والدجال والدابة، وطلوع الشمس من مغربها ونزول عيسى ابن مريم ويأجوج ومأجوج......الخ (مشكوٰة/ص۴۷۲)۔

۲] عن عبدالله بن مسعود قال: لما كان ليلة اسرى برسول الله صلى الله عليه وسلم لقى ابراهيم وموسىٰ وعيسىٰ فتذاكروا الساعة، فبدؤا بابراهيم فسألوه عنها فلم يكن عنده منها علم ثم سألوا موسىٰ فلم يكن عنده منها علم فرد الحديث الى عيسى بن مريم فقال: قد عهد الى فيما دون وجبتها فأما وجبتها فلايعلمها الا الله، فذكر خروج الدجال، قال: فانزل فأقتله.....فعهد الى متى كان ذلك كانت الساعة من الناس كالحامل التى لايدرى اهلها متى تفجاهم بولادتها......الخ (واللفظ لابن ماجة/ص۲۹۹/مسند احمد/ج۱/ص۳۷۵)۔

ايا له دې وروسته هم ديو مومن د حضرت عيسى عليه السلام په په دويم ځل راتللو کې شك پاتې کېدای شي؟

۴: د دې ايت تفسير ډېرو صحابه وو او تابعينو نه منقول دی، چې په اخري زمانه کې د سيدنا عيسى عليه السلام نازليدل دقيامت د نژدې کېدو نښه ده، حافظ ابن کثير رحمة الله عليه د دې ايت لاندې ليکي: "يعنې دقيامت نه مخکې د حضرت عيسى عليه السلام تشريف راوړل دقيامت نښه ده، همدا تفسير د حضرت ابوهريره رضي الله عنه، حضرت ابن عباس رضي الله عنه، اوبوالعاليه رضي الله عنه، ابومالك رضي الله عنه، عکرمه رضي الله عنه، حسن بصري رحمة الله عليه، ضحاك رضي الله عنه او دنورو ډېرو حضراتو نه مروي دی اورسول الله صلى الله عليه وسلم نه د دې مضمون احاديث متواتر دي چې نبي عليه السلام دقيامت نه مخکې د حضرت عيسى عليه السلام د تشريف راوړلو خبر ورکړی دی". (تفسير ابن کثير ص۱۳۲ج۴). [۱]

**خلورم آيت**: د سورت مائدې په ايت نمبر ۱۱۸کې وينا ده چې حضرت عيسى عليه السلام به دقيامت په ورځ دالله تعالى په دربارکې خپله صفايي مخکې کړي او عرض به وکړي:

"اې الله! که چېرې ته دوی ته عذاب ورکړې، نو دا ستا بندګان دي او که چېرې يې وبښې، نو ته عزيز او حکيم يې، [۲]

سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما د دې ايت تفسير کې فرمايي:

"عيسى عليه السلام به عرض وکړي چې يا الله! دا ستا بندګان دي (خو دوی زما په غيرحاضري کې زه خدای جوړ کړم له دې وجې) واقعي دوی دخپلې عقيدې په بناء باندې خپل ځانونه دعذاب مستحق جوړ کړي دي او که چېرې تاسو ببښنه وکړئ (يعنې دې خلکو ته کوم چې ما په صحيح عقيدې باندې پرېښي وو (دا رنګ هغو خلکو ته هم ببښنه وکړې چاچې دخپلې عقيدې نه رجوع وکړه نو) د حضرت عيسى عليه السلام عمر اوږد کړل شو، تردې چې اخري زمانه کې د دجال دقتل له پاره به هغه داسمان نه ځمکې ته راکوزيږي، نوعيسايان به دخپل قول نه واپس شي، نو کومو خلکو چې دخپل قول نه رجوع وکړه او ستاد توحيد قائل شول او اقرار يې وکړ، چې موږ ټول (سره دعيسى عليه السلام) دالله بندګان يو، نو که چېرې تاسو دوی ته ببښنه وکړئ هرکله چې هغوی دخپل قول نه رجوع کړې ده، نو ته عزيز او حکيم يې" (تفسير درمنثور ص، ۳۵۰ج۲) [۳]

---

۱] وانه لعلم للساعة اى اية للساعة خروج عيسى بن مريم قبل يوم القيامة، وهٰكذا روى عن ابى هزيرة وابن عباس وابى العالية وابى مالک وعكرمة والحسن وقتادة والضحاک وغيرهم، وقد تواترت الأحاديث عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه اخبر بنزول عيسٰى عليه السلام قبل يوم القيامة اماماً عادلاً وحكماً مقسطاً (تفسير ابن كثير/ج۴/ص۱۳۲/قديم نسخه/طبع جديد/ج۵/ص۵۳۰/رشيديه كوئته)_

۲] ان تعذبهم فانهم عبادک، وان تغفرلهم فانک انت العزيز الحكيم (المائدة/۱۱۸)_

۳] عن ابن عباس رضى الله عنهما فى قوله تعالى: ان تعذبهم فانهم عبادک.....يقول: عبيدک قد استوجبوا العذاب بمقالتهم،وان تغفرلهم اى من تركت منهم ومدفى عمره حتى اهبط من السماء الى الارض ليقتل الدجال فنزلوا عن مقالتهم ووحدوک واقروا انا عبيد وان تغفرلهم حيث....[بقيهٔ حاشيه په راروانه صفحه...

دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما ددې تفسیر نه واضحه شوه چې دا ایت هم دحضرت عیسی علیه السلام ددویم ځل تشریف راوړلو دلیل دی.

تاسو په خپل سوال کې داهم لیکلي دي چې حضرت عیسی علیه السلام نازل شي، نود امام مهدي کېدو دعوه به کوي؟ ددې په جواب کې یوازې دومره عرض کول کافي دي چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه واخله تر د یارلسمي پېړۍ اخرپورې دامت اسلامیه دا عقیده پاتې شوې ده چې حضرت عیسٰی علیه السلام اوحضرت مهدي رضی الله عنه دوه بیل بیل شخصیتونه دي[۱]

جناب غلام احمدقادیاني اول سړی دی چې هغه د حضرت عیسی علیه السلام او مهدي دیو کېدو عقیده ایجاد کړه، ددې دلیل نه په قران کریم کې شته او نه په کوم مقبول او صحیح حدیث کې اونه دسلف صالحینو نه څوك ددې قائل دي، دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په متواترو حدیثونو کې راغلي دي چې دحضرت عیسی علیه السلام دنزول په وخت کې به حضرت مهدي رضی الله عنه ددې امت امام وي او حضرت عیسی علیه السلام به دهغه په اقتداء کې لمونځ کوي.

## د حضرت عیسی علیه السلام په ژوند باندې شبهات

تاسو دا پوښتنه هم کړې ده چې ایا **"کل نفس ذائقة الموت"** ایت به دحضرت عیسی علیه السلام په ژوند باندې اثر نه غورځوي؟ په جواب کې غوښتنه ده چې دا ایت دحضرت عیسی علیه السلام په شان، تاسو ته، ماته، دځمکې ټولو خلکوته، داسمان ټولو فرښتوته، بلکې دهرساه والا مخلوق ته شامل دی. دایت مطلب دادی چې دهرنفس والا به یونه یو ورځ مري، دغسې حضرت عیسی علیه السلام ته به هم مرګ راځي، خو کله؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم دحضرت عیسی علیه السلام دمرګ وخت هم ښودلی دی چې په اخري زمانه کې هغه نازل شي، نوهغه به څلویښت کاله په ځمکه باندې ژوندی اوسیږي، بیابه دهغه وفات شي مسلمانان به دهغه دجنازې لمونځ وکړي اوزما په روضه کې به دفن کړل شي.(مشکٰوة شریف ص.۴۸۰). [۲]له دې وجه تاسو چې کوم ایت نقل کړی دی هغه په اسلامي عقیده باندې نه اثرانداز کیږي،خو دا دعیسایانو عقیده باطلوي په همدې بناء باندې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دنجران دپادریانو وفد سره د خبرو کولو په وخت فرمایلی

...بقیه د تیر مخ]...رجعواعن مقالتهم فانک انت العزیز الحکیم (تفسیردرمنثور/ج۲/۳۵۰/التصریح بما تواترفی نزول المسیح/ص۲۹۳،۲۹۲/طبع مکتبه دارالعلوم کراچي)

۱] او داچه نازلیدو سره به اول مونځګ حضرت عیسی علیه السلام دَحضرت مهدی رضی الله عنه په اقتداء کشګیګ اَدا کوی. وتواترت الاخبار بان المهدی من هذه الامة، وان عیسی یصلی خلفه ذکر ذلک ردا للحدیث الذی اخرجه ابن ماجة عن انس وفیه لامهدی الا عیسیٰ (فتح الباري/ج۶/ص۴۹۴/طبع دارالکتب الاسلامیه/لاهور)

۲] عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ینزل عیسی ابن مریم الی الارض فیتزوج ویولد له ویمکث خمساً واربعین سنة ثم یموت فیدفن معی فی قبري......الخ (مشکوٰة/ص۴۸۰/باب نزول عیسٰی علیه السلام)۔

و: "ایاتاسو ته معلومه نه ده چې زمونږ رب ژوندی دی هیڅ کله نه مري او عیسیٰ علیه السلام ته به مرګ راځي" داپې ونه فرمایل چې عیسیٰ علیه السلام مړشوی دی.(درمنثور ص۳ج۲).[1]

## اخري عرض

څنګه چې ماپه ابتدء کې عرض کړی و چې دحضرت عیسیٰ علیه السلام د ژوند او دوفات سلسله نن په اول ځل زما اوستاسو مخې ته نه ده راغلې او نه قران کریم زما اوستاسو په مطالعه کې اول ځل راغلی دی، دنبي کریم ﷺ له زمانې نه قران مجیدهم متواتر راروان دی اودحضرت عیسیٰ علیه السلام دحیات عقیده هم ،په دې امت کې اهل کشف، ملهم اومجدد هم تیرشوي دي اود اوچتې مرتبې مفسرین اومجتهدین هم، خو مونږ ته دمرزا صاحب نه مخکې څوک ملهم، مجدد، صحابي، تابعي، فقیه اومحدث داسې په نظر رانغی چې دحضرت عیسیٰ علیه السلام په اخري زمانه کې ددویم ځل تشریف راوړلو نه منکروي، دقران کریم دکومو ایتونو نه چې جناب مرزا غلام احمد صاحب دمسیح وفات ثابتوي، دیوې لمحې له پاره سوچ وکړئ چې ایا دا ایتونه قران کریم کې مخکې موجود نه و؟ ایا په څوارلسمه پېړۍ کې په اول ځل نازل شوي دي؟ یا دتیرشویو پېړیو ټول اکابر (نعوذبالله) له پوهې نه معذوره اوله عقل اوفهم نه خالي وو؟

"که چېرې په اسلام کې درسول الله ﷺ نه وروسته داسې معلم نه وي راغلي چې په هغه کې په ظلي طورباندې دنبوت نه و، نوګویاچې الله تعالی قصدا قران ضائع کړ چې ددې حقیقي او واقعي طورباندې د پوهې والا ډیر زر ددنیا نه پورته کړل شو، خو دا خبره دهغه دوعدې خلاف ده څنګه چې هغه فرمایي: إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ.
یعنې مونږ قران نازل کړی دی او مونږ به ددې حفاظت کوو.
اوس زه نه پوهیږم چې که چېرې دقران کریم پوهیدونکي باقي پاتې نه شول اوپه دې باندې یقیني او وقتي طورباندې ایمان راوړونکي په دنیاکې پټ شول، نوبیا دقران حفاظت څنګه وشو" اوپه دې باندې یوبل ایت هم ښکاره قرینه ده او هغه دادی:

بَلْ هُوَ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ فِي صُدُورِ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ ".
یعنې "قران ښکاره دلیلونه دي چې داهل علم په سینوکې دي".
دا ایت په لوړ اواز سره اعلان کوي چې هیڅ یوه برخه به دقران دتعلیم برباد اوضائع نه شي اوڅنګه چې د اولې ورځې نه ددې بوټې په زړونوکې مضبوط کړل شو، دغه سلسله به ترقیامته پورې جاري وي.(شهادة القرآن ص.۵۵،۴۵)(مولفه جناب مرزا غلام احمدقادیاني).

[1] الستم تعلمون ان ربنا حی لایموت وان عیسٰی یأتی علیه الفناء (درمنثور/ج۲/ص۳/طبع ایران)۔

له شک پرته کوم سړی چې په قران کریم باندې ایمان راوړي هغه به په هغه تعلیم باندې هم ایمان راوړي کوم چې دتیرشویو پېړیو نه دامت مجددینو او اکابرینو په تواتر سره معلوم کړی دی اوکوم سړی چې دقران ایتونه لولي اودمجددینو امامانو دمتواتر عقیدې خلاف بله کومه عقیده وړاندې کوي، پوهیدل پکاردي چې هغه دقران کریم دحفاظت نه منکردی.

دسیدنا عیسی علیه السلام په حیات باندې چې ماکوم ایتونه وړاندې کړي ددې تفسیر مې دصحابه وو، تابعینو نه پرته پخپله دنبي کریم ﷺ نه هم نقل کړي دي، ددوی نه پرته چې دکوم دور ددین امامان اودصاحب کشف اوالهام مجددینو په باره کې تاسو غواړئ، نوزه به حوالې وړاندې کړم چې هغوی دقران کریم نه دحضرت عیسی علیه السلام ژوندی کولو باندې اوپه اخري زمانه کې په دویم ځل راتلل ثابت کړي دي.

کوم ایتونه چې ستاسوډلې حضرات دحضرت عیسی علیه السلام دوفات په دلیل کې وړاندې کوي دخپل خواهش د تفسیر په ځای هغوی ته وواېئ چې هغه کې یوازې دیوایت تفسیردنبي کریم ﷺ، صحابه وو، تابعینونه یا د وروسته کومې پېړۍ دمجدد په حوالې سره وړاندې کړئ چې حضرت عیسی علیه السلام وفات دی هغه به په اخري زمانه کې نه راځي، بلکې دهغه په ځای به ځوك دهغه مشابه راځي.

ایا دا دظلم انتها نه ده، چې کوم مسلمانان دنبي کریم ﷺ،صحابه وو،تابعینو او ائمه مجددینو په عقیده باندې قائم دي هغوی ته خو"فیج اعوج" (یعنې ګمراه او کاږه تلونکي) وویل کیږي او کوم خلک چې دنبي علیه السلام اود امت دټولو اکابرینو نه خلاف دقران تفسیر وکړي اودې ټولو بزرګانو ته مشرکان وایي هغوی دې په حقه باندې وګڼل شي.

## د حضرت عیسی علیه السلام روح الله کېدل

**سوال:** یوعیسایي دا سوال وکړ چې حضرت عیسی علیه السلام روح الله دی اوحضرت محمدرسول الله دی، دا شان حضرت عیسی رسول الله هم دی، لهذا دحضرت عیسی علیه السلام درجه لوړه شوه.

**جواب:** دا سوال یوازې مغالطه ده، حضرت عیسی علیه السلام ته روح الله ځکه ویل کیږي چې دده روح دپلار له واسطې نه پرته دده دمور په خیټه کې واچول شو، دپلار له واسطې پرته پیداکېدل د حضرت عیسی علیه السلام فضیلت ضرور دی، خو په دې سره دهغه د رسول الله ﷺ نه افضل کېدل نه لازمیږي، که نه دادم علیه السلام د عیسی علیه السلام نه افضل کېدل به لازم راشي چې هلته دمور او دپلار دواړو واسطه نشته، نوځنګه چې حضرت ادم علیه السلام دمور اودپلار د واسطې نه پرته یوازې دالله تعالی په کلمه "کن" سره پیدا شو، دا شان حضرت عیسی علیه السلام له واسطې دپلار نه پرته په کلمه "کن" سره پیداشو اوځنګه چې دحضرت ادم علیه السلام پرته دمور پلار نه وجود ته راتلل دهغه علیه السلام دافضلیت دلیل نه دی، دغه شان دحضرت عیسی علیه السلام پرته دپلارنه پیداکیدل دهغوی دافضلیت دلیل نه دی.

## د حضرت عيسى عليه السلام د دفن ځای به چرته وي

**سوال:** زه ستاسو توجه دا وخت دجنگ اخبار کې" کيا آپ جانتے هيں"په عنوان سره سوال نمبر ٢" په کومه حجره کې چې نبي کريم ﷺ دفن دی هلته نور دڅومره قبرونو گنجائش دی او هلته دچا د دفن کيدلو روايت دی، يعنې هلته به څوك دفن کيږي؟ ددې په جواب کې يې حضرت مهدي ليکلی دی، حالانکې موږ تر ننه پورې دعلماوو نه دا اوريدلي دی چې په حجره کې به حضرت عيسى عليه السلام دفن کيږي.

**جواب:** په حجره شريفه کې څلورم قبر دحضرت مهدي رضي الله عنه نه دی، بلکې دحضرت عيسى عليه السلام به وي.[1]

## د حضرت مريم رضي الله عنها په باره کې عقيده

**سوال:** مسلمانانوله پاره دحضرت مريم رضي الله عنها په باره کې عقيده ساتل پکار دي اوموږ ته ايادهغې په باره کې معلومات دنصوص قطعيه نه حاصل دي ايا دحضرت عيسى عليه السلام د ولادت په وخت دهغې واده شوی و، که چېرې شوی و، نوله چاسره؟ ايا حضرت مريم رضي الله عنها دحضرت عيسى عليه السلام د رفع الى السماء نه وروسته ژوندی وه، دهغې عمر څومره و اوچرته دفن ده، ايا کوم مسلمان عالم دهغې په باره کې کوم مستند کتاب ليکلی دی؟

زماله نظره دقادياني جماعت يوغټ کتاب تيرشوی دی چې په هغه کې څوحوالوسره دا ويل شوي دي چې حضرت مريم عليها السلام دپاکستان مري ښار کې دفن ده اوحضرت عيسى عليه السلام دمقبوضه کشمير ښار په سرينگر کې.

**جواب:** دصحيح نصوصونه چې کوم څه معلوم شوي دي هغه دادي چې دحضرت مريم رضي الله عنها واده هيچاسره نه دې شوی[2] دحضرت عيسى عليه السلام د رفع الى السماء په وخت ژوندۍ وه اوکه نه وه، څومره عمريې و، چرته وفات شوه، په دې باره کې په قران او حديث کې هيڅ ذکرنشته، مورخينو چې په دې سلسله کې کوم تفصيلات بيان کړي دي دهغه ماخذ بايبل

---

١] عن عبدالله بن سلام قال: يدفن عيسى بن مريم عليه السلام مع رسول الله صلى الله عليه وسلم وصاحبيه رضى الله عنهما، فيكون قبره رابع (مجمع الزوائد/ج٨/ص٢٧٠/طبع بيروت)۔

٢]"واذ قالت الملئكة يٰمريم ان الله اصطفٰک وطهرک واصطفٰک على نساء العٰلمين...... اذ قالت الملئكة يٰمريم ان الله يبشرک بكلمة منه اسمه المسيح عيسى ابن مريم......قالت رب انى يكون لى ولد ولم يمسسنى بشر، قال كذلک الله يخلق مايشاء "......الخ (مريم/١٩،٢٠) واصطفاک على نساء العالمين بان وهب لک عيسٰى من غير اب ولم يكن ذلک لاحد من النساء (تفسير مدارک/ج١/ص٢٥٥/سورةال عمران) "واذكر فى الكتٰب مريم" وهى مريم بنت عمران من سلالة داؤد عليه السلام، وكانت من بيت طاهر طيب فى بنى اسرائيل......ونشأت فى بنى اسرائيل نشأة عظيمة، فكانت احدى العابدات الناسكات المشهورات بالعبادة العظيمة والتبتل والدؤوب (تفسير ابن كثير/ج۴/ص٢٦٣/طبع رشيديه، كوئته)۔

یا اسرائیلي روایتونه دي، قادیانانو چې دحضرت عیسی علیه السلام او دهغوی دمور په باره کې کوم څه لیکلي دي دهغه تاید دقران او حدیث نه څه چې له یو تاریخ نه هم نه کیږي.
د هغوی د دروغو مسیحیت په شان د دوی تاریخ هم خپل کور کې جوړ شوی دی.

....

# ❖ د قیامت نښې ❖

## د قیامت نښې

**سوال:** موږ روزانه دخلکونه اورو چې قیامت به نن راځي او سبا به راځي، خواوسه پورې قیامت نه دی راغلی، ایا ددې څه ښکاره نښې شته، چې دهغو لیدو سره انسان پوه شي چې اوس قیامت نژدې دی؟ که داسې څه نښې راته وښایئ، نو ډېر غټ احسان به مو وي.

**جواب:** حضور صلی الله علیه وسلم دراتلونکي زمانې باره کې دډېرو شیانو خبر ورکړی دی، هغو کې ډېرې خبرې، خود ډېر وخت مخکې پوره شوي دي، دځینو پوره کېدل موږ په خپلو سترګو باندې ولیدل، مثلا دحضور صلی الله علیه وسلم دا وینا مبارکه:

**عن ثوبان رضی الله عنه قال: رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذاوضع السیف فی امتی لم ترفع عنها الی یوم القیامة.**

**ترجمه**: دحضرت ثوبان رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې زما امت کې توره کېښودل شي، نو دقیامت پورې به بیا هغه پورته نه شي.

**ولاتقوم الساعة حتی تلحق قبائل من امتی بالمشرکین وحتی تعبد قبائل من امتی الاوثان.**

**ترجمه**: او قیامت به نه قایمیږي، تر هغه وخت پورې چې زما دامت ډېرې قبیلې به مشرکانو سره یو ځای شي او زما دامت ډېرې قبیلې به بت پرستي شروع کړي.

**وانه سیکون فی امتی کذابون ثلثون، کلهم یزعم انه نبی الله، وانا خاتم النبین، لانبي بعدی.**

**ترجمه**: او زما امت کې به دیرش دروغژن وي، هغو کې به هر یو دادعوه کوي چې زه دالله تعالی نبي یم، حالانکې زه اخري نبي یم، او زما نه وروسته بل نبي نشته.

**ولاتزال طائفة من امتی علی الحق ظاهرین، لایضرهم من خالفهم حتی یاتی امرالله.**

**رواه ابوداؤد، والترمذی.**(مشکوة ص ٤٦٥)

**ترجمه**: او زما امت کې به یوه غالبه ډله په حق باندې قائمه وي، کوم کس چې دهغوی مخالفت وکړي، هغه به هغوی ته نقصان نه شي رسولی، تر دې پورې چې دالله تعالی وعده (قیامت به راورسیږي)
د اخري زمانو جنګونو باره کې د "ملاحم"، په باب کې دحضور صلی الله علیه وسلم یو وینا نقل شوې ده:

**عن ذى مخبر: قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: ستصالحون الروم صلحاً امناً، فتغزون انتم وهم عدوامن ورائكم، فتنصرون وتغنمون وتسلمون ثم ترجعون حتى تنزلون بمرج ذى تلول فيرفع رجل من اهل النصرانية الصليب فيقول: غلب الصليب! فيغضب رجل من المسلمين فيدقه، فعند ذالك تغدر الروم وتجمع للملحمة. رواه ابوداؤد.** (مشكوة ص ٤٦٧)

**ترجمه**: حضرت ذومخبر رضی الله عنه فرمايي چې: ما د رسول الله ﷺ نه دا اوريدلي دي چې تاسو د روم اوسيدونكي به نصارا وو سره دامن كوشش كوي، او بيابه تاسو او هغوی به په يوځای باندې د مشركانو سره جهاد كوئ، تاسو ته به فتح نصيب شي، غنيمت به درته حاصل شي او تاسو به صحيح او سالم يئ او بيابه په شنو علاقو كې تاسو او سيږئ، يو نصراني به صليب پورته كړي او او به وايي چې صليب ته غلبه حاصل شوه او يو مسلمان به هغه باندې غوسه شي او صليب به مات كړي، هغه وخت به روم والا وعده ماته كړي او د جنګ له پاره به جمع شي.

داسلام او نصرانيت دې ته جنګ ته دحديث په اصطلاح كې **ملحمة الكبرٰى** (عظيم جنګ ويل شوی دی، ددې تفصيلات ډېر ويرونكي دي، كوم چې په "**ابواب الملاحم**"، كې كتلى شئ، دې جنګ كې به قسطنطنيه فتح شي او د قسطنطنيه فتح كېدو سره به دجال ښكاره شي.[1] كومې خبرې طرف ته مې چې ستاسو توجه راړول غوښتل، هغه داده چې د مسلمانانو او نصرانيانو هغه شريک دښمن څوک دی، كوم سره به چې دوی جنګ كوي؟ ايا د دنيا اوسنى حالت د هغه طرف ته خو نقشه نه جوړوي؟

### د قيامت نښې

جبرايل عليه السلام پنځم سوال دا وكړ چې بيا داسې نښې وښايه چې دهغو نه دا معلومه شي چې اوس قيامت نژدې دی، نبي كريم ﷺ ددې په جواب كې د قيامت دوه نښې وښودلې:

**اوله نښه**: دا چې وينځه خپله مالكه وزيږوي، ددې تشريح عالمانو په څو طريقو سره كړې ده، دټولو نه بهتره توجيه دا معلوميږي چې په دې كې د اولاد نافرماني طرف ته اشاره ده، مطلب

---

١] عن ابي هريرة ان النبي صلى الله عليه وسلم قال: سمعتم بمدينة جانب منها فى البر وجانب منها فى البحر؟ قالوا: نعم يارسول الله! قال: لاتقوم الساعة حتى يغزوها سبعون الفاً من بنى اسحاق فاذا جاؤها نزلوا فلم يقاتلوا بسلاح ولم يرموا بسهم قالوا: لااله الاالله والله اكبر، فيسقط احدجانبيها، قال ثور لااعلمه الا قال الذى فى البحر ثم يقول الثانية لااله الاالله والله اكبر فيسقط جانبها الاخر ثم يقول الثالثة لااله الا الله والله اكبر فيفرج لهم فيدخلوها فيغنموا فبينما هم يقتسمون المغانم اذ جاء هم الصريخ فقال: ان الدجال قدخرج، فيتركون كل شيء ويرجعون قال النووي: قوله صلى الله عليه وسلم فى المدينة التى بعضها فى البر وبعضها فى البحر...... وهٰذه المدينة هى القسطنطينية (الصحيح للمسلم مع شرح الكامل للنووي/ج٢/ص٣٩٦/طبع قديمي/كتاب الفتن واشراط الساعة)۔

دا چې قيامت ته نژدې به اولاد دخپل مور و پلار دومره نافرمانه شي چې لونړه چې دهغوی په فطرت کې دمورو پلار اطاعت خصوصا دمورسره محبت او مينه وي هغه به هم دمورپلار خبره داسې نه مني څنګه چې يو اقا (مالك) دخپل اخستل شوي غلام او وينځې خبره دتوجه قابله نه ګڼي، ګويا په کورکې به دمور پلار حيثيت د وينځې او غلام پاتې شي.[۱]

**دويمه نښه**: يې دا بيان کړه چې هغه خلک چې تر پرونه پورې يې په ټولنه(معاشره) کې څه حيثيت نه و، چې پښې ابله اوبربنډ بدن به يې په ځنګل کې ګډې چيلۍ څرولې هغوی به په لويو لويو بلډنګونو باندې فخر کوي[۲]يعني رذيل خلک به معزز شيددې دوو نښو نه پرته، دقرب قيامت نورې ډيرې نښې هم په احاديثوکې بيان شوي دي، خو دا ټولې دقيامت ورې نښې دي او دقيامت لوې لوې نښې چې دهغو ښکاره کيدونه وروسته به دقيامت په راتلوکې زيات وخت نه لګيږي، هغه دادي:

۱: د حضرت امام مهدي عليه الرضوان ظاهريدل،او دبيت الله شريف مخامخ رکن او دمقام په مينځ کې دخلکو دهغه په لاس باندې دخلافت بيعت کول.[۳]

۲: دهغوی په زمانه کې د دجال راوتل اوڅلوېښتو ورځو پورې په ځمکه کې فساد خورول.[۴]

۳: دهغه دقتل له پاره اسمان نه دحضرت عيسى عليه السلام نازليدل.[۵]

۴: دياجوج ماجوجو راوتل.[۶] ۵: د صفا دغرنه د دابة الارض راوتل.[۷]

۶: له مغرب نه دلمرراختل او دا به دقيامت له ټولو نه لويه نښه وي چې له دې نه به هرچاته په نظر راځي چې اوس دځمکې او اسمان نظام ګډوډ دونکی دی،او اوس به ددې نظام

---

۱] قال: ان تلد الامة ربتها، اى يكثر العقوق فى الاولاد فيغامل الولد امه معاملة السيد امته من الاهانة......الخ (التعليق الصبيح/ص۲۱/طبع عثمانيه/لاهور)۔

۲]وان ترى الحفاة العراة العالة رعاء الشاء يتطاولون فى البنيان......فهو اشارة الى تغلب الارذال، وتذلل الاشراف، وتولى الرياسة من لايستحقها (التعليق الصبيح/ص۲۱)۔

۳] عن ام سلمة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: يكون اختلاف عند موت خليفة فيخرج رجل من اهل المدينة هارباً الى مكة فيأتيه ناس من اهل مكة فيخرجونه وهو كاره فيبايعونه بين الركن والمقام......الخ (مشكوٰة/ ص۴۷۱/باب اشراط الساعة، ايضاً مصنف عبدالرزاق، باب المهدي/ج۱۱/ص۳۷۱)۔

۴] عن النواس بن سمعان قال...... قلنا: يارسول الله! ومالبثه فى الارض؟ قال: اربعون يوماً، يوم كسنة، ويوم كشهر، ويوم كجمعة، وسائر ايامه كايامكم......الخ (مشكوٰة/ص۴۷۳/باب العلامات بين يدى الساعة)۔

۵] وان عيسى يقتله بعد ان ينزل من السماء فيحكم بالشريعة المحمدية (فتح الباري/ج۱۳/ص۹۶)۔

۶] عن زينب بنت جحش ان النبي صلى الله عليه وسلم استيقظ من نومه وهو يقول: لا اله الا الله ويل للعرب من شرقه، اقترب فتح اليوم ردم ياجوج وماجوج......الخ (الصحيح للمسلم/ج۲/ص۳۸۸/مسند احمد/ج۱/ ص۳۷۵ / ابن ماجة/ج۱/ص۳۰۹/فتح الباري/ج۱۳/ص۷۹/طبع لاهور)۔

۷] وقال ابن ابى حاتم...تخرج الدابة من صدع من الصفا..الخ (تفسير ابن كثير/ج۴/ص۶۸۵/طبع رشيديه)

ختمولو او دقيامت په قائميدلو کې زيات وخت نه وي چې دا نښه اووينې نوپه خلکوبه ويره خوره شي خو دا به ددې دنيا دزنکدن وخت وي څنګه چې دزنکدن په وخت توبه نه قبليږي دا شان چې کله لمرله مغرب نه راوخيژي، نو د توبې دروازه به بنده شي[1] .دادول څه نورې لوې لوې نښې هم نبي کريم ﷺ بيان کړي دي،قيامت يو ډير ويرونکی شی دی الله تعالی دې موږ ټولو ته ددې له پاره دتياري کولو توفيق راکړي او دقيامت د ورځې د رسوايې او دسختيونه دې موږ پخپله پناه کې وساتي.

## د قيامت د نښو په باره کې سوال

**سوال:** تاسو د روزنامه جنګ په جمعه ايډيشن کې دقيامت په نښو کې د " جاهل عابد او فاسق قاري" په عنوان سره ليکلي دي چې " په اخري زمانه کې به بې علمه عبادت کونکي او بې علمه قاريان وي" تاسولږ په تفصيل سره موږ پوه کړئ چې داسې عابد چې جاهل وي په کومو خلکوکې راځي، ځکه چې ځينې بزرګان فرمايي چې يومسلمان ته جاهل مه وايئ ،ځکه چې جاهل، خو ابوجهل و، يابه دهغه بال بچ وي، خو داسې بې علمه هم په نظر راشي چې ډيرعبادت کونکی وي او شايد چې په اخلاص هم وي او شايد چې دومره علم هم لري چې دلمونځ الفاظ او سورت اخلاص سره لمونځ کوي، داودس اوغسل طريقه ورته معلومه وي، ايا داسې خلک به دهغه جاهلو عابدانو د ډلې نه بهروي؟ که چېرې داخلک دجاهلو عابدانو په ډله کې شمارنه شي، نودده نه په کمه درجه کې يعنې چاته چې لمونځ هم نه ورځي، هغه عبادت کونکی څنګه جوړيدای شي؟

لهذا ! تاسو په تفصيل سره موږ پوه کړئ چې دحديث مطلب څه دی؟ ايادا به داسې عابد وي او ناجي (نجات موندونکی) به وي او داسې قاري به وي چې هغه سره علم خوبه ډير وي، خو عمل به پرې نه کوي يادابې علمه عبادت کونکی اوبې عمله عالم نه وي او دواړه به په نقصان کې وي ځکه چې بې علمه عمل نه دی اوبې عمله علم نه دی."

**جواب:** د بې علمه عبادت کونکونه مراد هغه خلک دي چې هغوی ددين ضروري مسائل چې دهغو هميشه ضرورت پيښيږي، هغه يې نه وي زده کړي،که چېرې چادومره علم چې په هر مسلمان باندې فرض دی زده کړی وي، نو هغه دبې علمه په ډله کې نه راځي، که دکتاب په ذريعه يې زده کړی وي يادعلماء حضراتو سره په کيناستلو کې يې زباني ياد کړی وي اوکوم

---

[1] عن ابی هريرة ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: لاتقوم الساعة حتی تطلع الشمس من مغربها، فاذا طلعت من مغربها امن الناس کلهم اجمعون فيومئذ لاينفع نفساً ايمانها لم تکن امنت من قبل....الخ (مسلم/ج١/ص٨٨) وايضاً عن صفوان قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: ان من قبل مغرب الشمس باباً مفتوحاً عرضه سبعون سنة فلايزال ذالک الباب مفتوحاً للتوبة حتی تطلع الشمس من نحوه (ابن ماجة/ص٢٩٥/باب طلوع الشمس من مغربها)

سړي چې دفرض علم نه هم محروم وي د هغه په جاهل کېدو کې څه شك دی او دفاسق قاري نه مراد هغه خلك دي چې د دين علم، خو ورسره وي، خو عمل ورسره نه وي.[۱]

## د حضرت مهدي رضي الله عنه په باره کې د اهل سنت عقيده

**سوال:** زموږ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دفرمان له مخې هغه زموږ نبي صلی الله عليه وسلم اخر الزمان دی، دازموږ دټولو مسلمانانو عقيده ده، خو بيا هغه صلی الله عليه وسلم دا هم وښودل چې دده له وفات نه وروسته اودقيامت نه مخکې به يونبي راځي حضرت مهدي رضي الله عنه چې دهغه دمور نوم به حضرت امنه او دپلار نوم به يې عبدالله وي، ايا دا حضرت مهدي رضي الله عنه خوبه زموږ نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه وي، چې په دويم ځل به دنياته تشريف راوړي، زما نيکه محترم مولوي ازاد به فرمايل چې يو ځل نبي عليه السلام خطبه لوستله چې دقيامت نه مخکې به حضرت مهدي رضي الله عنه دنياته تشريف راوړي خلکوچې نبښې واوريدلې، نوپوښتنه يې وکړه، اې دالله رسوله! اياهغه، خوتاسونه يئ، نبي عليه السلام مسکی شو او چپ شو، دنبي صلی الله عليه وسلم مسکا دا ويل چې زه به دې دنياته په دويم ځل راځم، ددې جواب په تفصيل سره راکولو کې دمننې موقع راکړئ.

**جواب:** دحضرت مهدي رضي الله عنه په باره کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې څه فرمايلي دي اوپه هغه څه چې داهل حق پرې اتفاق دی دهغو خلاصه دا ده چې هغه به دفاطمة الزهرا رضي الله عنها دنسل نه وي[۲] او نجيب الطرفين (دواړو طرفونو نه به شريف) وي سيدبه وي[۳]، دهغه نوم به محمد او دپلار نوم به يې عبدالله وي[۴] څنګه چې زوی په صورت او سيرت کې دپلار مشابه وي دا شان به هغه هم په شکل او شباهت اواخلاق اوشمائل کې دنبي کريم صلی الله عليه وسلم سره مشابه وي، هغه به نبي نه وي، نه به په هغه باندې وحې نازليږي،نه به هغه دنبوت دعوه کوي، نه به دهغه په نبوت باندې څوك ايمان راوړي.

هغه به دکافرانو سره خونړي جنګونه کوي، دهغه په زمانه کې به دجال راوځي اوهغه به د دجال دلښکر په محاصره کې راګيرشي، دسهار د لمانځه په مهال کې به د دجال دقتل له پاره سيدنا عيسى عليه السلام داسمان نه رانازل شي اودسهارلمونځ به دحضرت مهدي رضي الله عنه په اقتداء کې کوي، دلمانځه نه وروسته به دجال طرف ته مخه کړي، هغه لعين به وتښتي، حضرت

---

۱] عن انس رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يكون فى اخرالزمان عباد جهال وقراء فسقة (كنز العمال/ج۱۴/ص۲۲۲/طبع بيروت)۔

۲]عن سعيدبن المسيب...المهدى من ولد فاطمة(ابن ماجة/ص۳۰۰/باب خروج المهدي/طبع نورمحمد كراچي)

۳]ان المهدى من اولاد الحسن ويكون له التساب من جهة الام الى الحسين (مرقاة/ج۵/ص۱۸۶/بذل المجهود/ج۵/ص۱۰۲/طبع سهارنپور)۔

۴]عن قرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:......بعث الله رجلاً منى اسمه اسمي، واسم ابيه اسم ابي......الخ (مجمع الزوائد/ج۷/ ص۳۱۴/طبع دارالمعرفة/بيروت)۔

عيسى عليه السلام به هغه پسې روان شي او د يهوديت او نصرانيت به يوه يوه نښه ورانه کړل شي.[1]
دا هغه عقيده ده چې د نبي کريم ﷺ نه واخله تر ټولو سلفو صالحينو، صحابه وو او تابعينو او ائمه مجددينو پورې د دې معتقد پاتې شوي دي، ستاسو نيکه محترم چې د کومې خبرې ذکر کړى دى د هغه ذکر د حديثو په يو کتاب کې هم نشته، که چېرې هغه په کوم کتاب کې دا خبره لوستلې وي، نو بالکل لغوه او مهمل ده، په داسې بې سره او بې پښو خبرو باندې عقيده ساتل يوازې خوش فهمي ده، په مسلمانانو باندې لازم دي چې د سلفو صالحينو مطابق عقيده وساتي او په داسې خبرو باندې خپل ايمان ضائع نه کړي.

## د حضرت مهدي ښکاره کېدل به کله وي او څو ورځې به وي

**سوال:** حضرت امام مهدي رضي الله عنه به کله ښکاره کيږي، هغه به چېرته پيدا کيږي او څومره موده به په دنياکې ژوند کوي؟

**جواب:** دا امام مهدي رضي الله عنه د ښکاره کېدو معلوم وخت په قران او حديث کې نه دى ښودل شوى، يعنې دا چې د هغه ښکاره کيدل به په کومه پيړۍ کې او په کوم کال کې به وي، خو په احاديثو کې دا ښودل شوي دي چې د هغه ښکاره کېدل د قيامت د هغو لويو نښو نه دي چې بالکل به قيامت ته نژدې ښکاره کيږي او د هغو د ښکاره کيدو نه وروسته به د قيامت په راتلو کې زيات وخت نه وي.
امام مهدي رضي الله عنه به چېرته پيدا کيږي؟ په دې سلسله کې د حضرت علي کرم الله وجهه نه يو روايت نقل شوى دى چې په مدينه منوره کې به د هغه پيدائښ او روزنه وي په مکه مکرمه کې به د هغه د خلافت بيعت وي او بيت المقدس به د هغه د هجرت ځاى وي[2] او مکه مکرمه کې به د هغه بيعت او خلافت وي[3]. د رواياتو او اثارو مطابق د هغه عمر به څلويښت کاله وي

---

۱] وجلهم ببيت المقدس وامامهم رجل صالح فبينما امامهم قدتقدم يصلى بهم الصبح اذ نزل عليهم عيسى بن مريم الصبح فرجع ذلک الامام ينکص بمشى القهقرى ليقدم عيسىٰ يصلى فيضع عيسىٰ عليه السلام يده بين كتفيه ثم يقول له: تقدم فصل فانها لک اقيمت فيصلى بهم امامهم، فاذا انصرف قال عيسىٰ عليه السلام: افتحوا الباب! فيفتح ووراءه الدجال ومعه سبعون الف يهودى كلهم ذوسيف محلى وساج فاذا نظر اليه الدجال ذاب كمايذوب الملح فى الماء وينطلق هارباً ويقول عيسىٰ: ان لى فيک ضربة لن تسبقنى بها فيدرکه عند باب اللد الشرقى فيقتله فيهزم الله اليهود فلايبقى شيء مما خلق الله يتوارى به يهودى الا انطق الله ذلک الشيء لاحجر ولاشجر ولاحائط ولادابة الا الغرقد فانها من شجرهم لاتنطق الا قال: ياعبدالله المسلم! هٰذا يهودى فتعال اقتله (التصريح بما تواتر فى نزول المسيح/ص۱۵۱،۱۵۰)۔

۲]عن أمير المؤمنين على بن ابى طالب قال: المهدى مولده بالمدينة من اهل بيت النبي صلى الله عليه وسلم واسمه اسم نبى ومهاجره بيت المقدس.... الخ (عقد الدرر فى اخبار المنتظر/ص۳۰/طبع بيروت)۔

۳]عن ام سلمة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال:....فيبايعونه بين الركن والمقام.....الخ (مشكوٰة/ص۴۷۱)

چې کله دهغه دخلافت بیعت وشي[1] دهغه دخلافت په اووم کال به دجال راوځي[2] دهغه د قتل له پاره به له اسمان نه حضرت عیسی علیه السلام نازلیږي، حضرت مهدي رضی الله عنه به دوه کاله به د حضرت عیسی علیه السلام په ملګرتیا کې تیروي اودنهه څلوېښت (۴۹) کلنو په عمر به هغه وفات شي.

## د حضرت مهدي رضی الله عنه زمانه

**سوال:** په (جنګ)روزنامه کې مې ستاسو مضمون (دقیامت علامات) ولوست په دې کې هیڅ شك نشته چې تاسودهرې مسئلې حل اطمینان بخش طورباندې دقران او حدیث په حواله سره ورکوئ دا مضمون هم ستاسو دعلمیت اوتحقیق مظهر دی، خو په یوه خبره باندې پوه نه شوم، چې دټول مضمون لوستلونه دا اندازه کیږي، چې دحضرت مهدي رضی الله عنه اوحضرت عیسی علیه السلام چې دکفارو او عیسایانو سره کوم جنګونه کیږي، په هغو کې به داسونو، تورو، دغشواو لیندو وغیره استعمال به وي، فوجونه به دپخوانۍ زمانې په شان دجنګ په میدان کې مخامخ جنګیږي، تاسو لیکلي دي چې حضرت مهدي رضی الله عنه به دقسطنطینه نه نهه (۹) کسان په اسونو سواره د دجال دپلټنې له پاره شام ته ولیږي ګویادغه زمانه کې به هوایي جهازونه نه وي، بیا دا چې حضرت عیسی علیه السلام به دجال په یوه نیزه هلاکوي او دیاجوج ماجوج قوم هم چې کله دفساد خورولو له پاره راځي، نوهغوی سره به هم غشي او لیندې وي، یعنې هغه به د استین ګن رائفل پستل او تباه کونکو بمونو زمانه نه وي، په څمکه باندې دانسان وجود ته دراتلو نه وروسته سائنس برابر ترقي کوي او دقیامت راتلو پورې خوبه په دې کې ډیره ترقي شوې وي، دویمه خبره دا ده چې تاسو لیکلي دي چې حضرت عیسی علیه السلام به دالله په حکم سره څوخاصو کسانو سره دیاجوج ماجوج قوم نه دبچ کېدو له پاره دکوه طورپه قلعه کې پناه واخلي، یعنې ددنیا باقي په اربونو انسانان چې ټول به مسلمانان شوي وي دیاجوج ماجوج په رحم او کرم باندې به یې پریږدي،دومره انسانان، خوظاهره خبره ده په دې قلعه کې نه شي ځای کیدای، ماپه یوکتاب کې دا دعا لوستلې وه

---

۱]واخرج ابونعیم عن ابی امامة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: (سیکون) بینکم وبین الروم اربع هدن یوم الرابعة علی یدی رجل من اهل هرقل، یدوم سبع سنین فقال له رجل...... یارسول الله! من امام المسلمین یومئذ؟ قال: المهدی من ولدي، ابن اربعین سنة، کان وجهه کوکب دری فی خده الأیمن خال اسود (العرف الوردی فی اخبار المهدي/ج۲/ص۵۷/الحاوی للفتاوي/طبع دارالکتب العلمیة/بیروت)۔

۲]وعن بشر بن عبدالله بن یسار قال: اخذ عبدالله بن بسر المازنی صاحب رسول الله صلی الله علیه وسلم بأذنی فقال: یا ابن اخي! لعلک تدرک فتح قسطنطینیة فایاک ان ادرکت فتحها ان تترک غنیمتک منها فان بین فتحها وبین خروج الدجال سبع سنین (عقد الدررفی اخبار المنتظر/ص۱۵۶، طبع دارالکتب العلمیة/بیروت) فیلبث المهدی سبع سنین خلیفة ثم یتوفی ویصلی علیه المسلمون قال ابوداؤد وقال بعضهم عن هشام تسع سنین فمن قال سبع سنین فکانه اسقط السنتین اللتین بقی فیهما مشغولاً بالقتال (بذل المجهود/ج۵/ص۱۰۳/باب فی ذکر المهدي/طبع مکتبه سهارنپور)۔

چې نبي کريم ﷺ د دجال دفتنې نه دبچ کېدو له پاره مسلمانانوته ښودلې وه، ماته ياد پاتې نه شوه، دپورتنو خبرو د وضاحت سره هغه دعا هم وليکئ، نو مهرباني به وي.

**جواب:** د انساني تمدن شکلونه بدليږي رابدليږي، نن د مواصلاتو د ذرائع اودجنګ د الاتو چې کوم ترقي يافته شکل زموږ په وړاندې دی،دنن نه يوه نيمه دوه پيړۍ مخکې که چېرې يوسړي دا بيانولی، نوپه هغه باندې به دخلکو دليونتوب شك راته، اوس الله ښه پوهيږي چې داسائنسي ترقي به هم په دې رفتارسره په مخکې ځي يابه خودکشي وکړي او انساني ترقي به بيا دغشو او ليندې طرف ته واپس شي؟ ښکاره ده که چېرې دا دويم صورت مخې ته راشي چې دهغه خطره هروخت موجوده ده، چې دهغه نه سائنسدانان پخپله هم په ويره کې دي، نوپه هغو حديثونو کې خوڅه شك نه پاتې کيږي کومو کې چې دحضرت مهدي عليه الرضوان اود حضرت عيسی عليه السلام د زمانې نقشه وړاندې شوې ده.

د دجال دفتنې نه دحفاظت له پاره دجمعې په ورځ د سورة کهف د لوستلو حکم دی، کم نه کم ددې اولني او روستني لس لس ايتونه، خوهرمسلمان له پاره لوستل پکاردي[1]

او يوه دعا په حديث شريف کې دا ښودل شوې ده:

**اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوذُبِكَ مِن عَذَابِ جَهَنَّمَ وَاَعُوذُبِكَ مِن عَذَابِ القبرِ وَاَعُوذُبِكَ مِنْ فِتنَةِ المَسِيحِ الدجَالِ. اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوذُبِكَ مِن فِتنَةِ المَحيَا وَالمَمَاتِ. اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوذُبِكَ مِنَ المَاثَمِ وَالمَغرَمِ.**

**ترجمه:** اې الله ! زه ستاپه ذات سره پناه غواړم دجهنم له عذاب نه اوستاپه ذات سره پناه غواړم دقبر له عذاب نه اوستاپه ذات سره پناه غواړم دمسيح دجال له فتنې نه اوستاپه ذات سره پناه غواړم دژوند اودمرګ دهرې فتنې نه، اې الله! زه ستاپه ذات سره پناه غواړم د ګناه نه اود قرض او تاوان نه".

## د حضرت مهدي د ښکاره کېدو نښې

**سوال:** ستاسو د"اقرا" صفحې مطابق به امام مهدي رضي الله عنه راځي چې کله امام مهدي رضي الله عنه راشي، نو دهغه نښې به څه وي؟ او دغه مهال به څه نښې ښکاره شي چې په هغو سره به ښکاره شي چې امام مهدي رضي الله عنه راغلی دی دقران او حديث حواله ضرور ورکړئ.

**جواب:** داسې ديو سوال جواب ماپه " اقرا" کې مخکې ورکړی دی، خو ستاسو د رعايت په خاطر يو حديث ليکم:

---

۱] وعن ابى الدرداء عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: من قرأ عشر ايات من اخر سورة الكهف عصم من فتنة الدجال (مجمع الزوائد/ج۷/ ص۱۰۳/كتاب التفسير،سورة الكهف) وعن النواس بن سمعان قال...... فمن ادركه منكم فليقرأ عليه فواتح سورة الكهف وفى رواية: فليقرأ عليه بفواتح سورة الكهف فانها جواركم من فتنته...... الخ (مشكوٰة/ص۴۷۳)۔

حضرت ام سلمه رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ وينا نقل کوي چې د "يو خليفه په مرګ باندې به (د هغه دخلافت په مسئله باندې) اختلاف وي، نو دمدينې والو نه به يو سړی وتښتي او مکې مکرمې ته به راشي (دا به مهدي رضي الله عنه وي او ددې ويرې نه به په تيښته مکې ته راشي چې چېرته دی خليفه ونه ټاکل شي) خو خلک به دهغه دانکار باوجود هغه دخلافت له پاره منتخب کړي، دحجر اسود او مقام ابراهيم عليه السلام په مينځ کې به (دبيت الله شريف مخې ته) خلک دهغه په لاس بيعت وکړي".

"بيا به دشام له لوري يو لښکر دده دمقابلې له پاره وليږل شي، خو دا لښکر به" بيداء" نومې ځای کې چې دمکې او مدينې په مينځ کې دی په ځمکه کې ننوځي، وروسته چې خلک کله دا ووينې، نو (هر خاص او عام ته به لرې لرې پورې معلومه شي چې دا مهدي رضي الله عنه دی) دملک شام ابدال او د عراق والو جماعتونه به د دوی خدمت کې حاضر شي او دوی نه به بيعت وکړي، بيابه دقريشو يو سړی چې دهغه دنيکه قبيله به بنوکلب کې وي ددوی مقابله کې به ودريږي دی رضي الله عنه په دبنوکلب په مقابله کې يو لښکر وليږي، هغه به په دوی باندې غالب شي او ډيره محرومي ده هغه سړي له پاره چې دبنوکلب د مال غنيمت دتقسيم په موقع باندې حاضر نه وي، نو حضرت مهدي رضي الله عنه به ښه مال تقسيم کړي او په خلکو کې به دهغه د نبي ﷺ د سنتو موافق عمل کوي او اسلام به خپل څټ په ځمکه باندې واچوي (يعنې اسلام ته به مضبوطيا نصيب شي) حضرت مهدي رضي الله عنه به اووه کاله ژوندی وي بيابه وفات شي اومسلمانان به يې جنازه وکړي".[1]

(داحديث مشکات شريف ص۴۷۱ کې د ابوداود په حواله ذکر دی او امام سيوطي رحمه الله په العرف الوردي فی اثار المهدي ص ۵۹ کې دا دابن ابی شيبة، احمد، ابوداود، ابويعلی او طبراني په حواله نقل کړی دی).

.....

[1] عن ام سلمة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: يكون اختلاف عند موت خليفة فيخرج رجل من اهل المدينة هارباً الى مكة فيأتيه ناس من اهل مكة فيخرجونه وهو كاره فيبايعونه بين الركن والمقام، ويبعث اليه بعث من الشام فيخسف بهم بالبيداء بين مكة والمدينة، فاذا رأى الناس ذٰلک اتاه ابدال الشام وعصائب اهل العراق فيبايعونه ثم ينشأ رجل من قريش اخواله كلب فيبعث اليهم بعثاً فيظهرون عليهم وذلک بعث كلب ويعمل فى الناس بسنة نبيهم ويلقى الاسلام بجراته فى الارض فيلبث سبع سنين ثم يتوفى ويصلى عليه المسلمون رواه ابوداؤد (مشکوٰة/ص۴۷۱/باب اشراط الساعة).

# د امام مهدي رضی الله عنه باره کې د سنیا نو نظریه

محترم المقام جناب مولانا لدهیانوي صاحب!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

**سوال:** د "جنګ" په جمعه ایډیشن کې دیو سوال په جواب کې تاسو دمهدي منتظر "مفروضه پیدائښ" باندې رڼا اچولو کې د "امام مهدي رضی الله عنه "له پاره اوچت الفاظ استعمال کړي دي چې یوازې د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین له پاره خاص دي، بل دقران مقدس اوحدیث مطهره نه د "امامت" هیڅ تصورنه پیدا کیږي، له دې نه پرته په دې سلسله کې چې کوم روایات دي هغه معتبرنه دي، ځکه چې د راویانو په هره سلسله کې قیس بن عامرشامل دی، چې متفقه طورباندې کاذب او د ځان نه جوړ شویو حدیثونو باندې مشهور دی، ابن خلدون په دې باره کې چې کوم موافق او مخالف حدیثونه یوځای کولو باندې اکتفاء کړې ده هغه کې یوه سلسله هم تواترته نه رسیږي اودهغه انداز هم ډیر مشتبه دی.

لهذا زه به دحق او صداقت په نوم باندې درخواست وکړم چې دمهدي رضی الله عنه منتظر شرعي حیثیت نه دقران عظیم اودنبي کریم صلی الله علیه وسلم دصحیح احادیثو په رڼا کې د "جنګ" په ذریعه مونږ خبر کړئ، چې اصل حقیقت ښکاره مخې ته راشي په دې سلسله کې د مصلحت خیال ساتل یاڅه قسمه ابهام به یقینا په قیامت کې د نیولو قابل وي، دشیعه عقیدې مطابق دمهدي منتظر په **۲۵۵**ھ کې دجناب حسن عسکري رحمه الله په کورکې دنرجس نومې میرمنې (رح)له خیټې نه ولادت شوی دی او هغه دحسن عسکري رحمه الله دوفات نه فورا وروسته دپنځوکالو په عمرکې د خدای پاك حکمت سره غائب شو او په دې غائب والي کې دخپلو نائبینو حاجزینو، سفیرانو او وکیلانو په ذریعه خمس وصولوي دخلکو احوال معلوموي دضرورت مطابق هدایات او حکمونه کوي او ددې په ذریعه په دې دنیاکې د اصلاح او د خیرعمل جاري دی، ددې په تائید کې دلټریچر اوږده سلسله موجود ده.

زما په خیال کې داهل سنت علماوو په دې ضمن کې خپل ګیرچاپیره ---- موندلي مشهور روایتونه نقل کړي دي، دزیات تاریخي یاشرعي حیثیت اوتحقیق نه یې کار نه دی اخیستی او غالبا دهمدې په اتباع کې تاسو هم دغه" مفروضه" بیان کړې ده ایا دا صحیح ده؟

**جواب:** دحضرت مهدي علیه الرضوان له پاره د "رضي الله عنه" لوړ الفاظ په اول ځل مانه دي استعمال کړي، بلکې که چېرې تاسو دامام رباني رحمه الله مکتوبات وګورئ نو تاسو ته به واضحه شي چې امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله حضرت مهدي رضی الله عنه هم په دې الفاظو سره یاد کړی دی، که چېرې دا ستاسو په نزد غلطي وي، نو زه به هم دا عرض وکړم چې د اکابر امت او د مجددین په پیروۍ کې غلطي د "این خطا ازصدصواب اولی تراست" مصداق ده،

غالبا په همدا سې یوه موقع باندې امام شافعي رحمه الله فرمایلي و:[۱]

ان کان رفضًا حُب آل محمد فلیشهد الثقلان انی رافضی

که چیرې د ال محمد ﷺ سره محبت کول رافضیت وي ،نو انسانان او پیریان دې ګواه شي چې زه پوخ رافضي یم".

تاسو چې حضرت مهدي رضی الله عنه ته "رضي الله نه" ویلو باندې چې کوم اعتراض کړی دی،که چیرې تاسو دسوچ فکر نه کار اخیستی وای، نو تاسو به دخپل اعتراض جواب پخپل عبارت موندلی وی، ځکه چې تاسو منئ چې د"رضي الله عنه" الفاظ یوازې د صحابه کرامو رضی الله عنهم له پاره خاص دی، تاسو ته به معلومه وي چې حضرت مهدي رضی الله عنه به دحضرت عیسی علیه السلام ملګری وي، کله چې ماد یو رسول دملګري له پاره حضرت" رضي الله عنه" الفاظ استعمال کړي دي، نو تاسو ته څه اعتراض دی؟ عام طورباندې دحضرت مهدي له پاره"علیه السلام" لفظ استعمالیږي چې د لغوي معنی په لحاظ سره بالکل صحیح دی او په مسلمانانو کې "السلام علیکم" یا "وعلیکم وعلیه السلام" الفاظ همیشه استعمالیږي، خو دچادنوم سره دا الفاظ د انبیاء کرامو یا د ملائکو له پاره استعمالیږي، له دې وجې مادحضرت مهدي رضی الله عنه له پاره کله هم دا الفاظ نه دي استعمال کړي، ځکه چې حضرت مهدي رضی الله عنه به نبي نه وي.[۲]

تاسو ته دحضرت مهدي رضی الله عنه له پاره د "امام لفظ استعمالولو باندې هم اعتراض دی او تاسو لیکلي دي چې "د قران او حدیثو نه دامامت هیڅ تصور نه پیدا کیږي" که چیرې ددې نه مراد دیو خاص جماعت او امامت نظریه وي، نو ستاسو دا خبره صحیح ده، خو تاسو ته دا بدګماني نه وه پکار، چې مابه هم د"امام" لفظ په دغه اصطلاحي مفهوم کې استعمال کړې وي، کم نه کم دامام مهدي سره د"رضي الله عنه" د الفاظو استعمال ددې امر دشهادت له پاره کافي دی.
او که چیرې ستاسو مطلب دا وي چې په قران کریم او په حدیث نبوي ﷺ کې یو سړي ته امام په معنا د پیشوا، مقتدا، رهبر ویلو اجاز هم نه ده ورکړل شوې، نو تاسو دا وینا پخپل ځای یوه عجیبه خبره ده، په قرآن کریم، حدیث نبوي ﷺ او دامت د اکابرو په وینا وکې دا لفظ دومره ډیر راغلی دی چې ښځې او ماشومان هم ددې نه ناآشنا نه دي،تاسو ته به د"**واجعلنا للمتقین اماما**" ایت او د"**من بایع اماما**"حدیث خویاد وي[۳] او بیا د امت محمدي (**علی**

---

۱] الصواعق لمحرقة لابن حجر المکي/ص۱۳۳/طبع مکتبه مجیدیه/ملتان)۔

۲] واماالسلام......هو فی معنی الصلاة، فلایستعمل فی الغائب ولایفرد به غیرالأنبیاء، فلایقال: "علی علیه السلام" (تفسیر ابن کثیر/ ۲/۴۷۹/طبع رشیدیه/کوئته)۔

۳]عن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من بایع اماماً فاعطاه صفقة یده وثمرة قلبه فلیطعه ان استطاع وان جاء اخر ینازعه فاضربوا عنق الاخررواه مسلم(مشکوٰة/ص۳۲۰/کتاب الامارة والقضاء)

صاحبها الصلوة والسلام) په زرګونو کسان دي چې موږ هغوی د امام په لقب سره یادوو، د فقهې او کلام په اصطلاح کې "امام" د مسلمانانو د حکومت سربراه ته ویل کیږي (څنګه چې په من بایع امامًا کې راغلی دی.

د حضرت مهدي رضی الله عنه هدایت موندل او مقتداء او پیشوا کېدل، خو د مهدي لفظ نه واضح دي او هغه به د مسلمانانو سربراه هم وي له دې وجې د هغه له پاره د امام د لفظ استعمال د قران او حدیث او د فقهې او کلام په لحاظ سره په هیڅ شان هم د اعتراض محل نه دی.

د ظهور مهدي د سلسلې د روایاتو په باره کې ستاسو دا ویناچې:

"په دې سلسله کې چې کوم روایتونه دي هغه معتبر نه دي، ځکه چې په هره سلسله د روایاتو کې قیس بن عامر شامل دی چې هغه په متفقه طوربانديې کاذب او د ځان نه جوړشویو احادیثو کې مشهور دی" ډیر عجیبه دی معلومه نه ده چې تاسو دا روایات چېرته لیدلي دي چې د هغو په هر روایت کې قیس بن عامر کذاب راننوځي.

زما په مخکې ابوداود (ج۲ص۵۸۸، ۵۸۹) کې د حضرت ابوهریره، حضرت ابن مسعود او د حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنهم احادیث دي، د دې نه اول ذکر شوي دواړو حدیثونو ته امام ترمذي صحیح ویلي دي او وروسته ذکر شویو ته یې حسن، په دې کې هم چرته قیس بن عامر په نظر رانغی.

په سنن ابن ماجه کې دا احادیث حضرت عبدالله بن مسعود، ابوسعید خدري، ثوبان، علی، ام سلمه انس بن مالك، عبدالله بن حارث رضی الله عنهم په روایت سره مروي دی په هغو کې هم په کوم سند کې د قیس بن عامر نوم نشته.

په مجمع الزوائد (ج۷ص۳۱۵ تا۳۱۸) کې دلاندې لیکل شویو صحابه وو نه یوویشت (۲۱) روایتونه نقل شوي دي.

۱: حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه
۲: حضرت اُم سلمه رضی الله عنها
۳: حضرت ابوهریره رضی الله عنه
۴: حضرت اُم حبیبه رضی الله عنها
۵: حضرت عائشه رضی الله عنها
۶: حضرت قرة بن ایاس رضی الله عنه
۷: حضرت انس رضی الله عنه
۸: حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه
۹: حضرت جابر رضی الله عنه
۱۰: حضرت طلحه رضی الله عنه
۱۱: حضرت علي رضی الله عنه
۱۲: حضرت ابن عمر رضی الله عنهما
۱۳: حضرت عبدالله بن حارث رضی الله عنه

په دوی کې د ځینې روایاتو د راویانو تضعیف یې کړی دی او په دوو روایتونوکې یې د دوه دروغژن راویان هم په نښه کړي دي، خو په هیڅ یو روایت کې یې د قیس بن عامر نوم نه دی ذکر کړی، له دې وجې ستا دا ویل چې د هر روایت د راویانو په سلسله کې

قیس بن عامر شامل دی محض غلط دي.

تاسو د مورخ ابن خلدون په باره کې لیکلي دي چې هغه په دې سلسله کې په مخالف او موافق حدیثونو جمع کولو باندې اکتفاء کړې ده په هغو کې یوه سلسله هم تواتر ته نه ده رسیدلې او د هغو انداز هم ډېر مشتبه دی.

په دې سلسله کې داعرض دی چې په اخري زمانه کې د یو عادل خلیفه د ظهور احادیث په صحیح مسلم، ابوداود، ترمذي، ابن ماجه او نور د احادیثو په کتابونو کې په مختلفو طریقو سره موجود دي، دا احادیث اګرچې فردا فردا احاد دي، خو د دې قدر مشترک متواتر دی د اخري زمانې د دغه عادل خلیفه ته په حدیثو کې "مهدي" ویل شوي دي چې د هغه په زمانه کې به د دجال ظهور وي، حضرت عیسی علیه السلام به د اسمان نه رانازل شي او هغه به قتل کړي، دامت ډېرو اکابرینو د مهدي رضی الله عنه احادیثو ته نه یوازې صحیح، بلکې متواتر یې ورته ویلي دي او د دغه متواتر احادیثو په بناء باندې اسلامي امت په هر دور کې د اخري زمانه کې د مهدي د ظهور قائل پاتې شوی دی، پخپله د ابن خلدون اعتراف دی:

**اعلم ان المشهوربین الکافة من اهل الاسلام علی ممر الاعصار انه لابد فی اخر الزمان من ظهور رجل من اهل البیت یؤید الدین ویظهر العدل ویتبعه المسلمون ویستولی علی الممالک الاسلامیة ویسمی بالمهدی ویکون خروج الدجال ومابعده من اشراط الساعة الثابتة فی الصحیح علی اثره وان عیسی ینزل من بعده فیقتل الدجال او ینزل معه فیساعده علی قتله ویأتم بالمهدی فی صلاته.** (مقدمه ابن خلدون ص ۳۱۱).

**ترجمه:** پوه شه چې د ټول اهل اسلام په مینځ کې په هر دور کې دا خبره مشهوره پاتې شوې ده چې په اخري زمانه کې د اهل بیت نه د یو سړي ظهور ضروري دی چې د دین تائید به کوي، عدل به ظاهروي او مسلمانان به د هغه تابعداري کوي او په ټولو اسلامي ملکونو به د هغه غلبه وي، د هغه نوم مهدي رضی الله عنه دی او د دجال خروج او د دې نه وروسته هغه د قیامت نښې چې ذکر یې چې په صحیح احادیثو کې شوی دی د ظهور مهدي نه به وروسته وي او عیسی علیه السلام به د مهدي نه وروسته نازلیږي، نو دجال به قتل کړي یا به د مهدي په زمانه کې نازل شي، نو حضرت عیسی علیه السلام به په لمانځه کې د حضرت مهدي رضی الله عنه اقتداء کوي".

او هم دا وجه ده چې د اهل سنت په عقائدو باندې چې کوم کتابونه لیکل شوي دي په هغو کې هم د "قیامت علامات" په عنوان کې د ظهور مهدي رضی الله عنه عقیده ذکر شوې ده او عالمانو په دې موضوع باندې مستقلې رسالې هم تالیف کړې دي[1] یو داسې خبر چې په

---

[1] مثلاً: العرف الوردی فی ظهور المهدي، مؤلف جلال الدین سیوطي رحمه الله، عقیده ظهور مهدی احادیث کی روشنی مین، تالیف حضرت داکتر مفتی نظام الدین شامزی شهید رحمه الله).

متواترو احادیثو کې ذکرشوی وي چې هغه په هر دور او په هره زمانه کې ټولو مسلمانانو همیشه منلی وي او هغه ته اهل سنتو په عقائدو کې ځای هم ورکړی وي، په هغه باندې جرح کول یا دهغه سپکاوی کول دټول امت اسلامیه دګمراه او جاهل ګرځولو برابر وي، څنګه چې تاسو دخپل لیک په اخر کې دمهدي په باره کې دیوې خاصې فرقې نظریه ذکرکولو نه وروسته لیکلي دي:

"زما په خیال کې داهل سنت علماوو په دې ضمن کې خپل ګیرچاپیره موندلي مشهور روایتونه نقل کړي دي دزیات تاریخي یاشرعي حیثیت او تحقیق نه یې کارنه دی اخیستی او غالبا دهمدې په اتباع کې تاسو هم دغه" مفروضه بیان کړې ده ایا دا صحیحح ده؟"

ګویا دحفاظ حدیث نه واخله تردمجدد الف ثاني رحمه الله او شاه ولي الله دهلوي رحمه الله پورې هغه ټول اکابرامت اومجددین ملت چاچې شېدې له اوبو نه جدا کړل، ستاسو په خیال ټول شېدې څښونکي ماشومان وو، چې هغوی هغه تاریخي اوشرعي تحقیق نه پرته خواوشاکې خورې شوې افسانې خپلو سندونو سره نقل کولې او هغه یې خپلو عقائدو سره پیوست کولې.

غور وکړئ چې د ارشاد نبوي صلی الله علیه وسلم **"ولعن اخرهذه الامة اولها"**[۱] څنګه شهادت ستاسو قلم پیش کړ،زه نه پوهیږم چې داحساس کمتري دا بیماري موږ ته ولې لګېدلې ده چې موږ دخپل کور هر شی داغیارو راوړل شوی تصور کوو، تاسو په علماء اهل سنت باندې په دې الزام لګولو کې هیڅ باك نه محسوسوئ چې هغوی دملحدینو (بې دینه) خلکو خواره شوې روایتونه تاریخي اوشرعي معیارباندې له تلل کېدو نه پرته پخپلوعقائدو کې شامل کړي وي چې په هغو سره د اهل سنت دټولو عقائدو او روایاتو حیثیت مشکوك ګرځي اوهمدا زه احساس کمتري سره تعبیر کوم) حالانکې ددې مسئلې جائزه تاسو په بل نقطه نظر سره هم اخیستلای شوه چې په اخري زمانه کې دیو خلیفه عادل حضرت مهدي رضی الله عنه د ظهور په باره کې احادیث او روایات داهل حق په مینځ کې متواتر راچلیدل ګمراه فرقو د خپلو سیاسي مقاصدو له پاره دا عقیده واخیستله او په خپل انداز کې یې واچوله اوپه دې کې یې دځان نه جوړ شویو روایتونو ګډون هم وکړ چې په دې سره دهغوی یواصلي مقصد خوسیاسي مقاصد حاصلول و او دویم مسلمانان ددې عقیدې نه بدګمانه کول و چې هغوی مختلف قسمه روایتونه ویني، نوخلک به په یومشکل کې پریوځي او د ظهورمهدي دعقیدې نه به لاس واخلي، په هر دور کې دمهدویت د دروغومدعیانو په خیال کې همدا دوه مقصدونه وو، څنګه چې د تیرشویو پیړیو په شروع کې دپنجاب دروغژن مهدي کومه دعوه کړې وه په هغه کې هم دا دوه مقصدونه په نظر راځي، غرض داچې دفکر دسلامتیا غوښتنه خوداده چې موږ ددې خبرې یقین وساتو چې دحق والاوو اصل حق هماغه شان

۱] عن ابی هریرة......الخ (مشکوٰة/باب اشراط الساعة/ص ۴۷۰/طبع قدیمی)۔

محفوظ وساته او باطل والاوو دهغه نه دغلطو تعبيراتو په ذريعه بل څه جوړ کړل ترديچې هرکله هيڅ ونه شو، نو امام مهدي يې په يوغار کې پټ کړ او اول يې د وړوکي غائب والي او بيايې دلوی غائب والي پرده په هغه باندې راواچوله، خو اخر دا کوم فکري اندازدی چې دټول اهل حق په باره کې داتصوروکړل شي چې هغوی به داغيارو مال په سوال سره غوښته او ژوندی به يې تيراوو.

ترکومې پورې چې دابن خلدون د رايې تعلق دی هغه يو مورخ دی اګرچې په تاريخ کې دهغه نه هم غلطيانې شوي دي په فقه، عقائدو او په حديث کې ابن خلدون چاسند او حجت نه دی منلی او دا مسئله دتاريخ نه ده، بلکې دحديث اوعقائدو ده په دې باره کې دمحدثينو او متکلمينو اودامت داکابرو رايې دتوجه وړ ګڼدای شي.

امدادالفتاوی شپږم جلد کې ص۲۵۹ تر۲۲۷ پورې د"موخزة الظنون عن ابن خلدون" په عنوان سره حضرت حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي قدس سره دابن خلدون دشبهاتو شافي جواب ليکلی دی هغه وګورئ.

لنډه دا چې دمهدي مسئلې په باره کې دحق پرستو نظريه بالکل صحيح او متواتره ده اودباطل والاوو چې په دې سلسله کې دتعبيراتو اوحکاياتو کوم انبار لګولی دی، نه هغه دتوجه وړ دی اونه دحق والاوو له پاره دهغه نه مرعوب کېدل پکار دي.

## ايا دامام مهدي رضي الله عنه درجه به د پيغمبرانو برابره وي؟

**سوال:** ايا دامام مهدي رضي الله عنه درجه به دپيغمبرانو برابره وي؟

**جواب:** امام مهدي عليه الرضوان به نبي نه وي له دې وجې دهغه درجه هيڅکله دپيغمبرانو برابره نه شي کېدای[1] اوحضرت عيسی عليه السلام چې دحضرت مهدي رضي الله عنه په زمانه کې به نازليږي هغه بيشکه لا له وړاندې نه اولوا العزم نبي دی.[2]

## ايا حضرت مهدي رضي الله عنه او حضرت عيسی عليه السلام دواړه يو دي؟

**سوال:** مهدي رضي الله عنه به دې دنيا ته کله تشريف راوړي؟ او ايامهدي رضي الله عنه او عيسی عليه السلام يو وجود دی؟

**جواب:** حضرت مهدي رضي الله عنه به په اخري زمانه کې قيامت ته نژدې ښکاره کيږي، دهغه دښکاره کېدو نه به تقريبا اووه کاله وروسته دجال راوځي اودهغه د قتل له پاره به عيسی عليه السلام

---

۱]ان المهدی المبشربه لايدعی نبوة بل هو من اتباع النبي صلی الله عليه وسلم ، وهو الا خليفة راشد مهدي (المهدي: لمحمد احمد اسماعيل/ص۱۱/طبع دار طيبة/رياض)۔

۲] "واذ اخذنا من النبيين ميثقهم ومنک ومن نوح وابراهيم وموسٰی وعيسی ابن مريم واخذنا منهم ميثاقاً غليظاً (الاحزاب/۷)۔

داسمان نه نازلیږي[۱]،ددې ځای نه دا هم معلومه شوه چې حضرت مهدي رضي الله عنه او حضرت عیسی علیه السلام دوه بېل بېل سړي دي.

## د مهدي ظهور او څوارلسمه پیړۍ

**سوال:** امام مهدي رضي الله عنه لا تر اوسه تشریف نه دی راوړی او د پنځلسمې پیړۍ د استقبال تیارۍ شروع شوې دي.

**جواب:** د امام مهدي په څوارلسمه پیړۍ کې راتلل ولې ضروري دي؟

**سوال:** له دې نه پرته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حدیث نه ثابت دي چې د هرې پیړۍ په سربانديې یو مجدد وي.

**جواب:** یوازې د یو کس مجدد کېدل ضروري نه دي ګڼ کسان هم مجدد کېدلی شي او د دین د خاص خاص شعبو بېل بېل مجدد هم کېدای شي، هرې علاقې له پاره بېل بېل مجدد هم کېدای شي، په حدیث کې د "مَن" لفظ عام دی له دې نه یوازې یو کس مراد اخیستل صحیح نه دي او د غه مجددینو له پاره د مجدد کېدو دعوه کول او خلکو ته د دې دعوت ورکول هم ضروري نه دي او نه خلکو ته د دې د پېژندلو ضرورت دی، چې دا مجدد دی، خو د دوی دیني خدماتو ته کتلو سره به بصیرت والاوو ته غالب ګمان کېږي چې دا مجدد دی.[۲]

**سوال:** حضرت مهدي رضي الله عنه، حضرت عیسی علیه السلام به د څوارلسمې پیړۍ په پاتې لږ موده کې څنګه راشي؟

**جواب:** دهغه په دې لږه موده کې راتلل ولې ضروري دي؟ ایا د څوارلسمې پیړۍ نه وروسته

---

۱] وعنه (ای ابی سعید) عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: "لیقومن علی امتی من اهل بیتي......یملک سبع سنین" (مجمع الزوائد/ج۷/ص۳۱۴/ایضاً مشکوٰة/ص۴۷۰) ایضاً فیلبث المهدی سبع سنین خلیفة ثم یتوفی ویصلی علیه المسلمون، قال ابوداؤد وقال بعضهم عن هشام تسع سنین وقال بعضهم سبع سنین، فمن قال سبع سنین فکأنه اسقط السنتین اللتین بقی فیهما مشغولاً بالقتال الخ (بذل المجهود/ج۵/ص۱۰۳/کتاب الملاحم) وینزل عیسی ابن مریم علیه السلام عند صلاة الفجر فیقول له امرهم: یاروح الله! تقدم صل، فیقول: هٰذه الامة امراء بعضهم علی بعض، فیقدم امیرهم فیصلي، فاذا قضٰی صلاته اخذ حربته فیذهب نحوالدجال، فاذا راه الدجال ذاب کما یذوب الرصاص فیضع حربته بین ثندوتیه فیقتله (التصریح بما تواتر فی نزول المسیح/ص۱۶۴/طبع مکتبه دارالعلوم/ کراچی)۔

۲] قال صاحب جامع الاصول: وقد تکلم العلماء فی تأویله وکل واحد اشار الی العالم الذی هو فی مذهبه وحمل الحدیث علی العموم فان لفظة من تقع علی الواحد والجمع ولایختص ایضاً بالفقهاء......والاظهر عندی والله اعلم المراد من یجدد لیس شخصاً واحداً بل المراد به جماعة یجدد کل واحد فی بلد فی فن اوفنون من العلوم الشرعیة ماتیسرله من الأمور التقریریة او التحریریة ویکون سبباً لبقائه وعدم اندراسه وانقضائه الی ان یأتی امرالله. (بذل المجهود/ج۵/ص۱۰۴/کتاب الملاحم/طبع سهارنپور)۔

به دنياختمه شي ستاسو ټوله پريشاني په دې غلطه مفروضه باندې مبني ده چې "حضرت مهدي او حضرت عيسى عليه السلام د دواړو په څوارلسمه پيړۍ کې تشريف راوړل ضروري وو، خو تر اوسه پورې هغه رانغلل".

حالانکې دا بنياد غلط دی په قران او حديث کې چېرته هم دا نه دي فرمايل شوي چې دا دواړه حضرات به په څوارلسمه پيړۍ کې تشريف راوړي، که چېرې چا څه داسې اندازه لګولې وي، نو دا محض اټکل دی چې د واقعاتو په دنيا کې ددې هيڅ قيمت نشته او که چېرې په دې باره کې چا د قران او د حديث حواله ورکړې ده، نو قطعا د غلط بياني نه يې کار اخيستی دی، د هغه نه پوښتنه وکړئ چې د څوارلسمې پيړۍ لفظ د قران کريم په کوم ايت کې يا د حديث په کوم کتاب کې راغلی دی؟

**يادونه:** تاسو خپل نوم يو "پريشان بنده" ليکلی دی که چېرې تاسو خپل نوم او پته هم ليکلې وای، نو څه باك و؟ هسې هم بې نومه خط ليکل اخلاقي لحاظ سره ښه کار نه دی.

## د مجدد منلو والا څه حکم دی

**سوال:** د هرې پيړۍ په شروع کې مجدد راځي ايا د دوی منونکي غيرمسلم دي؟

**جواب:** د هرې پيړۍ په شروع کې چې د کومو مجددينو د راتلو په حديث کې خبر ورکړل شوی دی[۱] هغوی د نبوت او رسالت دعوې نه کوي او کوم سړی چې داسې دعوه وکړي هغه مجدد نه دی، لهذا د يو ريښتوني مجدد منونکي خو غير مسلمه نه دي، خو چې کوم سړی دا اعلان کوي چې زما دعوه ده چې زه رسول او نبي يم[۲] د ده منونکي ښکاره ده چې هغوی به غيرمسلم وي.

**سوال:** د څوارلسمې پيړۍ مجدد به کله راځي؟

**جواب:** د مجدد له پاره د مجدد کېدو دعوه کول ضروري نه وي، کومو اکابرينو چې په دې پيړۍ کې د دين اسلام په هر اړخ باندې خدمت وکړ، هغه د دې پيړۍ مجدد دی، د تيرشويو پيړيو مجددين هم خلکو د هغوی د خدماتو په بناء باندې مجددين ومنل.

## د څوارلسمې پيړۍ مجدد حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله و

**سوال:** مشهور حديث په مسلمانانو کې مجدد عام مشهور دی، چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د هرسلو کالو په سرباندې به يو نيك سړی مجدد راځي مهرباني به وي که وضاحت وکړئ

۱] عن ابي هريرة فيما اعلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ان الله يبعث لهذه الامة على راس كل مائة سنة من يجدد لها دينها (سنن ابي داؤد/ج۲/ص۲۳۳/باب مايذكر في قرن المائة)۔

۲] ملفوظات ج: ۱۰، ص: ۱۲۷)۔

چې څوارلسمه پیړۍ تیره شوه، خو څوك بزرګ دمجدد په نوم او دعوې سره رانغی که چا دمجدد دعوه کړې وي، نو دهغه پته وښايئ.

**جواب:** مجدد دعوه نه کوي کارکوي په څوارلس پیړیوکې کومو کومو بزرګانو د مجدد کېدو دعوه کړې وه؟ د څوارلسمې پیړۍ مجدد دحضرت حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي و، چې هغه په ديني موضوعاتو باندې تقريبا زر کتابونه وليکل اوپه دې پيړۍ کې هيڅ فتنه هيڅ يو بدعت او هيڅ يو داسې مسئله نشته چې په هغه باندې هغه قلم نه وي پورته کړی، دغه شان په حديث، تفسير، فقه، تصوف او سلوك، عقائد او کلام اوداسې نورو ديني علومو کې هيڅ يو داسې علم نشته چې په هغه باندې ده تاليفات نه وي پريښي.

په هرحال د مجدد له پاره دعوه لازمه نه ده، دهغه د کار سره دهغه دمجددکېدو پېژندنه کيږي، مرزا غلام احمد دمجدد[۱] نه واخله دمهدي[۲]، مسيح[۳]، نبي[۴]، رسول، کرشن[۵]، ګورونانك، رودر ګوپال[۶] کېدو دعوې خوېې ډيرې وکړې، خو دهغه نامناسبه قدباندې دهغه نه يوه دعوه هم صادقه نه شوه.

## ايا څوارلسمه پيړۍ اخري پيړۍ ده؟

**سوال:** ځينې خلک وايي چې څوارلسمه پيړۍ اخري پيړۍ ده او د څوارلسمې پيړۍ په ختميدوکې يونيم کال پاتې دی ددېنه وروسته به قيامت راځي، حالانکې زه داخبره غلطه ګنم.

**جواب:** داخبره سراسر غلطه ده په قران کريم او حديث نبوي ﷺ کې دقيامت تاکلی وخت نه دی ښودل شوی او دهغه لويې لويې علامې چې بيان شوي دي هغه لاتراوسه نه دي شروع شوي ددې علاماتو په ظهور کې به هم يوڅه موده لګيږي، له دې وجې دا خيال محض جاهلانه دی چې د څوارلسمې پيړۍ ختميدو سره به قيامت راځي.

## د هجرت د څوارلسمې پيړۍ په اسلام کې هيڅ اهميت نشته

**سوال:** د څوارلسمې هجري پيړۍ په اسلام کې څه اهميت دی، او جناب يوسرې ماته وويل چې په څوارلسمه پيړۍ کې به نه دچا دعاقبليږي او نه عبادتونه اخرڅه وجه ده؟

---

۱] ازاله اوهام/ص۱۵۴/روحانی خزائن/ج۳/ص۱۷۹)۔

۲] تذکرة الشهادتين/ص۲/روحانی خزائن/ج۲۰/ص۴)۔

۳] روحانی خزائن/ج۳/ص۴۷۰/ازاله اوهام/ص۶۸۶)۔

٤] ملفوظات/ج۱۰/ص۱۲۷)۔

٥] ليکچر سيالکوت/ص۳۳/روحانی خزائن/ج۲۰/ص۲۲۸)۔

٦] تحفه گولرويه /ص۱۳۰/حاشيه، روحانی خزائن/ج۱۷/ص۳۱۶)۔

**جواب:** په شریعت کې د څوارلسمې پیړۍ هیڅ خاص اهمیت نشته، د کوم صاحب قول چې تاسو نقل کړی دی هغه غلط دی.

## پنځلسمه پیړۍ او د قادیانانو بد حواسه کېدل

**سوال:** جناب مولانا صاحب! پنځلسمه پیړۍ به کله شروع کیږي، د پریشانۍ خبره دا ده چې ماد قادیانانو اخبار" الفضل" وکوت په هغه کې ددې باره کې متضادې خبرې لیکل شوي دي، څنګه چې د (۷ذي الحجه ۹۹هـ،۲۹اکتوبر۷۹)په ګڼه یې لیکل شوي دي چې" سیدنا حضرت خلیفة المسیح الثالث د غلبه اسلام دپیړۍ د استقبال له پاره چې دهغه په شروع کېدو کې لس ورځې پاتې دي دیو اهم پروګرام اعلام کړی دی".

خو د الفضل ۱۲ ذي الحجه ۹۹هـ،۳ نومبر۷۹ء په اخبار کې لیکل شوي دي چې سیدنا وامامنا حضرت خلیفة المسیح الثالث باندې اسماني انکشاف شوی دی چې پنځلسمه پیړۍ چې دهغه ابتداء د راتلونکي کال ۱۹۸۰ء کې کیږي او د دربوه یوقادیاني پرچې" انصارالله"ربیع الثاني ۹۹هـ مارچ ۷۹ء په شماره کې"د څوارلسمې پیړۍ هجري اختتام "په عنوان سره یو ادارتي نوټ لیکلی دي چې:

"داسلامي کیلنډر(جنتري) مطابق د څوارلسمې پیړۍ د اخري کال د څلورمې میاشتې په ختمیدو کې یوازې داته نیمو میاشتو موده پاتې ده، دپنځلسمې پیړۍ ابتداء کیدونکې ده (یعنې محرم ۱۴۰۰هـ نه)".

تاسو زموږ رهنمایي وکړئ چې پنځلسمه پیړۍ به کله شروع کیږي ددې ۱۴۰۰هـ نه یا د راتلونکي کال دمحرم ۱۴۰۱هـ نه یا اوس هم لس کاله پاتې دي؟

**جواب:** پیړۍ د سلوکلنو زمانې ته وایي څوارلسمه پیړۍ د۱۳۰۱هـ نه شروع شوې وه اوس دهغې اخري کال دمحرم ۱۴۰۰هـ نه شروع کیږي او محرم ۱۴۰۱هـ به دپنځلسمې پیړۍ شروع وي، پاتې د قادیانانو کومه خبره د تضاداتو نه خالي وي؟

که چېرې دنوې پیړۍ د ابتداء په شان ښکاره خبره کې هم دمتضادو بیانونو نه کار واخلي، نودا د دوی ذهني جوړښت اوفطري خاصیت دی په دې باندې دې ولې تعجب وي؟

## د دجال راتلل

**سوال:** د دجال راتلو په صحیح حدیث کې چېرته ذکرشته؟ که وي، نو وضاحت یې وکړئ.

**جواب:** د دجال په باره کې یو دوه نه ډیر حدیثونه دي او دا عقیده په امت کې همیشه په تواتر سره راغلې ده، د امت ډیرو اکابرینو ددې تصریح کړې ده چې د خروج دجال او دنزول

عیسی علیه السلام احادیث متواتر دي.[۱]

## د دجال راوتل او دهغه د فتنې او فساد تفصیل

په جنګ اخبار کې تاسو دحضرت عیسی علیه السلام د دویم ځل راتلو په باره کې دحدیث په حوالې سره"دهغه حلیه او هغه چې راشي، نوڅه به کوي" لیکلي و ،اوس که د لاندې سوالونو جوابونه هم ولیکئ، نو مهرباني به مو وي:

**سوال:** ۱: دخردجال حلیه دحدیث په حواله سره څه ده؟ (ځکه چې مونږ اوریدلي دي چې هغه به ډیر تیز روان وي دهغه اواز به ډیر سخت وي او داسې نور...).

**سوال:** ۲: دجال دخره حلیه څه ده؟ چې هغه باندې به سورلی کوي.

**جواب:** ددجال دخره حلیه ډېرپه تفصیل سره نه پیداکیږي، دمسنداحمد اومستدرك په حدیث کې یوازې دومره ذکر دي چې دده د دواړو غوږونو په مینځ کې فاصله به څلویښت لاسه وي[۲] اوپه مشکوة شریف کې د بیهقي په روایت سره نقل شوي ډي چې دهغه رنګ به سپین وي.[۳] د دجال په باره کې ډیر حدیثونه راغلي دي، چې هغه کې دده حلیه دده دعوه او د ده د فتنې او فساد خورولو تفصیل ذکر شوی دی د څو احادیثو خلاصه لاندې ذکرده:

۱. سور رنګ، غټ بدن، لنډقد، د سر ویښته ډیرکاږه شوي، یوه سترګه بالکل هواره، دویمه عیب داره[۴]، په تندي باندې"ك،ف،ر" یعني کافر لفظ به لیکل شوی وي چې هرلوستونکی او غیر لوستونکی مومن به یې لوستلی شي.[۵]

---

۱] قال القاضي: نزول عیسٰی وقتله الدجال حق صحیح عند اهل السنة للأحادیث الصحیحة فی ذلک......الخ (سنن ابن ماجه/ص۲۹۹/حاشیه نمبر،۸/طبع نورمحمد کتب خانه)۔

۲]عن جابر بن عبدالله عن النبي صلی الله علیه وسلم قال:......وله حمار یرکبه عرض مابین اذنیه اربعون ذراعاً (مستدرک حاکم مع التلخیص/ج۴/ص۵۳۰/کتاب الفتن/مسند احمد/ج۳/ص۳۶۷)۔

۳] عن ابی هریرة عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: یخرج الدجال علی حمار اقمر......الخ رواه البیهقي (مشکوٰة/ص۴۷۷/باب العلامات بین الساعة وذکر الدجال، طبع قدیمی کتب خانه)۔

٤]عن النواس بن سمعان رضی الله عنه قال: ذکر رسول الله صلی الله علیه وسلم الدجال ذات غداة......انه شاب قطط......عینه طافئة......قلنا: یارسول الله! ومالبثه فی الارض؟ قال: اربعون یوماً...... قلنا: یارسول الله! وما اسراعه فی الارض؟ قال کالغیث استدبرته الریح فبینما هو کذلك اذ بعث الله مسیح ابن مریم فینزل عند منارة البیضاء شرقی دمشق بین مهروذتین......فیطلبه حتی یدرکه باب لد فیقتله (التصریح بماتواتر فی نزول المسیح/ص۱۰۲ تا ۱۱۸) ایضاً عن عبدالله بن عمر ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: بینا انا نائم اطوف بالکعبة فاذا رجل ادم سبط الشعر ینطف او یهراق رأسه ماء قلت من هٰذا؟ قالوا ابن مریم! ثم ذهبت التفت فاذا رجل جسیم احمر جعدالرأس اعور العین کان عینه عنبة طافیة قالوا: هٰذا الدجال......الخ (فتح الباري/ج۱۳/ص۹۰)۔

٥] عن ابی امامة الباهلی قال......حدثناه عن الدجال...... وانه یخرج....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

۲.اول به د نبوت دعوه وکړي او بيا به ترقي وکړي د خدايي دعوه به وکړي.[۱]

۳. د هغه ابتدايي خروج به د اصفهان، خراسان نه وي او د عراق او د شام د مينځ لاره کې به ښکاره دعوت وکوي. (ايضاً پورتنۍ حواله)

۴.په خره به سور وي او يا زره يهوديان به دده په فوج کې وي.[۲]

۵. دباد(سېلۍ)په شان به ځي او د مکې مکرمې او مدينې طيبې او د بيت المقدس نه پرته به ټوله دنيا کې به ګرځي.[۳]

۶.مدينې ته د تلو په غرض به د احد د غرنه شاته ډيره واچوي، خو د الله تعالى فرښتې به هغه مدينې ته داخليدو ته نه پرېږدي، د هغه ځای نه به د شام هيواد ته مخه کړي او هلته چې لاړشي، نو هلاك به شي.[۴]

---

...بقيه د تير مخ]... من خلة بين الشام والعراق...... فيقول: انا نبي، ولانبي بعدي، ثم يثنى فيقول: انا ربكم، ولاترون ربكم حتى تموتوا، وانه اعور، وان ربكم ليس باعور، وانه مكتوب بين عينيه كافر يقرأه كل مؤمن كاتب اوغير كاتب......وانه لايبقى بشيء من الأرض الا وطئه وظهر عليه الا مكة والمدينة لا يأتيهما من نقب من نقابهما الا لقيته الملائكة بالسيوف صلتة حتى ينزل عند الظريب الأحمر عند منقطع السبخة فترجف المدينة بأهلها ثلاث رجفات فلايبقى منافق ولا منافقة الا خرج اليه فتنفى الخبث منها كما تنفى الكير خبث الحديد...... وجلهم ببيت المقدس وامامهم رجل صالح فبينما امامهم قد تقدم يصلى بهم الصبح اذ نزل عليهم عيسٰى بن مريم الصبح فرجع ذلک الامام ينکص يمشى القهقرىٰ ليقدم عيسٰى يصلى فيضع يده بين كتفيه ثم يقول له: تقدم فصل فانها لک اقيمت، فيصلى بهم فاذا انصرف قال عيسٰى عليهم السلام: افتحوا الباب! فيفتح وورائه الدجال معه سبعون الف يهودى كلهم ذوسيف محلى وساج فاذا نظر اليه الدجال ذاب كما يذوب الملح فى الماء وينطلق هارباً ويقول عيسٰى عليه السلام: ان لى فيک ضربة لن تسبقنى بها، فيدركه عند باب اللد الشرقى فيقتله فيهزم الله اليهود فلايبقٰى شيء مما خلق الله يتوارى به يهودى الا انطلق الله ذلک الشيء لا حجر ولا شجر ولاحائط ولا دابة الا الغرقدة فانها من شجرهم لاتنطق الا قال: يا عبدالله المسلم! هٰذا يهودى فتعال فاقتله...... الخ (ابن ماجة/ص۲۹۸،۲۹۷/باب فتنة الدجال وخروج عيسى ابن مريم وخروج ياجوج وماجوج)۔

۱] ايضاً پورتنۍ حواله)۔

۲] عن ابى هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: يخرج الدجال على حمار اقمر مابين اذنيه سبعون باعاً رواه البيهقي(مشكوٰة/ص۴۷۷) وعن انس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: يتبع الدجال من يهود اصفهان سبعون الفاً، عليهم الطيالسة رواه مسلم (مشكوٰة/ص۴۷۵/باب العلامات بين يدى الساعة وذكر الدجال)۔

۳] تيره شوى حاشيه (عن النواس بن سمعان رضى الله عنه قال: ذكر رسول الله صلى الله عليه وسلم الدجال ذات غداة.....الخ) او وروستى حاشيه (عن ابى امامة الباهلى قال......حدثناه عن الدجال.....الخ) اوګورئ)

۴] يجي الدجال فيصعد احدا فيطلع فينظر الى المدينة فيقول لاصحابه: الا ترون الى هٰذا القصر الأبيض؟ هٰذا مسجد احمد، ثم ياتى المدينة فيجد بكل نقب من نقابها ملكاً مصلتاً سيفه فيأتى سبخة الجرف فيضرب رواقه: ثم ترجف المدينة ثلاث رجفات، فلا يبقى منافق ولا منافقة ولا فاسق ولا فاسقة الا خرج اليه، فتخلص المدينة...... ثم يأتى ايليا فيحاصر عصابة من المسلمين.....الخ (فتح الباري/ج۱۳/ص۹۴/طبع لاهور)۔

۷. په دې موده کې په مدينه طيبه کې به درې زلزلې راځي او په مدينه کې چې څومره منافقان وي هغوی به له ويرې نه بهرته راوځي او دجال سره به ملاوشي.[۱]

۸. چې کله بيت المقدس ته نژدې ورسيږي، نومسلمانان به دده مقابلې ته راووځي او د دجال فوج به ددوی محاصره وکړي.[۲]

۹. مسلمانان به په بيت المقدس کې ګيرشي او په دې محاصره کې به هغوی ته سخت ازمائش مخې ته راشي.[۳]

۱۰. يوه ورځ به دسهار په وخت کې اواز وشي "تاسو ته مدد راورسيده" مسلمانان چې دا اواز واوري، نو وبه وايي چې مدد چېرته نه راځي؟ دا دکوم مړې خيټې والا اواز دی.[۴]

۱۱. په همدغه مهال چې دسهار دلمانځه اقامت به شوی وي، حضرت عيسی عليه السلام به دبيت المقدس شرقي منارې باندې راکوز شي.[۵]

۱۲. دده په تشريف راوړلو باندې به امام مهدي رضي الله عنه (چې مصلی (جاينماز) ته به وړاندې شوی وي) راوروسته شي او د دده عليه السلام ته به دامامت درخواست وکړي، خو دی به امام مهدي ته حکم وکړي چې لمونځ ورکړه ځکه چې ددې لمونځ اقامت به د هغه له پاره شوی وي.[۶]

۱۳. دلمانځه نه چې فارغ شي حضرت عيسی عليه السلام به د دروازې پرانستلو حکم وکړي دهغه په لاس کې به دغه وخت يو وړه شان نيزه وي چې دجال يې ووينی، نو داسې به ويلې کيږي څنګه چې په اوبو کې مالګه ويلې کيږي، هغه عليه السلام به ده ته ووايي چې الله تعالی زما يو ګذار

---

۱] ايضاً)_

۲] ايضاً)_

۳] ووقع فى حديث سمرة المشار اليه قبل: يظهر على الأرض كلها الا الحرمين وبيت المقدس فيحصر المؤمنين فيه ثم يهلكه الله......الخ (فتح الباري/ج۱۳/ص۱۰۵/طبع لاهور)_

٤] عن عثمان بن ابى العاص.....فبينماهم كذلک اذ نادىٰ مناد من السحر يا ايها الناس اتاكم الغوث، ثلاثاً، فيقول بعضهم لبعض: ان هٰذا لصوت رجل شبعان، وينزل عيسى ابن مريم عليه السلام عند صلاة الفجر...... الخ (التصريح بماتواتر فى نزول المسيح/ص۱۶۴/طبع مكتبة دارالعلوم، كراچى)_

٥] عن النواس بن سمعان رضى الله عنه قال: ذكر رسول الله صلى الله عليه وسلم الدجال ذات غداة......انه شاب قطط......عينه طافئة......قلنا: يارسول الله! ومالبثه فى الارض؟ قال: اربعون يوماً...... قلنا: يارسول الله! وماسراعه فى الارض؟ قال كالغيب استدبرته الريح فبينما هو كذلك اذ بعث الله مسيح ابن مريم فينزل عند منارة البيضاء شرقى دمشق بين مهروذتين ......فيطلبه حتى يدركه باب لد فيقتله (التصريح بماتواتر فى نزول المسيح/ص۱۰۲ تا ۱۱۸) ايضاً عن عبدالله بن عمر ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: بينا انا نائم اطوف بالكعبة فاذا رجل ادم سبط الشعر ينطف او يهراق رأسه ماء قلت من هٰذا؟ ابن مريم! ثم ذهبت التفت فاذا رجل جسيم احمر جعدالرأس اعور العين كان عينه عنبة طافية قالوا: هٰذا الدجال......الخ (فتح الباري/ج۱۳/ص۹۰)_

٦] ايضا پورتنى حواله)_

ستا له پاره ليکلى ساتلى دى چې دهغه نه ته بچ کېداى نه شې، دجال به وتښتي خو دى به يې باب لد سره لاندې کړي، په نيزه باندې به يې هلاك کړي او په نيزه باندې دهغه لګيدلې وينه به مسلمانانو ته وښيي.[۱]

۱۴: دغه وخت به دمسلمانانو او ددجال د فوج مقابله وي د دجال فوج به د تورو لاندې راشي (هلاك به شي) او ونې کاڼي به اواز وکړي چې "اې مومنه! دا يهودي زما شاته پټ شوى دى، دا قتل کړه".[۲]

دا د دجال مختصر شان احوال دي په احاديثوکې ددې ډير تفصيلات بيان شوي دي.

## دياجوج و ماجوج او دابة الارض حقيقت

**سوال:** تاسوپخپله "اقرا" صفحه کې يوحديث شائع کړى و اوپه هغه کې دقيامت نښې ښودل شوې وې چې په هغو کې د دجال راتلل، د دابة الارض او دياجوج ماجوج راتلل وغيره شامې دي، مهرباني وکړئ دا وښيئ چې ياجوج ماجوج او دابة الارض نه څه مراددي؟ اوايا چې دانښې پوره شوي؟

**جواب:** د دجال په باره کې ديوبل سوال په جواب کې ما ليکلي دي، هغه دې وکتل شي دياجوج ماجوج د راوتلو ذکرپه قران کريم کې دوه ځايه راغلې ده يو سورة انبياء په ۹۷ نمبرايت کې چې په هغه کې فرمايل شوي دي:

"تردې چې کله پرانستل شي ياجوج ماجوج اوهغه به دهر اوچت ځاى نه په منډه راځي او رانژدې شوه رښتينې وعده (يعنې دقيامت وعده) نوناڅاپه به شليدلې شليدلې پاتې شي سترګې د منکرينو هاى افسوس! موږ خو ددې نه په غفلت کې وو، بلکه موږ ظالمان وو".[۳]

او دويم د سورة کهف داخري نه مخکې رکوع کې چېرته چې د ذوالقرنين په خدمت کې د ياجوج ماجوج د فتنې او فساد خورولو او دهغه د فولادو د ديوال جوړولو ذکر راځي، هلته فرمايل شوي دي چې ذوالقرنين دديوال جوړولونه وروسته وفرمايل:

" دا زما د رب رحمت دى، کله چې زما د رب وعده (قيامت) راشي، نو هغه به دا دړې وړې کړي او زما درب وعده رښتيا ده (وړاندې الله تعالى فرمايي اوموږ به په دغه ورځ کې

---

۱] عن ابى هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم...... فلو تركه لانذاب حتى يهلك ولكن يقتله الله بيده فيريهم دمه فى حربته (التصريح بماتواتر فى نزول المسيح/ص۱۳۲) ايضاً تيره شوى حاشيه(عن ابى امامة الباهلى قال......حدثناه عن الدجال.....الخ))۔

۲] ايضاً پورتنۍ حاشيه)۔

۳] " حتى اذا فتحت ياجوج وماجوج وهم من كل حدب ينسلون واقترب الوعد الحق فاذا هى شاخصة ابصار الذين كفروا يٰويلنا قد كنا فى غفلة من هٰذا بل كنا ظٰلمين"(الانبياء/۹۷،۹۶)۔

دوی په داسې حال کې پریږدو چې د دوی نه به ځینې په ځینو کې چیچې وهونکي وي."[۱]

ددې ایتونو نه جوتیږي چې دیاجوج و ماجوج په اخري زمانه کې راوتل دالله پاك په علم کې فیصله شوي دي او دا چې د دوی راوتل به دقیامت دنښې په طورقیامت ته نژدې وي په همدې بناء باندې په حدیث نبوي ﷺ کې د دوی راوتل دقیامت په لویو علاموکې شمار شوي دي اوپه ډیرو حدیثونو کې فرمایل شوي دي چې ددوی راوتل به دحضرت عیسی علیه السلام په زمانه کې وي د احادیثو نه دهغوی مختصر شان نقشه وړاندې کوم:

"بیا به عیسی علیه السلام هغو خلکو ته ورشي کوم چې الله تعالی د دجال دفتنې نه محفوظ ساتلي وي او د دوړو نه به دهغوی مخونه پاک کړي او په جنت کې چې دهغوی کومې درجې دي هغه به دوی ته بیان کړي، دوی به په همدې حال کې وي چې الله تعالی حضرت عیسی علیه السلام ته وحې راولیږي چې ما خپلو داسې بندګانو ته د وتلو اجازه ورکړې ده چې دهغوی د مقابلې طاقت په هیچاکې نشته، نوتاسوزمابندګان کوه طورته بوځئ.

او الله تعالی به یاجوج ماجوج راولیږي او هغوی به دهر اوچت ځای نه په تیزي سره په ښوئیدلو کوزیږي، نو ددوی اولنۍ ډلې به په بحیره طبریه باندې تیرې شي دهغې ټولې اوبه به صفا کړي او له هغوی نه وروسته خلک به راځي، نو وبه وایي چې په یوه زمانه کې په دې کې اوبه وې او هغوی به لاړشي تردې چې د بیت المقدس غر جبل خمر ته به اورسیږي، نو وبه وایي چې د ځمکې والا خو موږ قتل کړل، اوس به د اسمان والا قتل کړو، هغوی به د اسمان طرف ته غشي ولي، نوالله تعالی به دهغوی غشي په وینو رنګ دوی ته واپس کړي.

او د الله نبي حضرت عیسی علیه السلام او دهغه ملګري به په کوه طور کې ګیروي او ددې محاصرې له وجې به هغوی ته داسې تنګسیا راپیښه شي چې دهغوی له پاره به د غوا سر د نن دسلو درهمونه بهتر وي، نو الله تعالی به دیاجوج ماجوج په څټونوکې چینجي پیدا کړي چې په هغه سره به دوی په یوساعت کې هلاك شي، بیابه دالله نبي حضرت عیسی علیه السلام اودهغه ملګري دکوه طور نه ځمکې ته راکوز شي، نو یوه لویښت ځمکه به هم خالي نه پیداکیږي چې د دوی د لاشونو او بدبویي نه به ډکه نه وي، نودالله نبي حضرت عیسی علیه السلام اودهغه ملګري به دالله نه دعا وغواړي، نوالله تعالی به دبختي اوښانو دڅټونو په شان مارغان راولیږي چې د دوی لاشونه به پورته کړي چرته چې الله تعالی ته منظور وي هلته به یې وغورزوي، بیابه الله تعالی داسې باران وکړي چې دهغه نه به یوه خیمه اومکان پټ پاتې نه شي هغه باران به ځمکه ووینځي اود شیشې په شان به یې پاکه کړي، (وړاندې د قرب قیامت

---

۱] ''قال هٰذا رحمة من ربى فاذا جاء وعد ربى جعله دكاء وكان وعد ربى حقا وتركنا بعضهم يومئذ يموج فى بعض ونفخ فى الصور فجمعنٰهم جمعاً''(الكهف/۹۹،۹۸)۔

نور حالات ذکر دي". (صحيح مسلم، مسند احمد، ابوداؤد، ترمذی، ابن ماجه، مستدرک حاکم، کنزالعمال).[۱]

۲. د ترمذي په حديث کې دي چې هغه مارغان به دياجوج ماجوج لاشونه په نهبل کې يوسي او وبه يې غورځوي او مسلمانان به دهغوی غشي ليندې او ترکشونه تر اوو (۷) کلنو پورې دخشاکو په څېر استعمالوي. (مشکوة ص ٤٧٤).[۲]

۳: په يو حديث کې وينادہ چې دمعراج په شپه زما ملاقات د حضرت ابراهيم، موسی او عيسی عليهم السلام سره وشو، د قيامت ذکر راغی، نو دټولو نه مخکې دحضرت ابراهيم عليه السلام نه پوښتنه وشو هغه وفرمايل چې ماته ددې علم نشته.

بيا دحضرت موسی عليه السلام نه پوښتنه وشوه هغه هم دغه جواب ورکړ.

بيا دحضرت عيسی عليه السلام نه پوښتنه وشوه هغه وفرمايل چې دقيامت د راتلو مقرر وخت، خو دالله تعالی نه پرته هيچاته معلوم نه دی، خو زما رب زما سره وعده کړې ده او هغه دا چې دجال اکبر به راوځي، نو دهغه دقتل له پاره به زه کوزيږم، هغه به زما ليدو سره دکلايي په شان ويلې کيږي، نو الله تعالی به زما په لاس باندې هغه هلاک کړي تردې چې ونې کاڼي به اوازونه وکړي چې اې مومنه! زما شاته کافر پټ شوی دی داقتل کړه، زه به دجال قتل کړم او ددجال فوج به الله تعالی هلاک کړي.

بيابه خلک خپلو علاقو او وطنونو ته واپس لاړشي دغه وخت به ياجوج ماجوج راوځي او هغوی به د هر اوچت ځای نه په منډه راځي، هغوی به دمسلمانانو علاقې دپښولاندې کړي په کوم شي چې تيرشي هغه به تباه کړي په کومو اوبو چې تيرشي هغه به ختمې کړي، خلک به زمانه دهغوی دفتنې او فساد نه شکايت وکړي، زه به دالله تعالی نه دعا وغواړم، نو الله تعالی به هغوی په مرګ سره هلاک کړي.

---

۱] ثم يأتي عيسیٰ قوم قد عصمهم الله منه، فيمسح عن وجوههم ويحدثهم بدرجاتهم فی الجنة فبينما هو كذالک اذا اوحی الله الی عيسیٰ عليه السلام انی قد اخرجت عبادا لی لا يدان لأحد بقتالهم فحرز عبادی الی الطور ويبعث الله يأجوج ومأجوج وهم من كل حدب ينسلون، فمر اوائلهم علی بحيرة طبرية فيشربون مافيها ويمر اخرهم فيقولون: لقد كان بهٰذاه مرة ماء ويحصر نبی الله عيسیٰ عليه السلام واصحابه حتی يكون رأس الثور لأحدهم خيراً من مائة دينار لأحدكم اليوم، فيرغب نبی الله عيسیٰ عليه السلام واصحابه الی الله تعالیٰ فيرسل الله عليهم النغف فی رقابهم مصحون فرسی كموت نفس واحدة ثم يهبط نبی الله عيسیٰ عليه السلام واصحابه الی الأرض فلا يجدون فی الأرض موضع شبر الا ملأه زهمهم ونتنهم فيرغب نبی الله عيسیٰ عليه السلام و اصحابه الی الله فيرسل الله طيراً كأعناق البخت فتحملهم فطرحهم حيث شاء الله ثم يرسل الله مطراً لايكن من بيت مدر ولا وبرفيغسل الأرض حتی يتركها كالزلفة (التصريح بماتواتر فی نزول المسيح/ص۱۱۸ تا ۱۲۵)

۲] عن النواس بن سمعان...... فيرسل الله طيراً...... تطرحهم بالنهبل ويستوقد المسلمون من قسيهم ونشابهم وجعابهم سبع سنين الخ (مشكوٰة/ص۴۷۴/باب العلامات بين يدی الساعة وذكر الدجال)۔

تردې چې دهغوی دګندګۍ نه په په څمکه کې بدبويي خوره شي، نوالله تعالی به باران وکړي چې هغوی به وبهيږي اوپه سمندر کې به يې وغورځوي.

نو زما درب عزوجل چې زماسره کومه وعده ده په هغه کې يې وفرمايل چې کله دا واقعات وشي، نودقيام مثال به دپوره ورځو دحاملې وي چې دهغې مالکانو ته دهغې په باره کې هيڅ خبر نه وي، چې دورځې يا د شپې کله ناڅاپه به دهغې دبچي پيداکېدو وخت راځي.(مسند احمد،ابن ماجه،ابن جرير، مستدرك حاكم،فتح الباری،درمنثور، التصريح بماتواترفی نزول المسيح ص۱۵۸,۱۵۹).[۱]

د ياجوج ماجوج په باره کې نور هم ګڼ احاديث دي چې په هغه کې کم او زيات همدا تفصيلات بيان شوي دي، خو زه په دغو درې احاديثو باندې بسنه کوم او دا فيصله تاسو ته پريږدم چې ايا دا نښې پوره شوي دي؟يا اوس هم دهغه پوره کېدل پاتې دي وواېئ ستاسو خدای درکړی عقل څه فيصله کوي؟.

پاتې شودابة الارض ! نوددې ذکر دقران کريم په سورة نمل ايت نمبر ۸۲ کې راغلی دی څنګه چې وينا ده: "او چې کله راپرېوځي په دوی باندې خبره (يعني دقيامت د وعدې پوره کېدو وخت رانژدې شي) نو مونږ به ددوی له پاره له څمکې نه يو ځاروی راوباسو چې دوی سره به خبرې کوي چې خلکو زمونږ په نښو باندې يقين نه لاره".[۲]

يوحديث کې دي چې دشپږو شيانونه مخکې په نيکو عملونو کې بېړه( وراندې والی) کوئ:
دخان (لوګی)،دجال، دابة الارض، دمغرب نه دلمر راختل، عام فتنه اودهرسړي سره خاص فتنه. (مشکوة ص۴۷۲)[۳]

---

۱] عن عبدالله بن مسعود رضى الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: لقيت ليلة اسرى بى ابراهيم و موسىٰ وعيسىٰ،قال:فتذاكروا امر الساعة، فردوا امرهم الى ابراهيم فقال: لاعلم لى بها،فردوا الأمر الى موسىٰ، فقال: لاعلم لي بها، فردوا الأمر الى عيسىٰ، فقال: اما وجبتها فلايعلمها احد الا الله تعالي، ذالک وفيما عهد الى ربى عزوجل ان الدجال خارج، قال: ومعى قضيبان فاذا رانى ذاب كما يذوب الرصاص قال: فيهلكه الله، حتى ان الحجر والشجر ليقول: يامسلم ان تحتى كافراً فتعال فاقتله، قال: فيهلكهم الله تعالىٰ ثم يرجع الناس الى بلادهم وأوطانهم، قال: فعند ذالک يخرج يأجوج ومأجوج وهم من كل حدب ينسلون، فيطأون بلادهم، لايأتون على شيء الا اهلكوه ولايمرون على ماء الا شربوه ثم يرجع الناس الى فيشكونهم فادعوالله عليهم فيهلكهم الله تعالىٰ ويميتهم حتى تجوى الأرض من نتن ريحهم قال: فينزل الله عزوجل المطر فيجرف اجسادهم حتى يقذفهم فى البحر...... ففيما عهد الى ربى عزوجل ان ذالک اذا كان كذالک فان الساعة كالحامل المتم التى لايدرى اهلها متى تفجأهم بولادها ليلاً اونهاراً (التصريح بما تواتر فى نزول المسيح/ص۱۵۸ تا ۱۶۰)۔

۲] واذا وقع القول عليهم اخرجنا لهم دابة من الارض تكلمهم ان الناس كانوا بأيتنا لايوقنون"(النمل/۸۲)

۳] عن ابى هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: بادروا بالأعمال ستا: الدخان والدجال ودابة الارض و طلوع الشمس من مغربها وأمر العامة وخويصة احدكم (مشكوٰة/ص۴۷۲/باب العلامات بين يدى الساعة وذكر الدجال)

په يو بل حديث کې دي چې دقيامت د اولو علامونه چې دخلکو په مخکې به ښکاريږي هغه به دمغرب نه دلمر راختل وي او دڅاښت په وخت د دابة الارض دخلکو په مخکې راوتل دي دوی کې چې کومه مخکې وي بله به هغه پسې متصل وي.(مشکوة،صحيح مسلم).[۱]

په يو بل حديث کې دي چې درې شيان کله ښکاره شي، نو هيڅ يونفس ته به دهغه ايمان راوړل نفع نه ورکوي چاچې دهغه نه مخکې ايمان نه وي راوړی يا هغه دايمان په حالت کې څه نيکي نه وي کړي، دمغرب نه دلمر راختل، ددجال ښکاره کيدل او د دابة الارض راوتل.(مشکوة،صحيح مسلم).[۲]

داسې معلوميږي چې ددې دنياله پاره دلمر راختلو اوپريوتو نظام داسې دی څنګه چې دانسان دنبض رفتار دی، دکله نه چې انسان پيدا شوی دی دده نبض باقاعده چليږي، خو دزنکدن په وخت اول په نبض کې سستي راشي او لږ وخت وروسته هغه بالکل ودريږي،

دغه شان دکله نه چې الله تعالی دا دنيا پيدا کړې ده دلمر راختو او پريوتو په نظام کې هيڅکله خلل نه دی راغلی، خو دقيات نه لږ مخکې به په دې دنيا دزنکدن حالت راشي او ددې نبض به بې قاعدې شي څنګه چې په يو حديث کې دي چې لمرته هره ورځ دمشرق نه د راختلو حکم ورکول کيږي يوه ورځ به ده ته دمشرق په ځای دمغرب نه دراختلو حکم وشي. (صحيح بخاري، صحيح مسلم).[۳]

څنګه چې د زنکدن په حالت کې ايمان قبول نه دی، دغه شان لمردمغرب نه د راختلو نه وروسته (چې ددې دنيا دزنکدن وخت وي) دتوبې دروازه به بنده شي دغه وخت به ايمان راوړل فائده نه ورکوي، نه به دداسې ايمان اعتبار وي او دتوبې دروازې بنديدو نه وروسته به دبې ايمانو د رسوا کولو اودهغوی دايمان غلطو دعوو د لارې بندولو له پاره به په مومن او کافر باندې بيله بيله نښه ولګول شي.

---

۱] عن عبدالله بن عمرو قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ان اول الايات خروجاً طلوع الشمس من مغربها وخروج الدابة على الناس ضحًى وايهما ماكانت قبل صاحبتها فالأخرىٰ على اثرها قريبا رواه مسلم (مشكوٰة/ص۴۷۲/باب العلامات بين يدى الساعة وذكر الدجال)۔

۲] عن ابى هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ثلاث اذا خرجن لاينفع نفساً ايمانها لم تكن امنت من قبل او كسبت فى ايمانها خيراً: طلوع الشمس من مغربها والدجال ودابة الارض رواه مسلم (مشكوٰة/ص۴۷۲)۔

۳] عن ابى ذر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم حين غربت الشمس اتدرى اين تذهب هذه؟ قلت: الله ورسوله اعلم! قال: فانها تذهب حتى تسجد تحت العرش فتستاذن، فيؤذن لها ويوشك ان تسجد ولا تقبل منها، وتستاذن فلا يؤذن لها، ويقال لها: ارجعى من حيث جئت! فتطلع من مغربها فذلك قوله تعالى: والشمس تجرى لمستقرلها، قال: مستقرها تحت العرش، متفق عليه. (مشكوة ص۴۷۲، باب العلامات بين يدى الساعة وذكر الدجال)

"دابة الارض چې کله راځي، نو هغې سره به د موسی علیه السلام همسا او سلیمان علیه السلام ګوتمه وي هغه به په ګوتمه د مومن په مخ باندې مهرلګوي چې هغه سره به د هغه مخ وځلیږي او دکافر په پوزه به د موسی علیه السلام د همسا مهر ولګوي (چې د هغه له وجې به د زړه د کفر توروالی دهغه په مخ خورشي) دغسې به د مومن او د کافر په مینځ کې داسې فرق راشي چې مجلس کې به مومن او کافر بیل بیل شي."[1]

د دابة الارض نه لږ موده وروسته به یوه پاکیزه هوا والوزي چې په هغې سره به ټول د ایمان والا وفات شي او یوازې ناکاره خلک به پاتې شي دځناورو په شان به په لاروکې شهوت پوره کوي چې دوی باندې به قیامت راځي.مشکوة شریف.[2]

# ❖ له ګناهو نه توبه ❖

## له ګناهو نه توبه او معافي

**سوال:** یوماشوم د مسلمان په کورکې پیدا کیږي اوپه دغه کورکې روزنه مومي او ځوانیږي، دهغه په زړه کې د دین محبت هم وي، خو د شیطان په غلولو باندې هغه ګناهونه هم کوي تردې چې په ګناه کبیره کې اخته شي، خو د ګناه کبیره کولو نه وروسته دهغه زړه سخت خفه شي او هغه دالله په حضورکې حاضر شي او توبه وکړي او ریښتنې توبه وکړي،ایا دده توبه قبلیدای شي او که نه؟ هغه ته په دنیاکې شرعي سزا ورنکړل شي او نه دده له اقرار پرته څه ثبوت موجود وي.

**جواب:** انسان چې ریښتینې توبه وکړي، نو الله تعالی د ګناه ګار توبه قبلوي[3] او د کوم سړي نه چې څه ګناه وشي او د کوم بنده حق د هغه سره متعلق نه وي او چاته د هغه ګناه پته هم نه وي، نو هغه ته پکار دي چې د دغه ګناه اظهار چاته نه کوي[4]،بلکې د الله په حضورکې دې

---

١] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: تخرج دابة الارض ومعها عصا موسی وخاتم سلیمان علیهما السلام،فتخطم انف الکافر بالعصا،وتجلی وجه المؤمن بالخاتم،حتی یجتمع الناس علی الخوان یعرف المؤمن من الکافر).تفسیر ابن کثیر ج:٤ ص:٦٨٤،المستدرک للحاکم ج:٤ ص:٤٨٥،طبع بیروت)ـ

٢] اذ بعث الله ریحا طیبة فتاخذهم تحت اباطهم فیقبض روح کل مؤمن وکل مسلم،ویبقی شرار الناس یتهار جون فیها تهارج الحمر فعلیهم تقوم الساعة.رواه مسلم).مشکوة ص:٤٧٤،باب العلامات بین یدی الساعة)

٣]ان التوبة اذا استجمعت شرائطها فهی مقبولة لا محالة،اعلم:انک اذا فهمت معنی القبول لم تشک فی ان کل توبة صحیحة فهی مقبولة).احیاء علوم الدین ج:٤ ص:١٣،طبع دار المعرفة،بیروت)ـ

٤]لان اظهار المعصیة معصیة لحدیث الصحیحین:کل امتی معافی الا المجاهرین وان من الجهار ان یعمل الرجل باللیل عملا ثم یصبح وقد ستره الله فیقول:عملت البارحة کذا وکذا،وقد بات یستره ربه ویصبح یکشف ستر الله عنه). فتاوی شامی ج:٢ ص:٧٧)ـ

## توبې سره د ګناه کبیره معاف کېدل

**سوال:** ایا توبه کولوسره ټول کبیره ګناهونه معاف کیږي؟ که معاف کیږي نوایا قتل هم معاف کیږي؟ ځکه چې دقتل تعلق حقوق العباد سره دی، په دې مسئله باندې دلته ځینې ملایان صاحبان ددې قائل دي چې توبې سره قتل هم معاف کیږي، خو ځینې وایي چې قتل دحقوق العباد ځیني دی حقوق الله معاف کیږي، خوحقوق العباد نه معاف کیږي،په دې سلسله کې تاسو وضاحت وکړئ.

**جواب:** ناحقه قتل دهغو اوو کبیره ګناهونونه یو دی کوم ته چې په حدیث کې ,,هلاکونکي،، فرمایل شوي دي[۲] ،داحق الله هم دی اوحق العبدهم، له چانه چې دا کبیره ګناه وشي هغه دې دالله تعالی درحمت نه مایوسه کیږی نه، دالله تعالی نه دې معافي غواړي اوهمیشه دې غواړي، خو دې قتل سره حق العبدهم متعلق دی له دې وجې د مقتول د وارثانومعاف کول هم ضروري دي.[۳]

## ریښتیني توبه او د بندګانو حقونه

**سوال:** که چیرې انسان ګناه کبیره کوي مثلاً زناکوي، شراب څښي، دچا حق خوري، دچاړه مات کړي الله تعالی هغه ته دنیکو هدایت وکړي اوهغه ددې ګناهونو نه توبه وکړي او اینده له پاره پرهیز وکړي ایا دهغه ګناهونه به معاف شي؟
زه په ماشوم والي کې تقریبا دپنځلس کلنو عمر پورې نیا سره وم اود نیا د وفات مې اووه (۷) کاله وشو، اوس زه د دوه ویشت (۲۲) کالو یم زه غواړم چې الله تعالی مامعاف کړي.

**جواب:** ریښتیني توبې سره ټول ګناهونه معاف کیږي[۴] ، خو حقونه یې په ذمه پاتې کیږي، نوکه چیرې دچامالي حق په ذمه وي، نوهغه دې ادا کړي یادې دحق خاوند باندې معاف کړي اوکه چیرې مالي حق نه وي (لکه څوک وهل، کنځل کول،غیبت کول، اوداسې نور....)

---

۱] واما العاصی....فما کان من ذلک بینه وبین الله تعالی من حیث لا یتعلق بمظلمة العباد....فالتوبة عنها بالندم والتحسر علیها). احیاء علوم الدین ج:٤ ص:٣٥،الرکن الثالث:فی تمام التوبة،طبع دار المعرفة بیروت)
۲]عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال:اجتنبوا السبع الموبقات.قیل یارسول الله!وما هن؟ قال:الشرک بالله،والسحر،وقتل النفس التی حرم الله الا بالحق..الخ) ابو داؤد،کتاب الوصایا ج:٢ ص:٤١)
۳] وان کانت عما یتعلق بالعباد فان کانت من مظالم الاموال فیتوقف صحة التوبة منها مع ما قدمناه فی حقوق الله علی الخروج عن عهدة الاموال وارضاء الخصم فی الحال والاستقبال). شرح فقه اکبر ص:١٩٤)۔
٤]ولیس شیئ یکون سببا لغفران جمیع الذنوب الا التوبة قال تعالی: قل یٰعبادی الذین اسرفوا علی انفسهم لا تقنطوا من رحمة الله، ان الله یغفر الذنوب جمیعاً، انه هوالغفور الرحیم،، (الزمر: ٥٣).هذا لمن تاب. (شرح عقیدةالطحاویة ص:٣٦٨،المکتبة السلفیة،لاهور)۔

نو دهغه په ژوندکې دې دهغه نه معافي وغواړي او دهغه دمرګ نه وروسته دې هغه له پاره دعا او اوستغفار غواړي ان شاء الله معاف به شي.[۱]

## حقوق الله او حقوق العباد

**سوال:** حضرت مولاناصاحب! دالله تعالى رسول ﷺ فرمايلي دي چې: دجهالت علاج پوښتنه کول دي ،درسالت په زمانه کې يوسړى ناروغ واوهغه ته دغسل ضرورت پيښ شو، خلکو په هغه باندې غسل وکړ اوهغه غريب له يخني نه مړشو، کله چې حضور ﷺ ته دا خبر ورسيد، نو حضور ﷺ ډېرزيات خفه شو او ويې فرمايل: هغه يې مړکړ، الله تعالى دې هغوى مړه کړي، ايا د جهالت علاج پوښتنه کول نه و؟

حضرت ام سليم رضي الله عنها دالله تعالى رسول ﷺ ته عرض وکړ، الله تعالى په حق خبره باندې نه شرميږي، ايا ښځې باندې هم غسل شته.(داحتلام په حالت کې)؟

حضرت عائشې رضي الله عنها به فرمايل: په انصاري ښځوباندې دې دالله تعالى رحمت وي، شرم هغوى دخپل دين دزده کولونه نه منع کوي.

دحضرت اصمعي نه پوښتنه وشوه، تاسوداټول علمونه څنګه حاصل کړي دي؟ نوويې فرمايل، مسلسل پوښتنه کولو له وجې باندې اوهريولفظ يادولوپه وجه باندې.

حضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله به فرمايل، ماته ډېرڅه دعلم په وجه باندې حاصل شو، خو د کومو خبروباره کې چې دپوښتنه کولونه زه شرميدم، دهغې خبرونه زه په بوډاوالي کې هم جاهل يم.

دابراهيم بن مهدي رحمه الله قول دى، دبې وقوفانوپه شان پوښتنه کوئ، اودعقلمندوپه شان يې يادوئ. مشهورقول دى،څوک چې پوښتنه کولوکې شرم محسوسوي دهغه علم هم سپک وي.(العلم والعلماء علامه ابن البراندلسي).

ددې تمهيد نه پس زه يوڅوپوښتنې کول غواړم.

**اذاجاء حق الله ذهب حق العبد؟** اوبل قول بالکل ددې مخالف دى **حق العبد مقدم على حق الله.** کوم يوقول مستنددى؟ اوايادا احاديث دى؟

**جواب:** دا احاديث نه، بلکې دبزرګانوقولونه دي اودواړه په خپل خپل ځاى باندې صحيح دي، د اول قول مطلب دادى چې کله دالله تعالى دحق اداکولووخت راشي، نودمخلوق حق ختم شي اودا داسې دى څنګه چې حضرت عائشې رضي الله عنها به فرمايل چې حضور ﷺ به مونږ سره

---

۱] وان كانت عما يتعلق بالعباد فان كانت من مظالم الاموال فيتوقف صحة التوبة منها ما قدمناه فى حقوق الله على الخروج عن عهدة الاموال وارضاء الخصم فى الحال والاستقبال...الخ. (شرح فقه اكبر ص:۱۹٤)۔

مشغول شو او کله به چې د لمونځ وخت راغی، نو **فکانه لم یعرفنا**[۱]
داسې به روان شو لکه چې موږ بالکل نه پیژني.
ددويم قول مطلب دادی چې حقوق الله او حقوق العباد جمع شي، نو د حقوق العباد اداکول ضروري دي.[۲]

## د خپلې ګناه د سزا په ځای معافي غواړئ !

**سوال:** د خپلو ګناهونو د زیاتوالي له وجې چې کله هم ماته ژړا راشي، نو بې اختیاره دعا کوم چې خدایه ماته ددې سزا راکړې ماته ددې سزا راکړې، ایا زما له پاره داسې دعاکول پکار دي او که داسې کول غلط دي؟

**جواب:** داسې دعا هیڅکله نه دي کول پکار[۳] بلکې دادعا پکارده که هرڅومره زه ګنهګار یم الله تعالی مامعاف کړې، ځکه چې د الله تعالی رحمت دومره پراخه دی چې دهغه د رحمت یوڅاڅکی هم د ټولې دنیا د ګناهونو د وینځلو له پاره کافي دی[۴] او بیا د الله تعالی نه دا دعا کول چې ماته د ګناهونو سزا راکړې، ددې معنا دا ده چې موږ د الله تعالی سزا برداشت کولی شو، توبه توبه موږ خو دومره کمزوري یو چې معمولي تکلیف هم نه شو برداشت کولی، ځکه د الله نه همیشه عافیت غوښتل پکار دي.

---

۱]عن عائشة رضی الله عنها قالت:کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یحدثنا ونحدثه،فاذا حضرت الصلاة فکانه لم یعرفنا ولم نعرفه،اشتغالا بعظمة الله عزوجل.(احیاء علوم الدین ج:۱ ص:۱۵۰،فضیلة الخشوع،طبع دار المعرفة بیروت)

۲] قوله لتقدم حق العبد ای علی حق الشرع،لا تهاونا بحق الشرع،بل لحاجة العبد،وعدم حاجة الشرع،الاتری انه اذا اجتمعت الحدود،وفیها حق العبد،یبدا بحق العبد لما قلنا،ولانه مامن شئ الا ولله تعالی فیه حق،فلو قدم الشرع عند الاجتماع بطل حقوق العباد،کذا فی شرح الجامع الصغیر.(شامی ج:۲ ص ۴۶۲،۴۶۳، کتاب الحج)۔

۳]عن انس ان رسول الله صلی الله علیه وسلم عاد رجلا من المسلمین قد خفت فصار مثل فرخ فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم:هل کنت تدعو الله بشئ او تساله ایاه؟قال:نعم!کنت اقول:اللهم ماکنت معاقبی به فی الآخرة فعجله لی فی الدنیا، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم سبحان الله لاتطیقه ولا تستطیعه افلاقلت اللهم آتنا فی الدنیا حسنة وفی الآخرة حسنة وقناعذاب النار؟قال:فدعاالله به،فشفاه الله. (مشکوة ج:۱ ص:۲۲۰) قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لا ینبغی للمؤمن ان یتعرض من البلاء لما لا یطیق. مشکوة ص:۲۲۰ عن جابر قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لا تدعوا علی انفسکم ولا تدعوا علی اولادکم ولا تدعوا علی اموالکم...الخ) مشکوة ص:۱۹۴،کتاب الدعوات)۔

۴]قال الله تعالی:یاابن آدم!انک ما دعوتنی ورجوتنی غفرت لک علی ماکان فیک ولا ابالی،یاابن آدم!لو بلغت ذنوبک عنان السماء ثم استغفرتنی غفرت لک....الخ) جامع العلوم والحکم ص:۲۴۱،ایضا مشکوة ص:۲۰۴)۔

## بیا بیا توبه او د ګناه کونکي ښښنه

**سوال:** تاسو نه دپوښتنه کول غواړم چې په دنیاکې ډیر داسې مسلمانان هم شته، چې پنځه وخته لمونځ کوي اودې سره سره داسې صغیره اوکبیره ګناهونه هم کوي کوم چې اسلام منع کړي دي اوبیاداخلک ګناه وکړي اوتوبه وباسي اوبیا په دویم ځل هم هغه کار کوي، دکوم نه یې چې توبه کړې وه اوداسلسله هم دغسې روانه وي، زه تاسو نه داپوښتنه کوم چې دداسې خلکو چې په هغوی کې زه هم شامل یم دقیامت په ورځ به یې حشر څنګه وي؟

**جواب:** ګناه خو هیڅکله کول نه دي پکار، دا اراده کول پکار دي چې ګناه به نه کوم، خو که چېرې وشي، نوتوبه ضرور کول پکار دي، خدای مکړه که چېرې د ورځې اویاځله ګناه وشي، نو توبه ضرور کول پکار ده[1] تردې چې دسړي خاتمه په توبه باندې وشي داسې سړی به ښښل کیږي.

## له توبې پرته د ګنهګار مسلمان دله مرګه وروسته خلاصیدل

**سوال:** که چېرې یوسړی ډیر ګنهګار وي او له توبې پرته مړشي، نو د داسې سړي ته د نجات څه لاره شته؟ هرکله چې دهغه اولاد هم نه وي.

**جواب:** مومن له پاره له توبې پرته مړه کیدل نه دي پکار، بلکې د شپې دګناهونونه،دورځې راختو نه مخکې او دورځې له ګناهونو نه دشپې راتلو نه مخکې توبه کول پکار دي[2]کوم مسلمانان چې دتوبې کولو نه پرته مړه شي دهغوی معامله دالله تعالی په اختیار کې ده، که خوښه یې شي پخپل فضل سره به یې له سزاپرته معاف کړي یابه یې له سزا نه وروسته ازاد کړي.

## له زړه نه دکلیمې ویونکي انسان ته
## په اعمالوکې کوتاهي کولوباندې سزا

**سوال:** ایا کوم مسلمان چې په له زړه نه کلیمه طیبه ویلې وي ،په رسالت وغیره باندې یې ایمان وي، خو په ژوندکې یې قصدا څه لمونځونه او داسلام فرائض پریښې وي، نوداسې

---

۱]عن الاغر المزنی قال:قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم:یا ایهاالناس!توبوا الی الله،فانی اتوب الیه فی الیوم مائة مرة.(رواه مسلم. مشکوة ص:۲۰۳) وعن علی قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ان الله یحب العبد المؤمن المفتن التواب. (مشکوة،باب الاستغفار والتوبة ص:۲۰۶)۔

۲]عن ابی موسی عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:ان الله یبسط یده باللیل لیتوب مسیء النهار،ویبسط یده بالنهار لیتوب مسیء اللیل حتی تطلع الشمس من مغربها.(رواه مسلم، مشکوة ص:۲۰۳).عن ابی هریرة قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لن ینجی احدا منکم عمله،قالوا:ولا انت یارسول الله؟قال:ولا انا!الا ان یتغمدنی الله منه برحمته،فسددوا وقاربوا...الخ. (مشکوة ص:۲۰۷،باب الاستغفار والتوبة)۔

مسلمان خپله سزا موندلو نه وروسته جنت ته تللی شي ،یابه همیشه د دوزخ خشاك جوړیږي؟

**جواب:** لمونځ پریښودل او د اسلام نور احکام پریښودل سخته گناه او نافرماني ده، په احادیثوکې دلمونځ پرېښودلو والا له پاره سخت وعیدونه راغلي دي اوپه دې احکامو باندې دعمل نه کولو له وجې نه انسان فاسق کیږي اوپه اخرت کې په عذاب کې دمبتلاکېدو ویره ده، خو ددې باوجود که چېرې دداسې بدعمله سړي عقیده صحیح وي په توحید او رسالت باندې قایم وي، ددین ضروریات مني هغه به اخرجنت ته ځي، له سزانه مخکې یا د سزا خوړلو نه وروسته[۱]، خو که چېرې دچا عقیده خرابه وي په کفر اوشرك کې مبتلاوي، ددین دضروریاتو نه له تاویل پرته ښکاره انکار وکړي، نوداسې سړي ته به هیڅ کله خلاصی نه وي، هغه به همیشه له پاره دجهنم په اورکې وي هیڅ کله به هغه ته دعذاب نه خلاصی نه ورکول کیږي.[۲]

## ایاله سزا پرته د مجرم توبه قبلېدای شي

**سوال:** ایا له سزا پرته اسلام کې توبه قبلیږي؟ مثلا: که چېرې دنبي کریم ﷺ حیات طیبه ته وگورئ، نو د ډیرو واقعاتونه پته لگیږي چې رسول الله ﷺ اول مجرم ته دسزا حکم ورکړ بیابې دهغه دمغفرت دعا وکړه.

**جواب:** که چېرې دمجرم معامله عدالت ته نه وي رسیدلې اوهغه په ریښتوني زړه د الله په مخکې توبه وکړي، نوالله تعالی دهغه دتوبې قبلولو والا دی، خو عدالت کې دشکایت کېدو نه وروسته به سزا ضروري وي، په دې شرط چې جرم ثابت شي په دې صورت کې توبې سره سزا نه معاف کیږي[۳] دې وجې نه چې چېرې د چانه دسزا قابل گناه وشي، نو تر اوسه دهغه شکایت دی حاکم ته نه رسوي په هغه باندې پرده اچول پکار دي او دهغه توبه قبلول پکار دي.[۴]

---

۱]ولا نقول ان المؤمن المذنب مخلد فيها وان كان فاسقا اى بارتكاب الكبائر جميعها بعد ان يخرج من الدنيا مؤمنا(شرح فقه اكبر ص:۹۲)۔

۲] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:ان الله تعالى ليغفر لعبده مالم يقع الحجاب.قالوا:يارسول الله!وما الحجاب؟قال:ان تموت النفس وهى مشركة (مشكوة،باب الاستغفار والتوبة ج:۱ ص:۲۰۶).ايضا فمنكر الضروريات الدينية كالاركان الاربعة التى بنى الاسلام عليها:الصلوة،والزكوة،والصوم،وحجية القرآن ونحوهما كافر آثم (فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت ص:۶۱۱طبع لكنهؤ)۔

۳]لاتسقط الحد الثابت عندالحاكم بعد الرفع اليه اما قبله فيسقط الخ بالتوبة(شامى ج:۴ص:۴،باب الجنايات)

۴] والشهادة فى الحدود يخير فيها الشاهد بين الستر والاظهار.....والستر افضل لقوله عليه السلام:للذى شهد عنده لو سترته بثوبك لكان خيرا لك...الخ. (الهداية،كتاب الشهادة ج:۳ ص:۱۵۳)۔

# د لمونځ او روژې پابنده خو د خاوند او د ابچیو سره د جګړې کونکې ښځې انجام

**سوال:** یوه ښځه چې ډیره دلمانځه روژې پابنده ده، په هیڅ حالت کې هم لمونځ روژه نه پریږدي تردې چې دناروغۍ په حالت کې هم روژه نیسي او سهاراو ماښام دقران شریف تلاوت هم کوي دهغې اووه(۷) بچي دي چې ټول اعلی تعلیم حاصلوي، خو هغه ښځه ډیره غوسه ناکه ده او ضدي هم ده، ځینې وخت بچو او د خاوند سره په جنګ شي تردې چې دغوسې له وجې هغه دخلکو سره یوه دوه میاشتې پورې خبرې نه کوي، تردې چې خاونداوبچوته ښېرې کوي، خو خپل لمونځ هم هغه شان کوي، غوسه یې دومره زیاته ده چې دخاوند او دبچو په هره صحیح خبره باندې هم غوسه کیږي، دهغې دمرضي خلاف که څه خبره وشي، نو قیامت جوړکړي، حالانکې دمسلمان له پاره درې ورځونه زیات غوسه ساتل حرام دي، نو ایا یوه نیمه دوه میاشتې غوسه ساتلو سره لمونځ روژه، بل کوم عبادت قبلیږي اوکه نه؟ او په داسې حالت کې لمونځ روژه قبلیږي اوکه نه؟ حالانکې چې تاسو یوه مسئله کې فرمایئ چې له عذر پرته جومات اوجمعه پریښودل ګناه کبیره ده، دلته خوغوسه حرام ده اوددې حرامو سره دلمونځ روژې اودبل کوم عبادت څه حیثیت کېدالی شي؟

**جواب:** لمونځ روژه خود دې بي بي کیږي اوکول هم پکار دي، خو دومره زیاته غوسه ددې نیکي بربادوي، په حدیث کې دي چې دنبي کریم ﷺ ته عرض وکړل شو چې یوه ښځه لمونځ روژې ډیرې کوي، خو ګاونډیان دهغې نه په تکلیف کې دي، ویې فرمایل :"هغه به دوزخ کې وي عرض وکړل شو چې یوه ښځه د فرائضونه پرته نفلي لمونځ خوزیات نه کوي، خو ګاونډیان دهغې نه ډیرخوشاله وي، ویې فرمایل: "هغه په جنت کې ده".[۱]

خصوصا دیوې ښځې خپل خاوند او دخپلو بچو سره بداخلاقي، خودسلوعیبونو یوعیب دی، د داسې ښځې په اخرت کې چې کوم انجام وي هغه خوبه وي دهغې دنیاهم دهغې له پاره دجهنم نه کمه نه ده اوکه چېرې دهغې خاوند اوبچي هم (کوم چې بالغ وي) دلمونځ روژې پابندنه وي، نو چې کوم انجام ددې ښځې وي هغه به ددوی هم وي.

---

۱] عن ابی هریرة قال:قال رجل:یارسول الله!ان فلانة تذکر من کثرة صلاتها وصیامها وصدقتها غیر انها تؤذی جیر انها بلسانها،قال:هی فی النار!قال:یارسول الله!فان فلانة تذکر قلة صیامها وصدقتها وصلاتها وانها تصدق بالاثوار من الاقط،ولا تؤذی بلسانها جیرانها؟قال:هی فی الجنة!رواه احمد والبیهقی فی شعب الایمان (مشکوة ص:۴۲۴)

## د فرعون د ډوبېدو په وخت کې توبه قبوله نه ده

**سوال:** يو سړی وايي چې کله فرعون سره د خپل لښکر نه په درياب نيل کې ډوب شول، نو د ډوبېدو په وخت هغه وويل اې موسى! ماستارب ومانه، ستارب رښتيني او د ټولو نه لوی دی بياهم موسىٰ عليه السلام د دعا په ذريعه هغه ولې بچ نه کړ، اوس هغه سړی وايي چې د قيامت په ورځ به د موسىٰ عليه السلام نه پوښتنه کيږي چې کله فرعون توبه وکړه او زه يې رب ومنلم، نو اې موسى! تا د هغه بچ کولو له پاره د هغه په حق کې دعا ولې ونکړه، هغه پخپله خبره باندې کلک دی چې دا سوال به ضرور د موسىٰ عليه السلام نه د حشر په ورځ کيږي، د هغه سړي بيان مې نوټ کړ او تاسو ته مې در ورساو، اوس تاسو خپل جواب ضرور راکړئ چې ايا دا سړی به ګنهګاروي؟ هغه صحيح وايي يا غلط؟

**جواب:** د فرعون د ډوبېدو په وخت ايمان راوړل معتبر نه و، ځکه چې د زنکدن په وخت نه توبه قبليږي نه ايمان[1]، د دې سړي په موسىٰ عليه السلام باندې اعتراض کول بالکل غلط او عبث دي، ده ته د دې خيال نه توبه کول پکار دي، هغه يوازې ګنهګار نه دی، بلکې په يو جليل القدر نبي باندې اعتراض د کفر په زمره کې راځي.

## ګنهګار نورله ګناه نه منع کولی شي

**سوال:** زه يو ګنهګار سړی يم ډېر ګناهونه مې کړي دي او کوم يې، خو زما فطرت داد ی چې زه کومه ګناه کوم که چېرې هماغه ګناه بل څوک کوي او زه يې ووينم، نو هغه د خدای نه يې ويروم، چې تا ته داسې ګناه کول پکار نه دي، حالانکې زه پخپله په هغه ګناه کې مبتلايم يوځل په يو کتاب کې ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا وينا ولیده يو سړی به د قيامت په ورځ راوستل شي او په اور کې به واچول شي، نو د هغه کلمې به اور سره راوځي بل جهنمي به د هغه نه پوښتنه وکړي اې فلانيه! تاخو به موږ ته د نيکۍ حکم کولو بيا په دې بيا په دې عذاب کې؟ هغه به ووايي هو! ماخو به تاسو ته د نيکي حکم کولو، خو پخپله به هغه ته نژدې هم نه ورتلم او د ګناهونو نه مې تاسو منع کولئ او پخپله به مې ګناهونه کول".

پورته ذکر شوې وينا لوستلو نه وروسته ما خلکو ته هدايت کول بند کړي دي اوس چې کله څوک په ګناه کې مبتلا ووينم، نو هغه هم نه منع کوم، ځکه چې زه پخپله ګنهګار يم، که چېرې زه هغه منع کړم، نو د قيامت په ورځ به زما هم هغه حشروي.

تاسو وضاحت وکړئ چې زه څه وکړم د ګناه نه مې څوځله توبه کړې ده، خو بيا زما نه هغه ګناه وشي ، د درجنو قسمونو کفاره زما په سرپاتې ده د هرې ګناه له پاره قسم

---

[1] فهذا كلام الحنفية والمالكية والشافعية من المعتزلة والسنية والاشاعرة:ان توبة الياس لا تقبل كايمان الياس...الخ). شامي ج:۲ ص:۱۹۰،مطلب فى قبول توبة الياس،باب صلاة الجنازة۔

خورم، خو هغه ګناه په څه نه څه صورت کې زمانه وشي عرض دا چې زړه مې بالکل تور شوی دی او د شیطان په لاره روان یم الله پاك دې زما په حالت رحم وکړئ اوتاسوهم دعاوکړئ اوڅه هدایت اونصیحت راته وکړئ.

**جواب:** ګنهګار که چېرې نورخلک د ګناه نه منع کړي، نوداهم دنیکۍ کار دی نورخلک دګناه نه دمنع کولو کارپرېښودل نه دی پکار[1]، خو پخپله د ګناه پرېښودلو همت ضرور کول پکار دي، دې له پاره تاسو زما سره ذاتي خط وکتابت کوئ که دالله توفیق شامل حال شو، نو ان شاء الله تاسوته به د رېښتینې توبې توفیق نصیب شي، ګناهونو نه پرېشانه کیدل نه دي پکار،خو دهغه دمخ نیوي اهتمام کول پکار دي.

## ایا په توبې باندې قصدا قتل معاف کیږي

**سوال:** **من قتل مؤمنامتعمدا**، دې ایت کې دقصدا قتل سزاتول عمردوزخ کې اوسیدل بیان شوي دي اوسورت فرقان کې **والذین لایقتلون النفس.... الامن تاب**. دلته دتوبې په وجه باندې دمعافي وعده ده، ایااول ایت ددې ایت له وجې منسوخ دی؟

**جواب:** اول ایت دایماندارو باره کې دی اودارکوع دې ځای نه شروع کیږي: **وماکان لمومن ان یقتل**، اودسورت فرقان ایت **ومن تاب**... دکافرانوباره کې دی، یعنې کوموخلکوچې دکفرپه حالت کې کوم جرمونه کړي دي اوبیادکفراوشرک نه یې توبه وکړه، دهغوی دکفر دحالت په جرمونو باندې دهغه مواخذه نه کیږي.

## الله تعالی خپلو بندګانوته سزا ولې ورکوي کله چې د مور او پلار نه هم زیات مهربان دی

**سوال:** چې کله هم دجزا اوسزا خیال راشي زه سوچ کوم چې مور خو دالله تعالی بندګان یو او الله تعالی دخپلو بندګانو سره دومره محبت کوي چې مور پلار داولاد سره کوم محبت کوي دهغه نه ډېر زیات، که چېرې دا ومنل شي، نومور په دنیاکې وینو چې مور و پلار د اولاد په معمولي پرېشاني اوتکلیف باندې بیقراره شي، اولادکه هرڅومره نافرمانه او سرکشه شي مور و پلار دهغوی له پاره دعا کوي تکلیف اولاد ته وي درد مور محسوسوي، مور و پلار اولاد هیڅکله په تکلیف کې لیدل نه غواړي، تاسوبه دا واقعه ضرور لوستلې وي یو سړي دخپلې محبوبې په وینا خپله مور ووژله اودهغې زړه یې وړلو په لاره کې یې تیندك ووهلو د مور زړه وویل زویه! زخمي شوی خوبه نه یې؟ داواقعه د اولاد دمحبت پوره ترجماني کوي.

---

[1] کنتم خیرامّة اخرجت للنّاس تامرون بالمعروف وتنهون عن المنکر وتؤمنون بالله، (آل عمران: ۱۱۰)۔

اوس موږ وینو الله تعالی دنیا جوړه کړه چې په هغه کې یې مالدار، غریب، ښایسته، بدرنګ، ګوډ، شل، معذوره هرډول خلک پیدا کړل، خلکوته یې خوشالي اوغمونه هم ورکړل، څو احکامات یې هم ورکړل، ځینې یې کافران پیدا کړل ځینې یې مسلمانان، دمرګ نه وروسته یې عذاب او ثواب وساتل، جزاء یې چې څومره ښایسته ده سزایې همدومره خطرناکه ده، چې دسړي غونې ځیګ شي، همیشه تکلیف ورکونکي سزاګانې چې دهغې تلافي هم هغه وخت به ناممکن وي، زنکدن، قبر او حشر، لنډه دا چې هرځای د عذاب او ثواب چکر، ماته خو دا دنیا هم عذاب ښکاري چې کله زه دا سوچ کوم، نوماته داسې ښکاري چې الله تعالی انسانان دلوبو دشیانو په شان پیدا کړي دي، چې هغه سره لوبې کوي او دلوبې دانجام نه پس سزا او جزاء ورکوي.

تاسو په زړه باندې لاس کیږدئ او ووایئ چې هرڅوك دنیا سرایې ګڼلی شي؟ ددنیا مزې پریښودلو سره ژوند څوك تیرولی شي؟ بیا یې چې انسان پیدا کړ او دومره پابندي سره یې دنیا ته راولیږلو، ددې نه پرته یې تکلیفونه راحتونه ورکړل، که چېرې دمور و پلار نه زیات الله پاك محبت کونکی وي، نوهغه دبندګانو ته ولې عذاب ورکوي؟ ایا دالله تعالی زړه نه بیقراره کیږي چې کله هغه بندګانوته عذاب ورکوي؟ عذاب ورکولو سره هغه څنګه خوشاله پاتې کېدای شي؟ څوك چې دکافرانو په کورکې پیداشي هغوی ته به دکوم جرم سزا ورکول کیږي؟ هرسړی خودمذهب علم نه لري چې کله هم زه دعذاب په باره کې سوچ کوم، نو زماپه ذهن کې داټول هرڅه ضرور راځي، الله تعالی له پاره ماپوه کړئ چېرته زما دا سوچ زماله پاره تباه کونکی ثابت نه شي. (یوه بی بی).

**جواب:** ستاسو د سوال جواب دومره تفصیل غواړي چې زه څوورځې په دې باندې تقریر وکړم بیا به هم خبره نیمګړی پاتې شي له دې وجې نه مختصردومره ځان پوه کړه چې بیشکه الله تعالی پخپلو بندګانو باندې دمور و پلار نه زیات رحیم او مهربانه دی، حدیث کې دي چې الله تعالی خپل رحمت سل برخې کړ، یوه برخه یې دنیاته راولیږله، حیوانات اوځناور چې پخپلو بچو باندې کوم رحم کوي هغه ددې رحمت الهي په سلوکې دیوې برخې اثردی اودا برخه هم ختمه شوې نه ده، بلکه الله تعالی به دقیامت په ورځ دا درحمت برخه هم دباقي یوکم سل برخوسره ګډه کړي اوخپلو بندګانو باندې به کامل رحمت وکړي.[1]

---

[1] وعنه (ای ابی هریرة)قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان لله مأة رحمة انزل منها رحمة واحدةبین الجن والانس والبهائم والهوام،فبها یتعاطفون،وبها یتراحمون،وبها تعطف الوحش علی ولدها،واخر الله تسعا وتسعین رحمة ویرحم بها عباده یوم القیامة.متفق علیه.وفی روایة لمسلم عن سلمان نحوه،وفی آخره:قال:فاذا کان یوم القیامة اکملها بهذه الرحمة. (مشکوة،باب الاستغفار ص:۲۰۷)۔

له دې وروسته ستاسو دوه سوالونه دي یو دا چې په دنیا کې دالله پاك دطرفه په بندګانو باندې تکلیفونه او سختي ولې راځي؟ او دویم دا چې اخرت کې به ګنهګارانو ته عذاب ولې ورکول کیږي؟

ترکومه حده چې ددنیا د تکلیفونو او سختو خبره ده داهم دالله تعالی رحمت دی عارفین حضرات دا ښه پیژني، موږ که چیرې پریشانیو او تکلیفونو نه تنګ یو، نو یوازې له دې وجې چې موږ داصل حقیقت نه خبر نه یو، ماشوم که چیرې په لیکلو لوستلو کې کوتاهي کوي، نو مور و پلار هغه ته زورنه ورکوي، هغه کم عقل داګڼي چې مور و پلار ډیرظلم کوي، که چیرې په څه ناروغي کې اخته شي، نومور و پلار په هغه پرهیزکوي، که چیرې خدای مکړه په هغه باندې ننکي راوخیژي، نو مور و پلار ته بد رد ویل شروع کوي، بالکل همدغه شان دالله تعالی چې کومې مهرباني په بنده باندې په دې رنګ کې کیږي په دې باندې ډیرناپوهان نه پوهیږي، بلکې دشکایت خبرې په ژبه باندې راولي خو دکومو خلکوچې دبصیرت نظر صحیح دی، هغوی دا بې انتهاء مهرباني ګڼي څنګه چې حدیث کې دي چې "کله دمصیبتونو والو ته دهغوی د تکلیفونو او مصیبتونو اجرپه قیامت کې ورکول کیږي، نو خلک به ارزو وکړي چې ارمان! دا اجر موږ ته راکړل شوی وای اګرچې په دنیاکې زموږ بدن په قینچیانو سره پریکړل شوی وای". (ترمذي ص۶۳ج۲).[1]

لهذا مومن بنده ته دالله په رحیم اوکریم کیدوباندې نظرساتل پکار دي ددنیا دمصیبتونو اوتکلیفونو نه ویریدل نه دي پکار، بلکې داخیال کول پکار دي چې داترخه دارو زموږ دصحت او شفا له پاره تجویز شوي دي، که چیرې بالفرض ددې تکلیفونواو مصیبتونو بله هیڅ فائده هم نه وي، نه دا زموږ دګناهونو کفاره ګرځي، نه دا زموږ ددرجو دترقي سبب کیږي او نه په دې باندې موږ ته اجر اوثواب راکول شي، بیاهم ددې دا فائده څه کمه وه چې په دې سره زموږ اصل حقیقت ښکاره کیږي، چې موږ بندګان یو، خدایان نه یو، خدای دې نکړي که ددې تکلیفونو اومصیبتونو سلسله نه وي، نودا دنیا به دبندګانو نه زیات دخدایي دعوه کونکوفرعونیانو نه ډکه شوې وای، همدا تکلیفونه او مصیبتونه دي چې د بندګي په لاره باندې موږ قائم ساتي او زموږ دغفلت او مستي له پاره دعبرت کروړه جوړیږي اوبیاالله تعالی خومحبوب حقیقي دی او موږ دهغه سره دمحبت دعوه کونکي یو ایا محبوب حقیقي ته ددې لږ شان امتحان هم اجازه نشته؟ چې هغه سره دمحب صادق اودغلط مدعي په مینځ کې فرق وشي اوبیاپه دې هم نظرساتل پکاردي چې دالله تعالی هیڅ فعل دحکمت نه خالي نه وي اوس چې ناخوښه حالات موږته راپیښیږي ضرور به په دې کې هم څه حکمت وي.

---

[1] عن جابر قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يود اهل العافية يوم القيامة حين يعطى اهل البلاء الثواب،لوان جلودهم كانت قرضت فى الدنيا بالمقاريض.(ترمذى ج:۲ص:۶۳،باب ماجاء فى ذهاب البصر)

اوداهم ښکاره ده چې دي کې دالله تعالی هیڅ فائده نشته، بلکې یوازې اویوازې دبندګانو فائده ده اګرچې دخپل ناقص علم اوپوهې سره موږدافائده محسوس نکړای شوه، غرض داچې په دې مصیبتونو کې دالله تعالی په زرګونو حکمتونه او رحمتونه پټ دي اوچاسره چې کومه معامله کیږي هغه عین رحمت او حکمت دی.

باقي په اخرت کې مجرمانو ته سزا ورکول، نو اول خو ددوی مجرم کېدل د سزا له پاره کافي دي، الله تعالی خوخپلې د رحمت دروازې پرانسې پرېښې وې، ددې له پاره یې انبیاءکرام علیهم السلام رالیږلي وو، خپل کتابونه یې نازل کړي وو او انسان ته یې د ښه اوبد تمیز کولو له پاره عقل او شعور او دارادې او اختیار نعمتونه ورکړي وو[۱].نوکومو خلکو چې دالله تعالی ورکړل شوي نعمتونه دالله تعالی په بغاوت، دنبیانو په مخالفت،دالله دکتابونو په تکذیب او دالله تعالی دمقبول بندګانو په مقابله کې خرچ کړل، هغوی درحمت دروازې پخپلو لاسونو پخپل ځان باندې بندې کړې تاسو په هغوی باندې ولې خفه کیږئ؟.

له دې نه پرته که چېرې دې مجرمانوته سزا ورنکړل شي، نوددې معنا ددې نه پرته نوره څه ده چې دالله تعالی په دربارکې مومن اوکافر، نیك اوبد،حکم منونکی اونه منونکی، تابعدار او ګنهګار په یوه تله کې تلل کیږي، داخوخدایي نه شوه، بې انصافي شوه، عرض دا چې اخرت کې مجرمانو ته سزا له دې وجې هم درحمت سره مناسب شوه چې ددې نه پرته دتابعدارو او فرمانبردارو بندګانو سره انصاف نه شي کیدلی.

دانکته هم ذهن کې ساتل پکار دی چې د اخرت عذاب به کافرانوته په طور دسزا وي.

خو ګنهګارو مسلمانانوته به په طور د سزا نه وي، بلکې دپاکولو له پاره به وي[۲]ځنګه چې دجامو نه خیرې لرې کولو له پاره هغه په پهتئ کې اچول کیږي اوځنګه ه ډاکټران داپریشن کولوله پاره دبدن نشه کولو والا انجکشن لګوي چې ددې نه وروسته ناروغ ته دځیرلو احساس قدرې هم نه وي، ډیره ممکنه ده چې الله تعالی په مسلمانانو باندې داسې کیفیت راولي چې دوی ته د درد اوتکلیف احساس هم نه وي.[۳]

---

۱]وهداية الله تتنوع انواعا لايحصيها....الاول:افاضة القوى التى بها يتمكن المرءمن الاهتداء الى مصالحة كالقوة العقلية والحواس الباطنة.....الثانى:نصب الدلائل الفارقة بين الحق والباطل والصلاح والفساد واليه اشار حيث قال:وهدينه النجدين.....الثالث:الهداية بارسال الرسل وانزال الكتب...الخ. (تفسير البيضاوى ج:۱ص:۹سورة الفاتحة آيت:۵)_

۲]عن ابى سعيد الخدرى ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:يدخل الله اهل الجنة الجنة يدخل من يشاء برحمته ويدخل اهل النار النارثم يقول:انظروامن وجدتم فى قلبه مثقال حبة من خردل من ايمان فاخر جوه،فيخر جون منها حمما قد امتحشوا،فيلقون فى نهر الحياة او الحيافينبتون فيه كما تنبت الحبة الى جانب السيل...الخ. (صحيح مسلم،باب اثبات الشفاعة واخراج الموحدين من النار ج:۱ص:۱۰٤)_

۳] عن ابى سعيد قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اما اهل النار....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

او ډیر ګنهګاران به داسې وي چې د الله تعالی رحمت به د هغوی د ګناهونو او بدکارو دفتر ووینځي او پرته د عذاب نه به هغوی معاف کړل شي، غرض دا چې جنت پاك ځای دی او د پاکو خلکو سره مناسب دي ترڅو پورې چې د ګناهونو د ګند او خیرو نه صفایي ونه شي هلته داخلیدل به اسان نه وي او د صفا کولو به مختلف صورتونه وي، چاله پاره چې کوم صورت د رحمت غوښتنه وي هغه به د هغه له پاره تجویز کړل شي، له دې وجې د اکابرو مشائخو وینا ده چې انسان له پاره همیشه د ظاهري او باطني طهارت اهتمام ساتل پکار دي او د ګناهونو نه په پښیمانتیا سره توبه او استغفار کول پکار دي، الله جل شانه دې محض په خپل لطف او کرم سره د دې ناکاره، ستاسو او د ټولو مسلمانانو سرېو او ښځو ښښنه وکړي.

باقي ستاسو دا خبره چې دنیا څوك سرایې ګڼلی شي او د دنیا مزې پریښودو سره د دنیا ژوند څوك تیرولی شي؟ زماخوږې! دا زموږ خلکو له پاره چې د چاپه سترګو باندې د غفلت تورې پټې تړل شوي دي، واقعي ډیر مشکل دي، خپل مشاهده دروغ ګڼل او د الله تعالی په وعده او د نبي کریم ﷺ په ویناوو باندې د خپلې مشاهدې نه زیات یقین ساتل د خاص توفیق او سعادت په ذریعه اسان کېدای شي، خو کم نه کم دومره خو کیدل پکار دي چې موږ په خپل مینځ کې دیوبل په خبره باندې چې څومره یقینا اعتماد لرو کم نه کم د غومره یقین او اعتماد د الله تعالی او د هغه د محبوب ﷺ په ویناوو باندې ولرو.

ګورئ که چیرې یو معتبر سړی موږ ته دا خبر راکوي چې فلانکي خوراك کې زهر ګډ شوي دي، نو موږ د هغه سړي په خبره باندې اعتماد کوو او د زهرو والا خوراك ته په هیره هم نژدې نه ورځو او د لوږې مرګ ته په زهر خوړلو پریښودلو ترجیح ورکوو .الله او د هغه رسول ﷺ موږ ته د دنیا بالکل پریښودو تعلیم نه راکوي، بلکې یوازې د دوو شیانو تعلیم راکوي: یو دا چې په دنیا کې او سیدو سره کسب حلال کوئ، کوم کوم شیان چې الله تعالی حرام او ناجائز ګرځولي دي د هغو نه پرهیز وکړئ[1] ځکه چې دا زهر دي چې ستاسو دنیا او اخرت به برباد کړي او که چیرې په غفلت سره مو دا زهر خوړلي وي، نو فورا د توبې او

---

...بقیه د تیر مخ]... الذین هم اهلها فانهم لایموتون فیها ولا یحیون،ولکن ناس منکم اصابتهم النار بذنوبهم اوقال بخطایاهم فاماتهم الله تعالی اماتة حتی اذا کانوا فحما اذن بالشفاعة...الخ.وفی شرحه:فمعناه ان المذنبین من المؤمنین یمیتهم الله تعالی اماتة بعد ان یعذبوا المدة التی ارادها الله تعالی وهذه الاماتةاماتة حقیقیةیذهب معها الاحساس ویکون عذابهم علی قدر ذنوبهم ثم یمیتهم ثم یکونون محبوسین فی النار من غیر احساس المدة التی قدرها الله تعالی ثم یخرجون من النار...الخ. (صحیح مسلم مع شرحه للنوی ج:۱ص:۱۰٤)۔

۱]عن عبدالله قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: طلب کسب الحلال فریضة بعد الفریضة. (مشکوة ص:۲٤۲)عن ابی هریرة قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله طیب لایقبل الا طیبا،وان الله امر المؤمنین بما امر به المرسلین فقال: یٰایها الرسل کلوا من الطیبٰت واعملوا صٰلحاً، وقال تعالی: یٰایها الذین امنوا کلوا من طیبٰت ما رزقنٰکم....الخ. (مشکوة ص:۲۴۱، باب الکسب وطلب الحلال، الفصل الاول)۔

ندامت او استغفار په ترياق (دوايي) سره ددې علاج وکړئ.[1]

او دويم تعليم دا دی چې په دنياکې دومره مه مشغوليږئ چې د اخرت او دمرګ نه وروسته تياری نه غافله شئ، ددنيا له پاره ضرورت محنت وکړئ، خو يوازې دومره څومره چې په دنياکې اوسيدل دي او اخرت له پاره ضرورت له پاره دومره محنت وکړئ څومره چې په اخرت کې ستاسو اوسيدل دي[2]

ددنيا مثال دشيريني دی چې هغه خوړه او خوندناکه ګڼلو سره مچ په هغه باندې کيني، خو بيا دهغه نه پاسيدلی نه شي، تاسو ته ددنيا دشيريني مچ جوړيدل پکار نه دي.

او ستاسو داخبره چې کوم خلک د کافرانو په کورونو کې پيدا شول هغوی ته به دکوم جرم سزا ورکول کيږي؟ددې جواب مې مخکې عرض کړی دی چې څنګه الله تعالی د تور او سپين تميز کولو له پاره عقل، فهم او د شعور دولت درکړی دی، بيا دصحيح او غلط په مينځ کې تميز کولو له پاره انبياءکرام عليهم السلام راليږلي دي کتابونه يې نازل کړي دي، شريعت يې ورکړی دی دا ټول هرڅه دې له پاره دي چې په بندګانو باندې د الله تعالی حجت پوره شي او سباته دا عذر ونکړی چې موږ د کافرپلار نيکه په کورکې پيدا شوي وو او موږ سترګې بندې کړې او دهغه ګمراهانو په نقش قدم باندې روان وو.[3]

ددې مختصر شان تقرير نه وروسته به زه تاته مشوره درکړم چې دبنده کار بندګي کول دي خدايي کول يا الله تعالی ته مشورې ورکول نه دي، تاسو په هغه کار کې ولګيږئ کوم چې موږ ته سپارل شوی دی او په هغه معاملاتو کې سوچونه مه کوئ کوم چې موږ ته سپارل شوي نه دي، که چيرې يو د واښو خرڅونکی دملك په رموزو اوچلولو باندې نه پوهيږي، نو دا د خاورې يو موټې اونا پاکه څاڅکي به دخدايي په رموزو باندې څه پوه شي، نو هغه ديوال سره دسرماتولو څه فائده کوم کې چې موږ سوری نه شو کولی او له هغه پورې غاړه نه شو کتلی، الله تعالی دې موږ ته پوه توفيق رانصيب کړي او دخپل رحمت نازليدلو ځا دې موږ وګرځوي.

---

١] وتوبوا الى الله جميعاً ايها المؤمنون لعلكم تفلحون، (النور: ٣١) يٰايها الذين امنوا توبوا الى الله توبة نصوحا، عسى ربكم ان يكفر عنكم سيئاتكم، (التحريم: ٨)۔

٢]عن المستورد بن شدادقال:سمعت رسول الله صلي الله عليه وسلم يقول:والله ماالدنيا فى الآخرة الامثل ما يجعل احدكم اصبعه فى اليم فلينظر بم يرجع؟ رواه مسلم.عن جابر ان رسول الله صلى الله عليه وسلم مربجدى اسک ميت قال:ايكم يحب ان هذا له بدرهم؟فقالوا:ما نحب انه لنا بشئ!قال:فوالله!للدنيا اهون على الله من هذا عليكم.رواه مسلم.وعن ابى هريرة قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر.رواه مسلم. (مشكوة ص:٤٣٩)۔

٣] وهداية الله تتنوع انواعا لايحصيها.....الاول:افاضة القوى التى بها يتمكن المرء من الاهتداء الى مصالحة كالقوة العقلية والحواس الباطنة.....الثانى:نصب الدلائل الفارقة بين الحق والباطن والصلاح والفساد واليه اشار حيث قال:وهدينه النجدين....الثالث:الهداية بارسال الرسل وانزال الكتب...الخ. (تفسير البيضاوى ج:١ص:٩سورةالفاتحة آيت:٥)۔

# ❖ له مرګ وروسته څه کېږي ؟❖

..................................

## د مرګ حقيقت

**سوال:** د مرګ اصل حقيقت څه دی؟

**جواب:** د مرګ حقيقت به په مرګ سره معلومېږي، ددې نه مخکې په دې پوهيدل او پوهول مشکل دي، دسې خو په عام معنا کې د روح او دبدن د بيلدو نوم مرګ دی.[۱]

## په ټاکلي وخت د انسان مرګ

**سوال:** د قران او سنت په رڼا کې وښيئ چې د انسان مرګ په وخت باندې راځي يا د وخت نه مخکې هم راتللی شي؟

**جواب:** د هرسړي مرګ په ټاکلي وخت راځي يو ساعت هم مخکې وروسته کېدای نه شي.[۲]

## ايا د مرګ ختميدو له وجې به انسان د الله تعالی په صفت کې داخل نه شي؟

**سوال:** اخرت کې به مرګ ديوګډ په شکل کې راوستل شي او هغه به ذبح کړل شي، ددې نه به دهميشه والي ژوندلازم شي، کوم چې د الله تعالی صفت دی، بيا (**مادامت السموت والارض الاماشاء ربک**) هم فرمايل شوي دي، سره له دې چې ځمکه او اسمان هرڅه به ختم شي، (**يوم نطوی السماء کطی السجل للکتب**)

**جواب:** د جنتيانو دهميشه والي ژوندبه دختميدو ويره کې وي او د الله تعالی دهميشه والي ژوند پرته د ختميدو د ويرې دی او ويره يو داسې عيب دی چې دهغه کېدو نه وروسته د بل عيب يا نقص ضرورت نشته، (**الاماشاء الله ربک**) کې دهمدې ويرې ذکر شوی دی.[۳]

---

۱] الموت: زوال الحياة عمن اتصف بها. (قواعد الفقه ص:۵۱۳).وايضا الموت ليس بعدم محض ولا فناء صرف،وانما هو انقطاع تعلق الروح بالبدن ومفارقته وحيلولة بينهما. (التذكرة للقرطبى ص:٤،طبع دار الكتب العلمية بيروت)_

۲] لكل امة اجل، اذا جآء اجلهم فلا يستاخرون ساعة ولا يستقدمون. (يونس: ۴۹)_

۳]وذكر بعض الافاضل ان فائدته دفع توهم كون الخلود امرا واجبا عليه تعالى لايمكن له سبحانه نقضه كما ذهب اليه المعتزلة حيث اخبر به جل وعلا مؤ كدا. (تفسير روح المعانى ج:۱۲ص:۱٤۵)،فان معناه الحكم بخلودهم فيها الاالمدة التى شاء ربک،فههنا اللفظ يدل على ان هذه المشية قد حصلت جزما. (التفسير الكبير ج:۱۸ص:٦۵)_

## که د مرګ پر مهال کليمه طيبه و نه وايي نو څه کيږي

**سوال:** که چيرې مسلمان د مرګ په وخت کليمه و نه شي ويلی او د کليمې له ويلو پرته وفات شي ايا مسلمان مړ شو يا به د هغه حيثيت څه بل وي؟

**جواب:** که چيرې هغه ټول عمر مسلمان پاتې شوی وي، نو هغه به مسلمان ګڼل کيږي او د مسلمانانو معامله به د هغه سره کيږي.[۱]

## ايا په قبر کې د پيغمبر عليه السلام شبيه ښودل کيږي

**سوال:** زمونږ په فيکټرۍ کې يو صاحب وويل چې کله يو مسلمان مړ شي او د هغه سره سوال جواب کيږي، نو چې کله د نبي کريم ﷺ په باره کې پوښتنه کيږي، نو په قبر کې بذات خود نبي ﷺ تشريف راوړي، نو په دې خبره يو بل صاحب وويل چې نه نبي ﷺ پخپله نه راځي، بلکې د نبي ﷺ شکل مړي ته وړاندې کيږي، نو مولانا صاحب لږ تاسو وضاحت وکړئ چې نبي ﷺ د پوره جسماني وجود سره قبر ته راځي يا د هغه يو قيم تصور د مړي په مخکې پيش کيږي او د هغه نه د نبي ﷺ په باره کې پوښتنه کيږي؟

**جواب:** د نبي کريم ﷺ پخپله تشريف راوړل يا د هغه شکل ښودل کېدل د هيڅ يو روايت نه ثابت نه دي.[۲]

## ايا مړی سلام اوري

**سوال:** اوريدلي مو دي چې کله په مقبره باندې تيريږئ، نو "السلام عليکم يا اهل القبور" وايئ کوم خاموش ښارکې چې تاسو حضرات د غفلت په خوب ويده يئ دې ته به زه هم ان شاء الله راشم او ويده به شم، سوال دادی چې کله مړي اوريدل نه شي کولی، نو سلام څنګه اوري او که چيرې سلام اوري، نو هغوی ته د خپل ځان له پاره د دعا کولو هم ويل کېدای شي؟

**جواب:** د سلام اچولو خو حکم دی، په ځينو رواياتو کې دي چې هغوی جواب هم ورکوي او سلام اچونکی هم پيژني، خو مونږ د هغوی د حال نه واقف نه يو، له دې وجې مونږ له پاره

---

۱] والمقصود ان يموت الرجل وليس فى قلبه الا الله عزوجل لان المدار على القلب وعمل القلب هو الذى ينظر فيه وتكون النجاة به.(التذكرة فى احوال الموتى وامور الآخرة ص:۳۵،طبع دار الكتب العلمية،بيروت)۔

۲] وفى رواية عند احمد والطبرانى:ماتقول فى هذا الرجل؟قال:من؟قال:محمد،فيقول...الخ.قال ابن حجر:ولايلزم من الاشارة ماقيل من رفع الحجب بين الميت وبينه صلى الله عليه وسلم حتى يراه ويسئل عنه لان مثل ذلك لايثبت بالاحتمال على انه مقام امتحان وعدم روية شخصه الكريم اقوى فى الامتحان،قلت:وعلى تقدير صحته يحتمل ان يكون مفيد البعض دون بعض،والاظهر ان يكون مختصا بمن ادركه فى حياته عليه الصلاة والسلام وتشرف بروية طلعته الشريفة.(مرقاة شرح مشكوة ج:۱ص:۱۶۵،باب اثبات عذاب القبر،الفصل الاول)۔

یوازې هماغه شي باندې اکتفاء کول پکار دي، د کوم چې رسول الله ﷺ حکم کړی دی.[1]

## مړی د ښخونکو کشار اوري

**سوال:** ځیني خلک وایي چې کله یو سړی مړشي، نو هغه دفن کړل شي او دفن کونکي خلک چې کله واپس راځي، نو مړی د هغو بېرته تلونکو د پیزار اواز اوري د قبر عذاب حق دی او که نه؟

**جواب:** د قبر عذاب حق دی[2] او د مړي د بېرته تلونکو د پیزار اواز اوریدل د صحیح بخاري په حدیث کې راغلي دي.(ص۱۷۸، ج۱).[3]

## د قبر عذاب حق دی

**سوال:** فرض کړه درې کسان دي د درې واړو عمرونه برابر دي او درې واړه برابر ګناه کوي، خو اول سړي سلګونه کاله مخکې مړشوی دی، دویم به د قیامت نه یوه ورځ مخکې مري او دریم به تر قیامته ژوندی او سیږي، که چېرې د قبر عذاب حق وي او د قیامته پورې به وي، نو له دې وجې نه اول کس به له پیړیو تر قیامته پورې په عذاب کې وي، دویم کس به یوازې یوه ورځ د قبر عذاب اوچتوي او دریم کس به د قبر د عذاب نه بچ پاتې شي، ځکه چې هغه به تر قیامته پورې ژوندی وي، خو د قبر په عذاب کې دا تفریق نه شي کیدلی ځکه چې د درې واړو عمرونه برابر دي او ګناه یې هم برابره ده، تاسو د قران او د حدیث په رڼا کې د دې وضاحت وکړئ.

**جواب:** د قبر عذاب او ثواب برحق دي او په دې باره کې د قران کریم ګڼ ایتونه او متواتر احادیث راغلي دي[4] دا سې اموریوازې د عقلي شبهاتو په ذریعه رد کول صحیح نه دي[5] د هر سړي له پاره د برزخ چې څومره سزا د حکمت الهي مطابق مقرره ده هغه به ده ته ورکول کیږي، که هغه ته وخت کم موجود شوی وي یا زیات، ځکه چې د کومو خلکو وخت کم

---

۱] مامن احد یمر بقبر اخیه المؤمن کان یعرفه فیسلم علیه الا عرفه ورد علیه السلام.(کتاب الروح ص:۱۳،الجامع الصغیر ج:۲ص: ۱۵۱،التذکرة ص:۱٦٥،الحاوی للفتاوی ج:۲ص:۱۷۰واللفظ له)۔

۲]وعذاب القبر....ثابت بالدلائل السمعیة.(شرح عقائد ص:۹۸).وقد تواترت الاخبار عن رسول الله صلی الله علیه وسلم فی ثبوت عذاب القبر ونعیمه لمن کان لذلک اهلا.وسوال الملکین،فیجب اعتقاد ثبوت ذلک والایمان به.(شرح العقیدة الطحاویة ص:٤٥٠،طبع المکتبة السلفیة لاهور)۔

۳] عن انس عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:ان العبد اذا وضع فی قبره وتولی عنه اصحابه انه یسمع قرع نعالهم.(بخاری ج:۱ص:۱۷۸،باب المیت یسمع خفق النعال)۔

٤]قال المروزی:قال ابو عبدالله:عذاب القبر حق لاینکره الاضال اومضل.(کتاب الروح الابن القیم ص:۸۰،المسئلة السادسة،طبع دار الکتب العلمیة،بیروت)۔

٥]فصل:ومما ینبغی ان یعلم ان عذاب القبر هو عذاب البرزخ فکل من مات وهو مستحق للعذاب ناله نصیب منه،قبر او لم یقبر.(ایضا کتاب الروح ص:۸۱)۔

وي، کېدای شي چې دهغه په سزاکې دې تناسب سره اضافه وکړل شي، دقبر دعذاب نه په الله تعالى سره پناه غوښتل پکار دي[۱] الله پاك دې هرمسلمان ددې نه محفوظ کړي.

## د قبر حالات حق دي

**سوال:** په شريعت کې دقبر نه څه مراد دي؟ اوريدلي مودي چې قبردجنت دباغونونه يو باغ وي يادجهنم کندونه يوه کنده وي، په هريو قبرکې ځوځومړي وي که چېرې يوله پاره باغ وي، نودبل له پاره به څنګه کنده وي؟

۲: اورو چې فرښتې مړی راپورته کوي اوپه قبرکې يې کينوي، نوايا قبر دومره پراخه او اوچت شي؟

۳: اوريدلي مو دي چې د ساه وتلو سره فرښتې روح اسمان ته وړي بياهغه بېرته څنګه او ولې راځي؟ دقبردسوال اوجواب نه وروسته چېرته وي؟

**جواب:** دقبرنه مرادهغه کنده ده کومه کې چې مړی ښخيږي[۲] اوقبردجنت دباغونونه يوباغ دی يا د دوزخ دکندونه يوه کنده ده، دا دحديث الفاظ دي[۳] په يو يو قبر کې که چېرې ځوځو مړي وي، نو هر يوسړي سره به دهغه د اعمالو مطابق معامله وي[۴] ددې حسنې مثال خوب دی په يوه بستره باندې دوه سړي اوده وي يو په خوب کې د باغونو سيل کوي اوبل په سخته ګرمي کې سوځي، چې کله په خوب کې دا مشاهدې هميشه کيږي، نود قبر عذاب او ثواب خو دعالم غيب شی دی په دې کې دې ولې اشکال وشي؟[۵]

۲: هو! قبردمړي په حق کې دومره پراخيږي هسې که تاسو قبر ليدلی وي، نوتاسو ته به معلومه وي چې قبر دومره جوړيږي چې په هغه کې سړی کيناستلی شي.

۳: په حديث کې دي چې روح په مړي کې واپس کيږي[۶] اوس روح ، خوکه په عليين کې وي

---

۱] عن عائشه رضى الله عنها....قالت عائشه رضى الله عنها:فما رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم:بعد صلى صلاة الاتعوذبالله من عذاب القبر.متفق عليه.(مشكوة ص:۲۵،باب اثبات عذاب القبر،الفصل الاول)۔

۲] لكه چه په قرآن كى راغلى دى وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ(التوبه: ۸۴)، اِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُوْرِ (العاديات: ۱۱)۔

۳] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: انما القبر روضة من رياض الجنة او حفرة من حفرالنار.(ترمذى ج:۲ ص:۶۹، ابواب صفة القيامة،طبع مكتبة رشيديه،ساهيوال)۔

۴] بل اعجب من هذا ان الرجلين يدفنان،احدهما الى جنب الآخر وهذا فى حفرة من حفر النار لايصل حرها الى جاره،وذلک فى روضة من رياض الجنة لايصل روحها ونعيمها الى جاره.(كتاب الروح ص:۹۲)۔

۵] واعجب من ذلک انک تجد النائمين فى فراش واحد،وهذا روحه فى النعيم،ويستيقظ واثر النعيم على بدنه،وهذاروحه فى العذاب ويستيقظ واثر العذاب على بدنه،وليس عند احدهما خبر بما عند الآخر،فامر البرزخ اعجب من ذلک.(كتاب الروح ص:۹۰،المسئلة السابعة)۔

۶] عن البراء بن عازب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال...واما الكافر فذكر موته قال:ويعاد روحه فى جسده...الخ.(مشكوة ص:۲۵).تفصيل دپاره اوګورئ:كتاب الروح لابن قيم ص:۵۸تا۸۶المسئلة السادسة)

یاسجین کې وي دده یو خاص تعلق دبدن سره قائمیږي چې د هغه له وجې بدن ته دثواب یاعذاب احساس کیږي[۱]، خو دامعامله دعالم غیب ده، له دې وجې مونږ ته دمړي د احساس عام طورباندې شعور نه وي. دعالم غیب چې کومې خبرې مونږ ته نبي کریم ﷺ فرمایلي دي مونږ ته په هغو باندې ایمان راوړل پکار دي. دصحیح مسلم (ج۲ ص۳۸۶) حدیث دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: که چیرې دا ویره نه وای چې تاسو به دمړو خښول پریږدئ، نوما به الله تعالی نه دعا غوښتې وه چې تاسو ته هم دقبرعذاب واوروي کوم چې زه اورم.[۲]

له دې حدیث نه څو خبرې معلومې شوې.

**الف**: د قبر عذاب حق دی.

**ب**: دا عذاب اوریدل کیږي اونبي کریم ﷺ به هغه اوریده، دا دالله جل شانه حکمت او بیحده رحمت دی چې مونږ خلکو ته عام طور سره مشاهده نه کیږي که نه زمونږ ژوند به دتکلیف وي اوغیب به غیب نه وي پاتې شوی مشاهده کې به بدل شوي وي.

**ج**: دا عذاب په همدې کنده کې وي کومه کې چې مړی خښیږي ،کومې ته چې په عام عرف کې قبروایي،که نه نبي کریم ﷺ به دا نه فرمایل چې" که چیرې دا ویره نه وای چې تاسو به دمړو خښول پریږدئ، نو ---------" ښکاره ده چې که چیرې عذاب ددې کندې نه پرته په بل "برزخي قبر" کې وي، نو ددفن کولو دپریښودلو به هیڅ معنا نه وي.

## د قبر عذاب او ثواب حق دي

**سوال:** په جنګ اخبار کې دیو سوال په جواب کې تاسودقبر دعذاب او ثواب دقران او احادیثو نه قطعي ثابتیدل فرمایلي دي اودا چې په دې باندې ایمان لرل واجب دي، زه ددې مشکل پوهیدو له پاره دډیروکلونونه کوشش کوم اوڅو عالمانوته مې خطونه ولیږل، خو دتسلي جواب پیدانه شو، قرآن کریم کې څو ځایه دارنګه راغلي دي چې مونږ ژوندي کړي دي بیابه تاسو وژنو او بیابه د قیامت په ورځ پورته کیږئ، یاپه سورت بقره کې د دوو مړګونو او د دوو ژوندونو ذکر دی یعنې تاسو مړه وئ مونږ ژوندي کړئ بیابه تاسو مړه کړو او قیامت په ورځ به موبیاژوندي کړو، لهذا معلومه شوه چې یو خو ددنیا ژوند دی بل

---

۱] واعلم ان اهل الحق اتفقوا على ان الله تعالى يخلق فى الميت نوع حياه فى القبر قدر مايتالم او يتلذذ.(شرح فقه اكبر ص:۱۲۳،طبع دهلى).ايضا:فقد كفانا رسول الله صلى الله عليه وسلم امر هذه المسالة،واغنانا عن اقوال الناس،حيث صرح باعادة الروح اليه فقال البراء بن عازب...الخ.(كتاب الروح ص:۵۸،المسئلة السادسة،طبع دار الكتب العلمية،بيروت)۔

۲] عن زيد بن ثابت......فقال:ان هذه الامة تبتلى فى قبورها،فلولا ان لا تدافنوا لدعوت الله ان يسمعكم من عذاب القبر الذى اسمع منه...الخ.(صحيح مسلم ج:۲ص:۳۸۶،باب عرض مقعد الميت.....واثبات عذاب القبر والتعوذ منه)۔

داخرت چې کله یوازې دا دوه ژوندونه دي، نو دقبر ژوندکوم یو دی؟ زه خوهم په دې پوهیږم چې دحساب په ورځ فیصله وي ددې نه مخکې به دڅه فیصله وي؟

**جواب:** د اهل سنتو په کتابونو کې لیکلي دي چې دقبر عذاب او ثواب حق دي او دا مضمون په متواترو احادیثوکې راغلی دی[۱] ښکاره ده چې د برزخ حالات نبي کریم ﷺ زموږ نه ښه پیژندل ځکه په دې عقیده باندې ایمان راوړل ضروري دي او یوازې دشبهاتو په وجه ددې انکار صحیح نه دی[۲]. باقي ستاسو دا شبه چې په قران کریم کې د دوو مرګونو او د دوو ژوندونو ذکر دی، دا استدلال دعذاب قبر نفې نه کوي ځکه چې د قبر ژوند دمشاهدې نه دی، ځکه دې ته برزخي ژوند ویل کیږي او د قرآن کریم په کومو ایتونو کې چې د دوو ژوندونو ذکردی دهغه نه دمشاهدې ژوندونه مراد دي.

او ستاسو دا ویل خو صحیح دي چې" د حساب په ورځ به فیصله وي " خو ددې نه دا نه لازمیږي چې په دنیا کې یا په برزخ کې دنیکو او بدو اعمالو هیڅ ثمره نه مرتب کیږي د قران او حدیث بې شماره نصوص ګواه دي چې برزخ خو برزخ دی،په دنیا کې هم په نیك او بداعمالو باندې جزا او سزا مرتب کیږي او د برزخي ژوند تعلق د دنیا نه زیات د اخرت سره دی له دې وجې په دې کې د جزا او سزا ثمرات مرتب کیدل بالکل دقیاس مطابق دي.

## د حشر له حساب نه مخکې د قبر عذاب ولې

**سوال:** د حشر په ورځ به انسان ته دهغه دحساب کتاب نه وروسته جزا یاسزاورکول کیږي، بیا د حساب کتاب نه مخکې دقبر عذاب ولې؟ تراوسه خو دده مقدمه پیش شوې هم نه ده او د فیصلې نه مخکې سزا ولې ورکول کیږي ؟ مجرم قیدي شي خود فیصلې نه مخکې هغه ته سزانه ورکول کیږي، بیابه دا عذاب قبر په څه کې حسابیږي، مهرباني وکړئ تفصیل سره جواب راکړئ او د شکریې موقعه راکړئ.

**جواب:** پوره جزا او سزا خو به په اخرت کنبې ورکول کیږي چې کله د هر سړي فیصله به دهغه د اعمالو مطابق کیږي، خو د ځینواعمالو څه جزا سزا په دنیا کې ورکول کیږي، څنګه چې په ډیرو ایتونو او حدیثونو کې دا مضمون راغلی دی او مشاهده او تجربه هم ددې

---

۱]وقد تواترت الاخبار عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فى ثبوت عذاب القبر ونعيمه لمن كان لذالك اهلا.(شرح العقيدة الطحاوية ص: ٤٥٠،طبع مكتبة السلفية،لاهور)۔

۲]وهذا كما انه مقتضى السنة الصحيحة فهو متفق عليه بين اهل السنة،قال المروزى:قال ابو عبدالله:عذاب القبر حق لاينكره الاضال او مضل...الخ.(كتاب الروح ص: ٨٠،المسئلة السادسة،طبع دار الكتب العلمية، بيروت)۔

تصديق کوي، دا رنګه په ځينې اعمالوباندې په قبر کې جزا او سزا وي او دا مضمون هم په متواترو احاديثو کې موجود دى[1] دې سره ستاسودا شبه ختمه شوه چې تر اوسه مقدمه پيش شوې نه ده، نو سزا څنګه ده؟ ددې جواب دادى چې پوره سزا خوبه دمقدمې پيش کيدو او فيصلې کيدو نه وروسته وي، برزخ کې چې کومه سزا وي دهغې مثال داسې دى څنګه چې مجرم په حوالات کې ساتل کيږي، له دې نه پرته دا هم ممکن دي چې ځينوخلکو له پاره دبرزخ سزا دګناهونو کفاره وګرځيږي، څنګه چې دنيوي پريشاني او مصيبتونه د ايمان والاوو له پاره دګناهونو کفاره ده، په هرحال دقبر عذاب او ثواب حق دي، په دې باندې ايمان راوړل واجب دي اوددې نه هرمومن له پاره پناه غوښتل پکار دي، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې نبي کريم ﷺ به دهرلمانځه نه وروسته دقبر د عذاب نه پناه غوښتله.(متفق عليه.مشکوة ۲۵).[2]

## د قبر د عذاب احساس ژونديو خلکوته ولې نه کيږي

**سوال:** زمونږ دمسلمانانو عقيده ده چې ګنهګار بنده ته به دقبر عذاب وي ،پخوا زمانه کې به دمصر خلکو لاشونه محفوظ ساتل او نن په سائنسي دور کې هم لاشونه څوڅو مياشتو پورې په يخو خانو کې پراته وي په قبر کې نه وي، نوبيابه هغوی ته دقبر عذاب څنګه وي؟

**جواب:** ستاسود سوال منشاء داده چې تاسودقبر عذاب دې کندې پورې خاص ګڼلى دى کومې کې چې مړي خښيږي، حالانکې داسې نه ده، بلکې عذاب قبر دهغه عذاب نوم دى چې دمرګ نه وروسته دقيامت نه مخکې وي، که مړی دفن کړل شي يا په سمندرکې واچول شي يا اوسوځول شي يا لاش محفوظ کړل شي[3] اوداعذاب دبل عالم شى دى، له دې وجې په دې دنيا کې دهغه اثرات محسوس کېدل ضروري نه دي ددې مثال دخوب په شان دى.

په خوب کې ځينې وخت په انسان باندې سخت دتکليف حالت تيريږي، خو هغه سره موجوده خلکوته دهغه احساس هم نه وي.

---

[1] عن ابن عباس رضى الله عنهما قال:مر النبى صلى الله عليه وسلم بقبرين فقال:انهما ليعذبان وما يعذبان فى كبير،اما احدهما فكان لا يستتر من البول،وفى رواية لمسلم:لايستتره من البول،واما الآخر فكان يمشى بالنميمة...الخ.(مشكوة،باب آداب الخلاء ص:۴۲)_

[2] عن عائشة......قالت عائشة:فما رايت رسول الله صلى الله عليه وسلم بعد صلى صلوة الاتعوذبالله من عذاب القبر.متفق عليه.(مشكوة،باب اثبات عذاب القبرص:۲۵)_

[3] ومما ينبغى ان يعلم ان عذاب القبر هو عذاب البرزخ فكل من مات وهو مستحق للعذاب ناله نصيبه منه قبر اولم يقبر،فلو اكلته السباع او احرق حتى صار رمادا.....وصل الى روحه وبدنه من العذاب مايصل الى المقبور.(كتاب الروح ص:۸۱ طبع دار الكتب العلمية،بيروت)_

# په قبر کې جسم سره د روح تعلق

**سوال:** انسان چې کله مړشي، نو دهغه روح خپل مقام ته لاړشي، خو مړي نه چې کله په قبر کې سوال کیږي، نو ایا بیا دمړي په بدن کې روح بیا راشي؟ ایا الله تعالی په خپل قدرت سره مړي ته دخبرو طاقت ورکوي، قبرکې عذاب یوازې جسم ته وي یا روح ته هم برابرعذاب وي؟

**جواب:** په حدیث پاك کې دروح واپس کولو ذکرراغلې چې دهغه نه مرادبدن سره روح تعلق قائمول دي[۱] روح ، که په علیین کې وي یا سجین کې دبدن سره دهغه یوخاص قسم تعلق وي چې له هغه سره بدن ته هم د ثواب او عذاب اود تکلیف او راحت احساس کیږي[۲] عذاب او ثواب خو روح اوبدن دواړو ته وي، خودنیا کې روح ته دبدن په واسطه د راحت اوتکلیف احساس کیږي اوپه برزخ یعنې په قبرکې بدن ته د روح په واسطه احساس کیږي[۳] اوقیامت کې به دواړوته له واسطې پرته کیږي.[۴]

**یادونه:**(۱) د علیین ماده علوده اوددې معنا بلندي ده، یعنې علیین په اسمانونو باندې یو ډیر د لوړې مرتبې والا مقام دی چېرته چې دنیکو خلکو روحونه رسول کیږي، هلته دملاء اعلی جماعت ددغه مقربینو د ارواحو استقبال کوي.[۵]

---

۱]ایضا:(وفی حدیث طویل)عن البراء بن عازب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال......واما الکافر فذکر موته قال:ویعاد روحه فی جسده...الخ.(مشکوة ص:۲۵،باب اثبات عذاب القبر) واعادة الروح الی العبد ای جسده....فی قبره حق.(شرح فقه اکبر ص:۱۲۱)۔

۲]ان مقر ارواح المؤمنین فی علیین....ومقر ارواح الکفار فی سجین ومع ذلک لکل روح منها اتصال بجسده....ویحس اللذة والالم....الخ.(تفسیر مظهری ج:۱۰ص:۲۲۴،۲۲۵)۔

۳]وقد سئل شیخ الاسلام عن هذه المسئلة،ونحن نذکر لفظ جوابه فقال:بل العذاب والنعیم علی النفس والبدن جمیعا باتفاق اهل السنة والجماعة.(کتاب الروح ص:۷۲ المسئلة السادسة).وایضا:(الامر الثالث)ان الله سبحانه جعل الدور ثلاثا،دار الدنیا،ودار البرزخ،ودار القرار،وجعل لکل دار احکاما تختص بها،ورکب هذا الانسان من بدن ونفس وجعل احکام دار الدنیا علی الابدان والارواح تبعالها،ولهذا جعل احکامه الشرعیة مرتبةعلی مایظهر من حرکات اللسان والجوارح وان اضمرت النفوس خلافه،وجعل احکام البرزخ علی الارواح والابدان تبعالها......فالابدان هنا ظهرة والارواح خفیة،والابدان کالقبور لها،والارواح هناک ظاهر والابدان خفیة فی قبورها،تجری احکام البرزخ علی الارواح فتسری الی ابدانها نعیما او عذابا...الخ.(کتاب الروح ص:۸۸،۸۹المسئلة السابعة)۔

۴] فاذا کان یوم القیامة الکبری وفی اهل الطاعة واهل المعصیة مایستحقونه من نعیم الابدان والارواح وعذابها...الخ.(کتاب الروح ص:۱۰۴ المسئلة السابعة،الامر العاشر،ان الموت معادوبعث اول)۔

۵] ان ارواح المؤمنین اذا قبضت صعد بها الی السماء وفتحت لها ابواب السماء وتلقته الملئکة بالبشری.......فی علیین هی فوق السماء السابعة....وقیل معناه علو فی علو مضاعف کانه لاغایةله.(تفسیر قرطبی ج:۱۹ ص:۲۶۲)۔

(۲) د "سجين" ماده سجن ده او سجن په عربي ژبه کې بندي خانې ته ویل کیږي ،په دې کې د تنګي او د ښکته والي معنا موندل کیږي، له دې وجې ویل کیږي چې سجين اووه ځمکونه لاندې دی[۱]، عرض دادی چې د بدکارو اعمال او ارواح د مرګ نه وروسته په دې قیدخانه کې کېښودل کیږي او د نیکو اعمال او ارواح د اوواسمانونو له پاسه موجود علیین کې ډیر په عزت سره ساتل کیږي.

## روح له بدن نه تر وتلو وروسته قبر کې د سوال جواب څنګه ورکولی شي

**سوال:** د مرګ راتلو سره روح الوزي د جسم د دفن کېدونه وروسته دا روح واپس راشي، نو د منکر نکیر د سوالونو جواب څنګه ورکوي؟

**جواب:** په قبر کې د روح یو خاص تعلق چې د هغه د کیفیت ادراك موږ نه شو کولی، جسم سره قائمیږي چې هغه سره په مړي کې حس او شعور پیدا کیږي.[۲]

## په قبر کې روح او جسم دواړو ته عذاب ورکول کیږي

**سوال:** د قبر عذاب به یوازې جسم ته وي یا به روح ته هم وي؟

**جواب:** په قبر کې عذاب روح او جسم دواړو ته وي، روح ته بلا واسطه او بدن ته د روح په واسطه.[۳]

## د دوشنبې (پیر) په ورځ مړ کېدل او د قبر عذاب

**سوال:** مالوستلي دي چې کوم سړی (مسلمان) د جمعې په ورځ یا شپه کې مړشي د قبر د عذاب نه به بچ کیږي، ستاسو نه د پیر د ورځې او شپې په باره کې معلوموول غواړم چې د دې قسم څه فضیلت شته، د حدیثو په رڼا کې جواب راکړئ.

**جواب:** د پیر د ورځې په باره کې خو معلومه نه ده د جمعې په ورځ او شپه کې د مړو له پاره د قبر عذاب نه د محفوظ کېدو مضمون یو حدیث کې راغلی دی، خو دا روایت کمزوری دی.[۴]

---

۱] سجين اسفل الارض السابعة....وقال ابو عبيدة والاخفش لفى سجين لفى حبس وضيق شديد.(تفسير قرطبي ج:۱۹ ص :۲۵۸،طبع دار الكتب المصرية)۔

۲] واعادة الروح اى ردها او تعلقها الى العبد اى جسده بجميع اجزائه....حق....واعلم ان اهل الحق اتفقوا على ان الله تعالى يخلق فى الميت نوع حياة فى القبرقدرما يتالم او يتلذذ.(شرح فقه اكبرص:۱۲۱،۱۲۲طبع دهلى)

۳] بل العذاب والنعيم على النفس والبدن جميعا باتفاق اهل السنة والجماعة.(كتاب الروح ص:۷۲)۔

٤] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:مامن مسلم يموت يوم الجمعة اوليلة الجمعة الاوقاه الله فتنة القبر.رواه احمد والترمذى وقال:هذا حديث غريب وليس اسناده بمتصل.(مشكوة،باب الجمعة ص:۱۲۱).ايضا:(وفى الترمذى)من حديث ربيعة بن سيف،عن عبدالله بن عمرقال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:مامن مسلم يموت يوم الجمعة اوليلة الجمعة الاوقاه الله فتنة القبر،قال الترمذى: ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

# انساني روح

**سوال:** دانسان روح کوم چې ``من امر ربّي،، (دالله تعالی دحکم) په وجه باندې دی، مجرداولا يتجزی دی، بياځه وجه ده چې ديوماشوم روح اودزلمي روح کې دحالت اوکميت په لحاظ باندې فرق دی، دويم داچې دزلمي دروح له پاره دتزکې ضرورت دی، ځکه چې هغه دنفس په وجه باندې شهوت اوبدوکې مبتلاشوی دی، خودماشوم روح معصوم وي، چې هغه باندې دشيانوحقيقت ښکاره شي، خوداسې نه کيږي، ځکه چې هغه ته اوسه پورې عقل نه دی ورکړل شوی،ددې نه ثابت شوه چې روح پخپله باندې ادراک نه لري، يعنې ګونګی اوړونددی اودعقل نه پرته ددې هيڅ حيثيت نشته اوهغه حديث شريف کوم کې چې د منکرنکيرباره کې اوريدوسره حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه کړې وه چې اې رسول الله صلی الله علیه وسلم! هغه وخت کې به زموږعقل هم وي اوکه نه؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې ددې نه به ډېروي، حضرت عمر رضي الله عنه وويل چې بياهيڅ ويره نشته، له دې نه هم معلوميږي چې دعقل نه پرته روح د هيڅ کارنه دی، بل طرف ته دروح ډېرغټ غټ اوعقل حيران کونکي کارونه په کتابونوکې پيداکيږي،ډېروعالمانواوصوفيانو فرمايلي دي چې عقل، روح اوزړه يوشی دی، دنسبت بدليدو له وجې ددې نومونه بيل بيل وويل کيږي ، امام غزالي رحمه الله هم په احياء العلوم کې دزړه عجائباتوپه باب کې هم دا ويلي دي، دصوفياء شعردی:

عقل و روح و قلب تینون ایک چیز  فعل کی نسبت سے کر ان مین تمیز

**جواب:** داسوال هم ستاسودعلم نه بهردی، ځنګه چې (من امرربي) کې دې طرف ته اشاره شوې ده، دپوهيدوله پاره به بس دومره عرض درته وکړم چې دې مادي دنياکې دمجرد روح ټول مادي کارونو کيدل دعقل اوشعورپه وجه باندې کيږي اودماديت طرف ته رجوع کول دروح قصورنه دی، بلکې ددې عالم قصوردی همدغه وجه ده چې دماديت په دې دنياکې انبياء کرام عليهم السلام هم دخوراک څښاک محتاج وو، ځکه چې روح دبدن سره تړلی شی دی، ځنګه چې (وماجعلنهم جسدا لاياکلون الطعام) کې دې طرف ته اشاره شوې ده اوهمدغه وجه ده چې حضرت عيسی عليه السلام په اسمان کې دخوراک څښاک محتاج نه دی اوهمدغه وجه ده چې ګله راځي، نوداسمان نه مشرقي مينار پورې به سفردفرښتوسره کوي اوميناريانديې قدم کيښودو سره به دپوړۍ (زينه) غواړي،ځکه چې بيا به مادي حکمونه شروع شي.

---

...بقيه د تير مخ]... هذا حديث حسن غريب،وليس اسناده بمتصل، ربيعة بن سيف المعافري عن ابی عبدالرحمن الجيلی عن عبدالله بن عمرو،ولايعرف لربيعة بن سيف سماع من عبدالله بن عمرو،انتهی(كتاب الروح لابن قيم ص:١١٢،المسئلة العاشرة،الاسباب المنجية من عذاب القبر)

خلاصه دا چې دې مادي دنیا کې روح د خپل استعمالاتو له پاره د مادي شیانو محتاج دی، که تاسو غواړئ، نو په خپلو الفاظو کې دې ته ړوند، ګونګ، کوڼ او بې عقله ویلی شئ او د روح تفاوت في الافعال هم د دې الاتو تفاوت سره دی، خو د مادي الاتو په ذریعه باندې چې کوم کارونه روح کوي هغه د دې په رنګ باندې رنګ شي او د نیکو او بد عملونو سره پاک او پلیت شي، د قبر تعلق هم عالم مادیت سره دی او في الجمله عالم تجرد سره، له دې وجې دې ته عالم برزخ ویل کیږي، چې دا نه خو په کل وجوه سره عالم مادیت دی او نه عالم مجرد محض دی، له دې وجې عقل او شعور د لته هم پکار دی. (والتفصیل فی التفسیر الکبیر ج ۲۱ ص ۳۲ تا ۵۲)

**سوال:** زه یو امي او جاهل یم، علم سره مې د لرې نه هم تعلق نشته، چرته دیني اداره کې ناست نه یم، عالمانو صاحبانو سره د خبرو او ناستې پاستې ادب راته هم معلوم نه دی، له دې وجه باندې خواست دی که چرته غلطي شوي وي، نو مهرباني وکړئ هغه زما کم علمي ګڼلو سره معاف کړئ.

**جواب:** ستاسو سوالونه خو د عالمانو په شان دي او د ادب او تخاطب دا خبره د لته صحیح نه ده، ځکه چې زه پخپله باندې هم مجهول مطلق یم، دا خو دیو دوست بل دوست ته د خبرو کولو په شان دي.

## ایا روح او جان یو شئ دی

**سوال:** ایا په انسان کې روح او جان یو شی دی یا روح بیل او جان بیل شی دی؟ ایا حیواناتو سره هم دا شی دی چې کله انسان په دویم ځل ژوندی کړل شي، نو ایا روح او جان به په دویم ځل اچول کیږي؟

**جواب:** د انسان او حیوان په مینځ کې چې کوم شی فرق کوي هغه دا دی چې حیوان کې د ننه خو" روح حیواني" وي چې هغه ته جان وایي او په انسان کې د دې حیواني نه پرته روح انساني هم وي چې هغه ته نفس ناطقه یا روح مجرد هم وایي، روح حیواني د دې نفس ناطقه له پاره د مرکب حیثیت لري د مرګ په وخت روح حیواني تحلیل (ګډوډ) شي چې د هغه له وجې نه روح انساني او نفس ناطقه د انساني بدن سره د تدبیر او تصرف تعلق ختم شي[1] په برزخ کې د بدن سره د ورح تعلق د تدبیر او تصرف نه پاتې کیږي یوازې د ومره تعلق پاتې وي چې هغه سره مړي ته د برزخي ثواب او عذاب احساس وشي، د قیامت په ورځ چې کله مړي

---

۱] الروح الانسان، قال السید هی اللطیفة العاملة المدرکة من الانسان الراکبة علی الروح الحیوانی، نازل من عالم الامر تعجز العقول عن ادراک کنهه، وتلک الروح قدتکون مجردة قدتکون منطبقه فی البدن. الروح الحیوانی جسم لطیف منبعه تجویف القلب الجسمانی وینتشربواسطة العروق الضوارب الی سائر اجزاء البدن. (قواعدالفقه ص: ۳۱۱)

ژوندي شي، نو د روح او دبدن په مينځ کې به بياهغه تعلق قائم کړل شي.[۱]

## د مرغيوله روح نه څه مراد دي

**سوال:** دانسان نه پرته نورپه زرګونومخلوقات، مرغۍ، څريدونکي ځناور، داوبوځناور، دصحراوو ځناوراو داسې نور... څه ډول پيداکړل شول؟ او ايا دوی ته هم د(**قل الروح من امرربي**) والاروح نه څه برخه ورکړل شوې ده، يا هغو کې يوازې انساني روح وي، کوم چې دغذانه حاصليږي؟ او ايادهغوی روحونه هم فرښتې قبض کوي؟

**جواب:** داخوښکاره خبره ده چې دهرساه لرونکي روح دالله تعالی په حکم باندې راځي، ايت نه هريوروح مراددی، يايوازې انساني روح، دواړه خبرې کېدای شي ماته ددې دحقيقت پته نشته، اودتلاش کولو فرصت هم نشته.[۲]

## د ښښولو نه وروسته روح چېرته وي

**سوال:** دفن کولو نه وروسته روح خپل وخت اسمان کې تيروي، ياقبرکې ياپه دواړو ځايونو کې؟

**جواب:** په دې باره کې هم روايات مختلف دي او دعلماوو اقوال هم مختلف دي، خو دټولو نصوصو جمع کولو چې کومه خبره معلوميږي هغه دا چې دنيکو ارواحو اصل ځای عليين دی[۳] (خو ددوی درجې هم مختلفې دي) د بدکارو روحونو اصل ځای سجين دی[۴] اودهر روح بدن سره يوخاص تعلق ورکول کيږي، که جسم په قبرکې مدفون وي ياپه درياب کې ډوب وي يادکوم ځناور په خېټه کې وي، عرض دا چې دجسم اجزاء هرچرته چې وي دروح يو خاص تعلق دوی سره وي اوددې خاص تعلق نوم برزخي ژوندی ځنګه چې دلمر رڼا سره دځمکې ذره ذره روښانه کيږي دغه شان دروح تعلق سره دجسم هره ذره په ژوندسره روښانه کيږي، اګرچې دبرزخي ژوند حقيقت په دې دنياکې معلومول ممکن نه دي.[۵]

---

۱] واعلم ان اهل الحق اتفقواعلى ان الله تعالى يخلق فى الميت نوع حياة فى القبرقدرمايتالم اويتلذذ.(شرح فقه اكبرص: ۱۲۲،طبع دهلی)۔

۲] للمفسرين فى الروح المذكورة فى هذا الآيةاقوال اظهرها ان المرادمنه الروح الذى هوسبب الحياة.(التفسيرالكبيرج:۲۱ص: ۳۶،سورة بنى اسرائيل: ۸۵)۔

۳]ان كتاب الابرارمرفوع فى عليين على قدرمرتبتم وقال الضحاک ومجاهدوقتادة يعنى السماءالسابعة فيها ارواح المومنين.(تفسيرقرطبى ج:۱۹ صلی: ۲۶۲،طبع مصر)۔

۴]عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: ان الارواح الفجار واعمالهم لفى سجين.(تفسيرقرطبى ج:۱۹ ص ۲۵۷)

۵] الامرالثامن: انه غيرممتنع ان يردالروح الى المصلوب،والغريق والمحرق،ونحن لانشعربها،لان ذلک الردنوع آخر غيرمعهود، فهذا المغمى عليه،والمسكوت، والمبهوت احياء ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

# ایا روح ته په دنیا کې د ګرځیدو ازادي وي

**سوال:** روح ته په دنیاکې د ګرځېدو ازادي وي اوکه نه؟ ایا دوی چې کوم ځایونه پیژني، مثلاً کورهلته تللی شي؟

**جواب:** د کافرانو او نافرمانو روحونه، خو د سجین" په جیل کې قید وي، دهغوی چېرته دتلو راتلو خوبالکل سوال نه پیدا کیږي اود نیکو روحونو په باره کې څه ضابطه نه ده بیان شوې، ځکه په دې سلسله کې دقطعیت سره څه ویل مشکل دي[۱] اصل خبره دا ده چې روح خپل تصرفاتو له پاره جسم ته محتاج دی څنګه چې روح نه پرته جسم هیڅ نه شي کولی، دغه شان روح هم دجسم نه پرته تصرفات نه شي کولی، داخوښکاره ده چې دمرګ نه وروسته ددې انساني جسم تصرفات ختمیږي، له دې وجې دمرګ نه وروسته که چېرې روح تصرف کولی شي، نوپه مثال جسم سره یې کولی شي، څنګه چې په احادیثوکې دنبیانو، صدیقینو، شهیدانو اودځینو صالحینو دمثالي جسم ورکولوثبوت پیدا کیږي.[۲]

خلاصه دا چې کومو روحونوته دمرګ نه وروسته مثالي جسم ورکول کیږي، هغوی که چېرې دالله په حکم چرته ځي راځي، نودهغه نفي نه شي کېدای، مثلاً په لیلة المعراج کې دنبیانو علیهم السلام د نبي کریم ﷺ په اقتداء کې لمونځ ادا کولو له پاره بیت المقدس کې جمع

---

...بقیه د تیر مخ]... وارواحهم معهم،ولاتشعربحیاتهم،ومن تفرقت اجزاؤه لایمتنع علی من هو علی کل شیء قدیران یجعل للروح اتصالابتلک الاجزاء.......وفی تلک الاجزاءشعوربنوع من الالم واللذة.(کتاب الروح ص: ۱۰۰،۱۰۱المسئلة السابعة).ایضا:واعلم ان اهل الحق اتفقواعلی ان الله تعالی یخلق فی المیت نوع حیاة فی القبرقدرمایتالم اویتلذذ.(شرح فقه اکبرص: ۱۲۲ طبع دهلی).ایضا:وقدمثل ذلک بعضهم بالشمس فی السماءوشعاعهافی الارض.(شرح الصدورص ۳۶۳ذکرمقرالارواح،طبع بیروت)۔

۱]فقالت (ای ام بشر)اماسمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ان نسمة المؤمن تسرح من الجنة حیث شاءت ونسمة الکافر فی سجین مسجونة، قال: بلی:قالت فهو ذلك، شرح الصدور ص۳۵۹ ذکر مقر الارواح ایضاً ص: ۲۳۲).ایضا:واخرج الطبرانی فی مراسیل عمروبن حبیب قال: سالت النبی صلی الله علیه وسلم عن ارواح المؤمنین،فقال: فی حواصل طیرخضرتسرح فی الجنة حیث شاءت،قالوا:یا رسول الله !وارواح الکفار؟قال:!محبوسة فی سجین.(رسالة بشری الکئیب ص: ۳۵۹،ذکرمقرالارواح،وشرح الصدورص ۲۳۲باب مقرالارواح)۔

۲] وقدرای النبی صلی الله علیه وسلم لیلةالاسراءموسی قائمایصلی فی قبره،ورآه فی السماء السادسة، والروح هناک کانت فی مثال البدن لهااتصال بالبدن.......قال الحافظ ابن حجر:ارواح الموموٴمنین فی علیین،وارواح الکافرین فی سجین،ولکل روح بجسدها اتصال معنوی لایشبه الاتصال فی الحیاةالدنیا،بل اشبه شیءبه حال النائم،وان کان هواشدمن حال النائم اتصالا،قال: ولهذایجمع بین ماوردان مقرهافی علیین اوسجین،وبین مانقله ابن عبدالبر،عن الجمهورایضاانهاعندافنیةقبورها،قال:ومع ذلک،فهی ماذون لهافی التصرف،وتاوی الی محلهامن علیین اوسجین.(بشری الکئیب بلقاءالحبیب ص: ۳۶۳ ذکر مقرالارواح طبع دارالکتب العلمیة،بیروت،لبنان،ایضا:شرح الصدورص: ۲۴۰،۲۴۴ باب مقرالارواح)۔

کېدل،[1] د شهيدانو په جنت کې خوراك څښاك او سيل كول[2]، ددې نه پرته د صالحانو ددې قسمه ډېر واقعاتو موجود دي، خو څنګه چې مخکې عرض وکړل شو چې ددې له پاره څه ضابطه متعين كول مشکل دي.

يو حديث کې دي چې نبي کريم ﷺ کله د احدنه راستون شو د حضرت مصعب بن عمير رضي الله عنه د ملګرو په قبرباندې ودريده او ويې فرمايل: زه ګواهي ورکوم چې تاسو د الله په نزد ژوندي يئ (بيا صحابو ته مخاطب شو او وې فرمايل): ددوی زيارت کوئ او په دوی باندې سلام اچوي، قسم په هغه ذات چې زما ساه د هغه په قبضه کې ده، سلام به نه وايي په دوی باندې يو کس خو دوی به ضرور جواب ورکوي ترقيامته پورې.(حاکم وصححه بيهقى،طبرانى).[3]

د مسند احمد او مستدرك حاکم په حواله سره حضرت ام المومنين حضرت عائشه رضي الله عنها وينا نقل کړې ده" چې زه به خپل کورته (يعني په حجره شريفه روضه مطهره کې) داخليدم، نود پردې کېږه به مې لرې کړه مابه ويل چې دا خوزما خاوند ﷺ دی اودا زما عزتمند پلاردی، خو چې کله حضرت عمر رضي الله عنه دفن شو په الله قسم! زه پرته د کېږې راتاوولو نه کله هم نه يم داخله شوې، د حضرت عمر رضي الله عنه نه د حيا په وجه باندې.(مشكوة باب زيارة القبور ص ١٥٤).[4]

## ايا د روحونو دنيا ته راتلل ثابت دي

**سوال:** ايا روحونه دنياته راځي يابه عالم برزخ کې قيام کوي؟ اکثر داسې شهادتونه موجود دېږي چې له هغو نه معلومېږي چې روحونه خپلو خپلوانو ته راځي.

---

١] المسجدالاقصاوهوبيت المقدس الذى بايلياء،معدن الانبياءمن لدن ابراهيم الخليل عليه السلام،ولهذاجمعواله هنالک كلهم،فامهم فى محلتهم ودارهم،فدل على انه هوالامام الاعظم والرئيس المقدس صلوات الله وسلامه عليه وعليهم اجمعين.(تفسيرابن كثيرج: ٤ص: ٨١،طبع رشيديه كوئته)۔

٢]عن مسروق قال: سالناعبدالله بن مسعودعن هذه الاية: ولا تحسبن الذين قتلوا فى سبيل الله امواتاً، بل احيآء عند ربهم يرزقون، الآية، قال: اناقدسالناعن ذلک فقال: ارواحهم فى اجواف طيرخضر،لهاقناديل معلقةبالعرش،تسرح من الجنة حيث شاءت،ثم تاوى الى تلک القناديل،فاطلع اليهم ربهم اطلاعة فقال: هل تشتهون شيئا؟ قالوا: اى شيءنشتهى ونحن نسرح من الجنة حيث شئنا،ففعل ذلک بهم ثلث مرات...الخ. (مشكوة ص: ٣٣٠،٣٣٤،كتاب الجهاد)۔

٣] واخرج الحاكم وصححه،والبيهقى،عن ابى هريره،رضى الله عنها،عن النبى صلى الله عليه وسلم انه وقف على مصعب بن عمير رضى الله عنه حين رجع من احد فوقف عليه وعلى اصحابه فقال: اشهد انكم احياء عندالله فزوروهم وسلمو عليهم فوالذى نفسى بيده لايسلم عليهم احدالاردواعليه الى يوم القيامة.(شرح الصدورص: ٢٠٣باب زيارة القبور وعلم الموتى بزوارهم،طبع دارالكتب العلميه،بيروت)۔

٤] عن عائشة قالت: كنت ادخل بيتى الذى فيه رسول الله صلى الله عليه وسلم،وانى واضع ثوبى،واقول انما هو زوجى وابى،فلماد فن عمرمعهم فوالله! مادخلته الا وانا مشدودة على ثيابى حياءمن عمر.رواه احمد. (مشكوةص: ١٥٤)

په شب برات کې هم د روحونو د راتلو په باره کې موږ اوريدلي دي، تاسو ددې مسئلې ضرور وضاحت وکړئ، دمرګ نه وروسته د دريمې،لسمې اوڅلويښتمې شرعي حيثيت هم د اخبار په ذريعه وضاحت وکړئ ددې له پاره چې عامو خلکو ته معلومه شي.

**جواب:** دنيا ته د راتلو په باره کې قطعي طور سره څه ويل ممکن نه دي اونه په دې سلسله کې کوم صحيح حديث راغلی دی، دريمه،لسمه، اوڅلويښتي دځان نه جوړشوي رسمونه دي ددې مکمل تفصيل به تاسو ته زما کتاب"اختلاف امت اور صراط مستقيم" کې وګورئ.[۱]

## ايا روحونه د زيات(پا نشنبې ) په ورځ راځي

**سوال:** اوريدلي مودي چې هرزيات دهرکور په دروازه روحونه راځي ايا دا صحيح ده؟ او ايا د زيارت په ماښام هغوی له پاره دعا وکړل شي؟

**جواب:** د زيارت په ورځ د روحونو راتلل صحيح حديث ثابت نه دي ددې هيڅ شرعي ثبوت نشته[۲]. باقي دعا او استغفار او ايصال ثواب هروخت کېدای شي، په دې کې دماښام تخصيص بې معنا دی.

## ايا د مرګ نه وروسته روح څلويښت ورځو پورې کور ته راځي

**سوال:** ايا څلويښت ورځو پورې دمرګ نه وروسته روح کور ته راځي؟

**جواب:** د روحونو کورونو ته راتلل غلط دي.[۳]

## په حادثه کې د مړشوي د روح ځای

**سوال:** د يوصاحب دعوه ده چې څوک حادثاتي ياناڅاپي مرګ سره مړشي يادچاپه وژلو سره، د داسې خلکو روحونه برزخ ته نه ځي هغه چرته په خلاء کې ګرځي راګرځي او متعلقه افرادو ته ډيرځله دخبرداري ورکولو له پاره راځي، خو داټولې خبرې زما په پوهه کې نه راځي زما خيال دی چې د روح وتلونه وروسته عليين يا سجيين ته ځي او هريو له پاره برزخ شته او دقيامته پورې هغه هلته اوسيږي، مهرباني وکړئ دقران اوسنت په رڼاکې جواب راکړئ اوزما تسلي وکړئ.

**جواب:** ددغه صاحب دعوه غلطه او دجاهليت دزمانې په شان توهم پرستي باندې مبني ده، دقران او سنت په رڼا کې ستاسو نظريه صحيح ده دمرګ نه وروسته دنيکو روحونو ځای

---

۱] اوګورئ: اختلاف امت اور صراط مستقيم،ص: ۱۱۱حصه اول)_

۲]وفی البزازية:قال علماؤنا:من قال ارواح المشائخ حاضرةتعلم يكفر.(البحر الرائق ج:۵ ص:۱۳٤،باب احكام المرتدين)_

۳] قال علماؤنا:من قال:ارواح المشائخ حاضرة تعلم يكفر.(البحر الرائق ج:۵ ص:۱۳٤)_

عليين دى او د كافرانو او نافرمانو روحونه به د سجين په قيدخانه كې بندوي.[۱]

## د مرګ نه وروسته روح په بل قالب کې نه ننوځي

**سوال:** ايا انسان چې كله دنياته راځي، نودوه وجودونه ځان سره راوړي، يو فنا او بل بقاء، فنا والا وجود خود مرګ نه وروسته دفن كولو سره دخاورې نه جوړشوى و او خاورې سره ګډ شو، بقاء هميشه قائم او سيږي، مهرباني وكړئ ددې سوال حل د قران او حديث په رڼا كې بيان كړئ ځكه چې زما دوست انبنتى دى، يعنې د دويم ژوند په چكر كې.

**جواب:** د اسلام دا عقيده ده چې د مرګ نه وروسته روح باقي پاتې كيږي او په دويم ځل هغه په بل كوم قالب كې دنيا كې نه پيدا كيږي[۲]، دا د ''اواګون''، والاوو عقيده ده چې يو روح په مختلفو قالبونو كې بيا بيا راځي كله دانسان په قالب كې كله د سپي، مار او داسې نورو... كې دا نظريه عقلا او نقلا غلط ده.[۳]

## ايا په قيامت كې به روح راپورته كيږي

**سوال:** اوريدلي مو دي چې د مرګ نه وروسته انسان قبر ته لاړشي، دا اندامونه سخاشي او د چينجو خوراك شي، كه چيرې همدا اندامونه يو ضرورتمند ته وركړل شي، نو هغه سړى به

---

۱] ان مقر ارواح المؤمنين فى عليين....ومقر ارواح الكفار فى سجين.(تفسير مظهرى ج:۱۰ ص:۲۲۵).
ايضا: فقالت (اى ام بشر)اما سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:ان نسمة المؤمن تسرح من الجنة حيث شاءت ونسمة الكافر فى سجين مسجونة؟ قال:بلى،قالت:فهو ذلك.(شرح الصدور ص:۳۵۹،ذكر مقر الارواح ايضا ص:۲۳۲).ايضا:واخرج الطبرانى فى مراسيل عمرو بن حبيب قال:سالت النبى صلى الله عليه وسلم عن ارواح المؤمن،فقال:فى حواصل طير خضر تسرح فى الجنة حيث شاءت.قالوا:يارسول الله!وارواح الكفار؟قال:محبوسة فى سجين.(رسالة بشرى الكئيب ص:۳۵۹،ذكر مقرالارواح،وشرح الصدور ص:۲۳۲باب مقر الارواح،طبع دار الكتب العلمية،بيروت)۔
۲]السابعة:ذهب اهل الملل من المسلمين وغيرهم الى ان الروح تبقى بعد موت البدن وخالف فيه الفلاسفة،دليلنا قوله تعالى:كل نفس ذآئقة الموت،والذائق لابدن ان يبقى بعد المذوق.......وفى كتاب ابن القيم:اختلف فى ان الروح تموت مع البدن ام الموت للبدن وحده؟على قولين،والصواب:انه ان اريد بذوقها الموت مفارقتها للجسد فنعم هى ذائقة الموت بهذا المعنى،وان اريد انها تعدم فلا،بل هى باقية بعد خلقها بالاجماع فى نعيم او عذاب.(شرح الصدور ص:۳۲۴،خاتمة فى فوائد تتعلق بالروح،ايضا كتاب الروح ص:۴۹)۔
۳] وقالت فرقة:مستقرها بعد الموت ابدان.....فتصير كل روح الى بدن حيوان يشاكل تلك الروح،وهذا قول التناسخية منكرى المعاد وهو قول خارج عن اهل الاسلام كلهم.(شرح عقيدة الطحاوية ص:۴۵۴).وقالت فرقة:مستقرها بعد الموت ارواح اخرتنا سب اخلاقها وصفاتها التى اكتسبتها فى حال حياتها،فتصير كل روح الى بدن حيوان يشاكل تلك الارواح فتصير النفس السبعية الى ابدان السباع،والكلبية الى ابدان الكلاب،والبهيمية الى ابدان البهائم،والدنية والسفية الى ابدان الحشرات،وهذا قول المتناسخة،منكرى المعاد،وهو قول خارج عن اقوال اهل الاسلام كلهم.(كتاب الروح ص:۱۲۸المسئلة الخامسة عشر)۔

ټول عمر دې ورکونکې ته دعاګانې کوي، ويل کيږي چې انسان چې په کوم حالت مړشوی وي په هماغه حالت کې به راپورته کيږي، يعنې که چېرې دهغه اندامونه ويستل شوي وي، نو هغه به پرته اندامونو پورته کړل شي، مثلا ړوند وغيره، حالانکې د اسلامي کتابونو نه ښکاره ده چې دقيامت په ورځ به دانسانانو جسمونه نه، بلکې دهغوی روحونه به پورته شي.

**جواب:** د اندامونو سخا کېدل د الله تعالی د طرف نه دي ، د دې نه دا استدلال نه شي کېدلی چې دمړي اندامونه پرېکول هم جائز دي، معلومه نه ده چې تاسوکومو اسلامي کتابونوکې دا ليکل ليدلي دي چې دقيامت په ورځ به دانسان بدن نه، بلکې يوازې دهغه روح پورته کيږي ماخوچې کوم اسلامي کتابونه لوستلي دي په هغو کې خويې جسماني حشر ليکلی دی.[۱]

## دبرزخ ژوند به څنګه وي

**سوال:** د روزنامه کراچي په "اقراء" صفحه کې مې ستاسو مفصل مضمون دروح په باره کې ولوست چې ديو صاحب دسوال په جواب کې ليکل شوی و، دهغه مضمون لوستلو نه وروسته مې څو سوالونه په ذهن کې راغلي دي کوم چې تاسوته اورول غواړم:

تاسو ليکلي دي چې دکافرانو اونافرمانو روحونه، څو دسجين "په جيل کې قيد شوي وي، دهغوی چرته دتلو راتلو خوبالکل سوال نه پيدا کيږي اودنيکو روحونو په باره کې څه ضابطه نه ده بيان شوې".او تاسو ليکلي دي.

" چې که چېرې الله په حکم (نيک روحونه) چيرته ځي راځي، نودهغې نفي نه شي کېدای" ايا ددې دوو خبرو ثبوت چيرته قران اوحديث نه پيدا کيږي؟

حالانکې که په قران کې سورة مومنون کې دالله تعالی وينا ده:

**ترجمه**: (دټولو مړ کېدونکو نه وروسته يو برزخ (پرده) منع کونکې ده دبل ژوند پورې يعنې دمرګ نه وروسته دنياته واپس نه شي راتلی، که هغه نيک وي يابدوي.

څنګه چې په سورت ياسين کې راغلي دي:

**ترجمه**:"ايا دوئ نهويني چې موږ ددوی نه مخکې ډيرخلک هلاک کړي دي اوس به هغوی ددوی طرف ته بېرته نه راځي."

---

۱] ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ (المؤمنون: ۱۶) ايضًا : وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَّنَسِيَ خَلْقَه قَالَ مَنْ يُحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيْمٌ قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيْمٌ (يس: ۷۸، ۷۹)، قَالُوْا يٰوَيْلَنَا مَنْۢ بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ(يس :۵۲) ايضا:والبعث الثانى يوم يرد الله الارواح الى اجسادها ويبعثها من قبورها الى الجنة او النار...الخ.(كتاب الروح ص:۱۰۲؛المسئلة السابعة،الامر العاشر)۔

ددې خبرې یو بل ثبوت د ترمذي او بیهقي ددې روایت نه کیږي چې جابر بن عبدالله رضی الله عنهما روایت کوي. چې یو ځل نبي کریم ﷺ زما طرف ته وکتل او ویې فرمایل: څه خبره ده چې زه تاغمجن وینم؟ جابر رضی الله عنه وایي چې ما په جواب کې عرض وکړ چې پلارمې په احد کې شهید شو او په هغه باندې قرضې پاتې دي او خاندان مې زیات دی، رسول الله ﷺ وفرمایل چې جابره! ایا زه تاته دا خبره ونښایم چې الله تعالی چاسره هم د پردې نه پرته خبره نه ده کړې، خو ستا د پلار سره مخامخ شو او ویې ویل چې عبدالله غواړه تاته به درکوم، ستا پلار وویل مالکه! ما بیا دنیا ته واپس کړې چې زه دوباره ستا په لاره کې قتل کړل شم، په دې باندې مالك عزوجل وینا وفرمایله چې: زما د طرفه دا خبره ویل شوې ده چې خلك به ددنیا دراتلو نه وروسته بیا دهغې طرف ته واپس نه ځي.(بیهقي و ترمذي)

عموما خلك وایي چې دلته مراد جسماني جسم سره دی ځکه چې جسم پرته د روح نه بې معنا دی او روح د جسم نه پرته که چېرې دا خبره ومنل شي چې یوازې روح دنیا ته ځي راځي، نو ددې مطلب دادی چې روح اوري هم اوویني هم، نودا خبره دسورت مومنون ایتونو سره ټکریږي، په سورت احقاف کې الله پاك داخبره واضحه کړې ده چې ددنیا نه تلونکو خلکو ته ددنیاوي حالاتو هیڅ خبرنه وي.

وینایې رباني ده:

**ترجمه**: دهغه سړي نه به زیات ګمراه څوك وي چې دالله تعالی نه پرته نورو ته اواز وکړي حالانکې هغوی ترقیامته پورې دهغه داواز جواب نه شي ورکولی، هغوی خو ددوی داواز نه غافل دي.(الاحقاف ایت۵،۶.)

په اصل کې دا هم ګمراه کونکې عقیده ده چې دشرك بنیاد جوړیږي خلك نیکان بزرګان ژوندي او حاضر وګڼي او د امداد او حاجت پوره کولو له پاره ورته اواز کوي اوالله سره عظیم ظلم کوي.

مهرباني وکړئ دې خبروته په یو نژدې اشاعت کې ځای ورکړئ چې دخلکو په زړونوکې پیداکیدونکې شبهات اوشکوك لرې شي الله دې زموږ اوستاسو حامي وناصر وي.

**جواب**: دا خو داسلام قطعي عقیده ده چې مرګ دفناء محض نوم نه دی چې دمرګ نه وروسته انسان بالکل ورك شي، بلکې دیو جهان نه بل جهان ته او د ژوند دیو دور نه بل دور ته دمنتقل کیدو نوم مرګ دی اول دور ته دنیوي ژوند وایي[1] او دویم دور ته قران کریم د برزخ نوم ایښی دی.[1]

---

١]قال العلماء:الموت ليس بعدم محض ولافناء صرف،وانما هو انقطاع تعلق الروح بالبدن،ومفارقة وحيلو لة بينهما،وتبدل حال،وانتقال من دار الى دار،واخرج ابوالشيخ فى تفسيره وابو نعيم عن بلال بن سعد انه قال فى وعظه:ياأهل الخلود!ويا اهل البقاء!انكم لم تخلقوا للفناء،وانما خلقتم ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

برزخ هغه پردې ته وايي چې د دوو شيانو په مينځ کې واقع وي، دا برزخي ژوند يو عارضي دور دی له دې وجې يې ددې نوم برزخ تجويز کړ.[۲]

تاسو چې په سوال کې کوم احاديث نقل کړي دي دهغو مدعا په واضح طورباندې دا ده چې مړ شوي خلک عام طورباندې د برزخ نه په دويم ځل دنيوي ژوندته واپس نه راځي (البته په قرآن کريم کې د ژوندي شويو خلکو کوم واقعات ذکردي هغه به ددې نه مستثنی ګرځول کيږي).

او ما چې کوم څه ليکلي دي چې " که چېرې دالله په حکم نيك روحونو ته چرته ځي راځي، نودهغې نفي نه شي کېدای ". ددې نه د دنيوي ژوند اودهغو لوازماتو طرف ته واپس تلل مراد نه دي چې ددې ايتونو او احاديثو منافي وي، بلکې د برزخي ژوند په دائره کې تلل راتلل مراد دي او هغه هم دالله پاك په حکم باقي ستاسو دا وينا چې " په اصل کې همدا هغه ګمراه کونکې عقيده ده چې د شرك بنياد جوړيږي، خلک به نيکان بزرګان ژوندي او حاضر ناظر وګڼي او دامداد او حاجت پوره کولو له پاره به ورته اواز کوي ".

که چېرې ددې نه ستاسو مراد " د برزخ ژوند " وي، نو څنګه چې پورته عرض شو چې دا اسلامي عقيده ده دې ته ګمراه کونکې عقيده ويل او د شرك بنياد ګرځول صحيح نه دي، حالانکې دحضرت جابر رضي الله عنه هغه حديث کوم چې تاسو په سوال کې نقل کړی دی هغه پخپله ددې برزخي ژوند ښکاره ثبوت دی او بيا شهيدانو ته خو صراحتاً ژوندي ويل شوي دي او هغوی ته مړ ويلو نه منع شوې ده[۳]. دشهيدانو دا ژوند هم برزخي دی که نه ښکاره ده چې د دنيوي ژوند دور خو دهغوی هم پوره شوی دی، په هر حال د برزخي ژوند عقيدې ته ګمراه کونکې نه شي ويل کېدای، باقي دخلکو بزرګان حاضر ناظر ګڼل اودهغوی نه مدد غوښتلو له پاره اواز کول ! نوددې د برزخ ژوند سره څه تعلق نشته، نه دا ژوند ددې شرك بنياد دی.

**اولا**: مشرکانو خو کاڼي، دقيمتي کاڼو نه جوړ شوي صورتونه، ونې، دريابونه، سپوږمۍ، لمر او ستوري هم دنفع اونقصان مالك ګڼل اوهغوی ته به يې دحاجت پوره کولو او امداد له پاره اواز کولو، ايا ددې شرك بنياد ددې شيانو دبرزخي ژونددی؟ په اصل کې جاهلان به

...بقيه د تير مخ] ... للخلود والابد،وانكم تنقلون من دار الى دار...الخ.(شرح الصدور ص:۱۲،باب فضل الموت).ايضا:قال ابو عبدالله،وقال شيخنا احمد بن عمرو......ان الموت ليس بعدم محض وانما هو انتقال من حال الى حال،ويدل على ذلک ان الشهداء بعد قتلهم وموتهم احياء عند ربهم يرزقون فرحين مستبشرين...الخ.(كتاب الروح ص:۵۱ المسئلة الرابعة)۔

۱] وَمِنْ وَّرَائِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰي يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ(المؤمنون:۱۰۰).فالحاصل ان الدور ثلاث،دارالدنيا ودار البرزخ ودار القرار...الخ.(شرح عقيدة الطحاوية ص:۴۵۲ طبع لاهور)۔

۲] وَمِنْ وَّرَائِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ، فلبرزخ هنا ما بين الدنيا والآخرة،واصله الحاجزبين الشيئين.(كتاب الروح ص:۱۴۹ المسئلة الخامسة عشرة)۔

۳]وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ (آل عمران:۱۶۹)۔

دشرك له پاره څه بنیاد نه تلاش کولو شیطان چې څه منتر دهغوی په غوږونو کې پوك وهي، هغوی دهر دلیل او منطق نه سترګې بندې کړي او دهغه دالقاء پیروی شروع کړي هرکله چې عبادت کونکي دبې ساه کاڼو دعبادت نه نه منع کیږي، نوکه چېرې ځینې خلکو د بزرګانو په باره کې مشرکانه زیاتی اختیار کړ، نو داسلامي عقیدې سره ددې څه تعلق؟

**ثانیا**: څنګه چې په قران مجید کې دي دعربو مشرکانو به فرښتې هم په خدایي کې شریکې، دنفع نقصان مالکې، اودخدای لوڼه ګڼلې[۱] او الله تعالی ته دنزدیکت له پاره به یې ددوی عبادت وسیله جوړوله[۲] ایا دهغوی ددې جاهلانه عقیدې په وجه د فرښتو د ژوند نه انکار وکړای شي؟ حالانکې دهغوی ژوند برزخي نه دی،دنیوی دی او دځمکې نه دی اسماني دی، اوس که چېرې څه خلکو دنبیانو اولیاء دپاکو هستیو په باره کې همدا تیندك وخوړ کوم چې دعربو مشرکانو د فرښتو په باره کې خوړلی و، نوپه دې کې داسلام دحیات برزخي عقیدې څه قصوردی؟ اوددې نه ولې انکار وکړل شي؟

**ثالثا**: ستاسو په قول کوم بزرګان چې خلک ژوندي ګڼي او دامداد او د حاجتونو له پاره ورته اواز کوي هغوی په دې دنیا کې دخلکو په مخکې ژوند تیرکړ او لاړل دا حضرات په خپل ټول ژوند کې دتوحید او سنت داعیان اودشرك او بدعت نه لرې اوسیدل، په خپل هرکارکې به یې دالله پاك په دربارکې سوال کاو، هغوی ته په لوږه کې دخوراك ضرورت و، ناروغۍ کې به یې دوایي او علاج معالجه کوله، دانساني ضروریاتو محتاج وو، ددوی دا ټول حالات خلکو دسرپه سترګو باندې ولیدل ددې باوجود دهغوی د تشریف وړلو نه وروسته یې دنفع او نقصان مالك او مختار وګڼل اوهغوی ته یې د امداد او حاجت پوره کولو له پاره اوازونه شروع کړل، چې کله هغوی دتعلیم دهغوی دعمل اودهغوی دانساني احتیاج باوجود دخلکو په عقائدو کې دحدنه تجاوز راغی، نوایا "دحیات برزخي" (چې بالکل غیرمحسوس شی دی) نه انکار سره به ددې تجاوز اصلاح وشي؟

عرض دا چې نه، خو حیات برزخي اسلامي عقیدې ته دشرك بنیاد ویل صحیح دي، نه ددې په انکار سره دخلکو اصلاح کېدای شي ددوی داصلاح طریقه دا ده چې هغوی دقران او

---

۱]ثم قال منكرا عليهم فيما نسبوه اليه من البنات وجعلهم الملائكة اناثا واختيارهم لانفسهم الذكور على الاناث بحيث اذا بشراحدهم بالانثى ظل وجهه مسودا وهو كظيم،هذا وقد جعلوا الملائكة بنات الله وعبدوهم مع الله.(تفسير ابن كثير ج:٦ ص:١٤طبع رشيديه كوئته)_

۲]ثم اخبر تعالى عن عباد الاصنام من المشركين انهم يقولون:ما نعبدهم الاليقربونا الى الله زلفى،اى انما يحملهم على عبادتهم لهم انهم عمدوا الى اصنام اتخذوها على صور الملائكة المقربين فى زعمهم،فعبدواتلك الصور تنزيلا لذالك منزلة عبادتهم الملائكة ليشفعوالهم عندالله فى نصرهم ورزقهم وما ينو بهم من امور الدنيا.(تفسيرابن كثير ج:٥ ص:٣٩٧)_

سنت او پخپله د هغه بزرګانو د "تعلیماتو نه پوره طریقې سره خبر کړل شي.
د " حیات برزخي" په ضمن کې تاسو د "سماع موتی" مسئله هم پورته کړې ده، دا مسئله دصحابه کرامو رضی الله عنهم دزمانې نه اختلافي راروانه ده له دې وجې زه بحث کول نه غواړم، البته دا به ضرور عرض کړم چې دسماع موتی مسئله هم دهغه شرك بنیاد نه دی کوم چې تاسو ذکرکړی دی، ددې په دلیل کې زه یوه وړه شان خبره عرض کوم، تاسو ته به معلومه وي چې ډیر حنفي فقهاء د سماع موتی قائل دي، ددې باوجود ددوی فتوا دا ده:

**وفي البزازية قال علماء نا، من قال ارواح المشائخ حاضرة تعلم يكفر.** (البحر الرائق ج۵ص ۱۲٤).

**ترجمه:** " فتاوا بزازیه کې یې لیکلي دي چې زموږ علماء فرمایي چې څوك دا ووایي چې د بزرګانو روحونه حاضر ناظر دي او هغوی په هرڅه پوهیږي، نو داسې سړی کافر دی".

ددې عبارت نه به تاسو هم دا نتیجه واخلئ چې دسماع موتی دمسئلې نه، نه د بزرګانو د روحونو حاضر ناظر کیدل لازمیږي،نه عالم الغیب کېدل، که نه حنفي فقهاء کوم چې د سماع موتی قائل دي دا فتوا به یې نه ورکوله.

تاسوچې د سورت احقاف کوم ایت نقل کړی دی دا مفسرینو حضراتو دعربو مشرکینو سره متعلق ګرځولی دی چې دبتانو عبادت به یې کولو، ګویا چې (**لایستجیبون اوغافلون**) دا دواړه صفتونه چې الله تعالی فرمایلي دي هغه دبتانو صفتونه وو چې یوازې کاڼي وو، خو که چیرې دا ایت دټولو باطل معبودانو له پاره عام ومنل شي بیا هم دې نه دهغوی په حاجت پوره کولوباندې نه قادریدل او غائب کیدل خو لازمیږي، خو ددې نه دحیات نفي نه ثابتیږي، ځکه د عموم په حالت کې به دا ایت فرښتوته هم شامل وي او تاسو ته پته ده چې ددې نه د قدرت او حاضر ناظر داایت نفي، خو صحیح ده ، خو دحیات نفي صحیح نه ده بلکې د واقعه خلاف ده.

په اخرکې خواست دی چې" برزخ" کوم چې ددنیا اواخرت په مینځ کې واقع دی یو مستقل جهان دی او زموږ دعقل او ادراك د دائرې نه بهر دی، ددغې عالم حالات نه په دنیوی ژوند باندې قیاس کیږي نه په دې کې اندازې لګیدلې شي، دا جهان زموږ شعور او احساس او د وجدان د حدودو نه بهر دی، ځکه دصحیح عقل فیصله دا ده چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دهغه ځای کوم حالات بیان کړي دي (کوم چې دصحیح او مقبول احادیثونه ثابت وي) دهغو درد کولو کوشش ونکړل شي او نه دې دقیاس او اندازې نه کار واخیستل شي.

د اهل قبور په باره کې څوارشادات نبوي صلی الله علیه وسلم ماخپل هغه مضمون کې نقل کړي دي دکومو حواله چې تاسو ورکړې ده او څو امور دا دي:

۱: قبر کې د مړي په بدن کې د روح واپس کيدل.[1]
۲: د منکر نکير د سوال جواب ورکول.[2]
۳: د قبر عذاب او راحت.[3]
۴: د ځينې اهل قبورو په لمونځ او تلاوت کې مشغوليدل.[4]
۵: د اهل قبورو (کوم چې مومنان وي) د يو بل سره ملاقات کول.[5]
۶: په اهل قبورو باندې سلام اچول.[6]
۷: د اهل قبورو د طرفه د سلام جواب ورکول.[7]
۸: اهل قبورو ته د دعا، استغفار او د صدقې خيرات نفع رسيدل.[8]

---

۱]واعادة الروح اى ردها او تعلقها الى العبد اى جسده بجميع اجزائه.....حق......واعلم ان اهل الحق اتفقوا على ان الله تعالى يخلق فى الميت نوع حياه فى القبر قدر ما يتالم او يتلذذ.(شرح فقه الاكبر ص:۱۲۱،۱۲۲، طبع دهلی)۔

۲] ثم جاءکم ملکان اسودان ازرقان....اسمائهما منکرونکیر....الخ.(مصنف ابن ابی شیبة ج:۳ ص:۳۷۹)۔

۳]ایضا حواله نمبرا.ایضا:واخرج البیقهی فی عذاب القبر،وابن ابی الدنیا عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: القبرحفرة من حفر جهنم او روضة من ریاض الجنة(شرح الصدور ص:۱۵۳)

٤] عن انس ان النبی صلی الله علیه وسلم لیلة اسری به مر بموسی علیه السلام وهو یصلی فی قبره....وعن انس ان النبی صلی الله علیه وسلم قال:الانبیاء احیاء فی قبورهم یصلون...الخ.(الحاوی للفتاوی:انبیاء الاذکیاء بحیاة الانبیاء ج:۲ ص:۱٤۷)۔

٥] قال عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما:ان ارواح المؤمنین تتلاقی....الخ.(کتاب الروح ص:۱٤۲).وایضا وعن سعید بن جبیرقال:اذامات المیت استقبله ولده کما یستقبل الغائب،وعن ثابت البنانی قال:بلغنا ان المیت اذا مات احتوشه اهله واقاربه الذین قد تقدموه من الموتی...الخ.(الحاوی للفتاوی ج:۲ ص:۱۷٤،طبع دار الکتب العلمیة،بیروت)۔

٦]کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یعلمهم اذاخرجوا الی المقابر.....السلام علیکم اهل دیار من المؤمنین...الخ. (صحیح مسلم ج:۱ ص:۳۱٤،طبع قدیمی،ابن ماجة ص:۱۱۲،طبع نور محمد،مسند احمد ج:٥ ص:۳۵۳،طبع بیروت)۔

۷] ثبت عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال:مامن مسلم یمرعلی قبر اخیه کان یعرفه فی الدنیا،فیسلم علیه الا ردالله علیه روحه حتی یرد علیه السلام،فهذا نص فی انه یعرفه بعینه ویرد علیه السلام.......وقد شرع النبی صلی الله علیه وسلم لامته اذا سلموا علی اهل القبور ان یسلموا علیهم سلام من یخاطبونه فیقول:السلام علیکم دار قوم مؤمنین،وهذا خطاب لمن یسمع ویعقل...الخ.(کتاب الروح ص:۱۰ المسئلة الاولی،ایضا مشکوة،باب زیارة القبور ص:۱٥٤)۔

۸] من صام اوصلی وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز،ویصل ثوابهاالیهم عند اهل السنة والجماعة....الخ. (فتاوی شامی ج:۲ ص:۲٤۳).ایضا:عن ابن عباس قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ماالمیت فی قبره الاشبه الغریق المتغوث ینتظر دعوة تلحقه من اب او ام او ولد او صدیق ثقة،فاذا لحقته کانت احب الیه من الدنیا وما فیها،وان الله تعالی لیدخل علی ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

۹: په برزخي حدودو کې دننه د ایمان والاوو روحونه دخدای په حکم چېرته تلل راتلل شي لکه چې د معراج په شپه کې ------ انبیاءکرامو علیهم السلام روحونه په بیت المقدس کې جمع شول.[۱]

خلاصه دا چې کوم شیانونه ثابت دي دهغو نه دې انکار نه کیږي او کوم چې ثابت نه دي په هغه باندې دې دمنلو تاکید نه کیږي، همدا صراط مستقیم دی دکوم چې موږ ته تعلیم راکړل شوی دی. والله الموفق.

## په عذاب قبر باندې یو څو سوالونه او د هغو جوابونه

**سوال:** جمعه ایډیشن کې د "عذاب قبر" په عنوان سره تاسو د یو سوال جواب ورکړی دی په هغه باندې څو ډوله سوالونه دي:

۱: تاسو دهغه صاحب د سوال جواب د قران یا دصحیح حدیث په رڼا کې نه دی ورکړی.

۲: په سورت یونس کې الله تعالی د فرعون متعلق فرمایلي دي چې اوس خوبه موږ ستابدن بچ کوو چې ته د وروسته راتلونکو خلکو له پاره دعبرت نښه وګرځې.(سورة یونس. ۹۲)

او دا خبره ټولو ته معلومه ده چې د فرعون لاش ترننه پورې موجود دی، خو ددې فرعون متعلق الله تعالی په سورت المومن کې فرمایلي دي: د دوزخ اور دی چې دهغه مخې ته سهار او ماښام هغه (ال فرعون) وړاندې کیږي او چې کله د قیامت وخت راشي، نوحکم به وشي چې ال فرعون په سخت عذاب کې داخل کړئ.(المؤمن. ۴۶).

اوس سوال دا پیدا کیږي چې فرعون او ال فرعون ته عذاب چېرته ورکول کیږي، بیا په دې دنیاکې هم موږ وینو، چې هندوان، چینیان او غالبا روسیان هم خپل مړي سوځوي او ډیر خلک چې وسوځي او مړه شي فضایي حادثه کې مړه شي، یا یې چیرته سمندر مایان یې وخوري، نو دهغوی خو قبربښې وي نه، هغوی ته عذاب چیرته ورکول کیږي ؟

---

...بقيه د تیر مخ]... اهل القبور من دعاء اهل الارض امثال الجبال،وان هدية الاحياء الى الاموات الاستغفار لهم.(شرح الصدور ص:۳۰۵،باب ما ينفع الميت فى قبره).ايضا:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:ان الصدقة لتطفى عن اهلها حرالقبور.(شرح الصدور ص:۳۰۷،باب ماينفع الميت فى قبره)_

۱] ان ارواح المؤمنين فى برزخ من الارض تذهب حيث شاءت ونفس الكافر فى سجين...الخ.(شرح الصدور ص:۲۳۶،باب مقر الارواح).ايضا:عن قتادة عن انس بن مالك (فى حديث طويل)(قال ثم دخلت المسجد) اى المسجد الاقصى.......(فصليت فيها ركعتين)اى تحية المسجد، والظاهر ان هذه هى الصلاة التى اقتدى به الانبياء وصار فيها امام الاصفياء...الخ.(مرقاة شرح مشكوة ج:۵ ص:۴۳۱، باب فى المعراج،الفصل الاول،طبع دهلى)_

۳: قران د مړو متعلق دا ښودلي دي چې" مړي دي ساه قدرې پکې نشته هغوی ته دخپل ځان په اړه دا هم معلومه نه ده چې هغوی به کله (په دويم ځل ژوندي کولو سره) پورته کړل شي. (النحل. ۲۱).
او فرمايي:" اې نبي! تاسو هغه خلک نه شئ اورولی، کوم چې قبرونو کې دفن دي. (فاطر. ۲۲).
اوس سوال دا پيدا کيږي چې په چاکې ساه قدرې هم نه وي او کوم چې اوريدل نه شي کولي، هغوی ته عذاب څنګه ورکول کيږي؟

**جواب:** تاسو زما جواب ياخولوستلی نه دی ياپرې پوه شوي نه يئ، که نه چې تاسو څومره شبهات وړاندې کړي دي په دې کې به يوه شبهه هم تاسو ته نه پيښيدله، ما په خپل جواب کې ليکلي و:

"داهل سنتو په کتابونو کې ليکل شوي دي چې دقبر عذاب اوثواب حق دي او دامضمون په متواترو احاديثوکې راغلی دی".[1]

زه د"متواترو احاديثو" حواله درکوم، خو تاسو وايئ چې ماجواب دقران يا دصحيح حديث په رڼا کې ورنکړ؟ او وايئ چې متواتر حديثونه ته صحيح حديث نه وايي او ددې نه وروسته چې تاسو کوم شبهات وړاندې کړي دي ما دهغو جواب طرف ته اشاره کړې ده اوليکلي مې و: "ښکاره ده چې د برزخ حالات نبي کريم ﷺ زموږ نه ښه پيژندل ،ځکه په دې عقيده باندې ايمان راوړل ضروري دي اويوازې دشبهاتو په وجه ددې انکار صحيح نه دی".

که چېرې تاسو زما په دې فقره باندې غور کړی وای، نو ستاسو له پاره به په دې پوهيدل مشکل نه و، چې کومه عقيده نبي کريم ﷺ په بې شماره احاديثو کې بيان کړي وي اودټول امت اکابر چې په کومه عقيده باندې متفق وي،هغه څنګه د قران کريم خلاف کيدای شي؟ د دې نه تاسودا هم پيژندلی شئ، چې دعذاب قبرپه نفي باندې تاسو دکوم ايتونو حواله ورکړه تاسودهغه په مطلب باندې پوه نه شوئ اودغلط فهمي له وجې تاسو ته شبه پيښه شوه.

---

۱] فاما احاديث عذاب القبر ومسئلة منكرونكير فكثيرة متواترة عن النبى صلى الله عليه وسلم كمافى الصحيحين عن ابن عباس رضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم مرّ بقبرين فقال:انهما ليعذبان وما يعذبان فى كبير،اما احد هما فكان لايستبرى من البول،واما الآخر فكان يمشى بالنميمة،ثم دعا بجريدة رطبة فشقها نصفين،فقال:لعله يخفف عنهما مالم ييبسا.(وفى صحيح مسلم)عن زيد بن ثابت قال:بينما رسول الله صلى الله عليه وسلم فى حائط لبنى النجار على بغلته ونحن معه اذ حادت به فكادت تلقيه فاذا اقبر ستة او خمسة او اربعة فقال:من يعرف اصحاب هذه القبور؟فقال رجل:انا،قال:فمتى مات هولاء؟قال:ماتوافى الاشراك،فقال:ان هذه الامة تبتلى فى قبورها،فلو لاان لاتدافنوا لدعوت الله ان يسمعكم من عذاب القبر الذى اسمع منه،ثم اقبل علينا بوجهه فقال:تعوذوابالله من عذاب القبر،قالوا:نعوذبالله من عذاب القبر،قال:تعوذوابالله من عذاب القبر...الخ.(كتاب الروح ص:۷۴،المسئلة السادسة).مزيد تفصيل دپاره اوګورئ: شرح الصدور ص:۱۶۰تا۱۸۲،طبع دار الكتب العلمية،بيروت)۔

دعذاب قبر نفې هغه سړی کولی شي چې په دې نه پوهیږي چې دنبي کریم ﷺ متواتر احادیث په دې باره کې موجود دي او که چېرې د دې خبرې پیژندلو نه وروسته کوم سړی د دې قائل نه وي، نو د دې معنا له دې پرته څه کېدای شي چې دنبي کریم ﷺ نه، دصحابه کرامو رضي الله عنهم او د څوارلسو پیړیو د امت د اکابرینو نه زیات د قران فهمي مدعي وي؟ کوم ایتونه چې تاسو د عذاب قبر په نفې باندې وړاندې کړي دي که چېرې ته له هغه سره واقعي دعذاب قبر نفي ثابتولی شې، نو دامت دې ټولو اکابرینو به عذاب قبر څنګه منلی وي؟

تاسو ته په دې اجمالي جواب سره تسلي ونشوه په دې وجه مناسب دي چې ستاسو دشبهاتو تفصیلي جواب هم عرض کړل شي، تاسو دا تسلیم کړې ده چې فرعون او ال فرعون ته سهاراو ماښام (همیشه) اور وړاندې کیږي، همدغه عذاب قبر دی چې قران کریم کې یې هم ذکر کړی دی، باقي دا شبه چې د فرعون لاش خومحفوظ دی هغه ته عذاب ورکول موږ ته په نظر نه راځي، بیا فرعون او ال فرعون ته عذاب چېرته ورکول کیږي؟

دا داسې وګڼئ چې یو سړی ستاسو په اړخ کې ویده دی او یو هیبتناك خوب ویني په اور کې سوځي، اوبو کې ډوبیږي، مار ورپسې منډې وهي، درنده په ده باندې حمله کوي په قیدکې بندي کیږي، ډول ډول سزاګانې ورکول کیږي، هغه په زوره یوه چغه ووهي او دخوب نه رابیدار شي دهغه بدن رپیږي، ټول بدن یې په خولو باندې لوند وي، تاسو دهغه نه پوښتنه کوئ چې څه وشو؟هغه خپل خوب بیان کړي ته هغه ته وایې چې ته ډیر دروغژن یې، زه تاسره ناست وم ماته خو نه ستاد اور شغلې په نظر راغلې، نه داوبو چپې ښکاره شوې، نه ماستا دمار اواز واوریده، نه ستاد درنده اواز زما غوږونو ته راغی، نه مې ستا ولچک اوهتکړې ولیدې ووایئ! ستاسو په دې منطق سره به هغه خپل خوب دروغژن کړي؟ نه! بلکې هغه به ووایي چې ته ویښ وې زه چې دخوب په کومه دنیا کې وم په هغه کې ته زما سره نه وې، ستاسو د دواړو په مینځ کې یوازې د بیداري او دخوب فاصله وه له دې وجې په خوب لیدونکي باندې چې په خوب کې کوم حالات تیر شو تاسو دهغه سره په ناسته هم د دې حالاتو نه بې خبره وئ، دغه شان ښه پوه شئ چې د ژوندیو او دمړو په مینځ کې ددنیااو دبرزخ فاصله ده،که چېرې مړوباندې دتیریدونکو حالاتو ژوندیوخلکوته احساس او شعورنه وي، نو د دې وجه دانه ده چې مړو ته څه ثواب اوعذاب نه کیږي، بلکې د دې وجه دا ده چې زموږ! اودهغوی دنیا بیله بیله ده، ځکه موږ ته دهغوی دحالاتو شعورنشته، اګرچې دهغوی بدن زموږ مخې ته پروت وي، تاسو چې کله عالم برزخ ته ورسیږئ ،هلته به تاسوته مشاهده وشي چې د فرعون همدې بدن ته عذاب ورکول کیږي،کوم چې زموږ مخې ته پروت دی، خو داعذاب زموږ دمشاهدې نه اوچت دی، څنګه چې بیدار سړی د ویده کیدونکي دحالاتو نه خبر نه دی، خو دخوب بیانونکي په اعتماد باندې دهغه خوب تسلیموي، دغه شان اګرچې موږ د قبر او دبرزخ دحالاتو نه خبر نه یو، خو دنبي علیه السلام په بیان باندې اعتماد

کوو او په هغه باندې مونږ ايمان راوړی دی. ديوشي نه يوازې په دې وجه باندې انکار کول چې هغه زمونږ په مشاهده کې نه دی، نو دا عقلمندي نه ده. ناپوهي ده.

قران کريم کې دي چې ملك الموت روح قبض کوي. خلک زمونږ په مخکې مري مونږ کله هم ملك الموت په روح قبض کولو نه دی ليدلی. خو دا زمونږ د مشاهدې نه ډير اوچت شی دی، له دې وجې په صاحب وحي صلی الله عليه وسلم باندې اعتماد کوو او له مشاهدې پرته يې منو.[1]

حضرت جبرايل عليه السلام به نبي کريم ﷺ ته تشريف راوړ او په ګينتو ګينتو به يې ورسره خبرې کولې، خو صحابه کرامو ته نه دهغه شکل په نظر راتلو نه به يې دهغه خبرې اوريدلې. يوازې د رسول الله ﷺ په اعتماد باندې به يې د جبرايل عليه السلام په نزول باندې ايمان لاره.

وروسته چې کله مونږ دالله تعالی وجود دهغه فرښتې، تيرشوي نبيان دهغوی کتابونه، اخرت، حشر، نشر، حساب، کتاب، جنت او دوزخ. غرض دا چې بې شماره غيبي حقائق چې زمونږ د مشاهدې نه بهر دي له ليدو پرته يوازې دنبي کريم ﷺ په اعتماد باندې منلی شو او منو يې، زه نه پوهيږم چې دبرزخ او دقبر حالات په نبي عليه السلام باندې اعتماد کولو سره ولې ونه منو، دلته دخپلې مشاهدې حواله ولې ورکړو؟[2]

دقبر دحالاتو تعلق دعالم برزخ سره دی، چې دعالم غيب شی دی ايمان والاچې څنګه نورو غيبي حقيقتونو باندې دنبي عليه السلام په اعتماد سره ايمان راوړي، دغه شان د قبر او د برزخ په هغه حالاتو باندې هم ايمان لري چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:

"اَلَّذِيۡنَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡغَيۡبِ" دا دايمان لرونکو اول صفت دی او دغيب نه مراد هغه حقيقتونه دي چې زمونږ دعقل او مشاهدې نه پناه دي، دايمان اول شرط دادی چې دا غيبي حقيقتونه دنبي کريم ﷺ په اعتماد سره ومنل شي.

---

۱] قُلْ يَتَوَفّٰكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِىْ وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ(السجدة: ۱۱)الامرالرابع ان الله سبحانه جعل امر الآخرة وما كان متصلا بها غيبا وحجبها عن ادراک المكلفين فى هذه الدار، وذلک من كمال حكمته، وليميز المؤمنون بالغيب من غيرهم....ثم يمد الملک يده الى الروح فيقبضها ويخاطبها والحاضرون لايرونه، ولايسمعونه، ثم تخرج فيخرج لها نور مثل شعاع الشمس......والحاضرون لايرون ولايشمونه.(كتاب الروح ص: ۹۰، ۹۱، المسئلة السابعة)

۲] (الامر السابع)ان الله سبحانه وتعالى يحدث فى هذه الدار ماهو اعجب من ذلک، فهذا جبريل كان ينزل على النبى صلى الله عليه وسلم ويتمثل له رجلا، فيكلمه بكلام يسمعه ومن الى جانب النبى صلى الله عليه وسلم لايراه ولايسمعه، وكذلک غيره من الانبياء، واحيانا ياتيه الوحى فى مثل صلصلة الجرس ولايسمعه من الحاضرين......والله سبحانه قد حجب بنى آدم عن كثير مما يحدثه فى الارض وهو بينهم وقد كان جبريل يقرى النبى صلى الله عليه وسلم، ويدارسه القرآن والحاضرون لايسمعونه وكيف يستنكر من يعرف الله سبحانه ويقر بقدرته، ان يحدث حوادث يصرف عنها ابصار بعض خلقه حكمة منه...لخ.(كتاب الروح ص: ۹۹ المسئلة السابعة)

دصحیح مسلم په حدیث کې دي چې نبي ﷺ وفرمایل: "که چېرې داخطره نه وي چې تاسو به (دویرې له دوجې) مړي خښ نه کړئ مابه الله تعالی نه دعا کړې وه چې تاسو ته دقبرهغه عذاب واوروئ کوم چې زه اورم". مشکوة ص۲۵).[۱]

ستاسو دویمه شبه داده چې ډیرخلک سوځول کیږي، ځینې دځناورو او مایانو مړی جوړه شي دهغوی په قبرکې دخښولو موقعه هم نه وي، نوهغوی ته عذاب چېرته ورکول کیږي؟

داشبه هم ډیره بې وزنه ده، دمړي اجزاء که هرچېرته چې بیل بیل شي هغه داالله پاک دعلم نه خوغائب کیدای نه شي، په صحیح بخاري کې دهغه سړي واقعه ذکر شوې ده چې دمرګ په وخت یې خپلو زامنوته وصیت کړی و چې: دمرګ نه وروسته ماوسوځوئ، نیمه ایره مې په هواکې والوزوئ اونیمه په دریاب کې تویې کړئ ،ځکه چې زه ډیرګنهګار یم،که چېرې دالله پاکّ په لاس (قدرت) کې راغلم، نوماته به سخته سزاراکړي، دمرګ نه وروسته زامنودهغه په وصیت باندې عمل وکړ الله تعالی د اوچې او لوندې اجزا جمع کړل هغه یې ژوندی کړو اوپوښتنه یې ترې وکړه چې تا دا وصیت ولې کړی و؟[۲]

که چېرې دالله تعالی دا قدرت منلی کیږي چې هغه په هواکې د الوزول شویو او په دریاب کې دتویې شوي اجزاء جمع کولی شي، نو یقین وساتئ چې هغه داسې سړي ته په برزخ کې ثواب او عذاب ورکولوباندې هم قادر دی، خو که چېرې څوك درسول الله ﷺ مسلسلو اومتواترو وینااوو باندې هم ایمان نه لري، دصحابه کرامو ﷺ نه واخله ترننه پورې دټول امت اکابر امت اجماعي عقیدې هم لغوه ګڼي اوهغه ته دالله تعالی په محیط علم اوکامل قدرت کې هم شك شبه وي هغه ته اختیار دی چې دقبر او برزخ دعذاب او ثواب نه په شوق سره انکار وکړي چې کله هغه پخپله ددې منزل نه تیرشي هغه وخت به دا غیبي حقیقتونه دهغه په مخکې ښکاره شي، خو هغه وخت به منل بې کاره وي.

په دې کې څه شك دی چې مړی ددې دنیا والو په حق کې واقعي مړ دی، خو ددې نه دا څنګه ثابته شوه چې هغه کې دبرزخ دعذاب اوثواب شعورهم نشته، هرکله چې موږ په دې دنیاکې وینو چې بیدارو خلکو ته د ویدو خلکو دحالاتو شعور نشته او ویده دبیداري دحالاتو نه دناخبري عالم ته ځي، خو دخوب دحالاتو نه هغوی بې خبره نه وي، نو دغه شان ولې ونه ګڼل شي چې مړوته د برزخي حالاتو پوره شعوردی، اګرچې موږ ته دهغوی دشعور، شعورنشته ،

---

۱] عن زید بن ثابت......فقال ان هذه الامة تبتلی فی قبورها فلولا ان لا تدافنوا لدعوت الله ان یسمعکم من عذاب القبر الذی اسمع منه.(مشکوة ص:۲۵،باب اثبات عذاب القبر)_

۲] عن حذیفة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:کان رجل ممن قبلکم یسئ الظن بعمله فقال لاهله: اذا انامت فخذونی، فذرونی فی البحر فی یوم عاصف،ففعلوا به فجمعه الله وقال:ما حملک علی الذی صنعت؟قال: ماحملنی الامخافتک! فغفرله.(صحیح البخاری،باب الخوف من الله ج:۲ ص:۹۵۹)_

" ولكن لاتشعرون" کې هم دې حقيقت طرف ته رهنمايي شوې ده.

ستاسو څلورمه شبه دا وه چې په قران کريم کې فرمايل شوي دي چې تاسو هغه خلک نه شئ اورولئ .چې په قبرونو کې دي، بالکل په ځای او صحيح ده، خو په دې ايت کريمه کې خو دا فرمايل شوي دي چې قبر والو ته اورول زموږ د قدرت نه بهر دي داخونه ده چې داخبره دالله تعالى دقدرت نه هم بهرده نه دا چې په مړو کې د څه شی د اوريدو صلاحيت نشته[۱]. د قبر مړي د دنيا دخلکو خبرې اوري يا نه اوري، په دې مسئله کې دعلماوو اختلاف دصحابه وو د دور نه ترننه پورې راروان دی، خو ددې ايت کريمه نه داګڼل چې مړي ته دقبر او برزخ دحالاتو شعور هم نه وي په اهلِ حقو کې ددې هيڅوك قائل نشته.

امام ابوحنيفه رحمه الله " الفقه الاکبر" کې فرمايي:

اوپه قبرکې د منکرنکيرسوال کول حق دي اوبنده ته روح واپس کول حق دي او دقبر (په مړي باندې ديو طرف په بل طرف) راتلل حق دي اودقبرعذاب دټولوکافرانوله پاره اوځينې مسلمانانو له پاره حق دی، ضرور به وي.(شرح فقه اکبر ص.۱۲۱،۱۲۲).[۲]

## د قبر د عذاب په سلسله کې د يوڅو شبهاتو جوابونه

**سوال:** ديوسوال په جواب کې چې دقبردعذاب باره کې و، تاسوجواب کې ليکلي و چې: دقبرعذاب حق دی، قران کريم کې ددې اجمالي طور باندې ذکرموجوددی.

محترم! تاسودخپل جواب په حواله باندې ددې سوالونو جواب راکړئ، ډېره مهرباني به مو وي.

**سوال:** ۱: هغه قراني ايتونه لږ وښيئ، کوموکې چې دقبردعذاب ذکردی، ځکه چې تاسو پخپله باندې ليکلي دي چې قران شريف کې ددې اجمالي طورباندې ذکرموجوددی.

**سوال:** ۲: دادقبرعذاب ايايوازې دمسلمانانوله پاره خاص دی؟ دهغوی سره څه کيږي کوم چې خپل مړي وسځوي؟ خاص طورباندې هندوان، اياهغوی ته دقبرعذاب نه کيږي؟ اوکه نه کيږي نوولې نه کيږي؟ که چرې کيږي، نوپه څه حالت کې ورته کيږي؟

**سوال:** ۳: مسلمانانوباندې دکرم ددې نظرڅه خاص وجه؟ ياداسې وګڼئ چې هرهغه قوم باندې کوم چې خپل مړي خښنوي؟ ددې څه وجه ده؟

---

۱] اما قوله تعالى:وما انت بمسمع من فى القبور،فسياق الآية تدل على ان المراد منها ان الكافر الميت القلب لاتقدر على اسماعه اسماعا ينتفع به....وهذا حق ولكن لاينفى اسماع الارواح بعد الموت اسماع توبيخ وتقريع بواسطة تعلقها بالابدان فى وقت ما،فهذا غير الاسماع المنفى والله اعلم.(كتاب الروح ص:٦٥ المسئلة السادسة)

۲] وسؤال منكرونكير....حق....واعادة الروح...الى العبد....حق.....وضغطة القبر.....حق..... وعذابه ..... حق كائن للكافر كلهم اجمعين ولبعض عصاة المسلمين.(شرح فقه اكبر ص:١٢١،١٢٢ طبع مجتبائى دهلى)

**سوال:** ۴ قران شریف کې ما شوم ته د پیو ورکولو وخت او ښځې خوږې ډېرې خبرې هم بیان شوي دي، بیا د دومره اهمې مسئلې اجمالي حیثیت ولې؟

**سوال:** ۵ تاسو جواب کې مخکې لیکلي دي

"د نیکو او بد عملو نو څه نا څه سزا او جزا دې دنیا کې ورکول کیږي او څه قبر کې، پوره به اخرت کې ورکول کیږي، د دنیوي او د قبر سزا باوجود د کوم کس چې د بدو تله درنه وي، هغه ته به دوزخ کې سزا ورکول کیږي. که الله تعالی یې په خپل رحمت باندې معاف کړي. نو دا د الله تعالی خپل شان دی. په نورو الفاظو کې الله تعالی یو بادشاه دی. که د هغه زړه وغواړي، نو معاف به یې کړي. نو سوال دا دی که چرې یو نیک بنده نه الله تعالی خفه شي. نو هغه به هم دوزخ کې واچوي. دا خو بادشاهت دی، د څه قانون (آئین) مطابق خو نه دی. که د هغه خو بنه ده. نو دا سې به ولې نه کیږي چې نیک بنده به دوزخ کې سوځي؟ بادشاهت کې خو داسې کیږي. لږ وضاحت یې وکړئ.

**سوال:** ۶ کله چې د قبر عذاب له خپله لاسه دی. نو قبر کې ثواب ولې نه ورکول کیږي؟ ګناهګارو ته خو سزا ورکول کیږي، نیکو بندګانو ته جزا ولې نه ورکول کیږي؟

**سوال:** ۷: دالله تعالی فطرت او قانون د ټول انسانیت له پاره یو شان دی، قران مجید کې څو څو ځله ذکر شوي یې چې دالله تعالی فطرت نه بدلیږي. نو بیا دا سې ولې دي، چې څوک خښ شي هغه ته ستاسو جوړې شوې فرښتې راشي او څوک چې وسوځول شي د هغه مزې دي.

**سوال:** ۸: ایا د مسلمان په حیثیت باندې زه داسې وصیت کولی شم. چې له مرګ نه وروسته د قبر د عذاب نه د بچ کید وله پاره مامه خښوئ. بلکه ومې سوځوئ؟

**سوال:** ۹: د فرعون لاش د نورو فراعینو سره صحیح سلامت موجود دی، د هغه د قبر د عذاب باره کې ستاسو څه خیال دی؟

**سوال:** ۱۰: د قبر عذاب روح ته ورکول کیږي او که بدن ته؟ دا به څنګه ثابتوو او په کوم معیار باندې؟

**سوال:** ۱۱: یورپ کې نن سبا د پرمړي د تجربو له پاره د ډېر وخت پورې د شیشو په مرتبانونو کې محفوظ ساتل کیږي، د هغوی د قبر د عذاب باره کې مو څه خیال دی؟

**سوال:** ۱۲: د قبر د عذاب څه ضرورت دی؟ ګناهګار به دوزخ ته هسې هم ځي، نو هغوی ته دا اضافي "بونس" ورکولو څه ضرورت دی؟ ایا د دوزخ عذاب کافي نه دی؟

**جواب:** سوره مؤمن کې دي: ...اَلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا ۖ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿٤٦﴾ وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي النَّارِ فَيَقُولُ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِّنَ النَّارِ ﴿٤٧﴾ . (سوره مومن ۴۲، ۴۷)

**ترجمه**: اور په هغوی سهار او ماښام وړاندې کيږي او په کومه ورځ به چې قيامت قائم شي، حکم به وشي چې داخل کړئ فرعون او دهغه اهل دسخت نه سخت عذاب ته او کله به چې خپلو کې جګړې کوي، په اورکې دننه، دکمزور غرور کونکوله پاره مونږ تابع وو، بيا به تاسو زمونږ نه دعذاب څه برخه اوچته کړئ؟ (ترجمه شيخ الهند رحمه الله)

او سورت نوح کې دي:

,,مِّمَّا خَطِيٓـَٔـٰتِهِمْ أُغْرِقُوا۟ فَأُدْخِلُوا۟ نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا۟ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَنصَارًا ﴿٢٥﴾،، (سورت نوح ۲۵)

**ترجمه**: هغوی ته دخپلو ګناهونوله وجې څه سزاورکړل شوه، بيا په اورکې واچول شول او هغوی دخپل ځان له پاره دالله تعالى نه پرته څوک مددګارونه موندل. (ترجمه حضرت شيخ الهند رحمه الله)

**جواب: ۲، ۳**: مسلمانانوسره خاص نه دی، کافرانوته هم ورکول کيږي[۱] او کوم مړی چې وسوځول شي هغوی ته هم ورکول کيږي.[۲]

**جواب: ۴**: دلمانځه په شان اهم شی چې ددين غټ رکن دی، دهغه هم اجمالي طورباندې ذکردی، دَ رکعتونو تعداد اود لمانځه کولوطريقه نه فرمايل شوې، دلمانځه نه وروسته دويم غټ رکن زکات دی، دهغه هم اجمالي طورباندې ذکردی[۳]، دزکات مقدار، شرطونه اوکوم کوم مال باندې زکات فرض دی؟ دهغو ذکرنشته. دريم رکن روژه ده، دهغه هم مکمل تفصيلات نه دي ذکرشوي[۴]، څلورم رکن حج دی، دهغه تفصيلات هم ترتيب سره ذکرنه دي[۵]، دقران کريم کومه تشريح چې صاحب قرآن کړې ده، هغې باندې امت له پاره عقيده

---

۱] والقرآن والسنة تدل على خلاف هذا القول،وان السوال للكافر والمسلم،قال الله تعالى:(يثبت الله الذين امنوابالقول الثابت فى الحيوة الدنيا وفى الآخرة،ويضل الله الظلمين ويفعل الله مايشآء)وقد ثبت فى الصحيح انها نزلت فى عذاب القبر حين يسال:من ربک؟وما دينک؟ومن نبيک؟وفى الصحيحين عن انس بن مالک عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال:ان العبد اذا وضع فى قبره وتولى عنه اصحابه انه يسمع قرع نعالهم،وذكر الحديث. زاد البخارى:واما المنافق والكافر فيقال له:ماكنت تقول فى هذا الرجل؟فيقول:لاادرى!كنت اقول مايقول الناس،فيقال:لادريت ولاتليت،ويضرب بمطرقة من حديد يصيح صيحة يسمعها من يليه الاالثقلين، هكذا فى البخارى...الخ.(كتاب الروح ص:۱۱۶،المسئلة الحادية عشرة).مزيد تفصيل دپاره اوګورئ: مذكوره كتاب ص:۱۱۶تا۱۱۹)۔

۲] قال الامام النووى:مذهب اهل السنة اثبات عذاب القبر....ولايمنع من ذلک كون الميت قد تفرقت اجزاؤه كما يشاهد فى العادة او اكلته السبع والطيور وحيتان البحر لشمول علم الله تعالى وقدرته...الخ.(مرقاة شرح مشكوة ج:۱ ص:۱۶۳،باب اثبات عذاب القبر)۔

۳]مثلاً : اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ(البقرة:۴۳) ايضا : قال تعالى : اَلَّذِيْنَ يُؤمِنُوْنَ بِالْغَيبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ(البقرة : ۳)۔

۴]يٰاَيُّها الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ (البقرة: ۱۸۳)۔

۵]قال الله تعالى : وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

ساتل او عمل کول واجب دي، څنګه چې د الله تعالی ارشاد دی (**ثم ان علینا بیانه**) (بیا زمونږ په ذمه مقرر دي، هغه واضحه کول او سره بیانول) همدغه شان
(**وما اتاکم الرسول فخذوه**) (او څه چې تاسو ته رسول ﷺ درکوي واخلئ) او د الله تعالی قول دی، (**وما ارسلنا من رسول الا لیطاع باذن الله**) (او مونږ یو رسول هم نه دې لیږلی یوازې ددې له پاره چې د الله تعالی حکم ومنئ د الله تعالی په فرمایلو باندې) **الی غیر ذالک من الایات الکثیرة.**
**جواب: ۵**: قران کریم کې الله تعالی ته ملک الناس او مالک الملک فرمایل شوي دي، ایا د الله تعالی په بادشاه کېدو کې هم تاسو ته اعتراض دی؟ او دا خبره زما د کوم تقریرنه لازم راځي چې سزا و جزا د قانون نه پرته ده؟
**جواب: ۶**: قبر کې ثواب هم ورکول کیږي، د حضور ﷺ وینا ده، قبر د جنت په باغونو کې یو باغ دی، یا د دوزخ په کندو کې یوه کنده ده.[۱]
**جواب: ۷**: پورته مې بیان کړي دي چې د خنبیدونکي او سوزیدونکي په مینځ کې فرق کول غلط دي، ټولو ته د قبر عذاب ورکول کیږي، هو! دا زمونږ د عقل او پوهې نه بهر شیان دي، کوم چې یوازې انبیاء **علیهم السلام** ته د وحې په ذریعه باندې معلومیدای شي او فرښتې (نعوذ بالله) ماخپله نه دي جوړې کړې، بلکې الله تعالی جوړې کړې دي، چې د هغوی د وجود خبر مونږ ته حضور ﷺ راکړی دی[۲]، که چرې تاسو د حضور ﷺ په ارشاداتو باندې د ایمان راوړلو له پاره تیار نه یئ، نو انتظار وکړئ، هغه وخت د برزخ راروان دی، کله به چې تاسو ته د قبر عذاب وښودل شي او د هغه تجربه به مو وشي، هغه وخت کې به مو یقین راشي، خو افسوس! چې هغه وخت کې به ایمان راوړل فائده نه ورکوي.
**جواب: ۸**: زه خو د قبر د عذاب منکر صحیح مسلمان هم نه ګڼم[۳]، ځکه چې هغه د قران کریم او د حضور ﷺ د ارشاداتو نه پرته د مسلمان امت د متفقې عقیدې د خپل جهالت او نادانۍ په وجه باندې انکار کوي[۴]. او دا مې هم ویلي دي که لاش محفوظ وي، خراب شي، یا وسوځول

...بقیه د تیر مخ]... (آل عمران: ۹۷)، وقال الله تعالى : وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لله،، (البقرة: ۱۹۶)_

۱] عن ابي سعيد قال.....قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:انما القبر روضة من رياض الجنة او حفرة من حفر النار.(ترمذى ج:۲ ص:۶۹،ابواب صفة القيامة،طبع دهلى)_

۲]عن ابي هريرة قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:اذا اقبر الميت اتاه ملكان اسودان ازرقان،يقال لاحدهما المنكر وللآخر النكير...الخ.(مشكوة ص:۲۵،باب اثبات عذاب القبر)_

۳]جحد احد وعدا او وعيدا ذكره الله تعالى فى القرآن عند الفزع فى القبر وفى القيامة يكفر.....وكذلك لو قال لااعترف عذاب القبر فهو كافر.(الفتاوى التاتار خانية ج: ۵ ص: ۳۴۰،طبع رشيديه كوئته)_

۴](الاصل الثالث)عذاب القبر وقد ورد الشرع به قال الله تعالى النار....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

شي، یوحالت هم هغه دقبردعذاب نه نه شی بچ کولی، ددې باوجود که چیرې تاسو د سوځولو وصیت کوئ، (نعوذبالله) نوتاسوته به ښه پته وي، ایاددې په ځای باندې داسان کارنه دی چې ایمان بالغیب په طورباندې تاسوداعقیده ومنئ، که چیرې قبرکې په رښتیا باندې عذاب وي، نوتاسوبه بچ شئ اوکه نه وي نوستاسوهیڅ نقصان نشته.

**جواب:** ۹: دفرعون لاش ته هم عذاب ورکول کیږي، دقران کریم کوم ایتونو حواله چې پورته ورکړل شوه، هغه هم دفرعون اودال فرعون باره کې دی.

**جواب:** ۱۰: دقبرعذاب له څه واسطې پرته روح ته وي اوواسطې سره بدن ته هم، څنګه چې ددنیا تکلیف پرته دڅه واسطې نه بدن ته او واسطې سره روح ته وي اومعیاریې احادیث شریفه دي.[۱]

**جواب:** ۱۱: ددې باره کې به هم هغه څه ووایم، څه مې چې نمبر۹ کې ویلي دي، هغوی ته هم عذاب ورکول کیږي، خوما اوتاسوته دهغې پته نه لګیږي، څنګه چې خوب لیدونکي باندې څه تیریږي،هغه سره خوا کې ناستو خلکوته دهغه پته نه لګیږي.

**جواب:** ۱۲: زما او ستاسوکاردالله تعالی اودهغه د رسول ﷺ په خبره باندې ایمان راوړل دي، دهغه دکارونو ضرورتونه ښودل نه، کله به چې قبرکې فرښتې عذاب درکوي، نوپوښتنه ترې نه وکړئ چې ددې څه ضرورت دی؟ نیغ مې دوزخ ته ولیږئ، دااضافي "بونس، ولې راکول کیږي؟

**نصیحت:** سوالونوباندې بدنه ګڼل کیږي، خوسرې ته دګستاخي لهجه نه دي اختیارول پکار،خاص طور باندې دالله تعالی اورسول ﷺ خبرې باندې د ګستاخي لهجه اختیارول دایمان خلاف دي. والله اعلم

## د قبر د عذاب وجوهات

**سوال:** جناب مولاناصاحب! مسئله داسې ده چې ماد۲۳ دسمبر ۱۹۹۱ء په جنګ اخبارکې دا خبرولوست:

---

...بقیه د تیر مخ]... یعرضون علیها غدوًا وعشیًا....: واشتهر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم والسلف الصالح الاستعاذة من عذاب القبر،وهو ممکن فیجب التصدیق به. (احیاءعلوم الدین ج:۱ ص:۱۱٤،طبع دار المعرفة،بیروت)۔

۱] بل العذاب والنعیم علی النفس والبدن جمیعا باتفاق اهل السنة والجماعة.(کتاب الروح ص:۷۲المسئلة السادسة). ایضا:وجعل احکام البرزخ علی الارواح والابدان تبعا لها،فکما تبعت الارواح الابدان فی احکام الدنیا فتالمت بالمها والتذت براحتها....والارواح هناک ظاهرة والابدان خفیة فی قبورها تجری احکام البرزخ علی الارواح فتسری الی ابدانها نعیما او عذابا..الخ.(کتاب الروح ص:۸۹المسئلة السابعة،طبع دار الکتب العلمیة، بیروت)

"دوه ځله دلحد ځمکه سره یوځای شوه، په دریم ځل باندې ماران اولړمان راووتل، دوه ماران دمړي نه تاوشول اوهغه یې دوه برخې کړ، دراولپنډۍ سره نژدې دمړي عبرت ناک خښیدل.
راولپنډۍ (جنګ رپورټ) یوځوورځې مخکې پیرودهایي د روالپنډۍ پخوانۍ ادیرې کې عبرت ناکې اودیقین نه بهرواقعې دمړي خښولوته راتلونکي سوونوکسانوباندې ویره تیره کړه، د تفصیلاتومطابق دیوسړي مړی چې څنګه قبرته کوزکړل شو، دلحد ځای والا ځمکه په خپلوکې داسې سره یوځای شوه، لکه چې بالکل کنستل شوې نه وه، هلته دیوعالم په هدایت باندې بل ځای کې قبر وکنستل شو، خوبیاهم هغه شان وشو، دې باندې ټولوخلکو د استغفار ورد شروع کړ، د ملاصاحب په هدایت باندې دلحدکنستلو بیا کوشش شو، نو دهغه ځای ماران لړمان او مختلف قسمه چنجي داسې راوتل شروع شولکه دچینې نه چې اوبه راوځي د ملاصاحب په هدایت باندې مړی قبرته کوزکړل شو، دمړي قبرته خښولوسره یو مار دمړي دملادلاندې طرف نه اوبل دپورته طرف نه، دمړي له پاسه راغی اودواړه ماران خپلوکې ملاوشول اوهماغه وخت کې یې مړی په دوه برخوکې تقسیم کړ، لکه چې چاپه اره باندې کټ کړی وي، دامنظرلیدوسره مړي سره راغلي په سوونو خلکو باندې ویره راغله.
ماباندې دېرعجیبه حالت دی اوسوچ کوم، چې هغه کس به داسې څنګه ګناهونه کړي وي چې دهغو له وجې هغه ته الله تعالی داسې سزا ورکړه، حالانکې دنن سباپه معاشره کې ګناهونه عام دي، خواخرڅه وجه وه چې الله تعالی هغه ته داسې سزاورکړه؟ بې شکه دالله تعالی هیمشه الله تعالی ته معلوم وي، خوکه چیرې دې باره کې په څه کتاب کې یاستاسوپه علم کې څه وي، نو ضرورېې ووایئ.

**جواب:** دقبردعذاب وجه ګناهونه دي، کوم کس چې دېرسختنه کبیره ګناه کړي وي، نودتوبې نه پرته مړشي، هغه ته به قبرکې خطرناک عذاب ورکول کیږي، خاص طورباندې کوم کس چې اعلانیه طورباندې پرته دڅه شرم نه ګناهونه کوي شرعي حکمونوپسې خندا کوي، یادکمزوروخلکوحقونه وهي، دهغه باره کې زیاته ویره ده، الله تعالی دې هرمسلمان په خپله پناه کې وساتي احادیثواو روایتونوکې دګناهګاروخلکودقبرپه عذاب کې مبتلاکیدل ذکر شوي دي، دهغې نه یوڅوواقعې نقل کوم:

## (۱_۲) چغل خوري اومتیازونه ځان نه ساتل

دېرو احادیثوکې دامضمون راغلی دی چې حضور ﷺ د دوو قبرونوخواکې تیرشو، نو حضور ﷺ وفرمایل چې دې دواړو قبرونو والوته عذاب ورکول کیږي اوپه څه غټه خبره باندې ورته عذاب نه ورکول کیږي (چې دهغې نه بچ کیدل ګران و) یوخوبه یې چغل خوري

کوله او دویم به يې له متیازونه ځانونه نه ساتل[1]
د دې مضمون ډېر احادیث د ډېرو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین نه روایت شوي دي

## (۳) مسلمان ناحق قتلول

ډېرو احادیثو کې دا واقعه نقل شوې ده چې یو جهاد کې یو صاحب (چې دهغه نوم محلم بن جثامه و) یو کس د کلمې لوستلو باوجود قتل کړ. څه ورځې وروسته هغه وفات شو. نو ځمکې دهغه مړې واپس کړ. بیا خښ کړل شو. خو بیا واپس کړل شو. حضور ﷺ ته د دې ذکر وکړای شو. نو حضور ﷺ وفرمایل چې ځمکه خو دده نه هم بدخلک پټوي. خو الله تعالی دا منظر تاسو ته دې له پاره وښود چې تاسو خپلو کې دحرامو شیانو (ساه، مال او عزت) اخیستلو باره کې نصحیت او عبرت حاصل شي (بیهقی دلائل نبوت ج ۶ ص ۳۰۹. مصنف عبدالرزاق ج ۱۱ ص ۱۷۳. ابن ماجه ص ۲۸۱. مجمع الزوائدج ۷ ص ۲۹٤)[2]

## ٤: د حضور ﷺ په نوم باندې دروغ ویل

په ډېرو احادیثو کې راغلي دي چې کوموخلکو د حضور ﷺ په نوم باندې دروغ ویلي دي، دهغوی بدنونه هم ځمکې نه دي قبول کړي. بلکې بهر یې راغورځولي دي. (صحیح بخاری ج ۱ ص ۵۱۱. صحیح مسلم ج ۲ ص ۳۷۰. بیهقی. دلائل نبوت ج ۶ ص ۲٤۵)[3]

---

۱] عن ابن عباس رضی الله عنهماقال:مر النبی صلی الله علیه وسلم بقبرین فقال:انهما لیعذبان وما یعذبان فی کبیر،اما احد هما فکان لایستتر من البول،وفی روایة لمسلم:لایستتره من البول،واما الآخر فکان یمشی بالنمیمة....متفق علیه.(مشکوة ص:٤۲ کتاب الطهارة،باب آداب الخلاء)۔

۲] عن عمران بن حصین.....الخ.....ان شئتم حدثتکم حدیثا سمعته من رسول الله صلی الله علیه وسلم، قالوا وانت سمعته من رسول الله صلی الله علیه وسلم؟نعم!قال:شهدت رسول الله صلی الله علیه وسلم وقد بعث جیشا من المسلمین الی المشرکین فلما لقوهم قاتلوهم قتالا شدیدا فمنحوهم اکتافهم فحمل رجل من لحمق علی رجل من المشرکین بالرمح فلما غشیه،قال:اشهد ان لا اله الا الله انی مسلم،فطعنه فقتله،فاتی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال:یا رسول الله!هلکت،قال:ومالذی صنعت؟مرة او مرتین،فاخبره بالذی صنع،فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم: فهلا شققت عن بطنه؟فعلمت مافی قلبه!قال:یارسول الله!لوشققت قلبه لکنت اعلم مافی قلبه،قال:فلا انت قبلت ماتکلم به ولاانت تعلم مافی قلبه، قال: فسکت عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم فلم یلبث الا یسیرا حتی مات فد فناه فاصبح علی ظهر الارض، فقالوا: لعل عدوا نبشه،فدفناه ثم امرنا غلماننا یحرسونه فاصبح علی ظهر الارض،فقلنا لعل الغلمان نعسوا،فدفناه ثم حرسناه بانفسنا فاصبح علی ظهر الارض،فالقینا فی بعض تلک الشعاب.(وفی روایة)......فاخبر النبی صلی الله علیه وسلم وقال:ان الارض لتقبل من هو اشرمنه ولکن الله احب ان یریکم تعظیم حرمة لا اله الا الله.(ابن ماجة ص:۲۸ واللفظ له،بیهقی ج:٦ ص:۳۰۹،مصنف عبدالرزاق ج:۱۱ ص:۱۷۳،مجمع الزوائد ج:۷ ص:۲۹٤)۔

۳] عن انس قال:کان رجل نصرانی فاسلم وقرا البقرة وآل عمران فکان یکتب لنبی الله صلی الله علیه وسلم فعاد نصرانیا فکان یقول:مایدری محمد الاماکتب له،فاماته الله فدفنوه....[بقیه حاشیه په راروانه

## ۵: د دروغو خبرې خوروول

صحيح بخاري کې د حضور ﷺ يو اوږد خوب ذکرشوی دی، (او د انبياء کرام عليهم السلام خوبونه هم وحې وي) په هغې کې د برزخ ډېر حالات هم ښودل شوي دي، هم هغه کې دي چې د دروغو خبرې خورونکو باره کې حضور ﷺ وليدل چې انبور باندې د هغوی يو سخوابنتی (وخکی) وشلول شي، بيا دويم وخکي سره هم دا معامله وشي، دومره وخت کې د هغه اول وخکی صحيح شوی وي، هغه بيا وشلول شي، د قيامت پورې به د هغه سره هم دا معامله کيږي.[1]

## ۲: د قران کريم نه غفلت

د قران کريم نه غفلت کونکي باره کې يې وليدل چې هغه پروت دی او يو کس سره غټ کاڼي دی او د هغه سرته ولاړ دی، هغه، په هغه کاڼي باندې د هغه سر د ومره زور سره وولي، چې

---

...بقيه د تير مخ]... فاصبح ولقد لفظته الارض فقالوا:هذا فعل محمد واصحابه لما هرب منهم نبشوا عن صاحبنافالقوا فحفروا له فاعمقوا له فى الارض مااستطاعوا فاصبح وقد لفظته الارض،فقالوا:هذا فعل محمد واصحابه نبشوا عن صاحبنا،فالقوه فحفروا له فاعمقوا له فى الارض ما استطاعوا فاصبح قد لفظه الارض فعلموا انه ليس من الناس فالقوه.(بخارى ج:۱ ص:۵۱۱واللفظ له،باب علامات النبوه فى الاسلام،ايضا مسلم ج:۲ ص:۳۷۰،دلائل النبوة ج:۶ ص:۲۴۵)_

۱] عن سمرة بن جندب قال:كان النبى صلى الله عليه وسلم اذاصلى صلاة اقبل علينا بوجهه فقال:من راى منكم الليلة رويا؟ قال :فان راى احد قصها،فيقول: ماشاءالله!فسالنا يوماًفقال:هل راى منكم احد رويا؟ قلنا :لا!قال :لكنى رايتى الليلة رجلين اتيانى،فاخذ بيدى،فاخر جانى الى ارض مقدسة،فاذا رجل جالس ورجل قائم بيده كلوب من حديد يدخله فى شدقه حتى يبلغ قفاه،ثم يفعل بشدقه الآخر مثل ذلك ويلتئم شدقه هذا فيعود فيصنع مثله،فقلت: ماهذا؟ قالا:انطلق!فانطلقنا حتى اتيناعلى رجل مضطجع على قفاه ورجل قائم على راسه بفهر او صخرة فيشدخ بهاراسه فاذا ضربه تدهدها الحجر فانطلق اليه لياخذه،فلا يرجع الى هذا حتى يلتئم راسه وعاد راسه كما هو،فعاد اليه فضربه،قلت:من هذا؟قالا:انطلق!فانطلقنا الى نقب مثل التنور اعلاوه ضيق واسفله واسع تستوقد تحته نار،فاذا اقترب ارتفعوا حتى كادوا يخرجون،فاذا خمدت رجعوا فيها،وفيها رجال ونساء عراة، فقلت: ماهذا؟ قالا:انطلق!فانطلقنا حتى اتينا على نهر من دم فيه رجل قائم، وعلى شط النهر رجل بين يديه حجارة،فاقبل الرجل الذى فى النهر،فاذا اراد ان يخرج رمى الرجل بحجر فى فيه فرده حيث كان،فجعل كلما جاء ليخرج رمى فى فيه بحجر فيرجع كما كان،فقلت:ماهذا؟قالا:انطلق!فانطلقنا حتى اتينا الى روضة.....قلت:طوفتمانى الليلة فاخبرانى عما رايت،قالا:نعم!اما الذى رايته يشق شدقه كذاب يحدث بالكذبة فتحمل عنه حتى تبلغ الآفاق فيصنع به الى يوم القيامة،والذى رايته يشدخ راسه فرجل علمه الله القرآن فنام عنه بالليل ولم يعمل فيه بالنهار،يفعل به الى يوم القيامة،والذى رايت فى النقب فهم الزناة،واما الذى رايته فى النهر فاكل الربا. (صحيح البخارى ج:۱ ص:۱۸۵،كتاب الجنائز،باب ماقيل فى اولاد المشركين،ايضا:بخارى ج:۲ ص:۱۰۴۳كتاب التعبير).ايضا قال ابن القيم(بعد ذكر هذا الحديث الطويل)وهذا نص فى عذاب البرزخ،فان رؤيا الأنبياء وحى مطابق لما فى نفس الامر.(كتاب الروح ص:۸۳المسئلة السادسة،شرح الصدور ص:۱۶۷باب فى القبر حساب)_

هغه کاڼي لري وغورځيږي، هغه کس هغه کاڼي بیاراوخلي اودغه دوران کې ددغه سړي سرجوړ شوی وي، دقیامت پورې به هغه سره همدا معامله کیږي.[۱]

## ۷: زنا

زناکاره ښځې اوسړي یې په تنورکې ولیدل، هغه تنور د لاندې نه خلاص اودپورته نه تنګ و، په هغه کې اوربلیده، کله به چې داورشغلې تیزې شوې، نوهغه خلک به دتنورخولې ته راغلل اوکله به چې اورلاندې کیناستلونوخلک به هم لاندې لاړل، دقیامت پورې به هغوی سره همدا معامله کیږي.[۲]

## ۸: سود خوړل

سودخوریې دې حالت کې ولیده چې هغه دوینې په نیر(نهر)کې ولاړدی اویوکس دنیرپه غاړه ولاړدی، چې دهغه مخې ته ډېرکاڼي دي، کله چې هغه سودخوردنیرغاړې ته راتلل غواړي، نوپه غاړه باندې ولاړسړی هغه په کاڼي باندې دومره زورسره وولي،چې هغه واپس خپل ځای ته لاړشي، دقیامت پورې به هغه سره همدا معامله کیږي.[۳]

امام بیهقي په دلائل نبوت (ج ۲ ص ۳۹۲) باندې دحضرت ابوسعیدخدري رضی الله عنه حدیث نقل کړی دی، په هغه کې یوڅو منظرونه وړاندې شوي دي، کوم چې حضور صلی الله علیه وسلم ته دمعراج په شپه باندې ښودل شوي و.(حکیم الامت مولانااشرف علي تهانوی رحمه الله په نشرالطیب ص ۵۰ مطبوعه تاج کمپنی) کې همداحدیث نقل کړی دی) هغه منظرونه دادي:

## ۹: حلال پریښودل اوحرام خوړل

ویې فرمایل: چې ومې لیدل چې یوڅو دسترخوانونه هوار شوي دي، هغو کې صفاغوښه پرته ده، خوهغو باندې یوکس هم نشته اونوروخوانچوکې خرابه شوې، بدبویه غوښه پرته ده، هغې ته ډېرخلک ناست اوخوری یې، جبرایل علیه السلام وویل، داهغه خلک دي کوموبه چې حلال پریښودل اوحرام به یې خوړل.[۴]

---

۱] ایضاً پورتنۍ حاشیه)_

۲] ایضاً پورتنۍ حاشیه)_

۳] ایضاً پورتنۍ حاشیه)_

٤] عن ابی سعید الخدری عن النبی صلی الله علیه وسلم (فی حدیث الاسراء):مضیت هنیة فاذا انا باخونة یعنی الخوان المائدة التی یوکل علیها لحم مشرح لیس یقربها احد،واذا انا باخونة اخری علیها لحم قد اروح ونتن عندها اناس یاکلون منها،قلت:یاجبریل من هؤلاء؟قال:هؤلاء من امتک یترکون الحلال ویاتون الحرام،ثم مضیت هنیة،فاذا انا باقوام بطونهم امثال البیوت کلما نهض احدهم خریقول :اللهم لاتقم الساعة،قال:وهم علی سابلة آل فرعون.. ...قلت:یاجبریل!من هؤلاء؟قال:هؤلاء من امتک الذین یاکلون الربا.....ثم مضیت هنیة فاذا انا باقوام مشافرهم کمشافر الابل،قال:فتفتح علی افواههم....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

## ۱۰: سود خوړونکي

مخکې یې ولیدل چې ځینې خلک دي چې دهغوی خیټې ډېرې غټې دي، هغوی کې به چې چا پورته کېدل وغوښتل، نوبیابه راپریوتل، حضرت جبرایل علیه السلام وویل: چې دوی سودخوړونکي دي.[۱]

## ۱۱: د یتیمانو مال خوړونکي

مخکې یې ولیدل چې خلک دي چې دهغوی شونډې د اوښانو په شان دي اوهغوی داور سکروټې تیروي، کومې چې دهغوی دمتیازوپه ځای باندې راوځي، جبرائیل علیه السلام وویل چې داهغه خلک د کوموبه چې دیتیمانومالونه په ناحقه خوړل.[۲]

## ۱۲: بدکارې ښځې

مخکې یې ولیدل چې څه ښځې دسینونه ځوړندې شوې دي، جبرایل علیه السلام وویل چې: دازناکونکې بدکاره ښځې وې.[۳]

## ۱۳: چغل خوراوعیب لټونکي

مخکې یې ولیدل چې څه خلک دي چې دهغوی دبدنونونه دغوښې ټکړې په هغوی باندې خوړل کیږي، جبرایل علیه السلام وفرمایل چې دوی غیبت کونکي، چغل خواره اودخلکوعیب لټونکي خلک دي.[۴]

امام بیهقي رحمه الله په دلائل نبوت (ج ۲ ص ۳۹۸) کې دمعراج واقعاتوکې دحضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث نقل کړی دی، (کوم چې نشرالطیب کې دشپږمې واقعې لاندې نقل شوی دی) هغه کې ددې منظرونوذکردی.

---

...بقیه د تیر مخ]... ویلقون ذلک الحجر،ثم یخرج من اسافلهم......فقلت:یاجبریل!من هؤلاء؟ قال:هؤلاء من امتک یاکلون اموال الیتامی ظلما.....قال:ثم مضیت هنیة فاذا انا بنساء یعلقن بثدیهن فسمعتهن یصحن الی الله عزوجل،قلت:یاجبریل!من هؤلاء النساء؟قال:هؤلاء الزناة من امتک.قال:ثم مضیت هنیة فاذ انا باقوام تقطع من جنوبهم اللحم،فیلقمون،فیقال له:کل کما کنت تاکل من لحم اخیک،قلت:یاجبریل!من هؤلاء؟قال:هؤلاء الهمازون من امتک اللمازون.(دلائل النبوة ج:۲ ص:۳۹۲ واللفظ له،باب الدلیل علی ان النبی صلی الله علیه وسلم عرج الی السماء،طبع المکتبة الاثریة)

۱] ایضاً پورتنۍ حواله.

۲] ایضاً پورتنۍ حواله.

۳] ایضاً پورتنۍ حواله.

۴] ایضاً پورتنۍ حاشیه.

## ۱۴: فرض لمونځ پریښودل

ويې فرمايل: بيا يو داسې قوم باندې تيرشو، چې د هغوى سرونه په كاڼو باندې ماتيږي او كله به چې هغه مات شول، نو بيا به خپل حالت ته راغلل او دا سلسله به لړوخت له پاره هم نه بنديده. حضور ﷺ د جبرايل عليه السلام نه پوښتنه وكړه، چې دا څه معامله ده؟ جبرايل عليه السلام وويل چې، دا هغه خلک دي كوم به چې فرض لمونځ نه كولو او په هغه كې به يې سستي كوله.[۱]

## ۱۵: زكات نه وركونكي

ويې فرمايل، بيا يو داسې قوم باندې تيرشو، چې د هغوى شرمګاهونو باندې مخكې او وروسته چيرانګې تړل شوي وي او هغوى د څارويو په شان څريدل او زقوم او د دوزخ كاڼي يې خوړل. حضور ﷺ پوښتنه وكړه، دا كوم خلک دي؟ جبرايل عليه السلام وويل چې، دا هغه خلک دي كوم به چې خپل مالونو كې زكات نه وركاوو او الله تعالى هغوى باندې ظلم نه و كړى او ستاسو رب په چا باندې ظلم نه كوي.[۲]

## ۱۶: پردو ښځو سره اشنايي كول

ويې فرمايل، بيا يو داسې قوم باندې تيرشو، چې د هغوى مخكې په يوې كټوى كې پخه شوې غوښه پرته ده او يوې كټوى كې كچه(خامه) غوښه پرته ده، هغه خلک سخا شوې غوښه

---

۱] عن ابى هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال فى هذه الآية:سبحن الذى اسرى بعبده ليلا من المسجد الحرام.....ثم اتى على قوم ترضخ رؤوسهم بالصخرة كلما رضخت عادت كما كانت لايفتر عنهم من ذلک شيئا فقال:ياجبريل!من هؤلاء؟قال:هؤلاء الذين تتثاقل رؤوسهم عن الصلاة،قال:ثم اتى على قوم على اقبالهم رقاع وعلى ادبارهم رقاع يسرحون كما تسرح الانعام على الضريع الزقوم،ورضف جهنم وحجارها،قال:ماهؤلاء ياجبريل؟ قال:هؤلاءالذين لايؤدون صدقات اموالهم وما ظلمهم الله،وما الله بظلام للعبيد،ثم اتى على قوم مر بين ايديهم لحم فى قدر نضج ولحم آخر خبيث،فجعلوا ياكلون من الخبيث ويدعون النضيج الطيب،فقال:ياجبريل!من هؤلاء؟قال:هذا الذى يقوم وعنده امراة حلالا طيبا فياتى المراة الخبيث فتبيت معه حتى تصبح.......ثم مر على رجل قد جمع حزمة عظيمة لايستطيع حملها وهو يزيد عليها قال:ياجبريل!ما هذا؟قال:هذا رجل من امتک عليه امانة لايستطيع ادائها وهو يزيد عليها.ثم اتى على قوم تقرض السنتهم وشفاههم بمقاريض من حديد،كلما قرضت عادت كما كانت، ولايفتر عنهم شى،قال:ياجبريل!من هؤلاء؟قال:هؤلاء خطباء الفتنة،ثم اتى على جحر صغير يخرج منه ثور عظيم فجعل الثور يريد ان يدخل من حيث خرج ولايستطيع، قال:ماهذا ماهذا ياجبريل؟قال:هذا الرجل يتكلم بكلمة فيندم عليها فيريد ان يردها فلا يستطيع.(دلائل النبوة واللفظ له ج:۲ ص:۳۹۷-۳۹۸، باب الدليل على ان النبى صلى الله عليه وسلم عرج به إلى السماء،طبع المكتبة الاثرية لاهور، پاكستان، ايضا: كتاب الروح لابن قيم ص:۸۳،۸۴،المسئلة السادسة،شرح الصدور ص:۱۷۰،باب اثبات عذاب القبر،نشر الطيب ص:۳۸-۴۰واقعه معراج،واقعه ششم،طبع سهار نپور مفتى محله)۔

۲] ايضاً پورتنى حواله)۔

خوري او هغه پخه شوې غوښه نه خوري حضور ﷺ پوښتنه وکړه. دا خلک څوک دي؟ جبرایل علیه السلام وویل: دا ستاسو په امت کې هغه سړي دي کوم سره چې حلالې او پاکې ښځې موجودې وي او بیا به هم ناپاکو ښځو ته تلل. همدې کې هغه ښځې دي کومې چې د خپل پاک او حلال خاوندانو نه پورته شي او ناپاکه سړیو ته لاړې شي او شپې هغوی سره وي تردې چې سهار شي.[1]

## ۱۷: د خلکو حقوق نه اداکول

وېې فرمایل، بیا یو داسې کس باندې تیرشو. چې هغه ډېر زیات لرګي جمع کړي و، هغه هغه نه شو پورته کولی او هغه به هغه باندې نور لرګي هم کېښودل. حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې: دا سړي څوک دی؟ جبرایل علیه السلام وویل چې. دا ستاسو د امت هغه سړی دی د کوم په ذمه چې د خلکو حقونه او امانتونه دي. او دا سړی هغه نه شي اداکولی او نور هم د خلکو نه اخلي.[2]

## ۱۸: فتنه خورونکی خطیب او واعظ

بیا حضور ﷺ یو داسې قوم باندې تیرشو، چې د هغوی ژبې او شونډې په اوسپنو باندې کټ کیدلې او کله به چې کټ شوې، نو واپس به خپل حالت ته راغلې او دا سلسله به نه بندیده، حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې دا کوم خلک دي؟ جبرایل علیه السلام وویل چې دا ګمراهي اچونکي او فتنې شروع کونکي خطیبان او واعظان دي.[3]

## ۱۹: غټه خبره کولو نه وروسته هغې باندې ستوما نه کېدونکي

بیا حضور ﷺ یو داسې وړوکی کانی ولید چې د هغه نه یو غټ غویی راوځي، بیا هغه غویی په دویم ځل ننوتل غواړي، خو نه شي تلی حضور ﷺ پوښتنه وکړه، دا څه دي؟ جبرایل علیه السلام وویل چې دا د هغه کس حال دی کوم چې د خولې نه غټه خبره وباسي او بیا هغې باندې ستومانه شي او واپس یې اخیستل غواړي، خو هغه واپس نه شي اخیستلی.[4]

---

۱] ایضاً پورتنۍ حواله)_

۲] ایضاً پورتنۍ حواله)_

۳] ایضاً پورتنۍ حواله)_

٤] ایضاً پورتنۍ حواله)_

## ۲۰: ملاوټ (درغلي) کونکي[۱]

حافظ ابن قيم رحمه الله په کتاب الروح کې او حافظ جلال الدين سيوطي رحمه الله په شرح صدور کې د حافظ ابن ابي الدنيا رحمه الله دکتاب القبورنه داواقعه نقل کړې ده چې عبدالحميدبن محمود وايي چې: زه دحضرت ابن عباس رضي الله عنه په خدمت کې ناست وم، دغه دوران کې څه خلک راغلل او ذکر يې وکړ، چې موږ حج له پاره راغلي يو، زموږيوملګرى وفات شو. موږدهغه له پاره قبر وکنستلو اولحد مو جوړکړ،کله چې دلحدنه فارغ شو. نوموليدل چې يوتورمارپکې دى، هغه دومره غټ دى چې ټول لحدپرې ډک شوى دى، موږ بل ځاى کې قبر وکنستلو. نوهلته هم هغه تورمارموجودو حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وفرمايل چې دا تور مار دهغه مرى ته نزدې دى، کوم به چې هغه اچولې شي، لاړشئ، کوم قبرونه چې تاسوکنستلي دي، هغې کې يې يوکې خښ کړئ، وروسته قسم مې دې وي په هغه ذات باندې دکوم په قبضه کې چې زماساه ده، که چرې تاسودهغه قبرله پاره ټوله ځمکه هم وکنئ ، نوداتورماربه تاسوته هرځاى کې وينئ، وروسته موږ واپس شواومړى موهم هغې کندوکې خښ کړ، کله چې موږدحج نه واپس شو، نودهغه سامان مودهغه کورته وليږه اوټوله کيسه موورته بيان کړه اودهغه دښځې نه موپوښتنه وکړه چې دې سړي به څه عمل کاو؟ هغې وويل چې ده به غله خرڅوله، هميشه به يې دکوردضرورت مطابق غله ترې نه واخيستله اودهغه هومره به يې پکې بوس ګډ کړل.(کتاب الروح ص۱۲۳ شرح صدورص ۷۵)

## ۲۱: مورسره ګستاخي کونکي

حافظ سيوطي رحمه الله په شرح صدورکې، اصبهاني دترغيب وترهيب په حواله باندې دعوام بن حوشب نه نقل کړي دي چې زه يوځل يوې قبيلې ته لاړم، هغې سره خواکې يوه اديره وه، د مازديګروخت و، چې يوقبروشليد اودهغه نه يوکس راووت، دهغه سر دخره په شان و اوپاتې بدن يې دانسان په شان و، هغه درې ځله د خره اواز وکړ اوبياقبربندشو، ماخلکونه دې باره کې پوښتنه وکړه، نوماته وويل شول چې دې کس به شراب څښل، کله به چې مابنام شو،نودده موربه ويل چې، زويه، له الله نه وويريږه! ددې په جواب کې به ده ويل

---

۱]عن عبدالحميد بن محمود قال:کنت جالسا عند ابن عباس فاتاه قوم فقالوا:انا خرجنا حجاجا ومعنا صاحب لنا؟ اذا اتينا فاذا الصفاح مات،فهياناه،ثم انطلقنا،فحفرنا له،ولحدنا له،فلما فرغنا من لحده اذا نحن باسود قد ملا اللحد، فحفرناله آخرفاذا به قد ملا لحده،فحفرناله آخر فاذا به.....فقال:ابن عباس:ذلک الغل الذى يغل به،انطلقوا فادفنوه فى بعضها،فوالذى نفسى بيده!لو حفرتم الارض کلها لو جدتموه فيه،فانطلقنا فوضعناه فى بعضها،فلما رجعنا اتينا اهله بمتاع له معنا،فقلنا لامراته:ماکان يعمل زوجک؟قالت:کان يبيع الطعام،فياخذ منه کل يوم قوت اهله،ثم يفرض الفضل مثله فيلقية فيه.(کتاب الروح واللفظ له ص:۹۸المسئلة السابعة،ايضا شرح الصدور ص:۱۷٤باب عذاب القبر،طبع بيروت،طبع دار الکتب العلميةبيروت)۔

چې ته دخرې په شان چغې وهې، داكس دمازديگرنه وروسته مړشو. دهغې ورځې نه نن
پورې روزانه داقبردمازديگروخت کې شليږي اوهغه دخره په شان درې ځله چغې ووهي، اوله
دې نه وروسته قبربندشي.[١]

## ۲۲: له پاکي پرته لمونځ کول او د مظلوم نه مرسته

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې يوسړي ته قبرکې دسلو کوړو لګولو حکم
وشي،هغه الله تعالی ته سوال اودعا وکړه،وروسته دهغه په عذاب کې کمی وشو اويوه
کوړاپاتې شوه، کله چې هغه ته کوړاور شوه، نوټول قبرکې اورجمع شو،کله چې داعذاب
ختم شواوهغه هوش کې راغی، نوهغه دفرښتونه پوښتنه وکړه چې تاسوزه دکومې ګناه په
وجه کوړا باندې ووهلم؟ هغوی ورته جواب ورکړو چې تايوه ورځ داودس نه پرته لمونځ کړی
و اوته ديومظلوم خواکې تيرشوی وې، خوتادهغه مددنه وکړی. (مشکل الاثارج ٤ ص ١٣١)[٢]

## ۲۳: صحابه کرامو رضي الله عنهم ته بد رد ويونکي

ابن ابي الدنيا رحمه الله په کتاب القبورکې دابواسحاق نه نقل کړي دي چې زه يومړي ته دغسل
ورکولوله پاره راوغوښتل شوم، مادهغه دمخ نه جامه لرې کړه، نوومې ليدل چې يوغټ مار
دهغه دختې نه تاوشوی دی، زه بيرته راغلم، هغه ته مې غسل ورنه کړ، وروسته خلکو ذکر
وکړ چې دې سړي به صحابه کرامو رضي الله عنهم ته بدردويل.(کتاب الروح ص ١٢٤، شرح صدور ص ٧٥)[٣]

داسې ډول نورډېرواقعات کتاب الروح اوشرح صدور کې نقل شوي دي، حافظ ابن
قيم رحمه الله کتاب الروح کې داتفصيل سره ليکلي دي، کوم چې دقبردعذاب ذريعه جوړيږي،

---

١] واخرج الاصبهانی فی الترغيب،عن العوام بن حوشب قال:نزلت مرة حيا والی جانب ذلک الحی مقبرة،فلما کان بعد العصر انشق منها قبر،فخرج من رجل راسه راس حمار وجسده جسد انسان،فنهق ثلاث نهقات،ثم انطبق عليه القبر،فسالت عنه فقيل:انه کان يشرب الخمر،فاذا راح تقول امه:اتق الله ياولدی!فيقول:انما انت تنهقين کما ينهق الحمار.فمات بعد العصر،فهو ينشق عنه القبر کل يوم بعد العصر،فينهق ثلاث نهقات،ثم ينطبق عليه القبر.(شرح الصدور ص:١٧٢،باب عذاب القبر،طبع دار الکتب العلميةبيروت)۔

٢] عن ابن مسعود عن النبی صلی الله عليه وسلم قال:امر بعبد من عبادالله ان تضرب فی قبره ماة جلدة فلم يزل يسال الله ويد عوه حتی صارت واحدة،فامتلا قبره عليه نار،فلما ارتفع عنه افاق،فقال:علام تمونی؟قالوا:انک صليت صلاة بغير طهور ومررت علی مظلوم فلم تنصره.(مشکل الآثار ج:٤ ص:١٣١،ايضا کتاب الروح ص:٨٣المسئلة السادسة)۔

٣] وقال ابن ابی الدنيا: حدثنی محمد بن الحسين، قال: حدثنی ابو اسحاق صاحب الشاط قال: دعيت الی ميت لاغسله، فلما کشفت الثوب عن وجهه اذا بحية قد تطوقت علی حلقه، فذکر من غلظها، قال: فخرجت فلم اغسله، فذکروا انه کان يسب الصحابة رضی الله عنهم. (کتاب الروح ص:٩٨ المسئلة السابعة، طبع دارالکتب العلمية، ايضاً شرح الصدور ص١٧٣، باب عذاب القبر، طبع دارالکتب العلمية)۔

دلته دهغه دعبارت ترجمه نقلوم: حافظ ابن قیم رحمه الله لیکي:

**نهمه مسئله**: دپوښتنه کونکي داسوال چې هغه کوم وجوهات چې دهغې په وجه باندې قبروالاوو ته عذاب ورکول کیږي؟

ددې جواب دوه ډوله دی، یو مجمل او بل مفصل:

مجمل جواب خودادی چې قبروالاووته عذاب ورکول کیږي الله تعالی سره دهغوی دجهالت په وجه باندې، دهغه حکمونه ضائع کولو باندې اودهغه نافرماني کولوباندې، الله تعالی داسې روح ته عذاب نه ورکوي کوم ته چې دالله تعالی معرفت حاصل وي اوکوم چې الله تعالی سره مینه ساتي، اودهغه حکمونه مني اودهغه منع شوي شیانونه پرهیزکوي اونه داسې بدن ته عذاب ورکوي، په کوم کې چې پاکیزه روح وي، ځکه چې دقبرعذاب اوداخرت عذاب بنده باندې دالله تعالی دغضب اوناراضګي اثردی، کوم کس چې دې دنیاکې الله تعالی غضبناک اوخفه کړ اوبیادتوبې نه پرته مړشو، نوڅومره چې هغه الله تعالی خفه کړی وي، دهغه مطابق به هغه ته عذاب ورکول کیږي، چاته زیات ملاوېدونکی دی اوچاته کم اوڅوک منونکي دي اوڅوک نه منونکي.

پاتې شومفصل جواب، نوحضور ﷺ دهغه دوه کسانوباره کې ویلي و چې دوی ته دقبر عذاب ورکول کیږي ، یوبه دچغل خوري په ذریعه باندې خلکوکې فسادپیداکولواودویم به دمتیازو نه پرهیزنه کاو، وروسته دې دویم کس واجبه پاکي پرېښې وه او لومړي کس دخپلې ژبې په ذریعه باندې داسې کارکړی و کوم چې دخلکوپه مینځ کې دفتنې اوفسادجوړولوذریعه جوړشوه، اګرچې هغه به رښتوني خبره نقل کوله، په دې کې دې خبرې باندې تنبیه ده، کوم کس چې د دروغو دطوفان او الزامونو په ذریعه باندې دخلکوپه مینځ کې د فتنو جوړولو ذریعه جوړیږي، دهغه عذاب دچغل خورنه ډېردی، څنګه چې دمتیازونه پرهیزنه کولوباندې تنبیه ده، چې کوم کس لمونځ پرېښودونکی وی، چې دمتیازونه صفایي حاصلول،دهغه واجباتو او شرطونو کې شامل دي، دهغه ګناه به ددې نه ډېره وي.

اودحضرت ابن مسعود رضي الله عنه په حدیث کې دهغه سړي کیسه تیره شوې ده چې هغه ته قبرکې یوه کوړا ورکړل شوه، نودهغه قبرداورنه ډک شو، ځکه چې هغه یولمونځ دپاکی نه پرته کړی و، اودمظلوم خواکې تیرشوی و ،خودهغه مددیې نه و کړی.

اوصحیح بخاري کې دحضرت سمره بن جندب رضي الله عنه حدیث تیرشوی دی، په کوم چې د دروغو خبرې خورونکي ذکردی اودهغه کس دعذاب کوم به چې دشپې قران پاک لوستلونه وروسته ویده شو، خو قران پاک باندې به یې عمل نه کاو اودبدکاروسړیواوښځوعذاب او د سود خوړونکو عذاب، کوم چې حضور ﷺ په برزخ کې لیدلی و.

او د حضرت ابو هريره رضي الله عنه حديث هم تيرشوی دی، کوم کې چې دغټ کاڼي په ذريعه باندې دهغو خلکو د سرونو ماتيدو ذکردی، کوموبه چې په لمونځ کې سستي کوله او دزکات نه ورکونکو ذکردی، چې هغوی د دوزخ کاڼو او زقوم باندې څريدل او کوموچې دزناکاري په وجه باندې سخا شوې او بدبويه غوښه خوړله او فتنه خورونکو او ګمراه کونکو خطيبانو او واعظانو ذکردی، چې دهغوی شونډې د اوسپنې په انبورونو باندې کټ کېدلې.

او د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه حديث هم تيرشوی دی، په کوم کې چې دجرم کونکو ذکر شوی دی، دځينو خيټې دکوټو په شان وې او ال فرعون(د دوزخيانو) قافلې دهغوی دپاسه تيريدې، دا سود خوړونکي دي دځينو خولې خلاصې وهل کېدې او هغو کې سکروټې ورکول کېدې کومې چې دمتيازو په لارباندې دهغوی نه بهرته وتلې، دوی ديتيمانانو مال خوړونکي دي، ځينې ښځې دسينونه ځوړندې شوې وې، دابدکارې ښځې دي له ځينو به دبدن نه به غوښه کټ کېده او هغوی باندې به خوړل کيده، دوی غيبت او دخلکو عيبونه لټونکي دي، دځينو نوکونه داوسپنې و، چې هغو باندې هغوی خپل مخونه او سينې ګرولې، داهغه خلک دي کومو چې دخلکو عزت سره لوبې کولې او حضور ﷺ موږته وويل چې کوم غلام دخيبر دغنيمت دمال نه څادرپټ کړی و، هغه څادرنه دهغه قبر کې اورجوړشوی و ددې باوجود چې دهغه دغنيمت په مال کې حق و او اوس غوروکړئ، چې کوم کس دبل مال ناحق خوري، چې دهغه پکې هيڅ حق نه وي، دهغه به څه حال وي؟

**خلاصه**: داچې دقبر عذاب زړه، سترګو، غوږونو، خولې، ژبې، خيټې، شرمګاه، لاسونو، پښو او دټول بدن په ګناهونو باندې دی، وروسته چاته چې قبر کې عذاب ورکول کيږي، هغه دادي:

۱: چغل خواره.
۲: دروغ ويونکي.
۳: غيبت کونکي.
۴: د دروغو ګواهي ورکونکي.
۵: په يو پاک لمنه کس باندې الزام لګونکي.
۶: په خلکو کې فتنه او فساد پيدا کونکي.
۷: خلک دبدعت طرف ته راغوښتونکي.
۸: دالله تعالی او دهغه رسول ﷺ په نوم باندې داسې خبره کونکي چې دهغې هغه ته علم نه وي.
۹: خپلو خبرو کې ګپ شپ لګونکي.
۱۰: سودخوړونکي.
۱۱: ديتيمانو مال ناحقه خوړونکي.
۱۲: درشوت وغيره په ذريعه باندې حرام مال خوړونکي.
۱۳: دمسلمان ورور مال ناحق خوړونکي.
۱۴: داسلامي ملک غيرمسلم اوسيدونکي مال په ناحقه خوړونکي.
۱۵: نشه کونکي.
۱۶: دملعونې ونې ميوه خوړونکي.

۱۷: زناکونکي. ۱۸: لواطت کونکي.
۱۹: غلا کونکي. ۲۰: خیانت کونکي.
۲۱: وعده ماتونکي. ۲۲: دوکه ورکونکي.
۲۳: جعلي شیان جوړونکي او مکر او دوکه کونکي.
۲۴: سود اخستونکي. ۲۵: سود ورکونکي.
۲۶: دسود لیکلو والا. ۲۷: دسود ګواهي ورکونکي.
۲۸: حلاله کونکي. ۲۹: څوک چې پرې حلاله کوي.
۳۰: دالله تعالی فرائض نه اداکونکي او دحرامو شیانوله پاره باني کتونکي.
۳۱: مسلمانانوته تکلیف رسونکي. ۳۲: دخلکوعیب لټونکي.
۳۳: دالله تعالی دحکم خلاف فیصلې کونکي. ۳۴: دشریعت خلاف فتوا ورکونکي.
۳۵: دګناه او ظلم په کارکې دنورومدد کونکي. ۳۶: څوک ناحقه قتل کونکي.
۳۷: دالله تعالی په حرم کې الحاد او سستي کونکي.
۳۸: دالله تعالی نومونه او صفتونه بدلونکي.
۳۹: دالله تعالی په نومونو کې کوږوالی اختیارونکي.
۴۰: خپل خیال او سیاست درسول اللهﷺ په سنتو باندې اوچت ګڼلو والا.
۴۱: په مړي باندې په چغو ژړا کونکې ښځې. ۴۲: ددغې ژړا اوریدونکي.
۴۳: دوزخ کې نوحه کونکي، یعنې ګانې بجانې اوریدونکي، څه چې الله تعالی او دهغه رسولﷺ حرام ګرځولي دي. ۴۴: سازونه اوریدونکي.
۴۵: قبرونو باندې عمارتونه جوړونکي او هغو باندې قندیلونه او ډیوې بلونکي.
۴۶: ناپ تول کې کمي کونکي، چې کله خلکو نه خپل حق اخلي، نو پوره اخلي او کله چې هغوی ته ورکوي، نو کم ورکوي. ۴۷: ظلم کونکي او سرکش خلک.
۴۸: کبرکونکي خلک. ۴۹: ریاکونکي خلک.
۵۰: دخلکوعیب معلومونکي خلک. ۵۱: ناحقه جنګ کونکي.
۵۲: سلف صالحین(صحابه کرامرضی الله عنهم تابعین او ددین امامانو)ته بدرد ویونکي.
۵۳: کوم خلک چې جادوګرانو او نجومیانو وغیره ته ورځي، دهغوی نه پوښتنه کوي او څه چې ورته هغه خلک وایي هغه رښتیا ګڼي.
۵۴: دظالم مددکونکي، کوموچې خپل اخرت دنوروخلکو ددنیاله پاره خرځ کړی دی.
۵۵: هغه کس کله چې ته هغه دالله تعالی نه ویرې او ورته نصیحت وکړې او هغه منع نه شي او کله یې چې دهغه په شان مخلوق نه ویروې، هغه منع شي.
۵۶: هغه کس کله چې هغه ته دالله تعالی او دهغه درسولﷺ په کلام باندې هدایت وشي او هغه هدایت ته رانه شي او دې طرف ته سراوچت نه کړي او کله چې هغه ته دداسې خبره

وکړي، کوم سره چې هغه عقیدت لرې، (حالانکې هغه صحیح خبره هم کولی شي او غلطه هم) او د هغه خبره مضبوطي سره ونیسي او د هغې مخالفت ونه کړي.
۵۷: هغه کس کله چې د هغه مخکې قران ولوستل شي او له هغه نه متاثره نه شي، بلکې اکثر د هغه په وجه باندې تکلیف محسوس کړي او کله چې هغه د شیطان قران (یعنې ګانې او قوالي) اوري، څه چې د زنا منترا او د نفاق ماده ده، نو د هغه زړه خوشاله شي او د هغه په وجه باندې هغه وجد کې راشي او د هغه په زړه کې خوشالي راپیدا شي او د هغه زړه غواړي چې دا لوبه و یو نکی دې همداسې لوبې وایي او بالکل دی چپ نه شي.
۵۸: او داسې کس کوم چې په الله تعالی قسم کولو نه وروسته یې مات کړي (او د ماتیدو پرواه ونه کړي) او که چرې همدغه کس دیوبهادرسړي قسم وخوري، یا د خپل شیخ نه د برې کیدو قسم وخوري، یا چېرته د خپل خپلوان وغیره قسم وخوري، یا د خپلې ځوانۍ قسم وخوري، یا چېرته د داسې کس د ژوند قسم وخوري، کوم سره چې هغه مینه کوي او د هغه تعظیم کوي، نو د قسم خوړلو نه وروسته د هغه د ماتولو له پاره راضي نه وي، که هغه هرڅو مره ویرولی شي.
۵۹: ښکاره او علانیه ګناه کونکي، کوم چې په خپله ګناه باندې فخر کوي او د خپلو ملګرو په مقابله کې ډېر ګناه ونه کوي.
۶۰: داسې بدزبانه او بداخلاقه سړی چې خلک د هغه د بدزباني او د شر د ویرې په وجه باندې هغه سره خبرې نه کوي.
۶۱: هغه کس کوم چې لمونځ داخري وخت پورې نه کوي او کله چې لمونځ کوي، نو ډېر زر زر لمونځ وکړي او هغه کې د الله تعالی ذکر ونه کړي، یا یې ډېر کم وکړي.
۶۲: داسې کس چې ته هغه په خپل مال او عیال باندې امین نه جوړیې.
۶۳: هغه کس کوم چې په صحیح زړه باندې زکات نه ورکوي.
۶۴: د حج وس لرلو باوجود حج ته نه ځي.
۶۵: د طاقت لرلو باوجود په خپله ذمه باندې موجود حقونه نه اداکوي.
۶۶: کوم کس چې شکل او صورت کې، خبرو کولو کې، خوراک څښاک کې، ګرځیدو کې احتیاط او پرهیزګاري نه کارنه اخلي.
۶۷: کوم کس چې د مال حاصلولو کې د دې پرواه نه کوي چې دا د حلالو نه راغی او که د حرامو نه.
۶۸: کوم کس چې صله رحمي نه کوي، نه په مسکین باندې رحم کوي، نه کونډې باندې، نه یتیم باندې، نه څناورو باندې او نه په څارویو باندې، بلکه یتیم ته تکلیف ورکوي، مسکین ته د خوراک ورکولو ترغیب نه ورکوي، خلکو ته د ښودنې له پاره عمل کوي او د عام استعمال شیانو خلکو نه منع کوي.

۲۹ او کوم کس چې د خپل عیبونو په ځای باندې د نورو خلکو عیبونو کې او د خپلو ګناهونو په ځای باندې د نورو خلکو ګناهونو کې مشغول وي. دې ټولو خلکو ته او د دوی په شان نورو خلکو ته به د دې جرمونو په وجه باندې قبر کې عذاب ورکول کیږي، د دې جرمونو د زیاتوالي او کمي مطابق زیات تر خلک دې کې مبتلا دي، په دې وجه باندې قبر کې موجود ډېر خلک په عذاب کې مبتلا دي او د قبر د عذاب نه خلاصي موندونکي خلک ډېر کم دي، قبرله بهرنه خاوره په نظر راځي، خو دننه حسرتونه او عذابونه دي بهر د خاورې او ښائسته کاڼونه جوړ شوي دی، خو دننه پکې د مصیبتونو غرونه او ماران او لړمان دي، هغوی افسوسونه داسې ټوپونه وهي، څنګه چې کټو ویشیږي او داسې کیدل هم پکار دي ، ځکه چې د قبر والا وو او دهغوی په خواهشاتو او ارمانونو دیوال جوړ شوی دی، په الله مې دې قسم وي، قبرونه داسې وعظ کوي چې هغوی د واعظ دوعظ د پاره څه ګنجائش نه دی پریښی او هغه په چیغو چیغو وایي:

اې د دنیا ابادونکو! تاسو داسې کورونه ابادوئ کوم به چې ډېر زر ختم شي، او تاسو هغه کور ورانوئ، کومې ته چې تاسو ډېر زر راتلونکي یئ،تاسو هغه کورونه اباد کړل، چې د هغې ګټه او اوسیدل د بل چا له پاره دي او تاسو هغه کورونه وران کړل چې ستاسو اوسیدل د هغې نه پرته بل ځای کې نشته، دا کورونه په منډاکې دیوبل نه د مخکې کیدو دي، د لته عملونه امانت کیښودل کیږي، دا د پټې تخم دی، دا د عبرتونو محل دی، د جنت په باغیچو کې یوه باغیچه ده، یا د دوزخ په کندو کې یوه کنده ده .(دا اخري فقره د حدیث پاک یوه جمله ده.)[1]

---

۱] المسئلة التاسعة:وهى قول السائل:ماالاسباب التى يعذب بها اصحاب القبور؟جوابها من وجهين:مجمل ومفصل،اما المجمل فانهم يعذبون على جهلهم بالله،واضاعتهم لامره،وارتكابهم لمعاصيه،فلا يعذب الله روحا عرفته واحبته وامتثلت امره واجتنبت نهيه،ولا بدنا كانت فيه ابدا فان عذاب القبر وعذاب الآخرة اثر غضب الله وسخطه على عبده،فمن لغضب الله واسخطه فى هذه الدار ثم لم يتب ومات على ذلک كان له من عذاب البرزخ بقدر غضب الله وسخطه عليه،فمستقل ومستكثر،ومصدق،ومكذب.واماالجواب المفصل:فقد اخبر النبى صلى الله عليه وسلم عن الرجلين اللذين رآهما يعذبان فى قبورهما يمشى احدهما بالنميمة بين الناس ويترک الآخر الاستبراء من البول،فهذا ترک الطهارة الواجبة، وذلک ارتكب السبب الموقع للعداوة بين الناس بلسانه وان كان صادقا،وفى هذا تنبيه على ان الموقع بينهم العداوة بالكذب والزور والبهتان اعظم عذابا،كما ان فى ترک الاستبراء من البول تنبيها على ان من ترک الصلاةالتى الاستبراء من البول بعض واجباها وشروطها فهو اشد عذابا،وفى حديث شعبة اما احدهما فكان ياكل لحوم الناس فهذا مغتاب وذلک نمام،وقد تقدم حديث ابن مسعود رضى الله عنه فى الذى ضرب سوطا امتلا القبر عليه به نارا،لكونه صلى صلاة واحدة بغير طهور ومر على مظلوم فلم ينصره. وقد تقدم حديث سمرة فى صحيح البخارى فى تعذيب من يكذب الكذبة فتبلغ الآفاق،وتعذيب الزناة والزانى،وتعذيب آكل الربا،كما شاهدهم النبى صلى الله عليه وسلم فى البرزخ .وتقدم حديث ابى هريرة رضى الله عنه الذى فيه رضخ رؤوس الاقوام بالصخر لتشاقل رؤوسهم عن الصلاة،والذين يسرحون بين الضريع والزقوم لتركم ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

...بقيه د تير مخ]... زكاة اموالهم،والذين ياكلون اللحم المنتن الخبيث لزناهم،والذين تقرض شفاهم بمقاريض من حديث لقيامهم فى الفتن بالكلام والخطب .وتقدم حديث ابى سعيد وعقوبة ارباب تلك الجرائم فمنهم من بطونهم امثال البيوت وهم على سابلة آل فرعون وهم اكلة الربا،ومنهم من تفتح افواههم فيلقمون الجمر حتى يخرج من اسافلهم وهم اكلة اموال اليتامى،ومنهم المعلقات بثديهن وهن الزوانى،ومنهم من تقطع جنوبهم ويطعمون لحومهم وهم المغتابون،ومنهم من لهم اظفار من نحاس يخمشون وجوههم وصدورهم وهم الذين يغمتون اعراض الناس. وقد اخبرنا النبى صلى الله عليه وسلم عن صاحب الشملة التى غلها من المغنم انها تشتغل عليه نارا فى قبره هذا وله فيها حق،فكيف بمن ظلم غيره مالاحق له فيه،فعذاب القبر عن معاصى القلب، والعين، والاذن، والفم، واللسان، والبطن، والفرج،واليد،والرجل،والبدن كله، فالنمام، والكذب، والمغتاب، وشاهد الزور،وقاذف المحصن،والموضع فى الفتنة،والدعى الى البدعة،والقائل على الله ورسوله مالاعلم له به،والمجازف فى كلامه،وآكل الربا،وآكل اموال اليتامى،وآكل السحت من الرشوة والبرطيل ونحوهما،وآكل مال اخيه المسلم بغير حق او مال المعاهد،وشارب المسكر،وآكل لقمة الشجرة الملعونة والزانى، واللوطى، والسارق، والخائن، والغادر، والمخادع، والماكر،وآخذ الربا ومعصية وكاتبه وشاهداه،والمحلل والمحلل له،والمحتال على اسقاط فرائض الله وارتكاب محارمه،ومؤذى المسلمين ومتتبع عوراتهم،والحاكم بغير ماانزل الله،والمفتى بغير ماشرعة الله،والمعين على الاثم والعدوان،وقاتل النفس التى حرم الله،والملحد فى حرم الله،والمعتل لحقائق اسماءالله وصفاته الملحد فيها،والمقدم رايه وذوقه وسياسته على سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم،والنائحة والمستمع اليها،ونواحو جهنم وهم المغنون الغناء الذى حرمه الله ورسوله والمستمع اليهم،والذين يبنون المساجد على القبور، ويوقدون عليها القناديل والسرج،والمطففون فى استيفاء مالهم اذا اخذوه وهضم ماعليهم اذا بذلوه، والجبارون،والمتكبرون، والمراؤون، والهمازون اللمازون،والطاعون على السلف،والذين ياتون الكهنة والمنجمين والعرافين فيسالونهم ويصدقونهم،واعوان الظلمة الذين قدباعوا آخرتهم بدنيا غيرهم،والذى اذا خوفته بالله وذكرته به لم يرعو ولم ينزجر فاذا خوفته بمخلوق مثله خاف وارعوى وكف عما هو فيه،والذى يهدم بكلام الله ورسوله فلا يهتدى ولايرفع به راسا فاذا بلغه عمن يحس به الظن ممن يصيب ويخطىء عض عليه بالنواجذ ولم يخالفه،والذى يقرا عليه القرآن فلا يؤثر فيه،وربما استثقل به فاذا سمع قرآن الشيطان ورقية الزنا ومادة النفاق طاب سره، وتواجد وهاج من قبله دواعى الطرب وود ان المغنى لايسكت،والذى يحلف الله ويكذب فاذا حلف بالبندق او برئ من شيخه اوقريبه او سراويل الفتوة اوحياةمن يحبه ويعظمه من المخلوقين لم يكذب ولو هدد وعوقب، والذى يفتخر بالمعصية ويتكثر بها بين اخوانه واضرابه وهو المجاهر،والذى لاتامنه على مالك وحرمتك، والفاحش اللسان البذى،الذى تركه الخلق اتقاه شره وفحشه،والذى يؤخر الصلاة الى آخر وقتها وينقرها ولا يذكرالله فيها الاقليلا،ولايؤدى زكوة ماله طيبة بها نفسه،ولايحج مع قدرته على الحج،ولايؤدى ماعليه من الحقوق مع قدرته عليها،ولايتورع من لحظة ولا لفظة ولاآكلة ولا خطوة ولا يبالى بما حصل من المال من حلال او حرام، ولايصل رحمه،ولايرحم المسكين،ولا الارملة ولااليتيم ولا الحيوان البهيم،بل يدع اليتيم ولا يحض على طعام المسلمين،ويرائى للعالمين ويمنع الماعون،ويشتغل بعيوب الناس عن عيبه،وبذنوبهم عن ذنبه،فكل هؤلاء وامثالهم يعذبون فى قبورهم بهذه الجرائم بحسب كثرتها وقلتها وصغيرها وكبيرها. ولما كان اكثرالناس كذالک كان اكثر اصحاب القبور معذبين، والفائز منهم قليل،فظواهر القبور تراب وبواطنها حسرات،وعذاب،ظواهرها بالتراب والحجارة المنقوشة مبنيات وفى باطنها الدواهى والبليات تغلى بالحسرات كما تغلى القدور بما فيها،ويحق لها وقدحيل بينها وبين شهواتها.[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

دابن قیم رحمه الله دعبارت ترجمه ختمه شوه.

## دقبرد عذاب باره کې یوڅو خواستونه

۱: دالله تعالی پناه! دقبردعذاب منظره ډیر زیات دردورکونکی اوویرونکی دی، بندګانوته پکاردي چې دخپل قبرنه غافله کیږي اوداسې څه داکار ونه کړي، چې دهغه په وجه باندې ورته دقبر عذاب ورکړل شي، حدیث کې دي چې امیرالمؤمنین حضرت عثمان رضي الله عنه به کله قبرباندې تیریده، نودومره به یې وژړل چې ږیره مبارکه به یې لنده شوه، عرض ورته وشو، چې دجنت او دوزخ په ذکر باندې تاسودومره نه ژاړئ، څومره چې قبرباندې ژاړئ؟ ویې فرمایل، چې: ماد حضور صلی الله علیه وسلم دا وینا پخپله اوریدله ده، چې:

**ان القبراول منزل من منازل الاخرة! فان نجی منه، فمابعده ایسر منه، ان لم ینج منه فمابعده اشدمنه! قال: وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: مارایت منظراقط الاوالقبرافظع منه! رواه الترمذی وابن ماجه.** (مشکوة ص ۲۶) **ترجمه**: قبرداخرت په منزلوکې یومنزل دی، که چیرې له دې نه خلاصي ومومندل شوه، نوان شاء الله نورمنزلونه به اسان وي اوکه چیرې دې نه خلاصی ونه موندل شو، نونورمنزلونه به دې نه هم مشکل وي او حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې مادقبرنه زیات ویرونکی منظربل نه دی لیدلی.

صحیح بخاري اوصحیح مسلم کې دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دی چې:

**ان یهودیة دخلت علیها فذکرت عذاب القبر، فقالت لها: اعاذک الله من عذاب القبر! فسالت عائشه رسول الله صلی الله علیه وسلم عن عذاب القبر، فقال: نعم! عذاب القبرحق. قالت عائشة: فمارایت رسول الله صلی الله علیه وسلم بعد صلی صلوة الاتعوذبالله من عذاب القبر. متفق علیه.** (مشکوة ص ۲۵)

**ترجمه**: یوه یهودی ښځه ماته راغله، هغې حضرت عائشې رضي الله عنها ته دعاوکړه، چې الله تعالی دې تاته دقبردعذاب نه پناه درکړي حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چې: مادهغې یهودی ښځې قیصه حضور صلی الله علیه وسلم ته ذکرکړه، نوویې فرمایل چې: بالکل! دقبرعذاب حق دی حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چې: مانه دي لیدلي دهغې واقعې نه وروسته چې حضور صلی الله علیه وسلم داسې لمونځ کړی وي په کومې کې چې دقبر دعذاب نه پناه نه وي غوښتي.

---

...بقیه د تیر مخ]... وامانیها،تالله لقد وعظت فما ترکت لواعظ مقالا، ونادت: یاعمار الدنیا!لقد عمرتم دارا موشکلة بکم زوالا وخربتم دارا انتم مسرعون الیها انتقالا.عمرتم بیوتا لغیر کم منافعها وسکنها،وخربتم بیوتا لیس لکم مساکن سواها،هذه دار الاستباق ومستودع الاعمال وبذر الذرع،وهذه محل للعبر ریاض الجنة او حفر من حفر النار.(کتاب الروح ص:۱۰۷تا۱۱۰طبع دار الکتب العلمیة بیروت)۔

دحضرت عائشې رضي الله عنها وينا ده چې:

**ويل لاهل المعاصى من اهل القبور! تدخل عليهم فى قبورهم حيات سودا، اودهم حية عندراسه وحية عندرجليه، تقرصانه حتى يلتقيافى وسطه فذالك العذاب فى البرزخ الذى قال الله تعالى: ومن ورائهم برزخ الى يوم يبعثون.** (تفسيرابن كثيرج ٤ ص ٤٩٣)

**ترجمه**: قبرونو کې دګناهګارو له پاره هلاکت دی، تورماران دهغوی قبرونو ته داخل شي، يو مار د سر طرف نه اوبل دپښو دطرف نه، د دواړوطرفونو نه مړي ته ټکونه ورکوي، تردې پورې چې مېنځ کې دواړه يوځای شي (او مړی دوه ټکړې کړي) وروسته دادبرزخ هغه عذاب دکوم باره کې چې الله تعالى فرمايلي دي اودهغوی په مېنځ کې يوه پرده ده، دهغې ورځې پورې په کومه ورځ به چې خلک پورته کيږي.

۲: دقبردعذاب تعلق بلې دنياسره دی، کومې ته چې برزخ ويل کيږي اوالله تعالى ددې دنياوالونه پرده کې ساتلی دی، دحضور ﷺ وينا ده:

**ان هذه الامة تبتلى فى قبورها، فلولا ان لاتدافنوا لدعوت الله ان يسمعكم من عذاب القبر الذى اسمع منه.** (صحيح مسلم ج ٢ ص ٢٨٦)

**ترجمه**: قبرونوکې قبروالوته عذاب ورکول کيږي اوکه چيرې داويره نه وای، نومابه الله تعالى ته دعاکړې وه چې هغوی تاسوباندې هم دقبرعذاب اورولی وای. (صحيح مسلم ج ٢ ص ٢٨٦)

خوالله تعالى دبندګانودعبرت له پاره کله کله دقبرعذاب هغوی ته وښئي (څنګه چې يوڅوواقعات پورته تيرشوي دي) واقعه داده چې که چرې داسې قسمه واقعات جمع شي، نوغټ کتاب ترې جوړيدای شي.

۳: دقبردعذاب نه دبچ کېدوله پاره ديوڅوکارونواهتمام کول پکاردي:

**اول**: دهغه ټولوکارونونه ځان ساتل پکاردي، کوم چې دقبردعذاب ذريعه جوړيږي اودکومې خلاصه چې پورته دابن قيم رحمه الله په کلام کې تيره شوې ده، مطلب داچې ددې ټولوګناهونونه دبچ کېدو کوشش پکاردی.

**دويم**: څومره کوتاهي اوګناهونه چې اوسه پورې شوي دي، دزړه اخلاص سره دهغې نه توبه وکړل شي اوکوم حقوق چې زمونږپه ذمه دي، هغه اهتمام سره ادا شي، که چاته موتکليف رسولی وي، نوچې دهغه معافي وغوښتل شي، غرض داچې انسان دې هروخت په دې کوشش کې وي چې کله هغه دې دنيانه رخصت شي، نوحقوق الله اوحقوق العبادکې دهغه په ذمه هيڅ نه وي.

**دریم**: دقبردعذاب نه دپناه غوښتلو اهتمام وکړل شي، پورته دحضرت عائشې رضي الله عنها حدیث تېرشوی دی، چې حضور ﷺ به هرلمونځ کې دقبردعذاب نه پناه غوښتلو اهتمام او التزام کاو.

**عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: اذا فرغ احدكم من التشهد الاخر فليتعوذ بالله من اربع: من عذاب جهنم، ومن عذاب القبر، وفتنة المحياء والممات، ومن شر المسيح الدجال، رواه مسلم.** (مشكوة ص ۸۷)

**ترجمه**: حضرت ابوهریره رضي الله عنه دحضور ﷺ وینا نقل کوي چې، کله تاسوکې څوک داخري التحیات نه فارغ شي، نو دڅلوروشیانونه دې پناه غواړي: ددوزخ دعذاب نه، دقبردعذاب نه، د ژوند اود مرګ دفتنې نه، اودمسیح دجال دفتنې نه.

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې، نبي کریم ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته به یې دا دعا داسې ښودله، څنګه به یې چې ورته دقران سورت ښودلو، فرمایل به یې چې دادعاغواړئ:

**اللهم اني اعوذبك من عذاب جهنم، واعوذبك من عذاب القبر، واعوذبك من فتنة المسيح الدجال، واعوذبك من فتنة المحيا والممات، رواه مسلم.** (مشكوة ص ۸۷)

**ترجمه**: اې الله! زه ستاپه ذات سره پناه غواړم، ددوزخ له عذاب نه اوزه ستاپه ذات سره پناه غواړم دقبرله عذاب نه اوستاپه ذات سره پناه غواړم ددجال مسیح دفتنې نه اود ژوند او د مرګ دفتنې نه.

**څلورم**: ویده کېدونه مخکې دسورت تبارک الذی(الملک) لوستلو اهتمام وکړل شي، حدیث شریف کې فرمایل شوي دي چې: دادقبردعذاب نه ساتل کوي، یوبل حدیث کې دي:

**عن جابر رضي الله عنه، ان النبي ﷺ كان لاينام حتى يقرا الم تنزيل وتبارك الذى بيده الملك، رواه احمد والترمذى والدارمى.** (مشكوة ص ۱۸۸)

**ترجمه**: دحضرت جابر رضي الله عنه نه روایت دی، فرمايي چې درسول الله ﷺ معمول و چې دویده کېدونه مخکې به یې **الم تنزيل** او **تبارك الذى بيده الملك** سورتونه لوستل.

## له مرګ نه وروسته د مړي تاثرات

**سوال:** دمرګ نه وروسته دغسل جنازې او دفن کېدو پورې انساني روح باندې څه تېرېږي؟ دهغه څه احساس وي؟ ایا هغه خپلوان ویني او دهغوی ژړا فریاد اوري؟ جسم مسح کولو نه هغه ته تکلیف وي او که نه؟

**جواب:** د مرګ نه وروسته انسان یو بل جهان ته ورسیږي چې هغه ته برزخ وايي دهغه ځای پوره حالات په دې دنیاکې پېژندل ممکن نه دي، له دې وجې نه خو ټول کیفیات ښودل شوي

دي او نه انسان د دې د معلومولو مکلف دی، خو څومره چې مونږ پوهيدلی شو عبرت له پاره هغه بيان شوي دي څنګه چې په يو حديث کې ارشاد دی چې مړی هغه څوك پيژني چې غسل ورکوي څوك چې هغه پورته کوي، څوك چې هغه ته کفن ورکوي او څوك چې هغه قبر ته کوزوي.(مسند احمدمعجم اوسط طبرانی).[۱]

په يوبل حديث کې دي چې کله جنازه پورته کيږي، نوکه چيرې نيك وي، نووايي چې ما زر زر بوسئ اوکه نيك نه وي، نووايي های بدقسمتي! تاسو ماچيرته وړئ.(صحيح بخاری و صحيح مسلم).[۲]

يوبل حديث کي دي چې کله خلک د مړي جنازه واخلي او درې قدمه لاړشي، نوهغه وايي: اې ورونو! اې زمالاش پورته کونکو! ګورئ ! دنياتاسو ته دوکه درنکړي، څنګه يې چې ماته دوکه راکړه اوهغه تاسو دلوبو شی جوړ نه کړی، څنګه يې چې ما دلوبو شی جوړ کړ، ماچې څه پريښودل او روان يم هغه خوبه د وارثانو په کار راځي، خو بدله ورکونکي مالك به دقيامت په ورځ په دې باره کې ماسره خصومت کوي اودهغه حساب او کتاب به زمانه اخلي، های افسوس! چې تاسومې رخصتوئ او بواځې مې پريږدئ.(ابن ابی الدنيا فی القبور).[۳]

په يوبل حديث کې دي (چې د ضعيف سندسره ابن عباس رضی الله عنه نه مروي دی) چې مړی هغه ته غسل ورکونکي پيژني اوخپلو پورته کونکو ته قسمونه ورکوي که چيرې هغه ته دخوشالی اوکشمالو اود جنت نعيم زيری شوی وي، نو وايي چې ماپه بيړه سره بوسئ اوکه چيرې هغه ته دجهنم خراب خبرور کړل شوی وي، نو وايي چې خدای له پاره مامه وړئ.(ابوالحسن بن براء.کتاب الروضه).[۴]

دا ټول روايتونه دحافظ سيوطي رحمه الله د "شرح صدور" نه اخيستل شوي دي.

---

۱] اخرج احمد والطبرانی فی الأوسط وابن ابی الدنيا والمروزی وابن منده عن ابی سعيد الخدری ان النبی صلی الله عليه وسلم قال:ان الميت يعرف من يغسله ويحمله ويكفنه ومن يدليه فی حفرته.(شرح الصدور ص:۹۴، باب معرفة الميت من يغسله طبع دارالكتب العلمية بيروت،ايضا الحاوی للفتاوی ج:۲ ص:۱۷۱طبع دارالكتب العلمية،بيروت)

۲] كان النبي صلی الله عليه وسلم يقول:اذاوضعت الجنازة واحتملها الرجال علی اعناقهم،فان كانت صالحة قالت: قدمونی،وان كانت غير صالحة قالت لاهلها:ياويلها اين تذهبون بها؟...الخ.(صحيح بخاری ج:۱ ص: ۱۷۶،باب قول الميت وهو علی الجنازة قدمونی،ايضا شرح الصدور ض:۹۶وطبع دار الكتب العلمية،بيروت)

۳] واخرج ابن ابی الدنيا فی القبور،عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: ما من ميت يوضع علی سريره فيخطی به ثلاث الاتكلم بكلام يسمعه من شاءالله الا الثقلين الانس والجن، يقول: يااخوتاه!ويا حملة نعشاه!لاتغرنكم الدنيا كما غرتنی،ولا يلعبن بكم كما لعب بی،خلفت ماتركت لورثتی،والديان يوم القيامة يخاصمنی ويحاسبنی،وانتم تشيعونی وتدعونی.(شرح الصدور ص:۹۶،باب معرفة الميت من يغسله)۔

٤] واخرج ابوالحسن بن البراء فی كتاب الروضة بسندضعيف عن ابن عباس عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: مامن ميت يموت الاوهو يعرف غاسله،ويناشد حامله ان كان بشر بروح وريحان وجنة نعيم ان يعجله،وان كان بشر بنزل من حميم وتصلية جحيم ان يحبسه.(شرح الصدور ص:۹٤،باب معرفة الميت من يغسله)

# ❖ د اخرت جزا او سزا ❖

## د حشر په ورځ د محمد ﷺ د شفاعت تفصیل

**سوال:** د حشر په ورځ د نبي علیه السلام د امت د شفاعت تفصیلات څه دي؟

**جواب:** د دې تفصیلاتو لیکلو له پاره، خویو دفتر پکار دی مختصردا چې دشفاعت به څو صورتونه وي:

**اول**: شفاعت کبرا، دا یوازې دنبي کریم ﷺ سره خاص دی، قیامت په ورځ چې کله دخلکو په حساب کتاب کې ځنډ راشي، نوخلک به ډیرزیات پریشانه وي، خلک به ووایي چې موږ دې دوزخ ته وغورځول شو، خوچې له دې پریشاني نه نجات راکړل شي، دغه وخت به خلک دخپلو عالمانو نه ددې مسئلې دحل کولو پوښتنه وکړي، د علماءکرامو له طرفه به فتوا ورکړل شي چې ددې له پاره دې دیو نبي په ذریعه سفارش وکړل شي، خلک به علی الترتیب سیدنا ادم علیه السلام، نوح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، موسی علیه السلام او سیدنا عیسی علیه السلام ته ورشي، خو دا ټول حضرات به معذرت وکړي او دخپل ځان نه وزوسته پیغمبرباندې به حواله ورکوي.[۱]

---

۱] قوله:(والشفاعة التی ادخرها لهم حق،کما روی فی الاخبار)ش:الشفاعة انواع منها ماهو متفق علیه بین الامة، ومنها ماخالف فیه المعتزلة ونحوهم من اهل البدع. النوع الاول:الشفاعة الاولی،وهی العظمی،الخالصة بنبینا صلی الله علیه وسلم من بین سائر اخوانه من الانبیاء والمرسلین،صلوات الله علیهم اجمعین فی الصحیحین وغیرهما عن جماعة من الصحابة،رضی الله عنهم اجمعین،احادیث الشفاعة. منها:عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:اتی رسول الله صلی الله علیه وسلم بلحم،فدفع الیه منها الذراع،وکانت تعجبه،فنهس منها نهسة،ثم قال:اناسید الناس یوم القیامة،وهل تدرون لم ذلک؟یجمع الله الاولین والآخرین فی صعید واحد، فیقول بعض الناس لبعض:الاترون الی ماانتم فیه؟الاترون الی ماقد بلغکم؟الا تنظرون من یشفع لکم الی ربکم؟ فیقول بعض الناس لبعض:ابوکم آدم،فیاتون آدم،فیقولون:یاآدم!انت ابوالبشر،خلقک الله بیده،ونفخ فیک من روحه،وامر الملائکة فسجدوالک،فاشفع لنا الی ربک،الاتری الی مانحن فیه؟الاتری ماقد بلغنا؟فیقول آدم:ان ربی قد غضب الیوم غضبالم یغضب قبله مثله،ولن یغضب بعده مثله،وانه نهانی عن الشجرة فعصیته، نفسی، نفسی! نفسی، نفسی! اذهبوا الی غیری،اذهبوا الی نوح.فیاتون نوحا،فیقولون:یانوح!انت اول الرسل الی اهل الارض،وسماک الله عبدا شکورا،فاشفع لنا الی ربک،الاتری الی مانحن فیه؟الاتری ماقد بلغنا؟فیقول نوح:ان ربی قد غضب الیوم غضبا لم یغضب قبله مثله،ولن یغضب بعده مثله،وانه کانت لی دعوةدعوت بها علی قومی، نفسی، نفسی! نفسی، نفسی! اذهبوا الی غیری،اذهبوا الی ابراهیم.فیاتون ابراهیم،فیقولون:یاابراهیم!انت نبی الله وخلیله من اهل الارض، الاتری الی مانحن فیه؟الاتری ماقد بلغنا؟فیقولون:ان ربی قد غضب الیوم غضبالم یغضب قبله مثله،ولن یغضب بعده مثله، وذکر کذبة،نفسی،نفسی!نفسی،نفسی!اذهبوا الی غیری،اذهبوا الی موسی.فیاتون موسی:فیقولون:یاموسی!انت رسول الله،اصطفاک الله برسالاته وبتکلیمه علی الناس،اشفع لنا الی ربک،الاتری مانحن فیه؟الاتری ماقد بلغنا؟فیقول لهم موسی:ان ربی ....

[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

د مسند ابوداود طیالسی(ص ۳۵٤ مطبوعه حیدرآباد دکن) په روایت کې دي چې سیدنا عیسی علیه السلام به شفاعت غوښتونکو ته وفرمایي:" داوښیئ ! چې که چېرې په یو لوښي باندې مهرلګیدلی وي، نو ترڅو چې مهر پرانستل شوی نه وي دهغه لوښي دننه شی راویستل کیږي " هغوی به عرض وکړي نه ا عیسی علیه السلام به وفرمایي چې " بیامحمد ﷺ نن دلته موجوددی،دهغه په خدمت کې حاضرشئ".

غرض دا چې حضرت عیسی علیه السلام به دمحمد ﷺ په خدمت کې دحاضري مشوره ورکړي اوبیابه خلک دنبي علیه السلام په خدمت کې درخواست وکړي هغه ﷺ به ددوی درخواست قبول کړي او دشفاعت له پاره به مقام محمود باندې ودریږي او الله تعالی به یې شفاعت قبول کړي، دې ته شفاعت کبرا ویل کیږي، ځکه چې ددې فائده به ټولو امتونو او ټولو اولینو او اخرینو ته وي او دټولو حساب به شروع شي.[۱]

**دویم**. ځینې حضرات به دنبي کریم ﷺ په شفاعت له حساب پرته جنت ته داخل شي.[۲]

**دریم**: ځینې خلک چې دخپلې بدعملي له وجې به د دوزخ مستحق وي هغوی به له عذاب پرته جنت ته داخل کړل شي، دا شفاعت به نبي علیه السلام ته او دهغه ﷺ په طفیل به دالله په دربارکې نورو مقبولانوته نصیب وي.[۳]

---

...بقیه د تیر مخ]... قد غضب الیوم غضبالم یغضب قبله مثله،ولن یغضب بعده مثله،وانی قتلت نفسالم اومر بقتلها، نفسی، نفسی! نفسی،نفسی!اذهبوا الی غیری،اذهبوا الی عیسی.فیاتون عیسی،فیقولون:یاعیسی!انت رسول الله وکلمته القاها الی مریم وروح منه،قال:هکذا هو،وکلمت الناس فی المهد،فاشفع لنا الی ربک،الاتری مانحن فیه؟ الا تری ماقد بلغنا؟فیقول لهم عیسی:ان ربی قد غضب الیوم غضبالم یغضب قبله مثله،ولن یغضب بعده مثله،ولم یذکر له ذنبا،اذهبوا الی غیری،اذهبوا الی محمد صلی الله علیه وسلم،فیاتونی،فیقولون:یامحمد!انت رسول الله،وخاتم الانبیاء، غفرالله لک ذنبک،ماتقدم منه وماتاخر،فاشفع لنا الی ربک،الاتری الی مانحن فیه؟الاتری ماقد بلغنا؟ فاقوم،فآتی تحت العرش،فاقع ساجدا لربی عزوجل،ثم یفتح الله علی ویلهمنی من محامده وحسن الثناء علیه شیئالم یفتحه علی احد قبلی،فیقال:یامحمد!ارفع راسک،سل تعطه،اشفع تشفع،فاقول:یارب امتی امتی!یارب امتی امتی! یارب امتی امتی!فیقول:ادخل من امتک من لاحساب علیه من الباب الایمن من ابواب الجنة،وهم شرکاء الناس فیما سواه من الابواب،ثم قال:والذی نفسی بیده!لما بین مصراعین من مصاریع الجنة کما بین مکة وهجر، اوکما بین مکة وبصری اخرجاه فی صحیحین واللفظ لامام احمد شرح عقیدة الطحاویة ص۲۵۲، ۲۵۴_ ایضاً بخاری ص:۱۱۱۸طبع قدیمی الردعلی الجهمیة)_

۱] ایضاً پورتنئ حواله)_

۲] النوع الخامس:الشفاعة فی اقوام ان یدخلوا الجنة بغیرحساب،ویحسن ان یستشهد لهذا النوع بحدیث عکاشة بن محصن،حین دعاله رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یجعله من السبعین الفا الذین یدخلون الجنة بغیرحساب،والحدیث مخرج فی الصحیحین.(شرح العقیدة الطحاویة ص:۲۵۷قوله والشفاعة حق)_

۳] النوع شفاعته صلی الله علیه وسلم فی اقوام تساوت حسناتهم وسیئاتهم فیشفع فیهم لیدخلوا الجنة،وفی اقوام آخری قد امربهم الی النار،ان لایدخلوها.(شرح العقیدة الطحاویة ص:۲۵۷)_

**څلورم:** کوم ګنهګاران چې دوزخ ته داخل شوي وي. هغوی به د نبي کريمﷺ،د حضرات انبياء کرام عليهم السلام ، د ملائکو او د ايمان والاوو په شفاعت سره جنت کې داخل کړل شي، د دې ټولو حضراتو د شفاعت نه وروسته به الله تعالى دا (لااله الاالله) والا ټول د دوزخ نه راوباسي (دا به ګويا د ارحم الراحمين شفاعت وي) او په دوزخ کې به يوازې کافران پاتې شي.[1]

---

[1] النوع الثامن:شفاعته فى اهل الكبائر من امته،ممن دخل النار،فيخرجون منها،وقد تواترت بهذا النوع الاحاديث، وهذه الشفاعة تشاركه فيها الملائكة والنبيون والمؤمنون ايضا،وهذه الشفاعة تتكرر منه صلى الله عليه وسلم اربع مرات،ومن احاديث هذا النوع،حديث انس ابن مالك رضى الله عنه،قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: شفاعتى لاهل الكبائر من امتى،رواه الامام احمد رحمه الله،وروى البخارى رحمه الله فى كتاب التوحيد.......فقال:ياابا حمزة! هؤلاء اخوانک من اهل البصرة،جاؤوک يسالونک عن حديث الشفاعة، فقال: حدثنا محمد صلى الله عليه وسلم،قال:اذا كان يوم القيامة،ماج الناس بعضهم فى بعض،فياتون آدم، فيقولون: اشفع لنا الى ربک،فيقول:لست لها، ولكن عليكم بابراهيم،فانه خليل الرحمن،فياتون ابراهيم، فيقول: لست لها، ولكن عليكم بموسى،فانه كليم الله، فياتون موسى،فيقول:لست لها،ولكن عليكم بعيسى،فانه روح الله وكلمته، فياتون عيسى،فيقول:لست لها،ولكن عليكم بمحمد صلى الله عليه وسلم، فياتونى، فاقول: انالها، فاستاذن على ربى فيؤذن لى،ويلهمنى محامد احمده بها،لاتحضرنى الآن،فاحمد بتلک المحامد،وخرله ساجدا، فيقال: يامحمد! ارفع راسک، وقل يسمع لک،واشفع تشفع،وسل تعط،فاقول:يارب امتى امتى!فيقال:انطلق فاخرج منها من كان فى قلبه مثقال شعيرة من ايمان،فانطلق فافعل،ثم اعود فاحمده بتلک المحامد،ثم خرله ساجدا،فيقال:يامحمد!ارفع راسک، وقل يسمع لک،وسل واشفع تشفع،وسل تعط،فاقول:يارب امتى امتى!فيقال:انطلق فاخرج منها من كان فى قلبه مثقال ذرة اوخر دلة من ايمان،فانطلق فافعل،ثم اعود بتلک المحامد،ثم خرله ساجدا،فيقال:يامحمد!ارفع راسک، وقل يسمع لک،وسل تعط،واشفع تشفع،فاقول:يارب امتى امتى!فيقول:انطلق فاخرج من كان فى قلبه ادنى ادنى ادنى مثقال حبة من خردل من ايمان،فاخرجه من النار،فانطلق فافعل.قال:فلما خرجنامن عند انس،قلت لبعض اصحابنا لومررنا بالحسن،وهو متوار فى منزل ابى خليفة،فحدثناه بما حدثنا به انس بن مالک،فاتيناه،فسلمنا عليه، فاذن لنا، فقلنا:ياباسعيد!جئناک من عند اخيک انس بن مالک،فلم نرمثل ماحدثنافى الشفاعة، فقال: هيه؟ فحدثناه بالحديث، فانتهى الى هذا الموضع،فقال:هيه؟فقلنا:لم يزد لنا على هذا،فقال:لقد حدثنى وهو جميع،منذ عشرين سنة،فماادرى،انسى ام كره ان تتكلوا؟فقلنا:ياباسعيد!فحدثنا،فضحک وقال:خلق الانسان عجولا! ماذكرته الاوانا اريد ان احدثكم، حدثنى كما حدثكم به،قال:ثم اعود الرابعة،فاحمده بتلک المحامد،ثم خرله ساجدا، فيقال: يامحمد! ارفع راسک،وقل يسمع،وسل تعطه، واشفع تشفع،فاقول:يارب!ائذن لى فيمن قال:لااله الاالله،فيقول :وعزتى وجلالى،وكبريائى وعظمتى، لاخرجن منها من قال:لااله الاالله.وهكذا رواه مسلم.وروى الحافظ ابويعلى عن عثمان رضى الله عنه، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:يشفع يوم القيامة ثلاثة: الانبياء، ثم العلماء،ثم الشهداء.وفى الصحيح من حديث ابى سعيد رضى الله عنه مرفوعا،قال:فيقول الله تعالى: شفعت الملائكة،وشفع النبيون،وشفع المؤمنون،ولم يبق الا ارحم الراحمين،فيقبض قبضة من النار،فيخرج منها قومالم يعملوا خيرا قط.الحديث.(شرح العقيدة الطحاوية ص:٢٥٨-٢٦٠)۔

**پنځم:** ځينې خلکوله پاره په جنت کې د درجاتو پورته والي له پاره شفاعت وي.[1]

**شپږم:** ځينې کافرو له پاره به په دوزخ کې دعذاب دکم والي شفاعت وي.[2]

ددې ټولو شفاعتونو تفصيل په احاديثوکې راغلی دی.

## د خدای په فيصله کې دشفاعت برخه

**سوال:** که چېرې دشفاعت په فيصله باندې اثر نه کيږي، نو ددې فائده معلومه نه ده او که چېرې دا په فيصله باندې اثر کوي، نو دا تصرف دی، له دې وجې دشفاعت په باره کې ستاسو جواب اطمينان ورکونکی نه دی".

**جواب:** " اِلَّابِاِذْنِه" خوپه قران مجيدکې دي[3] له دې وجې شفاعت بالاذن باندې ايمان راوړل، خو واجب شو[4]،پاتې دتصرف شک، نوکه چېرې حاکم دا وغواړي چې که چېرې ددې ګنهګار شفاعت څوك وکړي، نودی به معاف شي، اګر چې هغه يې پخپله هم (پرته دشفاعت نه) معاف کولی شي، خو په شفاعت کې دشفيع (سفارش) دمرتبې او دحاکم دعظمت اظهار مقصود وي، نوپه دې کې اشکال څه دی؟

## د قيامت په ورځ به د چا په نوم بلل کيږي

**سوال:** دقيامت په ورځ به ميدان حشر کې دمور په نوم سره اواز کيږي اوکه دپلار په نوم سره؟

**جواب:** په يوروايت کې راځي چې خلکوته به دقيامت په ورځ دمورپه نوم سره اواز کيږي، خودا روايت ډېرکمزوری بلکې غلط دی[5]،ددې په مقابله کښې دصحيح بخاري شريف حديث دی چې په هغې کې دپلارپه نسبت سره د رابللو ذکردی او همدا صحيح دی.[6]

---

١] النوع الرابع:شفاعة صلى الله عليه وسلم فى رفع درجات من يدخل الجنة فيها فوق ماكان يقتضيه ثواب اعمالهم. (شرح العقدة الطحاوية ص:٢٥٧،قوله الشفاعة حق،طبع المكتبة السلفية لاهور پاكستان)_

٢] النوع السادس:الشفاعة فى تخفيف العذاب عمن يستحقه،كشفاعة فى عمه ابى طالب ان يخفف عنه عذابه، ثم قال القرطبى فى التذكرة:فان قيل:فقد قال تعالى:فما تنفعهم شفاعة الشافعين قيل له:لاتنفعه فى الخروج من النار،كم تنفع عصاة الموحدين،الذين يخرجون منها ويدخلون الجنة.(شرح العقيدة الطحاوية ص:٢٥٧)_

٣]مَنْ ذَا الَّذِىْ يشْفَعُ عِنْدَه اِلَّا بِاِذْنِه (البقرة : ٢٥٥)_

٤]قال القاضى عياض رحمه الله تعالى:مذهب اهل السنة جواز الشفاعة عقلا ووجوبها سمعا بصريح قوله تعالى : يَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَه الرَّحْمٰنُ وَرَضِىَ لَه قَوْلًا،وقوله تعالى : وَلَا يشْفَعُوْنَ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وامثالهما وبخبر الصادق صلى الله عليه وسلم...الخ.(شرح صحيح مسلم للنوى ج:١ ص:١٠٤)_

٥]يدعى الناس يوم القيامة بامهاتهم. اوګورئ: الموضوعات لابن الجوزى ج:٣ ص:٢٤٢،ميزان الاعتدال ص:٧١٩،لسان الميزان لابن حجر ج:١ ص:١٠٦٩طبع بيروت)_

٦] عن ابن عمر رضى الله عنهما عن النبى صلى الله عليه وسلم قال:ان الغادر يرفع له لواء يوم القيامة يقال: هذا غدرة فلان بن فلان.(صحيح البخارى ج:٢ص:٩١٢باب مايدعى الناس بآبائهم،طبع دارالسلام،بيروت)

# د قیامت په ورځ به خلک د پلار په نوم رابلل کیږي

**سوال:** د روزنامه جنګ په جمعه ایډیشن کې ,,ستاسو مسائل او د هغه حل،، مې ولوست. دا کالم زه باقاعده لولم، ددې کالم دلاندې تاسو دیو صاحب د سوال په جواب کې فرمایلي و. زه دهغه جواب لږ وضاحت غواړم، هغه سوال دا و: ایا دقیامت په ورځ به دپلار په نوم اواز کیږي او که دمور په نوم؟

د ماشوم والي نه موږ اورو چې دقیامت په ورځ به هرسړي ته دمورپه نوم سره اواز کیږي، خو نن په اول ځل ماستاسو په حواله دا ولوستل چې دقیامت په ورځ به خلک دپلار په نسبت سره رابلل کیږي.

ستاسو په علم کې به وي چې دپخوازماني نه واخله ترننه پورې ددنیا په مختلفو ملکونو کې داسې باقاعده مرکزونه دي چېرته چې عصمت فروشي (په معاوضه زنا کونکي) او دښځوخرڅولو ته دکاروبار درجه حاصله ده او داسې مرکزنو کې به ښکاره ده چې بچې پیداکیږي، نودداسې بچو پلار به د قیامت په ورځ څوك وي اوپه کوم ولدیت سره به هغه ته اواز کیږي؟ زمادمحدود علم مطابق حضرت عیسیٰ علیه السلام الله تعالی دمریم د بطن نه له پلار پرته پیدا کړ، کوم چې دالله دقدرت کرشمه ده، نو قدرمنده! لږ مې په دې خبره باندې پوه کړئ چې دقیامت په ورځ به حضرت عیسیٰ علیه السلام دچاپه ولدیت سره رابلل کیږي؟

واضحه دې وي دماشوم والي نه موږ په همدې وجه باندې دا اورو چې دحضرت عیسیٰ علیه السلام څوك پلارنشته هغه یوازې دمور اولاد دی له دې وجې دقیامت په ورځ به دحضرت عیسیٰ علیه السلام له وجې نه ټول خلک دمورنسبت سره رابلل کیږي.

حضور والا! زماپه دې ناقص ذهن کې راتلونکي ددې دوو سوالونو جواب راکړئ او زماپه علم کې اضافه وکړئ.

**جواب:** عامه مشهوره خبره خو هم داده چې خلک به دقیامت په ورځ د میندو په نسبت سره رابلل کیږي، خو داخبره نه په قران مجید کې راغلې ده، نه چېرته په قابل اعتماد حدیث کې، بلکه ددې په مقابله کې په صحیح احادیثوکې راغلي دي چې خلک به د قیامت په ورځ دخپل پلارپه نسبت سره رابلل کیږي.[1]

پاتې شوستاسو داسوال چې کوم بچې صحیح النسب نه دي یا دناواده شویو نه پیدا کیږي هغوی به د چانسبت سره رابلل کیږي ؟ ددې جواب دادی چې ددنیا په ټولو قومونو کې بچې دپلار طرف ته منسوبیږي او فلانکی دفلانکي زوی ویل کیږي، خو دلته بې پلاره ماشومانو سره کله هم څه اعتراض نه دی شوی زیات نه زیات دا ویل کیږي چې دداسې

---

[1] عن ابی الدرداء رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:انکم تدعون یوم القیامة باسمائکم واسماء آبائکم فاحسنوا اسمائکم.(ابوداؤد ج:۲ ص:۳۲۰،کتاب الادب،باب فی تغییر الاسماء)۔

ماشومانو نسب مورته منسوبیږي، دغه شان په قیامت کې به همداسې ماشومان دهغوی میندو ته منسوبیږي او دکومو بچودنوم شهرت چې په دنیاکې دپلار سره و، هغه دهغه مشهور پلار طرف ته منسوبیږي، والله اعلم.

او دحضرت عیسیٰ علیه السلام نسبت خوپه دنیاکې هم دهغه موربي بي مریم سره و اوده ته ځنګه چې په قران کریم کې ځای په ځای عیسیٰ بن مریم ویل شوي دي، دقیامت په ورځ به هم دهغه دغه نسبت قائم پاتې وي، ځنګه چې دقیامت په ورځ به دحضرت عیسیٰ علیه السلام نه کوم سوال اوجواب وي، قران کریم هغه هم ذکرکړی دی او هغه یې د"یاعیسی ابن مریم" سره مخاطب کړی دی[1] اودا خصوصیت یوازې حضرت عیسیٰ علیه السلام ته حاصل دی چې په دنیا اوقیامت کې به د هغه نسبت مور طرف ته کیږي، دې ته له دې خبرې ته نورهم زیات تقویت موجود یږي چې دقیامت په ورځ به حضرت عیسیٰ علیه السلام دمور په نوم سره رابلل کیږي، پاتې نورهیڅوك به هم دمور په نوم نه رابلل کیږي، ددې له پاره چې دهغه خصوصیت معلوم شي.

په هرحال داحادیث نبویه اودقران مجیدنه ددې خبرې ثبوت دی چې دقیامت په ورځ به دخلکونسبت پلار طرف ته وي.

## د مرګ نه وروسته او د قیامت په ورځ د عملونو تول

**سوال:** جناب مفتي صاحب ایا دا صحیح دي چې دمحشر په ورځ به زموږ صغیره او کبیره ګناهونه دمیزان په تله تلل کیږي او دچاتله چې زیاته یاکمه شي دهغه مطابق به د جزا او سزا مستحق وي؟

**جواب:** د قران کریم ایتونو او په صحیح احادیثوکې داعمالو تول کېدل ذکرشوي دي، په هغه میزان کې به دایمان او کفر وزن کیږي[2] اوبیابه دخاصو مومنانو له پاره په یوه تله کې

---

۱]وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِيْ وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ(المائدة : ۱۱۶)۔

۲]وقوله:والميزان،اى ونؤمن بالميزان،قال تعالى:(ونضع الموازين القسط ليوم القيمة،فلا تظلم نفس شيئا،وان كان مثقال حبة من خردل اتينا بها،وكفى بنا حاسبين)الانبياء۴۷.وقال تعالى:(فمن ثقلت موازينه فاؤلئک هم المفلحون، ومن خفت موازينه فاؤلئک الذين خسروا انفسهم فی جهنم خلدون)المؤمنون:۱۰۳-۱۰۴، قال القرطبي:قال العلماء: اذا انقضى الحساب كان بعده وزن الاعمال لان الوزن للجزاء،فينبغي ان يكون بعد المحاسبة،فان المحاسبة لتقرير الاعمال والوزن لاظهار مقاديرها ليكون الجزاء بحسبها،قال:وقوله تعالى:(ونضع الموازين القسط ليوم القيمة) الانبياء:۴۷،يحتمل ان يكون ثم موازين متعددة توزن فيها الاعمال،ويحتمل ان يكون المراد الموزونات،فجمع ياعتبار تنوع الاعمال الموزونة،والله اعلم.والذى دلت عليه السنة:ان ميزان الاعمال له كفتان حسيتان مشاهدتان،روى الامام احمد،من حديث ابى عبدالرحمن الحبلى،قال:سمعت عبدالله بن عمرو يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان الله سيخلص رجلا من امتى على رؤوس الخلائق يوم القيامة،فينشر عليه تسعة وتسعين سجلا،كل سجل مد البصر،ثم يقول له:اتنكر من هذا شيئا؟اظلمتک كتبتى الحافظون؟ قال: لايارب! فيقول:الک عذر او حسنة؟فيبهت الرجل،....

[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

ددوی نیکي او په دویمه کې ددوی بدي تلل کیږي او ددوی داعمالو وزن به وشي، څنګه چې په درمنثور کې دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت شوی دی چې که چېرې حسنات (نیکۍ) غالب شوې، نوجنت اوکه بدي غالب شوې، نو دوزخ اوکه چېرې دواړه برابرشول، نو اعراف به د هغه له پاره تجویزشي[1]. بیا که په شفاعت سره له سزا پرته یادسزانه وروسته یې مغفرت وشي.

**یادونه.** دجنت او دجهنم په مینځ کې حایل (پرده) کیدونکي چار دیواري دپورتنۍ برخې نوم اعراف دی[2]، په دې مقام باندې به څه خلک وي چې دجنت او دوزخ ددواړو طرفونو حالات به ویني، هغوی به دجنتیانو دعیش او ارام نه نسبت جهنم کې او دجهنمیانو په نسبت په جنت کې وي په دې مقام باندې به کوم خلک ساتل کیږي ؟ په دې کې ګڼ اقوال دي، خو صحیح او راجح قول دادی چې دا به هغه خلک وي چې دچادنیکي اوبدي دواړه برابر وي.[3]

## ایا د حساب کتاب نه وروسته به د نبي بعثت وي

**سوال:** دټیلي ویژن فهم القران پروګرام کې علامه طالب جوهري وفرمایل چې الله تعالی به دقیامت نه وروسته هغو غیرمسلموته په دویم ځل نبي راولیږي، کومو ته چې اسلام نه دی رسیدلی، ددې له پاره چې هغوی مسلمانان شي، هغه روایت ذکرکړ، خو تفصیل یې بیان

...بقیه د تیر مخ]... فیقول:لایارب!فیقول:بلی ان لک عندنا حسنة واحدة،لاظلم الیوم علیک،فتخرج له بطاقة فیها:اشهدان لااله الاالله،وان محمدا عبده ورسوله، فیقول: احضروه، فیقول: یارب! وما هذه البطاقة مع هذه السجلات؟فیقال:انک لاتظلم،قال:فتوضع السجلات فی کفة،والبطاقة فی کفة، قال فطاشت السجلات وثقلت البطاقة،ولایثقل شئ بسم الله الرحمن الرحیم.هکذا روی الترمذی وابن ماجة،وابن ابی الدنیا،من حدیث اللیث،زاد الترمذی:ولایثقل مع اسم الله شئ.(شرح العقیدة الطحاویة ص: ۴۷۲، ۴۷۳، قوله:والمیزان،طبع المکتبة السلفیة،لاهور پاکستان)۔

۱]عن ابن عباس قال:من استوت حسناته وسیآته کان من اصحاب الاعراف.(تفسیر در منثور ج:۳ ص:۸۹طبع ایران).ایضا عن ابن مسعود قال:یحاسب الناس یوم القیامة،فمن کانت حسناته اکثر من سیئاته بواحدة دخل الجنة، ومن کانت سیئاته اکثر من حسناته بواحدةدخل النار،ثم قرا قول الله:فمن ثقلت موازینه.....الآتین،ثم قال:ان المیزان یخف بمثقال حبة ویرجع،قال:ومن استوت حسناته وسیئاته کان من اصحاب الاعراف.(تفسیر ابن کثیر ص:۱۶۰سورة الاعراف آیت:۴۶،۴۷)۔

۲]قال مجاهد:الاعراف:حجاب بین الجنة والنار،سورله باب،قال ابن جریر:والاعراف جمع عرف،وکل مرتفع من الارض عند العرب یسمی عرفا.(تفسیر ابن کثیر ج:۳ ص:۱۵۹سورة الاعراف آیت۴۶،۴۷)۔

۳] عن حذیفة انه سئل عن اصحاب الاعراف قال:فقال:هم قوم استوت حسناتهم وسیائتهم،فقعدت بهم سیئاتهم عن الجنة،وخلفت بهم حسناتهم عن النار،قال:فوقفوا هناک علی السور حتی لیقضی الله فیهم،وقد رواه من وجه آخر البسط من هذاالقال.........ان حذیفة ذکر اصحاب الاعراف فقال:هم تجاوزت بهم حسناتهم النار،وقعدت بهم سیئاتهم عن الجنة،فاذا صرفت ابصارهم تلقاء اصحاب النار قالوا:ربنا لاتجعلنا مع القوم الظالمین،فبیناهم کذلک،اطلع علیهم ربک اطلاعة فقال هم:اذهبوا فادخلوا الجنة،فانی قد غفرت لکم.(تفسیر ابن کثیر ج:۳ ص:۱۶۰سورة الاعراف آیت:۴۷،۴۶طبع مکتبة رشیدیه کوئته)۔

نکړ، داشان خومثلا حبشي قوم چې دهغوی دژوند پوره برخه په ځنګل کې تیره شوه او غیرمسلمه مړه شول ایا قیامت نه وروسته به غیرمسلموته بیا داسلام تبلیغ شروع کیږي، نو کوم نبیان به وي چې دا دتبلیغ کاربه کوي؟

**جواب:** په قیامت کې دکوم نبي دمبعوث کیدو روایت زماپه علم کې نشته کوموخلکو ته چې داسلام دعوت نه دی رسیدلی دهغوی په باره کې راجع مسلك دادی چې که چېرې هغوی دتوحید قایل وي، نو دهغوی بښنه به وشي اوکه نه نه.[١]

## نبي کريم ﷺ په جزا او سزا کې شريک نه دی بلکې اطلاع ورکونکی دی

**سوال:** عزت اوذلت او جزا او سزا دالله تعالی په اختیار کې دي، دې سره به خپل کلام پاك کې دسورت اعراف رکوع (٢٣)،سورت احزاب رکوع (٦) او سورت السبا رکوع (٣) کې حضرت محمد رسول الله ﷺ خوشخبري (زیری) ورکونکي وګرځول شو، ددې خوشخبري ورکونکي لفظ څه مفهوم وګڼل شي.

ایا په دې کې علم غیب پټ دی؟ چیرته چې الله تعالی دجزا او سزا مالك دی په هغه رسالت ماب ﷺ هم شریك دی هرکله چې هغه ﷺ خوشخبري ورکونکی دی.

**جواب:** نبي کریم ﷺ په نیکو اعمالوباندې خوشخبري ورکونکی دی چې الله تعالی دداسې خلکو له پاره دنیکو جزاء وعده کړې ده، نبي کریم ﷺ په جزا او سزا کې شریك نه دی، بلکې من جانب الله دجزا او سزا اطلاع ورکولوباندې مامور دی.[٢]

## د ګناه دنیاوي سزا او د اخرت سزا

**سوال:** که چېرې یو سړي قتل کړی وي اوهغه ته په دنیاکې پانسي یاټول عمرد قید سزا ورکړل شي، نوایا دقیامت په ورځ به هم هغه ته سزا ورکول کیږي؟

**جواب:** د اخرت دعذاب معافي په توبې سره کیږي،که چېرې هغه ته په خپل جرم باندې پښیمانتیا وي او توبه یې وویستله او دالله تعالی نه یې معافي وغوښتله، نو داخرت سزابه نه ورکول کیږي[٣]، اوکه توبه ، معافي وغیره یې ونه غوښتل بیابه سزا ورکول کیږي، داسې مجرم چې هغه ته په دنیاکې سزا ورکړل شي، اکثر په خپلو شویو کارونوباندې پښیمانه شي

---

١] ومنها العقل آلة للمعرفة....لاعذر لاحد فى الجهل بخالقه....وثمرة الخلاف انما يظهر فى حق من لم يبلغه الدعوة اصلا....ولم يسمع رسولا ومات ولم يؤمن بالله فيعذب عندنا.(شرح فقه اكبر ص:١٦٨،١٦٩)۔

٢] انْ اَنْتَ الَّا نَذيرٌ، انَّا اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشيرًا وَّنَذيرًا وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ الَّا خَلَا فيها نَذيرٌ (فاطر :٢٣،٢٤)۔

٣]وَلَيس شئ يكوَن سَببا لغفران جَميع الذنوب الاالتوبة.(شرح عقيَدة الطحَاوية ص:٣٦٧)۔

اود هغه نه توبه وباسي، ځکه په حديث کې راغلي دي چې چاته په دنياکې سزا ورکړل شوه هغه دده له پاره داخرت دعذاب نه کفاره ده[۱] اوچاته چې په دنياکې سزا ورنه کړل شوه دهغه معامله الله تعالی ته سپارل شوې ده دهغه دکرم نه اميددی چې معاف به يې کړي.[۲]

## انسان خپلو اعمالو سره جنتي ګرځي په اتفاقياتو او نوروشيا نو سره نه

**سوال:** که چېرې څوك درمضان دمياشتې په شپه يا اوله روژه کې مړ شي، نو ايا هغه جنتي دی؟ يا دغسل نه وروسته د خانه کعبې دغلاف ټکړه په قبرکې دفن کولو پورې دمړي سرته پرته وي، نوايا هغه جنتي شو؟

**جواب:** نه ! سړی خپلو اعمالو سره جنتي جوړيږي، ديوسړي په باره کې قطعي طورباندې دا نه شي ويل کېدای چې هغه جنتي دی، خو دځينې شيانوښې علامې ويل شوي دي.

## ايا د ټولو مذهبونو خلک به ښنل کيږي

**سوال:** يوسړي دا وويل چې هيڅ ضروري نه ده چې دقران او حديث پابند خلکوته به ښښنه کيږي، بلکې دټولو مذهبونو خلکوته به ښښنه کيږي؟

**جواب:** داعقيده چې دنبي کريم ﷺ دبعثت نه وروسته به دټولو مذاهبو خلکوته ښښنه کيږي خالص کفردی، ځکه چې دنورو مذاهبو خلک کوم چې الله پاك سره شرك کوي دالله اود رسول الله ﷺ تکذيب کوي دهغوی په باره کې قران مجيدکې ځای په ځای تصريحات موجود دي چې دهغوی ښښنه نه کيږي[۳]، چې کوم سړی الله او رسول ﷺ مني هغه دا عقيده نه شي ساتلی چې دټولو مذاهبو خلک به ښنل کيږي.[۴]

## دکافرانو د نيکو عملونو بدله

**سوال:** که چېرې يو کافر څه نيك کار وکړي مثلاً: چېرته کوهی وباسي، يادالله پاك مخلوق

---

۱] الرابع:المصائب الدنيوية قال صلى الله عليه وسلم:مايصيب المؤمن من وصب ولانصب ولاغم ولا هم.... الاكفر بها خطاياه.(شرح العقيدة الطحاوية ص:۳٦۹)۔

۲] السبب الحادى عشر:عفو ارحم الراحمين من غير شفاعة.(شرح عقيدة الطحاوية ص:۳۷۰).ويغفر مادون ذلک لمن يشاء من الصغائر والكبائرمع التوبة اوبدونها.(شرح عقائد ص:۱۱۲،طبع مکتبه خيرکثير، کراچی)۔

۳]انّ اللّٰہ لَا يغْفِرُ اَنْ يشْرَكَ بِه وَيغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِکَ......الخ،، (النساء: ۱۱٦)۔

٤] عن ابي هريرة رضى الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:امرت ان اقاتل الناس حتى يشهدوا ان لااله الاالله ويؤمنوا بي وبما جئت به....الخ.(صحيح مسلم ج:۱ ص:۳۷،مشكوة ج:۱ ص:۱۲،).وعن ابي هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:والذى نفس محمد بيده!لايسمع بي احد من هذه الامة يهودى ولانصرانى ثم يموت ولم يؤمن بالذى ارسلت به الاكان من اصحاب النار.رواه مسلم.(مشكوة ص:۱۲،كتاب الايمان)

سره درحم او شفقت سلوك وكړي، لكه څه موده مخكې بهارتي كركټر بشن سنګه بيدي يو مسلمان ماشوم ته وينه وركړې وه، نو ايا كافرانو ته په دې نيك كارباندې اجرور كول كيږي؟

**جواب:** د عمل د قبوليت د پاره ايمان شرط دى[۱] او د ايمان نه پرته نيكي داسې ده لكه دروح نه پرته بدن، له دې وجې هغه ته به په اخرت كې اجرنه وركول كيږي، خو په دنياكې دداسې نيك كارونو بدله وركول كيږي.[۲]

**سوال:** دنياوي تعليم حاصلونكي څه حضرات فرمايي چې كافر كوم نيك كارونه كوي، هغوى ته به په قيامت كې دهغه بدله وركول كيږي او جنت ته به ځي، ما هغوى ته وويل چې كافر كه اهل كتاب وي هغوى ته به دنيكو كاروبدله دلته وركول كيږي په قيامت كې به نه وركول كيږي، نه به هغوى جنت ته ځي، ترڅوپورې يې چې كلمه يې نه وى ويلي او مسلمان شوى نه وي.

**جواب:** ستاسو خبره صحيح ده په قران مجيد احاديثو كې بې شماره ځايونوكې فرمايل شوي دي چې جنت دايمان لرونكو له پاره دى او كافرانو له پاره جنت حرام دى[۳] او دا هم ډيرو ځايونو كې فرمايل شوي دي چې دنيكو كارونودقبليدو له پاره ايمان شرط دى،له ايمان پرته هيڅ عمل قبول نه دى[۴] نه به دقيامت په ورځ په دې څه اجرور كول كيږي.[۵]

**سوال:** ټول خلک دحضرت ادم عليه السلام اولاد دى او امت محمدي ﷺ كې دي، عيسايان يا يهوديان خلک چې په هغوى باندې الله تعالى تورات، انجيل، نازل كړى دى،كه چېرې هغوى په خپل مذهب باندې عمل كوي، له دې پرته سخاوت،دغريبانانو مدد كول، هسپتال

---

۱] اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِىْ سَبِيلِ اللهِ لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللهِ وَاللهُ لَايَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِينَ (التوبه۱۹) وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِىْ خُسْرٍ اِلَّا الَّذِينَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ الخ(سورة العصر)

۲] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم....:واما الكافر فيطعم بحسنات ماعمل بهالله فى الدنيا حتى اذا افضى الى الآخرة لم يكن له حسنة يجزى بها.رواه مسلم.(مشكوة ص:۴۳۹،كتاب الرقاق)_

۳] اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا خٰلِدِينَ فِيهَا....الخ.(الكهف:۱۰۷). انَّه مَنْ يُشْرِكْ بِاللهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَيهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰه النَّارُ(المائدة : ۷۲). وعَن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلىَ الله عليه وسلم:والذى نفس محمد بيده!لايسمع بى احد من هذه الامة يهودى ولانصرانى ثم يموت ولم يؤمن بالذى ارسلت به الاكان من اصحاب النار.رواه مسلم.(مشكوة ص:۱۲،كتاب الايمان،الفصل الاول)

۴] والعصر ان الانسان لفى خسر، الا الذين امنوا وعملوا الصلحٰت،، (العصر: ۱_۳) ومن يعمل من الصلحٰت من ذكر او انثى وهو مؤمن فاوليك يدخلون الجنة........الخ، (النسآء: ۱۲۴)_

۵] اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِىْ سَبِيلِ اللهِ لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللهِ (التوبة: ۱۹) عن انس قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم.......واماالكافر فيطعم بحسنات ما عمل بهالله فى الدنيا حتى اذا افضى الى الآخرة لم يكن له حسنة يجزى بها.(مشكوة ص:۴۳۹،كتاب الرقاق)_

جوړل او د دې نه پرته نور ښه کارونه کول د کومو چې اسلام هم اجازه ورکړې ده، نو ایا هغه خلک جنت ته نه شي تللي؟ الله کریم غفور رحیم دی.

**جواب:** په قران کریم کې دي چې الله تعالی کفر او شرک نه معاف کوي، له دې نه د کمې درجې چې کوم ګناهونه دي هغه چې چاته وغواړي معاف به یې کړي[1] او حدیث شریف کې دي چې په دې امت کې کوم سړی زما په باره کې واوري او په ما باندې ایمان رانه وړي، که هغه یهودي وي یا نصراني، الله تعالی به هغه په دوزخ کې داخل کړي[2] خلاصه دا چې د نجات او مغفرت له پاره ایمان شرط دی د ایمان نه پرته به ښننه نه وي.

## د ګنهګار مسلمان ښښنه

**سوال:** مولاناصاحب! ایا ګنهګار مسلمان چې هغه د الله تعالی د وحدانیت اقرار کړی وي، خو ټول عمر یې په ګناهونو کې تیر کړی وي هغه به په اخرت کې د ګناه سزا زغملو نه وروسته جنت ته داخلیږي او که نه؟

**جواب:** د چا خاتمه چې په ایمان باندې وشوه، ان شاءالله هغه ته به څه نا څه وخت ضرور ښننه وشي[3]، خو د مرګ نه مخکې انسان له پاره ریښتیني توبه ویستل پکار دي، ځکه چې د الله تعالی د عذاب برداشت نه شي کېدلی او ځینې ګناهونه داسې وي چې د هغو په نحوست سره ایمان ختمیږي[4].... (نعوذبالله)..... له دې وجې د خاتمه بالخیر ډیر اهتمام کول پکار دي او دې له پاره دعاګانې هم کول پکار دي.

الله تعالی دې ټولو مسلمانانو ته د ښایسته خاتمې دولت نصیب کړي او د خرابې خاتمې نه دې موږ په خپله پناه کې وساتي.

---

۱] ان الله لا یغفر ان یشرك به ویغفر ما دون ذلك.....الخ. (النسآء: ۱۱٦)۔

۲] عن ابی هریرة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه قال: والذی نفس محمد بیده! لایسمع بی احد من هذه الامة یهودی ولانصرانی ثم یموت ولم یؤمن بالذی ارسلت به الاکان من اصحاب النار. (صحیح مسلم، باب وجوب الایمان برسالة نبینا محمد صلی الله علیه وسلم ج:۱ ص:۸٦)۔

۳] ان الله لا یغفر ان یشرك به ویغفر ما دون ذلك.....الخ. (النسآء: ۱۱٦) ایضا واهل الکبائر من المؤمنین لایخلدون فی النار وان ماتو من غیر توبة لقوله تعالی: فمن یعمل مثقال ذرة خیرًا یره ونفس الایمان عمل خیر لایمکن ان یری جزائه قبل دخول النار ثم یدخل النار لانه باطل بالاجماع فتعین الخروج من النار. (شرح عقائد ص:۱۱٦)۔

٤] اویکون ممن کان مستقیما ثم یتغیر عن حاله ویخرج عن سننه ویاخذ فی طریقة فیکون ذلک سببالسوء خاتمته وشؤم عاقبته، کابلیس الذی عبدالله فیما یروی ثمانین الف سنة، وبلعام بن باعوراء الذی آتاالله آیاته فانسلخ منها الی الارض واتبع هواه، وبرمیصا العابد الذی قال الله فی حقه کمثل الشیطان اذقال للانسان اکفر. (التذکرة للقرطبی ص:٤۲)۔

## د ګناه او ثواب برابر کیدو والا انجام

**سوال:** که چېرې دقیامت په ورځ دانسان ګناه او ثواب برابر وي، نوایا هغه به جنت ته ځي اوکه جهنم ته؟

**جواب:** دیوقول مطابق داسړی به څه موده په اعراف کې اوسیږي له دې نه وروسته به جنت ته داخل شي.[۱]

## ایا قطعي ګناه چې ګناه نه ګڼي هغه به همیشه په جهنم کې وي

**سوال:** څنګه چې په حدیث کې دي چې " رشوت اخستونکی او رشوت ورکونکی دواړه دوزخیان دي"، نوایا داسې دوزخي به همیشه همیشه له پاره د دوزخ په اورکې وي، داشان نورګنهګاران هم چې په دې دنیاکې په مختلفو ګناهونو کې اخته دي،هغوی به همیشه په دوزخ کې اوسیږي یابه دګناهونو دسزا زغملونه وروسته جنت ته داخلیږي، یابه دوزخي ته هیڅ کله هم جنت نه نصیب کیږي؟

**جواب:** دایمي جنهم خودکفر سزا ده، دکفراوشرك نه پرته چې څومره ګناهونه دي که چېرې انسان توبې نه پرته مړشي، نوهغه ته به مقرره سزا ورکول کیږي اوکه چېرې الله پاك وغواړي، نوخپل رحمت سره به یې پرته دسزانه معاف کړي، په دې شرط چې ایمان باندې یې خاتمه وشي[۲]خو دا یاد ساتل پکاردي چې ګناه ګناه نه ګڼلوسره انسان دایمان نه خارجیږي[۳]اودا ډېره باریکه اوسخته خبره ده، ډېرسود خوړونکي، رشوت خوړونکي،او ډېره خریونکي یالندونکي خپل ځان بالکل ګنهګار نه ګڼي.

لنډه دا چې کوم ګناهونه انسان ګناه وګڼي اوکوي یې اوخپل ځان ګنهګار او مجرم تصور کوي هغوی ته، خوبه معافي وشي، که سزا نه وروسته وي یادسزا نه پرته، خو کوم ګناهونه چې یې بیخي ګناه ونه ګڼله، نودده معامله زیاته خطرناکه ده.

## ګنهګار مسلمان به د دوزخ نه وروسته جنت ته ځي

**سوال:** دجنت ژوند همیشه دی، ایا ددوزخ کې اچول شوي کلیمه ویونکي به دسزا نه وروسته جنت ته داخلیږي، یادهغه سزاهم همیشه ده؟ دقران او حدیث نه وضاحت وکړئ.

---

۱] سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عمن استوت حسناته وسيئاته،فقال:اولئک اصحاب الاعراف، (تفسير ابن كثير ج:۳ ص:۱٥۹،طبع رشيديه كوئته).فبيناهم كذلک اطلع عليهم ربک اطلاعة فقال لهم: اذهبوا فادخلوا الجنة فانى قد غفرت لكم.(تفسير ابن كثيرج:۳ ص:۱٦۰)۔

۲] ويغفرمادون ذلک لمن يشاء من الصغائر والكبائر مع التوبة او بدرونها.(شرح العقائد النسفيه ص:۱۱۲)

۳]ان استحلال المعصية صغيرة كانت او كبيرة،كفر.(شرح فقه اكبر ص:۱۸٦،طبع دهلى)۔

**جواب:** د کوم سړي په زړه کې چې د ټولونه د کمې درجې ایمان هم وي، هغه به همیشه دوزخ کې نه پاتې کیږي، سزا لیدلو نه وروسته به جنت ته داخل شي.[1]

## د نیکي امر کول او د بدي نه منع کول د الله د عذاب د بندولو ذریعه ده

**سوال:** یوعرض دی چې دیني رساله بینات خالص دیني پکار ده په چاباندې اعتراض او بد ویل زمانه خوښیږي، دې سره دنفرت جذبه را پورته کیږي،دصدر ضیاء الحق په بیاناتو باندې اعتراضونه یقینا په عواموکې دنفرت خوریدلو ذریعه جوړیږي، چې هغه سره دملک د بنیادونو کمزور کیدو خطره ضرور ده، هسې هم ملك دکورنیو اوبهرنیو خطرو سره مخامخ دی؟ کله بهارت(هند) په بده سترګه ګوري اوکله دکارمل دانتظامیې په اشارو باندې د روس اواز اوریدل کیږي،کله د خمیني د اسلامي انقلاب د راتلو خبرونه اوریدل کیږي اوکله د ملك هتهوړا ګروپ کلهاړا ګروپ وغیره اوازونه اوریدل کیږي، عرض دا چې په داسې حالاتو کې لږ شان بخري زموږ دپاکستان قوت ختمولی شي، په داسې صورت کې بیا دا ذمه داري په چا باندې راځي؟ په دې باره کې لږ شان تفصیل سره که رڼا واچول شي، نو مهرباني به موږ وي.

**جواب:** ستاسو دا خبره خوپه ځای ده چې عزتمند ملك په ډیرو کورنیو او بهرنیو خطرونوکې ګیر دی او دا خبره هم بالکل صحیح ده چې په دې حالاتوکې د حکومت نه بې اعتمادي پیدا کول دپوهې او عقل دقبلولو نه ده، خو تاسوته معلومه ده چې په بینات کې یاد راقم الحروف په بل کوم تحریرکې دصدر ضیاء الحق صاحب د یوسیاسي فیصلې په باره کې هیڅکله خله نه ده پرانستل شوې" امور مملکت خویش کارمملکت خسروان دانند"

خو چرته چې د دیني غلطیو تعلق دی په هغو باندې ردکول نه یوازې دا چې د علماوو فرض دي (او زه افسوس او ندامت سره اقرارکوم چې موږ دا فرض یو فیصد هم نه دي ادا کړي) بلکې دا پخپله د صدر محترم په حق کې دخیر ذریعه ده په دې سلسله کې زه تاسوته د امیرالمومنین حضرت معاویه بن سفیان رضی الله عنهما واقعه اوروم کومه چې مولانا محمدیوسف کاندهلوي رحمه الله په حیاة الصحابه کې نقل کړې ده:

**واخرج الطبراني وابویعلی عن ابي قبیل عن معاویة بن ابی سفیان رضي الله عنهما انه صعد المنبریوم القیامة فقال عند خطبته: انما المال مالنا والفئ فیئنا فمن شئنا اعطیناه ومن شئنا منعناه فلم یجبه احد فلما کان فی الجمعة الثانیة قال مثل ذالك فلم یجبه احد فلما کان فی الجمعة الثالثة قال مثل مقالته فقام الیه رجل ممن حضر المسجد فقال: کلا انما المال مالنا والفئ فیئنا فمن**

---

[1] فلایبقی فی النار من فی قلبه ادنی ادنی ادنی مثقال ذرة من ایمان....الخ.(شرح عقیدة الطحاویه ص:۳۷۱)_

حال بيننا وبينه حاكمناه الى الله باسيافنافنزل معاوية رضي الله عنه فارسل الى الرجل فادخله فقال القوم: هلك الرجل ثم دخل الناس فوجدواالرجل معه على السرير فقال معاوية رضى الله عنه للناس: ان هذا احياني احياه الله، سمعتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: سيكون بعدى امراء يقولون ولايردعليهم يتقاحمون فى النار كما تتقاحم القردة وانى تكلمت اول جمعة فلم يردعلى احد فخشيت ان اكون منهم ثم تكلمت فى الجمعة الثانية فلم يردعلى احدفقلت فى نفسى انى من القوم ثم تكلمت فى الجمعة الثالثة فقام هذاالرجل فرد على فاحياني احياه الله.

(قال الهيثمى(ج۵ ص۲۳۶) رواه الطبرانى الكبير والاوسط وابويعلى ورجاله ثقات،اهـ (حياة الصحابه ج۲ص۶۷).

**ترجمه**: حضرت معاویه بن ابي سفيان رضى الله عنهما دقمامه په ورځ منبر ته وخوت او پخپله خطبه کې یې وفرمایل چې مال زموږ دی او فی (غنیمت) زموږ دی، موږ چې چاته وغواړو وربه یې کړو اوکه چاته وغواړو نه به یې ورکوو.

دې خبرې په اوریدو هیچاجواب ورنکړ، دویمه جمعه راغله، نو حضرت معاویه رضي الله عنه خطبه کې بیاهغه خبره وکړه بیا خلک غلی وو، په دریمه جمعه کې بیا هغه خبره تکرار کړه، په دې باندې دمسجد دحاضرینو نه یو سړی ودرید او ویې ویل بالکل نه ! داما‌ل زموږ دی اوغنیمت زموږ دی څوك چې ددې او زموږ په مینځ کې منع کونکی شي موږ به دخپلو تورو په ذریعه دهغه فیصله دالله تعالی په دربارکې وړاندې کوو، حضرت معاویه رضي الله عنه دمنبر نه راکوز شو،هغه سړی یې را وغوښت او ځان سره یې دننه بوته، خلکو وویل چې داسړی، خو هلاک شو.

• چې کله خلک دننه راغلل، نو ویې کتل چې هغه سړی دحضرت معاویه رضي الله عنه سره په تخت ناست دی، حضرت معاویه رضي الله عنه خلکو ته وفرمایل چې دې سړي زه ژوندی کړم الله دې دی ژوندی ساتي، ما درسول الله صلى الله عليه وسلم نه پخپله اوریدلي دي چې زما نه وروسته به څه حاکمان وي چې (دشریعت نه خلاف) خبرې به کوي، خو هیڅوك به هغه نه ردوي، داخلك به په جهنم کې داسې ننوځي، څنګه چې بیزو راښکل کیږي، ماپه اوله جمعه یوه خبره وکړه په هغه ماته چاهم جواب رانکړ، نوماته ویره پیداشوه چې چیرته زه دهغو خلکونه نه یم، بیامې دویمه جمعه په دویم ځل دا خبره وکړه دا ځل هم چازما تردید ونکړ، نوماپخپل زړه کې سوچ وکړ چې زه له همدغو خلکو نه یم، بیا مې دریمه جمعه هم دا خبره وکړه، نو داسړی پورته شواو زه یې منع کړم، نو زه ده ژوندی کړم،الله تعالی دې دی ژوندی وساتي".

او دا نه یوازې د صدر مملکت په حق کې دخیراوبرکت شی دی، بلکې دامت بهتري او خلاصی هم په دې کې دی، څنګه چې دحضرت حذیفه رضي الله عنه نه روایت شوی دی چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم وفرمایل: والذى نفسى بيده لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنكراوليوشكن الله

ان يبعث عليكم عذاباً من عنده ثم لتدعنه ولايستجاب لكم. (رواه الترمذی مشکوة ص۴۳۶).

**ترجمه:** په هغه ذات قسم چې دهغه په قبضه کې زما ساه ده، تاسو به دنيکي حکم کوئ اودبدي نه به منع کوئ ، که نه نژدې ده چې الله تعالى به په تاسوباندې خپل عذاب نازل کړي، بيابه تاسو دهغه نه دعا کوئ او ستاسو دعا به نه قبليږي."

ددې ارشادات نبويه ﷺ په رڼا کې د راقم الحروف دا احساس دی چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر عمل دعذاب الهي دبندوو ذريعه ده، نن په امت باندې چې کوم ډول ډول مصيبتونه راپريوځي اومونږ په مختلف ډوله خطرونو کې ګيرېو، ددې لويه وجه داده چې داسلامي معاشرې(ټولنې) "احتسابي حس" کمزوری او دنهي عن المنکر اوازډېر په کرار شوی دی، په کومه ورځ چې دا اواز بالکل چوپ شي په هغه ورځ به دالله تعالى دنيولو نه زمونږ دبچ کولو هيڅوك نه وي الله تعالى دې مونږ ددغې بدې ورځې نه محفوظ وساتي.

..........................

## د دومره لوی جنت حکمت

**سوال:** حديث شريف کې دي چې (سبحان الله والحمدلله والله اکبر) ويلوباندې جنت کې دهريوې کليمې په بدله کې يوه ونه ولګول شي، دغه راز په نوروډېروعملونوباندې ديومحل ورکولوزيری هم راغلی دی، انسان خپل ژوندکې داکليمه طيبه په لکونوځله وايي، نودې لکونومحلونواوباغونوته دهغه څه ضرورت دی؟ ددې دا مطلب خونه دی چې که چېرې انسان فلانکی عمل خپل ټول عمرکوي، اوهغه باندې مړشي، نودهغه له پاره به داسې محل تيارکړل شي؟

**جواب:** دهميشه کولو قيدنشته، بلکې هرعمل باندې دا اجردی[1]، پاتې شوه داخبره چې دومره ډېرو محلونواوباغونوڅه ضرورت دی؟ داقياس غائب على الشاهد دی داحديث به

[1] عن جابر قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قال سبحان الله العظيم وبحمده غرست له نخلة فى الجنة.رواه الترمذى.(مشكوة ص:۲۰۱،باب ثواب التسبيح،الفصل الثانى)وفى المرقاة شرح المشكوة:(غرست)اى بكل مرة له نخلة عظيمة فى الجنة اى المعدة لقائلها خصت لكثرة منفعتها وطيب ثمرها.(مرقاة شرح مشكوة ج:۳ ص:۵۱)۔

خوستاسو په علم کې وي چې ادنا جنتي ته به ددنيانه لس چنده غټ جنت ورکول کيږي[۱] دلته به هم تاسو ته دا سوال پيدا کيږي، چې دومره غټ جنت باندې به هغه څه کوي؟ په هرحال داخرت په کارونو باندې زموږ ذهن او عقل کارنه کوي. (اعدت لعبادي الصالحين ومالاعين رات ولا اذن سمعت ولاخطرعلى قلب بشر) حديث قدسي دی[۲] يوځل په تبليغي سفرکې يوبزرګ وويل چې ملايانو! دا ووايئ چې دومره غټ جنت باندې به څوک څه کوي؟ بيايې پخپله باندې وفرمايل چې ټول جنتيان دجنتي خپلوان دي، که چيرې يې زړه وغواړي چې دټولوخپلوان له پاره دعوت وکړي، ځکه چې ټول عزت لرونکي ميلمانه دي، له دې وجې دهر يوکس دپاتې کيدوله پاره ځاى پکاردی، يوجنتي سره دومره غټ جنت پکاردی، چې ټول جنتيان پکې په يوځاى راجمع کېداى شي. (مشکوة ج۲ص۲۹۵)

## په جنت کې د الله ديدار(ليد نه)

**سوال:** ايا د قيامت په ورځ به الله تعالى ټولو انسانانوته په نظر راځي؟ که جواب راکړئ، نو منونکي به مو يو.

**جواب:** داهل سنت والجماعت په عقائدوکې ليکل شوي دي چې د قيامت په ورځ به مومنانو له پاره دالله تعالى ديدار وي دا مسئله د قراني ايتونو او احاديثو نه ثابته ده.[۳]

## نيکه ښځه به د جنت د حورو سرداره وي

**سوال:** جناب! ترننه پورې دا اورو چې کله زموږ يونيك سړی مړشي، نوهغه ته به اوياحورې خدمت له پاره ورکول کيږي، خو چې ښځه مړه شي، نو هغې ته به څه ورکول کيږي؟

**جواب:** هغه به خپل جنتي خاوندسره اوسيږي اوذجنت د حورو سرداره به وي[۴] جنت کې به د ټولو عمر او قد يوشان وي اوبدن به يې د نقائصو نه پاك وي، پيژندګلوي به يې دشکل نه کيږي[۵]، دکومو ښځو چې خاوندان هم جنتيان وي هغوی، خو به دخپلو خاوندانو سره وي

---

۱]عن عبدالله بن مسعود قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:انى لاعلم آخر اهل النار خروجا منها وآخر اهل الجنة دخولا الجنة.....فيقول الله تعالى له:اذهب فادخل الجنة،فان لک مثل الدنيا وعشرة امثالها او ان لک عشرة امثال الدنيا..الخ.(صحيح مسلم ج۱ ص:۱۰۵باب اثبات الشفاعة واخراج الموحدين من النار)

۲]مشکوة ص:۴۹۵،باب صفة الجنة واهلها،الفصل الاول۔

۳] والرؤية حق لاهل الجنةبغير احاطة ولاكيفية كما نطق به كتاب ربنا، وجوه يومئذ ناضرة الى ربّها ناظره..سورة ۷۵، قيامه: ۲۲- ۲۳) (شرح عقيدة الطحاوية ص:۲۰۳،طبع المكتبة السلفية،لاهور)۔

۴]ان نساء الدنيا من دخل منهن الجنة فضلن على العين بما عملن فى الدنيا،روى مرفوعا:ان الآدميات افضل من الحور العين بسبعين الف ضعف.(التذكرة فى احوال الموتى وامور الآخرة ص:۵۵۶طبع بيروت)۔

۵]عن معاذ بن جبل ان النبى صلى الله عليه وسلم قال:يدخل اهل الجنةالجنة جردا مردا مكحلين ابناء ثلثين او ثلث وثلثين سنة.رواه الترمذى.(مشكوة ص:۴۹۸)عن ابى هريرة....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

او دحورعین ملکه به وي او د کومو ښځو چې دلته نکاح نه وي شوي دهغوی به په جنت کې چاسره نکاح وکړل شي په هرحال ددنیا جنتي ښځو ته به دجنت په حورو باندې لوړوالی حاصل وي.[۱]

## په جنت کې د يوبل پيژندل او محبت

**سوال:** په جنت کې به پلار، مور، زوی، خور، ورور يو او بل سره پيژندل کيږي، نودهغوی سره به هم هماغه محبت وي کوم چې په دې دنياکې دی اوکه محبت وغيره هيڅ به نه وي؟

**جواب:** الله تعالى چې پخپل فضل سره مونږ جنت ته بوځي، نو پيژندګلوي اومحبت خوبه داسې وي چې په دنياکې دهغه تصور ممکن نه دی.[۲]

## په جنت کې د سړي له پاره د سرو زرو استعمال

**سوال:** د قران کريم سورت حج ايت نمبر ۲۳ کې دي چې "کومو خلکو ايمان راوړ اوهغوی نيک کارونه وکړل هغوئ به (دجنت په داسې باغونوکې الله تعالى داخل کړي چې دهغعه لاندې به نهرونه بهيږي اوهغوی ته به هلته د سرو زروبنګړي اوملغلرې واچول شي" په دې کې دپوښتنې خبره داده چې جنت کې به نيکانوته دسرو زرو استعمال څنګه جائز شي، حالانکې په دنياکې دښه اوبد سړي له پاره په هرحال کې سره زر استعمالول جائز نه دي؟

**جواب:** په دنياکې سړي له پاره سره زر استعمالول جائزنه دي، خو په جنت کې به جائز وي له دې وجې به ورواچول شي.[۳]

## په دويم ځل چې ژوندی شي نو څومره عمر به وي

**سوال:** انسان چې دمرګ نه وروسته ژوندی کړل شي اياهغه به هم هغه عمرکې ژوندی کيږي په کوم عمرکې چې هغه مړ شوی و؟

**جواب:** ددې تصريح، خو ياده نه ده،خو دځينې دلائلو او قرائنونه اندازه کيږي چې په کوم عمر کې انسان مړشوی وي په هغه کې به پورته کيږي.

---

...بقيه د تير مخ]... قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:من يدخل الجنة ينعم ولاييأس ولايبلى ثيابه ولايفنى شبابه.رواه مسلم.(مشكوة ص:۴۹۶).وعن ابى سعيد الخدرى عن النبى صلى الله عليه وسلم قال:من مات من اهل الجنة من صغيروكبير يرون بنى ثلاثين فى الجنة لايزيدون عليها ولاينقصون وكذلک اهل النار.(التذكرة فى احوال الموتى وامور الآخرة ص:۵۵۳،طبع دار الكتب العلمية،بيروت)۔

۱] عن ام سلمة قالت......قلت:يارسول الله!نساء الدنيا افضل ام حورالعين؟ قال:بل نساء الدنيا افضل من الحور العين.(تفسير ابن كثير ج:۶ ص:۹۷،سورة الواقعة،الآية۳۵،طبع رشيديه كوئته)۔

۲] والذين امنوا واتبعتهم ذريتهم بايمان الحقنا بهم ذريتهم وما التنٰهم من عملهم من شئ،،(الطور: ۲۱)۔

۳] قال تعالى: يحلون فيها من اساور من ذهب ولؤلؤا. (الحج: ۲۳)۔

## ایا د "سیدا شباب اهل الجنه" والا حدیث صحیح دی

**سوال:** یو دوست د خبرو دوران کې وویل چې د جمعې په خطبه کې چې کوم حدیث عام طور ویل کیږي "الحسن والحسین سیدا شباب اهل الجنة" دا مولایانو د ځان نه جوړ کړی دی که نه په جنتیانو کې خوبه نبیان علیهم السلام هم وي، ایا حضرت حسن رضی الله عنه او حسین رضی الله عنه، به د هغوی علیهم السلام هم سرداران وي؟ تاسو ته عرض دی چې په دې باندې رڼا واچوئ چې د دې دوست خبره څومره پورې صحیح ده؟

**جواب:** دا حدیث په درې قسمه الفاظو سره د ګڼو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه روایت دی، څنګه چې د حدیث الفاظ په سوال کې ذکر دي، په جامع صغیر[1] کې د دې له پاره د لاندې ذکرشویو صحابه وو رضی الله عنهم د احادیثو حواله ورکړل شوې ده:

۱: حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه [مسند احمد، ترمذي]
۲: حضرت عمر رضی الله عنه [طبراني في الکبیر]
۳: حضرت جابر رضی الله عنه [طبراني في الکبیر]
۴: حضرت علي رضی الله عنه [طبراني في الکبیر]
۵: حضرت ابو هریرة رضی الله عنه [طبراني في الکبیر]
۶: حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه [طبراني في الاوسط]
۷: حضرت براء بن عازب رضی الله عنه [طبراني في الاوسط]
۸: حضرت ابن مسعود رضی الله عنه [ابن عدي]

د یو بل حدیث الفاظ دا دي:

**الحسن والحسین سیدا شباب اهل الجنة وابوهما خیر منهما۔**[2]

**ترجمه:** حسن او حسین د جنت د ځوانانو سرداران دي او د دوی مور پلار د دوی نه افضل دي. د دې له پاره یې د لاندې ذکرشویو صحابه وو حواله ورکړې ده:

۱: حضرت ابن عمر رضی الله عنهما [ابن ماجه / مستدرك]
۲: حضرت قره بن ایاس رضی الله عنه [طبراني في الکبیر]
۳: حضرت مالك بن حویرث رضی الله عنه [طبرانی فی الکبیر]
۴: حضرت ابن مسعود رضی الله عنه [مستدرك]

د دې حدیث دا الفاظ هم روایت شوي دي:

**الحسن والحسین سیدا شباب اهل الجنة الا ابنی الخالة عیسٰی بن مریم ویحیی بن زکریا**

---

۱] جامع صغیر ج:۱ ص:۲۳۲ طبع دار الکتب العلمیة، بیروت)۔
۲] ایضاً پورتنۍ حواله)۔

**وفاطمة سيدة نساء اهل الجنة الا ماكان من مريم بنت عمران.** [۱]

**ترجمه**: " حسن رضي الله عنه او حسين رضي الله عنه دجنت دځوانانو سرداران دي، پرته د دوو ترور زامنو دعيسى بن مريم او يحيى بن زكريا عليهم السلام او فاطمه رضي الله عنها دجنت دښځو سرداره ده پرته د مريم بنت عمران نه".

دا روايت دحضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه په مسنداحمد، صحيح ابن حبان، مسندابن يعلى، طبراني، معجم كبير اوپه مستدرك حاكم كې روايت شوى دى.

مجمع الزوائد(۱۸۴/۱۷۳/۹) كې دا حديث دحضرت حذيفه بن يمان او حضرت حسين رضي الله عنهما نه هم نقل دى، ددې تفصيل نه معلومه شوه چې دا حديث د ديارلس صحابه كرامو رضوان الله اجمعين نه روايت شوى دى (چې په هغه كې ځينې احاديث صحيح دي، ځينې حسن اوځينې ضعيف) ځكه دا حديث بلاشبه صحيح دى. بلكې حافظ سيوطي رحمه الله دا په متواتر احاديثو كې شماركړى دى څنګه چې په فيض القدير شرح جامع صغير (ص ۴۱۵ ج ۲) كې يې نقل كړى دى. [۲]

پاتې دا چې په جنتيانو كې، خوبه نبيان عليهم السلام هم وي، ددې جواب دادى چې هغه خلك چې په ځواني كې وفات شوي دي دهغوى به حضرات حسنين رضي الله عنهما سرداران وي، حضرات انبياء عليهم السلام له دې نه مستثنى دي، دغه شان حضراتو راشدين اودهغه حضرات دكوم انتقال چې په پوخ عمركې شوي وي هغوى هم په دې كې شامل نه دي، څنګه چې په يوبل حديث كې دي:

**،،وابوبكر وعمر سيدا كهول اهل الجنة من الاولين والاخرين ماخلا النبيين والمرسلين.،،**

**ترجمه**: " ابوبكر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه به دجنتيانو دپوخ عمر والاوو سرداران وي دلومړنيو او وروستنيو، خو له انبياء او مرسلينو نه پرته".

دا حديث هم دګڼو صحابه وونه روايت شوى دى چې دهغوى خلاصه لاندې ذكر ده:

۱: حضرت علي رضي الله عنه. [مسنداحمدص۸ ج۱ترمذى ص۲۰۷ج ۲ ابن ماجه ص ۱۰]

۲: حضرت انس رضي الله عنه. [(ترمذى ص۲۰۷ ج۱]

۳: حضرت ابوحجيفه رضي الله عنه. [ابن ماجه ص۱۱]

۴: حضرت جابر رضي الله عنه. [طبرانى فى الاوسط مجمع الزوائد ص۵۳ج۹]

۵: حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه. [طبرانى فى الاوسط مجمع الزوائد.ص۵۳ج۹]

۶: حضرت ابن عمر رضي الله عنهما. [بزار مجمع الزوائد ص۵۳ج۹]

---

۱] ايضاً پورتنى حواله)۔

۲] قال الترمذى:حسن صحيح،قال المصنف:وهذا متواترا.(فيض القدير شرح جامع صغير ج:۲ ص:٤١٥ طبع دار المعرفة،بيروت)۔

۷: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما. [امام ترمذی دده حواله ورکړی ده ص۲۰۷ج۲]
په دې حديث کې دحضرات شيخينو رضي الله عنهما دپوخ عمر دجنتيانو د سردارکيدو سره دانبياء عليهم السلام د استثناء تصريح ده، ددې دواړو احاديثو پيش نظربه دا وويل شي چې دانبياء عليهم السلام نه پرته دجنتيانو نه چې دکومو حضراتو انتقال په پوخ عمرکې وشو دهغوی سرداران به حضرات شيخين رضي الله عنهما وي او دچا چې په ځواني کې انتقال وشو دهغوی سرداران به حضرات حسنين رضي الله عنهما وي. والله اعلم!

# ❖ تعويذ، کوډې او جادو ❖

## د نظر لګيدو حقيقت

**سوال:** د ډيرو بوډاګانو نه اکثر اوريدل کيږي چې فلانکی سړی له نظره شوی دی او دغه راز دهغه امدني کمه شوه يايې کاروبار او ملازمت ختم شواوداسې نور...، مهرباني به مو وي که وضاحت وکړئ چې دنظر لګيدو حقيقت څه دی؟

**جواب:** د صحيح بخاري (کتاب الطب، باب العين حق) په حديث کې دي چې" العين حق"يعني نظر لګيدل حق دي، حافظ ابن حجر رحمه الله فتح الباري (ج۱۰،ص۲۰۴) کې ددې دلاندې دمسند بزار نه دحضرت جابر رضي الله عنه روايت نقل کړی دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې قضا او تقدير نه وروسته اکثرخلک دنظر لګيدلو نه مري"[۱] دې نه معلومه شوه چې دنظر لګيدو سره ځينې وخت انسان ناروغ هم شي او په ځينې صورتونوکې دا ناروغي دمرګ سبب هم وګرځي، نور نقصانات ددې نه قياس کيږي، په حديث کې دي چې کوم سړی يوشي ته وګوري اوهغه ده ته ډيرښه معلوم شي، نوکه چيرې دی"ماشاءالله لاقوة الابالله"ووايي، نوهغه ته به نظر نه لګيږي.[۲]

## دتعويذ او بند شرعي حيثيت

**سوال:** زموږ په خاندان کې دتعويذ او بندډير مشور دی او په دغه وجه زما په ذهن کې دا سوال راغی چې ايا په چاباندې تعويذ کولوسره په هغه اثرکيږي؟

---

۱] وقد اخرج البزار عن حديث جابر رضى الله عنه بسند حسن ان النبى صلى الله عليه وسلم قال:اكثر من يموت من امتى بعد قضاءالله وقدره بالانفس.(فتح البارى ج:۱۰ ص:۲۰٤،طبع دار نشر الكتب الاسلامية،لاهور)_

۲] يذكر عن انس عنه انه قال:ما انعم الله على عبد نعمة فى اهل ولامال او ولد فيقول:ماشاءالله لاقوة الابالله فيرى فيه آفة دون الموت،وقد قال تعالى: ولولا اذ دخلت جنتك قلت ماشاء الله لاقوة الا بالله_ سورة ۱۸، الكهف: ۳۹، زادالمعاد: ج۲، ص۴۵۶_ العين حق تصيب المال والآدمي والحيوان ويظهر اثره فى ذلك عرف بالآثار.(رد المحتار ج:٦ ص:٣٦٤)_

**جواب:** د تعویذ ،بند اثر کیږي او ضرور کیږي، دهغه حکم هماغه دی کوم چې د جادو دی، ددې کول حرام او کبیره ګناه ده، بلکې دې سره دکفر خطره ده او ما پورته عرض کړی و چې دې سره ضرور اثر کیږي ددې مثال داسې دی چې په یو سړي باندې ثوك ګندګي ورواچوي، نو داسې کول، خوحرام اوګناه ده او داډیر ذلیله حرکت دی، خو په چاباندې چې ګندګي اچول شوې ده دهغه کپړې اوبدن به ضرور خرابیږي اودهغه بدبویي به ضرور راځي،دیوشي حرام اوګناه کیدل بیله خبره ده اوددغه ګندګي اثرکیدل فطري شی دی، تعویذ که چېرې دجائز مقصد له پاره وشي، نوجائزدی په دې شرط چې دځه ګناه او شرك خبره یې نه وي پکې لیکلې، نوددم تعویذ دجواز درې شرطونه دي:

**اول:** دیوجائز مقصد له پاره به وي ناجائز مقصد له پاره به نه وي.

**دویم:** دهغه الفاظ به په کفر او شرك باندې مشتمل نه وي او که چېرې په داسې الفاظو باندې مشتمل وي چې دهغه مفهوم معلوم نه وي، نوهغه جائز نه دی.

**دریم:** هغه به موثر بالذات نه ګڼي.[1]

## ایا په حدیث کې د تعویذ د ځوړندولو ممانعت راغلی دی

**سوال:** په یو دکان کې مې څه کلمات لیکل شوي ولیدل کوم چې لاندې ذکر دي" چاچې په غاړه کې تعویذ ځوړند کړ هغه شرك وکړ" او ورسره یې ذکرشوی حدیث لیکلی و,,**من علق تمیمة فقداشرك**،،(مسنداحمد).

عرض دادی چې دا صحیح دي اوکه غلط ؟ دذکرشوي حدیث څه درجه ده که چېرې ددې ذکر چېرته نه وي، نو هم درخواست دی چې په غاړه کې تعویذ اچول څنګه دي؟

---

[1] عن عوف بن مالک الاشجعی قال:کنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا:یارسول الله!کیفا تری فی ذلک؟فقال:اعرضوا علی رقاکم،لاباس بالرقی مالم یکن فیه شرک.(مشکوة ص:۳۸۸،کتاب الطب).وفی المرقاة:ان الرقی یکره منها ما کان بغیر اللسان العرب وبغیر اسماء الله تعالی وصفاته وکلامه فی کتبه المنزلة.......لاباس بالرقی مالم یکن فیه شرک ای کفر.(مرقاة شرح مشکوة ج:٤ ص:٥٠١،طبع بمبئی).ایضا:قال فی النهایة.....ان ماکان بغیر اللسان العربی وبغیر کلام الله تعالی واسمائه وصفاته فی کتبه المنزلة او ان یعتقد ان الرقیة نافعة قطعا فلیتکل علیها فمکروه وماکان بخلاف ذلک فلا یکره...الخ.(ابوداؤد،حاشیه نمبر۳،کتاب الطب ج:۲ ص:۱۸٦).وانما تکره العوذة اذاکانت بغیر لسان العرب ولایدری ماهو ولعله یدخله سحر اوکفر اوغیر ذلک واما ماکان من القرآن اوشئ من الدعوات فلاباس به.(ردالمحتار ج:٦ ص:۳٦۳).اجمع العلماء علی جواز الرقی عند اجتماع ثلاثة شروط:ان یکون بکلام الله تعالی او باسمائه وصفاته وباللسان العربی او بما یعرف معناه من غیره وان یعتقد ان الرقیة لاتؤثر بذاتها بل بذات الله تعالی.(فتح الباری ج:۱۰ ص:۱۹٥طبع دار الفکر،بیروت)۔

**جواب:** دا حديث بالکل صحيح دی، خو دې کې د تعويذ نه مطلق تعويذ نه دی مراد، بلکې هغه تعويذ مراد دی چې د جاهليت په زمانه کې به کيده او په شرکيه الفاظو باندې به مشتمل و، پوره حديث لوستلو نه دا مطلب بالکل واضحه کيږي، د حديث ترجمه دا ده:

حضرت عقبه بن عامر جهني رضی الله عنه نه روايت دی چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې يوه ډله (د بيعت له پاره) حاضره شوه، نبي کريم ﷺ نهه کسانو سره بيعت وکړ او يو سره يې ونکړ، عرض وشو، اې د الله رسوله! تاسو نهه کسانو سره بيعت وکړ او يو مو پريښوده؟ وې فرمايل هغه تعويذ اچولی و، دې اوريدو سره هغه سړي تعويذ وشلاو، نبي عليه السلام هغه سره بيعت وکړ او وې فرمايل: ,, من علق تميمة فقد اشرك. ، .(مجمع الزوائدص:۱۰۳ج۵).[۱]

**ترجمه:** چاچې تعويذ واچولو هغه شرک وکړ"

دې نه معلومه شوه چې هر تعويذ مراد نه دی، بلکې د جاهليت تعويذ ترې مراد دی او د جاهليت په دور کې کاهنانو د شيطان د مدد الفاظ ليکل.

## تعويذ او بند د صحيح مقصد له پاره جائز دي

**سوال:** "تعويذ،بند شرک دی" په دې عنوان سره يوه کتابچې کې ډاکټر مسعودالدين عثماني د توحيد روډ کيماړی کراچی نه شائع کړې ده، هغه دا حديث نقل کړی دی: ,,ان الرقی والتمائم والتولة شرك، ،(رواه ابوداؤد مشکوٰة ص۳۸۹).

**ترجمه:** تعويذ او تونه (جادو منتر) ټول شرک دي، هغه د ځينې واقعاتو او د حديث نه ثابته کړې ده چې قراني ايتونه هم په غاړه کې اچول نه دي پکار په اوبو وغيره باندې دم کول هم نه دی پکار، ددې نه نبي عليه السلام منع فرمايلې ده، دا کار عام طور باندې ټول کوي که چېرې دا ټول شرک وي، نوبيا دا ټولې خبرې به موږ ته پريښودل وي، تاسو زر تر زره دخپلې رايې نه موږ خبر کړئ ددې له پاره چې عوام ددې نه خبرشي او د شرک په شان لويې ګناه نه بچ شي.

**جواب:** ډاکټرصاحب غلط ليکلي دي د قراني ايتونو تعويذ جائزدی چې کله دا غلط مقصد له پاره نه وي شوي چې حديث شريف کې چې کوم جادو منتر ته شرک ويل شوي دي، دهغه نه مراد د جاهليت دزمانې رائج شوی منتر مراد دی چې په هغه کې مشرکانه الفاظ موندل

[۱] عن عقبة بن عامر الجهنی ان رسول الله صلی الله عليه وسلم اقبل اليه رهط فبايع تسعة وامسک عن واحد فقيل له:يارسول الله!بايعت تسعة وترکت هذا؟قال:ان هذا عليه تميمة!فادخل يده فقطعها فبايعه،وقال:من علق تميمة فقد اشرک.(مجمع الزوائد ج:۵ ص:۱۲۳،باب فيمن يعلق تميمة او نحوها،طبع دار الکتب العلمية بيروت)_

کیدل[۱] او د جنیاتو وغیره نه به مددغوښتل کیده، قراني ایتونوسره دم کول دنبي علیه السلام او دصحابه وو رضی الله عنهم نه ثابت دي[۲] او دبزرګان دین په معمولاتوکې داخل دي.

## د ناجائز کار له پاره تعويذ هم ناجائز دى اخيستونكي او وركونكي دواړه به ګنهګار وي

**سوال:** زموږ په محله کې یو مولوي صاحب اوسیږي( چې څه وخت مخکې دجومات امام و) نن سبا د دم تعویذ کارکوي اوهغه سره هروخت ګڼ خلک وي، زیاتر رش دښځو وي چې دهغوی فرمایشونه څه داشان وي مثلا: دفلانکي زوی دې مړشي، د فلانکي کاروبار دې بندشي، زما خاوند دې ماته طلاق راکړي، د فلانکي خوابې دې مړه شي، ایا دا قسم تعویذ کول صحیح دي، په دې کې به څوک ګنهګار وي؟

**جواب:** جائز کار له پاره تعویذ جائز دی او ناجائز کار له پاره ناجائز دی[۳]، ناجائز تعویذکې دواړه کونکي برابرګنهګار دي.

## د حق كار له پاره تعويذ ليكل د نياوي تدبير دى عبادت نه دى

**سوال:** زموږ یو بزرګ (مشر) دی دهغه خیال دی چې تعویذلیکل په شریعت کې جائز نه دي، که هغه دهرکار له پاره وي مثلاً حاجت پوره کول، دکار موندنې په سلسله کې اوداسې نور... هغه داهم وایي چې په قران پاک کې چېرته هم دا ذکر نشته چې فلانکی ایت ولیکه اوپه غاړه کې اچولو سره یامټ باندې تړلو سره دانسان ضرورت پوره کیږي، یوازې دالله تعالی په مدد باندې یقین ساتل پکاردي، خو زماخیال دی چې په تعویذونوکې دالله تعالی داخري کتاب ایتونه لیکل کیږي، دا صحیح دي چې څه خلک ددې غلط استعمال کوي، خو جائزو کارو له پاره خو دا لیکل کیږي.

**جواب:** قراني ایتونوسره د دم اچولو په احادیثوکې ذکردی، دنبي کریم صلی الله علیه وسلم، صحابه کرامو رضی الله عنهم او وروسته صالحانو دا معمول پاتې شوی دی[۴] تعویذ هم ددې یوشکل دی،

---

۱]عن عوف بن مالک الاشجعی قال:كنا نرقی فی الجاهلية فقلنا:يارسول الله!كيف ترىٰ فی ذالک؟فقال:اعرضوا على رقاكم لاباس بالرقى مالم يكن فيه شرک.رواه مسلم.(مشكوة ص:۳۸۸،كتاب الطب والرقى)۔

۲]عن ابی سعيد الخدرى قال:كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يتعوذ من الجان وعين الانسان حتى نزلت المعوذتان،فلما نزلت اخذهما وترک ماسواهما.رواه الترمذى وابن ماجة.(مشكوة ص:۳۹۰،كتاب الطب والرقى)

۳]الامور بمقاصدها:يعنى ان الحكم الذى يترتب على امريكون على مقتضى ماهو المقصود......فلو ان الفاعل المكلف قصد بالفعل الذى فعله امرا مباحًا كان مباحا وان قصد امرا محرما كان فعله محرما.(شرح المجلة ص:۱۸)

۴]وعن النبى صلى الله عليه وسلم انه كان يعوذ نفسه قال رضى الله عنه...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

ځکه ددې په جواز کې خو شک نشته[۱] خو دتعویذ حیثیت پیژندل ضروري دي، ځینې خلک د تعویذ اثر یقیني ګڼي دا صحیح نه دي، بلکې تعویذهم من جمله د نورو تدابیرو نه یو علاج او تدبیر دی اوددې فائده مند کیدل، نه کیدل دالله تعالی په خوښه موقوف دي، ځینې خلک تعویذ روحاني عمل ګڼي دا خیال هم داصلاح قابل دی، روحانیت ځان ته شی دی او تعویذ وغیره یوازې دنیوی تدبیر او علاج دی ،له دې وجې چې کوم سړی تعویذ کوي، هغه بزرګ ګڼل غلط دي، ځینې خلک په دعا باندې دومره یقین نه لري څومره چې په تعویذباندې، دا هم داصلاح قابل ده، دعا عبادت دی اوتعویذ کول هیڅ عبادت نه دی او دیو ناجائز مقصد له پاره تعویذ کول حرام دي.[۲]

## په تعویذ باندې معاوضه (شکرانه) اخیستل جائز دي

**سوال:** دیوجائز ضرورت له پاره یوسړي ته دعا، تعویذ وغیره باندې څه روپۍ طلب کول جائز دي اوکه ناجائز؟ که چېرې یوسړی دعمر او ناروغۍ په لحاظ ضرورت مندکیدو له وجې نه په دعاتعویذ وغیره ورکولو نه وروسته یوازې معمولي معاوضه دخپل حاجت له پاره طلب کړي، نوپه داسې صورت کې به دهغه دعاګانې او دا عمل قابل قبول وي اوکه نه؟

**جواب:** دعاخوعبادت ده اوددې معاوضه غوښتل غلط دي[۳]پاتې وظیفه اوتعویذ کوم چې د یو دنیاوي مقصدله پاره وکړل شي دهغه حیثیت دعبادت نه دی، بلکې دیو دنیوي تدبیر او علاج دی، دهغه شکرانه اخیستل او ورکول جائز دي[۴]پاتې دداسې خلکو وظیفې او تعویذونه کار هم کوي اوکه نه؟ دا څه شرعي مسئله نه ده چې دهغه په باره کې څه عرض شي، البته تجربه دا ده چې دا خلک اکثر دکاندارن وي.

## تعویذ سره بیت الخلاء ته تلل

**سوال:** که چېرې د قرآن شریف ایتونه په جامه کې بندشي اوپه غاړه کې واچول شي، نو ایا دلرې کولو نه پرته یوناپاک ځای ته مثلا بیت الخلاء ته تللی شي اوکه نه؟

---

.بقیه د تیرمخ]..وعلى الجواز عمل الناس اليوم وبه وردت الآثار.(رد المحتار ج:٦ ص:٣٦٤،فصل فى اللبس)

١]جوزوا الرقية بالاجرة ولو بالقرآن كما ذكره الطحاوى ولانها ليست عبادة محضة بل من التداوى.(رد المحتار ج:٦ ص:٥٧،مطلب تحرير مهم فى عدم جواز الاستئجار على التلاوة والتهليل...الخ)۔

٢] الامور بمقاصدها.......فلو ان الفاعل المكلف قصد بالفعل الذى فعله امرا مباحا كان مباحا،وان قصد امرا محرما كان فعله محرما.(شرح المجلة ص:١٨،رقم المادة:٢،طبع كوئته)۔

٣]الاصل ان كل طاعة يختص بها المسلم لايجوز الاستئجار عليها عندنا.(رد المحتار ج:٦ ص:٥٥)۔

٤]قوله صلى الله عليه وسلم:خذوا منهم واضربوا لى بسهم معكم هذا تصريح بجواز اخذ الاجرة على الرقية بالفاتحة والذكر وانها حلال لاكراهية فيها....الخ.(شرح نووى على مسلم ج:٢ ص:٢٢٤،طبع قديمى).الاجرة على التعوذ والرقية وهى حلال لعدم كونها عبادة.(فيض البارى ج:٣ ص:٢٧٦،طبع رشيديه كوئته)۔

**جواب:** داسې ګوتمه چې په هغه باندې دالله پاك نوم یاقرانې ایتونه لیکل شوي وي، هغې سره بیت الخلاء ته تلل یې مکروه لیکلي دي.(عالمگیری ص۵۰ج۱ مطبوعه).[۱]

## جادو کول ګناه کبیره ده ددې د ختمولو د پاره قرآني ایتونه دي

**سوال:** ایا دقران او حدیث له مخې جادو برحق دی؟ او ایا دا ممکن دي چې څوك د جادو په زور سره څوک په خرابه لار روان کړي یا داچې څوك دجادو په ذریعه دچا بد وغواړي اوبل په مصیبت او پریشاني کې مبتلا کړي؟ زه دې سلسله کې عرض کول غواړم چې کوم خلك د جادو په حق کیدو باندې دلائل وړاندې کوي هغوی دا وایي چې دا په نبي کریم ﷺ باندې هم چلیدلی و، نو موږ خو معمولي شان بندګان یو او په دې باره کې د سورت (الفلق) حواله ورکوي، تاسو مهرباني وکړئ زموږ رهنمایي وکړئ.

**جواب:** جادو چلیږي[۲] او ددې اثر انداز کېدل قران کریم کې ذکردي[۳]، خو جادو کول ګناد کبیره ده[۴] او جادو غوښتونکي او کونکي دواړه ملعونان دي، قران کریم کې جادو ته کفر ویل شوي دي ګویا داسې خلکونه ایمان واخیستل شي.[۵]

**سوال:** کوم حضرات چې په هغه کې بزرګان دین هم شامليږي او کوم چې د جادو د لرې کولو له پاره تعویذ وغیره ورکوي ایا هغوی ته ورتلل او خپل مشکلات بیانول اودهغوی نه مدد غوښتل دشرك په تله کې راځي؟ که چېرې جواب په هو کې وي، نوپه ناپوهي کې دداسې کونکو له پاره دګناه کفاره څه کېدای شي؟

**جواب:** د جادو ختمولو له پاره یو داسې سړي ته رجوع کول چې دهغه په ختمولو باندې پوهیږي جائز دي په دې شرط چې هغه دجادو ختمول په جادو اوسفلي عمل سره نه کوي، بلکې دقران په ایتونو سره یې وکړي، دا دشرك په زمره کې نه راځي.[۶]

## نقصان رسونکی تعویذ، جادو او منتر حرام دي

**سوال:** ایا جادو، تعویذ، منترجائزدي اوکه نه، ځکه چې دتعویذونو اثر همیشه کیږي او

---

۱] ویکره ان یدخل فی الخلاء ومعه خاتم علیه اسم الله تعالی اوشیٔ من القرآن کذا فی السراج الوهاج. (عالمگیری ج:۱ ص:۵۰)۔

۲]السحر حق عندنا وجوده وتصوره واثره.(الفتاوی الشامیة ج:۱ ص:۴۴)۔

۳]فلما القوا سحروا اعین الناس واسترهبوهم وجاءوا بسحرعظیم، (سورة ۷، الاعراف: ۱۱۶)۔

۴]فعل السحر حرام وهو من الکبائر بالاجماع.(شرح نووی علی مسلم ج:۲ ص:۲۲۱،طبع قدیمی)۔

۵] ولکن الشیٰطین کفروا یعلمون الناس السحر. (البقرة: ۱۰۲)۔

۶] فی الدر المختار:استاجره لیکتب له تعویذا لاجل السحر جاز.قوله لاجل السحر ای لاجل ابطاله والافالسحر نفسه معصیة بل کفر لایصح الاستئجار علیه.(رد المحتار ج:۶ ص:۹۳)۔

انسان ته نقصان رسوي، تعویذ کونکي له پاره اسلام څه سزا ښودلې ده؟

**جواب:** چاته نقصان رسولو له پاره تعویذ،جادو اومنتر کول حرام دي[۱] او داسې سړی که چېرې توبه ونکړي، نو ده ته دمرګ سزا ورکول کېدای شي.[۲]

## څوک چې جادو یا منتر حلال ګڼلوسره کوي، نوهغه کافر دی

**سوال:** سړی یاښځه په چاباندې تعویذ،بند سفلي عمل یا جادو وکړي اودهغه دې عمل سره بل ته نقصان ورسیږي، بیا که چېرې هغه سړی ددې تکلیف نه مړشي، نودالله تعالی په نزدبه ددغه خلکو څه درجه وي، که هغه په تکلیف کې مبتلا وي یا یې انتقال وشي ځکه چې دنن سبا د تورعمل (جادو) رواج زیات په ترقي دی، لهذا مهرباني وکړئ تفصیل سره ولیکئ چې دې جادو کونکو او فرمائش کونکوته خپل انجام معلوم شي، الله دې خلکو ته دنیکي هدایت وکړي.

**جواب:** جادو اوسفلي عمل کول ددې په تر ټولوکبیره ګناه کېدوکې خودهیڅ اختلاف نشته[۳] خو په دې کې اختلاف دی چې جادو کولوسره سړی کافر کیږي اوکه نه، صحیح داده چې که چېرې دا حلال وګڼي او کوي یې، نو کافر کیږي اوکه چېرې حرام اوګناه یې وګڼي اوکوي یې، نوکافر نه دی ګنهګار او فاسق دی، په دې کې شك نشته چې داسې سفلي اعمالو سره زړه تورشي، الله تعالی دې مسلمانان ددې افت نه بچ کړي، داهم دامت فقهاوو لیکلي دي چې که چېرې دچاپه جادو اوسفلي عمل باندې څوك مړ شي، نوداسړی به قاتل ګڼل کیږي.[۴]

## د سفلي عملونو نه توبه کول پکار دي

**سوال:** ماپه ځواني کې سفلي عملونه لوستلي وو، ددې ګناه دلرې کولو له پاره څه کول پکار دي؟

**جواب:** دا عملونه پرېږده او ددې ګناه نه توبه وکړه.[۵]

---

۱]فعمل السحر حرام وهو من الکبائر بالاجماع.(شرح نووی علی مسلم ج:۲ ص:۲۲۱،طبع قدیمی)۔

۲] وجمهور العلماء یوجبون قتل الساحر کما هو مذهب ابی حنیفة ومالک واحمد فی المنصوص عنه،وهذا هو المالور عن الصحابة کعمر وابنه وعثمان وغیرهم.(شرح عقیدة الطحاویة ص:۵۶۹،طبع المکتبة السلفیة،لاهور)

۳]السحرحرام بلا خلاف بین اهل العلم واعتقاد اباحته کفر.الخ(فتاوی شامی ج:٤ ص:۲٤۰مطلب فی الساحر)

٤] ثم اختلف هؤلاء هل یستتاب ام لا؟وهل یکفر بالسحر؟ام ایقتل لسعیه فی الارض بالفساد؟وقال طائفة ان قتل بالسحر یقتل والا- عوقب بدون القتل اذالم یکن فی قوله وعمله کفر.(شرح عقیدة الطحاویة ص:۵۶۹،طبع لاهور)۔

۵] قل یٰعبادی الذین اسرفوا علی انفسهم لاتقنطوا من رحمة الله، ان الله یغفر الذنوب جمیعاً. (الزمر: ۵۳) ایضاً: یٰایهاالذین امنوا توبوا الی الله توبة نصوحاً، عسی ربکم ان یکفر عنکم سیئاتکم ویدخلکم جنٰت تجری من تحتها الانهٰر...الخ، (التحریم: ۸)۔

# ❖ پيريان ❖

.........................

## د پيريانوله پاره رسول

**سوال:** ويل کيږي چې انسانانوله پاره انسان رسول وي او دا د الله تعالى حکم دى، څنګه چې په سورت بني اسرائيل کې په ايت نمبر۹۵/ ۹۲ کې فرمايي:

**ترجمه**: او خلکو ته ايمان راوړلو کې هيڅ شى هم منع کونکى نه دى راغلى، کله چې هغوى ته هدايت راغى، خو دا چې هغوى وويل چې الله تعالى يو انسان رسول راليږلى دى، هغوى ته ووايه که چيرې په ځمکه باندې فرښتې اطمينان سره ګرځيداى، نو موږ به ضرور هغوى ته له اسمان نه فرښتې رسولان راليږلي وو.

ددې ايت په رڼاکې وضاحت وکړئ چې حديث کې يو ځاى کې ذکر راغلى دى چې حضور ﷺ ديوې ډلې سره ملاقات کړى و او حضور ﷺ هغو ته د پيريانو ډله ويلې وه، ايا حضور ﷺ د انسانانو نه پرته د پيريانوله پاره هم رسول و، يا د پيريان له پاره پيرى رسول کېدل پکار دي؟

**جواب:** حضور ﷺ د پيريانوله پاره هم رسول و[1]، قران کريم کې د پيريانو د حضور ﷺ په دربار کې حاضريدل او قران لوستل او ايمان راوړل ذکر شوي دي[2] (سورت احقاف). فرښتې د خوراک څښاک او نورو ضرورتونو نه پاکې دي، له دې وجې هغوى د انسانانوله پاره د نبي په طور باندې نه دي راليږل شوې[3].

د پيريانو له پاره انسان نبي جوړ شوى دى، د پيريانوله پاره د پيري رسول کيدل نه دي نقل شوي.[4]

---

۱] الجمهور على انه لم يكن من الجن نبى......قال البغوى فى تفسير الاحقاف:وفيه على انه عليه السلام كان مبعوثا الى الانس والجن جميعا.(الاشباه والنظائر،احكام الجان ص:۳۲۳طبع قديمى)۔

۲] واذ صرفنا اليك نفراً من الجنّ يستمعون القرآن فلما حضروه قالوا انصتوا فلما قضى ولّوا الى قومهم منذرين.......يقومنا اجيبوا داعى الله وامنوا به.....،(الاحقاف: ۲۹ تا ۳۱)۔

۳]وقالوا يعنى المشركين(مالهذا الرسول ياكل الطعام)انكروا ان يكون الرسول بشرا ياكل الطعام ويمشى فى الطرق كما يمشى سائر الناس يطلب المعيشة،والمعنى انه ليس بملک ولاملک لان الملائكة لاتاكل،والملوک لاتبتذل فى الاسواق،فعجبوا ان يكون مساويا للبشر لايتميز عليهم بشئ وانما جعله الله بشرا ليكون مجانسا للذين ارسل اليهم.(تفسير زاد المسير ج:٦ ص:٧٣،٧٤،طبع المكتب الاسلامى،بيروت)۔

٤] جمهور العلماء سلفا وخلفا على انه لم يكن من الجن قط رسول ولم تكن الرسول الامن الانس.......ان رسل الانس رسل من الله تعالى اليهم ورسل الى قوم من الجن ليسوا ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

# د پیریانو وجود د قرآن او حدیث نه ثابت دی

**سوال:** ایا پیریان دانسان په جسم کې ننوتلی شي، سره له دې چې پیریان د اور نه پیداشوی مخلوق دی اوهغوی په اورکې اوسیږي او انسان خاکي (دخاورې) مخلوق دی، څنګه چې انسان په اور کې نه شي اوسیدلی، نوپیریان څنګه په خاوره کې اوسیدلی شي، ډیر مفکرین وماهرین نفسیات دپیریانو وجودپه باره کې اختلاف لري له دې وجې دا مسئله توجه غواړي.

**جواب:** د پیریانو وجود، خوحق دی، په قرآن کریم او احادیثوکې ددې ذکر ډیرو ځایونو کې راغلی دی[۱] اویوانسان نه دپیري تکلیف رسول هم دقران کریم، احادیثو او دانساني تجربو نه ثابت دي،[۲] کوم خلک چې دپیریانو دوجود نه انکار کوي دهغوی خبره صحیح نه ده[۳]،پاتې دپیریانو په یوانسان کې ننوتل، نواول خوهغه پرته د ننوتلو نه هم مسلط کیدلی شي، بیادهغه په ننوتلوکې څه لرې والی نشته[۴]، د دوی د اور نه دپیدا کېدو دامعنا نه ده چې هغوی پخپله هم اوردي، بلکې ددوی په تخلیق باندې اور غالب دی، څنګه چې انسان د خاورې نه پیدا شوی دی، خو هغه خاوره نه ده.[۵]

...بقیه د تیر مخ]... رسلا عن الله تعالی ولکن بعثهم الله فی الارض فسمعوا کلام رسل الله تعالی الذین هم من بنی آدم وعادوا الی قومهم من الجن فانذروهم والله سبحانه وتعالی اعلم.(آکام المرجان فی غرائب الاخبار واحکام الجان ص:۳٦-۳٤طبع نورمحمد کراچی)۔

۱]وما خلقت الجن والانس الا لیعبدون، (الذاریات: ٥٦). فصل قال الشیخ ابوالعباس ابن تیمیةلم یخالف احد من طوائف المسمین فی وجود الجن وجمهور طوائف الکفار اثبات الجن....هذا لان وجود الجن تواترت به اخبار الانبیاء علیهم السلام تواترا معلوما.(آکام المرجان فی غرائب الاخبار واحکام الجان ص:٥)۔

۲]الباب السادس والاربعون:فی بیان مایعتصم به من الجن ویندفع به شرهم:وذلک فی عشر حروز(احدها الاستعاذة بالله منه، قال الله جل جلاله واما...الخ سورة ۷ اعراف ۲، وفی الصحیح) فقال صلی الله علیه وسلم: انی لاعلم کلمة لو قالها لذهب عندما یجد:اعوذبالله من الشیطان الرجیم.الثانی قراءة المعوذتین روی الترمذی......کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یتعوذ من الجان وعین الانسان حتی نزلت المعوذتان...الخ.تفصیل دپاره اوګورئ: آکام المرجان ص:۹٥ تا۹۸.الباب فی بیان اخبار الجن یقتلهم سعد بن عبادة...الخ.تفصیل دپاره اوګورئ: آکام المرجان ص:۱۳۷پر طبع نور محمد کراچی)۔

۳](قال امام الحرمین)فی کتابه الشامل: اعملوا رحمکم الله ان کثیرا من الفلاسفة وجماهیر القدریة وکافة الزنادقة انکروا الشیاطین والجن راسا ولا یبعد لو انکر ذلک من لایتدبر ولایتثبت بالشریعة وانما العجب من انکارالقدریة مع نصوص القرآن وتواتر الاخبار واستفاضة الآثار.(آکام المرجان ص:۳،طبع نور محمد کراچی)

٤]انکر طائفة من المعتزلة کالجبائی وابی بکر الرازی.....وهذا الذی قالوه خطا،وذکر ابو الحسن الاشعری فی مقالات اهل السنة والجماعة،انهم یقولون ان الجن تدخل فی بدن المصروع کما قال تعالی...الخ سورة ۲ بقره ۲۷٥. مزید تفصیل دپاره اوګورئ: آکام المرجان ص:۱۰۷تا۱۰۹)۔

٥] اعلم:ان الله اضاف الشیاطین والجن الی النار حسب ما اضاف الانسان الی التراب والطین والفخار،والمراد به فی حق الانسان ان اصله الطین ولیس الآدمی طینا حقیقة لکنه....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

## د ايمان لرونکوله پاره د پيريانو له وجود منلو پرته بله لاره نشته

**سوال:** نن سبا زموږ ځاى کې د پيريانو د وجود په باره کې بحثونه کيږي او تر اوسه پورې په دې سلسله کې مذهبي، سائنسي، منطقي او عقلي نظريات مخې ته راغلي دي دا ټول د نوعيت په اعتبار سره بيل بيل دي، لهذا له مذهبي نظرياتو پرته په نورو باندې يقين کول يا غورکول ذهني پريشاني راپيدا کوي، حالانکې ديو مسلمان کيدو په حيثيت سره زموږ عقيده پخپل مذهبي نظرياتو باندې د کامل يقين کولو ده، لهذا تاسو مهرباني وکړئ د دلائلو يا د ريښتوني او حقيقي واقعاتو په رڼاکې ياکه چېرې د احاديثو په رڼاکې د پيريانو وجود وي، نو په دې باره کې صحيح صورت حال او نظريه مخې ته راوړئ چې دخلکو ذهنونو ته دې باره کې د پيدا کيدونکي کشمکش او شك شبهې نه نجات ورکړل شي.

**جواب:** په قرآن کريم کې يوکم ديرش ځايه د پيريانو ذکر راغلى دى او په احاديثوکې هم په ډيرو مقاماتو باندې ددې تذکره راغلې ده، له دې وجې کوم خلک چې په قران کريم او محمد ﷺ باندې ايمان لري د هغوى له پاره د پيريانوله منلو پرته بله لاره نشته او کوم خلک چې ددوى منکر دي، هغوى سره دنفې هيڅ دليل نشته، له دې پرته چې دا مخلوق ددوى دنظرنه غائب دى.[۱]

## د پيريانو په انسان باندې راتلل له حديث نه ثابت دي

**سوال:** د قرآن او حديث په رڼاکې وښيئ چې ايا پيريان انسان باندې راتللى شي که چېرې راتللى شي، نو ايا دانسان په جسم کې حلول کولى شي، ددې وجه څه ده؟

**جواب:** د "اکام المرجان فى غرائب الاخبار واحکام الجان" په باب ۵۱ کې ليکل شوي دي چې ځينو معتزله وو له دې نه انکار کړى دى، خو امام اهل سنت ابوالحسن اشعري رحمه الله په مقاله "اهل السنة والجماعة" کې داهل سنت دا مسلك نقل کړى دى چې "هغوى د پيريانو د مريض په بدن کې د داخليدو قائل دي".[۲] له دې نه وروسته يې دګڼو احاديثو نه ددې ثبوت ورکړى دى.[۱]

---

...بقيه د تير مخ]... كان طينا كذلک كان نارا فى الاصل،والدليل على ذلک قول النبى صلى الله عليه وسلم...الخ.(آكام المرجان فى غرائب الاخبار واحكام الجان ص:۱۳ الباب الثالث)۔

۱] پورتنۍ حواله جات اوګورئ)۔

۲] انكر طائفة من المعتزلة كالجبائى وابى بكر الرازى محمد زكريا الطبيب وغيرهما دخول الجن فى بدن المصروع، واحالوا وجود روحين فى جسد مع اقرارهم بوجود الجن،اذلم يكن ظهور هذا فى المنقول عن النبى صلى الله عليه وسلم كظهور هذا الذى قالوه خطا،وذكر ابو الحسن الاشعرى فى مقالات اهل السنة والجماعة انهم يقولون ان الجن تدخل فى بدن المصروع كما قال الله تعالى:الذين ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

# د پیریانو په انسان باندې مسلط کیدل

**سوال:** ایا د یو انسان په جسم کې چې یو پیری داخل شي هغه پریشانه کولی شي؟ که چېرې یې نه شي کولی، نوبیا اخرددې څه وجه ده چې یوسړی چې په هغه باندې د پیریې سورې شوی وي (دخلکو مطابق) هغه دداسې ځای ښودنه کوي چیرته چې هغه هیڅ کله نه وي تللی او داسې ژبه وایي چې هغه کله هم هغه نه وي زده کړي، یابیا دیو نااشنا سړي په پوښتنه باندې دهغه دتیرشوي وخت بالکل صحیح حالات او واقعات بیانوي هغه قران شریف بالکل زده کړی نه وي، خو ډیر په رواني سره تلاوت کوي اخر داسې ولې کیږي؟

**جواب:** د پیریانو په انسان باندې مسلط کیدل ممکن دي او ددې واقعات متواتر دي.[۲]

---

...بقیه د تیر مخ]... یاکلون الربوا لایقومون الاکما یقوم الذی یتخبطه الشیطان من المس...الخ. (ص:۱۰۷ الباب الحادی والخمسون:فی بیان دخول الجن فی بدن المصروع طبع نور محمد کراچی)۔

۱] قال عبدالله بن احمد بن حنبل قلت لابی:ان قوما یقولون ان الجن لاتدخل فی بدن الانس، قال: یابنی! یکذبون هوذا یتکلم علی لسانه،قلت:ذکر الدار قطنی......عن ابن عباس ان امراة جاءت بابن لها الی النبی صلی الله علیه وسلم فقالت:یارسول الله!ان ابنی به جنون وانه یاخذه عندنا غدائنا وعشائنا فسمح رسول الله صلی الله علیه وسلم صدره ودعاله فتفقه فخرج من جوفه مثل الجر والاسود فعسی.رواه ابو محمد عبدالرحمن الدارمی.. وسیاتی ان شاءالله تعالی عن قریب حدیث ام ابان الذی رواه ابوداؤد وغیره وفیه قول رسول الله صلی الله علیه وسلم:اخرج عدوالله، وهکذا حدیث اسامة بن زید،وفیه:اخرج یاعدوالله فانی رسول الله!(آکام المرجان ص:۱۰۷الباب الحادی والعشرون)

۲] انکر طائفة من المعتزلة کالجبائی وابی بکر الرازی محمد بن زکریا الطبیب وغیرهما دخول الجن فی بدن المصروع،واحالوا وجود روحین فی جسد مع اقرارهم بوجود الجن،اذ لم یکن ظهور هذا فی المنقول عن النبی صلی الله علیه وسلم کظهور هذا وهذا الذی قالوه خطا،وذکر ابو الحسن الاشعری فی مقالات اهل السنة والجماعة انهم یقولون ان الجن تدخل فی بدن المصروع کما قال الله تعالی:الذین یاکلون الربوا لایقومون الاکما یقوم الذی یتخبطه الشیطان من المس...الخ.(ص:۱۰۷ الباب الحادی والخمسون:فی بیان دخول الجن لاتدخل فی بدن المصروع طبع نور محمد کراچی).قال عبدالله بن احمد بن حنبل قلت لابی: ان قوما یقولون ان الجن لاتدخل فی بدن الانس،قال:یابنی!یکذبون هوذا یتکلم علی لسانه،قلت:ذکر الدار قطنی......عن ابن عباس ان امراة جاءت بابن لها الی النبی صلی الله علیه وسلم فقالت:یارسول الله!ان ابنی به جنون وانه یاخذه عندنا غدائنا وعشائنا فمسح رسول الله صلی الله علیه وسلم صدره ودعاله فتفقه فخرج من جوفه مثل الجر والاسود فسعی.رواه ابو محمدعبدالله بن عبدالرحمن الدارمی......وسیاتی ان شاءالله تعالی عن قریب حدیث ام ابان الذی رواه ابوداؤد وغیره وفیه قول رسول الله صلی الله علیه وسلم:اخرج عدوالله،وهکذا حدیث اسامة بن زید،وفیه:اخرج یاعدوالله فانی رسول الله!(آکام المرجان ص:۱۰۷الباب الحادی والعشرون).وقد وردله اصل فی الشرح وهو مارواه الامام احمد وابوداؤد وابو القاسم الطبرانی من حدیث ام ابان بنت الوازع عن ابیها ان جدها انطلق الی رسول الله صلی الله علیه وسلم یابن له مجنون او ابن اخت له فقال:یارسول الله!ان معی ابنا لی اوابن اخت لی مجنون،اتیتک به لتدعو الله تعالی له،قال: ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

## د پیریانو ښځوله انساني سړیو سره تعلق

**سوال:** زموږ کلي ته نژدې یو سړی اوسیږي چې کله هغه وړوکی و، نو هغه باندې به دورې راتللې تردې چې ټول بدن به یې په وینولوند شو، څه مهال وروسته کله چې هغه ځوان شو، نو دورې بندې شوې، څوکاله وروسته هغه سړي وویل چې ماته یوه ښځه پیری راغله چې ډېره ښایسته انجیلۍ وه اوماته یې تعویذ راکړ چې دا تعویذ په سپینو زرو کې بند کړه اوخپل جسم پورې یې وتړه اوچې کله هم زما ضرورت وي، نو دا تعویذ ماچس لګولو سره ګرم کړه زه به حاضریږم.
اوس چې زموږ په کلي او خواوشا کې کله څوك ناروغ شي یاڅه مشکل ورته مخکې شي، نوهغه سړي را وغواړي هغه دماچس تیلی ولګوي اوهغه تعویذګرم کړي، څو منټه وروسته چیلیم را وغواړي او دهغه سترګې ډېرې زیاتې سرې شي، بیادهغه اواز دښځې په شان شي اوپوښتنه کوي چې زما معشوق ته دې ولې تکلیف ورکړی دی، تاته څه تکلیف دی؟
مولانا صاحب! تاسوبه یقین نه کوئ چې لوی لوی اسپیشلسټ ډاکټران چې د کوم مرض تشخیص نه شي کولی دا ښځه پیری (دهغه په وینا) څومنټونوکې د هغه مرض په باره کې معلومات ورکوي چې دا فلانکی مرض دی اودهغه علاج هم بیانوي اکثر خلک ورسره شفاءمومي داسړی ډیر ساده انسان دی اوهغه ته یقینا د دوایانو په باره کې هیڅ علم نشته، چې هغه کله په خاص وخت کې پخپله ژبه (چې دغه وخت دښځې په شان خبرې کوي) وایي،دډیرو مرضونو علاج کیږي.
خو پخپلو سترګو ماداهر څه لیدلي دي مهرباني وکړئ دقران اوحدیث په رڼا کې ددې وضاحت وکړئ چې پورته ذکرشوي واقعات څومره پورې صحیح دي.

---

...بقیه د تیر مخ]... ائتني به!قال:فانطلقت به اليه وهوفى الركاب فاطلقت عنه والقيت عليه ثياب السفر والبسة ثوبين حسنين واخذت بيده حتى انتهيت به الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال:ادنه منى واجعل ظهره مما يلينى،قال:فاخذ بمجامع ثوبه من اعلاوه واسفله فجعل يضرب ظهره حتى رايت بياض ابطيه ويقول: اخرج عدوالله!فاقبل ينظر نظر الصحيح ليس ودعا له فلم يكن فى الوفد احد بعد دعوة رسول الله صلى الله عليه وسلم يفضل عليه.فقدورى ابن عساكر فى الثانى من كتاب الاربعين الطوال حديث سامة بن زيد قال حججنامع رسول الله صلى الله عليه وسلم امراة تحمل صبيا لها فسلمت على رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يسير على راحلته ثم قالت:يارسول الله!هذا ابنى فلان والذى بعثك بالحق مابقى من خفق واحد من لدن انى ولدته الى ساعته هذه.حبس رسول الله صلى الله عليه وسلم الراحلة فوقف ثم اكسع اليها فبسط اليهايده وقال هاتيه فوضعته على يدى رسول الله صلى الله عليه وسلم فضمه اليه فجعله بينه وبين واسطة الرحل ثم تفل فى فيه وقال:اخرج ياعدوالله فانى رسول الله!ثم ناولها اياه فقال:خذيه فلن ترين منه شيئا تكرهينه بعد هذا ان شاءالله.الحديث.وفى اوائل مسند ابى محمد الدارى من حديث ابى الزبير عن جابر معناه وقال فيه:اخسا عدوالله انارسول الله!(آكام المرجان ص:۱۱۳،۱۱٤،الباب الثالث والخمسون طبع نورمحمد)۔

**جواب:** انسانانو باندې د پیریانو اثرات حق دي، په قران او حدیث دواړو کې ددې ذکرشته[۱] او د پیریانو ښځو انسانانو سړیو باندې د عاشق کېدو واقعات هم کتابونولیکلي دي، له دې وجې کومه کیسه چې تاسو لیکلې ده، هغه لږ هم د تعجب وړ نه ده.[۲]

## د ابلیس حقیقت څه دی

**سوال:** د ټولو نه اول سوال دادی چې ابلیس د فرښتو نه دي یاد پیریانو د نسل نه دی؟ ځکه چې زموږ د ځای د ځینو خلکو خیال دی چې ابلیس د الله پاك له مقربو فرښتونه و، خو د حکم نه منلو له وجې الله تعالی هغه له خپل دربار نه وویسته ترڅو پورې چې زما خیال دی، نو ابلیس د پیریانو نه دی او د عبادت په وجه د فرښتو برابر شو، خو حضرت ادم علیه السلام ته د سجدې نه کولو له وجې لعنتي شو.

**جواب:** په قران کې دي چې "**کان من الجن**"[۱] یعني شیطان د پیریانو نه و، خو د ډېر عبادت له وجې په فرښتو کې شماریده چې د تکبر له وجې مردود شو.[۲]

---

۱] روی الامام احمد فی مسنده من حدیث ابی موسی قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:فناء امتی بالطعن والطاعون،قالو:یارسول الله!هذا الطعن قد عرفناه،فما الطاعون؟قال:وجز اخوانکم من الجن وفی کل شهادة ورواه ابن ابی الدنیا فی کتاب الطواعین قال فیه وخز اعدائکم من الجن.(آکام المرجان ص:۱۱۶،الباب الخامس والخمسون). تفصیل دپاره اوګورئ: ملاحظ هو کتاب لهذا کا الباب السادس والخمسون،الباب السابع والخمسون، الباب الثامن والخمسون.ایضا قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ان للشیطان لمة بابن آدم وللملک لمة فاملة الشیطان فایعاد بالشر وتکذیب بالحق،واملة الملک فایعاد بالخیر وتصدیق بالحق،فمن وجد ذلک فلیعلم انه من الله تعالی فیحمد الله تعالی،ومن وجد الاخری فلیتعوذ بالله من الشیطن ثم قرأ:الشیطان یعدکم الفقر ویامرکم بالفحشاء. (آکام المرجان ص:۱۷۹،الباب الرابع بعد المائة)۔

۲] حدثنا القاضی جلال الدین احمد بن القاضی حسام الدین الرازی الحنفی تغمده الله برحمته قال:سفرلی والدی لاحضار اهله من الشرق،فلما جزت البیره الجانا المطر الی ان نمنا فی مغارة وکنت فی جماعة فبینا انا نائم اذا انابشیئ یوقظنی فانتبهت فاذا بامراة وسط من النساء لها عین واحد مشقوقة بالطول فارتعت،فقالت:ماعلیک من باس، انما اتیتک لتتزوج ابنة لی کالقمر،فقلت لخوف منها علی خیرة الله تعالی ثم نظرت فاذا برجال قد اقبلوا فنظرتهم فاذا هم کهیئة المراة التی اتتنی عیونهم کلها مشقوقة بالطول فی هیئة قاض وشهود فخطب القاضی وعقد فقبلت ثم نهضوا وعادت المراة ومعها جاریةحسناء الاان عینها مثل عین امها وترکتها عندی وانصرفت فزاد خوفی واستیحاشی وبقیت ارمی من کان عندی بالحجارة حتی یستیقظوا فما انتبه منهم احد فاقبلت علی الدعاء والتضرع ثم ان الرحیل فرحلنا وتلك الشابة لاتفارقنی قدمت علی هذا ثلاثة ایام فلما کان الیوم الرابع اتتنی المراة وقالت:کان هذه الشابة ما اعجبتک وکانک تحب فراقها،ای والله!قالت:فطلقها!فطلقها فانصرفت ثم لم ارهمابعد.(آکام المرجان ص:۷۰،الباب الموفی ثلاثین).نیز تفصیل دپاره اوګورئ:آکام المرجان فی احکام الجان،الباب الموفی ثلاثین فی بیان منا کحه الجن،ص:۶۶تا۷۴)۔

## ایا د ابلیس اولاد شته

**سوال:** ایا د ابلیس اولاد هم شته،که یوازې دی. نوهغه دومره ډیر خلک په یو وخت کې څنګه ګمراه کوي؟ ددې جواب دقران او حدیث په رڼا کې راکړئ.

**جواب:** په قران مجید کې دي چې دده ال اولادهم شته او دده مددګار هم په ډیرتعداد کې دي[۳]. څنګه چې په یو روایت کې دي چې شیطان داوبو دپاسه خپل تخت اینبی دی اوخپلو ماتحتو ته روزانه هدایات ورکوي اوبیادهرې ورځې کارګذاري هم اوري.[۴]

## دهمزاد حقیقت څه دی

**سوال:** دهمزاد شرعي حقیقت څه دی ایا دا ربنتیا خپل وجود لري؟

**جواب:** په حدیث کې دي چې دهرانسان سره یوه فرښته او یو شیطان مقرر دي، فرښته هغه ته دخیر مشوره ورکوي اوشیطان دشرحکم کوي.[۵] ممکنه ده چې همدې شیطان ته "همزاد" وویل شي، که نه ددې نه پرته دهمزاد هیڅ شرعي ثبوت نشته.

---

۱] کان من الجنّ ففسق عن امر ربّه. (الکهف: ۵۰)۔

۲] ابٰی واستکبر وکان من الکٰفرین. (البقرة: ۳۴) وایضا:فسجدو الاابلیس هو ابو الجن کان بین الملائکة...الخ. (جلالین ص:۸ سورة البقرة).وایضا: ولمن زعم انه لم یکن من الملائکة ان یقول انه کان جنیا نشابین اظهر الملائکة وکان مغمورا بالالوف منهم فغلبوا علیه،(قوله وکان مغمورا) ای مکثورا ومغلوبا بالالوف من الملائکة فغلبوا علیه فتناول امرالملائکة ایاه،وصح استثناؤه منهم ای من ضمیر فسجدوا استثناء متصلاً لانه تعالی لما غلبهم علیه فسمی الجمیع ملائکة لکونه مغلوبا ومستورا بهم کان داخلا فیهم بالتغلب فدخل تحت امرهم.(تفسیر البیضاوی مع حاشیة شیخ زاده ج:۱ ص:۵۳۱،۵۳۳سورة البقرة آیت:۳٤طبع قدیمی)۔

۳]افتتخذونه وذریته اولیآء من دونی وهم لکم عدوّ.....الخ. (الکهف: ۵۰)۔

٤] عن جابر قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ان ابلیس یضع عرشه علی الماء ثم یبعث سرایاه یفتنون الناس،فادناهم منه منزلة اعظمهم فتنة،یجئ احدهم فیقول:فعلت کذا وکذا،فیقول: ماصنعت شیئا !قال ثم یجئ احدهم فیقول:ماترکته حتی فرقت بینه وبین امراته،قال:فیدنیه منه ویقول:نعیم انت!قال الاعمش:اراه قال فیلتزمه.رواه مسلم.(مشکوة ص:۱۸،کتاب الایمان،باب فی الاسوسة)۔

۵] عن ابن مسعود قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:مامنکم احد وقد وکل به قرینه من الجن وقرینه من الملائکة...الخ.(مشکوة،باب فی الوسوسة ص:۱۸)۔

# ❖ رسومات (رواجونه) ❖

.........................

## د وهمونو حقيقت

**سوال:** دجهالت له وجې دبرصغيرځينې مسلمانې كورنۍ په دې عقيدوباندې يقين ساتي،مثلا: دغواپه خپل ښكرباندې دنيا پورته كول.دماشوم دپيدائښ نه مخكې څه جامه نه ګنډل، دماشوم جامې چاته نه وركول، ځكه چې دشنډې ښځې دجادوكولوپه ذريعه باندې ماشوم ته نقصان رسيدلی شي. ماشوم ددولسوبجوپه وخت كې زانګوكې نه اچول، ځكه چې دپيريانوسورې(سايه) پرې كيدای شي، ماشوم ته دماښام په وخت كې پې نه وركول اوكه چېرې ماشوم ته څه ناروغي ولګيږي، نوهغې ته هم دپيريانوسورې(سايه) ويل كيږي اودم دورد اوتعويذونه وغيره ورته كوي اونورې مسئلې وغيره، زه ددې پوښتنه كول غواړم چې اسلام كې ددې خبروڅه وجود شته؟ ايا دا د ايمان دكمزورې خبرې نه دي؟ كه چېرې زموږ ايمان مكمل وي، نو ددې خبرونه خلاصی موندل ګران كارنه دی كيدای شي ستاسو د جواب په وجه باندې دلكونوخلكودكورونونه داجهالت لرې شي او خلك په فضول وهمونوباندې يقين ساتلوپه ځای باندې خپل ايمان مكمل كړي.

**جواب:** تاسوچې كومې خبرې ليكلي دي هغه په رښتيا باندې جهالت كې راځي. دپيريانو سورې (سايه) ممكن ده او ځينو خلكو باندې كيږي هم، خو په معمولي معمولي خبرې دپيريانو سورې(سايه) ګڼل غلط دي.[1]

## ماشومانو ته د تور رنګ تار تړل يا د رانجو خال پرې لګول

**سوال:** خلك عام طوردماشومانو له بدنظر نه ساتلوله پاره دتور رنګ تارتړي، ياهغوی باندې د رانجو خال لګوي،اياداعمل شرعي لحاظ سره صحيح دی؟

**جواب:** كه چېرې دعقيدې خرابي نه وي، نوجائزدی، مقصدداوي چې بدرنګ كړل شي، نوله نظره نه شي.[2]

---

۱] واما الجن والشياطين فيخالطون بعض الاناسى ويعاونو نهم على السحر والطلسمات والنير نجات وما يشاكل ذلك.(شرح المقاصد ج:۲ ص:۵۵،طبع دار المعارف النعمانية،لاهور).والعين حق وحقيقتها تاثير المام نفسى الغائن وصدمة تحمل من المامها بالمعين وكذا نظرة الجن.(حجة الله البالغة ج:۲ ص:۱۹٤،طبع مصر)۔

۲] وكل حديث فيه نهى عن الرقى والتمائم والتولة فمحمول على مافيه شرك او انهماك فى التسبب بحيث يغفل عن البارى جل شانه.(حجة الله البالغة ج:۲ ص:۱۹٤،طبع مصر)۔

## د لمر تندر نیول او حامله ښځه

**سوال:** زموږ معاشره کې داخبره ډېره مشهوره ده او اکثر خلک دا صحیح هم ګڼي چې کله سپوږمۍ یالمر تندر ونیسي، نو حمل لرونکې ښځې یادهغې خاوند ته (په هغه شپه یاورځ په کومې باندې چې سپوږمۍ یالمر تندر نیولي وي)له ارام کولونه پرته بل څه نه دي کول پکار، مثلا که چېرې خاوند د ورځې لرګي کټ کړي اودشپې پرمخ څملي. نوکله چې ماشوم پیداشي، نودهغه دبدن یوه حصه به کټ وي یابه هغه ګوډ وي یابه دهغه لاس وغیره نه وي دقران اوحدیث په رڼاکې ددې جواب راکړئ اوداهم بیان کړئ چې هغه شپه یاورځ باندې څه کول پکاردي؟

**جواب:** حدیث کې دې موقع باندې دخیرات اوصدقې کولو، توبې اواستغفار،دلمونځ او دعا کولو حکم دی، دنوروخبروذکرنشته، له دې وجې داشرعي کارګڼل اوکول يې نه دي پکار.[1]

## د لمر یا سپوږمۍ تندر نیولو وخت کې د حمل لرونکو څارویو د مرۍ نه پرې ویستل

**سوال:** دلمراوسپوږمۍ دتندر نیولوله کتاب اوسنت په رڼاکې حقیقت څه دی؟ دقران اوسنت په رڼا کې بیان کړئ چې داصحیح دي اوکه غلط چې کله لمریاسپوږمۍ تندر ونیسي، نود حمل لرونکې غوا، میښې، چیلۍ یانوروڅارویو دمرۍ نه رسۍ وغیره ویستل پکاردي، یا دا یوازې وهمونه دي؟

**جواب:** حدیث کې دسپوږمۍ اولمرتندرنیول دالله تعالی داسې قدرتونه بیان شوي دي،چې دهغه په ذریعه باندې الله تعالی خپل بندګان ویرول غواړي اودې موقع باندې دلمونځ، صدقې، خیرات اوتوبې اواستغفارحکم ورکړل شوی دی اوپه سوال کې چې دکوم رواج ذکرشوی دی،دهغه هیڅ شرعي حیثیت نشته.

زموږ په خیال باندې دا وهم دی،کوم چې دهندوانودمعاشرې(ټولنې) نه دلته هم رانقل شوی دی.والله اعلم![2]

---

[1] عن عائشة رضی الله عنها انها قالت:خسفت الشمس فی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فصلی رسول الله صلی الله علیه وسلم بالناس....ثم قال:ان الشمس والقمر آیتان من آیات الله،لایخسفان لموت احد ولا لحیاته،فاذا رایتم ذلک فادعوالله وکبروا وصلوا وتصدقوا.(بخاری ج:۱ ص:۱۴۲،باب الصدقة فی الکسوف)

[2] عن ابی موسی رضی الله عنه قال:خسفت الشمس فقام النبی صلی الله علیه وسلم فزعا یخشی ان تکون الساعة، فاتی المسجد فصلی باطول قیام ورکوع وسجود رایته قط یفعله....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

## د اختر د پيسو غوښتلو شرعي حيثيت

**سوال:** د اختر په ورځو کې چې څوک کورې د اختر پيسې غواړي، د ماشومانو باره کې خونه، غوښې والا کورئ، سبزي والا ته کورئ، زه تاسو نه د اپوښتنه کول غواړم چې دې طريقه باندې چې کوم خلک د اختر پيسې اخلي، هغه حرامې دي که ددې څه شرعي حيثيت شته؟

**جواب:** د اختر پيسې غوښتل خوجائزنه دي[1] او په خپله خوشالي باندې ماشومانو ته، يا خپلو نوکرانو ته يا د ځان نه کشرانو ته هديه ورکړې، نو ډېره ښه ده، خو د الازم او ضروري ګڼل يې نه دي پکار او نه د اسنت ګڼل پکار دي.

## د سالګري (تلين) رواج انګريزانو ايجاد کړی دی

**سوال:** لوړو کورنيو او عام طور باندې درميانه کورنيو کې هم د ماشومانو سالګري کيږي، ددې شرعي حيثيت څه دی؟ ايا دا جائز دي؟ خپل خپلوان او دوستان وغيره را وغوښتل شي، هغوی د ځان سره د ماشومانو له پاره تحفې وغيره راوړي، ښځې او سړي د محرمانو او نامحرمو سره په يو هال کې په کرسيو باندې ناست وي، يا د يو غټ ميزنه ګيرچاپيره ودريږي، ماشوم يو غټ کيک کټ کړي او بيا لاسونه وپړکول شي او د سالګري مبارکي ورته ورکړي او تحفو سره سره د چای خاص انتظام هم شوی وي.

**جواب:** د سالګري رواج انګريزانو شروع کړی دی او کوم صورت چې تاسو ليکلی دی، دې کې ډېر ناجائز کارونه يو ځای شوي دي.

## د سالګري په رسم کې شرکت کول

**سوال:** يو کس خو په خپله باندې سالګره نه کوي، خو د هغه څوک ډېر نږدې خپلوان هغه ته په سالګره کې د شرکت کولو دعوت ورکړي، ايا هغه ته شرکت کول پکار دي؟ ځکه چې اسلام کې د نورو خلکو په خوشاليو کې شرکت کولو او دعوت قبلولو ته ترجيح ورکوي.

**جواب:** فضول شيانو کې شرکت کول هم فضول دي.

**سوال:** زه د ډي ايم سي زده کونکې يمه، کالج کې چې د کومې انجيلۍ سالګره وي، هغه کالج کې په خلکو باندې ډوډۍ خوري، ايا دې ډوډۍ کې شرکت کول پکار دي؟

---

...بقيه د تېر مخ]... وقال :هذه الآيات التي يرسل الله عزو جل،لاتكون لموت احد ولا لحياته،ولكن يخوف الله بها عباده،فاذا رايتم شيئا من ذلك فافزعوا الى ذكر الله ودعائه واستغفاره. (بخارى ج:۱ ص:۱۴۵،باب الذكر فى الكسوف،طبع نور محمد كراچى)۔

[1] عن ابى حرة الرقاشى عن عمه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:الا لاتظلموا!الا لايحل مال امرى الابطيب نفس منه.رواه البيهقى.(مشكوة ص:۲۵۵،باب الغصب والعارية،الفصل الثانى،طبع قديمى)۔

**جواب:** فضول شیانو کې شرکت کول هم فضول دي.

**سوال:** که چېرې شرکت ونه کړو، نو هغه پخپله دچاچې سالګره وي راشي اومورته کیک اونورشیان راکړي، نوایامورته اخیستل پکاردي اوکه انکارکول پکاردي؟

**جواب:** که چېرې دغو فضولیاتوکې شرکت مطلب وي، نوخوړل یې پروا نه لري، که نه انکار ورته وکړئ.

**سوال:** که سالګرې ته تلل مناسب نه دي، نویوازې دسالګرې تحفه دسالګرې نه مخکې یاوروسته ورکول څنګه دي؟ ځکه چې بیابه خلک وایي چې تحفه یې نه شوه ورکولی له دې وجې رانغلل، حالانکې اسلام، خوپخپله باندې اجازه ورکوي اودنبي کریم ﷺ ارشاد دی، چې یوبل ته تحفې ورکوئ په دې باندې مینه زیاتیږي.

**جواب:** تحفه ورکول ښه خبره ده، خودسالګرې له وجې دتحفو ورکول بدعت دي.

**سوال:** موږ پخپله باندې سالګرې نه کوو، خوکه چېرې بل څوک مورته دسالګرې تحفه یا کارډ وغیره راکړي، نوهغه قبلول پکاردي اوکه انکارکول پکاردي؟ اوانکارکول بدښکاري.

**جواب:** پورته مې لیکلي دي، انکارکول له دې وجې بد ښکاري چې په ذهنونواوزړونوکې انګریزي قانون دځان له پاره ځای جوړکړی دی، اسلام اواسلامي تمدن ختم شوی دی.

**سوال:** کالج کې عام طورباندې دسالګرې دمبارکې له پاره د سالګرې کارډونه ورکول کیږي، ایا دا صحیح دي؟ یوصاحب وایي چې داصحیح دي، ځکه چې دیوبل په خوشالیوکې دشرکت اظهاردی.

**جواب:** داهم ددغه فضول رواج یوه برخه ده، چې دسالګرې خوشالي څه معنا نه لري، نوهغه کې شرکت کول هم هیڅ معنا نه لري.

## د کورپه بنیاد کې وینه اچول

**سوال:** مایوپلاټ اخستی دی اوزه دهغه جوړول غواړم، مادهغه د بنیاد کنستلواراده وکړه، نو ډېرو خپلوانوراته وویل چې ددې په بنیادونوکې چیلی حلالول اودهغو وینه اچول اوغوښه یې په غریبانانو باندې تقسیمول ښه خبره ده اوډېرخلک وایي چې بنیادونو کې لږشان سره زراوسپین زر واچوه، که نه روزانه به ناروغ یې، ماچې کوم ځای کې پلاټ اخستی دی، هلته نورهم ډېرکورونه جوړدي او زیات ترخلکودچیلی وغیره وینه په بنیادونوکې اچولې ده، مادې باره کې دخپل استاذنه پوښتنه وکړه، نوهغه وویل چې بنیادونو کې وینه اوسره زریاسپین زراچول داټول دهندوانورواجونه دي، دې باره کې ستاسوڅه خیال دی؟

**جواب:** ستاسو استاذ صاحب صحيح فرمايلي دي، د کور په بنياد کې د چيلې وينه يا سروزرو يا سپينو زرو اچولو هيڅ شرعي حيثيت نشته.[۱]

## د نوي عيسوي کال راتلو باندې خوشالي

**سوال:** ايا د نوي عيسوي کال په راتلو باندې خوشالي کول جائز دي؟

**جواب:** د عيسايانو رواج دی او مسلمانان يې د جهالت له وجې کوي.

## درياب کې د صدقې په نيت باندې پيسې اچول د ګناه ذريعه ده

**سوال:** د درياب پلونو باندې تيريدو وخت کې اکثر مسافران په اوبو کې پيسې اچوي، ايا دا عمل د صدقې په شان د مصيبتونو لرې کونکی دی؟

**جواب:** دا صدقه نه ده، بلکې مال ضائع کول دي، له دې وجې د ثواب کار نه دی، بلکې د ګناه ذريعه ده.[۲]

## د غلطو رواجونو ګناه

**سوال:** موږ د مسلمانانو په فرقه کې يو، زمونږ د کرنې زياتر خلک کاټهياوار (ګجراتي) وايي، موږ کې د خپل پلارنيکه په رواجونو او طور طريقو اثر دی، چې د هغه مطابق موږ ډېر پابندي سره په ذکر شويو رواجونو او طريقو باندې عمل کوو، د هغه له وجې موږ ډېر جزيات مصروف يو، موږ لمونځ نه کوو، زمونږ ځينې رواجونه داسې دي چې هغه د شپې ناوخته پورې وي، په رمضان کې موږ روژې نه نيسو، زکات ته موږ (وسوند) وايو، فرق دا دی چې روپۍ باندې موږ دوه انې ورکوو، ذکر شوي ټول رواجونو او طريقو ته موږ ګجراتي کې جدا جدا نومونه اخلو، هغو کې د خاصو خاصو نومونه دا دي: مجلس دعا، نادي چاندنی، رات کی مجلس، ګهټ پات، جرا، بول اسم اعظم نوراني، فدايي، بخشوني، ستارے جی تسبيحات، پهاړا نيچے بهائيوں کی مجلس وغيره. (دا ټول نومونه ګجراتي کې ليکل شوي دي) تاسو نه پوښتنه دا کول دي چې موږ ټول مسلمانان يو، ايا موږ ته دا رواجونه او طريقې جاري ساتل

---

۱] سوال: نن صبا چه يو سړې کور جوړوی نو د هغې په بنيادونو کښې چيلي ذبح کړی او د هغې وينه پکښې واچوی او غوښه په خپلو دوستانو او فقراؤ کښې تقسيم کړی آيا شرعی لحاظ سره ددې څه دليل شته يا نه؟ جواب: په اسلام کښې ددې هيڅ ګنجائش نشته دا د هندوانو او د بت پرستانو عقيده ده اوګورئ: احسن الفتاوی ج۸ ص ۲۲۸، ايضاً: خير الفتاوی ج۱ص :۸۲،طبع ملتان)۔

۲] عن ابی ذر عن النبی صلی الله عليه وسلم قال:الزهادة فی الدنيا ليست بتحريم الحلال ولا اضاعة المال...الخ. وفی حاشية المشکوة عن المرقاة:ولا اضاعة المال ای بتضييعه وصرفه فی غير محله بان يرميه فی بحر او يعطيه للناس من غير تمييز بين غنی وفقير...الخ.(مشکوة ص:۴۵۳حاشيه نمبر۲،باب التوکل والصبر،الفصل الثانی،طبع قديمی)۔

پکاردي یاپرېښودل پکاردي؟ ځکه چې ددې له وجې زموږ عبادتونوکې فرق راځي. اوایاموږ به ددې رسمونوپه وجه باندې ګناه ګاریږواوکه نه؟

**جواب:** په یو څوخبروباندې ځان پوه کړئ.

۱. داسلام رکنونونه اداکول اوهغه ضروري ګڼل په هرمسلمان باندې فرض دي اودهغو دپرېښودو په یوحالت کې هم اجازه نشته[۱]،که تاسویاستاسو دخاندان کوم خلک چې اسلامي رکنونه نه اداکوي، هغوی ددې له وجې ډېرسخت ګناهګار دي، اوله دې نه توبه کول پکاردي.

۲. تاسوچې دکوموررواجونوذکرکړی دی،دهغو هیڅ شرعي حیثیت نشته.داشرعي عبادتونه ګڼلو سره اداکول ډېره بده خبره ده.

۳. دکومې مشغولتیاله وجې چې فرائض پاتې کیږي،داسې مشغولتیاجائزنه ده.[۲]

دې دریوخبروکې ستاسودټولوسوالونوجوابونه راغلل.

## د جوړې او نکریزو رواجونه غلط دي

**سوال:** نن سباد ودونو په محفلونو کې مختلف قسمه رواجونه کول ضروري دي، پته نشته چې دا دکوم ځای نه راغلي دي؟ خوکه چېرې دې نه منع وکړل شي، نوجواب داسې وي چې نوي نوي ملایان، نوې نوې فتوا ، دغو رواجونوکې یورواج داهم دی چې ناوې ته دواده نه یو ځوورځې مخکې دزیړرنګ جوړه وراغوستل کیږي اویوه کونج کې کینول کیږي، دې برخه کې کوم ځای چې ناوې وي هغه پټ کړل شي (په څادروغیره باندې) تردې چې پلار او وَرور وغیره نه ترې هم پرده کیږي او پلار او وررور وغیره نه پرده نه کول ډېرزیات بدګڼل کیږي،(که دواده نه مخکې هغه انجیلۍ له پردې پرته کالج ته ولې نه ځي) ددې رواج ښځې ډېرزیات اهتمام کوي اودې ته د: مایون بتهانا: نوم ورکول کیږي، که چرې کمې ورځې یې کینوي، نوډېرزیات اعتراض کوي چې یوازې دوه ورځې یې کینوله؟ ددې شرعي حیثیت څه دی اوایاددې اهتمام کول پکاردي یادابالکل پرېښودل پکاردي؟

**جواب:** ناوې او زلمی د واده نه مخکې د یوائې کینولو درسم هیڅ شرعي حیثیت نشته، کېدای شي چې کوم سړي داررواج شروع کړی وي،دهغه مقصدداوي چې انجیلۍ ته دیوازې

---

۱]وفي الحديث الصحيح:ان الله فرض فرائض لا تضيعوها،وحد حدودا فلا تعتدوها،وحرم اشياء فلا تنتهكوها...الخ. (الزواجر عن اقتراف الكبائر ج:۱ ص:۱۲،طبع دار المعرفة،بيروت)۔

۲] ويؤيده قوله صلى الله عليه وسلم في الحديث الصحيح:اذا امرتكم بشئ فاتوا ما استطعتم واذا نهيتكم عن شئ فاجتنبوه،فاتى بالا ستطاعة في جانب المامورات ولم يات بها في جانب المنهيات اشارة الى عظيم خطرها وقبيح وقعها،وانه يجب بذل الجهد والوسع في المباعدة عنها سواء استطاع ذلک ام لا.(الزواجر عن اقتراف الكبائر ج:۱ ص:۱۲)۔

ناستې، د کم خوراک کولو او کمو خبرو کولو، بلکې د خبرونه کولو عادت شي او خسرګنی کې ورته څه پریشاني نه وي. په هرحال دا ضروري ګڼل او شرعي محرمانونه پرده کول ډېره بده خبره ده، که غور وکړل شي. نو دارواج دانجیلی له پاره دځانته قید کولو، بلکې د ژوندی خښولو نه کم نه دي. دحیرانتیا خبره ده چې د ړناګانو په زمانه کې دتیارو رواجونه او سه پورې دښځو په زړونو کې موجود دي او چاته دد دې دقباحت احساس هم نشته.

**سوال:** دغه راز یو رواج دنکریزو په نوم باندې هم اداکیږي، داسې وي چې یوه ورځ دهلک کوروالا دانجیلی کورته نکریزې یوسي او په دویمه ورځ باندې دانجیلی کوروالا، دهلک کورته نکریزې وړي، دې رواج کې چې ښځې او سړي څنګه یو بل سره ملاویږي او څنګه حالات چې هغه وخت کې وي هغه دبیانولو نه بهر دي، یعنې دانتهایي درجې پورې هغه وخت کې بې حیایي وي او که چېرې وویل شي چې دا رواج دهندوانو دی دامه کوئ، نو ځینې خلک دارواج په خپل کورکې اداکولو ته تیارشي (یعنې دیو بل کورته دتلو ضرورت نشته) خو کوي یې ضرور، پیغلې له پردې پرته ګډاګانې کوي او کوم صاحبان چې ځان ته دین دار وایي، دهغوی کورونو کې هم دا رواج ضرور کیږي.

**جواب:** د نکریزو رواج چې د کومو کارونو سره اداکیږي، دا هم دجاهلیت د زمانې یادګاردی، دکوم طرف چې پورته اشاره شوې ده او دا تقریب کوم چې په ښکاره باندې ډېر معصوم ښکاري دډېرو حرامو مجموعه ده، له دې وجې تعلیم یافته ښځو خاص طور باندې دین دارو ښځوته دد دې اخلاف احتجاج کول پکار دي او دا بالکل ختمول پکار دي. انجیلی ته نکریزې ورلیږل خو بده خبره نه ده، خو دهغو له پاره تقریب کول او خلکو ته دعوت ورکول، دځوانو هلکانو او جینکو دشوخ رنګونو جامو اچول او دیو بل مخې ته تلل راتلل دبې حیایي او بې شرمي انتها ده.

## د واده رسمونه د طاقت لرلو سره سره نه منع کول دشریعت له مخې څنګه دي

**سوال:** دواده رواجونه که چېرې دمنع کولو له قدرت سره سره په خپل کورکې اداکړل شي، نو دا څنګه دي؟ یعنې هغه رواجونه بندنه کړل شي، بلکې ناجائز ګڼلو باوجود هغه اداکړل شي، نو دهغه کس له پاره څه حکم دی؟ او دا رواجونه دکوم حد پورې منع کول پکار دي؟ بالکل نه کول پکار دي او که یوازې دومره وویل شي چې دا کار به دې کور کې نه کیږي، کافي دي؟

**جواب:** دایمان اوچته درجه داده چې بدي په لاس باندې ختمه کړل شي، درمیانه درجه داده چې په خولې باندې ختمه کړل شي او د ټولونه کمزورې درجه داده چې په لاس یا خوله باندې دختمولو طاقت نه وي نو کم نه کم په زړه کې هغه بده وګڼل شي، کوم خلک چې د قدرت لرلو

باوجود داسې حرام کارونه نه منع کوي اونه يې په زړه کې بدګڼي هغوی کې داخرې درجې ايمان هم نشته.[۱]

## د واده فلم جوړول او تصويرونو ويستلو سره هغه محفوظ کول

**سوال:** په ودونوکې دتصويرونوويستلورواج هم ډېرزيات ضروري دی.ددې باوجودچې تصويران ويستل حرام دي، خلک ددې کولونه ځان نه ساتي. تاسونه دامعلومول دي چې کوم تصويران دکم علمي له وجې ويستل شوي دي، دهغه کتل اوځان سره محفوظ ساتل څنګه دي؟ اياهغه سيزل پکاردي اوکه ځان سره يې ساتل پکاردي؟ اوڅوک چې داتصويران ځان سره سنبال ساتي اودهغه دحرمت ثابتيدو باوجود هغه نه سوزوي،دهغه له پاره شريعت کې څه حکم دی؟

**جواب:** تصويرجوړول، کتل اوکينبودل شرعي طوربانديې حرام دي[۲]، تصويرجوړول نه دي پکار او کوم چې دضرورت نه پرته وي هغه ختمول پکاردي اوالله تعالی نه توبه کول پکاردي.

**سوال:** د تصويرانو ويستلونه پرته (فلم جوړول) يعنې د ويډيو کيمرې په ذريعه باندې تصوير اخيستل څنګه دي؟ ددې جوړول ددې کتل او ددې ساتل څنګه دي؟ که چېرې جوړونکی خپل محرم وي، نوبياڅنګه دی (يعنې بې پردګي نه وي)

**جواب:** فلم جوړول هم تصويرويستلوکې داخل دی.داسې تقريب په کوم کې چې داسې حرام کارونه کيږي کوم چې دالله تعالی خفګان اخيستل کيږي،دلعنت قابل دی اودداسې ودونوانجام د کور د خرابيدو نه پرته بل څه نه دی،دداسې کارونونه توبه کول پکاردي.

## د عذرله وجې ګوتو نه ټکونه ويستل

**سوال:** زمااوزمادنوروخويندودګوتو نه د ټکونو ويستلوعادت دی.که چېرې ګينټه يوه نيمه ګينټه کې ګوتونه ټکونه ونه ويستل شي، نودردکوي اوزموږ مور موږددې عادت نه سختې سره منع کوي او هغه وايي چې ګوتونه ټکونه ويستل حرام دي. تاسومهرباني وکړئ او ووايئ چې اياداحرکت کول حرام دی يادشريعت دې باره کې څه حکم دی؟

---

۱] عن ابی سعيد الخدری عن رسول الله صلی الله عليه وسلم قال:من رای منکم منکرا فليغيره بيده،فان لم يستطع فبلسانه،فان لم يستطع فبقلبه وذلک اضعف الايمان.رواه مسلم.(مشکوة،باب الامر بالمعروف ص:۴۳۶)_

۲]وظاهر کلام النوری فی شرح مسلم:الاجماع علی تحريم تصوير الحيوان وقال:وسواء صنعه لما يمتهن او لغيره فصنعته حرام بکل حال...الخ.(شامی ج:۱ ص:۶۴۷)ايضا عن عبدالله بن مسعود قال:سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول:اشد الناس عذابا عندالله المصورون.متفق عليه.(مشکوة ص:۳۸۵،باب التصاوير)

**جواب:** گوتونه ټکونه ويستل مکروه دي او ددې عادت بد کار دی.[۱]

## د شپې گوتونه ټکونه ويستل

**سوال:** اياگوتونه ټکونه ويستل گناه ده؟ ځکه چې زمونږ يودوست وايي چې دشپې گوتونه ټکونه ويستل نه دي پکار، ددې له وجې فرښتې نه راځي،ځکه چې گوتونه ټکونه ويستل دنحوست نښه ده، نو تاسو ووايئ چې دا صحيح دي او که نه؟

**جواب:** گوتونه ټکونه ويستل مکروه دي.

## ايا گوتونه ټکونه ويستل سپيره دي

**سوال:** اياگوتونه ټکونه ويستل سپيره توب دی او که دی. نو ددې څه وجه ده؟

**جواب:** اسلام دنحوست قائل نه دی. البته په لمونځ کې گوتونه ټکونه ويستل مکروه دي اودلمونځ نه بهرهم خوښ عمل نه دی. بلکه فضول کار دی.[۲]

## جهلۍ کې پيداشوی ماشوم اودهغه جهلۍ

**سوال:** ځينې ماشومان که هلکان وي او که جينکۍ په يوه جهلۍ کې پيداشي، چې هغې ته برقعه هم ويل کيږي، ځينې ښځې وايي چې دغه جهلۍ وچول پکاردي، ډېره بختوره وي اودې جهلۍ کې چې کوم ماشوم پيداشي هغه هم ډېرخوش قسمته وي دقران اوسنت په رڼاکې بيان کړئ چې دغه جهلۍ ساتل صحيح دي؟ که غورځول يې صحيح دي؟ ياپې خښول پکاردي؟

**جواب:** دغه جهلۍ عام طورباندې خښيږي، ددې دساتلواوددغه ماشوم دخوش قسمتي په قران اوحديث کې چيرته هم ذکرنشته.

## د موردشېدو نه ښښلو دروايت حقيقت

**سوال:** اولادله پاره دمورد شيدودښښلوکوم روايت چې مونږ د ډېروخت نه اورو،دقران اوحديث په رڼاکې ددې څه اهميت دی؟ اوحقيقت دادی چې نن سباميندې دخپلوبچيو پالنه دډبيوپه شيدو باندې کوي، هغوی به څنگه شيدې ښښي؟

**جواب:** دشېدو ښښلو روايت، خوچېرته زماپه نظرنه دی راغلی، زماپه خيال ددې مطلب دا دی چې د مور دومره غټ حق دی چې انسان دا نه شي اداکولی، دانه چې مورخپل حق معاف کړي.

---

۱] وفرقعة الاصابع وتشبيكها ولو منتظر الصلاة او ماشيا اليها للنهى....فلو لدون حاجة بل على سبيل العبث كره تحريها...الخ.(شامى ج:۱ ص:٦٤٣،مطلب اذا تردد الحكم بين سنة وبدعة)_

۲] ويكره ان يشبک اصابعه وان يفرقع كذا فى فتاوى قاضيخان........والفرقعة خارج الصلاة كرهها كثير من الناس.(عالمگيرى ج:۱ ص:١٠٦،الفصل الثانى فيما يكره فى الصلاة وما يكره)_

## د ماشوم کټلو پیسې ورکول

**سوال:** په خرابو رواجونوکې یورواج کوم چې په اکثرکورونوکې موجوددی.دادی چې کله یوکور کې ماشوم پیداشي، نوټول خپلوان يې کټلوله پاره راځي. خودماشوم کتلونه وروسته په هريوکس باندې لازم شي چې هغه دخپل وس مطابق دجیب نه لوټ راوباسي اودهغه ماشوم په لاس کې يې ورکړي، څه وخت وروسته هغه لوټونه دماشوم مور دبالښت لاندې جمع کړي، داداسماني قانون په شان يو پوخ رواج جوړشوی دی اونن پورې مور ددې خلاف کول نه دي ليدلي،کله چې دماشوم دمور څلوېښتې پوره شي. نودهغه نه وروسته لوټونه شمیرل کیږي او دلوټونو دتعداد مطابق دماشوم د بدقسمتي اوخوش قسمتي باره کې خيال قائميږي، دې کاروبارکولوله پاره په ډېرو کورنیوکې دماشوم دپیداکیدو ډېرې زیاتې بې صبري سره انتظارکیږي، سوال دادی چې اسلام کې دداسې رواجونو څه ګنجائش موجوددی؟

**جواب:** دماشوم په پیدائښ باندې هغه ته تحفه ورکول دمشري په شفقت کې راځي، خوداضروري ګڼل اودفرضو اوواجبو درجه ورکول اودادماشوم دنیک بختي اوبدبختي نښه ګڼل غلط او د جاهلیت تصوردی.

## د اختر د کارډ شرعي حیثیت

**سوال:** داخترد کارډ رواج دلته دڅه وخت نه شروع شوی دی؟ ددې شرعي حیثیت څه دی؟ ددې په لیکلو، چاپ کولواوتقسیمولوباندې چې کومې پیسې خرچ کیږي ایادا اسراف نه دی؟ کېدای شي داقبیح رواج هم دغیرملکي اقتدارننبه وي، ځکه چې دقیمتي کاغذپه شکل کې په لکونوروپۍ غیر ملکیانو ته لاړې شي اوغیرملکي تعلیم حاصلونکي طبقه دې کې ډېره برخه اخلي د ودونو دکارډونو په شکل کې خرچ شوې پیسې هم دې کې داخلې دي، ددې کارډونو اخیستونکي ډېرې زیاتې پیسې خرچ کوي، حالانکې مرسل الیه ته هیڅ هم نه ورکول کیږي، یااخترمبارکي په ساده خط کې نه شي ورکول کېدای؟

**جواب:** داخوراته معلومه نه ده چې داخترد کارډرواج دکله نه شروع شوی دی؟ خوددې فضول کیدو او اسراف کې هیڅ شک نشته، دغه شان دودونوکارډونه هم فضول دي، ستاسوخیال دقدر قابل دی.

••••••••

# ❖ وهم پرستي ❖

## په اسلام کې د بدفالي تصور نشته

**سوال:** عام خيال دادی چې که چېرې کله شيدې وغيره توې شي. يا طاق شمارمثلا درې، پنځه اوو وغيره يادا شان د ورځو په باره کې چې په هغو کې نهي (سې شنبه)، بدهـ (چارشنبه او خالي (هفته) وغيره راځي دابنه نه ګڼي په عامه ژبه کې دې ته بدفالي ويل کيږي، نودقران او حديث په رڼاکې دبدفالي څه حيثيت دی؟

**جواب:** په اسلام کې دنحوست (سپيره والي) اوبدفالي هيڅ تصور نشته. دا يوازې وهم پرستي ده، په حديث کې دبدفالي دعقيدې ترديد شوی دی[۱] دټولونه لوی نحوست دانسان خپل بدعملونه او فسق وفجوردي[۲] چې په مختلفو طريقو سره کورپه کور کيږي الاماشاء الله،دا بدعملونه اونافرماني دخدای پاك دقهر او لعنت سبب دي، له دې نه ځان ساتل پكار دي.

## اسلام د سپيره توب قائل نه دی سپيره توب د انسان په بدعمل کې دی

**سوال:** زموږ په اسلام مذهب کې د سپيره والي څه اهميت دی؟ ځينې خلک پښه په پښه کېښودل بده ګڼي، ځينې خلک د ګوتونه ټکونه ويستل سپيره ګڼي، څه خلک اسويلی سپيره ګڼي، ځوك وايي چې فلانکی کارپه فلانکی ورځ باندې سپيره دی.

**جواب:** اسلام د سپيره والي قائل نه دی له دې وجې څه کار يا ورځ سپيره ګڼل غلط دي، که سپيره والی دی، نوهغه دانسان پخپله بدعملي کې دی، پښه په پښه کېښودل جائز دي د ګوتونه ټکونه ويستل نامناسب دي[۳].

اوکه چېرې اسويلی راشي، نو په خله باندې دلاس کېښودلو حکم دی.[۴]

---

۱] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:لا عدوى ولا طيرة ولاهامة.(مشكوة ص:۳۹۱،باب الفال والطيرة)

۲] قال طئركم معكم، ائن ذكرتم، بل انتم قوم مسرفون. (يٰس: ۱۹) اى شؤمكم معكم،اى:حظكم من الخير والشر معكم ولازم فى اعناقكم...الخ.(تفسير قرطبى ج:۱۵ ص:۱٦،طبع مصر)_

۳]وفرقعة الاصابع تشبيكها...فلو لدون حاجة بل على سبيل العبث كره تنزيها...الخ.(شامى ج:۱ ص:٦٤۲)_

٤] قال صلى الله عليه وسلم:اذا تثاءب احدكم فليمسک على فيه...لخ.(ابوداؤد ج:۲ ص:۳۲۹،طبع سعيد)

## د نجونو پيدا کيدل سپيره ګڼل

**سوال:** په کومو کورونو کې چې جينکۍ پيدا کيږي هلته زيات خلک خوشاله نه وي. بلکې رسما خوشاله وي، دهلکانو په پيداکيدو ډيره خوشالي کيږي ايا دا طريقه صحيح ده؟ ځکه چې انجيلۍ وي ياهلك داخودالله پاك خوښه ده. خو دچاچې لورپيدا شوه هغه ته ګويا مصيبت راغی اوهغه سپيره ګڼل ايا مور دجاهليت طرف ته واپس نه ځو؟ کله چې به ژوندۍ لوڼه ښخول کېدلې.

**جواب:** دهلکانو په پيداکيدو باندې زياته خوشالي، خويوطبعي امردی، خو داجيلۍ يادهغې مورسپيره ګڼل ياهغې سره دسپکاوي سلوك کول ګناه ده.[۱]

## د ښځوله پاره مختلف رنګه جامې اغوستل جائز دي

**سوال:** زمونږ مشران دځينې رنګونو دجامواوبنګړو(مثلا تور، اسماني رنګ) اغوستلونه منع کوي دوی وايي چې د فلانکي رنګ جامې اغوستلو سره مصيبت راځي دا ځومره پورې صحيح ده؟

**جواب:** دمختلف رنګونو بنګړيو اوجامو استعمال جائزدی[۲] او دا خيال چې دفلانکي رنګ سره مصيبت راځي دايوازې وهم پرستي ده، رنګونو سره هيڅ نه کيږي اعمالوسره انسان دالله تعالی په نظر کې مقبول يا مردود کيږي.[۳]

## د مياشتو سپيره والی

**سوال:** په اسلام کې سپيره والی وغيره نشته، سره له دې چې په يوحديث کې دصفرمياشت سپيره ګرځول شوې ده، دحديث ثبوت دهغه کاغذنه معلوم شو کوم چې په کراچۍ کې په ډير تعداد سره تقسيم شوي دي؟

**جواب:** د صفر مياشت سپيره نه ده دې ته خو "صفرالمظفر" او" صفرالخير" ويل کيږي، يعنې د کاميابۍ او خير و برکت مياشت، دصفرمياشته دسپيره والي په باره کې هيڅ صحيح

---

۱] عن سعد بن مالک ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:لاهامة ولا عدوى ولاطيرة،وان تكن الطيرة فی شئ ففی الدار والفرس والمراة.رواه ابوداؤد.(مشكوة ص:۳۹۲).وفی المرقاة:والمقصود منه نفی صحة الطيرة علی وجه المبالغة...الخ.(مرقاة ج:٤ ص:٥٢٤،باب الفال والطيرة،الفصل الثانی)۔

۲]وكره لبس المعصفر والمزعفر الاحمر والاصفر للرجال مفاده انه لا يكره للنساء ولاباس بسائر الالوان...الخ. (الدر المختار مع الرد ج:٦ ص:۳٥٨،فصل فی اللبس)۔

۳] ان اكرمكم عند الله اتقكم، (الحجرات: ۱۳) ايضا:عن ابی هريرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:ان الله لا ينظر الی صوركم واموالكم ولكن ينظر الی قلوبكم واعمالكم.رواه مسلم.(مشكوة ص:٤٥٤باب الرياء والسمعة)۔

روایت نشته، په دې سلسله کې چې کومې پرچې دځینو خلکو طرف نه شائع کیږي هغه بالکل غلطې دي.[۱]

## په محرم، صفر، رمضان اوشعبان کې واده کول

**سوال:** زموږ په خپلوانوکې دا ویل کیږي چې څومیاشتې داسې دي چې دې کې واده کول منع دي لکه محرم، صفر، رمضان، شعبان وغیره،زه پوښتنه کول غواړم چې دحدیث په رڼاکې ووایئ چې دې میاشتوکې شریعت واده جائز ګرځولی دی اوکه ناجائز، که چیرې ناجائزدی، نوکونکي به ایا ګنهګار وي؟

**جواب:** شریعت کې هیڅ یوه داسې میاشت نشته چې په هغې کې واده کول منع شوي وي.

## د صفر میاشت سپیره ګڼل څنګه دي

**سوال:** ایا د صفر میاشت خصوصي طورباندې اولنی دیارلس ورځې چې هغو ته عام طور دیارلس تیزې ویل کیږي دا سپیره ده؟

**جواب:** دصفر میاشت سپیره ګڼل دجاهلیت رسم دی[۲]، مسلمانان خو دا" صفرالمظفر" او "صفرالخیر" ګڼي، یعنې دخیراود برکت میاشت.

## په شعبان کې واده جائزدی

**سوال:** زموږ د مشرانو او عامو خلکو ویناده چې شعبان المعظم د شب برات میاشت ده، له دې وجې په شعبان کې نکاح جائز نه ده واده او ښادي منع دي؟

**جواب:** بالکل غلط اوبې بنیاده خیال دی . اسلام هیڅ یوه داسې میاشت نه ده ښودلې چې په هغې کې نکاح جائز نه وي.

## ایا په محرم، صفر کې ودونه کول دغم او تکلیف سبب وي

**سوال:** په محرم، صفر او شعبان کې د شهادت حسین رضی الله عنه او ددې نه پرته لوی دغم واقعات شوي دي، په دې کې واده کول مناسب نه دي ،ځکه چې واده دخوشالي سبب دی او ددې

---

۱] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لاعدوی....ولاصفر (مشکوة ص:۳۹۲،۳۹۱، کتاب الطب والرقی، باب الفال والطیرة) ولاصفر کانت العرب....قیل کانوا یتشامون بدخول صفر فقال صلی الله علیه وسلم: ولاصفر. (حاشیه نمبر۳،مشکوة ص:۳۹۲،باب الفال والطیرة،اغلاط العوام ص:۴۹ طبع زمزم)۔

۲]قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ولاعدوی....ولاصفر (مشکوة ج:۲ ص:۳۹۱،۳۹۲کتاب الطب والرقی، باب الفال والطیرة) ولاصفر کانت العرب....قیل کانوا یتشامون بدخول صفر فقال صلی الله علیه وسلم: ولاصفر. (حاشیه نمبر ۳،مشکوة ص :۳۹۲،باب الفال والطیرة،ایضاً اغلاط العوام ص:۴۹،طبع زمزم)۔

واقعاتو غم د مسلمانانو په زړونو کې وي.

او مشاهداتو نه ثابته ده چې په دې مياشتو کې شوي ودونه څه نا څه سبب سره د غم او تکليف ذريعه جوړيږي په دې کې د عقيدې څه سوال دی؟

**جواب:** په دې مياشتو کې واده نه کول په دې عقيده باندې مبني دی چې دا مياشتې سپيرې دي. اسلام د دې نظريې قائل نه دی[1]، په محرم کې حضرت امام حسين رضي الله عنه شهيد شوی دی، خو له دې دانه لازميږي چې په دې مياشت کې نکاح منع شوه، که نه په هره مياشت کې ديونه يو شخصيت وفات شوی دی چې د حضرت حسين رضي الله عنه نه هم زيات عزتمند و، له دې نه دا لازميږي چې د کال د دولس مياشتو نه په يو کې هم نکاح ونکړل شي او بيا د شهادت مياشت د ماتم او د نحوست مياشت ګڼل هم غلط دي.

## د وړوکي اختر او لوی اختر په مينځ کې واده کول

**سوال:** ماله ډېرو خلکو نه اوريدلي دي چې د اخترونو مينځ کې واده کول نه دي پکار، بلکې د لوی اخترنه وروسته واده کول پکار دي، که چېرې واده وشي، نو د واده زلمی او ناوې به د خوشالي ژوند نه تيروي، تاسو راته ووايئ دا صحيح ده که غلطه؟

**جواب:** بالکل غلطه عقيده ده.[2]

## ايا د سې شنبې او چارشنبې په ورځ رانجه لګول جائز دي

**سوال:** ما اوريدلي دي چې په هفته کې يوازې پنځه ورځې رانجه لګول جائز دي او دوه ورځې اچول جائز نه دي مثلا د نهي (سې شنبې) او بدهـ (چارشنبې) په ورځ. ايا دا صحيح ده؟

**جواب:** د هفتې په ټولو ورځو کې د رانجو لګولو اجازه ده کوم خيال چې تاسو ليکلی دی هغه صحيح نه دی.

## د نوروز د اختر له اسلام سره هيڅ تعلق نشته

**سوال:** په يو ويشتم مارچ چې کوم نوروز لمانځل کيږي ايا په اسلامي نقطه نظر سره د دې څه حقيقت شته ؟ د کراچۍ نه شائع کيدونکې روزنامه (ډان ګجراتي) کې د نوروز لوی

---

۱] اغلاط العوام ص:۱۸٤، مهينون کی اغلاط۔

۲] مسئله: په عوامو کښې مشهوره ده چې د دواړو اخترونو مينځ کښې دې نکاح نه شي کولې ځکه چې بيا د ښځې خاوند کور نه جوړيږی نودا د شريعت خلاف خبره ده (اغلاط العوام ص:۱٦٤، نکاح کی اغلاط) په حاشيه نمبر۲ کښې دی : د حضرت عائشه رضی الله عنها نکاح او رخصتی دواړه د دواړو اخترونو مينځ کښې د شوال په مياشت کښې اوشوه او ځومره عمده او بهترينه نکاح او د کور جوړوالې د حضرت عائشه رضی الله عنها اوشو. چه د دنيا هيڅ يو ښځې ته دا نعمت دومره نهٔ دې نصيب شوې ايضاً۔

اهمیت بیان شوی دی. د قران کریم په حواله سره دې کې ښودل شوي دي چې د ازل نه تراوسه پورې چې څومره اهم واقعات شوي دي هغه ټول په همدې ورځ شوي دي. په دې ورځ لمرته رڼا ورکړل شوه، په همدې ورځ هوا وچلیده، په همدې ورځ د نوح علیه السلام کشتۍ په جودي غره باندې ودریده، په همدې ورځ حضرت ابراهیم علیه السلام بتان مات کړل او داسې نور...، د حدیث په رڼا کې د نوروز اعمال هم وښودل شو.

چې په دې ورځ روژه نیول پکار دي، لمبل پکاردي، نوې جامې اغوستل پکار دي، خوشبويي لګول پکار دي او دماسپښین لمانځه نه وروسته څلور رکعته لمونځ د نوروز دوه رکعته نیت سره اداکول پکاردي په اول دوو رکعتونوکې اول رکعت کې دس سورت الحمدنه وروسته لس ځله سورة القدر په دویم کې، د الحمد نه وروسته لس ځله سورت اخلاص لوستل پکار دي، په نورو دوو رکعتونوکې په اول رکعت کې د الحمدنه وروسته لس ځله سورة الکافرون او په دویم رکعت کې دالحمد نه وروسته لس ځله سورت الناس اولس ځله سورت الفلق لوستل پکاردي، سوال دادی چې اخر د دوو رکعتونو په اول رکعت کې یوسورت لس ځله اوپه دویم رکعت کې دوه سورتونه لس لس ځل ویل اوهغه هم په الټه ترتیب سره یعنې سورت الناس مخکې او سورت الفلق وروسته،ایا دا صحیح ده؟ داخبرې د قران او سنت په حواله سره بیان شوي دي، لهذا تاسوته تکلیف درکوم مهرباني وکړئ د جنګ اخبارپه اینده اشاعت کې ددې مسئلې وضاحت وکړئ، ستاسو شکرګزار اواحسان مند به یو،شکریه.

**جواب:** زموږ په شریعت کې د نوروز هیڅ اهیمت نشته" د ان ګجراتي"چې څه لیکلي دي هغه صحیح نه دي، دنوروز تعظیم د مجوسیانو او شیعه ګانو شعاردی.[1]

## د شپې جارو وهل

**سوال:** اوریدلي مودي چې دشپې جارو وهل ګناه ده، ایا کاروباري لحاظ سره د شریعت مطابق د شپې جارو وهل او جارو سره فرش وینځل جائز دي؟

**جواب:** د شپې د جارو وهلو ګناه ماچېرته هم نه ده لیدلې.[2]

---

۱] وفی الخلاصة :من اهدی بیضة الی المجوس یوم النیروز کفر ای :لانه اعانه علی کفره واغوائه اوتشبه بهم فی اهدائه.....وفی مجمع النوازل اجتمع المجوس یوم النیروز فقال مسلم سیرة حسنة وضعوها کفر،ای:لانه استحسن وضع الکفر مع تضمن استقباحه سیرة الاسلام.وفی الفتاوی الصغری:ومن اشتری یوم النیروز شیئا ولم یکن یشتریه قبل ذلک،اراد به تعظیم النوروز کفر،ای:لانه عظم عید الکفرة...الخ.(شرح فقه الاکبر ص:۲۲۹،فتاوی عالمگیری ج:۲ ص:۲۷۶،۲۷۷)۔

۲] اغلاط العوام ص:۲۲۵، متفرق اغلاط)۔

## د مازدیګر نه وروسته جارو وهل او د پیزار له پاسه پیزار کیښودل څنګه دي

**سوال:** زمونږ مشران وایي:

(۱) د مازدیګر اذان نه وروسته جارو وهل نه دي پکار، یعنې ددې نه وروسته هیڅ وخت هم جارو وهل نه دي پکار، داسې کولو سره مصیبتونه نازلیږي.

(۲) د پیزار له پاسه پیزار کیښودل نه دي پکار.

(۳) جارو درول نه دي پکار.

(۴) په کټ باندې څادر په اوږدو خورول نه دي پکار.

**جواب:** داټولې خبرې شرعاً هیڅ حیثیت نه لري، ددې حیثیت د وهم پرستۍ دی.[۱]

## د وهم پرستۍ څو مثالونه

**سوال:** ماکثر د خپلو مشرانو نه اوریدلي دي چې د شپې په وخت چونتې مه کوئ جارو مه وهئ، نوکونه مه پریکوئ، د نهي (سې شنبې) په ورځ وینښته او نوکونه مه برابروئ دې ټولو خبرو سره نیستي (فقیري) راځي، خوراك نه وروسته جارو مه وهئ، رزق الوزي، زما په پوهه کې دا خبرې نه راځي.

**جواب:** دا یوازې توهمات دي شریعت کې ددې هیڅ اصل نشته.

## التهه (چپه) پیزار سمول

**سوال:** مونږ د ځینو خلکونه اوریدلي دي چې په لاره کې چپرته التهه (چپه) پیزا ر پروت وي هغه برابرول پکار دي، ځکه چې "نعوذبالله" له دې نه پورته لعنت ځي، نو آیا دا خبره صحیح ده؟ ددې شرعي حیثیت څه دی، آیا التهه پیزار سمول پکار دي؟

**جواب:** التهه (چپه) شی سمول خو ښه خبره ده، خو وړاندې چې تاسو کوم څه لیکلي دي ددې هیڅ اصل نشته یوازې بې بنیاده خبره ده.

## استخاره کول حق دي خو فال ایستل ناجائز دي

**سوال:** آیا د څه کارکولو نه مخکې استخاره کول او فال ویستل شرعي نقطه نظر سره صحیح دي؟

**جواب:** د سنت طریقې مطابق استخاره، خو مسنون ده په حدیث کې ددې ترغیب راغلی دی.[۲]

---

۱] اغلاط العوام ص:۴۸ شگون اور فال کی اغلاط)۔

۲] عن جابر قال: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یعلمنا الاستخارة فی الامور کلها کما یعلمنا السورة من القرآن، یقول: اذاهم احدکم بالامر فلیرکع رکعتین... الخ. (مشکوة ص: ۱۱۶ باب التطوع، الفصل الاول)۔

او فال ویستل جائز نه دي.[۱]

## د قرآن مجید نه فال ویستل ناجائز او حرام دي او دا فال د الله حکم گڼل غلط دي

**سوال:** موږ ځلور خویندې یو پلار مو ځلور کاله مخکې وفات شوی دی مور مو ژوندۍ ده، زه د ټولو نه کشره یم، زمانه مشرانې درې واړه خویندې ناواده شوې دي اهمه خبره داده چې موږ دسني (مسلمانانو) کورنۍ سره تعلق لرو، زموږ ځینې لرې خپلوان دي چې قادیانیان دي، موږ هغوی سره څه خاص تګ راتګ نشته زما د پلار د وفات نه وروسته هغو خلکو زما مشره خور د خپل زوي له پاره وغوښتله زما مورته زمانیا مشوره ورکړه چې په قران پاك کې دالله نه پوښتنه وکړئ، تاسوته یوه خبره کوم چې زما پلار کې ځینې داسې عادتونه و چې دهغه له وجې نه نه یوازې زما مور بلکې موږ ځلور واړه هم ډیرپریشانه و، مور مې دقرآن مجیدنه دپلار په باره کې پوښتنه وکړه، نو په هغه کې واضح طوربانډې جواب و چې" بس دا یو سړی دی چې ده باندې لیونتوب دی وروسته یوخاص وخت (یعنې دده دمرګ تر وخته) پورې دده دحالت انتظار وکړئ". (سورة المؤمنون آیت۲۵).

نوزما پلار ترمرګه پورې صحیح نه شو، په قران کریم کې واضح جواب ملاوشوی و ځکه زموږ دټولو پوخ یقین و چې موږ ته به یوازې قران پاك صحیح مشوره راکوي، له دې وجې چې کله دا رشته راغله، نو مور په ډیره پریشاني کې دا پوښتنه وکړه چې" موږ مسلمانان یو او هلك د غیرمسلمه مور پلار زوی دی له دې وجې لږ شان شک کې یو چې ایاموږ هغوی ته هو وکړو؟ نوپه قران پاك کې دا جواب راغلی و" اولویه رضامندي او د (جنت) د داسې باغونه چې ددوی له پاره به هغه (باغونو) کې همیشه نعمتونه وي (او) په هغه کې به دوی همیشه همیشه اوسیږي، بیشکه الله پاك سره لوی اجر دی".(سورة التوبه آیت۲۱).

ټولو ته دې جواب لوستلو سره څه تسلي وشوه، خوځینې خپلوانو او پخپله زما خور ددې له وجې انکاري وو چې هغه مسلمان نه دی، له دې وجې مور زیاته پریشانه شوې ده اوناروغه شوې ده، مور یوځل بیادقران مجید نه پوښتنه وکړه، نوتاسو به یقین نه کوئ چې هغه کې واضح طوربانډې دا الفاظ و چې" ستاسو مدد بې هغه وخت کړی دی".(سورة التوبه آیت۴۰).

قرآن شریف ځینې وړوکي او ځینې لوی وي او زموږ قران شریف وړوکی دی، له دې وجې چې کله صفحه شروع کیږي، نوهمدا الفاظ کوم چې مابیان کړل په بیلوبیلو صفحوباندې

---

۱] لایاخذ الفال من المصحف.....ونص المالکیة علی تحریمه.(شرح فقه اکبر ص:۱۸۳،طبع مجتبائی دهلی،ایضا زاد المعاد ج:۲ ص:۳۶۶،ایضا:الفتاوی الحدیثیة لابن حجر المکی ص:۳۰۷،مطلب انه یکره اخذ الفال من المصحف)۔

لیکل شوي دي،دا تاسوته زه ځکه بیانوم چې کله تاسو ددې ایتونو ترجمه لولئ، نو کیدای شي چې ستاسو په قران مجید کې هغه مخکې وروسته وي، تاسوهم مسلمانان یئ او د قران شریف په یو یو حرف باندې ایمان لرئ ماته احساس دی چې تاسو د نورو عالمانو په شان غیرمسلمه بدګنئ، موږ ډیر پریشانه یو، اوس انکار هم نه شو کولی، ځکه چې موږ د قران نه پوښتنه وکړه، نو ګویا چې دالله نه مو پوښتنه وکړه اوکه چېرې مو انکار وکړ، نوپته نشته چې الله تعالی به موږ ته څه سزا راکوي؟ ایا موږ دقران مجیدنه دپوښتنې کولو باوجود انکار کولی شو، هرکله چې په قران مجیدکې هغه الفاظ راغلي دي کوم چې پورته بیان شوي دي؟

**جواب:** ستاسو په سوال څوخبرې توجه غواړي هغه بیلې بیلې لیکم:

**اول:** قادیانیان په اجماع امت سره مرتد او زندیقان دي دیوې مسلمانې انجیلۍ دیوکافر سره نکاح نه شي کیدلی[۱] له دې وجې خپله لورکافرته بالکل مه حواله کوئ که نه ټول عمربه د زنا اوبدکاري ګناه وي اوپه دې ګناه کې به تاسو دواړه مور او لورهم شریک یئ.

**دویم:**د قران مجیدنه فال کتل حرام اوګناه ده[۲] اودا فال دالله تعالی حکم ګڼل ناپوهي ده، څنګه چې دقران مجید صفحې مختلفې کېدای شي یوسړی به فال راوباسي، نو یو ایت به راوځي او چې بل یې راوباسي، نوبل ایت به راوځي چې په مضمون کې به د اول ایت نه مختلف وي بیا دا هم کېدای شي چې قران کریم نه فال راوباسي اویوسړی څه کار وکړي اودهغه انجام ښه ونه خیژي، نودقران کریم نه به بدعقیدګي پیداشي چې دهغه نتیجه ترکفرپورې وتلی شي.

په هرحال دامت علماوو دې ته ناجائز اوګناه ویلي دي څنګه چې دمفتي کفایت الله په مجموعه فتاوی"کفایت المفتي" کې دي:

**سوال:** دیوې انجیلۍ نه څه زیورات (کالي) چا وویستل دخلکو خیال یوسړي طرف ته لاړ او فال دقران مجید نه وویستل شو اودهماغه سړي نوم راووت په چا چې ګمان کېده، هغه ته چې کله معلومه شوه، نوجمات ته لاړ او دقران شریف څوپاڼې یې وشلولې اوپه هغه یې متیازې وکړې (نعوذبالله) اوویې ویل چې قران مجید هم دوروغ او مولوي هم دروغژن، ایا داسړی په اسلام کې داخلېدای شي اوکه نه؟ او که داخلېدای شي، نو څنګه؟

---

۱]ولایجوز للمرتد ان یتزوج مرتدة،ولامسلمة،ولاکافرة اصلیة،وکذلک لایجوز نکاح المرتدة مع احد،کذا فی المبسوط،ولایجوز تزوج المسلمة من مشرک،ولاکتابی،کذا فی السراج الوهاج.(عالمگیری ج:۱ ص:۲۸۲)۔

۲]ومن جملة علم الحروف فال المصحف یفتتحونه وینظرون فی اول الصفحة ای حرف وافقه وکذا فی سابع الورقة السابعة....حکموا بانه غیر مستحسن وقد صرح ابن العجمی فی منسکه وقال:لایاخذ الفال من المصحف....ونص المالکیة علی تحریمه.(شرح فقه اکبر ص:۱۸۲،۱۸۳)۔

**جواب:** په شریعت کې فال ویستل منع دي اووددې دمنع کېدو دوه وجې دي اول خودا چې علم غیب دالله پاك نه پرته هیڅا سره نشته. ممکنه ده چې نوم غلط راوځي اوبیاچې دچانوم راوځي خدای مکړه چېرته هغه داسې حرکت ونکړي څنګه چې دې سړي وکړ د شریعت داحکامونه دخلاف ورزي همدا نتیجه ده، کومه چې تاسو ولیده. کوم سړی چې دقران مجید اوعالمانو سره داسې ګستاخي کوي هغه کافردی. خو نه داسې کافرچې چېرته هم اسلام کې داخلېدای نه شي. بلکه نوي توبې سره هغه اسلام کې داخلېدای شي، بیا له پاره فال ویستلو نه دې منع شي. چې فال ویستلو سره نوم ویستونکي ددې سړي په شان پخپله هم او چې دچانوم راوتی و هغه هم ګنهګار نه کړي، په دې سړي باندې توبه کولو نه وروسته دهغه دخپلې ښځې سره تجدیدنکاح لازم ده".(کفایة المفتی ص۱۲۹،ص۹).

دیو بل سوال په جواب کې لیکي:

**جواب:** د قران مجید نه فال ویستل جائزنه دي. فال ویستل اوپه دې باندې عقیده ساتل دبل کوم کتاب (مثلاً دیوان خافظ یاګلستان وغیره نه هم جائز نه دي، خو دقران مجید نه ویستل، خوسخته ګناه ده چې دې سره څینې وخت دقران سپکاوی اوبدعقیدګي هم پیدا کیږي.(کفایة المفتی ص۲۲۱،ج۹). یوبل ځای مفتي صاحب لیکي:

"د غله نوم راویستلو له پاره د قران مجید نه فال اخیستل جائز نه دي او داګڼل چې دا دقران مجیدمنل یانه منل دي، غلط دي، له دې وجې دحافظ صاحب داویل چې تاسوقران مجیدمنئ، نو د زیدلس روپې ورکړئ څکه چې قران مجید ته غل ښودلی یې دا هم صحیح نه دي."(ایضاً ص ۲۲۳). ستاسو او ستاسو د مور داناجائزفعل حجت ګڼل غلط او ګناه ده دې نه توبه کول پکار دي.

**دریم:** ستاسو مور ستاسود پلار په باره کې چې دسورت المومنون ایت نمبر **۲۵** نه چې کوم دا فال راویستلی و"بس دا یوسړی دی چې لیونی شوی دی، دیو خاص وخت پورې (یعنې دمرګ تروخته پورې) دده دحالت انتظار وکړئ".[۱]

قرآن مجید پرانزئ اومخکې وروسته نه به تاسوته معلومه شي چې دا الله پاك دنوح علیه السلام د قوم قول نقل کړی دی چې هغوی به دنوح علیه السلام په باره کې ویلو اوس که چېرې دا قول صحیح دی، نوستاسو دپلار مثال دنوح علیه السلام شو او ستاسو دمورمثال دقوم نوح د کافرانو شو.

ایا تاسو اوستاسو موربه دامثال خپل ځان له پاره خوښ کړي، دخدای فرمان (دکوم سړي په باره کې چې دافقره ویل شوې ده هغه دالله تعالی مقبول بنده دی، زه خو دقران مجید په یویو لفظ باندې ایمان لرم ایا تاسوهم دخدای پاك په دې فرمان باندې ایمان لرئ؟

---

۱] ان هو الا رجل به جنة فتربصوا به حتی حین. (المؤمنون: ۲۵)_

**خلورم:** اوس ستاسو موږ د کافرهلك په باره کې چې د سورت توبه کوم فال ویستلی دی هغه ته وګورئ ددې نه مخکې ایت کې دایمان لرونکو ذکردی چاچې دنبي کریم ﷺ سره هجرت وکړ اوپه خپلو ځانونواومالونوسره یې دالله په لارکې جهاد وکړ،څنګه چې ارشاددی"کوموخلکوچې ایمان راوړه او(دالله له پاره) هغوی وطن پرېښوده اودالله په لاره کې یې خپل مال اوځان سره جهاد وکړ". دهمدوی په باره کې یې فرمایلي دي:

"د دوی رب دوی ته زیری ورکوي دخپل طرف نه د لوی رحمت او دلویې رضامندي او (دجنت) دداسې باغونو چې هغوی له پاره به هغو (باغونو) کې همیشه نعمتونه وي اوهغو کې به دوی همیشه همیشه اوسیږي، بیشکه الله تعالی سره لوی اجردی".[1]

ایا ددنیا کوم عقلمند به دا ایتونه کوم چې دنبي کریم ﷺ دزمانې دکامل ایمان لرونکو او د مهاجرینو اومجاهدینو په باره کې نازل شوي، فال ویستلوسره په فاسقانو، بدکارانو اوکافرانو، مرتدینو باندې ونښلوي اودابه دالله فرمان ګڼلوسره دخلکومخکې وړاندې کړي؟ دې پسې ایت کې ارشاد دی:

"اې ایمان لرونکو! خپل پلاران اوخپل ورونه (خپل) دوستان مه جوړوئ، که چېرې هغه خلک کفر دایمان په مقابله کې (داسې) محبوب وګڼي (چې دهغوی د ایمان راوړلو امیدپاتې نه شي) اوکوم سړی چې ستاسونه دوی سره ملګرتیا ساتي، نوداسې خلک ډیر نافرمانه دي".(سورة التوبه:۲۳).[2]

په دې ایت کریمه کې ایمان لرونکو ته حکم شوی دی چې کوم کافرکفرته په ایمان باندې ترجیح ورکوي که هغه ستاسوهرڅنګه خپلوان وي، که پلار، زوی، وروړ ولې نه وي، هغه خپل دوست او ملګری مه جوړوئ اوهغه سره محبت، دوستي اوخپلوي مه ساتئ اوتنبیه ورکړل شوې ده چې کوم سړی داسې کوي دهغه نوم به په ظالمانو او نافرمانوکې لیکل کیږي، اوس ووایئ چې کومو قادیانانو مرتدینو ایمان باندې کفرته ترجیح ورکړې ده او چاچې دقادیان غلام احمد نه (نعوذبالله) "محمدرسول الله" جوړکړی دی، داسې کافرانوته خپله لور او خور ورکولوسره به تاسو دچاپه ډله کې شمار شئ؟ الله تعالی، خو دداسې خلکونوم ظالم ایښی دی، تاسو به دځان له پاره کوم نوم خوښوئ.

---

[1] اَلَّذِينَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِي سَبِيلِ اللهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللهِ وَاُولٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُوْنَ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُّقِيمٌ خٰلِدِينَ فِيهَا اَبَدًا اِنَّ اللهَ عِنْدَهٗ اَجْرٌ عَظِيمٌ (التوبة: ۲۰تا۲۲)۔

[2] يٰاَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا اٰبَاءَكُمْ وَاِخْوَانَكُمْ اَوْلِيَاءَ اِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْاِيْمَانِ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاُولٰئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ (التوبة:۲۳)۔

**پنځم:** ستاسو مور دریم فال دقادیانانو کافر ګرځولو باندې وویست او په هغه کې دا الفاظ را ووتل " ستاسو مد دیې هغه وخت کړی دی".

لږ شان دا پوره ایت ولولئ او ویې ګورئ چې دا دچاپه باره کې دی؟ دا ایت دنبي کریم ﷺ په باره کې دی، دمکې کافرانو نبي علیه السلام دمکې نه ویستلی و ددې حواله ورکولو سره ایمان لرونکو ته الله تعالی فرمایي:

"که چیرې تاسو درسول الله ﷺ مدد نه کوئ، نو الله تعالی دنبي علیه السلام مدد هغه وخت کړی دی چې کله کافرانو نبي علیه السلام دوطن نه ویستلی و، هرکله چې په دووکسانو کې یو نبي علیه السلام و، څه وخت چې دواړه په غارکې وو، چې کله نبي علیه السلام خپل ملګري ته فرمایل چې :ته هیڅ غم مه کوه یقینا الله تعالی موږ سره دی".[1]

دمکې نه ویستلو والا دمکې کافران وو او څوك یې چې ویستلی و هغه نبي علیه السلام او دهغه د غار ملګری حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه و، ستاسو مور دفال په ذریعه قادیانانو باندې دا ایت انښلولو او قادیانان "نعوذبالله" درسول الله ﷺ برابر ګرځوي او ټول مسلمانان، چا چې قادیانان غیرمسلمه ګرځولي دي، دمکې کافران جوړوي، دا ستاسو د موردفال نخرې دي اومزه یې داده چې تاسو دقران کریم دمعنا اومفهوم نه دنه خبریدوله وجې سره دا نخرې دخدای پاك فرمان ښیئ، دخدای له پاره ددې خبرونه توبه وباسئ او خپل ایمان مه بربادوئ اودغه قادیاني مرتدته بالکل خپله لورمه ورکوئ ، ځکه چې ما پورته دخدای فرمان نقل کړی دی چې داسې کافرانو سره دوستي اوخپلوي کولو والا ته الله تعالی ظالم او نافرمانه ویلي دي، که چیرې تاسوددې فرمان الهی پرواه ونه کړه اوانجیلۍ مو قادیاني مرتدته ورکړه، نوددې ظلم سزا به تاسوته په دنیااواخرت کې داسې درکړل شي چې ستاسو اینده نسلونه به هم هغه یادساتي.

## د لاس نښې (لکیرې) پیژندل او اسلام

**سوال:** د اسلام له مخې دلاس نښې پیژندل جائزدي اوکه نه؟ ددې زده کول او لاس کتلو سره راتلونکی حال ښودل جائزدي اوکه نه؟

**جواب:** په دې شیانوباندې اعتمادکول جائزنه دي.[2]

---

۱] أَلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا(التوبه:۴۰)_

۲] عن حفصة رضی الله عنهاقالت:قال رسول الله: من اتی عرافا فسأله عن شیٔ لم یقبل له صلوة اربعین لیلة.رواه مسلم.(مشکوة ص:۳۹۳،باب الکهانة،الفصل الاول).وفی فتاوی ابن حجر ان تعلیمه وتعلمه حرام شدید التحریم لما فیه من ایهام العوام ان فاعله یشارک الله تعالی فی غیبه.(رد المحتار ج:۱ ص:۴۴)_

## د لاس د نښې پېژندلو کتنه خوړل

**سوال:** په علم نجوم باندې ليکل شوي کتابونه (يا مسترې) وغيره لوستل او دخلکو لاس کتل او حالات ښودل (پيشګوياني کول) او په دې پيشه باندې ګټه کول يو مسلمان له پاره جائز ده؟

**جواب:** جائز نه ده.[1]

## د ستورو علم

**سوال:** ايا دستور و علم صحيح او جائز ګڼل کيږي او ايا په دې باندې يقين کولو سره په ايمان خوځه فرق نه پريوځي؟

**جواب:** دستور و علم يقيني نه دی او بيا دستوري پخپله موثر هم نه دي، له دې وجې دې باندې ديقين کولو نه منع راغلې ده.[2]

## په نجوم باندې عقيده ساتل کفر دی

**سوال:** مادخپل زوی د واده پيغام يو خپلوان ته ورکړ هغه څو ورځې وروسته جواب راکړ چې ماد علم الاعداد او ستوروحساب ويستلی دی، زه مجبوريم چې دبچيوستوري خپل مينځ کې نه ملاويږي ځکه زما دطرفه انکار وګڼي دا معلومول غواړو چې شريعت کې دهغوی دا فعل څومره پورې صحيح دی؟

---

۱] وقيل الكاهن الساحر والمنجم اذا ادعى العلم بالحوادث الآتية فهو مثل الكاهن. وفى معناه الرمال قال القوى نوى والحديث يشمل الكاهن والعراف والمنجم فلا يجوز اتباع المنجم والرمال وغيرهما كالضارب بالحصى وما يعطى هؤلاء حرام بالاجماع كما نقله البغوى والقاضى العياض وغيرهما.(شرح فقه اكبر ص:۱۸۲).قال القاضى رحمه الله:كانت الكهانة فى العرب ثلاثة اضرب احدها يكون للانسان ولى من الجن يخبره بما يسترقه من السمع من السماء وهذا القسم بطل من حيث بعث الله نبينا صلى الله عليه وسلم، الثانى: ان يخبره بما يطرا او يكون فى اقطار الارض وما خفى عنه مما قرب او بعد وهذا لايبعد........والنهى عن تصديقهم والسماع منهم عام، والثالث: المنجمون وهذه الضرب يخلق الله تعالى فيه لبعض الناس قوة مالكن الكذب فيه اغلب ومن هذا الفن العرافة وصاحبها عراف وهو الذى يستدل على الامور باسباب ومقدمات يدعى معرفتها بها وقد يعتضد هذا الفن فى ذلک بالزجر والطرق والنجوم واسباب معتادة وهذه الاضرب كلها تسمى كهانة وقد اكذبهم كلهم الشرع ونهى عن تصديقهم واتيانهم.(شرح نووى على مسلم ج:۲ ص:۲۳۳طبع قديمى)۔

۲] عن قتادة قال:خلق الله تعالى هذه النجوم لثلث،جعلها زينة للسماء ورجوما للشياطين وعلامات يهتدى بها،فمن تأول فيها بغير ذلک اخطاء واضاع نصيبه،وتكلف مالا يعلم.رواه البخارى تعليقا وفى رواية رزين،وتكلف مالا يعنيه ومالا علم له به،وما عجز عن علمه الانبياء والملائكة،وعن الربيع مثله وزادوالله ماجعل الله فى نجم حيوة احد ولا رزقه ولا موته وانما يفترون على الكذب ويتعللون بالنجوم.(مشكوة ص:۳۹۴،باب الكهانة،الفصل الثالث)۔

**جواب:** په نجوم باندې عقيده ساتل كفردى.[۱]

## په نجوميانو اعتماد كول صحيح نه دي

**سوال:** اكثرنجوميان وايي چې په كال كې يوه ورځ يومقرروخت داسې راځي چې هغه مقرر وخت كې څه دعاهم وغوښتل شي، نوهغه قبليږي اوموږ داليدلي دي چې په دې مقرروخت كې دان پړ (بې علمه) خلكواكثريت په دعاغوښتلوكې مشغول وي. مهرباني وكړئ دا وښيئ چې ايا دعاګانې يوازې په يو مقرر وخت كې او هغه هم په كال كې يوه ورځ قبليږي؟ ايا ددې مطلب دادى چې دكال په پاتې ورځوكې دې دعاګانې ونه غوښتل شي؟

**جواب:** د اسلام په نقطه نظرسره څليريشت (۲۴) ګينټوكې يووخت (چې دهغه تعيين نه دى شوى) داسې راځي چې په هغو كې دعا قبليږي[۲]پاتې په نجوم باندې نه زماعقيده ده نه دا عقيده ساتل صحيح ګڼم.[۳]

## په برجونو او ستوروكې ذاتي اثر نشته

**سوال:** د خپل قسمت حال معلومول يا په اخبارونو وغيره كې چې كوم كيفيات ياحالات ليكل كيږي چې دفلانكي برج والاسره به داوي هغه وي لوستل يامعلومول صحيح دي اوپه دې خبره باندې يقين ساتل چې فلانكي تاريخ باندې د پيدا كيدونكي برج فلانكى دى، دا ګناه ده؟

**جواب:** دمسلمانانوپه نزدباندې نه، څوك دچادقسمت صحيح صحيح حال ښودلى شي نه په برجونو اوستوروكې څه ذاتي اثر شته، په دې خبروباندې يقين كول ګناه ده[۴] او داسې خلك هميشه پريشانه وي او وهم پرست جوړشي.

---

۱] وصناعة التنجيم اتى مضمونها الاحكام والتاثير وهو الاستدلال على الحوادث الارضية باحوال الفلكية........ مناعة محرمة بالكتاب والسنة بل هى محرمة على لسان جميع المرسلين.(شرح عقيدة الطحاوية ص:۵۶۸). وتصديق الكاهن بما يخبره عن الغيب كفر لقوله عليه السلام:من اتى كاهنًا فصدقه بما يقول فقد كفر بما انزل الله تعالى على محمد.....والمنجم اذا دعى العلم بالحوادث الآتية فهو مثل الكاهن.(شرح عقائد ص:۱۶۹، ۱۷۰)_

۲]عن ابى هريرة قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:ان الله عتقاء فى كل يوم وليلة عبيدا واماء يعتقهم من النار،وان لكل عبد مسلم دعوة مستجابة يدعوها فتستجاب.(حلية الاولياء ج:۸ ص:۲۵۷)_

۳] فانه اذا القى اليهم ان هذه الآثار تحدث عقيب منير الكواكب وقع نفوسهم انها المؤيرة.(شامى ج:۱ ص:۴۴)_

۴]والتنجيم.......انا زجر عنه من ثلاثة او جه،احدها انه مضر باكثر الخلق،وثانيها:ان احكام النجوم تخمين محض،وثالثها:انه لافائدة فيه.(فتاوى شامى ج:۱ ص:۴۴)_

## نجومي ته لاس ښودل

**سوال:** جناب مولاناصاحب : زموږ د لاس ښودلو ډېرشوق دی.هر کتونکي ته يې ښيو، دا روايئ چې دا خبرې منل پکار دي او که نه؟

**جواب:** د لاس ښودلو ډېرغلط شوق دی اويوبې مقصده کارهم دئ اوددې ګناه هم ډېره لويه ده[۱] کوم سړی چې دې شوق کې اخته شي، هغه به هميشه پريشانه وي اوددې خلکوپه بې بنياده خبرو کې به ګير وي.

## څوک چې د نجومي نه د مستقبل د حال پوښتنه وکړي نو د هغه څلويښت ورځې لمونځ نه قبليږي

**سوال:** زما يودوست ماته وويل چې دستورو علم لوستلو سره څنګه چې په اخبارونو او رسالو کې ورکړل شوي وي چې ,,داهفته به ستاسوڅنګه تيريږي،، لوستلو سره الله تعالى دهغه سړي څلويښتو ورځوپورې دعانه قبلوي چې کله داخبره ما يوخپل عزيز دوست ته وکړه. نوهغه وويل چې دا ټولې فضول خبرې دي چې الله تعالى ۴۰ ورځو پورې دعانه قبلوي، هسې دستورو په علم باندې خو زه يقين نه ساتم ځکه چې په داسې خبروباندې يقين کولو سره ايمان باندې وېنه لګيږي، نوپه دې سلسله کې وښيئ چې د چانظريه صحيح ده؟

**جواب:** ددې سوال جواب رسول الله ﷺ ورکړی دی،څنګه چې دصحيح مسلم او مسند احمدپه حديث کې دي چې کوم سړی "عراف" ته ورغی او دهغه نه يې دڅه خبرې پوښتنه وکړه، نودهغه به څلويښت ورځې لمونځ نه قبليږي."(صحيح مسلم ص۲۳۳ج۲).[۲]

## د ستورو په ذريعه فال ويستل

**سوال:** ديوهلك دکوژدې فيصله وشوه، دانجيلۍ کوروالو ټول معلومات هم وکړل چې هلك سهي اونيك دی، بيادانجيلۍ کور والاوو وويل چې موږ به درې ورځې وروسته جواب درکوو دهغې دکورنۍ يومشردی چې دجومات امام هم دی اودانجيلۍ کور والا هرکار دهغه په مشوره کوي دزيارت په ورځ دشپې امام صاحب څه وظيفه وکړه اودجمعې په ورځ يې دانجيلۍ کور والو ته وويل چې ددې هلك او انجيلۍ ستوري نه ملاويږي دلته دې واده ونه کړل شي تاسو موږ دقران اوحديث په رڼا کې دجواب نه خبر کړئ.

---

[۱] عن حفصة رضي الله عنهاقالت:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:من اتى عرافا فساله عن شئ لم يقبل له صلوة اربعين ليلة.رواه مسلم.(مشكوة ص:۳۹۳،باب الكهانة،الفصل الاول)۔

[۲] عن صفية عن بعض ازواج النبى صلى الله عليه وسلم قال:من اتى عرافا فساله عن شئ لم تقبل له صلوة اربعين ليلة)

**جواب:** اسلام دستورو دعلم قائل نه دی، نه په دې يقين ساتي، بلکې په حديث کې ددې ډيره بدي بيان شوې ده[۱] هغه مشر که چېرې نيك متشرع وي، نوهغه ته به داستخارې په ذريعه معلومه شوي وي، چې هغه هم يقيني اوقطعي نه ده اوکه چېرې هغه يې دځه عمل په ذريعه معلوموي، نوداجائزنه دي.

## په علم الاعداد باندې يقين ساتل ګناه ده

**سوال:** تاسوپه جنګ اخبارکې ديوصاحب په لاس ښودلو سره قسمت معلومولو باندې چې کوم څه ليکلي دي، زه دهغه نه بالکل مطمئن يم، خو د ابجدو علم او په علم نجوم کې ډير فرق دی، دې علم کې داوي چې دمذکوره سړي نوم دابجدو حساب ديو شمارپه صورت کې مخې ته راوړل شي اوبياچې کله شمارمخې ته راشي، نوپه ابجدپوهيدونکی دغه سړی دهغه دفائدې او نقصان نه خبرول کړل شي،هسې بنيادي خبره خودا ده چې که چېرې دا علم يوازې دعلم زده کولو له پاره واخستل شي او په دې کې که چېرې غلطې خبرې ليکل شوي وي، نوپه هغه باندې يقين ونکړل شي، نوايا دابه هم ګناه وي؟

**جواب:** په علم نجوم او د ابجدو په علم کې دنتيجې په اعتبارسره هيڅ فرق نشته هلته د ستورو د ګردش اودهغو اوشاع (جمع کيدو او جداکيدو) سره په قسمت باندې دليل نيول کيږي او دلته په حساب دجملوسره اعداد راوباسي اوپه هغه اعدادو سره دليل نيول کيږي، نوپه علم نجوم کې ستوري په انساني قسمت باندې اثرانداز ګڼل کيږي اوپه علم الاعداد کې دنوم دشمار په تاثيراتو په نظريه باندې ايمان ساتل کيږي، اول خو دا شيان موثرحقيقي ګڼل کفردي[۲] ددې نه پرته فرضي اتفاقي امور قطعي اويقيني ګڼل هم غلط دي، لهذا په دې علم باندې يقين ساتل ګناه ده،که چېرې فرض کړل شي چې ددې اعتقادي خرابيي ويره نه وي، نه په دې سره يومسلمان ته ضرر رسيږي، نه دا قطعي او يقيني وګڼل شي، بياهم زيات نه زيات دا ويل کېدای شي چې ددې زده کول ګناه نه ده، خو ددې شرطونوباوجود ددې فعل په عبث کېدو هيڅ شك شبه نشته[۳] دې شيانو طرف ته توجه کولو سره انسان ددين او دنيا په ضروري شيانوتوجه نه شي ورکولی.

---

۱]عن ابن عباس قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:من اقتبس علما من النجوم اقتبس شعبة من السحر.(ابو داؤد ج:۲ ص:۱۸۹).ايضا ولااتباع قول من ادعى الالهام فيما يخبر به عن الهاماته بعد الانبياء ولا اتباع قول من ادعى علم الحروف المتهجيات لانه فى معنى الكاهن.(شرح فقه اكبر ص:۱۸۲،طبع دهلى)

۲]وصناعة التنجيم مضمونها الاحكام والتاثير،وهو الاستدلال على الحوادث الارضية بالاحوال الفلكية.... صناعة محرمة بالكتاب والسنة،بل هى محرمة على لسان جميع المرسلين.(شرح عقيدة الطحاوية ص:۵٦۸،طبع لاهور)

۳]والتنجيم....وانما زجر عنه من ثلاثة اوجه، احدها:انه مضر باكثر الخلق،وثانيها:ان احكام النجوم تخمين محض،وثالثها:انه لافائدة فيه.(فتاوى شاميه ج:۱ ص:٤٤)_

## د لاس په کرښو یقین ساتل صحیح نه دي

**سوال:** د قران او حدیث په رڼا کې د لاس کرښو باندې یقین ساتل پکار دي او که نه.

**جواب:** د قران او حدیث په رڼا کې د لاس کرښو باندې یقین ساتل صحیح نه دي.[۱]

## کونګ او سپیره توب

**سوال:** که چېرې د یو کور په چت باندې کونګ کیني یا یو سړی کونګ ویني په هغه باندې تباهي او مصیبتونه راتلل شروع کیږي، ځکه چې دا یو سپیره حیوان دی. د دې په مقابله کې د مغرب خلک دا په کورونو کې ساتي، مهرباني وکړئ دا وښیئ چې ایا دا خبره صحیح ده؟

**جواب:** د سپیره والي تصور په اسلام کې نشته[۲]، خو دا خبره ضروري ده چې کونګ خرابي غواړي چې کله یو قوم یا یو کس د خپلو بدو عملونو په سبب د دې مستحق وي چې په هغه باندې تباهي نازله شي، نو د کونګ اواز د هغه علامه کېدای شي. خلاصه دا چې د کونګ اوازونه د تباهي او مصیبت نه دي، بلکې د انسان بد عملونه د دې سبب دي.[۳]

## په واده کې دروازه باندې د تیلو اچولو رسم

**سوال:** هسې خو زمونږ په ټولنه کې معاشرتي ډېرې خرابي دي، خو د واده ښادي په معاملو کې زمونږ وهم پرست خلک د حدنه تیرشوي دي، د واده په ورځ چې کله د واده زلمی ناوې کورته راولي، نو د واده زلمی او ناوې ترهغه پورې د کور په دروازه د ننه نه شي راتللی ترڅو پورې چې د کور دروازې دواړو طرفونو ته تیل وانه چول شي، له دې نه وروسته ناوې ترهغه پورې هیڅ کار ته لاس نه وروړي چې ترڅو پورې یو خاص قسم خوراك پوخ نه کړي چې په هغه کې ډیر شیان شامل وي زما په خیال دا سراسر وهم پرستي او فضول رسمونه دي، ځکه چې شریعت محمدي ﷺ کې مونږ ته د داسې هیڅ رسم او رواج پته نه ملاویږي مهرباني وکړئ، د شریعت په رڼا کې وښیئ چې په اسلامي معاشره کې د داسې رسمونو څه حیثیت دی؟

**جواب:** تاسو چې د کومو رسمونو ذکر کړی دی هغه بلا شبهې توهم پرستي ده، غالبا دا او د دې قسم نور رسمونه د هندوانو د معاشرې نه اخیستل شوي دي.

---

[۱] قوله الرمل....وقد علمت انه حرام قطعا....وفی فتاوی ابن حجران تعلمه وتعلیمه حرام شدید التحریم....الخ. (فتاوی شامی ج:۱ ص:٤٤،طبع ایچ ایم سعید کراچی)۔

[۲] ان النبی صلی الله علیه وسلم کان لایتطیر من شئ.(مشکوة ص:۳۹۲،باب الفال والطیرة)۔

[۳] وَمَا اَصَابَکُمْ مِّنْ مُّصِیْبَةٍ فَبِمَا کَسَبَتْ اَیدِیکُمْ وَیَعْفُوْا عَنْ کَثِیرٍ(الشوری: ۳۰)۔

## د بد نظر نه د بچ کولو له پاره ماشوم ته تور تار تړل يا پرې درا نجو خال لګول

**سوال:** د بچي پيدائښ باندې ميندې خپلو بچو ته دبدنظرې نه دساتلو له پاره دهغوی په غاړه يا دلاس په مړوندکې د تور رنګ تارونه اچوي يادبچي په سينه يا سر باندې درانجو دتور رنګ نښه لګوي چې ماشوم ته بدنظر ونه لګيږي ايا داسې کول صحيح دي؟

**جواب:** که ذ اعتقاد خرابي نه وي، نو جائزدي، مقصد دا وي چې بدصورته شي چې نظر پرې ونه لګيږي.[۱]

## د لمر پريوتو نه وروسته فورا ډيوه بلول

**سوال:** دلمر پريوتلو نه وروسته فورا بلف يالالټين لګول ضروري دي او که نه؟ اګرچې لږ لږ رڼا هم وي، دځينو خلکو خيال دی چې له رڼا پرته دماښام لمونځ صحيح نه دی، په دې سلسله کې شرعي حکم څه دی؟

**جواب:** دا وهم پرستي ده ددې هيڅ شرعي حيثيت نشته.

## د نهې (سې شنبې) او جمعې په ورځ جامې وينځل

**سوال:** اکثر خلک وايي، چې دجمعې په ورځ جامې وينځل نه دي پکار، داسې کولو سره رزق (امدني) کې کمی راځي؟

**جواب:** بالکل غلطه توهم پرستي ده.

## لاس ښودلو سره قسمت معلومول ګناه ده او په دې باندې يقين کول کفر دی

**سوال:** لاس کتلو سره چې کوم خلک خبرې ښيي دا څومره پورې صحيح وي؟ او ايا په دې باندې يقين کول پکار دي؟

**جواب:** داسې خلکو ته ورتلل ګناه او ددوی په خبروباندې يقين کول کفردی، د صحيح مسلم په حديث کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل کوم سړی چې يو پنډت.نجومي ياقيافه شناس ته ورشي او دهغه نه دڅه خبرې پوښتنه وکړي، نوڅلويښتو ورځوپورې دهغه لمونځ نه

---

۱] وکل حديث فيه نهى عن الرقى والتمائم والتولة فمحمول على مافيه شرک او انهماک فى التسبب بحيث يغفل عن البارى جل شانه.(حجة الله البالغة ج:۲ ص:۱۹٤،طبع مصر)_

قبلیږي[۱]، دمسند احمد او ابوداود په حدیث کې دي چې نبي علیه السلام د دریو کسانو په باره کې وفرمایل، چې دمحمد ﷺ باندې دنازل شوي دین نه بري دی دوی کې یو هغه دې چې یو کاهن ته ورشي او دهغه دخبرې تصدیق وکړي.[۲]

## د سترګو رپیدل

**سوال:** ما اوریدلي دي چې ښی سترګه ورپیږي، نومصیبت راځي اوچپه چې ورپیږي، نو خوشالي حاصلیږي تاسو دقران او حدیث په رڼاکې ددې مسئلې جواب راکړئ؟

**جواب:** په قران او حدیث کې ددې هیڅ ثبوت نشته. یوازې بې بنیاده خبره ده.[۳]

## ایا د مازدیګر او د ماښام په مینځ کې مړي دوډۍ خوري

**سوال:** ایادمازدیګردلمونځ نه دماښام تر لمانځه پورې خوراك کول نه دي پکار، ځکه چې ما اوریدلي دي چې دې وخت کې مړي خوراك کوي.

**جواب:** د مازدیګر او دماښام په مینځ کې خوړل څښل جائز دي اودې وخت کې دمړیو خوراك کوم چې تاسو لیکلي دي هغه فضول خبره ده.

## د وهم پرستي مثالونه

**سوال:** عام طور زموږ په کورونوکې داوهم پرستي ده چې که چېرې په دیوال باندې کارغه راشي او کیني. نوځوك راتلونکي وي، پښو سره جارو لګیدل یالګول ښه خبره نه ده، دماښام په وخت کې کور جاروکولوسره د کورنیکي هم لاړه شي. پی(شپدې) تویېدل بده خبره ده، ځکه چې پی دزوی نه زیاتې محبوبې وي.

**مثال:** یوه ښځه ناسته وي خپل بچي ته پی ورکوي. نژدې په نغري باندې پی ګرمیږي که چېرې هغه جوش ووهي اوتوېې شي، نو زوی لړې وغورځوي او اول پی بچ کړي.

که چېرې څوك اتفاقا ګومنځ وکړي اوپه هغه کې چې کوم ویښته پاتې شي هغه دکور په یوکونج کې وغورځوي اوبیادیوې ښځې په هغه باندې نظر پریوځي. نوهغه به ووایي چې چاپه موږ باندې جادو کړی دی.

---

۱]عن صفية عن بعض ازواج النبی صلی الله علیه وسلم قال:من اتی عرافا فساله عن شئ لم تقبل له صلوة اربعین لیلة.(صحیح مسلم ج:۲ ص:۲۳۳،باب تحریم الکهانة واتیان الکهان)۔

۲] عن ابی هریرة قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:من اتی کاهنا فصدقه بما یقول او اتی امراته حائضااو اتی امراته فی دبرها فقد بری مما انزل علی محمد.رواه احمد وابوداؤد.(مشکوة ص:۳۹۳،باب الکهانة)

۳] اغلاط العوام ص:٤٤،طبع زمزم کراچی)۔

دغسې په زړګونو وهم پرستي زموږ په معاشره کې شته، ددې اهمه وجه داده چې زموږ پلارنیکه د ډیرې زړې زمانې نه دهندوانو او سکانو سره پاتې شوي دي، دهغوی رسومات زموږ په ماحول کې هم داخل شوي دي ،دقران او حدیث په رڼا کې ددې اصلاح وکړئ.

**جواب:** زموږ په دین کې د وهم پرستي او بدفالي هیڅ ګنجائش نشته. تاسو چې څومره مثالونه لیکلي دي دابالکل غلط دي، خو پې دخدای نعمت دی دا د ضائع کیدونه بچ کول اوددې په بیره سره منډه وهل بالکل صحیح دي، دښځې د سرو ویښتو حکم دادی چې دادی ونه غورځول شي چې چېرته دپردي سړي نظرپه دې باندې پرې نه وځي.

پاتې دا هم صحیح ده چې ځینې خلک دښځې د ویښتو په ذریعه جادوکوي[۱] خو دهرچاباره کې دابدګماني کول بالکل غلط دي.[۲]

## شیطان د لمانځه نه منع کولو له پاره د جای نماز یو کونج اړول غلط دي

**سوال:** شیطان مسلمانان دعبادت نه منع کولو له پاره د وسوسو په ذریعه دوکه ورکوي اوپه خپله عبادت کوي هغه عبادت نه منع کولو له پاره موږ د لمانځه نه وروسته دجای نماز کونج راغونډوو، ددغه راز دعبادت نه دمنع کولو دعمل په باره کې ستاسو څه خیال دی؟

**جواب:** په دې سوال کې تاسوته دوه غلط فهمي شوي دي، یوه دا چې شیطان نور خلک دعبادت نه منع کوي، خو پخپله عبادت کوي، دشیطان عبادت کول غلط دي عبادت، خودخدای پاك دحکم په ځای کولو نوم دی،سره له دې چې شیطان دالله پاك دحکم دتولونه لوی نافرمانه دی، له دې وجې داخیال چې شیطان عبادت کوي بالکل غلط دی.[۳]

دویمه غلط فهمي داچې مصلی چپه کول دشیطان عبادت نه منع کولو له پاره دي، دا قطعا غلطه ده، دمصلی راړولو رواج له دې وجې دی چې لمونځ نه فارغیدونه وروسته له ضرورت پرته جای نمازخورپاتې نه شي اوهغه خراب نه شي، عوام چې دا ګڼي چې که چېرې جای نماز چپه نکړل شي، نوشیطان لمونځ کوي دابالکل مهمله اوبې مقصده خبره ده.

## د نقصان په وخت داویل چې څوك سپیره به مې سهار لیدلی وي

**سوال:** چې کله یو سړي ته په څه کارکې نقصان وشي اویاپه یوکار کې ناکام شي، نوهغه دا جمله وایي چې: معلومه نه ده چې نن سهاروختي مې دکوم سپیره شکل لیدلی و، سره له دې

---

۱]یدفن اربعة:الظفر والشعر وخرقة الحیض والدم.کذافی الفتاوی العتابیة.(عالمگیری ج:۵ ص:۳۵۸)۔

۲] قال ابن عباس وعائشة رضی الله عنهما:کان غلام من الیهود یخدم رسول الله صلی الله علیه وسلم فدبت الیه الیهود فلم یزالوا حتی اخذ مشاطة راس النبی صلی الله علیه وسلم وعدة اسنان من مشطة فاعطاها الیهود فسحروه فیها...الخ.(تفسیر ابن کثیر ج:٦ ص:۵۸۸،طبع رشیدیه کوئته)۔

۳] اغلاط العوام ص:٦٤ طبع زمزم پبلشرز کراچی)۔

چې کله انسان سهاروختي په بستره باندې سترګې پرانزي د ټولونه اول هم دخپل کور دیو کس شکل ويني، نوايا د کوریوکس دومره سپيره کېداى شي چې یوازې دهغه په شکل ليدلو سره ټوله ورځ په سپيره والي کې تيره شي؟

**جواب:** په اسلام کې د سپيره والي هيڅ تصور نشته دا یوازې وهم پرستي ده.

## په الټه غاښ راوتو سره بد فالي وهم پرستي ده

**سوال:** دماشوم غاښونه که چېرې الټه راخيژي، نوخلک وايي چې د نيا کورنۍ یاماماګانو باندې بوج ګرځي، ددې اصل څه دی؟

**جواب:** ددې هيڅ اصل نشته، یوازې وهم پرستي ده.

## د سپوږمۍ یا لمر په توریدو سره سپوږمۍ یالمر ته څه تکليف نه رسيږي

**سوال:** مااوريدلي دي چې کله سپوږمۍ یالمر تورشي، نو دوی ته تکليف رسيږي، ايا دا خبره صحيح ده؟

**جواب:** صحيح نه ده، یوازې غلط خيال دی.[۱]

## د ښځې ډوډۍ پخولو سره سره خوراک جائز دی

**سوال:** زمامورواييي چې کله ښځه ډوډۍ پخوي، نو هغې ته حکم دی چې ټولې ډوډۍ پخې کړي لاسونو باندې لګيدلي وړه لرې کړي بيا دې ډوډۍ خوري.

ښځې له پاره جائز نه دي چې هغه ډوډۍ پخولوسره سره خوراك هم کوي، يعنې نيمې ډوډۍ يې پخې کړي او خوراك يې شروع کړ، نو داسې ښځه به جنت ته نه ځي تاسو وښيئ ايا دا خبره صحيح ده.

**جواب:** ستاسو د مور نصيحت صحيح دی، خو مسئله غلطه ده، ښځې له پاره د ډوډۍ پخولو په وخت هم ډوډۍ خوړل شرعا جائزدي.

## د جمعې په ورځ جامې وينځل

**سوال:** ما اوريدلي دي چې دجمعې او دنهې (سې شنبې) په ورځ جامې وينځل نه دي پکار اوډيرخلک دجمعې په ورځ دلمانځه نه وروسته جامې وينځي اوڅومره پورې داطريقه صحيح ده اودغه راز ډيرخلک چې په سفر کې وي اودهغوی دجمعې په ورځ رخصتي وي، نوهغوی جامې وينځي، ځکه چې دجمعې نه پرته هغوی ته وخت نه پيدا کيږي او دامې هم اوريدلي دي چې هغه خلک دجمعې او سې شنبې په ورځ د جامووينځلو اجازه ورکوي کوم

۱] اغلاط العوام ص: ۲۵۵)_

خلک چې لمونځ کوي، ايا قران پاک کې د دې ذکرشته يانشته؟

**جواب:** د جمعې اونهې په ورځ د جامو وينځلو خبره بالکل غلطه ده [۱]

## د مازديګر او ماښام په مينځ کې خوراک څښاک

**سوال:** اکثرخلک وايي چې دمازديګر او ماښام په مينځ کې څه خوړل څښل نه دي پکار. ځکه چې د زنکدن په وخت به انسان ته داسې محسوسيږي چې دمازديګر اوماښام مينځ کې وخت دی او شيطان به دشرابو پياله څښلو له پاره ورکوي، نوچې کوموخلک دمازديګر اوماښام مينځ کې دخوراک څښاک عادت وي هغوی به دشرابو پياله وڅښي اوچې دچاعادت نه وي هغوی به دشرابو څښلونه پرهيز وکړي (دا شان دمازديګر اوماښام مينځ کې خوراک څښاک نه کولوسره د روژې ثواب موندل کيږي) مهرباني وکړئ ددې سوال جواب دقران اوحديث په رڼاکې راکړئ او ديو مشکل نه نجات راکړئ.

**جواب:** دا دواړه خبرې غلطې دي، دمازديګر اوماښام په مينځ کې خوراک څښاک کې هيڅ کراهت نشته. [۲]

## پريکړي نوکونه د پښې لاندې راتلل دسترګو رپيدل، د تورې پيشومخې ته تيريدل

**سوال:** (۱): د مشرانو نه مې اوريدلي دي چې که چيرې پريکړل شوي نوکان د چاپښولاندې راشي، نوهغه سړی ددې سړي (چاچې نوکان پريکړي دي) دښمن جوړيږي؟

(۲): جناب ايادسترګو رپيدل دغم ياخوشالي سبب جوړيږي؟

(۳): که چيرې توره پيشومخې ته تيره شي، نوايا وړاندې تلوکې به خطره وي؟

**جواب:** دا درې واړه خبرې يوازې وهم پرستي ده، شريعت کې ددې هيڅ اصل نشته. [۳]

## په ځمکې باندې ګرمې اوبوا چولو سره هيڅ نه کيږي

**سوال:** په ځمکې باندې ګرمې اوبه وغيره تويول منع دي اوکه نه؟ ځينې خلک وايي چې دا ګناه ده ځمکې ته تکليف رسيږي.

**جواب:** يوازې غلط خيال دی. [۴]

---

۱] اغلاط العوام ص:۴۷ طبع زمزم پبلشرز کراچي)۔

۲] اغلاط العوام ص:۱۹۵)۔

۳] اغلاط العوام ص:۴۸)۔

۴] اغلاط العوام ص:۲۵۶ طبع زمزم پبلشرز کراچی)۔

## د مالګې په ځمکه غورځیدو سره هیڅ نه کیږي خو قصدا غورځول یې ښه نه دي

**سوال:** که له چانه مالګه په ځمکه باندې پریوځي (یعنې دپښو لاندې راشي) نو دقیامت په ورځ به یې دسترګو په بڼو ټولوي؟

**جواب:** مالګه هم دخدای پاك نعمت دی او په ځمکه غورځول یې نه دي پکار، خو کومه سزا چې تاسو لیکلې ده هغه قطعا غلطه ده.

## د کاڼي د انسان په ژوند باندې اثر کول

**سوال:** موږ چې کومه ګوتمه وغیره په لاس کوو او په هغه کې خپل نوم دستوري په حساب سره کاڼي کې لګوو، دمثال په طور عقیق، فیروزه اوداسې نور... ایا داد اسلام له مخې جائزدي اوایا دکوم کاڼي په لاس کول هم سنت دي؟

**جواب:** کاڼي دانسان په ژوندباندې اثرنه کیږي[1] دانسان اعمال اثرکونکي کیدای شي.[2]

## فیروزه کاڼی د حضرت عمر رضی الله عنه د قاتل فیروزپه نوم دی

**سوال:** لعل، یاقوت، زمرود، عقیق او دټولو نه زیات د فیروزه رنګ ګوتمه په لاس کې اچولو سره ایا حالاتوکې تبدیلي راتللی شي او ددې په لاس کول اوپه دې باندې یقین کول جائز دي؟

**جواب:** د کاڼوپه کامیابي اوناکامي کې دخل نشته[3].دحضرت عمر رضی الله عنه د قاتل نوم فیروز و[4]، دهغه دنوم عام کولو له پاره سبایانو (یوه باطله ډله ده) فیروزه دمتبرك کاڼي په شکل کې وړاندې کړو دکاڼو په باره کې دبدبختي اونیك بختي تصور دسبایي خیالاتو شاخسانه ده.

## د کاڼو د اثر عقیده ساتل څنګه دي

**سوال:** اکثرخلک دمختلف نومونو د کاڼو ګوتمې په لاس کړي او ورسره دا هم وايي چې

---

[1] واما روی فی التختم بالعقیق من انه ینفی الفقر وانه متبرک وان من تختم به لم یزل فی خیر،فکلها غیر ثابتة علی ما ذکر الحفاظ.(مرقاة المفاتیح شرح مشکوة ج:۸ ص:۲۷٤،طبع امدادیه)۔

[2] وَمَا اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيدِيكُمْ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيرٍ (الشوری: ۳۰)۔

[3] واما ماروی فی التختم بالعقیق من انه ینفی الفقر وانه متبرک وان من تختم به لم یزل فی خیر فکلها غیر ثابتة علی ما ذکر الحفاظ.(مرقاة ج:۸ ص:۲۷٤ طبع امدادیه)۔

[4] فاتفق له ان ضربه ابو لؤلؤة فیروز المجوسی الاصل الرومی الدار..الخ.(البدایة والنهایة ج:۷ ص:۱۳۷طبع ، دارالفکر)

فلانکی کاڼی زما په ژوند باندې نه او بد اثر کوي او دې سره سره خپلو حالاتو نه او بد کولو کې دې کاڼو باندې یقین ساتي، دا وښیئ چې شرعي لحاظ سره په دې کاڼو باندې یقین ساتل او په سرو زرو کې لګول څنګه دي؟

**جواب:** کاڼي دانسان په ژوند باندې نه اثرانداز کیږي دهغه نیک یا بدعمل دهغه د ژوند د جوړولو خرابولو ذمه دار دی، دکاڼو اثرانداز ګڼل دمشرکو قومونو عقیده ده، دمسلمانانو نه ده او د سرو زرو ګوتمه دسړي له پاره حرامه ده.[1]

## دکاڼو اصلیت

**سوال:** زما ترور د سپینو زرو ګوتمه کې د فیروزه کاڼي لګول غواړي، تاسو مهرباني وکړئ لږ د کاڼو د اصلیت په باره کې وضاحت وکړئ، ددې واقعي څه فائده شته یا دا تولې کیسې دي که چیرې وجودلري، نوفیروزه کاڼی په کوم وخت، کومه ورځ او په کوم شي کې لګول مبارک دي؟

**جواب:** دکاڼو سره انسان نه مبارك کیږي دانسان اعمال هغه مبارك یا ملعون جوړوي، کاڼي مبارك او نامبارك ګڼل دعقیدې خرابي ده، چې توبه ورنه کول پکار دي.

# ❖ متفرقې مسئلې ❖

..............................

## کافرته کافرویل حق دي

**سوال:** ځینې خلک دا وایي چې دنبي کریم دحدیث په رڼا کې یوکافرته هم کافر نه شي ویل کېدای"، ځکه قادیانانوته کافرویل صحیح نه دي، بل دا چې که چیرې څوك یوازې په ژبه باندې کلمه ووایي اودخپل مسلمیت اقرار وکړي.

حالانکې په حقیقت کې دهغه تعلق د قادیانیت یادبل کومې عقیدې سره وي، نوایا هغه سړي ته یوازې زباني کلمه ویلو سره مسلمان ویل کیږي ؟ مهرباني وکړئ دختم نبوت دمسئلې وضاحت په تفصیل سره وکړئ؟

**جواب:** داسې خو هیڅ یو حدیث نشته چې کافرته به کافر نه شي ویل کیدای، په قران کریم کې ډېر ځایه د"ان الذین کفروا""والکافرون" "لقد کفرالذین قالوا" الفاظ موجود دي، چې ددې نظریې د تردید له پاره کافي شافي دي او دا اصل هم غلط دی چې کوم سړی کلمه ووایي (که څه هم غلام احمد قادیاني "محمدرسول الله" مني) هغه هم مسلمان ګڼئ،دا شان دا

---

۱] یقول سمعت علی ابن ابی طالب یقول:اخذ رسول الله صلی الله علیه وسلم حریرا بشماله وذهبا بیمینه ثم رفع بهما یدیه فقال:ان هذین حرام علی ذکور متی،حل لاناثهم.(ابن ماجة ص:۲۵۷،شامی ج:۶ ص:۳۵۸)

اصل هم غلط دی چې کوم سړی خپل ځان ته مسلمان وايي اګرچې خدای او رسول ته کنځل کوي، هغه هم مسلمان ګڼئ.

صحیح اصول دادي چې کوم سړی د حضرت محمد رسول الله ﷺ پوره دین مني او د "ضروریات دین" دیوې خبرې نه هم انکارنه کوي، نه له ځانه جوړې شوې غلطې معناوې هغه ته وراغوندي، هغه مسلمان دی[1]، ځکه چې د ضروریات دین دیوې خبرې نه انکار یا د هغه معنااو مفهوم ورانول هم کفر دی[2]، د قادیانانو کفر او ارتداد او زندیقیت او د الحاد تفصیلات دعلماوو په ډیرو کتابونو کې لیکلي دي، څوك چې زیات اطمینان حاصلول غواړي هغه دې زما رساله "قادیانی جنازه" قادیانیوں کی طرف سے کلمه طیبه کی توهین" او " قادیانیوں او دوسرے غیرمسلموں میں کیافرق هیں" وګورئ. " دفترختم نبوت مسجدباب الرحمت پراني نمائش محمدعلی جناح روډ کراچئ" نه به دا رسالې ملاویږي.

## نا امیدي کفر ده

**سوال:** په اسلام کې ناامیدي کفرده، موږ داسې اوریدلي دي او ورسره داهم چې الله تعالی دهرې ناروغي علاج پیدا کړی دی، موږ ګورو چې ځینې ناروغۍ لاعلاجه دي، یوداسې مریض چې ډاکټران یې لاعلاجه وګرځوي، نوښکاره ده چې هغه به ناامیده شي، چې کله هغه ناامیده شي، نوپه اسلام کې به هغه کافرشي؟

**جواب:** د الله تعالی د رحمت نه ناامیدي کفرده[3]، د صحت نه ناامیدي کفر نه ده او الله تعالی یقینا چې هرناروغي له پاره علاج پیدا کړی دی، خو د مرګ څه علاج نشته[4] اوس ښکاره ده چې مرض الموت، خو به لا علاجه وي.

## متبرك قطعات

**سوال:** ځینې مسلمانانو ورونو د خپلو کورونو په کمروکې څلور واړو طرفونو ته د اسلامي

---

۱]الایمان:وهو تصدیق محمد صلی الله علیه وسلم فی جمیع ما جاء به عن الله تعالی مما علم مجیئه ضرورة.(رد المحتار ج:٤ ص:۲۲۱)_

۲]والضابط فی التکفیر،ان من ردما یعلم ضرورة من الدین فهو کافر.(اکفار الملحدین ص:۸۸)_

۳]والیاس من الله تعالی کفر،لانه لاییاس من روح الله الا القوم الکافرون.(شرح العقائد ص:۱٦۹،طبع خیر کثیر)

٤]عن ابی هریرة قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ما انزل الله داء الاانزل له شفاء،رواه البخاری.وعن جابر قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لکل داء دواء،فاذا اصیب دواء الداء برا باذن الله.رواه مسلم. (مشکوة ص:۳۸۷).عن ابی هریرة رضی الله عنه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول فی الحبة السوداء شفاء من کل داء الاالسام،قال ابن شهاب السام الموت،والحبة السوداء الشونیز.متفق علیه.(مشکوة ص:۳۸۷)_

کيلنډر (جنتري) قطعات لګولي وي، د دې لګول څنګه دي؟

**جواب:** متبرك قطعات كه چېرې دبركت له پاره ولګول شي، نوجائزدي، كه زينت له پاره وي، نو جائز نه دي، ځكه چې اسماء مقدسه او ايتونه يوازې د كور دزينت له پاره استعمالول د ادب نه خلاف دي.

## ايا ځمكې ته د جبرايل عليه السلام راتلل بند شوي دي

**سوال:** په بيان القران كې د سورت قدر په ترجمه كې ناچيزلوستلي دي چې په ليلة القدركې سيد الملائكه حضرت جبرايل عليه السلام سره د لښكر نه ځمكې ته راكوزيږي او ورسره دبيهقي په حاشيه كې د حضرت انس رضي الله عنه روايت هم ذكردی چې روح الامين راځي، حالانكې "دمرګ منظر" كې دحضورپاك صاحب لولاك صلى الله عليه وسلم په باره كې ليكي چې كله نبي عليه السلام ددنيا نه پرده وكړه اوحضرت عزرايل عليه السلام اجازه واخيسته اوحجرې مباركې ته داخل شو، نوجبرايل عليه السلام هم راغی اوهغه وويل چې يارسول الله صلى الله عليه وسلم د نورو خبرونه پرته چې اوس زما په ځمكه باندې دا راتلل اخري ځل راتلل دي او زه به ترقيامته پورې ځمكې ته نه راځم، نوعرض دادی چې دې مسئله كې دا تضاد څنګه دی؟

**جواب:** دې دواړو خبروكې تضادنشته، دحضرت جبرايل عليه السلام وحې راوړل دحضور صلى الله عليه وسلم دوفات نه وروسته بند شول، نورو ضروري كارونوله پاره دهغه عليه السلام راتلل بندنه دي.[1]

## ايا د نيا او مافيها ملعون دي

**سوال:** د كراچۍ نه خپرېدونكې يوې روزنامې كې يومضمون په عنوان "د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشادات" كې حديث ليكل شوی و چې دهغه الفاظ لاندې ليكل شوي دي:

"دنياملعونه ده اودنياكې چې څه موجود دي، هغه ټول شيان هم ملعون دي".

حديث سره دانه دي ښودل شوي چې دكوم حديث نه دا الفاظ نقل شوي دي زما په ناقصه رايه كې دنيا كې ډير شيان واجب الاحترام دي، مثلا قران پاك، خانه كعبه، بيت المقدس، مدينة النبي صلى الله عليه وسلم اوقابل احترام هستي هم شته، زماسوال دادی چې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم چې كوم الفاظ فرمايلي دي دهغه مفهوم څه دی، ايا دا الفاظ په رښتياهمدا شان دي؟

**جواب:** دا حديث په ترمذي اوابن ماجه كې دی، حديث پوره نه دی نقل شوی، ځكه تاسوته شك پيداشو، پوره حديث دادی "دنيا ملعونه ده او دې كې چې څه دي هغه هم معلون دي،

---

[1] تفصيل دپاره اوګورئ: بيان القرآن ج:٢ ص:١١١، سورة القد آيت نمبر٤)_

پرته دالله تعالى دذكرنه اوچې كوم شيان دالله دذكرسره تعلق لري ياعالم يا طالب علم"[۱] ددې نه معلومه شوه چې دا ټول شيان كوم چې د ذكرالهي ذريعه ده هغه دمذمومې دنيالاندې نه داخليږي.

## ايا "خداى تعالى فرمايي" ويل جائز دي

**سوال:** ديوپيرصاحب په مخكې ذكر وشو چې "خداى تعالى فرمايي" (فرماتے هيں) (په صيغې دجمعې سره) نوهغه غوسه شو ويې ويل چې داسې ويل پكار دي: "خداى تعالى فرمايي (په مفرد صيغې سره) ځكه چې الله تعالى وحده لاشريك ذات دى او فرمايي (په جمعې صيغې سره) موږ تعظيما ويلي و اوموږته معلومه ده چې خداى تعالى وحده لاشريك دى، دقران او سنت په رڼا كې جواب راكړئ.

**جواب:** دتعظيم له پاره "الله فرمايي" (الله فرماتے هيں) ويل جائزدي، په قران كريم كې هم الله تعالى دجمع صيغه استعمال كړې ده.[۲]

## دالله په ځاى د "خداى" لفظ استعمالول

**سوال:** صورت حال دادى چې زمايوتره په انډياكې اوسيږي، څه موده مخكې ماپه يوخط كې دلفظ "خدا" استعمال كړى و، (زماخيال دى چې خدا حافظ مې ليكلى و) په دې باندې هغه ماته وليكل چې د لفظ خدا استعمال غلط دى، الله پاك له پاره لفظ خدا نه شي استعماليداى، دهغه په جواب كې ماليكلي و چې زماپه خيال كې(خداى)ليكلو سره هيڅ فرق نه پريوځي، بس زموږ په ذهن كې دالله تصور مضبوطول پكار دي اوكه چېرې دخداى لفظ غلط وي، نوتاج كمپنى چې هغوى قران پاك په ټوله دنيا كې لوستل كيږي"ترجموكې به دخداى لفظ نه وي، تاسو ته عرض دى چې دقران اوحديث په رڼاكې دا وښيئ چې ايا دخداى دلفظ استعمال غلط دى؟

**جواب:** دالله تعالى له پاره دخداى دلفظ استعمال جائزدي اودپيړيونه اكابرين ددې استعمال كوي اوكله هم چاپه دې باندې انكار نه دى كړى، اوس ځينې خلك پيداشوي دي چې دهغوى په ذهن باندې د عجميت وهم سپوردى، هغوى ته په سمو ساده شيانوكې "عجمي سازش" په نظر راځي، دا ذهن غلام احمدپرويز اودهغه ملګرو پيداكړ اوډېرتعليم يافته شعوري اوغيرشعوري طورباندې دې كې ګيرشول، هم دهغې سلسلې دابحث دى كوم چې

---

۱] عن ابى هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:الا ان الدنيا ملعونة ملعون مافيها الاذكر الله وما والاه وعالم او متعلم....رواه ابن ماجة والترمذى.(مشكوة ص:٤٤١،كتاب الرقاق،ايضا ابن ماجة ص:٣٠٢،٣٠٣،كتاب الزهد)۔

۲] مثلاً : يٰاَيُّها النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ ......وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا.....الخ.(الحجرات: ۱۳)۔

تاسو کړی دی، په عربي کې د "رب" لفظ معنا مالك اوصاحب ده، ددې ترجمه په فارسي کې په لفظ خدا سره شوې ده، نوځنګه چې دلفظ رب اطلاق له اضافت پرته په غيرالله باندې نه شي کیدای، داشان دخدای لفظ چې مطلق وویل شي، نوددې اطلاق يوازې په الله پاك کیږي په بل چاباندې دخدای اطلاق جائزنه دی.

په غياث اللغات کې دي:

خدا بالضم بمعنی مالک، صاحب چون لفظ خدا مطلق باشد برغیر ذات باری تعالی اطلاق نکنند مگر در صورتیکه بچیزی مضاف شود.چون که خدا،وده خدا" [۱]

بیخې همدا مفهوم اوهمدا استعمال په عربي کې درب لفظ دی، تاسوته به معلومه وي چې "الله" خودحق تعالی شانه ذاتي نوم دی چې ددې ترجمه نه کېدای شي اونه کیږي، نوراسماء الهيه صفاتي نومونه دي چې ددې ترجمه په نورو ژبو کې کېدای شي اوکیږي، اوس که چېرې دالله پاك دپاکو نومونو نه ديوبابرکت نوم ترجمه په غيرعربي کې وکړل شي او اهل زبان دهغه استعمال شروع کړي، نودهغه دناجائزکېدو اودهغه د استعمال دمنع کیدو اخرڅه وجه کېدای شي؟

اوچې کله دخدای لفظ دصاحب اومالك په معنا سره دی اودرب لفظ دمفهوم ترجماني کوي، نوتاسو ووایئ چې په دې کې دمجوسيت یاعجميت څه دخل دی، ایاپه انګریزي کې درب لفظ ترجمه به نه کیږي؟ اوایاددې ترجمې استعمال به یهودیت یانصرانیت جوړشي،افسوس دی چې خلک دخپل ناقص معلوماتو په تکیه باندې پخپله رایه کې دومره وړاندې لاړشي چې هغوی ته د اسلام ټول تاريخ تور په نظر راشي اود څوارلسو پيړيوټول اکابرين ګمراه یاکم نه کم دوکه شوي ګڼي همداخپله رایه به دوی دجهنم کندې ته دیکه کړي الله تعالی دې موږ پخپله پناه کې وساتي.

## دالله تعالی نوم هم په تعظیم سره اخیستل پکاردي

**سوال:** هرمسلمان دحضرت محمد ﷺ نوم ډیرپه ادب اوتعظیم سره اخلي، يعنې دنوم سره ﷺ زیاتوي، لیکي ددې په نسبت دالله تعالی نوم دومره ادب اوتعظيم سره نه اخلي، يوازې خدای اوالله ولې وايي؟

**جواب:** دالله تعالی نوم هم په عظمت سره اخیستل پکاردي، مثلا خدای تعالی،الله جل شانه.[۲]

---

۱] غیاث اللغات ص:۱۸۵)۔

۲] ویستحب ان يقول:قال الله تعالی،ولايقول:قال الله،بلا تعظيم.(فتاوی عالمگیری ج:۵ ص:۳۱۵،کتاب الکراهية،الباب الرابع)۔

**سوال:** زموږ يو دوست جمال، چې دخداوندکريم ذکرکوي، نو الله مياں وايي، زموږ يو بل دوست وايي چې ماپه يو کتاب کې لوستلي دي (چې دهغه نوم ورته يادنه دی) چې الله مياں ويل نه دي پکار، الله تعالى يانوردالله تعالى چې کوم نومونه دي هغه اخيستل پکاردي، ځکه چې دمياں معنا څه بله ده،تاسودا وښيئ چې کومه صحيح ده چې الله مياں وايو يانه وايو لږ وضاحت وکړئ، ځکه چې موږ په پرائمري سکولونو کې الله مياں لوستلي دي.

**جواب:** د "مياں" لفظ دتعظيم دی، ددې معنا اقا، سردار، مالك اود حاكم هم راځي، ځکه الله مياں ويل جائزدي.[۱]

## دا ويل غلط دي چې ټول انسانان د الله تعالى بچي دي

**سوال:** کتاب چې دهغه مولف ايم اي دی، دهغه په صفحه: ۱۸۳ باندې ليکل شوي دي: "ټول انسانان دالله تعالى بچي دي" ايا دا صحيح ليکل شوي دي؟

**جواب:** نه! داتعبيربالکل غلط دی، په حديث کې مخلوق ته عيال الله فرمايل شوي دي[۲] "عيال"بچيوته نه وايي، بلکې هغو خلکوته وايي چې دهغوی کفالت دچاپه ذمه وي.[۳]

## الله تعالى د زامنو او لوڼو تقسيم ولې کړی دی

**سوال:** په سورت نجم ايت ۲۲ کې دي" تاسو دالله له پاره لوڼه اوځان له پاره زامن خوښوئ، څومره بدتقسيم دی کوم چې تاسو کوئ" خو الله تعالى پخپله داسې تقسيم کوي ايا داتقسيم بددی، واضح جواب راکړئ.

**جواب:** دمکې مشرکانوبه فرښتوته دالله تعالى لوڼه ويلې[۴]، قران پاك کې په مختلفو دلائلو سره ددې ترديدکړی دی،دسورت نجم په دې ايت کې ددې ترديد داسې شوی دی "چې کوم صنف تاسودخپل ځان له پاره نه خوښوئ هغه دالله له پاره تجويزکوئ ،داڅومره

---

۱] اوګورئ: فيروز اللغات ص:۱۱۵۳ طبع فيروز سنــز)۔

۲]عن انس وعن عبدالله قالا:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:الخلق عيال الله،فاحب الخلق الى الله من احسن الى عياله.رواه البيهقي.(مشكوة ص:۴۲۵،باب الشفقة والرحمة على الخلق،الفصل الثالث)۔

۳] وفي حاشية المشكوة:عيال الله:المراد عيال المرء بكسر العين من يعوله ويقوم برزقه وهو ههنا مجاز واستعارة. (حاشيه نمبر ۴ مشكوة ص:۴۲۵).ايضا عيال الرجل:هوالذى يسكن معه ونفقته عليه كغلامه وامرأته وولده الصغير.(قواعد الفقه ص:۳۹۵طبع صدف پبلشرز)۔

۴]ثم قال منكرا عليهم فيما نسبوه اليه من البنات وجعلهم الملائكة اناثا واختيارهم لانفسهم الذكور على الاناث بحيث اذا بشر احدهم بالانثى ظل وجهه مسودا وهو كظيم،هذا وقد جعلوا الملائكة بنات الله وعبدوهم مع الله،فقال:ام له البنات ولكم البنون،وهذا تهديد شديد ووعيد اكيد.(تفسير ابن كثير ج:۶ ص:۱۴،طبع رشيديه،كوئته)۔

بدتقسیم دی؟[۱] الله تعالی ځینوته زامن، ځینوته لوڼې او ځینوته دواړه ورکول او ځینې شنډکول دهغه دکمال قدرت دلیل دی او په دې کې لوی حکمت دی، دچا دحال سره چې څه مناسب وو، هغه معامله یې هغه سره وکړه.[۲]

## دالله تعالی په مینه کې ژړل

**سوال:** حدیث شریف کې دالله تعالی له ویرې نه دژړا ډېرزیات فضیلتونه بیان شوي دي، ددوزخ اور په هغه باندې حرام دی او داسې نور... او دالله تعالی محبت، شوق، غوښتنې او دهغه په جدایي کې دژړا څه حدیث یا فضیلت مو دنظرنه نه دی تیرشوی، دنوروخو راته پته نشته، خو چې زه خپل حالت عرض کړم، نوماته ټول ژوند کې دالله تعالی له ویرې نه ژړانه ده راغلې، خو دهغه په یاد، مینه او دذکرپه حالت کې پرته داختیارنه ژړل به هره ورځ و،(د ژړا یو حالت به راباندې راغی) او اوس هغه شان اګرچې نه وي، خو بیا هم هغه حالت راشي، قران پاک اوریدو سره، څه داسې واقعې اوریدو سره، دجدایي او دمحبوب دبې وفایي مضمون اوریدو سره، دخپل حسرت روزنامې کتلو سره، ایا دې باره کې هم څه حدیث موجود دی؟

**جواب:** دا خوښکاره خبره ده چې دژړا مختلف ډولونه وي، مینې او محبت کې ژړل او د ویرې او رضا له پاره ژړل او دا هم ښکاره خبره ده چې اول ذکرشوې ژړا ده وروسته ذکرشوې ژړانه بهترده، کله چې دمفضول فضیلت معلوم شو، نو دهغې افضل کیدل به پخپله معلوم شي، مثلا حدیثونوکې چې دشهیدانو ډېرمره فضیلتونه ذکرشوي دي، دصدیقینو دومره فضیلتونه ورکول کیږي، خو ټولوته پته ده چې صدیقین دشهیدانونه افضل دي، کوم فضیلتونه چې دشهیدانو دي، د صدیقانو دهغوی نه افضل دي، له دې نه پرته دالله تعالی له ویرې نه ژړا له دې وجې افضل ښودل شوې ده چې دانسان دکمزوري حالت او ناکاري همداتقاضاده، چې هغه دالله تعالی په ویره کې وژاړي، ځکه چې زموږ یو عمل هم دالله تعالی ددربارقابل نه دی، بنده دخپلې بې چارګي له وجې بالکل صفر او خالي لاس وي، دخطاګانو، غلطیو او ګناهونو انباروي، خو ددې په مقابله کې یوه نیکي همداسې نه وي، کومه چې دالله تعالی ددربار دشان مطابق وي او دکومې باره کې چې بنده همت وکړي چې دانیکي مې راوړې ده، داسې حالت کې دمینې او محبت ټولې دعوې ختمې شي او وویرې نه پرته هیڅ نه پاتې کیږي، په احادیثوکې چې دویرې دژړا کوم فضیلتونه بیان کړي دي، په هغو کې ,,والله اعلم،، داحکمت دی چې بنده ته 'ایازقدرخویش به شناس،، باندې نظروي او دعشق او مینې په دعووباندې غرورونه کړي.

---

۱] لکم الذّکر وله الانثٰی، تلک اذًا قسمة ضیزٰی. (النجم: ۲۱، ۲۲)۔

۲] یهب لمن یّشآء انٰثاً وّیهب لمن یّشآء الذّکور. او یزوّجکم ذکراناً وانٰثاً، وّیجعل من یّشآء عقیماً، انّه علیم قدیرٌ. (الشورٰی: ۴۹، ۵۰)۔

## دالټرا ساونډ (تلويزوني معاينې) په ذريعه د مورد خيټې حال معلومول

**سوال:** قران کريم کې په ډېرځايه ذکرشوي دي چې دځينو شيانوعلم دالله تعالى نه پرته بل چاته نشته، دې باره کې به دسورت لقمان داخري ايتونوحواله ورکړم، چې دهغو مفهوم څه داسې دى چې ديوڅوشيانوعلم دالله تعالى نه پرته بل چاته نشته، هغه کې قيامت راتلل،دباران کېدو علم، سبابه څه کيږي، فصل به څنګه کيږي اودميندوپه خيټوکې څه دي؟ (هلک ده اوکه انجيلۍ)

څنګه چې تاسوته پته ده چې نن سبايومشين چې "التړا ساونډ مشين، ( Altra Sound Machine) ويل کيږي، کوم چې اوس کېداى شي پاکستان کې هم موجودوي، د ډاکټرانو دادعوه ده چې ددې مشين په ذريعه باندې اساني سره دا ويل کېداى شي چې دحمل لرونکې ښځې په خيټه کې څه دي؟ يعنې هلک دى اوکه انجيلۍ؟ اوډېرو ډاکټرانو داثابت کړي هم دي.

اوس سوال دادى چې دقران اوحديث په رڼاکې د ډاکټرانو دادعوه ترکومه حده پورې صحيح ده؟ اوددې مشين حقيقت څه دى؟ ايا دا داسلام اوقران خلاف نه دى؟

**جواب:** دقران کريم دکوم ايت چې تاسوحواله ورکړې ده، هغه کې فرمايل شوي دي چې : الله تعالى ته پته ده چې خيټه کې څه دي، که چېرې الله تعالى دوحې اوکشف په ذريعه باندې چاته دا ووايي، نو دا ددې ايت خلاف نه دي، دغه راز که چېرې دالا توپه ذريعه يا د نښوپه ذريعه باندې معلوم کړل شي، نودابه علم غيب نه وي اوددې ايت خلاف به نه وي،داجواب هغه صورت کې دى، کله چې دالا توپه ذريعه باندې سل فيصده يقين سره معلوم کړل شي، که نه د جواب ضرورت هم نشته، ځکه چې نفي، ديقيني علم اوداسبابونه پرته حاصل شوى علم دى، يوعلم ظني وي اوبل علم د اسبابوپه ذريعه باندې حاصل شوى وي اوکوم علم چې په څه ذريعه باندې حاصل کړل شي هغه ته دغيبوعلم نه ويل کيږي، داددې ايت خلاف نه دى.[1]

## دابليس له پاره سزا

**سوال:** قران کريم کې ابليس ته جن ويل شوي دي، چاچې حضرت ادم عليه السلام ته دسجدې کولونه انکارکړى و، چې هغه داورنه جوړ شوى دى اوانسان دخاورې نه جوړ شوى، ابليس ته دهغه

---

۱] (الغيب)........وفسر جمع هنا بما لايقع تحت الحواس ولا تقتضيه بداهة العقل،فمنه مالم ينصب عليه دليل وتفرد بعلمه اللطيف الخبير سبحانه وتعالى كعلم القدر مثلا،ومنه مانصب عليه دليل كالحق تعالى وصفاته العلا فانه غيب يعلمه من اعطاه الله تعالى نورا على حسب ذلک النور فلهذا تجد الناس متفاوتين فيه للاولياء نفعنا الله تعالى بهم الحظ لاوفر منه.(تفسيرروح المعانى ج:۱ ص:۱۱٤ البقرة آيت:٤ احياء التراث العربى بيروت)

د نافرماني له وجې ملعون ويل شوي دي او دهغه په عملونو باندې عمل کونکو انسانانو ته د دوزخ د دردناک عذاب خبرورکړل شوی دی.

خويوځای کې هم نشته چې ابليس له پاره دهغه ددې کارونوله وجې دوزخ کې سزاشته اوکه نه؟ که چېرې شته، نو اياڅوک چې داورنه جوړوي، هغه باندې به د دوزخ څه اثروي؟

**جواب:** ابليس له پاره سزاپه قران کريم کې ذکرشوې ده[1] د پيريانو په جوړيدوکې زياته برخه داورده، څنګه چې د انسان په جوړيدوکې زياته برخه دخاورې ده اودخاورې نه جوړيدوباوجود چې څنګه انسان په خاوره باندې خوږيږي، مثلا انسان چې په لوټه ويشتل شي، نوهغه ته تکليف رسيږي، دغه شان د پيريانوداورنه پيداکېدوباوجودبه هغوی ته اورکې تکليف وي.

## د سورت دخان ايتونه او د خليج اوسني حالات

**سوال:** دقران مجيد پنځويشتمې سپارې کې دسورت دخان دايت نمبر۱۲ ترجمه مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله کړې ده، بلکې هغوی شک کې دي، لوبوکې مصروف دي، تاسو دهغوی له پاره دهغې ورځې انتظاروکړئ چې داسمان له طرف نه به په نظر راتلونکې لوږې پيداشي اوهغه به په ټولوخلکوباندې خوره شي، داهم يوه دردناکه سزاده، اې زموږه ربه! موږ نه داعذاب لرې کړې، په حقيقت کې موږمسلمانان يو، دوی ته دهغې نه کله نصيحت ملاويږي، حالانکې هغوی ته بيان کونکی پيغمبر، بياهم دغه خلک کله مني اوهم داوايي چې ورته ښودونکی ليونی دی، موږبه دا عذاب پخپله باندې لرې کړو، ته به بياخپل دې حالت ته راشې، په کومه ورځ باندې به چې موږنيول کوو، هغه ورځ باندې به موږ بدله اخيستونکي يو.

پورته بيان شوي ايتونه کوم چې څوارلس سوه کاله مخکې نازل شوي دي، داوسني خليج صورت حال صحيح طورباندې بيانوي.

**نمبر۱:** دتيلوقيمتي دولت اسلامي حکمرانان دمسلمانانو او د عوامو سياسي اوفوجي حالت ښه کولو پر ځای په عيش اوعشرت کې خرچ کوي.

**نمبر۲:** داسمان طرف نه راتلونکې لوږې کې نوې فوجي سلحه دهرقسمه بم خبرقران مجيدله نن نه څوارلس سوه کاله مخکې ورکړې دی، کوم چې دمسلمانانودغفلت اوناتفاقي له وجې ديودردناکې سزا اوعذاب په حيثيت باندې په موږ مسلط شوی دی.

**نمبر۳:** اسلامي ملکونوکې دمحمد ﷺ د شريعت نه نفرت کيږي، اوسني دورکې د محمد ﷺ په شريعت باندې عمل کول ليونتوب ګڼل کيږي.

---

۱] لأملأنّ جهنّم منك وممن تبعك منهم اجمعين. (ص: ۸۵)۔

**نمبر٤**: که چېرې اوسنی عذاب ختم کړل شي، نو په غفلت کې دپرتو مسلمانانوسترګې نه غړيږي.

**نمبر٥**: ددين داسې مخالفو مسلمانانوته ويل شوي دي چې دقيامت په ورځ باندې به تاسونيول کيږئ اوتاسونه به پوره بدله اخيستل کيږي، زماپه نزدباندې دادقران مجيديوه معجزه ده، چې زموږ په اوسني حالت باندې بالکل صحيح ده، مهرباني وکړئ ددې وضاحت وکړئ، ايامادې ايتونو مطلب صحيح اخيستى دى؟

**جواب**: دکوم عذاب ذکرچې دې ايتونوکې شوى دى، ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې دغه لوږې به مکه کې اوسيدونکو خلکو ته دلوږې او قحط له وجې په نظرراتله. دهغوى په نزدباندې داواقعه دحضور ﷺ په زمانه کې تيره شوې ده[۱] او ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې دالوږه به قيامت ته نژدې وخت کې ښکاره کيږي،دکوم ذکر چې په احاديثوکې شوى دى، په هرحال دايت نه دخليج لوږې مرادنه دي.[۲]

## د صبر او بې صبرۍ معيار

**سوال**: "**بشر الصابرين الذين اذا اصابتهم مصيبة**" نه څه مراد دي؟ نن سبا دعلماوو يادمشائخو په وفات باندې په رسالوکې چې کومې مرثيې راځي"کيا نخل تمناکومیرے آگ لگی ہے" يا" کيا دکھاتاهے کرشمے چرخ گردوں هائے هائے" او داسې نور... الفاظ صحيح دي،په خيرالقرون کې ددې مثال شته؟

**جواب**: په قران کريم او احاديثوکې دصبرحکم او دژړا انګولا نه منع کيدل بالکل ښکاره دي اوداهم ښکاره ده چې په مصيبتونوباندې غمژن کيدل يوطبعي امردى او ددې غم داظهار په طور ځينې الفاظ هم دانسان له خولې نه وځي، اوس وضاحت طلب خبره داده چې دصبر او دبې صبرۍ معيار څه دى؟ په دې سلسله کې دکتاب او سنت اود اکابرو د ارشاداتو نه چې کوم مفهوم اخستل کيږي،هغه دا دى چې که چېرې ديوې حادثې په موقع داسې الفاظ وويل شي چې په هغه کې دالله تعالى نه شکايت موندل کيږي (نعوذبالله) يادغې حادثې له وجې

---

۱]عن ابن مسعود رضى الله عنه......وساحدثكم عن الدخان ان قريشا لما استصحبت على رسول الله صلى الله عليه وسلم وابطئوا عن الاسلام قال:اللهم اعنى عليهم بسبع كسبع يوسف،فاصابهم قحط وجهد حتى اكلوا العظام،فجعل الرجل ينظر الى السماء فيرى مابينه وبينه كهيئة الدخان من الجوع.(روح المعانى،سورة الدخان ج:۲۵ ص:۱۱۷،طبع دار احياء التراث العربى،بيروت،ايضا:تفسير قرطبى ج:۱٦ ص:۱۳۰،ايضا:معارف القرآن ج:۷ ص:۷٦۰،ايضا:تفسير مظهرى ج:۸ ص:۳۷۰)۔

۲] وعن ابن عباس......انه دخان ياتى من السماء قبل يوم القيامة.(روح المعانى،سورة الدخان ج:۲۵ ص:۱۱۸،طبع دار احياء التراث العربى بيروت)۔

مامورات شرعيه پريښودل کيږي، مثلا لمونځ يې قضاکړ يا يې څه شرعي منع شوی کار وکړ، مثلاً ويښته ويستل، مخ وهل، نو دا بې صبري ده اوکه چېرې څه داسې کارنه وي، نو دصبرنه خلاف نه دی[1] خيرالقرون کې به هم مرثيې ويل کېدې، مګرپه هماغه معيار، په دې اصولوباندې دننن سبا مرثيې پخپله قياس کړئ.

## د تخلقوا باخلاق الله مطلب

**سوال:** **تخلقوا باخلاق الله** سلوک(تصوف) کې پکاردي، دالله تعالى په صفاتو کې جبار، قهار، منتقم، متکبر اوداسې نور نومونه هم دي، بياداهم ويل کيږي چې دالله تعالى په صفاتوکې شريکدل شرک دی اوبل طرف ته دالله تعالى صفتونه خپلول په درجوکې داوچتوالي معيارهم دی.

**جواب:** دالله تعالى نومونه دوه قسمه دي، يوهغه قسم چې مخلوق ته دهغه څه لږ شان عکس نصيب شي، دغه صفات دخپل طاقت مطابق پخپل ځان کې پيداکول پکاردي، **تخلقوا باخلاق الله** نه همدا مراددی، مثلاً روف، رحيم، غفور، ودود وغيره، دويم هغه نومونه دي، چې هغو سره دالله تعالى ذات خاص دی، هلته ددې نومونونه اثراخيستل مقصددی، مثلاً دقهارپه مقابله کې خپل مقهوريت ښکاره کول، دعزيزپه مقابله کې خپل ذلت، دتامه اوغني په مقابله کې دخپل فقر ښکاره کول، دلته به د**تخلقوا باخلاق الله** ښکاره کيدل په کامل شکل کې وي.[2]

## د قوم بد خلک به د قوم سرداران شي (څه مطلب؟)

**سوال:** دقيامت دنښوباره کې دحضور ﷺ يوحديث دی، چې کله دقوم بد او خراب خلک دقوم سرداران يامشران شي، نوپوه شئ چې قيامت نژدې دی، پاکستان کې عام طورباندې اوازاد کشمير کې خاص طورباندې ددې پيښوخلک، بدخلک ګڼل کيږي، موچي، درزي،

---

[1] عن انس قال:دخلنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم على ابى سيف القين وكان ظئرا لابراهيم فاخذ رسول الله صلى الله عليه وسلم ابراهيم فقبله وشمه ثم دخلنا عليه بعد ذلک وابراهيم يجود بنفسه فجعلت عينا رسول الله صلى الله عليه وسلم تذرفان،فقال له عبدالرحمن بن عوف:وانت يارسول الله!فقال:ياابن عوف!انها رحمة ثم اتبعها باخرى فقال:ان العين تدمع والقلب يحزن،ولا نقول الامايرضى ربنا وانا بفراقک ياابراهيم لمحزونون،متفق عليه.(مشكوة ص:۱۵۰)_

[2] قيل تخلقوا باخلاق الله،وذلک فی اكتساب محامد الصفات الالهية من العلم والبروالاحسان واللطف وافاضة الخير والرحمة على الخلق والنصيحة لهم وارشادهم الى الحق ومنعهم من الباطل،الى غير ذلک من مكارم الشريعة فكل ذلک يقرب الى الله سبحانه وتعالى لابمعنى طلب القرب بالمكان بل بالصفات.(احياء علوم الدين ج:٤ ص:۳۰٦بيان ان المستحق للمحبة هوالله وحده)_

نايي، جولا، لوهار، ډم، ماشکي، دوبي، ترکان وغيره ،اکثر د پورته بيان شوي حديث حواله هغه وخت کې ورکول کيږي کله چې د پورته بيان شوي پېشو (کسبونو) والا کې يو کس ته څه اهمه عهده وسپارل شي، نوويل کيږي چې اوس قيامت نژدې دی، فلانکي ته وګورئ هغه څه و او څه ترې نه جوړشو، معلومول داغواړم چې ايا ددې حديث مفهوم همدادی کوم چې عام طورباندې خلک دې نه اخلي يابل څه دی؟ ايارسول الله ﷺ به هم ددې پېشووالا خلک بد ګڼل؟ اوايا په رښتياباندې دې خلکوته په عملي ژوند کې مخکې تلل نه دي پکار؟ دتاريخ او احاديثو د مطالعې نه داسې معلوميږي چې ابتدا کې اسلام قبلونکو کې زياتر هغه خلک وو کوم چې د اسلام نه د مخکې معاشرې نه تنګ وو، سردارانو خود اسلام ډېرسخت مخالفت کړی وو اوبيا اسلامي معاشره کې غلامانوته هم هغه عزت حاصل شو کوم چې هغوی په خوب کې هم نه و ليدلی، ډېر غلامان کامياب جرنيلان، ګورنران اوخليفه ګان شول، او د رسول پاک ﷺ ته تعليم کې داوچت اوښکته ذات دلرې پورې هيڅ نښه نه موجوديږي، نوبيا دا وواياست چې دقيامت ښودلو والادې حديث نه کوم کمينه او رذيل خلک مراد دي؟

**جواب:** دکوم حديث حواله چې تاسو د سوال نه مخکې ورکړې ده دهغه الفاظ دادي. **,,وسادالقبيلة ارذلهم،،**[۱] اودهغه مطلب دادی چې: د قبيلې رذيل انسان به دقبيلې سردار شي، يوبل حديث کې دي **ان ترى الحفاة العراة رعاء الشاة يتطاولون فى البنيان.**[۲] يعنې تاسوبه داسې خلک کوم به چې بربنډ بدن ګرځيدل، چيلې به يې څرولې، هغوی به وينئ چې په غټو غټو کورونو جوړولو باندې فخرکوي، دې احاديثو کې درذيلو اخلاقو والا خلکو سرداران جوړيدل اود وړو بربنډو خلکوته ددولت راتلل دقيامت نښې ښودل شوي دي، کوم خلک چې ددنيا کمينه او مغرور اولاندې خلک ګڼئ (حالانکې د اخلاقو او اعمالو په اعتبار باندې هغوی نيک اوشريف وي) دهغوی ترقي کول دقيامت په نښوکې نه دي داخل.

## د رسول ﷺ په ارشاد کې سل حکمتونه وي

**سوال:** ستاسو جواب راته ورسيد، ډېرزيات خفه شوم، تاسو زما يوازې ديوسوال دتسلي جواب راکړی دی، ستاسو شکريه اداکوم.

ماتاسونه سوال کړی و چې سازاوريدل ولې ناجائزدي؟ يا جائزدي؟ تاسو وفرمايل چې دالاتوسره سازاوريدل په شريعت او تصوف کې ناجائزدي، نوستاسومطلب يوازې اويوازې دادی چې د دين ځينې بزرګان کوم چې موږ اوتاريخ مني، هغوی دشريعت اوتصوف

---

۱] صحيح مسلم عن ابى هريرة ج:۱ ص:۲۹ كتاب الايمان۔

۲] مشكوة عن عمر بن الخطاب ص:۱۱ الفصل الاول، كتاب الايمان۔

خلاف کارکولو او ما اوریدلي دي چې کوم کس د حضور ﷺ د سنتو خلاف یو عمل هم وکړئ هغه مرشد نه شیطان دی، تاسو هغه ټول بزرګان کوموبه چې دالاتوسره سازونه اوریدل (نعوذبالله) ناجائزکارکونکي ویلي دي؟

۲: محترم علامه صاحب ماسوال کړی و چې تې وي یاددې په شان حرکت کونکي تصویران کتل ولې منع دي؟، نوتاسوجواب راکړ چې حضور ﷺ دتصویرانو ویستلونه منع فرمایلې ده او جوړونکو باندې یې لعنت فرمایلی دی، نومحترم بزرګه! ددې خبرې، خوموږ ته دمخکې نه پته وه، خوتسلي دځه شي نوم دی؟ ایاستاسوعلم دچادمطمئن کولوله پاره نه شي کېدای؟ داهیڅ جواب نه دی، ماته دومره پته ده چې حضور ﷺ دهریوې خبرې دهغې جوازهم بیان فرمایلی دی اوزه هغه جوازمعلومول غواړم.

۳: زمادریم سوال داو چې یوکتاب کې لیکل شوي و، که چېرې چادخپل کوراوچتوالی دیوولس نیم فټونه زیات کړ، نوهغه باندې به دالله تعالی عذاب وي، تاسوجواب کې وفرمایل چې ماته ددې حدیث معلومات نشته اودهغه رسالې ټول روایتونه مستندنه دي مادا پوښتنه نه وه کړې چې هغه مستنددی اوکه نه؟ یاتاسولوستلی دی اوکه نه؟ ما، خویوازې دومره پوښتنه کړې وه چې داصحیح دی اوکه نه؟

له دې نه مخکې چې ماکوم خط درلیږلی و، هغه سره دواپسې دډاک ټکټ هم و، خوماته بې رنګه لفافه ورسیده، په دې باندې زه ډېرخوشحاله شوم، ځکه که چېرې دقیامت په ورځ باندې الله تعالی مانه پوښتنه وکړي چې تادنیانه څه راوړي دي، نوزه به ورته جواب ورکړم چې ددین په عالم باندې قرض پرېښودل دي اودهغې په بدله کې به زه خپله بښنه غواړم اوکه چېرې زما حق اداکول غواړئ، نودهغې له پاره ماتلاش کړئ، ځنګه چې تاسوفرمایلي و، چې دخپل باطني راهنمایي له پاره بزرګ پخپله باندې تلاش کړئ.

**جواب:** ستاسوارشادصحیح دی، چې دسنت خلاف کونکي ولې نه شي کېدای، له دې وجې د کومو کومو بزرګانوطرف ته چې دالاتوسره دسازاوریدونسبت کیږي، یاخوهغه نسبت غلط دی، یاداچې هغوی به داجائزګڼل له دې وجې هغوی معذوردي.

۲: دکوم کس تسلي چې درسول الله ﷺ په ارشادباندې نه کیږي، دهغه تسلي زماپه اختیار کې نه ده، دنبي کریم ﷺ په ارشاداتو کې حکمتونه ضروردي اوالحمدالله دظرف مطابق راته معلوم هم دی، خودهغې نه پرته تسلي نه کیدل غلطه خبره ده، الحمدلله که چېرې ماته یوحکمت هم معلوم نه وي، بیاهم درسول الله ﷺ په ارشادکې سل حکمتونه وي.

۳: کله چې ماته معلومات نشته، نودصحیح اوغلط فیصله ځنګه وکړم.

۴: موږ پرې ټکټ لږولی و، کېدای شي غورځیدلی وي، یاغورځول شوی وي، که په یوټکټ باندې ستاسوخلاصی کېدای شي، نوزه به ډېرزیات خوشاله یم.

## ماشوم ته د خوږو پريښودو باره کې د حضور ﷺ د نصيحت روايت له ځانه جوړ شوی دی

**سوال:** دا حديث صحيح دی او که نه؟ ديوې ښځې واقعه ده چې هغې خپل زوی ته د حضور ﷺ نه نصحيت کول وغوښتل چې دی خواږه خوړل پريږدي، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې دوه ورځې وروسته راشه، هغه ښځه دوه ورځې وروسته راغله، نونبي کريم ﷺ دهغې زوی ته نصيحت وکړ، دښځې په پوښتنه کولوباندې حضور ﷺ وفرمايل چې مخکې ماپخپله باندې چيني خوړل کم کړل، بيامې ورته نصيحت وکړ اوکوم عمل چې دترځوپورې پخپله نه کوي، نورو خلکوته دهغې تلقين مه کوئ، مهرباني وکړئ ددې تفصيل او حوالې سره جواب راکړئ، ځکه چې همداخبره د حضرت ابوبکرصديق، حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علي اوحضرت اميرمعاويه ﷺ په حواله باندې هم بيانيږي، ددې واقعې دبيانولوله پاره داخلک وايي چې، صاحبه! لاړشه اول ځان سل فيصده صحيح کړه، بيامورته راځه اوداچې، مسلمان ته تبليغ جائزنه دی.

**جواب:** دا روايت بالکل دروغ دی، کوم چې چا ځان نه جوړ کړی دی اود حضور ﷺ طرف ته يې منسوب کړی دی، دنوروا کابرينوطرف ته يې منسوب کول هم غلط دي اوددې نه دانتجه اخيستل غلط دي چې مسلمانانوته دې دښه کارنه ويل کيږي اودبدوکارونونه دې نه منع کوي.[1]

## د خناس کيسه د ځانه جوړه شوې ده

**سوال:** نن سبا په ميلاد شريف کې باسواده ښځې څه دا قسم خبرې اوروي چې حضرت حوا عليها السلام ته شيطان راغی چې زمابچي لږ وساته هغې کيناو، نوحضرت ادم عليه السلام راغی، هغه وکتل چې خناس ناست دی هغه دی پريکړ او ټکړې ټکړې يې کړ، ويې غورځولو شيطان راغی او پوښتنه يې وکړه، چې بچی چېرته دی، نوهغه وويل چې موږ هغه پريکړ او او وومې غورځواو هغه اواز کوي خناس خناس ټولې ټکړې جمع شي بچی تيارشي هغه بياموقعه ګوري اوحضرت حوا ته يې حواله کوي، بياحضرت ادم عليه السلام راځي، نوګوري چې خناس ناست دی هغه دې پريکړ او وې سوځوي او ايره يې کړي اوپه هواکې يې والوزوي، شيطان دمخکې په شان راشي اواز وکړي اوبچی ژوندی کړي اودځان سره يې يوسي، بياچې موقعه بياومي حضرت حواته يې حواله کړي،داخل حضرت حوا او حضرت ادم عليه السلام هغه پريکړ او

---

۱] عن ابي سعيد الخدری عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:من رای منکم منکرا فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه وذلک اضعف الايمان.رواه مسلم.(مشکوة ص:٤٣٦ باب الامر بالمعروف)

وریت یې کړي او دواړه یې اوخوري، بیامیلاد شریف لوستونکې ښځې وایي چې په انسان کې دننه دا هم هغه خناس دی کوم چې په رګ رګ کې پیوست شواو دې ته حدیث وایي اوبیانوي یې مادا حدیث دخپل محترم ورور مولانامفتي محمود صاحب نه چېرته هم نه ده اوریدلې لږ وضاحت وکړئ چې ایا دا صحیح دی یاله ځان نه جوړه شوې کیسه ده.

**جواب:** دا کیسه بالکل دځان نه جوړه شوې ده، افسوس دی چې اکثر واعظین خصوصا میلاد لوستونکي دا قسم کیسې بیانوي د حضرت انبیاء کرام علیهم السلام په باره کې داسې بې بنیاده کیسې بیانول ډیره سخته ګناه ده، دنبي کریم ﷺ حدیث دی چې "څوك قصدا زماطرف ته څه غلطه خبره منسوب کړي هغه دې دخپل ځان د اوسیدو له پاره جهنم جوړکړي"[۱] له دې وجې واعظینو ته پکار دي چې داسې لغوه اوبې فایدې کیسې نه بیانوي.

## حقوق الله او حقوق العباد

**سوال:** دخدای بنده دالله حق ادا کوي، خو دبندګانوحقونوکې کوتاهي کوي دده ښښنه به کیږي اوکه نه؟ دبندګانوحق که چېرې پوره کوي څه قسمه دخپلې پوهې مطابق کوتاهي نه کوي، خو دالله په حق کې کوتاهي کوي ایا دده مغفرت ممکن دی؟

**جواب:** ریښتنې توبې سره، خو ټول ګناهونه معاف کیږي[۲](اوپه ریښتنې توبه کې داهم داخل دي چې دکوموخلکوحق یې ضائع کړی وي هغه دې ادا کړي یادې له هغه نه معافي وغواړي) اوکوم سړی چې پرته له توبې نه مړشي دهغه معامله الله پاك ته سپارل شوې ده، چې هغه یې که پخپل رحمت سره له سزاپرته وبښي یاد ګناهونوسزا ورکړي[۳] دبندګانو حق په دې اعتبارسره زیات سخت دی چې ددې د ادا کولو نه پرته په اخرت کې معافي نه ملاویږي، البته که الله تعالی دچاسره دخصوصي رحمت معامله وکړي اود حق والاته دخپل طرف نه معاوضه ورکړي اوراضي یې کړي، یا د حقوقووالا په خپله معافي وکړي، نوبله خبره ده.[۴]

---

۱] عن ابن عباس رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:اتقول الحدیث عنی الاما علمتم،فمن كذب علی متعمدا فلیتبوا مقعده من النار.رواه الترمذی.(مشکوة ص:۳۵ کتاب العلم)۔

۲]ولیس شئ یکون سببا لغفران جمیع الذنوب الا التوبة....الخ.(شرح العقیدة الطحاویة ص:۳۶۸)۔

۳]السبب الحادی عشر:عفو ارحم الراحمین من غیر شفاعة کما قال تعالی...الخ. سورة ۴ نساء:۱۱۶(شرح عقیدة الطحاویة ص:۳۷۰)۔

٤] وان کانت (التوبة)عما یتعلق بالعباد....وارضاء الخصم فی الحال والاستقبال....الخ.(شرح فقه اکبر ص:۱۹٤، طبع دهلی،ایضا:ارشاد الساری ص:۳،طبع دار الفکر،بیروت)۔

## دا د عبادالرحمن صفتونه دي

**سوال:** ,,وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ ....نه تر....يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ...الخ، پورې، تاسوفرمايلي دي چې دا ايت دکافرانوباره کې دی اودايت دعبادالرحمن باره کې دېرمخکې تللی دی، ,,وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ.....نه تر.....وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٠﴾،، اوبيامخکې هم دعبادالرحمن صفتونه بيان شوي دي، نوپه مينځ کې دکافرانوذکرکوم ځای دی؟
معارف القران کې هم داليکل شوي دي، څه چې تاسوفرمايلي دي، خوداصولو مطابق صفتونه اوعيبونه دعبادالرحمن معلوميږي.

**جواب:** که چېرې دجهالت له وجې داکارونه شوي وي اوبياهغه **الامن تاب وامن وعمل عملاً صالحاً**. لاندې راتلل، نودعبادالرحمن په عنوان باندې دهغه به ذکرکيدو اودبنده داويل چې داکافرانوباره کې دي چې بياوروسته مسلمانان شول، دې دواړوخبروکې څه تعارض دی؟ صفتونه خو دعباد الرحمن بيانيږي، هغه کې دا ذکر وشو چې شرک نه کوي، قتل نه کوي، زنانه کوي اوله دې نه وروسته ويل شوي دي چې چادکفرپه حالت کې داګناهونه وکړل، خوبيا وروسته مسلمانان شول اودنيک عملونوپه ذريعه باندې يې له هغو نه منع وکړه، نوهغوی هم عبادالرحمن کې شامل دي.[۱]

**سوال:** **الامن تاب** په باره کې تاسوفرمايلي دي چې چادکفرپه حالت کې داګناهونه کړي وي، دې کې يوازې دومره نوره پوښتنه کول غواړم چې دکفرپه حالت کې ايت کې ددې صراحت کوم ځای دی؟ دايمان په حالت کې ګناه کونکي، خوهم دتوبې له وجې پاک شي.

**جواب:** درمنثورکې ددې ايت دنازليدوباره کې چې کوم روايتونه نقل شوي دي، دهغه نه داخبره معلوميږي.

---

۱] واخرج ابن مردويه عن ابن عباس رضی الله عنهما قال:لما نزلت:والذين لا يدعون مع الله الها اخر الآية اشتد ذلک علی المسلمين فقالوا:ما منا احد الا اشرک وقتل وزنی،فانزل الله:ياعبادی الذين اسرفوا الآية يقول لهؤلاء الذين اصابوا فی الشرک،ثم نزلت بعده:الا من تاب وامن وعمل صالحا فاولئک يبدل الله سيئاتهم حسنت،فابدلهم الله بالکفر الاسلام وبالمعصية الطاعة وبالانکار المعرفة وبالجهالة العلم.(درمنثور فی التفسير المنثور ج:۵ ص:۷۸،۷۹،طبع ايران)۔

# د عالمانو باره کې یو څو مشکلات

**سوال:** زه یو څو سوالونه لیکم، دا ټول سوالونه د (تبلیغي جماعت، له حقائق او معلومات) کتاب نه اخستل شوي دي، دد لیکونکی (علامه ارشد القادري) دی.

۱: د دیوبندي ډلې شیخ الاسلام مولانا حسین احمد صاحب دد فرقې او دد د مشر محمد ابن عبدالوهاب نجدي باره کې ډېره بد او حیران کونکي حالات لیکلي دي، هغه لیکي:
"محمد ابن عبدالوهاب نجدي د دیارلسمې پیړۍ په شروع کې د نجد عرب نه ښکاره شو او فاسد خیالات او عقیدې یې لرلې، له دې وجې هغه د اهل سنت والجماعة سره قتل او قتال وکړ او هغوی ته یې په زورباندې د خپلو خیالاتو تکلیف رسرلو، د هغوی مالونه یې د غنیمت مال او حلال وګڼل، د هغوی قتلول به یې ثواب او رحمت ګاڼه، د محمد ابن عبدالوهاب عقیده وه چې ټول عالمان او مسلمانان کافر او مشرکان دي او د هغوی قتلول او د هغوی نه مال اخیستل حلال او جائز، بلکې واجب دي. (الشهاب ص ۴۲، ۴۳)
او فتاوی رشیدیه ج ۱ ص ۱۱۱ کې حضرت ګنګوهي صاحب رحمه الله دیو سوال په جواب کې لیکي: "د محمد ابن عبدالوهاب مقتدیانو ته وهابي ویل کیږي، د هغوی عقیدې ډېرې ښې وې، حضرت پوښتنه دا ده چې د دیوبند شیخ مولوي حسین احمد مدني صاحب رحمه الله د وهابیانو باره کې د ومره سختې خبرې لیکلې دي او حضرت ګنګوهي صاحب رحمه الله د هغوی عقیدو ته صحیح وایي، مهرباني وکړئ زما دا پریشاني ختمه کړئ، الله تعالی دې تاسو ته اجر درکړي.

**جواب:** دواړو د هغو معلوماتو باره کې خپل خیال ښکاره کړی دی کوم چې هغوی ته ملاوشوي دي، هریو کس د خپل علم مطابق د حکم لګولو پابند دی، بلکې دیو کس خیال د چا باره کې جدا جدا وخت کې جدا جدا کېدای شي، بیا دې کې اختلاف د څه دی؟ له دې پرته د تبلیغي جماعت باره کې د دې بحث راوړلو څه مقصد دی؟

۲: فتاوی رشیدیه ج ۲ ص ۹ باندې چا پوښتنه کړې ده چې لفظ رحمة للعالمین، یوازې د حضور صلی الله علیه وسلم سره خاص دی او که هرچاله پاره ویل کېدای شي؟
جواب کې حضرت ګنګوهي صاحب رحمه الله فرمایي چې لفظ رحمة للعالمین صفت د رسول الله صلی الله علیه وسلم خاصیت نه دی.
حضرت پوښتنه دا کول غواړم چې موږ اوسه پورې همدا ګڼل او کېدای شي همدا صحیح وي چې دا صفت یوازې د حضور صلی الله علیه وسلم له پاره دی.

**جواب:** بالکل صحیح چې د رحمة اللعالمین صفت د حضور صلی الله علیه وسلم له پاره دی، خو انبیاء او اولیاء کرام هم په خپلو خپلو ځایونو باندې رحمتونه دي، همدا حضرت ګنګوهي قدس الله سره، په خپل بیان کې فرمایلي دي، دد مثال داسې وګڼئ چې سمیع او بصیر د الله تعالی صفت دی،

خو د انسانانو باره کې فرمایلي دي **فجعلناه سميعاً بصيرًا**.(سورة ۷۶ الدهر ۲) ایا د انسان سمیع اوبصیر کېدو سره د الله تعالی په صفاتو کې شرک لازم شو؟

۳: مولانا قاسم نانوتوي صاحب په خپل کتاب تحذیرالناس کې لیکلي دي، چې انبیاء کرام دخپل امت نه لوړ مقام والاوي، پاتې شوه دعمل خبره، نوکله ناکله امتي برابرشي، بلکې اوچت هم شي.(تحذیرالناس ص۵)

حضرت پوښتنه دا کول غواړم چې نبي باندې خوبه الله تعالی وحې هم رالیږله، کتابونه به پرې هم نازلیدل، الله تعالی سره به یې کلام هم کولو، تردې چې نبي کریم ﷺ خو معراج هم کړی و، بیا دنبي په عمل او دامتي په عمل کې ډېر زیات فرق شو، ایا دا خبره صحیح نه ده؟

**جواب:** دحضرت نانوتوي رحمه الله مراد دادی چې دعباداتو په مقدار کې غیرنبي هم دنبي برابرشو؟ بلکې اکثر به زیات هم شو، مثلا څومره روژې به چې نبي کریم ﷺ نیولې هغومره روژې مسلمانان هم نیسي، بلکې دځینو حضراتو دنفلي روژو مقدار زیات هم شي، دغه شان لمونځونه ته وګورئ، چې دنبي کریم ﷺ نه دشپې په لمونځ کې د دیارلسو یا پنځلسو رکعتونو نه زیات نه دي نقل شوي، خو ځینې بزرګانو نه په یوه شپه کې په سوونو رکعتونه کول نقل شوي دي، غرض داچې دامتیانو د لمونځونه تعداد دحضور ﷺ دلمونځونو دتعداد نه زیات ښکاري، خو علم لرونکو ته پته ده چې دټول امتیانو لمونځونه دحضور ﷺ دیو رکعت برابرهم نه شي کېدای، ددې څه وجه ده؟ ددې وجه داده چې دعلم بالله، ایمان اویقین، خشیت اوتقوا کوم حالت چې حضور ﷺ ته حاصل و، هغه دټول امت نه ډېردی، همدا حضرت نانوتوي رحمه الله بیانوي، چې دانبیاء کرام **علیهم السلام** اصل کمال علم او یقین دی، کوم چې هغو اکابرینو ته حاصل و، که څه هم ظاهري عبادت خو د امتیانو د انبیاء کرامو برابر دی، بلکې دهغوی دعبادتونو مقدار د هغوی نه زیات ښکاري، څنګه چې دپورته مثالونو نه واضح کړل شوه.

۴: دحضرت تهانوي یو مرید مولانا ته لیکلي دي چې ما دشپې خپل ځان خوب کې ولیده چې دشهادت دکلمې صحیح اداکولو کوشش کوم، خو هرځل داسې کیږي چې د**لااله الاالله**، نه وروسته اشرف علي رسول الله مې دخولې نه وځي، ددې په جواب کې تهانوي صاحب فرمایي چې ستا ما سره ډېره زیاته مینه ده، داهم دهغې نتیجه ده. (برهان فروری ۱۹۵۲ ص ۱۰۷)

حضرت پوښتنه دا کول غواړم چې دچا په مینه کې موږ داسې الفاظ اداکولی شو؟

**جواب:** دچا په مینه کې داسې کلمه نه شو لوستلی اونه دې واقعې کې هغه کس داکلمه لوستلې ده، بلکې غیراختیاري طورباندې دهغه دخولې نه داالفاظ اداشوي دي، هغه خو کوشش کوي چې دا کلمه ونه لولي، خو دهغه ژبه دهغه په اختیارکې نه ده او ټولو خلکو ته پته ده چې غیراختیاري کارونو باندې مواخذه نشته، مثلا یو کس دبې هوشي په حالت کې

د کفر کلمه ادا کړي، نو هغه ته به کافرنه ويل کيږي او هغه کس ته چې د غلطي خبرې له وجې کوم تکليف رسيدلی دی، د هغه د ختمولو له پاره حضرت تهانوي رحمه الله وفرمايل چې دا حالت د ډېرې مينې له وجې د بې هوشي له وجې پيدا شو، غيراختياري حالت و، له دې وجې هغه باندې مواخذه نشته.

۵: د ملفوظات الياس مرتب په خپل کتاب کې د هغه د دې دعوې نقل کولو سره ليکي، د الله تعالی ارشاد دی:

**کنتم خير امة اخرجت للناس تامرون بالمعروف وتنهون عن المنکر.** په تفسير کې دي چې تاسو د انبياء کرامو په شان خلکو له پاره ښکاره شوي يئ. (ملفوظات ص ۵۱)

حضرت پوښتنه دا ده چې ايا د مولانا محمد الياس رحمه الله دا دعوه صحيح ده؟

**جواب:** د انبياء په شان نه مراد دادی چې څنګه په هغو اکابرينو باندې د دين دعوت ذمه داري وه، د حضور ﷺ د ختم نبوت په وجه باندې د هغه ذمه داري په امت باندې راغله، دې کې کومه خبره د واقعې خلاف ده او دې کې څه مشکل دی؟

۶: مولوي عبدالرحيم شاه بارہ ټونټي صدربازار دهلي والا، د هغه د کتاب (اصول دعوت وتبليغ) په اخري صفحه باندې د مولوي احتشام الحسن صاحب کوم چې د مولانا الياس رحمه الله نسبي ورور او د هغه اول خليفه دی، د هغه ليک د "انتظار کيجئے، په عنوان باندې چاپ شوی دی، دا ليک هغه خپل کتاب (زند گی کی صراط مستقيم) په اخرکې د ضروري انتباه په نوم باندې چاپ کړی دی، هغه ليکي د نظام الدين د تبليغ اوسنی نظام زما د علم او خيال مطابق نه د قران مطابق دی او نه د حضرت مجدد الف ثاني او حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي او نه د عالمانو د مسلک مطابق دی، کوم عالمان چې دې تبليغ کې شريک دي د هغوی اوله ذمه داري داده چې د اکارمخکې د قران او حديث، د امامانو او عالمانو د مسلک مطابق کړي، زما د عقل او خيال نه ډېره اوچته خبره ده چې کوم کار د حضرت مولانا الياس رحمه الله په ژوند کې يوازې د "بدعت حسنه، حيثيت لاره، هغه اوس د دين له اصولو پرته اهم کار څنګه ګرځول کيږي؟ اوس خو منکراتو شامليدونه وروسته دې ته بدعت حسنه هم نه شي ويل کېدای، زما مقصد يوازې د خپلې ذمه داري پوره کول و.

حضرت مهرباني وکړئ د دې سوال جواب لر تفصيل سره راکړئ، څکه چې له دې وجې زه ډېر پريشانه يم، الله تعالی دې تاسو ته د دې بدله درکړي.

**جواب:** د هغه بزرګ د علم او پوهې مطابق نه دی، خو دا خبره د قران په کوم ايت کې راغلې ده چې د هغه بزرګ علم او پوهه د نورو په مقابله کې حجت دی؟

الحمدلله! د تبليغ کار چې څنګه د حضرت مولانا الياس رحمه الله په ژوند کې د اصولو مطابق کيده، نن هم کيږي، په زرګونو نه، بلکې د لکونو انسانو په ژوند کې انقلاب راغی، بې شميره

انسانانوکې ددین درد، داخرت فکر، دخپل ژونددا اصلاح خواهش راغبی او ورک شوي انسانان دحضور ﷺ په لارباندې دراوستلو جذبه پیدا کیږي اودا داسې خبرې دي، کومې چې په خپلو سترګو باندې لیدل کېدای شي، اوس ددې خیراوبرکت په مقابله کې کوم چې په ښکاره په نظرراځي، دتبلیغ نه دخفه شوي یوبزرګ علم اوپوه څه قیمت لري؟

اودهغه بزرګ دې کارته بدعت حسنه ویل هم دهغه دعلم اوپوهې قصوردی، ددعوت الی الله کارخوټولوانبیاء کرامونه راروان دی، کوم عقل مندبه وي چې هغه به دانبیاء علیهم السلام کارته بدعت ووایي؟

ماداعتکاف دوران کې دایوڅوالفاظ ولیکل، امیدلرم چې ستاسوتسلي به شوي وي، که نه ددې نکاتونوره تشریح هم کېدای شوه، خودهغې له پاره نه وخت شته اونه یې ضرورت شته.

یوه خاصه خبره داکول غواړم چې دکومو خلکو په علم کې کمزوري وي، هغوی ته دهرچا کتابونو د کتلونه پرهیزکول پکار دي، ځکه چې دداسې خلکومقصد، خویوازې شک پیدا کولو سره دین نه جدا کول وي اعتراضونه په چاباندې نه دي شوي؟ له دې وجې هریو اعتراض دالتفات قابل نه وي.

## دا ذوقیات دي

**سوال:** شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله فرمایي: حضور ﷺ پاک ذات الهي اونورانبیاء کرام مظهر صفات الهي دي اوعام مخلوق مظهراسماء الهي دي اوحضرت مجددصاحب په خپل خط ۴۵ بنام خواجه حسام الدین کې لیکي: ټول کائنات دالله تعالی دنومونو او صفاتو عکس دی، خودالله تعالی د ذات نه څه عکس شته اونه څه مظهر، دالله تعالی دذات دنیاسره هیڅ مناسبت نشته.

**جواب:** دامنصوص کارونه نه دي، داکابرینوذوق دی اوپه ذوق کې دمشاهدې اختلاف دی، په هرحال دااعتقادي کارونه نه دي.

## درایې (نظر) داختلاف حکم بل دی

**سوال:** مشهورعربي بزرګ جناب محمدبن عبدالوهاب رحمه الله باره کې ددیوبنددحضراتواصل خیال څه دی؟ اوایاهغوی حقیقت نه شي بیانولی؟

۱: دحضرت ګنګوهي رحمه الله خیال دهغه باره کې معتدل دی.(فتاوی رشیدیه)

۲: حضرت علامه انورشاه کشمیري رحمه الله هغه ته خارجي ویلي دي.

۳: حضرت مدني رحمه الله په الشهاب الثاقب کې ډېرسخت الفاظو کې دهغه ذکرکړی دی اوهغه ته یې ګمراه ویلي دي.

۴: اوس څه وخت مخکې يو کتاب "انکار حيات النبي ﷺ ايک پاکستاني فتنه،، کې (کوم چې دحضرت شيخ الحديث رحمه الله لمسي محمدشاهدصاحب ترتيب کړی دی اوهغه يې دحضرت په ويلو باندې ليکلی دی) هم ده محمدبن عبدالوهاب ته شيخ الاسلام والمسلمين ويلي دي.

سوال دا پيدا کيږي چې محمدبن عبدالوهاب څوک و؟ د حضرت گنگوهي رحمه الله دخيال مطابق دتوحيددعوت ورکونکی يادحضرت علامه کشميري رحمه الله په نظرکې خارجي يادحضرت شيخ الحديث دخيال مطابق شيخ الاسلام.

اودخپل شيخ اومرشدحضرت گنگوهي نه جداخيال قائمولونه وروسته ايادحضرت مدني رحمه الله اوحضرت علامه کشميري رحمه الله ته دحضرت گنگوهي رحمه الله دانتساب حق پاتې کيږي اوکه نه؟ يا حضرت شيخ الحديث، دحضرت مدني رحمه الله نه جداخيال اختيارولو سره دهغوی سره د ارادت مندي دعوه کولی شي اوکه نه؟ تسکين الصدور،طبع سوم (مرتبه مولانا محمد سرفرازخان صاحب صفدر) کې دديوبند حضراتو يواصول جوړکړي دي چې دديوبند دحضراتو خلاف خيال قائمونکوته به هغوی ته دانتساب حق حاصل نه وي، که څه هم دديوبند اکابرين دهغوی استاذان هم وي، دې فتوا باندې له نورو پرته ستاسو دستخط هم موجود دی.

**جواب:** دچاباره کې دفتوا حقيقت دهغه باره کې معلومو حالاتو باندې دی، چاته يې چې څنګه حالات مخې ته راغلل، هغه همغسې خيال ښکاره کړ، ددې په جرح اوتعديل کې دمحدثينو حضراتو اختلاف دی، دې اختلاف کې چې ستاسو په شان عقل مند سړی ونښلي، دحيرانتيا خبره ده.

د ديوبند اکابرينو سره شرعي مسئلوکې داختلاف کولو حکم جدادی اود واقعاتو او حالاتوله وجې داختلاف حکم جدا دی، دواړه يوشان گڼل صحيح نه دي.

**سوال:** دوخت ضائع کولوله پاره معافي غواړم، خوحضرت! موږ د عالمانوخدمت گار يو، د ديوبند د اکابرينو نوکران، هغوی خپل 'اسوة، گڼو، خوکله چې "اسوة،، مجروح وي، نودغه شان تکليف ورکونکي سوالونه اومشکلات پيداکيږي، له دې وجې دسختو خبرو معافي غواړم.

**جواب:** د "اسوة، د مجروح کېدو خبره زما په ذهن کې رانغله اوچې ذهن کې تکليف وي، نوښکاره خبره ده چې انسان تکليف ورکونکې خبرې کولوله وجې به معذوروي.

## مدارپه حالاتواو واقعاتو باندې وي

**سوال:** يوبل مشکل په حضرت مولاناعبيدالله سندهي رحمه الله باندې د حضرت مولانا کشميري رحمه الله اوحضرت علامه عثماني رحمه الله دکفر دفتوا له وجې پيداشوی دی، ايا د مولانا سندهي رحمه الله خبرې په رښتيا باندې ددې لائق دي؟ اخرد دارالعلوم ديوبند مشرمدرس پرې

فتوا ورکړې ده، نو ضرور به څه خبره وي.

**جواب:** دکفراوتفسيق مسئله کې اصل خبره دحالاتواو واقعاتو وي، امام مسلم رحمه الله چې په امام بخاري رحمه الله باندې کوم ردکړی دی او امام ابوحنيفه رحمه الله باره کې چې امام بخاري رحمه الله څه ليکلي دي، دهغوچاته پته نشته؟ ,,ليست باول قارورة کسرت فی الاسلام،، په شان معلوميږي.

## د کوموخلکوچې داسې ذهن وي هغوی ګمراه دي

**سوال:** ۱: حضور ﷺ چې ددين کوم تعليم ورکړی و، هغه دمسجد نبوي ﷺ په ماحول يعنې جومات کې دننه و اودې تعليم له پاره حضور ﷺ دجدامدرسې څه شکل نه و اختيارکړی، ياڅه جدا ځای يې دې له پاره نه و مقررکړی، نوبيا نن زموږ په ديني اداروکې جوماتونه خو ډېر زيات واړه وي، خودمدرسوعمارتونه ډېرغټ غټ جوړيږي، که چېرې داشی بهتر وای، نو حضور ﷺ به دټولونه مخکې دې باره کې سوچ کړی و، سره له دې چې د جومات ماحول ډېرښه وي، هلته انسان دهرقسمه فضولو شيانونونه بچ کېدای شي.

**سوال:** ۲: حضور ﷺ چې اصحاب صفه ته کوم تعليم ورکړی و، هغه بنيادي، دايمانياتو او اخلاقياتو تعليم و، هغوی ته يې ايمان وښود، خوزموږ مدرسوکې چې کوم بنيادي تعليم ورکول کيږي، هغه له دې نه بالکل جداښکاري اوپه خپلو معلوماتوکې دزياتوالي له پاره ددې خبرې وضاحت غواړم، چې حضور ﷺ اصحاب صفه ته کوم قسم تعليم ورکړی و؟

**سوال:** ۳: زموږ دمدرسونونه چې کوم عالمان حضرات فارغ شي، هغوی کې ددين باره کې هغه فکر او درد نه وي اودحضور ﷺ دطريقودپاتې کيدو ورسره هغه شان فکرنه وي، کوم چې حضور ﷺ يانوروصحابه کرامو رضي الله عنهم کې موجود و اوهغوی خلکوسره په هغې عاجزي او انکساري باندې خبرې نه کوي، څنګه چې زموږ اکابرين،تاسويانورچې څنګه بزرګان موجود دي، هغوی يې کوي.

**سوال:** ۴: که چېرې دې خط کې ماڅه غلطه خبره ليکلې وي، نو دهغه له وجې معافي غواړم، که ددې خط جواب پخپله باندې راکړئ، نوډېره مهرباني به مو وي.

**جواب:** ۱: حضور ﷺ زموږ دشيخ د"فضائل اعمال،، نومې کتاب تعليم هم نه دی ورکړی، بيا خو دا هم بدعت شو، اياتاسودتبليغ داکابرينو نه ددې شکايت کړی دی.

**جواب:** ۲: تاسوته کوم جاهل ويلي دي چې زموږ مدرسوکې د حضور ﷺ والاتعليم نشته؟ ايا تاسوچېرته مدرسه ليدلې هم ده اوپه هغه باندې پوه شوی هم يئ؟ يابس چانه مواوريدلي دي او مخکې موبيان کړل، اورائے ونډکې چې کومه مدرسه ده، دهغې تعليم دنورومدرسونه اود نورو مدرسو تعليم درائے ونډ دمدرسې نه جدادی؟

**جواب:** ۳: داهم تاسو ته کوم جاهل ویلي دي چې دمدرسونه فارغو عالمانو کې درداوددین له پاره فکر نه وي، زما په خیال تاسو ددین فکراو درد همدې ته وایئ کوم چې تبلیغ کې کیږي.

**جواب:** ۴: تاسو لیکلي دي که څه غلطه خبره وي، نومعاف مې کړئ، زه پوه نه شوم چې تاسو صحیح خبره کومه لیکلې ده؟

خلک مانه شکایت کوي چې تبلیغ والا دعالمانو خلاف ذهنونه جوړوي اوزه همیشه دتبلیغ والا وو ماتړ کوم، خو ستاسو دخط نه ماته پته ولګیده چې خلک څه ډېر غلط نه وایي، ستاسو په شان عقلمند چې هغوی ته ددین پوهه نصیب نه ده. دهغوی ذهنونه په رښتیا باندې دعالمانو خلاف جوړیږي، داجاهلان یوازې تبلیغ کې وتل ددین کاراوددین فکرګنې، دهغوی په خیال کې ددین نورې ټولې شعبې بې کاره دي داجهالت دکفرحدته رسیږي، چې ددین نورې ټولې شعبې فضول وګڼل شي، اوددینی مدرسووجودفضول وګڼل شي، زه داخپل خیال دلته ضرورښکاره کول غواړم چې تبلیغ کې وتلوسره چې دکوموحضراتوذهنونه ګمراه کیږي، دهغوی له پاره تبلیغ کې وتل حرام دي.

زه ددې خط یوفوټوسټیټ مرکز(رائے ونډ) ته هم لیږم چې دهغوی اکابرینوته هم پته ولګیږي چې ستاسو په شان عقل مند خلک دتبلیغ نه څه حاصلوي؟

## داجتماعي اوانفرادي اصلاح اهمیت

**سوال:** په تیروکلونو کې زموږ ګاونډي ملک کې یوبهرني طاقت قبضه لګولې ده او وخت په وخت زموږ ملک پاکستان باندې هم حملې کوي دهغوی د ارادونه معلومیږي چې دا طاقت به نورهم دمخکې تلوکوشش کوي او خدای مکړه موږ به دخپلې ازادۍ نه محروم شو، پکار خودا وه چې موږ دخپل ګاونډي دتبدیلي نه څه سبق حاصل کړی وی اودمتوقع خطرې بوی بویولو سره موږ خپلو اعمالو طرف ته توجه کړې وای اودخدای پاك دحکمونو اودنبي کریم ﷺ په طریقو باندې مو عمل کړی وای، په دې کې زموږ ددنیا اواخرت خیر و، خو عام طورچې کوم څه کیږي هغه بالکل بالعکس دي.

زه دلته په سعودي عرب کې مقیم یم موږ سره د هندوستان هندوان هم کارکوي، کله دهغوی سره دهغوی په ملك کې د رشوت، دغلاګانو، ډاکو، اسمګلنګ، ملاوټ او درغلۍ تذکره کیږي، نوهغوی دخپل ملك حالات بیان کړي اود پاکستان په باره کې پوښتنه کوي یقین وکړئ ریښتیاویلوسره چې زما د زړه کوم حال وي هغه خدای ته معلوم دی ،دا ټولې خرابي دلته ډیرې عامې دي، سره له دې چې دمسلمان اودکافرو دملك په حالاتوکې واضحه فرق پکار و، خو افسوس داسې نه ده، تاریخ ګواه دی چې کله هم مسلمان دخپل مقصدنه لرې شوی دی، نوتباهي ددوی مقدر ګرځیدلې ده اونن هم زموږ اعمال دښمن ته اوازونه کوي اوخپل طرف ته یې راغواړي.

محترم مولانا صاحب! زما په ذهن کې دا سوال دی چې دې صورت حال باندې نظر اچولو سره ډېر عام مسلمان څه فرائض دي او که چېرې یو عام مسلمان دخپل ګېرچاپېره بدعملونو نه سترګې پټې کړي او یوازې دخپل اخرت په فکر کې ولګیږي، نو ایا دا دده دنجات له پاره کافي ده؟

**جواب:** ستاسو سوال ډېر نفیس دی او اهم هم، افسوس دی چې په دې کالم کې په دې باندې د تفصیلي خبرو ګنجائش نشته، مختصر څو نکتې وړاندې کوم که چېرې غور او توجه سره یې وګورئ، نو ان شاء الله اطمینان به درته حاصل شي.

**اول:** فرد او معاشره لازم او ملزوم دي نه فرد دمعاشرې نه پرته ژوند تېرولی شي او نه معاشره له افرادو پرته جوړېدای شي.

**دویم:** فردباندې ځینې انفرادي فرائض او ذمه داري لازمې شوي دي او ځینې اجتماعي او معاشرتي.

**دریم:** دټولو ذمه دارو او فرائضو له پاره، که انفرادي وي یا اجتماعي قدرت او طاقت شرط دی، کوم شی چې دانسان دقدرت او طاقت نه بهر وي دهغه دی مکلف نه دی.[۱]

**څلورم:** دټولونه اول انسان له پاره خپل انفرادي فرائض په ځای راوړلو طرف ته توجه پکار ده[۲] (دکوم چې تاسو دخپل عاقبت فکر کولو سره تعبیر کړی دی) دې فرائضو کې دعقائدو صحیح کېدل، د اعمالو په ځای اداء کول، د اخلاقو اصلاح، دمعاشرتي حقونو ادا کول، ټول هرڅه راځي که چېرې داسلامي معاشرې افراد په خپل خپل ځای انفرادي اصلاح طرف ته متوجه شي، نوزما یقین دی چې لس کم سل فیصده معاشرتي خرابي به پخپله ختمه شي.

**پنځم:** دخپلې اصلاح سره سره موږ ته دخپل طاقت مطابق د معاشرې اصلاح طرف ته هم متوجه کېدل پکار دي، کوم ته چې شریعت امربالمعروف او نهي عن المنکر وایي او ددې درې درجې دي:

**اول درجه:** دطاقت او قوت په ذریعه بدي بندول دا دحکومت په فرائضو کې شامل دي، خو نن سبا حکومتونه د افراد و په ووټونو سره جوړیږي له دې وجې داسې افراد منتخب کول چې پخپله دبدونه ځان ساتي او حکومتي سطح باندې دبدو منع کولو او دنیکو خورولو صلاحیت لري دعوامو فریضه ده که چېرې هغوی په دې فریضه کې کوتاهي کوي، نو دوی ته به دنیا او اخرت کې ددې سزا ورکول کیږي.

---

۱] لایکلف الله نفساً الا وسعها. (سوره۲ البقره: ۲۸۶)_

۲] یٰایها الذین امنوا علیکم انفسکم....(سورة ۵ المائده: ۱۰۵) یٰایها الذین امنوا قوآ انفسکم واهلیکم ناراً.(سورة ۶۶ التحریم: ۶)_

**دویمه درجه:** په ژبې سره امربالمعروف اونهي عن المنکر دی، ددې شرائط او تفصیلات ډیردي، خو دهغو خلاصه داده چې په ژبه دویلو قدرت وي او دڅه فتنې خطره نه وي هلته په ژبې سره دعوت اوتذکره امربالمعروف اونهي عن المنکر فرض دی، خو جګړه اوفسادبه نه کوي، نه به دچاسپکاوی اوبې عزتي کوي، زموږ په دورکې دتبلیغي جماعت" دکارطریقه ددې بهترین مثال دی اودانفرادي او اجتماعي اصلاح دکیمیانسخه ده.

**دریمه درجه:** بدي په زړه سره بده ګڼل دي چې کله سړی نه په لاس سره اصلاح کولی شي نه په ژبې سره په اصلاح کولوباندې قادر وي، نوپه اخري درجه کې په هغه باندې فرض دي چې بدي ووینې اوپه زړه کې پرې غمژن وي، له هغه نه بیزاري اختیارکړي اوداللہ تعالی نه دهغه داصلاح دعاوغواړي، که چېرې یوسړی دخپل طاقت او وسعت په دائره کې اوسیدوسره پورته لیکل شوي دستورالعمل باندې عمل کونکی وي، ان شاء اللہ چې په اخرت کې به د مطالبې نه بري وي اوکوم سړی چې په دې دستور العمل کې کوتاهي کوي هغه نه ددې کوتاهي په اندازه دمطالبې ویره ده اوس وګورئ چې موږپه دې دستورالعمل باندې ترکومه حده پورې عمل کونکي یو.[۱]

## دبې علمي اوبې عملي دوبال موازنه

**سوال:** یومسلمان داسې کار پیژني چې دهغه دکولو حکم داللہ نبي ﷺ ورکړی دی اویوکار داسې دی چې دهغه دکولو نه منع شوې ده، خو مسلمان سره دپوهې هم په هغه باندې عمل نه کوي، دسوال منشا داده چې ایا یوداسې سړی به زیات ګنهګار وي چې دا ورته معلومه هم وي چې فلانکی کارګناه دی، خو دڅه وجې نه بیاهم هغه کوي، یاهغه سړی زیات ګنهګار دی چې دګناه کارپه ناپوهي کې کوي، خو ډیرپه شوق اوذوق سره یې سرته رسوي؟

**جواب:** اللہ تعالی موږ ته دکومو خبرو دکولو اودکوموخبرودنه کولو حکم راکړی دی، ددې پیژندل مستقل فرض دي اوپه هغه باندې عمل کول مستقل فرض دي[۲] چاچې ښخي زده کړي نه وي اونه یې د زده کولو کوشش وکړ هغه دوه جرمونه وکړل اوچاچې دشریعت دحکم معلومولو کوشش وکړ هغه یو فرض اداکړ یودهغه په ذمه پاتې شو، غرض دا چې بې علمي

---

[۱] عن ابی سعید الخدری عن رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم قال :من رای منکم منکرافلیغیر بیده،فان لم یستطع فبلسانه، فان لم یستطع فبقلبه وذلک اضعف الایمان (مشکوة ص :۴۳۶، باب الامر بالمعروف، الفصل الاول)۔

[۲] قال الحصکفی رحمه اللہ تعالی : واعلم ان تعلم العلم یکون فرض عین،وهو بقدر ما یحتاج لدینه، وفرض کفایة، وهو ما زاد لنفع غیره،وفی تبین المحارم: لا شک فی فرضیة علم الفرائض الخمس،وعلم الاخلاص، لان صحة العمل موقوف علیه وعلم الحلال والحرام. ..الخ. (ردالمحتار ج :۱ ص :۴۲،طبع ایچ ایم سعید)۔

مستقل جرم دی او بې عملي مستقل، ځکه د هغه سړي حالت ډیر خراب دی کوم چې د شرعي حکم معلومولو ښخي کوشش نه کوي، دویم دا چې کوم سړی د الله او د رسول ﷺ حکم پیژني هغه که چیرې د الله د حکم خلاف کوي، نو کم نه کم خپل ځان به مجرم او ګنهګار خو ګڼي، ګناه به ګناه او حرام به حرام ګڼي او کوم سړی چې په دې نه پوهیږي چې زه د الله پاك حکم ماتوم او د خپل جهل او ناپوهي په وجه سره ګنا ګناه نه ګڼم، نه هغه خپل ځان ګنهګار او مجرم ګڼي، ښکاره ده چې کوم مجرم خپل ځان مجرم نه ګڼي، د هغه حالت له چا ډیر بدتر دی چې ځان مجرم ګڼي او په خپل جرم اعتراف کوي، دریم دا چې کوم سړی ګناه ګناه ګڼي، نو کم نه کم هغه ته به د توبې او استغفار توفیق خووي او کېدای شي چې څه وخت هغه ته پخپل حالت پښیمانتیا وشي او هغه د ګناه نه توبه وباسي، خو چې کوم جاهل ته دا معلومه نه وي چې زه ګناه کوم هغه به هیڅ کله هم توبه او استغفار نه کوي او نه د هغه په باره کې دا توقع کېدای شي چې هغه به د دې ګناه نه منع شي، ښکاره ده چې دا حالت د اول حالت نه زیات خطرناك دی، الله تعالی دې هر مسلمان د خپل غضب نه محفوظ کړي.

## د زلزلې سببونه څه دي او مسلمان ته څه کول پکار دي

**سوال:** په کراچۍ کې زلزله راغله، د اسلامي عقائدو مطابق موږ اوریدلي دي چې زلزله د الله عذاب دی، مهرباني به مو وي که خبر راکړئ چې زلزله څه شی دی؟ واقعي عذاب دی یا د ځمکې نه ګیس خارجیږي یا یوه اتفاقي حادثه ده؟ که چیرې دا د الله تعالی عذاب وي، نو موږ ته څه کول پکار دي؟

**جواب:** د زلزلې څه طبعي اسباب هم شته، کوم چې د طبقات ارض ماهرین بیانوي، خو له دې نه پرته هم زلزله راځي، په هرحال د دې زلزلونه یو مسلمان ته عبرت حاصلول پکار دي او اسبابو پیدا کولو والا د الله تعالی اراده ده او ځینې وخت د طبعي اسبابو د دعا او استغفار د صدقې او خیرات او د ګناهونو د پریښودلو اهتمام پکار دی.[۱]

## د یوسك شاهي استدلال

**سوال:** په پردي وطن کې سکان موږه تنګوي چې د دې سوال جواب د خپلو عالمانو نه واخلئ، سوال دا دی چې هر سړی پیدائشي طور باندې سك وي هندو یا مسلمان وروسته جوړول کیږي ، دلیل دا وړاندې کوي چې پورتنی ذات (الله تعالی) چې په کوم حالت کې

---

[۱] عن ابی موسی قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: امتی هذه امة مرحومة،لیس علیها عذاب فی الآخرة،عذابها فی الدنیا الفتن والزلازل والقتل.رواه ابوداؤد.(مشکوة ص: ٤٦٠).وفی المرقاة:لیس علیها عذاب ای شدید فی الآخرة بل غالب عذابهم انهم مجزیون باعمالهم فی الدنیا بالمحن والامراض وانواع البلایا.(مرقاة شرح مشکوة ج:٥ ص:١٢٩)۔

تاسو راليږلي يئ تاسو ته هغه ښه ولي نه ښکاري، مختلف قسم تبديلي ولي کوئ، يعنې ويښته پريکول يا سنت کول او داسې نور...ايا هغه غلط جوړ کړي يئ؟

**جواب:** دغو خلکوته دا جواب ورکوئ چې ماشوم کله پيداشي دهغه غاښونه هم نه وي هغه هم ترې وباسئ اوکه چېرې په چاکې پيدائشي طورباندې نقصان وي چې دهغه له پاره اپريشن ضرورت وي هغه به هم نه کيږي؟

## مړ پيدا شوی بچی به اخرت کې ژوندی کيږي

**سوال:** ديوې مورنه پيداشوی مړبچی به جنت يا اخرت کې پورته کيږي؟ ځکه چې ژوندی بچی، خو به ضرور اخرت کې پورته کيږي لږ وضاحت يې وکړئ.

**جواب:** کوم بچی چې مړ پيدا شو هغه به هم پورته کيږي اودخپل مورو پلار شفاعت به کوي[1]

## مريخ وغيره باندې انساني ابادي

**سوال:** ايا د انسانانو ابادي دې ځمکې (په کومې باندې چې موږ اوسيږو) نه پرته هم چېرته شته؟ لکه مريخ وغيره .زما مطلب دادی چې د اسلام مطابق دا ممکنه ده اوکه نه اوکه چېرې شته، نوانبياء کرام خو يوازې دې ځمکې ته راليږل شوي دي په کومه باندې چې موږ اوسيږو، که چېرې ممکن وي، نو هغه خلک به حج وغيره څنګه کوي؟

**جواب:** تاسو دې ځمکې دمخلوقاتو خبره کوئ، که چېرې مريخ او عطارد وغيره باندې انساني مخلوق وي، نو الله تعالی به دهغوی دهدايت او حج وغيره انتظام هم کړی وي، تاسو هغوی دې معامله کې الله تعالی ته پريږدئ.

## ايا مصيبتونه او تکليفونه په بد نصيبه خلکو باندې راځي

**سوال:** زه ذاتي اعتبارباندې دهرزيات خوش قسمته يم، خو ډېر بدنصيبه خلک مې ليدلي دي، د پيدائښ نه ترمرګ پورې بدنصيبه، قران کريم کې دي چې الله تعالی چاته دهغه

---

[1] واذا استبان بعض خلقه غسل وحشر هو المختار.وفى الشرح : قوله وحشر المناسب تاخيره عن قوله هو المختار لان الذى فى الظهيرية والمختار انه يغسل وهل يحشر؟ عن ابى جعفر الكبير انه ان نفخ فيه الروحه حشر والا لا،والذى يقتضيه مذ هب اصحابنا انه ان استبان بعض خلقه فانه يحشر،وهو قول الشعبى وابن سيرين اهـ ووجهه ان تسمية تقتضى حشره اذ لا فائدة لها الا فى ندائه فى المحشر باسمه، وذكر العلقمى فى حديث سموا اسقاطكم فانهم فرطكم الحديث فقال : بعضهم هل يكون القسط شافعا ومتى يكون شافعا هل هو من مصيره علقة ام من ظهور الحمل ام بعض مضى اربعة اشهر ام من نفخ الروح؟ والجواب ان العبرة انما هو بظهور خلقه وعدم ظهوره كما حرره شيخنا زكريا رحمه الله.(فتاوى شامى ج:۲ ص:۲۲۸) ايضاً :الطفل يجر بابويه الى الجنة. (طبقات الكبرى لشافعيه ج :٦ ص:۳۰۹،طبع دار احياء الكتب العربية،مصر)_

دبرداشت نه زیات تکلیف نه ورکوي، خوماځینې خلک لیدلي دي چې هغوی دتکلیف اومصیبتونونه دومره تنګ شوي دي چې هغوی خودکشي وکړي، اخرداسې ولې وي؟ اوقران کریم کې دي چې چاته دهغه دبرداشت نه زیات تکلیف نه ورکول کیږي، نوبیاخلک خودکشي ولې کوي؟ ولې پاګلان شي؟ اوکه ځینې ژوندي هم وي، نوپه بدترحالت کې وي، ددې سوال جواب دقران کریم او احادیثو په رڼا کې راکړئ چې د انساني عقل په جواب باندې تسلي نه کیږي، دنیاکې دیونه یو ارسطو موجود دی او هریو دخپل عقل مطابق جواب ورکوي او دټولو جوابونه بدل بدل وي، تاسوجواب دقران او احادیثوپه رڼا کې راکړئ، امیددی چې جواب به ضرورراکوئ.

**جواب:** دقران کریم دکوم ایت حواله چې تاسوورکړې ده، دهغه تعلق شرعي حکمونوسره دی[۱] او مطلب یې دادی چې الله تعالی خپل بندګان دداسې حکم پابندنه جوړوي کوم چې دهغوی دهمت اوطاقت نه بهروي دکوم حدپورې چې دمصیبتونواوتکلیفوتعلق دی اګرچې دایت مبارک دهغې باره کې نه دی، خوبیاهم داخبره په خپل ځای باندې صحیح ده چې الله تعالی په چاباندې دومره مصیبت نه اچوي کوم چې دهغه دبرداشت نه بهروي، خوځنګه چې بل ځای کې ارشاد فرمایل شوی دی چې: ,,انسان کمزوری واقع شوی دی، هغه ته که معمولي تکلیف هم ورسیږي، نو هغه چغې وهل شروع کړي اواسمان په سرر واخلي،،[۲] کوم بزدله خلک چې دمصیبتونونه تنګ راتلو په وجه باندې خودکشي وکړي، دهغې وجه دانه وي چې دهغوی مصیبت د برداشت دحدنه زیات و، بلکې هغوی یې دخپلې بزدلي په وجه باندې دبرداشت نه بهرګڼلوسره همت وبایلي، حالانکې که چیرې هغوی لږشان دصبراوهمت نه کارواخلي، نوداتکلیف به برداشت کولی شي، غرض داچې انسان باندې داسې مصیبت نه نازلیږي کوم چې هغه نه شي برداشت کولی، خو اکثر انسان دخپلې غلط فهمي په وجه باندې دهمت اوقوت نه کاروانخلي، دیوشی دانسان دبرداشت نه بهرکیدل جداخبره ده اود یو شي دبرداشت کولوهمت اوطاقت نه استعمالول جداخبره ده، دې دواړوکې دځمکې اواسمان فرق دی، یو دادی چې یوشی دیوانسان دطاقت نه بهروي اویو د یو انسان یو شی دخپل طاقت نه بهرګڼل دي، که تاسوددې دواړوپه فرق باندې پوه شوئ، نو ستاسو تکلیف به ختم شي.

---

۱] قوله تعالی: لایکلف الله نفسا الا وسعها...سورة۲ بقره: ۲۸۶،، الوسع الطاقة قاله ابن عباس وقتادة ومعناه: لا یکلفها مالا قدرة لها علیه لاستحالته، کتکلیف الزمن السعی والاعمی النظر. (تفسیر زاد المسیر ج: ۱ ص: ۳٤٦). ایضا: بیان القرآن ج: ۱ ص: ۱۷۵، تفسیرروح المعانی ج۳ ص: ٦۹، تفسیر قرطبی ج: ۳ ص: ٤۲۵)

۲] ان الانسان خلق هلوعا،.....والهلوع الحریص علی ما لایحل له........قال مقاتل: ضیق القلب والهلع شدة الحرص وقلة الصبر اذا مسه الشر جزوعا لا یصبر...الخ. (تفسیر مظهری ج: ۱۰ ص: ٦۵)۔

## د ټولو جرمونو معافي وغواړئ

**سوال:** کراچۍ کې نن سبا د الله تعالی عذاب راغلی دی، قران مجید کې په ډېرځایونو کې په تیروشویو قومونوباندې دعذاب راتلو ذکرموجوددی، کله چې قومونه دالله تعالی نافرماني کوي، نوهغوی باندې عذاب رالیږل کیږي، موږ هم نافرمان یواوشپه ورځ دالله تعالی په نافرماني کې مصروف یو، خودیوځوکالوراهیسې موږ اجتماعي طورباندې نافرمانه شوي یو،دیوځوکالوراهیسې مختلف سیاسي پارټو دخپلوممبرانونه چندې سره سره فطره، صدقه، زکات اوخیرات وغیره اخستل شروع کړي دي اودهغو څه برخه مستحقو خلکوته او زیاته برخه په خپلو خرچو او وسلووغیره اخیستلوباندې خرچ کوي، دکراچۍ هغه خلک کوم چې بهرملک یعني دبۍ، سعودي عرب یامسقط وغیره کې دي، هغوی همدابنه کارکنلوسره دې کې برخه واخیستله اواوس دې باندې عمل کوي اودصدقې،زکات او خیرات وغیره له پاره الله تعالی اودهغه رسول ﷺ باقاعده حکمونه واضح کړي دي،دې کارطرف ته عالمانو کله هم توجه نه ده ورکړې، تاسوته خواست دی چې دې باره کې وضاحت وفرمایئ اومخکې شوي عملونوباندې به دتوبې کولوڅه طریقه وي؟ ایاهغه زکات،خیرات،صدقه اوفطره وغیره به په دویم ځل ورکول وي؟

**جواب:** صدقه،زکات،دقرباني څرمنې پیسې که چیرې صحیح ځای کې خرچ نه شي، نوهغه زکات اوصدقات ادانه شول اودصدقې ثواب نه ورکول کیږي.

ستاسوداخبره صحیح ده چې دڅه وخت راهیسې زکات، صدقې اودقرباني څرمنې نااهله خلکوته حواله کړل شوي دي اوهغوی یې په ډېره بې دردۍ اوبې پروایۍ سره خرچ کوي، حدیث شریف کې دي ته د قیامت نښې ویل شوي دي، ښکاره خبره ده چې ددې بې احتیاطي په وجه باندې به دالله تعالی عذاب نازلیږي اوددې نه پرته نورډېرزیات ګناهونه اوبدۍ دي، رشوت په څه کې چې موږ خلک اجتماعی طورباندې مبتلاشوي یو، دښځو بې پردګي اوعریاني، ګانې بجانې،ټي وي ډش انټیناپه شان لعنتونه عام دي.

دتوبې او استغفار طریقه داده چې موږ کومو کومو ګناهونو کې مبتلایودهغونه رښتوني زړه سره توبه وکړو اودالله تعالی نه دخپلو ټولوجرمونومعافي وغواړو، خاص طور باندې دفتنې اوفساد نه دځان ساتلوپخه اراده وکړو، دپاکستان عوام دالله تعالی نافرماني کولو سره یوه ښځه خپله مشره جوړه کړې ده، دې نه خاص طورباندې توبه کول پکاردي.

## په مور و پلار باندې د لاس پورته کونکي سزا

**سوال:** که چېرې د چا زوی يالورنه يوکس خپل مورپلار باندې لاس پورته کړي(يعني ويې وهي)، نوشرعا په دنياکې اوپه اخرت کې به يې څه سزا وي؟

**جواب:** د اولاد پخپل مور و پلارباندې لاس پورته کول ګناه کبيره او انتهايي رذيلتوب دی، په دنيا کې دده سزا داده چې هغه به هميشه خوار او ذليله وي،دررزق تنګي،ذهني پريشاني اود زنکدن سختي کې به مبتلاوي اواخرت کې دده سزا داده چې هغه به جنت ته نه داخليږي، ترڅو چې دخپلو کړو سزا ورته ملاو نه شي، ياېې مور و پلار معاف نکړي الله تعالی دې موږ دمور پلار دګستاخي او ددې دبدانجام نه محفوظ کړي.

## د موربې ځايه خفګان باندې به نيول نه کيږي

**سوال:** زما واده دڅوارلس کالوپه عمرکې شوی و، نن اووه ويشت کاله شوي دي پلارمې د واده نه مخکې وفات شوی و، يوازې يو ورور اومورمې ده، په اول کې د کم عمري له وجې دخپلې مورپه خبرو کې راغلم اودخاوند نافرماني مې وکړه، د واده نه لس کاله وروسته فورا ماخپل ځان بدل کړ اودخپل خاوند تابعداره شوم، زما شپږبچي دي، يوهلك اودوه جينکۍ ځوانان دي، پاتې درې واړه دي،ماخپل اولاد مذهبي ماحول کې لوی کړي دي، دوی سي ار پشان لعنت نه ما اونه زما لوبولېدلی دی، زما خاوندنن سبا يوسرکاري عهدې باندې سعودي کې دی، زه دلمانځه پابنده يم زه دالله پاك نه ډېره ويريږم، چې لمانځه ته اودريږم، نودالله تعالی دويرې نه رپيږم،بس دا ويره راسره وي چې چېرته ماته سزا رانکړل شي، ځکه چې دکله نه زه دخپل خاوند هره خبره منونکې جوړه شوې يم، نو مور مې زما نه خفه وي او زماخاوند دهغې هرقسم مددکاو، خو هغه په معمولي خبره باندې يعنې دخپل زوی يااينګور يابل کوم خپلوان په خبروباندې خفه شي اوبدې ردې شروع کړي،ماسره هغې ته په جواب ورکولوباندې هم ويره وي، بچي هم کله خبرې وکړي، نوماته هغه ډېرې خبرې وکړي.

**جواب:** دمورخو خواهش وي چې زما لور په خپل کور کې خوشاله وي، تعجب دی چې ستاسو دمور رويه ددې بالکل برعکس ده، په هرحال ستادمورخفګان بې ځايه دی، تاسو د خپلې مورسره چې څومره مالي او بدني مددکولی شئ، کوئ يې او دهغې ګستاخي اوبې ادبي بالکل مه کوئ ددې باوجودکه چېرې هغه خفه وي، نوستاسو قصور نه دی ستاسو به انشاء الله په دې باندې هيڅ مواخذه نه وي.

# د مورو پلار له مرګ نه وروسته نافرمانه اولاد هغوی له پاره څه وکړي

**سوال:** د مورو پلار له وفات نه وروسته هغه کومې طریقې دي چې په هغو سره هغوی ته زیات نه زیات ثواب ورسول شي؟

**جواب:** بدني عبادات او مالي عباداتو سره دثواب رسول مثلا: نفلي لمونځ ،روژه، صدقه، حج، تلاوت، درود شریف ،تسبیحات،دعا او استغفار.

**سوال:** مورو پلار سره ښه سلوك(چلن) کولو ډېر حکمونه دي، خو که چېرې دمور پلار د ژوند دوران کې اولاد دمور پلار سره ښه سلوك نه کوي اومورپلار مړه شي اوبیااولاد سره ددې خبرې احساس وشي او دهغوی ضمیر هغوی ملامته کړي چې زمانه خوډېره لویه غلطي شوې ده، نو بیا هغه کومې طریقې دي چې داولاد دا کفاره (اداشي اوضمیر) زړه) یې هم مطمئن شي اومورپلار اوالله تعالی دواړه داولاد نه خوشاله شي او معاف یې کړي.

**جواب:** په حدیث کې دي چې یوسړی دمورو پلار په ژوندکې دمورو پلار نافرمانه وي، خو دمور دمرګ نه وروسته پخپله ناپوهي باندې ورته پښیمانه شي اوهغه دمور و پلار دحقونو بدله داد کولو له پاره دهغوی په حق کې برابر دعا اواستغفار کوي، تردې چې الله تعالی هغه دمورو پلار فرمانبرداروکې ولیکي.

**سوال:** جناب تاسوپه جنګ اخبارکې دیوسوال جواب ورکړی دی چې" یوسړی دمور و پلار په ژوندکې دمورپلار نافرمانه وي، خو دمور و پلار د وفات نه وروسته هغه ته پخپله کم عقلي باندې پښیمانتیا وشي اوهغه دمور و پلار دحقونو بدله ادا کولو له پاره دهغوی په حق کې هر وخت دعا او استغفار کوي تردې چې الله هغه دمور و پلار فرمان بردارو کې ولیکي".تاسو دیوسوال جواب اسان ورکړ او ورسره داهم چې دا دحدیث مطابق دی داخو داسې ده چې یومالدارسړی دی یوغریب سړی ووژني اودمقتول وارثانوته قصاص ادا کړي اوځان خلاص کړي، خو د قصاص ادا کولو هم څه شرعي قانون شته، په ژوند خو یې ورته د ارام ژوند ورنکړ او چې مړشو، نوپه قبرباندې یې ورته ډیوې بلول شروع کړل ، په داسې سجدو سره الله تعالی نه ملاویږي په ژوندیې مورو پلار تنګ وساتل اودهغوی نافرماني یې وکړه، هغوی یې درپه درکړل دهغوی حقونه یې ادا نه کړل، پوندې یې وهلې وهلې موروپلاریې بې ګوروکفن مړه شول او اولادیې دپلار دیګونه پخوي اوالله تعالی یې د اولاد ښښنه وکړه مولانا صاحب داپه کوم حدیث کې دي تاسو لږ مکمله تشریح وکړئ چې موږهم په دې باندې عمل وکړو حضرت امام حسین رضی الله عنه یې شهیدکړ او یزید پښیمانه شو، ایا الله تعالی هغه معاف کړ، که چېرې دمور پلار حقونه بس دومره پوره وي، نوبیاموروپلار دا دعا نه دي غوښتل پکار چې الله دې زموږ اولاد نیك اوفرمانبردار جوړکړي.

**جواب:** هغه حديث کوم چې ماپخپل جواب کې ذکر کړی و په مشکوة شريف کې دی او دهغه الفاظ دادي:

**عن انس رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان العبد ليموت والده اواحدهما وانه لهما لعاق فلايزال يدعولهما ويستغفر لهما حتى يكتبه الله بارا (مشكواة باب البر والصله صفحه ۴۲۱) (رواه البيهقى فى شعب الايمان).**

"حضرت انس رضي الله عنه دنبي کريم ﷺ ارشاد نقل کوي چې ديوبنده مورو پلار يا يو ددې نه په داسې حالت کې وفات کيږي چې دی دهغوی نافرمان و، دی هميشه هغوی له پاره دعا او استغفار کوي، تردې چې الله تعالى هغه دمورپلار فرمانبرداروکې وليکي".
دحديث حواله ورکولونه وروسته زماذمه داري ختميږي او تاسوچې خپل خدای درکړي عقل سره دکومو شُبهاتواظهارکړی دی ددې جواب ورکول زما په ذمه نه دي، خو ستاسو دخيرخواهي له پاره ځوخبرې عرض کول مناسب دي:

**اول** : فرض کړئ چې يوهلك دمورو پلار نافرمانه دی، هغوی ته بې حده تکليف ورکړي ،دهغوی بې ادبي اوبې عزتي کوي او مورو پلار دده په حق کې ذمرګ دعاګانې کوي، لس شل کاله وروسته ديو نيك بنده په صحبت سره يادبل څه وجې نه هغه ته دخپلې غلطي احساس وشي هغه دخپلې دې رويې نه منع شي اوپه سونوتوبه او ندامت دمورو پلارنه دمعافي طلبګارشي اوبيادهغوی داسې خدمت او اطاعت کوي چې دمخکې ژوندکمی هم پوره کړي، مورو پلار دهغه نه راضي شي او دده پاتې ژوند په همدې نيك حالت باندې تيرشي، ووايئ ايا داسړی به دخپل سابقه حالت دوجې نه " دمور پلار نافرمانه" ګڼل کيږي ؟يابه ده ته دمورپلار فرمانبرداره ويل کيږي؟ ښکاره ده چې ددنيا هيڅ يو عقلمند به هغه ته د" مورو پلار نافرمانه " ونه وايي، بلکې دهغه مخکې غلطي به دمعافي لائقه ګڼل کيږي.

**دويم** : دعامو انسانانو نظر،خودنيوي ژوندپورې محدود وي، خو د انبياءکرامو عليهم السلام نظرکې ددنيا ژوند بيخي ژوند نه دی، بلکې دژونددتسلسل يوه مرحله ده،مرګ دژونداخري حددی، بلکې دژوند ديودورنه بل دور ته دتلو نوم دی.

**دريم** : مور و پلار د ژوند په اوله مرحله کې که چېرې د اولاد دخدمت محتاج وي، نو د مرګ نه وروسته هم دخپل مغفرت يا د درجاتو د ترقي له پاره دهغوی اولاد ته ضرورت دی او دا حاجت د دنياوي حاجت نه ډېر زيات وي، په دې دنياوي ژوندکې، دانسان خپل ضرورتونه څه نا څه طريقې سره پخپله هم پوره کولی شي، دچانه مددهم اخستلی شي اوچاته دخپل زړه غم اورولو سره کم نه کم دزړه بوج سپکولی شي، خو که

خدای مکره په قبرکې څه تکليف وي هغه نه پخپله دفع کولی شي، نه چاته د مدد له پاره اواز کولی شي، که چېرې دهغه څه مدد کېدای شي، نو دهغه له پاره دعا او استغفار او د ثواب رسول دي چې هغه لاره الله تعالی پخپل رحمت سره پرانستې ساتلې ده.
ددې درې مقدماتو نه وروسته زه عرض کول غواړم چې کوم زوی لس شلوکلنو پورې مورو پلارته تکليف ورسوي اوتوبه وکړي اودمور و پلار په خدمت او اطاعت کې ولګيږي دهغه فرمانبردار کېدل، خوستاسو په عقل کې راځي، خو چې کوم سړی دمور و پلار د وفات نه وروسته دخپل ګنهګار مور و پلار له پاره دعا او استغفار، صدقه اوخيرات اوايصال ثواب کوي تردې چې د استغفار او دعا په برکت الله تعالی دهغه دګنهګار مور و پلار ببنښه کوي، مور و پلار دهغه نه راضي کيږي اوالله تعالی دمور و پلار راضي کېدو له وجې هغه دمور و پلار فرمانبردارو کې شماري، دهغه فرمان برداره کېدل ستاسو په خدای درکړي ذهن کې نه راځي، ددې وجه له دې پرته بله څه کېدای شي چې ستاسو نظر يوازې دې ژوندپورې محدود دی او دمرګ سرحدنه پورې غاړه کتلونه معذوره دی، ځه !ددې هم څه باك نه و، خو تعجب له پاسه تعجب خودا چې نبي کريم ﷺ د اطلاع الهي په ذريعه دعالم غيب يوخبروركوي (کوم چې دعقل او معرفت په معيارباندې سل په سلو پوره خيژي) خو ستاسو پخپل محدود عقل باندې دومره ناز دی چې له څه تکليف پرته په ارشاد نبوي ﷺ باندې اعتراضات شروع کړئ، ايا يوامتي له پاره دخپل معصوم نبي ﷺ له ارشاداتو سره دا سلوك ښکار دی؟

**خلورم** :جناب تاسودخپل ذهانت نه ددې حديث نه دانتيجه هم اخستې ده چې ګويا په دې حديث کې اولاد ته ترغيب ورکړل شوی دی چې هغوی دې ښه په مړه ګېډه خپل مور و پلار ته تکليف ورکوي اودهغوی دمرګ نه وروسته دې دعا او استغفار غواړي، حالانکې ددې بالکل برعکس په حديث کې دمور و پلار دخدمت اواطاعت تعليم ورکړل شوی دی، تردې چې کوم خلک دخپلې ناپوهي له وجې دمور و پلار په ژوندکې دانيك بختي حاصله نه کړي هغوی به هم نه نااميده کيږي، ځکه چې تراوسه پورې هغوی له پاره دمور و پلار خدمت او دوفادراي لاره پرانستې ده، هغه دا چې دمور و پلار کومې نافرماني هغوی کړې دي، دهغو نه توبه وکړي، پخپله نيك شي او ددعا او استغفار په ذريعه دمور و پلار دبښنې سفارش دالله تعالی په دربار کې وړاندې کړي، دده دتوبې، نيکي اودمور و پلار له پاره دعا او استغفار په برکت سره به دده پخپله هم ببنښه وشي او دده دمور و پلار هم، ګويا دواړه به دالله تعالی درحمت چينه جوړه شي اوجنت ته به داخل شي.
عرض دا چې په حديث کې دمور و پلار دفرمانبرداري يو داسې تدبيرښودل شوی دی چې ددوی د وفات نه وروسته هم د دوی د رضاحاصلولو ذريعه ګرځيدلی شي، دې له پاره چې

دا ډول خلک هم نااميده نه شي، بلکې د ژوند په هره مرحله کې چې همدوی ته هوش راشي،دمور وپلارپه راضي کولو اوددوی خدمت په سرته رسولوکې دې کوتاهي نه کوي.

**پنځم**: دنبي کريم ﷺ کوم مقدس ارشاد چې په پوهه کې رانه شي دهغه په باره کې دطالب علم په حيثيت سره درخواست په شکل سوال کولو کې څه باك نشته ، خو دسوال تلفظ مودبانه پکار دی، په ارشاد نبوي ﷺ باندې جارحانه انداز کې سوال کول، څنګه چې ستاسو دخط نه ښکاري، ډېره بې ادبي ده اودا ناکاره دداسې سوالونوجواب نه ورکوي، خو ستاسو رعايت کولو سره مې جواب ليکلی دی، زما د اخلاص او دشفقت نصيحت دی چې اينده کې په داسې انداز سوال کولو نه ځان وساتئ.

## د عذاب درجې

**سوال:** قران پاک کې دهدهدله پاره دغيرحاضري له وجې دسزاپه طورباندې داالفاظ راغلي دي، لاعذبنه عذاباً شديداً اولاذبحنه، سورت مائده کې دمن اوسلوا په ناشکري باندې هم دالفاظ راغلي دي فاني اعذبه عذاباًلااعذبه. اول قول دحضرت سليمان عليه السلام او دويم دالله تعالی ډی، تقريبا يوشان دي اود هدهد اود بني اسرائيلو په جرم کې دځمکې اواسمان فرق دی، ديوې ورو کې مرغۍ له پاره دغذابا شديدا الفاظ دمبالغې الفاظ ښکاري.

**جواب:** عذاباً شديداً اوعذاباً لااُعذّبه احد من العالمين،، کې هم هغه شان دځمکې اواسمان فرق دی، څنګه چې د هدهد اودبني اسرائيلو په جرم کې فرق دی، دشديدعذاب درجې هم مختلفې وي اوچاته چې عذاب ورکول کيږي، دهغوی حالات هم جداوي، هدهدغريب په پنجره کې يوازې بندول هم شديدعذاب دی، دانبياء کرامو عليهم السلام په الفاظوکې مبالغه نه شي کېدای.

## هرچا سره ملاويدنکې ښځه

**سوال:** يوصحابي شکايت وکړچې زماښځه دهرغوښتونکي خواهش پوره کوي، حضور ﷺ وفرمايل هغې ته طلاق ورکړه، صحابي (رضي الله عنه) عرض وکړ، چې زه له هغې نه پرته نه شم اوسيدای، حضور ﷺ ورته وفرمايل: نوبيادهغې نه فائده واخله ، داروايت څنګه دی؟ داهم د درايت خلاف معلوميږي؟

**جواب:** مشکات شريف کې باب اللعان فصل ثاني کې دا دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی اوددې په رفع او وقف کې اختلاف نقل کولوسره دامام نسايي قول دی ليس ثابت، اګرچې ددې تاويل هم کيدای شي چې ' لاترد يد لابس، نه مراد دادی چې هرچاسره ملاويږي، يا داچې حضور ﷺ ته به داويره پيداشوي وي چې دهغې دمحبت په وجه

باندې به دی په حراموکې مبتلاشي.

## د مدرسو او جماتونو د رجسټریشن حکم

**سوال:** نن سبا چې ددینې مدرسو اوجوماتونه(چې دالله تعالی له پاره وقف وي) رجسټرډ کیږي، نوددې رجسټریشن په وجه باندې ایادهغو دالله تعالی له پاره دوقف شوي حیثیت پاتې وي؟ ددې رجسټریشن په وجه باندې دوقف په حیثیت باندې څه اثرخونه غورځیږي؟ دې باره کې راته ددې شکونوجواب پکاردی:

۱ : ایا ددې په وجه باندې دالله تعالی له پاره دوقف حفاظت نورهم زیات شي؟

۲ : ددې په وجه باندې دمسلک حفاظت وشي؟

۳ : ایادبهرني اودنني شرونونه هغه اداره اوهغه سره تعلق لرونکي محفوظ شي؟

۴ : شورا (یعني رجسټرډشویو خلکو) ته داخلاص اوتوجه سره دکار کولوسهولت ملاوشي؟ او د رجسټریشن دعدم جوازپه سلسله کې دیوې فتوا حواله هم ورکول کیږي.

دې باره کې چې کله دحضرت مولانامفتي محمدجمیل احمدتهانوي صاحب زیدمجده جامعه اشرفیه لاهور، مولانا مفتي زین العابدین زیده مجده دارالعلوم فیصل اباد، مولانا مفتي عبدالرؤف صاحب زیده مجده دارالعلوم کراچی، مولانا مفتي ولي حسن ټونکي زیدمجده جامعه علوم اسلامیه علامه بنوري ټاون کراچی، طرف ته رجوع وشوه، نوهغوی دالیکل شوی جواب ورکړ:

## د حضرت مفتي احمد جمیل احمد تها نوي صاحب فتوا

**سوال:** مدرسه مظاهرعلوم سهارنپورزموږ پخوانی مدرسه ده، د کومې شورا، مشران ممبران او اکابرین چې دهندوستان عالمان دي، دې وخت کې هم دالله تعالی په فضل باندې ددې مدرسې ممبران اوچت عالمان، دین داراومالدارسوداګران دي، مدرسه اوسه پورې رجسټرډشوې نه ده، ددیوبنددارالعلوم دفتنې نه وروسته دمدرسې د شورا ممبرانو او مدرسې سره همدردي ساتونکي حضراتو دمدرسې دحفاظت اوبهرني اودنني شرونونه بچ کولوله پاره دمدرسې رجسټرډکول وغوښتل، دشورا دمجلس باقاعده اجلاس کې(کوم چې دحضرت مولاناانعام الحسن صاحب دامت برکاتهم دناروغی له وجې نظام الدین کې وشو) دافیصله وشوه چې دمدرسې مظاهرالعلوم شورا دې رجسټرډ کړل شي،دسوسائیټز رجسټریشن ایکټ مطابق دهرې یوې ادارې له پاره درې عهدې ضروري وي، نمبر۱ : صدر، نمبر۲ : سیکرټري، نمبر۳ : خازن، د سیکرټري له طرف نه به درجسټریشن په دفترکې درجسټریشن درخواست جمع کیږي.

حضرت مولانامحمد طلحه صاحب دامت برکاتهم سیکرټري مقررکړل شو، وروسته دهغه په

دستخط باندې درجسټريشن درخواست جمع کړل شو، چې هغه باندې کارشروع دی
پوښتنه کونکي نه دسوسائټيزايکټ باره کې درجسټريشن کونکي ماهرانواو وکيلانونه د
رجسټريشن ايکټ اود رجسټريشن کولو دطريقې باره کې معلومات معلوم کړل، هغه
تفصيلات هم خط سره دي، دهغې نه اندازه کيږي چې درجسټريشن له وجې ديوې ادارې
وقف ته هيڅ نقصان نه رسيږي اونه دې کې دحکومت څه مداخلت شته، بلکې د
رجسټريشن نه وروسته اداره دملک دقانون مطابق دهغې حيثيت داسې شي چې په رښتيا
دايوه قانوني ادراه ده اوکه چيرې بهرنی يادننی څه شر پيداشي،نودملک دقانون مطابق به
دې ته حفاظت حاصل وي، دې حالاتوکې تاسونه غوښتنه ده چې ايادې صورت کې
رجسټريشن کول شرعي طور باندې جائزدي اوکه نه؟

پوښتنه کونکی : صغيراحمد لاهور

ازاحقرجميل احمدتهانوي سابق مدرس مظاهرالعلوم سهارنپور، مفتي خانقاه اشرفيه تهانه بهون حالا مفتي جامعه اشرفيهٔ لاهور،داعرض کوي چې ستاسوپه استفتاء کې يوازې دوه شيان دي، دهغه باره کې تفصيلات دادي:

۱ : رجسټريشن شرعي طورباندې ضروري دی اونه کولوباندې ګناه ده، داخونه شي ويل کېداې، خودې ته ناجائزهم نه شي ويل کېداې، څنګه چې ټولوبيع نامو، هبه نامو، وقف نامو، اقرار نامو او اوس له ډېروخت نه دنکاح نامورجسټريشن جائزدی، خوشرعي طور باندې ضروري نه دی چې دهغه نه پرته هغه شی صحيح نه وي يادهغه نه پرته ګناه وي، نه دی اويوقسمه دحفاظت قانون ضروري دی اود سوونوکلنو پرته له څه نکيرنه د مسلمانانوپه دې باندې عمل دی اود ډېر وخت نه خونکاح ګانو، جماتونو، تنظيمونو، ديني اوغيرديني مدرسو،دفلاحه کار کونکو ادارو رجسټريشن عام دی، کوم چې د حفاظت له پاره يوښه کاردی، خاص طورباندې دې زمانه کې چې د انګريزانو د جمهوريت دوکه کونکو نعرو اوچت اوچت دماغونه دوکه کړي دي، د اکثريت له وجې دوی دحکومت له طرف نه دهغو په مددباندې شخصي قومي، بلکې خدايي وقف شيانوباندې هره ورځ ډاکې اچوي،که چيرې درجسټريشن له وجې ددې حفاظت کېداې شي، نو هريوکس باندې دخپل ملکيت اوهر مسلمان باندې دالله تعالی دملکيت يعنې وقف شيانوحفاظت واجب دی، تردې چې ددې په حفاظت کې من قتل دون ماله فهو شهيد ته تلوپورې اجازه دی اورجسټريشن دحفاظت ذريعه ده، نويوه درجه کې داضروري دی، خاص طورباندې دې زمانه کې کله چې داسې ډاکې عامې شوي دي، مقدمة الواجب واجب وي، ويلوهم ګنجائش شته، خودحفاظت نورې طريقې هم شته.

دې ته مداخلت فی الدين ويل هيڅ حقيقت نه لري، د سوونوکلنونه ټولوخلکوته د مختلفو شيانودرجسټريشن تجربه کيږي، چې درجسټريشن له وجې دحکومت په نکاح

کې، جومات کې یا بله څه اداره کې نه څه مداخله شته او نه درجسټریشن په قانون کې ددې څه ګنجائش شته او دمخالفینو مداخلت نه ورکې څه حدپورې حفاظت موجود دی اودا ټولو شیانو کې شته او د ټولو څه تجربه هم شته.

۲ :دافتوا دیو څو وجوهاتو له وجې داعتبار قابل نه ده.

الف : دمدرسې دمفتي اعظم مولانا مفتي محمود حسن صاحب د دستخط نه پرته ده، چېرته د ناتجربه کاراو نوي کس خیال دی، حقیقت دمفتي اعظم نه معلومیږي.

ب :دستخط کونکو کی څوک دفتوا ماهر نشته،دغه شان دهرکس ناکس په زرګونو دستخطونه داعتبار قابل نه دي.

ج : مولانا محمد یحیی پخپله باندې دمدرسې محنت کونکی مدرس دی، دډېرو کلنو راهیسې په مدرسه کې کارکونکی دی، هغه وایي چې ماته دسوالونو باره کې هیڅ علم نشته،دا کارونه کوموباندې چې فتوا ورکړل شوې ده، که چېرې صحیح وي، نو مدرسه کې د ډېرو کلنو راهیسې موجود مفتي به ددې نه څنګه بې خبره و؟

د : مفتي محمد یحیی صاحب هم داوایي چې پته نشته چې حقیقت کې هم داسې دی اوکه څه نورڅه دي، هغه وویل چې ترڅوپورې دواقعاتو تحقیق ونه شي، فتوا صحیح نه ده، له دې وجې یې د دستخط نه معذوري ښکاره کړه.

ه : یوه خبره هم دثبوت نه پرته نه منل کیږي، ددروغو دعوې دثبوت نه پرته پخپله باندې دروغ شي.

و : دلاهورد هغه افسرنه کوم چې ددې محکمې ماهر دی،دهغه تحقیق خط سره دي چې :داسې هیڅ ویره نشته، هیڅ مداخلت نه وي، بلکې دمخالفینو دخطرې نه بچ کول دي، دې نه داخبره ضروري ده، اګرچې که شرعي باندې واجب نه وي، نو احتیاطي طورباندې واجب دي او د کالونو د تجربې جدا اوکه چېرې څه ویره وي، نود جدا کېدو کوشش هم ممکن دی، نودوختي مشکلاتونه به حفاظت وي.

ز : دفتوا اصل په څلورونمبروباندې دی.

اول : سیکرټري کېدل دروغ دي، خودې له پاره ددې نه ثبوت اخستل کېدای شي، که چېرې نظام الدین کې دشورا دمجلس اجتماع اودټولو هغه سیکرټري جوړول ثابت کړل شي، نودادفعه به پخپله باندې دروغ شي.

دویم :که چېرې صحیح وي، نوعلم اوتدبرخویوعام مفهوم دی، دې کې ددې قسمونه داخل دي،ددین دعلم مدرسه هم داخله ده، دې ته به دروغ ویل پخپله باندې دروغ وي.

دریم :سوسائټي دانګریزي لفظ دی، دعلم لرونکي نه معلومات کول پکاردي، په ښکاره باندې دیو څو خلکو مجموعه خوده، نوددې په عموم کې دشورا مجلس هم داخل دی، هغې ته ورکول، دهغوی اهتمام ته مدرسه ورکول دي نه دهغوی ذات او اهتمام کې وقف دی،

نو هم وقف ورکول دروغ څنګه شو؟
څلورم :اداره اوسوسائټي په معنا کې دعام اوخاص نسبت دی، عام په هرخاص باندې مشتمل وي، نودروغ څنګه شو؟
بياهم ددې څلورونمبروپه بنيادباندې څه سوالونه قائم کړل شوي دي:
سوال نمبر۱ جواب دشرعي خلاف ولې دی، کله چې دشورا مجلس دهغه مطابق دی.
سوال نمبر۲ دمداخلت فی الدين امکان، اوس امکان، خوهرکافربلکې هرغيرمتدين حکومت کې په هرمسئله کې وي، اخرحکومت چې دی، بيابه ژوندختم شي.
خو دداسې امکاناتوحقيقت په حکم باندې نه کيږي،
خاص طورباندې تجربې دخلاف اعلان کوي.
سوال نمبر۳ صحيح دی، خودکذب اوملف ثبوت ضروردی،کوم چې دعدالت ياتحکيم نه کيږي.
سوال نمبر۴، که چېرې شرعي ثبوت نه فسق ثابت شي، که ونه موندل شي، نو د دروغو الزام لږونکوته سزاورکول لازم دي.
سوال نمبر۵، کله چې دزيد کفر يافسق ثابت شواوتوبه نه کول ثابت شول اومددکونکي کفر ياد کبيره ګناه مدداوتوبه نه کول ثابت شو،ګني دثبوت نه پرته الزام لګونکي باندې تعذيب او تعزير دی.
**جواب:** دکوم مفتي صاحب چې دافتواده، اګرچې هغه د اوچتو اوچتو مفتيانواودهغوی دتصديق نه خالي کيدوله وجې داعتبارقابل نه ده، خوبياهم هغه د"که چېرې داسې وي، په قيدکې ده، له دې وجې ترڅوپورې چې دسوال خبرې ثابتې نه وي، دافتوانه ده اواذافات الشرط فات المشروط.
ط : دناواقفه حضراتودستخطونه له دې وجې شوي دي چې که چېرې په رښتياباندې داسې وي... که چېرې هغه واقعات ثابت نه شو،نودابه نه شي منل کېدای، يوشی هم د اعتبار قابل نه دی.
ی : ترڅوپورې چې ثبوت دعدالت ياتحکيم نه ثابت نه وي،دهغه الزام دتعزيرمستحق دی.
والله اعلم! جميل احمدتهانوي.

## د مفتي زين العابدين فتوا

**جواب:** رجسټريشن دحفاظت قانوني ذريعه ده اوتقريبا ټول عالمان، بلکې ټول مسلمان امت دې باندې اتفاق کوي، دپوښتنه شوې صورت کې پرته دڅه ترددنه رجسټريشن کول ښه کاردی، بلکې دمفتي جميل احمدصاحب تهانوي مدظله العالی مطابق مقدمة الواجب واجب ويلوګنجائش هم شته. فقط: (مفتي) زين العابدين فيصل اباد

## د مولانا مفتي عبدالرؤف سکهروي فتوا

**حامدًا ومصليًا:**

اوسني دورکې رجسټریشن کول دحفاظت یوه قانوني ذریعه ده اودې کې شرعي طورباندې هیڅ قباحت نشته، له دې وجې دمدرسو، جوماتونواودقراني مکتبونوادسې نورو رجسټرډ کول نه یوازې جائزدي، بلکې ښه کاردی اودرجسټریشن له وجې دوقف شي وقف کې هیڅ فرق نه راځي، وقف هماغه شان وقف وي، بلکې دهغه په حفاظت کې نوره هم اضافه وشي، کوم چې شرعي طورباندې پکاردی. والله اعلم!

بنده عبدالرؤف سکهروي ، دارالعلوم کراچی

## د مفتي ولي حسن ټونکي رحمه الله فتوا

**جواب:** ددیني اومذهبي تعلیمي ادراودحفاظت اواستحکام له پاره رجسټریشن مدد کونکی دی اوراتلونکو جګړوفیصله هم پکې کېدای شي. له دې وجې جائز ښکاري، د رجسټریشن نه وروسته پیداکیدونکې خطرې دوهم په درجه کې داخلې دي، له دې وجې يې اعتبارنشته اوهغه کې خپله ازادي موجودوي، له دې وجې رجسټریشن جائزاودلحاظ قابل دی، فقط والله تعالی اعلم!

ولي حسن... دارافتاء جامعة العلوم اسلامیه

علامه بنوري ټاون کراچی ۲۳ صفر ۱۴۰۶ھ

یادونه :استفتاء دمظاهرعلوم سهارنپورباره کې ده له دې وجې دخپل خیال نه موضرورخبرکړئ.

**جواب:** ددې اکابرینودتفصیلي جوابونونه وروسته زمادجواب هیڅ ضرورت نه و، خو ستاسوحکم دی، دحکم په تعمیل کې یوڅوخبرې عرض کوم:

د رجسټریشن حقیقت دادی چې دیوې ادارې په حیثیت باندې دحکومت له طرف نه د تصدیق مهر ولګیږي چې دهغه حیثیت بدل نه شي، دکومې ادارې چې کوم حیثیت وي هغه د رجسټریشن نه وروسته نه یوازې هماغه شان وي، بلکې کوم کس چې دهغې حقیقت بدلول غواړي، دهغه خلاف قانوني کاروايي هم کېدای شي.

دفتنې اوفساددوردی اوډېرې واقعې داسې شوي دي چې غلط خلک دیني ادارې اومدرسې بې وارثه ګڼلوسره هغو باندې قبضه وکړي، کله دادارې مشران په غلطو کارونو باندې مجبورکړي اوکله هم هغه نوم باندې بله اداره شروع کړي، چې دهغه نتیجه د مسلمانانو په حق کې انتشاراوخفګان اودعالمانونه دنفرت نه پرته بله هیڅ نه وي، د اکابرینو له دورنه وروسته اوسه پورې درجسټریشن کولومعامله پرته دځه نکیراواختلاف

نه اوسه پورې شروع ده، او دفتنونه دحفاظت له پاره رجسټریشن کول بې شکه ښه کاردی، بلکې دیوحدپورې ضروري هم دی،داد "تسجیل، یوصورت دی، کوم چې همیشه په اسلامي عدالتونوکې وي اودهغه تفصیلي حکمونه په فتاوی عالمګیري شپږم جلدکې موجود دی،والله اعلم وعلمه اتم واحکم!

## د مدرسې د چندې اصول

**سوال:** محترم !یوڅوخبروباره کې هره ورځ سوچ کوم اوهیڅ فیصله نه شم کولی، دحق تلاش کې یم، پخپله دجامعه بنوریه نه فارغ شوی یم اودپشاوریونیورسټي ریسرچ پي ایچ ډي سکالریم، کلي کې مې دمدرسې بنیادکیښنوده،دهغې له پاره ماخپل کالي ورکړل اومدرسه جوړېږي، یوڅوشکونه مې دي، عاجزي سره خواست کوم چې دې مسئلوباره کې څه وکړم؟

**سوال:** ۱ :دمدرسې له پاره چې کوم فنډدی یاکوم خلک چې چنده ورکوي، په هغو پیسو باندې دمدرسې له پاره رسیدبک،یالیټرپیډوغیره اخستلی شم؟

**سوال:** ۲ :مدرسې سره دمددکونکي خلکواکرام زه دهغو پیسونه کولی شم، مثلا هغوی باندې چای څښل یاډوډی خوړل ؟

**سوال:** ۳ : مدرسې د پاره خپله جدا لار ده، کومه چې یو نهر باندې تیرېږي،ایاهغه نهر باندې دمدرسې په پیسوباندې پل جوړلی شم اوکه هغه لاریوازې دمدرسې له پاره ده.

**سوال:** ۴ :في الحال ماته پشاوریونیورسټي کې نوکري پیداکیږي، خوزمااراده ده چې زه به نوکري نه کوم، یوازې مدرسې کې به سبق ښایم، زه، زماورونه اوزموږپلار(علمي خاندان) ټول یوځای اوسیږو، هغوی ماسره مددکوي، زمااوزمادښځې خرچې پوره کوي، که چېرې ماته ضرورت شي، نوزه دمدرسې دفنډنه ځان له پاره تنخوامقررولی شم؟ که چېرې کولی یې شم، نوڅومره تنخواه جائزده؟

محترم !داخرت دفکرله وجې هروخت سوچ کوم چې چېرته داسې نه وي چې ددین په نوم باندې کارشروع کړم اوهغه زماله پاره دهلاکت ذریعه جوړه شي، له دې وجې به تاسوسره رابطه ساتم چې په صحیح طریقه باندې کاروشي.

**جواب:** ۱ :جوړولی یې شئ، خوهغه لیټرپیډدخپل ذاتي استعمال له پاره نه شئ استعمالولئ، یوازې دمدرسې دکارونوله پاره یې استعمالوئ اوکه چېرې دخپل ذاتي ضروریاتوله پاره تاسوته ضرورت وي، نوهغه له پاره جدالیټرپیډجوړکړئ اوداهم ضروري ده چې دمدرسې دفنډ هغه پیسې دزکات نه وي.

**جواب:** ۲ :دمدرسې په عامه چنده باندې داسې نه شی کولئ اوکه چېرې خاص دهغه

کارله پاره چنده ټوله کړل شوي وي، نوبيابې کولی شئ.

**جواب:** ٣ :کولی يې شئ.

**جواب:** ۴ :تنخواه مقرره ولی شئ اودې له پاره يوځوعقل منداو ديندار خلک مقررکړئ، چې هغوی سره تاسومشوره کولئ شئ.

## کافرانواومنافقينوسره د سختي معامله

**سوال:** **ياايها النبي جاهد الكفار والمنافقين واغلظ عليهم**،، حضور ﷺ ددې ايت شريف په اوله برخه باندې مکمل عمل وکړ، خوپه دويمې برخې يعنې منافقانوسره يې دنرمي او شفقت معامله وکړه، په ښکاره باندې داخبره ددې ايت خلاف معلوميږي.

**جواب:** د کافرانو په مقابله د تورې او غشي و او منافقانوسره مقابله دژبې وه، کوم ځای به چې دنرمي ضرورت و، هلته به يې نرمي کوله،که نه سختي، وروسته په روح المعاني کې دي چې يوه ورځ دجمعې په لمونځ کې حضور ﷺ نوم اخيستلوسره منافقان دجومات نه بهرکړل.

**قم يافلان فانک منافق، قم يافلان فانک منافق،** درئيس المنافقين سره نرمي کول دهغه دزوی زړه ګټل اونورمنافقان داخلاقوپه توره باندې دوهلوپه وجه باندې وه.

## په ځينووجودمفضول عبادت دافضل له عبادت نه اوچت شي

**سوال:** يوکتاب کې مايوقول لوستلی و،دکتاب اوليکونکي نوم راته يادنه دی، مفهوم يې دا وچې داشراق دلمانځه له پاره دلمر ختلو پورې ناستې نه سيل کول اوتازه هواکې ګرځيدل بهتردي داخبره ماباندې ډېره بده ولګيده، علامه عبدالوهاب شعراني په طبقات الکبری کې ليکلي دي چې شيخ عبدالغفارقوسي رحمه الله دخپل زوی سره ډوډۍ ته ناست و اودحضور ﷺدعادت په اتباع کې يې دکدوتکړې په ګوتوکتل شروع کړل اوهغه يې خوړل شروع کړل، هغه خپل زوی ته وويل چې زويه کدودحضور ﷺ ډېرزيات خوښ و اوهمدغه شان به يې د کدو ټکړې کتلوسره خوړلې، زوی ورته وويل، باباکدوخوزما نه دی خوښ،دې خبرې اوريدو سره هغه ته دومره غيرت راغی چې هماغه وخت يې توره راوخيستله اودزوی سرېې دبدن نه جداکړ، سره له دې چې داڅه شرعي خلاف ورزي نه وه، دحضور ﷺ عادت مبارک اختيارول حضور سره دمينې خبره ده، څه شرعي حکم نه دی.

دنفل عبادت يوه طريقه کومه چې حضور ﷺ نه نقل شوې ده دهغې په مقابله کې خپل خيال وړاندې کول اوهغه افضل ښودل، ددې بدي دعالمانونه پټه نه ده، يقينا داقول به ډېرو عالمانواو مشائخوهم لوستلی وي اوليکونکی به هم عالم اوفاضل وي، ځومره به ښه و،چې حاشيه کې يې ددې تاويل هم ليکلی وای، چې زما په شان کم عقل خلک په

غلط فهمي کې نه وی مبتلاشوي اود تاويل باره کې څه عرض وکړم يوه واقعه وګورئ !د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه لمسي حضرت بلال نه روايت دی چې زماپلارته عبدالله ابن غمرداحديث اورولی دی چې :د رسول الله ﷺ حکم دی چې ښځې جوماتونوته دتلودحق نه مه محروموئ زمادخولې نه بې اختياره دالفظ ووتلوچې: زه خوبه خپله يهودنه ښځه جومات ته نه پرېږدم، دې باندې ماته زما پلارپه قهرباندې وکتل اوسخت اوازکې يې وويل، تاباندې دې دالله تعالی لعنت وي، زه تاته درسول الله ﷺ حکم بيانوم اوته دهغه په مقابله کې داوايې.(**جامع البيان العلم وفضله علامه ابن عبدالبر اندلسی**) حالانکې ددې ډېرښه تاويل کېدای شواو اوس دهغه تاويل له وجې ښځې جوماتونوته نه ځي، خوخبره هماغه دغيرت اومحبت اوعقيدت ده اوفقيران اودرويشان خودادب اونياز نه ډک وي،دستاسودې باره کې څه خيال دی؟

**جواب:** تاسوچې څومره واقعات بيان کړي دي، دهغه دې سره تعلق نشته اوددې قول خلاصه داده چې يوعبادت کوم چې منصوص دی او دهغه فضيلت ډېرزيات دی، خودځينو وجوهاتوپه وجه باندې نور شيان له هغه نه اهم شي، دې کې دحضور ﷺ ارشادسره څه مقابله نشته که چېرې هغه باندې ستاسوبيان شوي واقعات اختيارکړل شي اونه دحضور ﷺ په څه قول باندې ردکول دي اودااصول دي چې کله ناکله مفضول عبادتونه دوجوهاتوله وجې افضل شي اوشريعت کې ددې بې شميره مثالونه موجوددي.

## د ښځې اصلي ښايست

**سوال:** مولاناصاحب نن سباهرطرف ته عرياني، فحاشي اوبې حيايي عامه ده، کله په يوعنوان باندې اوکله په بل عنوان باندې دښځې اصل ښايست، شرم اوحياء، عزت اوعصمت تباه کيږي شي، خوددې بې حيايي خلاف هيڅ اوازنه پورته کيږي، تاسوته خواست دی چې دې باره کې دامت رهنمايي وکړئ، ډېره مهرباني به مووي.

**جواب:** په يوه زمانه کې به شرم اوحيا،دښځواصل ښايست،دانساني معاشرې اوچتوالی، د اسلام پاکيزه معيار اوداسلامي معاشرې د اوچتوالي ننبه ګڼل کېده، اول خودانسان په فطرت کې عفت، حيااودسترجذبه داخل شوې ده،(دې شرط سره چې فطرت خراب شوی نه وي) بيامسلمانانوته دخپل محبوب پيغمبرحضرت محمد ﷺ **باَبائنا هو وامهاتنا واروا حنا** دا ارشادونه هم يادوو.

۱ : څلورشيان دټولورسولانوسنت دي، حيا،دخوشبويي استعمال، مسواک اونکاح. (ترمذي)

۲ : دايمان اوواويابرخې دي، هغو کې دټولونه اوچته برخه لااله الاالله، ويل دي اودټولونه

کمه درجه دلارنه تکليف ورکونکي شي لرې کول دي اوحيادايمان يوغټه برخه ده. (بخاري ومسلم)
۳ : حيا کې خيردی. (بخاري ومسلم)
۴ : حيادايمان برخه ده او ايمان جنت ته بوتلونکی شی دی او بې حيايي، بې مروتي ده او بې مروتي دجهنم برخه ده. (مسنداحمد، ترمذي)
۵: دهردين متيازي خلک وي اوداسلام خلک حياده. (مؤطامالک، ابن ماجه، بيهقي)
۶ : حيا اوايمان يوبل کې داخل دي، کله چې يواوچت کړل شي، نو دويم پخپله اوچت شي، (يوروايت دادی) کله چې يوپرښودل شي، نودويم هم دهغه سره رخصت شي. (بيهقي)
دانساني فطرت اودنبي کريم ﷺ دتعليماتودا اثر و چې مسلمانانوکې حياء، عفت اود پردې عقيده دايمان برخه وه، دحياء خلاف معمولي کاربه هم سماجي اومذهبي جرم ګڼل کيده، خودمغرب دتهذيب له وجې اوس داحالت دی چې مورته پته هم نشته چې شرم او حيا دخه شي نوم دی؟ دسړيودنظراودښځودحرمت او عزت پهرې ختمې کړل شوي دي، بازارکې ښځې تنګول او بسونوکې دښځوزلفوسره لوبې کول مورتول ګورو دمانبام نه دکراچۍ، لاهور او پنډۍ په بازارونوکې عرياني اوفحاشي دفارس ښارشرموي، دتعليمی ادارونه د سينماګانو پورې دښځواوسړيو ملاويدل دجنسيت يوطوفان پيداکړی دی، دخاصو نوکريوله پاره ښځې اوسړي بربنډ کتل کيږي، ايا زمونږ دې ګنده معاشره ليدوسره داخبره کېدای شي چې دمحمد ﷺ امت خيرالامم دی، کوم ته چې دټولې دنياروحاني قيادت ورکړل شوی دی.

زمونږدايمان څه برخه چې دطوفانونونه محفوظه پاتې شوې وه، دهغې باره کې زمونږ دقوم مشران څنګه سوچ کوي؟ دهغه اندازه داخبارددې اطلاع نه وکړئ.

## دخانداني منصوبه بندي باره کې دشرم اوحياپرده ختمه شوه

سينتاګو ۱۲اپريل(اپ پ رائټر) خانداني منصوبه بندي کامیابولوله پاره ضروري دي چې خلکوکې دمنصوبه بندي باره کې دشرم اوحياپرده ختمولو له پاره اثرکونکي کارونه وشي، داخبره دمور و پلارپه بين الاقوامي کانفرنس کې شوې ده، دغه وخت کې د پاکستان د خانداني منصوبه بندي کمشنرمسټر انورعادل وويل چې دتوليددمنع کولوله پاره دواياني په پټه باندې استعماليږي، کومه چې غلطه ده اوداطريقه ختمول پکاردي، هغوی دې نه پرته وويل چې د توليد منع کولوباندې ښکاره طورباندې اومعاشره کې هرځای خبرې کول پکار دي، مسټرعادل دمور و پلار اتم بين الاقوامي کانفرنس ته خطاب کې وويل چې پاکستان کې اکثرخلک دخپل خاندان دغټيدونه منع کولوله پاره د توليد د منع کولو خواهش لري، خوهغوی ددې خبرې نه ويريږي، که چېرې هغوی د خانداني منصوبه بندي په هسپتال کې وليدل شول، نو وبه شرميږي، هغوی وويل چې عواموته به

دتولید دمنع کولو هر قسمه اساني اود حمل ختمولو شیان ورکول کیږي «روزنامه جنګ کراچی ۱۸ اپریل ۱۹۸٦ء»

دکوم اهم مقصد دکامیابي له پاره چې دشرم اوحیاد پردې د ختمولو اود ایمان او اخلاقو قرباني ورکولو په دعوت باندې " بین الاقوامي کانفرنس، ته شرف ورکول کیږي، دهغه بدترینو نتیجو باندې هم یو نظر واچوئ.

## مغربي ښځې له پاره یوه نوې مسئله

هیمبرګ ۱۴ اپریل(پ پ ا) دحمل ختمونکي ګولو له وجې دښځو په جنسي خواهش کې اضافه کیږي، وروسته په معاشرتي اوسیاسي میدان کې دبرابري حق حاصلولو نه وروسته اوس ښځې په جنسي معاملاتو کې هم اخلاقي روایتونه یو طرف ته کولو سره د سړیو په شان کردار اداکول غواړي، دامسئله نن سبا دجرمني ډاکټرانو، سائنس دانانو اود نفسیاتو او جنسیاتو ماهرانو دبحث موضوع ده، دجرمني اوامریکایي تحقیق نه داخبره واضحه شوه چې حمل ختمونکو ګولیو استعمالونکو ښځو کې په درې برخو ښځو کې جنسي خواهش ډېره زیاته اضافه شوې ده، تردې چې ځینو ښځو کې دجنسي خواهش زیاتیدوله وجې دډاکټرانو طرف ته رجوع کول پیداشوي دي، دامریکه سوسائټي آف پلاننګ سائنس دانان اود جرمني دنفسیانو اوجنسیاتو ماهران په دې باندې متفق دي، دهمیبرګ ډاکټر هرټا استول لیکلي دي چې همدغه وجه ده چې داوسني دور ښځه دخپل خاوند جذبات رااوچتولوله پاره نوې نوې طریقې خپلوي داټول ماهران په دې خبره باندې متفق دي چې هغه ورځ لرې نه ده چې کله به عاشق کیدل اومینه کې مخکې کیدل یوازې دسړیو حق نه وي، بلکې کیدای شي چې ښځې دې میدان کې دسړیو نه ډېرې مخکې شي.

## پاکستان کې د عریانۍ ذمه دار څوک دي

**سوال:** ایا دښځو له پاره هاکي کول، کرکټ کول، ویښته کټ کول اوپه سرتور سربهرته وتل، کلبونو، سنیماګانو یا هوټلونو او دفترونو کې دسړیو سره کارکول،نامحرمو سړیو ته لاس ورکول اوبې پردې خبرې کول، دښځو دسړیو په مجلسونو کې بربنډ سر شرکت، بربنډ سر اونیمو بربنډو جامو اغوستلو سره نامحرم سړیو سره نعت خواني کول،اسلامي شریعت کې جائز دي؟ ایا په عالمانو باندې واجب نه دي چې هغوی دابدعتونه اوغیراسلامي کردار اداکونکو ښځو خلاف حکومت پابندي باندې مجبورکړي؟

**جواب:** ددې سوال دجواب نه مخکې دیوې غیرتي مسلماني ښځې خط هم ولولئ،کوم چې زموږ مخدوم حضرت اقدس ډاکټرعبدالحي عارفي مدظله پیداکړی دی، هغه لیکي:

د خلکو دا خیال پوخ شوی دی چې د پاکستان حکومت د پردې خلاف دی، دا خیال د هغه کوټ له وجې پیدا شوی دی چې د حکومت له لوري د حج په موقع باندې د ښځوله پاره اغوستل ضروري ګرځول شوي دي، دا یوه زبردسته غلطي ده، که چېرې د پېژند ګلوله پاره ضروري و، نو ښته برقع اچول پکار و.

د حج کوم کتاب چې حاجیانو ته د راهنمایي له پاره ورکول کیږي هغه کې د تصویر په ذریعه باندې سرې اوښځه د احرام په حالت کې ښودل شوي دي، اول خو تصویر غیر اسلامي کار دی، دویم د ښځې د تصویر لاندې یوه جمله لیکلو سره د پردې د فرضیت نه انکار شوی دی، هغه تکلیف ورکونکې جمله داده چې: که چېرې پرده کوئ، نو په مخ باندې داسې پرده راولئ چې مخ باندې موکپړه نه لګیږي، دا خو صحیح مسئله ده، خو که چېرې پرده کوئ ولې لیکل شوي دي؟ پرده خو فرض ده؟ بیا د چادر خوښې او نا خوښې څه سوال دی؟ بلکې پرده مخکې فرض ده او حج وروسته خلاص مخونه، د هغوی د تصویر په ذریعه باندې اخبارونو کې نمائش، ټي وي باندې نمائش، دا ټول د پردې د حکمونو خلاف ورزي ده، د فلم په پردې باندې د اسلام او اسلامي قانون دومره توهین کیږي او عالمان بې یوازې تماشې ته ناست دي، هرڅه ویني او د بدې خلاف، بدې ختمولو له پاره د الله تعالی حکمونه بیانولو فرض نه اداکوي، د الله تعالی په فضل او کرم باندې په پاکستان کې د عالمانو تعداد دومره دی چې د ملت د اصلاح له پاره به هیڅ تکلیف نه وي، کله چې څه بدې پیداشي، همغه وخت کې د هغې ختمول پکاردي، کله چې هغه جرړې خښې کړي، نو بیا مصیبت جوړشي، د عالمانو فرض دي چې هغوی امت د بدیو نه بچ کړي، خپل کورونه دې د دې وخت عالمان د بدیو نه بچ کړي، خپل ذات د بدونه لرې وساتي چې ښه اثر پیداشي.

تعلیمي ادارې چې کوم ځای کې جوړیږي قوم له پاره جوړیږي غیر اسلامي جامو او د غیر په ژبه کې ابتدایي تعلیم قوم له پاره د فائدې په ځای نقصان ورکونکی دی، استاذانو له پاره د اسلامي عقیدو او طریقو اختیارولو سخت ضرورت دی، جینکو له پاره څادر ضروري وګرځول شو، خو په غاړه کې پروت دی، د څادر مقصد یوازې هغه وخت کې پوره کېدای شي کله چې بوډۍ ښځې پرده کوي، د ماشومانو ذهنونو نه څادر یو بوج ګڼي، کله چې هغوی ګوري چې استاذه او د هغوی مور په بازارکې بربنډ سراو نیمه بربنډو جامو کې دي، نو د څادر بوج ورته نورهم زیات ښکاري، بې پردګي په ذهنونو کې جرړې خورې کړې دي، ضرورت د دې خبرې دی چې د پردې فرضیت واضح کړل شي او په غټو الفاظو کې پوسټرونه چاپ او تقسیم کړل شي او جوماتو، هسپتالونو، تعلیمي ادارو او مارکیټونو کوم ځای کې چې ښځې په یو وخت کې زیات شمېر سره شریکیږي، شادي هال وغیره هلته د پردې حکمونه او د پردې فرضیت وښودل شي، بې پردګي باندې همغه ګناه ده کومه چې یو فرض پرینښودلو باندې ده، د دې حقیقت نه څوک هم انکار نه شي کولی چې زموږ په

معاشره کې یو کم سل فیصده بدي دبې پردګي له وجې ده او ترڅو پورې چې بې پردګي وي دهغه وخت پورې به بدي هم وي.

راجه ظفرالحق صاحب یوه مبارکه هستي ده، الله تعالی دې هغه دمخالفینو په سیلاب کې ثابت قدم وساتي، امین، تې وي نه دګنده اشتهارونو شور جوړشو،دهاکي د ټیم د دورې منسوخ کېدو له وجې زموږ صحافیان اوکالم نویس حضرات خفه شول.
کوم اخبارچې ګورئ، تاشوبه درقص اونغمواودحسن اوجمال جلوې وینئ،دروح غذا ویلوسره دګانو(سندرو)وکالت کیږي، هسې په نوم عالمان به ټایي اوسوټ ته بین الاقوامي جامې ثابتولو سره خپله پېژنګلوي ختموي، واړه زاړه ماشومان دټایي په غاړه کولو سره سکول ته ځي، دژوندیوه شعبه هم داسې نشته کومې کې چې دنوروخلکونقل نه کیږي.

دراجه صاحب یوه قدرمنده هستي هم مخالفت کوي،دې عزت دارې هستۍ ته که چېرې دپردې فرضیت اوفائدې وښودل شي، نوانشاء الله مخالفت به یې دوستي کې بدل شي، ښځه که چېرې یوې سرکاري محکمه کې تعمیري کارداسلامي حکمونوخلاف کولو سره کوي، نوهغه کار زموږ سرې هم کولی شي، بلکې دسرکارپه سرکاري محکموکې دهغوی نوکري دسړیوله پاره تباهي ده، سړي یاخو دبې روزګاري له وجې جرمونه کوي یا ناجائز طریقو باندې بهر ملکونوکې تیندکونه وهي.
بدقسمتي سره دې دورکې چې دښځودبې پردګي کوم سیلاب دی، هغه د ټولو فکر لرونکو له پاره دپریشاني ذریعه ده، مغرب ددې لعنت نتیجه لیدلې ده، هلته معاشرتي نظام ګډوډ شوی دی، دشرم اوحیاغیرت اوحمیت دلغت نه ختم شوی دی اوحدیث پاک کې چې اخري زمانه کې دانسانیت اخري پستي طرف ته دې الفاظوکې اشاره شوې ده چې : هغوی به د څاروو اوخرو په شان دخلکوپه مخکې شهوت پوره کوي، داسې منظرونه هلته لیدل کیږي، دمغرب ابلیس دمغرب ښځه دکورپه ځای باندې دمحفل شمع جوړولوله پاره ده، ازادي نسوان ښائسته نعره اوچته کړه اوکم عقل موروپلارته یې داویلې دي چې پرده د هغوی په ترقي کې بندیز دی، هغوی ته دکورنه بهروتلوسره دژوندپه هرمیدان کې دسړیو سره اوږه په اوږه کارکول پکاردي، ددې له پاره تنظیمونه جوړ شول اوتحریکونه شروع شول، مضمونونه ولیکل شول،کتابونه ولیکل شول او پرده چې هغه دښځودشرم او حیا ننبه،دهغې دعزت اوعفت حفاظت کونکې اودهغې دفطرت غوښتنه وه،هغې باندې د شاته تګ اوازونه وکړل شول، ددې ګنده ابلیسي پروپګنډې له وجې دحوالوردابلیس په جال کې ګیره شوه، دهغې دمخ نه نقاب لرې کړل شو، سرنه یې لوپټه کوزه کړل شوه، د سترګونه یې شرم اوحیاختمه شوه اوهغوی یې بې پردګي او بربنډکولوسره تعلیمي ادارو، دفترونو، اسمبلیانو، کلبونو، سړکونو،بازارونواودلوبومیدانونوته راښکل شوې،ددې مظلوم مخلوق هرڅه لوټ کړل شول، خودابلیس دعریاني اوشهوت جذبه اوسه پورې پوره شوې نه ده.

مغرب د مذهب نه ازاد دی، له دې وجې هلته ښځه د خپل فطر ت نه په بغاوت باندې راضي کول اوازدي ورکول اسان و، خو مشرق کې ابلیس ته دوه مشکله وو: یو ښځه خپل فطرت سره په جنګ کول او دویم د نبي کریم ﷺ تعلیمات، کوم چې د مسلمانانو په معاشره کې د سوونو کلنو راهیسې موجود وو، ښځه او ټوله معاشره د هغې نه په بغاوت کولو باندې راضي کول وو.

زمونږ بدقسمتي، چې د مسلمان معاشرې واګې د داسې خلکو په لاس کې وې، چې هغوی په: ایمان بالمغرب: کې د مغرب والاوونه دوه قدمه مخکې وو، چې د هغوی تعلیم او تربیت او پالنه خاص د مغرب په ماحول کې شوي وو، چې د هغوی په نزد باندې د دین او مذهب پابندي یوازې یوه بې معنا خبره او فضول کارو، هغوی نه د الله تعالی نه شرمېدل او نه له مخلوق نه، داخلک د مشرقي روایاتونه منحرف شول او د مغرب په لار باندې روان شول، د ټولونه مخکې هغوی خپلې لوڼه، انګوراني، میندې او خویندې د پردې د عفت نه بهر کړې او د ګنده نظرونو له پاره یې وقف کړې، د هغوی دنیاوي وجاهت او خوش قسمتي ته کتلو له وجې د درمیاني طبقې نظرونو هم اوپخچېدل او ورو ورو د تعلیم، نوکري او ترقي په بانه باندې هغه ټول شیطاني مناظر په نظر باندې راتلل شروع شول د کومو تماشه چې مغرب کې شوې وه، د عریانۍ او بې پردګۍ یو داسې سیلاب دی، چې وخت سره نور هم زیاتیږي، چې هغه کې د اسلامي تهذیب او معاشرې اوچت محلونه ډوبیږي، د انساني عظمت او شرافت او د ښځې د عفت او حیا غرونه پکې بهیږي، الله تعالی ته ښه پته ده چې دا سیلاب به کوم ځای کې ودریږي او انسان به د انسانیت طرف ته کله واپس شي؟ ښکاري خو داسې چې ترخو د الله تعالی پټ لاس د شر د دې مشرانو نه دنیا پاکه نه کړي، د دې سیلاب د درېدو هیڅ امکان نشته، رب لاتذر علی الارض من الکفرین دیاراً، انک ان تذرهم یضلوا عبادک ولایلدوا الافاجرا کفارا!

ترکومه حده پورې چې د اسلامي تعلیماتو تعلق دی، د ښځې ټول وجود فطري طور باندې عورت دی او پرده د هغې د فطرت اوازدی.

حدیث کې دي:

**المراة عورة، فاذا خرجت استشرفها الشیطان. (مشکوة ص۲٦۹ بروایت ترمذی)**

**ترجمه:** ښځه ټول عورت دی، کله چې هغه بهر ته وځي، نو شیطان د هغې څارنه کوي.

امام ابونعیم اصفهاني رحمه الله په حلیة الاولیاء کې دا حدیث نقل کړی دی:

**عن انس قال: قال رسول الله ﷺ ماخیر للنساء؟ فلم ندر مانقول. فجاء علی رضی الله عنه الی فاطمة رضی الله عنها فاخبرها بذلک، فقالت: فهلاقلت له خیرلهن ان لایرین الرجال ولایرونهن. فرجع فاخبره بذلک. فقال له. من علمک هذا؟ قال: فاطمة! قال انها بضعة مني.**

سعید بن المسیب عن علی رضی الله عنه انه قال لفاطمة: ما خیر للنساء؟ قالت: لا یرین الرجال ولا یرونهن فذکر ذلک للنبي ﷺ فقال: انما فاطمة بضعة منی. (حلیة الاولیاء ج۲ ص ٤۰، ٤۱)

**ترجمه:** دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې حضور ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وفرمایل چې ووایئ دښځې له پاره دټولونه بهترڅه شی دي؟ موږ ته ددې سوال جواب نه و معلوم، حضرت علي رضي الله عنه دهغه ځای نه پورته شو او حضرت فاطمه رضي الله عنها ته ورغی اوهغې ته یې دهمدې سوال ذکر وکړ، حضرت فاطمه رضي الله عنها وفرمایل چې تاسوورته داجواب ولې ورنه کړ چې دښځوله پاره دټولونه بهترشی دادی چې هغوی نامحرم سړیوته ونه ګوري اونه څوك نامحرم سړي هغوی ته وګوري، حضرت علي رضي الله عنه بېرته راغی اوداجواب یې حضور ﷺ ته نقل کړ، حضور ﷺ وفرمایل داجواب تاته چابیان کړ؟ عرض یې وکړ، فاطمه رضي الله عنها اخر زما د زړه ټکړه ده کنه.

سعید بن مسیب رضي الله عنه دحضرت علي رضی الله عنه نه نقل کوي چې هغه د حضرت فاطمه رضي الله عنها نه پوښتنه وکړه چې دښځوله پاره دټولونه ښه شی څه دی؟ ویې فرمایل چې هغه سړیوته نه ګوري اوسړي هغې ته ونه ګوري، حضرت علي رضي الله عنه دا جواب حضور ﷺ ته نقل کړ، نوهغه وفرمایل: په رښتیاباندې فاطمه رضي الله عنها زما د زړه ټکړه ده.

دحضرت علي رضي الله عنه داروایت امام هیثمي رحمه الله په: مجمع الزوائد (ج ۹ ص ۲۰۳) باندې د مسند بزارپه حواله باندې نقل کړی دی.

داوسني دورعریاني داسلام په نظرکې دجاهلیت اخري حددی، دکومې نه چې قران کریم منع فرمایلې ده او عریاني دزړه اونظردګنده کولوذریعه جوړیږي، له دې وجې دهغو ټولو ښځوله پاره کومې چې بې پردې ګرځي اودهغو سړیوله پاره کوم چې هغوی ته ناپاك نظرونه کوي، ته دحضور ﷺ ارشاددی،، **لعن الله الناظر والمنظور الیه...**،،

**ترجمه:** دالله تعالی لعنت دی په کتونکي باندې اوچاته چې کتل کیږي.

دښځودصحیح ضرورت نه پرته دکورنه وتل، دښځینه شرف خلاف دي اوکه چېرې هغوی ته دکورنه دبهروتلوضرورت راشي، نوحکم دادی چې دهغوی ټول بدن به پټ وي.

## د فلمي د نیا له وجې د معاشرې خرابي

**سوال:** محترم مولاناصاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

مهرباني وکړئ په دې سوالونوباندې خپله فتوا ورکړئ.

پاکستان کې چې په سنیماګانو او ټي وي باندې کوم فلمونه ښودل کیږي، هغو کې چې

کوم ایکټران، ایکټرانې، ګډاکونکي، سندرې ویونکي، ساز وهونکي کارکوي، دا ایکټران او ګډاکونکي په څه وخت کې دکنجرانو او میراثیانونه هم زیات دبې شرمي اوبې حیایي کردارونه اداکوي ،یوبل ته غاړې ورکوي، یوبل ښکلوي، نیمه بربنډو جامېواغوستلوسره اداکاري کوي اوفلمونوکې فرضي ودونه کوي، کله هما ه ایکټره دهغه مور، کله خور اوکله دښځې کردار ادا کوي، داخلک دې طریقه باندې پیسې ګټلوسره حج ته هم ځي اودوې کې ځینې میلاد او قرآن خواني هم کوي، ښکاره خبره چې مولایانو صاحبانو ته به هم دعوت ورکوي، ددې خلکوپه ذمه باندې دحکومت دطرف نه دانکم ټیکس په لکونوروپۍ هم وي، داخلک دحج نه بیرته راتلوسره بیاهم هغه کردارونه اداکوي

**سوال:** ۱ : دا ایکټران، ایکټرانې، ګډاکونکي، لوبې ویونکي اوسازونه وهونکي وغیره کوم چې په دې طریقه باندې پیسې ګټي، ایادهغوی په دغه ګټه باندې حج اوزکات اداکیږي؟ ایا د میلاد او قران خواني په محفلونوکې هغوی سره شاملیدل، خوراک څښاک وغیره داسلامي شریعت په نزدباندې جائزدي؟

**سوال:** ۲ : دذې خلکوکردارونه، دبې شرمي اوبې حیایي منظرونه، په فلمونواوټي وي کې ښکاره طورباندې ښودل کیږي،ایا داسلامي شریعت په نزدباندې ددوی جنازه کول اوهغه کې شرکت کول جائزدي؟

**سوال:** ۳ : ایا د عالمانودافرض نه جوړیږي چې هغوی حکومت مجبور کړي چې په سنیماګانو اوټي وي باندې داسې ګنده او دبې حیایي کردارونه بند کړي؟ اوایا د ښځوپه فلمونو کې کارکول جائزدي؟

والسلام خیراندیش خاکسار محمدیوسف انګلینډ

**جواب:** دفلمي دنیا کومو کارنامو ذکر چې په لیک کې شوی دی، دهغه ناجائزاوحرام کیدل او ډېرو ګناهونومجموعه کیدل دڅه وضاحت اوتشریح محتاج نه دي، کوم انسان ته چې الله تعالی صحیح عقل اوانساني حس ورکړی وي ،هغه ته پته ده چې ددې شیانورواج دانسانیت زوال اود پستۍ نښه ده، بلکې داخلاقي پستۍ اخري نقطه ده، ددې نه وروسته خالص دحیوانیت درجه ده.

آتجھ کو بتاؤں میں تقدیرِ امم کیا ہے؟
شمشیروسناں اول، طاؤس ورباب آخر. (علامه اقبال)

کله چې دې باندې غوروکړل شي چې داشیان دمسلمانانو په معاشره کې څنګه داخل شول؟ اوددې رواج څنګه راغی؟ نو عقل کارپرېږدي، یوطرف ته حضورﷺ،خلفاء راشدین رضي الله عنهم صحابه کرام رضي الله عنهم اودپخوانۍ زمانې مسلمانانوپاک اومقدس ژوند اوهغه معاشره کومې ته به چې ملائکې پخځیدې، کومه چې اسلام جوړه

کړې وه، بل طرف ته د سنیماګانو، ریډیوګانو اوټي ویانو له وجې زموږ اوسنۍ معاشره،
د دوارو پرتله کولو نه وروسته داسې ښکاري چې زموږ داوسنۍ معاشرې اسلامي معاشرې
سره هیڅ تعلق نشته، موږ دخپلې معاشرې نه دحضور ﷺ یو یو کار او یو یو سنت رخصت
کړی دی اودهغو په ځای باندې مو د شیطاني تعلیم اودبې دینۍ کارونو ته رواج ورکړی
دی، (الحمدلله اوس هم دالله تعالی داسې ډېربندګان شته کوم چې دحضور ﷺ په طریقه
باندې ډېرمضبوطې سره قائم دي، خودلته خبره دیوځوخلکونه بلکې دټولې معاشرې ده)
شیطان چې دمسلمانانودمعاشرې دخرابولوله پاره کومې کومې طریقې ایجاد کړي دي،
خوکېدای شي ډول اوسازونه، دریډو نغمې، دټي وي او وي سي ار،دشیطان په الاتو کې
دټولونه مخکې دي، ددې په ذریعه باندې مسلمان امت ته دګمراه اوملعونو قومونوپه
لارباندې د تلوتربیت ورکول کیږي، زموږ"مهذبه معاشره، دې فلمونوته د تفریح نوم
ورکوي، کاش !دوی ته پته وای چې ددې تفریح له وجې کومې خطرناکې نتیجې پیدا
کیږي؟ مسلمانان په دې تفریح کې مشغول کېدوسره پخپله خپل اسلامیت پورې څنګه
خندا کوي او دخپل محبوب پیغمبر ﷺ نسبت نه بې څنګه دلوبوشی جوړکړی دی؟

دې فلمي صنعت سره چې کوم خلک تعلق ساتي، هغوی ټول یوشان نه دي، دوی
کې ډېر خلک داسې دي چې دهغوی ضمیرهغوی په دې کار نه ملامته کوي اوهغوی خپل
ځان قصور وارګڼي اوهغوی سره دا احساس دی چې هغوی دالله تعالی اودخوږ نبي ﷺ
نافرمانۍ کې مبتلادي، له دې وجې هغوی په دې ګناهګار ژوندباندې خفه دي داهغه
خلک دي د کوموپه زړونوکې چې دایمان څه برخه اودانسانیت حس باقي دی، اګرچې د
خپل ایمان د کمزورۍ له وجې هغوی داګناه نه شي پرښودلی اوددې ګنده ژوندنه د وتلو
همت نه شي کولی، خوداهم غنیمت دی چې هغوی خپل حالت صحیح نه ګڼي، بلکې
دخپلې ګناه اعتراف کوي اوڅه خلک داسې دي چې دهغوی ضمیردانبکاره ګناه بالکل
ګناه نه ګڼي اودا دفخر کار ګڼلوسره دې ته ارټ اوفن ویلوسره دې باندې نازکوي او دخپل
خیال مطابق دادانسانیت خدمت ګڼي، ددې خلکوحالت دمخکې خلکوپه نسبت باندې
زیات درحم قابل دی، ځکه چې ګناه هنر او کمال ګڼل ډېرخطرناک حالت دی، ددې مثال
داسې وګڼئ چې یوناروغ خوهغه دی، کوم ته چې داپته ده چې هغه ناروغ دی اوهغه
اګرچې بدپرهیزه دی اودهغه بدپرهیزي دهغه ناروغي زیاتوي، خو بیاهم هغه ته دخپلې
ناروغۍ پته ده، نوامید کېدای شي چې هغه به دخپل علاج طرف ته توجه وکړي، ددې په
مقابله کې بل هغه ناروغ دی کوم چې په څه ذهني یادماغي ناروغۍ کې مبتلادی، اوهغه
خپل لیونتوب صحت ګڼي اوکوم خلک چې په مینه اومحبت باندې هغه دعلاج طرف ته
راولي هغه، هغوی پاګلان ګڼي داکس کوم چې خپله ناروغي صحت ګڼي .اودخپل ځان نه
پرته دټولې دنیاعقل مند خلک احمقان اوپاګلان ګڼي، دده باره کې ویره ده چې دی به

د دې خوش فهمي د ناروغي نه کله هم شفا ونه مومي.
کوم خلک چې فلمي دنیاسره تعلق ساتي، د هغوی بنایسته جامو. د هغوی عیش او عشرت. د هغوی دژوند او چت معیار د حقیقت نه ناخبر خلکوله پاره د پرکشش لري. زمونږ د ځوانانو هغوی ته خوا ځي او د هغوی په شان د کېدو خواهش کوي، د جامو په شکل صورت کې د هغوی تقلید کوي. خو کاش !چې څوک د هغوی زړونو کې د ننه وګوري، چې هغه څومره وران دي. هغوی ته هرڅه حاصل دي. خو د زړه سکون ورته حاصل نه دی، د غه خلک د زړه سکون او خوشالي حاصلولو له پاره د پرزیات کوششونه کوي، خود کومې چابي (کیلي) په ذریعه باندې چې د زړه تالې خلاصیږي . هغه د هغوی نه ورکه شوې ده، یو بنکاره لیدونکی کس د هغوی د نعرې" بابربه عیش کوش !که عالم دوباره نیست، د غبطې قایل ګنې. خو چاته چې حقیقت معلوم دی هغوی د هغوی د زړه خفګان او بې اطمنیاني لیدو سره د ادعا کوي چې اې الله تعالی دا سزا دښمن ته هم مه ورکوه، د کوم جرم چې دنیاکې دا سزا وي. سوچ کول پکار دي چې د هغه سزا به د مرګ نه وروسته څنګه وي؟
نن نه څه وخت مخکې به فلمونه په سنیماګانو یا خاصو ځایونو کې ښودل کېدل، خو تېي وي او وي سي ار د ګناه جنس دومره عام کړ چې د مسلمانانو هر یو کور نه د سنیما هال جوړ شوی دی. په غټو ښارونو کې به چېرته یو خوش قسمته کور داسې وي چې هغه به د دې لعنت نه محفوظ وي. د ماشومانو فطرت دلوبو تماشو او داسې قسمه شیانو طرف ته طبعي طور باندې رغبت لرونکی دی او زمونږ د ښارونو مهذب اوسیدونکي د دې خیال سره تي وي ضرور کورته راوړي، که چېرې داسې کورکې نه وي، نو بیا ماشومان پردیو کورونو ته ځي، تي وي ساتل د فخر او مباهاتو یو فیشن جوړ شوی دی ،بل طرف ته د تي وي سوداګرانو د همدردي په طور باندې تي وي په قسطونو باندې ورکول هم شروع کړي دي چې د هغه له وجې درمیانه طبقې، بلکې د غریبانانو هم حوصله افزایي وشوه او حکومت د دې خلکو د خواهش احترام کولو سره نه یوازې د تي وي د بهرنه راغوښتلو اجازه ورکړه، بلکې ځای په ځای یې تي وي سټیشنې هم قائمې کړې، خو د دې حوصله ماتونکي هیڅ څوک نشته، د همدې نتیجه ده چې نن د تي وي او د ریډیو د ګانو نه د الله تعالی کور هم محفوظ نه دی، عامو بسونو او موټرو کې ریکارډنګ قانوني طور باندې منع دی ، خو د قانون د حفاظت کونکو په مخکې بسونو او ګاډو کې ریکارډنګ کیږي.

د فلمونو د ې زیاتوالي زمونږ نوی نسل برباد کړ، د ځوانانو دین او اخلاق او د هغوی صحت او توانایي د تفریح د دې بت ته قربانې کیږي، د پر ماشومان د وخت نه مخکې ځوانان شي او د هغوی شهواني جذباتو ته تحریک ملاوشي، کوم چې هغوی په غیرفطري او غلطو طریقو باندې پوره کولو سره د جنسي ناروغیو ښکار شي، د خام ذهن او شرم له وجې هغوی خپل مور و پلار او خپلوانو ته هم نه شي ویلی، د هغوی مور و پلار هغوی معصوم

ګڼلو سره دهغوی نه غافل وي، بیا دښځو بې پردګي، ډول سنګار او دمصنوعي حسن ښکاره کول دې تحریک ته نوره هم ترقي ورکوي، بیا دهلکانو او جینکو ګډوډ تعلیم او دهلکانو او جینکو ملا یدو باقي پاتې کردار ادا کړی دی، راقم الحروف ته روزانه دځوانانو ډېر خطونه ملاویږي، دهغه نه اندازه کیږي چې زموږ معاشرې نه دځوانانوله پاره دوزخ جوړیږي، نن به چېرته یو خوش قسمته ځوان وي، چې دهغه صحت به صحیح وي او هغه به صحیح طریقې سره غټیږي او هغه به ذهني انتشار او جنسي خواهشاتونه محفوظ وي، انصاف وکړئ چې دداسې نسل نه دذهني پوهې او همت به څه امید وساتل شي، دکوم چې لس کم سل فیصده خلک دجنسیت په دلدل کې ګیروي، دقوم مشرانو ته داچغې وهي.

درمیان قعر دریا تخته بندم کرده بازمیگوئی که دامن ترمکن هشیارباش!

کوم کس چې دې حالاتو باندې فکر او عقل سره غور وکړي، نو هغه به فلمي صنعت او دټي وي لعنت ته دنوي نسل دقاتل خطاب کوي.

داخو هغه خطرناک حالات دي، کوم چې زموږ معاشرې او خاص طورباندې ځوانانو باندې خپل اثر کوي، سوال داپیداکیږي چې ایاددې صورت حال اصلاح کول ضروري نه دي؟ ایا نوي نسل ته ددې طوفان او یلانه خلاصی ورکول زموږ دیني، مذهبي او قومي فریضه نه ده؟ او داچې د ماشومانو مور و پلار، معاشره کې د اثر لرونکو حضراتو او دقوم مشرانو دې باره کې څه فرض جوړیږي؟

زماخیال دی چې ډېرو حضراتو ته خوددې قومي او معاشرتي بدي احساس هم نشته، ددې طبقې په نزد باندې دنفس دلذت په مقابله کې، بل نعمت، نعمت نه دی او نه څه نقصان دی، که هغه هرڅومره خطرناک ولې نه وي دهغوی په خیال کې د سترګو، غوږونو او کار روزګار نفساني تقاضې پوره شي، نو بیا هرڅه صحیح دي.

ځینو حضراتو ته ددې پستی او بدی احساس شته، خود همت او عزم دکمزوري له وجې هغوی نه یوازې ددې څه علاج کولی شي، بلکې هغوی خپل ځان دې زماني ته سپارل خیر ګڼي، صاحب! څه وکړو، دې زمانې سره تلل هم پکاردي، دا فقره په ډېرو ژبو باندې ده او دایمان دکمزوري او دهمت او عزم د کمزوري چغلي خوري، دهغوی په خیال کې ګندګي کې مبتلا کیدل خوبده خبره ده، خوکه معاشره کې ددې رواج عام شي او ګندګي خوړل دشرافت معیار وګڼل شي، نو خپل ځان دمعاشرې په نظرکې شریف ثابتولوله پاره پخپله هم هغه شغل کې مبتلاکیدل ضروري دي.

ځینې حضرات ترخپل وسه پورې دې نه ځان ساتي، خو هغوی د معاشرې ددې بدي د اصلاح کولو طرف ته توجه نه ورکوي او نه ددې خلاف دخولې خلاصولو ضرورت ګڼي، دهغوی خیال دی چې دا ناروغي بې علاجه ده. اوددې په اصلاح کې لګیدل فضول دي، هغوی باندې دمایوسي داسې حالت دی چې هغوی نه پوهیږي چې څه وکړو او څه نه؟

ځینې حضرات د دې د اصلاح له پاره اواز اوچتوي، خود هغوی د اصلاح کوششونه په صحرا یا شور کې د اواز کولو حیثیت لري.

دراقم الحروف خیال دی اګرچې اوبه له ورخ نه اوښتې دي، اګرچې ټوله معاشره دې سیلاب کې مبتلاشوې ده، اګرچې فساد د مایوسي اخري حدته رسیدلی دی، خواوس هم زموږ د معاشرې اصلاح ناممکنه نه ده، ځکه چې د هرخلکو داخیال دی چې د دې حالاتو اصلاح کیدل پکاردي، له دې وجې ټول فکرکونکي خلک که دې طرف ته توجه وکړي، نوموږ دخپل نوي نسل د هرخلک د دې طوفان نه بچ کولوکې کامیابیدای شو، دې له پاره به موږ ته انفرادي او اجتماعي طورباندې یوڅوانقلابي کارونه کول وي:

۱ : ټولومسلمانانو میندو او پلارانوته به دې خبره ذهن کې ساتل وي چې هغوی خپلو کورونو کې دریډیو او ټي وي ګانې اورولوسره او فلمي منظرونه ښودلوسره نه یوازې ددنیااواخرت لعنت اخلي، بلکې پخپله خپل لاسونوباندې دخپل اولاد مستقبل تباه کوي، که چېرې هغوی په الله تعالی اورسول ﷺ باندې رښتونی ایمان لري، که چېرې دهغوی دقبراوحشرپه حساب کتاب باندې ایمان وي، که چېرې دهغوی خپل اولادسره مینه وي، نودالله تعالی له پاره، دلعنت داسامان دخپلوکورونونه وباسئ، که نه هغوی خوبه پخپله باندې مړه شي، خودمرګ نه وروسته به هم ددې ګناه وبال هغوی ته قبرونوکې رسیږي.

۲ : دمعاشرې ټول مشران اودردلرونکي حضرات ددې خلاف جهاد وکړئ، محلواوکلیوکې کمیټۍ جوړې کړئ، هغوی دې خپلې محلې او کلي له دې لعنت نه صفاکولوله پاره اثرکونکي طریقې اختیار کړي او دخپلې علاقې خلک دې له دې نه دبچ ساتلوله پاره کوشش وکړي اوحکومت نه دې مطالبه وکړي چې زموږ نوي نسل باندې رحم وکړئ اودنوي نسل دپټ قاتل، اډې دې بند کړل شي.

۳ :دټولونه غټه ذمه داري دحکومت جوړیږي دا اصول منل شوي دي، که چېرې دحکومت دطرف نه دنیکي رواج پیداکولو له وجې دټولونیکي کونکوبرابرثواب به دحکومت خلکوته هم ملاویږي اوکه چېرې دحکومت دځه کار یامشرې له وجې دبدې څه رواج عام شي، نوهغه بدي کونکو برابربه دحکومت خلک هم هغه ګناه کې شریک وي، که چېرې د ریډیو نغمې،دټي وي فلمونه او سازونو محفلونه دثواب کاردی، نوزه حکومت ته مبارکي ورکوم چې څومره خلک د نیکي اوثواب داکارکوي، دهغوی ټولوپه اجراوثواب کې حکومت شریک دي اوکه چېرې دا د بدې اولعنت کاردی، نودې کې هم دحکومت دټولو خلکوبرابربرخه ده، سنیماګانې دحکومت په اجازه باندې خلاصیږي اوریډوان اوټي ویان د حکومت په اجازه باندې دبهرملکونونه راځي اودحکومت په مشرې کې دا ادارې کار کوي، کومې چې دخپلونتیجوپه اعتبارباندې دانسانیت قاتلان دي، زه خپل نیکو اود اسلامي مشرانوحکمرانانونه غوښتنه کوم، چې دالله تعالی له پاره قوم ته ددې لعنتونونه

خلاصی ورکړئ، که نه دالله تعالی نیول ډېر سخت وي، خاص طور باندې کله چې ملک کې داسلامي نظام بنیادکیښودل کیږي، ضروري ده چې معاشره له دې ګندونو دصفاکولو اهتمام وکړل شي، که نه کومه معاشره چې دې ګندګیو کې تر غاړې پورې ډوبه وي، هغې کې داسلامي نظام ترقي کول ممکن نه دي.

۴ : عالمانو حضراتو ته خواست دی چې هغوی په خپلو خطبو او وعظونو کې ددې بلا په قباحتونو باندې رڼا واچوي اودټولو جوماتونو نه ددې مضمون غورچاڼ حکومت ته ولیږل شي چې پاکستان دې دفلمي صنعت نه پاک کړل شي.

غرض داچې ددې سیلاب مخې ته بندوهلوله پاره، هغو ټولو خلکوته مخکې راتلل پکار دي کوم چې پاکستان دالله تعالی دقهرنه بچ کول غواړي.

ویل کیږي چې دزرګونو خلکو روزګار فلمي صنعت سره تعلق ساتي اوکه چېرې دابندکړل شي، نو داپه زرګونو خلک به بې روزګاره نه شي؟ دخلکو دبې روزګاري مسئله بې شکه ډېره اهم مسئله ده، خو دټولونه مخکې داکتل پکاردي چې ایایوڅوخلکو ته دروزګار ورکولو په بانه باندې ټول قوم دهلاکت کندې ته وغورځول شي؟ اصول دادي که چېرې دیوکس کاروبار دملک اجتماعي مفادوله پاره نقصان ورکونکی وي، نوهغه ته دکاروبارکولو اجازه نه ورکول کیږي، د ډاکوانو اوغلوکار وبار بندولو سره هم دځینو خلکوکاروبار متاثره کیږي، نوایاموږ ته دغلا او ډاکې کولو اجازه ورکول پکار دي؟ اسمګلنګ هم دزرګونو کسانو پیشه ده، ایاقوم اوملت به دا برداشت کړي؟ دشرابو صنعت اواخیستلو خرڅولو اود چرسو پوډرو کاروبار سره هم د زرګونو خلکو روزګاردی، ایاهغوی ته هم اجازه ورکول پکاردي؟ ددې سوالونو په جواب کې به ټول عقل لرونکي په یوځای اوازکې ووایې کوم خلک دخپل کاروبارله پاره ټولې معاشرې ته نقصان ورکوي، هغوی ته به دڅه بل جائزکاروبار مشوره ورکړل شي، خومعاشرې سره دلوبو کولو اجازه به ورته ورنه کړل شي، بالکل همدغه اصول په فلمي صنعت باندې هم اختیارول پکار دي، که چېرې دامعاشرې له پاره بدنه ګڼل کیږي، نودادبصیرت او فراست کمزوري ده اوکه چېرې دامعاشرې اوخاص طورباندې د ځوانانو اونوي نسل له پاره بدګڼل کیږي، نوددې عام ضررباوجود دا برداشت کول دحکمت اوعقل مندي خلاف دي.

کوم خلک چې فلمي صنعت سره تعلق ساتي، هغوی ته څه بل روزګارورکول کېدای شي، مثلا سنیماګانې په تجارتي مرکزونو بدلېدای شي، که چېرې غور وکړل شي، نودابه ښکاره شي چې دادفلمونو لوبې ټوکې یوازې دقوم اخلاقي ډانچې نه تباه کوي، بلکې اقتصادي طور باندې هم دملک له پاره خطرناکې دي ،کوم افرادي اومادي قوت چې دې فضول اوبې فائدې ګناهونو کې ضائع کیږي، که چېرې هغه دملک په زرعي، صنعتي، تجارتي اوسائنسي ترقي باندې خرچ شي، نوملک په دې شعبوکې ډېره

ترقي کولی شي، د دې فائده به هغه سره تعلق ساتونکي خلکونه پرته ټول قوم ته رسيږي.
غرض داچې کوم خلک فلمي صنعت سره تعلق ساتي، دهغوی صلاحيتونه داسې روزګار
کې استعمالېدای شي، کوم چې ددين، معاشرې اوقوم دوجودله پاره فائده ورکونکي وي

## د تصوير حکم

**سوال:** هم هغه ورځ باندې تاسو دسوال په جواب کې ليکلي و چې تصويرحرام دی
اوهغه له پاره تاسو دحضرت مفتي محمدشفيع ديوبندي رحمه الله حواله ورکړې وه،
پوښتنه داکول غواړم که چېرې تصويرحرام دی، نو زموږ ملک سره سره نوردټولواسلامي
ملکونوپه کرنسي نوټونو باندې تصويران دي، موږ دغه تصوير والا کرنسي نوټ په جيب
کې کېښودوسره لمونځونه کوو، ايا زموږ لمونځ قبليږي؟

زموږ دملک اوچت اوچت عالمان سياسي جماعتونوسره تعلق ساتي، هره ورځ په
اخبارونو او رسالوکې دهغوی انټرويو راځي، دهغه سره دهغوی تصويران هم چاپ کيږي،
خو يو عالم هم اخبارمنع نه کړو چې انټرويوچاپ کړه اوتصويرمه چاپ کوه.

دحج دوران کې دحج رکنونه هم په ټي وي باندې نيغ په نيغاښودل کيږي،اياداهم
صحيح نه دی؟ اوکتونکي هم ګناهګاردي؟ اوداهم يوعکس دی، دغه شان بې شميره شيان
دي، کوم چې تاسوته هم معلوم دي.

**جواب:** دې سوال کې يوه بنيادي غلطي ده، هغه داچې يوقانون دی اودويم شی دی قانون
باندې عمل نه کيدل، زه خودشريعت قانون بيانوم، زمادې سره هيڅ بحث نشته چې قانون
باندې کوم حدپورې عمل کيږي اوکوم پورې نه؟ رسول الله ﷺ تصويرحرام ګرځولی دی
او تصوير جوړونکي باندې يې لعنت فرمايلی دی، اوس که چېرې ټوله دنيادې قانون
خلاف ورزي شروع کړي، نودې قانون ته خوشرعي طورباندې غلط نه شي ويل کېدای
اوقانون ماتونکي به ګناهګار وي، کوم خلک چې نوټونوباندې تصويران چاپ کوي،
اخبارونوکې تصويران چاپ کوي، دحج فلمونه جوړوي، ايادرسول الله ﷺ دمقرر شوي
قانون په مقابله کې دهغوی څه کاريا قول حجت کېدای شي؟ که چېرې نه، نودهغوی
دحوالې ورکولوڅه معنا شوه؟

ځان پوه کړئ که دپاکستان مشردی اوکه دسعودي عرب، سياسي ليډروي اوکه
عالمان مشائخ،داټول امتيان دي، ددوی قول اوفعل شرعي سندنه دی، چې درسول
الله ﷺ په مقابله کې ددوی حواله ورکړل شي، دوی ټول که چېرې امتي جوړيدوسره
دحضور ﷺ په قانون باندې عمل کوي، نودالله تعالی په نزدبه ورته ثواب ملاوشي اوکه
چېرې يې نه کوي، نودالله تعالی په دربارکې به دمجرم په حيثيت باندې وړاندې کيږي،
بياالله تعالی که هغه معاف کوي او که سزاورکوي، بهرحال ديومجرم قانون ماتول، په

قانون کې نرمي نه پیداکوي، موږخلک ډېره سخته غلطي کوو، کله چې دالله تعالی دقانون په مقابله کې دفلانکي فلانکي دعمل حواله ورکوو.

دتصویروالانوټ جیب کې کیښودو سره لمونځ نه ماتیږي، دډېرسخت ضرورت نه پرته تصویرویستل جائزنه دی اودحج فلم جوړول اوکتل هم جائزنه دی.

## د ښځې حکمراني

**سوال:** دروزنامه جنگ کراچی په اسلامي صفحه باندې دتیرودریو جمعونه مسلسل (مورخه ۲۷ جنوري، ۳ فروري او ۱۰ فروري ۱۹۸۹ء) دجناب مفتي محمدرفیع عثماني رحمه الله صاحب یوتاریخي مضمون د"عورت بحیثیت حکمران" په نوم باندې چاپ کیږي.

مفتي صاحب دې مضمون کې دقران کریم، احادیثو، امامانو، فقهاوو او عالمانو دقولونو اوحالاتونه داخبره ثابت کړې ده، چې دیواسلامي ملک مشره ښځه نه شي کېدای. سیاست سره تعلق ساتلونه پرته خالص طورباندې اسلامي عقیده ساتلوسره تاسو نه ددې سوال کولوهمت کوم چې داوسني دور حکمران یوه ښځه ده اوقران، حدیث، عالمانو او فقهاوو ددې مخالفت کړی دی، خوبیاهم پاکستانیانویوه ښځه خپله مشره جوړه کولوسره دقران اوحدیث دښکاره حکمونوخلاف ورزي کړې ده، ایاټول قوم به دقران اوحدیث دې حکمونوخلاف ورزي کولوباندې ګناهګاروي اوایاټول قوم ته به ددې عذاب ملاویږي؟ اوزموږ اوسني اسلامي شعائرواوفرائضوباندې به خوځه اثرنه غورزیږي؟

**جواب:** دالله تعالی، حضور ﷺ اودامت داجماع اوښکاره فیصلې خلاف ورزي کولو باوجود هم ستاسوپه ګناهګارکیدوکې څه شک دی؟ نیغ په نیغه ګناه خوپه هغو خلکو باندې ده، چاچې یوه ښځه د حکومت مشره جوړه کړې ده، خوددې وبال به ټول قوم باندې وي د مستدرک حاکم کې صحیح سند سره دحضور ﷺ ارشادنقل کړی دی:

**هلکت الرجال حین اطاعت النساء.(مستدرک حاکم، ج٤ ص۲۹۱)**

**ترجمه:** هلاک شول سړي کله چې هغوی دښځې اطاعت وکړ.

اوس داتباهي اوهلاکت پاکستان باندې کوم کوم شکلونو کې نازلیږي؟ ددې انتظاروکړئ.

## څاروي خصي کول

**سوال:** دقرباني له پاره چې کومه چیلی ساتل کیږي، هغه خصي کړل شي، یوازې دې نیت باندې چې ښې طریقې سره غټ شي اوغوښه هم پکې ډېره وي اوخاص طورباندې خرڅونکي خلک یې ډېرخصي کوي، چې په ښه قیمت باندې خرڅ شي، کله یې چې خصي کوي، نو چیلی ډېرې اوچتې اوچتې چغې وهي، نوایاداپه څاروي باندې ظلم نه دی؟

**جواب:** دڅاروي خصي کول جائزدي اودهغه قرباني هم جائزده، دکوم حدپورې چې ممکن

وي کوشش کول پکار دي چې خاروي ته کم تکلیف اورسیږي.

## ږیره خریل حرام دي

**سوال:** تاسو ارشاد وفرمایلو چې ږیره غټول واجب دي او هغه کټ کول یا خریل (کله چې د یو متي نه کمه وي) شرعي طور باندې حرام او کبیره ګناه ده:

۱: جناب عالي! ما پاکستان کې دروژې په میاشت کې ډېر حافظان داسې لیدلي دي چې هغوی د تراویح لمونځ ورکوي او ږیره خریي.

۲: د ټولونه اوچت مثال زموږ د حکیم سعید احمد صاحب همدرد والا الحاج حافظ دی، لس کم سل کاله عمریې دی، په خپلې رسالې" همدرد صحت، کې اول مضمون قران او د ریم دحدیث وي، پخپله لیکي، ایا هغوی ته دا مسئله نه ده معلومه؟

۳: دلته د ریاض مقامي خلکو کې ډېر خلک لږه شان ږیره ساتي او وایي چې د امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په فقه کې جائز ده.

۴: دې مسئلې باندې یو قابل، تعلیم یافته چاسره چې دعربي او فقې ډګر دی، خبرې وکړې، هغوی هم وویل چې وړه ږیره حرامه نه ده.

مهرباني وکړئ، تفصیل سره جواب راکړئ، چې د پاکستان او هندوستان اکثر مسلمانانو دلته راتلو سره ددوی په ږیرې ساتل شروع کړي، ځکه چې عمرې او حج کولو نه وروسته دلمونځ پابندي هم کوي.

**جواب:** فاسقان دي، دهغوی په اقتدا کې لمونځ کول مکروه تحریمي دي.

۲: دا خبره به حکیم صاحب ته معلومه وي چې هغه ته ددې مسئلې پته شته او که نه؟

۳: دا خلک غلط وایي په یوې فقه کې هم جائزنه دي.

۴: هغه سره ډګري دی، که یوازې دډګرولو وجې علم راتلی، نو دمغرب مستشرقینو سره دهغه نه غټې ډګرئ دي، دې موضوع باندې زماوړوکې شان رساله ده"د ږیرې مسئله، ضرور ولولئ.

## د ښځې د پاره معاش ګټل

**سوال:** مورخه ۲۰ جنوري ۱۹۹۲ء روزنامه جنګ کې محترمه سلمي احمد صاحبه دکراچي سټاک ایکسچنج نوی منتخب شوي عهدیدارانو په استقبالیه کې تقریر کې دسورة نساء د ایت نمبر ۳۱ حواله ورکولو سره وویل چې :ښځه څه ګټي هغه دهغه برخه ده او سړی چې څه ګټي، هغه دهغه برخه ده، وروسته ښځوته د کاروبارکولو اجازه شته او قران کریم کې ددې ایت ترجمه داده چې سړیوله پاره دهغوی دعملونو برخه ثابت ده او ښځوله پاره دهغوی دعملونو برخه ثابت ده.

دقران کریم دترجمې چېرته داثابتیږي چې ښځې ښکاره طور باندې کاروبارکولی شي؟ اودهرکس په شان ښځوته به هم دهغوی دعملونوبرخه ملاویږي اوسړیوته به هم دهغوی دعملونو برخه ملاویږي، نومحترمه بیګم سلمي صاحبه دکاروبارمفهوم دکوم ځای نه راویستلو، دې نه مخکې جناب مولاناطاهرالقادري صاحب هم دمرحوم جنرل محمدضیاء الحق صاحب دریفرنډم په زمانه کې دخطاب دوران کې هم داسې ترجمه کړې وه، ځکه چې مرحوم هم په هغه زمانه کې پاک پتن شریف کې تقریرکې دښځواجتماع ته خطاب کې هم داترجمه کړې وه چې ښځې کاروبار کولی شي، ددې تائیدکولوباندې مولانامحترم دشوې دمجلس ممبرجوړکړې شو.

تاسو ته ادب سره خواست دی چې تاسومهرباني وکړئ،

دپورته ذکرشوي ایت مبارک صحیح ترجمه چاپ کولوسره امت دنوې مسئلې نه بچ کړئ.

**جواب:** دلته دوه مسئلې جداجدادي اوله داچې دښځې له پاره د معاش دګټلوځه حکم دی؟ ما ددې مسئلې وضاحت مخکې هم کړی دی، چې اسلام بنیادي طورباندې دمعاش دګټلو بوجه په سړیو باندې اچولی دی اودښځوخرچې یې دهغوی په ذمه باندې کړې دي، خاص طور باندې دواده نه وروسته دهغوی خوراک څښاک ذمه داري په سړیوباندې اچول شوې ده اودا یو داسې ښکاره حقیقت دی، چې دې له پاره دلیلونه وړاندې کول فضول کاردی، ابلیس چې دمغرب په ښځو باندې کوم غټ ظلم کړی دی، هغه دادی چې دښځو اود سړیو د برابري افسوس ناکې نعرې سره یې ښځه دمعاش ګټلوپه ګاډي کې اچولوسره دسړیو بوجه هغې باندې واچولو اود کومو حضراتوچې تاسوذکرکړی دی هغوی هم ددې مسلک داعیان دي اوددې له وجې چې کومې خرابي مغربي معاشره کې پیداشوی دی، هغه دیومسلماني معاشرې له پاره دپسخیدونه بلکه دشرم قابل دی.

اوځینې صورتونوکې ښځوته دسړیوبوجه اوچتول وي، دداسې ښځودمعاش ګټلو باندې مجبوریدل یواضطراري حالت دی اوکه دخپل عزت، عصمت اونسوانیت حفاظت کولو سره که هغه دشرافت په ذریعه باندې معاش اوګټي، نودهغې اجازه شته.

دویمه مسئله دبیګم صاحبې دقران کریم دایت نه داستدلال ده، ددې باره کې به مختصر طور باندې هم دا ووایم چې ددې ایت دهغې ښځې دعوې سره هیڅ تعلق نشته، بلکې دا ایت دهغې ددعوې نفي کوي، ځکه چې ددې ایت نازلیدل دځینې ښځوپه دې سوال باندې شوی و، چې هغوی دسړیو برابرول نه دي ګیښودل شوي؟ سړیو ته میراث کې دوه چندا برخه ملاویږي، حضرت مفتي محمدشفیع رحمه الله په تفسیرمعارف القران کې لیکي.

"دې نه مخکې ایتونوکې دمیراث حکمونه تیرشوي دي، هغه کې داهم ویل شوي دي چې دمړي په وارثانوکې که سړي اوښځې دواړه وي اودمړي سره یې هم شان خپلوي وي، نوسړي ته به دښځې په مقابله کې دوه چنده برخه ملاویږي، دغه شان نورفضیلتونه

هم د سړیو ثابت دي، حضرت ام سلمه رضي الله عنها یوځل حضور ﷺ ته عرض وکړ چې موږ ته نیم میراث ملاویږي اونورهم فلانکي فلانکي فرق دی موږ او سړیو کې.

مقصدیې اعتراض کول نه و، بلکې دهغې خواهش وکه چېرې موږ هم د سړیو برابر وو، نوموږ ته به هم دسړیو په شان فضیلتونه حاصل وي، ځینوښځو داخواهش ښکاره کړ چې کاش موږسړي وای، نو موږ به هم دسړیو په شان جهادکې برخه اخیستله او د جهاد فضیلت به موږته هم حاصل و.

یوې ښځې حضور ﷺ ته عرض وکړ، سړیو ته میراث کې دوه چنده برخه ملاویږي او د ښځې ګواهي هم دسړي نیمه ده، نوایا عبادتو اوعملونو کې به هم موږ ته نیم ثواب ملاویږي؟ دې باندې دا ایت نازل شو، په کومې کې چې ددواړوقولونوجواب ورکړل شوی دی، دحضرت ام سلمه رضي الله عنها جواب ولاتتمنوا سره ورکړل شوی دی اودهغې ښځې د قول جواب للرجال نصیب سره ورکړل شوی دی. (تفسیرمعارف القران ص ۳۸۸ ج ۲)

خلاصه داچې ایت شریف کې ویل شوي دي چې دسړیواو ښځوخاصیتونه جدا جدا دي، او دهغوی دکوشش اوعمل میدان هم جداجدادی، د ښځو د سړیو او د سړیو د ښځوخپلوکې څه مقابله ده؟ ددې خواهش هم نه دي کول پکار، دقیامت په ورځ به هرکس دهغه دکوشش اوعمل نتیجه ملاویږي، سړیوته به دهغوی دمحنت او ښځوته به دهغوی د محنت، که سړي وي اوکه ښځه، څوک به هم دهغوی دمحنت دنتیجې نه نه شي محرومولی.

بیګم صاحبې چې ددې ایت نه څه مطلب اخیستل غوښتې دی هغه دادی چې د سړیو دنیاوي ګټه به هغوی ته ملاویږي اودښځوهغې کې هیڅ حق نشته اودښځومحنت مزدوري دهغوی ده، دسړیوهغې کې هیڅ حق نشته، که چېرې دامضمون صحیح وي، نو د دینا یو عدالت به هم دښځې دخوراک څښاک ذمه داري په سړي باندې نه اچوله اوعدالتونوکې چې د خوراک څښاک باره کې څومره کیسونه دي، هغه ټول خارجول پکاردي، چې دبیګم صاحبې دتفسیر مطابق دسړي ګټه دسړی له پاره ده اودښځې په هغې کې هیڅ حق نشته.

استغفرالله ! حیرانتیاده چې داسې ښکاره خبره دخلکوپه عقل کې نه راځي.

## ماشوم که چیرې لاندې راتلوسره مړشي

**سوال:** زموږ دعلاقې ښځې دشپې بچي ځان سره په یوې بسترې کې اوده کوي، څه داسې واقعات شوي دي چې دښځودابچي اکثر دشپې په خوب کې دهغوی لاندې کېدو له وجې مړه شي، نوددې ځای خلک هغه ښځې دوه میاشتې مسلسل روژې نیولو باندې مجبوروي، دلته مود ډېرو عالمانونه دې باره کې وپښتنې وکړې، خوصحیح جواب نه محروم یم، له دې وجې تاسونه دې باره کې صحیح جواب اوراهنمایي ضرورت دی.

**جواب:** که چیرې دښځې نه لاندې کېدو له وجې ماشوم مړ شي، نودا "قتل خطاء" دی اود

خطا دقتل حکم قران کریم کې منصوص دی، چې یوخوبه دیت واجب وي، کوم به چې د قبیلې خلک دښځې نه دمقتول خپلوانوته ورکوي. دویم داچې دقاتل په ذمه به دوه میاشتې مسلسل روژې نیول لازم وي. داسې ښځوباندې دوه میاشتې مسلسل روژې نیول لازم دي.

## دسړي او ښځې په لمونځ کې فرض

**سوال:** ایا دسړي اوښځې په لمونځ کې فرق شته؟ مثلا ښځه په سینه باندې لاسونه تړي او سړی یې په نوم باندې، نبي کریم ﷺ داسې فرمایلي دي چې لمونځ داسې کوئ؟ که چېرې فرمایلي دي، نودکوم حدیث نه ثابت دي؟ که سړی په سینه باندې لاسونه وتړي، نودهغه لمونځ به نه کیږي؟ اودسعودي کې خلک حنبلي اوټول ښځې اوسړي په سینه باندې لاسونه تړي، اوشوافع هم په سینه باندې لاسونه تړي، نوایاداغلط دي؟

**جواب:** دښځواوسړیوپه حکمونوکې بې شمیره فرقونه دي، دښځې سترجدادی اودسړي جدا،دغه شان ددوی په نورومسئلوکې هم دېرزیات فرق دی اوهغه ټولې دقران اوحدیث نه اخستل شوي دي.

**سوال:** رکوع کولووخت کې اورکوع نه پاسیدوسره رفع یدین کوي، دادحدیث نه ثابت دي اوکه نه؟ اوکه چېرې منع دي، نوکوم صحیح حدیث کې دی؟ څنګه چې خلک وایي چې خلکوبه بتان راوړل او وروسته بیارفع یدین منع کړل شول چې اوس مه کوئ اوچت اواز باندې امین ویل کله منع شوي دي؟ خلک وایي چې وروسته نه به خلک دلمونځ نه تختیدل له دې وجې حضور ﷺ حکم وکړ چې امین په اوچت اوازباندې وایئ اووروسته بیامنع کړل شول، نودصحیح حدیث نه بیان کړئ چې داکله منع کړل شوی دی؟

مونږ دځلور پنځو کسانونه پوښتنه وکړه، زه یوجاهل سړی یم، خویقین یوازې په قران اوحدیث باندې لرم، له دې وجې تفصیلي مکمل جواب راکړئ، زه تاسوته دخپل رب واسطه درکوم اوکه تاسودخپلې مورپې څښکلې وي، نوزمونږددې سوالونوجواب ضرورراکړئ.

**جواب:** درفع یدین اوترک یدین دواړواحادیث موجوددي اودصحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعینو حضراتو عمل هم ثابت دی، دغه شان دامین مسئله کې هم دواړه قسمه احادیث موجوددي او دصحابه کرامو اوتابعینوعمل هم، کوم اختلاف چې دې هغه په دې کې دې چې دواړوکې کوم صورت افضل دی؟

جواب خوماعرض کړ، خوددې سوال په جواب باندې پوهیدو له پاره هم دعلم ضرورت دې، که چېرې تاسودالله تعالی واسطه اود موردپیوذکرنه وای کړی، نوبیابه هم ماجواب درکولو، ایا زه تاسونه داپوښتنه کولې شم چې دالله تعالی واسطه ورکول اودچا

د مور د پېنو ذکر کول په کوم حدیث کې راغلی دی؟ او ایا په احادیثو کې یوازې د رفع یدین او امین مسئله ده، د انساني اخلاقو باره کې پکې هیڅ هم نه دي راغلي؟

## د اصل سوري مفهوم

**سوال:** د فقهاء کرام رحمة الله علیهم اجمعین یو عبارت دی، بلوغ ظل کل شئ سوی فی زوال، د دې څه مطلب دی؟ او د دې استثناء نه څه مراد دي؟

**جواب:** د نصف النهار په وخت کې چې دیوشی کوم سوری وي، هغه ته اصل سوری ویل کیږي، مثل اول او مثل دوم حساب کولو سره اصلي سوری مستثنی کېدای شي، مثلا د نصف النهار په وخت کې د یوشي سوری یو قدم و، نو د مثل اول ختمیدو نه وروسته به د هغه شي سوری د مثل سره یو قدم شمیرل کیږي.

## اذان نه مخکې د رواج شوي درود او سلام لوستلو شرعي حیثیت

**سوال:** څو ورځې مخکې زما یو کس سره په دې خبره باندې بحث وشو، چې د اذان نه مخکې رواج شوی درود او سلام کوم چې نن سبا د برزیات عام شوی دی، دا بدعت دی او که نه، زما موقف دا و چې د اذان نه مخکې چونکې د حضور ﷺ په زمانه کې درود او سلام چونکه د حضور ﷺ او صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ثابت نه دي، په دې وجه باندې دا بدعت دی، او د سنت خلاف دی، او هغه سړی وویل چې دا درود او سلام بدعت دی، خو ښه بدعت دی، او د دې کونکي ته به اجر او ثواب ورکول کیږي او د خپل موقف د وضاحت له پاره هغه د درمختار او د فقې د څه کتابونو او د دیوبند د ځینو عالمانو عبارتونه مثلاً: د مولانا عبدالشکور لکهنوي رحمه الله د کتاب" علم الفقه، په حواله باندې وویل چې د دې بزرگانو هم دې صلوة او سلام ته ښه بدعت ویلي دي، او د دې کول یې د اجر او ثواب ذریعه لیکلې ده، له دې نه پرته هغه دا هم وویل چې مدارس عربیه وغیره هم د نبي کریم ﷺ او صحابه کرامو رضی الله عنهم په زمانه کې نه وې، نو دا هم بدعت دي، بیا تاسو مدرسې وغیره ولې جوړوئ، مهرباني وکړئ تاسو د دې یو څو خبرو جواب راکولو سره زما او زما د څه دوستانو پریشانی لرې کړئ، الله تعالی دې تاسو ته اجر درکړي.

**جواب:** درمختار کې د اذان نه مخکې د صلوة او سلام ذکر نشته، بلکې د اذان نه وروسته ذکر دی، د درمختار د عبارت ترجمه ده:

**فائده:** د اذان نه وروسته سلام ویل ربیع الاخر کې په ۷۸۱ھ کې د سوموار په شپه باندې د ماخوستن د اذان نه وروسته ایجاد شو، بیا د جمعې په ورځ، بیا لس کاله د مابنام نه پرته ټولو مونځونو کې، بیا مابنام کې دوه ځله او دا ښه بدعت دی.

خو محشي دې ته ناقابل التفات ویلي دي، کوم ځیز چې د حضور ﷺ نه اته سوه

کاله وروسته ایجاد شوی وي هغه دین کې څنګه داخلیدای شي؟
غرض داچې د درمختارحواله خوهغه بالکل غلطه ورکړې ده، او د مولانا عبدالشکور لکهنوي رحمه الله کتاب" علم الفقه، ماسره نشته. هغه ته ووایئ چې دهغې فوټوسټیټ ماته راولیږي.

## حضور ﷺ سره به هیڅ نه پاتې کیدل

**سوال:** یوطرف ته خود حضور ﷺ دغریبي اولوږې په سوونو واقعات او احادیث موجود دي اوبل طرف ته په کتابونو کې دډېر زیات سامان مثلاً ډیریش غلامان، سل چیلۍ، اسونه، خچر، اوښې اوداسې نور... د حضور ﷺ ملکیت ښودل شوي دي، دابن قیم په زادالمعاد او د مولانا تهانوي رحمه الله په نشرالطیب کې ددې پوره تفصیل دی، دا اختلاف څنګه ختمیدای شي؟

**جواب:** حضور ﷺ سره به هیڅ شی نه پاتې کېدل، هرڅه به ډېرزیات راتلل، خوهماغه به تلل هم، زادالمعاد یانشرالطیب کې ددې شیانو فهرست دی، کوم چې وخت په وخت دحضور ﷺ په ملکیت کې و، دانه چې هروخت به ورسره و.

**سوال:** طبقات ابن سعد کې دي چې حضور ﷺ به یو خصي ګډ دټول امت اودخپل ال اولاد له لوري قرباني کاو، دې نه معلومیږي چې هریوکس به قرباني نه کوله.

**جواب:** قرباني به یې کوله، الفاظ خوماته یادنه دي، ترکومه حدپورې چې ماته یاددي، یوګډ حضور ﷺ قرباني کړ اوویې فرمایل چې دا زمادامت دهغو خلکوله لوري نه دی کوم چې قرباني نه شي کولی، مشکات شریف ص۱۲۷ کې دمسلم په روایت باندې دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دی چې حضور ﷺ ګډ ذبح کړ اوویې فرمایل چې اې الله ! قبول یې کړه، دمحمد دطرف نه اودمحمد د اولاد دطرف نه اود محمد دامت له طرف نه، یوګډ کې دوه کسان هم نه شي شریکېدای له دې وجې دانتیجه اخیستل چې هریوکس به قرباني نه کوله، صحیح نه ده.

## د عذرله وجې دعوت نه قبلول سنت پریښودل نه دي

**سوال:** دیومسلمان دطعام دعوت پرته دځه شرعي عذرنه نه قبلول څنګه دي؟ حضور ﷺ نه دچادعوت نه قبلول ثابت نه دي، بلکې حضور ﷺ به په دعوت باندې خوشالېدو، یودعوت کې حضرت عائشه رضي الله عنها په اصرارکولوباندې شریکه کړه، دیونائي دعوت قبلول هم دحضور ﷺ نه ثابت دي.

**جواب:** ددعوت قبلول هم دمسلمان په حقونو کې یوحق دی، له دې وجې دعذرنه پرته نه دی پریښودل پکار، خو مختلف قسمه عذرکېدای شي، که چېرې څوک دځه عذرله وجې

معذرت وغواړي، نو هغه به معذوروي، سنت پرېښودونکی به نه وي.

## د کوهي يا د سړک ثواب ښبنل

**سوال:** تاسو وفرمايل چې بحث ختم، له دې وجې به زه د حکم خلاف نه کوم، خو د دې جواب به ستاسو په ذمه وي چې دوه ډې يوازې غريبانانو باندې خوړلو سره ثواب ښبنل کېداى شي ؟ نو خلک چې د ثواب ښبنلو له پاره کوم سړکونه جوړوي، کوهيان کني، د سوري له پاره ونې لګوي، نو ايا هغه هم يوازې غريبانانو له پاره پکاردي، چې ثواب وښبنل شي ياچې هرڅوک فقير او غني دې نه فائده واخلي، نو ثواب به ورته حاصلېږي؟

**جواب:** داد رفاه عامه کارونه دي اوصدقه جاريه ده او صدقه جاريې ثواب منصوص دی.

## په خاصو شپو کې رڼاګانې کول او جنډې لګول

**سوال:** ايا د او د ويشتمې روژې په شپه باندې او د دولسم ربيع الاول په شپه باندې د رڼاګانو او جنډو انتظام کول د ثواب کاردی؟

**جواب:** په خاصو شپو باندې د ضرورت نه زياتې رڼاګانې کول و ته فقهاوو بدعت او فضول خرچي ويلي دي.

## مشروباتو باندې دم کول

**سوال:** ديو څو مسئلو حل د قران او حديث په رڼاکې مطلوب دی.

يو کتاب مې له نظرنه تيرشو چې په هغه کې داحديث مبارک و، ابوسعيد خدري رضي الله عنه روايت کوي چې نبي کريم ﷺ د څښلو شي ته پوکي ورکولو نه منع فرمايلې ده.(ترمذي) اوس مسئله داده چې په اوبو باندې څه ايت مبارک ويل او دم له پاره پوکی وهل کيږي دغه شان اوبو ته پوکی ورکول او هغه اوبو څښل جائزدي او که نه؟

**جواب:** په اوبو باندې د دم ممانعت نشته، د ساه اخيستلو ممانعت دی، والله اعلم!

## د يتيمانو ماشومانو د پالنې حق

**سوال:** زمادرې لوڼه او دوه زامن دي او زماخاوند وفات شوی دی، تيره مياشت زما کشر زوی په عمان کې داوږدې ناروغۍ نه وروسته په عمان کې وفات شو، دهغه نه دوه زامن اويوه لور پاتې شول، دهغه ښځې ماشومان دځان سره سيالکوټ ته بوتلل اوزه دخپل مشر زوی سره په عمان کې اوسيږم اودوی زمامشرزوی ډېر ايسارکړل مګرهغې خپل درې واړه ماشومان او خپل ټول سامان وغيره يووړ، زمامرحوم زوی دخپلې ښځې په نامه په سيالکوټ کې يو کور جوړکړی و اودهغه ښځه دلته په سکول کې سبق ښئي، زمادکونډې اينګور داحق جوړيږي چې هغه دې ځان ته اوسيږي، هرکله چې زمازوی وايي چې هغه دا

او د دې ماشومان په خپل کور کې ساتلی شي او د هغې ټولې خرچې هم برداشت کولی شي او د بڼه طريقې سره د هغوی خصمانه کولی شي. دا ياد لرئ چې زما د مشر زوی هم شپږ ماشومان دي.

**سوال:** زما د کونډې اينګور په کور باندې څه حق دی؟

**جواب:** که ستا مرحوم زوی هغه مکان د خپلې ښځې په نامه کړې وي، نو هغه مکان هم د هغې دی او په هغې کې د بل هيڅ حق نشته.

**سوال:** زما مرحوم زوی ته د لته د سرکار له طرف نه ډېرې پيسې ملاوشولې، په هغو روپيو کې زما او زما د دريو لونو او زما د مشر زوی څومره حق جوړيږي؟

**جواب:** په دغه روپو کې (او د مرحوم په تمام ترکه کې) ستا (يعنې د مرحوم د مور) بې شپږمه برخه ده او د کونډې اتمه برخه ده او پاتې تمام مال د مرحوم د بچيو دی، چې بچي يې وي، نو د مرحوم د ورور او خويندو هيڅ حق نشته.

**سوال:** که د عدت پوره کيدو نه وروسته زما د زوی ښځه بل واده کوي، نو زما د زوی ماشومان به څوک پالي؟ زه خو ډېره ضعيفه يم او څه د امدني ذريعه مې هم نشته.

**جواب:** که کونډه داسې ځای کې واده کوي چې د بچيو له پاره نامحرم وي، نو هغې ته به د ماشومانو د پالنې حق نه وي، بلکې دنيا، د ترور،.... على الترتيب حق به وي.

**سوال:** ايا زما مشر زوی د اماشومان ترې غوښتی شي؟

**جواب:** د جينکو د پيغليدو نه وروسته او د هلکانو د اوو کالو عمر پوره کيدو نه وروسته اخستی شئ.

**سوال:** زما د مرحوم زوی د ماشومانو او خپله ټوله خرچه کونډه په خپله برداشت کوي او وايي چې زما د مرحوم خاوند د رونو او خويندو هيڅ حق نشته.

**جواب:** ما درته پورته ليکلي دي چې د مرحوم په مال کې د ورور او خوئندو هيڅ حق نشته، د مور شپږمه برخه ده او د کونډې اتمه برخه او پاتې ټول مال د يتيمانو دی، څوک هم چې دا خوري د اور سکروټې به خوري.

يادونه: د ماشومانو د مال ساتنه د هغوی د مشرتره په ذمه دی مګر هغه دې په خپله نه خوري، بلکې په ماشومانو دې خرچ کړي.

## د کنټيکټ لينس په صورت کې د اوداسه مسائل

**سوال:** نن سبا د چشمو (عينکو) په ځای د کنټيکټ لينس استعمال ډېر عام شوی دی، کنټيکټ لينس په سترګه کې د ننه (د ګول تورې برخې له پاسه) لګول کيږي دا د پلاسټک په ګول شکل کې وي او د سترګې هغه برخه باندې خورشي او بيا د دې د لګولو نه وروسته د نظر

د عينکو د لګولو ضرورت نه پاتې کيږي، داټرانس پيرنټ يعنې شفاف وي او په مختلفو رنګونو کې ملاويږي پوښتنه داده مولاناصاحب! چې ايا د لينسز په سترګوکې د موجودګي په دوران کې که دلمانځه له پاره اودس وکړل شي، نو ايا هغه به صحيح وي؟ «دلينسز لګولونه وروسته مخ لاس وينځل کېدای شي» مهرباني وکړئ او د اسلامي نقطه نظر او قواعد او ضوابطو مطابق راته ووايئ چې ايا اودس به صحيح وي او که نه؟دويمه خبره داده چې په روژه کې ددې لګولوسره څه نقصان خو نشته ؟ دروژې د ماتيدويامکروه کيدو لږ شان هم احتمال خونشته؟

**جواب:** دې سره په اودس اوغسل باندې هيڅ اثرنه پريوځي اونه ورسره په روژه کې څه کراهت راځي.

## ايا زه په ژوند کې وصيت کولی شم

**سوال:** زما اراده ده چې دسنت مطابق په خپل ژوندکې وصيت وکړم زمايوازې يوه لورده، بل څه اولاد مې نشته اومور، څلور ورونه يو اوپنځه خويندې مودي کومې چې تولې واده شوي دي زمور، دڅلور وواړو ورونوګټه جداجداده اودپلارله طرف نه ميراث مويوه باراني ځمکه ده چې تراوسه پورې تقسيم شوې نه ده، پاتې هرکس په خپله ګټه دکان يامکان وغيره اخيستی دی کوم چې هريوپه خپل نامه کړي دي اوزمادخپلې ګټې دوه دکانونه اورهائشي مکان دی،په يوکې زه په خپله اوسيږم اودويم مکان مې په کرايه باندې ورکړی دی اويوه داوړوژرنده ده، دکومې قيمت چې تقريبا يولاک شل زره روپئ دی اوس زماخيال دی چې زه يودکان دخپلې لوراوښځې په نامه کړم اودويم دکان اوژرنده اومکان کوم چې مې په کرايه ورکړی دی په باره کې دخدای له پاره وصيت وکړم چې کوم جومات، مدرسې ته دهغې دخرڅولونه وروسته دهغه قيمت ورکړل شي او زما دباقي ځمکې برخه دې زماورونو او خويندوته ملاوشي ځکه چې زمازوی وغيره نشته څوک به وروسته زماله پاره دعاوغيره وکړي، ددې وجې نه اوس زمايه زړه کې فکروي چې زه دخپل تمام جائداد وصيت وکړم اوددې دنيانه لاړشم اوتمام جائداد دالله تعالی ددين له پاره وقف کړم کومه چې صدقه جاريه جوړه شي اومادعالم نه دوصيت دمسئلې په باره کې پوښتنه کړې وه، هغه راته وويل چې: ته په خپل ژوندباندې خپل جائدادخرڅولی شې اوپه څه ديني مدرسه کې ولګوه، ځکه چې دنن سباورونه وصيت وغيره نه پوره کوي ددې وجې نه ته په خپل ژوند کې داکاروکړه، خومولاناصاحب! دنن سباحالات اجازه نه ورکوي ځکه چې دازما د لسو کلنوګټه ده اوبله څه ذريعه هم نشته چې په هغه سره خپل ژوند تيرکړم اومزدوري هم کولی نه شم ځمکه وغيره هم باراني ده اوڅه باورپرې نشته که زه هغه په خپل ژوندکې خرڅه کړم اوصدقه کړم، نودمحتاجي ويره راسره ده اوس زماعمرڅلويښت دوه څلويښت

کاله دی، تاسو مهرباني وکړئ اوزما رهنمایي وکړئ چې څه وکړم؟اوپاتې زمادورونو وغیره هم الحمدلله ښه حالت دی، محتاج نه دي، صاحب دولت دي، که زه بل څوک خپل وکیل جوړکړم چې ته زما د مرګ نه وروسته داهرڅه خرڅ کړه اوپه دیني کارونوکې یې ولګوه یاڅوک عالم دین خپل وکیل جوړکړم، نوڅنګه به وي؟ ځکه چې په وارثانوباندې مې باورنشته چې هغوی به په خپل لالچ کې وصیت پوره نه کړي، ددې وجې نه تاسو زما جائداد تقسیم کړئ اودوصیت په باره کې راته ووایئ زه به ستاسو ډېر شکر ګزاریم زما وارثان دادي: څلور ورونه، پنځه خویندې، یوه لور، ښځه او زما موربې بې.

**جواب:** ستاسو دخط په جواب کې څوضروري مسائل ذکرکوم:

۱::تاسودخپل صحت په زمانه کې څه دوکان یامکان ښځې یالورته هبه کولی شئ، نودا شرعا جائز دي مکان یادوکان دهغوی په نامه کړئ اوهغوی ته یې حواله کړئ.

۲::داوصیت کول جائزدي چې زمادمرګ نه وروسته دې دومره مال جوماتونواومدرسوته ورکړل شي.

۳:: وصیت یوازې دمال په دریمه برخه کې جائزدی، ددې نه دزیات وصیت دوارثانو د اجازې نه پرته صحیح نه دی، که چادریمې برخې نه دزیاتې وصیت وکړ،نودمال دریمه برخه کې به وصیت نافذیږي ددې نه دزیات به دوارثانوداجازې نه پرته نه نافذکیږي.

۴:: که چاسره ویره وي چې وارث دهغه وصیت پوره نه کړي، نوهغه له پکاردي چې هغه داسې دوه کسان کوم چې متقیان اوپرهیزګارهم وي اوپه مسائلوباندې هم پوهیږي،ددې وصیت دپوره کولو ذمه وارجوړکړي اووصیت دې ولیکي اوپه هغه دې ګواه مقررکړي اودګواهانوپه وړاندې دې داوصیت هغوی ته حواله کړي.

۵:: دوفات په وخت کې چې ته دڅومره جائدادمالک یې په هغې کې به په دریمه برخه کې وصیت نافذیږي اودپاتې شوي مال په دریوکې به داسې برخې وي:

۱::دښځې اتمه برخه.۲::دمورشپږمه برخه.۳::دلورنیمه برخه.۴:: پاتې په به په ورونو خویندو کې داسې تقسیمیږي چې ورورته به دخورنه دوچنده برخه ملاویږي.

## دوهم علاج

**سوال:** زه دبي اے زده کونکې یم، زمونږ کورلږ شان غریبي دی، لمونځ تقریبا ټول خلک کوي، خودکله نه چې مالمونځ شروع کړی دی په مزه مزه داسې شوې یم چې که چاسره مې پښه ولګیږي، نوفورایې ووینځم،که چاسره رانه جارو ولګیږي، نوفورا یې ووینځم، که د کمرې دپاکولوله پاره لمده جامه په کمره کې لګیږي، نوزه دهغې نه ځان ساتم، دڅاڅکونه خو ځان داسې ساتم لکه څنګه چې بنده داورنه ځان ساتي، که اوبه په ځمکه باندې پریوتلې او زما جامو څاڅکي ورغلل، نوپایڅې وینځم، چې هروخت مې پایڅې لمدې

وي، ځکه چې زموږ کورورکی دی، اخرتر کومې پورې بنده په کمره کې پاتې کېدای شي؟
بس دغه زما حالت دی، چې دهغه له وجې کوروالا ماته ذهني مريضه او دوهم مريضې په
نامه يادوي، چې دهغې په وجه ماته سخت تکليف رارسيږي اوزه سوچ کوم چې بيابه
داسې نه کوم، خوبيا هم داسې کولی نه شم، خيال راځي که جامې مې ناپاکې شوي وي، نو
لمونځ به مې ونه شي کوروالا ماهروخت په اوبوکې دنوتلو نه منع کوي چې دهغه له وجې
اوس ماته ايکزيما هم شوې ده، خوزه وايم چې په ماباندې دهيڅ قسمه څاڅکی نه پرې
وځي، دکوروالا وايي چې زموږ په کورکې څوک ماشوم نشته چې دهغه دمتيازووغيره
سره به ستاجامې ناپاکې شي، کله کله چې په دې خبروباندې زه اورتل شم ،نوزړه مې
غواړي چې ښځې لمونځ پريږدم اوددې شيانونه ځان خلاص کړم، خوزړه مې نه مني او
لمونځ په هيڅ حالت کې پريښودای نه شم، تاسوزمادسوال زر تر زره جواب راکړئ چې
ددې ذهني اذيت نه خلاصی ملاوشي.

**جواب:** لورې! په يوه خبره پوه شه،که دپاکي اوناپاکي مسئله دومره ګرانه وي، څومره چې
تاپه ځان باندې اچولې ده، نوددنياکارخانه به بنده شوې وه، ستاپه شان به هرکس بس
پايڅو وينځلو باندې لګيدلی و،داتاته دوهم مرض دی ددې علاج دېراسان دی اوهغه
دادی چې د کومو شيانونه تاته دناپاکي فکرلګيدلی وي، دهغو هيڅ پرواه مه کوه اوکله
چې ستاشيطان تاته داسې ووايي چې څاڅکي ناپاکه وو، نوشيطان ته وايه چې: ته غلط
وايې زه ستاخبره نه منم که تريوې مياشتې پورې دې زماپه وينا باندې عمل وکړ، نوان
شاءالله ددې وهم دمرض نه به درته دهميشه له پاره نجات ملاوشي.

## ايا نابالغه ماشوما نوته د شعور راتلو پورې د لمانځه ويلو نه دي پکار

**سوال:** بې شکه الله تعالی معاف کونکی دی، خوڅه خلک خپل نابالغه بچيوته دلمونځ
حکم له دې وجې نه کوي چې ماشومان دزړه نه لمونځ نه کوي، نودزوراوزبردستۍ
کولوڅه فائده ده؟ کله چې پکې پخپله باندې عقل پيداشي لمونځ کول به شروع کړي،
اياداسې ويل صحيح دي؟ اوهغوی پخپله باندې دلمونځ پابند دي.

**جواب:** دحضور ﷺ دا ارشاد به مواوريدلی وي چې خپلو بچيوته دلمونځ حکم کوئ کله
چې هغوی د اووکلنو شي اوبيا پرې په وهلو باندې لمونځ کوئ کله چې هغوی د لسو کلنو
شي، ددې حديث نه معلومه شوه چې د زور زبردستۍ کولوهم فائده شته، چې ددې له
وجې به ماشومان دلمونځ کولوعادت شي اوکوم حضرات چې دافرمايي چې :کله هغوی
کې شعورپيداشي نوپخپله به يې کوي، دهغوی داخبره د يوڅو وجوهاتو په وجه باندې
غلطه ده: اول : دادنبي کريم ﷺ دارشادخلاف دی.

دويم : دنياوي کارونواوتعليم کې دغه خلک خپل بچی ازادنه پريږدي،چې کله به دوی کې

عقل پيدا شي،نوپخپله به يې شروع کړي، نو معلومه شوه چې داقول ددين نه دبې پروايي له وجې دی.
دريم :کله چې ماشومان دشعورنه مخکې دلمونځ پابندنه کړل شي، نود شعور راتلونه وروسته به هم پابندي نه کوي.
څلورم : ماشومان که دشعورراتلونه وروسته دلمونځ پابندوي اوکه نه، خو مور و پلاربه په خپل فرائضو کې دکوتاهي له وجې گناهگاروي.

## ايا د دنيا اخري سرشته کوم ځای به چې داختميږي

**سوال:** زمامسئله داده چې ددنياڅه اخري حدشته، چې هغه باندې به دنيا ختميږي يانشته؟
**جواب:** ددنيااخري حدقيامت دی، خودقيامت وخت معلوم نه دی، دقيامت په نښوکې وړې نښې ښکاره شوي دي، په غټونښو کې دحضرت مهدي رضي الله عنه ښکاره کيدل دي، دهغه په زمانه کې به دجال هم ښکاره شي، دهغه دقتلولوله پاره به حضرت عيسی عليه السلام داسمان نه نازل شي، دهغه دوفات نه وروسته به دنياکې حالات گډوډشي او د قيامت غټې غټې نښې به ښکاره کېدل شروع شي، تردې چې څه وخت وروسته به دقيامت شپيلی ووهل شي.

## د هرطرف نه پريشان انسان ته بد نصيب ويل کيدای شي

**سوال:** يوانسان چې هغه ته دخپل قسمت په هريوه موقع باندې شکست وي، يعنې يو کس غريب اومفلس هم وي، دعلم شوق يې وي، خوعلم ورته نصيب نه شي، خوشالي کمې وي، غمونه زيات وي، ناروغۍ دهغه سوری جوړشوی وي، مور و پلار او ورونوخويندوپه موجودگۍ کې دمحبت محروم وي، خپلوان هم ورسره ملاويدل نه خوښوي، محنت ډېرکوي اوفائده ورته کمه ملاويږي، اياداسې انسان دې ويلوباندې مجبوروي چې :ياالله ! څنگه چې زه بدقسمته يم داسې بل څوک نه کړې، دهغه الفاظ دهغه په حق کې څنگه دي؟ اوکه چېرې هغه په خپل تقدير باندې صبرکوي اوصبرورته نه راځي، نوڅه کول پکاردي؟
**جواب:** انسان باندې چې کوم بدحالات راځي هغې کې زيات دانسان داعمالوله وجې وي، هغو کې الله تعالی نه گيله کول ښکاره خبره ده چې فضول کاردی، انسان ته خپل عملونه صحيح کول پکاردي اوکوم کارونه چې غيراختياري طورباندې راځي، هغو کې دالله تعالی خپل څه غرض نه وي، بلکې دبنده مصلحت پکې وي، هغو کې دې سوچ کولوسره صبرکول پکاردي چې دې کې به دالله تعالی دطرفه زما له پاره څه بهتري وي، دې سره چې الله تعالی کوم بې شميره نعمتونه ورکړي دهغو سوچ کول هم پکاردي او **الحمدلله علی کل حال** ويل پکاردي.

## د ماشوموالي د غلطیو اوس څه علاج دی

**سوال:** دسلام نه وروسته عرض دی چې ستاسو لیک راته ورسېد، لوستلو سره مې زړه ته اطمینان حاصل شو او اوس زه خپل ځان یوکامیاب انسان ګڼم، ځکه چې تاسوماته دهغه دردناک حالاتونه دخلاصي وعده راکړې ده، زه به ټول ژوندستاسواحسان منونکې یم، ستاسودا عظیم احسان به زه ټول عمرنه هیروم، ماته هدایات راکړئ چې زه خپل ژوند نورکامیاب څنګه جوړکړم؟ زما په تاسوباندې مکمل اعتماد دی، ځکه چې تاسوزماله پاره دفرښتې په شان انسان یئ.

**جواب:** السلام علیکم ! ستاسوعلاج په دې یوڅوخبروکې دی:

۱ :: نابالغي کې چې څه شوي دي هغو باندې تاسوسره هیڅ مواخذه نشته، تاسودنن نه خپل ځان بالکل پاک اومعصوم ګڼئ (یعنې دنابالغي په اعتبار)

۲ :: تاسوچې په کوموګندګیوکې مبتلاوئ، هغو کې یوه هم بې علاجه نشته، دنن نه تاسو مایوسئ پرېږدئ اودخوداعتمادي طرف ته قدم اوچت کړئ.

۳ :: دالله تعالی یوبزرګ بنده سره خپل تعلق جوړکړئ اوخپل هرحال هغه ته بیانوئ اودهغه په مشوره باندې عمل کوئ.

۴ :: دټولې دنیاد فکرونو نه بې فکره اوسیدوسره خپل کارکې مشغول شئ، دځه ناکامي یا شکست خیال ذهن ته مه راولئ.

## حضور ﷺ دمکې دفتح کېدو نه وروسته مکه خپل وطن ولې جوړنه کړ

**سوال:** حضور ﷺ دمدینې طرف ته هجرت وکړ، خوکله چې دفاتح په حیثیت باندې مکې ته داخل شو، نوهلته یې مستقل طورباندې قیام ولې ونه کړ؟

**جواب:** مهاجرله پاره خپل اول وطن اختیارول جائزنه دي، که نه هجرت یې باطلیږي.

# ❖ د اودسه مسائل ❖

## د غسل نه مخکې د اودس کولو تفصيل

**سوال:** ديوقاري د سوال په جواب کې تاسو د غسل او د اودس متعلق ليکلي دي چې د غسل کولو سره اودس کيږي، له دې وجې دغسل نه وروسته د اودس کولوضرورت نشته، لمونځ کولی شئ، بلکې ترڅوچې په دې غسل باندې دوه رکعته نه وي شوي په دويم ځل اودس کول ګناه ده.

ما پخپله دامسئله ډېر ځل په کتابونوکې لوستلې ده،خو ستاسو په شان دعلم د خاوندانونه ته مې استفاده نه وه کړې او اوسه پورې په شکونو اوشبهاتوکې اخته وم، ستاسوبه احسان وي زموږ دتسلي له پاره او زماپه شان د نورو لوستونکو دښه کېدو په خاطر ددې مسئلې وضاحت وکړئ.

لکه څنګه چې ستاسو په علم کې ده چې په اودس کې يو ځل د سرځلورمې برخې مسح کول فرض دي،اوس که په يوسړي باندې غسل کول فرض وي، نوهغه به اودس هم کوي،خو يوسړی د پاکوالي په حالت کې غسل کوي، نو ظاهره ده چې هغه به اودس نه کوي، بيا دسر دځلورمې برخې دمسح څه معنی؟اوهغه څنګه يوازې دغسل سره لمونځ کولی شي،يو حديث ستاسو په خدمت کې پيش کوم.

حضرت عائشه رضي الله عنها روايت کوي چې رسول الله ﷺ به دغسل نه وروسته اودس نه کاودغسل نه مخکې به يې چې کوم اودس کړی و هماغه به يې کافي ګڼله.(ترمذی،ابن ماجه،نسائی)

د پورتني حديث نه دا خبره هم ثابته شوه چې رسول الله ﷺ به د غسل نه په مخکې اودس باندې اکتفاء کوله، يعنې اودس به يې ضرورکاو، لهذا دپورتني حديث په رڼاکې بيان کړئ چې پرته داودس نه په غسل سره لمونځ کيږي اوکه نه، سره له دې چې د سرمسح په اودس کې فرض ده؟

**جواب:** اودس د درې اندامونو د وينځلو اود سر دمسح کولو نوم دی[۱]. کله چې انسان غسل وکړي، نوهغه په دې ضمن کې اودس هم وکړ[۲]. دغسل نه مخکې اودس کول سنت

---

[۱] ففرض الطهارة غسل الأعضاء الثلاثة يعني الوجه واليدين والقدمين...... ومسح الرأس.... الخ. (الجوهرة النيرة ج: ۱ص: ۴، كتاب الطهارة،طبع مجتبائي دهلي، ايضاً هدايه ج: ۱ ص: ۱۶، ۱۷ طبع مكتبه شركت علميه ملتان)

[۲] ويقول القاضي في العارضة: لم يختلف أحد من العلماء في أن الوضوء داخل في الغسل...... الخ. (معارف السُنن ج: ۱ ص: ۳۶۸، طبع مكتبه بنورية كرا تشي )_

دي[1] لکه چې تاسو حديث شريف نقل کړ، خوکه چا دغسل نه مخکې اودس ونه کړ، نوبيايې هم غسل کيږي[2]او دغسل په ضمن کې به يې اودس هم وشي دمسح مطلب لوند لاس په سر باندې راښکل[3] کله چې يې په سر باندې اوبه اچولوسره اوموښلو، نو دمسح نه زيات غسل يې وشو، په هرحال د عوامو دا طرز عمل چې هغوی دغسل نه بعد بيا اودس کوي بالکل غلط دی اودس د غسل نه مخکې کول پکار دي چې د غسل سنت اداشي د غسل کولو نه وروسته د اودس کولو هيڅ جواز نشته.[4]

## د غسل کولو نه وروسته اودس غير ضروري دی

**سوال:** دغسل نه وروسته دځينو خلکونه مو اوريدلي دي چې داودس کولو ضرورت نشته، د قران او احاديثو په رڼاکې جواب راکړئ چې ايا دغسل کولو نه وروسته د اودس نه کولو طريقه صحيح ده او که نه؟

**جواب:** په غسل کولو سره اودس هم کيږي وروسته د اودس کولو ضرورت نشته.[5]

## يوازې غسل يې وکړ نو ايا لمونځ ادا کولی شي؟

**سوال:** غسل کولو نه وروسته که لمانځه له پاره اودس ونه کړي، نو ايا لمونځ کيږي؟

**جواب:** په غسل کې اودس هم داخل دی، غسل کولو نه وروسته په دويم ځل د اودس کولو ضرورت نشته، البته که اودس مات شي، نو په دويم ځل اودس کول پکار دي.[6]

---

[1] وسنّة الغسل أن يبدأ المغتسل فيغسل يديه و فرجه ...... ثم يتوضأ وضوء ه للصلاة الّا رجليه فيه اشارة الي انه يمسح رأسه وهو ظاهر الرواية و روي الحسن عن أبي حنيفة أنه لايمسح لأنه لا فائدة فيه لأن الاسالة تقدم المسح والصحيح انه يمسحه.......الخ. (الجوهرة النيرة ج: ١ص ١٠، طبع مجتبائي دهلي)۔

[2] وفرض الغسل المضمضة والاستنشاق وغسل سائر البدن. (هداية ج: ١ ص: ٢٩ كتاب الطهارة)۔

[3] والمسح اصابة اليد المبتلة العضو..الخ. (شرح الوقاية ج: ١ ص: ٥٥، فرائض الوضوء، طبع ايچ ايم سعيد)

[4] عن عائشة أن النبي صلي الله عليه وسلم كان لاَ يتوضأ بعد الغسل. قال أبو عيسٰي: هٰذا قول غير واحد من أصحاب النبي صلي الله وسلم والتابعين أن لاَ يتوضأ بعد الغسل. (ترمذي ج: ١ ص: ١٦ باب الوضوء بعد الغسل، طبع دهلي). ايضًا: قال العلامة نوح أفندي: بل ورد ما يدل علي كراهته، أخرج الطبراني في الأوسط عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: من توضأ بعدالغسل فليس منّا آه تأمل. (ردالمحتار ج: ١ ص: ١٥٨ طبع ايچ ايم سعيد)۔

[5] ويكره لمن توضأ قبل غسله اعادة الوضوء بعد الغسل لحديث عائشة قالت: كان رسول اللّه صلي الله عليه سلم لاَ يتوضأ بعد الغسل الّا ان ينتقض وضوئه.......الخ. (الفقه الاسلامي و ادلّته، المطلب الخامس، مكروهات الغسل ج: ١ص: ٣٨٢ طبع دارالفكر بيروت)۔

[6] عن عائشة رضي الله عنها انّ النبي صلي الله عليه وسلم كان لاَ يتوضأ بعد الغسل. (ترمذي، باب الوضوء بعد الغسل ج: ١ص: ١٦). وأيضًا: فلو احدث قبله ينبغي اعادته. (حاشية ردالمحتار ج:١ ص:٥٨ قبيل مطلب في تحرير الصاع والمد والرطل، طبع ايچ ايم سعيد).

## د جمعې د لمانځه د پاره د غسل نه وروسته اودس کول

**سوال:** د جمعې د لمانځه د غسل نه وروسته اودس کول ضروري دي او که نه؟

**جواب:** نه! د غسل نه وروسته چې ترڅو اودس مات نه شي، په دويم ځل د اودس کولو ضرورت نشته.[۱]

## په اودس کې نيت شرط نه دی

**سوال:** د اودس کولو له پاره نيت ضروري دی، موږ په کتاب کې لوستلي دي، چې په مخ لاس وينځلو کې هم هغه کار کيږي، کوم چې په اودس کې کيږي، که د اودس نيت ونه کړل شي، نو اودس نه کيږي، بلکې يوازې مخ لاس ووينځل شو، له دې نه پرته په اودس کې چې کوم فرائض دي که هغه ترې پاتې شي، نو بيا اودس څنګه وشو؟

**جواب:** نيت کول په اودس کې فرض نه دي[۲]، که مخ لاس او پښې ووينځل شي او د سرمسح وکړل شي (چې په اوداسه داځلورشيان فرض دي)، نو اودس به وشي،[۳] خود اودس ثواب به هلته ورکول کيږي چې کله يې د اودس نيت کړی وي.[۴]

## له اوداسه پرته يوازې په نيت سره اودس نه کيږي

**سوال:** په اکثرو ځايونو کې په جوماتونو کې د اوبو انتظام نه وي او بياد اودس له پاره کافي تکليف جوړشي مااوريدلي دي که يوځای کې اوبه نه وي، نود اودس په نيت کولو سره اودس کيږي، ايا داسې کېدلی شي، که اودس کيږي، نو دهغه نيت به هم داسې وي، لکه څنګه چې موږ د اوبو سره د اودس کولو په وخت کوو؟

---

[۱] عن عائشة رضي الله عنها أنّ النبي صلي الله عليه وسلم كان لاّ يتوضّأ بعد الغسل. (ترمذي، باب الوضوء بعد الغسل ج: ۱ص: ۱۶). وايضًا: فلو أحدث قبله ينبغي اعادته. (حاشية ردالمحتار ج:۱ ص:۵۸ قبيل مطلب في تحرير الصاع والمد والرطل، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[۲] واما النية فليست من الشرائط......فيجوز الوضوء بدون النية. (بدائع ج:۱ ص:۱۷، طبع ايچ ايم سعيد)

[۳] قال تعالي: "فاغسلوا وجوهكم و أيديكم الي المرافق وامسحوا برء وسكم و أرجلكم الي الكعبين" (المائدة: ۶). ففرض الطهارة: غسل الأعضاء الثلاثة يعني الوجه واليدين والقدمين ....... و مسح الرأس .... الخ. (الجوهرة النيرة ج:۱ ص:۴)۔

[۴] قال الحنفية: يسن للمتوضئ البداية بالنية لتحصيل الثواب. (الفقه الاسلامي و أدلّته ج: ۱ ص: ۲۲۵). أيضًا: والنية سُنّة لتحصيل الثواب لأن المامور به ليس الّا غسلاً و مسحًا في الاية ولم يعلمه النبي صلي الله عليه وسلم للأعرابي مع جهله و فرضت في التيمم لأنه بالتراب وليس مزيلاً للحدث بالاصالة. (حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص: ۴۱)۔

**جواب:** یوازې داودس په نیت کولو سره اودس نه کیږي تاسو غلط اوریدلي دي، د شریعت حکم دا دی چې که په یو ځای کې د اودس له پاره اوبه نه وي، نو په پاکه خاوره دې تیمم وکړل شي[۱] او د اوبو د نه کېدو مطلب دادی چې اوبه کم نه کم یو میل لرې وي، له دې وجې په ښارکې د اوبو د نه موندلو هیڅ وجه نشته، په ځنګل کې داسې صورت پیښېدلی شي.[۲]

## د اندامونو درې ځله وینځل سنت دي

**سوال:** زمونږ داسلامیاتو استاذویلي دي چې داوداسه په وخت کې لاس وینځل، غرغره کول، په پوزه کې اوبه اچول وغیره کوم چې درې ځله کیږي، دوه ځله هم وینځلی شئ ایاداخبره صحیح ده؟

**جواب** کامل سنت درې ځله وینځل دي او اودس دوه ځله وینځلو سره څه چې په یو ځل وینځلو سره هم کیږي، خو په دې شرط چې د ویښته برابرځای به هم وچ پاتې نه وي.[۳]

## په اودس کې هر اندام د دریو ځلو نه زیات وینځل

**سوال:** د اودس دوران کې هر اندام درې ځله وینځل سنت دي، که یو اندام د اودس دوران کې د دریو ځلو نه زیات وو وینځل شي، نو ایا په اودس کې فرق راځي؟

**جواب:** یو اندام د دریو ځلو نه زیات وینځل مکروه دي او دا د اوبو اسراف دی.[۴]

---

[۱] قال أبو حنيفة رحمه الله: لاَ طهارة للصحيح الاّ بالماء أو بالصعيد في غير الأمصار و غير القري اذا عدم الماء. قال أبوبكر: الأصل فيه قوله تعالي: اذا قمتم الي الصلوة ...... فلم تجدوا ماء فتيمموا صعيدًا طيبًا. (شرح مختصر الطحاوي لأبي بكر الجصاص ج:۱ص: ۱۹۷ كتاب الطهارة، طبع دارالبشائر الاسلامية،بيروت)

[۲] أما العدم من حيث الصورة والمعني فهو أن يكون الماء بعيدًا عنه و لم يذكر حد البُعد في ظاهر الرواية، وروي عن محمد انه قدّر بالحيل وهو أن يكون ميلاً فصاعدًا فان كان أقل من ميل لم يجزالتيمم.(بدائع الصنائع ج: ۱ ص:۴۶)_

[۳] عن علي أن النبي صلي الله عليه وسلم توضأ ثلا ثاً ثلا ثاً......... قال أبوعيسٰي: حديث علي احسن شيء في هذا الباب و أصح والعمل علي هٰذا عند عامة أهل العلم ان الوضوء يجزي مرة مرة و مرتين أفضل و أفضله ثلاث و ليس بعده شيئ. (ترمذي ج: ۱ ص: ۸، باب ما جاء في الوضوء ثلا ثاً ثلا ثاً). أيضاً: و منها (أي من سنن الوضوء) تكرار الغسل ثلا ثاً فيما يفرض غسله لحو اليدين والوجه والرجلين كذا في المحيط، المرة الواحدة السابغة في الغسل فرض. (عالمگيري ج: ۱ ص: ۷ طبع رشيديه كوئته)

[۴] عن عمروبن شعيب عن أبيه عن جده قال: جاء أعرابي الي النبي صلي الله عليه وسلم يسأله عن الوضوء، فاراه ثلا ثاً ثلا ثاً ثم قال: هٰكذا الوضوء، فمن زاد علي هٰذا فقد أساء و تعديٰ و ظلم. (مشكوٰة ج: ۱ ص: ۴۷، باب سُنن الوضوء). وفي المرقاة (ج: ۱ ص: ۳۱۷) (فمن زاد علي هٰذا فقد أساء) أي بترک السُنّة (و تعدي) أي حدها بالزيادة، (وظلم) أي علي نفسه بمخالفة النبي صلي الله عليه وسلم..... او لأنه أتلف الماء بلا فائدة. أيضًا: وفي الدر المختار: ومكروهه...... و منه الزيادة علي الثلاث فيه تحريمًا لو بماء النهر والمملوک له. و في الشامية: قوله والاسراف أي بان يستعمل منه فوق الحاجة الشرعية،....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

## ایا په اوداسه کې د اندامونو د ترتیب خیال ساتل ضروري دي؟

**سوال:** که په اوداسه کې یو اندام مثلا په پوزه کې اوبه اچول هیر شي او بیا په اخر کې یا پښو وینځلو نه وروسته درې ځله په پوزه کې اوبه واچوي، نو اودس کیږي؟

**جواب:** هو! اودس کیږي.[1]

## که ږیره د ننه وینځل فرض نه دي یوازې خلال یې کافي دی

**سوال:** ایا د اودس کولو په وخت درې ځله خوله وینځلو نه وروسته د ږیرې د منځ د لوندوالي له پاره باربار په لاسو کې اوبه اخیستل ضروردي؟

**جواب:** که ږیره ګڼه وي چې د ننه څرمن په نظرنه راځي، نو د هغه د پورته نه وینځل فرض دي او د هغه خلال سنت دی او که ږیره رنګې (رنګړې) وي، نو بیا د ټولې ږیرې لندول ضروري دي.[2]

## د زم زم په اوبو سره اودس او غسل کول

**سوال:** مولانا صاحب! زه په مکه مکرمه کې اوسیږم، د څو ورځو نه مې په دې مسئله باندې زړه کې شک دی مهرباني وکړئ، د دې شرعي حل راته وښایئ ستاسو شکرګزاربه یم، مولانا

---

...بقیه د تیر مخ]... لما أخرج ابن ماجة وغيره عن عبدالله بن عمروابن العاص أن رسول صلي الله مرّ بسعد و هو يتوضأ فقال: ما هذا السرف؟ فقال: أفي الوضوء اسراف؟ فقال: نعم! وان كنت علي نهر جار. حليه، قوله ومنه أي من الاسراف الزيادة علي الثلاث أي في الغسلات مع اعتقاد أن ذالک هوالسنة لما قد مناه أن النهي محمول علي ذالک. (درمختارمع الشامي ج:١ ص:١٣٢).و في حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص: ٤٥ (طبع ميرمحمد كتب خانه): الاسراف في صبّ الماء، الاسراف العمل فوق الحاجة الشرعية في فتاوي الحجة يكره صب الماء في الوضوء زيادة علي العدد المسنون والقدر المعهود لما ورد في الخبر شرار أمتي الذين يسرفون في صب الماء اه.

[1] شک في بعض وضوئه أعاد ماشک فيه لو في خلاله ولم يكن الشک عادة له و الّا لا..... الخ. (در مختار مع الشامي ج:١ ص:١٥٠قبيل مطلب في ابحاث الغسل)والترتيب في الوضوء سنة عندنا(هداية ج: ١ ص: ٢٢)

[2] و يغسل .....ماكان من شعر اللحية علي اصل الذقن ولا يجب ايصال الماء الي منابت الشعر الّا أن يكون الشعر قليلاً تبدو منه المنابت كذا في فتاوي قاضي خان. (عالمگيري ج:١ص: ٤، كتاب الطهارة). و يعطي أيضًا وجوب الاسالة علي شعر اللحية لأنه أوجب غسل الوجه وحده بذالک واختلف فيه الروايات عند أبي حنيفة فعنه يجب مسح ربعها و عنه مسح ما يلاقي البشرة وعنه لا يتعلق بشي وهو رواية عن أبي يوسف و عن أبي يوسف استيعابها وأشار محمد رحمه الله في الأصل الي أنه يجب غسل كله قيل وهو الأصح و في الفتاوي الظهيرية و عليه الفتوي لأنه قام مقام البشرة فتحوّل الفرض اليه كالحاجب وقال في البدائع عن ابن شجاع انهم رجعوا عما سوي هذا كل هذا في الكثة أما الخفيفة التي تري بشرتها فيجب ايصال الماء الي تحتها.(فتح القدير ج: ١ ص: ٩ طبع دار صادر بيروت)۔

صاحب! موږ په پاکستان کې وو، نود زم زم د اوبو له پاره مو دومره مينه وه چې هيڅ نه شو ويلى، اوس هم هغه ده د يو يو څاڅکي شوق لرو، دلته پرې خلک اودس کوي ايا دا جائز دي او که نه؟ د لمانځه له پاره اودس کول جائز دي او که د ادب خلاف دي په تفصيل سره جواب راکړئ؟

**جواب:** کوم سړى چې پاك وي هغه که يوازې دبرکت له پاره په اب زم زم باندې غسل يا اودس کوي، نوجائزدي خود بې اودسه سړي له پاره يا د جنابت والا له پاره په دې اوبو باندې غسل کول مکروه دي د ضرورت په وخت کله چې د زم زم نه پرته نورې اوبه پيدا نه شي د زم زم په اوبو اودس کول جائزدي، خو دجنابت غسل کول په هرحال کې مکروه دي، بلکې د ځينو په قول باندې حرام دي، همدا حکم د زم زم په اوبو باندې د استنجاء کولو هم دى، نقل شوي دي چې ځينوخلکو په زم زم باندې استنجاء وکړه، نو هغوى ته بواسير ولګېدل، خلاصه داده چې زم زم ډيرې دبرکت اوبه دي،ددې ادب کول ضروري دي،ددې ،څښل سبب د خير او برکت دي او په مخ سر باندې اوپه بدن باندې اچول يې سبب د برکت دي، خو د نجاست د ليرې کولو له پاره ددې استعمال نا روا دى.[۱]

## له عبادت پرته په مخکيني اودس باندې دويم اودس کول ګناه ده

**سوال:** که يو سړي ته د جنابت د غسل حاجت نه وي، يعنې هغه پاك وي هغه يوازې غسل کوي ظاهره ده چې په غسل کولو کې به د هغه بدن د سر نه واخله پښو پورې لونديږي، په داسې حالت کې هغه پرته د اودس نه لمونځ کولى شي اوکه نه؟ ياد دې وي چې هغه سړي نه دغسل نه مخکې اودس کړى اونه وروسته، خود سر نه پښو پورې اوبه يې ضرور بيولي دي.

**جواب:** دغسل کولوسره اودس هم کيږي، له دې وجې د غسل کولو نه وروسته د اودس کولو ضرورت نشته،لمونځ کولى شي[۲]بلکې ترڅوچې يې په دې غسل باندې کم نه کم دوه رکعته نه وي کړي، يا بل عبادت چې په هغه کې اودس شرط وي، دويم اودس کول مکروه دي.[۳]

---

[۱] و يجوز الاغتسال والتوضؤ بماء زمزم ولا يكره عند الثلاثة خلافا لأحمد علي وجه التبرک اي لا بأس بما ذكر الا أنه ينبغي ان يستعمله علي قصد التبرک بالمسح أو الغسل او التجديد في الوضوء ولا يستعمل الا علي شي طاهر فلا ينبغي أن يغسل به ثوب نجس ولا أن يغتسل به جنب ولا محدث ولا في مكان نجس و يكره الاستنجاء به و كذا ازالة النجاسة الحقيقة من ثوبه أوبدنه حتي ذكربعض العلماء تحريم ذالک ويقال انه استنجي به بعض الناس فحدث به الباسور(ارشادالساري ص:۳۳۰، طبع دار الفكربيروت،شامي ج:۱ ص:۱۸۰، ج:۲ ص:۶۲۵،طبع ايچ ايم سعيد)

[۲] عن عائشة قالت: كان النبي صلي الله عليه وسلم لا يتوضأ بعد الغسل. (ترمذي، باب الوضوء ج: ۱ ص: ۳۰)

[۳] و مقتضي هذا كراهته وان تبدل المجلس مالم يود به صلاة أو نحوها.... الخ. (شامي ج: ۱ ص: ۱۱۹ مطلب في الوضوء علي الوضوء)

**سوال:** جنګ اخبار کې ستاسو په کالم کې د يو سوال په جواب کې د غسل کولو نه مخکې يا وروسته د اودس نه کولو باوجود په غسل کولو سره اودس کيږي او په هغه سره لمونځ کولی شئ. بلکې د غسل نه وروسته که دوه رکعته ونکړل شي او اودس وکړل شي، نو ګناه ده دا خبره مو په پوهه کې نه راځي. مهرباني وکړئ لږ وضاحت يې وکړئ؟

**جواب:** دوه خبرو باندې ځان پوه کړه! اول دا چې کله په غسل کې پوره بدن باندې اوبه وبيول شي،نو اودس وشو ،په نورو الفاظو کې په غسل کې دننه اودس پخپله داخل دی،
دويمه خبره داده چې تر څو پورې چې دا اودس نه وي استعمال شوی دويم اودس کول مکروه دي او د اودس استعمال مطلب دادی چې په دې اودس باندې کم نه کم دوه رکعته وکړل شي يا يو داسې عبادت وکړل شي چې دهغه له پاره اودس شرط وي مثلا د جنازي لمونځ او د تلاوت سجده.[۱]

**سوال:** کله چې مونږ غسل کوو، نو مونږ يوازې انډرويئر (نيکر) استعمالوو، ما د ډيرو خلکو نه پوښتنه وکړه، چې مونږ چې مخکې کوم اودس وکړ هغه کيږي او که نه، نو هريو دا جواب راکړ، چې دغسل نه وروسته دويم اودس کول ضروري دي. که نه. لمونځ نه کيږي

**جواب:** الله عالم دی تاسو له چانه پوښتنه کړې ده؛ دچاعالم نه پوښتنه وکړه،د غسل کولو نه وروسته دويم اودس کول څومره چې ماته معلومه ده هيڅ ددين عالم د دې قائل نه دی[۲]اوداچې مشهور ده چې دبربنډ کېدو سره اودس ماتيږي اويا په بربنډ حالت کې اودس نه کيږي غلطه خبره ده.[۳]

## په يو اودس باندې څو عبادتونه

**سوال:** که اودس يې د قران کريم دلوستلو په نيت وکړ، نوپه دې اودس سره لمونځ جائز دی او که نه؟

**جواب:** اودس يې که د هر مقصد له پاره کړی وي،له دې سره لمونځ جائز دی اونه يوازې

---

[۱] ان الوضوء عبادة غير مقصودة لذاتها فاذا لم يودّ به عمل مما هوالمقصود من شرعيته كالصلاة وسجدة التلاوة و مس المصحف ينبغي أن لاَ يشرع تكراره قربة لكونه غير مقصود لذاته فيكون اسرافًا محضًا، و قد قالوا في السجدة لما لم تكن مقصودة لم يشرع التقرب بها مستقلة وكانت مكروهة وهٰذا أولَى. (ردالمحتار ج: ۱ ص: ۱۱۹)_

[۲] ويقول القاضي في العارضة لم يختلف أحد من العلماء في ان الوضوء داخل في الغسل..... الخ (معارف السنن ج: ۱ ص: ۳۶۸)_

[۳] بربنډ کېدل اودس ماتونکې نه دې، په دې وجه چا ددې جزء ذکرنه دې کړې، دغسې اوګورئ: فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۱ ص۱۳۵، خيرالفتاوٰی ج۲ ص۵۳)_

لمونځ، بلکې په دې اوداسه سره هغه ټول عبادتونه جائز دي د کومو له پاره چې اودس شرط دی.[۱]

## په يو اودس سره څو لمونځونه

**سوال:** زه د مازديګر په وخت کې اودس وکړم او په همدې اودس سره د ماښام او ماسخوتن لمونځونه وکړم، زموږ ګاونډی وايي چې د هر لمانځه له پاره ځانته ځانته اودس کول پکار دي. په دواړو خبرو کې کومه صحيح ده؟

**جواب:** که اودس مات نه وي، نو په يو اودس باندې ډير لمونځونه کيږي، د هر لمانځه له پاره اودس ضروري نه دی، که وکړل شي، نو ښه خبره ده.[۲]

## د پاکي له پاره شوي اودس باندې لمونځ کول

**سوال:** د پاکوالي له پاره چې کوم اودس کيږي ايا له دې سره لمونځ هم کيږي ؟

**جواب:** اودس که د هر مقصد له پاره وي په هغه سره لمونځ کول جائز دي.[۳]

## د قرآن مجيد د تلاوت له پاره شوي اودس باندې لمونځ کول

**سوال:** که اودس د قرآن مجيد دتلاوت له پاره شوی وي، نو په هغه اودس باندې لمونځ کول جائز دي او که نه؟

**جواب:** نه يوازې لمونځ، بلکې په دغه اودس باندې د دين اسلام نور ټول عبادتونه ادا کول صحيح دي.[۴]

---

[۱] والطهارة......شرعًاالنظافة عن حدث أو خبث........ وحكمها استباحة ما لَا يحل بدونها و سببها أي سبب وجوبها ما لَا يحل فعله فرضا كان أو غير ه كالصلاة ومس المصحف الّا بها أي بالطهارة. (الدر المختار مع ردالمحتار ج: ۱ ص: ۸۳، ۸۴، كتاب الطهارة)_

[۲] عن سليمان بن بريدة عن أبيه قال: كان النبي صلي الله عليه وسلم يتوضأ لكل صلاة فلما كان عام الفتح صلي الصلوات كلها بوضوء واحد ومسح علي خفيه فقال عمر إنک فعلت شيئًا لم تكن فعلته؟ قال: عمدًا فعلته. قال أبو عيسٰي...... والعمل علي هٰذا عند أهل العلم أنه يصلي الصلوات بوضوء واحد مالم يحدث وكان بعضهم يتوضأ لكل صلاة استحبابًا وإرادة الفضل. (ترمذي ج: ۱ ص: ۱۰، باب ما جاء أنه يصلي الصلوات بوضوء واحد)_

[۳] والطهارة......شرعًاالنظافة عن حدث أو خبث........ وحكمها استباحة ما لَا يحل بدونها و سببها أي سبب وجوبها ما لَا يحل فعله فرضا كان أو غير ه كالصلاة ومس المصحف الّا بها أي بالطهارة. (الدر المختار مع ردالمحتار ج: ۱ ص: ۸۳، ۸۴، كتاب الطهارة)_

[۴] والطهارة......شرعًاالنظافة عن حدث أو خبث........ وحكمها استباحة ما لَا يحل بدونها و سببها أي سبب وجوبها ما لَا يحل فعله فرضا كان أو غير ه كالصلاة ومس المصحف الّا بها أي بالطهارة. (الدر المختار مع ردالمحتار ج: ۱ ص: ۸۳، ۸۴، كتاب الطارة)_

## د اودس له پاسه اودس کونکی که اودس په نيمه کې پريږدي؟

**سوال:** له مخکې نه يې اودس و، خو د ثواب له پاره يې د لمونځ نه مخکې اودس کول شروع کړل، چې په دې کې جمعه ودريده، چې د هغه له وجې يې اودس په مينځ کې پريښود او په جمع کې شامل شو، ايا په دغه زوړ اودس باندې لمونځ صحيح شو؟

**جواب:** که زوړ اودس صحيح و، نو لمونځ صحيح شو.[1]

## ايا د جنازې د لمانځه په اودس باندې نور لمونځونه کيږي؟

**سوال:** کوم اودس چې د جنازې د لمانځه له پاره شوی وي، په هغه سره پنځه وخته لمونځ کيږي او که نه؟

**جواب:** کيږي، خود جنازې د لمانځه له پاره چې کوم تيمم وکړل شي په هغه باندې نور لمونځونه نه کيږي.[2]

## د غسل پرمهال د اوداسه ماتيدل

**سوال:** دغسل کولو نه مخکې يې اودس وکړ، خو دغسل دوران کې يې اودس مات شو او دغسل نه وروسته هيڅ لمونځ نه وي (دهيڅ لمانځه وخت رانژدې نه وي)، نو ايا دغسل نه وروسته اودس په دويم ځل کول پکار دي؟

**جواب:** که داودس نه وروسته يې غسل وکړاو په هغه باندې د اودس اندامونه په دويم ځل لانده شول، له دې نه وروسته اودس ماتونکی هيڅ شی پيښ نه شو، نو د هغه اودس وشو، لمونځ هم پرې کيږي.[3]

---

[1] ايضًا.

[2] قوله بخلاف صلوة جنازة أي فان تيممها تجوز به سائر الصلوات لكن عند فقدالماء، وأما عند وجود الماء اذا خاف فوتها فانما تجوز به الصلوة علي جنازة أخريٰ اذا لم يكن بينهما فاصل كما مرّ، ولا يجوز به غير ها من الصلوات.....الخ. (فتاويٰ شامي ج: ۱ ص: ۲۴۵، قبيل مطلب في تقديرالغلوة)۔

[3] اوګورئ تيره شوی حاشيه (عن عائشة أن النبي صلي الله وسلم كان لا يتوضأ بعد الغسل....الخ (ترمذي ج: ۱ ص: ۱۶ باب الوضوء بعد الغسل، طبع دهلي). ايضًا: قال العلامة نوح أفندي: بل ورد يدل علي كراهته....الخ (ردالمحتار ج: ۱ ص: ۱۵۸ طبع ايچ ايم سعيد) او وروسته حاشيه (ويكره لمن توضأ قبل غسله اعادة الوضوء بعد الغسل لحديث عائشة......الخ. (الفقه الاسلامي و أدلته، المطلب الخامس، مكروهات الغسل ج: ۱ص: ۳۸۲ طبع دارالفكر بيروت) او وروسته حاشيه (ويقول القاضي في العارضة لم يختلف أحد من العلماء في ان الوضوء داخل في الغسل..... الخ (معارف السنن ج: ۱ ص: ۳۶۸)۔

## په کومه غسل خانه کې چې متيازې وکړل شي په هغې کې غسل

**سوال:** زموږ په کور کې يوه غسل خانه ده، کوم ځاى کې چې موږ ټول غسل کوو او د شپې پورته کېدو سره متيازې هم کوو او ماته لمونځ کول هم وي ايا په دې کې غسل کول جائز دي؟

**جواب:** په غسل خانه کې متيازې نه دي کول پکار، ددې نه د وسوسې مرض پيدا کيږي[۱] او که په هغه کې چا متيازې وکړې، نو د اودس نه مخکې هغه وينځلو سره پاکول پکار دي.

## په کومه غسل خانه کې چې متيازې کيږي، په هغې کې اودس

**سوال:** په غسل خانه کې موږ لامبو، او د لامبلو دوران کې متيازې هم کوو، ايا هلته اودس کول جائز دي او که نه؟

**جواب:** په غسل خانه کې متيازې کول پکار نه دي،[۲] که پوخ فرش وي او هغه پاک کړل شي، نو بيا هلته اودس کول جائز دي.

## په غسل خانه کې اودس

**سوال:** زموږ په کور کې دوه غسل خانې دي، چې په هغو کې يو اټيچ باتهروم هم دی او کور والا په هغه کې اکثر غسل هم کوي او اودس هم او خلک وايي چې دا کار غلط دی، ځکه غسل او اودس خو طهارت حاصلولو له پاره کيږي، حالانکې په بيت الخلاء کې، خو څه لوستل هم جائز نه دي.

**جواب:** په دغه غسل خانه کې اودس جائز دی، دعاګانې په هغې کې داخلېدو نه مخکې لوستل پکار دي.[۳]

## په ګرمو اوبو باندې اودس کول

**سوال:** په ګرمو اوبو باندې اودس کول پکار دي او که نه؟

---

[۱] عن عبدالله بن مغفل رضي الله عنه أن النبي صلي الله عليه وسلم نهي أن يبول الرجل في مستحمه وقال: ان عامة الوسواس منه وقال الترمذي: وقد كره قوم من أهل العلم البول في المغتسل و قالوا: عامة الوسواس منه (ترمذي ج: ١ ص: ٥)

[۲] عن عبدالله بن مغفل رضي الله عنه أن النبي صلي الله عليه وسلم نهي أن يبول الرجل في مستحمه.... الحديث. (ترمذي ج: ١ ص: ٥).

[۳] في الدر المختار: والبدئة بالتسمية قولًا و تحصل بكل ذكر ......قبل الاستنجاء وبعده الّا حال انكشاف و في محل نجاسة فيسمي بقلبه. وفي ردالمحتار: الظاهر أن المراد أنه يسمي قبل رفع ثيابه ان كان في غير المكان المعدّ لقضاء الحاجة، والّا فقبل دخوله فلونسي فيهما سمّي بقلبه ولا يحرك لسانه تعظيمًا لاسم الله تعالي. (الدر المختار مع ردالمحتار ج: ١ ص: ١٠٩).

**جواب:** هيڅ باك نشته.[۱]

## په ګرمو اوبو باندې اودس کولو کې هيڅ حرج نشته

**سوال:** د يخني په موسم کې په اکثر جوماتونو کې د ګرمو اوبو اهتمام کيږي ، چې لمونځ کونکي پرې اودس کوي، ايا دغه شان په ګرمو اوبو باندې اودس کول جائز دي؟

**جواب:** په دې کې هيڅ حرج نشته.[۲]

## په کومو اوبو کې چې د بنو يا پوزې خيرې وغورځيږي ، په هغو باندې اودس کول

**سوال:** که د اودس په اوبو کې د بنو يو ويښته يا د سترګو چخې، يا د پوزې خيرې وغورځيږي، که کم وي يا زيات وي، نو ايا په هغو اوبو باندې اودس کول جائز دي او که نه؟

**جواب:** اودس جائز دی اوبه ناپاکه نه دي.[۳]

## د اودس په دوران کې د اندام دڅه برخې وچه پاتې کيدل

**سوال:** که د اودس دوران کې يو اندام وچ پاتې شي، نو دويم اودس کول پکار دي يا په هغه برخه باندې اوبه بيول کافي دي؟

**جواب:** يوازې دهغې برخې وينځل کافي دي، خو په هغه وچ ځای باندې اوبه بيول ضروري دي، يوازې لوند لاس تيرول کافي نه دي.[۴]

## د اودس نه پاتې شويو اوبو باندې اودس کول جائز دي

**سوال:** که يو لمونځ کونکی اودس وکړي او د کوم لوښي نه يې چې اودس کړی دی په هغه لوښي کې څه اوبه پاتې شي، په دې پاتې شويو اوبو باندې بل انسان اودس کولی شي او که نه؟

**جواب:** د اودس نه پاتې شوې اوبه پاکې دي بل سړی يې استعمالولی شي.[۵]

---

[۱] (وان تغير) أي الماء (بالطبخ بعد ماخلط به غيره) قيد به لأنه اذا طبخ به وحده و تغير يجوز الوضوء به...... الخ. (البناية في شرح الهدايه ج:۱ص:۲۱۸ باب الماء الذي يجوز به الوضوء وما لا يجوز، طبع حقانيه). أيضاً: وتوضأ عمر رضي الله عنه بالحميم. (بخاري ج: ۱ص: ۳۲ كتاب الوضوء)۔

[۲] حواله بالا)۔

[۳] قوله عليه السلام: الماء طهور لا ينجسه شيء الا ما غير لونه أو طعمه أو ريحه. (هداية ج: ۱ ص: ۱۶، كتاب الطهارة).

[۴] ولو بقيت علي العضو لمعة، لم يصبها الماء فصرف البلل الذي علي ذلک العضو الي اللمعة جاز كذا في الخلاصة. (عالمگيري ج: ۱ ص: ۵، كتاب الطهارة، فرائض الوضوء)۔

[۵] عن أبي حية قال: رأيت عليا توضأ فغسل كفيه حتي انقا هما ثم مضمض...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

## په مستعملو اوبو باندې اودس

**سوال:** مستعملې اوبه او غیر مستعملې اوبه چې یو ځای جمع شي او نورې اوبه د اودس له پاره نه وي اومستعملې اوغیرمستعملې برابرې وي مثلاً یو لوټه مستعمل او بله لوټه غیرمستعمل وي، اوس تاسو وضاحت وکړئ چې په دې صورت کې څه وکړو، اودس وکړو که تیمم؟

**جواب:** مستعملې او غیرمستعملې اوبه که یوځای شي. نو د غالب اعتبار دی. که دواړه برابرې وي. نو احتیاطا به غیر مستعمل مغلوب ګڼل کیږي او په دې باندې اودس کول جائز نه دي.[1]

**یادونه:** مستعملې اوبه هغو ته وایي کومې چې د اودس اوغسل کولو په وخت د اندامونو نه وغورځیږي[2] او د کوم لوښي نه چې اودس کوي د اودس یاغسل کولو نه وروسته په هغه کې پاتې کېدونکو اوبو ته مستعملې نه ویل کیږي.

## د عذر له وجې په ولاړه اودس کول

**سوال:** ایا په ولاړه باندې اودس کول جائز دي چې کله په ناسته اودس کولو کې تکلیف وي؟

**جواب:** په ولاړه باندې اودس کولو کې د څاځکو لګېدلو احتمال دی، له دې وجې دخپل وس پورې اودس په ناسته کول پکاردي[3] خو که مجبوري وي، نو بیا په ولاړه باندې اودس کولو کې هم څه باك نشته.[4]

---

...بقیه د تیر مخ]... ثلاثاً واستنشق ثلاثًا وغسل وجهه ثلاثا وذراعیه ثلاثًا ومسح برأسه مرة ثم غسل قدمیه الي الکعبین ثم قام فأخذ فضل طهوره فشربه وهو قائم ثم قال: أحببت أن أریکم کیف کان طهور رسول الله صلي الله علیه وسلم.رواه الترمذي والنسائي.(مشکوٰة ص: ۴۶). أیضًا: عن نافع عن ابن عمر أنه قال: کان الرجال والنساء یتوضون في زمان رسول الله صلي الله علیه وسلم جمیعًا.(بخاري ج: ۱ ص: ۳۲، کتاب الوضوء).تفصیل دپاره اوګورئ: شرح مختصر الطحاوي ج: ۱ ص: ۲۳۰،۲۳۱ کتاب الطهارة، طبع بیروت)

[1] کمستعمل فبالأ جزاء فان المطلق أکثر من النصف جاز التطهیر بالکل والّا لا. (درمختار) وفي الشامیة: قوله: (و الّا لا) أي وان لم یکن المطلق أکثربأن کان أقل أو مساویا لا یجوز.(شامي،کتاب الطهارة،باب المیاه ج:۱ ص: ۱۸۲)

[2] الماء المستعمل ما أزیل به حدث أو استعمل في البدن علي وجه القربة، ومتي یصیر الماء مستعملًا؟ الصحیح أنه کما زال عن العضو صار مستعملًا. (هدایة ج: ۱ ص: ۳۹ الماء المستعمل)۔

[3] فاداب الوضوء الجلوس في مکان مرتفع تحرزً عن الغسالة واستقبال القبلة. (مراقي الفلاح ص: ۴۲ طبع میر محمد، أیضًا: در مختار مع ردالمحتار ج: ۱ ص: ۱۲۷، مطلب في مباحث الاستعانة في الوضوء بالغیر)۔

[4] وفي البخاري في روایة ابن عباس رضی الله عنهما: ثم قام الي شن معلقة فتوضأ منها فاحسن وضوءه ثم قام یصلي ....الخ (ج: ۱ ص: ۳۰' باب قراءة القرآن بعد الحدث وغیره)۔

## په ولاړه په بیسن (آبدان) کې اودس کول

**سوال:** نن سبا په کورنوکې بیسن لګېدلی وي اوخلک بیسن ته په ولاړه باندې اودس کوي. ایا په ولاړه باندې اودس کولو سره لمونځ کیږي؟

**جواب:** اودس خو په دې طریقه هم کیږي (چې اودس صحیح وي، نو لمونځ به پرې هم صحیح وي)، خو غوره داده چې قبلې ته مخ کولو سره اودس وکړي.[1]

## چې د جامو د خرابیدو ویره وي نو په ولاړه باندې اودس کول

**سوال:** که په ولاړه باندې سړی اودس وکړي او په ناسته باندې د جامود خراب والي ویره وي، اکثر وختونو کې سړي په ولاړه باندې اودس کوي، نو ایا لمونځ کیږي او که نه؟ ځکه چې په دې ځای کې یوازې شینك سستم (د ولاړې آبدان) دی او د ناستې ځای نشته.

**جواب:** که د ناستې موقع پیدا نه شي، نو په ولاړه باندې اودس کولو کې هیڅ باك نشته، د څاڅکو نه ځان ساتل پکار دي.[2]

## د قران کریم د جلد سازي له پاره اودس کول

**سوال:** زه بنیادي طورسره جلدسازیم، زما په دکان کې د هرقسم استیشنري (کتابونو) وغیره جلدساز کیږي، چې په هغه کې قابل ذکردقران کریم جلد سازي ده، زما طریقه کار دادی چې د قران کریم د جلد سازي نه مخکې یوازې لاس وینځلو سره جلد سازي کوم، خو د مسلمان په حیثیت زما په زړه کې همیشه دا خبره اوړي راوړي چې د قران کریم په شان د لوی کتاب جلد سازي که په اودس کې وکړل شي، نو ډیر به غوره وي. خو د کار د ډیر والي له وجې نه دا زما له پاره ګرانه ده، په دې موقع باندې دا سوچ کوم چې کوم ځای د قران کریم کتابت طباعت او نور مراحل پای ته رسیږي، نو ایا دا ټول خلک په اوداسه کې دا کارونه کوي، په دې سلسله کې مې د ډیرو خلکو سره مشوره وکړه، نو هغوی وویل، وروره! ته یوازې لمونځ کوه دا څه اهمه مسئله نه ده او نه فرض ده! مهرباني وکړئ زما شبهات ختم کړئ.

**جواب:** دقران کریم پاڼې پرته د اوداسه نه مسح کول جائز نه دي[3]، تاسو د ډیرو خلکو سره

---

[1] ایضاً اوګورئ پورتنئ حواله (وفي البخاري في رواية ابن عباس رضى الله عنهما: ثم قام....الخ (ج: ١ ص: ٣٠' باب قراء ة القرآن بعد الحدث وغيره)۔

[2] ایضاً اوګورئ پورتنئ حواله (فاداب الوضوء الجلوس في مكان مرتفع تحرزً ....الخ (مراقي الفلاح ص: ۴۲ طبع میر محمد، ایضًا: در مختار مع ردالمحتار ج: ١ ص: ١٢٧) او وړېسی حواله (وفي البخاري في رواية ابن عباس رضى الله عنهما: ثم قام....الخ (ج: ١ ص: ٣٠' باب قراء ة القرآن بعد الحدث وغيره)۔

[3] وكذا المحدث لا يمس المصحف الا بغلافه،لقوله عليه السلام:لا يمس القرآن الا طاهر...الخ.(هداية ج:١ ص:٤٨). ایضا:ولا يمس المصحف لقول الله تعالى:لا يمسه الا المطهرون....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

مشوره مه کوئ د قران کریم د جلد سازي له پاره د اودس اهتمام کوه. که معذور يئ، نو مجبوري ده. خو دا معمولي او وړه خبره نه ده.

## د اودس نه وروسته مخ و لاس وچول

**سوال:** د اودس کولو نه وروسته په مخ ولاس وچولو سره ثواب کې خوځه کمی زیاتی نه راځي؟

**جواب:** نه![۱]

## د اودس نه وروسته په اندامونو باندې پاتې اوبه پاکې دي

**سوال:** یو صاحب دا مسئله بیان کړه، چې د اودس نه وروسته په کور رومال باندې چې لاسونه صفا کړل شي، هغه رومال ناپاکه کیږي، ایا دا خبره صحیح ده؟

**جواب:** د اودس نه وروسته چې کومې اوبه په اندامونو باندې پاتې شي. هغه پاکې دي، که هغه ته په تولیه باندې صفا کړل شي، نو د تولیې د ناپاکه کېدو هیڅ وجه نشته.[۲]

## د اودس نه مخکې او د ډوډۍ د خوراک نه وروسته مسواک وهل

**سوال:** د مسواك کولو سره مې د مازدیګر اودس وکړ، بیا د ماښام د اودس کولو نه مخکې د مسواك کول ضروري دي؟ حال دا چې د مازدګر او ماښام مینځ کې مو هیڅ نه وي خوړلي؟

**جواب:** د اودس کولو په وخت مسواك کول سنت دي اګرکه په اودس باندې اودس کول وي، او د خوراك نه وروسته مسواك کول بل سنت دي.[۳]

## مسواك وهل د ښځو د پاره هم سنت دي

**سوال:** ایا د لمانځه نه مخکې په اوداسه کې کې مسواك وهل د ښځو له پاره هم داسې سنت دي څنګه چې د سړیو له پاره وي؟

---

...بقیه د تیر مخ]... وفی کتاب النبی صلی الله علیه وسلم لعمروبن حزم:وان لا یمس القرآن الا طاهر.(شرح مختصر الطحاوی ج:۱ ص:۳۴۵،ایضا:التلخیص الحبیر ج:۱ ص:۱۳۱،ج:٤ ص:۱۷حدیث نمبر:۱٦۸۸)۔

[۱] عن عائشة قالت:کانت لرسول الله صلی الله علیه وسلم خرقة ینشف بها بعد الوضوء.(ترمذی ج:۱ ص:۹،باب المندیل بعد الوضوء).ایضا:قوله والمسح بمندیل......ففی الخانیة ولا باس به للمتوضی والمغتسل روی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یفعله...الخ.(شامی ج:۱ ص:۱۳۱،مطلب فی التمسح بالمندیل)

[۲] وردبان ما یصیب مندیل المتوضی وثیابه عفو اتفاقا،وان کثر(وهو طاهر)درمختار.وفی الشامی(قوله عفو اتفاقا)ای لا مؤاخذة فیه...الخ.(درمختار مع الشامی ج:۱ ص:۲۰۰،باب المیاه)

[۳] والسواک سنة مؤکدة.(درمختار)وفی التاتار خانیة عن التتمة:ویستحب السواک عندنا عند کل صلوة ووضوء وکل ما یغیر الفم وعند الیقظة...الخ.(شامی ج:۱ ص:۱۱٤،کتاب الطهارة،قبیل مطلب فی منافع السواک). ایضا:(والسواک سنة)..........وذالک لما روی عنه صلی الله علیه وسلم انه قال:لو لا ان اشق علی امتی لا مرتهم بالسواک عند کل طهور.(شرح مختصر الطحاوی ج:۱ ص:۳۰۱،باب السواک)۔

**جواب:** مسواك د ښځو له پاره هم سنت دى، خو كه د هغوى ووري د مسواك طاقت نه لري، نو د هغوى له پاره ددنداسې استعمال هم د مسواك قائم مقام دى.خو كه دمسواك په نيت يې استعمالوي.[1]

## د اوداسه نه وروسته ، د لمانځه نه مخكې مسواك استعمالول څنګه دي؟

**سوال:** زه دخپلې تروركره رياض ته تلى وم، هلته ما په جومات كې وكتل. چې خلكو په صفونو كې ناست مسواك كولو ،كله چې تكبير ويونكي تكبير وويل، نو هغوى اول مسواك وكړ او پورته شول لمونځ يې شروع كړ كله چې لمونځ ختم شو، نو ما پوښتنه وكړه چې ايا داسې مسواك كول جائز دي؟ نو امام صاحب وفرمايل:دا د رسول الله ﷺ حديث دى چې د لمانځه نه مخكې او د اودس نه مخكې مسواك كوه،زما په خيال د لمونځ نه مخكې د مسواك كولو مفهوم دادى چې كوم خلك د مازديګر او ماښام په مينځ كې په اوداسه كې وي او په دې مينځ كې څه خوري څښي، نو د هغوى له پاره دا حكم دى چې د لمانځه نه مخكې دې خوله كنګال كړي.

**جواب:** هغه امام صاحب چې د كوم حديث حواله وركړې هغه دا ده:

"لولا ان اشق على امتى لامرتهم بالسواك عند كل صلوة"

ترجمه:كه ما ته دا ويره نه وى چې زما په امت باندې به تكليف وي، نو ما به هغوى ته د مسواك كولو حكم كړى و.

ددې حديث د راويانو ددې په الفاظو نقل كولو كې اختلاف دى،ځينې حضراتو "عند كل صلاة" الفاظ نقل كړي دي او ځينوددې په ځاى,,عند كل وضوء،، نقل كړي دي(صحيح البخاري ٢٥٩/١٢) يعنې د هر اودس په وخت به مې ورته د مسواك كولو حكم كړى و.[2]

ددې دواړو احاديثو په رڼا كې د امام صاحب په نزد د حديث شريف مطلب دا راوځي چې د هر لمانځه شروع په اودس سره او د هر اودس شروع په مسواك سره د كولو ترغيب

---

[1] وعند فقده(اى السواک.........تقوم.........الاصبع مقامه كما يقوم العلک مقامه للمرأة مع القدرة عليه(درمختار)اى فى الثواب اذا وجدت النية،وذالک ان المواظبة عليه تضعف اسنانها فيستحب لها فعله بحر...الخ. (شامى ج:١ ص:١١٥،مطلب فى منافع السواک). ايضا:وعنها(اى عائشة)قالت:كان النبى صلى الله عليه وسلم يستاک فيعطينى السواک لا غسله فابدا به فاستاک ثم اغسله وادفعه اليه.(مشكوة ج:١ ص:٤٥باب السواک)۔

[2] قال ابو هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم:لو لا ان اشق على امتى لامرتهم بالسواک عند كل وضوء.(بخارى ج:١ ص:٢٥٩.كتاب الصوم)۔

وركړل شوى دى او د هر لمانځه په وخت كې د مسواك كولو د حكم مقصود دادى چې د هر لمانځه د اودس نه مخكې دې مسواك وكړل شي. د لمانځه په وخت كې دمسواك كولو ترغيب مقصود نه دى، كه سړى د لمانځه د ولاړې په وخت كې مسواك وكړي، نو ويره ده چې د غاښونو نه يې وينه راوځي چې په هغه سره به يې اودس مات شي اوكله چې اودس پاتې نه شو، نو لمونځ به يې هم ونه شي. له دې وجې امام ابوحنيفهؒ فرمايې چې د هر لمانځه د اودس نه مخكې مسواك كول سنت دي. دلمانځه په وخت كې مسواك نه شي كولى.

له دې نه پرته مسواک.د خولې د پاكوالي او صفايي له پاره استعماليږي او دا مقصد هغه وخت حاصليږي چې د اودس په وخت مسواك وكړل شي او په اوبو سره په ښه طريقه خوله ښه صفا كړل شي.لمانځه ته د ريدو په وخت كې پرته د اوبو او غرغرې كولو نه تش په مسواك كولو سره د خولې صفايي نه حاصليږي كوم چې د مسواك وهلو مقصد دي.

د سعودي عرب خلک د امام احمدبن حنبلؒ مقلدين دي،دهغوى په نزد په وينه وتلو سره اودس نه ماتيږي. له دې وجې لمانځه ته د ريدلو په وخت مسواك كوي او د حديث شريف همدا مقصد گڼي.[1]

## د سنتو ثواب مسواک وهلو سره ملاويږي

**سوال:** موږ د عالمانو او ملايانو نه دا خبره اورو. چې مسواک كول د نبى كريم صلى الله عليه وسلم سنت دي، او په دې كې ډير ثواب دى. سوال دادى، چې ايا دا لازم دي، چې د لرگي نه جوړ شوي يو خاص قسم مسواک سره خوله صفا كول ضروري دي. ايا دا كافى نه ده، چې صرف خوله صفا شى، اگر كه هرشى ددې مقصد له پاره استعمال كړل شي؟ لكه چې نن صبا خلک برش او ټوټ پيسټ وغيره استعمالوي. ايا ټوټ پيسټ استعمالولو سره د مسواک ثواب نه ملاويږي، هركله چې مقصد صرف خوله د بدبويي نه صفا كول وي.

**جواب:** اصل شى خو د مسواک استعمال دى، كه هغه نه وي، نو برش وغيره هم د هغه قائم مقام كيداى شي. خو د سنتو ثواب صرف په مسواک سره ملاويږي.[2]

---

[1] فى الدر المختار:والسواک سنة مؤكدة كما فى الجوهرة عند المضمضة وقيل قبلها للوضوء عندنا الا اذا نسيه فيندب للصلاة،وفى رد المحتار:قوله عند المضمضة قال فى البحر:وعليه الاكثر،وهو الاولى لانه اكمل فى الانقاء قوله وهو للوضوء عندنا اى سنة للوضوء وعند الشافعى للصلاة قال فى البحر وقالوا:فائدة الخلاف تظهر فيمن صلى بوضوء واحد صلوات يكفيه عندنا لا عنده،وعلله السراج الهندى فى شرح الهداية بانه اذا استاک للصلاة وبما خرج دم وهو نجس بالاجماع وان لم يكن ناقضا عند الشافعى.(الدر المختار مع الرد المحتار ج:١ص:١١٣وايضا فى البناية فى شرح الهداية ج:١ص:٩٦،٩٥ايضا:اعلاء السنن ج:١ص:٢٩باب السواک)

[2] وفى النهر:ويستاک بكل عودالا الرومان والقصب ،وافضله الاراک ثم الزيتون روى الطبرانى :نعم السواک الزيتون من شجرة مباركة وهوسواكى وسواک الانبياء....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

## ايا برش او ټوټ پېسټ د مسواک د سنت بدل دی؟

**سوال:** ايا برش او ټوټ پيسټ وهلو سره د مسواك ثواب ورکول کيږي؟ سره له دې چې په برش سره غاښونه په ښه طريقه صفا کيږي يا صرف مخصوص مسواك د رسول اللهﷺ د سنتو د برکتونو د حصول له پاره استعمالول پکار دي؟

**جواب:** غوره هم داده چې د سنت د ادا کولو له پاره دې مسواك استعمال کړل شي، د برش په استعمال سره د ځينې اهل علمو په نزد د مسواك سنت ادا کيږي او د ځينې په نزد نه ادا کيږي.[1]

## د وګ (مصنوعي ويښتو) استعمال او اودس

**سوال:** که يو سړی د مجبوري له وجې نه په سر باندې د وګ (مصنوعي ويښتو) استعمال کوي، نو هغه سړی د اودس په وخت کې د سر مسح په وګ باندې د پاسه کولی شي يا به هغه وګ لري کوي او مسح به کوي؟

**جواب:** د مصنوعي ويښتو استعمال ناجائز دی[2] نه ددې په استعمال کې څه مجبوري شته، مسح ددې د کوزولو سره پکار ده که په هغو مسح وشوه، نو اودس نه کيږي.[3]

---

...بقيه د تير مخ]... من قبلی.(ردالمحتارعلی الدرالمختار،مطلب فی منافع السواک ج:۱ص:۱۱۵،خيرالفتاوی ج:۲ص:۵۳،امدادالمفتين ج:۱ص:۲۰).

[1] امدادالمفتين ج:۱ص:۲۰(طبع دارالعلوم کراچی)۔

[2] عن ابن عمران النبی صلی الله عليه وسلم قال:لعن الله الوصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة.متفق عليه.(مشکوة ص:۳۸۱).وفی المرقاة:قوله لعن الله الواصلة ای التی توصل شعرهابشعراخرزورا قوله والمستوصلة ای التی تطلب هذا الفعل من غيرهاوتامرمن يفعل بهاذاک وهی تعم الرجل والمرأة فانث باعتبارالنفس اولان الاکثر ان المرأة هی الآمرة والرضية قال النووی:الاحاديث صريح فی تحريم الوصول مطلقاوهوالظاهرالمختار وقدفصله اصحابنافقالوا ان وصلت بشعرآدمی فهوحرام بلاخلاف لانه يحرم الانتفاع بشعره وسائراجزائه لکرامته واماالشعرالطاهرمن غيرآدمی فان لم يکن لهازوج ولاسيدفهوحرام ايضا وان کان فثلاثة اوجه اصحهاان فعلته باذن الزوج والسيدجاز وقال مالک والطبری والاکثرون الوصل ممنوع بکل شیءشعرا اوصوف اوخرق اوغيرهاواحتجوا بالاحاديث وقال الليثی النهی مختص بالشعرفلاباس بوصله بصوف اوغيره وقال بعضهم يجوزبجميع ذالک وهومروی عن عائشه لکن الصحيح عنهاکقول الجمهور.(مرقاة شرح مشکوة ج:٤ص:٤٦٠،ايضا:شامی ج:٦ص:۳۷۳،نظام الفتاوی ج:۱ص:۳۸)۔

[3] لومسحت علی شعرمستعارلايصح،لان المسح عليه کالمسح فوق غطاءالراس ،وهذا لايجزی فی الوضوء.(الفقه الحنفی فی ثوبه الجديد،احکام الطهارة ج:۱ص:٦۹)،وايضافی الشامية:فلومسح علی طرف ذوابة شدت علی راسه لم يجز.(ج:۱ص:۹۹،ارکان الوضوءاربعة،کتاب الطهارة)۔

## په مصنوعي ويښتو باندې مسح كول

**سوال:** ځينې خلک په سر باندې مصنوعي ويښته لګوي، بيا په دغسې حالت کې د اودس دوران کې په هغو باندې مسح کوي او هغه ويښتو سره لمونځ هم ادا کوي. ايا په دې صورت کې مسح کيږي، او ايا په دې صورت کې لمونځ کول جائز دي او که نه؟

**جواب:** که په سر باندې داسې ويښته لګيدلي وي، چې لرې کولو سره لرې کيږي، نو په هغو باندې مسح نه کيږي، بلکې د هغو لرې کولونه ورسته په سرباندې مسح کول پکار دي.[1]

## د شپې د ويده کيدو په وخت اودس كول غوره دي

**سوال:** ايا د شپې د ويده کيدو په وخت کې اودس کول غوره دي؟

**جواب:** هو! غوره دي.[2]

## د مسح كولو په وخت كې د شهادت ګوته يا ګټه ګوته ويښتو سره لګيدل

**سوال:** په اودس کې د مسح کولو په وخت کې که د شهادت ګوته يا ګټه ګوته يا بله يوه ګوته ويښتو سره ولګيږي، نو ايا دې سره مسح صحيح کيږي؟

**جواب:** په دې کې هيڅ حرج نشته.[3]

## كه په لاس باندې زخم وي، نو ايا اودس به كوي او كه تيمم؟

**سوال:** که لاس باندې زخم وي، مطلب دا چې چړې وغيره سره زخمي شي، او په هغه زخم باندې پټې لګيدلې وي، او اوبه تاوان ورته کوي ،نو ايا اودس به په يو لاس کوي، او که تيمم به کوي؟ په کاڼي باندې تيمم جائز دی، اګر که په هغه باندې دوړه نه وي، ددې څه مطلب دی؟ د تيمم طريقه وښيئ؟ زموږ د محلې اوبه اکثر بندې شي، او د اوبو د نشتوالي

---

[1] فلومسح على طرف ذوابة شدت على راسه لم يجز.(شامی ج:١ص:٩٩،كتاب الطهارة)، ايضا: ولايجوز المسح على القلنسوة والعمامة وكذا لومسحت المراة على الخمار.(عالمگيرى ج:١ص:٦).نيزحوالہ بالا.

[2] الثالث مندوب .....للنوم على طهارة.....لقوله صلى الله عليه وسلم:اذا اتيت مضجعك فتوضاوضوئك للصلاة ...الخ رواه احمدوالبخارى والترمذى عن البراءبن عازب.(الفقه الاسلامى وادلته ج:١ ص:٢١٠). ايضا:عن البراءبن عازب قال:قال النبى صلى الله عليه وسلم :اذا اتيت مضجعك فتوضاوضوءك للصلاة ثم اضطجع على شقك الايمن ثم قل.....فان مت من ليلتك فانت على الفطرة ...الخ .(بخارى ج:١ص:٣٨،باب فضل من بات على الوضوء،كتاب الوضوء)۔

[3] ولومسح بالسبابة والابهام مفتوحتين فيضعهمامع مابينهمامن الكف على راسه فحينئذيجوز.(عالمگيرى ج:١ص:٥).

په وجه موږ اودس نه شو کولی، له دې وجې نه لمونځ هم نه شو کولی. حالانکه دا ګناه ده، اوس موږ ته ددې احساس شوی دی. لهذا مهرباني وکړئ، د تیمم طریقه او په کوم کانې باندې تیمم کول جائز دي، ددې وضاحت وکړئ؟

**جواب:** که څوک اودس کونکی وی، یا په یو لاس باندې اودس کولی شي نو اودس کول لازم دي، د زخم په ځای دې مسح وکړي، او که په اودس کولو باندې یې طاقت نه وي، نو بیا تیمم جائز دی.[1] په پاک کانې باندې تیمم جائز دی، اګر که په هغه باندې خاوره نه وي، خو که د کچې ختې لوټه وي، نو بهتره ده[2]. د تیمم طریقه داده، چې په پاکه خاوره باندې به دواړه لاسونه ووهي او بیا به لاسونه وڅنډي، او په مخ به یې راکش کړي، بیا به دوباره دواړه لاسونه په خاوره ووهي او څنډلو نه وروسته به یې په دواړو لاسونو تر څنګلو پورې (د څنګلو سره) راکش کړي،[3] تیمم صرف په هغه صورت کې جائزدی، چې کله د اوبو په استعمال باندې قدرت نه وي، یا اوبه یو میل لرې وي، په ښار کې تیمم جائز نه دی.[4]

## که په نوکانو کې خاوره، اوړه یا بل شی نښتی وي، نو د اودس حکم

**سوال:** که په نوکانو کې د خاورې ذرې یا خاوره یا د ډوډۍ خوړلو په وخت کې د ډوډۍ ذرې وغیره انښتې وي او د اودس نه وروسته هم هغه انښتې وي، نو ایا اودس کیږي او که

---

[1] والاصل انه متى امكنه استعمال الماءمن غيرلحوق ضررفى نفسه اوماله وجب استعماله .(عالمگيرى ج:١ص:٢٨).ايضا:ان وجدخادما اى من تلزمه طاعته كعبده وولده واجيره لايتيمم اتفاقا وان وجدغيره ممن لواستعمان به اعانه ،ولوزوجته فظاهرالمذهب انه لايتيمم ايضابلاخلاف .(شامى ج:١ص:٢٣٣باب التيمم).

[2] وبالحجرعليه غباراولم يكن بان كان مغسولا او املس مدقوقا اوغيرمدقوق كذافى فتاوى قاضيخان.(عالمگيرى ج:١ص:٢٧).ويجوزالتيمم عند ابى حنيفة ومحمدبكل ماكان جنس الارض وهوما اذا طبع لاينطبع والايلين ،واذا احرق لايصيررماداً.....كالتراب والرمال الى آخره قدم التراب لانه مجمع عليه.(الجوهرة النيرة ج:١ص:٢٢).

[3] والتيمم ضربتان يمسح باحداهماوجهه وبالاخرى يديه الى المرفقين لقوله عليه السلام التيمم ضربتان ضربة للوجه وضربة لليدين ينفض يديه بقدر ما يتناثر التراب كيلايصيرمثلة.(هداية ج:١ص:٥٠). ايضا:عن جائزعن النبى صلى الله عليه وسلم فى التيمم:ضربة للوجه وضربة للذراعين الى المفرقين (شرح مختصر الطحاوى ج:١ ص:٤١٧).

[4] ومن لم يجد الماء وهو مسافر او كان خارج المصر وبينه وبين المصر الذى فيه الماء نحو الميل هو المختار فى المقدار.(هداية) (واختيار)ومثله لو كان فى المصر وبينه وبين الماء هذا المقدار،لان الشرط هو العدم،فاينما تحقق جاز التيمم(بحر).عن (الاسرار)اكثر،وفى شرحه:وانما قال خارج المصر لان المصر لا يخلو عن الماء.(اللباب فى شرح الكتاب ج:١ ص:٥١،٥٢،طبع قديمى كتب خانه).ايضا: ويتيمم فى غير الامصار والقرى اذا اعوز الماء.قال ابو بكر:وذالک لقول الله تعالى:فلم تجدوا ماءً فيتمموا صعيدًا طيبًا.(شرح مختصر الطحاوى ج:١ ص:٤١٤باب التيمم).

د خوراک ذرات یا د غوښې ذرې په خوله کې د غاښونو په مینځ کې پاتې شي، نو ایا اودس کیږي؟ او په کچې علاقو کې د اکثرو خلکو د پښو په نوکانو کې خاوره انښتي وي،نو ایا د هغو خلکو اودس او غسل کیږي؟ او که په غاښونو کې د خوراک یا د غوښې ذرې وي، یا په نوکانو کې دننه خاوره یا د خوراک ذرې انښتي وي، نو ایا غسل کیږي؟

**جواب:** که په نوکانو کې خاوره انښتې وي، نو اودس او غسل دواړه کیږي. [1]خوکه اوړه یا بل څه شی وي، چې څرمنې ته اوبه له رسیدلو نه منع کوي، نو اودس او غسل نه کیږي. [2] که په غاښونو کې څه داسې شی انښتی وي، نو اودس کیږي، او غسل نه کیږي. [3]

## مصنوعي لاس سره اودس کول څنګه پکاردي؟

**سوال:** عرض دادی، چې د مزدورۍ دوران کې زما ګس (چپ) لاس د مړوندنه لږ پورته کټ شوی دی، اوس د پلاسټک مصنوعي لاس لګیدلی دی، چې هغه د ویده کیدو په وخت کې لرې کوم، او د کاردوران کې یې لګوم،خو د دغه لاس لګولو او تړلو کې د بل سړي د مدد ضرورت وي، زه په خپله هغه نه شم تړلی، سوال دادی، چې زه اودس څنګه وکړم؟ د پلاسټک لاس لرې کولو نه بغیر اودس کیږي او که نه؟ مهرباني وکړه، د قرآن اوحدیث په رڼاکې څه صحیح طریقه راته وښایه!

**جواب:** که د پلاسټک لاس لرې نه کړای شي، نو ایا د هغه لاندې د لاس هغه حصه چې د هغه لاندې ده، وچې پاتې کیږي؟ یعنې هغې حصې ته اوبه نه رسیږي، که اوبه ورته رسیږي، نو بیا خو د لرې کولو ضرورت نشته، کنه لرې کول یې ضروري دي. [4]

---

[1] وفى الجامع الصغير:سئل ابو القاسم عن وافر الظفر الذى يبقى فى اظفاره الدرن او الذى يعمل عمل الطين او المرأة التى صبغت اصبعها بالحناء او الصرام او الصباغ،قال:كل ذلك سواءيجزيهم وضوءهم... الخ. (عالمگیری ج:١ ص:٤ ،کتاب الطهارة،فرائض الوضوء).

[2] ان بقى من موضع الوضوء مقدار راس ابرة او لزق باصل ظفرة طين يابس او رطب لم يجز.(عالمگیری ج:١ ص:٤ ،کتاب الطهارة،الفصل الاول،فرائض الوضوء).

[3] ولو كان سنه مجوفا فبقى فيه او بين اسنانه طعام او درن رطب فى انفه تم غسله على الاصح كذا فى الزاهدى والاحتياط ان يخرج الطعام عن تجويفه ويجرى الماء عليه.هكذا فى فتح القدير والدرن اليابس فى الانف يمنع تمام الغسل.(عالمگیری ج:١ ص:١٣).ايضا: فى الدر المختار:ولا يمنع ما على ظفر صباغ ولا طعام بين اسنانه او فى سنه المجوف به يفتى وقيل ان صلبا منع وهو الاصح.وفى رد المحتار:اى ان كان ممضوغًا مضغًا متاكدا بحيث تداخلت اجزاؤه وصار له لزوجة وعلاكة كالعجين شرح المنية،قوله وهو الاصح صرح به فى شرح المينة وقال لامتناع نفوذ الماء مع عدم الضرورة والحرج.(رد المحتار على الدر المختار ج:١ ص:١٥٤ ،مطلب فى ابحاث الغسل).

[4] ان بقى من موضع الوضوء مقدار راس ابرة او لزق باصل ظفره طين يابس او رطب لم يجز.(عالمگیری ج:١ ص:٤ ،کتاب الطهارة،الفصل الاول،فرائض الوضوء).

## د لاسونو په ګوتو کې خلال کله کول پکار دي

**سوال:** موږ اکثر خلک ليدلي دي، چې هغوی د ګوتو خلال د سر او د څټ د مسح کولو نه وروسته کوي، تاسو زموږ اصلاح وکړئ!

**جواب:** د لاس وينځلو په وخت کې خلال کول پکار دی.[1]

# ❖ په کوموشيانو سره چې اودس ماتيږي ❖

..............................

## د زخم نه د وينې په وتلو باندې د اودس تفصيل

**سوال:** زما په لاس کې زخم دی او اکثر د وينې څاڅکي راځي، او ډير ځله د لمانځه په حالت کې هم د وينې د راتلو ويره وي.اياددې د لوندوالي نه بغير د مسح په صورت کې لمونځ کړم يا کله چې څاڅکي راشي نو اودس تازه کړم؟ تحقيقي ځواب راکولو سره د شکريه موقع راکړئ.

**جواب:** دلته دوه مسئلې دي :يوه دا چې که زخم ته اوبه نقصان ورکوي، نو تاسو په زخم باندې د وينځلو په ځای مسح کولای شئ.[2]

دويمه مسئله دا ده چې دهغه نه هر وخت وينه راځي او هيڅ وخت نه دريږي ،نو تاسو له پاره د هر لمانځه په پوره وخت کې يو ځل اودس کول کافي دي[3].او که کله راځي او کله نه ،نو کله

---

[1] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا توضات فخلل اصابع يديک ورجليک ای اذا شرعت فی الوضوء او اذا غسلت اعضاء الوضوء فخلل اصابع يديک بعد غسلها واصابع رجليک بعد غسلهما وهذا هو الافضل والا فلو اخر تخليل اصابع اليدين الى آخر الوضوء جاز كما دل عليه الواو التى لمطلق الجمع.(مرقاة شرح مشكوة ج:۱ ص:۳۱٤،باب سنن الوضوء،طبع اصح المطابع بمبئی).

[2] عن جابر رضی الله عنه قال: خرجنا فی سفر فاصاب رجلاً منا حجر،فشجه فی راسه، فاحتلم،فقال لاصحابه: هل تجدون لی رخصة فی التيمم ؟فقالوا: مانجد لک رخصة فی التيمم وانت تقدر على الماء، فاغتسل، فمات، فلما قدمنا على النبی صلى الله عليه وسلم اخبر بذلک، فقال: قتلوه! قتلهم الله،الا سالوا اذا لم يعلموا؟فانما شفاء العى السؤال،انما كان يكفيه ان يتيمم،او يعصب على جرحه خرقة ثم يمسح عليها........قال ابوبكر:هذا الحديث قد دل على معان من الفقة.......ويدل ايضاً على جواز المسح على الجبائر.....الخ(شرح مختصرالطحاوی ج:۱،ص:٤٤۳، ٤٤٤، طبع بيروت)ايضاً: وانما يمسح اذا لم يقدر على غسل ماتحتها ومسحه بان تضرر باصابة الماء او حلها.......الخ (فتاوی عالمگيری ج:۱،ص:۳٥.الباب الخامس ومما يتصل بذلک المسح على الجبائر،طبع بلوچستان بک ډپو)۔

[3] ]المستحاضة من به سلسل البول.........او رعاف دائم،او جرح لا يرقاء يتوضؤون لوقت كل صلوة ويصلون بذلک الوضوء فی الوقت ما شآؤا من الفرائض والنوافل..الخ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

چې وينه راوځي او وبهيږي، نو تاسو ته دوباره اودس کول پکار دي.[1]

## د غاښ په وتلو باندې کله اودس ماتيږي؟

**سوال:** که د غاښ نه وينه راځي او اودس هم وي نو ايا اودس ماتيږي؟

**جواب:** که په دې سره د ويني خوند راځي يا د لاړو رنګ سوروالي ته مائل وي، نو اودس به مات وي که نه مات به نه وي.[2]

## د غاښ نه وينه وتلو سره اودس ماتيږي

**سوال:** د خولې وينځلو په وخت د خولې نه وينه راشي ،وينه حلق ته لاړه نه شي .بلکې د غاښ نه چې راشي زه يې فورا توکړم ، نو ستاسو نه دا معلومول غواړم چې ايا په خوله کې د ويني د راتلو سره اودس ماتيږي او که نه؟

**جواب:** په وينه وتلو سره اودس ماتيږي په دې شرط چې دومره وينه راوځي چې د لاړو رنګ سوروالي ته مائل شي يا په خوله کې د ويني خوند راشي.[3]

## که په پښه کې ازغي تللو سره وينه راوځي ، نو د اودس څه حکم دی؟

**سوال:** که اودس کولو نه وروسته په پښه کې ازغی لاړ شي،وينه راوتلې نه وي، خوکله چې د تللو له وجې نه په هغې باندې لاس ووهل شي، نو د ويني يوه نرۍ شان کرښه ښکاره شي، نو ايا اودس ماتيږي؟

**جواب:** که وينه دومره وه، چې مړلو نه بغير بهېدله، نو اودس ماتيږي، او که دومره نه وه، نو اودس نه ماتيږي.[4]

---

...بقيه د تير مخ]... (فتاوى عالمگيرى ص:٤١، ومما يتصل بذلک احکام المعذور، الفصل الرابع ،وايضاً فتاوى شامى ج:١،ص:٣٠٥، مطلب فى احکام المعذور)۔

[1] شرط ثبوت العذر ابتداء ان يستوعب استمراره وقت الصلوة کاملاً......وشرط بقائه ان لا يمضى عليه وقت فرض الا والحدث الذى ابتلى به يوجد فيه (فتاوى هندية ج:١،ص:٤١ احکام المعذور فصل الرابع)۔

[2] وينقضه دم مائع من جوف او فم غلب على بزاق حکماً للغالب او ساواه احتياطاً،لا ينقضه المغلوب بالبزاق.........(قوله غلب على بزاق) ........وعلامة کون الدم غالباً او مساوياً ان يکون البزاق احمر،وعلامة کونه مغلوباً ان يکون اصفر(ردالمحتار على الدرالمختار ج:١،ص:١٣٩،مطلب نواقض الوضوء، طبع ايم ايچ سعيد)۔

[3] وان خرج من نفس الفم تعتبر الغلبة بينه وبين الريق فان تساويا انتقض الوضوء ويعتبر ذالک من حيث اللون فان کان احمرانتقض وان کان اصفرلاينتقض کذافى التبيين(عالمگيرى ج:١،ص:١١،کتاب الطهارة،نواقض الوضوء)۔

[4] لو مسح الدم کلما خرج ولو ترکه لسال نقض، والا لا، کما لو سال فى باطن عين او جرح او ذکر ولم يخرج وفى الشامية (قوله: لو مسح الدم کلما خرج ....الخ) وکذا اذا وضع عليه قطناً او شيئاً آخر حتى

## په هوا وتلو سره یوازې اودس کول پکار دي

**سوال:** زما مسئله داده که یو سړی د لامبلو نه وروسته د لمانځه له پاره لاړ شي او په بي پامي کې د هغه نه هوا خارج شي، نوایا د داسې سړي له پاره استنجاء کول لازمي دي اوکه یوازې اودس دې وکړي؟

**جواب:** یوازې اودس کول کافي دي،د متیازو یا غټو بولونه بغیر استنجاء کول بدعت دي.[۱]

## که د اودس کولو نه وروسته هوا خارجه شي نو اودس به کوي او که تیمم؟

**سوال:** د اودس کولو نه وروسته که د هوا تللو په وجه اودس مات شي، نو ایا دوباره اوبو سره اودس کول ضروري دي، یا تیمم هم کولی شي؟

**جواب:** اودس کول ضروري دي، د تیمم اجازه یوازې په هغه صورت کې ده، چې کله په اودس کولو باندې قادر نه وي.[۲]

## د اودس دوران کې که هوا خارجه شي، یا وینه راووځي، نو دوباره به اودس کوي

**سوال:** د اودس کولو په مینځ کې که هوا لاړه شي، یا وینه راووځي، نو اودس دوباره شروع کول پکار دي او که نه؟

**جواب:** دوباره شروع کول ضروري دي.[۳]

---

ینشف ثم وضعه ثانیاً وثالثاً فانه یجمع جمیع ما نشف،فان کان بحیث لو ترکه سال نقض، وانما یعرف هذا بالاجتهاد وغالب الظن (ردالمحتار مع الدرالمختار ج:۱،ص:۱۳٤، ۱۳۵، مطلب نواقض الوضوء) ایضاً: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :الوضوء من کل دم سائل(شرح مختصر الطحاوی ج:۱،ص:۳٦۵، طبع دارالبشائر الاسلامیة)

[۱] ان الاستنجاء علی خمسة اوجه......الخامس: بدعة:وهو الاستنجاء من الریح (الفتاوی الشامیة ج:۱، ص:۳۳٦، فصل فی الاستنجاء ،طبع ایم ایچ سعید) وایضاً: الاستنجاء سنة من کل ما یخرج من السبیلین الا الریح، (وفی شرحه) اعلم ان الاستنجاء علی خمسة اوجه........ والخامس بدعة:وهو الاستنجاء من الریح اذا لم یظهر الحدث من السبیلین (الاختیار لتعلیل المختار ص:۳٦، باب الانجاس وتطهیرها،طبع دارالمعرفة بیروت)۔

[۲] من عجز (مبتدا،خبره،تیمم) عن استعمال الماء المطلق الکافی لطهارته لصلوة تفوت الی خلف لبعده......او لمرض یشتد او یمتد بغلبة ظن........تیمم لهذه الاعذار کلها(درمختار ج:۱،ص:۲۳۲، ۲۳٦، باب التیمم) ایضاً: ومن لم یجدالماء .......المراد من الوجود القدرة علی الاستعمال حتی لو کان مریضاً او علی راس بئر بغیر دلو او کان قریباً من عین وعلیها عدو او سبع او حیة لا یستطیع الوصول الیه لا یکون واجداً......الخ (الجوهرة النیرة ج:۱،ص:۲۰ باب التیمم،باب ما یوجب الوضوء،الفصل الثالث)

[۳] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

## که ګيس (ريح، هوا) خارجه شي، نواودس ماتيږي

**سوال:** که دلمونځ کولو دوران کې يا د قرآن مجيد دتلاوت دوران کې هوا خارجه شي، نوهغه اودس پاتې کيږي، او که بل اودس کول پکار دي؟

**جواب:** دغه اودس به ختم شي، د قرآن مجيد تلاوت خو بغير د اودس نه هم جائز دی، خو بغير د اودس نه قرآن پورې لاس لګول جائز نه دي.[١]

## کله کله د متيازو څاڅکو وتلو سره د اودس حکم

**سوال:** که يو سړي ته دا ناروغي وي، چې د هغه نه د متيازو قطرې (څاڅکې) روان وي، هره ورځ نه، بلکې کله کله، نو ايا د داسې سړي لمونځ کيږي؟

**جواب:** څاڅکو وتلو نه وروسته دې طهارت او اودس وکړي.[٢]

## که د متيازو څاڅکي وتل محسوس شي، نو د اودس حکم

**سوال:** دلمونځ کولودوران کې که محسوس شي چې دمتيازوڅاڅکي ووتل نوايا اودس ماتيږي؟

**جواب:** که غالب ګمان يې دا وي، چې څاڅکي ووتل، نو اودس مات شو.[٣]

## په نکسير(د پوزې نه وينه راتللو) سره اودس ماتيږي

**سوال:** که د لمونځ کولو دوران کې نکسير(د پوزې نه وينه) راووځي، نو ايا د لمانځه د پريښودلو اجازه شته؟

---

...بقيه د تير مخ]... لا وضوء الا من صوت او ريح (رواه احمد والترمذى) مشكوة ص:٤٠،باب ما يوجب الوضوء،الفصل الثانى) وعن عمر بن عبدالعزيز عن تميم الدارى رضى الله عنه قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : الوضوء من كل دم سائل رواهما الدار قطنى (مشكوة ص:٤٢)

[١] يحرم بالحدث الاصغر ثلاثة امور.......مس المصحف كله او بعضه ولو آية، والمحرم هو لمس الآية ولو بغير اعضاء الطهارة لقوله تعالى: لا يمسه الا المطهرون اى المتطهرون وهو خبربمعنى النهى، ولقوله صلى الله عليه وسلم : لا يمس القرآن الا طاهر،ولان تعظيم القرآن واجب، وليس من التعظيم مس المصحف بيد حلها الحدث، واتفق الفقهاء على ان غيرالمتوضى يجوز له تلاوة القرآن اوالنظر اليه دون لمسه، كما اجازوا للصبى لمس القرآن العظيم للتعلم، لانه غيرمكلف (الفقة الاسلامى وادلته ص:٢٩٤، ٢٩٥، المطلب التاسع، طبع دارالفكر دمشق، ايضاً:شرح مختصر الطحاوى ج:١،ص:٣٤٥، طبع بيروت)

[٢] ولونزل البول..وخرج الى القلقلة نقض الوضوء(عالمگيرى ج:١،ص:١٠الفصل الخامس فى نواقض الوضوء)

[٣] وقال فى شرح السنة معناه (الحديث) حتى يتيقن الحدث.......الخ (مرقاة شرح مشكوة ج:١، ص:٢٧٥، باب ما يوجب الوضوء ،طبع بمبئ) ايضاً: نواقض الوضوء ما يخرج من السبيلين من البول والغائط والريح(عالمگيرى ج:١، ص:٩،كتاب الطهارة،الفصل الخامس ،نواقض الوضوء ايضاً: شرح مختصرالطحاوى ج:١،ص:٤٠٣ طبع دارالبشائر)

**جواب:** په نکسیر سره اودس ماتیږي[1] په دې وجه دې د اودس کولو نه وروسته دوباره لمونځ وکړي.

## د خوږ سترګې نه په اوبو وتلو سره اودس نه ماتیږي

**سوال:** هغه اوبه چې د سترګو د درد سره راوځي، د هغوڅه حکم دی هغه پاکې دي که پلیتې؟

**جواب:** د خوږ سترګي نه چې کومې اوبه راوځي په هغو سره اودس نه ماتیږي، خو که په سترګه کې دانه وغیره وي او د هغې نه اوبه راوځي، نو په هغو سره اودس ماتیږي[2] ځکه چې هغه نجسې دي.

# ❖ په کومو شیانو سره چې اودس نه ماتیږي ❖

.......................................

## په ملاسته یا ډډه وهلو سره د اودس حکم

**سوال:** په ویده کیدو سره خو اودس ماتیږي ایا په ډډه وهلو یا ملاسته سره هم اودس ماتیږي؟

**جواب:** که په ملاسته یا ډډه وهلو سره خوب رانغی ،نو اودس نه ماتیږي.[3]

## د مېرمنې ښکلولو سره اودس نه ماتیږي

**سوال:** ما په موطاء د امام مالک رحمه الله کې دي چې د ښځي په ښکلولو سره اودس

---

[1] وقد صرح فی معراج الدرایة وغیره بان اذا نزل الدم الی قصة الانف نقض( البحرالرائق ج:١، ص:٦٢،کتاب الطهارة،وکذا فی الشامیة،ج:١،ص:١٣٨، مطلب نواقض الوضوء وفی الهندیة ج:١،ص:١١ الفصل الخامس فی نواقض الوضوء )ایضاً: والاصل فی وجوب الطهارة بخروج النجاسة ما روی اسماعیل بن عباس......... عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: اذا رعف الرجل فی صلوته فلینصرف ولیتوضا، ولا یتکلم ثم لیبن علی ما مضی من صلوته ......الخ (شرح مختصر الطحاوی ج:١،ص:٣٦٤)۔

[2] وان خرج به ای بوجع لانه دلیل الجرح،فدمع من بعینه رمد او عمش ناقض فان استمر صار ذا عذر مجتبی( قوله ناقض.....الخ( قال فی المنیة: وعن محمد اذا کان فی عینیه رمد وتسیل الدموع منها آمره بالوضوء لوقت کل صلوة، لانی اخاف ان یکون ما یسیل منها صدیداً فیکون صاحب العذر.......الخ (قوله مجتبی) عبارته: الدم والقیح والصدید وماء الجرح والنفطة وماء البثرة والثدی والعین والاذن لعلة سواءعلی الاصح،وقولهم :والعین والاذن لعلة،دلیل علی ان من رمدت عینه فسال منهاماءبسبب الرمد ینتقض وضوءه،وهذه مسئلة والناس عنها غافلون اهـ.(درمختارمع ردالمحتارج:١ ص: ١٤٧،١٤٨،مطلب فی ندب مراعاة الخلاف،فتح القدیرج:١ص:١٨٧،طبع دارصادر،بیروت)۔

[3] والمعانی الناقضة (الی ان قال)والنوم مضطجعا اومتکئا اومستندا الی شیء لوازیل لسقط.(هدایة ج:١ص:٢٥ فصل فی نواقض الوضوء).ینقض الوضوء اثناعشرشیئا....اونوم متکئا اومستندا الی شیء لوازیل لسقط...الخ. (الفقه الاسلامی وادلته ج:١ص:٢٨٣،٢٨٤،خلاصة نواقض الوضوءفی المذاهب)۔

ماتیږي ایا دا حنفي مسلک هم دی چې د ښځې ښکلولو سره اودس ماتیږي؟ یا ښځه خاوند ښکل کړي، نو د هغې اودس به مات شي دد شرعي حیثیت څه دی؟

**جواب:** د احنافو په نزد په بوسه اخستلو سره اودس نه ماتیږي[1]. خو چې کله مذي خارج شي بیا اودس ماتیږي[2]، حدیث په استحباب باندې حمل کیدای شي.[3]

## په جامو بدلولو او خپل ځان ته کتلو سره اودس نه ماتیږي

**سوال:** اکثره مشرانې زنانه دا وایي چې که د کور د جامو اغوستلو په وخت مو اودس وکړو او بیا ختم قرآن کولو ته ځو یا لمونځ کوو ،نو موږ دې د اودس کولو نه وروسته خپل ځان ته نه ګورو خپل ځان ته کتلو سره اودس ماتیږي تاسو په دې سلسله کې وضاحت وکړئ!

**جواب:** د ښځو دا مسئله صحیح نه ده په جامو اغوستلو سره اودس نه ماتیږي او نه خپل ځان ته کتلو سره اودس ماتیږي[4]

## لوڅ (لوڅ) ماشوم ته کتلو سره اودس نه ماتیږي

**سوال:** ایا د یو ماشوم په لوڅ (لوڅ) لیدلو باندې اودس ماتیږي؟

**جواب:** نه! فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۱ ص۱۵۰، طبع انډیا۔

## د لوڅ (لوڅ) تصویر لیدو په اودس باندې اثر

**سوال:** ایا د چا په لوڅ (لوڅ) تصویر لیدلو باندې اودس ماتیږي؟

**جواب:** لوڅ تصویر لیدل ګناه ده په دې سره خو اودس نه ماتیږي، خو دوباره اودس کول غوره دي[5]

---

[1] عن عطاء عن عائشة رضی الله عنها ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یقبل بعض نسائه ثم یصلی ولا یتوضا رواه البزارواسناده صحیح(اعلاءالسنن ج:۱ص:۱۵۰باب ترک الوضوء من مس المرأة ،طبع ادارة القرآن)

[2] المذی ینقض الوضوء.(عالمگیری ج:۱ص:۱۰،الفصل الخامس فی نواقض الوضوء).ایضا:ولیس فی المذی والودی غسل وفیهماالوضوء.(هدایة ج:۱ص:۳۳،کتاب الطهارة،طبع شرکت علمیة ،ملتان)۔

[3] وماوردعنهم من الوضوء فی القبلة ونحوهافمحمول علی الندب.(اعلاءالسنن ج:۱ص:۱۱۷طبع ادارة القرآن)

[4] چونکه دا څیزونه د اودس په ماتونکی څیزونوکښې نه کیدل ښکاره دی په دې وجه د فقهې په کتابونوکښې ددې متعلق څه جزئیه (مسئله) په نظر رانغله، اوګورئ : فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۱ ص۱۳۵، کذا فی اغلاط العوام ص۵۳، طبع زمزم)۔

[5] و مندوب فی نیف وثلاثین موضعا(الی ان قال)وبعدکل خطیئة:قوله وبعدکل خطیئة......وذالک لماوردفی الاحادیث من تکفیرالوضوء للذنوب .(درمختارمع ردالمحتار ج:۱ص:۸۹، ۹۰مطلب فی اعتبارات المرکب التام)

## پرتوګ له کونډو پورته کول ګناه ده خو اودس پرې نه ماتيږي

**سوال:** موږ عام طور سره د خلکو نه اوريدلي دي چې کله پرتوګ د کونډو نه پورته شي، نو اودس ماتيږي ايا دا خبره صحيح ده؟

**جواب:** دچا مخکې پرتوګ د کونډو نه پورته کول ګناه ده[1] خو په دې سره اودس نه ماتيږي.

## د بدن د يوې برخې په لوڅوالي باندې اودس نه ماتيږي

**سوال:** ..ما اوريدلي دي چې کله پښه تر پنډۍ پورې لوڅه شي نو اودس ماتيږي، سره له دې چې موږ ځينې وخت د غسل نه وروسته يا هسې جامې بدلوو، نو ظاهره ده چې پنډۍ لوڅيږي ايا په دې حالت کې اودس ماتيږي؟

**جواب:** د بدن د يوبرخې په لوڅوالي باندې اودس نه ماتيږي.

## په لوڅېدلو يا مخصوص ځاى ته لاس وړلو سره اودس نه ماتيږي

**سوال:** زه په غسل خانه کې لوڅ شوم مکمل اودس مې وکړ، دهغه نه وروسته مې غسل وکړ صابون وغيره مې په ټول بدن ومږلو، لاس مې هم په هر ځاى(مخصوص ځاى)وواهه، له دې نه وروسته جامو اغوستلو سره بهر راغلم. ايا لمونځ ادا کولى شم ،که جامو بدلولو سره اودس وکړم او بيا لمونځ وکړم؟

**جواب:** ...اودس وشو دوباره اودس کولو ته ضرورت نشته، ځکه په لوڅېدلو يا خپل بدن ته په لاس ور وړلو سره اودس نه ماتيږي.[2]

## په ځپليو پښو کولو سره بيا اودس نه لازميږي

**سوال:** اکثر لمونځ کونکي چې کله لمانځه نه فارغ شي، نو ځپليو پښو کولو سره کور ته لاړ شي.لا تر اوسه د هغوى اودس وي چې د بل لمانځه له پاره راشي بغير له نوي اودس نه

---

[1] ځکه چه د سرو ستر ددې ځائې نه شروع کيږى. وينظرالرجل من الرجل سوى مابين سرته الى ماتحت ركبته .(تنويرالابصارمع ردالمحتارج:٦ص:٣٦٤،فصل فى النظروالمس ).ايضا:عن عاصم بن حمزة عن على قال:رسول الله صلى الله عليه وسلم :لاتكشف فخذک ولاتنظرالى فخذحى وميت (نصب الراية ج:٤ ص:٦٤٤ حديث نمبر:٧٣١٩). ايضا:عن عمروبن شعيب عن ابيه عن جده قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:كل شيء اسفل من سرته الى ركبته عورة.(شرح مختصرالطحاوى ج:١ص:٦٩٧،٦٩٦،كتاب الصلاة)

[2] عشرة اشياء لاتنقض الوضوء،منها(الى ان قال)ومنهامس ذكرودبروفرج مطلقا.(حاشية الطحاوى على المراقى ص:٩٣،فصل عشرة اشياء لاتنقض الوضوء).ايضا:لاينقضه مس ذكرلكن يغسل يده ندباوامرأة وامرد،لكن يندب للخروج من الخلاف لاسيماللامام.وفى ردالمحتار:قوله لكن يغسل يده ندبالحديث من مس ذكرفليتوضااى ليغسل يده جمعابينه وبين قوله صلى الله عليه وسلم هل هوالابضعة منک ،حين سئل عن الرجل يمس ذكره بعد ما توضأ. (الدرالمختارمع ردالمحتارج:١ص:١٤٧،مطلب نوم الانبياءغيرناقض)۔

لمونځ کوي مسئله داده چې کله هغوی خپلې پښې په څپلیو کې دننه کوي، نو څپلې په ناپاکه ځایونو باندې پریوځي ایا دا ضروري نه ده چې د لمانځه له پاره دوباره اودس وکړي؟
**جواب:** په څپلیو کې دننه نجاست نه وي په دې وجه د اودس نه وروسته په څپلیو پښو کولو سره بیا اودس نه لازمیږي.

## شرمګاه ته په لاس وروړلو سره اودس نه ماتیږي

**سوال:** یو حدیث پاک مو د نظر نه تیر شوی دی چې د ذکر په مسح کولو سره اودس ماتیږي (موطا امام مالک رحمه الله) یعني په لمانځه کې یا هم داسې یا د قرآن کریم د تلاوت په وخت یې مسح کړي ایا هم په ذکر مسحه کولو سره اودس ماتیږي؟ ضرور مو خبر کړئ!
**جواب:** شرمګاه ته په لاس ور وړلو سره اودس نه ماتیږي[1]، په حدیث کې د اودس حکم یا خو د استحباب په طور دی یا لغوي اودس یعنې د لاس په وینځلو باندې حمل دی.[2]

## په ډوډۍ خوړلو یا لوښېدلو سره اودس نه ماتیږي

**سوال:** که یو سړی اودس کولو نه وروسته ډوډۍ اوخوري، نو ایا اودس یې ماتیږي؟ د اودس دوران کې که یو سړی لوښ شي یا جامې بدلې کړي، نو ایا اودس یې مات دی؟
**جواب:** په دواړو صورتونو کې اودس نه ماتیږي.[3]

## د سړیو او ښځو د عورت معائنه کولو والا ډاکټر د اودس حکم

**سوال:** زه د کسب په لحاظ سره ډاکټر یم، د مرض د معلومولو له پاره کله کله زه د مریض د عورت معائنه هم کوم، په مریضانو کې دواړه جنسه مریضان شامل وي، د کار دوران کې د لمونځ وخت هم راځي او مونږ د کور نه اودس سره راځو، ایا په داسې صورت کې زمونږ

---

[1] ]ایضاعن قیس بن طلق بن علی الحنفی عن ابیه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: وهل هوالامضغة منه اوبضعة منه. (جامع الترمذی، باب ترک الوضوءمن مس الذکر ج:١ص:١٣ طبع کتب خانه رشیدیه دهلی)۔

[2] ] قال ابن امیرحاج: یمکن حمل حدیث بسرة علی غسل الیدین، وقدتقدم انه یستحب الوضوء للخروج من خلاف العلماء. (حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص:٩٣، فصل عشرة اشیاءلاتنقض الوضوء). ایضا: ثم حمل الطحاوی الوضوءعلی غسل الید استحبابا. (مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح ج:١ص:٢٧٨، باب مایوجب الوضوء، الفصل الثانی طبع بمبئی). ایضا: فانه یمکن التطبیق بینهما بان الامرللاستحباب تنظیفاوالنفی لنفی الوجوب فلاحاجة الی النسخ الصحیح عندی ان الامرللاستحباب کماقال فی الدرالمختار: لکن یندب للخروج من الخلاف لاسیماللامام. (اعلاءالسنن ج:١ص:١١٨، طبع ادارة القرآن کراچی)۔

[3] ] حدثنا شعیب عن محمد بن المنکدر قال: سمعت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما قال: کان آخر الامرین من رسول الله صلی الله علیه وسلم ترک الوضوءممامست النار. (اعلاءالسنن ج:١ص:١٤٥، باب ترک الوضوء ممامست النار)۔

اودس پاتې کیږي؟

**جواب:** دې سره اودس نه ماتیږي[1] خود ضرورت نه زیات عورت لوڅول پکار نه دي. [2]

## د غسل دوران کې په عورت باندې نظر لګېدوسره د غسل او اودس حکم

**سوال:** د غسل دوران کې اودس کیږي ،خو دې له پاره چې دبدن کومه برخه وچه نه وي پاتې شوي. ټول بدن کتل کیږي. چې په هغه کې عورت هم شامل دی. عموما په هغه باندې هم نظر لګیږي. په داسې صورت کې به اودس پخپل حال پاتې کیږي او که نه؟

**جواب:** په عورت باندې نظر لګېدوسره اودس او غسل کې هیڅ فرق نه راځي[3]

## د جامو بدلولو په اودس باندې اثر

**سوال:** لوڅېدلو او جامو بدلولو سره په اودس باندې څه فرق پریوځي او که نه؟

**جواب:** هیڅ حرج نشته.[4]

## غیر محرم ته کتلو سره په اودس باندې اثر

**سوال:** مونږ اوریدلي دي، چې اودس کولو نه وروسته غیر محرم ته کتل منع دي. دې سره اودس ماتیږي، اګر که غیر محرم د لرې نه ، یا نژدې نه ، یا تصویر کې ، یا ټی وی وغیره باندې ووینې، په هر صورت کې اودس په خپل حال نه پاتې کیږي، مهربانی وکړئ، د قرآن او حدیث په رڼا کې تفصیلي ځواب راکړئ. ځکه اودس نه وروسته ټی وي یا اخبار وغیره باندې نظر پریوځي؛ دغه خبره تر کومې پورې صحیح ده؟

**جواب:** نامحرم ته کتل ګناه ده،[5] خو اودس ور سره نه ماتیږي.

## اودس کولو نه وروسته که څه حرام شي ته وکتل شي، نو اودس نه ماتیږي

**سوال:** که څوک سړی یا ښځه اودس کولو نه وروسته څه داسې شي ته وګوري، چې په اسلام کې حرام وي. یا ښځه بغیر له پردې نه یو سړي ته وګوري. نو ایا د هغې اودس قائم

---

[1] کذافی اغلاط العوام ص:۵۳،طبع زمزم پبلشرز کراچی .

[2] ینظر) الطبیب (الی موضع مرضهابقدرالضرورة).(الدرالمختارج:٦ ص: ۳۷۰کتاب الحظروالاباحة ،فصل فی النظرواللمس طبع ایچ ایم سعید).

[3] کذافی اغلاط العوام ص:۵۳،طبع زمزم پبلشرز کراچی.

[4] اوګورئ: فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۱ ص۱۳۵، طبع اندیا، ایضاً خیرالفتاوی ج۲ ص۵۳ طبع ملتان.

[5] عن بریرة قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لعلی :یاعلی !لاتتبع النظرة فان لک الاولی ،ولیست لک الاخرة .(مشکوة ،باب النظر الی المخطوبة ص:۲٦۹).

پاتې کيږي او که نه؟
**جواب:** اودس نه وروسته دگناه کارکولو سره اودس نه ماتيږي،خو داودس نورانيت ختميږي[1]!

## ايا ټيکري( څادر) ليرې کولو سره اودس ماتيږي؟

**سوال:** ټيکري يا څادر ليرې کولو سره اودس ماتيږي؟
**جواب:** نه!

## په اور پخ شوي يا گرم شي خوراک سره اودس نه ماتيږي

**سوال:** .زه لمونځ هر وخت ادا کوم او زموږ د ټولو نه لويه مسئله داده چې زه چاي ډيره زيات استعمالوم خلک وايي چې د گرم شي په خوراک مثلا چاى يا دداسې شي خوراک سره چې په اور پخ شوى وي اودس ماتيږي او دوباره بايداودس وکړل شي ايا همداسې ده؟
**جواب:** په اور پخ شوي شي خوراک سره اودس نه ماتيږي[2]

## په اوداسه کې چيلم، نسوار، سگريټ، پان استعمالولو نه وروسته لمونځ کول

**سوال:** .موږ گورو چې زموږ ډير مشران داسې کوي چې د لمانځه له پاره اودس وکړي، لمونځ ادا کړي.له دې نه وروسته سگريټ.نسوار.او چيلم څښي.کله چې د بل لمانځه وخت راشي، نو يوازې دوه درې ځله غرغره وکړي او لمونځ وکړي او تسبيح او وظائف هم کوي.اوس چې کله رمضان د الله پاک په فضل او کرم سره شروع شوى دى په دې کې هم اکثر گورو چې يو سړى ټوله ورځ روژه نيسي د روژه ماتي نه مخکې اودس وکړي روژه ماته کړي او ددې نه وروسته نسوار سگريټ يا چيلم څښي بيا د غرغرې کولو نه وروسته د ماښام د لمانځه په جمعه کې شامل شي په دې سره خوبه اودس نه ماتيږي؟ په وظائفو کې خوبه خلل نه راځي؟ مهرباني وکړئ ددې اهمې مسئلې نه مو خبر کړئ!
**جواب:** په چيلم،نسوارو ، سگريټو ، پان او داسې نورو سره اودس نه ماتيږي[3]خو د لمانځه نه مخکې د بدبويي ليرې کول ضروري دي که دخولي نه دچيلم ياسگريټ بوى ځي ، نو لمونځ مکروه کيږي.[4]

[1] ]كذافى امداد الاحكام ج:١ص:٢٦٤،طبع دارالعلوم كراچى.
[2] ]حدثناشعيب عن محمدبن المنكدرقال:سمعت جابربن عبدالله رضى الله عنهما قال:كان آخرالامرين من رسول الله صلى الله عليه وسلم ترك الوضوءممامست النار.(اعلاءالسنن ج:١ص:١٤٥،باب ترك الوضوءمما مست النار)
[3] ]كفاية المفتى ج:٢:ص:٣٢٢،طبع دارالاشاعت كراچى)۔
[4] ] قوله واكل نحوثوم)اى كبصل ونحوه مماله رائحة كريهة للحديث.... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

## د سګريټ څښلو او ټي وي يا ريډيو کتلو او ريډلو په اودس باندې اثر

**سوال:** په سګريټ څښلو ټي وي کتلو او په ريډيو باندې د موسيقي اوريدلو سره اودس ماتيږي او که نه؟

**جواب:** په سګريټ څښلو سره اودس نه ماتيږي، خو د خولې نه بدبويي ليرې کول ضروري دي او د ګناه په کارونو باندې اودس نه ماتيږي .خو مکروه کيږي ضرور. په دې وجه دوباره اودس پکار دی.[۱]

## د آينې يا ټي وي کتلو په اودس باندې اثر

**سوال:** ايا په آينه يا ټي وي کتلو سره اودس ماتيږي؟

**جواب:** اينه کې په کتلو باندې خو اودس نه ماتيږي، خو د ټي وي کتل ګناه ده او د ګناه نه وروسته دوباره اودس کول مستحب دي.[۲]

## د آينې کتلو، ويښتو ږمنځ کولو په اودس باندې اثر

**سوال:** د اودس کولو نه وروسته آينه کې کتل، او ويښته ږمنځ کول جائز دي او که نه؟

**جواب:** جائز دي.

## د ټي وي، ډش او لوڅو تصويرونو کتلو په اودس باندې اثر

**سوال:** ايا ټي وي، ډش او لوڅ تصويرونه کتلو سره اودس ماتيږي؟

**جواب:** اودس خو نه ماتيږي، خود ايمان د ماتيدلو خطره ده[۳]. الله تعالى دې د دې لعنت نه تاسو او ټول مسلمانان محفوظ کړي.

---

...بقيه د تير مخ]... الصحيح فى النهى عن قربان آكل الثوم والبصل المسجد.....ويلحق بمانص عليه فى الحديث كل ماله رائحه كريهة ماكولا اوغيره.....وكذلک الحق بعضهم بذلک من بفيه بخراوبه جرح له رائحه.(شامى ج:۱ص:۶۶۱مطلب فى الغرس فى المسجد)_

[۱] ومندوب فى نيف وثلاثين موضعا(الى ان قال)وبعدكل خطيئة.(درمختارمع ردالمحتارج:۱ص:۸۹،مطلب فى اعتبارات المركب التام)_

[۲] الثالث مندوب :فى احوال كثيرة منهامايالى ......ح.بعدارتكاب خطيئة،من غيبة وكذب ونميمة ونحوها،لان الحسنات تمحوالسيئات،قال النبى صلى الله عليه وسلم :الا ادلكم على مايمحوالله به الخطايا،ويرفع به الدرجات؟ قالوا: بلى يارسول الله صلى الله عليه وسلم !قال:اسباغ الوضوء على المكاره.(الفقه الاسلامى وادلته ج:۱ ص: ۲۱۰،۲۱۱، الفصل الرابع ،الوضوءوما يتبعه طبع دار الفكر)_

[۳] وقال:حذيفة:اذا اذنب العبدنكت فى قلبه نكتة سوداء،فاذا اذنب نكت فى قلبه نكتة سوداءحتى يصيرقلبه كله اسود،ويويده قوله السلف:امعاصى بريدالكفراى رسوله باعتبارانهااذاوارثت القلب هذا السواد وعمته لم يبق يقبل خيرالقط ،فحينئذيقسوويخرج منه كل رحمة ورافة وخوف ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

## په اوداسه سړی که سګريټ يا نسوار استعمال کړي، نو ايا اودس يې ماتيږي؟

**سوال:** يو سړي د لمانځه له پاره اودس وکړ، خوجمعې ته وخت پاتې و، که هغه سګريټ يا نسوار وکاروي، نو ايا د هغه اودس ماتيږي، او که برقرار پاتې کيږي؟

**جواب:** اودس خو نه ماتيږي،[1] خود لمانځه نه مخکې خوله پاکول ضروري دي. چې د سګريټو او نسوارو بدبويي پاتې نه شي.[2]

## په لانځکې (ګوډۍ) کتلو باندې اودس نه ماتيږي

**سوال:** ايا دلانځکې په کتلو باندې اودس ماتيږي؟ ما اوريدلي دي چې که په اوداسه کې په لانځکې باندې نظر پريوځي. نو اودس ماتيږي ايا دا خبره صحيح ده؟

**جواب:** لانځکې ته کتلو باندې اودس نه ماتيږي.

## نوکاونوکې که خيري هم وي اودس کيږي

**سوال:** د کار کولو دوران کې په نوکانو کې خيري ننوځي که موږ د خيريو د پاکوالي نه بغير اودس وکړو ،نو کيږي که نه؟

**جواب:** اودس کيږي[3] خو نوکان غټول د فطرت خلاف دي.[4]

## د غوږ په خيري راويستلو سره اودس نه ماتيږي

**سوال:** اودس لرونکی کس که د غوږ د پاکوالي له پاره په غوږ کې څه ووهي او د غوږ موم په ګوته ولګيږي او ګوته په خپل کميس باندې پاکه کړي، نو ايا د هغه اودس ماتيږي

---

...بقيه د تير مخ] فيرتكب مااراده ويفعل ماأحب، ويتخذ الشيطان وليامن دون الله ويضلله ويغويه ويعده ويمنيه ،ولايرضى من بدون الكفرماوجدله اليه سبيلا(الزواجرعن اقتراف الكبائرج:١ص:١٣طبع دار المعرفة بيروت)

[1] كذافى كفاية المفتى ج:٢ص:٣٢٢،طبع.دارالاشاعت كراچى .

[2] (قوله راكل نحو ثوم)اى كبصل ونحوه مما له رائحة كريهة للحديث الصحيح فى النهى عن قربان آكل الثوم والبصل المسجد........ويلحق بما نص عليه فى الحديث كل ماله رائحة كريهة ماكولا او غيره....... و كذالك الحق بعضهم بذالك من بفيه بخر اوبه جرح له رائحة.(شامى ج:١ص:٦٦١مطلب فى الغرس فى المسجد)

[3] (ولا يمنع)الطهارة...........(ونيم)ودرن ووسخ...............(وتراب)وطين ولو(فى ظفر مطلقا)اى فى الاصح. (درمختار مع رد المحتار ج:١ ص:١٥٤ فى ابحاث الغسل)_

[4] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:الفطرة خمس:الختن والاستحداد وقص الشارب وتقليم الاظفارونتف الابط.متفق عليه .(مشكوة المصابيح،باب الترجل،الفصل الاول ص:٣٨٠طبع قديمى كتب خانه)_

اوكه نه؟ او په كميس باندې چې كوم موم ولګيږي هغه كميس به پاک وي او كه نه؟

**جواب:** د غوږ په خيري باندې اودس نه ماتيږي، خو كه غوږونو نه يې اوبه بهيږي او په غوږو كې د ګوتو وهلو سره په ګوته كومې اوبه ولګيږي، نو اودس ماتيږي[1] او هغه اوبه هم نجسې دي.

## په ويښتو برابرولو او نوكانو پريكولو باندې اودس نه ماتيږي

**سوال:** كه اودس لونكی كس ويښته برابر كړي يا د ګيري خط جوړ كړي يا نوكونه پرې كړي، نو ايا هغه به دوباره اودس كوي؟ زما مطلب دادی چې په ويښتو برابرولو، خط جوړولو يا په نوكانو پرې كولو باندې اودس ماتيږي او كه نه؟

**جواب:** په ويښتو جوړولو يا نوكانو پرې كولو باندې اودس نه ماتيږي، په دې وجه دوباره اودس كولو ته ضرورت نشته.[2]

## كه په سر يا ږيره باندې نكريزي وي نو د اودس حكم

**سوال:** كه يو سړی په سر يا ږيره باندې د نكريزو استعمال كوي، د نكريزو د وچيدلو نه وروسته ايا دهغو د ليرې كولو نه مخكې يوازې په اودس سره لمونځ ادا كيږي او كه نكريزي به هم وينځلو سره صفا كوي؟

**جواب:** د اودس د صحت له پاره د نكريزو ليرې كول ضروري نه دي.[3]

## ماشوم ته تي وركولو سره اودس نه ماتيږي

**سوال:** كه اودس وي او ماشوم ته تی وركړل شي ، نو ايا اودس پرې ماتيږي؟

**جواب:** ...نه![4]

---

[1] ](كما لا ينقض لو خرج من اذنه)ونحوها كعينه وثديه(قيح)ونحوه كصديد وماء سرة وعين(لا بوجع وان)خرج(به)اى بوجع نقض لانه دليل الجرح...الخ.وفى الشامية:قال فى البحر:وفيه نظر بل الظاهر اذا كان الخارج قيحًا او صديدًا انقض سواء كان مع وجع او بدونه لانهما لا يخرجان الا عن علة.(در مختار مع رد المحتار ج:١ ص:١٤٧،مطلب فى ندب مراعات الخلاف...الخ)۔

[2] ] (ولا يعاد الوضوء)........(بحلق راسه ولحيته كما لايعاد)الغسل للمحل ولا الوضوء(بحلق شاربه و حاجبه وقلم ظفره).(در مختار مع رد المحتار ج:١ ص:١٠١،مطلب فى معنى الاستنشاق وتقسيمه الى ثلاثة اقسام)

[3] ] والمعتبر فى جميع ذلک نفوذ الماء ووصوله الى البدن ..(كذا فى رد المحتار عن المنية ج:١ ص:١٥٤،مطلب فى ابحاث الغسل).ايضا: والخضاب اذا تجسد ويبس يمنع تمام الوضوء والغسل.(عالمگيرى ج:١ ص:٤)۔

[4] ]كذا فى فتاوى دارالعلوم ديوبند ج:١ ص:١٣٦،طبع الديا،امداد الاحكام ج:١ ص:٢٦٥،طبع دار العلوم كراچى،امداد الفتاوى ج:١ ص:١٤،طبع مكتبة دار العلوم كراچى۔

## غاښ په سپينو زرو ډکولو سره د غسل او اودس حکم

**سوال:** زيد خپل غاښ په سپينو زرو ډک کړی دی ايا په دې سره د هغه غسل او اودس کيږي سره له دې چې اوبه دننه نه شي تلای؟

**جواب:** هو !غسل او اودس کيږي.[1]

## په مصنوعي غاښ لګولو سره اودس

**سوال:** په مصنوعي غاښ لګولو سره اودس کيږي که د هغه ليرې کول ضروري دي؟

**جواب:** د ليرې کولو ضرورت نشته اودس ورسره صحيح دی.[2]

## د اودس په وخت کې د ښځې سر لوڅېدل

**سوال:** ايا د اودس کولو په وخت کې د ښځې په سر باندې د ټيکري (لوپټې) اچول ضروري دي؟

**جواب:** ښځې ته تر خپل وسه پورې سر پټول پکار دي[3] خو ټيکری يې نه وي اودس يې کيږي.

## سرخي، پاوډر، کريم لګولو سره اودس

**سوال:** د ښځې له پاره په نوکانو باندې پالش لګول ګناه ده چې د هغه په لګولو سره اودس نه کيږي او چې اودس نه کيږي نو لمونځ هم نه وي، خو موجوده کريم پاوډر يا سرخي لګول څنګه دي؟ ځکه په دې کې د نوکانو د پالش په شان هيڅ قباحت نشته چې د اودس اوبه دننه لاړې نه شي.

**جواب:** که په دې کې يو ناپاک شی ګډ شوی نه وي، نو بيا پکې هيڅ باک نشته، خو د نوکانو د پالش په شان سرخي کلکيږي په دې وجه د اودس او غسل له پاره د دې ليرې کول ضروري دي.[4]

---

[1] والصرام والصباغ ما فی ظفر هما يمنع تمام الاغتسال وقيل کل ذلک يجزيهم للحرج والضرورة ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع کذا فی الظهيرية.(عالمگيری ج:١ ص:١٣،الباب الثانی فی الغسل).
ايضا:الاصول وجوب الغسل الا انه سقط لحرج.(رد المحتار ج:١ ص:١٥٣،مطلب فی ابحاث الغسل).
ايضا:ولا يمنع ما علی ظفر صباغ ولاطعام بين اسنانه اولی سنة المجوف به يفتی.(الد رالمختار ج:١ ص:١٥٤،مطلب فی ابحاث الغسل)

[2] ځکه چه مضمضه په اودس کښې سنت ده پس د مصنوعی غاښونو ويستلو نه بغير به هم اودس صحيح وی. الفصل الثانی فی سنن الوضوء...........ومنها المضمضة والاستنشاق والسنة ان يتمضمض ثلاثا ويأخذ لکل واحد منهما ماء جديدًا فی کل مرة وکذا فی محيط السرخسی وحد المضمضة استيعاب الماء جميع الفم.(عالمگيری ج:١ ص:٦،کتاب الطهارة)۔

[3] يرخص للمرأة کشف الراس فی منزلها وحدها،فاولی لها لبس خمار رقيق يصف ما تحته عند محارمها.(رد المحتار ج:١ ص:٤٠٤،مطلب فی ستر العورة)۔

[4] نعم ذکر الخلاف فی شرح المنية فی العجين واستظهر المنع لان فيه ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..]

## که په بدن باندې تيل، کريم يا واسلين لګېدلي وي، نو د اودس حکم

**سوال:** که په بدن باندې تيل، کريم يا واسيلين وغيره لګېدلي وي، نو په هغه باندې اودس کول سهي کيږي او که نه؟ يا مخکې په صابون سره وينځل ضروري دي او که صابون سره هم پوره صفا نه شي، نو په دې صورت کې څه کول پکار دي؟

**جواب:** تيل لګولو نه وروسته اودس کول صحيح دي، که په بدن باندې داسې شی لګېدلی وي، چې اوبه بدن ته نه پرېږدي، نو د هغه لیرې کول ضروري دي.[1]

## په لاسونو او پښو باندې د بلیچ لګونکې زنانه اودس او لمونځ

**سوال:** نن سبا ښځې په خپل مخ، لاسونو او د پښو په وېښتو باندې بليچ لګوي، چې هغه سره ذا زياتي وېښته د څرمنې سره يو شان رنګ شي او په نظر نه راځي، پوښتنه دا ده، چې په دغسې حالت کې لمونځ کول جائز دي او که نه؟

**جواب:** دا شی د اودس او لمانځه نه منع کونکی نه دی.

## د لمانځه نه وروسته که په لاس باندې د اوړو وغيره ذرات ووينې، نو ايا بيا به لمونځ کوي؟

**سوال:** که يو سړی د لمونځ ختمولو نه وروسته په لاس يا پښو باندې د اوړو باريکه ذره يا سينټ يا بل څه نامعلومه شی لګېدلی محسوس کړي، نو ايا هغه به لمونځ دوباره ادا کوي، زياتره ميرمنو سره داسې کيږي، د هر لمانځه نه مخکې د ټولو اندامونو خصوصا د نوکانو دننه په غور سره کتلو سره لمونځ ناوخته کيږي، په ځانګړې ډول د ماښام لمونځ.

**جواب:** که څه شی داسې لګېدلی وي، چې بدن ته اوبه نه پرېږدي، نو اودس نه کيږي. له دې وجې نه لمونځ هم نه کيږي، دوباره ادا کول يې ضروري دي.[2]

---

...بقيه د تير مخ]... زوجة وصلابة تمنع نفوذ الماء.(رد المحتار ج:١ ص:١٥٤،مطلب فى ابحاث الغسل،طبع ايچ ايم سعيد)_

[1] قال المقدسي:وفى الفتاوى دهن رجليه ثم توضا وامر الماء على رجليه،ولم يقبل الماء للدسومة جاز لو جود غسل الرجلين.(شامى ج:١ ص:١٥٤مطلب فى ابحاث).نيز اوګورئ : نعم ذكر الخلاف فى شرح المنية فى العجين واستظهر المنع لان فيه لزوجة وصلابة تنمع نفوذ الماء.(رد المحتار ج:١ ص:١٥٤،مطلب فى ابحاث الغسل،طبع ايچ ايم سعيد)_

[2] لو كان عليه جلد سمک او خبز ممضوغ قد جف فتوضا ولم يصل الماء الى ما تحته،لم يجز لان التحرز عنه ممكن،كذا فى المحيط.(عالمگيرى ج:١ ص:٥،الفصل الاول فى فرائض الوضوء).

## د خوشبو لګولو نه وروسته اودس جائز دی

**سوال:** که خوشبو لګېدلي وي، نو اوريدلي مو دي چې اودس نه کيږي؟

**جواب:** د خوشبو لګولو نه وروسته اودس صحيح دی.

## که په لاس باندې ايلفي يا سلوشن لګيدلی وي، نو د اودس شرعي حکم

**سوال:** زمونږ په کار کې د ايلفي سلوشن استعمال کيږي، ځينې وخت کې دا په لاس پورې انښتې وي، او مونږ اودس وکړو او لمونځ ادا کړو، وروسته بيا معلومه شي، چې سلوشن لګيدلی دی، او په ګوتو باندې د هغه اثر دی، دې سره اودس او غسل کيږي او که دوباره کول لازم دي؟

**جواب:** که دغه سلوشن په لاس باندې لګيدلی پاتې شي، نو اودس نه کيږي، له دې وجې نه اودس نه وروسته د هغه ليرې کول ضروري دي. والله اعلم[1]

## کنټيکټ لينز لګولو په صورت کې د لمانځه حکم

**سوال:** نن سبا د نظري چشمو په ځای د کنټيکټ لينز استعمال ډير عام شوی دی، کنټيکټ لينز د سترګې دننه (د ګاټي تورې برخې د پاسه) لګيږي، دا د پلاسټک په ګول شکل کې وي، او د سترګې هغه برخه پټوي او بيا ددې د لګولو نه وروسته دچشمو ضرورت نه وي، دا ټرانسپرنټ يعنې صفا هم وي او په مختلفو رنګونو کې هم پيدا کيږي، پوښتنه داده مولانا صيب، چې ايا که دا لينز په سترګو کې موجود وي، او سړی د لمونځ له پاره اودس وکړي، نو ايا صحيح کيږي؟ (د لينز اچولو نه وروسته مخ وينځل کيږي، که سترګه کې دننه اوبه هم لاړې شي، نو هيڅ نقصان نه کوي، دا خبره ډاکټران کوي) مهرباني وکړئ، تاسو اسلامي نقطه نظر سره او د اودس د قاعدو مطابق ووايئ، چې ايا اودس صحيح کيږي او که نه؟ دويمه خبره داده، چې په روژه کې ددې د لګولو څه قباحت خو نشته؟ د روژې د ماتيدلو يا مکروه کيدلو څه لږ شان احتمال خو نشته؟

**جواب:** دې سره اودس او غسل کې هيڅ فرق نه راځي، او په روژه کې هم څه کراهت نه راځي.

## سپرې کول او اودس

**سوال:** د غسل کولو نه يا د اودس نه وروسته په نوکانو پرې کولو او حجامت کولو يا سپرې کولو باندې اودس خوبه نه ماتيږي او لمونځ کيږي اوکه نه؟ ځکه چې په دې کې

---

[1] ځکه چه په دې صورت کې ځرمن ته اوبه رسيدل يقيني نه دی: والمعتبر فی جميع ذالک نفوذ الماء ووصوله الی البدن. (کذا فی رد المحتار ج: ١ ص: ١٥٤ مطلب فی ابحاث الغسل).

اسپرې وي او که سپرې ولګول شي، نو ايا اودس کول کافي دي که جامي به هم نورې اغوندي او غسل وشو؟ ځکه د سپرې بوی په ټولو جامو او بدن باندې خور يږي.

**جواب:** د اودس کولو نه وروسته په ويښتو ليرې کولو يا نوکانو اخستلو باندې اودس نه ماتيږي[1]، هم دغه شان په سپرې کولو سره هم اودس نه ماتيږي خو په سپرې کې ناپاک شی وي او که نه؟ ددې ما تحقيق نه دی کړي ما د معتبر خلکو نه اوريدلي دي چې په دې کې هيڅ ناپاک شی نه وي که دا صحيح وي، نو د سپرې کول جائز دي.

## د اودس کولو په وخت د سلام جواب ورکول

**سوال:** د اودس کولو په وخت او د ډوډې په وخت د سلام جواب ورکول ضروري دي او که نه؟ چې کله سلام کونکي ته مسئله معلومه نه وي، نو د اودس کونکي د مشغولتيا په وجه خفه کيدای شي او هغه ته غلط فهمي هم کيدای شي.

**جواب:** د اودس په وخت سلام کولو او جواب ورکولو کې هيڅ باک نشته[2] د ډوډې په وخت سلام کول نه دي پکار او د ډوډې خورونکي په ذمه باندې د سلام جواب واجب نه دی.[3]

## د اودس دوران کې خبرې اترې کول او د آذان جواب ورکول

**سوال:** د اودس دوران کې د اذان جواب ورکول پکار دي او که د اودس دعاګانې لوستل پکار دي؟ او سلام کول يا د هغه جواب ورکول، دنياوي خبرې کول، ګپ شپ لګول يا د تبليغ او مسائلو خبرې کول څنګه دي؟

**جواب:** د اودس دوران کې ضروري خبرې اترې کول او د اذان جواب ورکول جائزدي او ګپ شپ کول بده خبره ده.[4]

---

[1] ]ولا يعاد الوضوء.............بحلق راسه ولحيته كما لا يعاد الغسل للمحل ولا الوضوء بحلق شاربه وخاجبه وقلم ظفره.(در مختار مع رد المحتار ج:۱ ص:۱۰۱)ـ

[2] ]كذا فى امداد الاحكام ج:۱ ص:۲۵٤،طبع دار العلوم كراچي)ـ

[3] ] يكره على عاجز عن الرد حقيقة كآكل او شرعًا كمصل وقارئ ولو سلم لا يستحق الجواب.اهـ(الدرالمختار على هامش رد المحتار ج:٦ ص:٤١٥ كتاب الحظر والاباحة،فصل فى البيع،ايضا رد المحتار ج۱ ص:۶۱۷،طبع ايچ ايم سعيد).ايضا:آداب الوضوء...........عدم التكلم بكلام الناس،بلا ضرورة لانه يشغله عن الدعاء المالور.(الفقه الاسلامي وادلته ج:۱ ص:۲۵۱،طبع دار الفكر،بيروت)ـ

[4] ] ومن آدابه.......عدم التكلم بكلام الناس،بلا ضرورة لانه يشغله عن الدعاء المالور.(الفقه الاسلامى وادلته ج:۱ ص:۲۵۱،طبع دار الفكر،بيروت)ـ

## د اودس کولو نه وروسته مخ او لاسونه وچول

**سوال:** ایا د اودس کولو نه وروسته په مخ و لاس وچولو سره اودس باقي پاتې کیږي او که نه؟

**جواب:** د اودس نه وروسته رومال (تولیه) استعمالول جائز دي[1] په دې سره اودس نه ماتیږي.

# ❖ د اوبو احکام ❖

..............................

## د سمندر اوبه ناپاکې نه دي

**سوال:** ایا د سمندر په اوبو سره اودس کولو نه وروسته لمونځ کیږي؟ ځکه چې په سمندر کې هر ځناور اوبه څښي ،نو هغه اوبه پلیتیږي.

**جواب:** د سمندر اوبه پاکې دي[2] د ځناورو په څښلو باندې یا په بل څه شي باندې نه ناپاکه کیږي.[3]

## د کوهي (څا) د جراثیمو نه ډکو اوبو حکم

**سوال:** زموږ د محلې په جومات کې کوهی وکنل شو دا کوهی څلویښت فټه لاندې وکنل شو، ددې کوهي اوبه موږ لیبارټری والا ته لیږلې وې چې معلومه شي ایا دا اوبه موږ استعمالولی شو که نه؟ هغوی دا وایي چې په دې اوبو کې جراثیم وغیره دي سره له دې چې د اوبو نه رنګ بدل دی او نه پکې څه بوی وغیره .ایا موږ په دې اوبو سره اودس کولی شو او څښلی یې شو؟

**جواب:** په دې اوبو سره غسل یا اودس کول ،جامې وینځل او داسې نور... بالکل صحیح دي[4] شرعا ددې په څښلو کې هم څه باک نشته،خو که صحت ته نقصان ورکوي نو بیا دې نه څښي.

---

[1] ]عن عائشة قالت:کانت لرسول الله صلی الله علیه وسلم خرقة ینشف بها بعد الوضوء.(ترمذی ج:۱ ص:۹باب المندیل بعد الوضوء).ایضا:ولا باس بالتمسح بالمندیل بعد الوضوء کذا فی التبیین.(عالمگیری ج:۱ ص:۹،الفصل الرابع فی المکروهات،رد المحتار علی الدر المختار ج:۱ ص:۱۳۱،مطلب فی التمسح بمندیل)۔

[2] ](و)کذا(ماء البحر) الملح لقوله صلی الله علیه وسلم هو الطهور ماؤه الحل میتته(مراقی الفلاح مع حاشیه الطحطاوی ص:۲۰،کتاب الطهارة،ایضا:هدایة ج:۱ ص:۳۳،طبع شرکت علمیه،ملتان)۔

[3] ] والماء الجاری اذا وقعت فیه نجاسة جاز الوضوء به اذا لم یرلها اثر لانها لا تستقر مع جریان الماء والاثر هو الطعم او الرائحة او اللون.(هدایة ج:۱ ص:۳٦،طبع شرکت علمیه،ملتان)۔

[4] ]ځکه چې د دریو صفاتو نه پکې یوصفت هم نه دی بدل شوی. النوع الاول:الماء الطهور او المطلق:هو الطاهر فی نفسه المطهر لغیره،وهو کل ماء نزل من السماءاو نبع من الارض..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

## د چینې بهیدونکې اوبه پاکې دي، سره له دې چې د هغې نه خنزیراوداسې نور.. ځناور اوبه څښي

**سوال:** دلته تقریبا دیرش میله لیرې یو د ښکار ځای دی، چې هلته د چینې اوبه بهیږي. ځنګل دی، چې د هغه اوږدوالی موږ ته معلوم نه دی، اندازه داده چې څلور پنځه میله دی. دغه ځنګل (د ښکار په ځای) کې خنزیران په ډیر دي، یعنې په هغو اوبو کې ګرځي راګرځي او ویده کیږي. خلک ښکار کوي او د هغې چینې اوبه ډیرې زیاتې ترخې دي، که څوک مخ لاس په هغو اوبو باندې ووینځي، نو مخ لاس یې سوځي، پوښتنه داده، چې په دغه اوبو باندې سړی اودس کولی شي او که نه؟ یا هغو اوبو سره جامې پلیتیږي او که نه؟ دغه اوبه د طهارت له پاره استعمالول څنګه دي؟

**جواب:** ترڅو پورې چې د اوبو د پلیتیدو یقین نه وي، تر هغه وخته پورې به اوبه پاکې ګڼل کیږي.[1]

## په کوهي کې متیازو غورځېدو سره کوهی پلیتیږي

**سوال:** که د هلک یا انجلۍ متیازې کوهي ته اوغورځیږي، نو د اسلامي فقه په رڼا کې یې څه حکم دی؟

**جواب:** کوهی به ناپاک وي او ددې د پاکولو طریقه داده چې دهغه ټولې اوبه راوایستل شي، په اوبو را ویستلو سره بوکه پړی(رسی) او د کوهي دیوالونه ټول پاکیږي.[2]

## د کټر د پیپ ګډون او د بد بویه اوبو استعمال

**سوال:** ډیر ځله موږ یو جومات ته لاړ شو او د اودس له پاره نلکه جاري کړو، نو په شروع کې بدبوداري اوبه راځي، اوبه په ظاهره کې صفا ښکاري او هیڅ د رنګ ګډون پکې نه

---

...بقیه د تیر مخ]...مادام باقیًا غلی اصل الخلقة،فلم یتغیز احد او صافه الثلاثة وهی (اللون والطعم والرائحة) ...الخ. (الفقه الاسلامی وادلته ج:۱ ص:۱۱۳، المبحث الرابع، انواع المیاه، طبع دار الفکر دمشق)۔

[1] ماء حوض الحمام طاهر عندهم مالم یعلم بوقوع النجاسة فیه.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۸).قال ابو جعفر:واذا وقعت نجاسة فی ماء فظهر فیه لونها او طعمهما او ریحها او لم یظهر ذالک فیه،فقد نجسته،قلیلاً کان الماء او کثیرًا،الا ان یکون بحرًا او ماءً حکمه حکم البحر،وهو مالا یتحرک احد اطرافه راینا فهو نجس لا یجوز استعماله.(شرح مختصر الطحاوی ج:۱ ۲۳۹،کتاب الطهارة).

[2] (اذا وقعت نجاسة)لیس بحیوان ،ولومخففة اوقطرة بول اودم.....(فی بئردون القدرالکثیر) (ینزح کل مائها) الذی کان فیهاوقت الوقوع ذکره ابن الکمال (بعداخراجه )الااذا تعذرکخشبة اوخرقة متنجسة فینزح الماءالی حد لایملأ نصف الدلویطهرالکل تبعا.وفی الشامیة (قوله ینزح کل مائها) ای دون الطین لورود الآثاربنزح الماء. (درمختارمع ردالمحتارج:۱ص:۲۱۱،۲۱۲،فصل فی البئر.وایضاًفی حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص:۲۲)

وي، خو په اوبو کې بدبویي محسوسیږي، په داسې صورت کې ایا په دې اوبو سره اودس کیږي او که دا اوبه به ناپاکې ګڼل کیږي او په دې سره به اودس نه کیږي؟

**جواب:** د نلکو په ذریعه چې کومې بدبوداره اوبه راځي او بیا صفا اوبه راځي په دې باره کې ترڅو چې د بدبو دارو اوبو حقیقت معلوم شوی نه وي او یا د رنګ او بوی په ذریعه د ناپاکوالي پته و نه لګیږي، تر هغه وخته پورې به ددې د ناپاک والي حکم نه شي لګولی[۱] ځکه د اوبو بدبودار کېدل بیل شی دی او ناپاک کېدل بیل شی دی او که تحقیق وشي چې دا اوبه د کندې دي نو د نلکې د پرانستلو نه وروسته به هغه د جاري اوبو په حکم کې وي او پاکې به وي، نو بدبوداري اوبو دې ترې وایستل شي، راتلونکو پاکو اوبو باندې اودس صحیح دی.[۲]

## ناپاکې (ګنده) اوبه صفا کولو سره پاکیږي نه

**سوال:** نن سبا سائنس دانانو داسې اله ایجاد کړې ده چې د ګنده نالو اوبه صفا کوی په ظاهر کې په هغو کې هیڅ خرابي په نظر نه راځي اوس به دا پلیتې وي که پاکې؟

**جواب:** صفا به شي خو پاکې نه دي په پاک او صفا کې ډیر فرق دی.[۳]

## د ناپاکو ځاځکو والا لوټه پاکول

**سوال:** که په لوټه کې اوبه ایښودل شوي وي او په هغې باندې ځاځکي شوي وي، نود پاکولوله پاره که د لوټې د خوښتې نه درې ځله اوبه وبهول شي، نو اوبه به پاکې وي که نه اوبه ترې تویې کړل شي؟

---

[۱] ماء حوض الحمام طاهر عندهم مالم یعلم بوقوع النجاسة فیه.(عالمگیری ج:۱ ص:۱۸).قال ابو جعفر:واذا وقعت نجاسة فی ماء فظهر فیه لونها او طعمهما او ریحها او لم یظهر ذالک فیه،فقد نجسته،قلیلاً کان الماء او کثیرًا،الا ان یکون بحرًا او ماءً حکمه حکم البحر،وهو مالا یتحرک احد اطرافه بتحریك ما سواه من اطرافه قال ابوبکر: تحصیل الذهب فیه ان کل ما تیقناً فیه جزءاً من النجاسة او غلب ذلك فی رأینا فهو نجس لا یجوز استعماله.(شرح مختصر الطحاوی ج:۱ ۲۳۹،کتاب الطهارة)_

[۲] وفی النصاب والفتوی فی الماءالجاری انه لایتنجس مالم یتغیرطعمه اولونه او ریحه من النجاسة ،کذافی المضمرات ، واذا القی فی الماء الجاری شیء نجس کالجیفة والخمرلایتنجس.....مالم یتغیرلونه اوطعمه اوریحه (فتاوی عالمگیری ج:۱ ص:۱۷،الباب الثانی فی المیاه).الماء الجاری بعدماتغیراحد اوصافه وحکم بنجاسته لایحکم بطهارته مالم یزل ذلک التغیر بان یردعلیه ماءطاهرحتی یزیل ذلک التغیرکذافی المحیط.(فتاوی عالمگیری ج:۱ص:۱۸،الباب الثالث طبع بلوچستان)

[۳] والدلیل علی تحریم استعمال الماء الذی فیه جزء من النجاسة وان لم یتغیرطعمه اولونه او رائحته،قول الله تعالی:ویحرم علیهم الخبئث ،والنجاسات من الخبائث ،لانهامحرمة.(شرح مختصرالطحاوی ج:۱ص:۲۳۹، ایضاً نظام الفتاوی ج:۱ص:۲۶،طبع مکتبه رحمانیه)_ م.

**جواب:** یوازې په ځاځکو باندې خو اوبه نه ناپاکه کیږي خو که ځاځکي ناپاک وي، نو اوبه به ناپاکې شي او دهغو د پاکولو طریقه داده چې په هغې دې د پورته نه اوبه واچول شي تر دې چې د څوښتي او غاړو نه اوبه اوځاځي بس پاکې به شي.[۱]

## په سړک باندې دولاړو اوبو د ځاځکو حکم

**سوال:** د باران نه وروسته عموما اوبه په سړک جمع شي. که د دغو اوبو ځاځکي جامو سره ولګیږي. نو ایا لامبل او جامې بدلول ضروري دي؟

**جواب:** دباران ځاځکي دضرورت له وجې معاف دي او که هغه اوینځل شي،نو ډیره ښه ده.[۲]

## د باران د اوبو ځاځکي

**سوال:** د باران هغه اوبه کوم چې په سړکونو باندې جمع شي ایا دا نجاست غلیظه ده یا خفیفه؟ که د لمونځ کونکي جامو ته ورسیږي، نو د څومره مقدار په موجودګۍ کې لمونځ کونکی لمونځ کولی شي؟

**جواب:** د باران اوبه چې په سړک باندې وي که دهغو ځاځکي وغورځیږي ،نو دهغه وینځل کافي دي،خو د ضرورت له وجې نه په دې جامو کې لمونځ کول جائز لیکل شوي دي.[۳]

## په ټینکۍ که مرغۍ وغیره اوپړسیږي ، نو د څو ورځو لمونځونه به راګرځول کیږي؟

**سوال:** د اوبو په ټینکۍ کې چې یوه مرغۍ اوغورځیږي، مړه شي او اوپړسیږي او د غورځېدلو وخت یې معلوم نه وي، نو د څو ورځو لمونځونه به راګرځول کیږي؟

**جواب:** په دې کې دوه قوله دي: یو دا چې که یو ځناور پړسېدلی یاشړېدلی وي، نو هغه به د درې ورځو ګڼل کیږي او د درې ورځو لمونځونه به راګرځول کیږي. دویم قول دا دی چې کوم وخت پته ولګېده د هغه وخت نه به د نجاست حکم لګیږي، په لومړي قول کې احتیاط دی

---

[۱] قال الشامی:ان دلوا تنجس فافرغ فیه رجل ماء حتی امتلاءوسال من جوانبه هل یطهربمجرد ذلک ام لا؟ والذی یظهرلی الطهارة.(ردالمحتار ج:۱ص:۱۹٦،مطلب فی الحاق لحو القصعة بالحوض )۔

[۲] وقدقال فی شرح المنیة:المعلوم من قواعد انمتناالتسهیل فی مواضع الضرورة والبلوی العامة کمافی مسئله آبار الفلوات ونحوهااهـ ای کالعفوعن نجاسة المعذور وعن طین الشارع الغالب علیه النجاسة وغیره ذلک .(ردالمحتار ج:۱ص:۱۸۹،تنبیه مهم فی طرح الزبل فی القساطل).

[۳] وقد قال فی شرح المنیة:المعلوم من قواعد المتنا التسهیل فی مواضع الضرورة والبلوالعامة کمافی مسئلة آبارالفلوات ونحوها اهـ ای کالعفوعن نجاسة المعذوروعن طین الشارع الغالب علیه النجاسة وغیرذلک .(ردالمحتارج:۱ص:۱۸۹،تنبیه مهم فی طرح الزبل فی القساطل)۔

او په دويم قول کې اساني ده.[۱]

## د ناپاک کوهي اوبه استعمالول

**سوال:** په يو کوهي کې د هر وخت مخکې خنزير غورځېدلو سره مړ شو، چا هم خنزير او اوبه ونه ايستلې، خو اوس څه مزدوران خامې خښتې جوړوي او دنژدې والي له وجې ددې کوهي اوبه استعمالوي اوس به دا اوبه پاکې وي او که نه؟ او ددې اوبو له وجې نه چې په بدن کوم څاڅکې اوغورځيږي ايا بغير له وينځلو او لامبلو نه په هغو کې لمونځ کول ورا دي او که نه؟

**جواب:** دا کوهی چې ترڅو پاک نه کړل شي تر هغو ددې اوبه ناپاکه دي، له دې نه چې کومې خامې خښتې جوړيږي هغه هم ناپاکې دي، ددې د څاڅکو دوينځلو نه بغير لمونځ صحيح نه دی ددې د پاکولو طريقه داده چې د کوهي نه د خنزير وغيره هډوکي را وايستل شي که ټولي اوبه راويستل ګران وي، نو د دوه سوه بوکو نه واخله تر درې سوه بوکو پورې راويستلو سره به کوهی پاک شي.[۲]

## چې په کوهي کې سړی مړ شی، نو هغه به څنګه پاکيږي؟

**سوال:** د فقيريو وروړچې دنن نه يې څه موده مخکې کوهي ته ورټوپ کړ اومړشو هغه ذهني مريض و، کله به پرې په ځمکه دوره راغله، اوس به د هغه کوهي اوبه څنګه صفا کيږي؟

**جواب:** د کوهي ټولې اوبه دې وايستل شي، کوهی به پاک شي، او که د کوهي اوبه دومره زياتې وي، چې د ټولو اوبو ايستل ممکن نه وي، نو د دوو سوو نه تر دريو سوو پورې بوکې دې ترې وايستل شي.[۳]

## که پنبه د اوبو ټينکۍ ته ولوېږي نو د اوبو حکم

**سوال:** زما يو وړوکی ورور دی، يوه ورځ هغه په لوبو کې د اوبو ټينکۍ طرف ته لاړ، د هغه پنبه وشويده، او ټينکۍ چې د پاسه پرې سر پروت و، د هغې سر يو طرف ته شو، زما ورور خو د الله په فضل سره بچ شو، خو د هغه پنبه اوبو ته ورپريوته او هغه اوبه د څښلو له پاره هم استعماليږي او د اودس له پاره هم، او تاسو ته معلومه ده، چې اکثر پنې د لاندې

---

[۱] ويحكم بنجاستها مغلظة من وقت الوقوع ان علم....(ومذثلاثة ايام.)بلياليها(ان انتفخ اوتفسخ) استحسانا وقالا من وقت العلم فلايلزمهم شيءقبله قال الشامي :وصرح في البدائع بان قولهماقياس وقوله استحسان وهوالاحوط في العبادات آهـ .(ردالمحتارعلى الدر المختار:ج:١ص:٢١٩،مطلب مهم في تعريف الاستحسان)

[۲] اذا وقعت نجاسة في بئردون القدرالكثير اومات فيها...الخ ،ينزح كل مائها...الخ ،وان تعذر...الخ ،قيل يفتى بماتين الى ثلاثمائة وهذا ايسر وذاك احوط.(الدر المختارمع ردالمحتارج:١ص:٢١١،فصل في بئر)۔

[۳] وان مات في البئر آدمي نزح جميع مافيها وان كانت البيربحيث لايمكن نزحهااخرجوا مقدار ماكان فيها.......وهي نزح مائتا دلوالى ثلاث مائة.(هداية ج:١ص:٢٧،طبع شركت علميه ،ملتان).

خوا نه مرداري ، بيت الخلاء ته هم په هغو کې ځي، او بهر لارو کوڅو ته هم، موږه د ټينکۍ ټولې اوبه وايستلې او بيا مو دوباره لږې لږې اوبه واچولې. دې له پاره چې ټينکۍ پاکه شي، ايا موږ لره اوبه درې ځله نور اچول ضروري نه و؟ ايا يو شی هغه وخت پاکيږي، چې کله هغه درې ځله په اوبو باندې اوينځل شي؟ ايا دوه ځله اوبه اچولو سره د اوبو ټينکۍ صفا شوه؟

**جواب:** که د پښې ناپاکه کېدل يقيني وي، نو بيا خو ټينکۍ ناپاکه شوه، او که په هغې باندې يقيني طور سره پليتی نه وي لګېدلي ، نو د پښې غوځېدلو سره ټينکۍ ناپاکه نه شوه[1]

دناپاکه ټينکۍ د پاکولو يوه طريقه خو هغه ده، کومه چې تاسو اختيار کړې ده، يعني ټينکۍ سره درې ځله وينځل او هر ځل په جامې سره وچول، او يو صورت دادې چې کله ټينکۍ ته اوبه راځي، نو د هغې دپاسه ډهکن ( سر) دې خلاص کړل شي، دې له پاره چې اوبه د ټينکۍ دپاسه اوبهيږي، بس پاکه به شي.[2]

# ❖ د غسل مسائل ❖

..........................................

## د غسل طريقه

**سوال:** مولانا صاحب!زه تاسو نه دا پوښتنه کول غواړم چې زموږ په مذهب کې د غسل څه طريقه ده؟ دا يو مسئله ده چې ددې نه هرې مسلمانې مېرمنې ته ځان خبرول ضروري دي، خو افسوس ډېر کم مسلمانان داسې دي چې هغوی ددې د اهميت او صحيح طريقې نه خبر دي، په دې وجه زه غواړم چې تاسو په خپل کالم کې په دې مسئله باندې رڼا واچوئ! د ځواب راکولو په وخت کې ددې خبرو هم وضاحت وکړئ چې ايا د غسل کولو نه مخکې اودس کول ضروري دي؟ دويم دا چې د غسل کولو په وخت کې ايا د نوم نه لاندې جامه(ټوکر) تړل هم ضروري دي؟ او دريم دا چې د غسل کولو په وخت کومې دعاګانې لوستل پکار دي؟ ايا پنځه واړه کلمې لوستل ضروري دي يا يوازې درود شريف لوستلو سره مقصد پوره کيږي؟ او د غسل کولو صحيح طريقه په اسلام کې څه ده؟

**جواب:** د غسل طريقه داده چې مخکې دې لاسونه ووينځي او استنجاء دې وکړي ،بيا که

---

[1] [ماء حوض الحمام طاهرعندهم مالم يعلم بوقوع النجاسة فيه .(عالمگيری ج:۱ص:۱۸،طبع بلوچستان).

[2] [قال الشامی :ان دلوا تنجس فافرغ يه رجل ماءحتی امتلا وسال من جوانبه هل يطهربمجرد ذلک ام لا؟والذی يظهرلی الطهارة.(شامی ج:۱ص:۱۹۶،مطلب فی الحاق نحو القصعة بالحوض).

جلد دوم 28

په بدن کوم ځای کې نجاست لګیدلی وي هغه دې ووینځي. بیا دې اودس وکړي، بیا دې په ټول بدن باندې لږ اوبه واچوي او ودې مږي. بیا دې په ټول بدن باندې درې ځله اوبه واچوي.[1] په غسل کې درې شیان فرض دي:

(۱)خوله کې اوبه اچول. (۲) په پوزه کې اوبه اچول. (۳) په ټول بدن باندې اوبه اچول[2] که د بدن یو ویښته هم وچ پاتې شي، نو غسل نه کیږي او انسان به هماغه شان ناپاکه وي. د پوزې او د غوږونو سورو ته اوبه رسول فرض دي[3] که ګوتمه کره (بنګړې) تنګ وي، نو دهغو خوځول او دهغو نه لاندې اوبه رسول هم ضروري دي که نه غسل نه کیږي[4] ځینې خوینډې د نوکانو پالش او نور داسې شیان استعمالوي چې هغه بدن ته د اوبو رسولو نه مانع دي په غسل کې د دې شیانو لیرې کولو سره اوبه رسول ضروري دي ځینې وخت په بې پامې کې په نوکانو کې اوړه پاتې شي دهغو ویستل هم ضروري دي[5] الغرض پوره بدن باندې اوبه بهول او کوم شیان چې بدن ته د اوبو په رسولو کې مانع دي دهغو لیرې کول ضروري دي که نه غسل نه کیږي. د ښځو د سر ویښته که کمځي وي، نو د لندول یې ضروري نه دي بلکې دو ویښتو بیخونو ته اوبه رسول کافي دي[6] خو که ویښته کمځي نه وي، نو ټول

---

[1] وسنته ان یبدا المغتسل فیغسل یدیه وفرجه ویزیل النجاسة ان کانت علی بدنه ثم یتوضاوضوءه للصلاة الارجلیه ثم یفیض الماء علی راسه وسائرجسده ثلاثا.(هدایة ج:۱ص:۳۰).ایضا:والغسل من الجنابة والحیض والنفاس ان یبدا فیغسل مابه من الاذی ،ثم یتوضاوضوءه للصلاة ،ثم یفیض الماء علی راسه وسائرجسده الفاضة تصل بهاالماء الی شعره وبشره،ولابدفی ذالک من المضمضة والاستنشاق،قال ابوبکراحمد:روی عن النبی صلی الله علیه وسلم انه توضأ وضوءه للصلاة فی غسل الجنابة،ثم افاض الماءعلی راسه وسائرجسده ثلاثاغیررجلیه،ثم تنحی فغسل رجلیه .(شرح مختصرالطحاوی ج:۱ص:٤٠٨،طبع بیروت)۔

[2] وفرض الغسل :المضمضة،والاستنشاق وغسل سائرالبدن ....ولناقوله تعالی :وان کنتم جنبا فاطهروا، امر بالاطهار وهوتطهیرجمیع البدن .(هدایة ج:۱ص:۲۹کتاب الطهارة،طبع شرکت علمیه،ملتان)۔

[3] (وفرض الغسل غسل فمه وانفه وبدنه لا دلکه ویجب غسل)کل مایمکن من البدن بلاحرج مرة کاذن .(درمختارعلی هامش ردالمحتارج:۱ص:۱۵۱،مطلب فی ابحاث الغسل).وفی شرح مختصرالطحاوی ج:۱ ص:٤١٠ وقال علی بن ابی طالب رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم من ترک شعرة من جسدفی الجنابة لم یغسلهافعل بها کذا وکذامن النار،فهذه الاخبارتوجب غسل جمیع البدن.ایضا:ولوبقی شیءمن بدنه لم یصبه الماءلم یخرج من الجنابة وان قل ای ولوکان ذالک الشیءقلیلالابقدر راس ابرة لوجوب استیعاب جمیع البدن.(حلبی کبیرص:۵۰)۔

[4] (ولو)کان خاتمه ضیقانزعه اوحرکه)وجوباً.(درمختارعلی هامش ردالمحتارج:۱ص:۱۵۵،مطلب فی ابحاث الغسل)

[5] نعم ذکرالخلاف فی شرح المنیة فی العجین واستظهرالمنع لان فیه لزوجة وصلابة تمنع نفوذالماء.(ردالمحتارعلی الدرالمختار ج:۱ص:۱۵٤مطلب فی ابحاث الغسل)۔

[6] وکفی بل اصل ضفیرتها ای شعرالمرأة المضفورللحرج.(درمختارعلی هامش ردالمحتارج:۱ص:۱۵۳مطلب فی ابحاث الغسل)

و ینبنته په نبي طریقې سره لندول هم ضروري دي [١]

**اوس ستاسو د سوالونو ځواب لیکم:**

د غسل نه مخکې اودس کول سنت دي [٢] او که ونکړل شي، نو بیا هم غسل کیږي.

جامه (ټوکر) تړل ضروري نه دي مستحب دي. [٣]

د غسل په وخت کې دعا یا یوه کامه لوستل ضروري نه دي نه درود شریف ضروري دی. بلکې که په بدن باندې څه جامه نه وي، نو په دې حالت کې دعا، کلمه، او درود شریف جائز نه دي. په لوڅ حالت کې دچوپ پاتي کیدو حکم دی په دې حالت کې کلمه لوستل دبې خبره ښځوبدعت دی. [۴]

## د مسنون اودس نه وروسته غسل

**سوال:** لکه څنګه چې معلومه ده چې په غسل کې درې شیان فرض دي:

(١) خوله کې اوبه اچول. (٢) په پوزه کې اوبه اچول. (٣) په ټول بدن باندې اوبه اچول.

او د غسل نه مخکې اودس کول سنت دي. مولانا صاحب! زما پوښتنه ستاسو نه دا ده که یو سړی د غسل نه مخکې اودس وکړي او په خوله کې یې هم اوبه واچولې او په پوزه کې یې هم اوبه واچولې، خو د اودس نه وروسته د غسل نه مخکې یې نه دوباره غرغره وکړه او نه یې په پوزه کې اوبه واچولې کوم چې فرض دي او هغه دا سوچ وکړ چې دا خو ما په اودس کې کړي دي او په ټول بدن باندې یې اوبه واچولې نو ایا د هغه غسل صحیح دی؟

**جواب:** کله چې د غسل نه مخکې اودس وکړي او په اودس کې غرغره هم وکړي او په پوزه کې اوبه هم واچوي، نو د اودس نه وروسته دوباره خوله اوپوزه کې اوبه اچول ضروري نه دي غسل یې صحیح دی.

## په غسل کې په خوله او پوزه کې اوبه اچول د پاکېدو له پاره شرط دي

**سوال:** په کوم سړي چې غسل فرض وي او هغه غسل نه کوي یوازې په لمبلو باندې بس والی کوي ایا هغه په لمبلو سره پاکیږي؟

---

[١] ] اماالمنقوض فیفرض غسل کله اتفاقا.(درمختارعلی هامش ردالمحتارج:١ص:١٥٣ مطلب فی ابحاث الغسل)۔

[٢] ]یسن فی الاغتسال اثناعشرشیئاً(الی ان قال)ثم یتوضاکوضوئه للصلوة.(حاشیة الطحطاوی علی مراق الفلاح ج:١ص:٥٦،فصل یسن فی الاغتسال اثناعشر شیئا)۔

[٣] ] ویستحب ان یغتسل ای والحال انه مستور العورة.(مراقی الفلاح ج:١ص:٥٧،طبع میرمحمدکراچی)۔

[٤] ] ویدخل الخلاءبرجله الیسریٰ ویستعیذبالله من الشیطان الرجیم قبل دخوله وقبل کشف عورته.(مراقی الفلاح مع الطحطاوی ج:١ص:٥١،فصل فیمایجوزبه الاستنجاء).وفی حلبی کبیر: وکذا لایقرأ اذا کانت عورته مکشوفة. (ص:٦١ مطلب فی اصح القولین)۔

**جواب:** غسل لمبلو ته وايي، خو خوله او پوزه کې اوبه اچول او په پوره بدن باندې اوبه بهول د پاکېدلو له پاره شرط دي.[1]

## که په غسل یا اودس کې یو ځای وچ پاتې شي، نو د غسل او اودس حکم

**سوال:** که په غسل او اودس کې څه ځای وچ پاتې شي، په خوله یا پوزه کې اوبه اچول که هیر شي، او وروسته بیا یاد شي، نو ایا هغه باقي پاتې ځای وینځل او خوله کې اوبه اچول پکار دي، که مکمل اودس او غسل کول پکار دي؟ که یوازې دهغه باقي پاتې ځای وینځل وي، نو څومره وخت پورې کولی شي چې ووینځي؟

**جواب:** په غسل کې په خوله او پوزه کې اوبه اچول فرض دي[2] او په اوداسه کې سنت دي،[3] او که د غسل نه وروسته ورته رایاد شو، چې په خوله یا پوزه کې یې اوبه نه دي اچولي. نو یوازې په خوله او پوزه کې اوبه اچول کافي دي. د دوباره غسل کولو ضرورت نشته دغه شان کې په اودس یا غسل کې څه ځای وچ پاتې شي، نو یوازې دهغه ځای وینځل کافي دي، دوباره اودس او غسل کولو ته ضرورت نشته.[4]

## ایا په غسل کې غرغره کول او په پوزه کې اوبه اچول ضروري دي؟

**سوال:** په غسل کې درې شیان فرض دي: غرغره کول، په پوزه کې اوبه اچول او په ټول بدن باندې داسې اوبه بهول چې د ویښته برابر ځای هم وچ پاتې نه شي، زما مسئله داده، چې په غسل کې غرغره کولو سره ماته التهی (قی) راځي، زه اوبه مرۍ پورې نشم رسولی، دویمه مسئله داده، چې که د یخنۍ د وجې نه پوزه بنده شي، نو د پوزې نرمې حصې ته اوبه رسول مشکل دي، په داسې صورت کې څه کول پکار دي؟

**جواب:** غرغره او په پوزه کې اوبه اچول دومره په سختۍ سره نه دي کول پکار، چې تکلیف وي، مثلا ګوته لندول او په پوزه کې وهل کافي دي[5] دغه شان په مرۍ باندې اوبه تېرول هم کافي دي.[6]

---

[1] ] تقدم تخریجه تحت عنوان: د غسل طریقه ،، ص:١٠٣)_

[2] ](الباب الثانی فی الغسل)(الفصل الاول فی فرائضه)وهی ثلاثة:المضمضة والاستنشاق وغسل جمیع البدن.(عالمگیری ج:١ص:١٣،الباب الثانی فی الغسل).

[3] ](الفصل الثانی فی سنن الوضوء)(ومنهاالمضمضة والاستنشاق)والسنة ان یتمضمض ثلاثاولاثم یستنشق ثلاثا...الخ .(عالمگیری ج:١ص:٦الفصل الثانی فی سنن الوضوء).

[4] ]ولوترکهااى ترک المضمضة اوالاستنشاق اولمعة من ای موضع کان من البدن ناسیاً........ثم تذکرذالک یتضمن اویستنشق اویغسل اللمعة.(حلبی کبیرص:٥٠،طبع سهیل اکي□می لاهور.

[5] ]وحد المضمضة استیعاب الماءجمیع الفم وحدالاستنشاق ان یصل الماءالی المارون ،کذافی الخلاصه.(عالمگیری ج:١ص:٦الفصل الثانی فی سنن الوضوء).

[6] ]الجنب اذا شرب الماء ولم یمجه لم یضره ویجزیه عن المضمضة ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

## د غسل په اخر کې خوله وینځل وریاد شي

**سوال:** یو سړی د جنابت په حالت کې دی او هغه غسل کوي کله چې هغه په ټول بدن باندې اوبه اچوي، نو وروسته هغه ته خوله وینځل او خوله کې اوبه اچول رایادیږي او هماغه وخت هغه خوله وینځي او خوله کې اوبه اچوي په دې وخت کې ددې سړي غسل پوره کیږي او که دوباره به غسل کوي؟

**جواب:** غسل وشو د دوباره غسل کولو ضرورت نشته.[۱]

## د سنت خلاف غسل سره پاکوالی

**سوال:** غسل که د سنت طریقې مطابق ونه شي، نو ایا په هغه سره ناپاکي نه لیرې کیږي؟

**جواب:** که خوله یې ووینځله او په پوزه کې یې اوبه واچولې ،نو پاکوالی حاصل شو.ځکه چې په غسل کې همدا درې شیان فرض دي.[۲]

## په رمضان کې په خوله اوپوزه کې له اوبو اچولو نه پرته غسل کول

**سوال:** د رمضان المبارک په میاشت کې د ورځې چا ته احتلام اوشو ،د روژې له وجې نه پوزه کې پورته حصې پورې اوبه نه شي اچولی او نه غرغره کولی شي، د روژه ماتي نه وروسته غرغره کول او په پوزه کې اوبه اچول فرض دي ،واجب دي که مستحب؟ که چا د روژه ماتي نه وروسته غرغره ونکړه او په پوزه کې اوبه وا نه چولې نو ایا هغه غسل چې په ورځ کې یې کړی و کافي دی؟

**جواب:** غسل صحیح دی،د روژه ماتي نه وروسته غرغره کول یا پوزې کې داوبو اچولو ضرورت نشته.[۳]

---

...بقیه د تیر مخ]... اذا اصاب جمیع فمه.(عالمگیری ج:۱ص:۱۳الفصل الاول فی فرائضه).

[۱] الجنب اذا شرب الماء ولم یمجه لم یضره ویجزیه عن المضمضة اذا اصاب جمیع فمه.(عالمگیری ج:۱ص:۱۳الفصل الاول فی فرائضه)۔

[۲] وفرض الغسل :غسل فمه وانفه وبدنه.(تنویر الابصارمع ردالمحتارج:۱ص:۱۵۱،مطلب فی ابحاث الفصل).ایضاً: الفصل الاول فی فرائضه،وهی ثلاثة:المضمضة والاستنشاق وغسل جمیع البدن.(فتاوی عالمگیری ج:۱ص:۱۳)۔

[۳] ولیس المبالغة فی المضمضة وهی ایصال الماء لراس الحلق والمبالغة فی الاستنشاق وهی ایصاله مافوق المارن لغیر الصائم والصائم لایبالغ فیهماخشیة افساد الصوم لقوله علیه الصلاة والسلام:بالغ فی المضمضة والاستنشاق الاان تکون صائماً(حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص:۳۹، الدرالمختار ج:۱ ص:۱۵۱) ایضاً:قوله غسل الفم والانف ای بدون مبالغة فیهافانهاسنة فیه علی المعتمد.(حاشیة الطحطاوی علی المراقی ص:۱۰۲،فصل لبیان فرائض الغسل)

## په ولاړه ، ناسته او په خلاص میدان کې غسل کول

**سوال:** سړیو ته غسل په ناسته پکار دی که په ولاړه؟ دویمه خبره داده چې لوڅ او که د څه اغوستلو سره کول پکار دي؟ مثلا لنگ یا پرتوگ او داسې نور.... ایا د سړي له پاره په خلاص میدان کې لکه انگړیا سړک باندې غسل کول صحیح دي سره له دې چې په هغه ځای باندې نا محرم ښځې ، واړه، لویان او نور خلک تېرېږي؟

**جواب:** د پردې په ځای باندې جامو ویستلو سره غسل کول جائزدي[۱] او په دې صورت کې په ناسته باندې غسل کول ډیر غوره دي،سړی که په خلاص میدان کې دنوم(ناف) نه واخله تر زنگونونو پورې جامه(ټوکر) وتړي او غسل وکړي ،نو جائزدی[۲] اود نوم نه تر زنگونونو پورې ستر پرانستل حرام دي.[۳]

## جانگي( نېکر ) سره غسل یا اودس کول

**سوال:** دلته دپانسی په وارډ بلکې په ټول جیل کې مورقیدیان دغسل کولوله پاره انډویېر یا کچي(نېکر) اغوندو،ایا غسل کیږي؟ که څه هم د جنابت وي؟ که غسل کیږي ،نو ایا اودس هم وشو؟

**جواب:** که نېکر یا جانگي اغوستلو سره لاندې اوبه رسیږي او د بدن پټه برخه لنده شي، نو غسل صحیح دی[۴] ،په غسل کې اودس په خپله کیږي، د غسل نه وروسته تر څو چې کم از کم دوه رکعته لمونځ ونکړل شي یا بل داسې عبادت ادا نه شي چې په هغه کې اودس شرط وي، دوباره اودس کول مکروه دي.[۵]

## په جاري اوبو کې غوپه وهلو سره غسل

**سوال:** زما یو دوست وایي : که اوبه ژورې او جاري وي یعنې بهیږي په هغو کې یو ځل غوپه وهلو سره انسان پاکیږي ایا دا خبره صحیح ده؟

---

[۱] وقيل يجوز ان يتجرد للغسل وحده.(مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى ص:١٠٦،فصل وآداب الاغتسال هى)

[۲] وينظر الرجل من الرجل سوى مابين سرته الى ماتحت ركبته.(تنوير الابصار مع ردالمحتار:ج٦ص:٣٦٤،فصل فى النظر والمس)۔

[۳] وروى عمروبن شعيب عن ابيه عن جده قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كل شئ اسفل من سرته الى ركبته عورة .....الخ (شرح مختصرالطحاوى ج:١،ص: ٦٩٧،كتاب الصلوة) ايضاً: قال نوح آفندى: لان كشف العورة حرام(ردالمحتار ج:١،ص:٣٣٨،طبع ايم ايچ سعيد كراچى)۔

[۴] ويجب اى يفرض غسل كل ما يمكن من البدن بلا حرج مرة (درالمختار مع الردالمحتار ج:١،ص:١٥٢)۔

[۵] فان كان فى مجلس واحد كره قوله فان كان فى مجلس واحد اى ولم يؤد بالاول عبادة شرع التطهير لها والا فلا يكره (حاشيه الطحطاوى على مراقى الفلاح ص:٢٣،كتاب الطهارة)۔

**جواب:** صحيح ده! خو خوله وينځل او په پوزه کې اوبه اچول فرض دي.که دا دواړه فرض ادا شي ،نو په اوبو کې غوپه کولو سره به غسل وشي [1]

## د حيض نه وروسته پاکېدلو له پاره څه پکاردي

**سوال:** د حيض نه وروسته د پاکېدلو له پاره څه کول پکار دي؟

**جواب:** بس د نجاست نه صفايي او غسل کول.[2]

## ښځې ته د ټولو ويښتو لندول ضروري دي

**سوال:** ايا د ښځې او د خاوند د حقونو ادا کولو نه وروسته د پاکېدلو له پاره په غسل کې د سر ويښته لندول هم شامل دي که د ويښتو لندولو نه پرته غسل سره ښځه پاکيږي؟

**جواب:** د سر ويښته وينځل فرض دي،ددې نه پرته غسل نه کيږي. بلکې که يو ويښته هم وچ پاتې شو ،نو غسل نه کيږي. پخوا زمانه کې به ښځو د سر ويښته کمڅې کول داسې ښځه چې دهغې د سر ويښته کمڅې شوي وي دهغې له پاره دا حکم دی که هغه کمڅې نه پرانيزي او د ويښتو بېخونو ته اوبه ورسوي، نو غسل يې کيږي[3]، خو که د سر ويښته پرانستي وي لکه چې نن سبايې عامې زنانه ساتي. نو د ټولو ويښتو لندول فرض دي[4] له دې نه پرته ښځه نه پاکيږي.

## د پيتلو غاښ سره اودس او غسل صحيح دي

**سوال:** په ادب سره درخواست دی چې ماته يو سخته مسئله راپېښه شوې ده کومه چې د غور قابله ده هغه دا چې زما په مخامخ دوو پلنو غاښونو کې نيم مات شوي وو،په هغه نيم غاښ باندې ما د پيتلو پوښ (کاور)خېژولی دی،کوم چې د نورو غاښونو په شان مضبوط

---

[1] ] وفرض الغسل غسل فمه وانفه وبدنه(تنويرالابصار مع ردالمحتار ج:۱،ص:۱۵۱،مطلب فی ابحاث الغسل،عالمگيری ج:۱،ص:۱۳،الباب الثانی فی الغسل)ايضاً: والغسل من الجنابة والحيض والنفاس ان يبدا فيغسل مابه من الاذی،ثم يتوضا وضوءه للصلوة ثم يفيض الماء علی راسه وسائر جسده.......ولا بد من المضمضة والاستنشاق قال ابوبکر: روی عن النبی صلی الله عليه وسلم انه توضا وضوءه للصلوة فی غسل الجنابة ثم افاض الماء علی راسه وسائر جسده ثلاثاً غيررجليه ثم تنحی فغسل رجليه(شرح مختصرالطحاوی ج:۱،ص:۴۰۸)۔

[2] ] المعانی الموجبة للغسل(الی ان قال) والحيض لقوله تعالی: حتی يطهرن بالتشديد(هداية ج:۱،ص:۳۱ فصل فی الغسل)ايضاً حواله بالا)۔

[3] ]وکفی بل اصل ضفيرتها ای شعرالمرءة المضفور للحرج(درمختار علی هامش ردالمحتار ج:۱،ص:۱۵۳ مطلب فی ابحاث الغسل)۔

[4] ]اما المنقوض فيفرض غسل کله اتفاقاً(درمختار علی هامش ردالمحتارج:۱،ص:۱۵۳مطلب فی ابحاث الغسل)

دی او لیرې کولو سره جدا کیږي نه ،خو ځینې حضرات وایي چې ستا غاښ ته اوبه نه رسیږي نو ستا غسل او اودس صحیح نه دی او له همدې وجې نه دې لمونځ هم صحیح نه دی.

**جواب:** ستاسو غسل او اودس دواړه صحیح دي.[1]

## په سپینو زرو سره د غاښ ډکونکي غسل او اودس

**سوال:** زید خپل غاښ د سپینو زرو نه ډک کړی دی ایا په دې طریقي سره د هغه غسل او اودس کیږي، سره له دې نه چې اوبه دننه نه ځي؟

**جواب:** هو! غسل او اودس دواړه کیږي.[2]

## په غاښ ډکولو سره په غسل کې رکاوټ نشته

**سوال:** زما په یو غاښ کې سوری دی چې دهغه په وجه غاښ درد کوي او د خولې نه مې بدبویي هم راځي، زه یې په ډاکټر ډکول غواړم،خو د ځینو خلکو رایه داده چې داسې کولو سره غسل نه کیږي؟

**جواب:** د ځینو خلکو دا رایه صحیح نه ده د غاښ د ډکولو نه وروسته کله چې مساله د غاښ سره پیوست شي، نو دهغې حکم د اجنبي شي نه پاتې کیږي په دې وجه هغه د غسل د صحت مانع نه ده.[3]

## که په غاښ باندې د دهات وغیره پوښ وي نو د غسل جواز

**سوال:** (ستاسو مسائل او دهغو حل) کې زما ستاسو د یو سوال په ورکړل شوي ځواب باندې اعتراض دی سوال دا دی:

**سوال:** په غاښونو باندې د سرو زرو یا دهغه هم شکل دهاتونو نه جوړ شوی پوښ (کاور) خېژول جائز دي او که نه؟ او په داسې حالت کې د هغه غسل او اودس کیږي او که نه؟

**جواب:** جائز دي او غسل کیږي.

زما خیال دی چې ستاسو ځواب د جنابت د غسل له پاره غلط دی هو! عام غسل کیدای شي او د جنابت د غسل له پاره خو حکم دا دی چې د شونډو نه د حلق د هرې ذرې پورې اوبه رسول فرض دي،تردې حده پورې که په غاښ کې څه سخت شی انښتی وي چې

---

[1] (و) لا يمنع(ماعلى ظفر صباغ) (و) لا (طعام بين اسنانه) او فى سنه المجوف به يفتى وقيل ان صلبا منع وهوالاصح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج:١،ص:١٥٤،مطلب فى ابحاث الغسل)ايضاً: الاصل وجوب الغسل الا انه سقط لحرج(ردالمحتار ج:١،ص:١٥٣،طبع ايم ايچ سعيد)۔

[2] ايضاً۔

[3] ايضاً۔

دهغه په وجه هغه ځای ته اوبه نه وي رسېدلي. نو د جنابت په غسل کې دې داسې شی د غاښونو نه راوباسي او په هغه ځای دې لوند کړي. که نه غسل نه کيږي. خو تاسو خو په غاښ باندې د پوره پوښ خېژولو اجازت ورکړ او د سرو زرو پوښ سره غاښ ته اوبه نه رسيږي او د اوبو د نه رسيدلو په صورت کې به غسل ونه شي او که غسل ونه شي. نو لمونځ هم ضائع کيږي

**جواب:** تاسو صحيح ليکلي دي. که په غاښونو کې داسې يو شی انښتی وي چې د اوبو په رسېدلو کې مشکل پيداکوي. نو د جنابت د غسل له پاره دهغه راويستل ضروري دي. که نه غسل نه کيږي. خو دا حکم هغه وخت دی چې دهغه راوېستل له مشقت پرته ممکن وي. خو کوم شی چې داسې پيوست شي چې دهغه وېستل ممکن نه وي مثلاً په غاښونو باندې د سرو زرو يا سپينو زرو پوښ داسې کلک شي چې هغه ليرې کيدای نه شي. نو ددې ظاهرې برخې ته به د غاښ حکم ورکول کيږي او ددې د ليرې کولو نه پرته به غسل جائز وي.[1]

## فکس لګېدليو غاښونو، يا د مسالې نه دک شويو غاښونو سره غسل کول

**سوال:** زما دوه غاښونه مصنوعي دي. که زه دغو غاښونو باندې مساله ولګوم. يا هغه فکس ولګوم. چې بيا دا غاښونه نه ښوري اونه بهر ته راوځي. نو ايا وورېو پورې اوبه نه رسېدلو سره سره هم غسل کيږي؟

**جواب:** په دې صورت کې غسل کيږي.[2]

## که په غاښ باندې پوښ لګېدلی وي، نو د غسل او اودس حکم

**سوال:** زما يو غاښ له دننه نه خالي و. او د هغه په وجه به اکثر وينه راتله، او په لمانځه کې هم راته دغه شکايت و. ما د هغه د پاسه د استيل پوښ د مسالې وغيره په ذريعې سره مضبوط ولګاو. دا خبره معلومول غواړم، چې په دې صورت کې چې اوبه غاښ ته نه رسيږي، ايا غسل او اودس صحيح کيږي؟

**جواب:** که هغه د پاسه استيل والا غاښ مضبوط وي. نو غسل او اودس دواړه جائز دي.[3]

---

[1] (و) لا يمنع(ماعلى ظفر صباغ) (و) لا (طعام بين اسنانه) او فى سنه المجوف به يفتى وقيل ان صلبا منع وهوالاصح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج:١،ص:١٥٤،مطلب فى ابحاث الغسل)ايضاً: الاصل وجوب الغسل الا انه سقط لحرج(ردالمحتار ج:١،ص:١٥٣،طبع ايم ايچ سعيد)ـ

[2] ايضاً ـ

[3] ايضاً ـ

## مصنوعي ويښته او غسل

**سوال:** نن سبا د ګنجي (پک) د علاج له پاره يوه نوې طريقه ايجاد شوې ده. چې زموږ په ملک کې د څه مودې راسې مشهوره شوې ده، او ډېر مسلمانان د هغه علاج نه ګټه اخلي. پوښتنه داده چې دعلاج له پاره دغه طريقه شرعي طور سره جائز ده او که نه؟ په دې سلسله کې زموږ راهنمايي وکړئ. د دې علاج نوم "بالون سے گنجے پن کا علاج" دی. ددې علاج تفصيل دادی. چې ويښته په يوه نرۍ مصنوعي جهلۍ باندې لګيږي: چې په هغې کې ځای په ځای بې شميره واړه واړه سوري وي. دې له پاره چې خوله دباندې راووځي. او د لامبلو دوران کې اوبه په هغو سوريو کې دننه شي چې د سر څرمن وينځل شي. ذکر شوې جهلۍ. په کومې باندې چې ويښته لګېدلي وي، هغه د کيميايي مادې په ذريعې سره د مريض پاتې ويښتو سره انښلوي، او مخامخ دغه جهلۍ د مريض په څرمن پورې نه انښلوي. کوم ځای چې ويښتو سره دغه ويښتو والا جهلۍ انښلوي. هلته ويښته د مخکې نه تقريبا نيم انچ پورې واړه کوي. بيا همدغو واړه شويو ويښتو سره د کيميايي مادې په ذريعې سره دغه جهلۍ انښلوي. مخامخ يې څرمنې پورې نه انښلوي. صورت داسې وي. چې که په سر باندې اوبه واچول شي، نو کوم سوري چې دجهلۍ له پاره جوړ شوي وي. د هغو نه اوبه تېرې شي. او د سر څرمن وينځلو نه وروسته غاړو نه بهرته بهر راوځي. کوم ځای چې جهلۍ يوازې واړه شويو ويښتو پورې انښتې وي. څرمنې پورې نه.

ددې علاج فائده دا ښودل کيږي. چې که دغه جهلۍ په سر باندې يو ځل ولګول شي. نو تقريبا يوه يوه نيمه مياشت سر پورې لګېدلې وي. د لوبو، غسل يا لامبو وهلو دوران کې د سر نه نه ليرې کيږي، او که څوک يې په خپله ليرې کول غواړي، نو د مذکوره مودې نه مخکې يې نشي ليرې کولای، ځکه چې کومو ويښتو پورې دا انښلول کيږي، هغه تقريبا په يوه نيمه مياشت کې دومره لوی شي. چې هغه ويښته کټ کيږي. بيا هغه ليرې کيږي او بيا دوباره هغه ويښته واړه کولو نه وروسته دوباره لګول کيږي

١ اوس پوښتنه داده چې دغه شان ويښته لګول. د داسې سړي له پاره چې د هغه د سر مخکېنۍ برخې ويښته نه وي، خو د څټ او غوږونو طرف ته يې خپل ويښته وي، چې په هغو باندې د لمانځه له پاره دی مسح کولی شي، ځکه چې د سر اصل ويښته يا څرمن د څلورمې حصې نه زيات وي، څنګه دي؟

٢ ايادعلاج په مذکوره طريقه کې لګول شويو ويښتو سره. هرکله چې هغه د څرمنې پورې پيوست نه وي لګېدلي، يوازې ويښتو پورې لګېدلي وي. او په سر باندې اوبه اچولو سره هغه اوبه په سوريو کې ننوځي او په اسانۍ سره غاړو ته رسېدلای شي، او دا د غسل دوران کې نه ويستل کيږي، ځکه چې دا يوه مياشت يا يوه نيمه مياشت نه مخکې نه شي ليرې

کولای . په داسې صورت کې فرض غسل پوره کیږي او که نه؟
۳. ایا په داسې صورت کې دډې علاج د هغو شیانو سره مطابقت راوستل کیږي. مثلا په غانښونو باندې پوښ لګول. مصنوعي پنبه وغیره لګول. تفصیلي جواب راکړئ. ځکه چې ډیرو مسلمانانو دا علاج اختیار کړی دی. الله تعالی دې تاسو ته جزاء خیر درکړي

**جواب:** تاسو چې د کومې جهلې ذکر وکړ. ښکاره خبره ده. چې د هغې د سوریو نه خو به اوبه خامخا سر ته رسیږي. خوپه دې کې اشکال دادی. چې کوم ویښته د دغې جهلې سره پیوست انښتي دي. هغه به خامخا داسې وي. چې نه هغه د دې جهلې نه لیرې کیدای شي. او نه په غسل کې هغو ته اوبه رسیدای شي. په داسې صورت کې د سړي غسل نه کیږي[۱] او کله چې غسل نه کیږي. نو لمونځ او تلاوت به یې هم صحیح نه وي[۲] او ترکومې چې په اوداسه کې د مسح خبره ده. نو هغه اسانه ده. ځکه چې د دغې جهلې نه اوبه سر ته رسیږي. نو د سر مسح په اسانۍ سره کیدای شي [۳]

## د نکریزو د رنګ باوجود غسل کیږي .

**سوال:** زمونږ د مشرانو ښځو دا وینا ده چې که د خاصو ورځو پرمهال نکریزي استعمال شي ،نو ترڅو چې د نکریزو رنګ تول ختم شوی نه وي غسل یې نه کیږي

**جواب:** د ښځو دا مسئله بالکل غلطه ده. غسل کیږي. دغسل د صحت له پاره د نکریزو د رنګ لیرې کول هیڅ شرط نه دي [۴]

## ایا ځوک چې وسمه لګوي د هغه غسل کیږي؟

**سوال:** یو عالم راته وویل. چې ځوک ویښتو ته وسمه (رنګ) ورکوي. د هغه د جنابت غسل

---

۱ ] ولیس علی المرءة ان تنقض ضفائرها فی الغسل اذا بلغ الماء اصول الشعر.....ولو الزقت المرءة راسها بطیب بحیث لا یصل الماء الی اصول الشعر وجب علیها ازالته لیصل الماء الی اصوله کذا فی السراج(عالمگیری ج:۱،ص:۱۳،الباب الثانی فی الغسل،طبع بلوچستان بک □پو کوئته)

۲ ] عن ابن عمر رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:لا تقبل صلوة بغیر طهور ولا صدقة من غلول(ترمذی ج:۱،ص:۲،ابواب الطهارة،طبع دهلی)

۳ ] (قوله وامسحوا برؤسکم) المسح هو الاصابة.........وان کان بعض راسه محلوقاً فمسح علی غیرالمحلوق جاز وان اصاب راسه ماء المطر اجزاه عن المسح سواء مسحه او لا(الجوهرة النیرة شرح مختصرالقدوری،کتاب الصلوة ص:۳،طبع مجتبائی دهلی) ایضاً: ولا یجوز المسح علی القلنسوة والعمامة وکذا لو مسحت المرءة علی الخمار الا انه اذا کان الماء متقاطراً بحیث یصل الی الشعر فحینئذ یجوز ذالک عن الشعر کذا فی الخلاصة (عالمگیری ج:۱،ص:۶)

۴ ] وفی الجامع الصغیر سئل ابوالقاسم عن....والمرءة التی صبغت اصبعها بالحناء او الصرام او الصباغ،قال:کل ذالک سواء یجزیهم وضوءهم .....الخ (عالمگیری ج:۱،ص:۴،طبع بلوچستان)_

چېرې هم نه کېږي، يعنى هغه چېرې هم نه پاکيږي، داسې سړي ته د جومات نه هم لیرې اوسدل پکار دي، ايا دا صحيح ده؟ هغه ووېل، چې د ابوداود يو حديث مبارک دی. چې خضاب (وسمه) لګونکی به د جنت د خوشبو نه هم لیرې وي. ايا دا صحيح ده؟

**جواب:** تاسو چې کومه مسئله ليکلې ده، چې د وسمه لګونکي غسل نه کيږي، دا خو صحيح نه ده.[1] البته توره وسمه لګول جائز نه دي[2] تاسو چې کوم حديث ليکلی دی، هغه صحيح دی [3]

## د جنابت غسل کولو پرمهال که اوبو ته څاڅکي ورولوېږي نو هغه ناپاکه کيږي نه

**سوال:** يو سړي د جنابت غسل کاو، د غسل اوبه په بالټي (ستل) کې وې، په بدن باندې داوبو اچولو په وخت کې بالټي کې څاڅکی پرېوتل، نو ايا دې سره د بالټي اوبه پليتې شوې او که نه؟

**جواب:** نه پليتيږي [4] په داسې توهماتو باندې عمل کولو سره سړی وسواسي جوړيږي [5]

## که په بالټي کې د غسل کولو په وخت کې څاڅکي پريوځي نو د اوبو حکم

**سوال:** د جنابت نه د غسل په وخت کې که په دوو ستلو کې اوبه وي، يا په يو کې وي او د لامبلو په وخت کې د احتياط سره سره څه څاڅکي د بالټي په اوبو کې پريوځي. نو ايا په دې صورت کې اوبه ناپاکه کيږي؟

---

[1] اما اصبغة الوجه والشفتين فلا تمنع وصول الماء لعدم لزوجتها وصلابتها،كاثرالحناء على الكفين والقدمين،والعبرة فى هذه المسائل لنفوذ الماء ووصوله الى البدن(الفقه الحنفى فى ثوبه الجديد ج:١،ص:٦٩،طبع دارالقلم،دمشق)

[2] عن جابر قال:اتى بابى قحافة يوم فتح مكة وراسه ولحيته كالثغامة بياضاً فقال النبى صلى الله عليه وسلم : غيروا هذا بشئ واجتنبوا السواد(مشكوة ص:٣٨٠) وفى المرقاة :قال النووى:فى الخضاب القول واصحها ان خضاب الشيب للرجل والمرءة يستحب والسواد حرام(مرقاة ج:٤،ص:٤٠٨،كذا فى ردالمحتار ج:٦،ص:٧٥٦)

[3] عن ابن عباس قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : يكون قوم يختضبون فى آخرالزمان بالسواد كحواصل الحمام لا يريحون رائحة الجنة (سنن ابى داؤد ج:٢،ص:٢٢٢،باب ماجاء فى خضاب السواد،طبع ايم ايچ سعيد)

[4] وقد صرحوا بان الماء المستعمل على القول بطهارته اذا اختلط بالماء الطهور،لا يخرجه عن الطهورية،الا اذا غلبه او ساواه، اما اذا كان مغلوباً فلا تخرجه عن الطهورية،فيجوزالوضوء بالكل(البحرالرائق ج:١،ص:٧٤،طبع بيروت،وكذا فى ردالمحتار ج:١،ص:١٩٨،طبع ايم ايچ سعيد)

[5] عن ابى كعب عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: ان للوضوء شيطاناً يقال له الولهان،فاتقوا وسواس الماء(جامع الترمذى ج:١،ص:٩،باب كراهية الاسراف فى الوضوء،طبع كتب خانه رشيديه دهلى)

**جواب:** دا احتیاط کول پکار دي. چې بالټي ته څاڅکي ورنه شي. خو داسې څاڅکو سره اوبه ناپاکه کېږي نه. له دې وجې نه زیات وهم کول هم پکار نه دي[۱]

## یوځای غسل خانه او لیټرین (بیت الخلاء) کې غسل

**سوال:** نن سبا یو فیشن جوړ شوس دس چې په کورونو کې یو ځای غسل خانه او لیټرین جوړیږي ،نو ایا په داسې ځای کې غسل کولو سره انسان پاکیږي؟

**جواب:** کوم ځای کې چې غسل کوي که هغه پاک وي او د پلیت ځای نه ورته څریکې هم نه راځي . نو د نه پاکوالي څه وجه ده ! او که هغه ځای شکي وي ،نو په اوبو سره دې هغه پاک کړل شي. بیا دې غسل وکړي.

## په ریل ګاډي کې غسل

**سوال:** درخواست دی چې د کراچۍ نه لاهور ته د ریل ګاډي په ذریعه راتلو کې د شپې د غسل ضرورت راپیښ شو چې په هغه سره جامې هم خرابې شوې.تاسو ولیکئ چې په پاتې سفر کې د فرض لمونځ د ادا کولو څه صورت کیدای شي؟ په ریل ګاډی کې داوداسه اوبه وي دغسل له پاره نه خو اوبه وي اونه غسل کول ممکن وي.

**جواب:** عام طور سره په ریل ګاډي کې دومره اوبه وي چې غسل پرې وشي.خو که بالفرض د اوداسه له پاره اوبه وي،خو د غسل له پاره نه کافي کېږي، نودغسل له پاره تیمم کولی شئ! خو ددې له پاره دا شرطونه دي:

۱ ..... د ریل ګاډي هیڅ برخه کې به دومره اوبه نه وي چې فرض غسل پرې وشي.

۲.....په لار کې د یوشرعي میل په انداز استیشن(تم ځای) نه وي چې په هغه کې د اوبو موجودیت معلوم وي.

۳.......د ټرین(ریل ګاډي) په تختو باندې دومره خاوره وي چې په هغې سره تیمم کیدای شي[۲]

---

[۱] وقد صرحوا بان الماء المستعمل على القول بطهارته اذا اختلط بالماء الطهور،لا يخرجه عن الطهورية،الا اذا غلبه او ساواه، اما اذا كان مغلوباً فلا يخرجه عن الطهورية،فيجوزالوضوء بالكل(البحرالرائق ج:۱، ص:۷۴، طبع بيروت،وكذا فى ردالمحتار ج:۱،ص:۱۹۸،طبع ايم ايچ سعيد)

[۲] ومن لم يجد الماء وهو مسافر او خارج المصر بينه وبين المصر ميل او اكثر يتيمم بالصعيد(هداية ص:۴۹،باب التيمم)ايضاً:قال ابوجعفر:ويتيمم فى غيرالامصار والقرى اذا اعوزالماء۔ قال ابوبكر:وذالک لقول الله تعالى:فلم تجدوا ماءً فتيمموا صعيداً طيباً(شرح مختصرالطحاوى ج: ۱،ص:۴۱۴،باب التيمم)ايضاً: وكل شئ يتيمم به من تراب او طين او جص....او ما يكون من الارض سواء ذلک من حجارة او غبارثوب فانه يجزيه فى قول ابى حنيفة قال ابوبكر:وجه قول ابى حنيفة قول الله تعالى: فتيمموا صعيداً طيباً.....الصعيد ،الارض، والصعيد: التراب.......الخ(شرح مختصرالطحاوى ج:۱،ص:۴۲۰،طبع بيروت)۔

که په دې پورتنو شرطونو کې يو هم موجود نه وي .نو څنګه چې کيداى شي لمونځ دې وکړي .خو بيا غسل کولو سره د لمونځ راګرځول ضروري دي[1]

## د ضرورت نه زياتې اوبه استعمالول مکروه دي

**سوال:** د ضرورت نه زياتې اوبه استعمالول غلط دي . که څه هم په اوداسه کې وي. نو جناب تاسو دا وواياست چې ايا د لوى سائز(اندازې) والا څلورو بالټو(ستلونو) سره غسل کول د قران کريم او حديث په رڼا کې صحيح دي او که نه؟ سره له دې چې دغه سړى يو بالټي اوبو سره غسل کولى شي

**جواب:** دپاکوالي له پاره خو تقريبا څلور سيره اوبه کافي دي.د بدن د صفايي يا يخ والي حاصلولو په نيت زياتو اوبو استعمالولو کې څه باک نشته[2] خوله ضرورت نه پرته زياتې اوبه لګول مکروه دي[3]

## په اوبو کې سره زر اچولو سره غسل کول

**سوال:** زما مشر ورور کور ته راغى او په بالټي کې يې د سرو زرو ګوتمه واچوله او ويې لامبل.له پوښتنې وروسته څرګنده شوه چې په هغه باندې چرمنبکې راغورځيدلې وه، هغه ته مشوره ورکړل شوه چې تاسو تلو سره سم په لوښي کې سره زر واچوئ او غسل وکړئ !که نه تاسو به نه پاکيږئ.نو زه تاسو نه دا معلومول غواړم چې کله د سړي له پاره سره زر استعمالول حرام دي، نو تاسو دا وضاحت وکړئ په هغو اوبو چې سره زر پکې اچول شوي وي غسل کول صحيح دي او که نه؟

**جواب:** په اوبو کې د سرو زرو شى اچول ګناه خو نه ده ،خو هغه ته چا مسئله غلطه بيان کړې ده چې ترڅو مو د سرو زرو شى په اوبو کې نه وي اچولي تاسو به نه پاکيږئ.

## د قضاء حاجت او غسل پر مهال به مخ کوم طرف ته اړوي

**سوال:** دغسل کولو په وخت کوم طرف ته مخ کول پکار دي؟ نن سبا بيت الخلاء او غسل خانه يو ځاى وي په داسې وخت کې د غسل خانې له پاره د کوم طرف ته اندازه ولګول شي؟ او د

---

[1] (والمحصور فاقد الطهورين يؤخرها عنده وقالايتشبه) بالمصلين وجوبافيركع ان وجدمكانايابساوالايومى قائما ثم يعيدكالصوم.(به يفتى واليه صح رجوعه).(درمختارعلى التنويرمع ردالمحتار ج:١ص:٢٥٢،مطلب فاقدالطهورين)

[2] وعن انس قال:كان النبى صلى الله عليه وسلم يتوضابالمدويغتسل بالصاع الى خمسة امداد.متفق عليه. (مشكوة ص:٤٨،باب الغسل)_

[3] ويكره للمتوضى ستة اشياء:الاسراف فى الماء.(نورالايضاح ص:٣٤،فصل فى المكروهات؛وكره فيه ماكره فى الوضوءإيضا،،ص:٣٩فصل فى آداب الاغتسال).مماوردفى الخبرشرار امتى الذين يسرفون فى صب الماءوفى الدرويكره الاسراف فيه تحريماولوبماءالنهراوالمملوك له.(مراقى الفلاح ص:٤٥،ميرمحمدكراچى)_

بيت الخلاء له پاره کوم اړخ مقرر دی؟

**جواب:** د حاجت پوره کولو په وخت کې نه خو قبلې ته مخ کول پکار دي او نه ورته شا کول پکار دي. د حاجت د پوره کولو په وخت کې قبلې ته مخ کول يا شا کول مکروه تحريمي دی[1] د غسل په حالت کې که غسل ببخې لوڅ وي .نو په دې صورت کې د قبلې طرف ته مخ کول يا شا کول مکروه تنزيهي دي بلکې مخ شمال يا جنوب ته کول پکار دي. او که دعورت پټولو سره غسل کوي. نو په دې صورت کې هر طرف ته مخ کولو سره غسل کولی شي[2]

## د جنابت په حالت کې په اوداسه ډوډۍ خوړل غوره دي

**سوال:** دجنابت په حالت کې خوراک. څښاک او د حلال څناورذبح کول صحيح دي؟

**جواب:** د جنابت په حالت کې خوراک څښاک او نور داسې کارونه کول چې په هغو کې طهارت شرط نه دی جائز دي. خو د خوراک څښاک نه مخکې استنجاء کول او اودس کول غوره دي. په صحيحينو کې د عائشې رضي الله عنها نه روايت نقل دی

"کان النبی ﷺ إذا کان جنباً فأراد أن یأکل أو ینام توضأ وضوءه للصلوة". (مشکواه ص ٤٩)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ به چې کله د جنابت په حالت کې د خوراک څښاک يا ويده کيدو اراده وکړه، نو اودس به يې کاو.

## د جنابت په حالت کې د خوراک څښاک اجازت

**سوال:** له ډيرو ورځو مو اوريدلي دي چې د احتلام نه وروسته يعنی د جنابت په حالت کې د غسل کولو نه مخکې خوراک څښاک کول حرام دي. خو چې کله څه مجبوري وي يعنی اوبه وغيره د غسل له پاره نه وي .نو په داسې حالت کې دې د ډيرې لوږې يا تندې په وخت کې انسان اودس وکړي. په هغه کې غرغره وکړي او پوزې ته دې هم اوبه ورسوي. بيا خوراک څښاک کولی شي؟

**جواب:** د جنابت په حالت کې د خوراک څښاک کولو اجازت دی. خو له غرغرې پرته خوراک کول مکروه تنزيهي دي او په دې کې لومړی غړپ (گوټ) ، کول مکروه دي. څکه دا اوبه د خولې د جنابت په ليرې کولو کې استعمال شوي دي. همدغه شان د لاس وينځلو نه

---

[1] ]عن ابی ايوب الانصاری قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:اذا اتيتم الغائط فلاتستقبلوا القبلة ولا تستدبروها ولکن شرقوا او غربوا.متفق عليه.(مشکوة ج:١ص:٤٢،باب آداب الخلاء).ايضا:ويکره تحريما استقبال القبلة والستدبارها.(نورالايضاح ص:٣٠،فصل فی الاستنجاء)۔

[2] ] (انه لا يستقبل القبلة)حال اغتساله (لانه يکون غالبا مع کشف العورة)فان کان مستوراًفلاباس به.(حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص:٥٧،فصل وآداب الاغتسال هی)۔

مخکې خوراک هم مکروه تنزيهي دی[۱]

## د جنابت په حال کې روژه نيول او خوراک کول

**سوال:** که سړي ته د غسل ضرورت وي او هغه روژه هم نيسي .نو ايا د غسل نه مخکې روژه نيول جائز دي؟ او په داسې حالت کې خوراک څښاک کول مکروه خو نه دي؟

**جواب:** مخ لاس وينځلو سره دې خوراک او څښاک وکړي او روژه دې ونيسي غسل دې وروسته وکړي د جنابت په حالت کې خوراک او څښاک کول مکروه نه دي.[۲]

## د جنابت په غسل کې تاخير کول

**سوال:** ما ستاسو په کالم کې لوستلي و چې د جنابت په حالت کې د خوراک وڅښاک اجازت دی پوښتنه دا ده چې د جنابت په حالت کې څومره وخته پورې د خوراک وڅښاک اجازت دی؟ او د جنابت په حالت کې څومره پاتې کيدای شي؟

**جواب:** د جنابت په حالت کې مخ و لاس وينځلو نه وروسته خوراک وڅښاک کول جائز دي[۳] خو په غسل کې دومره تاخير کول چې د لمانځه وخت تېر شي سخته ګناه ده.[۴]

## ايا د جنابت غسل کولو نه پرته ويده کيدل جائز دي؟

**سوال:** کور وداني سره د صحبت (جماع) کولو نه وروسته تيمم کول او ويده کيدل صحيح دي. که غسل او اودس کول هم ضروري دي؟

**جواب:** غسل يا اودس کول غوره دي، له دې نه پرته ويده کيدل هم جائز دي، خوشرط دادی، چې د سحرلمونځ قضا نه کړي، که نه ګناهګار به وي.[۵]

## په واجب غسل کې تاخير کول

**سوال:** که د کور وداني سره صحبت (جماع) کولو نه وروسته سمدلاسه غسل ونه کړای

---

[۱] ويکره له قراءة توراة وانجيل وزبورلاقنوت۱۲تنوير.وقال فی الدر:ولا اكله وشربه بعدغسل يدوفم وفی الشامية.قوله :(بعدغسل يدوفم)اماقبله فلاينبغی لانه يصيرشارباللماء المستعمل وهومكروه تنزيها،ويده لاتخلوعن النجاسة فينبغی غسلهاثم ياكل .بدائع ،،(ردالمحتارج:۱ص:۱۷۵،مطلب يطلق الدعاء علی مايشمل الثناء،كتاب الطهارة ،كذافی حلبی كبيرص:٦٠،مطلب فی اصح القولين)۔

[۲] عن عائشة رضی الله عنها قالت:كان النبی صلی الله عليه وسلم اذا كان جنباً فاراد ان ياكل او ينام توضا وضوءه للصلوة (مشكوة ص:٤٩) باب مخالطة الجنب ومايباح له،الفصل الاول)۔

[۳] ويكره له قراءة توراة وانجيل وزبور ولاقنوت ۱۲ تنويرالابصار ولا اكله وشربه بعد غسل يدوفم(درمختار ج:۱،ص:۱۷۵،مطلب يطلق الدعاء علی ما يشمل الثناء)۔

[۴] وان اراد ان ياكل او يشرب فينبغی ان يتمضمض ويسغل يديه(عالمگيری ج:۱،ص:۱٦)

[۵] ولا باس للجنب ان ينام ويعاد اهله قبل ان يتوضا وان توضا فحسن(عالمگيری ج:۱،ص:۱٦)

شي. نو څنګه دي؟

د ښځې چې کله سحر سترګې خلاصې شوې .نو د لمونځ وخت تېرشوی و. لهذا د کور په کار روزګار کې مشغوله شوه. او د ماسپښين نه مخکې يې غسل وکړ. ايا دغه دوران کې خوراک وڅښاک کول يا ډوډۍ پخول صحيح دي؟

**جواب:** په غسل کې دومره تاخير کول چې لمونځ قضا شي. حرام دي[1]. د غسل نه پرته خولې وينځلو سره خوراک وڅښاک او پخول جائز دي.[2]

## په غسل نه کولو کې د دفتري مصروفيت عذر د اعتبار وړ نه دی

**سوال:** که په يو سړي باندې غسل فرض وي،خو د دفتر هم پرې ناوخته کيږي. په دې صورت کې د دفتر د کار په وخت کې د هغه له پاره په تيمم سره لمونځ کول جائز دي او که نه؟ يا په دې وخت کې لمونځونه پريږدي ترڅو چې يې غسل نه وي کړی؟

**جواب:** په ښار کې د اوبو له موجوديت سره تيمم څنګه سهي کيږي ؟ او دا عذر چې دفترته د تلو ناوخته کيږي د اوريدلو قابل نه دی[3] چې کله په دې سړي باندې غسل فرض دی .نو هغه ته د سحر د لمانځه نه مخکې د غسل اهتمام کول پکار دي په غسل کې دومره تاخير کول چې د لمانځه وخت تېر شي سخته ګناه ده.[4]

## په غسل او اودس کې شک کول

**سوال:** د غسل او اودس کولو په وخت کې ډيرې اوبه تويوم او د غسل او اودس د فراغت نه وروسته ډير زيات شک کوم چې د وينښته برابرځای وچ نه وي پاتې شوی.تاسو دې شک په باره کې څه حل راوښيئ؟

---

[1] قال تعالى: فخلف من بعدهم خلف اضاعوالصلوة واتبعوالشهوات فسوف يلقون غياً الا من تاب،قال ابن مسعود:ليس معنى اضاعوها تركوها بالكلية،ولكن اخروها عن اوقاتها.......وقال تعالى:فويل للمصلين الذين هم عن صلوتهم ساهون ــ قال صلى الله عليه وسلم : هم الذين يؤخرون الصلوة عن وقتها(الزواجر عن اقتراف الكبائر ج:١،ص:١٣٣)ـ

[2] وان اراد ان ياكل او يشرب فينبغي ان يتمضمض ويسغل يديه(عالمگيرى ج:١،ص:١٦)

[3] قال ابوجعفر :ويتيمم فى غيرالامصار والقرى اذا اعوزالماء قال ابوبكر: وذالک لقول الله تعالى:فلم تجدوا ماءً فتيمموا صعيداً طيباً(شرح مختصرالطحاوى ج: ١،ص: ٤١٤،باب التيمم)ـ

[4] اوګورئ تيره شوې حاشيه (قال تعالى: فخلف من بعدهم خلف اضاعوالصلوة .....الخ (سورة: ١٩ مريم: ٥٩_ ٦٠ قال ابن مسعود رضى الله عنهما ليس معنى اضاعوها تركها بالكلية ولكن اخروها عن اوقاتها وقال تعالى: سورة ١٠٧، ماعون: ٤_ ٥، قال صلى الله عليه وسلم: هم الذين يؤخرون الصلوٰة عن وقتها...الخ (الزواجر عن اقتراف الكبائر ج:١،ص:١٣٣)ـ

**جواب:** غسل او اودس د سنت طريقې مطابق کوئ، يعنى درې درې ځله اندامونه وينځئ[1] د دې نه وروسته شک کول غلط دي اګر که ډيرې وسوسې راځي چې يو ويښته به وچ پاتې شوى وي، خو دا شيطاني خيال ګڼئ او د دې هيڅ پرواه مه کوه[2]

## د جنابت د غسل نه وروسته هماغه جامې اغوستل

**سوال:** دا بيان کړئ چې که يو سړي ته د غسل حاجت پيښ شي يا په هغه باندې د جنابت غسل واجب شي، نو ايا هغه له غسل نه وروسته دوباره هماغه جامې اغوستلى شي؟ سره له دې چې هغه جامې مثلاً: سوئټر کميس او داسې نور...چې په هغو باندې هيڅ نجاست نه وي لګېدلى.

**جواب:** هو بالکل يې اغوستلى شي.

## غسل کولو نه وروسته له ځان وچولو پرته لمونځ کول

**سوال:** د غسل نه وروسته د سړيو يا ښځو په داسې حالت کې لمونځ کول چې د ويښتو نه اوبه يې څاڅي او بدن هم لوند وي، صحيح دي او که نه؟

**جواب:** جائز دى.

## په جنابت کې نوکونه اخستل او ويښته برابرول مکروه دي

**سوال:** دا وضاحت هم وکړئ چې نوکونه او ويښته د جنابت په حالت کې اخستل روادي او که نه؟ په دې کې د وخت يا ځاى څه قيد شته؟

**جواب:** د جنابت په حالت کې نوکونه اخستل او ويښته برابرول مکروه دي[3]، خو که نوکونه يا ويښته د وينځلو نه وروسته واخلى نو مکروه هم نه ده.

## په جنابت کې د استعمال شويو جامو او لوښو حکم

**سوال:** که يو جنب سړى د يو شي استعمال کوي مثلاً: د بسترو، جامو يا لوښو، نو ايا دا شيان به ناپاک وي او که نه؟ ځکه چې د شپې ماته احتلام وشو، ما په دويم ماسپښين غسل وکړ، خو د شپې مې هم هغه وخت ګنډکې صفا کړه.

---

[1] ]واما سنة فهى ان يبداء.........ثم يتوضا وضوءه للصلوة ثلاثاً ثلثاً الا انه الا يغسل رجليه حتى يفيض الماء على راسه وسائر جسده ثلثاً ثم يتنحى فيغسل قدميه.....الخ(بدائع الصنائع ج:۱،ص:۳٤،طبع ايم ايچ سعيد)

[2] ] عن ابى كعب عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: ان للوضوء شيطاناً يقال له:الولهان،فاتقوا وسواء الماء(ترمذى ج:۱،ص:۹،باب كراهية الاسراف فى الوضوء)_

[3] ]حلق الشعر حالة الجنابة مكروه وكذا قص الاظافير كذا فى الغرائب(عالمگيرى ج:۵،ص: ۳۵۸،الباب التاسع عشرفى الختان.....الخ كتاب الكراهية)_

**جواب:** د جنابت په حالت کې خوراک څښاک او نور کارونو جائزدي[1] او د جنب انسان د استعمال سره دا شيان نه ناپاکه کيږي، خو په غسل کې دومره تاخير کول چې د لمانځه وخت لاړ شي حرام او سخته ګناه ده.[2]

## د جنابت په حالت کې ملاقات او د سلام جواب ورکول

**سوال:** سړی د جنابت په حالت کې د چا سره ملاقات کولی شي؟ او د سلام جواب ورکولی شي او يا سلام اچولی شي؟

**جواب:** د جنابت په حالت کې د چا سره ملاقات کول، سلام اچول، د سلام ځواب ورکول[3] خوراک وڅښاک هر څه جائز دي.[4]

## د جنابت په حالت کې حديث، اسلامي واقعه اورول او د الله تعالى نوم اخستل

**سوال:** مسئله داده چې يو سړی د خپلې ښځې سره ډيره زياته مينه کوي او په دې خبره باندې د الله تعالى ډير شکر ادا کوي. چې هغه ماته داسې نيک سيرته او پاک دامنه ښځه راکړې ده، عموما د شپې په وخت کې هغه بې اختياره او بااختياره د الله تعالى شکر په زړه کې هم او په ژبه هم ادا کوي. خو که د داسې کولو په وخت کې هغه د جنابت په حالت کې وي، يعنې غسل ورباندې فرض شوی وي، خو د هغه د خولې نه بې اختياره د الله تعالى تعريف او د شکريې الفاظ اوځي. نو ايا دا صحيح دی، چې د غسل کولو نه مخکې هغوی د الله تعالى نوم اخلې؟ ايا په داسې حالت کې هغوی يو بل ته څه اسلامي واقعه اورولی شي؟ يا د يو حديث شريف يا د آيت کريمه ترجمه اورولی شي؟

---

[1] قال فى تنويرالابصار: ويكره له قراءة توراة وانجيل وزبور ولاقنوت.وقال فى الدر:ولا اكله وشربه بعد غسل يدوفم (الدرالمختار مع ردالمحتارج ١،ص:١٧٥،مطلب يطلق الدعاء على ما يشمل الثناء،كتاب الطهارة)

[2] قال تعالى: فخلف من بعدهم خلف اضاعواالصلوة واتبعواالشهوات فسوف يلقون غياً الا من تاب،قال ابن مسعود:ليس معنى اضاعوها تركوها بالكلية،ولكن اخروها عن اوقاتها.......وقال تعالى:فويل للمصلين الذين هم عن صلوتهم ساهون ـــ قال صلى الله عليه وسلم : هم الذين يؤخرون الصلوة عن وقتها(الزواجر عن اقتراف الكبائر ج:١،ص:١٣٣)ــ

[3] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:لقينى رسول الله صلى الله عليه وسلم :وانا جنب فاخذ بيدى فمشيت معه حتى قعد فاتسللت فاتيت الرجل فاغتسلت ثم جئت وهو قاعد،فقال:اين كنت ياابا هريرة؟فقلت له،فقال:سبحان الله!ان المؤمن لا ينجس ـــ هذا لفظ البخارى(مشكوة ص:٤٩،باب مخالطة الجنب وما يباح له،الفصل الاول)ــ

[4] واذا اراد الجنب الاكل والشرب ينبغى له ان يغسل يده وفمه ثم ياكل.ويشرب(منية المصلى مع غنية المستملى ص:٦٠،مطلب فى اصح القولين)ــ

**جواب:** د جنابت په حالت کې تلاوت جائز نه دی. نور اذکار جائز دي.[١]

## دغسل پرمهال خبرې اترې

**سوال:** که يو کس دلوڅ غسل کولو په وخت د چا سره خبرې اترې وکړي .نو غسل به دوباره کوي؟

**جواب:** په لوڅ حالت کې خبرې نه دي کول پکار[٢]خو د غسل دوباره کولو ضرورت نشته.

## ايا سړی لوڅ غسل کولای شي؟

**سوال:** ستاسو نه پوښتنه داده. چې يو مسلمان سړي ته لوڅ غسل کول جائز دي او که نه؟ او که جائز دي .نو په کوم صورت کې؟ او ايا ددې اطلاق په سړي او ښځه دواړو باندې کيږي؟

**جواب:** جائز دي، په دې شرط چې بل څوک يې ونه ويني.[٣] والله اعلم.

## دغسل په وخت کې کلمه لوستل

**سوال:** ايا د غسل په دوران کې کلمه لوستل جائزدي؟

**جواب:** که جامې يې وبستلي وي، نو کلمه لوستل صحيح نه دي.[٤]

## له نامه نه لاندې وېښته تر کوم ځای پورې اخستل پکار دي

**سوال:** د نامه نه لاندې(زيرناف) وېښته د کوم ځای پورې اخستل پکار دي. د دې حد د کوم ځای نه کوم ځای پورې دی؟

**جواب:** د نامه نه واخله د پنډيو دبېخونو پورې او د وړو او غټو متيازو دځای نه ګير چاپيره کوم ځای پورې چې ممکن وي.[٥]

---

[١] لا تقراء الحائض والنفساء والجنب شيئاً من القرآن......ويجوز للجنب والحائض الدعوات وجواب الاذان ـــ(عالمگيری ج:١،ص:٣٨،طبع بلوچستان)

[٢] ويستحب ان لا يتكلم بكلام معه ولو دعاء اى هذا اذا كان غيردعاء بل ولو دعاءً اما الكلام غيرالدعاء فلكراهته حال الكشف كما فى الشرح(مراقى الفلاح ص:٥٧،ايضاً:عالمگيری ج:١،ص:١٤)ـ

[٣] يغتسل ويختار ما هو استر هذا ماف الوهبانية والقنية....وسواء فى ذالک الرجل والمرءة......الخ وفى الحاشية: ويستحب ان يغتسل بمكان لا يراه فيه احد لا يحل له النظر لعورته لاحتمال ظهورها فى حال الغسل او لبس الثياب (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى ص:٥٧) ايضًا:لايستقبل القبلة حال اغتسال له لانه يكون غالبًامع كشف العورة فان كان مستوراً فلا باس به.(حاشية الطحطاوى على مراق الفلاح ص:٥٧،طبع ميرمحمدكراچی)

[٤] ان يسمى قبل الاستنجاء سمى قبل كشف العورة فان كشف قبل التسمية سمى بقلبه ولايحرک هالسانه لان ذكرالله حال الانكشاف غيرمستحب تعظيماًلاسم الله تعالى.(الجوهرة النيرة ص:٥طبع دهلى).

[٥] والعانة: الشعرالقريب من فرج الرجل والمرأة ومثلهاشعرالدبربل هواولى بالازالةلئلايتعلق به شيءمن الخارج عندالاستنجاءبالحجر.(ردالمحتارج:٢ص:٤٨١،كتاب الحج ،فصل فى الاحرام)ـ

## غير ضروري ويښته څومره موده وروسته صفا کول پکار دي؟

**سوال:** پوښتنه داده چې غير ضروري ويښته څو ورځې وروسته صفا کول پکار دي؟

**جواب:** دغيرضروري ويښتوهره هفته صفا کول مستحب دي.ترڅلويښتو ورځوپورې د صفايې وروسته کولو اجازت دی له دې نه وروسته ګناه ده خولمونځ په دې حالت کې هم کيږي.[1]

## هره هفته صفايي کول غوره دي

**سوال:** د نامه نه لاندې ويښتو د څلور واړو طرفو حدونه دکوم ځای نه کوم ځای پورې دي؟

**جواب:** د نامه نه لاندې د پنډيو تربېخونو پورې او د شرمګاه (مخکې.وروسته) نه يو خوا بل خوا تر کوم ځای پورې چې ممکن وي صفايي کول ضروري دي. هره هفته صفايي کول غوره دي تر څلويښتو ورځو پورې د پريښودلو اجازت دی، له دې نه زياته وقفه منعه ده.[2]

## د سينې ويښته په پاکۍ (بلېډ) سره صفا کول

**سوال:** د سينې ويښته په پاکۍ (بلېډ) يا چړې سره صفا کول روا دي؟

**جواب:** هو! روادي.[3]

## د پنډيو او ورنونو ويښته به پخپله صفا کوي که په نايي باندې

**سوال:** د ورنونو او پنډيو ويښته په بلېډ يا چړې سره يا په نايي جوړول روادي؟

**جواب:** صفا کولو کې خو څه بدي نشته ،خو ورون په عورت کې داخل دی په نايې صفا کول يې روانه دي.[4]

---

[1] (و)يستحب (حلق عانته وتنظيف بدنه بالاغتسال فی کل اسبوع مرة)والافضل يوم الجمعة وجازفی کل خمسة عشر وکره ترکه وراءالاربعين.وقال الشامی :قوله وکره ترکه ای تحريماً.(ردالمحتارج:٦ص:٤٠٦،فصل فی البيع، کتاب الحظروالاباحة)_

[2] ويحلق عانته وينظف بدنه بالاغتسال فی کل اسبوع مرة فان لم يفعل ففی کل خمسة عشريوماً ولايعذرفی ترکه وراء الاربعين، فالاسبوع هوالافضل والخمسة عشرالاوسط والاربعون الابعد.(فتاوی هندية ج:٥ ص:٣٥٧ کتاب الکراهية،الباب التاسع عشر).والعانة:الشعرالقريب من فرج الرجل والمرأة ومثلهاشعرالدبربل هواولی بالازالة لئلايتعلق به شیءمن الخارج عندالاستنجاءبالحجر.(ردالمحتارج:٢ص:٤٨١،کتاب الحج،فصل فی الاحرام)_

[3] ليکن د ادب خلاف دی، وفی حلق شعرالصدر والظهرترک الادب کذافی القنية.(فتاوی هندية ج:٥ ص:٣٥٨، کتاب الکراهية،الباب التاسع عشر)_

[4] ويجوز ان ينظر الرجل الی الرجل الاالی عورته کذافی المحيط.(فتاوی هنديةج:٥ص:٣٢٧، کتاب الکراهية، الباب الثامن).وينظرالرجل من الرجل سوی مابين سرته الی ماتحت رکبته...الخ.(الدرالمختارمع الردج:٦ ص:٣٦٦،فصل فی النظر والمس).عن محمدبن جحش قال: ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

## پرې شوې ویښته صفا دي

**سوال:** ما اوریدلي دي چې د بدن ویښته چې کله په بدن وي، نو پاک وي. خود خریلو یا پرېکولو نه وروسته ناپاک شي. که دا صحیح وي، نو بیا د ویښتو پرې کولو نه وروسته که له غسل کولو پرته لمونځ وشي ترڅو جماعت ترې قضاء نه شي. نو ایا په داسې صورت کې لمونځ کیږي؟

**جواب:** په ویښتو خریلو سره نه غسل واجبیږي او نه اودس ماتیږي[1] پرې شوي ویښته هم پاک دي[2] تاسو غلط اوریدلي دي.

# ❖ په کومو شیانو باندې غسل واجبیږي ❖

## له احتلام نه وروسته غسل

**سوال:** ...که یو سړی په خوب کې جنب شي، نو ایا په هغه باندې غسل ضروري دی؟ او ایا هغه په دې حالت کې خوراک و څښاک کولی شي؟ که یو شي ته لاس وروړي ،نو ایا هغه به ناپاک وي؟

**جواب:** ..په خوب کې که انسان جنب شي، نو په هغه باندې غسل فرض دی[3] خو په دې باندې روژه نه ماتیږي[4] چې کله غسل فرض شي ،نو په دې حالت کې خوراک و څښاک کول جائز دي[5] او لاس صفا کولو سره که یو شي ته لاس وروړي ،نو هغه ناپاک کیږي نه.[6]

...بقیه د تیر مخ]... مررسول الله صلى الله عليه وسلم على معمروفخذاه مكشوفتان فقال: يامعمر اغط فخذيک فان الفخذعورة.(رواه في شرح السنة.(مشكوةص:٢٦٩،باب النظرالى المخطوبة...الخ)_

[1] ]ولايعادالوضوء.....بحلق راسه ولحيته كمالايعاذ الغسل للمحل.(درمختارمع ردالمحتارج:١ص:١٠١)_

[2] ]وشعرالانسان وعظمه طاهر.(هداية ج:١ص:٤١،طبع مكتبه شركت علميه،ملتان)_

[3] ]وان استيقظ فوجدفي احليله بللا ولم يتذكرحلما.......اذا نام مضطجعاً او تيقن انه مني فعليه الغسل (ردالمحتارج:١ص:٢٧٠،مطلب في تحريرالصاع والمد)_

[4] ]فان نام فاحتلم لم يفطرلقوله صلى الله عليه وسلم:ثلاث لايفطرن الصيام: القيء والحجامة والاحتلام. (هداية ج:١ص:٢١٧،طبع شركت علميه،ملتان)_

[5] ]وان اراد ان يأكل اويشرب فينبغي ان يتمضمض ويغسل يديه.(عالمگيرى ج:١ص:١٦،طبع بلوچستان)_

[6] ] عن القاسم بن محمدقال:قالت عائشة:قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم:ناوليني الخمرةمن المسجد، قالت:قلت:اني حائض!ان حيضتک ليست في يدک.(جامع ترمذى ج:١ص:١٩،طبع دهلى)_

## د كوروالي نه وروسته غسل په ښځه او سړي دواړو باندې فرض دی

**سوال:** دكوروالي نه وروسته ايا په زنانه باندې هم دجنابت غسل واجب دی؟

**جواب:** په ښځه او سړي دواړو باندې غسل واجب دی.[۱]

## په خوب كې ځان ناپاك ليدل

**سوال:** په خوب كې كه يو انسان ځان ناپاك ووينې مثلا حيض او داسې نور...نو ايا په دې سره غسل فرض كيږي يا يوازې اودس كولو سره لمونځ كيږي؟

**جواب:** يوازې په خوب كې ځان ناپاك ليدو سره غسل نه واجبيږي ترڅو چې په بدن باندې څه نجاست نه وي ښكاره شوی.[۲]

## د انيما د عمل سره غسل نه واجبيږي

**سوال:** د ايكسرې له پاره د ايكسرې نه مخكې انيما كيږي يعنی د اجابت د طرف نه يوې خاصې نلكۍ سره د مريض كولمو ته اوبه دومره رسيږي چې كولمې ښې ډكې شي اواوبه په دې دوران كې بهرته راشي چې په هغو سره دمريض پڼې ،جامې وغيره لنديږي، په دې حالت كې مريض غسل خانې ته رسول كيږي ،اوبه داجابت په ذريعه خارجيږي . كيداى شي چې ددې مقصد دكولموصفايي وي.

**الف**......ايا په دې صورت كې غسل واجب دی؟

**ب**......كه غسل نه واجبيږي، نو د پڼو وغيره وينځل او د جامو بدلول ضروري دي؟

**ج**......كه غسل نه واجبيږي، نو ايا په دې حالت كې لمونځ كيږي؟

**جواب:** د انيما په عمل سره غسل نه واجبيږي[۳] خو خارج شوې اوبه چونكه نجسې دي. په دې وجه په جامو او بدن چې كوم نجاست ولګيږي دهغه وينځل ضروري دي[۴] د نجاست نه د پاكوالي نه وروسته له غسل پرته لمونځ كيږي.

---

[۱] المعاني الموجبةللغسل:انزال المني على وجه الدفق والشهوةمن الرجل والمرأةحالة النوم واليقظة والتقاء الختانين من غيرانزال.(هداية ج: ۱ص: ۳۱،فصل في الغسل)۔

[۲] (لا)يفترض (ان تذكرولومع اللذة)والانزال(ولم ير)على راس الذكر(بللاً)اجماعاً(وكذاالمرأة)مثل الرجل على المذهب.(ردالمحتار ج: ۱ص: ۱۶٤، مطلب في تحريرالصاع والمد،كتاب الطهارة)۔

[۳] ځكه چه دا د غسل واجبونكو نه نه دي ليكن دې عمل سره اودس ماتيږي.....والخارج من السبيلين متفق فيه على انه ينقض الوضوء.(الجوهرة النيرة ج: ۱ص: ۷،طبع بمبئی)۔

[٤] يجب على المصلي ان يقدم الطهارة من الاحداث والانجاس.(هداية ج: ۱ص: ۹۲،باب شروط الصلوة..الخ)

## د مړي ځيرې کولو سره غسل واجب نه دی

**سوال:** زه د میډیکل کالج زده کونکی یم چونکه موږ ته د تعلیم دوران کې ډایې سیکشن هم کول وي په دې وجه دا بیان کړئ چې انساني غوښې ته لاس وړولو باندې غسل واجبیږي؟

**جواب:** نه بلکې د لاس وینځل کافي دي[1]

## د بچي په پیدا کیدو ښځې باندې غسل فرض نه دی

**سوال:** د ښځې چې کله بچی پیدا شي ایا هماغه وخت غسل پرې واجب دی؟ موږ اوریدلي دي چې کله ښځه غسل ونه کړي. نو دهغې خوراک و څښاک به حرام او ګناه وي، سره له دې چې د کراچی په هسپتالونو کې هیڅوک غسل نه کوي؟

**جواب:** د حایضې او نفاسې ښځې د لاس خوراک کول جائز دي[2] ترڅو چې هغه پاکه شوي نه وي غسل پرې فرض نه دی او دا خیال بالکل غلط دی چې د بچي د پیدا کېدلو نه وروسته په هماغه ساعت غسل کول واجب دي، بلکې کله چې وینه بنده شي، نو دهغه نه وروسته غسل واجب دی.[3]

## په کومه میرمن باندې چې د سیلان الرحم بیماري وي هغې باندې غسل واجب نه دی

**سوال:** زه د الله تعالی په فضل سره بالکل صحت منده یم. خو کله کله او په خاصه توګه د میاشتنی ناروغی (حیض) شروع کېدو نه څو ورځې مخکې دمیرمنو خاصه بیماری (سیلان الرحم) کې مبتلاء کیږم. نو ایا په داسې حالت کې زه لمونځ کولی شم؟ غسل ضروري دی او که یوازې جامو بدلولو نه وروسته لمونځ کولی شم او دهغه وخت دلمانځه به قضا راګرځوم؟

**جواب:** له وینې (حیض) شروع کېدو نه مخکې زنانه پاکه وي. سیلان الرحم سره غسل نه واجبیږي، خو جامې ورسره ناپاکه کیږي. له جامو بدلولو نه وروسته لمونځ کول پکار دي.[4]

---

[1] ] ځکه چه مړی ته لاس وړلو سره اودس یا غسل نه واجبیږی)۔

[2] ]ولایکره طبخها ولااستعمال مامسته من عجین اوماءاونحوهما. (ردالمحتار: ج:۱ ص: ۲۹۲، مطلب لوافتی مفت بشیءمن هذه الاقوال...الخ، کتاب الطهارة)۔

[3] ] (وفرض) الغسل (عند) خروج (منی).....(و) عند انقطاع حیض ونفاس. (درمختارعلی هامش ردالمحتار ج: ۱ ص: ۱۵۹، مطلب فی تحریرالصاع والمدوالرطل)۔

[4] ]والمستحاضة ومن به سلس البول والرعاف.....یتوضون لوقت کل صلوة فیصلون بذلک الوضوء. (هدایة ج: ۱ ص: ۵۰). ایضا: ومن وراءباطن الفرج فانه نجس قطعاککل خارج من الباطن کالماءالخارج مع الولداوقبیله. (شامی ج: ۱ ص: ۳۱۳، طبع ایچ ایم سعید).

## د کوم سړي نه چې مذي اوځي، هغه به څه کوي؟

**سوال:** د بنده نه د مذي ډېر زيات وځي، چې لږ شان ذهن مې منتشر شي. نو څاڅکي رانه لاړ شي. چې د هغه له وجې مې جامې هم ناپاکه شي. بنده نه هر ځای د جامو بدلولو موقع نه پيدا کيږي، په دې صورت کې څه کول پکار دي؟

**جواب:** ددې اسانه طريقه داده. چې څه شي دې اوتړي. مثلا جانگی(نيکر) وغيره او په هغه کې دې مالوچ کيږدي. جامې به نه ناپاکه کيږي. هغه مالوچ دې بدلوي

## د متيازو سره د څاڅکو په وتلو باندې غسل واجب نه دی

**سوال:** د متيازو دوران کې که څوڅاڅکي هم خارج شي.نو ايا په دې صورت کې غسل واجب دی؟

**جواب:** د متيازو دوران کې د څاڅکو وتلو سره غسل نه واجبيږي.ځينو خلکو ته دا ناروغي وي چې د متيازو نه مخکې يا وروسته دشيدو په شکل کې ماده تړې ځي .هغه ته ودي وايي. ددې په وتلو باندې غسل نه واجبيږي.[1]

## د اودس يا غسل نه وروسته که د متيازو څاڅکي راشي، نو اودس دې وکړي غسل نه

**سوال:** که د اودس نه وروسته د متيازو څاڅکي راشي. نو ايا دوباره اودس کول پکار دي؟ د غسل نه وروسته که د متيازو څاڅکي راشي نو ايا دوباره غسل کول ضروري دي؟

**جواب:** د متيازو په څاڅکو باندې اودس ماتيږي دوباره استنجاء او اودس کول پکار دي[2] د غسل دوباره کولو ضرورت نشته او که غسل نه وروسته دوباره مني ووځي، نو په هغه کې دا تفصيل دی چې که د غسل نه مخکې پروت وي يا يې متيازې کړې وي يا گرځېدلی وي، نو د دوباره غسل کولو ضرورت نشته او که د کور والي نه يې وروسته فورا غسل کړی وي نه يې متيازې کړې وی نه گرځېدلی وي، نو دوباره غسل لازم دی.[3]

---

[1] وليس فى المذى والودى غسل.(هداية ج:١ص:٣٣،فصل فى الغسل ،كذافى ردالمحتارج:١ص:١٦٥،مطلب فى تحرير الصاع والمدوالرطل)_

[2] المعانى الناقضةللوضوءكل مايخرج من السبيلين.(هدايةج:١ص:٢٢،فصل فى نواقض الوضوءوكذافى ردالمحتار ج:١ص:١٣٤،مطلب نواقض الوضوء)_

[3] ان المجامع اذا اغتسل قبل ان يبول اوينام ثم سال منه بقية المنى من غيرشهوة يعيدالاغتسال عندهماخلافاله فلوخرج بقية المنى بعدالبول اوالنوم اوالمشى لايجب الغسل اجماعاً.(البحرالرائق ج:١ص:١٠٣.كتاب الطهارة)_

## که د غسل نه وروسته مني يا د متيازو ثاڅکي راشي نو ايا غسل کول واجب دي؟

**سوال:** که د غسل نه وروسته يا د لمانځه نه وروسته د منيو يا متيازو ثاڅکي راشي. نو غسل به شوی وي او که نه؟

**جواب:** که د غسل کولو نه مخکې ويده شوی و. ګرځېدلی و. يا يې متيازې کړي وي. نو دوباره غسل واجب نه دی. او که د ټولو کارونو نه مخکې يې غسل کړی وي او د منيو ثاڅکي راووتل، نو غسل دې دوباره وکړي،[1] خو د ثاڅکو له وتلو نه يې مخکې چې کوم لمونځ کړي وو هغه سهي دي[2] او که د متيازو ثاڅکي راغلل. نو غسل واجب نه دی. يوازې اودس کول کافي دي.او په جامه چې کوم ځای نجاست لګېدلي وي دهغه وينځل کلني دي.[3]

## د اوبو نه پيدا کېدو له وجې د تيمم مصلحت

**سوال:** د اوبو د نه پيدا کېدو په صورت کې تيمم کول روا دي .په دې کې څه مصلحت دی؟

**جواب:** زما روره! زمونږ له پاره د ټولو نه لوی مصلحت همدا دی چې د الله پاک حکم دی او د الله پاک د رضا ذريعه ده.او قرآن کريم ددې مصلحتونو ته اشاره هم کړې ده د الله پاک ارشاددی:

الله پاک دا نه غواړي چې په تاسو څه تنګي راولي، بلکې هغه غواړي چې تاسو پاک کړي او په تاسو خپل نعمت پوره کړي چې تاسو شکر اداء کړئ.(سورت مائده: ۶)[4]

ددې مبارک ايت نه معلومه شوه چې الله پاک د اوبو د نه موندلو په صورت کې خاورې پاکونکې جوړې کړې دي.ځنګه چې اوبه د انسان بدن پاکوي همدغه شان په اوبو

---

[1] ايضا۔

[2] وفي فتح القدير:وكذالايعيدالصلوةالتى صلاهابعدالغسل الاول قبل خروج ماتاخرمن المنى اتفاقاً. (البحرالرائق ج:١ص:١٠٣،كتاب الطهارة)۔

[3] والخارج من السبيلين متفق فيه على انه ينقض الوضوء.(الجوهرةالنيرةج:١ص:٧،طبع بمبئى).ايضا:يجب على المصلى ان يقدم الطهارة من الاحداث والانجاس.(هدايةج:١ص:٩٢،طبع مكتبه شركت علميه،ملتان)۔

[4] ما يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلٰكِنْ يُرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَه عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ. (سورة:٥، المائدة:٦)

باندې د قدرت نه لرلو په حالت کې په خاوره باندې تيمم پاکونکى دى.شيخ محمود الحسن ديوبندي رحمة الله عليه د خپلې ترجمې په فوائدو کې ليکلي دي

خاوره پاکه ده او د څېنوشيانو له پاره د اوبو په شان پاکونکې هم ده مثلا موزه(د څرمنې موزه)توره او آيينه اوداسې نور... او کوم نجاست چې په ځمکه غورځېدلو سره خاورې شي. هغه هم پاکيږي.او په مخ او لاس باندې د خاورې مږلو کې عاجزى هم ډېره ده کوم چې د ګناهونو په معافي غوښتلو کې اعلى صورت دى. کله چې خاوره ظاهري او باطنى دواړه قسمه نجاست ليرې کوي. نو په دې وجه د عذر په وخت کې د اوبو قائم مقام شوه.له دې نه پرته د سهولت او آسانتيا له وجې نه چې په هغې باندې د تيمم حکم مبني دى دا دى چې د اوبو قائم مقام دې داسې شى وټاکل شي چې هغه د اوبو نه پيداکېدو زيات آسان وي ،د ځمکې داسې کېدل ښکاره دي،ځکه چې هغه هرځاى کې موجوده ده، بل داچې خاوره د انسان اصل هم دى او خپل اصل ته رجوع کولو کې د ګناهونو او خرابيو نه بچ کېدل هم دي.کافر به هم غواړي چې په څه طريقه په خاورو کې ګډ شي لکه چې په مخکې آيت کې ذکر شو.(ترجمه شيخ الهند سورت ٤، نساء آيت ٤٣)

## تيمم کول کله جائز دي؟

**سوال:** زموږ د خاندان اکثره زنانه په تيمم سره لمونځ کوي سره له دې چې په کور کې اوبه هم موجودې وي او ښځو ته داسې څه بيماري هم نه وي چې د اوبود رسېدلو سره د نقصان ويره وي،ايا داسې لمونځونه به قبول شي؟ د داسې لمونځونو په باره کې څه حکم دى؟

**جواب:** د تيمم اجازه يوازې په داسې صورت کې ده چې د اوبو په استعمال باندې قدرت نه وي کوم انسان چې اوبه استعمالولى شي د هغه له پاره تيمم جائز نه دى. نه د هغه لمونځ صحيح دى او د اوبو په استعمال باندې د قدرت نه لرلو دوه صورتونه دي: يو دا چې اوبه نه وي دا صورت عموما په سفر کې پيښيږي .که اوبه يو ميل ليرې وي يا کوهى خو شته خو د کوهي نه د اوبو راوېستلو څه طريقه نه وي. يا په اوبو باندې څه* ځناور ناست وي، يا په اوبو باندې د دشمن قبضه وي او د هغه د ويرې له وجې نه اوبو ته رسېدل ممکن نه وي.نو په دې ټولو صورتونو کې دا سړى ګويا اوبه نه شي موندلى ، هغه په تيمم کولو سره لمونځ کولى شي.[1]

دويم صورت دا دى چې اوبه وي ،خو هغه بيمار وي او په اودس يا غسل سره د مرکېدو يا د يو اندام د خرابېدو يا د بيمارۍ د زياتېدو ويره وي. خپله د غسل يا اودس

---

[1] ومن لم يجدالماءوهومسافرالمرادمن الوجودالقدرة على الاستعمال حتى انه لوكان مريضاًاوعلى راس بئر بغير دلو اوكان قريبًامن عين وعليهاعدواوسبع اوحية لايستطيع الوصول اليه لايكون واجداً.(الجوهرة النيرة ج:١ص: ٢٠،طبع بمبئ)

کولو نه معذور وي او بل سړی اودس ورکونکی یا غسل ورکونکی نوي، نو داسې سړی تیمم کولی شي.[1]

کومې ښځې چې ددې عذرونو نه بغیر تیمم کوي د هغوی تیمم څنګه جائز کېدای شي او د طهارت نه بغیر لمونځ څنګه صحیح کېدای شي؟[2]

## د تیمم کولو طریقه

**سوال:** د تیمم کولو طریقه څه ده؟

**جواب:** د پاکوالي په نیت سره دې خپل دواړه لاسونه په خاوره باندې راکش کړي او بیا دې اوڅنډي او په ښه طریقه دې په مخ راکش کړي چې د یو ویښته برابر ځای هم پاتې نه شي. بیا دې دوباره په خاوره باندې لاس راښکلو سره دواړه لاسونه تر څنګلو پورې اومږي.[3]

## د اوبو په موجودیت کې تیمم کول جائز نه دي

**سوال:** زما یو دوست دی، د لمونځ او روژې ډېر زیات پابند دی. د هغه وینا ده چې ځینې خلک د لمونځ او روژې پابندي ځکه نه شي کولی چې په دې معامله کې ډېر افراط کوي. او بیا په دې باندې په پوره طریقې سره د عمل نه کولو له وجې نه دا پرېږدي. په دې وجه موږ ته له اعتدال نه کار اخستل پکار دي په دې وجه هغه اکثره د شپې په وخت کې تیمم کولو سره لمونځ ادا کوي. د تي وي ډرامو نه چې فارغ شي، نو بیا د ماسخوتن لمونځ ادا کوي او داسې نور... او زما خپل ذاتي خیال دا دی چې موږ فرض ادا کوو. نو هغه دې د پوره لوازماتو سره ادا کړو دهغو ټول شرطونه دې پوره کړو تاسو دې باره کې څه نظر لرئ؟

**جواب:** ستاسو خبره صحیح ده د اوبو د موجودیت پرمهال تیمم نه دی جائز ، ستاسو د

---

[1] اوكان يجدالماءالاانه مريض الى آخره المريض له ثلاث حالات احداهااذاكان يستضر باستعمال الماءكمن به جددى اوحمى اوجراحة يضره الاستعمال فهذايجوزله التيمم اجماعًا والثانية ان كان لايضره الاالحركة اليه ولايضره الماء كالمبطون وصاحب العرق المدينى فان كان لا يجد من يستعين به جازله النيمم ايضاً اجماعاً ...الخ. (الجوهر النيرة ج:١ص:٢١)۔

[2] او گورئ: ردالمحتارعلى الدرالمختار ج:١ص:٢٢٩،باب التيمم)۔

[3] والتيمم ضربان يمسح باحداهماوجهه وبالاخرى يديه الى المرفقين لقوله عليه السلام:التيمم ضربتان،ضربة للوجه وضربة لليدين،وينفض يديه بقدرمايتناثرالتراب كيلايصيرمثلة ولابدمن الاستيعاب فى ظاهرالرواية لقيامه مقام الوضوء ولهذا قالوايخلل الاصابع وينزع الخاتم ليتم المسح.(هداية ج:١ص:٥٠).ايضاً:وفى شرح مختصر لطحاوى ج:١ ص:٤١٧ عن جابرعن النبى صلى الله عليه وسلم فى التيمم:ضربة للوجه وضربة للذراعين الى المرفقين. ايضا:(تيمم ....مستوعباوجهه)حتى لوترك شعرة اووترة منخره لم يجز(ويديه)فينزع الخاتم والسوار او يحرك به يفتى(مع مرفقيه) فيمسحه الاقطع (بضربتين)(درمختارعلى هامش ردالمحتار ج:١ص:٢٣٧،باب التيمم)

دوست دا وینا خو صحیح ده چې موږ ته له اعتدال نه کار اخستل پکار دي، خو زموږ له پاره د اعتدال پیمانه د خپل ځان نه د قانون ایجادلو اجازه نشته چې کوم شي ته زموږ طبیعت اعتدال وایي بس هغه دې اعتدال وګڼل شي،د اعتدال پیمانه خپله شریعت مطهره ده. په قرآن کریم کې دي

تاسو قصد کوئ پاکې خاورې ته[۱]......تاسو ګورئ چې قرآن کریم د اوبو نه موجودیت د تیمم له پاره شرط شوی دی. دا خو اعتدال شو او کوم سړی چې د اوبو په موجودیت کې له څه عذر نه پرته په تیمم دلمانځه نه ځان خلاص کړي. هغه بې اعتداله کار کونکی دی.

## د اوداسه او غسل د تیمم یوه طریقه ده

**سوال:** ایا د اودس او غسل په تیمم کې څه فرق شته؟ د جنابت د غسل په باره کې ما اورېدلي دي چې په ځمکه باندې به ځملي او په ښي طرف به ورغړي بیا به په ګس طرف ورغړي دا د جنابت حکم دی دا خبره تر کوم ځای پورې صحیح ده؟

**جواب:** د اودس او غسل په تیمم کې هیڅ فرق نشته[۲]د دواړو یو طریقه ده د جنابت د غسل له پاره چې تاسو کومه په ځمکه باندې د ملاستې او د رغړېدلو خبره اورېدلې ده هغه غلطه ده.

## تیمم په کومو شیانو سره جائز دی؟

**سوال:** تیمم په کومو شیانو سره کېداي شي؟ مثلاد سیمنټو والا فرش صفا جامه اوداسې نور.

**جواب:** تیمم په پاکه خاوره باندې کیږي یاپه هغه شي چې د ځمکې له جنس نه وي[۳] لرګي، جامه، اوسپنه اوداسې نورو..باندې تیمم نه کیږي، خو که په جامه یا لرګي باندې دوړه پرته وي، نو بیا پرې تیمم جائز دی.[۴]

## د آئل پینټ (د تیلو د رنګ) والا دیوال باندې تیمم کول

**سوال:** په کوم دیوال چې آئل پینټ(رنګ) لګېدلی وي،او هغه بیا وچ شوی وي، په هغه باندې تیمم کیږي؟

**جواب:** نه! جائز نه دی[۵]

---

۱ ]قال تعالى:فلم تجدوا ماآءً فتيمموا صعيداً طيباً.(المائدة:٦)_

۲ ]والتيمم فى الجنابة والحدث سواء يعنى فعلاً ونيةً......والصحيح انه لايحتاج الى نية التميزبل اذانوى الطهارة او استباحة الصلاة اجزاءه وكذا تيمم للحيض والنفاس.(الجوهرة النيرة ج:١ص:٢٥،باب التيمم)_

۳ ]ويجوزالتيمم عندابى حنيفة ومحمدبكل ماكان من جنس الارض كالتراب والرمل..الخ(هداية اولين:٥١باب التيمم)

۴ ]وكذايجوزبالغبارمع القدرة على الصعيدعندابى حنيفة ومحمدلانه تراب رقيق.(هداية اولين ص:٥١،باب التيمم)

۵ ]يتيمم بطاهرمن جنس الارض كذافى التبيين.كل مايحترق فيصيررماداً....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

## په لرګي باندې تيمم کول

**سوال:** د تيمم باره کې مسئله داده چې په خاوره باندې کيږي. پوښتنه داده چې که خاوره په يو پاک لرګي باندې لګېدلي وي. يعنی (دوړه) يا په يو پاک پلاسټک باندې. يا د چونې په ديوال باندې . يا پلاسټک پينټ والا يا ډسټمپر والا پاک ديوال باندې دوړه موجوده وي. نو ايا په دې ټولو باندې لاس راښکل او تيمم کول جائز دي؟ يا بيا بله څه طريقه وښيئ . زه د جوړونو (بندونو) په تکليف کې مبتلاء يم.

**جواب:** که په لرګي وغيره باندې دومره دوړه جمع شوې وي. چې په هغه باندې ګوته راښکلو سره يوه کرښه جوړيږي، نو په هغو باندې تيمم جائز دی.[۱]

## په يخني (سړو) کې د اودس په ځای تيمم کول

**سوال:** زه په يخني(سړو) کې اکثر د اودس په ځای تيمم کوم. ځکه چې ماته د جوړونو (بندونو) د درد تکليف دی، ايا داسې کول صحيح دي؟

**جواب:** که په ګرمو اوبو باندې اودس کول ممکن وي. نو تيمم جائز نه دی او که ګرمو اوبو سره هم تکليف زياتيږي ،نو تيمم جائز دی.[۲]

## د وخت د تنګ والي په وجه د غسل په ځای تيمم جائز نه دی

**سوال:** زيد جمعې سره لمونځ کوي، زيد ته د سهار د لمانځه نه مخکې د غسل کولو ضرورت دی د زيد سترګې هغه وخت خلاصې شوې چې لمر په راختلوته يوازې پنځلس يا شل منټه پاتې دي، زيد که په دومره وخت کې غسل کوي، نو لمونځ ترې قضاء کيږي په داسې صورت کې ايا زيد په تيمم کولو سره لمونځ کولی شي؟

**جواب:** يوازې د وخت د تنګ والي په وجه تيمم کول جائز نه دي غسل کولو سره دې لمونځ وکړي او که وخت ووځي، نو قضاء دې راوړي، خو غوره داده چې اوس دې تيمم کولو سره لمونځ وکړي او بيا دې د غسل کولو نه وروسته قضاء راوړي.[۳]

---

...بقيه د تير مخ]... كالحطب والحشيش ونحوهما اوماينطبع ويلين كالحديدوالصفروالنحاس والزجاج..... فليس من جنس الارض.(عالمگيرى ج:۱ص:۲٦)فيجوزالتيمم بالتراب والرمل.....دون الماء والجص والنوره والكحل والزرنيخ...الخ.(عالمگيرى ج:۱ص:۲٦).

[۱] ولووضع يديه على حنطة اوشعيرفلصق بيديه غبار.....جائزبه التيمم.(عالمگيرى ۱ص:۲۷).

[۲] اذاخاف ان توضاان يقتله البرداوليمرضه يتيمم.(عالمگيرى ج:۱ص:۲۸).

[۳] (لا)يتيمم (لفوت جمعة ووقت)ولووترالفواتهماالى بدل وقيل يتيمم لفوات الوقت قال الحلبى:فالاحوط ان يتيمم ويصلى ثم يعيد.(درمختارمع ردالمحتارج:۱ص:۲٤٦،باب التيمم)۔

## تيمم په مرض کې صحيح دی په کم همتۍ کې نه

**سوال:** زه د تێ بي نه هميشه مريضه يم د اګست نه تر اپريل پورې ما ته مسلسل نزله، تبه، زکام او په بدن کې څه نا څه ځای کې درد وي ددې تکليف په وجه زه د مازديګر نه د ماسخوتن تر لمانځه پورې تيمم کوم په اسلامي نقطه نظر سره دا طريقه صحيح ده او که نه؟

**جواب:** که اوبه نقصان کوي او په دې سره د مرض د زياتېدو ويره وي. نو تاسو د اودس په ځای تيمم کولی شئ[۱]. خو يوازې د کم همتۍ په وجه اودس پرېښودل صحيح نه دي.

## د غسل په ځای تيمم کله جائز دی؟

**سوال:** که غسل واجب شي او د مرض د زياتوالي يا دناروغېدو ويره وي، نو ايا په داسې صورت کې تيمم کېږي او د غسل له پاره به د تيمم څنګه طريقه وي؟

**جواب:** هسې وهم ته اعتبار نشته، که د يو سړي په رښتيا سره داسې حالت وي چې هغه په ګرمو اوبو سره هم غسل وکړي، نو د ناروغۍ د زياتېدو يا دناروغېد غالب ګمان وي، نو هغه ته د غسل په ځای د تيمم کولو اجازت دی.[۲]

او د غسل تيمم داسې دی لکه څنګه چې د اودس تيمم دی.[۳]

## چې ډاکټر د مرض تصديق وکړي نو تيمم دې وکړي

**سوال:** که يو سړی مريض وي او د غسل کولو سره د مرض د زياتېدو ويره وي. نو هغه څنګه وکړي؟

**جواب:** که په رښتيا سره ويره وي او ډاکټرې هم تصديق وکړي، نو تيمم دې وکړي په دې شرط چې ډاکټر پوه او دين داره وي.[۴]

## د غسل له پاره يو تيمم کافي دي

**سوال:** يو سړی چې څو ورځې مريض وي د هر لمانځه له پاره داودس کولو نه مخکې د غسل په طور تيمم ضروري دی که يو ځل تيمم کافي دی؟

---

[۱] (ومن عجزعن استعمال الماء لبعده ميلاً اولمرض) يشتداويمتد بغلبة ظن...الخ.(درمختارمع ردالمحتار ج:۱ ص:۲۳۲، باب التيمم)۔

[۲] اوكان يجد الماء الا أنه مريض يضره استعمال الماءفخاف بغلبة الظن اوقول حاذق مسلم ان استعمل الماء اشتد او امتد مرضه.....فانه تيمم بالصعيد.(للباب فى شرح الكتاب ج:۱ص:۵۲)۔

[۳] والتيمم فى الجنابة والحدث سواء يعنى فعلاًونية.(الجوهرة النيرة ج:۱ص:۲۵باب التيمم)۔

[۴] (ومن عجزعن استعمال الماءلبعده ميلاًاولمرض)يشتداويمتدبغلبة ظن اوقول حاذق مسلم ولو بتحرك. (درمختارعلى هامش ردالمحتارج:۱ص:۲۳۲،باب التيمم)۔

**جواب:** دغسل له پاره تیمم یوازې یو ځل کافي دی، ترڅو چې دوهم ځل له پاره دغسل حاجت راپیښ نه شي.

## چې په اوبو لګېدو سره له دانو نه وینه راوځي نو تیمم جائز دی

**سوال:** زما عمر اتلس کاله دی او زما په ټول مخ باندې دانې دي چې په هغو کې وینه او نودی کله چې زه اودس کوم، نو په مخ باندې اوبو لګېدو سره د دانو نه وینه راځي ایا زه په داسې حالت کې په ټولو وختونو کې تیمم کولو سره لمونځ کولی شم؟

**جواب:** که تکلیف رښتیا دومره سخت وي څومره چې تاسو لیکلي دي او مسح هم نه شې کولی، نو بیا تیمم جائز دی.[1]

## د مستعملو اوبو موجودیت کې تیمم

**سوال:** مستعملې او غیرمستعملې اوبه چې کله یوځای جمع شي اوداوداسه له پاره نورې اوبه نه پیداکیږي او مستعملې او غیرمستعملې اوبه برابرې وي مثلاً یو لوټه د مستعملو اوبو وي او یوه د غیر مستعملو، نو اوس څه حکم دی چې په دې صورت کې څنګه وکړو اودس یا تیمم؟

**جواب:** مستعملې اوغیرمستعملې اوبه که یو ځای شي، نودغالب اعتبار دی که دواړه برابرې وي، نو احتیاطا به غیرمستعملې اوبه مغلوبې ګڼل کیږي او په دې سره اودس صحیح نه دی، بلکې تیمم به کیږي.[2]

## په ریل ګاډي کې د اوبو د نه موجودیت په وجه تیمم

**سوال:** د ریل ګاډي په سفر کې که د اودس له پاره اوبه نه وي او وخت قضاء کیږي، نو څنګه وکړو؟

**جواب:** که په ریل ګاډي کې اوبه نه وي، نو تیمم کولی شئ، خو شرط دا دی چې د ریل په هیڅ برخه کې هم اوبه نه وي او د یو شرعي میل دننه د اوبو دموجودیت علم نه وي کوم ځای چې ریل ګاډي درېږي.[3]

---

[1] ولوكان يجدالماءالاانه مريض فخاف ان استعمل الماء اشتد مرضه تيمم.(هداية ج:١ص:٤٩)۔

[2] (فان اختلط رطلان)مثلاً(من الماءالمستعمل برطل من المطلق لايجوزبه الوضوءوبعكسه)وهولوكان الاكثرالمطلق (جاز)به الوضوءوان استويالم يذكرحكمه فى ظاهرالرواية،وقال المشائخ:حكمه حكم المغلوب احتياطاً.(مراقى على نورالايضاح معه حاشية الطحطاوى ص:٢٧،كتاب الطهارة)۔

[3] ومن عجزعن استعمال الماءلبعده ميلاً.(تنويرالابصارمع ردالمحتارج:١ص:٢٣٢،باب التيمم)۔

# ❖ په موزو باندې مسح ❖

## په کومو موزو باندې مسح جائز ده؟

**سوال:** په کومو موزو باندې مسح کول جائز دي؟

**سوال:** د یخنې (سړو) په موسم کې اکثر خلک د نایېلون په موزو باندې مسح کوي ما هم د فقه په ځینې کتابونو کې لوستلي دي چې په هر هغه موزه باندې مسح جائز ده چې د هغه نه پښې نه ښکاري. خو ځینې خلک بیا هم مخالفت کوي تاسو د قرآن کریم او سنت په رڼا کې دا بیان کړئ چې په کوم قسم موزو باندې مسح جائز ده؟

**جواب:** په داسې جرابو باندې مسح جائز ده چې ښې پرېړې (ډبلې) وي او د څه شي د تړلو نه بغیر په هغه کې درې څلور شرعي میله تلی شي. د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد ددې له پاره یو شرط دا هم دی چې په دې جرابو باندې د سړیو د څپلیو په مقدار څرمن هم ختلي وي، که جرابې نرۍ وي، نو په هغه باندې زموږ په فقهاء کرامو کې د چا په نزد هم مسح جائز نه ده او که پرېړې وي، خو څرمن پرې ختلې نه وي، نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد ورباندې مسح جائز نه ده او د صاحبینو (امام ابویوسف او امام محمد) په نزد جائز ده.[1]

## هغه موزې چې مسح پرې کیږي څرمن یې پاکه وي

**سوال:** د موزو په باره کې د احادیثو نه ثابته ده چې په دې باندې دې مسح وکړل شي، مسئله دا ده چې ددې موزو پته څنګه ولګول شي چې دا د حلال ځناورله څرمنې نه جوړې دي که د حرام؟ ایا د حلال او حرام دواړو ځناورو د څرمنې په موزو باندې مسح کولو سره اودس کیږي او که نه؟

---

[1] ولایجوزالمسح علی الجوربین عندابی حنیفة الاان یکونامجلدین اومنعلین وقالا:یجوزاذاکان ثخینین لایشفان.(هدایة اولین ص:٦١،باب المسح علی الخفین).ایضاً:وامالمسح علی الجوربین فان کانامجلدین اومنعلین یجزیه بلاخلاف عند اصحابنا وان لم یکونامجلدین ولامنعلین فان کانارقیقین یشفان الماءلایجوزالمسح علیهمابالاجماع اذا کانا ثخینین لا یجوز عند ابی حنیفة رحمه الله وعند إبی یوسف ومحمد رحمهما الله یجوز (بدایع الصنائع ج:١، ص١٠) ایضاً یمکن المشی فیه واذاکان ثخیناً کجوارب الصوف الیوم وبه تبین ان المفتی به عندالحنفیة:جوازالمسح علی الجوربین الثخینین بحیث یمشی علیها فرسخاً او فاکثر،ویثبت علی الساق بنفسه ولایری ما تحته ولایشف ،واشترط المالکیة کابی حنیفة:ان یکون الجوربین مجلدین ظاهرهما وباطنهما حتی یمکن المشی فیهما عادةً فیصیر امثل النحف هو محمل احادیث المسح علی الجوربین.(الفقه الاسلامی وادلته ج:١ص:٣٤٤،طبع دارالفکر،دمشق)۔

**جواب:** څرمن په رنګولو (دباغت) سره پاکیږي[۱] او موزې د پاکې څرمنې نه جوړیږي په دې وجه د دې وسوسې ضرورت نشته

# ❖ حیض او نفاس ❖

## [پاکوالي سره متعلق د ښځو مسائل]

.............................

## په لسو ورځو کې راتلونکې وینه به له حیض نه شمېرل کیږي

**سوال:** په یوې ښځې باندې په میاشت کې شپږ یا اوو ورځې حیض راځي، خو کله چې پنځو ورځو تېریدلو نه وروسته سهار، راپورته شي، نو هیڅ وینه نه وي، په دې طریقه هغه غسل وکړي، خو د غسل نه وروسته بیا وینه جاري شي همدغه شان په دویمه ورځ هم کیږي ۴،۵ ګینټې هیڅ نه وي، خو له دې نه وروسته بیا وینه جاري شي، نو پوښتنه داده چې په کومو ورځو کې وقفې وقفې سره وینه راتله دا به په حیض کې شمېرل کیږي یا په استحاض کې؟ یعنې که په یوې ښځې باندې پنځه یا شپږ ګینټې یا کم و زیات وخت وروسته وینه راغله، نو هغه به حیض شمارل کیږي اوکه نه؟ دویم دا چې په هره میاشت کې چې کومې ورځې مقررې دي دهغو مقررو ورځونه وروسته داسې وشي، نو بیا څنګه حکم دی؟

**جواب:** دحیض کم نه کمه موده درې ورځې ده او د زیاتې نه زیاته موده لس ورځې ده دحیض د مودې دوران کې چې کومه وینه راشي هغه به حیض شمارل کیږي اګرچې ۳ یا ۴ ګینټې وقفې سره راشي.[۲]

---

[۱] ]وکل اهاب دبغ فقدطهر.(هداية اولين ص: ٤٠،باب الماءالذى يجوزبه الوضوء...الخ)_

[۲] ] باب الحيض...(واقله ثلاثة ايام بلياليها)الثلاث،فالاضافة لبيان العددالمقدربالساعات الفلكية لاللاختصاص.....(واكثره عشرة) بعشرليال،كذارواه الدارقطنى وغيره،(قوله بالساعت).....ثم اعلم انه لايشترط استمرارالدم فيهابحيث لاينقطع ساعة،لان ذلک لايكون الانادرأبل انقطاعه ساعة اوساعتين فصاعداً غيرمبطل،كذافى المستصفى بحر،اى لان العبرة لاوله وآخره...الخ.(ردالمحتارمع الدرالمختارج:١ص:٢٨٤،باب الحيض).ايضاً:اقل الحيض ثلاثة ايام واكثره عشرة ايام.والاصل فيه ماروى عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال:لفاطمة بنت ابى حبيش رضى الله عنها:دعى الصلاة ايام محيضتک.....واقل مايتناوله اسم الايام اذا اطلقت مع ذكرالعدد: ثلاثة ايام واكثره عشرة.(شرح مختصرالطحاوى ج:١ص: ٤٨٠،طبع بيروت)_

## د مايشتنى ناروغى (حيض) نه مخکې او وروسته راتلونکو سپينو اوبه سره غسل نه واجبيږي

**سوال:** سپين څاڅکي چې د هګۍ د سپين والي په شان وي، چې د مايشتنى بيمارى له ورځو نه مخکې يا وروسته يوې هفتې پورې يا له دې نه کمو يا زياتو ورځو پورې راځي، نو دې دوران کې يوازې اودس کولو سره لمونځ ادا کيږي؟

**جواب:** د مايشتني غسل کولو نه وروسته چې کومې سپينې اوبه راځي هغه پليتې دي[١]، خو هغو سره غسل نه واجبيږي، اودس کولو نه وروسته لمونځ کولى شي[٢]

## د غسل نه وروسته که وينه راشي نو څه کول پکار دي؟

**سوال:** د حيض نه وروسته که غسل وکړل شي او د غسل نه يوه يا نيمه ورځ وروسته که څه وينه راشي، نو په دې صورت کې يوازې په بدن باندې اوبه تويول کافي دي، يا د سر ويښتو باندې هم اوبهاچول ضروري دي، چې د ناروغى د ورځو تيربدلو يقين وي او د هغه نه وروسته دا حالت کله نا کله راشي، نو ايا دې سره غسل لازميږي او د غسل نه وروسته لمونځ وغيره کيږي؟

**جواب:** د حيض موده لس ورځې ده، دې دوران کې که دوهم ځل وينه راشي، نو دې سره ښځه ناپاکه کيږي[٣] او وينه بنديدلو نه وروسته دوهم ځل غسل واجبيږي[٤]

## د حيض څو صورتونه او د هغو حکم

**سوال:** د هفتې د ورځې نه مياشتنى ناروغى پيل او سې شنبې پورې ختمه شوه، ما د جمعې په ورځ ولا مبل او لمونځ مې ادا کړ، اوس دا ووايئ، چې د چهارشنبې او پاشنبې د ورځې لمونځونه به قضا راګرځوم او که نه؟ دا راته ووايئ، چې ناروغى ختمېدلو نه وروسته لمونځ کيږي (اګر چې درې ورځې وروسته ناروغي ختمه شي) يا هغه خاص ورځې

---

[١] ومن وراءباطن الفرج فانه نجس قطعاً ككل خارج من الباطن كالماءالخارج مع الولداوقبله.(ردالمحتار: ١ ص: ٣١٣، طبع ايچ ايم سعيد).

[٢] ينقضه خروج كل خارج نجس منه من المتوضى الحى معتاداًاولامن السبيلين اولاالى مايطهرثم المرادبالخروج من النسبيلين مجردالظهور.(الدرالمختار: ١ص: ١٣٤).

[٣] ومنهاالنصاب اقل الحيض ثلاثة ايام وثلاث ليال فى ظاهرالرواية هكذافى التبيين واكثره عشرة ايام ولياليهاكذافى الخلاصة.....الطهرالمخلل بين الدمين والدماءفى مدة الحيض يكون حيضاً.(عالمگيرى ج: ١ص: ٣٦). ايضاً: عن عثمان بن ابى العاص وانس بن مالک رضى الله عنهمافى الحيض ان اقله ثلاثة ايام واكثره عشرة ايام ومابعدذالک فهواستحاضة.(شرح مختصرالطحاوى ج: ١ص: ٤٨٣، طبع بيروت).

[٤] ومنهاوجوب الاغتسال عندالانقطاع هكذافى الكفاية.(عالمگيرى ج: ١ص: ٣٩، طبع بلوچستان).

ختميدلو نه وروسته به لامبلو نه وروسته لمونځ ادا کيږي؟ دې باره کې ډيرو ملګرو ته علم نشته، ضرور جواب راکړئ

**جواب:** د حيض کم نه کمه موده درې ورځې ده. او زيات نه زياته لس ورځې ده[1] عام طور باندې د ښځو د عادت ورځې مقررې وي، مثلاً اوو ورځې. اوس د وينې د بنديدو يو څو صورتونه کيداى شي:

(۱) وينه د دريو ورځو نه کمه موده کې بنده شي، په دې صورت کې ښځې ته انتظار کول پکار دي، چې څو ورځې وقفې نه وروسته چېرته دوباره شروع نه شي، او که دوباره راشي، نو د حيض په موده کې به دغه وقفه هم حيض شمارل کيږي،[2] او که د دريو ورځو نه کمه موده کې وينه بنده شي او بيا دوباره رانشي، نو دا حيض نه دى[3]، ددې ورځو لمونځونه به قضا راګرځول کيږي.[4]

(۲) وينه درې ورځې يا زياته راشي، خو د عادت نه مخکې بنده شي، په دې صورت کې ښځې ته عادت پورې انتظار کول پکار دي، که دوباره بيا رانغله، نو د کوم وخت نه چې بنده شوې ده، هغه وخت نه به دغه زنانه پاکه ګڼل کيږي، هغې ته دغومره لمونځ قضا راګرځول پکار دي[5] (۳) وينه په عادت باندې بنده شوه، ددې حکم واضح دى، چې غسل کولو نه وروسته به لمونځ ادا کړي

(۴) د عادت نه زياته شي، په دې صورت کې که لسو ورځو کې دننه بنده شي، نو دا به حيض شمارول کيږي، او دا به ګڼل کيږي، چې عادت بدل شو، او که خداى مه کړه د لسو ورځو نه زياته شي، نو د عادت نه زياتې چې څومره ورځې تېرې شوي دي، هغه به پاکې شمارل کيږي، او د هغو لمونځونو به قضا راګرځوي.[6]

---

[1] اقل الحيض ثلاثة ايام ولياليهاومانقص من ذلک فهواستحاضة لقوله عليه السلام:اقل الحيض للجارية البکروالثيب ثلاثة ايام ولياليها.....واکثره عشرة ايام والزائداستحاضة.(هداية ج:١ص:٢٦،باب الحيض والاستحاضة).

[2] الطهرالمتخلل بين الدمين والدماءفى مدة الحيض يکون حيضاً.(عالمگيرى ج:١ص:٣٦).

[3] اقل الحيض ثلاثة ايام ولياليها.....فمانقص عن ذالک فليس بحيض وهواستحاضة لقوله عليه السلام:اقل الحيض ثلاثة ايام والکثره عشرة ايام.(الجوهرة النيرة ج:١ص:٢٩،طبع بمبئى).

[4] ودم الاستحاضة الرعاف الدائم لايمنع الصلاة ولاالوطء کذافى الهداية.(عالمگيرى ج:١ص:٣٩).

[5] لوانقطع دمهادون عادتهايکره قربانهاوان اغتسلت حتى تمضى عادتهاوعليها ان تصلى وتصوم للاحتياط هکذافى التبيين ......انتقال العادة يکون بمرة عندابى يوسف وعليه الفتوى هکذافى الکافى فان رات بين طهرين تامين دمالاعلى عادتهابالزيادة والنقصان اوبالتقدم اوالتاخراوبهمامعاانتقلت العادة الى ايام دمهاحقيقياکان الدم اوحکمياهذا اذالم يجاوزالعشرة.(عالمگيرى ج:١ص:٣٩،طبع بلوچستان).

[6] لوانقطع دمهادون عادتهايکره قربانهاوان اغتسلت حتى تمضى عادتها....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

## د رحم نه د خارجېدونکي رطوبت حکم

**سوال:** دمېرمنو د متيازو .پاخانې اوحيض نه پرته نور فضلات ناپاک دي او که نه؟ يعنی د هغو په بدن يا جامو باندې لګېدلو سره لمونځ کيږي او که نه؟ اودس باقي پاتې کيږي او که نه؟ (د فضلاتو وتلو سره)

**جواب:** د رحم نه خارجېدونکی رطوبت ناپاک دی. او دې سره اودس هم ماتيږي او جامې ورسره هم ناپاکه کيږي، [١] کومې زنانه ته چې د سيلان الرحم (ليکوريا) بيماري وي. هغه د معذور په حکم کې ده، يعنی په وخت کې دننه يو ځل اودس کول د هغې له پاره کافي ي. او د لمانځه له پاره دې پاکې جامې استعمالوي.[٢]

## ښځه د حيض په ورځو کې غسل کولی شي

**سوال:** ..ما اوريدلي دي چې د حيض په ورځو کې ښځې ته غسل نه دی پکار ،ځکه د غسل سره به دا بدن جنت ته نه داخليږي که د ګرمي له وجې يوازې سر هم ووينځل شي، نو سر به يې جنت ته نه داخليږي مسئله داده چې په کم از کم اوو ورځو کې ناپاکي ليرې کيږي او په ګرمي کې اوو ورځې له غسل نه پرته پاتې کېدل ډېر ګران دي تاسو مهرباني وکړئ دا ووايئ چې رښتيا د مجبوري په ورځو کې بالکل غسل نه دی پکار؟

**جواب:** ښځې ته دحيض په ورځوکې د غسل اجازت دی اودا غسل د يخ والي له پاره دی،د طهارت له پاره نه دی،دا چا بالکل دروغ ويلي دي چې په دې حالت کې غسل کولوسره به بدن جنت ته نه داخليږي.

## د حيض نه د پاکوالي له پاره هيڅ آيت نشته

**سوال:** ...د حيض نه وروسته د پاکېدلو څه خاص آيت شته؟

**جواب:** نه! په ښځو کې چې دا مشهوره ده چې فلاني فلاني آيتونه لوستلو سره ښځه پاکيږي

---

...بقيه د تير مخ]... وعليها ان تصلى وتصوم للاحتياط هكذافى التبيين ......انتقال العادة يكون بمرة عندابى يوسف وعليه الفتوى هكذافى الكافى فان رات بين طهرين تامين دمالاعلى عادتها بالزيادة والنقصان اوبالتقدم اوالتاخر اوبهمامعاانتقلت العادة الى ايام دمها حقيقيا كان الدم اوحكميا هذا اذالم يجاوزالعشرة.(عالمگيرى ج:١ص:٣٩،طبع بلوچستان).

[١] ]ولوزادالدم على عشرة ايام ولها عادة معروفة دونها ردت الى عادتها والذى زاد استحاضة.(هداية ج:١ص:٦٧،باب الحيض والاستحاضة

[٢] ]ومن وراءباطن الفرج فانه نجس قطعاً ككل خارج من الباطن كالماءالخارج مع الولداوقبيه.(شامى ج:١ ص:٣١٣،باب الانجاس).

دا خبره بالکل غلطه ده ناپاکه سړی او ښځه په اوبو سره پاکیږي[1] په آیتونو او کلمو سره نه.

## د حیض په ورځو کې په کوروالي کولو باندې توبه، استغفار او صدقه

**سوال:** ...مونږ اوریدلي دي چې کله په ښځه باندې حیض راشي ،نو خاوند به هغې سره له جماع کولو نه ځان ساتي خو بیا هم که سړی په خپل ځان باندې قابو ونه شي ساتلی او د هغه نه دا کار وشي ،نو د هغه له پاره څه حکم دی؟ د هغه په نکاح کې څه فرق راځي او که نه؟ او دا ګناه کبیره ده که ګناه صغیره؟

**جواب:** په داسې حالت کې له ښځې سره کوروالی چې هغه د حیض په ورځو کې وي ناجائز ، حرام او کبیره ګناه ده توبه او استغفار دې وکړي او که ګنجائش وي نو تقریبا شپږ ګرامه سپین زر یا د هغو قیمت دې صدقه کړي،که نه توبه او استغفار دې کوي، خو د دې ناجائز فعل سره په نکاح کې هیڅ فرق نه راځي[2]

## د حیض او نفاس په حالت کې سړی د ښځې څومره اندازه مس کولی شي؟

**سوال:** زید واده کړی سړی دی، د هغه ښځه د حیض یا نفاس په حالت کې ده. ایا په داسې صورت کې زید خپلې ښځې ته خپل اندام په لاس کې ورکولی شي او که نه؟ یا د غه شان د هغې په لاس کې انزال کولی شي او که نه؟ دا په داسې وخت کې چې هغه باندې د شهوت غلبه وي، د غه شان ښځې ته د لمس کولو یا په اندامونو باندې لاس راښکلو له پاره ویلی شي او که نه؟ هرکله چې لاس راښکلو سره انزال هم کیږي؟

**جواب:** د خاوند له پاره په دې حالت کې د ښځې د نوم(ناف) نه تر زنګنو پورې له پردې نه پرته لمس کول جائز نه دي، [3] او ښځې ته د خاوند ټول بدن پورې لاس لګول جائز دي او د

---

[1] ]ثبت بالدليل القطعي المجمع عليه ان الطهارة واجبة شرعاً،وان المفروض منها هوالوضوء والغسل من الجنابة والحيض والنفاس بالماء.....واتفق الفقهاءعلى جواز التطهير بالماء الطهور او المطلق وهو ما يسمى،ماء....قال تعالى: وانزلنا من السمآء مآء طهوراً، وينزل عليكم من السمآء مآءل يطهركم به،(الفقه الاسلامى وادلته ج:١ص:٩٢، المبحث الثالث انواع المطهرات)_

[2] ] (و)يحرم بالحيض والنفاس(الجماع والاستمتاع بماتحت السرة الى تحت الركبة).لقوله تعالى:ولاتقربوهن حتى يطهرن،وقوله صلى الله عليه وسلم:لک مافوق الازار،فان وطئهاغيرمستحل له يستحب ان يتصدق بدينار او نصفه ويتوب.(حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح ص:٧٨،باب الحيض والنفاس والاستحاضة).ايضاً:ان عمر بن الخطاب رضى الله عنه قال:سالت النبى صلى الله عليه وسلم:مايحل للرجل من امراته وهى حائض فقال:مافوق الازار.(شرح مختصر الطحاوى ج:١ص:٤٦٢،طبع بيروت)_

[3] ] للزوج فى حالة الحيض ان يقبلهاويضاجعهاويستمتع بجميع بدنهاماخلابين السرةوالركبة.(عالمگیری ج:١ ص:٣٩). ايضاً:واماالحائض فانه يحرم عليه قربان ماتحت الازار.(شامى ج:٦ص:٣٦٦).

شهوت د غلبې په وخت کې د ښځې په لاس یا نورو د بدن حصو پورې لمس کول جائز دي.[1]

## د حیض په ورځو کې د مېرمنې مسح کول

**سوال:** ایا د حیض په ورځو کې خاوند د خپلې ښځې سره نزدیکت یا د کونډو نه تر نامه پورې مسح کولی شي؟

**جواب:** د حیض په ورځو کې د خاوند او ښځې خاص تعلق لرل (جماع) سخت حرام دي[2] بلکې د نوم نه تر زنګنو پورې خاوند ته له پردې نه پرته لاس وړل هم جائز نه دي.[3]

## په اسلام کې د ښځې له پاره د حیض په ورځو کې رعایت

**سوال:** د حیض په ورځو کې د ښځې په لاس پخ شوی شی جائز دی او که نه؟

**جواب:** د جاهلیتپه زمانه کې او په خاصه توګه د یهودو په معاشره کې به ښځه د حیض په ورځو کې یو نجس شی ګڼل کېده او دا به په یو کمره کې بنده کړای شوه نه به هغې یو شي ته لاس وروړلی شو نه به یې ډوډۍ پخولی شوه او نه د چا سره ملاویدای شوه[4]. خو د اسلام د اعتدال والا نظام داسې هیڅ شی داسې پرېښنود، پرته د لمونځ، روژې، د قرآن کریم د تلاوت او د خانه کعبې د طواف نه باقې ټول کارونه یې ددې له پاره جائز کړل تر دې چې هغه د الله پاک ذکر او درود شریف او نورې دعا ګانې لوستلی شي او وظائف له قرآن کریم نه پرته کولی شي[5]. د حیض په ورځو کې د خاوند او د ښځې د خاص تعلق (جماع) ساتلو اجازه

---

[1] وعبارة الفتح فان غلبته الشهوة ففعل ارادة تسكينها به فالرجاء ان لايعاقب اهزاد فى معراج الدراية وعن احمد والشافعى فى القديم الترخيص فيه وفى الجديد يحرم ويجوزان يستمنى بيد زوجته وخادمته اهـ. (ردالمحتار ج:٢ ص:٣٩٩). ايضاً: شرح مختصر الطحاوى ج:١ص:٤٦٢).

[2] ويسئلونک عن المحيض قل هواذى فاعتزلوا النسآء فى المحيض ولاتقربوهن حتى يطهرن، (البقرة:٢٢٢)_

[3] يمنع.....(قربان ماتحت ازار) يعنى مابين سرة وركبة ولوبلاشهوة وحل ماعداه مطلقاً......وفى الشامية (قوله يعنى مابين سرة وركبة) فيجوز الاستمتاع بالسرة ومافوقها والركبة ماتحتها ولوبلاحائل، كذابمابينهمابحائل بغيرالوطء ولوتلطخ دماً. (ردالمحتارمع الدرالمختار ج:١ص:٢٩٢، باب الحيض، مبحث فى مسائل المتحيرة). ايضاً: عن عائشة رضى الله عنها قالت: كان النبى صلى الله عليه وسلم اذاحضت يامرنى فاتزرثم يباشرنى (شرح مختصرالطحاوى ج:١ص:٤٢٦، طبع بيروت)

[4] (ويسئلونک عن المحيض) اخرج الامام احمدومسلم وابوداودوالترمذى والنسائى وابن ماجة وغيرهم عن انس رضى الله عنه ان اليهودكانوا اذاحاضت المرأة منهم اخرجوهامن البيوت ولم يواكلوهاولم يشاربوهاولم يجامعوهافى البيوت ..الخ. (روح المعانى ج:٢ص:١٢١) ايضاً: شرح مختصر الطحاوى ج:١ص:٤٦٤، طبع دارالبشائرالاسلامية، بيروت)

[5] (يمنع صلاة) مطلقاًولوسجدة شكر (وصوما).....وقراءة قرآن ...ولاباس لحائض وجنب بقراءة ادعية ومسها وحملها وذكرالله تعالى وتسبيح.....الخ. (الدرالمختارمع الردج:١ص:٢٩٣)_

نشته،لمونځ روژه هم نه شي کولی، ددې په ذمه د روژې قضاء شته د لمونځ قضاء نشته[1] الغرض په دې ورځو کې د ښځې له پاره ډوډۍ پخول، جامې وينځل او نور د کور خدمات سرته رسول جائز دي[2]

# ❖ د نفاس احکام ❖

## نفاس څه ته وايي؟

**سوال:** نفاس څه ته وايي؟ ايا دحيض په شان په نفاس کې هم لمونځونه معاف کيږي که وروسته يې قضاء راوړل پکار دي؟ د نفاس نه د پاکېدو طريقه څه ده؟ د نفاس دوران کې که رمضان راشي، نو روژه به نيسي که وروسته به يې قضاء راوړي؟

**جواب:** د ماشوم د پيدا کېدو نه وروسته چې کومه وينه راځي هغې ته نفاس وايي[3] څنګه چې په حيض کې لمونځ معاف دی همدغه شان په نفاس کې هم لمونځ معاف دی او څنګه چې په حيض کې روژه معاف نه ده همدغه شان په نفاس کې هم روژه معاف نه ده. بلکې وروسته به يې قضاء راوړي[4]

د نفاس د وينې د بندېدو نه وروسته په غسل کولو سره ښځه پاکيږي.

## که د چا حمل ضائع شوی وي، نو لمونځ او روژه به کله شروع کوي؟

**سوال:** په ۱۲ فروري باندې زما تقريبا د يوې نيمې مياشتې حمل ضائع شوی دی. ددې پوره موده خو څلويښت ورځې ده. خو ستاسو نه دا پوښتنه کوم. چې که پنځلس شل ورځې وروسته ياشتنی ناوغی (حيض) رانشي، نو ايا لمونځ او روژه نيول جائز دي ؟

**جواب:** د ستا د سوال په سلسله کې يو څو مسائل د ذکر کولو قابل دي:

(۱) د ماشوم د پيدا کېدو نه وروسته چې کومه وينه راځي هغې ته حيض نه. بلکې "نفاس"

---

[1] (يمنع صلاة) مطلقاً ولوسجدة شکر(وصوماً) وجماعاً (وتقضيه) لزوماً دونها للحرج. (الدرالمختار ج:۱ ص:۲۹۰،۲۹۱، باب الحيض،مطلب لوافتى مفت...الخ)

[2] ولايكره طبخها ولااستعمال مامسته من عجين اوماء اونحوهما.(ردالمحتارج:۱ص:۲۹۲،باب الحيض ،مطلب لوافتى مفت...الخ)_

[3] النفاس هودم يعقب الولادة...الخ.(عالمگيرى ج:۱ص:۳۶).والنفاس هوالدم الخارج عقيب الولادة واشتقاقه من تنفس الرحم بالدم اوخروج النفس وهوالولد.(الجوهرةالنيرةص:۳۹،باب الحيض)_

[4] (يمنع صلاة)مطلقاًولوسجدةشکر(وصوماً)وجماعاً(وتقضيه)لزومادونهاللحرج (الدرالمختارج:۱ص:۲۹۰،باب الحيض،مطلب لوافتى مفت...الخ)_

ویل کیږي.[۱] (۲) د نفاس زیات نه زیاته موده څلویښت ورځې ده. او د کم نه کمې مودې له پاره څه حد نشته، که یوه یا نیمه ورځ وینه راشي اوبیا بنده شي.نوښځه دې غسل کولو نه وروسته لمونځ اوروژه وکړي[۲]

(۳) کوم حمل چې ضائع شي. نو کتل کیږي به چې ایا د ماشوم څه اندام جوړ شوی دی او که نه؟ که یو یا نیم اندام یې جوړ شوی وي، نو د حمل غورځېدلو نه وروسته چې کومه وینه راشي، هغه به نفاس وي، او که هیڅ یو اندام نه وي جوړ شوی.یوازې د غوښې یوه ټوټه وه، نو دا نفاس نه دی، دغې وینې ته که حیض شمارول ممکن وي، نودا حیض دی.که نه استحاض (د ناروغۍ وینه) به شماریږي.[۳]

(۴) د ستا په مسئله کې که د ماشوم څه اندام جوړ شوی و. نو دغه پنځلس شل ورځې وینه نفاس دی، نو هرکله چې بنده شوه ته د غسل کولو نه وروسته لمونځ او روژه کولی شې. او که هیڅ یو اندام جوړ شوی نه و، نو ستا چې څومره ورځې د حیض عادت و، هغومره ورځې به حیض شماریږي او باقي د زیاتو ورځو وینه به استحاض شماریږي ، په هغو کې تاته غسل کولو نه وروسته لمونځ کول. روژه نیول پکار و. بهرحال.اوس به د هغومره ورځو لمونځونه قضا راوړل پکار وي.

## د نفاسي ښځې د لاس خوراک وڅښاک

**سوال:** د نفاسي ښځې چې ترڅو د نفاس موده پوره شوي نه وي ددې د لاس خوراک وڅښاک د شریعت په نظر کې جائز دی او که نه؟

**جواب:** جائز دی.[۴]

## د ناپاکۍ په حالت کې تی ورکول

**سوال:** ایاښځه د ناپاکۍ په حالت کې خپل بچي ته تی ورکولی شي؟ اوکه ددې له پاره غسل کول ضروري دي؟

---

[۱] النفاس هودم یعقب الولادة.(عالمگیری ج:۱ص:۳۶،طبع بلوچستان).

[۲] اقل النفاس مایوحدولوساعة اوکثره اربعون.(عالمگیری ج:۱ص:۳۷،۳۸).ایضاً:واکثرالنفاس اربعون یوماًولامقدارلاقله انماهوکان الدم.....عن عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه قال:وقت النبی صلی الله علیه وسلم للنفساءاربعین یوماًفاذامضت،اغتسلت وصلت.(شرح مختصرالطحاوی ج:۱ص:۴۸۷)کتاب الطهارة).

[۳] سقط ای مسقوط ظهربعض خلقه کیداورجل ولدفتصیربه نفساء...فان لم یظهرله شیءفلیس بشيء.والمرئی حیض ان دام ثلاثاً...والاستحاضة ولولم یدرحاله ولاعددایام حملهاودام الدم تدع الصلاة ایام حیضهابیقین ثم تغتسل ثم تصلی کالمعذور.(الدرالمختارمع الردج:۱ص:۳۲۰).

[۴] ولایکره طبخهاولااستعمال مامسته من عجین اوماءاونحوهما.(ردالمحتارج:۱ص:۲۹۲،باب الحیض،مطلب لوافتی مفت...الخ)۔

**جواب:** په دې حالت کې ماشوم ته تی ورکول جائز دي[1]. خوغوره داده چې غسل کولو نه وروسته تی ورکړي.

## ایا د بچي په پیدائش سره خونه (کمره) ناپاکه کیږي

**سوال:** ....د بچي د پیدائش نه وروسته مور او بچي چې په کومه خونه (کمره) کې اوسیږي د څلویښتو ورځو نه وروسته هغه ښه صفا کیږي او په هغې کې رنګ روغن کیږي او ترڅو چې داسې نه وي شوي هغه خونه (کمره) ناپاکه وي، سره له دې چې د ښځې دناپاکوالي ددې کمرې یا کور سره هېڅ تعلق هم نشته. تاسو ددې غیر اسلامی رسم (دود) د قرآن کریم او سنت نه جواب راکړئ!

**جواب:** پاکوالی ښه شی دی، خو د کوریا خونې د ناپاکوالي تصور غلط او وهم پرستي ده.

## د حیض په ورځو کې نکریزي لګول جائز دي

**سوال:** ....ډیرې مشرانې زنانه دا وایي چې د حیض د ورځو شروع کېدو نه وروسته نکریزي لګول روا نه دي یعنی د حیض په ورځو کې دې نکریزي نه لګوي، ځکه چې د هغه وخته پورې لاسونه نه پاکیږي ترڅو چې هغه نکریزي ختم شوي نه وي او دهغوی وینا دا هم ده که د حیض د شروع کیدو نه مخکې یې ولګوي، نو هیڅ باک نشته. بیا که لګېدلي وي یا نه پاکیږي، داخبره ترکومه حده سهي ده؟

**جواب:** ..د ښځو له پاره دحیض په ورځو کې نکریزي لګول جائز دي او دا خیال بالکل غلط دی چې دحیض په ورځو کې نکریزي ناپاکه کیږي[2].

## دحیض دوران کې د اغوستل شویو جامو حکم

**سوال:** ....دحیض په ورځو کې چې کومې جامې اغوستل کیږي ایا هغو کې له وینځلو پرته لمونځ کیږي او که نه؟ او ایایوازې هغه برخې به په کومو چې ګندګي لګیدلي وي وینځل کیږي او که ټول شیان یعنې قمیص، پرتوګ، څادر، سویټر، شال اوداسې نور...ټول وینځل پکار دي؟

---

[1] ]وان ارادان یاکل اویشرب فینبغی ان یتمضمض ویغسل یدیه.(عالمگیری ج:١ص:١٦). ایضاً: وعن عائشة قالت: کنت ارجل راس رسول الله صلی الله علیه وسلم واناحائض. فیه جوازالمخالطة مع الحائض.....وفی الحدیث دلالة علی طهارة بدن الحائض وعرقها (المرقاة شرح المشکوة ج:٤ص:٤٥٥باب الترجل، ایضاًخیرالفتاویٰ ج:٢ص:٨٧)

[2] ] جنب اختضب واختضبت امراته بذالک الخضاب قال ابویوسف رحمه الله تعالی: لاباس به ولاتصلی فیه وان کان الجنب قدغسل موضع الخضاب فلاباس بان تصلی فیه، کذافی فتاوی قاضیخان (عالمگیری ج:٥ص:٣٥٩)

**جواب:** دجامې ناپاکه برخه پاکولو سره هغه اغوستلی شي[1] او کومه برخه چې پاکه وي دهغې په اغوستلو کې هيڅ باک نشته.

## د ښځې له پاره زېر ناف ويښته په اوسپنې سره ليرې کول غوره نه دي

**سوال:** ايا د ښځې له پاره ترنامه لاندې (زېرناف) ويښته د اوسپنې په شي باندې ليرې کول ګناه دي؟

**جواب:** د زېرناف ويښتو دليرې کولو له پاره ښځو ته د چونې، پاوډر، صابون او داسې نورو ...د استعمالولو حکم دی، د اوسپنې استعمالول د هغې له پاره غوره نه دي خو ګناه هم نه ده.[2]

## د حيض په دوران کې د استعمال شوي فرنيچر وغيره حکم

**سوال:** ددې شيانو د پاکولو په باره کې ضرور بيان وکړئ کوم چې مو د حيض په دوران کې استعمال کړي دي.

مثلاً صوفه سيټ، نوې جامې، کټ، يا داسې شی چې هغه په اوبو سره نه پاکيږي؟

**جواب:** دا شيان په استعمال سره نه ناپاکه کيږي، تر څو چې پرې څه نجاست نه وي لګېدلی.[3]

## دحيض په ورځو کې ښځې ته دقرآن کريم لوستل جائز نه دي

**سوال:** ...موږ په ماشومتوب کې قرآن کريم نه و لوستلی، په دې وجه اوس يې لولو، زموږ استاذه وايي چې تاسو قرآن کريم دحيض په ورځو کې هم لولئ د سپارې صفحې به درته زه اړوم، ځکه چې لوستل کيږي خو په ژبې سره او ژبه پاکه ده.تاسو نه دا پوښتنه ده چې ايا موږ په دې ورځو کې قرآن کريم لوستلی شو؟

**جواب:** دحيض په ورځو کې د ښځې له پاره د قرآن کريم تلاوت جائز نه دی.همدغه شان په کومې ښځې يا سړي باندې چې غسل فرض وي، د هغوی له پاره هم د قرآن کريم تلاوت جائز

---

[1] (يجوز رفع نجاسة حقيقة من محلها) ولواناء اوماكولاعلم محلهااولا (بماءولومستعملاً) به يفتى وبكل مائع طاهر .(الدرالمختارمع الردج: ١ص: ٣٠٩)۔

[2] قال فى الهندية: ويبتدئ من تحت السرة ولوعالج بالنورة يجوزكذا فى الغرائب وفى الاشباه والسنة فى عانة المرأة النتف.(شامى ج:٦ص: ٤٠٦،فصل فى البيع)۔

[3] ولايكره طبخهاولااستعمال مامسته من عجين اوماءاونحوهما.(ردالمحتارج: ١ص: ٢٩٢،مطلب لوافتى مفت...الخ)۔

نه دي[1]. ستاسو د استاذې بيان کړې مسئله صحيح نه ده. په دې حالت کې ژبه د خوراک وڅښاک له پاره پاکه وي، خو د تلاوت په حق کې پاکه نه وي. څنګه چې د بې اودسه سړي اندامونه پاک وي، خو تر څو چې يې اودس نه وي کړی د لمانځه له پاره پاک نه وي. دې ته نجاست حکمي وايي، د جنابت، حيض او نفاس په حالت کې ژبه حکما ناپاکه وي او د ذکر تسبيح او دعا کولو په دې حالت کې اجازت شته.[2]

## ايا ښځه د حيض په ورځو کې په يادو د قرآن کريم تلاوت کولی شي؟

**سوال:** ....دحيض په ورځو کې که چېرته دښځې د قرآن آيتونه ياد وي، نو ايا هغه کولی شي چې دا اياتونه ولولي؟

**جواب:** دحيض په ورځو کې د قرآن کريم تلاوت جائز نه دی، خود دعا په طور دقرآن کريم الفاظ لوستلی شي[3] په دې حالت کې حافظې ته پکار دي چې د ژبې دښورولو نه پرته په ذهن کې ولولي او که يو لفظ هېر کړي، نوقرآن مجيد دې په څه جامه باندې نيولو سره وګوري.[4]

## د حيض په ورځو کې حديث يادول او د قرآن کريم ترجمه ليکل

**سوال:** ....زه د رياض الصالحين جلد اول احاديث لولم او يادوم يې، ايا زه دحيض په ورځو کې هم هغه احاديث لوستلی او يادولی شم؟ او د قرآن کريم د عربي متن د لوستلو او لاس وروړلو نه پرته يوازې اردو ترجمه لوستلی شم او يادولی شم؟

**جواب:** ..په دواړه مسئلو کې اجازت دی.[5]

---

[1] وليس للحائض والجنب والنفساء قراءة القرآن. (هداية اولين ص:٦٤،باب الحيض والاستحاضة،ايضاً درمختار ج:١ ص:٢٩٣). ايضاً:عن ابن عمر رضى الله عنهما عن رسول الله صلي الله عليه وسلم قال:لايقرا الجنب ولاالحائض شيئاًمن القرآن. (شرح مختصرالطحاوى ج:١ص:٣٤٥). ايضاً:عن على رضى الله عنه قال:ان رسول الله صلى الله عليه وسلم لم يكن يحجبه عن قرآن القرآن شيءليس الجنابة. ايضاً)۔

[2] يجوزللجنب والحائض الدعوات وجواب الاذان. (عالمگيرى ج:١ص:٣٨،طبع بلوچستان)۔

[3] وان قرامادون الآية وقرائة الفاتحة على قصدالدعاءونحوهاعلى نية الدعاءيجوز. (حلبى كبيرص:٥٧مطلب الغسل فى اربعة سنة)۔

[4] وليس لهم مس المصحف الابغلافه. (هداية اولين ص:٦٤،باب الحيض والاستحاضة) يمنع.....قراءة القرآن بقصده ومسه ولومكتوباًبالفارسية فى الاصح الابغلافه المنفصل.....الخ. (درمختار ج:١ص:٢٩٣) .ايضاً:واماأخذه بالعلاقة اولغلافه فلاباس به وان كان جنباًلانه غيرماس للقرآن كمالوحمل حملاًوفيه مصحف جازوان كان جنباً. (شرح مختصرالطحاوى ج:١ص:٣٤٦،طبع بيروت)۔

[5] اوگورئ:امدادالفتاوى للتهانوى ج:١ص:٥٠،طبع دارالعلوم كراچى)۔

## د حیض دوران کې په امتحان کې د قرآني سورتونو ځواب څنګه اولیکو؟

**سوال:** د قرآن کریم سورتونه په نصاب کې شامل دي په امتحان کې دهغو متن تشریح او د نورو آیتونو حوالې لیکل پکار وي په دې ورځو کې دا لیکل څنګه دي؟

**جواب:** د ترجمې او تشریح لیکلو اجازت دی، خو د آیتونو متن دې نه لیکي د آیت حواله ورکولو سره دې د هغه ترجمه ولیکي.[1]

## ښځې استاذانې په حیض کې د قرآن کریم تلاوت څنګه وکړي؟

**سوال:** ۱ ښځې د حیض په ورځو کې د قرآن کریم تلاوت کولی شي او که نه؟

**سوال:** ۲ ځینې استاذانې چې ناظره یا د حفظ تعلیم ورکوي، ایا هغوی په دې وجه چې د ماشومانو د تعلیم نقصان به وي ماشومانو ته د لوستلو له پاره د قرآن کریم تلاوت کولی شي؟ که نه شي یې کولی، نو د تعلیم سلسله به څنګه جاري اوساتل شي؟

**سوال:** ۳ ښځې د حیض په ورځو کې د یو سړي د کیسټ، ریډیو یا ټي وي نه د قرآن کریم تلاوت اورېدلی شي؟

**جواب:** ۱ د ښځو له پاره د حیض په ورځو کې د قرآن کریم تلاوت او د هغه مسح کول جائز نه دي[2] اګر که د قرآن کریم د یو آیت تلاوت وکړل شي یا د یو آیت نه هم کم، په هرصورت کې د قرآن کریم تلاوت جائز نه دی[3]، خو د قرآن کریم د ځینو آیتونو کوم چې د دعا او ذکرونو په طور لوستل کیږي دهغو د دعا یا د ذکر په طور لوستل جائز دي، مثلاً: د خوراک د شروع کولو په وخت بسم الله ویل یا د شکرانې په طور الحمد لله ویل همدغه شان د قرآن کریم هغه کلمات کوم چې په عامو خبرو کې استعمالیږي دهغو ویل هم جائز دي.[4]

**جواب:** ۲ د قرآن کریم تعلیم ورکونکو استاذانو له پاره هم د قرآن کریم تلاوت او د قرآن کریم مسح کول جائز نه دي، باقي دا چې د تعلیم سلسله به څنګه جاري وساتل شي، د دې له

---

[1] امدادالفتاوی ج:۱ص:۵۰،طبع دارالعلوم کراچی)۔

[2] ]ولیس للحائض والجنب والنفساءقراءة القرآن ولیس لهم مس المصحف الابغلافه.(هدایة اولین ص:٦٤، باب الحیض والاستحاضة،ایضاًدرمختارج:۱ص:۲۹۲،۲۹۳،ایضاً:شرح مختصرالطحاوی ج:۱ص:۳٤٥)۔

[3] ]ویمنع صلاة....وقراءة قرآن بقصده ومسه...ولاباس لحائض وجنب بقراءة ادعیة ومسهاوحملهاوذکرالله تعالی وتسبیح (وفی الشامیة)(قوله وقراءة القرآن)اوولودون آیة من المرکبات لاالمفردات لانه جوزللحائض المعلمة تعلیمه کلمة کلمة.....الخ.(فتاوی شامی ج:۱ص:۲۹۳،طبع ایچ ایم سعید)۔

[4] ] فلوقصدالدعاءاوالثناءاوافتتاح امر اولتعلیم ولقن کلمة حل فی الاصح.(درمختارج:۱ص:۱۷۳، مطلب یوم عرفة افضل من یوم الجمعة)۔

پاره فقهاوو رحمهم الله دا طريقه ښودلې ده چې هغه دې د قرآن کريم آيت کلمه کلمه، بيل بيل وايي مثلا......الحمد......لله......رب......العالمين......دغه شان استاذې له پاره د قرآن کريم هيجايي کول هم جائز دي.[1]

**جواب:** ۳ د ښځو له پاره دحيض په ورځو کې د قرآن کريم د تلاوت ممانعت خو په احاديثو کې راغلى دى[2]خو د قرآن کريم د اورېدلو هيڅ ممانعت نه دى راغلى. په دې ورځو کې د يو سړي له ريډيو يا کيسټ نه د قرآن کريم تلاوت اورېدل جائز دي.

## د حفظ دوران کې د حيض په حالت کې قرآن کريم څنګه ياد کړو؟

**سوال:** دقران کريم دحفظ کولو په دوران کې دحيض په حالت کې په څه شي سره دقران کريم پاڼې اړول او يا يادول جائزدي که ناجائز؟

**جواب:** ښځو له پاره دحيض په ورځو کې د قران کريم تلاوت په ژبه سره کول جائز نه د[3]،که حافظې ته د هېرېدولو ويره وي، نو د ژبې له ښورولونه پرته دې په زړه کې سوچ کوي په ژبې سره دې نه لولي په څه جامې وغيره سره پاڼې اړول جائز دي.[4]

## په حيض کې د قراني ايتونو والا کتاب لوستل او مسح کول

**سوال:** موږ د دولسم طالباني يو او موږ سره اسلامک سټيډيز دى چې په هغه کې د قرآن کريم د شروع دولس رکوع ګانې زموږ په کورس کې شاملې دي، زموږ مشکل دا دى چې الله دې نکړي د امتحان زمانه کې زموږطبيعت خراب شي. نوموږ داسلامک سټيډيز کتاب څنګه لوستلى شو؟ ځکه چې په حيض کې دقرآن کريم مسح کول حرام دي اود کتاب د لوستلو نه پرته موږ امتحان نه شو ورکولى، ځکه په کتاب کې پوره تفسير او تشريح وي چې دهغه د لوستلو نه وروسته امتحان ورکول کيږي، نو تاسو ته عرض دا دى چې په دې ورځو موږ څنګه ددې کتاب نه فائده اخستلى شو؟

---

[1] ولقن كلمة كلمة حل فى الاصح.(قوله:ولقن كلمة كلمة)هوالمرادبقول المنية حرفاًحرفاًكمافسره به فى شرحهاوالمرادمع القطع بين كل كلمتين.(الدرالمختارمع ردالمحتار: ج:١ص:١٧٢)_

[2] عن ابن عمرعن النبى صلى الله عليه وسلم قال:لاتقرا الحائض ولاالجنب شيئاًمن القرآن.(سنن الترمذى ج:١ص:١٩،باب ماجاءفى الجنب والحائض انهمالايقرآن القرآن)_

[3] وليس للحائض والجنب والنفساء قراة القرآن.(هداية اولين ص:٦٤،باب الحيض والاستحاضة)_

[4] يجوزللمحدث الذى يقرا القرآن من المصحف تقليب الاوراق بقلم اوعوداوسكين.(البحرالرائق ج:١ص:٣٥١،باب الحيض،ايضاً:شرح مختصرالطحاوى ج:١ص:٣٤٥،٣٤٦)_

**جواب:** دقرآن کريم الفاظو ته لاس مه وروړئ او دهغه الفاظ په ژبې سره وايئ [۱] کتاب ته لاس وروړل او لوستل جائز دي [۲]

## دحيض په ورځوکې په اسلامي کتابونو کې ليکل شوي قرآني آيتونه څنګه ولولو؟

**سوال:** په اسلامي کتابونو کې ځای په ځای د حوالو له پاره قرآني آيتونه ليکل شوي دي. که دهغه اردو ترجمه ليکل شوي نه وي، نو په دې حالت کې د قرآني آيت لوستل څنګه دي؟

**جواب:** د قرآن کريم آيت په زړه کې لوستل جائز دي [۳]

## د حيضِ په حالت کې د قرآن کريم او د حديثو دعاګانې لوستل

**سوال:** دحيض په ورځو کې د قرآن پاک هغه سورتونه د کومو چې روزانه لوستل معمول دي چې کله په يادو ياد وي، نو لوستلی يې شو؟ او روزانه پنځه سوه ځله د درود شريف د لوستلو معمول دی، نو ايا په دې ورځو کې پنځه سوه ځله درود او څه سورتونه په يادو لوستلی شو؟ اوپه عام طور چې کومې وظيفې مثلا د مخ د رڼا له پاره (الله نور السموات والارض) په اول او اخر کې د درود سره لوستلی شو؟

**جواب:** دحيض په ورځو کې د قرآن کريم تلاوت کول جائزنه دي [۴]، د قرآن او حديث دعاګانې د دعا په نيت سره لوستلی شئ. د نورو ذکرونو او درود شريف لوستل هم جائز دي [۵]

## د حيض په ورځوکې ذکر کول

**سوال:** ښځې دحيض په ورځو کې ذکر کولی شي مثلا: دريمه کلمه، درود شريف، استغفار، کلمه طيبه او داسې نور...؟

**جواب:** د قرآن کريم د تلاوت نه پرته هر ذکر کولی شي [۶]

---

[۱] وليس للحائض والجنب والنفساء قراءة القرآن وليس لهم مس المصحف الابغلافه.(هداية اولين ص:٦٤،باب الحيض والاستحاضة)_

[۲] يفهم جوازه من امدادالفتاوى ج:١ص:٥٠)_

[۳] وليس للحائض والجنب والنفساءقراءة القرآن.(هداية اولين ص:٦٤،باب الحيض والاستحاضة).قراة کول منع دی ولې سوچ کول منع نه دی.وجهه ان القراءة فعل اللسان(الجوهرة النيرة ج١ص:٥٥،باب صفة الصلوة)

[۴] لاتقرا الحائض والنفساءوالجنب شيئامن القرآن.(عالمگيری ج:١ص:٣٨،طبع بلوچستان)_

[۵] وان قرامادون الآية اوقراءة الفاتحة على قصدالدعاءونحوهاعلى نية الدعاءيجوز.(منية المصلى مع غنية المستملى ص:٥٧،مطلب الغسل فى اربعة سنة،ايضاًشرح مختصرالطحاوى ج:١ص:٣٤٦)_

[۶] ويجوزللجنب والحائض الدعوات وجواب الاذان ونحوذالک،کذافى السراجية.(عالمگيرى ج:١ص:٣٨)_

## دحیض په ورځو کې عملیات کول

**سوال:** که یو عمل د اسلامي میاشتې په اول تاریخ شروع شي او هغه تر ٢١ یا ٤١ ورځو پورې پوره کیږي. نو ایا د حیض په حالت کې هم دا عمل جاري ساتل پکار دي؟

**جواب:** که عمل د قرآن کریم دآیت وي، نو دحیض په ورځو کې جائزنه دی.[1]

## د ښځې د سر نه وتلي ویښتو سره څه وکړو؟

**سوال:** کله چې یو ښځه سر ږومنځوي، نو ښځې وایي چې د سر ویښته غورځول نه دي پکار. نو ایا دا یو ځای کولو سره په قبرستان کې خښول پکار دي؟

**جواب:** د ښځو د سر ویښته هم په عورت کې داخل دي او کوم ویښته چې په ږومنځ کې راشي دهغو کتل هم د نامحرم له پاره جائز نه دي[2]، په دې وجه هغه ویښته غورځول نه دي پکار بلکې چېرته خښول یې پکار دي.

# ❖ د نوکانو د رنګ مسئلې ❖

.........................................

## د نوکانو رنګ لګول د کافرانو تقلید دی

## پله دې سره نه اودس کیږي، نه غسل او نه لمونځ

**سوال:** نن سبا پېغلې جینکۍ په دې شک کې اخته دي چې ایا جینکۍ چې دنوکانو رنګ لګوي ددې دپاکولو نه پرته اودس وکړي او که د رنګ له پاسه اودس کیږي؟ ډیرې هوښیارې او تعلیم یافته جینکۍ او معززې لمونځ ګزارې ښځې دا وایي، چې دنوکانو له رنګ پاکولو نه پرته اودس کیږي.

**جواب:** د نوکانو متعلق دوه ناروغۍ په ښځو کې خصوصا په پېغلو جینکو کې ډیرې عامې دي. یو د نوکانو دلویېولو مرض او دویم دنوکانو درنګ، دنوکانو په لویولو سره د انسان لاس بالکل د ځناورو په شان شي او بیا په هغو کې ګندګي هم پاتې کېدای شي، چې هغه سره په نوکانو کې جراثیم هم پیدا کیږي چې مختلفې ناروغۍ ترې پیدا کیږي، رسول الله ﷺ لس

---

[1] ] ولیس للحائض والجنب والنفساءقراءة القرآن.(هداية اولين ص:٦٤،باب الحيض والاستحاضة)۔

[2] ](وكل عضو لايجوز. النظراليه قبل الانفصال لايجوز بعده) ولو بعد الموت كشعرعانة وشعر راسها. (الدرالمختارج:٦ ص:٣٧١، كتاب الحظروالاباحة،فصل فى النظروالمس)۔

شيان په فطرت كې شمار كړي دي په هغو كې يو د نوكانو اخستل هم دي[1] د نوكانو دلويولو فيشن دانساني فطرت خلاف دی، كوم چې مسلمانې ښځې دكافرانود تقليد له وجي نه خپلوي، مسلمانو ښځوته د فطرت خلاف د دې تقليد نه پرهيز كول پكار دي.
دويم مرض د رنګ لګول دي الله پاک د ښځو په اندامونو كې فطري حسن ايښی دی د نوكانو درنګ مصنوعي پرده اغوستل يوازې يو غير فطري شی دی. بيا په دې كې د ناپاكو شيانو ګډون هم وي هماغه لاسونه په خوراک كې استعمالول د طبعي ناخوښی شی دی او د ټولو نه لويه لا دا چې د نوكانو رنګ ترڅو پاک نه كړل شي اوبه لاندې نه شي تلی[2] نه اودس كيږي اونه غسل .انسان هماغه شان ناپاک وي،كومې تعليم يافته جينكۍ او معززې ښځې چې دا وايي چې د نوكانو درنګ د پاكولو نه پرته به اودس وشي، هغوی په غلطۍ كې اخته دي، ددې دپاكولو نه پرته انسان نه پاكيږي، نه يې لمونځ كيږي او نه يې تلاوت جائزدی.

## د نوكانو درنګ والا مړي ته دې درنګ پاكولو نه وروسته غسل وركړل شي

**سوال:** ...كه چېرته مرګ راشي، نو هغه ښځه چې د نوكانو رنګ يې لګولی وي، دهغې غسل به څنګه صحيح شي؟

**جواب:** دهغې غسل صحيح نه دی، په دې وجه رنګ پاكولو نه وروسته به هغې ته غسل وركول كيږي[3]

## د نوكانو او شونډو رنګ سره لمونځ كول

**سوال:** ...څو ورځې مخكې زموږ په كور كې دقران كريم ختم و، په هغه كې څو خپلوانې ښځې راغلې چې په هغو كې څه په فيشن كې پتې وې د فيشن نه مراد په نوكانو باندې رنګ ، په بدن باندې سپري په شونډو باندې رنګ( لپ سټک) وغيره وو، كله چې د لمانځه وخت شو، نو د لمانځه له پاره ودرېدلې كله چې هغوی ته وويل شو، چې دې سره اودس نه كيږي، نو لمونځ به څنګه وشي؟ نو هغوی وويل چې الله پاک نيت ته ګوري، نو ايا مولانا صاحب! د نوكانو رنګ،لپ سټک وغيره سره اودس كيږي؟ ايا ددې ټولو شيانو د استعمال نه وروسته لمونځ كيږي؟ مهرباني به موويې چې په تفصيل سره جواب راكړئ.

---

[1] ]عن عائشة قالت: قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: عشر من الفطرة: قص الشارب........وقص الاظفار.....الخ (سنن ابي داؤد ج١ ص٩ باب السواك من الفطرة)۔

[2] ]ولو انضمت الاصابع اوطال الظفر فغطى الانملة اوكان فيه ما يمنع الماء كعجين وجب غسل ماتحته. (نورالايضاح ص٣١ فصل فى الوضوء)۔

[3] ] نعم ذكر الخلاف فى شرح المنية فى العجين واستظهر المنع لان فيه لزوجة وصلابة تمنع نفوذ الماء.(رد المحتار ج:١ ص:١٥٤ ،مطلب فى ابحاث الغسل،كتاب الطهارة)۔

**جواب:** الله پاک یوازې نیت ته نه ګوري بلکې دا هم ګوري چې کوم کار وشي دا د هغه د شریعت مطابق هم دی او که نه. مثلا یو سړی بې اودسه لمونځ کوي او دا وایي چې الله پاک نیت ته ګوري، نو دهغه دا وینا به په الله او رسول پورې د ټوکو په معنانه وي او دا سې انسان عبادت، عبادت نه پاتې کیږي، د نوکانو رنګ او لپ سټک وغیره که بدن ته اوبو رسیدلو نه مانع وي، نو اودس یې نه کیږي کله چې اودس ونه شو، نو لمونځ یې هم ونه شو.[1]

## د نوکانو د رنګ په موزو باندې قیاس کول صحیح نه دي

**سوال:** کله چې اودس کولو نه وروسته موزه پښو کړل شي، نو د دویم اودس تر وخته پورې د پښو وینځلو ضرورت نه وي. یوازې په جرابو باندې مسح کیږي، همدغه شان که د اودس کولو نه وروسته د نوکانو رنګ ولګول شي، نو د بل اودس په وخت کې دهغې د لیرې کول ضرورت خو نشته؟

**جواب:** د څرمنې په موزو باندې مسح کول په اتفاق سره جائز دي[2] په جرابو باندې مسح د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد جائز نه ده[3] او د نوکانو رنګ په موزو باندې قیاس کول صحیح نه دي، نو ځکه چې د نوکانو رنګ لګیدلی وي، نو اودس او غسل نه کیږي.[4]

## د نوکانو او د شونډو د رنګ په غسل او اودس باندې اثر

**سوال:** څنګه چې د نوکانو رنګ لګولو سره اودس نه کیږي که په شونډو نرې شان سرخي لګېدلي وي، نو ایا اودس کیږي؟ یا که د اودس نه وروسته ولګول شي، نو ایا لمونځ صحیح دی؟

**جواب:** د نوکانو رنګ لګولو سره اودس او غسل په دې وجه نه کیږي، چې د نوکانو رنګ بدن ته اوبه رسیدلو ته نه پریږدي[5]، که د شونډو په سرخي کې هم دا خبره وي چې هغه اوبه

---

[1] ولابدمن زوال مایمنع وصول الماء الی الجسد، کطلاء الاظافرونحوها(الفقه الحنفی وادلته ج:۱ص۶۱،طبع بیروت)

[2] المسح علی الخفین جائز بالسنة والاخبار فیه مستفیضة حتی قیل ان من لم یره کان مبتدعًا.(هدایة ج:۱ ص:۵۶،باب المسح علی الخفین،طبع مکتبه شرکت علمیه،ملتان)_

[3] ولا یجوز السمح علی الجوربین عند ابی حنیفة، الا ان یکونا مجلدین او منعلین.(هدایة ج:۱ ص:۶۱،باب المسح علی الخفین)_

[4] لو کان علیه جلد سمک او خبز ممضوغ قد جف فتوضا ولم یصل الماء الی ما تحته لم یجز لان التحرز عنه ممکن.کذا فی المحیط.(عالمگیری ج:۱ ص:۵،کتاب الطهارة،الباب الاول فی الوضوء)_

[5] نعم ذکر الخلاف فی شرح المنیة فی العجین واستظهر المنع لان فیه لزوجة وصلابة تمنع نفوذ الماء.(رد المحتار ج:۱ ص:۱۵۴،مطلب فی ابحاث الغسل،کتاب الطهارة) لو کان علیه جلد سمک او خبز ممضوغ قد جف فتوضا ولم یصل الماء الی ماتحته لم یجز لان التحرز عنه ممکن،کذا فی المحیط(عالمگیری ج:۱ص:۵،کتاب الطهارة، الباب الاول فی الوضوء)

ځرمنې ته رسيدلو کې مانع وي، نو د هغې د ليرې کولو نه پرته به غسل او اودس نه کيږي او که هغه د اوبو د رسيدلو نه مانع نه وي، نو بيا غسل او اودس کيږي او که د اودس نه وروسته د نوکانورنګ يا سرخي لګولو سره لمونځ وکړل شي. نو لمونځ کيږي. خو بيا هم له دې څخه ځان ساتل پکار دي.

## د نوکانو د رنګ نقصانات

**سوال:** ما د غسل په فرائضو کې لوستلي دي چې په ټول بدن باندې بايد اوبه داسې اوبيول شي چې د بدن هيڅ برخه د ويښته برابر ځاى هم وچ پاتې نه شي. نن سبا دا خبره په عام فيشن کې راغلي ده چې زموږ په کورونو کې ښځې په نوکانورنګ لګوي کوم چې ډېر ټينګ وي او په نوکانو باندې هغه کلک شي او همدغه شان ځيني سرې رنګ مالان وي، چې د بدن په يو برخه باندې يې رنګ پرېوځي ..نو په اساني سره نه ليرې کيږي په داسې صورت کې هريو که ښځه ده او که سړى د جنابت د غسل سره پاکي حاصلولى شي او که نه؟ اسلام ښځې ته د خپل خاوند مخکې د ځان ښايسته کولو اجازت ورکړى دى، ايا د نوکانو رنګ لګول جائز دي؟ که ناجائز وي، نو د داسې ښځې د لمانځه، تلاوت او د خوراک وڅښاک څه حکم دى؟

**جواب:** که د نوکانو د رنګ کلک شوى وي، نو د هغه د ليرې کولو نه پرته اودس او غسل نه کيږي، همدا حکم د نورو شيانو هم دى کوم چې اوبه بدن ته رسيدلو ته نه پرېږدي [۱]

**سوال:** که د خاوند د خوشحالولو له پاره د نوکانورنګ ولګول شي او خاوند په نه لګولو باندې سختي کوي، نو د داسې ښځې څه حکم دى؟ که د اسلامي تعليماتو په رڼا کې د نوکانو رنګ لګول ګناه وي، نو د دې ګناه کولو کې ذمه واري په چا راځي په خاوند يا په ښځه؟ حکومت سره د رسولو ذريعې شته که د هغوى په ذريعه د دې شهرت وشي، نو څنګه به وي؟

**جواب:** که د نوکانو د رنګ له وجې لمونځ ضائع کيږي او د خاوند سره علم وي او بيا يې نه منع کوي، نو ښځه او سړى دواړه ګناهګار دي [۲] که د خاوند د خوشحالولو له پاره د نوکانورنګ ولګوي، نو د اودس کولو نه مخکې دې هغه ليرې کړي او بيا دې اودس کولو نه وروسته لمونځ وکړي که نه لمونځ يې نه کيږي.

## ايا د مصنوعي غاښ او د نوکانو رنګ سره لمونځ صحيح دى؟

**سوال:** ايا د يو مسلمان سړي يا ښځې له پاره د سرو زرو غاښ لګولو سره يا د نوکانو

---

[۱] ] ايضا)۔

[۲] ]وفيه:قطعت شعر رأسها اثمت ولعنت زاد فى البزازية وان ياذن الزوج لانه لاطاعة لمخلوق فى معصية الخالق.(الدر المختار مع الرد المحتار ج:٦ ص:٤٠٧،فصل فى البيع)۔

رنګ لګولو سره غسل کیږي او که نه؟

**جواب:** د مصنوعي غابښونو سره غسل کیږي دهغو د لیرې کولو ضرورت نشته[1] خو د نوکانو رنګ چې لګېدلی وي، نو غسل نه کیږي ترڅو چې هغه لیرې نه کړل شي.[2]

## د ښځو له پاره کوم قسم میک اپ جائز دی

**سوال:** زموږ ښځې په دې خبره باندې بحث کوي چې انسان د خپلې ښکلا له پاره میک اپ کولی شي، پوښتنه داده چې د اسلام په رڼا کې دا خبره د ښځو سره ښایي چې هغه د یوې مسلماني په حیث میک اپ وکړي . په میک اپ کې سرخي پاوډر او د نوکانو رنګ داخل دي؟ آیا په داسې حالت کې د وعظ په محفل کې شرکت کول قرآن لوستل او لمونځ وغیره څنګه دي؟

**جواب:** د ښځې له پاره داسې میک اپ کول چې په هغه کې د الله پاک د فطري تخلیق د بدلولو کوشش وي جائز نه دی، مثلا: خپل فطري او پیدا شویو ویښتو سره د نورو انسانانو ویښته یو ځای کول، خو د انسانانو د ویښتو نه علاوه د نورو مصنوعي ویښتانو لګول جائز دي، له دې پرته که میک آپ د فطري تخلیق نه بدلیږي ،بیا په دې صورت کې جائز دی چې ددې میک اپ سره ښځه د غیر محرمو سړیو مخې ته نه ځي، په دې قسمه میک اپ کې سرخي پاوډر وغیره شامل دي[3] او د نوکانو رنګ نه دې ځان وساتل شي، ځکه چې د نوکانو

---

[1] ]ویجب ای یفرض غسل کل مایکون من البدن بلا حرج مرة........ولا یجب غسل ما فیه حرج کعین.......وعلله بالحرج فسقط الاشکال.وفی الشامیة(قوله فسقط الاشکال)ای ان الاصل وجوب الغسل الا انه سقط للحرج.......(ولا یمنع الطهارة ونیم)ای خرء ذباب وبرغوث لم یصل الماء تحته(وحنا)ولو جرمه،به یفتی(قوله به یفتی)صرح به فی المنیة عن الذخیرة فی مسالة الحناء والطین والدرن معللاً بالضرورة........فلا ظهر التعلیل بالضرورة.(درمختار مع رد المحتار ج:١ ص:ص؛١٥٢تا١٥٤،مطلب فی ابحاث الغسل،وکذا فی الفتاوی العالمگیریة ج:١ ص:٣١ فرائض غسل،طبع رشیدیه)_

[2] ] ولا یمنع الطهارة مع علی ظفر صباغ ولا طعام بین اسنانه او فی سنه المجوف به یفتی،وقیل:ان صلبا منع وهوالاصح.(قوله وهوالاصح)صرح به فی شرح المنیة،وقال:لامتناع نفوذالماءمع عدم الضرورة والحرج.(درمع الردج:١ص:١٥٤،ابحاث الغسل)_

[3] ]عن ابن عمر رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم قال:لعن الله الواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة. متفق علیه.وعن عبدالله بن مسعودقال:لعن الله الواشمات والمستوشمات والمتنمصات والمتفلجات للحسن المغیرات خلق الله...الخ. (مشکوة ص:٣٨١،باب الترجل)وقدفصله اصحابه فقالوا:ان وصلت بشعر آدمی فهوحرام بلاخلاف لانه یحرم الانتفاع بشعرالآدمی وسائراجزائه لکرامته،واماالشعرالطاهرمن غیر الآدمی.....فان لم یکن لهازوج ولاسیدفهوحرام ایضا،وان کان فثلاثة اوجه،اصحهاان فعلته باذن الزوج والسیدجاز. (مرقاة شرح المشکوة ج:٤ ص:٤٦٠،باب الترجل، وایضا درمختار مع ردالمحتار ج:٦ ص:٣٧٢،٣٧٣،کتاب الحظروالاباحة،فصل فی النظروالمس)

رنګ د ليرې کولو نه پرته نه اودس کيږي او نه غسل، د نوکانو رنګ ليرې کول دهر اودس له پاره ګران کار دی او هر کله چې د نوکانو رنګ ليرې کولو نه پرته اودس صحيح نه دی، نو لمونځ هم صحيح نه دی، د نوکانو رنګ د لعنت نه ځان ساتل لازمي دي.

# ❖ په پاکوالي او ناپاکوالي کې تلاوت، دعا او اذکار ❖

## په جنابت او بې اودسي کې د قرآن کريم تلاوت کول

**سوال:** د جنابت په حالت کې يا له اوداسه پرته د قرآن کريم تلاوت کول جائز دي او که نه؟

**جواب:** که يو سړی د جنابت په حالت کې وي، نو نه ورته د قرآن کريم مسح کول جائز دي او نه يې تلاوت او له اوداسه نه پرته لاس وروړل جائز نه دي خو لوستل يې جائز دي.[1]

## د ناپاکوالي په حالت کې د قرآني ايت تعويذ استعمالول

**سوال:** مونږ اوريدلي دي چې سړی کله ناپاک وي، نو د هغه له پاره د قرآني ايت تعويذ په غاړه کې اچول نه دي پکار دا خبر صحيح ده يا غلطه؟

**جواب:** په کوم کاغذ چې ايت ليکل شوی وي، د ناپاکوالي په حالت کې د هغه مسح کول جائز نه دي، خو که په جامه وغيره کې نغښتل شوی وي، نو بيا جائز دي، له دې نه معلومه شوه چې د ناپاکوالي په حالت کې تعويذ اچول جائز دي کله چې هغه په جامه کې نغښتل شوی وي.[2]

## د غسل د لازم والي په وخت د کوموشيانو لوستل جائز دي؟

**سوال:** که غسل لازم وي، نو ايا درود شريف، کلمه طيبه، استغفار وغيره کولی شو؟

**جواب:** په داسې حالت کې د قرآن کريم تلاوت جائز نه دی، ذکر، دعا درودشريف وغيره ټول لوستل جائز دي.[3]

---

[1] ] وفى الجامع الصغيرجنب اخذ.....المصحف بغلافه لاباس به ولاتاخذهابغيرصرة ولاالمصحف بغيرغلاف ولايقرا القرآن...الخ.ولايكره للمحدث قراءة القرآن عن ظهرالقب...الخ. (خلاصة الفتاوى ج:١ص:١٠٤)

[2] ] (وقراءة القرآن)بقصده(ومسه).....الابغلافه المنفصل كمامروكذايمنع(حمله)كلوح وورق فيه آية.(قوله ومسه)اى القرآن ولوفى لوح او درهم اوحائط لكن لايمنع الامن مس المكتوب.(الدرالمختار مع ردمحتار ج:١ص:٢٩٣)۔

[3] ] ولاباس لحائض وجنب بقراءة ادعيةومسهاوحملهاوذكرالله تعالى وتسبيح.(درمختار ج:١ص:٢٩٣)۔

## د قرآني ایتونو او احادیثو والا مضمون مسح کول

**سوال:** د دین اسلام کتابونو او رسالو کې ځای ځای قرآني ایتونه او حدیثونه په کثرت سره لیکل شوي وي، داسې کتابونه او رسالې بې اودسه مسح کول او لوستل څنګه دي؟

**جواب:** جائز دي خو قرآنی ایتونو سره دې لاس نه لګوي[1]

## د پانې والا پان خوړلو سره قرآن کریم لوستل

**سوال:** د پانې والا پان خوړلو نه وروسته د قرآن کریم لوستل جائز دي او که نه؟

**جواب:** لوستلی یې شي، خو دبدبویه شي خوړلو نه وروسته تلاوت کول مکروه دي[2]

## د غسل د فرض کېدو پر مهال د اسم اعظم وظیفه

**سوال:** ایا د غسل د فرض کېدو په صورت کې د اسم اعظم یا دیو سورت ورد کول او یا تلاوت کول جائز دي؟

**جواب:** کله چې غسل فرض وي، نو د قرآن کریم تلاوت جائز نه دی نور اذکار جائز دي[3]

## بې اودسه اود خوراک په وخت کې تلاوت کول

**سوال:** ایا قرآن کریم بې اودسه لوستل جائز دي؟ که د تلاوت په دوران کې اودس وي خو په خولې سره خوراک کوي، نو ایا تلاوت کیږي؟

**جواب:** بې اودسه تلاوت جائز دی[4] قرآن کریم ته دې لاس نه وروړي[5] خوراک سره تلاوت

---

[1] ويحرم به اى بالاكبر(وبالاصغر)مس مصحف،اى مافيه آية كدرهم وجدار(درمختار)قوله اى مافيه آية ...الخ، اى المرادمطلق ماكتب فيه قرآن مجازامن اطلاق اسم الكل على الجزءاومن باب الاطلاق والتقييد قال: ح لكن لايحرم فى غيرالمصحف الاالمكتوب اى موضع الكتابة كذافى الحيض من البحر...الخ. (ردالمحتار ج:١ص:١٧٣)۔

[2] رجل اراد ان يقرأ القرآن فينبغى ان يكون على احسن احواله يلبس صالح ثيابه ويتعمم ويستقبل القبلة لان تعظيم القرآن والفقه واجب (عالمگیری ج٥، ص٣١٦) ایضاً قال فى امداد الفتاح وليس السواك من خصائص الوضوء فانه يستحب فى حالات،منها...قراءةالقرآن.(شامى ج:١ص:١١٤،مطلب فى دلالة المفهوم)

[3] لاتقرا الحائض والجنب شيئامن القرآن ويجوزللجنب والحائض الدعوات وجواب الاذان.(عالمگیری ج:١ص:٣٨)

[4] ذهب الجمهورالى انه يجوزلغيرمتوضئ ان يقرا القرآن ويذكرالله.(بداية المجتهد ج:١ص:٣١)۔

[5] هل هذه الطهارة شرط فى مس المصحف ام لا؟فذهب مالک وابوحنيفة والشافعى الى انهاشرط فى مس المصحف(بداية المجتهد ج:١ص:٣٠).ايضاً:وفى كتاب النبى صلى الله عليه وسلم[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

کول د ادب خلاف دي.[1]

## له اوداسه پرته د قرآن کريم تلاوت کول

**سوال:** تاسو د يو سوال په ځواب کې فرمايلي دي چې قرآن کريم داوداسه نه پرته نشو مسح کولی او قرآن کريم کې کتل هم بې اودسه منع دي.خو له کتلو نه پرته بې اودسه تلاوت کولی شو، د داسې تلاوت ثواب وي؟

**جواب:** بې اودسه قرآن کريم ته لاس وروړل منع دي، تلاوت منع نه دی که لاس ته يو جامه ور واغوستل شي يا په چاقو،قلم وغيره باندې پاڼې اړول کيږي ،نو د کتلو سره يې هم لوستلی شي، د تلاوت ثواب به په دې صورت کې هم وي. په ثواب کې کمی زياتی بيله خبره ده.[2]

## له اوداسه پرته درود شريف لوستلی شو

**سوال:** ...ايا له اوداسه پرته په ګرځېدلو او ناسته پاسته کې د درود شريف وظيفه کولی شو؟ سره له دې چې د الله پاک ذکر، خو په هر حال کې جائز دی ،نو ذکر د حبيب ﷺ هم په هر حال کې جائز کېدل پکار دي. لږ وضاحت وکړئ. ځکه چې ما د خلکو نه اورېدلي دي چې له اوداسه نه پرته درود شريف لوستل نه دي پکار.فرض کړه که د رسول الله ﷺ نوم مبارک راشي اوموږ بې اودسه يو، نو ايا درودشريف به نه وايو؟ حال دا چې د نوم مبارک په اورېدلو باندې خو درود شريف لوستل واجب دي؟

**جواب:** بې اودسه درود شريف لوستل جائز دي او له اوداسه سره نور علی نور دي.[3]

## بې اودسه د الله پاک ذکر کول

**سوال:** ...يو سړی په دفتر کې ناست دی او بالکل يوازې او فارغ دی، کله کله متيازو وغيره ته هم ځی او لاس په صحيح طريقې سره وينځي، خو مکمل اودس د څه وجې په بنا نه کوي، يا يې غفلت وګڼئ، نو په دې حالت کې په فارغ وخت کې ايا هغه د الله پاک ذکر او د

---

...بقيه د تير مخ]... لعمروبن حزم:وان لايمس القرآن الاطاهر. (شرط مختصرالطحاوی ج:١ص:٣٤٥،طبع دارالبشائر،بيروت)۔

[1] رجل اراد ان يقرأ القرآن فينبغی ان يكون علی حسن احواله يلبس صالح ثيابه ويتعمم ويستقبل القبلة لان تعظيم القرآن والفقه واجب،كذافی فتاوی قاضيخان.(عالمگيری ج:٥ص:٣١٦،طبع بلوچستان)۔

[2] المحدث اذاكان يقرأ القرآن بتقليب الاوراق بقلم اوسكين لاباس به كذافی الغرائب.(عالمگيری ج:٥ ص:٣١٧). وايضًا: بالعلاقة اوبغلافة فلاباس به وان كان جنبًالانه غيرماس للقرآن كمالوحمل حملاًوفيه مصحف جازوان كان جنبًا. (شرح مختصرالطحاوی ج:١ص:٣٤٦،كتاب الطهارة)۔

[3] ولاباس لحائض وجنب بقراءة ادعية ومسهاوحملهاوذكرالله تعالی وتسبيح.(درمختارج:١ص:٢٩٣)۔

رسول الله ﷺ ذکر یا د څه بل څه آیت کریمه ورد کولی شي او که نه؟

**جواب:** د الله پاک د ذکر له پاره د اودس شرط نه دی ، بې اودسه تسبیحات لوستل جائز دي[1] او په اودس کې ذکر کول افضل دي.

## په بیت الخلاء کې کلمه په ژبې سره ویل جائز نه دي

**سوال:** په بیت الخلاء کې د استنجاء په وخت کې کلمه طیبه لوستل جائز دي او که نه؟

**جواب:** په بیت الخلاء کې په ژبې سره کلمه طیبه لوستل جائز نه دي.[2]

## په بیت الخلاء کې دې دعا په زړه کې ووايي

**سوال:** که یو سړی په بیت الخلاء کې د داخلېدو نه مخکې دعا او چپه پښه داخلول هیر کړي او دننو تلو سره ورته وریاد شي نو څه وکړي؟

**جواب:** په ژبې سره دې نه وايي په زړه کې دې ووايي.[3]

## د لفظ الله والا امېل (لاکټ) سره لیټرین ته تلل

**سوال:** داسې امېل چې هغه باندې لفظ الله لیکل شوی وي هغه هر وخت په غاړه کې ساتلو سره غسل خانې وغیره ته تلل جائز دي؟ ایا په داسې کولو سره د الله سبحانه وتعالی د نوم بې ادبي نه راځي؟

**جواب:** بیت الخلاء ته د تلو نه مخکې دهغه لیرې کول پکار دي.[4]

## په میدان کې قضاء حاجت کولو نه مخکې دعا کوم ځای ولوستل شي؟

**سوال:** په ښارونو کې بیت الخلاء وي، خو په کلیو کې نه وي ،نو په کلیو کې په فراخه ځای کې قضاء حاجت کولو نه وړاندې دعا لوستل پکار دي او که نه؟

---

[1] ایضاً۔

[2] وسننه.....والبداءة بالتسمية قولا.....قبل الاستنجاءوبعده الاحال انكشاف وفى محل نجاسة فيسمى بقلبه(قوله الاحال الكشاف الخ) الظاهر ان المراد انه يسمى قبل رفع ثيابه ان كان فى غيرالمكان المعد لقضاء الحاجة، والافقبل دخوله، فلونسى فيهاسمى بقلبه ولايحرک لسانه تعظيماًلاسم الله تعالى.(ردالمحتارمع الدرالمختار ج:۱ص:۱۰۹،طبع ايچ ايم سعيدكراچى)۔

[3] اوګورئ تیره شوی حاشیه (وسننه.....والبداءة بالتسمية قولا.....قبل الاستنجاءوبعدالاحال انكشاف وفى محل نجاسة فيسمى بقلبه(قوله الاحال انكشاف الخ) الظاهران المرادانه يسمى قبل رفع ثيابه.....الخ)

[4] ويكره ان يدخل فى الخلاءومعه خاتم عليه اسم الله تعالى اوشيءمن القرآن...الخ(عالمگيرى ج:۱ص:۵۰)

**جواب:** په بيت الخلاء کې د قدم ايښودلو نه مخکې او په ځنګل کې د ستر پرانستلو نه مخکې دعا لوستل پکار دي.[۱]

## د جنابت په حالت کې نوکان اخستل

**سوال:** د جنابت په حالت کې که نوکان واخستل شي، نو ايا تر څو چې هغه دوباره غټيږي نه وروسته وانخستل شي، ترڅو نه پاکيږي؟

**جواب:** د جنابت په حالت کې نوکان اخستل نه دي پکار، خو دا غلطه خبره ده چې ترڅو هغه بيا غټيږي نه وروسته نه وي اخستل شوي انسان نه پاکيږي.[۲]

# ❖ د نجاست او پاکوالي مسائل ❖

..........................................

## د نجاست خفيفه او نجاست غليظه تعريف

**سوال:** ما د مشرانو نه اوريدلي دي چې د بدن درې برخې ناپاکې وي او يوه برخه پاکه وي، نو هم لمونځ قبليږي ايا دا خبره صحيح ده؟

**جواب:** نه! په مسئله باندې خپله پوهيدلو او بل ته ښودولو کې غلطي شوې ده، اصل کې دلته دوه مسئلې ځانته ځانته دي:

**يوه دا چې** جامې ته نجاست ورسيږي ،نو تر کوم حده پورې معاف دی؟ ددې ځواب دا دی چې د نجاست دوه قسمونه دي:

**نجاست غليظه**.....مثلا د انسان غټ بول، متيازې، شراب، وينه د ځناورو سوټه او د حرام ځناور متيازې وغيره دا ټول چې کله بهيدونکي وي، نو د يو درهم په اندازه معاف دی او که ټينګ وي ،نو د پنځه ماسې وزن برابر معاف دي که ددې نه زيات وي، نو لمونځ نه کيږي.[۳]

---

[۱] ويستحب له عندالخول فى الخلاءان يقول:اللهم انى اعوذبک من الخبث والخبائث ويقدم رجله اليسرى وعند الخروج يقدم اليمنى...الخ.(عالمگيرى ج:۱ص:۵۰).فى الدرالمختار:قبل الاستنجاءوبعده الاحال انكشاف.قوله.الاحال الكشاف الظاهران المرادانه يسمى قبل رفع ثيابه ان كان فى غيرالمكان المعدلقضاءالحاجة والا فقبل دخوله فلونسى فيهما سمى بقلبه ولايحرک لسانه تعظماً لاسم الله تعالى.(الدرالمختارمع الردالمحتارج:۱ص:۱۰۹)_

[۲] حلق الشعرحالة الجنابة مكروه وكذاقص الاظافيركذافى الغرائب.(عالمگيرى ج:۵ص:۳۵۸)_

[۳] ومن اصابه من النجاسة المغلظة كالدم والبول من غيرماكول اللحم ولومن صغيرلم يطعم والغائط والخمر..... مقدارالدرهم فمادونه جازت الصلاةمعه،لان القليل لايمكن التحرزعنه فيجعل عفواً...ثم يروى اعتبار الدرهم من حيث المساحة، وهوقدرعرض الكف فى الصحيح....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

**نجاست خفيفه**......مثلاً(د حلال څناور متيازې) د جامې څلورمې برخې پورې معاف دى، دجامې دڅلورمې برخې نه مراد د جامې هغه برخه ده چې په کومه نجاست لګېدلى وي مثلاً لستونى به څانته شميرل کيږي، لمن به څانته شميرل کيږي او د معاف کيدو مطلب دا دى چې که هم په دې حالت کې يې لمونځ وکړ، نو لمونځ به وشي دوباره د راګرځولو ضرورت نشته[1] خو ددې نجاست ليرې کول او پاکول په هر حال کې ضروري دي.[2]

**دويمه مسئله** داده که د چا سره پاکه جامه نه وي او د ناپاکه جامې د پاکولو هم څه صورت نه وي. نو ايا دهمدې ناپاکه جامې سره لمونځ کول پکار دي اوکه جامه وېستلو سره لمونځ وکړي؟ ددې درې صورتونه دي:

اول دا چې هغه جامه څلورمه برخه پاکه ده او ۴/۳ درې برخې ناپاکه ده په دې صورت کې په همدې جامه کې لمونځ کول ضروري دي، په لوڅ حالت کې د لمونځ کولو اجازت نشته.

دويم صورت دا دى چې جامه د څلورمې برخې نه کمه پاکه وي په دې صورت کې اختيار دى که په دې جامه کې لمونځ کوي يا جامه ليرې کولو سره په ناسته د رکوع او سجدې په اشاره سره لمونځ کوي.

دريم صورت دا دى چې جامه ټوله ناپاکه وي، نو په دې صورت کې د ې دناپاکه جامې سره لمونځ نه کوي، بلکې جامه وېستلو سره دې لمونځ وکړي، خو لوڅ سړي ته په ناسته د لمونځ کولو حکم دى د رکوع اوسجدې په ځاى دې اشارې سره لمونځ کوي چې تر څو ممکن وي عورت بايد پټ کړل شي[3].

---

...بقيه د تير مخ]... ويروى من حيث الوزن، وهوالدرهم الكبيرالمثقال، وقيل فى التوفيق بينهما: ان الاولى فى الرقيق، والثانية فى الكثيف، وفى الينابيع: وهذا القول اصح. (اللباب فى شرح الكتاب ص:٦٨، فصل فى النجاسة المغلظة، طبع قديمى، درمختار ج:١ص:٣١٨)۔

[1] ]وان اصابه نجاسة مخففة كبول مايوكل لحمه....جازت الصلاة معه مالم يبلغ ربع جميع الثوب.....وقيل ربع الموضع الذى اصابه كالذيل والكم والدخريص.....وفى الحقائق: وعليه الفتوى. (اللباب فى شرح الكتاب ص:٦٨، ٦٩، ايضاً: درمختار ج:١ص: ٣٢١، ٣٢٢)۔

[2] ] المصلى اذارای على ثوبه نجاسة هى اقل من قدرالدرهم ان كان فى الوقت سعة فالافضل ان يغسل الثوب ويستقبل الصلاة وان كان تفوته الصلاة بجماعة ويجدفى موضع آخرفكذالک وان خاف ان لايجدالجماعة اويفوته الوقت مضى على صلاته، كذافى الذخيرة. (عالمگيرى ج:١ص: ٦٠، كتاب الصلاة، الفصل الثانى)۔

[3] ]وصلاته فى ثوب نجس الكل احب من صلاته عرياناً. (حاشية الطحطاوى على المراقى ص: ١٣٠). ولوكان مملوا من الدم اوالطاهردون الربع يخيربين ان يصلى عرياناً. (خلاصة الفتاوى ص:٧٨، البحرالرائق ج:١ ص:٢٨٩). وجدثوبا باربعه طاهر و صلى عاريا لم يجز وان كان اقل من ربعه طاهرا وكله نجسا خير بين ان يصلى عاريا قاعداً بايماء وبين ان يصلى فيه قائماً بركوع وسجود وهو افضل كذا فى الكافى. (عالمگيرى ج:١ص: ٦٠، كتاب الصلاة)

الغرض تاسو چې کومه مسئله د مشرانو نه اورېدلې ده هغه داده چې د يو سړي سره پاکه جامه نه وي بلکې يوازې داسې جامه وي چې دهغې درې برخې ناپاکه وي او يوه برخه يې پاکه وي، نو هم په دې جامه کې لمونځ کول ضروري دي.

## له څومره نجاست سره لمونځ جائز دی؟

**سوال:** ...که د ګنده اوبو څاڅکي ولګيږي ،نو وينځل يې پکار دي. خو يو صاحب فرمايي چې د يوې روپۍ د سکې هومره ګول مقدار نه دي وينځل پکار .که ددې نه لوی وي نو وينځل يې پکار دي، ځواب راکولو سره مو مشکور کړئ!

**جواب:** تاسو ته په مسئله پوهېدلو کې غلطي شوې ده. مسئله داده که جامې ته د ګنده اوبو يا د څه بل نجاست څاڅکي لګېدلي وي او په بې پامۍ کې يې لمونځ وکړ، نو دا به ګورو چې که د روپۍ د ګول سکې هومره نښه وه يا ددې نه هم کمه وه. نو لمونځ وشو د هغه د راګرځولو ضرورت نشته او که ددې نه زيات و، نو لمونځ نه دی شوی،دوباره به راګرځول کيږي. دا مطلب نه دی چې که نجاست لږ وي نو وينځل يې نه دي پکار.[1]

## د ډير وخته پورې د څاڅکو د راتلو د پاکوالي طريقه

**سوال:** نن سبا د جديد دورپه وجه ليټرين کې د فراغت نه وروسته د اوبو استعمال کيږي او بيا اودس کيږي، خوکله چې متيازې په يو پراخه ځای کې کيږي اوداستنجاء له پاره لوټې استعماليږي ،نو د کافي وخته پورې د متيازو څاڅکي راځي،نو ايا بيا به په اوبو سره استنجاء کول او اودس کول کافی وي،حال دا چې قوي ګمان دی چې د متيازو څاڅکي به وروسته هم راغلي وي؟

**جواب:** ...د کوم سړي چې دا مرض وي چې د ډير وخته پورې د هغه نه څاڅکي ځي د هغه له پاره د اوبو د استعمال نه مخکې په لوټې سره صفايي کول لازم دي کله چې اطمينان اوشي، نو بيا دې په اوبو سره استنجاء وکړي.[2]

## هوا سره که نجاست اووځي، نو د اودس نه مخکې دې استنجاء وکړي

**سوال:** په لمانځه کې که هوا خارجه شي، نو له طهارت نه پرته دويم اودس کولو سره لمونځ

---

[1] النجاسة ان كانت غليظة وهى اكثرمن قدرالدرهم فغسلها فريضة والصلاة بهاباطلة،وان كانت مقداردرهم فغسلها واجب والصلوة معهاجائزة.(عالمگیری،الباب الثالث فى شروط الصلوة ج:۱ص:۵۸)_

[2] فى الدرالمختار:يجب الاستبراءبمشى اوتنحنح اونوم على شقه الايسرويختلف بطباع الناس.قوله يجب الاستبراءالخ هو طلب البراة من الخارج بشىءمماذكره الشارح حتى يستيقن بزوال الاثر.....امانفس الاستبراءحتى يطمئن قلبه بزوال الرشح فهوفرض وهو المراد بالوجوب ولذا قال الشرنبلالى:يلزم الرجل الاستبراءحتى يزول اثرالبول ويطمئن قلبه.(الدرالمختارمع ردالمحتار ج:۱ص:۳۴۴،۳۴۵)_

جائز دی، که د لمانځه د حالت نه پرته هوا اووځي، نو ايا طهارت واجب دی يا يوازې اودس کولو سره لمونځ کول پکار دي طهارت دې نه کوي؟

**جواب:** په هوا وتلو سره يوازې اودس لازميږي، خو که د هوا سره نجاست وتلی وي، نو استنجاء کول پکار دي.[1]

## د ويده کېدو نه وروسته لاس وينځل

**سوال:** ما په بهشتي زيور(جنتی کالي)کې لوستلي و چې سړی کله د ويده کېدو نه وروسته سحر راپورته شي، نود هغه لاسونه ناپاک وي او هغه له پاره د لاس پاکولو نه پرته هيڅ لوند شي نيول نه دي پکار، پوښتنه داده چې که د سړي لاس په خولې سره لوند وي يا هغه په خوب کې يا په بې هوشۍ کې د بدن داسې برخې ته لاس يوسي چې په خولې سره لوند وي، نو په داسې صورت کې به هم د هغه بدن او لاس ناپاک وي؟ محترمه! په ما باندې خوله ډېره زياته راځي او خاص طور سره په ويده کيدو کې په يو ډډه ملاسته کې هغه اړخ لوند شي اوس زه چې په خپلو لاسونو چې په خولې سره لوانده وي مخ هم ګروم اوڅادرهم صحيح کوم غرض داچې بدن ، جامواوبسترې له لاس وړم؟

**جواب:** تاسو چې د بهشتي زيور(جنتي کالی) د کومې مسئلې حواله ورکړې ده هغه داده:

**مسئله**.......کله چې يو سړی د ويده کېدو نه بيدار شي، نو ترڅو چې د مړوندونو پورې لاس ونه وينځي تر هغو دې لاس په اوبو کې نه وهي، که لاس پاک وي او که ناپاک وي.....[2]

تاسو د بهشتي زيور په حواله ورکولو کې دوه غلطۍ کړې دي:

**يوه غلطي** داچې کله سړی د ويده کېدو نه وروسته راپورته شي ،نو د هغه لاسونه ناپاکه وي،حال دا چې د بهشتي زيور پورته ذکر شوې مسئله کې د خوب نه د پورته کېدونکي لاسونو ته ناپاکه نه دي ويل شوي.

**دويمه غلطي** داده چې د لاس د پاکولو نه پرته يو شی نيول نه دي پکار حال دا چې په بهشتی زيور کې په ذکر شوې مسئلې کې دا ليکلي دي چې که لاس پاک وي که ناپاک، د اوبو په لوښې کې يې اچول نه دي پکار نه دا چې هيڅ شی نيول نه دي پکار.

د ويده کېدو نه مخکې که بدن پاک وي او په خوب کې د جنابت له وجې نه نه وي ناپاکه شوی، نو په خولې راتلو سره نه بدن ناپاکه کيږي او نه د ويده کېدونکي لاس ،خو له خوبه

---

[1] فلايسن (اى الاستنجاء)من ريح.....ولان بخروج الريح لايكون على السبيل شيء ولايسن منه بل هوبدعته (شامى ج:١ ص: ٣٣، البحر الرائق ج:١ ص:٢٥٢)ـ

[2] بهشتى زيور ص:١١١، حصه دوم، باب دوم استنجى كا بيان ص:٧، طبع مكتبة العلم)ـ

دپورته کېدو وروسته ترڅو چې لاس ونه وینځل شي .داوبو په لوښي کې يې دننه کول نه دي پکار.[1]

## د اودس د اوبو څاڅکي ناپاکه نه دي

**سوال:** موږ اودس نه وروسته جومات ته داخليږو .نو په فرش باندې د اودس د اوبو څاڅکي پرېوځي په دې سره انسان ګناه ګاريږي؟او ايا دا خبره صحيح ده چې دلمانځه په ځاى دې د اودس څاڅکي نه غورځيږي؟

**جواب:** .نه ؛ دا مسئله صحيح نه ده.د اودس څاڅکي ناپاکه نه دي.[2]

## د اودس په څاڅکو سره حوض نه ناپاکه کيږي

**سوال:** دځينو خلکو نه مو اورېدلي دي چې داودس داوبو څاڅکو نه ځان ساتل پکار دي ځکه چې غورځېدونکې اوبه ناپاکه وي سره له دې چې په ډيرو جوماتونو کې حوضونه وي د اودس کولو په وخت د اودس اوبه په حوض کې غورځيږي په دې صورت کې اوبه ناپاکه کيږي او که نه؟

**جواب:** ..د حوض نه په اودس کولو کې احتياط کول پکار دي چې څاڅکي په حوض کې ونه غورځيږي، خو په دې څاڅکو سره حوض نه ناپاکه کيږي.[3]

## په زکام کې د پوزې نه وتونکې اوبه پاکې دي

**سوال:** ...د نزلې او زکام په وجه چې کومې اوبه د پوزې نه اوځي هغه پاکې دي که ناپاکې؟ که پاکې دي. نو د کوم دليل لاندې؟ او که ناپاکې دي. نو څه دليل دی؟

**جواب:** د نزلې او زکام په وجه چې کومې اوبه د پوزې نه بهيږي هغه نجې او ناپاکې نه دي،ځکه چې هغه نه دڅه زخم نه وتلي دي اونه په څه زخم باندې تيريږي،هم داوجه ده چې په دې باندې اودس نه ماتيږي.[4]

---

[1] وسنن الطهارة غسل اليدين قبل ادخالهما الاناء،اذااستيقظ المتوضئ من نومه لقوله عليه السلام:اذااستيقظ احدكم من منامه فلايغمسن يده فى الاناءحتى يغسلهاثلاثاًفانه لايدرى اين باتت يده.(هداية ج:۱ص:۳كتاب الطهارة).وعن ابى هريرة رضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم قال:اذا استيقظ احدكم من منامه فلايغمس يده فى الاناءحتى يغسلها ثلاثاً فانه لايدرى اينت باتت يده.(مسلم ج:۱ص:۱۳٦سنن ابى داودج:۱ص:۱۵)_

[2] وروى محمدعن ابى حنيفة انه طاهرغيرمطهرللاحداث كالخل واللبن وهذاهوالصحيح،وبه اخذمشائخ العراق وسواءفى ذلک كان المتوضئ طاهراً اومحدثاًفى كونه مستعملاً.(الجوهرةالنيرة ص:۱۵،طبع دهلى)_

[3] جنب اغتسل فانتضح من غسله شيءفى انائه لم يفسدعليه الماء.....وكذاحوض الحمام...الخ.(خلاصة الفتاوى ج:۱ص:۸)_

[4] ولونزل من الراس فطاهراتفاقاً،وفى التجنيس:انه طاهر كيفماكان وعليه الفتوٰى (البحرالرائق ج۱ ص۳۷)

## د پيو (شيدو) رودونکي ماشوم متيازې ناپاکې دي

**سوال:** د پيو (شيدو) رودونکي ماشوم که په جامو متيازې وکړي، نو هغه جامې وينځل پکار دي که يوازې به په اوبو توبولو سره پاکې شي؟

**جواب:** د ماشوم متيازې ناپاکې دي په دې وجه د جامو وينځل ضروري دي او د پاکولو له پاره دومره کافي ده چې د متيازو په ځای دومره اوبه واچول شي چې په دومره اوبو سره هغه جامه درې ځله لنده شي.[۱]

## ماشوم چې په کوم شي متيازې وکړي هغه پاکېدلی شي؟

**سوال:** که دخاورې په لوښي باندې ماشوم متيازې وکړي، نوايا هغه لوښی ضائع کول پکار دي او که نه؟ اکثر دا کتل کيږي چې معمولي غذا باندې ماشوم متيازې وکړي، نوخلک هغه ضائع کړي، خو که خوراک قيمتي وي، نو په وينځلو سره يې وخوري، سره له دې چې متيازې به لازمي دخوراک ښخ پورې تللې وي په داسې موقع باندې څه حکم دی؟

**جواب:** د خاورې لوښی په درې ځله وينځلو سره پاکيږي يعنې چې داسې يې ووينځي چې هرځل د اوبو څڅېدل بند شي[۲] او په کومو خوړوکې چې ماشوم متيازې وکړي دهغو خوراک صحيح نه دی، خو داسې ځای کې ايښودل يې پکاردي چې څه څناور په خپله راشي او هغه وخوري.

## په يو مشين باندې د غير مسلمو د جامو سره جامې وينځل

**سوال:** د جامو وينځلو مشين مشترکه طور سره د کمپنۍ د طرفه ملاو شوی دی چې په هغه باندې اکثر غير مسلم جامې وينځي، که په څه وخت کې يو مسلمان هم په دې باندې جامې وينځي نو ايا د مسلمانانو له پاره په دې جامو کې لمونځ کول جائز دي؟

---

[۱] امالوغسل فی غديراوصب عليه ماءکثيراوجری عليه الماءطهرمطلقاًبلاشرط عصروتجفيف وتکرارغمس هوالمختار.(درمختارج:١ص:٣٣٣).وفی الشامية:وان المعتبرغلبة الظن فی تطهيرغيرالمرئيةبلاعددعلی المفتی به...الخ.(ردالمحتارج:١ص:٣٣٣،مطلب فی حکم الوشم)۔

[۲] وقدربتثليث جفاف ای انقطاع تقاطرفی غيره ای غيرمنعصرممايتشرب النجاسة...الخ.(قوله وممايتشرب النجاسة)حاصله کمافی البدائع:ان المتنجس امالن لايتشرب فيه اجزاءالنجاسة اصلاًکالاوانی المتخذة من الحجر والنحاس والخزف العتيق،اويتشرب......ففی الاول طهارة بزوال عين النجاسة المرئية اوبالعددعلی مامر.....الخ. (ردالمحتارمع الدرالمختارج:١ص:٣٣٢،کتاب الطهارة،مطلب فی حکم الوشم،ايضاً:عالمگيری ج:١ص:٤٢)۔

**جواب:** د غیر مسلمو په جامو وینځلو سره خو هیڅ نه کیږي.تاسو کله چې جامې وینځئ ،نو هغه درې ځله په اوبو کې وهلو سره ښې نچوړ کوئ پاکې به شي.[1]

## د ډرائي کلینر (د جامو وینځلو مشین) با ندې د وینځل شویو جامو حکم

**سوال:** دلته چې د ګرمو جامو د وینځلو چې کوم دکانونه او کارخانې دي چې هغو ته ډرایي کلینر (دوبي) وایي چې هغه جامې وینځي،په هغو کې د پیټرولو په شان بهېدونکې ماده اچول کیږي چې هغه جامې وینځي،هغه ماده یو ځل نه وي بارباره هم هغې لره صفا کولو نه وروسته دوباره استعمالولی شي یو دوه هفتې وروسته نوي اچول کیږي،په همدې موده کې لس لس ځله په دې مشین کې جامې اچول کیږي،اوس پوښتنه داده چې په دې طریقه به وینځل شوې جامې پاکې وي که ناپاکې؟ چونکه په دې کې هر قسمه جامې پاکې او ناپاکې ټولې اچول کیږي او دا مشینان کله هم په اوبو نه وینځل کیږي.په دې وجه دا شک راځي چې په دې کې به وینځل شوې ټولې جامې ناپاکې وي،خو د یقین په درجه کې معلومه نه ده چې په دې کې به ناپاکې جامې هم اچول شوې وي؟ جواب په تفصیل سره ولیکئ چې دلته دا مسئله د بحث موضوع جوړه شوې ده.

**جواب:** دا خو ظاهره ده چې په دې مشینانو کې کومې جامې اچول کیږي په هغو کې ډیرې ناپاکې هم وي.پاکې او ناپاکې چې سره یوځای شي ټولې به ناپاکې شي.او لکه څنګه چې معلومه ده چې د ناپاکو جامو د پاکولو له پاره شرط دادی چې درې ځله په اوبو کې واچول شي اوهرځل ښې نچوړ شي[2] په ډرائي کلینر دکانونو کې په دې تدبیر باندې عمل نه کیږي ،په دې وجه د هغه ځای وینځل شوې جامې پاکې نه دي،که هلته د وینځلو ضرورت راشي نو هغه دې په خپله پاکې کړي.

دا خو په هغه صورت کې دي چې د دې کار غالب ګمان وي چې په مشین کې پاکې او ناپاکې جامې ټولې اچول شوي دي،او که د ناپاکو جامو د اچولو غالب ګمان نه وي بلکې یوازې شک او تردد وي، نو بیا حکم دا دی چې په کوم حالت کې تا جامه ورکړې وه په هماغه حالت کې به وي یعنې که پاکه جامه دې ورکړې وه ،نو پاکه به وي او که ناپاکه یې

---

[1] الثوب اذاتنجس وجب غسله ثلاث مرات...الخ.(عالمگیری ج:١ص:١٤٣).ایضاً: ان المتنجس امااان لایتشرب فیه اجزاءالنجاسة اصلاً......اویتشرب فیه قلیلاًکالبدن والخف والنعل اویتشرب کثیراً...... واما الثالث، فان کان مما یمکن عصرکالثیاب فطهارته بالغسل والعصرالی زوال المرئیة وفی غیرها بتثلیثهما...الخ. (فتاوی شامی ج:١ص:٣٣٢)۔

[2] اوگورئ تیره شوی حاشیه ( الثوب اذاتنجس وجب غسله ثلاث مرات...الخ.(عالمگیری ج:١ ص:١٤٣). ایضا: ان المتنجس امااان لایتشرب فیه اجزاء النجاسة اصلاً......اویتشرب فیه قلیلاًکالبدن والخف والنعل اویتشرب کثیراً......الخ(فتاوی شامي ج:١ص:٣٣٢)۔

ورکړي وه نو ناپاکه به وي.[1]

## آیا په واشنګ مشین سره وینځل شوې جامې پاکې وي؟

**سوال:** ایا په واشنګ مشین سره وینځل شوې ناپاکې جامې پاکیږي؟ او ایا په دې سره لمونځ کیږي؟

**جواب:** د جامو وینځلو مشین کې د صابون په اوبو کې جامې وینځل کیږي او بیا ددې اوبو په ویستلو سره نوې اوبه اچول کیږي او دا عمل بار بار کیږي تر دې چې د جامو نه صابون اوځي په دې وجه د جامو وینځلو په مشین کې وینځل شوې جامې پاکې دي.[2]

## د دهوبي وینځل شوې جامې پاکې دي

**سوال:** ..دهوبي زمونږ جامې او جای نماز هم وینځي مونږ ته نه ده معلومه چې هغه یې پاک وینځي یا ناپاک؟ ایا وینځل شوې جامواو جای نماز باندې درې ځله بسم الله ویل او درې ځله څنډلو سره پاکیږي؟ یا ددې د وینځلو نه وروسته پخپله ددې وینځل پکار دي؟

**جواب:** ..د دهوبي له لوري وینځل شوې جامې پاکې دي.[3]

## ناپاکه جامه یوځل وینځلو نه وروسته په تناب باندې اچولو سره تناب هم ناپاکه کوي

**سوال:** که ناپاکه جامې یوازې یوځل نچوړ شي او په تناب باندې واچول شي، نو ایا دغه تناب وغیره ناپاکه کیږي؟

**جواب:** پورته جواب ذکر شوی دی چې که ناپاکه شی لوند وي، نو په کوم شي چې کیښودلای شي هغه هم ناپاکه کوي،داد وهم خبره نه ده،بلکې دپاکي مسئله ده ددې وجې نه پاکول یې ضروري دي.[4]

---

[1] القاعدة الثالثة: اليقين لايزول بالشک.....يندرج فى هذه القاعدة قواعدة، منها:قولهم:الاصل بقاءماكان على ماكان،وتتفرع عليهامسائل،منها:من تيقن الطهارة وشک فى الحدث فهومتطهر،ومن تيقن الحدث وشک فى الطهارة فهو محدث...الخ.(الاشباه والنظائرج:١ص:٨٤تا٨٧،طبع ادارةالقرآن كراچى)۔

[2] ثوب نجس غسل فى ثلاث جفان اوفى واحدة ثلاثاًوعصرفى كل مرة طهرلجريان العادة بالغسل هكذا...الخ.(عالمگيرى ج١ ص٤٢) ايضاً اما لوغسل فى غدير او صب عليه ماءً كثيراً او جرى عليه ماء طهر مطلقاً بلا شرط عصر وتجفيف وتكرارغمس هوالمختار...الخ.(درمختارج:١ص:٣٣٣)۔

[3] ايضاً)۔

[4] ان وضع رجله جافة على بساط نجس رطب ان ابتلت تنجست.(عالمگيرى ج:١ص:٤٧،كتاب الطهارة).

## ایا ناپاکه شی نچوړول ضروري دي؟

**سوال:** ایادا صحیح خبره ده چې ناپاکه شی د نچوړولو نه پرته زیاتو اوبو باندې وینځلو سره پاکیږي؟

**جواب:** صحیح ده. والله اعلم.[1]

## په تیلو کې چې مږه پریوځي نو د پاکولو طریقه یې

**سوال:** د شپې تقریباً ۱۵ کلو تیلو کې مږه پریوتله او مړه شوه. سحر ولیدل شوه. دا تیل په څه صورت کې پاکېدای شي او که نه؟ یا څه ځناور لپاره په خوراک کې استعمالېدای شي او که نه؟

**جواب:** دا تېل پاکیږي او طریقه یې دا ده چې د تیلو برابر یاددې نه زیات مقدار کې په کې اوبه واچول شي او په اور باندې کېښودل شي. تردې چې اوبه وسوځي او یوازې تېل باقي پاتې شي. همدا عمل چې درې ځله وکړل شي. نو تیل به پاک شي.[2]

## د اوسپنې شیانو باندې ګندګي ولګیږي نو څنګه به پاکیږي؟

**سوال:** د اوسپنې یا د اوسپنې د قسم نور شیان دروازې، کړکیانې. غرض دا چې د اوسپنې نه جوړ شوي څومره شیان هم دي. چې رنګ شوي وي هغه هم او چې رنګ شوي نه وي هغه هم، که په دې باندې ګندګي ولګیږي. نو جامې باندې یا لاس باندې ګړولو سره به پاک شي او که نه؟ دغه شان د لرګي او د پلاسټک شیان؟

**جواب:** یوازې په مږلو سره نه پاکیږي. خو که لمده جامه پرې څو څو ځله ومږل شي او هرځل جامه پاکولای شي. نو بیا به پاک شي.[3]

## د پلاسټک لوښي هم وینځلو سره پاکیږي

**سوال:** تاسو ته معلومه ده چې په کراچۍ کې په کثرت سره د پلاسټک لوښي جوړیږي او استعمالیږي. موږ دا اوریدلي دي چې کله پلاسټک نجس شي(یعني یو نجس څاڅکی پکې پریوځي)نو بیا نه شي پاکېدلی. سره له دې چې په ټولو کورونو کې د پلاسټک لوښي او په

---

[1] امالوغسل فی غدیراوصب علیه ماءکثیراوجری علیه الماءطهرمطلقابلاشرط عصروتجفیف وتکرار غمس، هوالمختار.(درمختار ج:١ص:٣٣٣).

[2] الدهن النجس یغسل ثلاثابان یلقی فی الخابیة ثم یصب فیه مثله ماءویحرک ثم. یترک حتی یعلوالدهن فیوخذویثقب اسفل الخابیة حتی یخرج الماءهکذاثلاثافیطهر.(عالمگیری ج:١ص:٤٢).

[3] اذاتنجس مالاینعصربان موه السکین بماءنجس......یموه السکین بالماءالطاهر ثلثا.(عالمگیری ج:١ص:٤٢،الباب السابع فی نجاسة الاحکام،کتاب الطهارة).

تولو غسل خانو کې د پلاسټک بالټې، کپونه او لوټې وغیره استعمالیږي او په غسل خانه کې تاسو ته پته ده چې څاڅکي وغیره ضرور پریوځي.

**جواب:** دا دکوم عقلمند وینا ده چې د پلاسټک لوښي نه پاکیږي؟ څنګه چې نور لوښي په وینځلو سره پاکیږي همدغه شان د پلاسټک لوښي هم وینځلو سره پاکیږي.

## د لوښي د پاکولو طریقه

**سوال:** که کچه لوښي (منګی) وغیره ناپاک شي یا پاخه لوښي (دیګی یا بالټی) وغیره ناپاک شي، نو څنګه یې پاک کړو؟

**جواب:** لوښی که پوخ وي که کچه په درې ځله وینځلو سره پاکیږي.[1]

## په ګنډګي کې د غورځېدلي ساعت (ګړۍ) د پاکولو طریقه

**سوال:** زما د لاس ګړۍ قیمتي واټر پروپ د شپې نهه بجې په فلش (د غټو بولو په ځای) کې وغورځېدله دقیمتی کیدو په وجه ډېر زیات پریشان او فکرمند شوم سهارنهه بجې جمعدار د فلش نه ګړۍ راویستله، یعنې د دولسو ګینټو نه وروسته ګړۍ راویستل شوه، هغه وخت هم هغه په ښه صحیح وخت باندې چلېدله. پوښتنه دا ده چې ددې په وینځلو سره استعمالول روا دی اویا ددې د پاکولو صحیح طریقه څه ده؟ ددې په لاس باندې تړلو سره لمونځ او تلاوت کولی شو؟

**جواب:** که تسلي وي چې اوبه په دې کې دننه نه دي تللي، نو یوځې د پورته نه وینځل کافي دي که نه پرانستلو سره دې ووینځل شي او د اوبو په ځای په پټرولو باندې پاکول هم صحیح دي.[2]

## د مالوچو او د فوم د ګدی د پاکولو طریقه

**سوال:** د فوم او د مالوچو ګدی څنګه پاکه کړو؟ که د بسترې په طور استعمالولو سره هغه ناپاکه شي، ځکه چې عموما واړه ماشومان په هغې متیازي کوي.

**جواب:** داسې شی چې دهغه نچوړ کول (نښېځل) ناممکن وي دهغه د پاکولو طریقه داده چې هغه دې وینځلو نه وروسته کېښودل شي تردې چې دهغه څاڅکي غورځېدل بند شي، په دې طریقه دې درې ځله ووینځل شي.[3]

---

[1] ] الخذف الحدید والآجر الجدید والحصیر المتخذمن الخلفاء اذاتنجس یغسل ثلاثاً ویجفف علی اثر کل مرة وان کان الخذف قدیماًمستعملاًیکفیه الغسل ثلاثاً.(فتاوی سراجیة ص:٦)وایضاً:وان کانت غیرمرئیة فطهارته بالغسل ثلاثاًوالعصرفی کل مرة...الخ.(البدائع الصنائع ج:١ص:٨٨)۔

[2] ] یجوزتطهیر النجاسة بالماءولکل مائع طاهریمکن ازالتهابه......الخ.(عالمگیریة ج:١ص:٤١)۔

[3] ] قوله(والا)وان لم یمکن العصر کالحصیرونحوه فیطهربالتجفیف ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

## قالینه او د فوم ګدې به څنګه پاکیږي؟

**سوال:** ایا قالینه وغیره مثلاً. مالوچ.دفوم ګدې وغیره یواځې درې ځله ووینځل شي او قطرې (اوبه) ترینه ونه وبستل شي. نو پاک به شي؟

**جواب:** قالینه، فوم یا داسې ګدې چې د هغه نچوړول مشکل وي دهغه د پاکولو طریقه دا ده چې یو ځل وینځلو نه وروسته کیښودلای شي. چې کله ترینه اوبه ووځي. نودوهم ځل دې ووینځل شي.بیاهم دغه شان دریم ځل او که دنلکی لاندې کیښودلای شي او دومره ووینځل شي چې انسان ته اطمینان حاصل شي چې نجاست به ترینه ختم شوی وي،نوبیا هم پاکیږي.[1]

## ناپاکه کیږې په لمر وچولو سره نه پاکیږي

**سوال:** ویل کیږي چې نوې یا زړې کپړې د حیض په ورځو کې د استعمال نه وروسته په لمر وچولو سره هم پاکیږي ایا داخبره صحیح ده؟

**جواب:** که ناپاکې شوي وي، نو په لمر وچولو سره هغه نه پاکیږي،که نه ضرورت نشته،ځکه چې د حیض په ورځو کې اغوستونکې کپړې نه ناپاکه کیږي، دهغه کپړې نه پرته په کومې چې نجاست لګیدلی وي.

## په لاس باندې چې ښکاره نجاست نه وي نولوښی نه ناپاکه کیږي

**سوال:** په کوم سړي چې غسل واجب وي که هغه د نجاست ځای او لاس وغیره په صابون سره ښه ووینځي اوله هغه نه وروسته که لاس په یو لوښي کې ووهي یا-په یو لوښي کې ډوډۍ وخوري. نو هغه لوښی ناپاکه کیږي اوکه نه؟

**جواب:** کله چې د هغه په لاس ښکاره نجاست نه وي، نو لوښی به ولې ناپاکه کیږي.[2]

---

...بقیه د تیر مخ]...کل مرةحتی ینقطع التقاطرولایشترط الیبس...الخ. (مجمع الانھرملتقی الابحرج:۱ ص:۶۰)، عالمگیریة ج:۱ص:۴۲،ومالاینعصریطھربالغسل ثلاث مرات...الخ. ایضا: وقدر بتثلیث جفاف ای انقطاع تقاطرفی غیره ای غیرمنعصرممایتشرب النجاسة.(قوله ای فی غیرمنعصر)ای بان تعذر عصر کالخزف اوتعسر کالبساط.(ردالمحتارمع الدرالمختارج:۱ص:۳۳۲)۔

[1] ]وما لاینعصر یطھر بالغسل ثلاث مرات والتجفیف فی کل مرة.(عالمگیریة ج:۱ص:۴۲).(قوله والا)وان لم یمکن العصر کالحصیرونحوھا فیطھربالتجفیف کل مرة حتی ینقطع التقاطرولایشترط الیبس...الخ.(مجمع الانھروملتقی الابحرج:۱ص:۶۰).

[2] ]ولااکله ومشربه بعدغسل یدوفم (درمختار)(قوله:بعدغسل یدوفم)اماقبله فلاینبغی لانه یصیر شار بالماء المستعمل وھومکروه تنزیھاویده لاتخلوعن النجاسة فینبغی غسلھاثم یاکل.(درمختارمع الشامی ج:۱ص:۱۷۵)

## په ناپاکه ځاځکو باندې جامې ناپاکه کیږي

**سوال:** که پاکې جامې اغوستلو سره ناپاکې جامې ووینځل شي. نو ایا د ناپاکو جامو د ځاځکو سره به پاکې جامې هم ناپاکې کیږي؟

**جواب:** د ناپاکو ځاځکو سره به جامې ضرور ناپاکه کیږي.[۱]

## د ناپاکه جامو ځاځکي ناپاک دي

**سوال:** د جامو وینځلو په وخت کې په موږ ځاځکي راځي. نو زموږ جامې پاکې پاتې کیږي او که نه؟ جواب راکولو سره د شکریه موقع راکړئ.

**جواب:** جامې که ناپاکې وي، نو ځاځکي به هم ناپاک وي. په دې وجه یا خو دې د جامو وینځلو په وخت داسې جامې استعمالوي چې د عام استعمال نه وي یا دې ناپاکې جامې اول په احتیاط سره پاکې کړل شي. چې د هغه طریقه دا ده چې څومره نجاست لګیدلی وي هغه دې درې ځله ووینځل شي.[۲]

## د ګنده خلکو سره لګیدو نه وروسته د جامو پاکي

**سوال:** زه یو کمپونډر یم او زموږ په علاقه کې د هندوانو اکثریت دی او زه په ډسپنسرۍ کې کار کوم هلته ۹۰٪ نوي فیصده هندوان خلک راځي او دا قومونه د هندو کیدو سره سره کافي ګنده هم دي. ډسپنسرۍ وړه کیدو په وجه کافي ډکه شي او د هغوئ بدنونه او جامې زما د جامو سره لګیږي ځکه چې زه یو کمپونډر یم په دې وجه کافي د یو ځای کیدو سره کار کیږي په دې وجه تاسو دا بیان کړئ چې ایا زه په هغو جامو کې لمونځ ادا کولی شم او که نه؟ څه حل راته وښیئ ترڅوزه خپلې جامې پاکې وساتلی شم.

**جواب:** که دهغوی په بدن باندې ښکاره څه نجاست نه وي، نو د هغوی سره ستاسو د ګډون په وجه ستاسو جامې نه ناپاکه کیږي .د څه وسوسې نه پرته په دغه جامو کې لمونځ کوئ.[۳]

## که دبولو نه وروسته ټشوپیپر (تشناب کاغذ) استعمال شي نو خولې راتلو سره جامې نه پلیتیږي

**سوال:** که ټشوپیپر سره اودس وچ شي او استنجا ونه شي او د ګرمي له وجې نه خوله راشي. نو ایا په دې سره دا جامې ناپاکه کیږي؟

---

[۱] ولو كان المنتضح مثل روس المسلة منع كذالى البحر الرائق.(عالمگيرية ج:١ ص:٤٦،الفصل الثانى فى الاعيان النجاسة، كتاب الطهارة،طبع رشيديه)۔

[۲] ايضاً پورتنۍ حواله)۔

[۳] ثياب الفسقة واهل الذمة طاهرة.(در مختار مع الشامى ج:١ ص:٣٥٠)۔

**جواب:** که په ښې طريقې سره وچوالی حاصل شي.نو خوله راتلو سره جامې نه ناپاکه کيږي.[۱]

## غوښې سره د لګېدلي وينې شرعي حکم

**سوال:** د غوا او د ميښې وينه پاکه وي اوکه ناپاکه؟ اصل کې زه غوښې اخستلو لپاره لاړ شم. نو د قصاب په دکان کې په ماباندې د وينو واړه واړه داغونه ولګيږي. نو دا جامې پاکې دي اوکه ناپاکه؟

**جواب:** غوښې پورې چې کومه وينه لګېدلې پاتې شي هغه پاکه وي. دې سره جامې نه ناپاکه کيږي.[۲]

## د عيسايي ښځې په لاس سره وينځل شوې جامې پاکې دي

**سوال:** زموږ د کور دپاکي او د جامو وغيره وينځلو لپاره خادمه يوه عيسايي ښځه ده او بيا جامې هم په مشين کې وينځي. نو ايا دا جامې پاکيږي او ددې اغوستلو سره لمونځ کيږي؟ حالانکه دغه ملازمه په ښکاره طور باندې پاکه وي.

**جواب:** جامې پاکيږي.

## ناپاکه ځای د وچيدلو نه وروسته پاکيږي

**سوال:** په ځينو کورونو کې بلکې په اکثر کورونو کې واړه واړه ماشومان وي چې ځای په ځای متيازې کوي ايا په داسې صورت کې په دې ځای باندې دويده کېدونکي اوناسته ولاړه لرونکي شخص لمونځ کول صحيح دي؟ دا خبره دې يا ده وي چې هغه ځای په سوري کې وچ شوی وي جواب راکولو سره تسلي راکړئ؟

**جواب:** ناپاکه ځمکه دوچېدلونه وروسته پاکيږي اودداسې ځای دوچيدلو نه وروسته هلته دکېږې دغوړولو نه پرته هم لمونځ جائزدی. خوکه دطبيعت کرکه راځي. نوهلته دې جامې غوړولوسره لمونځ وکړي.[۳]

**سوال:** ناپاکه ځمکه وغيره څنګه پاکيږي؟ څکه چې د پوخ ځای په صورت کې خو به په وينځلو سره پاکه شي .خوکه کچه(خام) ځای وي. نو ددې له پاره څه حکم دی؟

**جواب:** ځمکه په وچېدلو سره پاکيږي په دې باندې لمونځ کول صحيح دي، خو په دې سره

---

[۱] ثم اتفق المتاخرون على سقوط اعتبار ما بقى من النجاسة بعد الاستنجاء بالحجر فى حق اذا اصابه العرق من المقعدة لايتنجس.(عالمگيرية ج:۱ص:۴۸،فصل فى الاستنجاء،كتاب الطهارة).

[۲] لا يفسد الثوب الذى يبقى فى اللحم لانه ليس بمسفوح.(عالمگيرية ج:۱ ص:۴۶).

[۳] وتطهر ارض......بيبسها اى جفافها ولو بريح وذهاب اثرها كلون وريح لاجل صلاة عليها...الخ.(در مختار مع رد المحتار ج:۱ ص:۳۱۱،باب الانجاس،طبع ايچ ايم سعيد)_

تیمم کول صحیح نه دي [۱]

## د کوم شي چې ناپاکه کېدل یقیني یا غالب نه وي هغه به پاک ګڼل کیږي

**سوال:** پوښتنه کونکی اکثر دیوې جامې وینځلو په وخت کې په شک کې پریوځي ، وروسته ورته دا خیال راځي چې دا دشک په بنیاد وینځل شوې ده همدغه شان که یو شی په حقیقت کې ناپاکه شي نو بیا هم پریشان وي.نو څه کول پکار دي؟

**جواب:** د کوم شي ناپاکه کېدل چې غالب یا یقیني نه وي هغه به پاک ګڼل کیږي اګر که هر څومره وسوسې راځي دهغه پرواه کول پکار نه دي او د کوم شي په باره کې چې غالب ګمان وي چې دا ناپاک دی هغه پاک کړئ له دې نه وروسته وسوسه مه کوئ.[۲]

## په پاکوالي کې د شیطان د وسوسې د ختمولو طریقه

**سوال:** که پوښتنه کونکی یقیني طور سره یو ناپاکه شی ووینځي .خو یو شک یې نه وي ختم چې بل شروع شي په دې وجه پوښتنه کونکی هر وخت پریشانه وي دقرآن کریم اوسنت په رڼاکې وضاحت وکړئ؟

**جواب:** ددې شک علاج دا دی چې تاسو جامه درې ځله ووینځئ (او جامه دې هر ځل نچوړهم کړل شي) بس پاکه شوه. له دې نه وروسته که شک راشي، نو دهغه هیڅ پرواه مه کوئ.بلکې شیطان په دې وینا وشړئ چې اې مردوده! چې کله الله پاک او د هغه رسول ﷺ دې ته پاک وایي، نو زه ستا د شک اچولو پرواه ولې وکړم؟ که تاسو زما په دې تدبیر باندې عمل وکړئ، نو ان شاء الله تاسو ته به د شک او وهم دناروغۍ نه خلاص شئ.[۳]

## کومې جامې چې سپي سره ولګیږي د هغو حکم

**سوال:** نن سبا مسلمانان د انګریزانو په شان سپي ساتي. نو دا سپي که د بدن یا جامو سره ولګیږي، نو ایا هغه ځای ناپاکه کیږي اګر چې د سپي بدن لوند نه وي؟

**جواب:** کوم خلک چې د شوق نه سپي ساتي د هغوی له پاره د پاک او ناپاک سوال نشته که دا یې ناپاک ګڼل، نو له دې نه به یې نفرت هم.کاوو د سپي د بدن سره که یو جامه یا څه بل شی ولګیږي، نو هغه نه ناپاکه کیږي، چې کله په بدن باندې څه ښکاره نجاست نه وي، که د

---

[۱] وتطهر ارض........بيبسها اى جفافها ولو.بريح وذهاب اثرها كلون وريح لاجل صلاة عليها لا ليتيمم بها لان المشروط لها الطهارة وله الطهورية.(در مختار ج:۱ ص:۳۱۱،باب الانجاس،طبع ایچ ایم سعید)_

[۲] والطاهر لا يزول طهارته بالشک...الخ.(مجمع الانهر ج:۱ ص:۶۲،کتاب الطهارة)_

[۳] اوګورئ تیره شوی حواله)_

هغه بدن لوند وي او که وچ وي د سپي لاړې چې په کوم شي کې ولګیږي، نو هغه ناپاکې دي او سپي عموما جامو ته خوله وروړي، کومې جامې ته چې سپي خوله ورړه هغه به ناپاکه وي[۱]

## د سپي لاړې ناپاکه دي

**سوال:** که سپی په لاس یاپښه باندې ژبه تېره کړي، نو ایابدن به پلیت شي؟

**جواب:** دسپي لاړې پلیتې او زهرجنې دي . له دې وجې په کوم ځای چې د سپي لاړې پریوځي هغه ځای ناپاکه دی دهغه پاکول لازمي دي.[۲]

## ایا وړوکی سپی هم پلیت دی؟

**سوال:** وړوکی سپی(کوتری) پاک دی اوکه پلیت دی؟

**جواب:** د وړوکي او لوی سپي حکم یو دی الله پاک دې تاسو ته د سپي د محبت په ځای دهغه نه نفرت در نصیب کړي.

## که پیشو د بدن یاجامو سره ولګیږي نو؟

**سوال:** زما یوه ملګری دی، زما کور ته راغلی و د پیشو نه تښتیدو سره په کرسی باندې کیناست ما ترې پوښتنه وکړه ولې؟ نو ویې ویل چې پیشو جامو سره ولګیږي، نو ناپاکیږي او لمونځ نه کیږي اوزما نیا وویل چې پیشو که وچه وي نو لمونځ کیدای شي اوکه لنده وي، نوجامې ناپاکه کیږي تاسو ووایئ د اسلام په رڼا کې ددې باره کې څه حکم دی؟

**جواب:** د پیشو سره د جامو لګیدو په وجه جامې نه ناپاکه کیږي. که پیشو لنده وي او که وچه وي، خو په دې شرط چې دهغې په بدن څه ښکاره نجاست نه وي لګېدلی.[۳]

## د ناپاکې وازدې والا صابون

**سوال:** د مردار اوحرام ځناورو وازدې والا صابون باندې پاکي حاصلیږي او لمونځونه وغیره صحیح دي اوکه نه ؟

---

[۱] الکلب اذا اخذ عضو انسان اوثوبه لا یتنجس مالم یظهر فیه اثر البلل راضیا کان او غضبان کذا فی منیة المصلی...الخ.(عالمگیریة ج:۱ ص:۴۸،الفصل الثانی فی الاعیان النجسة،کتاب الطهارة)۔

[۲] وسؤرالکلب والخنزیر وسباع البهائم نجس.(فتاوی عالمگیریة ج:۱ ص:۱۵)وسؤر الکلب نجس ویغسل من ولوغه ثلاثا لقوله علیه السلام:یغسل الاناء من ولوغ الکلب ثلاثا.ولسانه یلاقی الماء دون الاناء فلما تنجس الاناء فالماء اولی،وهذایفیدالنجاسة.(هدایة ج:۱ص:۴۵،فصل فی الاسار،ادلة الحنفیة ص:۷۴،باب سؤرالکلب)

[۳] وسؤر الهرة طاهر مکروه،وعن ابی یوسف انه غیر مکروه،لان النبی علیه السلام کان یصغی لها الاناء فتشرب منه ثم یتوضا منه.(هدایة ج:۱ ص:۴۵،فصل فی الاسار،ایضا:ادلة الحنفیة ص:۷۵،باب سؤر الهرة)۔

**جواب:** د ناپاکې وازدې استعمال جائز نه دی.خو د داسې صابون استعمالول چې په هغه کې دا وازده اچول شوي وي جائز دی .ځکه چې د صابون د جوړېدو نه وروسته ددې ماهیت بدلیږي[1]

## په بستره باندې پیشو څملاستل یا پیشوته لاس وروړل

**سوال:** که په بستره باندې پیشو کینې یاور سره ولګیږي.اکثر خلک پیشو په غیږ کې کینوي. نو ایا له دې جامو سره لمونځ کولای شي؟

**جواب:** لمونځ کولای شي [2]

## دهغو لوښو استعمالول چې دپاکي خیال یې نه ساتل کیږي

**سوال:** که په یو کور کې اوو اته کسان وي او په دوی کې د یو اودو کسانو نه پرته څوک هم ناپاکه شیان د شریعت مطابق نه پاکوي. مثلاً جامې.لوښي وغیره هرڅه چې ناپاکه شي. نو د شریعت مطابق یې نه پاکوي. دغه شان ګنده لاسونو سره نلکې .فریج او دروازې وغیره هم نیسي او خلاصوی یې. نوپه داسې صورت کې که ولیدل شي او یا ونه لیدل شي. نو ددوی لوښي او نلکې وغیره د وینځلو اوپاکولونه بغیرا ستعمالیدای شي اوکه نه؟حالانکې ددې خلکوهروخت هم داحالت دی.

**جواب:** په داسې وهم کې زیات اخته کیدل نه دي پکار .چېرته چې ښکاره نجاست او پلیتي راشي. نو د هغه نه پرهیز کول پکار دي. زیات وهم کول نه دي پکار

## یوه لوټه څو ځله د بولو لپاره استعمالول

**سوال:** یوې لوټې سره څو ځله وچوالی حاصلول جائز دي؟چې ددې نه وروسته په اوبو باندې هم استنجا وکړل شي؟

**جواب:** پاکوالی خو اوبو سره حاصل شو.د بولو د بندولو لپاره استعمالېدلی شي [3]

## د میاشو وژلو دوایي که په جامو ولګیږي نو ایا جامې پلیتیږي؟

**سوال:** په بازار کې چې د میاشو وژلو لپاره کومه دوایي چې پیدا کیږي. عام طور چې خلک یې په کورونو کې استعمالوي مثلاً فنس او نورې سپرې وغیره.که دا دوایي د اچولو

---

[1] جعل الدهن النجس فی صابون يفتی بطهارته لانهٔ تغير والتغير يطهر عند محمد،ويفتی به للبلوی.(شامی ج:١ ص:٣١٦،باب الانجاس،البحر الرائق ج:١ ص:٣٣٩)_

[2] ان النبی صلی الله عليه وسلم كان يصغی لها الاناء فتشرب منه ثم يتوضا منه.(هداية ج:١ ص:٤٥).

[3] الاستنجاء سنة لان النبی عليه السلام واظب عليه ويجوز فيه الحجر وماقام مقامه حتی ينقيه،لان المقصود هو الانقاء فيعتبر ماهو المقصود وليس فيه عدد مسنون.(هداية ج:١ ص:٧٩فصل فی الاستنجاء).

په وخت په جامو باندې پريوځي. نو ددې د وينځلو نه پرته لمونځ کيږي؟
**جواب:** زما خيال دی چې دا ناپاکه نه دي.ددې وجې نه لمونځ کيږي.د نورو علماوو نه تحقيق وکړئ

## آئل پينټ چې الکحل په کې وي ، د څپلو رنګ په جامو يا ديوال باندې ولګيږي

**سوال:** که تحقيق کولو سره معلومه شي چې د تيلو پينټ يا د څپلو رنګ کې چې کوم الکحل شامل وي. دا له ناپاکه قسم څخه دي. نو په داسې صورت کې ددې شيانو د استعمالولو څه حکم دی؟ که دا شيان جامو يا ديوال باندې ولګيږي. نو ايا ناپاکه کيږي؟
**جواب:** که د ناپاکي يقين وي، نو د جامو يا د ديوال په ناپاکه کيدو کې څه شک دی.[1]

## د پرفيوم استعمال او د لمونځ اداء کول

**سوال:** ايا پرفيوم لګولو سره لمونځ کيږي؟حالانکې ما اوريدلي دي چې پرفيوم لګولو سره لمونځ نه کيږي ځکه چې په دې کې الکحل وي.
**جواب:** ماته ددې مسئلې تحقيق نشته چې په پرفيوم کې څه ناپاکه شی شته او که نه ؟له دې وجې نه غوره دا ده چې دا استعمال نه کړل شي يا د نورو علماوو نه دې پوښتنه وکړل شي.

## د بهر ملک نه د راوړل شوي لوشن او پيټروليم جيلي لګولو سره اودس کول

**سوال:** ايا د اودس نه مخکې يا د اودس نه وروسته په مخ يا په نور بدن باندې د بهر ملکونو جوړ شوی لوشن لکه د انګلينډ وغيره او پيټروليم جيلي وغيره لګولو سره لمونځ کيږي؟ ياد ساتئ چې پيټروليم جيلي ښه پريړ وي.
**جواب:** ماته تحقيق نشته چې په دې لوشنونو کې څه ناپاکه شی وي او که نه؟

## د ناپاکه لوښي د پاکولو طريقه

**سوال:** که يو لوښی يا بالټی وغيره يا ډرم چې عام طور په کې خلک اوبه اچوي يا د سيمټو ټينکی وغيره ناپاکه شي. نو څنګه پاکيدلی شي؟
**جواب:** دا دې هم درې ځله ووينځل شي.[2]

---

[1] القاعدة الثالثة:اليقين لا يزول بالشک.......من تيقن الطهارة وشک فی الحدث فهو متطهر،ومن تيقن الحدث وشک فی الطهارةفهو محدث.(الاشباه والنظائر ص: ۸۴تا۸۷).

[2] ومالا ينعصر يطهر بالغسل ثلاث مرات.(عالمگيری ج:۱ ص:۴۲،الفصل الاول فی تطهير الانجاس).

## تټول شیان ناپاکه ګڼل وهم دی

**سوال:** زما د غفلت له وجې نه زما د کورتټول شیان ناپاکه شوي دي. وجه داده چې ماته د بولو د قطرو ناروغي وه او دبول کولو نه وروسته به قطرې وتلې، خو ما به لمونځ پابندي سره کاو، کله چې به زما مور جامې وینځلې، نود کور د نورو خلکو جامو سره به یې زما جامې هم وینځلې اوهم په یو بالټې کې به یې درې ځله نچوړولو سره وینځلې. ماته معلومه شوه چې دغه شان خو جامې نه پاکیږي، اوس صورت حال دا دی چې زما د بدن دننه اندامونه او نلکه، پائپ، د دروازې کنډې، د فریج د دروازې هینډل، سایکل اودهغې چابي، دکور تټولې تالې وغیره ناپاکه شوي دي، وخت وشو چې لمونځونه رانه هم تللي دي، څه صورت راته ووایئ چې بیا پنځه وخته لمونځ شروع کړم اودقرآن تلاوت کولای شم؟اودکور تټول شیان پاک کړم؟

**جواب:** تاسو چې کوم صورت ښودلی دی په دې کې تټول شیان او تټولې جامې پاکې دي او تاسو اودس کولو سره لمونځ کولای شی، که قطرې په نظر راځي، نو راځي دې، ترڅو چې د لمانځه وخت وي، نو ستاسو اودس به قائم وي، شیطان ستاسو د پریشان کولو لپاره تاسو ته دا وسوسه اچولې ده. که تاسو په ماباندې اعتماد وي، نو د نن نه خپل لمونځ شروع کړئ. تټول شیان پاک ګڼئ، هیڅ یو شي ناپاک نه دی. والله اعلم![۱]

# ❖ د لمونځ فرضیت او اهمیت ❖

## پنځلس کلن هلک یا انجیلی باندې لمونځ فرض دی

**سوال:** دا خبره په تفصیل سره بیان کړئ چې لمونځ کله فرض کیږي؟ ډیر حضرات دا وایي چې هغه وخت لمونځ فرض کیږي کله چې احتلام وشي له دې نه مخکې لمونځ فرض نه دی.

**جواب:** لمونځ په بالغ باندې فرض دی که د بالغ کیدو نښې ښکاره شي، نو لمونځ د هغه وخت نه فرض دی خو که څه علامه ښکاره نه شي، نو هلک اوانجیلی د پنځلسو کالو عمر پوره کیدو سره بالغ ګڼل کیږي او په کومه ورځ چې په شپاړسم کال کې قدم کیږدي له هغې ورځې نه په هغوی باندې لمونځ روژه فرض ده.[۲]

---

[۱] ]المستحاضة ومن به سلس البول یتوضؤن وقت کل صلاة ویصلون بذلک الوضوء ماشاؤا من الفرائض والنوافل.(عالمگیریة ج:۱ ص:۴۱،الفصل الرابع فی احکام الحیض والنفاس والاستحاضة).

[۲] ] (بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال).....فان لم یوجدفیهماشیء(فحتی یتم لکل منهماخمس عشرة سنة به یفتی)لقصراعماراهل زماننا.(الدرالمختار،ج:۶ص:۱۵۳،فصل بلوغ الاحتلام بالانزال).

## که د بالغ کیدو کال ورته یاد نه وي نو قضاء لمونځونه او روژې کله نه شروع کړي؟

**سوال:** په اکثرکتابونوکې مولوستي دي چې لمونځ بالغ کېدو باندې فرض کیږي دهلک اوانجیلۍ دبالغ کیدوعمر په مختلفو کتابونو کې مختلف لیکل شوي دي. یعنې چېرته دولس کاله دی اوچېرته دیارلس کاله، څوارلس کاله ا وچېرته پنځلس کاله دی.ماپه څوارلس یا پنځلس کاله عمرکې لمونځ شروع کړ. تاسودا ووایئ چې ماته د څومره عمر لمونځونه قضاء راګرځول پکاردي؟ ځماته یادنه دي چې زه په کوم عمرکې بالغ شوی وم؟

**جواب:** د هلک او انجیلۍ بالغ کېدل په علامې سره هم کیدای شي(مثلاً هلک ته احتلام وشي یا په انجیلۍ باندې حیض راشي)که د پنځلسو کالو نه مخکې د بالغ کېدو علامې ښکاره شي، نو په هغوی باندې به د بالغ کېدو حکم جاري کیږي او که یوه علامه هم ښکاره نه شي، نو د پنځلسو کالو په عمر کې به هغه بالغ ګڼل کیږي او په هغوی باندې به لمونځ روژه وغیره فرائض لازم وي.[1]

که چا د بالغ کېدو نه وروسته هم په لمونځ روژه کې سستي کړي وي اوس هغه توبه کولو سره د لمونځ او روژې قضاء راوړی شي او هغه ته دا یاد نه وي چې هغه کله بالغ شوی و؟ نو د هلک له پاره حکم دا دی چې هغه دې ددیارلسم کال د شروع نه د لمونځ روژې قضاء راوړي.ځکه چې د دولسو کالو هلک بالغ کیدلی شي او د انجیلۍ له پاره حکم دا دی چې هغه دې د نهو کالو پوره کېدلو او د لسم کال د شروع نه مخکې د لمونځ او روژې قضاء راوړي.ځکه چې د نهو کالو انجیلۍ بالغه کیدای شي.[2]

## د لمونځ پریښودنکي ته کامل مسلمان نه شي ویل کېدای

**سوال:** یو سړی ټول کال لمونځ نه کوي، نو هغه ته کامل مسلمان ویل کیږي چې هغه د جمعې او اختر لمونځ هم نه کوي؟

**جواب:** که دا سړی په الله پاک او رسول ﷺ باندې ایمان لري، نو داسې سړی مسلمان خو دی ،خو کامل مسلمان هغه ته نشي ویل کېدای چې د لمونځ په شان اهم او بنیادي رکن پریښودلو په وجه سخت ګناهګار او بدترین فاسق دی[3]په قرآن او حدیث کې د لمانځه په پریښودلو باندې سخت وعیدونه راغلي دي.[4]

---

[1] ] ایضاً)_

[2] ] (وادنی مدته له اثنتاعشرةسنة ولهاتسع سنین)هوالمختار، درمختار مع الشامی ج:٦ص:١٥٤)_

[3] ](تارکهاعمداًمجانة)ای تکاسلاًفاسق.(الدرالمختار ج:١ص:٣٥٢،کتاب الطهارة)_

[4] ] ماسلککم فی سقر.قالوالم نک من المصلین...الآیة.(المدثر:٤٢،٤٣) ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

# د لمونځ پرېښودونکي حکم

**سوال:** زه په دې خبره نه پوهيږم چې د لمونځ پرېښودونکي له پاره د اسلام څه احکامات دي؟ څوک وايي چې هغه کافر کيږي او څوک وايي چې هغه نه دی کافر. ما اورېدلي دي چې د امام مالک رحمۃ اللہ علیہ او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ په نزد به داسې سړی قتل کيږي ايا دا رښتيا ده؟ او همدغه شان ما اوريدلي دي چې عبدالقادر جيلاني رحمۃ اللہ علیہ په دې باره کې دا وايي چې داسې سړی دې ووژل شي او د هغه لاش دې په کشکولوسره د ښار نه بهر وغورځول شي ايا دا هم حقيقت دی؟ هسې د ډيرو خلکو نه ما اورېدلي دي چې دی د هغه وخته پورې نه کافر کيږي تر څو چې هغه په خپله ژبه دا ونه وايي چې زه لمونځ نه کوم يعنې که هغه په ژبې سره داسې ووايي چې زه لمونځ نه کوم. نو کافر کيږي که نه ؟که هغه لمونځ کوي او که نه کوي هغه نه کافر کيږي مسئله داده که هغه نه کافر يا مرتد کيږي. نو د هغه د قتل حکم ولې ورکول کيږي؟ سره له دې چې په قرآن کريم کې هم د چا قتل ته جائز نه دي ويل شوي.مهرباني وکړئ ماته د امام مالک رحمۃ اللہ علیہ، امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ، امام احمد رحمۃ اللہ علیہ، امام ابوحنيفه رحمۃ اللہ علیہ او شيخ عبدالقادر جيلاني رحمۃ اللہ علیہ چې د لمونځ د پرېښودونکي له پاره کوم صحيح صحيح احکامات دي بيان کړئ سره د حوالې ډيره مهرباني به مو وي.

**جواب:** دا لمونځ پرېښودونکی که د لمانځه د فرضيت نه منکر وي، نو په اتفاق د ټولو مسلمانانو کافر او مرتد دی. (خو که نوی مسلمان شو او هغه ته دفرضيت علم نه و يا په يو داسې ځای کې اوسيږي چې هغه دفرضيت نه جاهل پاتې شو په دې صورت کې به هغه ددې د فرضيت نه خبرولی شي که ويې مني خو صحيح ده که نه مرتد او واجب القتل به وي)او کوم سړی چې دفرضيت قائل دي خو د سستوالي له وجې نه هغه لمونځ نه کوي،نو د امام ابوحنيفه رحمۃ اللہ علیہ امام مالک رحمۃ اللہ علیہ امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ او په يو روايت د امام احمد رحمۃ اللہ علیہ کې هغه مسلمان خو دی ،خو بدترين فاسق دی او د امام احمد نه يو روايت دا دی چې داسې سړی مرتد دی.هغه ته دې درې ورځې مهلت ورکړل شي که لمونځ يې شروع کړ، خو صحيح ده که نه د ارتداد په وجه دې قتل کړل شي او د مسلمانانو په قبرستان کې دې هغه نه دفن کيږي . دهغه احکام د مرتدينو دي.

د امام مالک رحمۃ اللہ علیہ او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ په نزد او د امام احمد رحمۃ اللہ علیہ د يو روايت مطابق اګر چې لمونځ پرېښودونکی مسلمان دی، خو ددې جرم سزا يعنې د لمانځه د پرېښودلو سزا قتل ده خو که دې سړي توبه وکړه. هغه ته دې درې ورځې مهلت ورکړل شي او د لمانځه د پرېښودلو نه دې ورته د توبې حکم وکړل شي.که توبه وکړي. نو د هغه نه به د قتل سزا ليرې

...بقيه د تير مخ]...وعن بريدة قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:العهدالذى بيناوبينهم الصلاة،فمن تركهافقد كفر.(مشكوة ج:۱ص:۵۸،كتاب الصلوة،الفصل الثانى)۔

شي که نه هغه به قتل کړل شي او د قتل نه وروسته به د هغه جنازه کیږي او هغه به د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کیږي. الغرض که لمونځ پریښودونکي توبه ونکړه. نو ددې امامانو په نزد د هغه سزا قتل ده. او دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد به لمونځ پریښودونکی نه قتلیږي، بلکې هغه به همیشه په قید کې ساتل کیږي او روزانه به کوړې (دورې) ورکول کیږي تر دې چې هغه د لمونځ د پریښودولو نه توبه وکړي ددې مذاهبو تفصیل د فقه شافعي کتاب شرح مهذب (ج۳ ص ۱۳)[۱] او د فقه حنبلي کتاب المغني (ج۲ ص ۲۹۸ مع شرح الکبیر)[۲] او د فقه حنفي کتاب فتاوی شامی (ج۱ ص ۳۹۲)[۳] کې دي. کوم خلک چې د لمونځ د پریښودونکي د قتل حکم ورکوي د هغوی دا استدلال دی چې دا ډیر لوی جرم دی ددې نور هم ډیر دلائل دي. د شیخ عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه د کتاب کتلو موقع نه ده پیدا شوې .خو هغه د امام احمد رحمة الله علیه مقلد دی او ما پورته ولیکل چې د امام احمد رحمة الله علیه په یو روایت کې دا سړی مرتد دی او د هغه سره دې د مرتدینو په شان معامله وکړل شي په دې وجه که شیخ عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه دا لیکلي وي چې لمونځ پریښودونکی دې دفن نه شي بلکې په رانبکلو سره دې د مرداري په شان هغه په یو کنده کې واچول شي، نو د هغه د مذهب د روایت عین مطابق خبره ده.

---

[۱] (فرع) فی مذاهب العلماء فیمن ترک الصلاة تکاسلاً مع اتقاد وجوبها، فمذهبنا المشهور ماسبق انه یقتل حداً ولا یکفر وبه قال مالک والاکثرون من السلف والخلف، وقالت طائفة یکفر ویجری علیه احکام المرتدین فی کل شیء وهو مروی عن علی بن ابی طالب وبه قال ابن المبارک واسحاق بن راهویه وهو اصح الروایتین عن احمد، وبه قال منصور الفقیه من اصحابنا کماسبق، وقال الثوری وابوحنیفة واصحابه وجماعة من اهل الکوفة والمزنی لایکفر ولایقتل بل یعزر ویحبس حتی یصلی واحتج لمن قال بکفره بحدیث جابر رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ان بین الرجل وبین الشرک والکفر ترک الصلاة. (شرح مهذب ج:۳ ص:۱۶، فرع فی مذاهب العلماء، طبع دارالفکر)

[۲] ومن ترک الصلاة وهو بالغ عاقل جاحداً لها اوغیر جاحد دعی الیها فی وقت کل صلاة ثلاثة ایام فان صلی والاقتل وجملة ذالک ان تارک الصلاة لایخلوا اماان یکون جاحداً لوجوبها اوغیر جاحد فان کان جاحداً لوجوبها نظر فیه فان کان جاهلاً به وهو ممن یجهل ذالک کالحدیث الاسلام والناشیء ببادیة عرف وجوبها وعلم ذالک ولم یحکم بکفره لانه معذور فان لم یکن ممن یجهل ذالک کالناشیء من المسلمین فی الامصار والقری لم یعذرولم یقبل منه ادعاء الجهل وحکم بکفره لان ادلة الوجوب ظاهرة فی الکتاب والسنة والمسلمون یفعلونها علی الدوام فلایخفی وجوبها علی من هذا حاله ولایجحدها الاتکذیبًا لله تعالی ولرسوله واجماع الامة وهذا یصیر مرتداً عن الاسلام، حکمه حکم سائر المرتدین فی الاستتابة والقتل ولااعلم فی هذا خلافًا. (المغنی ج:۲ ص:۲۹۸، باب الحکم فیمن ترک الصلاة)_

[۳] وقال اصحابنا فی جماعة منهم الزهری: لایقتل بل یعذر ویحبس حتی یموت اویتوب، قوله عندالشافعی یقتل وکذا عند مالک واحمد، وفی روایة عن احمد وهی المختارة عند جمهور اصحابه انه یقتل کفراوبسط فی الحلیة. (ردالمحتار ج:۱ ص:۳۵۲، ۳۵۳، کتاب الصلاة)

## که د مصروفیت له وجې نه د لمانځه وخت لاړشي یا جماعت لاړشي نو څه حکم دی؟

**سوال:** د غفلت له وجې نه لمونځ پرېښودل د مسلمان د شان نه خلاف او ډېر د نقصان کار دی،هم د اخرت په لحاظ سره او هم د دنیا په لحاظ سره. اوس سوال دا دی چې د مصروفیت له وجې نه د لمانځه وخت تیر شي یا د جماعت وخت تیر شي، نو دواړه یوشی دي یا په کې فرق شته؟

**جواب:** په دواړو کې فرق دی، دجماعت سره لمونځ کول سنت مؤکددي، دادعذر نه پرته پرېښودل ګناه ده[۱]او لمونځ قصداً پرېښودل ددې نه زیاته لویه ګناه ده. په حدیث شریف کې ددې نه په کفر سره تعبیر شوی دی.[۲]

## ایا لمونځ پرېښودونکي ته د ایمان تازه کول ضروري دي؟

**سوال:** یو سړی د ډېر وخت نه لمونځ نه کوي، تردې چې د جمعې مبارکې لمونځ هم نه کوي، ایا دې سړي ته د ایمان نوي کول ضروري دي؟فرض کړه چې دې د مسلسل شپږو میاشتو نه لمونځ پرېږدي.

**جواب:** پنځه وخت لمونځ فرض دی او ددې پرېښودل لویه ګناه ده او د ټولو ګناهونو..... غلا،زنا وغیره نه زیاته بدترینه ګناه ده، نو کوم سړی چې لمونځ نه کوي که دی لمانځه ته فرض وایي، دلمونځ پرېښودل ګناه او خپل ځان ګناهګار او مجرم ګڼي، نو دا سړی مسلمان دی او د ایمان د تازه کولو ضرورت ورته نشته، خو دخپل کار نه توبه ګول پرې لازم دي او که دا سړی خپل کار ګناه نه ګڼي،نه ځان مجرم او ګناهګار ګڼي، نو دا سړی د ایمان نه خارج شو[۳] او په ده باندې د توبې کولو سره سره د ایمان تازه کول هم لازم دي او دې سره سره د نکاح تازه کول هم ضروري دي.[۴]

---

[۱] ان صلاةالجماعةواجبة علی الراجح فی المذهب اوسنة موكدةفی حكم الواجب كمافی البحروصرحوابفسق تاركهاوتعزيره،وانه يأثم.(شامی ج:۱ص:۴۵۷،مطلب كل صلاةاديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها).

[۲] وقال محمدبن نصرالمروزی قال اسحاق صح عن النبی صلی الله عليه وسلم:ان تارک الصلاة كافر،وكان رای اهل العلم من لدنه صلی الله عليه وسلم ان تاركهاعمدامن غيرعذرحتی يذهب وقتهاكافر.(الزواجرعن اقتراف الكبائرج:۱ص:۱۳۸،الكبيرةالسابعة والسبعون،تعمدتاخيرالصلاةعن وقتها...الخ).

[۳] وان انكربعض ماعلم من الدين ضرورةكفربها.(شامی ج:۱ص:۵۶۱).الصلوة فريضة محكمةلايسع تركهاويكفرجاحدهاكذافی الخلاصة.(عالمگيری ج:۱ص:۵۰،كتاب الصلاة،طبع رشديه).

[۴] مايكون كفراًاتفاقايبطل العمل والنكاح.(شامی ج:۴ص:۲۴۷،باب المرتد).

## د لمونځ پرېښودلو وبال

**سوال:** زموږ په خاندان کې څو نژدې خپلوان داسې دي چې د اخلاقو په لحاظ سره ډېر اوچت دي. حقوق العباد هم ادا کوي، خوش اخلاقه هم دي .خو د لمونځ په شان اهمه فریضه نه ادا کوي او د هغوی په ذهنونو کې ددې لمانځه څه تصور هم نشته چې لمونځ هم کول پکار دي (د جمعې مبارکې او د اخترونو نه پرته) په نورو الفاظو کې مطلب دا چې لمونځ ددې خلکو لپاره څه اهمه درجه نه لري. حالانکې مسلمانان دي او په الله تعالی او رسول باندې ایمان لري، سوال دا دی چې:

۱: دداسې خلکو په دنیوي ژوند باندې د لمونځ د نه کولو څه اثر پرېوځي؟

۲: دوی به په اخرت کې د کومې درجې ګناهګار ګڼل کیږي؟

۳: او ایا د دوی غوره اخلاق، خوش اخلاقي او ظاهري خوشحالي ددې خبره ضمانت ورکوي چې الله تعالی دداسې خلکو نه خوشحاله دی؟

**جواب:** لمونځ د اسلام د ټولو نه اهم ترین رکن دی. په حدیث شریف کې دي چې یو وفد د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او ویې ویل چې: موږ اسلام قبلوو، خو لمونځ به نه کوو، روژه به نه نیسو او جهاد به نه کوو" نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې "دا خو منظور ده چې روژه نه نیسئ او جهاد نه کوئ خو دا منظور نه ده چې تاسو لمونځ نه کوئ، ځکه چې په هغه دین کې څه خیر نشته چې په کوم دین کې لمونځ نه وي"[۱] صحابه کرامو عرض وکړ چې: یا رسول الله! تاسو دوی ته د روژې نه نیولو او د جهاد د نه کولو اجازه څنګه ورکړه؟ ویې فرمایل "چې مسلمانان شوي وای ،نو بیا به یې روژې هم نیولې او جهاد به یې هم کاوو"

لمونځ د دین ستن ده، چا چې لمونځ قائم کړ، نو هغه دین قائم کړ او چا چې لمونځ پرېښود، نو ده دین ونړاو[۲]. په مسلمانانو باندې په ټولو فرائضو کې لوی فرض پنځه وخته لمونځ کول دي.[۳]

---

[۱] عن عثمان بن ابی العاص:ان وفدثقيف لماقدمواعلی رسول الله صلی الله علیه وسلم انزلهم المسجدليكون ارق لقلوبهم فاشترطوا عليه ان لايحشروا ولايعشروا ولايجبوا،فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ان لاتحشروا ولاتعشروا ولاخيرفی دين ليس فيه ركوع.(سنن ابی داودج:۲ص:۷۲،باب ماجاءفی خبرالطائف).

[۲] الصلاةمن جملةمايستقيم به الايمان لانهاعمادالدين فمن اقامهافقداقام الدين ومن تركهافقدهدم الدين. (عمدة القاری ج:۵ص:٦،باب قول الله تعالی منيبين اليه...الخ،كتاب مواقيت الصلاة)

[۳] ثم الصلاة اهم من سائر العبادات لشمول وجوبها وكثرة تكررها وكونها حسنةفي عينها ثم هي مستلزمة للايمان اذلاصحة لهابدونه.(حلبی كبيرص:٤).

## لمونځ پرېښودل د كافر كار دى

**سوال:** په احاديثو كې راځي چې چا يو لمونځ په قصدسره پرېښود هغه كفر وكړ؟ تاسو مهرباني سره دا بيان كړئ چې د كفر نه مراد الله مه كړه انسان كافر شو، يا دا كفر څه دى دا د پرېښودل شوي لمونځ نه وروسته يې بل لمونځ وكړ، نو په مينځ كې يې چې كوم وخت تير كړ، په هغه كې د كفر په حالت كې و حال دا چې چا يو ځل كلمه طيبه وويله هغه ته كافر ويل نه دي پكار.

**جواب:** كوم سړى چې د اسلام ټولې خبرې صحيح ګڼي او د دين ټول ضروورياتو كې د رسول الله ﷺ تصديق كوي د اهل سنت په نزد به هغه د يوې ګناه په وجه هم كافر نه شي ګڼل كېداى. په دې حديث شريف كې چې د كوم كفر ذكر شوى دى هغه كفر اعتقادي نه دى، بلكې كفر عملي دى د حديث شريف نژدې مفهوم دا دى چې دې سړي د كفر كار وكړ، يعنې لمونځ پرېښودل د مومن كار نه دى په دې وجه چې كله يو مسلمان يو لمونځ پرېږدي، نو هغه د كافرانو كار وكړ، د دې مثال داسې دى لكه چې چا ته نشيي ووېل شي دا مطلب نه وي چې دا په حقيقت كې نشيي دى بلكې دا چې هغه د نشايانو په شان كارونه كوي هم دغه شان كوم سړى چې لمونځ نه كوي هغه اګر چې كافر نه دى، خو د هغه دا عمل د كافرانو په شان دى.[1]

## ايا د لمونځ پرېښودونكي نور د خير عملونه قبليږي؟

**سوال:** ځينې حضرات داسې دي چې د غريبانانو مدد كوي زكات وركوي په هره طريقه د غريبانو مدد كوي صله رحمي كوي، خو كله چې هغوى ته وويل شي چې روژه لمونځ هم كوه، نو وايي دا هم فرض عبادت دى ايا د لمونځ پرېښودونكي دا عملونه به قبليږي؟

**جواب:** د شهادت د كلمې نه وروسته د اسلام د ټولو نه لوى ركن لمونځ دى، پنځه وخته لمونځ ادا كولو نه لويه نيكي نشته او دلمانځه د پرېښودلو نه لويه ګناه نشته، زنا غلا وغيره لوى لوى ګناهونه دي، خو دلمانځه د پرېښودلو د ګناه سره برابر نه دي، كوم سړى چې لمونځ نه كوي كه هغه د خير نور كارونه كوي، نوموړ خو دا نه شو ويلى چې د هغه دا عملونه به نه قبليږي، خو د لمانځه د پرېښودلو ګناه دومره لويه ده چې دا عملونه د هغه مخ نيوى نه شي كولى .د دې حضراتو دا وينا چې دا هم فرض عبادت دى صحيح ده، خو لوى فرض خو لمونځ دى د دې د پرېښودلو څه جواز دى؟[2]

---

[1] [فمن تركها فقد كفر) اى اظهر الكفر وعمل عمل الكفر. (مرقاة ج:٢ص:٢٧٦). وايضًا: ان الايمان اذا كان عبارة عن التصديق والاقراربنبغى ان لايصيرالمؤمن المقرالمصدق كافرابشىءٍمن افعال الكفروالفاظه. (شرح عقائدص:١٠٩، مبحث الكبيرة، طبع مكتبه خيركثير، آرام باغ كراچى)_

[2] ]او ګورئ: الزواجرعن اقتراف الكبائر. (ج:١ص:١٣٧، طبع بيروت) ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

## كوم سړي چې د فرض لمونځ اجازه نه وركوي د هغه ملازمت جائز نه دی

**سوال:** زه په يو داسې ځای كې د دكانداري مزدوري كوم په كوم ځای كې چې ماته د غرمې د دولسو بجو نه د شپې ترلسو بجو پورې ډيوټي (وظيفه) كول دي دا دكان يو وړوكی شان كريانه سټور دی، ددې ډيوټي (وظيفه) دوران كې د څلورو لمونځونو وخت راځي او مالک ماته د لمانځه وقفه نه راكوي، ددې مجبورۍ په وجه د شپې لس بجې د چوټي نه وروسته دلمونځونو قضاء راګرځوم. مهرباني وكړئ د قرآن او سنت په رڼا كې دا خبره بيان كړئ چې ايا زما دا لمونځونه به قبول شي؟ كه نه قبليږي، نو بيا ماته څه لار وښيئ؟

**جواب:** داسې سړي چې د فرض لمونځ اجازه نه وركوي د هغه سره ملازمت جائز نه دی.[1]

## الله پاک غفور او رحيم كڼلو سره د لمونځ پرېښودونكي سزا

**سوال:** ځيني خلک د څه عذر نه پرته لمونځ پرېږدي او بيا په لوبو بې كاره خبرو، كارونو او نورو مصروفياتو كې مشغول وي، كله چې هغوی ته ووايې چې دلمونځ په پرېښودولو باندې الله پاک نا راضه كيږي او د الله پاک عذاب نازليږي، نو دوی جواب وركوي چې د الله پاک ذات غفور او رحيم دی موږ به معاف كړي په دې وجه هيڅ فرق نه پريوځي، ددوی دا خبره څنګه ده؟

**جواب:** الله پاک بيشكه چې غفور او رحيم دی خو د داسې غفور او رحيم نافرماني چې كله داسې په زړورتيا سره كيږي او نافرماني كونكي ته په خپل حالت باندې شرمنده ګي هم نه ورځي، نو د هغه قهر هم نازليدلای شي، ديو حديث مفهوم دی چې كوم سړي پنځه وخته لمونځ ادا كړ، د قيامت په ورځ به د هغه له پاره نور هم وي د هغه په ايمان باندې به دليل هم وي او د هغه د نجات ذريعه به هم وي او كوم سړی چې ددې پابندي نه كوي نه به د هغه له پاره نور وي نه به د هغه په ايمان باندې دليل وي نه به د هغه د نجات سبب وي د هغه حشر به د قارون فرعون هامان او ابی بن خلف (لعنهم الله) سره وي.[2] الله پاک دې ټول مسلمانان د

---

...بقيه د تير مخ]...ايضًا:عن ابن مسعودرضی الله عنه قال:سالت النبی صلی الله عليه وسلم:ای الاعمال احب الی الله تعالی؟ قال: الصلوة لوقتها (الحديث). مشكوة ص:۵۸).وفی الحديث دليل علی ماقاله العلماءمن ان الصلوةافضل العبادات بعد الشهادتين. (مرقاة ج:۲ص:۲۷۰)_

[1] قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:لاطاعةلمخلوق فی معصيةالخالق.(مشكوةص:۳۲۱).وعن النبی صلی الله عليه وسلم علی المرءالمسلم السمع والطاعةفيمااحب وكره الاان يامربمعصية،فان امره بمعصيةفلاسمع ولاطاعة.(مسلم ج:۲ص:۱۲۵،باب وجوب طاعةالامراءفی غيرمعصية)_

[2] عن النبی صلی الله عليه وسلم انه ذكرالصلوةيومًافقال:من حافظ عليهاكانت له نورًاوبرهانًاونجاةيوم القيامة،ومن لم يحافظ عليهالم تكن له نورًاولابرهانًاولانجاة،وكان يوم القيامة مع قارون وفرعون وهامان وابی بن خلف.(مشكوة ص:۵۹)_

خپل غضب نه په خپله پناه کښې وساتي!) خلاصه دا چې د شيطان مکر او دوکه ده چې ته ګناه کوه الله پاک غفور او رحيم دی هغه به دې په خپله وبښي، د مؤمن شان خو دا وي چې هغه به د الله پاک د احکامو پابندي کوي د ګناهونو نه به ځان ساتي او بيا به د الله پاک د رحمت او مغفرت اميد ساتي لکه چې موږ په دعاء قنوت کښې وايو!... **نرجوا رحمتک ونخشی عذابک...** (يا الله موږ ستا د رحمت اميد ساتو او ستا د عذاب نه ويريږو)

## لمونځ فرض دی او ږيره واجب ده په دواړو باندې عمل لازم دی

**سوال:** يو سړی لمونځ نه کوي په دې صورت کښې يې ږيره پرېښودله ايا ثواب به ورته ورکول کيږي؟ لمونځ کولو والا يو سړي چې هغه ږيره نه ده پرېښودلې ايا هغه ته به د لمانځه ثواب ورکول کيږي؟ يو سړی چې هغه ږيره پرېښودلې وه اوس يې وخريله خو اوس لمونځ هم کوي ايا هغه ته به ثواب ورکول کيږي؟

**جواب:** لمونځ کول فرض دي او د هغه پرېښودل ګناه کبيره او د کفرکار کول دي، ږيره ساتل واجب او دهغه وړول يا خريل ګناه کبيره ده[۱] مسلمان ته پکار دي چې د ټول فرائضو او واجباتو پابندي وکړي او د خپل قبر او اخرت له پاره د زياتو نه زياتې نيکۍ ذخيره (جمع) کړي ځکه چې د مرګ نه وروسته نيکي نه کيږي او دا هم ضروري ده چې حرام او ناجائزه او د ګناه د کارونو نه پرهيز وکړي او که څه ګناه ترې وشي، نو فورا دې توبه کوي، دالله پاک نه دې معافي غواړي او په استغفار کولو سره دې دهغه مخ نيوی کوي چې د هغه اخرت برباد نه شي، الغرض مسلمان د اخرت د لارې مسافر دی په هغه لازم دي چې ددې لارې له پاره توښې جمع کولو کښې حريص وي او د لارې کګلبچونو او ازغنو نه لمن بچ ساتلو سره ووځي.

اوس که يو سړی څه نيک کار کوي او څه بد، نو په قيامت کښې به د عدالت په تله کښې د هغه د نيکيو او ګناهونو تول کيږي، که د نيکيو تله درنه وه، نو کامياب به وي او که الله پاک مه کړه که د ګناهونو تله درنه شوه، نو دذلت، ناکامۍ، رسوايۍ او بربادۍ سره به مخ شي، مګر دا چې د الله پاک رحمت د چا لاس ونيسي[۲]. ددې تقرير سره ستاسو د سوال او ددې شان نورو سوالونو حل معلوم شو.

## د لمونځ پرېښودونکي سره کار کول

**سوال:** زه د يو داسې سړي سره کار کوم چې لمونځ نه کوي، بلکې د جمعې هم نه کوي ايا د

---

[۱] [واخذ اطراف اللحية والسنة فيها القبضة.....ولذايحرم على الرجل قطع لحيته.(الدرالمختارمع ردالمحتار ج:٦ ص:٤٠٧،فصل فی البيع).واما الاخذمنهاوهی دون ذلک کمايفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجل فلم يبحه احد. (الدرالمختار مع ردالمحتار ج:٢ص:٤١٨،مطلب فی الاخذمن اللحية)_

[۲] [فامامن ثقلت موازينه،فهوفی عيشة راضية،وامامن خفت موازينه،فامه هاوية،(القارعة:٦،٩)_

داسې سړي سره کار کول جائز دي؟

**جواب:** کار خو د کافر سره هم کیږي، هغه سړی که مسلمان وي، نو هغه ته د لمانځه ترغیب ورکول پکار دي تاسو هغه په څه بانه باندې دیو نیک مسلمان صحبت ته بوځئ په دې سره به ان شاء الله هغه لمونځ گزار شي.

## په لمونځ قائمولو او لمونځ کولو کې څه فرق دی؟

**سوال:** په قران کریم کې الله پاک ارشاد فرمایلی دی چې لمونځ قائم کړئ او سره ددې چې زموږ ملایان صاحبان او علماء همیشه داسې وایي چې الله پاک فرمایي چې لمونځ کوئ. نه قران کریم داحکم ورکوي او نه زموږ د رسول الله ﷺ حدیث دی چې دهغه نه دا خبره ثابته شي،تاسومهرباني وکړئ او دا خبره واضحه کړئ چې په لمونځ کولو او قائمولو کې څه فرق دی؟

**جواب:** د لمونځ قائمولو نه مراد دا دی چې لمونځ د ټولو شرطونو او ادابو سره ښه په اخلاص او توجه او خشوع او خضوع سره ادا کول[۱] ،هم دې ته زموږ په ژبه کې لمونځ کول وایي. لمونځ قائمولو او لمونځ ادا کولو یو مفهوم دی. دوه نه دي،کله چې د لمونځ ادا کولو یا لمونځ کولو لفظ وویل شي.نو مراد ترې قائمول وي.

## د لمانځه له پاره د مصروفیت بانه باطله ده

**سوال:** اسلام څوارلس سوه کلن پخوانی دین دی. په هغه زمانه کې د خلکو ضروریات ډیر کم وو مصروفیات یې هم کم وو فارغ وخت به خلکو سره و. پنځه وخته لمونځ ادا کول د هغوی له پاره معمولي خبره وه، خو اوس حالات بالکل مختلف دي ژوند ډیر مصروف شوی دی، که لمونځ یوازې سهار او ماښام وکړل شي، نو په دې باره کې به تاسو څه وایئ؟ ځکه چې د شپې د ویده کیدو نه مخکې او سهار د دفتر تللو نه مخکې یا د نورو کارونو نه مخکې دوه وختونه لږ وزگار وي چې په هغه کې انسان د زړه نه الله پاک یادولی شي.

**جواب:** پنځه وخته لمونځ فرض دی[۲]او ددې چې کوم وختونه مقرر دي په هغه کې هیڅ

---

[۱] قال ابن عباس رضی الله عنهما:ویقیمون الصلاة ای یقیمون الصلاة بفروضها.وقال الضحاک عن ابن عباس رضی الله عنهما: اقامة الصلاة اتمام الرکوع والسجود والتلاوة والخشوع والاقبال علیها فیها،وقال قتادة: اقامة الصلاة المحافظة علی مواقیتها ووضوئها ورکوعها وسجودها،وقال مقاتل بن حیان: اقامتها المحافظة علی مواقیتهاواسباغ الطهور فیها واتمام رکوعهاوسجودهاوتلاوة القرآن فیهاوالتشهدوالصلوةعلی النبی صلی الله علیه وسلم فهذا اقامتها.(تفسیرابن کثیرج:۱ص:۱۵۸،طبع مکتبه رشیدیه)_

[۲] عن عبادةبن الصامت قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:خمس صلوات افترضهن الله تعالی من احسن وضوءهن وصلاهن لوقتهن واتم رکوعهن وخشوعهن کان له علی الله عهدان یغفرله،ومن لم یفعل فلیس له علی الله عهدان شاءغفرله وان شاءعذبه.رواه احمدوابوداودوروی مالک والنسائی نحوه.(مشکوة ص:۵۸،کتاب الصلاة)

بدلون نه شي کېدلی[1]، د مصروفيت بانه کول باطله خبره ده، د سوال له انداز نه معلومېږي چې د سائل په نزد د رسول الله ﷺ شريعت يوازې د هغه د زمانې د خلکو له پاره و. د وروسته خلکو له پاره نه دی، دا خيال کفر ته نژدې دی، نن سبا وخت کې خلک په تفريح باندې دوستانو سره په ګپ شپ باندې او په ډوډۍ وغيره باندې ګڼتې خرڇ کوي هغه وخت هغوی ته خپل مصروفيت ياد نه وي اخر د مصروفيت ټوله نزله په لمونځ باندې ولې راغورځول کيږي؟ او په وخت کې کم وخت ورکول يوازې د لمانځه له پاره ولې دي؟

## ايا لوړې د اخلاقو سمول پکار دي بيا لمونځ ؟

**سوال:** نن سبا د خلکو خيال دادی چې لومړۍ دې اخلاق درست شي، بيا لمونځ کول پکار دي؟

**جواب:** دا خيال درست نه دی، بلکې خپله د اخلاقو د صحت له پاره لمونځ کول ضروري دي او دا د شيطان جال دی چې هغه د عبادت نه د منع کولو له پاره داسې ګډې وډې خبرې ښيي مثلاً: دا وايي چې تر څو اخلاق نه وي صحيح شوي د لمونځ څه فائده؟ او شيطان ته پوره يقين دی چې دا سړی به تر مرګه پوري خپل اخلاق صحيح نه کړي، دلمونځ نه به د هميشه له پاره محروم وي، حال دا چې ښه خبره داده چې سړی دې د لمانځه پابندي هم کوي او ورسره دې د اخلاقو د اصلاح کوشش هم کوي د لمونځ پريښودلو سره د اخلاقو اصلاح څنګه کيدای شي؟

## د تعليم له پاره د مازديګر لمونځ پريښودل صحيح نه دي

**سوال:** زه پنځه وخته لمونځ کوم اوس په کالج کې داخله اخستونکی يم د کالج وخت داسې دی چې زه د مازديګر لمونځ نه شم کولی، ايا زه هميشه د ماښام د لمانځه سره د مازديګر لمونځ ادا کړم؟ ايا ماته به هغومره ثواب راکول کيږي؟

**جواب:** په حديث کې دي له چا نه چې د مازديګر لمونځ قضاء شو، ګويا دهغه اهل و عيال او کور لوټ کړل شو او د کور ټول خلک يې هلاک شول[2]، په دې وجه د لمونځ قضاء کول خو صحيح نه دي، اوس يا خو په کالج کې د لمانځه په خپل وخت باندې د کولو اهتمام کوئ يا لعنت وکړئ په داسې تعليم او داسې کالج باندې چې په هغه سره لمونځ برباد شي.

## د مطلب د پوره کيدو نه وروسته لمونځ روژه پريښودل ډيره غلطه خبره ده

**سوال:** جناب په ډيرو دوستانو کې دا خبره د بحث لاندې راغي چې زموږ څه دوستان چې

---

[1] ]ان الصلوة كانت على المؤمنين كتٰباموقوتا،(البقرة:١٠٣)_

[2] ](الذى تفوته صلاةالعصركانماوتراهله وماله)زادابن خزيمةفى صحيحه قال مالك:تفسيره ذهاب الوقت.والنسائى: من الصلاة صلاة من فاتته فكانما وتر اهله وماله يعنى العصر.(الزواجر عن اقتراف الكبائرج:١ص:١٣٤)_

کله په څه مصیبت کې اخته شي. نوفورا الله پاک یادکړي اوکله چې د هغوی مطلب پوره شي.
نوبیا لمونځ پریږدي.
زه او زما ډیر دوستان وایي چې انسان دې لمونځ روژه ادا کوي، خو د فرضو په درجه کې، نه
دا چې مصیبت راشي اویا یو کار کې ګیر شو، نو لمونځونه شروع او کله چې کار وشي، نو
بیا الله هیر شي. زه او زما دوستان هم څه داسې دي کوم چې لمونځونه نه کوي.خلک موږ ته
وایي چې تاسو لمونځ کوئ فلانی کار به مو وشي یا مثلا  یو دوو دوستانو ویزه نه ورکول
کیږي د سعودي عرب او نور خلک هغوی ته وایي چې لمونځ کوي او الله ته دعا کوئ
ستاسو ویزه به راشي، خو زه او زما دوست وایي چې یوازې د ویزې له پاره لمونځ کول یعنې
د لالچ له پاره د الله پاک دربار کې حاضریدل او کله چې کار وشي، نو لمونځ پریښودل
صحیح نه دي ایاهمداسې ده؟

**جواب:** ددنیوي غرض له پاره لمونځ ادا کول او روژه نیول او د کار د کیدلو نه وروسته بیا
پریښودل ډیره غلطه خبره ده او ددې نه غلطه خبره :،ده چې سړی د خپل حاجت او ضرورت په
وخت کې هم الله پاک ته رجوع ونکړي، لمونځ،روژه او نور عبادتونه یوازې د الله پاک حق
ګڼلو سره کول پکار دي، که تنګسیا وي که فراخي وي په هر حال کې کول پکار دي، یوازې
د دنیوی فائدو له پاره نه دي ساتل پکار، بلکې د اخرت ښه کیدو او د الله د رضا کیدو له
پاره کول پکار دي.الغرض ستاسو او ستاسو د دوستانو دا نظریه خو صحیح ده چې یوازې
د دنیوي مشکل د حل کولو له پاره لمونځ روژه ادا کول او د مشکل د حل کیدو نه وروسته
پریښودل غلط دي،خو دا صحیح نه ده چې په مشکل وخت کې دې هم الله پاک ته رجوع
ونکړای شي.

## ایا څه داسې معیارشته چې په هغه سره د لمانځه د قبلیدو علم وشي؟

**سوال:** ایا څه داسې معیار شته چې په هغه سره عوامو ته معلومه شي چې زموږ لمونځ
مقبول دی او زموږ رب زموږ نه راضي دی؟

**جواب:** لمونځ د پوره شرطونو او مطلوبه خشوع او خضوع سره ادا کولو نه وروسته دالله
پاک د رحمت نه امید کیږي چې الله پاک به یې قبول کړي.

## لمونځ قائمول د اسلامي حکومت لومړۍ ذمه واري ده

**سوال:** ایاد اسلامي نظام نفاذ دلمانځه دقائمولونه پرته ناممکن نه دی؟

**جواب:** د لمانځه نه پرته د اسلامي نظام تصور هم نه شي کیدای.

**سوال:** ایا چې کوم حکومت خپل ځان ته اسلامي وایي د هغوی لومړی فرض دلمانځه حکم
کول او په دې باندې د سزا د قانون د نافذول نه دي؟

**جواب:** لومړی فرض هم دا دی.

**سوال:** که حکومت داسې نه کوي، نو سبا به په قیامت کې ددې ټولو لمونځ پرېښودنکو بوج د چا په سر وي؟

**جواب:** بوج خو به د لمونځ پرېښودونکو په سر وي ،خو د لمانځه د قیام له پاره د نظام نه قائمولو سزا به حکومت ته ورکول کیږي، که الله پاک یې په خپل کرم باندې معاف کړي، نو د هغه کرم دی.

## د لمانځه په وخت کې په کاروبار کې مشغولېدل حرام دي

**سوال:** یو سړی دکان کوي یا هر څه کاروبار چې کوي کله چې اذان کیږي، نو لمونځ نه کوي یا یې د جماعت سره نه کوي، نو دهغه دلمونځ په وخت کې کاروبار کول څنګه دي؟ او دلمانځه په وخت کې چې کومه ګټه راځي هغه حلاله ده که حرامه؟

**جواب:** ګټه خو حرامه نه ده، خو په کاروبار کې داسې مشغولېدل چې لمونځ قضاء شي یا د جماعت اهتمام نه کول حرام دي.

## ایا زیره خریلی لمونځ کونکی د بل کس لمونځ صحیح کولای شي؟

**سوال:** ایا لمونځ کونکی د خپل لمونځ کونکي ورور په لمانځه کې غلطي صحیح کولای شي، اګرچې دی زیره خریلی وي؟

**جواب:** د لمانځه نه بهر(چې په لمانځه ولاړ نه وي) ورته لمونځ ښودلی شي او د غلطي اصلاح یې هم کولای شي او د زیره خریلو ګناه به په خپل ځای وي.

## ایا په اولنیو امتونو هم لمونځ فرض و؟

**سوال:** په امت محمدیه باندې لمونځ فرض شو، خودحضوراقدس نه مخکې پیغمبرانو خپلو امتونو ته د الله تعالی د وحدانیت او د الله تعالی د عبادت تلقین کړی و او چا چې د هغوی خبره ومنله، نو هغوی به د الله تعالی عبادت څنګه کاوو؟یعنې موږ چې کوم لمونځ کوو دا لمونځ به هغوی هم کاوو؟ یاهغوی به څه لوستل؟ څنګه عبادت به یې کاوو؟

**جواب:** تفصیل خویې معلوم نه دی،خو دومره معلومه ده چې لمونځ په هغوی باندې هم فرض و، په وختونو او د لمانځه په طریقه کې اختلاف کیدای شي.[۱]

---

[۱] ]ولم تخل عنهاشریعة مرسل ای عن اصل الصلاة،قیل الصبح صلاةآدم،والظهرلداود، والعصر لسلیمان، والمغرب لیعقوب،والعشاءلیونس علیهم السلام،وجمعت فی هذه الامةوقیل غیرذلک.(شامی ج:۱ص:۳۵۱،کتاب الصلاة).

## د ترغيب په نيت سره خپل لمونځ نورو خلکو ته اورول

**سوال:** زه الحمدلله پنځه وخت لمونځ پابندي سره کوم، زه خپلو دوستانو ته د خپل لمونځ بوازې په دې نيت وايم چې کيداى شي دا خلک هم زما د لمونځ په ليدلو کتلو سره لمونځ شروع کړي، ايا دې نيت سره ګناه خو نشته؟

**جواب:** نه بلکې د ثواب کار دى.[1]

## څلويښت ورځې داول تکبير نيونکى کچېرته يوه ورځ په کور کې جماعت وکړي نوايا ورځې به پوره شي؟

**سوال:** څلويښت ورځې تکبيراولى باندې چې کوم فضيلت دى،اوس که دې دوران کې د يو سړي نه جماعت لاړ شي او کورته راشي خپلو زامنو سره جماعت سره لمونځ ادا کړي يا جومات کې دوه درې ملګري د جومات په يو ګوټ کې جماعت سره لمونځ وکړي يا په سر لمونځ کې د رکوع نه لږ وړاندې امام سره شريک شي، نو ايا ده ته د تکبيراولى والا د څلويښت ورځو فضيلت حاصل شو؟

**جواب:** کيداى شي چې الله تعالى ورته پوره اجر ورکړي، خودڅلويښت ورځو د تکبيراولى د ثواب د سر نه نيت کول پکار دي.

## که په لمانځه کې خشوع نه وي نو ايا د لمونځ کولو فائده شته؟د خشوع پيدا کولو طريقه

**سوال:** نن سبا داسې خلک پيدا شوې دي، وايي چې اصل مقصد خو په زړه کې د الله تعالى نوم نقش کول دي،که په زړه کې د الله تعالى نوم نقش نه وي، نو د لمانځه،روژې او د زکات هيڅ شي فائده نشته. له دې وجې نه ځينې خلک وايي چې د خشوع خضوع نه پرته لمونځ کول بې کاره دي او ډيز خلک له دې وجې نه پريشان دي چې د خشوع والا لمونځ خو مونږ ته نصيب نه دى، نو لمونځ ولې وکړو؟

**جواب:** په لمانځه کې د خشوع خضوع اهتمام خامخا کول پکار دي،اکابر حضرات فرمايي چې ددې اسانه طريقه داده چې د لمونځ شروع کولو نه مخکې دا سوچ وکړل شي چې زه الله

[1] عن ابي هريرةقال:قلت:يارسول الله صلى الله عليه وسلم!بيناان فى بيتى فى مصلاى اذ دخل على رجل فاعجبنى الحال اللتى رأنى عليها، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:رحمك الله ياابا هريرة!لك اجران اجر السر واجر العلانية.رواه الترمذى.(مشكوةص:٤٥٤،باب الرياءوالسمعة،الفصل الثانى).

تعالی ته درېږم، څنګه چې به په قیامت کې د الله تعالی په وړاندې زماوړاندې کېدل وي.بیا چې په لمانځه کې کوم الفاظ لولي، نو هغه دې سوچ سوچ سره لولي،که کله خیال غلط شي، نو بیا دې متوجه شي،ددې مطابق دې عمل وکړي. نو انشاء الله د لمانځه ثواب به ورکول کیږي،او په ورو ورو به ورته د خشوع خضوع حقیقت هم پیداشي.

۲: په زړه کې د الله تعالی نقش قائمول هم د نبی علیه السلام د طریقې مطابق لمونځ،روژې او نورو عبادتونو سره حاصلیدای شی.د لمونځ او روژې وغیره نه پرته په زړه کې نقش څنګه قائمېدای شي؟ نو کوم شی چې د الله تعالی د نوم د نقش کولو ذریعه ده،هغه ته بیکاره ویل ډیره لویه غلطی ده.

۳: په لمانځه کې د خشوع وخضوع حاصلولو طریقه خو ما پورته لیکلې ده،لمونځ دې په جمعې پابندي سره وکړل شي او ممکن حد پورې دې د خشوع خضوع اهتمام هم وکړل شي، خو لمونځ خامخا کول پکار دي.که خشوع وخضوع حاصل وي اوکه نه،د بزرګانو وینا ده چې د لمانځه پابندي کوئ. نواول به عادت جوړشي،بیابه عبادت جوړشي،نود خشوع حاصلولو طریقه هم لمونځ کول دي.

## د ډاکټر مریض په خطرناک حالت کې پرېښودل او لمانځه ته تلل

**سوال:** څه خلک وايي چې په هسپتال کې کار کوونکي ډاکټرانوته یا سټاف والو لپاره د ډیوټي دوران کې د لمونځ ادا کول ضروري نه دي، ځکه چې ځینې وخت کې د مریض ژوند په خطره کې وي او انسانیت بچ کول د لمانځه نه غوره دي، دې سره سره دا خلک دا هم وايي چې که د ډیوټي دوران کې یو سړی لمانځه ته لاړ شي او دې دوران کې مریض وفات شي، نو ددې ذمه داري به په چا باندې وي؟

**جواب:** د کوم ډاکټر یا نورې عملي ډیوټي چې د لمانځه په وخت کې وي، نو د هغوی د لمانځه لپاره ددې په بدل کې څه بل انتظام پکار دی. مریض په نازک حالت کې پرېښودل او لمانځه ته تلل خو ربښتیا صحیح نه دي. خو دداسې صورت حال لپاره بل څه انتظام کول هم فرض دي.[۱]

## مریض ته لمونځ ولې معاف نه دی، حالانکې سرکاري ډیوټي نه ریټائرډ(متقاعد) کس ته پنشن ورکول کیږي؟

**سوال:** د جدید ذهن مطابق دیوشک جواب ورکول ضروري دي، مثلاً: یو کس ووايي چې د حکومت یو سرکاري ملازم معذور شي، نو د سرکار له طرفه ورته معاوضه ورکول کیږي او

[۱] القابلة لو اشتغلت بالصلاة تخاف موت الولدجازلهاان تؤخرالصلاة عن وقتها وتؤخر بسبب اللص ونحوه، كذا في الخلاصة.(عالمگیری ج:۱ص:۵۱،کتاب الصلاة،طبع رشیدیه).

چې ريټائرډ (متقاعد) شي، نو پنشن ورکول کيږي.دا د الله تعالى قانون عجيبه دى چې مريض ته لمونځ معاف نه دى او معذور ته د فديه ورکولو حکم هم ورکول کيږي؟

**جواب:** د الله تعالى قانون صحيح دى، پوښتنه کوونکي ته د معذور په مطلب باندې پوهېدلو کې غلطي شوې ده. دلمانځه په باره کې قانون دادى چې کوم کس درېدلى نه شي. نو هغه دې لمونځ په ناسته باندې وکړي او چې کوم کس يې په ناسته باندې هم نه شي کولاى، نو هغه دې د سر په اشاره سره لمونځ وکړي او چې اشاره هم نه شي کولاى. نو دا کس معذور دى[1] او که په دې معذوريت کې مړ شو، نو ده ته به نيمه تنخواه نه ورکول کيږي. بلکې پوره تنخواه به ورته ورکول کيږي.

او دروژې په باره کې قانون دادى چې کوم کس په روژه نيولو باندې قدرت لري، نو هغه به روژه نيسي او څوک چې په روژه نيولو باندې قادر نه وي، نو د روژې بدل (فديه) به ادا کړي[2] او چې کوم کس په دې باندې هم قدرت نه لري، نو هغه معذور دى، دده مواخذه به نه کيږي بلکې پوره پوره ثواب به ورکول کيږي.[3]

د پوښتنه کوونکي غلطي داده چې هغه مطلق مريض معذور ګڼلى دى، حالانکې مطلق مريض د هيڅ يو حکومت په قانون کې هم معذور نه وي،معذور هغه دى چې د ټولو اسانتياوو باوجود هم په کار کولو باندې قدرت نه لري او دالله تعالى په قانون کې معذور سړي ته نيم پنشن نه ورکول کيږي، بلکې د معذورتيا د ورځوهم ورته پوره پوره اجروثواب ورکول کيږي.[4]

## د تهجد لمونځ لپاره الارم ګړى لګول

**سوال:** که د يو سړي خوب سخت (زور)وي، نو هغه د تهجد لمونځ ته د بيداريدو لپاره الارم ګړى وغيره لګولى شي او که نه؟

**جواب:** بالکل يې لګولى شي،بلکې لګول يې ضروري دي.

---

[1] وان عجزالمريض عن القيام.....يصلى قاعداًيركع ويسجد.....فان لم يستطع الركوع والسجود.....اومى برأسه..... فان لم يستطع الايماءبرأسه لاقاعداً ولامستقيماً ولامضطجعاً اخرت الصلاة...الخ.(حلبى كبير ص:۲۶۱، الثانى القيام، طبع سهيل اكيدمى لاهور).

[2] والشيخ الفانى الذى لايقدرعلى الصيام يفطرويطعم لكل يوم مسكيناًكمايطعم فى الكفارات. (هداية ج:۱ص:۲۲۲،باب مايوجب القضاءوالكفارة).

[3] لونذرصوم الابدفضعف عن الصوم لاشتغاله بالمعيشةله ان يفطرويطعم لانه استيقن ان لايقدرعلى قضائه فان لم يقدرعلى الاطعام لعسرته يستغفرالله ويستقيله.(فتح القديرج:۲ص:۸۳،فصل ومن كان مريضاًفى رمضان).

[4] عقبةبن عامرالجهنى رضى الله عنه يحدث عن النبى صلى الله عليه وسلم قال:ليس من عمل يوم الاوهويختم فاذامرض المومن قالت الملائكة:ياربنا!عبدک فلان قدحبسته،فيقول الرب تعالى:اختمواله على مثل عمله حتى يبرأ اويموت.(مستدرک حاكم ج:٤ص:۳۰۹،كتاب الرقاق).

## د یوې میاشتې لمونځونه په درې ورځو کې ادا کول

**سوال:** که زه د یو میاشت لمونځونه په دریو ورځو کې پوره کړم او باقي ورځو کې دنیا ته لګیا شم نو ایا دا صحیح ده؟

**جواب:** چې د لمانځه وخت وي، نولمونځ به فرض شي[1]د وخت نه مخکې لمونځ څنګه صحیح کیدای شي؟یا دیوې میاشت لمونځونه په دریو ورځو کې څنګه ادا کېدای شي؟[2]

## د سرکاري ډیوټي دوران کې لمونځ کول څنګه دي؟

**سوال:** یو سرکاري ملازم دی او هغه د ډیوټي دوران کې لمونځ وکړي، نو دده په لمانځه کې خوبه فرق نه راځي؟یعنې دده لمونځ کیږي اوکه نه؟ ځکه چې دی د حکومت په نګراني کې دی او دا سړی ددې وخت مزدوري اخلي؟

**جواب:** په کومه اداره کې چې دی ملازمت کوي، هغه خلکو ته په خپله پکار دي چې ملازمانو ته د لمانځه لپاره وخت ورکړي. په ملازمت سره لمونځ نه ساقطیږي،که د ادارې له طرفه د لمانځه لپاره وخت نه ورکول کیږي،نو بیا هم د ملازمت په وختونو کې لمونځ کول ضروري دي[3] البته؛که د ادارې له طرفه د لمانځه لپاره وخت ورکول کیږي، په هغه کې ملازم سستي وکړي او لمونځ ونکړي او د کار په وخت کې لمونځ وکړي، نو دا کار صحیح نه دی، په دې صورت کې لمونځ خو به وشي خو دا طرز د کار کولو صحیح نه دی.

## په نابالغ باندې د لمونځ نه فرض کېدو باوجود د سختې حکم ولې دی؟

**سوال:** په قرآن پاک کې حکم دی چې په هر"بالغ"سړي او ښځې باندې پنځه وخت لمونځ فرض شوی دی،خو په مبارکو حدیثونو کې ماشومانو ته د اوو کلنی نه د لمانځه د تاکید او د لس دولس کلنی په عمر کې د لمونځ نه ادا کولو په صورت کې سزا هم ښودل شوې ده، زما سوال دا دی چې هرکله پرې لمونځ فرض شوی نه دی، نو بیا سختي او د سزا ورکول څنګه کېدای شي؟

**جواب:** ستاسو وینا صحیح ده چې په نابالغ کس باندې لمونځ فرض نه دی، خو داخیال کول ستاسو غلط دي چې کوم شی فرض نه وي، نو په هغه باندې دې سختی نه کیږي، مور او پلار ماشومان په داسې ډیرو کارونو باندې وهي چې هغه فرض او واجب نه وي،بیا په نابالغ

---

[1] ]ان الصلوة کانت علی المؤمنین کتباًموقوتاً،(النساء:۱۰۳).

[2] ]لان الوقت کماهوسبب لوجوب الصلاةفهوشرط لادائها......حتی لایجوز اداءالفرض قبل وقته...الخ.(بدائع الصنائع ج:۱ص:۱۲۱،فصل فی شرائط الارکان،طبع ایچ ایم سعید).

[3] ]عن النواس بن سمعان قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لاطاعةلمخلوق فی معصیة الخالق.رواه فی شرح السنة.(مشکوة ص:۳۲۱،کتاب الامارة والقضاء،طبع قدیمی).

باندې لمونځ فرض خو نه دی .خو دعادت جوړولو لپاره د دوی په مور پلار باندې دا فرض دی چې دوی ته لمونځ وښيي او د اندازې مطابق پرې سختي وکړي. له دې وجې نه د موراو پلار په ذمه د خپلو فرضو پوره کول لازم دي. وجه دا ده چې که بلوغ پورې دی دلمانځه او نورو عبادتونوسره عادت نه شي، نو د بلوغ نه وروسته به هم د لمانځه پابندي نه کوي. له دې وجې نه حکم شوی دی چې د بلوغ نه مخکې مخکې بې د لمانځه عادتي کړئ.[۱]

## داوو کلونو یا لسو کالو په عمر کې که لمونځ لاړشي نو ایا قضا پرې وکړل شي؟

**سوال:** زه وايم چې د اوو کلونو په عمر کې لمونځ فرض کيږي او که د لسو کلونو په عمر کې ماشوم لمونځ ونکړي، نو دده وهل پکار دي او زما د خاوند وينا ده چې"لمونځ بالغ کېدو سره فرض کيږي.داوو کلونو حکم ددې لپاره دی چې ماشوم يا ماشومه لمونځ زده کړي او ورو ورويې عادت جوړشي. په داسې صورت کې که دچانه لمونځ پاتې شي، نو ددې قضا نشته او که د خوب يا د ستړيا له وجې نه لمونځ پاتې شي. نو ګناه پرې نشته، دلمونځ قضا د بالغ کېدو نه وروسته فرص کيدو باندې ده.ايا زما د خاوند خيال صحيح دی؟

**جواب:** ستاسو د خاوند خيال صحيح دی چې لمونځ په بالغ کيدو سره فرض کيږي،په نابالغ باندې لمونځ فرض نه دی، خو په حديث شريف کې حکم دی : کله مو چې ماشومان د لسو کلونو شي، نو په لمونځ نه کولو باندې يې ووهئ (او دا وهل د لاس په ذريعې سره پکار دي. په لرګی سره نه دي پکار او د دريو ډبونه زيات وهل هم پکارنه دي) له دې وجې نه که دعادت کولولپاره پرې قضا وکړل شي، نودا صحيح ده.[۲]

## که د لمانځه په قبوليت کې د چا شک وي نو څه وکړي؟

**سوال:** که يو سړی پوخ لمونځ کونکی دی او دا ګمان يې وي چې زما فلاني فلاني لمونځو قبول شوي نه دي، نو دی به څه کوي؟ او په کومو کومو لمونځونو کې چې ورته شک وي، نو د هغولمونځو قضا به کوي اوکه نه ؟

---

[۱] ]هی فرض عين على كل مكلف.....وان وجب ضرب ابن عشرعليهابيدلابخشبة لحديث مروا اولادكم بالصلاة وهم ابناءسبع واضربوهم عليهاوهم ابناءعشر.(الدرالمختارمع الردج:۱ص:۳۵۲،كتاب الصلاة).

[۲] ]هی فرض عين على كل مكلف.....وان وجب ضرب ابن عشرعليهابيدلابخشبة لحديث مروا اولادكم بالصلاة و هم ابناءسبع واضربوهم عليهاوهم ابناءعشر،(قوله بيد)ای ولايجاوزالثلاث.(ردالمحتارعلى الدرالمختارج:۱ص:۳۵۲).

**جواب:** كه د لمانځه فرض يا واجب ترينه پاتې شوي وي، نوقضاء دې راوړي [١]. كه نه نشته.[٢]

## ايا د خويندو وروڼو له پاره د روزي ګټونكي په ذمه لمونځ نشته؟

**سوال:** يو كس وويل چې كه د خويندو وروڼو لپاره روزي ګټلو لپاره څوك لاړ شي، نو لمونځ فرض نه دى؟

**جواب:** دا خبره بالكل غلطه ده. لمونځ خو خاص د جهاد په حالت كې هم معاف نه دى او شريعت ددې طريقه دا ښودلې ده چې يو جماعت دې لمونځ وكړي او بيادې دويم جماعت وكړي،دې له پاره چې په جهاد كې نقصان هم ونه شي او د لمانځه فريضه هم ساقط نه شي،چې هركله د جهاد لپاره لمونځ معاف نه دى. نو د يو كس لپاره د روزي ګټلو لپاره به څنګه لمونځ معاف شي؟[٣]

# ❖ د لمانځه وختونه ❖

## د وخت نه مخكې لمونځ كول صحيح نه دي

**سوال:** څنګه چې د وخت تېريدو نه وروسته قضاء لمونځ كيږي همدغه شان د وخت نه مخكې لمونځ كيږي او كه نه؟

**جواب:** د لمونځ د صحت له پاره يو شرط دا دى چې دهغه لمونځ وخت داخل شوى وي، بيا چې كوم لمونځ په وخت كې دننه وكړل شي هغه خو ادا شو او كوم چې د وخت د وتلو نه وروسته وكړل شو هغه قضاء شو او كوم چې د وخت نه مخكې وكړل شو هغه نه اداء شو او نه قضاء بلكې د سره لمونځ نه دى شوى.[٤]

---

[١] من فرائضها التى لاتصح بدونها...الخ صفة كاشفة اذلاشىء من الفروض ماتصح الصلاة بدونه بلاعذر.(شامى ج:١ص:٤٤٢)ولهاواجبات لاتفسدبتركها وتعاد وجوبا فى العمد والسهو ان لم يسجدله وان لم يعدها يكون فاسقا.(الدرالمختار ج:١ص:٤٥٦،باب صفة الصلاة).

[٢] لان الفرض لايتكرر.(ردالمحتار على الدرالمختار ج:٢ص:٦٤،مطلب فى تعريف الاعادة).

[٣] واذا اشتد الخوف جعل الامام الناس طائفتين طائفة الى وجه العدو وطائفة خلفه كذافى القدورى.(عالمگيرى ج:١ص:١٥٤،الباب العشرون فى صلاة الخوف،كتاب الصلاة).

[٤] ومنها الوقت لان الوقت كماهومسبب لوجوب الصلاة فهوشرط لادائها.....حتى لايجوز اداء الفرض قبل وقته...الخ.(بدائع الصنائع ج:١ص:١٢١،فصل فى شرائط الاركان)_

## د سحر، ماسپښين، مازديګر، ماښام او ماسخوتن وخت څو پورې وي؟

**سوال:** زه ستاسو نه د لمونځونو د وختونو په باره کې پوښتنه کول غواړم چې د سحر لمونځ لمر راختلو سره قضا کيږي. دماسپښين لمونځ درې بجو پورې وي. دمازديګر وخت څومره وي؟ما د مولانا محمد عاشق الهي صاحب بلندشهري په کتاب"شپږ خبرې" کې لوستي دي چې:"د لمر ډوبيدلو نه وروسته تقريباً يو نيم ساعته پورې د ماښام وخت وي،داچې مشهوره ده چې د لمر ډوبيدو نه وروسته لږ هم تاخير وشي، نو قضاء کيږي، صحيح خبره نه ده".او د ماسخوتن وخت د شپې لس بجو پورې وي، مهرباني وکړئ زموږ غلطي راته په ګوته کړئ چې لمونځونه څهٔ وخت قضا کيږي (دګړۍ (ساعت) د وخت مطابق)؟

**جواب:** د سحر وخت د صبح صادق نه تر لمر راختلو پورې دی[۱]. دماسپښين وخت د لمر دزوال نه تر هغه وخته پورې دی چې د هر شي سايه (سيوری) دهغه شي برابر شي (او د څېنې حضراتو د قول مطابق چې د هغه شي سايه د هغه شي دوچنده شي)[۲] دا وخت بدليږي رابدليږي. له دې وجې نه چې په جوماتونو کې د لمونځونو کومې نقشې لګيدلي دي، نو په هغه کې روزانه کتل پکار دي.د مازديګر وخت د ماسپښين د وخت ختميدو نه ترلمر ډوبېدو پورې دی، خو د مازديګر په لمانځه کې دومره تاخير کول چې لمر کمزوری او زيړ شي، نو دا مکروه دی[۳]،دماښام وخت يو ساعت او شل دقيقې وي، خو بغير د څه وجې نه د

---

[۱] وقت الفجرمن الصبح الصادق...الى طلوع الشمس...الخ.(عالمگيرى ج:۱ص:۵۱،كتاب الصلاة،الباب الاول فى المواقيت).ايضاً:روى فى حديث جابروابى موسى وغيرهمارضى الله عنهم ان النبى صلى الله عليه وسلم صلى الفجرحين طلع الفجرفى اليوم الاول،وصلاهافى اليوم الثانى حين كادت الشمس تطلع،ثم قال للسائل:الوقت فيمابين هذين،وفى حديث عبدالله بن عمرو رضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم قال:وقت الفجرمالم تطلع الشمس.(شرح مختصرالطحاوى ج:۱ص:۴۹۱،۴۹۲،كتاب الصلاة).

[۲] وقت الظهرمن الزوال الى بلوغ الظل مثليه سوى الفى.كذافى الكافى وهوالصحيح هكذافى محيط السرخسى...الخ.(عالمگيرى ج:۱ص:۵۱،كتاب الصلاة،الباب الاول فى الموقيت ومايتصل بها).ايضاً:اذا زالت الشمس فقددخل وقت الظهر،قال ابوبكر:وذالک لقول الله تعالى:اقم الصلوة لدلوک الشمس.وروى.ان الدلوک الزوال،وروى الغروب وهوعليهاجميعاً.(شرح مختصرالطحاوى ج:۱ص:۴۹۲،كتاب الصلاة).

[۳] ووقت العصرمن صيرورةالظل مثله غيرفى الزوال الى غروب الشمس.(عالمگيرى ج:۱ص:۵۱،كتاب الصلاة، الباب الاول فى المواقيت).ويستحب تاخيرالعصرفى كل زمان مالم تتغيرالشمس...الخ.(عالمگيرى ج:۱ص:۵۲). ايضًا:عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:ان للصلاة اولاوآخر،وان اول وقت الظهرحين تزول الشمس،وان آخر وقتهاحين تدخل وقت العصر.(شرح مختصر الطحاوى ج:۱ص:۴۹۸كتاب الصلاة). وعن ابى هزيرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم و آخر وقت العصر حين تصفر الشمس (ايضاً: ج۱، ص۴۹۹ كتاب الصلوة)

مابنام په لمانځه کې تاخير کول مکروه دي[1] او د ماسخوتن وخت بغير د څه کراهت نه نيمې شپې پورې دی او د نيمې شپې نه ترد صبح صادق پورې بيا مکروه دی[2]، ښځو لپاره هر لمونځ په اول وخت کې کول مستحب دي.[3]

## د اذان نه څومره وخت وروسته لمونځ کېدلای شي؟

**سوال:** داذان نه څومره وخت وروسته لمونځ کول پکار دي؟ مهرباني کولو سره د ټولو لمونځونو وخت راته په دقيقواو ساعتو کې ووايئ، نوغوره به وي.د "مثل"نه څه مراددی؟ ددې وضاحت هم وکړئ.

**جواب:** که مؤذن غلط شوی نه وي او هغه دوخت نه وړاندې اذان نه وي کړی، نو د اذان نه فورا وروسته هم لمونځ کول صحيح دي، په جوماتونو کې د لمونځونو د وختونو نقشه ځوړنده (اوايزانه) وي،هغه دې راواخستل شي او دې وکتل شي، ځکه چې روزانه وخت بدليږي رابدليږي. د "مثل"نه مراد دادی چې د هر شي سيوری د هغه برابر شي.

## د اذان نه فورا وروسته په کورکې لمونځ کول

**سوال:** لمونځ کونکی که ځانته په کور کې لمونځ کول غواړي. نو د اذان کېدو سره د لمانځه وخت کيږی اوکه نه؟ د اذان نه څومره وقفې نه وروسته لمونځ شروع کړل شي؟ دغه شان خو به هغه لمونځ ګزار په جومات کې د لمانځه د ادا کيدو نه مخکې لمونځ وکړي، داسې څه ضروري حکم خو نشته چې د اذان نه څه وقفه وروسته دې لمونځ شروع کړل شي يا چې څنګه اذان ختم شي لمونځ کيږي؟

**جواب:** په کور کې ځانته لمونځ کول د ښځو نه پرته يوازې د معذورو خلکو له پاره جائز

---

[1] ]ووقت المغرب منه الى غيبوبة الشفق...الخ.(عالمگيرى ج:١ص:٥١،كتاب الصلاة).ويستحب تعجيل المغرب فى كل زمان كذافى الكافى.(عالمگيرى ج:١ص:٥٢).ايضاً:عن ابى هريرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال:ان اول وقت المغرب حين تسقط الشمس.(شرح مختصرالطحاوى ج:١ص:٥٠٠،كتاب الصلاة).وعن عبدالله بن عمرو رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال.......ووقت المغرب مالم يسقط نورالشفق.(شرح مختصر الطحاوى ج:١ص:٥٠٣،كتاب الصلاة).

[2] ]ووقت العشاءوالوترمن غروب الشفق الى الصبح كذافى الكافى.(عالمگيرى ج:١ص:٥١،الباب الاول فى المواقيت).ويكره اداءالعشاءبعدنصف الليل،هكذافى البحرالرائق.(عالمگيرى ج:١ص:٥٣).ايضاً:قال ابوجعفر: واذا خرج وقتها،تلاه وقت العشاءالآخرة،لماروى عن النبى صلى الله عليه وسلم انه صلاهافى اليوم الاول بعد ماغاب الشفق، وآخروقتهاطلوع الفجر،وذالک لانه قدروى ان النبى صلى الله عليه وسلم انه صلاهابعدنصف الليل،وروى بعدثلث الليل،وهماصحيحان جميعاً.(شرح مختصرالطحاوى ج:١ص:٥١٠،كتاب الصلاة).

[3] ]كان اولى للناس ان يصلين فى اول الوقت لانهن لايخرجن الى الجماعة.(شامى ج:١ص:٣٦٧).

دی[1]،له عذر نه پرته د جومات جمعه پرېښودل کبيره ګناه ده[2] که د دې خبري اطمينان وي چې اذان د وخت نه مخکې نه دی شوی، نو په کور کې لمونځ کونکی د اذان نه فورا ووروسته لمونځ کولی شي بلکې که وخت شوی وي او هغه ته دا معلومه وي چې وخت داخل دي. نو د اذان نه يې مخکې هم کولی شي. خو چې اذان د وخت د دخول نه څه وخت وروسته و شي[3]

## د سهار لمونځ د سرخي په وخت کې کول

**سوال:** د سهار لمونځ په اخير وخت کې کله چې ښه رڼا شي چې د مشرق په طرف سرخي په نظر راشي کول او جمعه ورکول جائز دي او که ناجائز؟

**جواب:** د سهار لمونځ د لمر راختلو نه مخکې له کراهت پرته کول جائز دي، خو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د سهار لمونځ په داسې وخت کې کول افضل دي چې د لمر راختلو نه مخکې يو بله جمعه د سنتو مطابق کېدای شي.[4]

## د سهار جمعه لمر راختلو نه نيمه ګېنټه مخکې مناسب ده

**سوال:** د سهار جمعه لمر راختلو نه مخکې څومره وخت مخکې کول غوره دي؟ کوم چې د سنتو لمونځ ګزارو په جمعه کې د شرکت سبب هم شي او په لمانځه کې د نقصان نه وروسته په دويم ځل د لمانځه دراګرځولو وخت هم وي، په تفصيل سره موخبر کړئ او د الله پاک له بندګانو سره احسان وکړئ؟

**جواب:** دسهار لمونځ د لمرراختلو نه دومره وخت مخکې کول پکار دي چې د فساد په صورت کې لمونځ په مسنونې طريقې سره په دويم ځل اداء شي، ددې له پاره د لمرراختلو نه مخکې د نيمې يا پاو کم يوې ګېنټې اندازه کيږي.[5]

---

[1] ]فالجماعة انماتجب على الرجال العاقلين والاحرار القادرين عليهامن غيرحرج فلاتجب على النساء والصبيان...الخ.(بدائع ج:١ص:١٥٥،فصل فى بيان من تجب عليه الجماعة)۔

[2] ]قال فى شرح المنية:والاحكام تدل على الوجوب من ان تاركهابلاعذريعزر وتردشهادته،ويأثم الجيران بالسكوت عنه.(ردالمحتارج:١ص:٥٥٢،باب الامامة)۔

[3] ] لان الاذان للاعلام بدخول وقت الصلاة والمكتوبات هى المختصةباوقات معينة.(بدائع الصنائع ج:١ص:١٥٢)

[4] ] والمستحب للرجل الابتداءفى الفجرباسفار،والختم به هو المختاربحيث يرتل اوبعين آية ثم يعيده بطهارة لو فسد(درمختار)وفى الشامية تحت قوله(باسفار)والحاصل ان هذا الاسفار ان يمكنه اعادة الطهارة ولومن حدث اكبركمافى النهروالقهستانى واعادة الصلاة على الحالة الاولى قبل الشمس.(درمختارمع الشامى ج:١ص:٣٦٦)

[5] ] اوګورئ تېره شوې حاشيه (والمستحب للرجل الابتداءفى الفجرباسفار،والختم به وهو المختار....الخ)۔

## د صبح صادق نه وروسته وتر او نفلو نه کول

**سوال:** ځينې خلک وتر لمونځ له تهجدو سره کوي دا بيان کړئ چې د سهار اذان کېدونکې وي، نو په هغه وخت کې د تهجد لمونځ او وتر کولی شو او که نه؟ سره له دې چې د سهار جماعت د اذان نه نيمه ګينټه يا څلويښت منټه وروسته کيږي؟

**جواب:** دوتر لمونځ دتهجد په وخت کې صحيح دی، بلکې چا ته چې د تهجدو په وخت کې د ويښېدلو پوره يقين وي د هغه له پاره د تهجدو په وخت کې وتر کول ډېر غوره دي[۱] دوترلمونځ د صبح صادق نه مخکې کول ضروري دي د سهار کېدلو نه وروسته د وترلمونځ قضاء شو او کله يې چې د صبح صادق نه مخکې ونکړي، نو دوترلمونځ د صبح صادق نه وروسته او د سهار د لمانځه نه مخکې کول ضروي دي، خو د صبح صادق نه وروسته تهجد کول يا بل څه نفل کول جائز نه دي.[۲]

## د صبح صادق نه د لمر راختلو پورې نفل لمونځ کول منع دي

**سوال:** د سهارلمانځه دوه رکعته سنت ادا کولو نه وروسته که جعمې ته وخت لږ زيات پاتې وي، نو څه خلک په جومات کې نفلونه وغيره چې دهغه تعداد مقرر نه دی يوازې د وخت د پوره کولو له پاره کونکې په نظر راځي ايا دا کار صحيح دی چې د سهار د سنتو او فرضو تر مينځه نور څه نفل لمونځونه وکړل شي؟

**جواب:** د صبح صادق نه وروسته د سهار د سنتو نه علاوه نور نفلونه کول ممنوع دي قضاء لمونځ کيږي، خوهغه دې هم دخلکو مخکې نه کوي.[۳]

## که د ماسخوتن لمونځ پاتې شي نو د سهار د اذان نه وروسته دې وکړل شي

**سوال:** مخکې به له مانه کله کله دماسخوتن لمونځ قضاشو، نومابه د سهار د اذان نه وروسته اول د ماسخوتن لمونځ وکړ بيا به مې د سهار لمونځ وکړ، ددې صحيح تعداد راته ياد نه دی اوس چې هرکله ماته معلومه شوه چې د سهار د اذان نه وروسته اول د ماسخوتن قضا لمونځ کول پکار نه دي، بلکې اول د سهار لمونځ ادا کول پکار دي، دناپوهي له وجې نه چې ما

---

[۱] ويستحب فى الوترلمن يالف صلاة الليل ان يوخرهاالى آخرالليل لقوله عليه السلام من طمع ان يقوم آخرالليل فليوترآخره فان صلاة الليل محضورة.(الجوهرةالنيرة ج:۱ص: ۵۰،كتاب الصلاة،طبع حقانيه،ملتان)۔

[۲] ويكره ان يتنفل بعدطلوع الفجرباكثرمن ركعتى الفجرلان النبى صلى الله عليه وسلم لم يزدعليها......فقدمنع عن تطوع آخريفى جميع الوقت كالمشغول بهمالكن صلوة فرض آخرفوق ركعتى الفجرنجاز ان يصرف الوقت اليه...الخ.(الجوهرة النيرة ج:۱ص: ۸۴،كتاب الصلاة،باب الاوقات التى تكره فيهاالصلاة،طبع حقانيه)۔

[۳] ايضاً۔

کوم لمونځونه د ماسخوتن د سهار داذان نه وروسته کړي دي. له هغو سره څه وکړم؟
**جواب:** خدای مه کړه چې دماسخوتن لمونځ دې نه وي کړی. نودسهار د اذان نه وروسته اول د ماسخوتن لمونځ وکړئ. له دې نه وروسته د سهار ستاسو اولنی عمل صحيح دی.[1]

## د سهار لمانځه لپاره د پورته کېدلو طريقه

**سوال:** زه د سهار نه پرته ټول لمونځونه په وخت باندې کوم او هيڅ يو لمونځ نه پرېږدم. خو زما يوازې يوه کمزوري ده چې زه د سهارلمانځه لپاره نه شم پورته کېدلی. ترڅوچې يو کس راويښ کړی نه يم. ما ډېر زيات کوشش وکړ. خو زه په وخت باندې نه شم پورته کېدلی. ناوخته راويښېږم . زماڅخه لمونځ قضا شي.خو ماته پرې ډېر خفګان او دردوي. داسې طريقه راته وښيئ چې زه په وخت باندې لمونځ وکړم.
**جواب:** طريقه دا ده چې
۱: د ماسخوتن نه وروسته فورا ويده کيږئ.
۲: د پورته کېدو له پاره الارم ګړی لګوئ.
۳: د يوکس ته ووايئ چې هغه داذان په وخت تاسو وينبوي.
۴: چې په کومه ورځ ددې تدبيرونو باوجود هم لمونځ درنه قضا شي، نو هغه ورځ د جرمانې په طور څلور رکعته نفل د اشراق په وخت کې وکړئ او ناشته مه کوئ.

## د سهار د سنتو په مينځ کې د لمر راختل

**سوال:** که د سهار په وخت د لمانځه نيت تړلو نه وروسته د لمر راختلو وخت شروع شي او مونږ ته دا خبره د سلام دګرځولو نه وروسته معلومه شي. نو ايا زمونږ دا لمونځ به وشي؟ او که د سنت لمونځ کولو نه وروسته د لمرراختلو وخت شروع شي او له دې نه وروسته فرض لمونځ کوو، نو ايا دا لمونځ به وشي اوکه نه؟ او د لمر راختلو وخت څومره دی؟
**جواب:** که د سهار لمانځه دوران کې لمر راوخيږي. نو لمونځ به فاسد شي[2] داشراق وخت کيدلو په وخت به يې په دويم ځل کوئ، چې کله د لمر زيړوالی ختم شي او لمر صفا او روښانه شي. نو د اشراق وخت شي. په لمرخاته کې دلمر لومړی غاړه ښکاره کيدلو سره دلمر

---

[1] ]الترتيب بين الفائتة والوقتية وبين الفوائت مستحق كذا في الكافي.(عالمگيرى ج:۱ص:۱۲۱،كتاب الصلاة).
[2] ]وكذا لايتصور اداءالفجرمع طلوع الشمس عندنا،حتى لوطلعت الشمس وهوفى خلال الصلاة تفسدصلاته عندنا. (بدائع الصنائع ج:۱ص:۱۲۷،كتاب الصلاة،فصل فى بيان شرائط الاركان).ايضًا:اول وقت الفجراذاطلع الفجر الثانى وهوالمعترض فى الافق وآخروقتهامالم تطلع الشمس.(هداية ج:۱ص:۸۰).ايضًا: ثلاث ساعات لاتجوز فيها المكتوبة ولاصلاة الجنازة ولاسجدة التلاوة:اذاطلعت الشمس حتى ترتفع...الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۵۳،كتاب الصلاة، الباب الاول،الفصل الثالث)۔

راختلو وخت شروع کیږي

## د سهار لمونځ د لمر راختلو نه څومره وخت مخکې کیدای شي؟

**سوال:** په اخباراتو کې د لمر راختلو او ډوبیدو وخت لیکل شوی وي. مثلاً که د لمر راختل په ۱۲ ۶ باندې وي، نو ایا مونږ به لمونځ د ۱۲: ۶ پورې کولای شو؟

**جواب:** د لمر راختلوله وخت نه مخکې مخکې یې ختم کړئ

## ایا په مکروه وختونو کې د لمونځ کوونکي لمونځ د قبلیدو قابل دی؟

**سوال:** په مکروه وختونو (د لمر راختلو، لمر غورځېدو او د ورځې نیمایي) کې اکثر ناپوهه حضرات لمونځ شروع کړي. نو ایا د دوی لمونځ قبلیدای شي؟

**جواب:** دشریعت دحکم نه خلاف چې کوم کاروکړل شي، نوهغه څنګه قابل قبول کیدای شي. والله اعلم[۱]

## د لمانځه مکروه وختونه

**سوال:** د لمر راختلو، د ورځې په نیمایي او لمر ډوبیدو په وخت کې لمونځ کول مکروه دي، دا مکروه وخت څومره وخت وي؟ یعنې په نقشو کې دلیکل شوي وخت نه وروسته څومره وخت پورې لمونځ کول مکروه دي؟

**جواب:** د لمرراختلونه وروسته چې ترڅولمر زیږوي لمونځ دې نه کوي. تقریباً پنځلس دقیقه وقفه ضروري ده. دلمر ډوبیدو نه مخکې چې کله لمر زیړ شي، نو مکروه وخت شروع شي او په نقشو کې چې د زوال کوم وخت لیکل شوی وي له دې نه پنځه شپږ دقیقې وړاندې او وروسته لمونځ کول پکار نه دي.[۲]

## د سهار د لمانځه نه مخکې او وروسته څومره وخت مکروه دی؟

**سوال:** د سهار د لمانځه نه وروسته چې کوم شل منټه مکروه وي هغه کوم دي؟ د لمر د لومړۍ رڼا راختلو نه مخکې شل منټه یا له دې وخت نه پوره لمر راختلو پورې شل منټه؟ د مثال په طور باندې د موسمیاتو محکمه وایي چې سبا به شپږ بجې لمر راخیږي، نو مکروه

---

[۱] ثلاث ساعات لاتجوزفیها المکتوبة ولاصلاة الجنازة ولاسجدة التلاوة: اذاطلعت الشمس حتی ترتفع، وعند الانتصاف الی ان تزول، وعنداحمرارهاالی ان تغیب. (عالمگیری ج: ۱ص: ۵۲، کتاب الصلاة، الفصل الثالث)

[۲] ثلاث ساعات لاتجوزفیهاالمکتوبة.... اذاطلعت الشمس حتی ترتفع، وعندالانتصاف الی ان تزول، وعند احمرارها الی ان تغیب. (عالمگیری ج: ۱ص: ۵۲ کتاب الصلاة، الباب الاول، الفصل الثالث).

شل منټه به کوم وي؟ د شل منټه کم شپږو نه واخله تر شپږو بجو پورې یا د شپږو بجو نه تر شل منټه د پاسه شپږو پورې؟ مهرباني وکړئ. ددې سوال ځواب د موسمیاتو د محکمې د وخت په حوالې سره راکړئ چې د صبح صادق او صبح کاذب په حوالې سره جواب پوره په پوهه کې نه راځي او بیا دا تردد هم وي چې کېدای شي زمونږ اندازه غلطه وي ځکه چې د موسمیاتو محکمه روزانه د لمر راختلو وخت ښیي په دې وجه که تاسو دا جواب راکړئ چې د هغو د ښودل شوي وخت نه شل منټه مخکې وخت مکروه وي یا فورا وروسته. نو زما خیال دی چې دا خبره به زمونږ په ناقص عقل کې ښه راشي؟

**جواب:** د سهار لمانځه نه وروسته د لمر راختلو پورې نفل لمونځ کول صحیح نه دي[۱] قضاء لمونځ سجده تلاوت او د جنازې لمونځ جائز دی[۲]. د سهار لمونځ نه تر لمر راختلو پورې وخت، خو مکروه نه دی خو په دې وخت کې نفل لمونځ کول مکروه دي. کله چې د لمر سترګه راښکاره شي د هغه وخت نه واخله دلمر تر زېړوالي پورې (تقریبا شل یا پنځلس منټه مکروه دي) په دې کې فرض، نفل، سجده تلاوت او د جنازې لمونځ ټول منعه دي او د قرآن کریم تلاوت، ذکر او تسبیح درود شریف په دې وخت کې جائز دي. ستاسود سوال مطابق که د موسمیاتو محکمه دااعلان کوي چې نن به شپږ بجې لمرراخیژي. نو د شپږو بجو نه تر شل منټه او شپږو بجو پورې به ټول وخت مکروه وي.

## د اشراق د لمانځه وخت کله وي؟

**سوال:** زمونږ په جوماتونو کې اکثر د اشراق په لمانځه باندې جګړه وي څه حضرات د لمر راختلو نه پنځه منټه وروسته لمونځ کوي او څه اعتراض کوي د هغوی وینا ده چې پوره لمر پنځلس منټه وروسته راخیژي په دې وجه پوره پنځلس منټه وروسته د لمانځه وخت وي تاسو دا بیان کړئ چې د اشراق د لمانځه وخت د لمر راختلو نه څومره وخت وروسته شروع کیږي او ترڅو پورې وي؟

**جواب:** د لمر راختلو نه وروسته ترڅو چې لمر زیړ وي، لمونځ مکروه دی او د لمر زیړ والی په مختلفو موسمونو کې زیات او کم کېدای شي، په عامو موسمونو کې په پنځلس شل

---

[۱] اتفق العلماءعلی ان ثلاثة من الاوقات منهی عن الصلاةفیهاوهی وقت طلوع الشمس ووقت غروبها،ومن لدن تصلی صلاة الصبح حتی تطلع الشمس(بدایة المجتهدج:۱ص:۷۳،الفصل الثانی من الباب الاول،طبع مکتبه علمیه لاهور)

[۲] تسعة اوقات یکره فیها النوافل ومافی معناهما لاالفرائض هکذا فی النهایة والکفایة فیجوز فیها قضاء الفائتة وصلاة الجنازة وسجدة التلاوة کذا فی فتاوی قاضیخان......منها ما بعد صلاة الفجر قبل طلوع الشمس هکذافی النهایة والکفایة. (عالمګیری ج:۱ص:۵۲،۵۳، کتاب الصلاة، الفصل الثالث فی بیان الاوقات التی لاتجوز فیها الصلاة)

منته کې ختم شي. په دي وجه دومره وقفه ضروري ده. کوم خلک چې پنځه منټه وروسته لمونځ شروع کوي هغوی غلط کار کوي، خو په ځینې موسمونو کې لس منټه وروسته زیړ والی ختم شي، په اصل کې اعتبار د زیړ والي ختمېدو ته دی.[1]

## په رمضان المبارک کې د سهار لمونځ

**سوال:** په حیدراباد کې پیشمنی تقریبا څلور بجې ختمیږي. دلته په یو جومات کې تقریبا څلورنیمي بجې لمونځ کیږي. خو د څه خلکو اعتراض دی چې په دې وخت کې تیاره وي له دې وجې نه په دې وخت کې لمونځ کول جائز نه دي. خو ددې جومات والا وایي چې لمونځ په صحیح حالت کې کول پکار دي او لمونځ د لږې رڼا لګېدو پورې یا خو څه خلک ویده شوي وي یا په پرکالي کې وي له دې وجې زر لمونځ کول صحیح دي.

**جواب:** په صبح صادق باندې د پیشمني وخت ختمیږي او د سهار لمانځه وخت شروع شي[2] په رمضان المبارک کې د لمونځ ګزارو درعایت له پاره د سهار لمونځ عموما زر کیږي[3]. په هرحال د صبح صادق نه وروسته د سهار لمونځ صحیح دی. د رڼا خورېدل د لمانځه له پاره شرط نه دي.

## د نصف النهار (ورځې نیمایي) او د زوال وخت

**سوال:** د ورځې نیمایي او د زوال وخت څومره وي؟

**جواب:** د ورځې نیمایي هغه وخت ته ویل کیږي چې کوم وخت لمر بالکل په سر ولاړ وي او

---

[1] وکره تحريماً مع شروق قوله مع شروق ومادامت العين لاتحارفيها،فهى فى حكم الشروق،كماتقدم فى الغروب ان الاصح كمافى البحراقول:ينبغى تصحيح مانقلوه عن الاصل للامام محمدمن انه مالم ترتفع الشمس قدر رمح فهى فى حكم الطلوع،لان اصحاب المتون مشواعليه فى صلوة العيدحيث جعلواول وقتهامن الارتفاع،ولذاجزم به هنافى الفيض ونورالايضاح.(ردالمحتار،كتاب الصلاة ج:١ص:٣٧١،طبع ايچ ايم سعيد).
وذكرفى الاصل مالم ترتفع الشمس قدررمح فهى فى حكم الطلوع واختار الفضلى ان الانسان مادام يقدر على النظرالى قرص الشمس فى الطلوع فلاتحل الصلاة فاذاعجزعن النظرحلت وهومناسب لتفسير التغير المصطلح كماقدمناه.(البحرالرائق ج:١ص:٢٦٣)_

[2] ]وقت لفجرمن الصبح الصادق الى طلوع الشمس لحديث امامة اتانى جبريل عندالبيت.......ثم صلى الفجرحين بزق الفجروحرم الطعام على الصائم...الخ.(البحرالرائق ج:١ص:٢٥٧،كتاب الصلاة)_

[3] ]فلو اجتمع الناس اليوم ايضاًفى التغليس لقلنابه ايضاً،كمافى المبسوط السرخسى فى باب التيمم انه يستحب التغليس فى الفجروالتعجيل فى الظهراذا اجتمع الناس،قال رحمه الله تعالى بعداسطر.....ولعل هذاالتغليس فى رمضان خاصةوهكذاينبغى عندنااذا اجتمع الناس وعليه العمل فى دارالعلوم ديوبندمن عهدالاكابر.(فيض البارى على صحيح البخارى،كتاب الصلاة،باب وقت الفجرج:٢ص:١٣٥،١٣٦،طبع خضر راه بک دپو ديوبند هند)_

کله چې لمر د مغرب په طرف روان شي. نو دورځې نیمایي ختم شو. دې ته "زوال" وایي[1]. له دې وجې نه د زوال نه څو دقیقې یعنې اوو اته دقیقې وړاندې لمونځ نه شي کولای. والله اعلم

## د نصف النهار نه څه مراد دي؟

**سوال:** د لمانځه په مکروه وختونو کې یو وخت د استواء هم دی، په دې وخت کې د لمانځه نه منع راغلې ده علماء کرام د دې وخت متعلق فرمایي چې د زوال کوم وخت چې په نقشو کې، ورکړل شوی دی له دې نه پنځه منټه مخکې او پنځه منټه روسته لمونځ منع دی. خو شرعي، دائمي جنتري (مرتبه قاري شریف احمد صاحب مدظله العالی) کې چې د دې حدیث په تشریح کې کوم وخت مقرر شوی دی هغه تقریبا څلویښت منټه دی، د دې په وضاحت کې قاري صاحب فرمایي چې د لمر راختلو نه تر لمر غورځېدلو پورې چې څومره وخت دی د هغه برابر دوه برخې کړئ د لومړۍ برخې په ختم باندې شروع د نصف النهار شرعي ده. همدغه شان د لمر راختلو نه تر لمر غورځېدلو پورې چې څومره وخت دی د هغه برابر دوه برخې کړئ د لومړۍ برخې په ختمېدو باندې ابتدا د نصف النهار عرفي یا حقیقي ده او په دې باندې د لمر وخت ختمیدو سره د ماسپښین وخت شروع کیږي په دې خپل تحقیق باندې د دارالعلوم دیوبند فتوا (چې د هغه اصل د قاري صاحب سره موجود دی) هم په تاید کې پیش کړل شوې ده، چې د هغه خلاصه په لاندې ډول لیکل شوې ده:

له دې عبارت نه معلومه شوه چې د ضحی کبری او لمر د زوال په مینځ کې د لږو درجو فاصله ده، دواړه یعنی (ضحوه کبری او زوال شمس) یو نه دي، د نصف النهار شرعي قطر د سهار د حصې نیمایي برابر دی د صبح صادق نه تر لمر راختلو پورې چې څومره ګینټې وي د هغه نیمه د شرعي ورځ نیمه ده، هغه د لمر د زوال نه مخکې وخت دی، له دې وجه چې د دې دوه وختونو مینځ کې لمونځ وکړل شي، نو په دې کې اختلاف دی، ځکه چې د زوال په وخت کې د لمانځه نه منع راغلې ده، له دې وخت نه کوم وخت مراد دی؟ عین د زوال وخت یا ضحی کبری نه وروسته د زوال پورې وخت مراد دی؟ شامي په دې باندې بحث کړی دی، له دې نه وروسته لیکي نصف النهار خو په حدیث کې راغلی دی او چونکه په حدیث کې د....الی الزوال....قید لګیدلی دی په دې بنیاد باندې د نصف النهار نه ضحی کبری مراد کړل شوی

[1] فی الدرالمختار: وکره تحریمه......صلاة مطلقا......مع شروق......والسواء...الخ. وفی ردالمحتار: قوله واستواء التعبیر به اولی من التعبیربوقت الزوال لان وقت الزوال لاتکره فیه الصلاة اجماعا بحرعن الحلیة: ای لانه یدخل به وقت الظهر کما مر وفی شرح النقایة للبرجندی: وقدوقع فی عبارات الفقهاءان الوقت المکروه هوعندانتصاف النهار الی ان تزول الشمس ولایخفی ان زوال الشمس انماهوعقیب انتصاف النهار بلافصل. (ردالمحتار ج:۲ ص:۳۷۱ ایضا عالمگیری ج:۱ص:۵۲، کتاب الصلاة، الفصل الثالث فی بیان الاوقات التی لاتجوزفیها الصلاة)

دي. دي ته نصف النهار شرعي وايي چې د صبح صادق نه شروع كيږي. هم دا حديث اصل دی بې بنياده شی نه دی هم دغه شان په عمدة الفقه كې د كتاب الصوم په صفحه ٢ باندې د نيت په بحث كې نصف النهار عرفي ته د استوا وخت ويل شوی دی او نصف النهار شرعي ته ضحی كبرى. دغه شان خو په نصف النهار شرعي او عرفي كې كافي وخت معلوميږي كوم چې كم او زيات ۴۵ منټه جوړيږي. دحق او صواب نه مو خبر كړئ چې د نصف النهار نه پنځه منټه مخكې او پنځه منټه وروسته لمونځ منع دی يا نصف النهار شرعي او عرفي په مينځ كې وخت؟ هم په دې ضمن كې دې يوه خبره دا بيان كړل شي چې د جمعې په ورځ د زوال وخت نه وي، په دې كې حق او صواب يعني صحيح مسئله څه ده؟ نفلونه، صلاه التسبيح وغيره په څومره وخت كې نه دی كول پكار؟ ځينې علماء د جمعې په ورځ عين د زوال په وخت د نفلونو اهتمام كونكي ليدل شوي دي

**جواب:** نصف النهار شرعي نه مراد يا د ضحی كبرى نه لمر دزوال پورې د لمونځ د منع كيدلو قول علامه شامي د قهستاني په حوالې سره د خوارزم اماmانوته منسوب كړی دی[1] خو په احاديث مبارك او د امت د مشرانو په ارشاداتو كې غور كولو سره معلوميږي چې دا قول معتمد نه دی صحيح او معتمد قول هم دادی چې د نصف النهار عرفي په وخت لمونځ ممنوع ده. هغه وخت چې لمر د خط استوا سره تيريږي او دا ډير مختصر شان وخت دی، دلمانځه په نقشو كې چې كوم د زوال وخت وركړل شوی دی ددې په پنځه منټه مخكې وروسته كې توقف كول پكار دي. دلته د دارالعلوم ديوبند لومړی مفتي مولانا عزيزالرحمن عثماني رحمه الله فتوا نقل كوم:

**سوال:** (٧٣) د چاشت وغيره نفلونه په دولس بجې كې كول صحيح دي اوكه نه ؟ او په اسلامي جنتري كې د زوال يا د قضاء لمونځ وخت څلريشت منټه د پاسه دولس بجې (١٢:٢٤) ليكل شوی دی.

**جواب:** د زوال په وخت نفلونه وغيره هيڅ هم نه دي كول پكار او نه په داسې وخت كې نفلونه وغيره كول پكار دي چې د زوال وخت د لمانځه په مينځ كې وشي، دكومې كړئ مطابق چې د زوال وخت ١٢:٢۴ دی. دهغه مطابق كه دولس بجې نفل يا قضاء لمونځ داسې وكړی چې د زوال نه مخكې مخكې هغه ختم كړي، نو دا جائز دي، خو كله چې د زوال وخت نزدې شي، نو هغه وخت دې هيڅ لمونځ نه شروع كوي چې داسې وو نه شي چې د لمانځه په مينځ كې څه وخت زوال راشي فقط. (فتاوی دارالعلوم ديوبند مكمل و مدلل ج٢ ص٦٩)

---

[1] ]وعزالى القهستانى القول بان المراد انتصاف النهارالعرفى الى ائمة ماوراءالنهر،وبان المراد انتصاف النهارالشرعى وهوالضحوةالكبرى الى الزوال الى ائمة خوارزم.(ردالمحتار ج:١ص: ٣٧١، مطلب يشترط العلم بدخول الوقت)_

د مفتي صاحب ددې فتوا نه معلومه شوه چې د لمانځه په منع کیدلو کې د ضحی کبرٰي او نصف النهار شرعي هیڅ اعتبار نشته. بلکې عین د زوال وخت اعتبار دی کوم ته چې ته د استوا وخت یا نصف النهار حقیقي وایې.

د جمعې په ورځ د نصف النهار په وخت کې لمونځ کول د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد هم هغه شان ناجائز دي څنګه چې په عام ورځو کې ناجائز دي.خو د امام ابویوسف رحمه الله نه په یو روایت کې ددې اجازت نقل شوی دی.کوم خلک چې د جمعې په ورځ د نصف النهار په وخت کې لمونځ کوي غالبا هغوی به د امام ابویوسف رحمه الله په قول باندې عمل کونکي وي، خو په فقه حنفي کې راجح او معتمد د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله قول دی له دې وجه احتیاط هم په دې کې دی چې دجمعې په ورځ هم د استوا په وخت په لمونځ کولو کې توقف وکړل شي[1] والله اعلم بالصواب!

## د زوال د وخت تعریف

**سوال:** د لمونځ کولو مکروه وخت یعنې د زوال په باره کې د خلکو مختلف خیالات دي

١......زوال یوازې د یو منټ یا دوه منټو له پاره وي.

٢......زوال شل یا پنځویشت منټه وي.

٣......د جمعې په ورځ زوال نه وي.

۴......د زوال له پاره احتیاطا اته. لس منټه کافي دي.

**جواب:** د وخت په نقشو کې چې یې کوم د زوال وخت لیکلی وي، د هغه مطلب دا وي چې ددې نه وروسته لمونځ جائز دی په زوال کې خو زیات منټونه نه لګیږي.خو احتیاطا د نصف النهار نه پنځه منټه مخکې او پنځه منټه وروسته د لمانځه نه بندیدل پکار دي،دامام ابویوسف رحمه الله په نزد د جمعې په ورځ د نصف النهار په وخت کې لمونځ کول صحیح دي او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد مکروه دي، د امام ابوحنیفه رحمه الله قول د دلیل په اعتبار ډیر قوي دی او احتیاط هم پکې ډیر دی څکه هم په هغه باندې عمل دی.[2]

---

[1] ]واما الكلام على النهى عن الصلاة فى نصف النهار فمذهبنا اطلاق النهى للحديث المذكور فى المتن واما ما ورد من استثناء يوم الجمعة فقد رواه الشافعى رحمه الله قال.......عن ابى هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن الصلاة نصف النهار حتى تزول الشمس الا يوم الجمعة،(مسند الشافعى ص:٣٥)به قال الشافعى و ابويوسف رحمهما الله من ائمتنا.(اعلاء السنن ج:٢ص:٥١،كراهة الصلاة عند الاستواء)

[2] ] وذهب الشافعى الى ان وقت الزوال مكروه الا يوم الجمعة،وذهب الجمهور الى انه مكروه مطلقاً. (اعلاء السنن ج:٢ ص:٥١،ردالمحتار ج:١ص:٣٧٢، مطلب يشترط العلم بدخول الوقت)_

## د شپې دولس بجې د زوال تصور غلط دی

**سوال:** د سندھ په اکثرو علاقو کې د خلکو دا عقيده ده چې څنګه د ورځې دولس بجې د زوال وخت وي، همدغه شان د شپې دولس بجې هم د زوال وخت وي. که چېرته يو مړی وشي، نو يوازې دا نه چې د زوال په وخت کې د جنازې لمونځ نه کيږي . بلکې داسې هم کيږي چې د مړي د دفن کولو له پاره قبرستان ته ورسيدل هلته په رسيدلو رسيدلو کې د ورځې يا د شپې دولس بجې شوې، نو مړی خښوي هم نه، هم هلته په ناسته باندې د زوال د وخت د تيريدلو انتظار کيږي او بيا وروسته مړی دفن کيږي .مهرباني وکړئ او دا خبره بيان کړئ چې ايا د شپې دولس بجې هم د زوال وخت وي؟ او د زوال په وخت د کومو کومو کارونو د کولو ممانعت دی؟

**جواب:** د زوال وخت د ورځې وي او د شپې نه وي[1] د شپې په هيڅ حصه کې د لمونځ او سجدې ممانعت نشته. خود ماسخوتن لمونځ د نيمې شپې نه وروسته کول مکروه دي[2]، د شپې په دولس بجې د زوال تصور غلط دی او په ورځ کې هم د زوال وخت دولس بجې ګڼل غلط دي، ځکه چې د مختلفو ښارونو او مختلفو موسمونو په لحاظ سره د زوال وخت مختلف وي او بدليږي.

## په مکه مکرمه کې او د جمعې په ورځ هم زوال وي

**سوال:** ايا دا صحيح ده چې په خانه کعبه کې د زوال وخت کله هم نه راځي او عبادت کله هم نه بنديږي؟ او په عامو ځايونو کې د جمعې په ورځ زوال نه وي؟

**جواب:** د زوال په وخت (او هم دغه شان نور مکروه وختونو کې)لمونځ مکروه دی. که مکه مکرمه کې وي يا غير د مکې مکرمې نه او که د جمعې ورځ وي او که نه وي،د امام شافعي او د نورو ځينو امامانو په نزد تحيه الوضوء او تحيه المسجد هر وخت جائز دی همدغه شان د جمعې په ورځ د زوال په وخت کې دوه رکعته جائز دي[3] ددې خلکو په ليدو سره زموږ

---

[1] ]زوال الشمس:هوميلهاعن كبدالسماءاى وسطهابحسب مايظهرلناالى جانب المغرب.(قواعدالفقه ص:۳۱۵،حرف الزاء،طبع صدف پبلشرز کراچی)_

[2] ]والتاخيرالى نصف الليل مباح.......فيثبت الاباحة الى النصف والى النصف الاخيرمكروه لمافيه من تقليل الجماعة.(هداية ج:۱ص:۸٤،كتاب الصلاة)_

[3] ]ثلاث ساعات لاتجوزفيهاالمكتوبة ولاصلاة الجنازةولاسجدة التلاوة اذطلعت الشمس حتى ترتفع وعندالانتصاف الى تزول وعنداحمرارهاالى ان تغيب...الخ.(عالمگيرى ج:۱ص:۵۲).ايضاً:فان حديث النهى صحيح رواه مسلم وغيره فيقدم بصحته،واتفاق الائمة على العمل وكونه حاظراً،والذامنع علماؤناعن سنةالوضوءوتحية المسجدوركعتى الطواف ونحوذالک فان الحاظرمقدم على المبيح.(تنبيه)علم مماقررناه المنع عندناوان لم اره مماذكره الشافعية من اباحة الصلاة فى الاوقات المكروهة....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

خلک هم په مکروه وختونو کې لمونځونه شروع کوي دا زمونږ د شرعي مسائلو نه دنه خبرېدلو نتیجه ده

## د ماسپښین لمونځ په یوه بجه اوشل منټه

**سوال:** زمونږ په محله کې یو جومات دی چې په هغه کې د ماسپښین لمونځ د تېرو لسو کلونو نه په شل منټه د پاسه یو بجه ادا کیږي ایا د ماسپښین دا وخت صحیح دی یا په دې کې بدلون هم کول پکار دي؟

**جواب:** د زوال نه وروسته د ماسپښین وخت شروع کیږي[۱] په یخني(سړو) کې د ماسپښین لمونځ زر کول او په ګرمي کې وروسته کول افضل دي[۲]، که ستاسو په جومات کې د لمونځ ګزارو په مصلحت سره لمونځ په یوه بجه اوشل مینټه کیږي. نو هیڅ باک نشته او که د ګرمي په موسم کې له دې نه لمونځ ګزارو ته تکلیف رسیږي. نو وروسته کول یې پکار دي

## د اصلي سیوري(فئ الزوال) نه څه مراد دي؟

**سوال:** د فقهاوو کرامو رحمهم الله اجمعین یو عبارت دی "**بلوغ ظل کل شئ مثلیه سوی فئ الزوال**" د دې څه مطلب دی؟ او د دې استثناء نه څه مراد ده؟

**جواب:** بالکل د ورځې په نیمايي وخت کې چې د کوم شي سایه (سیوری) وي دیته سایه اصلي وايي.د مثل اول او د مثل دویم حساب کولو سره به ترینه سایه اصلي مستثنی شي.مثلاً خاص د ورځې په نیمايي وخت د یو شي اصلي سایه یو قدم وه. نو د مثل اول د ختمېدو لپاره به د یو شي سایه یو مثل د یو قدم سره شماریږي.[۳]

---

...بقیه د تیرمخ]..فی حرم مکة استدلالا بالحدیث الصحیح:یابنی عبدمناف لاتمنعوا احدطاف وان جوزوا نفس الطواف بهذا البیت وصلی ایة ساعة شاء من لیل اونهار فهو مقید عندنا بغیر اوقات الکراهة،لماعلمته من منع علمائنا عن رکعتی الطواف فیها وان جوزوا نفس الطواف فیها.......وقدقال اصحابنا ان الصلاة فی هذه الاوقات ممنوع منها بمکة وغیرها آهـ ورایت فی البدائع ایضاً مانصه:ماوردمن النهی الابمکة شاذلایقبل فی معارضة المشهور،وکذا روایة استثناء یوم الجمعة غریب فلایجوزتخصیص المشهوربه اهـ (ردالمحتار ج:۱ص:۳۷۲)

[۱]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ان الصلاة اولا وآخراً،وان اول وقت صلاة الظهرحین تزول الشمس، وآخر وقتها حین یدخل وقت العصر.(جامع الترمذی،ابواب الصلاة ج:۱ص:۳۹ طبع سعید).ایضاً:ووقت الظهرمن زواله:ای میل ذکاءعن کبدالسماءالی بلوغ الظل مثلیه وعنه مثله......سوی فی الزوال.(الدرالمختار،کتاب الصلاة ج:۱ص:۴۲۵،طبع رشیدیة)۔

[۲]عن ابی ذررضی الله عنه قال:اذن مؤذن النبی صلی الله علیه وسلم الظهر،فقال:ابردا ابردا! او قال: انتظر! انتظر !او قال شدة الحرمن فیح جهنم،فاذا اشتد الحرفابردواعن الصلاة،حتی رائنا فیء التلول.(صحیح بخاری، کتاب مواقیت الصلاة ج:۱ص:۷۶،طبع قدیمی)۔

[۳]وطریق معرفة زوال الشمس وفئ الزوال ان تغرزخشبة مستویة فی ارض..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

## د ګرمي په موسم کې د ماسپښين اخري وخت

**سوال:** د ګرمي موسم مثلاً نن سبا په ګرمي کې د ماسپښين د لمانځه ادا کولو اخري وخت کوم دی؟

**جواب:** د ماسپښين وخت د حضرات صاحبينو په نزد يو مثل ختمېدو پورې دی او د امام صاحب په ظاهر روايت کې د دوو مثلونو ختمېدو پورې دی. دا وخت بدلېږي رابدلېږي له دې وجې نه په جوماتونو کې چې کومې نقشې لګېدلي وي، نو په هغه کې يې روزانه ګورئ.[1]

## د ماسپښين لمونځ يوه نيمه بجه کول پکار دي يا دوه نيمې بجې؟

**سوال:** کوم سړی چې د جمعې لمونځ پرېږدي او وايي چې دا په اول وخت کې دی او تاخير سره لمونځ وکړي، دده په باره کې څه حکم دی؟ زموږ په جومات کې د ماسپښين لمونځ يوه نيمه بجه کېږي، ټول مقتديان دې وخت کې لمونځ کوي، خو يو کس دی چې هغه دوه يا دوه نيمې بجې راشي او لمونځ وکړي او وايي چې اول وخت دا دی، ددې په باره کې شرعي حکم څه دی؟

**جواب:** لمونځ په صحيح وخت باندې کول پکار دي، عام طور باندې د ماسپښين لمونځ يوه نيمه بجه کېږي . د ګرمي په موسم کې لږ تاخير سره لمونځ کول پکار دي والله اعلم![2]

## د سيوري يو مثل کېدلو سره د مازديګر لمونځ کول

**سوال:** د مازديګر لمونځ د احنافو په نزد د هر شي دوه مثله کېدو سره کول پکار دي که يو سړی په خپل ملک يا بل ملک کې په يو داسې امام پسې د جماعت لمونځ کوي چې هغه يې د يو مثل نه وروسته کوي، نو ايا هغه پسې د جماعت لمونځ وکړي يا جماعت پرېږدي او چې کله دوه مثله شي، نو بيا يې ادا کړي؟ په دې صورت کې به د جماعت د پرېښودلو ګناه خو به نه وي؟

---

...بقيه د تير مخ]...مستوية فمادام الظل فى الانتقاص فالشمس فى حد الارتفاع واذا اخذ الظل فى الازدياد علم ان الشمس قدزالت فاجعل على رأس الظل علامة فمن موضع العلامة الى الخشبة يكون فئ الزوال فاذا ازدادعلى ذالک وصارت الزيادة مثلى ظل اصل العودسوى فئ الزوال...الخ.(عالمگيرى ج:١ص:٥١،کتاب الصلاة،الباب الاول فى المواقيت ومايتصل بها).

[1] ]وقت الظهرمن زواله.....الى بلوغ الظل مثليه وعنه مثله وهوقولهما.قوله الى بلوغ الظل مثليه هذا ظاهر الرواية عن الامام نهاية،وهوالصحيح.بدائع.(شامى ج:١ص:٣٥٩،مطلب فى تعده عليه الصلاة والسلام قبل البعثة)

[2] ]عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:اذا اشتد الحرفابردواعن الصلوة،فان شدة الحرمن فيح جهنم.(ترمذى ج:١ص:٢٣،باب ماجاءفى تاخيرالظهرفى شدة الحر،طبع دهلى).

**جواب:** د احنافو په نزد هم دوه قوله دي، يوقول دادى چې په دوه مثله کې د مازديگر لمونځ صحيح دى[1]،که په يو ځاى کې د مازديگرلمونځ دوه مثله نه مخکې اداء کيده.نوهلته لمونځ دجماعت سره کول پکار دي د دويم مثل په انتظار کې د جماعت پريښودل جائز نه دى[2]

## د لمر ډوبيدو په وخت کې د مازديګر لمونځ

**سوال:** يو سړي ديوخاص کارله وجې د مازديګر لمونځ په وخت ونکړ او لمر غورځيږي(حال دا چې د لمر پريوتلو په وخت سجده کول ناجائز دي)دهمدې ورځې د مازديګر لمونځ کول جائز دي اوکه نه؟ سره له دې چې دا سړى د ترتيب خاونددى. په يو کتاب کې ليکلي دي چې هم ددې ورځې د مازديګر لمونځ يې کاو او يو رکعت يې وکړ بيا لمر پريوتلو، نو لمونځ يې کيږي، موږ ددې ګډوډي نه خلاص کړئ؟

**جواب:** هم د دغې ورځې د مازديګر لمونځ به يې وشي او د تاخير په وجه دا سړى سخت ګناهګار دى په حديث کې دي:

**،، تلک صلاة المنافق يجلس يرقب الشمس حتى اذا اصفرت وكانت بين قرنى الشيطان قام فنقر اربعالا يذكر الله فيها الا قليلا ،،**(رواه مسلم، مشکواة ص:۶۰)

ترجمه:دا د منافق سړي لمونځ دى چې ناست دى د لمر انتظار کوي تر دې چې دا لمر زيړ شي او د شيطان د دوه ښکرو تر منځه راشي او دى پورته شي څلور ټونګې ولګوي او په دې کې د الله پاک ذکر ډير کم وکړي.

او دا هم ياد ساتل پکار دي چې کله وخت تنګ شي، نو هم فورا لمونځ کول پکار دي دا خيال نه دي کول پکار چې اوس خو وخت ډير کم دى اوس به يې قضاء کولو نه وروسته بل لمانځه سره وکړو ځکه چې د لمانځه قضاء کولو ډير سخت وبال دى.

وروسته په حديث شريف کې دي:

**﴿الذى تفوته صلاة العصر فكانما وتر اهله و ماله﴾**(مشکواة ص۶۰بروايت بخارى و مسلم)

**ترجمه:** د کوم سړي نه چې د مازديګر لمونځ قضاء شي ګويا د هغه کور او مال ټول هلاک شو. په يو بل حديث کې دي:

---

[1] ]وقت الظهر اذا زالت الشمس......وآخر وقتها عند ابى حنيفة اذا صار ظل كل شىءمثليه سوى فىء الزوال وقالا اذا صار الظل مثله وهو رواية عن ابى حنيفة رحمه الله.....واول وقت العصر اذا خرج وقت الظهر على القولين.(هداية ج:۱ص:۸۱،كتاب الصلاة)_

[2] ] الجماعة سنة مؤكدةلقوله عليه السلام:الجماعة من سنن الهدى لايتخلف عنهاالامنافق.(هداية ج:۱ص:۱۲۱)_

﴿من ترک صلاة العصر فقد حبط عمله﴾ (مشکوٰه ص ۶۰ بروايت بخاری)

**ترجمه:** چا چې د مازديګر لمونځ پرېښود، د هغه نيک عمل برباد شو.

ډير خلک په دې مسئله کې کوتاهي کوي که له څه وجې نه په لمانځه کې تاخير راشي، نو هغه قضاء کړي خصوصا که د ماښام په لمانځه کې لږه تياره زياته شي، نو دا د قضاء کولو نه وروسته د ماسخوتن د لمانځه سره کوي دا ډير لويه غلطي او کوتاهي ده.

## د ماسخوتن لمونځ د ماښام نه يوه يا نيمه ګنټه وروسته نه کيږي

**سوال:** د ماسخوتن لمونځ د مجبوري په حالت کې که څه کار وي، نو د ماښام نه نيمه ګنټه وروسته ادا کيداې شي او که نه؟ څه ګناه خو نشته؟

**جواب:** د ماښام نه يو ګنټه وروسته يا نيمه ګنټه وروسته د ماسخوتن وخت نه وي او د وخت نه مخکې لمونځ جائز نه دی، يعنې لمونځ نه ادا کيږي، د لمر غوځېدو نه وروسته د مغرب طرف نه چې ترڅو سرخي باقي وي تر هغه پوري د ماښام وخت دی په دې کې د ماسخوتن لمونځ صحيح نه دی او کله چې سرخي ختمه شي، خو د اسمان په غاړو باندې سپين والي باقي وي د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په دې وخت کې هم د ماسخوتن لمونځ نه کيږي بلکې د سپين والي د غائب کيدو انتظار ضروري دی او د صاحبينو (امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله) په نزد د اسمان د غاړو په سرخي ختميدو باندې د ماسخوتن وخت شروع کيږي په دې وجه د احتياط خبره خو داده چې د ماسخوتن لمونځ د سپين والي د ختميدو نه وروسته وکړل شي، خو د سرخي د ختميدو نه وروسته هم د صاحبينو په قول کې ګنجائش شته.[1]

## د ماښام لمونځ تر کومه وخته پوري کيږي؟

**سوال:** اوس څو ورځې مخکې د بس په ذريعه د کراچۍ نه حيدراباد ته لاړم، په دې دوران کې د ماښام وخت شو، يعنې لمر ډوب شو، ما څه انتظار وکړ چې کيداې شي ډرايور پخپله بس ودروي چې لمونځ وکړم، خو کله چې ما وليدل چې هغه بس نه دروي، نو ما ډرايېور ته ووېل بس ودروه لمونځ کول دي، خير هغه د ډيرې نرمۍ نه کار واخست او بس يې ودراو، دا پوښتنه ده چې په دې انتظار کې تقريبا د لمر د غوړځېدو نيمه ګنټه وشوه او موږ لمونځ وکړ اوس ټولو مسافرو په دې خبره باندې ضد کولو چې دا لمونځ قضاء شو، ځومره چې ماته

---

[1] ووقت المغرب منه(ای من غروب الشمس)الی غيبوبة الشفق وهوالحمرة عندهماوبه يفتی هکذافی شرح الوقاية. وعندابی حنيفة الشفق هوالبياض الذی يلی الحمرة هکذافی القدوری.وقولهمااوسع للناس،وقول ابی حنيفة رحمه الله احوط،لان الاصل فی باب الصلاةان لايثبت فيهارکن ولاشرط الابمافيه يقين کذافی النهاية ناقلاًعن الاسراروبمسوط شيخ الاسلام.(فتاوی عالمگيرية ج:۱ص:۵۱،کتاب الصلاة،الباب الاول فی المواقيت ومايتصل بها)۔

معلومه ده، نو د ماښام دلمانځه وخت يوه ګنټه او پنځلس منټه دي او بيا هم چې کله ما د مسئلې تحقيق کول وغوښتل، نو معلومه شوه چې ترڅو د شفق سرخي وي د ماښام وخت وي په دې زمانه کې چې موږ خلک په شفق نه پوهيږو. نو دا سرخي څه وګڼو؟ تاسو مهرباني وکړئ او ددې خبرې وضاحت د اخبار په ذريعه وکړئ چې د لمر د غورځېدو نه وروسته څومره وخته پورې لمونځ کيږي؟ زما مطلب د نيمې ګېنټې پورې، د پاوکم ګېنټې پورې. يا يوې ګېنټې پورې دی؟

**جواب:** دلمر ډوبېدو نه وروسته د اسمان په کنارو چې کومه سرخي وي هم دې ته شفق وايي.ترڅو چې د اسمان په کنارو سرخي وي(او دا وخت پاو باندې يوې ګېنټې پورې څو وي کم او زيات هم کيدلی شي)دهغه پورې د ماښام لمونځ کيږي. په عوامو کې چې مشهوره ده چې لړه تياره شي، نو وايي د ماښام وخت ختم شو،اوس يې د ماسخوتن سره وکړه. دماښام په لمانځه کې قصدا تاخير کول مکروه دي[۱]خو که د څه مجبوري په وجه په کې تاخير وشو، نو د شفق د غائب والي نه مخکې يې ضرور کول پکار دي[۲]،که نه لمونځ به قضاء شي او د لمانځه قصدا قضاء کول کبيره ګناه ده.[۳]

## د ماسخوتن لمونځ د ويده کيدلو نه وروسته ادا کول

**سوال:** زمامورسهارډيره وختي پورته کيږي، په دې وجه يې سترګې ډيرې زر ورشي اواکثرهغه د ماسخوتن لمونځ د څه خوب پوره کولو نه وروسته لس يولس بجې ادا کوي او اوريدلي مو دي چې کله د ماسخوتن د لمانځه نه مخکې خوب راشي او بيا ويده کيدو سره د ماسخوتن لمونځ وکړي. نو لمونځ نه قبليږي.

**جواب:** د ماسخوتن د لمانځه نه مخکې ويده کيدل مکروه دي او په حديث کې په دې باندې بد دعا راغلې ده:

عمرفاروق رضي الله عنه فرمايي: **فمن نام فلانامت عينه،فمن نام فلانامت عينه،فمن نام فلانامت عينه.**

**ترجمه:** کوم انسان چې د ماسخوتن د لمانځه د کولو نه مخکې ويده شو الله دې وکړي چې د هغه سترګې ويدې نه شي(درې ځله يې دا بد دعا وکړه)

---

[۱] ]ويستحب تعجيل المغرب لان تاخيرهامکروه.(هداية ج:۱ص:۸۳،کتاب الصلاة)_

[۲] ](قوله والمغرب منه الى غروب الشفق)اى وقت المغرب من غروب الشمس الى غروب الشفق...الخ.(البحرالرائق ج:۱ص:۲۵۸،کتاب الصلاة،طبع دارالمعرفة،بيروت)_

[۳] ] قال تعالى:فخلف من بعدهم خلف اضاعوا الصلاة واتبعوا الشهوات فسوف يلقون غيًاالامن تاب (سورة۱۹، مريم: ۵۹) ،قال ابن مسعود:ليس معنى اضاعوها ترکوها بالکلية ولکن اخروهاعن اوقاتها. (الزواجرعن اقتراف الکبائر ج:۱ص:۱۳۳)_

بياهم که انسان ويده شي او پورته کېدو نه وروسته لمونځ وکړي، نوبيا يې هم لمونځ کيږي.

## د ماښام او ماسخوتن لمونځ په يو وخت کول

**سوال:** سعودي عرب خصوصا د نجد په علاقه کې چې کله هم باران کيږي يا يو ورځ د سخت مسلسل باران په وجه اکثر په جوماتونو کې د ماښام د لمانځه سره سره د ماسخوتن لمونځ هم کوي په داسې صورت کې موږ خلک څه وکړو؟ ايا په دې وخت کې د جماعت سره يو ځای شو او بيا يې د ماسخوتن په وخت کې راوګرځوو، په دې صورت کې چې دا کوم لمونځ د وخت نه مخکې ادا شوی دی په نفلو کې شمېرل کيږي؟

**جواب:** زموږ په نزد د باران د عذر له وجې نه د ماښام لمونځ سره د ماسخوتن لمونځ کول صحيح نه دي، تاسو د ماسخوتن لمونځ په خپل وخت کې کوئ. کوم جماعت چې د وخت نه مخکې کيږي په هغه کې مه شريکيږئ[1]

## د ماسخوتن د فرضو نه وروسته د سنتو او وترو افضل وخت

**سوال:** د ماسخوتن د فرضو نه وروسته د سنتو او د وترو له پاره افضل وخت کوم يو دی؟

**جواب:** سنت دې د فرضو نه وروسته ادا کړل شي او په وترو کې غوره داده چې که تهجدو ته د راپورته کېدو يقين يې وي، نو د تهجد لمانځه نه وروسته دې وتر وکړي او که يقين يې نه وي، نو د ماسخوتن د سنتو نه وروسته يې کول ضروري دي.[2]

## د سفر دوران کې دوه لمونځونه يو ځای کول

**سوال:** ايا د سفر په دوران کې د يو وخت د لمانځه سره د دويم وخت لمونځ ادا کيږي؟

**جواب:** د دوه لمونځونو جمع کول زموږ په نزد جائز نه دي، بلکې هر لمونځ په خپل وخت باندې کول لازمي دي، خو د سفر په صورت کې داسې کيږي چې لومړی لمونځ د هغه لمونځ په اخر وخت کې وکړل شي او روستی لمونځ د هغه په اول وخت کې وکړل شي، په دې طريقه دواړه لمونځونه به ادا خو شي په خپل وخت کې خو په اعتبار د صورت به جمع شي[3] او که لومړی لمونځ دومره وروسته کړل شو چې وخت يې ووځي، نو لمونځ قضاء شو او که روستی

---

[1] ولا يجمع بين الصلاتين فى وقت واحد لا فى السفر ولا فى الحضر بعذر ما ماعدا عرفة والمزدلفة كذا فى المحيط. (فتاوى هندية ج:١ ص:٥٢، كتاب الصلاة،الباب الاول، الفصل الثانى فى بيان فضيلة الاوقات)۔

[2] ويستحب......تاخير......الوتر الى آخر الليل لمن يثق بالانتباه،ومن لم يثق بالانتباه او ترقبل النوم، هذا فى التبين. (فتاوى عالمگيرى ج:١ ص:٥٢،كتاب الصلاة،الباب الاول،الفصل الثانى فى بيان فضيلة الاوقات)۔

[3] (وقوله وعن الجمع بين الصلاتين فى وقت بعذر)اى منع عن الجمع بينهما فى وقت واحد بسبب العذر للنصوص القطعية بتعيين الاوقات.......واما ما روى من الجمع بينهما فمحمول على الجمع فعلاً،بان صلى الاول فى آخر وقتها والثانية فى اول وقتها...الخ.(البحر الرائق ج:١ص:٢٦٧، كتاب الصلاة،قبيل باب الاذان)

لمونځ مو دومره مخکې کړ چې اوسه پوره د هغه وخت نه وو داخل شوی، نو هغه لمونځ نه ادا کيږي او دهغه په دويم ځل کول به ضروري وي

## په هوايي سفر کې د وختونو دفرق په لمونځ او روژه با ندې اثر

**سوال:** زمونږ دخپلوانو په دې مسئله کې اختلاف دی چې يو سړی په پاکستان کې د سهار، ماسپښين، مازديګر او ماښام لمونځونه په کراچۍ کې وکړي او د ماښام نه وروسته هغه په هوايي جهاز کې کيناست او په يوه ګنټه کې يا دوه يا پنځه يا لس ګنټې کې يو داسې ملک ته ورسيد کوم ځای چې دماسپښين د لمانځه وخت و، همدغه شان د روژې به څه صورت وي؟

**جواب:** لمونځ خو وشو کوم چې هغه کړی دی دويم ځل کولو ته ضرورت نشته او روژه به هغه وخت ماتوي کله چې په هغه ملک کې د روژه ماتي وخت وي.[1]

## د مازديګر او د سهار د طواف نه وروسته د نفلونو وخت

**سوال:** د طواف نه وروسته دوه رکعته نفل واجب دي، ايا له سهار او مازديګر وروسته دوه رکعته فورا ادا کول جائز دي او که نه؟ دا وخت مکروه دی يا حرام؟ په دې کې د طواف دوه رکعته کول جائز دي او که نه؟

**جواب:** د مازديګر او د سهار نه وروسته چونکه نفل کول ناجائز دي، لهذا د مازديګر او د سهار نه وروسته دې دوه رکعته دطواف لمونځ نه کوي، بلکې د لمر د ډوبيدو نه وروسته او د ختلو نه وروسته دې کوي دا وخت مکروه دی او په دې کې د طواف دوه رکعته کول هم جائز نه دي.[2]

## د بې وخته نفل کولو کفاره استغفار دی

**سوال:** ما اوس لمونځ شروع کړی دی تقريبا يو کال وشو ستاسو په دعا باندې په پابندۍ سره يې ادا کوم ما ته د مکروه وختونو علم نه و، ما د بې علمۍ په وجه په غلطۍ سره د مازديګر نه وروسته نفل ادا کړل کوم چې د نفلو له پاره منع وخت دی اوس ما د کتابونو

---

[1] فلو غربت ثم عادت هل يعود الوقت بالظاهر نعم(قوله الظاهر نعم).......قلت:على ان الشيخ اسماعيل ردما بحثه فى النهرتبعاً للشافعية،بان صلاة العصر بغيبوبة الشفق تصر قضاء ورجوعها لا يعيدها اداء،وما فى الحديث خصوصية لعلى....قلت ويلزم على الاول بطلان صوم من الفطرقبل ردها وبطلان صلاته المغرب لوسلمنا عود الوقت بعودها للكل،والله تعالى اعلم(ردالمحتار على الدر المختار ج:١ ص:٣٦٠،٣٦١،مطلب لو ردت الشمس بعد غروبها)

[2] (قوله ركعتى طواف)ظاهره ولو كان الطواف فى ذلك الوقت المكروه ولم اره صريحاً ويدل عليه ما اخرجه الطحاوى....فقال:نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن صلاة بعد الصبح حتى تطلع الشمس وعن صلاة بعد العصر حتى تغرب الشمس ثم رايته مصرحاً به فى الحلية وشرح اللباب.(رد المحتار ج:١ ص:٣٧٥)

مطالعه وکړه او ستاسو د کالم هم مطالعه کوم. که د بي علمی په وجه داسې وشي، نو ددې کفاره څه ده؟ زما رهنمايي وکړئ

**جواب:** ددي کفاره سوا د استغفار نه هيڅ نشته.

## د دوه وختونو لمونځونه يو ځای کول صحيح نه دي

**سوال:** ايا په باران کې يا د بل څه عذر په وجه دوه لمونځونه يو ځای کولی شو؟

**جواب:** په سفر کې د ماسپښين او مازديګر او ماښام او ماسخوتن د لمونځونو جمع کولو کې ډير احاديث روايت شوي دي او د ابن عباس رضی الله عنه يو روايت دا هم دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بغير د سفر نه بغير د ويرې او بغير دباران نه دوه لمونځونه يو ځای وکړل، ددې قسمه ټول احاديث زموږ په نزد په دې باندې محمول دي چې د ماسپښين لمونځ يې د هغه اخر وخت ته وروسته کړ او د مازديګر لمونځ يې په اول وخت کې ادا کړ، همدغه شان د ماښام لمونځ يې په اخر وخت کې وکړ او ماسخوتن لمونځ يې په خپل اول وخت کې ګويا هر يو لمونځ په خپل خپل وخت کې ادا شو. د باران په وجه د دوه لمونځونو جمع کول په هيڅ صحيح حديث کې زما له نظره نه دي تير شوي، علامه شوکاني رحمه الله هم په نيل الاوطار کې په دې باندې سخت رد کړی دی.[1]

## ماسپښين او مازديګر، ماښام او ماسخوتن يو ځای کول

**سوال:** ايا موږ د ماسپښين او مازديګر او ماښام او ماسخوتن لمونځ يو ځائ کولای شو؟ د ځينې عالمانو نه مې اوريدلي دي چې د ماښام د لمانځه نه پنځلس دقيقې وروسته د ماسخوتن، او ماسپښين سره د مازديګر لمونځ هم کيدای شی. ددې لمونځونو د وختونو په

---

[1] وما روى من الحديث فى خبر الآحاد فلا يقبل فى معارضة الدليل المقطوع به مع انه غريب ورد فى حادثة تعم بها البلوى ومثله غير مقبول عندنا ثم هو مؤول وتاويله انه جمع بينهما فعلاً لا وقتاً بان اخر الاولى منهما الى آخر الوقت ثم ادى الاخرى فى اول الوقت ولا واسطة بين الوقتين فوقعتا مجمعتين فعلا كذا فعله ابن عمر رضى الله عنه فى سفر وقال هكذا كان بنا يفعل رسول الله صلى الله عليه وسلم دل عليه ما روى عن ابن عباس رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم جمع من غير مطر ولا سفر وذالک لا يجوز الا فعلاً...الخ. (بدائع الصنائع ج:١ ص:١٧٢). ايضا: وعن الجمع بين الصلاتين فى وقت بعذر) واما ما روى عن الجمع بينهما فى وقت واحد فمحمول على الجمع فعلاً بان صلى الاولى فى آخر وقتها والثانيه فى اول وقتها...الخ. (البحر الرائق ج:١ ص:٢٦٧، كتاب الصلاة، قبيل باب الاذان). قال الحافظ ايضا ويقوى ما ذكر من الجمع بينهما الصورى ان طرق الحديث كلها ليس فيها تعرض لو قت الجمع فاما ان يحمل على مطلقها فيستلزم اخراج الصلاة عن وقتها المحدود بغير عذر واما ان يحمل على صفة وخصوصة لا تستلزم الاخراج ويجمع بها بين مفترق الاحاديث فالجمع الصورى اولى والله اعلم...... فالاولى التعويل على ما قدمنا من ان ذالک الجمع صورى بل القول بذالک متحتم لما سلف. (نيل الاوطار ج:٣ ص:٢٦٥-٢٦٨، باب جمع المقيم لمطر او غيره)۔

باره کې جواب ېکار دی چې د لمر حرکت سره ددې لمونځونو وختونه څه دي؟د حج دوران کې هم ماسپښين او مازديګر لمونځونه يو ځائ ادا کيږي

**جواب:** په قرآن کريم کې دي:"**ان الصلوة كانت على المؤمنين كتاباً موقوتاً**" (النساء:۱۰۳)يعنى بيشکه لمونځ په مؤمنانو باندې فرض کړې شوې دې په مقرره وختونو باندې،

که يو سړی د ماسخوتن لمونځ د صبح صادق نه مخکې وکړي يا د ماسپښين لمونځ د څاښت په وخت کې وکړي يا د ماښام لمونځ د مازديګر په وخت کې وکړي، نو دده لمونځ نه کيږي،دغه شان د مازديګر لمونځ په ماسپښين کې کول يا د ماسخوتن لمونځ د ماښام په وخت کې کول چې د ماسخوتن وخت داخل نه وي ، نه صحيح کيږي.

البته په احاديثو کې د ماسپښين اومازديګر اود ماښام او ماسخوتن د يوځای کولو دا صورت ښودل شوی دی چې د ماسپښين لمونځ په آخري وخت کې او د مازديګر لمونځ په اول وخت کې وکړل شي،دواړه لمونځونه په خپل خپل وخت کې وکړل شو ، خو دا صورةً جمع شو ،دغه شان د ماښام لمونځ په آخري وخت کې او د ماسخوتن لمونځ په اول وخت کې وکړل شي، نو په دې صورت کې هم دواړه لمونځونه په خپل خپل وخت کې وکړل شو ،خو صورةً جمع شو ،چې کله سړي باندې په سفر کې بيړه وي ،نو د جمع بين الصلوتين دا صورت ښودل شوی دی.[۱]

## ماسپښين و مازديګر يوځای او ماښام وماسخوتن يوځای کول

**سوال:** دلته د سعودي خلک په سفر کې د ماښام او د ماسخوتن لمونځ يوځای کوي،سنت او وتر نه کوي ،نو ايا د ماسپښين او مازديګر لمونځ او د ماښام او ماسخوتن لمونځ يوځای کول جائز دي يا نه؟

**جواب:** زموږ په نزد هر لمونځ په خپل وخت باندې ادا کول ضروري دي،که د وخت نه مخکې ادا شي ،نو لمونځ به نه کيږي او که د وخت نه وروسته وشي ،نو دا به قضاء وي.[۲]

## په يو وخت پنځه لمونځونه ادا کول

**سوال:** زه داسې ځای کې کار کوم چې هلته زه د ماسپښين لمونځ د څه مجبوری له وجې نه نه شم کولی ،لهذا زه پنځه وخته لمونځ په يو وخت کې کوم،دا صحيح دی؟

**جواب:** پنځه وخته لمونځ په يو وخت کې کول صحيح نه دي،يوازې د ماسپښين لمونځ که

---

[۱] ولا جمع بين فرضين فى وقت بعذر سفر ومطر خلافاً للشافعى،وما رواه محمول على الجمع فعلاً لا وقتاً،فان جمع فسد لو قدم الفرض على وقته وحرم لو عكس اى اخره عنه...الخ.(الدر المختار ج:۱ ص:۳۸۲).

[۲] ان الصلوة كانت على المؤمنين كتبا موقوتا (النساء:۱۰۳).لا يجوز اداء الفرض قبل وقته...الخ.(بدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۲۱،فصل فى شرائط الاركان).

نه شي کولی ،نو د کار په ختمېدو باندې يې کوئ او کوشش کوئ چې هررنګ ممکن وي چې د ماسپښين لمونځ په خپل وخت کې وکړل شي که نه بل څه ملازمت(نوکري) تلاش کړئ.[۱]

## په کومو وختونو کې نفل لمونځ منع دی؟

**سوال:** تحية الوضوء د کوم لمانځه په وخت کې مکروه ده ضرور بيان کړئ ما د لمانځه په کتاب کې لوستلي دي چې په کوم وخت کې نفل لمونځ کول مکروه دي په هغه وخت کې تحية اوالؤضوء کول نه دي پکار خو زه دا بيا هم نه پيژنم چې کوم وخت تحيه الوضوء ادا کړم او کوم وخت يې نه ادا کوم؟ زه پنځه وخته اودس کوم خو دا معلومه نه ده چې د کوم لمانځه نه وروسته تحيه الوضوء ادا کړم؟

**جواب:** تحيه الوضوء او تحيه المسجد دواړه نفل لمونځونه دي او نفل لمونځونه په دې وختونو کې مکروه دي:

۱......د صبح صادق نه وروسته داشراق تروخته پورې

۲......د مازديګر د لمانځه نه وروسته تر لمر غورځېدو پورې

۳......د نصف النهار په وخت کې

۴......د صبح صادق نه وروسته د سهار د سنتو نه پرته نور نفلونه مکروه دي.[۲]

## د تهجدو لمونځ د شپې دوه بجې کول

**سوال:** ما ته د تهجدو د لمانځه ډير زيات شوق دی،او اکثر زه دا لمونځ د شپې دوه بجې اداکوم د رمضان په مياشت کې دپيشمني په وخت کې دالمونځ کېدلی شي اوکه نه؟ (دصبح صادق داذان نه مخکې)

**جواب:** د صبح صادق نه مخکې د تهجدو وخت دی.[۳]

## د تهجدو وخت

**سوال:** زما مسئله دا ده چې د ماسخوتن لمونځ کولو نه وروسته ويده شم. ۳:۴۰ باندې بيداره شم. پورته شم اودس وکړم او د قرآن پاک تلاوت کوم. ترڅو چې اذان شوی نه وي، نو

---

[۱] ان الصلوة كانت على المؤمنين كتبا موقوتا (النساء:۱۰۳).

[۲] واما الذى يرجع الى الوقت فيكره التطوع فى الاوقات المكروهة......فثلاثة اوقات احدها: ما بعد طلوع الشمس الى ان ترفع وتبيض،والثانى عند استواء الشمس الى ان تزول،والثالث عند تغير الشمس وهو احمرارها واصفرارها الى ان تغرب...الخ.(بدائع الصنائع ج:۱ ص:۲۹۵،فصل فى بيان ما يكره من التطوع)_

[۳] وندب صلوة الليل......خصوصا آخره وهو السدس الخامس من اسداس الليل وهو الوقت الذى ورد فيه النزول الالهى.(حاشية طحطاوى على مراقى الفلاح ص:۲۱۷فصل فى تحية المسجد)_

تلاوت کوم.مولانا صاحب!ماته دا وواييئ چې دا صحيح ده؟زما خاوند په مدينه منوره کې دی او زه يواځې اوسيږم.د ډېرو مياشتو نه بس دغه شان د شپې ويښه اوسيږم.وجه زما ذهن ته نۀ راځي،مهرباني وکړئ او ماته وواييئ چې ايا دا د زوال وخت خو نه دی؟

**جواب:** دا خو ډېر زيات مبارک وخت وي.الله تعالی دې په دې وخت کې هرمسلمان ته د پورته کېدلو توفيق نصيب کړي

**سوال:** ماته د تهجد کولو وخت وښيئ.د کوم وخت نه کوم وخت پورې وي؟او په دې کې څه لوستل کيږي؟

**جواب:** د نيمې شپې نه وروسته د صبح صادق پورې د تهجدو وخت وي[١]، دې وخت کې چې څومره نفل هم وکړل شي[٢] ،نو هغو ته تهجد ويل کيږي.کم از کم څلور،او زيات نه زيات دولس رکعته نفل کول سنت دي.ددې نه زيات چې څومره کولی شي ،نو خپله خوښه يې ده.[٣]

## د روژې ماتولو نه لس دقيقې وروسته جمعه کول

**سوال:** يو مولانا صاحب د ماښام د اذان(روژه ماتې)نه لس دقيقې وروسته جمعه کوي،چې سړی په کې يوازې آرام سره خوراک وکړي.د ماښام په لمانځه کې دومره قدرې تاخير کول پکار دي؟ ايا د دوی دا عمل صحيح دی؟

**جواب:** د روژې ماتولو نه وروسته خو د لسو دقيقو وقفه وي،د روژه ماتې نه وروسته په لمانځه کې دومره تاخير کول پکار دي چې روژه دار خلک په لمانځه کې شريک شي.[٤]

## په رمضان کې د اذان وختونه

**سوال:** زمونږ د جومات امام صاحب فرمايي چې د روژې د ماتولو په وخت کې اذان نه دي

---

[١] دتيرشوی مخ حاشيه ``وندب صلوة الليل......الخ،، اوگورئ!

[٢] واقل ما ينبغي ان يتنفل بالليل ثمان ركعات كذا في الجوهرة،وفضلها لا يحصر،قال تعالى:فلا تعلم نفس ما اخفى لهم من قرة اعين.(طحطاوى على مراقى الفلاح ص:٢١٧،فصل في تحية المسجد).

[٣] ان ابن عباس اخبره ان بات عند ميمونة وهي خالته.......قام رسول الله صلى الله عليه وسلم الى شن معلقة فتوضا فاحسن الوضوء.......ثم صلى ركعتين ثم ركعتين، ثم ركعتين، ثم ركعتين، ثم ركعتين، ثم ركعتين، ثم اوتر، ثم اضطجع حتى جاءه المؤذن فقام فصلى ركعتين ثم خرج فصلى الصبح.(صحيح بخارى ج:١ ص:١٣٥، باب ما جاء في الوتر).وفي رواية:ان صلوته بالليل خمس عشرة ركعة........وفي اخرى سبع عشرة........كان يصلى صلى الله عليه وسلم سبع عشرة ركعة من الليل...الخ. (معارف السنن ج:٤ ص:١٣٣ بيان اكثر صلاته بالليل واقل ماثبت).

[٤] والظاهر ان السنة فعل المغرب فوراً وبعده مباح الى اشتباك النجوم فيكره بلا عذر.(شامى ج:١ ص:٣٦٨).

کول پکار ، بلکې لس منټه وروسته اذان کوئ، ځکه په دې وخت کې د ماښام وخت نه وي او دا هم فرمايي چې د پيشمني د بندولو په وخت کې هم د اذان ضرورت نشته ځکه په کراچۍ کې د سحر د لمانځه وخت که شل منټه د پاسه څلور بجې وي، نو د اذان وخت به شل منټه کم پنځه بجې داخليږي، که د دې نه مخکې يو اذان وشو نو هغه اذان نه دی شوی.

**جواب:** د روژه ماتي په وخت د اذان وخت وي اذان فورا کول پکار دي، د پيشمني د وخت ختمېدلو نه وروسته د اذان وخت کيږي، خو د پيشمني د اخر وخت نه وروسته څو منټه احتياط کول پکار دي.

## د جُمعې او د ماسپښين د لمونځونو افضل وخت

**سوال:** په قرآن مجيد کې ارشاد دی چې هر لمونځ دې په اول وخت کې وکړل شی او په قرآن کريم کې د هر لمانځه وخت ښودل شوی دی، زموږ په اکثرو جوماتونو کې نن سبا د ماسپښين لمونځ او د جمعې لمونځ درې نيمې بجې کيږي او په ځينو جوماتونو کې په لس منټه کم درې بجې کيږي په قرآن او سنت کې ناوخته لمونځ کونکو له پاره د سزا وعيد دی، تاسو دا بيان کړئ، چې د ماسپښين لمونځ ناوخته کول څنګه دي؟ او دا هم چې ايا په حديث پاک کې د ناوخته لمونځ متعلق څه راغلي دي؟

**جواب:** د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد د ماسپښين لمونځ په يخنۍ کې وختي کول او په ګرمۍ کې لږ تاخير سره کول افضل دي[1]، خو جمعه هميشه په خپل اول وخت کې کول سنت او دې کې تاخير کول خلاف سنت دي، او که د مثل اول ختمېدلو نه وروسته د جمعې لمونځ وشو ،نو د مفتی به قول مطابق جمعه نه ده ادا شوې او تاسو چې دا ليکلي دي چې په قرآن کريم کې ارشاد دی چې هر لمونځ دې په اول وخت کې وکړل شی.دا ارشاد تاسو کوم ځای لوستلی دی؟ داسې په خپله پوهه کې راغلي مفهوم ته قرآن کريم ته يه قطعيت سره منسوبول ډير زړه ورتوب دی.[2]

---

[1] ]ويستحب تاخير الظهر فى الصيف وتعجيله فى الشتاء،هكذا فى الكافى.(عالمگيرى ج:۱ ص:۵۲)_

[2] ] عن ابن عباس رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:من قال فى القرآن برايه فليتبوأ مقعده من النار.وفى رواية:من قال فى القرآن بغير علم فليتبوا مقعده من النار.رواه الترمذى.(مشكوة ص:۳۵،كتاب العلم)_

# ❖ د جومات مسائل ❖

..............................

## ټول جوماتونه د الله پاک کورونه دي

**سوال:** ايا جوماتونه د الله پاک کورونه نه دي؟ يوازې د سجدې په وجه مسجد نوم کيښودل شوی دی، يوازې بيت الله د الله کور دی؟

**جواب:** کعبې شريفې ته بيت الله وايي او نور جوماتونو ته هم د الله کورونه ويل صحيح دي يو حديث کې دي:

,,**ان بيوت الله تعالى فى الارض المساجد وان حقا على الله ان يكرم من زاره فيها**،، (طب،عن ابن مسعود)

**ترجمه:**......بيشکه په ځمکه د الله پاک کورونه جوماتونه دي او د الله پاک په ذمه حق دي چې کوم سړی دې ته د الله پاک د زيارت له پاره ځي د هغه اکرام وکړي.

په يو بل حديث کې دی: ,, **ان عمار بيوت الله هم اهل الله**،،(عبد بن حميد)

**ترجمه:**....بيشکه د الله پاک د کورنو آبادونکي خاص خلک دي.

دا دواړه احاديث په جامع صغير جلد اول صفحه(۹۰،۹۱) کې راغلي دي او په دې کې يې جوماتونو ته د الله پاک کورونه ويلي دي.

## غير مسلم خپلې عبادت ګاه باندې د مسجد نوم نه شي ايښودلی

**سوال:** ايا يو غيرمسلم خپلې عبادت ګاه تعمير کولو سره د هغې نوم مسجد ايښودلی شي؟

**جواب:** د مسجد معنی په لغت کې د سجدې ځای ده او د اسلام په اصطلاح کې د هغه ځای نوم دی کوم چې د مسلمانانو د لمانځه له پاره وقف شوی وي.

ملا علي قاري رحمه الله د مشکوة په شرح کې ليکي: **والمسجد لغة محل السجود و شرعا المحل الموقوف للصلاة فيه**.(مرقاه المفاتيح ج۱ ص ٤٤۱ مطبوعه بمبئ)

**ترجمه:**......مسجد په لغت کې د سجدې د ځای نوم دی او د اسلامی شريعت په اصطلاح کې هغه مخصوص ځای دی کوم چې د لمانځه له پاره وقف شي.

## مسجد د مسلمانانو د عبادت ګاه نوم دی

د مسجد لفظ د مسلمانانو د عبادت ګاه سره مخصوص دی.ددې وجې نه په قرآن کريم کې د مشهورو مذهبونو د عبادت خانو ذکر کولو سره بيې مسجد د مسلمانانو عبادت خانه مقرر کړې ده: ﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّصَلَوٰتٌ وَّمَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيْهَا اسْمُ اللّٰهِ كَثِيْرًا ﴾ (الحج:۴۰)

**ترجمه:**.....او که الله پاک د يو بل په ذريعه د خلکو زور نه ماتولی، نو د راهبانو خلوت خانې،د عيسايانو کليساوې او د يهوديانو د عبادت ځايونه،او د مسلمانانو جوماتونه چې په هغو کې د الله پاک ذکر په کثرت سره کيږي، ړنګ شوي به وو.

ددې آيت لاندې مفسرينو ليکلي دي چې **صوامع** نه د راهبانو خلوت خانې د **بيع** نه د نصارو ګرجي(کليساوې) د **صلوٰة** نه د يهودانو عبادت خانې او د **مساجد** نه مراد د مسلمانانو عبادت خانې دي.

امام ابوعبدالله محمد بن احمد القرطبي رحمة الله عليه (المتوفی ۶۷۱) په خپل مشهور تفسير احکام القرآن کې ليکلي دي:

**و ذهب خصيف الى ان القصد بهذه الاسماء تقسيم متعبدات الامم.فالصوامع للرهبان،والبيع للنصارى،والصلوات لليهودى،والمساجد للمسلمين.** (ج۱۲ ص ۷۲ مطبوعه دارالکتاب العربى القاهره)

**ترجمه:** امام خصيف رحمة الله عليه فرمايي چې ددې نومونو د ذکر کولو نه مقصود د عبادت خانو تقسيم دی. د صوامع نه د راهبانو د بيع نه د نصارو د صلوات نه مراد د يهوديانو او مساجد د مسلمانانو د عبادت خانو نوم دی.

او قاضي ثناء الله پاني پتي رحمة الله عليه (المتوفی ۱۲۲۵ھ) تفسير مظهري کې ددې نومونو د ذکر شوې تشريح د ذکر کولو نه وروسته ليکي: **ومعنى الاية:لولا دفع الله الناس لهدمت......فى كل شريعه نبى مكان عبادتهم فهدمت فى زمن موسى الكنائس،وفى زمن عيسى البيع والصوامع وفى زمن محمد صلى الله عليه وسلم المساجد.** (مظهری ج۶ ص ۳۳۰ مطبوعه ندوه المصنفين دهلى)

**ترجمه:**.... د آيت معنی داده چې که الله پاک د خلکو زور نه ماتولی، نو د هر نبي په شريعت کې چې کومه عبادت ګاه وه هغه به راغورځول شوې وه ،د موسی عليه السلام په زمانه کې کنيسی د عيسی عليه السلام په زمانه کې ګرجي او خلوت خانې او د محمد صلى الله عليه وسلم په زمانه کې به جوماتونه راغورځول شوي وي.

همدا مضمون په تفسیر ابن جریر ج۹ ص ۱۱۴ تفسیر نیشاپوري برحاشیه ابن جریر ج ۹ ص ۲۳ تفسیر خازن ج ۳ ص ۲۹۱ تفسیر بغوي ج ۵ ص ۵۹۴ برحاشیه ابن کثیر او تفسیر روح المعاني ج ۱۷ ص ۱۲۴ وغیره کې موجوددي د قرآن کریم ددې آیت نه او د مفسرین کرام ددې تصریحاتو نه واضحه ده چې مسجد د مسلمانانو د عبادت گاه نوم دی او دا نوم د نورو قومونو او مذهبونو د عبادت گاهونو نه د بیلتون له پاره اېښودل شوی دی.همدا وجه ده چې د اسلام د ابتدا نه تر دې وخته پورې دا پاک نوم د مسلمانانو د عبادت گاه نه پرته د هیڅ غیر مسلم د عبادت گاه له پاره نه دی استعمال شوی. د مسلمانانو دا قانوني او اخلاقي فرض دې چې د هغوی نه یو غیر مسلم فرقه خپل عبادت گاه ته دا نوم ورنکړي.

## جومات د اسلام شعار دی

کوم شی چې د یو قوم سره مخصوص وي هغه د هغوی شعار وي. دهغوی د پیژندګلوي یوه خاصه علامه ګڼل کیږي ،مسجدهم د اسلام خصوصي شعاردی یعنې په یوکلي ،ښار یامحلې کې د جومات موجودیت دهغه ځای د اوسېدونکو په اسلام باندې علامه ده امام الهند شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله (المتوفی ۱۱۷۴ھ) لیکلي دي:

**فضل بناء المسجد وملازمته انتظار الصلاة فيه ترجع الى انه من شعائر الاسلام وهو قوله صلى الله عليه وسلم اذا رايتم مسجدا او سمعتم موذنا فلا تقتلوا احدا وانه محل الصلاة و معتكف العابدين و مطرح الرحمه و يشبه الكعبه من وجه.** (حجة الله البالغة مترجم ج۱ ص ۴۷۸ مطبوعه نور محمد کتب خانه کراچی)

**ترجمه:**....په جومات جوړولو او هغه ته د حاضریدلو او هلته د لمانځه د انتظار کولو د فضیلت سبب دا دی چې جومات د اسلام شعار دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي کله چې تاسو په یوه آبادۍ کې جومات وینئ یا هلته د موذن اذان واورئ نو څوک هم مه قتل کوئ.(یعنی په یو کلي کې د جومات او اذان کېدل ددې علامه ده چې د هغه ځای اوسیدونکي مسلمانان دي)او جومات د لمونځ ځای او د عبادت کونکو د اعتکاف مقام دی هلته د الله پاک رحمت نازلیږي او هغه په یو طریقې سره د کعبې په شان دی.که د فوج شعار غیر فوجي ملګري له پاره کول جرم دی او د جج شعار د یو بل سړي دله پاره استعمالولو اجازه نشته.نو یقینا د اسلام شعار هم د یو غیرمسلم له پاره د خپلولو اجازت نه شي کېدلی. مثلا که غیر مسلمو ته د اسلام د شعار مثلا د جومات جوړولو او د اذان اجازت ورکړل شي. نو د اسلام شعار به ختم شي او د مسلمان او د کافر فرق به ختم شي.د اسلام او کفر ښنبې بیلولو له پاره دا خبره ضروري ده چې مسلمانان د کافرانو شعار خپل نه کړي هم دغه شان دا هم لازمي ده چې غیر مسلمو ته د اسلام د یو شعار د خپلولو اجازت ورنکړل شي.

## د جوماتونو جوړول عبادت دی او کافر ددې اهل نه دی

او دا هم چې د جومات جوړول یو اعلی ترین اسلامی عبادت دی او کافر ددې اهل نه دی، ځکه چې په کافر کې د جومات د جوړولو اهلیت نشته نو په دې وجه د هغه جوړ شوی عمارت جومات نشی کېدلې د قرآن کریم صفا صفا ارشاددې: ﴿ مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَنْ يَعْمُرُوا مَسٰجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِينَ عَلٰى أَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ۚ أُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ ۚ وَفِي النَّارِ هُمْ خٰلِدُونَ ﴾ (التوبه:۱۷)

**ترجمه**:..... مشرکانو له پاره حق نشته چې هغوی د الله جوماتونه جوړ کړي په داسې حال کې چې هغوی په خپلوځانونوباندې دکفر ګواهي ورکوي ددې خلکوعملونه بربادشوي دي او په دوزخ کې به همیشه اوسیږي.

په دې آیت کې څو شیان د توجه قابل دي اول خو دا چې په دې کې یې مشرکان د جومات د تعمیر د حق نه محروم کړل ولې؟ یوازې په دې چې هغوی کافران دي، **شهدین علی انفسهم بالکفر**. او هیڅ یو کافر د جومات د جوړولو اهل نه دی ګویا قرآن کریم دا فرمایي چې د جومات جوړولو او د کفر په مینځ کې منافات دی دا دوه شیان په یو وخت کې نه شي جمع کېدلی، کله چې هغوی د خپلو کفریه عقیدو اقرارکوي، نو ګویا هغوی پخپله داخبره تسلیموي چې هغوی د جومات د جوړولو اهل نه دي او نه هغوی ته ددې حق حاصل دی.

امام ابوبکر احمد بن علی الجصاص الرازي الحنفي (متوفی ۳۷۰ه) لیکي:

**عمارة المسجد تکون بمعنیین، احدهما زیارته والکون فیه، والاخر ببنائه وتجدید ما استرم منه، فاقتضت الایة منع الکفار من دخول المسجد ومن بنائها وتولی مصالحها والقیام بها لانتظام اللفظ لامرین.** (احکام القران ج ۳ ص ۸۷ سهیل اکیډمی لاهور)

**ترجمه**:........ د یعنی د جومات د آبادولو دوه صورتونه دي

**یو دا چې** د جومات زیارت کول او په هغه کې اوسیدل او کیناستل.

**دویم دا چې** دا تعمیر کول او د وران شویو شیانو اصلاح کول، دا آیت ددې امر تقاضا کوي چې په جومات کې نه یو کافر داخلېدلی شي او نه د هغه متولي، باني او خادم کېدلی شي، ځکه چې د آیت الفاظ ظاهري او باطنی دواړو تعمیرونو ته شامل دي.

**دویم**......په خپل ځان باندې د کفر د ګواهي ورکولو مطلب دا نه دی چې هغوی خپل کفر مني او پخپله خپل ځان ته کافر وایي ځکه په دنیا کې هیڅ کافر خپل ځان ته د کافر ویلو له پاره تیار نه دی بلکې ددې آیت مطلب دا دی چې هغوی د داسې عقیدو ښکاره اعتراف کوي کوم ته چې اسلام د کفر عقائد وایي یعنې د هغوی د خپلو کفریه عقائدو اظهار کول د هغوی خپل ځان ته د کافر ویلو قائم مقام دي.

**دريم**......د قرآن کريم په دې دعوه باندې هيڅ کافر ته پخپله کفريه عقيده باندې پاتې کېدلو سره د جوماتونو د تعمير حق نه دی حاصل.دا پوښتنه کيږي چې کافر د مسجد د جوړولو د حق نه ولې محروم دی؟ په بله جمله کې ددې خبرې ځواب دی **اولئک حبطت اعمالهم** يعنی د دوی عملونه برباد دي، چونکه په کفر سره د انسان ټول نيک عملونه برباد او ضائع کيږي په دې وجه کافر نه يوازې د جوماتونو د تعمير بلکې د هيڅ عبادت اهليت نه لري،دا د کفر دنيوي خاصيت و او مخکې يې د هغوی د اخروی خاصيت بيان کړی دی.**وفی النارهم خالدون:** چې کافران به د خپل کفر له وجې د هميشوالي د جهنم مستحق دي.په دې وجه د هغوی د عبادت او اطاعت د الله پاک په نزد هيڅ قيمت نشته. دا آيت په دې مسئله کې قطعي نص دی چې غير مسلم کافر د جوماتونو د جوړولو اهل نه دي،په دې وجه هغوی ته د جوماتونو د جوړولو هيڅ حق حاصل نه دی،په دې باره کې د مفسرينو کرامو ځينې وضاحتونه لاندې ليکل کيږي.
امام ابو جعفر محمد بن جرير الطبري(المتوفی ۳۱۰ه) ليکي

**يقول ان المساجد انما تعمر لعبادة الله فيها،لا للكفر به فمن كان بالله كافرا فليس من شانه ان يعمر مساجد الله..**(تفسير ابن جرير:ج ۱۰ ص ۹۳ مطبوعه دار الفكر بيروت)

**ترجمه**:....الله پاک فرمايي چې جوماتونه خو ددې له پاره جوړيږي چې په هغه کې د الله پاک عبادت وشي، د کفر له پاره خو نه تعميريږي ،کوم سړی چې کافر وي د هغه دا کار نه دی چې د الله پاک جوماتونه جوړ کړي.

امام عربيت جار الله محمود بن عمر الزمخشري (**المتوفی۵۲۸ه**) ليکي

**والمعنى ما استقام لهم ان يجمعوا بين امرين متنافيين عمارة متعبدات الله مع الكفر بالله و بعبادته و معنى شهادتهم على انفسهم بالكفر ظهور كفرهم .....** (تفسير كشاف ج ۲ ص ۲۵۳)

**ترجمه**:......مطلب دا دی چې د هغوی له پاره په هيڅ طريقې سره صحيح نه ده چې هغوی دوه متنافي خبرې جمع کړي چې يو طرف ته د الله پاک جوماتونه هم جوړوي او بل طرف ته په الله او د هغه په عبادت باندې کفر هم کوي او د هغوی په خپل ذات باندې د کفر د ګواهي نه مراد د هغوی کفر ښکاره کول دي.

امام فخر الدين رازي(المتوفی ۶۰۲ه)ليکي

**,,قال الواحدي:دلت على ان الكفار ممنوعون من عمارة مسجد من مساجد المسلمين ولو اوصى بها لم تقبل وصيته.....** (تفسير كبير ج ۱۶ ص ۷ مطبوعه مصر)

**ترجمه**:واحدي فرمايي:دا آيت ددې مسئلي دليل دی چې کافرانو ته د مسلمانانو په جوماتونو کې د هيڅ قسمه تعمير اجازت نشته او که يو کافر ددې خبرې وصيت وکړي، نو د

هغه وصيت به نه قبليږي.
امام ابوعبدالله محمد بن احمد القرطبی (المتوفی ۶۷۱هـ) ليکي
**فيجب اذا على المسلمين تولى احكام المساجد و منع المشركين من دخولها...**
(تفسير قرطبی ج۸ ص۸۹ دار الكتب العربی القاهره)
**ترجمه:**... په مسلمانانو باندې دا فرض دې چې هغوی د جوماتو د انتظام متولي خپله شي او کفار او مشرکين هغه ته د داخلېدلو نه منع کړي.
امام محي السنه ابو محمد حسين بن مسعود الفراء البغوي (المتوفی ۵۱۲هـ) ليکي:
**اوجب الله على المسلمين منعهم من ذالک، لان المساجد انما تعمر لعبادة الله وحده فمن كان كافرا بالله فليس من شانه ان يعمرها فذهب جماعة الى ان المراد منه العمارة من بناء المسجد و مرمتهٗ عن الخراب فيمنع الكافر منه حتى لو اوصى به لا يمتثل وحمل بعضهم العمارة ههنا على دخول المسجد والقعود فيه.** (تفسير معالم التنزيل للبغوی ج۳ ص۵۵ برحاشيه خازن مطبوعه علميه مصر)
**ترجمه:**... الله پاک په مسلمانانو باندې واجب کړې ده چې هغوی کافران د جوماتو د آبادولو نه منع کړي، ځکه چې جوماتونه يوازې د الله پاک د عبادت په خاطر جوړيږي، کوم سړی چې کافر وي د هغه دا کار نه دی چې هغه جوماتونه تعمير کړي د يو جماعت قول دی چې د تعمير نه مراد معروف تعمير دی، يعنې جومات جوړول او د هغه د بيکاره يا خراب ځای مرمت کول، کافر به ددې عمل نه منع کيږي، که هغه ددې د وصيت کولو سره مړ شو، نو نه به پوره کيږي، او ځينو عمارت دلته په جوماتو کې په داخلېدلو او په دې کې په ناسته باندې محمول کړی دی.
شيخ علاء الدين علي بن محمد البغدادي الخازن (المتوفي ۷۲۵هـ) په تفسير خازن کې ددې مسئلې نور هم تفصيل کړی دی.
مولانا قاضي ثناء الله پاني پتي (المتوفی ۱۲۲۵هـ) ليکي:
**فانه يجب على المسلمين منعهم من ذالک لان المساجد الله انما تعمر لعبادة الله وحده فمن كان كافر بالله فليس من شانه ان يعمرها** (تفسير مظهری ج ٤ ص ١٤٦ ندوه المصنفين دهلی)
**ترجمه:** په مسلمانانو باندې لازمه ده چې کافران د جوماتو د تعميرنه منع کړي، ځکه جوماتونه خو د الله پاک د عبادت له پاره جوړيږي، کوم سړی چې کافر دی هغه ددې اهل نه دی.
او شاه عبدالقادر دهلوي (المتوفی ۱۲۳۰هـ) ددې آيت لاندې ليکي:
او علماء کرامو ليکلي دي که کافر جومات جوړ هم کړي، نو هغه منع کړئ. (موضح القران)
ددې تصريحاتو نه دا خبره بالکل واضحه شوه چې الله پاک کافرانو ته دا حق نه دی ورکړی چې هغوی جوماتونه جوړ کړي او دا چې هغوی داسې جرات وکړي، نو د هغوی منع

کول په مسلمانانو باندې فرض دي

## د جومات جوړول يوازې د مسلمانانو حق دی

په قرآن کريم کې چې کوم ځای دا فرمايل شوي دي، چې کافران د جومات جوړولو اهل نه دي هلته يې دا تصريح هم کړې ده چې د جومات د جوړولو حق يوازې مسلمانانو ته حاصل دی. ارشاد دی: ﴿ اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰٓى اُولٰٓئِكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ۝ ﴾ (التوبه ۱۸)

**ترجمه**:...... د الله پاک جوماتونه خو هغه خلق آبادوي کوم چې په الله پاک باندې ايمان لري. لمونځ کوي، زکات ورکوي. او د هغه نه پرته د بل چا نه نه ويريږي، دا سې خلک اميد دی چې هدايت والا وي.

په دې آيت کې چې د کومو صفتونو ذکر فرمايل شوی دی، هغه د مسلمانانو ښکاره صفات دي، مطلب دا چې کوم سړی په پوره دين محمدي ﷺ باندې ايمان لري او د دين د هيڅ يوې برخې نه منکر نه وي، هم هغه ته د جومات د تعمير حق حاصل دی. غير مسلم فرقې چې تر څو د دين اسلام ټولې خبرې نه وي منلي د جومات د جوړولو د حق نه به محروم وي.

## د غير مسلمو جوړ کړی مسجد، مسجد ضرار، دی

د اسلام په څوارلس سوه کاله دور کې کله هم يو غير مسلم دا جراءت نه دی کړی چې خپله عبادت خانه د جومات په نوم جوړه کړي خو د رسول الله ﷺ په زمانه کې ځينو غير مسلمو د اسلام په جامه کې خپل ځانونه مسلمانان ښکاره کړل او د جومات په نوم يې يو عمارت جوړ کړ. کوم چې د مسجد ضرار په نوم سره مشهور دی رسول الله ﷺ ته د وحې په ذريعه د هغوی د کفر او نفاق خبر ورکړل شو، نو رسول الله ﷺ فورا د هغه د ړنګولو حکم وکړ، د قرآن کريم لاندې آيت د دې واقعې متعلق دی:

﴿وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا وَّتَفْرِيْقًۢا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَاِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَيَحْلِفُنَّ اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّا الْحُسْنٰى ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ۝ لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا ؕ..... الى قوله..... لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِيْ بَنَوْا رِيْبَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلَّآ اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ۝﴾ (التوبه ۱۰۷: ۱۱۰)

**ترجمه**: او کومو خلکو چې جومات جوړ کړی دی چې اسلام او مسلمانانو ته نقصان ورسوي او کفر وکړی او د ايمان والا ترمينځه اختلاف پيدا کړي او د الله او د هغه د رسول ﷺ خلاف يوه مورچه جوړه کړي او دا خلک به ډير قسمونه خوري چې موږ د نيکۍ نه پرته د بل شي اراده نه وه کړې او الله پاک ګواهي ورکوي چې دا خلک دروغژن دي تاسو په دې کې هيڅ کله قيام مه کوئ...... د هغوی دا عمارت کوم چې هغوی جوړ کړی دی هميشه به د

هغوی د زړه ازغی وي، خوداچې د هغوی زړونه ټوټې ټوټې شي بيشکه الله پاک عالم او حکمت والا دی.

ددي آيتونو نه په واضحه طريقې سره معلومه شوه چې:

**الف**...د يو غير مسلمې ډلې د اسلام په نوم جوړ شوی جومات ته به مسجد ضرار ويل کيږي.

**ب**...د غير مسلمو منافقانو د جوړ شوي جومات د تعمير مقاصد به دا خبرې وي:

۱...اسلام او مسلمانانو ته ضرر رسول.

۲..د کفر د عقيدو خپرول.

۳...دمسلمانانوپه جماعت کې اختلاف جوړول او انتشار پيدا کول.

۴....د الله او د هغه د رسول ﷺ د دښمنانو له پاره يوه اډه جوړول.

**جواب:** چونکه د منافقانو دا خفيه منصوبې د برداشت قابل نه وې په دې وجه حکم وشو چې داسې په نوم جومات را وغورځول شي ټولو مفسرينو اوسيرت ليکونکو دا خبره ليکلې ده چې د رسول الله ﷺ په حکم باندې مسجد ضرار را وغورځول شو او هغه وسوځول شو[1].د مرزايي منافقانو جوړ کړی په نوم جوماتونه هم مسجد ضرار دي ،او هغه هم ددې سلوک مستحق دي کوم څه چې رسول الله ﷺ د مسجد ضرار سره کړی و.

## کافر ناپاکاوپه جومات کې د هغه داخليدل ممنوع

داخبره هم خاص اهميت لري چې قرآن کريم کفارو او مشرکينو ته د هغوی د ناپاکه او ګنده عقائدو په بنياد باندې نجس ويلي دي،او ددې معنوی نجاست سره دهغوی د ګندګۍ تقاضا داده چې جوماتونه د هغوی د وجود نه پاک وساتل شي د الله پاک ارشاددی:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَذَا﴾ (التوبه:۲۸)

**ترجمه**:اې دايمان والو! مشرکان ناپاک دي، هغوی دې ددې کال نه وروسته د مسجد حرام خوا ته هم رانشي.

له دې ايت نه معلومه شوه چې د کافر او مشرک جومات ته داخليدل منع دي.

امام ابوبکرجصاص رازي رحمه الله (المتوفي ۳۷۰ھ)ليکي:

---

[1] ]فلما رجع الى رسول الله صلى الله عليه وسلم من سفره........فقال انطلقا الى هذا المسجد الظالم اهله،فاهدماه واحرقاه فخرجا سريعين حتى اتيا بنى سالم بن عوف وهم رهط مالک فقال:مالک لصاحبه:انظرنى حتى اخرج لک بنار من اهلى فدخل الى اهله فاخذ سعفاً من النخل فاضغل فيه ناراً ثم خرجا يشتدان حتى دخلاه وفيه اهله فاحرقاه وهدماه وتفرقوا عنه ونزل فيهم من القرآن ما نزل...الخ.(تفسير روح المعانى ج:۱ ص:۱۸ التوبة آيت:۱۰۷طبع احياء التراث العربى)_

اطلاق اسم النجس على المشرک من جهة ان الشرک الذی يعتقده يجب اجتنابه کما يجب اجتناب النجاسات والاقذار فلذالک سماهم نجسا،والنجاسة فی الشرع تنصرف علی وجهين احدهما نجاسة الاعيان والاخر نجاسة الذنوب،وقد افاد قوله:انما المشرکون نجس،منعهم عن دخول المسجد الا لعذر اذ کان علينا تطهير المساجد من الانجاس.

(احکام القران ج ۳ ص ۱۰۸ مطبوعه سهيل اکيډمی لاهور)

**ترجمه:**.....په مشرک باندې د نجس اطلاق په دې بنياد و شو چې د کوم شرک چې هغه اعتقاد ساتي دهغه نه پرهيز کول داسې ضروري دي لکه د نجاستونو او د ګندګو نه. په دې وجه يې هغوی ته نجس وويل او په شرع کې د نجاست دوه قسمونه دي. يو د بدن نجاست دويم د ګناه نجاست او د الله پاک ارشاد **انما المشرکون نجس**،،وايي چې کفار به جومات د داخليدلو نه منع کيږي، خو چې څه عذر وي ځکه چې په مسلمانانو باندې لازمه ده چې جوماتونه د نجاست نه پاک وساتي.

امام محي السنه البغوي(المتوفي ۵۱۶ه) په معالم التنزيل کې د دې ايت لاندې ليکي:

**وجملة بلاد الاسلام فی حق الکفار علی ثلاثه اقسام احدها الحرم فلا يجوز للکافر ان يدخله بحال ذميا کان او مستامنا بظاهر هذه الايه،وجوز اهل الکوفة للمعاهد دخول الحرم،والقسم الثانی من بلاد الاسلام الحجاز فيجوز للکافر دخولها بالاذن،ولکن لا يقيم فيها اکثر من مقام السفر،وهو ثلاثه ايام،والقسم الثالث سائر بلاد الاسلام يجوز للکافر ان يقيم فيها بذمة او امان،ولکن لا يدخلون المساجد الا باذن مسلم**...(تفسير بغوی ج ۳ ص ۶۳ مطبوعه علميه مصر)

**ترجمه:**.....او د کافرانو په حق کې ټولې اسلامي علاقې په درې قسمه دي يو حرم مکه شريفه. کافر ته په دې کې داخليدل په هيڅ حال کې هم جائز نه دي،که هغه د يو اسلامي ملک اوسيدونکي وي يا يې امن راوړی وی،ځکه چې د ايت د ظاهر هم دا تقاضا ده او د کوفې علماوو د ذمي له پاره داخليدل جائز کړي دي او دويم قسم حجاز مقدس يعنې مدينه طيبه ده د کافر له پاره په اجازت سره حجاز مقدس ته داخليدل جائز دي،خو د درې ورځو نه زيات به هلته د پاتې کيدلو اجازت نه وي او دريم قسم نور اسلامي ملکونه دي په هغه کې د کافر مقيم کيدل جائز دي په دې شرط چې، ذمي وي يا يې امن راوړی وي. خو هغوی د مسلمانانو جوماتونو ته بغير د مسلمانانو د اجازت نه نه شي داخليدلی،په دې سلسله کې دوه شيان خاص طور سره د غور قابل دي اول دا چې په ايت کې خاص طور سره د مشرکانو حکم ذکر شوی دی. خو مفسرينو د دې ايت لاندې د عامو کافرانو حکم فرمايلی دی، ځکه د کفر نجاست ټولو کافرانو ته شامل دی. دويم دا چې د کافر جومات ته داخليدل صحيح دي او که

نه؟ په دې مسئله کې اختلاف دی، د امام مالک رحمة الله عليه په نزد هیڅ جوماتونه ته د کافر داخلیدل جائز نه دي، د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د مسجد حرام نه پرته نورو جوماتونو ته د کافر داخلیدل د مسلمانانو په اجازت سره جائز دي او د امام ابوحنیفه رحمة الله عليه په نزد د ضرورت په وخت هر جومات ته داخلېدلی شي (روح المعانی ج ۱۱ ص ۷۷)[1] خو د یو کافر د یو جومات جوړونکی، متولي یا خادم کېدل د چا په نزد هم جائز نه دي. د نجران د عیسایانو یو وفد په ۹ هجري کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی د جومات په یو اړخ کې دیره کړل او په مسجد نبوي کې هغوی خپل لمونځ هم وکړ.

حافظ ابن قیم رحمة الله عليه (المتوفي ۷۵۱هـ) په دې واقعه باندې تبصره کولو سره لیکي:

**فصل فی فقه هذه القصة ففیها جواز دخول اهل الکتاب مساجد المسلمین وفیها تمکین اهل الکتاب من صلاتهم بحضرة المسلمین وفی مساجدهم ایضاً اذا کان ذالک عارضاً ولا یمکنوا من اعتیاد ذالک.** (زاد المعاد ج ۳ ص ۶۳۸ مطبوعه مکتبه المنار الاسلامیه کویت)

**ترجمه:**......دا فصل دی د دې قصې د فقه په بیان کې له دې واقعې نه ثابتېږي چې د اهل کتابو د مسلمانانو جوماتونو ته داخلیدل جائز دي او دا چې هغوی له پاره د مسلمانانو په موجودګۍ کې د خپل عبادت موقع ورکړل شي او د مسلمانانو په جوماتونو کې هم، چې دا یو عارضي صورت وي خو هغوی ته به د دې موقع نه ورکول کیږي چې دا خپل مستقل عادت جوړ کړي.

او قاضي ابوبکر بن العربي (المتوفي ۵۷۳هـ) لیکي: **دخول ثمامة رضی الله عنه فی المسجد فی الحدیث الصحیح، ودخول ابی سفیان رضی الله عنه فیه علی الحدیث الاخر کان قبل ان ینزل: یاایها الذین امنوا انما المشرکون نجس فلا یقربوا المسجد الحرام بعد عامهم هذا. فمنع الله المشرکین من دخول المسجد الحرام نصاً و منع دخول سائر المساجد تعلیلا بالنجاسة ولوجوب صیانة المسجد عن کل نجس وهذا کله ظاهر لا خفاء به.**

(احکام القران ج ۲ ص ۹۰۲ مطبوعه دار المعرفه بیروت)

**ترجمه:**.....د ثمامه رضی الله عنه جومات ته داخلېدل او د دویم حدیث مطابق د ابوسفیان رضی الله عنه جومات داخلېدل د دې ایت د نزول نه مخکې واقعه ده چې اې د ایمان والو! مشرکان پلیت دي، دوی

---

[1] والحاصل ان الامام الاعظم یقول بالمنع عن الحج والعمرة ویحمل النهی علیه ولا یمنعون من دخول المسجد الحرام وسائر المساجد عنده، ومذهب الشافعی........انه لا یجوز للکافر ذمیا کان او مستامنا ان یدخل المسجد الحرام بحال من الاحوال.......ویجوز دخوله سائر المساجد عند الشافعی علیه الرحمة، وعن مالک کل المساجد سواء فی منع الکافر عن دخولها. (روح المعانی ج: ۱۰ ص: طبع دار احیاء التراث العربی)۔

ددې کال نه وروسته مسجد حرام ته رانژدې نه شي. الله پاک مشرکان مسجد حزام ته د داخلیدلو نه منع کړل او د نورو جوماتونو نه یې په دې وینا سره منع کړل چې هغوی ناپاکه دي او چونکه جومات د نجاست نه پاک ساتل ضروري دي د کافرانو د ناپاک وجود نه به هم دا پاک ساتل کیږي او دا ټول ظاهر دي په کوم کې چې لږ پټوالی هم نشته.

## منافقان دې د جوماتونو نه وویستل شي

**سوال:** کوم سړی چې د مرزایانو په شان عقیده لرلو نه وروسته هم د اسلام دعوه کوي هغه د اسلام په اصطلاح کې منافق دی او د منافقانو په باره کې دا حکم دی چې هغوی دې د جوماتونو نه وویستل شي په حدیث کې دي چې:

رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ د خطبې له پاره ودرید او ویې فرمایل:اې فلانیه! جګ شه له دې ځای نه اوځه ځکه چې ته منافق یې. اې فلانیه! ته هم جګ شه ته منافق یې، په دې طریقه رسول الله ﷺ ۳۶ شپږ دیرش کسان د جومات نه وویستل جناب عمر رضی الله عنه په راتلو کې لږ ناوخته کړ. هغه په هغه وخت کې راغی کله چې دا منافقان د جومات نه ووتل، نو هغه داخیال وکړ چې کېدای شي د جمعې لمونځ شوی وي او خلک د لمونځ نه فارغ کېدو نه وځي، ځوکله چې جومات ته راغی، نو معلومه شوه چې اوسه پورې لا لمونځ نه دی شوی مسلمانان لا ناست دي، یو سړی ډیر په خوشحالي جناب عمر رضی الله عنه ته وویل اې عمر! مبارک شه الله پاک نن منافقان ذلیل او رسوا کړل او رسول الله ﷺ هغوی له جومات نه وویستل. (تفسیرروح المعانی ج ۱۱ص ۱۰)[1]

له دې حدیث نه معلومه شوه چې کومه غیر مسلمه فرقه منافقانه طریقې سره د اسلام دعوه کوي هغوی د جومات نه ویستل د رسول الله ﷺ سنت دي.

## د منافقانو مسجد، مسجد نه دی

**سوال:** فقهاء کرامو وضاحت کړی دی چې د داسې خلکو حکم د مرتددی په دې وجه نه خو دوی ته د جومات جوړولو اجازت ورکول کیږي او نه د دوی جوړشوي جومات ته د جومات نوم ورکول کیږي.

---

[1] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال:قام رسول الله صلی الله علیه وسلم یوم جمعة خطیباً فقال:قم یافلان! یافلان فاخرج فانک منافق،اخرج یافلان!فانک منافق،فاخرجهم باسمائهم ففضحهم ولم یک عمر بن الخطاب شهد تلک الجمعة لحاجة کانت له فلقیهم وهم یخرجون من المسجد فاختبا منهم استحیاء انه لم یشهد الجمعة وظن ان الناس قد انصرفوا واختباواهم منه وظنوا انه قد علم بامرهم فدخل المسجد فاذا الناس لم ینصرفوا فقال له رجل:ابشر یا عمر!فقد فضح الله تعالی المنافقین الیوم فهذا العذاب الاول والعذاب الثانی عذاب القبر.(روح المعانی ج:۱۱ ص:۱۱طبع دار احیاءالتراث العربی)۔

شيخ الاسلام مولانا محمد انور شاه کشميري رحمة الله ليکلي دي **ولو بنوا مسجدا لم يصر مسجدا. ففى تنوير الابصار من وصايا الذمى وغيره و اصحاب الهوى اذا كان لا يكفر فهو بمنزله المسلم فى الوصية وان كان فهو بمنزلة المرتد....**(اکفار الملحدين طبع جديد ص ۱۲۸)

**ترجمه**:......که داسې خلک جومات جوړ کړي، نو هغه به جومات نه وي، په تنوير الابصار وصايا او ذمي وغيره بحثونو کې دي چې د ګمراه فرقو ګمراهي که د کفر حد ته نه وي رسيدلې، نو بيا خو په وصيت کې د هغوی حکم په شان د مسلمان دی او که د کفر حد ته رسېدلې وي، نو په شان د مرتد دی.

## د منافقانو د مسلمان کيدلو شرط

دلته داوضاحت هم ضروري دی چې د يو ګمراه فرقې د اسلام دعوه کول يا اسلامي کلمه ويل ددې امرضمانت نه دی چې هغه مسلمانان دي، بلکې ددې سره دا هم ضروري ده چې هغوی د خپلو ټولو هغو عقائدو نه کومې چې د مسلمانانو خلاف دی د توبې اعلان وکړي.

حافظ بدرالدين عيني رحمة الله په عمدة القاري شرح د صحيح البخاري کې ليکي **يجب عليهم ايضا عند الدخول فى الاسلام ان يقروا ببطلان ما يخالفون به المسلمون فى الاعتقاد بعد اقرارهم بالشهادتين.**(ج ٤ ص۱۲۵ مطبوعه دارالفکر)

**ترجمه**: دهغوی په ذمه دا هم لازم دي چې په اسلام کې د داخلېدو په وخت دتوحيداو رسالت د شهادت نه وروسته د هغو ټولو عقائدو او نظريو د ابطال اقراروکړي کومې چې هغوی دمسلمانانو خلاف لرلې.

او حافظ شهاب الدين ابن حجر العسقلاني فتح الباري شرح صحيح البخاري کې د اهل نجران د قيصې لاندې ليکي:

**وفى قصة اهل نجران من الفوائد ان اقرار الكافر بالنبوة لا يدخله فى الاسلام حتى يلتزم احكام الاسلام**(ج ۸ ص ۹۳ دارالنشرالکتب الاسلاميه لاهور)

**ترجمه**:......د اهل نجران د قصې نه د نورو مسائلو نه پرته يو مسئله دا هم معلومه شوه چې د يو کافر د طرفه رسول الله ﷺ د نبوت اقرار هغه په اسلام کې نه داخلوي ترڅوچې يې د اسلام احکام قبول کړي نه وي.

علامه ابن عابدين شامي رحمه الله ليکي ,,**لا بد مع الشهادتين فى العيسوى من ان يتبرا من دينه**....،،(ردالمحتار ج۱ص۳۵۳ مطبوعه ايچ ايم سعيد کراچی)

**ترجمه**:......د عیسوي فرقې د مسلمانېدلو له پاره د شهادتین اقرار سره دا هم ضروري ده چې د خپل مذهب نه د براءت اعلان کړي.

له دې وضاحتونو نه ثابته شوه چې یو فرقه به هم تر هغه وخته پورې مسلمانه نه ګڼل کیږي چې تر څو چې هغه د اهل اسلام د عقائدو د صحت او د خپلو عقائدو د ابطال اعلان ونکړي، که نه که هغه د خپل کفر عقیده صحیح ګڼي او د مسلمانانو عقائد غلط ګڼي. نو د هغه حیثیت د مرتد دی او هغه ته د خپلې عبادت ګاه د تعمیر اجازت د جومات په حیثیت ورکول ناجائز دي.

## د یو غیر مسلم د جومات په شان عبادت خانه جوړول

اوس یو سوال باقي پاتې کیږي چې ایا یو غیر مسلم د خپلې عبادت ګاه(چې د جومات په نوم هم نه وي)شکل او هیئت د جومات په شان جوړولی شي؟ ایا هغه ته دا اجازت ورکول کیږي چې هغه په خپله عبادت خانه کې د قبلې اړخ ته محراب جوړ کړي، مینار جوړ کړي په هغه کې منبر کیږدي او هلته د اسلام په معروف طریقه باندې اذان کوي؟

ددې ځواب دادی چې هغه ټول کارونه کوم چې عرفا او شرعا د مسلمانانو د جوماتونو پورې خاص دي هیڅ یو غیر مسلم ته دهغه د خپلولو اجازت نه شي ورکول کېدای، په دې وجه که د یو غیر مسلم عبادت ګاه د جومات په وضع او شکل باندې تعمیر کړې وي مثلا په هغه کې دقبلې طرف ته محراب هم وي مینار او منبرهم وي. هلته اسلامي اذان او خطبه هم کیږي. نو په دې سره به مسلمانانو ته دوکه او ګډوډې راځي هر کتونکی به دا جومات ګڼي سره له دې چې د اسلام په نظر کې د غیر مسلم عبادت ګاه جومات نه دی. بلکې د شیطانانو د جمع کیدلو ځای دی.[1] (شامي ج ۱ ص ۳۸۰ مطلب تکره الصلاة فی الکنیسة مطبوعة ایج ایم سعید کراچي.البحر الرائق ج ۷ ص ۲۱٤ مطبوعه دارالمعرفة بیروت)

شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه رحمه الله (المتوفي۷۲۸هـ) نه پوښتنه وشوه. چې ایا د کافرانو د عبادت ځایونو ته بیت الله ویل صحیح دی؟ په ځواب کې یې وفرمایل.

**لیست بیوت الله و انما بیوت الله المساجد،بل هی بیوت یکفر فیها بالله وان کان قد یذکر فیها،فالبیوت بمنزلة اهلها واهلها کفار،فهی بیوت عبادة الکفار.....**

(فتاوی ابن تیمیه رحمه الله ج ۱ ص ۱۱۵ دارالقلم بیروت)

---

[1] (تنبیه)یؤخذ من التعلیل بانه محل الشیاطین کراهة الصلاة فی معابد الکفار لانها ماوی الشیاطین کما صرح به الشافعیة،ویؤخذ مما ذکروه عندنا،ففی البحر من کتاب الدعوی عند قول الکنز:ولا یحلفون فی بیت عباداتهم،فی التاتار خانیة یکره للمسلم الدخول فی البیعة والکنیسة،وانما یکره من حیث انه مجمع الشیاطین لا من حیث انه لیس له حق الدخول اهـ.(شامی ج:۱ ص:۳۸۰،مطلب تکره الصلاة فی الکنیسة،وایضا:البحر الرائق ج:۷ ص:۲۱٤)_

**ترجمه**:...دا د الله کورونه نه دي د الله کورونه جوماتونه دي دا خو هغه ځایونه دي کوم ځای کې چې کفر کیږي اګر چې په دې کې ذکر هم کیږي. د کورونو هم هغه حکم وي کوم چې د هغه د جوړونکو وي ددي جوړونکي کافران دي دا د کافرانو عبادت کورونه دي.
امام جعفر محمد بن جریر الطبري(المتوفي ٣١٠ه) د مسجد ضرار په باره کې نقل کوي:
**.. عمد ناس من اهل النفاق فابتنوا مسجدا بقبا ليضاهوا به مسجد رسول الله صلى الله عليه وسلم......** (تفسیر ابن جریر ج ٧ ص ٢٥ مطبوعه دارالفکر بیروت)

**ترجمه**:....په منافقانو کې څه خلکو دا حرکت وکړ چې په قباء کې یې یو جومات جوړ کړ چې په هغه سره یې مقصود دا وو چې هغوی ددې په ذریعه د رسول اللهﷺ د جومات سره مشابهت وکړي.

له دې نه ثابتیږي چې کومو خلکو منافقانه طریقې سره مسجد ضرار جوړ کړی وو د هغوی مقصد همدا و چې خپل هسې په نوم جومات د مسلمانانو د جوماتونو سره مشابه جوړولو سره مسلمانانو ته دوکه ورکړي دغیرمسلمو کومې عبادت خانې چې د جومات په شکل وي هغه مسجد ضرار دی او دهغه راغورځول لازمي دي ددې نه پرته فقهاء کرامو وضاحت کړی دی چې د اسلامي ملکونو د غیر مسلم اوسېدونکو لباس او شکل او صورت به د مسلمانانو نه بیل وي(دا مسئله د فقه اسلامي په هر کتاب کې د باب احکام اهل الذمه د عنوان لاندې موجود ده)

او عمر بن الخطابؓ چې د شام د ملک دعیسایانو سره کومه عهدنامه لیکلې وه دهغې پوره متن امام بیهقي رحمه الله په سنن الکبری (ج٩ ص ٢٠٢)او کنزالعمال(ج٤ ص ٥٠٤) جدید طبع کې د **حدیث نمبر**:١١٤٩٣ لاندې لیکل شوی دی دهغه یوه جمله دلته نقل کوم:

**ولا نتشبه بهم فى شئ من لباسهم من قلنسوة ولا عمامة ولا نعلين ولا فرق شعر ولا نتكلم بكلامهم ولا نكتني بكناهم...**

**ترجمه**:......او موږ به د مسلمانانو په لباس او د هغوی په وضع قطع کې د هغوی مشابهت نه کوو نه په ټوپۍ کې نه په پټکي کې نه په څپلیو کې نه د وېښتو په ږمنځولو کې او موږ به د مسلمانانو په خبرو او د هغوی په اصطلاحاتو خبرې نه کوو اونه به دهغوی کنیت خپلوو.
اندازه وکړئ! چې کله لباس وضع قطع ټوپۍ پټکی او د ښپو څپلو او د سر په لاره کې د کافرانو د مسلمانانو سره مشابهت روا نه کړل شو. نو اسلام دا څنګه برداشت کولی شي چې غیر مسلم کافر خپل د عبادت ځایونه د مسلمانانو د مسجد په شان جوړ کړي؟

## د جومات قبلې ته مخ کیدل د اسلام شعار دی

پورته عرض و شو چې جومات د اسلام دلویي شعار دی. د جومات صفتونو او خصوصیاتو باندې که ځانته ځانته غور و شي، نو معلومه به شي چې په دې کې یو یو شی هم مستقل طور سره د اسلام شعار دی مثلاً: قبلې ته مخ کول واخلئ. د دنیا په ټولو مذهبونو کې دا خصوصیت یوازې اسلام ته حاصل دی چې ددې اهم ترین عبادت لمونځ کې بیت الله شریف ته مخ کول دي ،هم دا وجه ده چې رسول اللهﷺ قبلې ته مخ کول د اسلام خصوصي شعار مقرر کولو سره هغه سړي ته کوم چې زموږ قبلې ته مخ کولو سره لمونځ کوي د مسلماني علامه ښودلې ده:

**،،من صلی صلاتنا و استقبل قبلتنا و اکل ذبیحتنا فذالک المسلم الذی له ذمة الله وذمة رسوله فلا تخفروا الله ذمته..** .(صحیح البخاری ج ۱ ص ۵۶)

**ترجمه:**....څوک چې زموږ په شان لمونځ کوي زموږ قبلې ته مخ کوي زموږ حلاله خوري دا سړی مسلمان دی د چا له پاره چې د الله او د هغه د رسولﷺ ذمه ده د الله ذمه مه ماتوئ.

ښکاره ده چې ددې حدیث مقصد دا نه دی چې یو سړی دې د الله او د هغه د رسول منکر وي د قرآن کریم قطعي ارشادات دې دروغژن ګڼي او د مسلمانانو نه دې بیل عقائد ساتي. بیا به هم هغه ددې درې کارونو په وجه مسلمان کیږي؟ نه ! بلکې د حدیث مطلب دا دی چې لمونځ، قبلې ته مخ کول او د حلالې معروفه طریقه یوازې د مسلمانانو شعار دی کوم چې د هغه وخت د مذهبونو نه بیل ساتل شوي وو ، هیڅ یو غیر مسلم ته دا حق نه دی حاصل چې د کفر د عقیدې ساتلو باوجود زموږ دا شعار خپل کړي.

حافظ بدرالدین عینيرحمه الله ددې حدیث په شرح کې لیکي:

**،،واستقبال قبلتنا مخصوص بنا....،** (عمدة القاری ج۲ ص ۲۹۶)

**ترجمه:**.....او زموږ قبلې ته مخ کول موږ سره خاص دی.

حافظ ابن حجررحمه الله لیکي: **وحکمة الاقتصار علی ما ذکرمن الافعال ان من یقر بالتوحید من اهل الکتاب وان صلوا واستقبلوا و ذبحوا لکنهم لا یصلون مثل صلوٰتنا ولا یستقبلون قبلتنا و منهم من یذبح لغیر الله و منهم من لا یاکل ذبیحتنا والاطلاع علی حال المرء فی صلاته واکله یمکن بسرعة فی اول یوم بخلاف غیر ذالک من امور الدین.** (فتح الباری ج۱ص۴۱۷ مطبوعه دارالنشرالکتب الاسلامیه لاهور)

**ترجمه:**.......او په ذکرشوو کارونو باندې د اکتفاء کولو حکمت دادی چې په اهل کتابو کې کوم خلک د توحید قائل وي هغوی اګر چې لمونځ هم کوي د قبلې استقبال هم کوي او ذبح

هم كوي. خو هغوی نه زمونږ په شان لمونځ كوي نه زمونږ د قبلې استقبال كوي او په هغوی كې ځينې د غير الله له پاره ذبح كوي زمونږ حلاله نه خوري او د انسان حالت د لمونځ كولو او د خوراک كولو نه فورا په لومړي ورځ پيژندل كيږي.ددين په نورو كارونو كې دومره زر اطلاع نه كيږي.په دې وجه يې د مسلمانانو درې ښكاره علامې ذكركړې دي

او شيخ ملا علي قاري رحمة الله عليه ليكي **انما ذكره مع اندراجه فى الصلاة لان القبلة اعف.اذ كل احد يعرف قبلته وان لم يعرف صلاته ولان فى صلاتنا ما يوجد فى صلاة غيرنا واستقبال قبلتنا مخصوص بنا...**(مرقاة المفاتيح ج ١ ص ٧٢ طبع بمبئ)

**ترجمه**:......په لمانځه كې قبلې ته مخ كول خپله راځي. خو دا يې بيل ذكر وفرمايل ځكه چې قبله د اسلام د ټولو نه ښكاره علامه ده. ځكه چې هر سړی خپله قبله پيژني اګر كه لمونځ نه پيژني او په دې وجه هم چې زمونږ د لمانځه ځيني شيان د نورو مذهبونو په لمونځونو كې هم موندل كيږي. خو زمونږ قبلې ته مخ كول يوازې زمونږ خصوصيت دی.

له دې تشريحاتو نه واضحه شوه چې قبلې ته مخ كول د اسلام اهم ترين شعار دی او د مسلمانانو معروف ترين علامه ده هم په دې بنياد د اهل اسلام لقب اهل قبله مقرر شوی دی. كوم سړی چې د اسلام د قطعي متواتر او كلكو عقائدو خلاف بله عقيده ساتي هغه په اهل قبله كې نه دی داخل.نه هغه ته قبلې د مخ كولو اجازت كيږي

## محراب د اسلام شعار دی

د جومات د كيدلو له پاره څه خاص شكل او وضع نه ده لازمه شوې. خو د مسلمانانو په عرف كې څو شيان د جومات د خاصې علامې په طور معروفې دي. يو په دې كې د جومات محراب دی كوم چې د قبلې دطرف مقرر كولو له پاره تجويزشوی دی.

حافظ بدر الدين عيني رحمة الله عليه په عمدة القاري كې ليكي:

**ذكر ابوالبقاء ان جبريل عليه الصلاة والسلام وضع محراب رسول الله صلى الله عليه وسلم مسامة الكعبة وقيل كان ذالک بالمعاينة بان كشف الحال و ازيلت الحوائل فرءى رسول الله صلى الله عليه وسلم الكعبة فوضع قبلة مسجده عليها..**

(عمدة القاری شرح صحيح البخاری الجزء الرابع ص ١٢٦ طبع دارالفكر بيروت)

**ترجمه**:...او ابوالبقاء رحمة الله عليه ذكركړې دي چې جبريل عليه السلام كعبې ته مخامخ رسول الله صلى الله عليه وسلم له پاره محراب جوړكړ او وويل شو چې دا د معائنې په ذريعه وشو.يعنې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مخكې پردې ليرې كړل شوې او صحيح حال په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې ښكاره شو. رسول الله صلى الله عليه وسلم د كعبې په ليدلو باندې دخپل جومات د قبلې اړخ مقرركړ.

له دې نه د دوه خبرو وضاحت وشو اول دا چې د محراب ضرورت د قبلې د تعین له پاره دی چې لمونځ ګزار محراب ته کتلو سره د قبلې اړخ معلوم کړي.دویم دا چې کله د مسجد نبوي تعمیر وشو هم هغه وخت نه د محراب نښه هم ولګول شوه.که جبرایل علیه السلام دهغه ښودنه کړي وي یا رسول الله ﷺ د کشف په ذریعه خپله دهغې تجویز کړی وي.

خو دا محرابونه کوم چې غتې خیتې والا وي چې نن سبا په جوماتونو کې د قبلې طرف ته وي ددې ابتداء خلیفه راشد عمر بن عبدالعزیز رحمه الله هغه وخت کړې وه چې کله هغه د ولید بن عبدالملک په زمانه کې د مدینې طیبې ګورنر و(وفاء الوفاء ص۵۲۵ وما بعد)دا د صحابه کرامو او تابعینو دور و او د هغه وخت نه تر اوسه پورې په جومات کې محراب جوړول د مسلمانانو شعار دی.

په فتاوی قاضي خان کې دي،،وجهة الکعبة تعرف بالدلیل.والدلیل فی الامصار والقری المحاریب التی نصبتها الصحابة والتابعون رضی الله تعالی عنهم اجمعین فعلینا اتباعهم فی استقبال المحارب المنصوبة...(البحر الرائق ج۱ص۲۸۵ مطبوعه دارالمعرفه بیروت)

**ترجمه:**.....اوقبلې ته مخ د څه علامې نه معلومیږي او په ښارونو او ابادیو کې د قبلې اړخ هغه محرابونه دي کوم چې صحابه کرامو او تابعینو رضوان الله علیهم اجمعین جوړ کړي دي په جوړ شویو محرابونو کې په موږ د هغوی تابعداري لازمه ده.

یعني دا محرابونه چې کوم د مسلمانانو په جوماتونو کې د صحابه کرامو او تابعینو د وخت نه راروان دي په اصل کې د قبلې د اړخ د پیژندګلوي له پاره دي او پورته ذکر شو چې قبلې ته مخ کول د اسلامي امت شعار دی او محراب د قبلې د اړخ د علامت په طور د جومات شعار دی په دې وجه د یو غیر مسلم په عبادت ګاه کې د محراب کیدل د یو اسلامي شعار بې عزتي ده. له دې نه پرته دغه د محراب والا عبادت خانو ته کتلو سره به هر سړی هغه جومات ګڼي او دا د اهل اسلام سره دوکه ده. لهذا ترڅو چې د غیر مسلمو یوه ډله د مسلمانانو ټولو عقائدو منلو سره د مسلمانانو په جماعت کې داخل نه شي تر هغه پورې به د هغوی د جومات په شکل جوړه کړې عبادت خانه د دوکې او مکر بدترینه اډه ده. چې د هغه نړول په مسلمانانو باندې لازم دي د امت فقهاء کرامو لیکلي دي چې که یو غیر مسلم بې وخته اذان کوي، نو دا په اذان پورې خندا کول دي.

ان الکافر لو اذن فی غیر الوقت لا یصیر به مسلما لانه یکون مستهزئا....(شامي ج۱ص۳۵۳ شروع د کتاب الصلاة طبع ایچ ایم سعید کراچی) **ترجمه:**.....کافر که بې وخته اذان وکړي، نو هغه په دې نه مسلمانیږي ځکه چې هغه په اصل کې ټوکې کوي.

همدغه شان د يو غير مسلمې ډلې د خپلو کفريه عقائدو باوجود د اسلامي شعائرو نقل کول او خپله عبادت ګاه د جومات په شکل جوړول، په اصل کې د مسلمانانو په اسلامي شعائرو پورې ټوکې کول دي او دا ټوکې مسلمانان نه شي برداشت کولی!

## اذان

په جومات کې اذان د لمانځه د دعوت له پاره کيږي، رسول الله ﷺ چې کله مدينې طيبې ته تشريف راوړ، نو مشوره وشو چې لمانځه له پاره د اعلان کولو څه صورت تجويز کول پکار دي، ځينو حضراتو د جرس ټنګولو تجويز وکړ رسول الله ﷺ په دې وينا سره دا خبره رد کړه چې دا د نصاراوو شعار دی، دويم تجويز وشو چې بوق (باجه) دې وغږول شي رسول الله ﷺ دا هم قبوله نه کړه چې دا د يهوديانو عادت دی، دريم تجويز د اور د بلولو وشو. رسول الله ﷺ وفرمايل دا د مجوسيانو طريقه ده، دا مجلس په دې خبره پای ته ورسيد چې د لمانځه په وخت کې به يو سړی اعلان کوي چې جماعت تيار دی، له دې نه وروسته صحابه کرامو ته په خوب کې د لمانځه طريقه وښودل شوه، کومه چې هغوی د رسول الله ﷺ په خدمت کې وړاندې کړه او د هغه وخت نه په مسلمانانو کې دا اذان دود شو. (فتح الباری ج۲ ص۲۲۰ مطبوعه لاهور)[1]

شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په دې واقعه باندې بحث کولو سره ليکي:

**وهٰذه القصة دليل واضح على ان الاحكام انما شرعت لاجل المصالح وان للاجتهاد فيها مدخلا، وان التيسير اصل اصيل، وان مخالفة اقوام تمادوا فى ضلالتهم فيما يكون يطلع بالمنام والنفث فى الروع على مراد الحق لكن لا يكلف الناس به ولا تنقطع الشبهة حتى يقرره النبى صلى الله عليه وسلم واقتضت الحكمة الالهية ان لا يكون الاذان صرف اعلام وتنبيه بل يضم مع ذالك ان يكون من شعائر الدين بحيث يكون النداء به على رؤس الخامل والتنبيه تنويها بالدين ويكون قبوله من القوم آية انقيادهم لدين الله.** (حجة الله البالغه ج۱ ص ٤٧٤ مترجم)

**ترجمه:**...... دا واقعه د څو مسائلو واضح دليل دی:

١: دا چې دا احکام شرعيه د خاصو مصلحتونو په بنياد باندې مقرر دي.

---

[1] لما كثر الناس ان يعلموا وقت الصلاة بشيء يعرفونه........عن عطاء عن خالدعند ابى الشيخ ولفظه فقالوا لو اتخذنا ناقوسا،فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ذاک للنصارى،فقالوا:لو اتخذنا بوقا فقال:ذاک لليهود،فقالوا:لو رفعنا ناراً،فقال:ذاک للمجوس.(فتح البارى ج:۲ ص:۸۰).وفى حديث ابن عمر........قال عمر:اولا تبعثون رجلا ينادى بالصلاة؟فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:يا بلال!قم فناد بالصلاة.(ايضا ج:۲ ص:۷۷).

۲: دا چې د اجتهاد هم په احکامو کې دخل شته.

۳: دا چې په احکام شرعيه کې اسانتيا ته کتل ډير لوی اصل دی

۴: دا چې ددين په شعائرو کې د هغه خلکو مخالفت ،چې په خپله گمراهي کې ډير مخکې تللي وي، شارع ته مطلوب دی.

۵: دا چې د نبي نه بغير هم يو انسان ته په ذريعه د خوب يا القاءفي القلب د الله پاک د مراد خبر کېدلی شي. خو هغه نور خلک په دې باندې نه شي مکلف کولی او نه په هغه سره شک ليرې کيږي،ترڅو چې رسول الله ﷺ دهغه تصديق ونکړي او د الله پاک د حکمت تقاضا وشوه چې اذان دې يوازې خبر نه وي، بلکې ددې سره دې هغه ددين په شعائرو کې هم داخل وي چې د ټولو خلکو مخکې اذان کول ددين د لوی والي ذريعه وي او د خلکو دا قبلول د الله پاک ددين د تابع کېدلو علامه شي.

د شاه صاحب رحمه الله ددې عبارت نه معلومه شوه چې اذان د اسلام لوی شعار دی او دا چې اسلام په دې شعار کې د گمراه فرقو د مخالفت لحاظ ساتلی دی.فتح القدير ج ۱ ص ۱۲۷ فتاوا قاضي خان او البحر الرائق صفحه ۲۵ وغيره کې وضاحت شوی دی چې اذان کول ددين اسلام شعار دی[۱] فقهاء کرامو چې کوم ځای د مؤذنينو شرائط شمار کړي دي هلته يې دا هم ليکلي دي چې مؤذن به مسلمان وي.

**،،واما الاسلام فينبغي ان يكون شرط صحة فلا يصح اذان كافر على اىّ ملة كان...** (البحرالرائق ج ۱ ص ۲۷۹ مطبوعه دارالمعرفه بيروت) **ترجمه**:....د موذن د مسلمان کېدلو شرط هم ضروري دی د کافر اذان صحيح نه دی که د هر مذهب وي.

فقهاء کرامو دا هم ليکلي دي چې مؤذن که د اذان په دوران کې مرتد شي. نو بل سړی دې اذان وکړي:

**ولو ارتد المؤذن بعد الاذان لا يعادوا وان اعيد فهو افضل...كذا فى السراج الوهاج.واذا ارتد فى الاذان فلاْولىٰ ان يبتدى غيره وان لم يبتدى غير واتمه جاز كذا فى فتاوى قاضى خان..**

**(فتاوى عالمكيرى ص: ۵٤ مطبوعه مصر)**

**ترجمه**:..که مؤذن د اذان کولو نه وروسته مرتد شي، نو د اذان دويم ځل کولو ضرورت نشته، خو که بيا وکړل شي. نو افضل دی او که د اذان دوران کې مرتد شو. نو غوره ده چې بل سړی بېرته له سر نه اذان شروع کړي. خو که بل سړي باقې اذان پوره کړ. نو بيا هم جائز ده.

---

۱ ]لان الاذان من اعلام الدين.(البحر الرائق ج:۱ ص:۲٦۹،وايضا:فى فتح القدير ج:۱ ص:۱٦۷)_

## د جومات مناره

د جومات يو خاصه علامه چې ټولو ته ښه ښکاري هغه مناره ده.د منارې ابتداء هم د صحابه کرامو او تابعينو د زمانې نه وشوه. په مسجد نبوي ﷺ کې د ټولو نه مخکې خليفه راشد عمربن عبد العزيز رحمه الله مناره جوړه کړه.(وفاالوفاء ص۲۲۵)جناب مسلمه بن مخلد رضي الله عنه جليل القدر صحابي دی هغه د جناب معاويه رضي الله عنه په زمانه کې د مصر ګورنر و هغه د مصر په جوماتونو باندې د منارې جوړولو حکم وکړ.(الاصابه ج۳ ص۴۱۸)[1]د هغه وخت نه تر اوسه پورې په څه نا څه شکل باندې د مسجد مناره ضروري ګڼل کيږي، د جومات مناره د دوه فائدو له پاره جوړيږي.يو دا چې په اوچت ځای باندې اذان وشي. امام ابوداود په دې باندې يو مستقل باب قايم کړی دی.**الاذان فوق المنارة....**

**حافظ جمال الدين الزيلعي په نصب الرايه کې د جناب ابو برزه اسلمي رضي الله عنه قول نقل کړی دی.**

**من السنة الاذان فی المنارة والاقامة فی المسجد....**(ج۱ ص ۲۹۳ مطبوعه مجلس علمي هند)

**ترجمه:** اذان په مناره باندې کول او اقامت په جومات کې کول سنت دي.

د جومات د منارې دويمه قاعده دا وه چې د منارې په لېدلو باندې به ناواقف انسان ته د جومات د جومات کيدوعلم وشي.ګويا دا د جومات معروف ترينه علامه ده چې په دې کې د قبلې په طرف محراب وي .منبر وي مناره وي هلته اذان کيږي په دې وجه د يو غير مسلم په عبادت خانه کې ددې شيانو موندل د اسلامي شعار بې عزتي ده او هر کله چې قاديانيان قانوني طور سره غير مسلم منل شوي دي او په هغوی د خپل ځان مسلمان ښکاره کولو باندې پابندي(بنديز) لګيدلې دی. نو د هغوی له پاره جومات يا د جومات په شان عبادت خانې جوړولو او هلته د اذان او اقامت کولو بالکل اجازت نشته.زمونږ د اقتدار خاوندانو او د عدليې دا فرض دي چې غير مسلم قاديانيان د اسلامي شعائرو د استعمال نه منع کړي او د مسلمانانو فرض دي چې هغوی په پوره شدت او قوت سره پرې دا مطالبه ومني. الله پاک دې دا ملک د منافقانو د هر شر نه محفوظ وساتي.

## بغير د اجازت نه د غير مسلم په ځای کې جومات جوړول نا جائز دي

**سوال:** يو ځمکه چې د غيرمسلم وي، هغه دا ځمکه يومسلمان سړي ته حواله کړه چې څو پورې زه دخپل وطن نه بيرته نه يم راغلی ددې ښه ساتنه وکړه.دې مسلمان سړي د هغه په ځمکه باندې جومات يا مدرسه جوړه کړه او اوس هغه غير مسلم بياخپل ځای ته راغلی دی

---

[1] مسلمة بن مخلد........الانصاری الخزرجی.......وقال محمد بن الربيع،ولی امرة مصر وهو اول من جمعت له مصر والمغرب وذلک فی خلافة معاوية......وقال ابن السکن:هو اول من جعل علی اهل مصر بنيان المنار.(الاصابة تمييز الصحابة ج:۳ ص:۴۱۸،طبع دار صادرمصر،حرف الميم،القسم الاول)۔

او هغه په خپله ځمکه باندې جومات او مدرسه جوړه ولیده. نو هغه مسلمان سړي ته یې وویل چې زما په ځمکه کې دې ولې خیانت کړی دی؟ په دې ځمکه دې جومات او مدرسه جوړه کړې ده. زه به دا دواړه راغورځوم. ایاپه شریعت کې دې غیرمسلم ته دا اجازه شته چې داجومات اومدرسه ورانه کړي؟

**جواب:** د مالک د اجازت نه بغیر جومات یا مدرسه جوړول صحیح نه دي. دې غیر مسلم ته حق دی چې هغه د خپلې ځمکې نه جومات او مدرسه وران کړي او مسلمانان که دا مدرسه او جومات برقرار ساتل غواړي. نو غیر مسلم ته دې دهغه قیمت ورکړي او په رضامندي سره دې ترې دا ځای واخلي.[1]

## قبضه شوي ځای باندې د جومات تعمیر

**سوال:** د جومات انتظامیه د حکومت له اجازې پرته په یوه دفتر یا اداره باندې قبضه وکړي اوهغه هم په جومات کې شامل کړي. نو ایا هغه به قبضه شوی ځای ګڼل کیږي؟ او هلته لمونځ کیږي اوکه نه؟

**جواب:** په قبضه شوي ځای باندې جومات خو نه شي جوړیدلی. ترڅو چې مالک د هغه ځای اجازت ورنکړي د حکومت په یو دفتر یا اداره باندې قبضه کولو سره هغه په جومات کې شاملول هم قبضه ده. خو کومې علاقې چې د خلکو د ضرورتونو له پاره خالي پرتې وي. هلته جومات جوړول جائز دي د حکومت فرض دي چې د خلکو ضرورت ته کتلو سره هلته جومات جوړ کړي.[2]

## د پارک، سکول او ډېران (ګندګي) په ځای کې جومات جوړول

**سوال:** اکثر موږ لیدلي دي چې کوم ځای خاص طور سره چېرته خالي ځای موجود وي. که هغه د حکومت ملکیت وي یا پارک وي یا سکول او ډېران لپاره خاص شوی وي. نو د سازش په بناء باندې پټ په پټه هلته د یو جومات تعمیر شروع شي. دیوالونه او منبر وغیره په کې تعمیر کړل شي. بیا له دې نه وروسته پرې اعتراض کول هسې ځان ته کار کتل دي.

**جواب:** په ناجائزځای او د بل چا په ملکیت کې د اجازت نه بغیر د جومات د جوړولو اجازت

---

[1] فان شرط الوقف التابید والارض اذا کانت ملکا لغیره فللمالک استردادها وامره بنقض البناء...الخ. (فتاوی شامی ج: ٤ ص: ٣٩٠، کتاب الوقف مطلب مناظرة ابن الشحنة مع شیخه العلامة قاسم فی وقف البناء)۔

[2] (وارض مغصوبة او للغیر)......وتکره فی ارض الغیر......الا اذا کانت بینهما صداقة او رای صاحبها لا یکرهه فلا باس. (شامی ج: ١ ص: ٣٨١، مطلب فی الصلاة فی الارض المغصوبة...الخ)۔

نشته. دې سره سره د جومات په تعمير کې حلال مال خرچ کول پکار دي.[۱]

## په ناجائزه قبضه شوې ځمکه باندې د جومات تعمير او په هغه کې د لمانځه حکم

**سوال:** يو جومات چې د هغه تعمير په يوداسې ځاى باندې شوى وي چې د يوې کونډې ښځې ملکيت دى او دا ښځه دغه ځاى جومات ته د ورکولو لپاره بالکل تياره نه ده. په غصب او زبردستۍ سره د دغې ښځې په ځاى باندې جومات تعمير شوى دى. داسې صورت کې متعلقه جومات کې لمونځ کول څنګه دي چې د هغه تعمير په ناجائزه ځاى باندې شوى وي؟

**جواب:** د يوې کونډې ښځې په ځاى باندې قبضه کول. دا غصب دى[۲] او څومره خلک چې په دې جومات کې لمونځ کوي هغوى ټول ګناهګار دي، د جومات لمونځ کونکو ته پکار دي چې دا ښځه په قيمت ورکولو سره راضي کړي، نو بيا به دا لمونځ صحيح وي.

## د جومات د پراخوالي لپاره سرکاري ځمکه قبضه کول

**سوال:** که د جومات د صحن د پراخولو لپاره اته. لس فټه سرکاري ځمکې باندې د اجازې نه پرته قبضه وشي، نو په دې توسيعي ځمکه کې لمونځ کيږي او که بيرته د دې ځمکې ورګرځول ضروري دي؟

**جواب:** که دا ځمکه د عامو خلکو د فائدې لپاره پرته وه لکه د لوبو ميدان وغيره. نو د خلکو په فائدو کې جومات د ټولو نه زيات مقدم دى. له دې وجې نه د اهل محله په رايه سره دا د ضرورت په قدر جومات کې شاملول صحيح دي. سرکاري اجازت ضروري نه دى او متعلقه سرکاري ادارې ته د دې منظوري ورکول پکار دي.[۳]

## د شرعي جومات تفصيل

**سوال:** تاسو په ۱۲ فرورۍ روزنامه "جنګ" کې د جومات د منتقل کولو متعلق ارشاد فرمايلى دى چې: "د يو ځاى نه بل ځاى ته جومات منتقل کول صحيح نه دي. کوم ځاى کې

---

[۱] واما شرائطه......فمنها الملک وقت الوقف...الخ. (عالمگیری ج:۲ ص:۳۵۳)، فان شرط الواقف التابید والارض اذا کانت ملکاً لغیره فللمالک استردادها وامره بنقض البناء. (شامی ج:٤ ص:۳۹۰، طبع ایچ ایم سعید، مطلب مناظرة ابن الشحنة مع شیخه العلامة قاسم فی وقف البناء).

[۲] ایضا تیری شوی دوه حاشیې۔

[۳] مسجد بنی علی سور المدینة قالوا لا یصلی فیه لان السور حق العامة وینبغی ان یکون الجواب علی التفصیل ان کانت البلدة فتحت عنوة وبنی مسجد باذن الامام جازت الصلاة فیه لان للامام ان یجعل الطریق مسجداً فهذا اولی. (عالمگیری ج:۱ ص:۱۱۰، کتاب الصلاة، الباب السابع، الفصل الثانی).

چې یوځل شرعي جومات جوړ شو،نودا دقیامته پورې جومات دی" خوتاسو د لفظ "شرعي" وضاحت ونه کړ،په کراچۍ کې ډیر زیات جوماتونه او خصوصاً په مضافاتي علاقو کې د اهل سنت ډیر زیات جماتونه په سرکاري او نیمه سرکاري ځمکو باندې جوړ شوي دي،ما خو یو داسې جومات هم لیدلی دی چې د یو سرکاري ملازم په پلاټ باندې د هغه د اجازې نه پرته جوړ شوی،هغه غریب د ملازمت په سلسله کې اسلام اباد ته بدل شوی و او هلته تللی و او چې کله ډیره موده وروسته له ریټائرډ کېدو نه وروسته بېرته راغی،نو په خپل پلاټ باندې یې جومات ولاړ ولید .د تفصیل ضرورت نشته.ستاسو په خیال کې ایا دا هم شرعي جومات دی،که نه دی؟ نو بیا په دې جومات کې لمونځ کول څنګه دي؟
په یوه مضافاتي علاقه کې یوځو کاله وشو چې همدغه شان ناجائز جومات لیرې شو.متعلقه خلکو یو عالم دین طرفته رجوع وکړه، نو وې فرمایل: جومات ناجائزه جوړول خو پکار نه دي، خو که جوړ شو، نو بیا دې وي،ایا په دې ځواب سره په دغه عالم دین کې د حق خبرې د جرات کولو کمی په نظر نه راځي چې هغه د مصلحت نه ډک جواب ورکړ، دچا په ځمکه باندې که هغه د چا ذاتي ملکیت وي یا سرکاري او نیمه سرکاري اداري ملکیت وي،حق خبره خو دا ده چې بغیر د اجازت نه جومات جوړول پکار نه دي، په تاریخ کې خو موږ دا لوستلي دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د نبوي جومات جوړولو لپاره هم معاوضه ورکړې وه، حالانکې هغه ځمکه د دوو یتیمانو وه او خلکو د معاوضې نه بغیر ځمکه د جومات جوړیدو لپاره پیش کړه، خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم اصرار وکړ او د جومات معاوضه یې ادا کړه،اوس به تاسو دا نه وایئ چې دغه ځمکه خو د یتیمانو ملکیت و، له دې وجې نه نبي علیه السلام د هغه په معاوضې ادا کولو باندې اصرار وکړ،ایا تاسو د یو جومات مثال ورکولای شئ، چې نبی علیه السلام یا د هغه خلفاء راشدینو د چا په ځمکه باندې د هغوی د اجازت نه بغیر قائم کړی وي؟

**جواب:** ما د"شرعي جومات "قید ددې لپاره لګولی و چې د چا په ذاتي ملکیت باندې جوړ شوی "هسې په نوم جومات "ددې نه مستثنی کړل شي،اوس ددې د شرعي حکم تفصیل لیکم:

۱: کوم ځایونه چې حکومت د عامو خلکو لپاره پریښي وي ،یعنې هغه د اهل محله د ضرورتونو لپاره وي، نو په داسې ځایونو کې چې کوم جوماتونه جوړ شي د هغه حکم دا دی چې رسمي طور باندې د حکومت نه اجازه اخستل پکار دي او که هلته واتعی جومات ضرورت وي. نو د حکومت متعلقه افسرانو ته پکار دي چې فوراً ددغه جومات منظوري ورکړي.که دا افسران منظوري ورنکړي او اهل محله هلته په جومات کې لمونځونه شروع کړي. نو دا به"شرعی جومات "وي.ځکه چې دا ځای د اهل محله د ضرورتونو لپاره دی او د جومات کېدل د اهل محله د ټولو ضرورتونو نه لوی ضرورت دی.

۲: ځینې ځایونه داسې دي چې حکومت د اهل محله د ضرورتونو لپاره نه ،بلکې د حکومت د ضرورتونو لپاره پريښي وي او دا داسې ځای وي چې حکومت دده پـه بدل کې بل ځای پیدا کولای هم نه شي، نو پـه داسې ځای باندې د اجازې نه پرته جومات جوړول جائز نه دي، بلکې مخکې د حکومت نه اجازه اخستل ضروري دي.

۳: ځینې ځایونه د خاصو محکمو ملکیت وي، پـه داسې ځایونو باندې د جومات جوړولو لپاره ددغې محکمې نه اجازه اخستل ضروري دي.

۴: ځینې ځایونه د يو سړي ذاتي ملکیت وي(که هغه کس مسلمان وي يا غیرمسلم)داسې ځای کې جومات جوړول يوازې پـه دې صورت کې صحيح دي چې دغه سړی دا ځای د جومات لپاره وقف کړي يا ترينه د جومات لپاره واخستل شي. که د مالک د اجازې نه پرته پـه دغه ځای کې جومات جوړ شو(لکه څنګه چې تاسو پـه سوال کې ليکلي دي)، نودا شرعاً جومات نه دی او پـه دې کې لمونځ کول هم جائز نه دي، د ځمکې مالک ته حق حاصل دی چې دغه عمارت،کوم چې د" جومات" پـه نوم باندې ولاړ دی، وران کړي، غرض دا چې د" جومات" مقدس نوم باندې د نورو خلکو ځمکې غصبول بالکل جائز نه دي.[1]

## پـه پردۍ ځمکه باندې جومات جوړول

**سوال:** زه يو ريټائرډ(متقاعد)سرکاري ملازم يم،پـه ريټائرډ منټ کې چې کومې روپۍ ماته راکړل شوې.ما هغو باندې يو پلاټ اخيستی و.زما درې لوڼه دي.چې پـه هغوی کې د يوې لور د واده معامله ده. زما پـه پلاټ باندې څه خلکو ناجائز قبضه کړې ده. زه هغوی ليرې کول غواړم ځکه چې ما ددغه پلاټ پـه يو کمپنۍ باندې د خرڅولو اراده کړې ده. د پوليس څه افسران د سابقه سرکاري ملازمت له وجې نه زما تعلق دار دي. له دې وجې نه دغه ناجائز قابضين ددغه ځای نه ليرې کول څه لويه مسئله نه ده.

مسئله اصل کې دا ده چې دغه خلکو د نژدې جومات باوجود زما پـه پلاټ باندې يو جومات جوړ کړی دی که زه دوی ددغه ځای نه ليرې کول غواړم. نو هغوی دې مسئلې ته مذهبي رنګ ورکوي او د ځای د خالي کولو نه انکار کوي.

۱: ايا پـه يو ذاتي او شخصي ملکيت باندې له اجازې پرته جومات جوړول جائز دي؟

۲: که زه دغه خلک د طاقت پـه ذريعې سره ليرې کړم، نو دا جومات بايد څنګه شي؟کومې کمپنۍ سره چې زما معاهده شوې ده هغوی هلته يو رهائشي منصوبه جوړول غواړي،دغو

---

[1] واما شرائطه......ومنها الملک وقت الوقف،حتی لو غصب ارضا فوقفها ثم اشتراها من مالکها ودفع الثمن اليه او صالح علی مال دفعه اليه لاتکون وقفا.(عالمگيری ج:۲ ص:۳۵۳،کتاب الوقف،الباب الاول)،ايضا:کل يتصرف فی ملکه کيف شاء،لان کون الشیء ملکا لرجل يقتضی ان يکون مطلقاً فی التصرف فيه.(شرح المجلة لاتاسی ج:٤ ص:۱۳۲،المادة:۱۱۹۲).

خلکو جومات دومره غلطې طریقې سره جوړ کړی دی چې دا منصوبه په کې هیڅ شان سره نه شي کېدای

محترمه:زما ټول مال ودولت دغه پلاټ دی.د لور واده نژدې راروان دی او دا مسئله زیاتیږي. مهرباني وکړئ تاسو ته انتهائي عاجزانه درخواست دی چې د قرآن اوحدیث په رڼا کې ددې مسئلې فوري حل تلاش کړئ

**جواب:** کوم واقعات چې تاسو لیکلي دي که دا صحیح وي. نو کوم جومات چې د غیر په ملکیت کې جوړ کړل شي دا جومات نه دی. له دې وجې نه د څه تکلف نه پرته دغه خلک تاسو لیرې کولای شئ او دا جومات هم لیرې کولای شئ[1].دې خلکو ته په دې جومات جوړولو سره ثواب نه ورکول کیږي.بلکې په پردي مال باندې د قبضه کولو له وجې نه به دا خلک په عذاب کې مبتلا وي ترڅو چې دوی د دې خپل کار نه توبه کړې نه وي.[2]

## د وارثانو د رضامندۍ نه بغیر کور په جومات کې شاملول

**سوال:** زما والد صاحب په خپل ژوند کې کور واخست، پرېښودل شوی جایېداد مو د حکومت نه په فارم کې د والد صاحب په نوم کړ. ټول قیمت یې زما د تنخواه نه ادا کړ. والد صاحب وفات شوی دی.بلدیه د جایېداد د خطرناک کېدو له وجې نه د ورانولو حکم ورکوي. د والد صاحب د وفات نه څلورکاله وروسته مو د بلدیې نه نقشه پاس کړه اوپه دویم ځل یې تعمیر کوو.چې په هغه کې زما او زما د کشر ورور روپۍ خرچ کیږي.والد صاحب د وفات کېدو په وخت دوه ماشومان هلکان او دوه جینکۍ پرېښې دي،ما او زما ورور یې پالنه وکړه او د ودونو وغیره اخراجات هم برداشت کوو. اوس د ټولو نه کشر ورور او خویندې مطالبه کوي چې کور خرڅ کړئ او زموږ حصه راکړئ. نژدې جومات هم زیرتعمیر دی. جومات والا غواړي چې دا کور په جومات کې راشي. جومات والا زما د ورور او د خویندو ملګرتیا زبردستی باندې کوي، پیسې هم ورکوي او ورته وایي چې رشوت درکولوسره به هم کور په جومات کې شاملوو.لکه څنګه چې مو په جومات باندې ناجائزه او زبردستی سره قبضه کړې ده او حال دا دی چې په کور کې زما مور.بو ورور او زما واړه اوسیږي زه خو د ۱۹۴۷ء نه په دې کور کې اباد یم

**جواب:** دا کور ستاسو د والد صاحب په نوم و.له دې وجې نه دا د ټولو وارثانو ځای دی په دې باندې چې کوم نوی کور جوړ شوی دی هغه یوازې د هغه چا دی چا چې دا کور جوړ کړی

---

[1] واما شرائطه...فمنها الملک وقت الوقف.(عالمگیری ج:۲ ص:۳۵۳).ایضا:والارض اذا کانت ملکا لغیره فللمالک استردادها وامره بنقض البناء(ردالمحتار ج:٤ ص:۳۹۰،کتاب الوقف،مناظرة ابن الشحنه مع شیخه)

[2] عن سعید بن زید قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:من اخذ شبرًا من الارض ظلماً فانه یطوقه یوم القیامة من سبع ارضین.متفق علیه.(مشکوة ص:۲٥٤،باب الغصب والعاریة،طبع قدیمی کتب خانه).

دی له دې وجې نه د ځای چې کوم قيمت دی په هغه کې دې وارثانو ته حصه ورکړل شي. که تاسو دا کور جومات ته په خوشحالۍ سره ورکړئ، نو دا به ستاسو لپاره صدقه جاريه وي، په زبردستۍ سره کور اخستل او په جومات کې شاملول صحيح نه دي.

## د جومات د ضروریاتو له پاره خرچه کول هم صدقه ده

**سوال:** که د هر زيارت په ورځ باندې په جومات کې پيسې ورکړل شي، نو ايا دا صدقه ده؟ صدقه خو هغه چا ته ورکول کيږي چې غريب وي(زه خو انجيلۍ يم ما ته غريب خلک نه دي معلوم او نه زه د کور نه اوځم په دې وجه يې جومات کې ورکوم)ايا دا صحيح ده او ددې ثواب شته؟

**جواب:** کوم شی چې د الله پاک د رضا له پاره ورکړل شي هغه صدقه ده په دې وجه د جومات د خرچو له پاره څه خرچه کول هم صدقه ده د صدقې کولو څه خاصه ورځ نشته که د ګل په ورځ يې ورکوئ د زيارت په ورځ يا په يو بله ورځ.[1]

## د سټه (جواری) کاروبار پيسې په جومات کې لګول

**سوال:** مسئله داسې ده چې يو سړی د شلو کالو نه دسټه(قمار) په شان سپيره او غير اسلامي کاروبار کوي کوم چې د علاقې اود علاقې نه بهرتول خلک پيژني، دې صاحب د جومات د تعمير او مرمت له پاره شل زره روپۍ په طور د ډالۍ ورکړي چې د جومات مشرانو ته معلومه ده چې ددې ورکونکي سړي د معاش ذريعه صرف او صرف د سټه کاروبار نه حاصله شوې ګټه ده.ددې نه پرته د هغه د ګټې هيڅ ذريعه نشته بيا هم د جومات انتظاميه دا ناجائزه پيسې د جومات په جوړښت او مرمت کې لګوي، نو غرض دا دی چې په داسې پيسو سره جوړ شوي جومات کې به د لمونځ کولو شرعي حيثيت څه وي؟ په تفصيل سره جواب راکړئ الله پاک دې ستاسو هميشه ملګری او مددګار وي آمين.

**جواب:** دا شرعا جومات دی او په دې کې لمونځ هم جائز دی .خو له علم سره غلطې پيسې د جومات په تعمير کې لګونکي خلک ګناه ګار دي هغوی ته توبه کول پکار دي.[2]

## جومات د جوړونکي نوم ته منسوبول

**سوال:** زموږ په محله کې يو جومات دی دا ډيره مخکې خبره ده چې يو سړي چې اوس مړ دی د جومات د جوړولو له پاره خپله ځمکه ورکړې وه هسې خو ددې جومات نوم سبحاني

---

[1] الصدقة:هی العطية التی تبغی بها المثوبة من الله تعالی.(التعريفات الفقهية فی قواعد الفقه لمفتی عميم الاحسان ص:۳٤۸،طبع صدف پبلشرز کراچی)۔

[2] قال تاج الشريعة:اما لو انفق فی ذالک مالا خبيثاً او مالا سببه الخبيث والطيب فيکره لان الله تعالی لا يقبل الا طيب فيکره تلويث بيته بما لا يقبله.(رد المحتار ج:۱ ص:٦٥۸،مطلب کلمة لا باس)۔

مسجد دی ،خو د هغه پسماندګان دا جومات د هغه سړي په نوم سره یادوي،او باقاعده دې جومات ته د هغه سړي د نوم سره تړل غواړي،یعنی د هغه په نوم د جومات نومول غواړي، ترڅو پورې چې زما د عقل تعلق دی ما تر نن ورځې پورې نه دي اورېدلي چې یو جومات د چا په نوم باندې نامدار شوی وي،ځکه چې جومات خو د الله پاک کور دی،د چا ملکیت خو نه دی. اوس پاتې شو د هغه سړي تعلق چا چې د جومات د تعمیر له پاره ځای ورکړی و . نو د هغه اجر خو به الله پاک ورکوي،د قرآن او سنت په رڼا کې موږ ته دا بیان کړئ چې ایا دا خبره صحیح ده؟ که صحیح نه وي نو ایا په دې جومات کې لمونځ کول صحیح دي؟

**جواب:** د جومات نسبت یو سړي طرف ته د باني په حیث جائز دی، په دې کې هیڅ باک نشته ،خو چې کله جوړونکي مرحوم خپله خپل ځان ته نسبت کول نه دي خوښ کړي، نو د هغه پسماندګانو ته هم داسې کول نه دي پکار.

## د جومات حیثیت بدلول صحیح نه دي

**سوال:** زموږ په ځای کې جومات په یو داسې ځای کې دی چې هلته لمونځ ګزار ډېر کم راځي،زموږ د کمیټۍ دا اراده ده چې هغه له دې ځایه د سړک لورې ته یوړل شي،او دا ځای په مدرسه بدل کړي ،د قرآن او حدیث او فقه په رڼا کې جواب راکړئ؟

**جواب:** کوم ځای کې چې باقاعده جومات جوړ شی،هغه به همیشه جومات وي دهغه حیثیت بدلول صحیح نه دي.[1]

## جومات شهید کول

**سوال:** تحصیل ماتلي نه لس کلومیټره لیرې حکومت بارن اسټاپ باندې د مرادواه په نوم باندې یو نهر ویستلی دی ددې نهر په غاړه باندې یو طرف ته یو وړوکی جومات راځي، ټېکدار کنده کړې ده چې په هغې سره د مرادواه د جومات د غاړې نه څلور پنځه فټه(په واه کې) دننه راغلې ده. انجینر او ټېکدار وايي چې دا جومات راوغورځوئ او ددې خاوره په یو روان نهر کې اوغورځوئ،خو هلته چې کوم ډټریکټر والا کنده کوي هغوی وایي چې موږ به د شرعي مسئلې د پوښتنې نه وروسته جومات ته لاس اچوو ،تاسو نه پوښتنه داده چې څنګه انجینر او ټېکدار وايي هغسې صحیح ده او که دغه کچه جومات هلته پرېښودل پکار دي نو څنګه؟

**جواب:** جومات که کچه وي او که پوخ دهغه یا دهغه دیوې برخې لیرې کول او هغه ځای

---

[1] فلا یعود میراثا ولا یجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر سواء کانوا یصلون فیه اولا وهو الفتوی حاوی القدسی واکثر المشائخ علی قول ابی یوسف ورجح فی فتح القدیر قول ابی یوسف بانه هو الاوجه.(رد المحتار ج:٤ ۳۵۸، کتاب الوقف مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره. (البحرالرائق ج۵ ص:۳۵۸)۔

په یو بل ځای کې استعمالول جائز نه دي[١]، ټیکدار او انجینر صاحبانو ته پکار دي چې نهر کوږ کړي او د جومات په اړخونو یې اوباسي که نه ټول خلک به کوم چې په دې کار کې شریک دي د الله تعالی د کور د ورانولو په وجه ګناه ګار وي او څنګه چې هغوی د الله پاک کور وران کړ الله پاک به د هغوی کورونه وران کړي[٢]

## د یو جومات آبادولو له پاره دویم جومات راغورځول جائز نه دي

**سوال:** یو پخوانی جومات چې د څلورو طرفو نه د ونو او باغونو نه ډک دی، علاقه ډېره ګرمه ده، ګرمي د برداشت نه بهرده. تر دې چې مقتدیانو ووېل چې موږ به په ګرمي کې لمانځه ته نه راځو جومات یو طرف ته لوېیږي هم نه، نو ایا د سلو قدمونو په فاصله باندې بل جومات جوړول جائز دي او که نه؟ که جائز وي، نو ظاهره ده چې په دواړو جوماتونو کې جمعه نه کیږي، نو بیا پخواني جومات راوغورځوو یا یې بند کړو؟

**جواب:** یو جومات د بل جومات له پاره په قصد راغورځول صحیح نه دي، خو بل جومات دې ذکرشوی ضرورت له پاره جوړیږي، خو ددې د آبادولو له پاره لومړی جومات راغورځول صحیح نه دي[٣]

## جومات بل ځای ته منتقل کول صحیح نه دي

**سوال:** یو جومات و، محلې والاوو هلته ډېر وخت لمونځونه وکړل، بیا هغه شهید کړل شو او وراندې دویم ځای کې جومات جوړ شو، اوس چېرته چې اول جومات آباد و هلته سکول جوړ شوی دی، نو داسې کول جائز دي؟ځینې وخت کې حکومت په کچه آبادیو کې سړک جوړ کړي، نو په مینځ کې جومات راشي، نو ایا جومات ددغه ځای نه لیرې کول او دغلته سړک ته لار ورکول جائز دي؟

**جواب:** **جومات** د یو ځای نه بل ځای ته منتقل کول صحیح نه دي. چې یو ځل شرعي جومات

---

[١] ولو خرب ما حوله واستغنى عنه يبقى مسجدًا عند الامام،والثانى ابدًا الى قيام الساعة، وبه يفتى. درمختار. (قوله عند الامام والثانى)فلا يعود ميراثاً،ولا يجوز نقله ماله الى مسجد آخر،سواء كانوا يصلون فيه اولا،وهو الفتوى حاوى القدسى واكثر المشائخ عليه.(فتاوى شامى،كتاب الوقف،مطلب فيما لو خرب المسجد او غيره ج:٤ ص:٣٥٨،طبع ايچ ايم سعيد،البحر الرائق ج:٥ ص:٢٧٢،طبع دار المعرفة بيروت)۔

[٢] ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان يذكر فيها اسمه وسعى فى خرابها اولئك ما كان لهم ان يدخلوها الا خائفين لهم فى الدنيا خزى ولهم فى الاخرة عذاب عظيم (البقرة:١١٤)۔

[٣] ولو خرب ما حوله واستغنى عنه يبقى مسجدًا عند الامام،والثانى ابدًا الى قيام الساعة وبه يفتى حاوى القدسى. وفى الشامية قوله عند الامام والثانى الامام والثانى فلا يعود مراثًا ولا يجوز نقله ونقل ماله الى مسجدًا آخر، سواء كانوا يصلون فيه اولا وهو الفتوى حاوى القدسى واكثر المشائخ عليه مجتبى.(فتاوى شامى ج:٤ ص:٢٧٢، كتاب الوقف،فصل فى احكام المساجد)۔

جوړ شو ،نو هغه قیامت پورې جومات دی،دا په بل یو مصرف کې استعمالول ګناه ده.[1]

## د نوي جومات له وجې نه زوړ جومات شهید کول

**سوال:** په ګارډن ویسټ کې جیلاني جومات له دېرشو کالو راهیسې قائم دی،د جمعة المبارک او د اخترونو لمونځ هم په کې کیږي.حکومت آبادي ختمه کړه او سړک یې پراخ کړ. خو جومات یې په خپل حال باندې باقي وساته.اوس جومات سره متصل فلیټ او دکانونه جوړیږي،او یو طرفته نوی جومات هم جوړیږي.ځینې خلک ددې جومات ختمېدل او نوي جومات ته منتقل کېدل غواړي،ایا مخکېنی جومات شهید کول او نوي جومات ته منتقل کېدل صحیح دي؟دا جومات ختم کړل شي؟

**جواب:** چې کله یوځل یوځای کې جومات جوړ شي. نو هغه همیشه لپاره جومات وي،اوس دغه ځای وقف دی، په دې باندې د مالکانه تصرف حق باقي نه دی،له دې وجې نه په دې ځای کې کور جوړول،دکان جوړول یا یو بل شي کې استعمالول صحیح نه دي،دغه شان دا جومات شهید کول یا ددې جومات حیثیت ختمول هم جائز نه دي.[2]

## د مسافرو د ضرورت په خاطر دویم جومات جوړول

**سوال:** یو کلی چې تقریباً په څلویښتو کورونو باندې مشتمل دی،په هغه کې یو جومات د ډیرزیات وخت نه قائم دی او مستقل لمونځ کونکي په کې زیات نه زیات پنځه کسان دي،اوس د کلي والو خیال دی چې زوړ جومات د کلي په مینځ کې دی،هلته مسافرو ته په لمونځ کولو کې تکلیف وي،له دې وجې نه د کلي په غاړه باندې باید دویم جومات جوړ شي. د دویم جومات د جوړولو نه وروسته به زړو جومات وران شي،ایا په دې صورت کې نوی جومات جوړول جائز دي؟ که جومات جوړ هم شي، نو په دې صورت کې د جمعة المبارک او د تراویحو وغیره لمونځ کوم ځای وکړل شي؟

---

[1] ولو خرب ما حوله واستغنى عنه يبقى مسجدًا عند الامام،والثاني ابدًا الى قيام الساعة وبه يفتى حاوى القدسى. وفى الشامية قوله عند الامام والثانى فلا يعود ميراثًا ولا يجوز نقله ماله الى مسجد آخر سواء كانوا يصلون فيه اولا وهوالفتوى حاوى القدسى واكثرالمشائخ عليه،مجتبى(فتاوى شامى ج:٤ص:٣٥٨،كتاب الوقف، مطلب فى مالو خرب المسجد او غيره، البحرالرائق ج:٥ ص:٢٧٢،كتاب الوقف،فصل فى احكام االمساجد).

[2] ولو خرب ما حوله واستغنى عنه يبقى مسجدًا عند الامام،والثانى ابدًا الى قيام الساعة وبه يفتى حاوى القدسى. وفى الشامية قوله عند الامام والثانى فلا يعود ميراثًا ولا يجوز نقله ماله الى مسجد آخر سواء كانوا يصلون فيه اولاوهوالفتوى حاوى القدسى واكثرالمشائخ عليه،مجتبى.(فتاوى شامى ج:٤ص:٣٥٨،كتاب الوقف، مطلب فى مالو خرب المسجد او غيره، البحرالرائق ج:٥ ص:٢٧٢،كتاب الوقف،فصل فى احكام االمساجد).

**جواب:** که د نوي جومات ضرورت وي، نو جوړول يې صحيح دي[۱]. خو زوړ جومات معطل کول د وبال سبب دی[۲] د تراويحو لمونځ په دواړو جوماتونو کې کيدای شي او دجمعې لمونځ په يوه کې هم نه کيږي .ځکه چې په وړوکي کلی کې دجمعې لمونځ نه کيږي.[۳]

## د کارخانې د جومات شرعی حيثيت

**سوال:** زه چې په کومه کارخانه کې ملازم يم،دا جومات تقريبات د ۱۹۷۲ء نه جوړ شوی دی او باقاعده په کې پنځه وخته لمونځ او د جمعې مبارکې لمونځ هم کيږي انتظاميې والو يو امام صاحب هم د لمانځه لپاره مقرر کړی دی،اوس مسئله دا ده چې په کارخانه کې د تعميراتو کار کيږي چې د هغو مخې ته جومات هم راغلی .د کارخانې د انتظاميې دا اراده ده چې د موجوده جومات دا ځای هم يو شعبه جوړه کړل شي او جومات دويم ځت ته منتقل کړي.ستاسو نه پوښتنه داده چې د کارخانې والا دا لومړنی جومات شهيد ولای شي او ددې په ځای څۀ شعبه جوړول جائز دي ؟ځکه چې موږ اوريدلي دي چې د جومات ځای د قيامت پورې جومات وي.دا ځای بل څه مقصد لپاره استعمالول جائز نه دي

**جواب:** که د کارخانې مالکانو ددې جومات د جوړيدو په وخت باقاعده ددې د جومات کيدو نيت کړی وو او د جومات په حيثيت سره يې خلکو ته د لمونځ کولو اجازت ورکړی وو ،نو دا بدلول جائز نه دي ځکه چې کوم ځای جومات لپاره وقف شي ،نو هغه قيامت پورې جومات وي او چاته هم ددې د حيثيت د بدلولو اختيار نشته[۴] او که دا ځای د جومات

---

[۱] فی الدر المختار:اراد اهل المحلة نقض المسجد وبناءه احكم من الاول ان البانی من اهله المحلة لهم ذالک والا لا...الخ.وفی ردالمحتار:واما اهلها فلهم ان يهدموه ويجددوا بناءه يفرشوا الحصير ويعلقوا القناديل لكن من مالهم لا من مال المسجد.(ردالمحتار ج:٤ ص:٣٥٧،كتاب الوقف،مطلب فی مالو خرب المسجد).

[۲] ولو خرب ماحوله واستغنى منه يبقى مسجدًا عند الامام والثانی ابدًا الى قيام الساعة وبه يفتى.(الدر المختار مع ردالمحتار ج:٤ ص:٣٥٨).ايضا:قال الله تعالى:انما يعمر مساجدالله من امن بالله واليوم الاخر،الآية،العمارة تتناول البناء........وتتناول ما استرم منها وكنسها وتنظيفها وتنويرها بالمصباح وتعظيمها واعتيادها للعبادة والذكر...الخ.(حلبی كبير ص:٦١٠،فصل فی احكام المسجد، طبع سهيل اكيدمی).

[۳] لا تصح الجمعة الا فی مصر جامع او فی مصلى المصر ولا تجوز فی القرى لقوله عليه السلام:لا جمعة ولا تشريق ولا فطر ولا اضحى الا فی مصر جامع.(هداية ج:١ ص:١٦٨،باب صلاة الجمعة).

[۴] ويزول ملكه عن المسجد والمصلى بالفعل وبقوله جعلته مسجدًا عند الثانی وشرط محمد والامام الصلاة فيه...الخ.وفی ردالمحتار:قوله بالفعل ای بالصلاة فيه ففی شرح الملتقى انه يصير مسجدًا بلا خلاف.........حتى انه اذا بنى مسجدًا واذن للناس بالصلاة فيه جماعة فانه يصير مسجدًا.(ردالمحتار ج:٤ ص:٣٥٦،كتاب الوقف)

لپاره وقف شوی نه وي. بلکې یوازې د لمونځ کولو لپاره خاص شوې و لکه څنګه چې په کورونو کې یوځای د لمانځه لپاره ځانګړی کیږي .نو دا شرعاً جومات نه دی او په دې باندې د جومات احکام نه جاري کیږي.له دې وجې نه دلته اعتکاف کول صحیح نه دي او جنب سړي،چاته چې د غسل حاجت وي، ته دلته راتلل جائز دي[1] او دلته د لمونځ کولو ثواب د جومات د لمانځه د ثواب برابر نه دی

اوس دا بحث پاتې شو چې د کارخانې مالکانو دا د جومات لپاره وقف کړې وو او که نه؟نو ددې خبرې فیصله د یو څو خبرو وضاحت سره معلومیدی شي.اول دا چې کله د کارخانې نقشه منظور شوه نو ایا په دغه نقشه کې " جومات "ښکاره شوی و؟ که په نقشه کې دغه ځای کې د " جومات "نښه ښکاره شوې وي .نو دا ددې خبرې علامه ده چې مالکانو دغه ځای کې د جومات جوړولو نیت کړی وو.

دویمه دا چې هرکله دلته جومات جوړ شو .نو ایا د انتظامیې له طرفه دا اعلان او اظهار شوی وو چې دا شرعي جومات نه دی، بلکې صرف د لمونځ کولو لپاره دا ځای خوښ شوی دي او دا چې بیا څه وخت کې ددې په ځای بل ځای هم خوښېدای شي.که داسې څه اعلان او اظهار نه وي شوی. بلکې باقاعده دا د جومات په شکل کې جوړ شوي وي.دلته خطیب او امام مقرر شوی وي.د پنځویشت کالو نه باقاعده په کې د جمعې او جماعت اهتمام کیږي. نو دا ددې خبرې دلیل دی چې مالکانو ددې ځای د جومات د جوړولو نیت کړی وو او اوس دوی ته ددې جومات د بدلولو او دا ځای په بل څه مصرف کې د استعمالولو هیڅ حق نشته.

دریم دا چې د رمضان المبارک په آخري عشره کې دغه ځای کې اعتکاف کیده او که نه؟که دغه ځای کې اعتکاف کیده یا په دې دومره وخت کې یو کال هم اعتکاف شوی وي او مالکانو دلته د اعتکاف نه ممانعت نه وي کړی. نو دا ددې خبرې واضح دلیل دی چې دا شرعي جومات دی، ځکه چې دا خو کېدای شي چې د اهل محله د غفلت له وجې نه دلته اعتکاف نه وي شوی، خو دا نه شي کیدای چې د جومات نه پرته یوبل ځای یعنې غیر جومات کې اعتکاف وکړل شي.

خلاصه دا چې په جومات کې د اعتکاف کیدل ددې جومات د شرعي کیدو دلیل دی.خو په یو جومات کې د اعتکاف اهتمام نه کېدل ددې د جومات نه کېدو دلیل نه دی. مګر دا که د مالکانو له طرفه اعلان او اظهار و شي چې دا شرعي جومات نه دی. لهذا دلته دې اعتکاف نه کیږي.

[1] ولو اتخذ له بيته موضعًا للصلوة فليس له حكم المسجد اصلا.(حلبی کبیر ص: ۶۱۴ طبع سهیل اکیدمی).

ددې دليلونو په رڼا کې دا خبره معلوميږي چې دا جومات شرعي حيثيت سره جوړ شوی و. لهذا اوس انتظاميه دا حق نه لري چې ددې جومات حيثيت بدل کړي او ددې جومات ځای په بل څه مصرف کې استعمال کړي.[1]

## نوي جومات جوړولو سره لومړي جومات ته قفل (تاله) لګول صحيح دی

**سوال:** د ايرپورټ مرکزي جامع مسجد چې څه موده مخکې جوړ شوی دی دې سره متعلق دهغه حيثيت د جناب نه معلومول دي اميد دی چې ددې جومات متعلق تاسو خپله رايه شائع کولو سره د ايير پورټ اوسيدونکو رهنمايي وکړئ.د برصغير هند وپاک(هندوستان او پاکستان)د تقسيم نه وروسته يو کلب په جومات بدلولو سره د لمونځ ځای جوړ شو ،دې نه وروسته چت اچولو سره جومات تعمير شو.د شپږ ديرش کالو نه په دغه جومات کې پنځه وخت لمونځ سره د جمعې لمونځ ادا کيده.په ۱۹۸۳ء کې د قطر يو شيخ صاحب څو لاکهه روپۍ خرچ کولو سره د پخواني جومات په خوا کې تقريبا دوه ګزه په چار ديواری کې دننه د بل جومات تعمير شروع کړ،شيخ صاحب ته چې د جومات انتظاميې څنګه مشوره ورکړه هغوی هم هغسې اوکړل اوس صورت حال دا دی چې لومړي جومات ته تاله واچول شوه او په نوي جومات کې لمونځونه ادا کيږي ډيرو خلکو د جومات انتظاميې ته دا مشوره ورکړې وه چې کم از کم د پخواني جومات انګړ دې په دې نوي جومات کې داخل شي چې څه شرعی مسئله اوچته نه شي،خو د انتظاميې د سترګو پټولو په وجه دوه جوماتونه يو بل ته مخامخ دي د لومړي جومات متعلق کله کله اوريدل کيږي چې دا به مدرسه جوړيږي ،في الحال پخواني جومات ته تاله لګيدلې ده دلته نن سبا د ايرفورس والا په ايرپورټ باندې کنټرول دی او د جومات سيکرټري اصل حالات د ايرپورټ انتظاميې ته نه وايي او په دومره لوی جومات کې څوک عالم قصدا نه ساتي.چې ددې ځای خلکو ته د اصل خبرې پته و نه لګيږي.تاسو ته ډير په ادب سره درخواست دی چې جناب دې د نوي جومات شرعی حيثيت واضح کړي.واضحه دې وي چې د پی آيي اے والا نوی جومات ددې نه بالکل جدا دی دا جومات د سړک په غاړه دی او محکمه د ښار د خلکو سره تعلق لري.

**جواب:** کوم ځای ته چې شپږ ديرش کاله مخکې د جومات حيثيت ورکړل شوی و او په هغه ځای کې باقاعده جمعه او د جماعت لمونځ ادا کيده دهغه پريښودل ددې جومات حيثيت

---

[1] في الدر المختار:ولو خرب ماحوله واستغنى عنه يبقى مسجدًا عند الامام والثانى ابدًا الى قيام الساعة وبه يفتى،وفى الشامية فلايعود ميراثًا ولايجوزنقله ونقل ماله الى مسجد آخر.(شامي ج:٤ ص:٣٥٨،كتاب الوقف)

ختمول او د څه بل مقصد له پاره استعمالول په هیڅ طریقې سره هم جائز نه دي، بلکې ګناه ده. تاسو چې کوم واقعات لیکلي دي، که صحیح وي. نو زوړ جومات په نوي جومات کې داخلول پکار دي کوم ځای کې چې یو ځل جومات جوړ شي هغه به ترقیامته پورې جومات وي د هغه حیثیت نه شي بدلیدلی.[1]

## د تعمیري نقص په وجه چې په یو طرف کې لمونځ کونکي ډیر کم وي نو لمونځ مکروه دی

**سوال:** موږ ته نژدې یو جومات دی چې هغه داسې جوړشوی دی چې د امام ښي اړخ ته مقتدیان د اندازې مطابق شلو یښت پنځوس کسان وي او چپ (ګس) اړخ ته یوازې شلور پنځه کسان وي دا لمونځ کیږي که نه؟

**جواب:** مکروه دی.[2]

## قبرونو ته نژدې جومات کې لمونځ کیږي

**سوال:** جومات ته نژدې قبرونه دي په مینځ کې یې څه فاصله نه وي یوازې یو ګز دیوال وي، نو په داسې جومات کې لمونځ کیږي او که نه؟

**جواب:** لمونځ صحیح دی، په قبرستان کې لمونځ کول منع دي[3] خو که داسې جومات وي چې هغه ته نژدې قبرونه وي، نو بیا لمونځ منع نه دی.[4]

....الحمد لله دویم جلد ختم شو...

---

[1] قال ابو یوسف هو مسجد ابدًا الی قیام الساعة لا یعود میراثًا ولا یجوز نقله،ونقل ماله الی مسجد آخر سواء کانوا یصلون فیه اولا،وهو الفتوی کذا فی الحاوی القدسی.وفی المجتبی واکثر المشائخ علی قول ابی یوسف ورجح فی فتح القدیر قول ابی یوسف بانه الاوجه.(البحر الرائق ج:۵ ص:۲۷۲،کتاب الوقف،فصل فی احکام المساجد،طبع دار المعرفة بیروت،وایضا ردالمحتار ج:٤ ص:۳۵۸،کتاب الوقف،طبع ایچ ایم سعید)۔

[2] وینبغی للامام ان یقف بازاء الوسط فان وقف فی میمنته الوسط او میسرته فقد اساء لمخالفة السنة.(فتاوی عالمگیری ج:۱ ص:۸۹، الباب الخامس فی الامامة،الفصل الخامس فی بیان مقام الامام والماموم)۔

[3] عن ابن عمرقال:نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یصلی فی سبعة مواطن فی المزبلة والمجزرة والمقبرة وقارعة الطریق وفی الحمام وفی معاطن الابل وفوق ظهر بیت الله.رواه الترمذی وابن ماجة.(مشکوة ص:۷۱،کتاب الصلاة)۔

[4] قال محمد رحمه الله:اکره ان تکون قبلة المسجد الی المخرج والحمام والقبر.......وهذاکله اذا لم یکن بین المصلی وبین هذه المواضع حائط او سترة امّا اذاکان لا یکره ویصیر الحائط فاصلاً(عالمگیری ج:۵ ص:۳۱۹)

پښتو ترجمه

دارالترجمه و کمپوزنګ سنټر

عبدالغنی پلازه محله جنګی پیښور

مکتبه حمیدیه

تصه خوانی بازار محله جنګی پشاور 091-2580074

سردار پلازه اکوړه خټک نوشهره

مَنْ لَمْ يَعْرِفِ الْمَنْطِقَ فَلَا ثِقَةَ لَهُ فِي الْعُلُوْمِ (غزالی رحمۃ اللہ علیہ)

تالیف

حضرت مولانا نعیم احمد مدظله
استاذ جامعه خیر المدارس ملتان

ژباړن

مولانا لائق زاده حقانی

جی ٹی روڈ سردار پلازہ اکوڑہ خٹک ضلع نوشہرہ
۰۳۴۴-۹۰۸۴۲۹۳

مصنف


شیخ الحدیث مولانا عبدالحق صاحب
الکندھائي الھزاروی



ناشر

جدید مکتبہ رشیدیہ

قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور 091-2580071

## د اول جلد اجمالي فهرست

ایمانیات او عقائد، دتقدیر مسائل، محاسن اسلام، نبي کریم ﷺ نور دي که بشر، عقیده حیات النبي، انبیاء کرام سره ملاقات، دمعراج مسائل، په خوب کې نبي کریم لیدل، صحابه او صحابیات، حضرت حسین او یزید، داجماع او تقلید مسائل، دسنت او بدعت تعریف، مروجه میلاد، اصلاح مفاهیم، د ډارون نظریه اعتقاد او اسلام

## د دویم جلد اجمالي فهرست

دکفر، شرک او د ارتداد تعریف او احکام، قادیاني فتنه، کافرانو سره تعلقات، دختم نبوت عقیده او دعیسی ؑ نزول، دقیامت نښې، دګناهونو نه توبه، دبرزخ حالات، دجنت بحث، تعویذ کوډې او جادو، پیریان، رسومات او رواجونه، په اسلام کې دفال مسائل، متفرق مسائل، داوبو او دس مسائل، دغسل مسائل، د اوبو احکام، دتیمم مسائل، دموزو مسائل، دحیض او نفاس مسائل، دنو کانو د رنګ کولو مسائل، بغیر د اوداسه نه دعا او اذکار کول، دنجاست مسائل، دمانځه مسائل، دجماعت مسائل.

## د دریم جلد اجمالي فهرست

دجماعت متعلق باقي مسائل، دآذان او اقامت مسائل، دمانځه شرطونه، دمونځ ادا کولو طریقه، دلاؤډ سپیکر مسائل، دصف جوړولو مسائل، د امام مسائل، دمقتدي مسائل، په کورکې مونځ کول، دمانځه نه پس دعا او اذکار، دمسبوق او لاحق مسائل، دبنځو دمانځه مسائل، دمعذور احکام، د وترو مونځ، دسنت مونځ ادا کول، دمسافر مونځ، دجمعې مونځ

## د څلورم جلد اجمالي فهرست

دخطبو متعلق باقي مسئلې، داخترونو د مونځ مسائل، دتراویحو مسائل، نفلي مونځونه دسجده تلاوت مسائل، دمانځه متفرق مسائل، اوراد او وظائف، دمړي حکمونه، د اندامونو پیوند کاري، دجنازې مونځ، دقبرونو زیارت، ایصال ثواب کول، دقرآن کریم فضائل او مسائل، دروژې فضائل او مسائل، د رویت هلال مسائل، د اعتکاف مسائل، دتکبیرات تشریق مسائل

## د پنځم جلد اجمالي فهرست

دزکاة مسائل، دعشر مسائل، دصدقه فطر مسائل، دنظر مسائل، نفلي صدقه، دفقیرانو متعلق مسئلې، دحج او عمرې فضیلت او فرضیت، په حرامو پیسو حج کول، دعمرې مسائل، دحج بدل مسائل، دمحرم نه پرته حج کول، دقربانۍ مسائل، دحاجي دقربانۍ مسائل، مدینې منوره ته حاضري، دعقیقې مسائل، دښکار مسائل، دترخي، لرې او د هګو حکم، دسپي ساتلو مسائل

## د شپږم جلد اجمالي فهرست

دکوژدن مسائل، دنکاح طریقه، شرعي مهر، دطلاق مسائل، د وادہ نه مخکې طلاق، د طلاق اقسام، خلعه کول، دحاملې طلاق، دظهار مسائل، دنکاح دتنسیخ مسائل، طلاق نه انکار کول، دعدت مسائل، داولاد تربیتي حق، غیرمسلمو سره کاروبار کول، معاملاتو کښې دهوکه کول، ذخیره کول، بیانه ورکول، دحصو کاروبار کول، دمضاربت مسائل، کور، زمکه او دکان په کرایه ورکول

## د اووم جلد اجمالي فهرست

دکور او ځمکې په کرایه ورکولو باقي مسئلې، دقسطونو کاروبار، دقرض مسئلې، امانت، رشوت، داخستلو او خرڅولو متفرق مسئلې، معاملات، دسود حکم، دبینک نه سود اخستل، دسود دې پیسو مصرف، دبینک نوکرې، دبیمه کمپنی مسئلې، جواري (قمار) کول، د بانډ حکم، کمېشن، دمیراث مسائل، لونه له میراث محروم ول، دوصیت مسائل، دجهاد او شهید حکمونه، دسیاست مسائل

## د اتم جلد اجمالي فهرست

دپردې مسائل، اخلاقیات، سلام او مصافحه، د تعلیم مسائل، ددین تبلیغ مسئلې، د تصوف مسائل، دخوب حقیقت او تعبیر، دنومونو سره متعلق مسائل، دږیرې مسائل، جسماني وضع قطع، دجامو متعلق مسائل، دخوراک او څکاک شرعي احکام، لوبې کول، موسیقي او ګډا، فلم کتل، د تصویر حکم، خانداني منصوبه بندي، د نعتونو متعلق مسائل، دمور پلار او خپلوانو سره تعلقات